کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

تصنیف

حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

علماء دیوبند کے علوم کا پاسبان
دینی وعلمی کتابوں کا عظیم مرکز ٹیلیگرام چینل
حنفی کتب خانہ محمد معاذ خان
درس نظامی کیلئے ایک مفید ترین
ٹیلیگرام چینل

کتاب الخُمس

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی.
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا حبیب الله زکریا صاحب استاذ جامعه فاروقیه کراچی

ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې

جلد ⑧

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب ټول حقوق د مصنف او ناشر سره محفوظ دي

د کتاب نوم:- کشف الباري عما في صحيح البخاري

جلد: کتاب الخمس

شارح: صدر وفاق المدارس شيخ الحديث مولانا سليم الله خان مدظله العالي

ترتيب وتحقيق: مولانا حبيب الله زکريا صاحب استاذ جامعه فاروقيه کراچي

پښتو مترجم: مولانا شاه فيصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ايم اے اسلاميات وعربي پېښور يونيورسټي

د کشف الباري د پښتو اور فارسۍ د ترجمې د حقوقو په حقله وضاحت

دا خبره دې په ذهن کښې وي چې فيصل کتب خانه د صدر وفاق المدارس العربيه مهتمم جامعه فاروقيه شيخ الحديث مولانا سليم الله خان مدظله العالي څخه د کشف الباري پښتو او فارسي ژبو کښې د ترجمو حقوق ترلاسه کړل اود حقوقو معاوضه ئې ورته ورکړه ده دې څخه روسته هيڅ چاته د کشف الباري پښتو او فارسي د ترجمه کولو او چهاپ کولو اجازت نشته او د هر يو جلد رجسټريشن ئې هم د حکومت پاکستان سره شوې دي.

د ملاويدو پتې د فيصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشيديه کتب خانه اکوړه خټک
- علميه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشيديه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانيه کانسي روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه يوسفيه کانسي روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمريه تاج مير روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلاميه تاج مير روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانيه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبۀ رحمانيه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبد الحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسد الله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبۀ غفاريه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبۀ رشيديه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبۀ حبيبيه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبۀ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹٦۱۹٦۰۳
- عبد المجيد کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷٤۹
- شاهين کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامي کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲٤۷

فهرست مضامين

شمیره	مضمون	صفحه

(۲۱) ابواب الخمس

تیرشوي باب سره مناسبت ۵۵
د نسخو اختلاف ۵۵

① باب: فرضِ الخمس

د خُمس لغوی او اصطلاحی تعریف ۵۵
د ترجمة الباب مقصد ۵۵
د جاهلیت دستور او د خمس ابتداء ۵۵
د خُمس فرضیت کله اوشو؟ ۵۶
د علامه ابن بطال رائې ۵۷
د حافظ ابن حجر رائې او ابن بطال ته جواب ۵۷
د باب احادیث مبارک ۵۸
رجال الحدیث ۵۸
① عبدان ۵۸
② عبدالله ۵۸
③ یونس ۵۸
④ الزهری ۵۹
⑤ علی بن الحسین ۵۹
⑥ حسین بن علی ۵۹
⑦ علی ۵۹
د حدیث ترجمه ۵۹
ترجمة الباب سره د حدیث مبارک مطابقت ۶۰
رجال الحدیث ۶۱
① عبدالعزیز بن عبدالله ۶۱
② ابراهیم بن سعد ۶۱
③ صالح ۶۱
④ ابن شهاب ۶۱
⑤ عروة ۶۱
⑥ عائشه ۶۱

شمیره	مضمون	صفحه
	ترجمة الباب سره د حدیث مبارک مطابقت	۶۱
	د یو تفسیری قول اضافه	۶۲
	رجال الحدیث	۶۴
	①اسحاق بن محمد الفروی	۶۴
	خبرداري (یو اهم وضاحت)	۶۴
	② مالک بن انس	۶۴
	③ ابن شهاب	۶۵
	④ مالک بن اوس بن الحدثان	۶۵
	قوله: وكان محمد بن جبير ذكر لي ذكرا من حديثه ذلك، فانطلقتُ معه حتى أدخل على مالك بن أوس، فسألته عن ذلك الحديث	۶۵
	قوله: بينا أنا جالس في أهلي حين متع النهار	۶۶
	قوله: اذا رسول عمر بن الخطاب يأتيني، فقال: أجب أمير المؤمنين	۶۶
	قوله: فانطلقت معه حتى أدخل على عمر، فاذا هو جالس على رمال سرير، ليس بينه و بينه فراش، متكئ على وسادة من أدم	۶۶
	قوله: فسلمت عليه، ثم جلست، فقال: يا مالِ	۶۷
	قوله: إنه قد مر علينا من قومك أهل أبيات	۶۷
	قوله: وقد أمرت فيهم برضخ، فاقبضه، فاقسمه بينهم	۶۸
	قوله: فقلت: يا أمير المؤمنين، لو أمرت به غيري؟	۶۸
	قوله: فقال: هل لك في عثمان وعبد الرحمن بن عوف والزبير وسعد بن وقاص يستاذنون؟ قال: نعم. فأذن لهم، فدخلوا، فسلموا وجلسوا	۶۹
	قوله: ثم جلس يرفأ يسيرا، ثم قال: هل لك في علي وعباس؟ قال: نعم. فأذن لهما، فدخلا، فسلما، فجلسا	۷۰
	قوله: فقال عباس: يا أمير المؤمنين، اقض بيني وبين هذا	۷۰
	آیا حضرت عباس رضي الله عنه واقعی دا کلمات ویلي دی؟	۷۱
	په روایت کښې اختصار	۷۲
	د تیدکم ضبط او معنی	۷۳
	قوله: أنشدكم بالله الذي بإذنه تقوم السماء والارض، هل تعلمون أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا نورث، ما تركنا صدقة؟	۷۳

شمیره	مضمون	صفحه

انبیاء وارثان کیدې شی؟ ۷۴
د شوافعو او موالکو مذهب ۷۵
د حضرت گنگوهی رائې ۷۵
یو سوال او د هغې جواب ۷۶
د "صدقة" اعراب ۷۶
قوله: فـاقبل عمر علی علی وعبـاس،فقـال:أنشدکمـا الله،أتعلمـان أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قد قـال ذلك؟قـالا: قد قـال ذلك...: ۷۷
قوله: قـال عمر:فـانی احدثکم عن هذا الامر: إن الله قد خص رسوله صلی الله علیه وسلم فی هذا الفئ بشئ لم یعطه احدا غیره،ثم قرأ(ومـا افـاء الله علی رسوله منهم۔الی قوله۔قدیر): ۷۷
د مختلفو الفاظو ضبط او معنی ۷۸
قوله: حتی بقی منهـا هذا المـال،فکان رسول الله صلی الله علیه وسلم ینفق علی أهله نفقة سنتهم من هذا المـال،ثم یاخذ مـا بقی،فیجعله مجعل مـال الله: ۷۹
یو اشکال او د هغې جواب ۷۹
قوله: فعمل رسول الله صلی الله علیه وسلم بذلك حیـاته،أنشدکم بالله،هل تعلمون ذلك؟ قـالوا:نعم: ۸۰
قوله: ثم قـال لعلی وعبـاس:أنشدکمـا بالله،هل تعلمـان ذلك؟: ۸۰
قوله: ثم جئتمانی تکلمـانی،وکلمتکمـا واحدة،وامرکمـا واحد،جئتنی یا عبـاس تسـالنی نصیبك من ابن اخیك،وجـاءنی هذا۔یرید علیـا۔یرید نصیب امراته من ابیهـا: ۸۲
د باب حدیث او امام عبدالرزاق ۸۲
د ابن شاذان او د ابن المعلم مناظره ۸۴
یو اشکال او د هغې جواب ۸۷
یو سوال او د هغې جواب ۸۷
د انکار څه وجه وه؟ ۸۸
قوله: "کان ذلك علی راس المـاتین،ثم تغیرت الامور،والله المستعـان": ۸۹
ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت ۸۹
یو اهمه فائده ۸۹
د حدیث شریف نه مستنبطې فائدې ۹۰
د ترجمة الباب مقصد ۹۱
د ترجمې د تکرار اشکال او د هغې جواب ۹۱

صفحه	مضمون	شمیره
۹۱	رجال الحدیث	
۹۱	① ابوالنعمان	
۹۲	② حماد	
۹۲	③ ابوحمزه	
۹۲	④ ابن عباس	
۹۲	ترجمة الباب سره مناسبت	

④ باب: نَفَقَةِ نساءالنّبی صلی الله علیه وسلم بَعْدَ وَفَاتِهِ

صفحه	مضمون	شمیره
۹۲	د ترجمة الباب مقصد:	
۹۲	رجال الحدیث	
۹۲	① عبدالله بن یوسف:	
۹۲	② مالک:	
۹۲	③ ابوالزناد:	
۹۳	④ الاعرج:	
۹۳	⑤ ابوهریره:	
۹۳	قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لایقتسم ورثتی دینارًا:	
۹۴	قوله: ما ترکت بعد نفقة نسائی، ومؤنة عاملی، فهو صدقة:	
۹۴	د نفقة نسائی وضاحت:	
۹۴	د عامل نه څۀ مراد دي؟:	
۹۵	په طاعاتو (عباداتو) باندې اجرت اخستل جائز دی:	
۹۵	مالونه جمع کول جائز دی:	
۹۶	مال جمع کول د نهرې لورې اختیارولو نه غوره دي:	
۹۶	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت:	
۹۶	رجال الحدیث	
۹۶	① عبدالله بن ابی شیبه:	
۹۷	② ابواسامه:	
۹۷	③ هشام بن عروه:	
۹۷	④ أبیه:	
۹۷	⑤ عائشه:	
۹۷	قوله: قالت: توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم وما فی بیتی من شئ یاکله ذوکبد، الا شطر شعیر فی رف لی:	

صفحه	مضمون	شمیره
۹۷	یو اشکال او د هغې جواب	
۹۸	**قوله**: فأكلت منه حتى طال على:	
۹۸	د اوربشو د ختمیدلو وجه	
۹۸	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت	
۹۹	**رجال الحدیث**	
۹۹	①مسدد	
۹۹	②یحیی	
۹۹	③سفیان	
۹۹	④ابواسحاق	
۹۹	⑤عمروبن الحارث	
۹۹	د حدیث شریف ترجمه	
۱۰۰	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت	
۱۰۰	د حدیث سند سره متعلق یو خبرداري	

④باب: ما جاء في بيوت ازواج النبي صلى الله عليه وسلم وما نُسِبَ من البيوت اليهن

صفحه	مضمون
۱۰۱	د ترجمة الباب مقصد
۱۰۱	د ازواج مطهراتو قیام د اوسیدلو په حیثیت سره وو یا د ملکیت په حیثیت سره؟
۱۰۲	د امام بخاری او د حضرت گنگوهی رائې
۱۰۳	یو اهم خبرداري
۱۰۴	**رجال الحدیث**
۱۰۴	①حبان بن موسی
۱۰۴	②محمد
۱۰۴	③عبدالله، ④معمر، ⑤یونس
۱۰۴	⑥الزهری
۱۰۴	⑦عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود
۱۰۴	⑧عائشه
۱۰۴	**قوله**: أن عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت: لما ثقل رسول الله...
۱۰۵	**رجال الحدیث**
۱۰۵	①ابن ابی مریم
۱۰۵	②نافع

صفحہ	مضمون	شمیرہ
۱۰۵	③ابن ابی ملیکہ:	
۱۰۵	④عائشہ	
۱۰۵	**قولہ:** قالت عائشة رضی اللہ عنہا: توفی النبی صلی اللہ علیہ وسلم فی بیتی.....:	
۱۰۶	**رجال الحدیث**	
۱۰۶	①سعید بن عفیر:	
۱۰۶	②اللیث:	
۱۰۶	③عبد الرحمن بن خالد:	
۱۰۶	④ابن شهاب:	
۱۰۶	⑤علی بن حسین:	
۱۰۶	⑥صفیہ:	
۱۰۷	د حدیث شریف ترجمہ:	
۱۰۷	مختصر تشریح:	
۱۰۸	**رجال الحدیث**	
۱۰۸	① ابراهیم بن المنذر:	
۱۰۸	② انس بن عیاض:	
۱۰۸	③عبید اللہ:	
۱۰۸	④محمد بن یحیی بن حبان:	
۱۰۸	⑤ واسع بن حبان:	
۱۰۸	⑥عبد اللہ بن عمر:	
۱۰۸	**قولہ:** عن عبد اللہ بن عمر رضی اللہ عنہما قال: ارتقیت فوق بیت.....:	
۱۰۹	**رجال الحدیث**	
۱۰۹	①ابراهیم بن المنذر، ②انس بن عیاض:	
۱۰۹	③هشام:	
۱۰۹	④ابیہ:	
۱۰۹	⑤عائشة:	
۱۰۹	**قولہ:** أن عائشة رضی اللہ عنہا قالت: کان رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم......:	
۱۰۹	**رجال الحدیث**	
۱۰۹	①موسی بن إسماعیل:	
۱۰۹	②جویریہ:	
۱۰۹	③نافع:	

شمیره	مضمون	صفحه
۴	عبدالله	۱۱۰
	قوله: قال: قام النبی صلی الله علیه وسلم خطیباً، فاشار نحو مسکن عائشة، فقال: هنا الفتنة ـ ثلاثاً ـ من حیث یطلع قرن الشیطان:	
	نبی دا خبره چرته ارشاد اوفرمائیله؟	۱۱۰
	نبی اشاره کوم طرفته کړې وه؟	۱۱۱
	د مشرق نه څهٔ مراد دي؟	۱۱۱
	د دواړو قولونو مینځ کښې تطبیق	۱۱۲
	د فتنې نه څهٔ مراد دی؟	۱۱۳
	د قرن معنی او مراد	۱۱۵
	قرن الشیطان به کله ښکاره کیږی؟	۱۱۵
	یوه فائده	۱۱۵
	رجال الحدیث	۱۱۶
۱	عبدالله بن یوسف	۱۱۶
۲	مالک	۱۱۶
۳	عبدالله بن ابی بکر	۱۱۶
۴	عمرة	۱۱۶
۵	عائشة	۱۱۶
	د حدیث شریف ترجمه	۱۱۶
	د باب د حدیثونو ترجمة الباب سره مناسبت	۱۱۶
۵	باب: ما ذکر من درع النبی ﷺ وعصاه وسیفه وقدحه وخاتمه،	
	د ترجمة الباب مقصد	۱۱۷
	رجال الحدیث	۱۱۹
	د حدیث شریف ترجمه	۱۱۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۱۱۹
	رجال الحدیث	۱۲۰
۱	عبدالله بن محمد	۱۲۰
۲	محمد بن عبدالله الاسدی	۱۲۰
۳	عیسی بن طهمان	۱۲۰
۴	انس	۱۲۲
۵	ثابت البنانی	۱۲۲
	د حدیث شریف ترجمه	۱۲۳

شمیره	مضمون	صفحه
	د جرداوین تحقیق	۱۲۳
	د قبالان معنی	۱۲۳
	د فحدثني ثابت البناني بعد ... مقصد	۱۲۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۱۲۳
	رجال الحدیث	۱۲۴
	①محمد بن بشار	۱۲۴
	②عبدالوهاب	۱۲۴
	③ایوب	۱۲۴
	④حمید بن هلال	۱۲۴
	⑤ابو برده	۱۲۴
	⑥عائشة	۱۲۴
	قوله: قال: أخرجت إلینا عائشة رضي الله عنها کساء ملبدا	۱۲۴
	د کساءً ملبداً معنی	۱۲۴
	نبی ﷺ به دا خادر ولې استعمالوو؟	۱۲۵
	قوله: وقالت: في هذا نزع روح النبي صلی الله علیه وسلم	۱۲۵
	د مذکوره تعلیق مقصد	۱۲۵
	د مذکوره تعلیق تخریج	۱۲۵
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۱۲۶
	رجال الحدیث	۱۲۶
	①عبدان	۱۲۶
	②ابوحمزه	۱۲۶
	③عاصم	۱۲۶
	④ابن سیرین	۱۲۶
	⑤انس بن مالک	۱۲۶
	د حدیث شریف سند سره متعلق یو اهم خبرداري	۱۲۶
	قوله: أن قدح النبي صلی الله علیه وسلم انکسر، فاتخذ مکان الشعب سلسلة من فضة	
	پیالې چا صحیح کړې وه؟	۱۲۸
	قوله: قال عاصم: رأیت القدح، وشربت فیه	۱۲۹
	د سرو زرو او د چاندۍ د جوړ او د زنځیر لګولو حکم	۱۲۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۱۳۰

شمیره	مضمون	صفحه

رجال الحدیث ۱۳۰

①سعید بن محمد الجرمی: ۱۳۰

②یعقوب بن ابراهیم: ۱۳۰

③أبی ۱۳۱

④الولید بن کثیر: ۱۳۱

⑤محمد بن عمرو بن حلحله الدؤلی: ۱۳۱

⑥ابن شهاب: ۱۳۱

⑦علی بن حسین: ۱۳۱

قوله: أن علی بن حسین حدثه أنهم حین قدموا المدینة من عند یزید بن معاویة مقتل حسین بن علی رضی الله عنه لقیه مسور بن مخرمة: ۱۳۱

قوله: فقال له: هل لك إلی من حاجة تأمرنی بها؟ فقلت له: لا: ۱۳۱

قوله: فقال له: فهل أنت معطیّ سیفَ رسول الله صلی الله علیه وسلم؟: ۱۳۲

قوله: فانی أخاف أن یغلبك القوم علیه: ۱۳۲

قوله: وأیم الله، لان أعطیتنیه لایخلص إلیهم أبداً حتی تبلغ نفسی: ۱۳۲

یو سوال او د هغې جواب: ۱۳۳

قوله: إن علی بن ابی طالب خطب ابنة أبی جهل علی فاطمة رضی الله عنها ۱۳۳

د ابنة ابی جهل نه څوک مراد دی؟ ۱۳۳

د نبی کریم ﷺ د خطبې سبب څۀ وو؟ ۱۳۴

د دواړو قولونو مینځ کښې تطبیق: ۱۳۴

د نکاح پیش کش د چا له طرفه وو؟ ۱۳۵

قوله: فسمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یخطب الناس فی ذلك علی منبره هذا: ۱۳۶

د حضرت مسور عمر هغه وخت څه وو؟ ۱۳۶

قوله: فقال: ان فاطمة منی، وانا اتخوف ان تفتن فی دینها: ۱۳۷

قوله: ثم ذکر صهراله من بنی عبد شمس، فاثنی علیه فی مصاهرته اياه، قال: حدثنی فصدقنی ووعدنی فوفی لی: ۱۳۷

حضرت ابوالعاص بن الربیع رضی الله عنه: ۱۳۷

قوله: وانی لیست أحرم حلالاً، ولا أحل حراماً، ولکن والله، لا تجتمع بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم وبنت عدو الله أبداً: ۱۴۱

د منع کولو وجه څۀ وه؟ ۱۴۲

شميره	مضمون	صفحه
		۱۴۲
	يو سوال او د هغې جواب:	۱۴۳
	د حضرت فاطمه رضي الله عنها خصوصيت ولې بيان كړې شو؟:	۱۴۳
	يو اشكال او د هغې جوابونه......	۱۴۴
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:..........	۱۴۵
	د حديث شريف نه مستنبط شوې فائدې:.......	۱۴۷
	شريف مرتضى او د حضرت مسور بن مخرمه حديث........	۱۴۸
	رجال الحديث.........	۱۴۸
	①قتيبه بن سعيد:......	۱۴۸
	②سفيان:..........	۱۴۸
	③محمد بن سوقه:...........	۱۴۸
	④منذر:............	۱۴۸
	⑤ابن الحنفيه:..........	۱۴۸
	⑥على:....................	۱۴۸
	⑦عثمان:........................	۱۴۸
	قوله: لو كان على رضى الله عنه ذاكراً............	
	د حديث پس منظر:................	۱۴۸
	قوله: فقال لى على: اذهب إلى عثمان، فأخبره أنها صدقة رسول الله ﷺ،.....الخ:	۱۴۹
	قوله: فأتيته بها، فقال: أغنها عنا:..................	۱۴۹
	د أغنها لغوى او صرفى تحقيق..................	
	قوله: فأتيت بها عليا، فأخبرته، فقال: ضعها حيث أخذتها:..........	۱۵۲
	حضرت عثمان رضى الله عنه دهغه صحيفې نه اعراض ولې كړې وو؟......	
	دحضرت شيخ الحديث صاحب رائې..................	
	د مذكوره تعليق مقصد:..................	۱۵۳
	د مذكوره تعليق تخريج..................	
	د مذكوره صحيفې مضمون څه وو؟..........	
	ترجمة الباب سره د حديث مطابقت..................	
	ترجمة الباب سره متعلق يو بحث:..................	۱۵۴
	د ترجمة الباب نحوى تحليل او مفهوم:..................	۱۵۵
	د ترجمة الباب لغوى تحقيق..................	۱۵۶
	د ترجمة الباب مقصد:..................	۱۵۶
	خمس به كومو خلقو ته وركولې شى؟..................	۱۵۶

شمیره	مضمون	صفحه
	د مذهبونو ماخذ	۱۵۸
	په آیت کریمه کښې د لفظ"الله"معنی	۱۵۸
	د سهم الرسول معنی او په هغې کښې اختلاف	
	د رشته دارو حصه او په دې کښې اختلاف	۱۶۰
	په خمس کښې د مستحق کیدو بنیاد څهٔ دې؟	۱۶۱
	د خلفاء راشدینو اجماع	۱۶۲
	په مصرف او استحقاق کښې فرق	۱۶۴
	د بحث خلاصه	۱۶۵
	یو سوال او د هغې جواب	۱۶۵
	یو بل اشکال او د هغې جوابونه	۱۶۵
	د ذوی القربی نه کوم خلق مراد دی؟	۱۶۶
	ذوی القربی سره متعلق احکامات	۱۶۷
	رجال الحدیث	۱۶۸
	①بدل بن المحبر	۱۶۸
	②شعبه	۱۶۸
	③الحکم	۱۶۹
	④ابن ابی لیلی	۱۶۹
	⑤علی	۱۶۹
	⑥فاطمه	۱۶۹
	د باب د حدیث شریف ترجمه	۱۶۹
	د حدیث د بعضې حصو تشریح	۱۷۰
	قوله: فأتانا وقد دخلنا مضاجعنا، فذهبنا لنقوم، فقال: على مكانكما، ...الخ	۱۷۰
	قوله: فقال: الا ادلكما على خير مما سألتماني؟	۱۷۲
	د تلقین کرده کلماتو حکمت او خاصیت	۱۷۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۱۷۳
	یو اهم خبرداري	۱۷۴

⑦ باب: قول الله تعالٰی: فأن لله خمسه وللرسول

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد	۱۷۴
	د آیت کریمه په تفسیر کښې اختلاف	۱۷۵
	د ﴿وللرسول﴾ د تخصیص بالذکر وجه	۱۷۶
	د تعلیق مقصد	۱۷۶

شمیره	مضمون	صفحه

د مذکوره تعلیق موصولاً تخریج ١٧٧
ترجمة الباب سره د مذکوره تعلیق مطابقت ١٧٧
رجال الحدیث ١٧٨
①ابوالولید ١٧٨
②شعبه ١٧٨
③سلیمان ١٧٨
④ منصور ١٧٨
⑤ قتاده ١٧٨
⑥ سالم ١٧٩
⑦ جابربن عبدالله ١٧٩
⑧ حصین
⑨عمرو ١٧٩
رجال الحدیث ١٧٩
① محمد بن یوسف ١٧٩
② سفیان ١٧٩
روایت دریو طرقو سره د راوړلو وجه ١٧٩
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت ١٨٠
رجال الحدیث ١٨١
① حبان ١٨١
② عبدالله ١٨١
③ یونس ١٨١
④ الزهری ١٨١
⑤ حمید بن عبدالرحمن ١٨١
⑥ معاویه ١٨١
د حدیث شریف ترجمه ١٨١
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت ١٨١
رجال الحدیث ١٨٢
① محمد بن سنان، ② فلیح، ③ هلال ١٨٢
④ عبدالرحمن بن ابی عمرة ١٨٢
⑤ابوهریره ١٨٢
قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ما أعطیکم، ولا أمنعکم، أنا قاسم أضع حیث أمرت: ١٨٢

شميره	مضمون	صفحه

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ۱۸۳
رجال الحديث ۱۸۳
① عبدالله بن يزيد ۱۸۳
② سعيد بن ابى ايوب: ۱۸۳
③ ابوالاسود ۱۸۳
④ ابن ابى عياش النعمان: ۱۸۳
⑤خوله الانصاريه: ۱۸۴
قوله: قالت: سمعت النبى ﷺ يقول: ان رجالاً يتخوضون فى مال الله بغيرحق...الخ: ۱۸۴
ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ۱۸۵
د حديث نه مستنبطې فائدې ۱۸۶

⑧ باب: قول النبى ﷺ: (احلت لكم الغنائم)

د نسخو اختلاف: ۱۸۶
د ترجمة الباب مقصد: ۱۸۷
رجال الحديث ۱۸۸
① مسدد: ۱۸۸
② خالد: ۱۸۸
③ حصين: ۱۸۸
④ عامر: ۱۸۸
⑤ عروه البارقى: ۱۸۸
ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۸۸
رجال الحديث ۱۸۸
① ابواليمان: ۱۸۸
② شعيب: ۱۸۹
③ ابوالزناد: ۱۸۹
④ الاعرج: ۱۸۹
⑤ ابوهريره ۱۸۹
د حديث شريف ترجمه: ۱۸۹
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت ۱۸۹
رجال الحديث ۱۹۰
① اسحاق: ۱۹۰

شمیره	مضمون	صفحه
②	جرير	۱۹۰
③	عبدالملك	۱۹۰
④	جابر بن سمرة	۱۹۰
	رجال الحديث	۱۹۰
①	محمد بن سنان	۱۹۰
②	هشيم	۱۹۰
③	سيار	۱۹۰
④	يزيد الفقير	۱۹۱
⑤	جابر بن عبدالله	۱۹۱
	غنیمت او سابقه امتونه	۱۹۱
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۱۹۲
	رجال الحديث	۱۹۲
①	اسماعيل	۱۹۲
②	مالك	۱۹۲
③	ابو الزناد	۱۹۲
④	الاعرج	۱۹۲
⑤	ابوهریره	۱۹۲
	د حدیث شریف ترجمه	۱۹۳
	خبرداري	۱۹۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۱۹۳
	رجال الحديث	۱۹۳
①	محمد بن العلاء	۱۹۳
②	ابن المبارك	۱۹۴
③	معمر	۱۹۴
④	همام بن منبه	۱۹۴
⑤	ابوهریره	۱۹۴
	قوله: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: غزانبي من الانبياء	۱۹۴
	دا نبی څوک وو؟	۱۹۴
	آیا د نمر اودریدل(نه ډوبیدل) صرف حضرت یوشع ﷺ سره خاص دی؟	۱۹۵
	د حصر حدیث او د مذکوره واقعاتو مینځ کښې تطبیق	۱۹٦

شمیره	مضمون	صفحه
	د نمر د واپس کیدو واقعات:	۱۹۷
	امام طحاوی او حدیث رد الشمس لعلی	۱۹۹
	قوله: فقال لقومه: لایتبعنی رجل ملك بضع امرأة وهو یرید أن یبنی بها، ولما یبن بها..:	۲۰۰
	قوله: ولا أحد بنی بیوتا ولم یرفع سقوفها:	۲۰۱
	قوله: ولا أحد اشتری غنما أو خلفات وهو ینتظر ولادها:	۲۰۱
	د خلفات معنوی تحقیق:	۲۰۱
	ددې کسانو د منع کولو حکمت:	۲۰۲
	قوله: فدنا من القریة صلاة العصر أو قریبا من ذلك:	۲۰۳
	جبابره قوم سره د حضرت یوشع علیه السلام جهاد:	۲۰۴
	قوله: فقال للشمس: انك مأمورة، وأنا مأمور، اللهم احبسها علینا، فحبست حتی فتح الله علیهم:	۲۰۵
	نمر ته د خطاب کولو حقیقت:	۲۰۵
	د نمر منع کیدو په کیفیت کښې اختلاف:	۲۰۶
	قوله: فجمع الغنائم، فجاءت۔یعنی النار۔لتاکلها، فلم تطعمها:	۲۰۶
	قوله: فقال: ان فیکم غلولا:	۲۰۷
	قوله: فلیبایعنی من کل قبیلة رجل فلزقت ید رجل بیده فقال: فیکم الغلول، فلیبایعنی قبیلتك، فلزقت ید رجلین أو ثلاثة بیده، فقال: فیکم الغلول:	۲۰۷
	قوله: فجاؤا برأس مثل رأس بقرة من الذهب، فوضعوها، فجاءت النار فأکلتها:	۲۰۸
	قوله: ثم أحل الله لنا الغنائم، رأی ضعفنا وعجزنا، فأحلها لنا:	۲۰۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۲۰۹
⑨	**باب: الغنیمة لمن شهد الوقعة**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۲۰۹
	د باب د حدیث شریف مسئله:	۲۱۱
	د احنافو دلیلونه:	۲۱۱
	د ائمه ثلثه د دلیلونو جوابونه:	۲۱۲
	رجال الحدیث	۲۱۳
	① صدقة:	۲۱۳
	② عبد الرحمٰن:	۲۱۳
	③ مالك:	۲۱۴
	④ زید بن أسلم:	۲۱۴

شمیره	مضمون	صفحه
⑤	اسلم	۲۱۴
⑥	عمر	۲۱۴
	قوله: قال عمر رضی الله عنه لولا آخر	
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۲۱۴
⑩	**بَابُ: مَنْ قَاتَلَ لِلْمَغْنَمِ، هَلْ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ؟**	
	د ترجمة الباب مقصد	۲۱۵
	رجال الحدیث	۲۱۶
①	محمد بن بشار	۲۱۶
②	غندر	۲۱۶
③	شعبه	۲۱۶
④	عمرو	۲۱۷
⑤	ابووائل	۲۱۷
⑥	ابوموسیٰ اشعری	۲۱۷
	خبرداری	۲۱۷
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۲۱۷
⑪	**باب: قسمة الامام ما يقدم عليه، ويخبأ لمن لم يحضره أو غاب عنه**	
	د ترجمة الباب مقصد	۲۱۷
	رجال الحدیث	۲۱۸
①	عبدالله بن یوسف	۲۱۸
②	حماد	۲۱۸
③	ایوب	۲۱۸
④	عبدالله بن ابی ملیکه	۲۱۸
	قوله: أن النبی صلی الله علیه وسلم أهدیت له أقبیة من دیباج مزردة بالذهب	۲۱۹
	د مذکوره تعلیقاتو مقصد	۲۲۰
	د مذکوره تعلیقاتو تخریج	۲۲۰
	د مذکوره متابعت مقصد	۲۲۰
	د مذکوره متابعت تخریج	۲۲۰
	د اصیلی یو وهم	۲۲۱
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۲۲۱

صفحه	مضمون	شمیره
	باب: کیف قسم النبی ﷺ قریظة والنضیر، وما أعطی من ذلك فی نوائبه	⑫
۲۲۱	د ترجمة الباب مقصد:	
۲۲۱	رجال الحدیث	
۲۲۱	① عبد الله بن ابی الاسود:	
۲۲۱	② معتمر:	
۲۲۱	③ ابیه:	
۲۲۲	④ انس بن مالك:	
۲۲۲	د حدیث شریف ترجمه:	
۲۲۲	د حدیث شریف مختصره تشریح:	
۲۲۲	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	
	باب: برکة الغازی فی ماله حیا ومیتاً، مع النبی ﷺ وولاة الامر	⑬
۲۲۳	د ترجمة الباب مقصد:	
۲۲۳	یو خبرداري:	
۲۲۴	رجال الحدیث	
۲۲۴	① اسحاق بن ابراهیم:	
۲۲۴	② ابواسامه:	
۲۲۵	③ هشام بن عروة:	
۲۲۵	④ عروة بن زبیر:	
۲۲۵	⑤ عبد الله بن زبیر، ⑥ زبیر بن العوام رضی الله عنهما	
۲۲۵	قوله: قال: لما وقف الزبیر یوم الجمل دعانی فقمت الی جنبه:	
۲۲۵	یوم الجمل (د جمل جنګ)	
۲۲۷	قوله: فقال: یابنی، لایقتل الیوم الا ظالم أو مظلوم:	
۲۲۷	ددې جملې مختلف مطلبونه:	
۲۲۸	قوله: وانی لاأرانی الا ساقتل الیوم مظلوماً:	
۲۲۸	قوله: وان من أکبر همی لدینی، أفتری یبقی دیننا من مالنا شیئا؟:	
۲۲۹	قوله: فقال: یابنی، بع مالنا، فاقض دینی، وأوصی بالثلث، وثلثه لبنیه۔ یعنی بنی عبد الله بن الزبیر، یقول: ثلث الثلث۔ فان فضل من مالنا فضل بعد قضاء الدین فثلثه لولدك:	
۲۳۰	قوله: قال هشام: وکان بعض ولد عبد الله قد وازی بعض بنی الزبیر۔ خبیب وعباد:	
۲۳۰	ددې جملې مطلب:	

شميره	مضمون	صفحه
	خبيب:	۲۳۱
	قوله: وله يومئذ تسعة بنين وتسع بنات:	۲۳۳
	د حضرت عبد الله د حيرانه كيدلو وجه:	۲۳۴
	قوله: فقتل الزبير رضي الله عنه، ولم يدع ديناراً ولا درهماً، الا أرضين منها: الغابة، واحدى عشرة داراً بالمدينة، ودارين بالبصرة، وداراً بالكوفة، وداراً بمصر:	۲۳۴
	قوله: قال: وانما كان دينه الذى عليه أن الرجل كان يأتيه بالمال فيستودعه اياه، فيقول الزبير: لا، ولكنه سلف، فانى أخشى عليه الضيعة:	۲۳۵
	د حضرت زبير رضي الله عنه د احتياط كمال او تقوى:	۲۳۵
	قوله: وما ولى امارة قط، ولا جباية خراج، ولا شيئاً الا أن يكون فى غزوة مع النبى ﷺ... الخ:	۲۳۶
	قوله: قال عبد الله بن الزبير: فحسبت ما عليه من الدين، فوجدته ألفى ألف، ومائتى ألف:	۲۳۶
	قوله: فكتمه، فقال: مائة ألف:	۲۳۷
	آيا دا دروغ او غلط بيانى نهٔ ده؟	۲۳۷
	د قرض د اصل مقدار پټولو وجه:	۲۳۷
	قوله: فقال حكيم: والله، ما أرى أموالكم تسع لهذه، فقال له عبد الله: أرأيتك إن كانت ألفى ألف ومائتى ألف؟ قال: ما أراكم تطيقون هذا، فان عجزتم عن شئ منه فاستعينوا بى:	۲۳۸
	قوله: وكان الزبير اشترى الغابة بسبعين ومائة ألف، فباعها عبد الله بألف ألف وستمائة ألف:	۲۳۸
	قوله: ثم قام، فقال: من كان له على الزبير حق فليوافنا بالغابة:	۲۳۸
	قوله: قال: فباع منها، فقضى دينه، فأوفاه، وبقى منها أربعة أسهم ونصف:	۲۳۹
	قوله: فقدم على معاوية۔ وعنده عمرو بن عثمان، والمنذر بن الزبير، وابن زمعة:	۲۴۰
	قوله: المنذر بن الزبير:	۲۴۰
	ابن زمعه:	۲۴۱
	قوله: قال: وباع عبد الله بن جعفر نصيبه من معاوية بستمائة ألف:	۲۴۳
	قوله: فلما فرغ ابن الزبير من قضاء دينه قال بنو الزبير: اقسم بيننا ميراثنا. قال: لا والله، لا أقسم بينكم حتى أنادى بالموسم أربع سنين: ألا من كان له على الزبير دين، فليأتنا، فلنقضه:	۲۴۳
	قوله: قال: فجعل كل سنة ينادى بالموسم. فلما مضى أربع سنين قسم بينهم:	۲۴۴
	قوله: قال: وكان للزبير أربع نسوة:	۲۴۴
	قوله: فجميع ماله خمسون ألف ألف ومائتا ألف:	۲۴۵

شمیره	مضمون	صفحه

اشکال او د هغې جوابات ۲۴۶
د حدیث شریف متن سره متعلق یو وضاحت: ۲۴۸
د استفهام د جواب ذکر: ۲۴۸
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ۲۴۹

⑭ باب: إذا بعث الامام رسولاً في حاجة، أو أمره بالمقام، هل يسهم له

د ترجمة الباب مقصد: ۲۴۹
د ائمه ثلثه دلیل: ۲۴۹
د احنافو دلیل: ۲۵۰
د جمهورو له طرفه جواب: ۲۵۰
د احنافو له طرفه جمهورو ته جواب: ۲۵۱
رجال الحدیث ۲۵۱
① موسی: ۲۵۱
② ابوعوانه: ۲۵۱
③ عثمان بن موهب: ۲۵۱
خبرداري: ۲۵۱
④ ابن عمر: ۲۵۲
قوله: قال: إنما تغيب عثمان عن بدر، فإنه كانت تحته بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم وكانت مريضة، فقال له النبي صلى الله عليه وسلم: إن لك أجر رجل من شهد بدراً وسهمه: ۲۵۲
د باب د حدیث شریف پس منظر: ۲۵۲
د باب د حدیث شریف د بعضې حصو تشریح: ۲۵۳
حضرت رقیه رضی الله عنها: ۲۵۳
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ۲۵۴

⑮ باب: ومن الدليل على أن الخمس لنوائب المسلمين

د ترجمة الباب مقصد: ۲۵۵
د ترجمة الباب نحوی تحلیل: ۲۵۶
واو عاطفه یا استفتاحیه: ۲۵۶
د ترجمة الباب مقصد: ۲۵۷
د تعلیقاتو مقصد: ۲۵۷
د تعلیقاتو موصولاً تخریج: ۲۵۷
د مذکوره تعلیقاتو ترجمې سره مناسبت: ۲۵۸
د باب اولنې حدیث: ۲۵۸

شمیره	مضمون	صفحه

	رجال الحدیث	۲۵۸
	①سعید بن عفیر	۲۵۸
	②اللیث	۲۵۹
	③ عقیل	۲۵۹
	④ ابن شهاب	۲۵۹
	⑤عروة	۲۵۹
	⑥ مروان بن الحکم	۲۵۹
	⑦المسوربن مخرمه	۲۵۹
	خبرداری	۲۵۹
	ترجمة الباب او د باب حدیث	۲۵۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۲۶۰
	رجال الحدیث	۲۶۱
	①عبدالله بن عبدالوهاب	۲۶۱
	②حماد	۲۶۱
	③ ایوب	۲۶۱
	④ ابوقلابه	۲۶۱
	⑤قاسم بن عاصم الکلیبی	۲۶۲
	⑥ زهدم	۲۶۲
	⑦ابوموسی	۲۶۲
	قوله: قال:وحدثنی القاسم بن عاصم الکلیبی،وأنالحدیث القاسم أحفظ عن زهدم	۲۶۲
	خبرداری	۲۶۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۲۶۳
	رجال الحدیث	۲۶۳
	①عبدالله بن یوسف	۲۶۳
	② مالک	۲۶۳
	③ نافع	۲۶۳
	④ ابن عمر	۲۶۴
	د نفل لغوی او اصطلاحی تعریف	۲۶۴
	د نفل مشروعیت	۲۶۵
	د نفل صورتونه	۲۶۵
	د نفل محل	۲۶۶

شمیره	مضمون	صفحه
	د نفل مقدار	۲۶۷
	قوله: فکانت سهمانهم اثنی عشربعیراً أو أحد عشر بعیراً:	۲۶۸
	د شریکانو په حصه کښې څومره څومره اوښان راغلل؟	۲۶۸
	د اثنی عشربعیراً مراد	۲۶۸
	یو اعتراض او د هغې جوابات:	۲۶۸
	فائده:	۲۷۰
	قوله: ونفلوابعیراًبعیراً:	۲۷۰
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۲۷۱
	یوه فائده:	۲۷۱
	رجال الحدیث	۲۷۲
	①یحیی بن بکیر:	۲۷۲
	②اللیث:	۲۷۲
	③عقیل:	۲۷۲
	④ابن شهاب:	۲۷۲
	⑤سالم:	۲۷۲
	⑥ابن عمر:	۲۷۲
	د باب د حدیث نه د حافظ صاحب استدلال:	۲۷۲
	د حافظ د مذکوره استدلال وجه:	۲۷۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۲۷۳
	رجال الحدیث	۲۷۴
	①محمد بن العلاء:	۲۷۴
	②ابو اسامه:	۲۷۴
	③برید بن عبدالله:	۲۷۴
	④ ابوبرده:	۲۷۴
	⑤ابوموسی:	۲۷۴
	قوله: فخرجنامهاجرین إلیه،أناوأخوان لی،أناأصغرهم،أحدهما: أبوبردة،والآخرأبورهم:	۲۷۵
	ابو برده:	۲۷۵
	خبرداري:	۲۷۵
	قوله: إماقال فی بضع،وإماقال فی ثلاثةوخمسین أواثنین وخمسین رجلاًمن قومی:	۲۷۶
	دا حضرات ټول څومره وو؟	۲۷۶

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: فركبنا سفينة، فالقتنا سفينتنا إلى النجاشي بالحبشة، ووافقنا جعفر بن أبي طالب وأصحابه عنده، فقال جعفر: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعثنا ههنا، وأمرنا بالاقامة......الخ:	۲۷۷
	قوله: فأقمنا معه، حتى قدمنا جميعاً:	۲۷۷
	دا شرکت د کوم مد نه وو؟:	۲۷۷
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:	۲۷۸
	رجال الحديث	۲۷۹
	①علی:	۲۷۹
	②سفیان:	۲۷۹
	③ محمد بن المنکدر:	۲۷۹
	④جابر:	۲۷۹
	قوله: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لو قد جاءنا مال البحرين لقد أعطيتك هكذا وهكذا وهكذا:	۲۷۹
	قوله: فلم يجئ حتى قبض النبي صلى الله عليه وسلم:	۲۷۹
	قوله: فلما جاء مال البحرين أمر أبوبكر منادياً، فنادى: من كان له عند رسول الله صلى الله عليه وسلم دين أو عدة فليأتنا:	۲۷۹
	قوله: فأتيته، فقلت: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لي كذا وكذا، فحثا لي ثلاثاً:	۲۸۰
	قوله: وجعل سفيان يحثو بكفيه جميعاً، ثم قال لنا: هكذا قال لنا ابن المنكدر:	۲۸۰
	قوله: وقال مرة: فأتيت أبابكر، فسئلت، فلم يعطني، ثم أتيته، فلم يعطني، ثم أتيته الثالثة، فقلت: سئلتك، فلم تعطني، ثم سئلتك فلم تعطني، ثم سئلتك فلم تعطني،.....الخ:	۲۸۰
	قوله: قال: قلتَ تبخل علي، ما منعتك من مرة إلا وأنا أريد أن أعطيك:	۲۸۱
	د منع کولو وجه څه وه؟:	۲۸۱
	قوله: وقال: يعني ابن المنكدر: وأي داء أدوى من البخل؟:	۲۸۲
	دا جمله د چا ده؟:	۲۸۲
	د أدوى د لفظ تحقیق:	۲۸۲
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:	۲۸۳
	رجال الحديث	۲۸۳
	①مسلم بن ابراهيم:	۲۸۳
	②قرة بن خالد:	۲۸۳

شمیره	مضمون	صفحه
	③عمرو بن دینار:	۲۸۴
	④ جابر بن عبدالله رضی الله عنهما:	۲۸۴
	دا واقعه د کوم وخت ده؟:	۲۸۴
	قوله: أذقال له رجل: اعدل:	۲۸۴
	دا سړی څوک وو؟:	۲۸۴
	قوله: قال: لقد شقیتُ إن لم أعدل:	۲۸۵
	د شقیت معنی:	۲۸۶
	ترجمة الباب سره د حدیث مبارک مطابقت:	۲۸۶
⑯	باب: ما مَنَّ النبی صلی الله علیه وسلم علی الأُساری من غیر أن یخمس	
	د ترجمة الباب مقصد:	۲۸۷
	غانمین کله د غنیمت مالکان جوړیږی؟:	۲۸۷
	رجال الحدیث:	۲۸۸
	①إسحاق بن منصور:	۲۸۸
	②عبد الرزاق:	۲۸۸
	③ معمر:	۲۸۸
	④الزهری:	۲۸۸
	⑤محمد بن جبیر:	۲۸۸
	⑥أبیه:	۲۸۸
	قوله: أن النبی صلی الله علیه وسلم قال فی أساری بدر: لو كان المطعم بن عدی حیا، ثم كلمنی فی هؤلاء النتنی لتركتهم له:	۲۸۸
	د مطعم بن عدی د خاص کولو وجه:	۲۸۸
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۲۸۹
⑰	باب: ومن الدلیل علی أن الخمس للامام، وأنه یعطی بعض قرابته دون بعض	
	د ترجمة الباب مقصد:	۲۸۹
	د مذکوره تعلیق لغوی او نحوی تحلیل:	۲۹۰
	د مذکوره تعلیق مطلب:	۲۹۱
	د مذکوره تعلیق مقصد:	۲۹۱
	ترجمې سره د تعلیق مناسبت:	۲۹۱

شمیره	مضمون	صفحه

د ذکر کړې شوی تعلیق تخریج ۲۹۲
رجال الحدیث ۲۹۲
①عبدالله بن یوسف: ۲۹۲
②اللیث، ③ عقیل، ④ ابن شهاب: ۲۹۲
⑤ابن المسیب
⑥جبیر بن مطعم: ۲۹۳
د حدیث مبارک ترجمه: ۲۹۳
ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت: ۲۹۳
خبرداری: ۲۹۳
په شئ واحد کښې د نسخو او د روایتونو اختلاف: ۲۹۳
واحد یا أحد: ۲۹۴
د مذکوره تعلیق تخریج: ۲۹۴
د مذکوره تعلیق مقصد: ۲۹۴
ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت: ۲۹۴
قوله: وقال ابن اسحاق: عبد شمس وهاشم والمطلب إخوة لام، وأمهم عاتكة بنت مرة، وكان نوفل أخاهم لابيهم: ۲۹۵
د بیتونو ترجمه: ۲۹۶
د تعلیق مقصد: ۲۹۶
د مذکوره تعلیق تخریج: ۲۹۶

⑱باب: من لم يخمس الاسلاب، ومن قتل قتيلاً فله سلبه من غير أن يخمس وحكم الامام فيه.

لغوی او اصطلاحی اسلاب: ۲۹۶
تکلیفی حکم (د سلب مشروعیت): ۲۹۷
د امامانو دلیلونه: ۲۹۷
د جمهورو دلائل: ۲۹۷
د احنافو دلیلونه: ۲۹۸
د استدلال وجه: ۲۹۹
د سلب مستحق څوک وی؟ ۲۹۹
① جمهور فقهاء: ۲۹۹
② موالک: ۲۹۹

شمیره	مضمون	صفحه
	خپل خان په خطره کښې واچوی	۳۰۰
	د مقتول د قتل کولو شرعی اجازت وی	۳۰۰
	قتل نې کړې یا	۳۰۰
	د جنګ دوران کښې نې قتل کړې	۳۰۰
	آیا د سلب د مستحق کیدو دپاره ګواهان ضروری دی؟	۳۰۰
	د ګواهانو نه څهٔ مراد دی؟	۳۰۱
	په سلب کښې به تخمیس جاری کیږی یا نهٔ؟	۳۰۲
	په سلب کښې به کوم کوم څیزونه ملاویږی؟	۳۰۳
	د ترجمة الباب مقصد	۳۰۴
	قوله: ومن قتل قتیلاً فله سلبه:	۳۰۴
	قوله: من غیر أن یخمس:	۳۰۵
	قوله: وحکم الامام فیه:	۳۰۵
	رجال الحدیث	۳۰۶
	① مسدد:	۳۰۶
	② یوسف بن الماجشون:	۳۰۶
	③ صالح بن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف:	۳۰۶
	④ أبیه:	۳۰۶
	⑤ جده:	۳۰۶
	قوله: قال بینا أنا واقف فی الصف یوم بدر.....:	۳۰۶
	قوله: تمنیت أن أکون بین أضلع منهما:	۳۰۷
	د أضلع لغوی او صرفی تحقیق:	۳۰۷
	په أضلع کښې د نسخو اختلاف:	۳۰۷
	قوله: لایفارق سوادی سواده:	۳۰۸
	قوله: حتی یموت الاعجل منا:	۳۰۸
	قوله: فلم أنشب أن نظرت إلی أبی جهل یجول فی الناس:	۳۰۸
	قوله: فابتدراه بسیفیهما:	۳۰۹
	قوله: فنظر فی السیفین، فقال: کلاکما قتله:	۳۰۹
	قوله: سلبه لمعاذ بن عمرو بن الجموح:	۳۰۹
	قوله: وکانا معاذ بن عفراء، ومعاذ بن عمرو بن الجموح:	۳۱۰

شمیره	مضمون	صفحه
	معاذ بن عفراء	۳۱۰
	معاذ بن عمرو بن الجموح	۳۱۱
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۳۱۱
	قوله: قال محمد: سمع یوسف صالحا، وإبراهیم أباه:	۳۱۱
	د مذکوره جملې مطلب	۳۱۲
	د مذکوره جملې مقصد	۳۱۲
	رجال الحدیث	۳۱۳
	① عبدالله بن مسلمه	۳۱۳
	② مالک	۳۱۳
	③ یحیی بن سعید	۳۱۳
	④ ابن افلح	۳۱۳
	⑤ أبی محمد	۳۱۳
	⑥ أبو قتاده	۳۱۳
	د حدیث مبارک ترجمه	۳۱۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۳۱۴
	سلب شرعی حق دې یا د امامت حق؟	۳۱۴

⑲ باب: ما کان النبی صلی الله علیه وسلم یعطی المؤلفة قلوبهم وغیرهم من الخمس ونحوه

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد	۳۱۷
	مؤلفة القلوب چاته وئیلې کیږی؟	۳۱۷
	د مؤلفة القلوب حصه اوس باقی ده یا نهٔ؟	۳۱۸
	خبرداري	۳۱۹
	مؤلفة القلوب ته به د کوم ځائې نه ورکړې کیده؟	۳۱۹
	قوله: رواه عبدُالله بنُ زید، عن النبی صلی الله علیه وسلم:	۳۱۹
	د مذکوره تعلیق مقصد	۳۲۰
	د مذکوره تعلیق تخریج	۳۲۰
	ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت	۳۲۰
	رجال الحدیث	۳۲۱
	① محمد بن یوسف	۳۲۱
	② الاوزاعی	۳۲۱

شمیره	مضمون	صفحه
	③الزهری	۳۲۱
	④سعید بن المسیب	۳۲۱
	⑤عروه بن الزبیر	۳۲۱
	⑥حکیم بن حزام	۳۲۱
	د حدیث شریف ترجمه	۳۲۱
	خبرداری	۳۲۲
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۳۲۲
	رجال الحدیث	۳۲۲
	①ابو النعمان	۳۲۲
	②حماد بن زید	۳۲۲
	③ایوب	۳۲۲
	④نافع	۳۲۳
	⑤عمربن الخطاب	۳۲۳
	قوله: أن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال: یارسول الله:	۳۲۳
	یو حدیث او درې احکامات	۳۲۳
	قوله: وأصاب عمر جاریتین من سبی حنین، فوضعهما فی بعض بیوت مكة	۳۲۳
	وینزې دوه وې یا یو وه؟	۳۲۴
	قوله: وزاد جریر بن حازم، عن ایوب، عن نافع، عن ابن عمر قال: من الخمس	۳۲۴
	د مذکوره تعلیق مقصد	۳۲۴
	د مذکوره تعلیق تخریج	۳۲۵
	قوله: ورواه معمر، عن ایوب، عن نافع، عن ابن عمر فی النذر، ولم یقل: یوم:	۳۲۵
	د مذکوره تعلیق مقصد	۳۲۵
	د تعلیق تخریج	۳۲۵
	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت	۳۲۵
	رجال الحدیث	۳۲۶
	①موسی بن اسماعیل	۳۲۶
	②جریر بن حازم	۳۲۶
	③حسن	۳۲۶
	④عمرو بن تغلب	۳۲۶
	قوله: فقال: إنی أعطی قوما أخاف ظلعهم وجزعهم:	۳۲۶

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: وأکل أقواما إلی ما جعل الله فی قلوبهم من الخیر والغنی:	۳۲۶
	قوله: منهم عمرو بن تغلب:	۳۲۷
	قوله: فقال عمرو بن تغلب: ما أحب أن لی بکلمة رسول الله صلی الله علیه وسلم حمر النعم:	۳۲۷
	ددې جملې دوه مطلبونه دی:	۳۲۷
	قوله: وزاد أبو عاصم، عن جریر قال: سمعت الحسن یقول: حدثنا عمرو بن تغلب: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أتی بمال أو بسبی فقسمه، بهذا:	۳۲۸
	د مذکوره تعلیق مقصد:	۳۲۸
	د مذکوره تعلیق تخریج:	۳۲۸
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۳۲۸
	رجال الحدیث	۳۲۹
	①ابو الولید:	۳۲۹
	②شعبه:	۳۲۹
	③قتاده:	۳۲۹
	④انس:	۳۲۹
	د حدیث شریف ترجمه:	۳۲۹
	رجال الحدیث	۳۳۰
	①ابو الیمان:	۳۳۰
	②شعیب:	۳۳۰
	③زهری:	۳۳۰
	④أنس:	۳۳۰
	خبرداری:	۳۳۰
	رجال الحدیث	۳۳۱
	①عبد العزیز بن عبد الله الاویسی:	۳۳۱
	②ابراهیم بن سعد:	۳۳۱
	③صالح:	۳۳۱
	④ابن شهاب:	۳۳۱
	⑤عمر بن محمد بن جبیر بن مطعم	۳۳۱
	⑥محمد بن جبیر:	۳۳۱
	⑦جبیر بن مطعم:	۳۳۱
	د حدیث شریف ترجمه:	۳۳۱

شمیرہ	مضمون	صفحه
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۳۳۱
	رجال الحدیث	۳۳۲
	①یحیی بن بکیر	۳۳۲
	②مالک	۳۳۲
	③اسحاق بن عبد الله	۳۳۲
	④انس بن مالک	۳۳۲
	قوله: قال: كنت أمشي مع النبي صلى الله عليه وسلم، وعليه برد نجراني غليظ الحاشية:	۳۳۲
	قوله: فأدركه أعرابي، فجذبه جذبة شديدة، حتى نظرت إلى صفحة عاتق النبي صلى الله عليه وسلم، قد أثرت به حاشية الرداء، من شدة جذبته:	۳۳۳
	قوله: ثم قال: مرلي من مال الله الذي عندك:	۳۳۳
	قوله: فالتفت إليه، فضحك، ثم أمر له بعطاء:	۳۳۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۳۳۴
	یو اهمه فائده	۳۳۴
	رجال الحدیث	۳۳۵
	①عثمان بن ابی شیبة	۳۳۵
	②جریر	۳۳۵
	③منصور	۳۳۵
	④ابووائل	۳۳۵
	⑤عبد الله	۳۳۵
	قوله: قال: لما كان يوم حنين، آثر النبي صلى الله عليه وسلم أناسا في القسمة، فأعطى الاقرع بن حابس مئة من الابل، وأعطى عيينة مثل ذلك:	۳۳۵
	أقرع بن حابس	۳۳۶
	عیینة	۳۳۶
	ترجمة الباب سره مطابقت	۳۳۶
	رجال الحدیث	۳۳۷
	①محمود بن غیلان	۳۳۷
	②ابواسامه	۳۳۷
	③هشام	۳۳۷
	④أبي	۳۳۷
	⑤اسماء بنت ابی بکر	۳۳۷

شمیره	مضمون	صفحه
	د حدیث شریف ترجمه:	۳۳۷
	قوله: وقال أبو ضمرة عن هشام عن أبيه أن النبي صلى الله عليه وسلم أقطع الزبير أرضا من أموال بني النضير:	۳۳۷
	د مذکوره تعلیق مقصد:	۳۳۷
	یو اشکال او د هغې جواب:	۳۳۸
	د مذکوره تعلیق تخریج:	۳۳۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۳۳۹
	رجال الحدیث	۳۴۰
	①احمد بن المقدام:	۳۴۰
	②فضیل بن سلیمان:	۳۴۰
	③موسی بن عقبه:	۳۴۰
	④نافع:	۳۴۰
	⑤ابن عمر:	۳۴۰
	د حدیث شریف ترجمه:	۳۴۰
	د حدیث د بعضو حصو تشریح:	۳۴۰
	د اشکال جوابات:	۳۴۱
	قوله: تيماء وأريحا:	۳۴۱
	ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت:	۳۴۱

⑳باب: ما يصيبُ من الطعام في أرض الحرب

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد:	۳۴۲
	رجال الحدیث	۳۴۳
	①ابوالولید:	۳۴۳
	②شعبه:	۳۴۴
	③حمید بن هلال:	۳۴۴
	④عبدالله بن مغفل:	۳۴۴
	قوله: قال: كنا محاصرين قصر خيبر، فرمى إنسان بجراب فيه شحم:	۳۴۴
	قوله: فنزوت لآخذه:	۳۴۴
	قوله: فالتفت، فإذا النبي صلى الله عليه وسلم، فاستحييت منه:	۳۴۴
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۳۴۵

شمیره	مضمون	صفحه
	رجال الحدیث	۳۴۵
	①مسدد	۳۴۵
	②حماد بن زید	۳۴۶
	③ایوب	۳۴۶
	④نافع	۳۴۶
	⑤ابن عمر رضی الله عنه:	۳۴۶
	قوله: ولانرفعه:	۳۴۷
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۳۴۷
	رجال الحدیث	۳۴۷
	①موسی بن اسماعیل:	۳۴۷
	②عبدالواحد:	۳۴۷
	③الشیبانی:	۳۴۷
	④ابن ابی اوفی:	۳۴۸
	خبرداري:	۳۴۸
	قوله: قال عبدالله: فقلنا إنما نهى النبي صلى الله عليه وسلم،لانها لم تخمس. قال:وقال آخرون: حرمها البتة:	۳۴۸
	قوله: وسئلت سعيدبن جبيرفقال: حرمها البتة:	۳۴۸
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۳۴۸

۷۲۔ أبواب الجزية والموادعة

د نسخو اختلاف: ۳۴۹

① باب: الجزيةِ والموادعةِ مع أهل الذمة والحربِ

	د ترجمة الباب مقصد	۳۴۹
	د جزیة لغوی معنی:	۳۴۹
	اصطلاحی معنی:	۳۵۰
	د موادعة معنی او مراد	۳۵۰
	د جزیه مشروعیت	۳۵۰
	یو شبهه او د هغې جواب	۳۵۱
	د آیت کریمه شان نزول او مختصر تشریح	۳۵۲
	قوله: ولم يذهب إلى السكون:	۳۵۳

شمیره	مضمون	صفحه
	ترجمة الباب سره د ایت کریمه مناسبت	۳۵۲
	قوله: وماجاء في أخذ الجزية من اليهود والنصارى والمجوس والعجم:	۳۵۳
	جزیه به د چانه اخستلې شی؟	۳۵۳
	د مشرکینو د عرب د تخصیص وجوهات:	۳۵۵
	د کومو خلقو نه به جزیه نهٔ اخستلې کیږی؟	۳۵۶
	قوله: وقال ابن عيينة، عن ابن ابي نجيح: قلت لمجاهد: ما شان أهل الشام عليهم أربعة دنانير، وأهل اليمن عليهم دينار؟ قال: جعل ذلك من قبل اليسار:	
	د مذکوره تعلیق تخریج	۳۵۷
	د مذکوره تعلیق مقصد	۳۵۷
	د مذهبونو دلائل	۳۵۸
	د جمهورو له طرفه جواب:	۳۶۰
	د شوافعو دلیل:	۳۶۱
	د شوافعو د دلیل جواب:	۳۶۱
	د مالکیه دلیل:	۳۶۲
	د مالکیه د دلیل جواب:	۳۶۳
	ترجیح راجح	۳۶۳
	رجال الحديث	۳۶۴
	① على بن عبد الله:	۳۶۴
	② سفيان:	۳۶۴
	③ عمرو:	۳۶۴
	قوله: قال: كنت جالسا مع جابر بن زيد وعمرو بن أوس:	۳۶۴
	قوله: فحدثهما بجالة سنة سبعين عام حج مصعب بن الزبير بأهل البصرة عند درج زمزم:	۳۶۴
	بجالة	۳۶۴
	مصعب بن الزبير	۳۶۶
	حدیث شریف سره متعلق یو اصولی بحث:	۳۶۷
	د "درج" معنی	۳۶۷
	قوله: قال: كنت كاتبا لجزء بن معاوية عم الاحنف:	۳۶۸
	جزء بن معاويه:	۳۶۸
	الاحنف	۳۶۸
	قوله: فاتانا كتاب عمر بن الخطاب قبل موته بسنة:	۳۶۸

شميره	مضمون	صفحه
	عمر بن الخطاب:	٣٦٨
	قوله: فرقوا بين كل ذى محرم من المجوس:	٣٦٩
	آيا مجوس په اهل كتابو كښې داخل دى؟:	٣٦٩
	يو اشكال او د هغې جواب:	٣٧٢
	قوله: ولم يكن عمر أخذ الجزية من المجوس حتى شهد عبد الرحمن بن عوف:	٣٧٣
	مذكوره جمله باندې سندى بحث:	٣٧٣
	هَجَر:	٣٧٣
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت:	٣٧٤
	رجال الحديث	٣٧٤
	① ابو اليمان، ② شعيب:	٣٧٤
	③ زهرى:	٣٧٥
	④ عروة بن الزبير:	٣٧٥
	⑤ مسور بن مخرمة:	٣٧٥
	⑥ عمرو بن عوف الانصارى:	٣٧٥
	دې ولې انصارى دې؟:	٣٧٥
	يو اهم خبردارې:	٣٧٦
	قوله: أن رسول الله بعث أبا عبيدة بن الجراح إلى البحرين يأتي بجزيتها:	٣٧٦
	قوله: وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم هو صالح أهل البحرين، وأمر عليهم العلاء بن الحضرمى:	٣٧٦
	د مذكوره واقعې تفصيل:	٣٧٧
	قوله: فقدم أبو عبيدة بمال من البحرين:	٣٧٧
	د حديث نه مستنبط يوه فائده:	٣٧٨
	قوله: قالوا: أجل يا رسول الله:	٣٧٨
	قوله: قال: فأبشروا، وأملوا ما يسركم:	٣٧٩
	قوله: فوالله، لا الفقر أخشى عليكم، ولكن أخشى عليكم أن تبسط عليكم الدنيا، كما بسطت على من كان قبلكم، فتنافسوها كما تنافسوها، وتهلككم كما أهلكتهم:	٣٧٩
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:	٣٧٩
	رجال الحديث	٣٨٠
	① الفضل بن يعقوب:	٣٨٠
	② عبد الله بن جعفر الرقى:	٣٨٠
	③ المعتمر بن سليمان:	٣٨١

شمیره	مضمون	صفحه
	④سعید بن عبید الله الثقفی	۳۸۲
	⑤بکر بن عبد الله المزنی:	۳۸۳
	⑥زیاد بن جبیر	۳۸۳
	⑦جبیر بن حیه	۳۸۳
	قوله: قال: بعث عمر الناس فی أفناء الامصار یقاتلون المشرکین:	۳۸۵
	قوله: فأسلم الهرمزان:	۳۸۲
	د هُرمُزان د اسلام د قبلولو واقعه:	۳۸۲
	قوله: فقال: إنی مستشیرك فی مغازیّ هذه:	۳۹۰
	قوله: قال: نعم، مثلها ومثل من فیها من الناس من عدو المسلمین مثل طائر له رأس، وله جناحان، وله رجلان:	۳۹۰
	قوله: فإن کسر أحد الجناحین نهضت الرجلان بجناح والراس، فإن کسر الجناح الآخر نهضت الرجلان والراس، وإن شدخ الراس، ذهبت الرجلان والجناحان والراس:	۳۹۱
	قوله: فالراس کسری، والجناح قیصر، والجناح الآخر فارس:	۳۹۱
	یو اشکال او د هغې جوابات:	۳۹۱
	قوله: فمر المسلمین فلینفروا إلی کسری:	۳۹۲
	قوله: وقال بکر وزیاد جمیعاً: عن جبیر بن حیة، قال: فندبنا عمر:	۳۹۳
	قوله: واستعمل علینا النعمان بن مقرن:	۳۹۳
	حضرت نعمان بن مقرن	۳۹۳
	قوله: حتی إذا کنا بأرض العدو:	۳۹۵
	د نُهاوند تعارف:	۳۹۵
	قوله: وخرج علینا عامل کسری فی أربعین ألفاً:	۳۹۵
	قوله: فقام ترجمان، فقال: لیکلمنی رجل منکم، فقال المغیرة: سل عما شئت:	۳۹۲
	قوله: قال: ما أنتم؟:	۳۹۲
	قوله: قال: نحن أناس من العرب، کنا فی شقاء شدید، نمص الجلد والنوی من الجوع ونلبس الوبر والشعر، ونعبد الشجر والحجر:	۳۹۲
	قوله: فبینا نحن کذلك، إذ بعث رب السموات ورب الارضین۔ تعالی ذکرُه، وجلت عظمته۔ إلینا نبیا من أنفسنا، نعرف أباه وأمه:	۳۹۷

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: فامرنبينا ورسول ربنا صلى الله عليه وسلم أن نقاتلكم حتى تعبدوا الله وحده،.....الخ:	۳۹۷
	قوله: وأخبرنا نبينا عن رسالة ربنا أنه من قتل منا صار إلى الجنة في نعيم لم ير مثلها قط، ومن بقي منا ملك رقابكم:	۳۹۷
	د حضرت نعمان بن مقرن مذکوره ارشاد کښې د شارحینو اختلاف	۳۹۸
	د "حتی تهب الارواح" معنی او مطلب:	۴۰۱
	د "وتحضر الصلوات" مراد:	۴۰۱
	د غزوۀ نهاوند اختتام:	۴۰۱
	د حدیث شریف نه مستنبط فائدې:	۴۰۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۴۰۴
۲	**باب: إذا وادع الامام ملك القرية، هل يكون ذلك لبقيتهم؟**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۰۴
	رجال الحديث	۴۰۷
	① سهل بن بکار:	۴۰۷
	② وهيب:	۴۰۷
	③ عمرو بن يحيى:	۴۰۷
	④ عباس الساعدی:	۴۰۷
	⑤ ابوحميد الساعدی:	۴۰۷
	د حدیث شریف ترجمه:	۴۰۷
	قوله: وكساه بردا:	۴۰۷
	د بحر نه څۀ مراد دې؟	۴۰۸
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۴۰۸
۳	**باب: الوصايا بأهل ذمة رسول الله صلى الله عليه وسلم**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۰۹
	د الوصاة معنی:	۴۰۹
	د الذمة او د الال معنی:	۴۰۹
	رجال الحديث	۴۱۰
	① آدم بن ابی ایاس:	۴۱۰
	② شعبه:	۴۱۰
	③ ابوجمرة:	۴۱۰

صفحه	مضمون	شمیره
۴۱۰	④جویریه بن قدامة التمیمی:	
۴۱۱	⑤عمربن الخطاب	
۴۱۱	د باب د حدیث شریف ترجمه:	
۴۱۱	د حدیث شریف مزید تفصیل	
۴۱۲	فائده:	
۴۱۳	د "ورزق عیالکم" مطلب	
۴۱۳	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت:	
۴۱۳	د ترجمة الباب وضاحت او مقصد:	
۴۱۳	د "إقطاع" لغوی او اصطلاحی معنی:	
۴۱۴	د امام بخاری رحمه الله د استدلال طریقه:	
۴۱۵	رجال الحدیث	
۴۱۵	①احمد بن یونس:	
۴۱۵	②زهیر	
۴۱۵	③یحیی بن سعید:	
۴۱۵	④انس	
۴۱۵	د أثرة ضبط او معنی:	
۴۱۶	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	
۴۱۶	رجال الحدیث	
۴۱۶	①علی بن عبدالله:	
۴۱۶	②اسماعیل بن ابراهیم	
۴۱۶	خبرداري:	
۴۱۷	③روح بن القاسم:	
۴۱۷	④محمد بن المنکدر:	
۴۱۷	⑤جابربن عبدالله رضی الله عنهما:	
۴۱۷	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	
۴۱۷	د مال فئ تعریف:	
۴۱۸	مال فئ به څنګه تقسیمولې شی؟	
۴۱۹	په مال فئ کښې به خمس ویستلې شی یا نه؟	
۴۱۹	رجال الحدیث	
۴۱۹	①ابراهیم بن طهمان	
۴۲۰	②عبد العزیز بن صهیب:	

صفحه	مضمون	شمیره

③انس ۴۲۰
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت ۴۲۰

⑤ باب: إثم من قتل معاهداً بغير جرم

د ترجمة الباب مقصد: ۴۲۰
يوه اهمه فائده: ۴۲۰
رجال الحديث ۴۲۱
①قيس بن حفص: ۴۲۱
②عبدالواحد: ۴۲۱
③الحسن بن عمرو: ۴۲۱
④مجاهد: ۴۲۳
⑤عبدالله بن عمرو: ۴۲۳
د حديث شريف سند سره متعلق يو اهم بحث: ۴۲۳
د أصيلي يو تسامح: ۴۲۴
قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "من قتل معاهداً لم يرح رائحة الجنة": ۴۲۴
د "يرح" معنى او ضبط: ۴۲۴
قوله: وإن ريحها توجد من مسيرة أربعين عاماً: ۴۲۵
په حديث كښې په مذكوره عدد كښې د راويانو اختلاف او ددې د اعداد توجيه: ۴۲۵
ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: ۴۲۶

⑥ باب: إخراج اليهود من جزيرة العرب

د ترجمة الباب مقصد: ۴۲۶
د جزيرة العرب تعريف او په دې كښې د كفارو د اقامت حكم: ۴۲۶
يو اهم خبرداري: ۴۲۶
د فريقينو دليلونه: ۴۲۷
د علامه طبرى خاص رائې ۴۲۹
په حرم مكى او په نورو مساجدو كښې د كفارو داخله: ۴۲۹
د جمهورو دليلونه: ۴۳۰
د امام اعظم دلائل ۴۳۱
د احنافو د مذهب تحقيق: ۴۳۱
د جمهورو د دليلونو جواب: ۴۳۳
د غيرمسلمو عبادت خانو ته د تلو حكم: ۴۳۴

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: وقال عمر، عن النبی ﷺ: (أقرکم ما أقرکم الله به):	۴۳۴
	د مذکوره تعلیق تفصیل او مقصد	۴۳۴
	د مذکوره تعلیق تخریج:	۴۳۵
	ترجمة الباب سره د تعلیق موافقت:	۴۳۵
	رجال الحدیث	۴۳۵
	①عبدالله بن یوسف:	۴۳۵
	②اللیث:	۴۳۵
	③سعید المقبری:	۴۳۵
	④أبیه:	۴۳۶
	⑤ابوهریره	۴۳۶
	قوله: قال: بینما نحن فی المسجد خرج النبی صلی الله علیه وسلم، فقال: انطلقوا إلی یهود:	۴۳۶
	په حدیث شریف کښې د یهودیانو نه څوک مراد دی؟	۴۳۶
	قوله: فخرجنا حتی جئنا بیت المدراس:	۴۳۷
	د بیت المدراس معنی:	۴۳۷
	قوله: فمن یجد منکم بماله شیئاً فلیبعه:	۴۳۸
	د یجد مشتق منه او معنی:	۴۳۸
	قوله: وإلا فاعلموا أن الارض لله ورسوله:	۴۳۹
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۴۳۹
	رجال الحدیث	۴۴۰
	①محمد:	۴۴۰
	②ابن عیینه:	۴۴۰
	③سلیمان:	۴۴۰
	④سعید بن جبیر:	۴۴۰
	⑤عبدالله بن عباس	۴۴۰
	خبرداری:	۴۴۱
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف موافقت:	۴۴۱
⑭	**باب: إذا غدر المشرکون بالمسلمین، هل یُعفی عنهم**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۴۱
	د مذکوره مسئلې تفصیل:	۴۴۱
	په چا باندې زهر خوړلو سره د قتلولو حکم:	۴۴۳

شمیره	مضمون	صفحه
	خبرداري:	۴۴۴
	په حدیث شریف کښې د مذکوره واقعې تفصیلات:	۴۴۴
	قوله: قال: لما فتحت خیبر أهدیت للنبی صلی الله علیه وسلم شاة. فیها سُم:	۴۴۵
	د کلمه سم تحقیق:	۴۴۵
	د "تخلفونا" لغوی او صرفی تحقیق:	۴۴۶
	قوله: فقال النبی صلی الله علیه وسلم: اخسؤا فیها:	۴۴۶
	قوله: والله، لانخلفکم فیها أبداً:	۴۴۷
	یو سوال او د هغې جواب:	۴۴۸
	آیا دې ښځې اسلام قبول کړې وو؟:	۴۴۹
	نبی بشر وی:	۴۴۹
	د نبی علیه السلام معجزه:	۴۵۰
	حقیقی مؤثر د الله تعالی ذات دي:	۴۵۰
	ترجمة الباب سره د حدیث باب مطابقت:	۴۵۰
⑧	**باب: دعاء الامام علی من نکث عهداً**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۵۱
	رجال الحدیث	۴۵۱
	① ابو النعمان:	۴۵۱
	② ثابت بن یزید:	۴۵۱
	③ عاصم:	۴۵۱
	④ انس:	۴۵۱
	خبرداري:	۴۵۱
	یوه اهمه فائده:	۴۵۱
	دویمه فائده:	۴۵۲
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف موافقت:	۴۵۲
⑨	**باب: أمان النساء وجوارهن**	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۵۲
	د جوار معنی:	۴۵۲
	رجال الحدیث	۴۵۳
	① عبد الله بن یوسف:	۴۵۳
	② مالک:	۴۵۳

شمیره	مضمون	صفحه
	③ابو النضر	۴۵۳
	④ابو مرة	۴۵۳
	⑤ام هانی	۴۵۳
	د حدیث شریف ترجمه	۴۵۳
	ښځه امان ورکولې شي	۴۵۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۴۵۴

⑩ باب: ذمة المسلمین وجوارهم واحدة یسعی بها أدناهم

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد	۴۵۴
	آیا د غلام امان ورکول معتبر دی؟	۴۵۵
	د ماشوم امان ورکول	۴۵۵
	د مجنون امان ورکول	۴۵۶
	رجال الحدیث	۴۵۶
	① محمد	۴۵۶
	②وکیع	۴۵۶
	③الاعمش	۴۵۶
	④ابراهیم التیمی	۴۵۶
	⑤أبیه	۴۵۶
	⑥علی	۴۵۶
	خبرداری	۴۵۷
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت	۴۵۷

⑪ باب: إذا قالوا صبأنا ولم یحسنوا أسلمنا

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد	۴۵۷
	د کلمه "صبأنا" صرفي او لغوی تحقیق	۴۵۸
	د مذکوره تعلیق تخریج	۴۵۸
	په تعلیق کښې د مذکوره واقعې تفصیل	۴۵۸
	د حدیث شریف نه مستنبطه یو مسئله	۴۵۹
	ترجمة الباب سره د مذکوره تعلیق مناسبت	۴۵۹
	د مذکوره تعلیق تخریج	۴۶۰
	د حضرت عمر رضی الله عنه مکمل فرمان	۴۶۰
	د "مترس" لغوی تحقیق او ضبط	۴۶۰

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: وقال: تکلم لا باس.:	۴۲۱
	د مذکوره اثر تخریج	۴۲۱
	د مذکوره اثر نه یوه مستفاد مسئله:	۴۲۲
	ترجمة الباب سره د تعلیق مطابقت:	۴۲۲
⑫	باب: الموادعة والمصالحة مع المشرکین بالمال وغیره، وإثم مَن لم یفِ بالعهد	
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۲۲
	قوله: وقوله: "وإن جنحوا للسلم فاجنح لها وتوکل علی الله:	۴۲۳
	د آیت کریمه تفسیر:	۴۲۳
	د آیتَ مبارکه نه د امام بخاری استدلال او ترجمه سره انطباق	۴۲۳
	فائده:	۴۲۳
	ترجمة الباب کښې د ذکر شوې مسئلې تفصیل:	۴۲۳
	د صلحې په بدله کښې مشرکانو ته د مال د ادا کولو مثالونه:	۴۲۵
	رجال الحدیث	۴۲۵
	①مسدد:	۴۲۵
	②بشر:	۴۲۶
	③یحیی:	۴۲۶
	④بشیربن یسار:	۴۲۶
	⑤سهل بن ابی حثمه:	۴۲۶
	قوله: قال: انطلق عبدالله بن سهل ومحیصة بن مسعود بن زید إلی خیبر وهی یومئذ صلح:	۴۲۶
	قوله: فتفرقا فأتی محیصة إلی عبدالله بن سهل، وهو یتشحط فی دم قتیلاً، فدفنه ثم قَدِمَ المدینة:	۴۲۶
	د "یتشحط" معنی:	۴۲۷
	قوله: فانطلق عبدُالرحمن بن سهل ومحصیة وحویصة ابنا مسعودٍ إلی النبی صلی الله علیه وسلم:	۴۲۷
	حضرت عبدالرحمن بن سهل	۴۲۷
	د حافظ ابن حجر رائې	۴۲۸
	حویصه بن مسعود:	۴۲۹
	د دوی د اسلام قبلولو واقعه:	۴۲۹
	خبرداري:	۴۷۰
	وهم چا ته لاحق شوې دې؟	۴۷۰

شمیره	مضمون	صفحه
	د باب په حدیث شریف کښې د مذکوره صحابه کرامو رشته وار نوعیت	۴۷۱
	قوله: فقال: أتحلفون وتستحقون قاتلکم أو صاحبکم؟ قالوا: وکیف نحلف ولم نشهد، ولم نر؟:	۴۷۲
	قوله: قال: فتبریکم یهود بخمسین. فقالوا: کیف نأخذ أیمان قوم کفار؟ فعقله النبی ﷺ.. الخ:	۴۷۲
	قوله: فذهب عبدالرحمن یتکلم: فقال: کبر، کبر. وهو أحدث القوم. فسکت، فتکلما:	۴۷۳
	د حدیث نه مستفاد یو حکم	۴۷۳
	یو اعتراض او د هغې جوابونه:	۴۷۳
	په ترجمة الباب باندې یو اشکال:	۴۷۳
	د مذکوره اشکال جوابونه:	۴۷۳
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت:	۴۷۴

⑫ باب: فضل الوفاء بالعهد

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد او ماقبل سره مناسبت:	۴۷۵
	رجال الحدیث	۴۷۵
①	یحی بن بکیر:	۴۷۵
②	اللیث:	۴۷۵
③	یونس:	۴۷۵
④	ابن شهاب:	۴۷۵
⑤	عبیدالله بن عبدالله بن عتبه:	۴۷۶
⑥	عبدالله بن عباس:	۴۷۶
⑦	ابوسفیان:	۴۷۶
	د باب د حدیث ترجمه:	۴۷۶
	ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت:	۴۷۶

⑬ باب: هل یعفی عن الذمی إذا سحر

شمیره	مضمون	صفحه
	د ترجمة الباب مقصد:	۴۷۷
	د امت د فقهاؤ د اختلاف تفصیل	۴۷۷
	د امام اعظم رحمه الله دلائل	۴۷۸
	د ائمه ثلثه دلیلونه:	۴۷۹
	د ائمه ثلثه د دلیلونو نه جوابونه:	۴۷۹
	د مسلمان جادوګر حکم:	۴۸۰
	د ائمه ثلاثه دلیلونه:	۴۸۱
	د اختلاف مدار:	۴۸۱

شمیره	مضمون	صفحه
	یو اهم خبرداري	۴۸۲
	یو دویم خبرداري	۴۸۲
	د ساحر توبه به قبلولې شی یا نهٔ؟	۴۸۲
	رجال الحدیث	۴۸۳
	①ابن وهب	۴۸۳
	②یونس	۴۸۳
	③ابن شهاب	۴۸۳
	د مذکوره تعلیق مقصد	۴۸۳
	د مذکوره تعلیق تخریج	۴۸۳
	ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت	۴۸۴
	رجال الحدیث	۴۸۴
	①محمد بن المثنی	۴۸۴
	②یحیی	۴۸۵
	③هشام	۴۸۵
	④ابی	۴۸۵
	⑤عائشة	۴۸۵
	ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت	۴۸۵

⑮باب: ما یُحذر من الغدر

	د ترجمة الباب مقصد	۴۸۶
	قوله: وقوله تعالى: وإن يريدوا أن يخدعوك فإن حسبك الله	۴۸۶
	د ترجمة الباب او آیت کریمه مینځ کښې مناسبت	۴۸۷
	رجال الحدیث	۴۸۸
	①الحمیدی	۴۸۸
	②الولید بن مسلم	۴۸۸
	③عبدالله بن العلاء بن زبر	۴۸۸
	خبرداري	۴۹۰
	④بسر بن عبیدالله	۴۹۰
	خبرداري	۴۹۱
	⑤ابو ادریس	۴۹۱
	⑥عوف بن مالک	۴۹۱

شمیره	مضمون	صفحه
	د حدیث شریف سند سره متعلق یوه فائده	۴۹۱
	قوله: قال: أتیت النبی صلی الله علیه وسلم فی غزوة تبوك:	۴۹۲
	قوله: وهو فی قبة من أدم:	۴۹۲
	قوله: "فسلمت، فرد، وقال: ادخل. فقلت: أكلی یارسول الله! قال: كلك، فدخلت":	۴۹۳
	قوله: فقال: اعدد ستا بین یدی الساعة موتی ثم فتح بیت المقدس:	۴۹۳
	قوله: ثم موتان یأخذ فیكم كقعاص الغنم:	۴۹۳
	د موتان ضبط:	۴۹۳
	د موتان معنی:	۴۹۴
	د قُعاص ضبط:	۴۹۴
	د قعاص معنی:	۴۹۴
	د "ثم موتان....." مطلب:	۴۹۵
	قوله: ثم استفاضة المال حتی یعطی الرجل مائة دینار فیظل ساخطا:	۴۹۵
	قوله: ثم فتنة لایبقی بیت من العرب إلا دخلته:	۴۹۶
	قوله: ثم هدنة تكون بینكم وبین بنی الاصفر فیغدرون فیاتونكم تحت ثمانین غایة تحت كل غایة اثنا عشر الفا:	۴۹۶
	د هدنة معنی او ضبط:	۴۹۶
	د غایة معنی او د روایتونو اختلاف:	۴۹۶
	شپږمه نښه	۴۹۷
	د قیامت د علامتونو ترتیب زمانی:	۴۹۷
	د امام مهدی تلاش:	۴۹۸
	امام مهدی به او پیژندلې شی:	۴۹۸
	د امام مهدی فوج:	۴۹۹
	د اهلِ خراسان لښکر:	۴۹۹
	د عیسائی فوجونو اجتماع:	۴۹۹
	عیسایانو سره د امام مهدی جنګ:	۴۹۹
	د امام مهدی فتح:	۵۰۰
	د قسطنطنیه آزادی او د دجال ښکاره کیدل:	۵۰۰
	د دجال بدصورتی. بداخلاقی او د چالاکۍ حرکتونه:	۵۰۰
	دجال به حرمینو ته نۀ شی داخلیدې:	۵۰۱
	د عیسی علیه السلام نازلیدل او امام مهدی سره ملاقات:	۵۰۲

شمیره	مضمون	صفحه
	د اسلامي لښکر او د دجالی فوج مقابله	۵۰۲
	د دجال تختیدل	۵۰۲
	د متاثره ښارونو نوې تعمیر او د انصاف قائمول	۵۰۳
	په حضرت عیسی ﷺ باندې وحی	۵۰۳
	د یاجوج وماجوج راوتل	۵۰۴
	د یاجوج وماجوج تباه کاری	۵۰۴
	د حضرت عیسی ﷺ دعا او د یاجوج وماجوج هلاکت	۵۰۴
	د امن و برکت اووۀ کاله او د حضرت عیسی ﷺ وفات	۵۰۴
	شپه اوږدیدل اود توبې دروازه بندیدل	
	د دابة الارض ښکاره کیدل	۵۰۶
	د ایماندارو د مرګ هوا	۵۰۶
	د حبشیانو غلبه او په شام کښې د خلقو اجتماع	۵۰۷
	اور به خلقو لره په شام کښې جمع کړی	۵۰۷
	د شپیلۍ آواز، مرګونه او د کائنات د نظام فنا کیدل	۵۰۸
	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت	۵۰۹

⑪ باب: کیف یُنْبَذُ إلی أهل العهد

	د ترجمة الباب مقصد	۵۰۹
	قوله: وقوله: (وإما تخافن من قوم خیانة فانبذ إلیهم علی سواء:	۵۰۹
	د "نبذ" معنی	۵۰۹
	د سواء معنی او د آیت تفسیر	۵۰۹
	رجال الحدیث	۵۱۰
	①ابو الیمان	۵۱۰
	②شعیب	۵۱۰
	③زهری	۵۱۰
	④حمید بن عبدالرحمن	۵۱۰
	⑤ابوهریره رضی الله عنه	۵۱۰
	د حدیث شریف ترجمه	۵۱۰
	د مشرکانو د منع کولو وجه	۵۱۰
	ترجمة الباب سره د آیت او د حدیث مناسبت	۵۱۱

شمیره	مضمون	صفحه

⑫ باب: إثم من عاهد ثم غدر

د ترجمة الباب مقصد ۵۱۲
قوله: وقوله: والذين عاهدت منهم ثم ينقضون عهدهم في كل مرة وهم لا يتقون: ۵۱۲
د آیت کریمه شان نزول او تفسیر ۵۱۲
د آیت کریمه او ترجمة الباب مینځ کښې مناسبت ۵۱۲
رجال الحديث ۵۱۳
①قتيبه بن سعيد ۵۱۳
② جرير ۵۱۳
③الاعمش ۵۱۳
④عبد الله بن مره ۵۱۳
⑤مسروق ۵۱۳
⑥عبد الله بن عمرو ۵۱۳
د حدیث مبارک ترجمه ۵۱۳
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت ۵۱۴
رجال الحديث ۵۱۴
①محمد بن كثير ۵۱۴
②سفيان ۵۱۴
③الاعمش ۵۱۴
④ابراهيم التيمی ۵۱۵
⑤أبيه ۵۱۵
⑥علی ۵۱۵
ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت ۵۱۵
رجال الحديث ۵۱۶
①ابو موسى ۵۱۶
②هاشم بن القاسم ۵۱۶
③اسحاق بن سعيد ۵۱۶
④ابيه ۵۱۶
⑤ابوهريره ۵۱۶
دا حدیث موصول دې یا معلق؟ ۵۱۶
پورتنۍ صیغه به په سماع باندې محمول وی یا نهٔ؟ ۵۱۶

شمیره	مضمون	صفحه
	د مذکوره تعلیق تخریج:	۵۱۷
	قوله: قال: کیف أنتم إذا لم تجتبوا دیناراً، ولا درهماً؟ فقیل له: وکیف ترى ذلك کائناً یا أبا هریرة؟:	۵۱۷
	د تجتبوا صرفی او لغوی تحقیق:	۵۱۷
	قوله: قال: إی والذی نفس أبی هریرة بیده عن قول الصادق المصدوق:	۵۱۷
	قوله: قالوا: عم ذاك؟:	۵۱۷
	قوله: قال: تنتهك ذمة الله وذمة رسوله صلى الله علیه وسلم فیشد الله عزوجل قلوب أهل الذمة فیمنعون ما فی أیدیهم:	۵۱۸
	ددې معنې نور احادیث:	۵۱۸
	فائده:	۵۱۹
	ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت:	۵۱۹
	باب بلا ترجمة	۵۲۰
	د ترجمې مقصد:	۵۲۰
	رجال الحدیث	۵۲۰
	①عبدان:	۵۲۰
	②ابوحمزه:	۵۲۰
	③الاعمش:	۵۲۰
	④ابو وائل:	۵۲۰
	⑤سهل بن حنیف:	۵۲۰
	قوله: قال: سئلت أبا وائل شهدت صفین؟ قال: نعم:	۵۲۱
	صفین:	۵۲۱
	قوله: فسمعت سهل بن حُنیف یقول: اتهموا رأیکم......:	۵۲۱
	رجال الحدیث	۵۲۲
	①عبد الله بن محمد:	۵۲۲
	②یحیى بن آدم:	۵۲۲
	③یزید بن عبد العزیز:	۵۲۲
	④عبد العزیز:	۵۲۳
	⑤حبیب ابن ابی ثابت:	۵۲۴
	⑥ابو وائل:	۵۲۴
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۵۲۵

شمیره	مضمون	صفحه
	رجال الحدیث	۵۲۵
①	قتیبه بن سعید	۵۲۵
②	حاتم بن اسماعیل	۵۲۵
③	هشام بن عروة عن أبیه	۵۲۵
⑤	أسماء بنت أبی بکر	۵۲۵
	قوله: قالت: قدمت علی أمی:	۵۲۶
	د حضرت اسماء د مور بی بی مختصر تعارف:	۵۲۶
	قوله: وهی مشرکة:	۵۲۷
	قوله: فی عهد قریش إذعاهدوا رسول الله صلی الله علیه وسلم ومدتهم:	۵۲۷
	معا أبیها:	۵۲۷
	قوله: فاستفتت رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت: یا رسول الله ﷺ ،إن أمی قدمت علی وهی راغبة أفأصلها؟ قال: نعم، صلیها:	۵۲۷
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت:	۵۲۸
	د حضرت شیخ الحدیث صاحب رائې:	۵۲۹
⑱	باب: المصالحة علی ثلاثة أیام أووقت معلوم	
	د ترجمة الباب مقصد:	۵۲۹
	د صلحې زیات مدت څومره دې؟	۵۲۹
	رجال الحدیث	۵۳۱
①	احمد بن عثمان بن حکیم	۵۳۱
②	شریح بن مسلمه:	۵۳۱
③	ابراهیم بن یوسف:	۵۳۱
④	أبی:	۵۳۱
⑤	ابو اسحاق:	۵۳۱
⑥	البراء:	۵۳۱
	د باب د حدیث شریف ترجمه:	۵۳۱
	د جلبان معنی او ددې ضبط:	۵۳۲
	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت:	۵۳۲
⑲	باب: الموادعة من غیر وقت	
	د ترجمة الباب مقصد:	۵۳۲

شمیره	مضمون	صفحه
	په مذکوره مسئله کښې اختلاف	۵۳۲
	د مذکوره تعلیق مقصد	۵۳۳
	د مذکوره تعلیق تخریج	۵۳۳
	ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت	۵۳۳
⑳	**باب: طرح جيف المشركين في البئر، ولا يؤخذ لهم ثمن**	
	د ترجمة الباب مقصد	۵۳۳
	د جیف ضبط او معنی	۵۳۳
	د جمهورو دلیلونه	۵۳۴
	د حدیث مبارک ترجمه	۵۳۵
	د حدیث شریف د آخری جزء "فانه کان رجلا...." تشریح	۵۳۶
	ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت	۵۳۶
	د باب د حدیث نه مستنبطه یوه فائده	۵۳۷
۲۱	**باب: إثم الغدر للبر والفاجر**	
	د ترجمة الباب مقصد	۵۳۸
	قوله: "أي: سواء كان من بر لفاجر أو بر، ومن فاجر لبر أو فاجر":	۵۳۸
	رجال الحديث	۵۳۹
	①ابو الولید	۵۳۹
	②شعبه	۵۳۹
	③سلیمان الاعمش	۵۳۹
	④ابو وائل	۵۳۹
	⑤عبدالله	۵۳۹
	⑥ثابت	۵۳۹
	⑦انس	۵۳۹
	د حدیث شریف سند سره متعلق یو اهم وضاحت	۵۴۰
	قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لكل غدر لواء يوم القيامة:	۵۴۰
	قوله: قال أحدهما ينصب وقال الآخر: يرى يوم القيامة يعرف به:	۵۴۰
	رجال الحديث	۵۴۱
	①سلیمان بن حرب	۵۴۱
	②حماد	۵۴۱

شميره	مضمون	صفحه
	③ ايوب:	۵۴۱
	④ نافع:	۵۴۱
	⑤ ابن عمر:	۵۴۱
	قوله: قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: لكل غادر لواء ينصب لغدرته:	۵۴۱
	د "بغدرته" په باء کښې احتمالات:	۵۴۲
	بيرغ به چرته لګولې شي؟:	۵۴۲
	د "لكل غادر لواء" مختلفې معنې او مطلبونه:	۵۴۲
	ترجمة الباب سره د درې واړو احاديثو مناسبت:	۵۴۳
	د حديث نه راوتلې شوې بعضې فائدې:	۵۴۳
	غدر او وعده خلافي كول حرام دي:	۵۴۳
	د قيامت په ورځ به كوم نسبت سره آواز كولې شي؟:	۵۴۴
	رجال الحديث	۵۴۶
	① علي بن عبد الله:	۵۴۶
	② جرير:	۵۴۶
	③ منصور:	۵۴۶
	④ مجاهد:	۵۴۶
	⑤ طاوس:	۵۴۶
	⑥ ابن عباس رضى الله عنهما:	۵۴۶
	ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت:	۵۴۶
	براعت اختتام:	۵۴۹
	د فرض الخمس والجزية والموادعة خلاصه:	۵۴۹

فهرس اسماء من ترجم لهم علي حروف الهجاء

مضمون	صفحه
ابن زمعه (اوکوری: عبد اللہ بن زمعه)	۲۴۰
(۱) حضرت ابوبرده بن قیس رضی اللہ عنه:	۲۷۳
(۲) حضرت ابورهم بن قیس رضی اللہ عنه:	۲۷۳
(۳) حضرت ابوالعاص بن الربیع بن عبدالعزی رضی اللہ عنه:	۱۳۲
(۴) حضرت أقرع بن حابس رضی اللہ عنه:	۳۳۵
(۵) بجاله بن عبده سالم:	۳۲۴
(۶) بسر بن عبید اللہ الشامی:	۴۹۰
(۷) جبیربن حیه ثقفی:	۳۸۳
(۸) حضرت جزء بن معاویه:	۳۲۸
(۹) حضرت جویریه بنت ابی جهل رضی اللہ عنها	۱۳۲
(۱۰) جویریه بن قدامة:	۴۱۰
(۱۱) الحسن بن عمرو الفقیمی:	۴۲۱
(۱۲) حضرت حویصه بن مسعود رضی اللہ عنه:	۴۲۹
(۱۳) خبیب بن عبد اللہ بن زبیر	۲۳۰
(۱۴) حضرت خوله بنت ثامر رضی اللہ عنها	۱۸۳
(۱۵) حضرت رقیه رضی اللہ عنهابنت سید البشر صلی اللہ علیه وسلم:	۲۵۲
(۱۶) سعید بن عبید اللہ الثقفی:	۳۸۲
(۱۷) عبد اللہ بن جعفر الرقی:	۳۸۰
(۱۸) حضرت عبد اللہ بن زمعه رضی اللہ عنه:	۲۴۰
(۱۹) حضرت عبد الرحمن بن سهل رضی اللہ عنه	۴۲۷
(۲۰) عبدالعزیز بن سیاه	۵۲۳
(۲۱) عبد اللہ بن العلاء بن زبر	۴۸۸
(۲۲) عمرو بن عوف الانصاری رضی اللہ عنه:	۳۷۵
(۲۳) عیسی بن طهمان الجشمی	۱۱۹
(۲۴) حضرت عیینه بن حصن	۳۳۵
(۲۵) قاسم بن عاصم کلیبی:	۲۲۱
(۲۶) مالک بن اوس:	۶۴
(۲۷) مصعب بن الزبیر	۳۶۲
(۲۸) حضرت معاذ بن عفراء:	۳۰۹
(۲۹) حضرت معاذ بن عمرو بن الجموح	۳۱۰
(۳۰) المنذر بن الزبیربن العوام:	۲۳۹
(۳۱) حضرت نعمان بن مقرن رضی اللہ عنه	۳۹۳
(۳۲) هُرمُزان:	۳۸۲
(۳۳) یرفا مولی عمر	۶۷
(۳۴) یزید بن عبد العزیز بن سیاه:	۵۲۲

(٦١) ابواب الخمس

تيرشوي باب سره مناسبت: كتاب الجهاد چونكه ختم شوې دې او د جهاد په ملحقاتو كښې ابواب الخمس هم راځى، په دې وجې امام بخارى به اوس د خمس احكامات بيانوى.

د نسخو اختلاف: د اسماعيلى په نسخه كښې عنوان په "كتاب" سره معنون دې او اكثرو نسخو كښې د باب لفظ دې او په بعضو نسخو كښې عنوان كښې صرف د "فرض الخمس" كلمات دى، نۀ د كتاب كلمات شته او نۀ د باب. بيا په نسخو كښې بسمله هم موجود ده[١]، البته راجحه داده چې عنوان په "كتاب" سره معنون وى. ددې يو وجه خو داده چې امام بخارى وړاندې مختلف بابونه قائم كړې دى چې په هغې كښې د ډيرو موضوع او مقصد د خمس د احكاماتو بيان دې، لهذا ددې ټولو بابونو د يو كتاب لاندې راتلل غوره دى.

دويم دا چې مصنف عليه الرحمة عموماً بسمله هم د كتاب دپاره ذكر كوى، نۀ چې د بابونو دپاره او ددې مقصد ددې بابونو اهميت ښودل دى چې دا بابونه څومره اهم دى چې دا جدا عنوان سره ذكر كول پكار دى.

① باب: فرض الخمس

د خمس لغوى او اصطلاحى تعريف: خمس. بضم الخاء والميم. معنى ده پنځمه حصه يا پنځم جزء لكه څنګه چې ربع يا ثلث وى. او د شريعت په اصطلاح كښې خمس د غنيمت هغه پنځمې حصې ته وئيلې شى چې هغه د تقسيم نه جدا كولې شى[٢] او باقى څلور حصې په مجاهدينو باندې تقسيمولې شى، د خمس د مصارفو تفصيل په آئنده بابونو كښې راځى.

د ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر فرمائى چې دلته د ترجمة الباب درې مقصدونه كيدې شى:

①امام بخارى د خمس د فرضيت وخت او تاريخ بيانول غواړى چې د خمس فرضيت كله شوې دې؟

②د خمس د فرضيت كيفيت بيانول غواړى چې په اول وختونو كښې د خمس د فرضيت كيفيت څۀ وو؟

③ صرف د خمس فرضيت ثابتول او بيانول غواړى چې د غنيمت په مال كښې د خمس ويستل فرض او ضرورى دى[٣] هم دا دريمه رائې د علامه عينى هم ده[٤].

د جاهليت دستور او د خمس ابتداء: په جاهليت كښې به د څلورمې حصې دستور وو، يعنى عربو ته به چې په جنګ كښې كوم غنيمت حاصل شو هغه به ئې څلور حصې كولې، درې

---

[١]) فتح البارى: ١٩٨/٦، وعمدة القارى: ١٥/ ١٧، والقسطلانى: ٥/ ١٨٩، والابواب والتراجم: ١/ ٢٠٥)_

[٢]) فتح البارى: ٦/ ١٩٨، والقاموس الوحيد، مادة "خمس"، ولسان العرب: ٧٠/٦، مادة "خمس"، وفيه لغة اخرى، وهى اسكان الميم.)_

[٣]) فتح البارى: ١٩٨/٦)_

[٤]) عمدة القارى: ١٧/١٥)_

حصې به د غانمينو وې او يوه حصه به جدا كولې شوه، چې د قبيلې د سردار به وه هغې حصې ته به ئې رباعه وئيله، د بنو نمير يو شاعر وائى[1]

انا ابن الرابعين من آل عمرو   وفرسان المنابر من جناب

چې زهٔ د آل عمرو د سردارانو او د جناب قبيلې د منبر د شهسوارانو څوې يم.

ليكن حضرت عبدالله بن جحش په يو سريه كښې داسې اوكړل چې هغوى ته كوم مال غنيمت حاصل شو هغه ئې پنځه حصې كړې، څلور حصې خو ئې په غانمينو كښې تقسيم كړې او يوه حصه ئې جدا كړه چې د حضوراقدس ﷺ په خدمت كښې ئې پيش كړه، دا ددې ابتداء ده.[2]

د خمس فرضيت كله اوشو؟ اوس پاتې شوه دا مسئله چې د خمس فرضيت كله اوشو په دې كښې اختلاف دې، پورته چې د حضرت عبدالله بن جحش ﷺ د سريې تذكره راغلې ده هغه د دويمې هجرئ د رجب ده يعنې د غزوهٔ بدر نه دوه مياشتې وړاندې[3]، په دې سريه كښې چې حضرت عبدالله بن جحش ﷺ د مال غنيمت كومه پينځمه حصه ويستلې وه دا د هغوى خپل اجتهاد وو، دغه وخته پورې د خمس د فرضيت حكم نازل شوې نهٔ وو.

ابن اسحاق نقل كړې دى:

"وقد ذكر لى بعض آل عبدالله بن جحش ان عبدالله قال لاصحابه: ان لرسول الله صلى الله عليه وسلم مما غنمنا الخمس، وذلك قبل ان يفرض الله تعالى الخمس من المغانم، فعزل له الخمس، وقسم سائر الغنيمة بين اصحابه، قال: فوقع رضا الله بذلك"[4]

ددې خلاصه دا ده چې حضرت عبدالله خپلو ملګرو مجاهدينو ته اووئيل چې زمونږ په غنيمت كښې به د رسول اكرم پنځمه حصه وى چې هغوى جدا هم كړه او باقى غنيمت ئې تقسيم كړو. فرمائى چې ددې نه پس د دوى په موافقت كښې د الله تعالى حكم هم راغې چې خمس دې ويستلې شى.

ليكن دا حكم كله راغئ نو په دې كښې قاضى اسماعيل فرمائى چې د بعضو حضراتو د قول مطابق د خمس د فرضيت حكم د بنوقريظه د غزوې په دوران كښې نازل شوې وو او د بعضو نورو وينا داده چې ددې نه پس دا حكم نازل شوې دې ليكن د قاضى اسماعيل د وينا مطابق زما په خيال كښې ددې واضح حكم د حنين د غنيمتونو په موقع باندې راغلې دې[5]

---

[1]) :ديوان الحماسة، باب الحماسة: (۱۲۰)_

[2]) تفسير ابن كثير: ۲۵۵/۱، سورة البقرة/ ۲۱۷)_

[3]) فتح البارى: ۱۹۹/۶؛ ددې غزوې د تفصيلاتو دپاره اوګورئ، كشف البارى، كتاب المغازى: ۲ :۴۲-۴۶)_

[4]) فتح البارى: ۱۹۹/۶، والسيرة النبوية لابن هشام: ۶۰۳/۲، سرية عبدالله بن جحش، وطرح التثريب فى شرح التقريب: ۱۹۸۰/۶)_

[5]) فتح البارى: ۱۹۹/۶، وشرح ابن ابطال: ۲۴۸/۵)_

د علامه ابن ابطال رائې: دباب په اولنی حدیث کښې دا راغلې دی، "وکان النبی صلی الله علیه وسلم اعطانی شارفا من الخمس" حضرت علی فرمائی چې نبی علیه السلام په خمس کښې یوه اوښه ما ته راکړه، ددې په تشریح کښې علامه ابن ابطال فرمائی چې ددې حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چې د خمس مشروعیت په بدر کښې شوې دې لیکن ...... د اهل سیر په دې خبره باندې اتفاق دې چې د بدر په موقع باندې خمس مشروع شوې نه وو.
بیا ابن ابطال د قاضی اسماعیل قول ته ترجیح ورکړې ده چې د غزوه حنین په موقع باندې د خمس د فرضیت حکم نازل شوې وو او د حضرت علی په دې حدیث کښې ئې دا تاویل اوکړو چې په دې حدیث شریف کښې د کومې اوښې ذکر دې نو دا د هغه خمس په اوښانو کښې وه کوم خمس چې د عبدالله بن جحش په سریه کښې ویستلې شوې وو[1] هم دا موقف د ابن الملقن هم دې چې هغوی د ابن ابطال په اتباع کښې اختیار کړې دې[2]
د حافظ ابن حجر رائې او ابن ابطال ته جواب: د حافظ ابن حجر رائې دا ده چې د غزوه بدر په موقع باندې د خمس د فرضیت حکم راغلې وو، دا ځکه چې سورة الانفال د بدر په موقع باندې نازل شوې دې او په دې سورت کښې د خمس د فرضیت وضاحت راغلې دې، په دې وجه امام داودی مالکی په دې باندې یقین کړې دې چې د خمس آیت د بدر په ورځ نازل شوې دې، د تاج السبکی هم دا قول دې، فرمائی چې:

"نزلت الانفال فی بدر وغنائمها"[3]

د امام کلبی قول هم دادې چې د خمس فرضیت د بدر په موقع باندې نازل شوې وو[4]
هرچه د ابن ابطال قول دې نو هغه څهٔ عجیبه دې ځکه چې په دې کښې تضاد موندلې کیږی هغه داسې چې په خپله ابن ابطال دا تسلیموی چې د عبدالله بن جحش رضی الله عنه په سریه کښې کوم خمس ویستلې شوې وو او دا سریه لکه څنګه چې وړاندې تیر شو چې د غزوهٔ بدر نه هم وړاندې ده نو بیا به په غزوه بدر کښې د خمس نهٔ کیدلو څهٔ وجه وی؟[5]

---

[1] قال ابن ابطال رحمه الله: اما قول علی: اعطانی النبی علیه السلام شارفا من الخمس یومئذ "یعنی: یوم بدر، فظاهره ان الخمس قد کان یوم بدر، ولم یختلف اهل السیر ان الخمس لم یکن یوم بدر، ذکر اسماعیل...... (القاضی) قال: فی غزوة بنی قریظة حین حکم سعد بان تقتل المقاتلة، وتسبی الذریة ـ قیل: انه اول یوم جعل فیه الخمس. قال: و احسب ان بعضهم قال: نزل امر الخمس بعد ذلک، ولم یات فی ذلک من الحدیث ما فیه بیان شرف، و انما جاء امر الخمس یقیناً فی غنائم حنین، وهی آخر غنیمة حضرها رسول الله........ واذا لم یختلف ان الخمس لم یکن یوم بدر، فیحتاج قول علی: اعطانی رسول الله شارفا من الخمس "الی تاویل لایعارض قول اهل السیر......." شرح ابن ابطال: ٢٤٨/٥)_

[2]) ارشاد الساری: ١٨٩/٥)_

[3]) فتح الباری: ١٩٩/٦، وارشادالساری: ١٨٩/٥، وتفسیرالمنار: ٥/١٠، الانفال: ٤١)_

[4]) التفسیرالکبیرللرازی: ١٦٦/١٥، والکشاف: ٢٢٢/٢)_

[5]) فتح الباری: ١٩٩/٦، وارشاد الساری: ١٨٩/٥)_

په دې وجه راجح قول هم هغه دې چې کوم د عامو مفسرينو او د ابن حجر دې.

د باب احاديث مبارک: ددې نه پس په دې ځائ پوهه کړئ چې امام بخارى دلته په باب کښې درې احاديث مبارک ذکر کړې دى. چې په هغې کښې اولنې حديث د حضرت على رضي الله عنه دې.

۲۹۲۵ (۱) حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيًّا قَالَ كَانَتْ لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ، وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَعْطَانِي شَارِفًا مِنَ الْخُمُسِ، فَلَمَّا أَرَدْتُ أَنْ أَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَاعَدْتُ رَجُلاً صَوَّاغًا مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعَ، أَنْ يَرْتَحِلَ مَعِي فَنَأْتِيَ بِإِذْخِرٍ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَهُ الصَّوَّاغِينَ، وَأَسْتَعِينَ بِهِ فِي وَلِيمَةِ عُرْسِي، فَبَيْنَا أَنَا أَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مَتَاعًا مِنَ الأَقْتَابِ وَالْغَرَائِرِ وَالْحِبَالِ، وَشَارِفَاىَ مُنَاخَانِ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ، رَجَعْتُ حِينَ جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ، فَإِذَا شَارِفَاىَ قَدِ اجْتُبَّ أَسْنِمَتُهُمَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا، وَأُخِذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا، فَلَمْ أَمْلِكْ عَيْنَىَّ حِينَ رَأَيْتُ ذَلِكَ الْمَنْظَرَ مِنْهُمَا، فَقُلْتُ مَنْ فَعَلَ هَذَا فَقَالُوا فَعَلَ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنَ الأَنْصَارِ. فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ، فَعَرَفَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - فِي وَجْهِي الَّذِي لَقِيتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - « مَا لَكَ » فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ قَطُّ، عَدَا حَمْزَةُ عَلَى نَاقَتَىَّ، فَأَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا، وَهَا هُوَ ذَا فِي بَيْتٍ مَعَهُ شَرْبٌ. فَدَعَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِرِدَائِهِ فَارْتَدَى ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي، وَاتَّبَعْتُهُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ حَتَّى جَاءَ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ حَمْزَةُ، فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنُوا لَهُمْ فَإِذَا هُمْ شَرْبٌ، فَطَفِقَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَلُومُ حَمْزَةَ فِيمَا فَعَلَ، فَإِذَا حَمْزَةُ قَدْ ثَمِلَ مُحْمَرَّةً عَيْنَاهُ، فَنَظَرَ حَمْزَةُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى رُكْبَتِهِ، ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى سُرَّتِهِ، ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى وَجْهِهِ ثُمَّ قَالَ حَمْزَةُ هَلْ أَنْتُمْ إِلاَّ عَبِيدٌ لأَبِي فَعَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ قَدْ ثَمِلَ، فَنَكَصَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرَى وَخَرَجْنَا مَعَهُ. [ر: ۱۹۸۳]

رجال الحديث

① **عبدان:** دا عبد الله بن عثمان ملقب په عبدان دې.

② **عبدالله:** دا مشهور محدث حضرت عبد الله بن مبارک دې.

③ **يونس:** دا يونس بن يزيد الايلى رحمه الله دې، ددې درې واړو حضراتو تذکره د بدء الوحى د الحديث الخامس لاندې راغلې ده [۲]

---

[۱]) قوله: أنّ عليا......": الحديث، مر تخريجه فى البيوع، باب ماقيل فى الصواغ)_

[۲]) کشف البارى: ۴۶۱/۱، ۴۶۳، د يونس ايلى نور حالاتو دپاره اوګورئ، کشف: ۲۸۲/۳.)_

④**الزهري**: دا ابن شهاب زهري دې،د دوی تذکره د "بدء الوحی" لاندې تیره شوې ده[1]
⑤**علی بن الحسین**: دا د حضرت علی نوسې علی بن حسین بن علی دې چې زین العابدین رحمه الله سره مشهور دې[2]
⑥**حسین بن علی**: د نبی کریم ﷺ نوسې مبارک،حضرت حسین بن علی رضي الله عنهما دې[3]
⑦**علی**: دا د نبی کریم زوم،حضرت علی رضي الله عنه بن ابی طالب دې.د دوی پوره او تفصیلی حالات په کتاب العلم، "باب کتابة العلم" کښې تیر شوې دی[4]
د حدیث ترجمه: د حضرت علی د پورته حدیث تشریح چونکه په مغازی[5] کښې تیره شوې ده،په دې وجه دلته صرف د هغې په ترجمه باندې اکتفاء کولې شی.
حضرت علی رضي الله عنه فرمائی چې ماسره یوه اوښه وه چې د بدر په غنیمت کښې ماته ملاؤ شوې وه،یو دویمه اوښه هم وه چې نبی علیه السلام ما ته په خمس کښې راکړې وه چې کله ما د فاطمه رضي الله عنها بنت رسول الله ﷺ د رخصتئ اراده اوکړه نو د بنو قینقاع یو زرګر سره مې دا خبره اوکړه چې هغه ما سره لاړ شی چې مونږ اذخر ګیا راؤړو،زما اراده دا وه چې زۀ به دا ګیا(واښۀ) په زرګرانو باندې خرخ کړم او ددې په ذریعې سره به د خپل وادۀ په ولیمه کښې څۀ مدد حاصل کړم.
نو دې دوران کښې چې ما د خپلو دوارو اوښو دپاره پالان،بورئ او بیاستې جمع کولې او زما اوښې د یو انصاری په حجره کښې ناستې وې،نو څۀ چې مې جمع کول هغه مې جمع کړل او واپس شوم نو ناګهانه ما اوکتل چې.....زما د اوښانو کوهانونه(قُبونه) پرې کړې شوې دی،د هغوی خیټې څیرلې شوې دی او کولمې، لری وغیره ئې راویستلې شوې وو. ما چې کله دا منظر اولیدو نو په خپلو سترګو مې قابو اونۀ ساتلې شو ما تپوس اوکړو چې دا کار چا کړې دې؟خلقو اوونیل چې دا حمزه بن عبدالمطلب کړې دې او هغه د انصارو یو شرابی جماعت(ډلې)سره په دې مکان کښې موجود دې.
ددې حالت په لیدلو سره زۀ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم،هغوی سره حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه هم وو.نبی ﷺ زما مخ لیدلو سره زما په غم او خفګان باندې پوهه شو او وې فرمائیل: "مالك؟" په تا څۀ شوې دی؟ما ورته اوونیل،یا رسول الله ﷺ!ما د نن ورځ په شان منظر کله هم نۀ دې لیدلې،حمزه نن زما په دوو اوښو باندې ظلم کړې دې د هغوی قبونه ئې پرې کړې دی او د هغوی خیټې ئې څیرلې دی حمزه او د هغۀ ملګری دلته په یو کور کښې موجود دی(زما په خبرو اوریدو سره)نبی کریم ﷺ خپل څادر طلب کړو.هغه ئې په سر

[1]) کشف الباری:۳۲۶/۱،الحدیث الثالث)_
[2]) د دوی د حالات کتلو دپاره اوګورئ، کتاب الغسل،باب الغسل بالصاع ونحوه.)_
[3]) ددوی دحالاتو کتلو دپاره اوګورئ، کتاب التهجد،باب تحریض النبی صلی الله علیه وسلم علی صلوة اللیل)
[4]) کشف الباری:۱٤۹/٤.)_
[5]) کشف الباری،کتاب المغازی:۱۵۶، ۱۶۰.)_

كړو او روان شو ،زۀ او حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه هم نبى ﷺ پسې وروستو روان شو تردې چې هغه كور ته راغلو چرته چې حمزه رضي الله عنه موجود وو ،نبى ﷺ دننه د تلو اجازت طلب كړو نو هغوى ته اجازت ملاؤ شو ،وې ليدل چې ټول هلته د شراب نوشئ دپاره جمع شوي وو ،نبى ﷺ حضرت حمزه رضي الله عنه لره د هغۀ په دې كار باندې ملامته كول شروع كړل ليكن هغۀ په نشه كښې وو ،د هغۀ سترګې سرې كيدلې نو هغۀ نبى ﷺ اوليدو ،بيا ئې نظر لږ نور اوچت كړواو د نبى كونډو طرفته ئې اوكتل ،بيا ئې نظر لږ نور هم اوچت كړو او د نبى ﷺ د نافه(نوم)طرفته ئې اوكتلو ،بيا ئې نظر نور هم اوچت كړو او د نبى ﷺ مخ مبارک طرفته ئې اوكتل ،بيا حمزه رضي الله عنه اووئيل:تاسو خلق خو بس هم زما د پلار غلامان يئ كنه! نبى ﷺ پوهه شو چې اوس په نشه كښې ډوب دې نو نبى ﷺ د هغه ځائې نه واپس شو او مونږ دواړه هم ورسره بهر راووتلو ـ

ترجمة الباب سره دحديث مبارک مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث مناسبت په "وكان النبى صلى الله عليه وسلم اعطانى شارفاً من الخمس" كښې دې[1] چې ددې نه دخمس مشروعيت واضحه كيږى.

د باب دويم حديث مبارک د حضرت عائشه دې:

۲۹۲۲ (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ - رضى الله عنها - أَخْبَرَتْهُ أَنَّ فَاطِمَةَ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - ابْنَةَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سَأَلَتْ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَقْسِمَ لَهَا مِيرَاثَهَا، مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ. فَقَالَ لَهَا أَبُو بَكْرٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ». فَغَضِبَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَهَجَرَتْ أَبَا بَكْرٍ، فَلَمْ تَزَلْ مُهَاجِرَتَهُ حَتَّى تُوُفِّيَتْ وَعَاشَتْ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - سِتَّةَ أَشْهُرٍ. قَالَتْ وَكَانَتْ فَاطِمَةُ تَسْأَلُ أَبَا بَكْرٍ نَصِيبَهَا مِمَّا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ خَيْبَرَ وَفَدَكٍ وَصَدَقَتِهِ بِالْمَدِينَةِ، فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ عَلَيْهَا ذَلِكَ، وَقَالَ لَسْتُ تَارِكًا شَيْئًا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَعْمَلُ بِهِ إِلاَّ عَمِلْتُ بِهِ، فَإِنِّي أَخْشَى إِنْ تَرَكْتُ شَيْئًا مِنْ أَمْرِهِ أَنْ

---

[1]) عمدة القارى:۱۷/۱۵،وارشادالسارى:۱۹۱/۵)_

[2]) قوله: ان عائشة......":الحديث،اخرجه البخارى ايضاً،كتاب فضائل اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم،باب مناقب قرابة رسول الله......رقم(۳۷۱۱_۳۷۱۲)والمغازى،باب حديث بنى النضير...... رقم (۴۰۳۵_۴۰۳۶)،وباب غزوة خيبر،رقم(۴۲۴۰_۴۲۴۲)والفرائض،باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: لانورث...... (۶۷۲۵_۶۷۲۶)ومسلم،كتاب الجهاد والسير،باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: لانورث...... (۴۵۴۳_۴۵۴۵)و ابو داؤد،كتاب الخراج......باب فى صفايا رسول الله......رقم (۲۸۹۸_۲۹۶۹) والنسائى، قسم الفئ،رقم(۴۱۴۶).)_

أَرْبَعَ. فَأَمَّا صَدَقَتُهُ بِالْمَدِينَةِ فَدَفَعَهَا عُمَرُ إِلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ، فَأَمَّا خَيْبَرُ وَفَدَكُ فَأَمْسَكَهَا عُمَرُ وَقَالَ هُمَا صَدَقَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَتَا لِحُقُوقِهِ الَّتِي تَعْرُوهُ وَنَوَائِبِهِ، وَأَمْرُهُمَا إِلَى مَنْ وَلِيَ الأَمْرَ. قَالَ فَهُمَا عَلَى ذَلِكَ إِلَى الْيَوْمِ.[۳۵۰۸، ۳۸۱۰، ۳۹۹۸، ۶۳۴۶، ۶۳۴۹]

رجال الحديث

① **عبدالعزيز بن عبدالله**: دا عبدالعزیز بن عبدالله اویسی عامری رحمه الله دې د دوی تفصیلی حالات په کتاب العلم، "باب الحرص علی الحدیث" کښې تیر شوي دی.[۱]

② **ابراهیم بن سعد**: دا ابراهیم بن سعد بن ابراهیم بن عبدالرحمٰن بن عوف قرشی زهری رحمه الله دې.

③ **صالح**: دا صالح بن کیسان رحمه الله دې ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب الایمان، "باب من کره ان یعود فی الکفر کما یکره....." کښې تیره شوې ده[۲]

④ **ابن شهاب**: د ابن شهاب زهری رحمه الله تذکره د بدء الوحی د "الحدیث الثالث" لاندې تیره شوې ده[۳]

⑤ **عروة**: دا عروة بن الزبیر بن العوام قرشی رضی الله عنه دې.

⑥ **عائشه**: دا حضرت عائشه صدیقه بنت ابوبکر صدیق رضی الله عنهما ده د دواړو ترجمه د بدء الوحی د "الحدیث الثانی" لاندې تیره شوې ده[۴]

خبرداري: د حضرت عائشې رضی الله عنها دا حدیث چې په دې کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او د حضرت فاطمه رضی الله عنها مینځ کښې د فدک او د خیبر د زمکو د وراثت په باره کښې تذکره راغلې ده په کتاب المغازی کښې هم راغلې دې، په دې باندې هلته تفصیلی بحث راغلې دې[۵]

ترجمة الباب سره د حدیث مبارک مطابقت: دلته دا اعتراض شوې دې چې په حدیث شریف او ترجمه کښې څهٔ مطابقت نشته ځکه چې په دې کښې د خمس تذکره نشته لیکن ددې جواب دادې چې حضرت فاطمه رضی الله عنها چې د میراث کومه مطالبه اوکړه په دې کښې خیبر هم شامل وو، امام زهری رحمه الله ذکر کړې دی چې خیبر د صلح او عنوه په دواړو طریقو سره فتح شوې وو ځکه چې ددې په بعضو علاقو کښې قتال اوشو او بعضې علاقې د قتال نه بغیر په صلح سره حاصلې شوې، ښکاره خبره ده چې کومه حصه په قتال سره حاصله شوه په هغې کښې به

---

[۱] کشف الباری: ۴۸/۴_
[۲] کشف الباری: ۲/۱۲۰-۱۲۲_
[۳] کشف الباری: ۱/۳۲۶_
[۴] کشف الباری: ۲۹۱/۱، د عروة دپاره نور اوګورئ، کشف الباری: ۴۳۶/۲_
[۵] کشف الباری، کتاب المغازی ۴۵۴-۴۶۶

خمس هم جاری شوې وی، دغه شان مطابقت او موندلې شو.(۱)

ددې نه علاوه چې ددې حدیث کوم طریق امام بخاری رحمه الله په مغازی کښې ذکر کړې دې، په هغې کښې د خمس د الفاظو وضاحت موجود دې، "ارسلت (فاطمة) الی ابی بکر تساله میراثها من رسول الله صلی الله علیه وسلم، مما أفاء الله علیه بالمدینة وفدك، ومابقی من خمس خیبر"(۲) په دې وجه امام بخاری ددې روایت طرفته اشاره اوکړه چې معامله چونکه مشهوره ده، په دې وجه دلته په اختصار باندې اکتفاء اوکړې شوه.(۳)

د یو تفسیری قول اضافه: د بخاری شریف په ډیرو نسخو کښې دلته د یو تفسیری قول اضافه هم ده، هغه داسې چې: قال ابوعبدالله: اعتراك: افتعلت، من عروتُه، فاصبته، ومنه یعروه واعترانی.

د ابوعبدالله نه مراد امام بخاری په خپله دې او ددې تفسیری جملې غرض په دې حدیث کښې وارد شده د یو لفظ "تعروه" وضاحت، ددې مشتقات او معنی بیانول دی.

په دې وجه فرمائی چې تعروه په اصل کښې د عروتُ یعروه نه دې، نصر ددې باب دې، ددې معنی ده حاصلول او پېتول، ددې نه تعروه دې او اعترانی دې دغه شان د قرآن کریم آیت شریفه (ان تقول الا اعتراك بعض آلهتنا بسوء)(۴) کښې چې کوم لفظ اعتراك دې. ددې اصل هم دا لفظ دې او دا د امام بخاری عادت دې چې هغه د حدیثو د غریب الفاظو تفسیر د قرآن کریم په غریب الفاظو سره کوی.(۵)

ددې نه علاوه په دې باندې هم ځان پوهه کړئ چې دا تفسیر د ابوعبیده د "المجاز" نه نقل کړې شوې دې لیکن بهرحال د بخاری په نسخو کښې د اعتراك وزن افتعلت ښودلې شوې دې او په "المجاز" کښې وزن افتعلك ذکر دې او د مذکوره لفظ حقیقی وزن هم دادې.(۶)

دریم حدیث د حضرت مالک بن اوس بن حدثان دې.

ددې حدیث نه مخکښې په بعضو نسخو کښې د "قصة فدك" په عنوان سره یو عبارت هم شته(۷) لیکن ددې عنوان دلته حقیقةً څۀ ضرورت نشته ځکه چې په تیر شوې حدیث کښې

---

(۱) عمدة القاری: ۱۵/۱۹، وشرح ابن ابطال: ۵/۲۵۲)_

(۲) صحیح بخاری، کتاب المغازی، باب غزوة خیبر، رقم(۴۲۴۰-۴۲۴۱))_

(۳) عمدة القاری: ۱۵/۱۹)_

(۴) هود/۵۴)_

(۵) فتح الباری: ۶/۲۰۴، وارشادالساری: ۵/۱۹۳، قال العینی فی العمدة(۱۵/۲۱): وقال الجوهری: عرانی هذا الامر، واعترانی: اذا غشیک. وعروت الرجل اعروه عروا: اذا ألممت به، و أتیته طالبا. فهو معرو. وفلان تعروه الاضیاف ویعتریه أی: تغشاه". والصحاح للجوهری: ۶۸۴، مادة عرا، عری").

(۶) فتح الباری: ۶/۲۰۴، وارشاد الساری: ۵/۱۹۳)_

(۷) اوګورئ، عمدة القاری: ۱۵/۲۱)_

حرف د فدک واقعه مذکور ده.علامه قسطلانی فرمائی."و زاد أبو ذر فی روایة الحموی هنا ترجمة، فقال: "قصة فدك"، وهی زیادة مستغنی عنها بما سبق فی الحدیث المتقدم"[1]

٢٩٢٧ :[2] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِیُّ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، وَكَانَ مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرٍ ذَكَرَ لِي ذِكْرًا مِنْ حَدِيثِهِ ذَلِكَ، فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ الْحَدِيثِ فَقَالَ مَالِكٌ بَيْنَا أَنَا جَالِسٌ فِي أَهْلِي حِينَ مَتَعَ النَّهَارُ، إِذَا رَسُولُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَأْتِينِي فَقَالَ أَجِبْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى عُمَرَ، فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ عَلَى رِمَالِ سَرِيرٍ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ مُتَّكِئٌ عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ جَلَسْتُ فَقَالَ يَا مَالِ، إِنَّهُ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ قَوْمِكَ أَهْلُ أَبْيَاتٍ، وَقَدْ أَمَرْتُ فِيهِمْ بِرَضْخٍ فَاقْبِضْهُ فَاقْسِمْهُ بَيْنَهُمْ. فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، لَوْ أَمَرْتَ بِهِ غَيْرِي. قَالَ اقْبِضْهُ أَيُّهَا الْمَرْءُ. فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ عِنْدَهُ أَتَاهُ حَاجِبُهُ يَرْفَا فَقَالَ هَلْ لَكَ فِي عُثْمَانَ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرِ وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ يَسْتَأْذِنُونَ قَالَ نَعَمْ. فَأَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا فَسَلَّمُوا وَجَلَسُوا، ثُمَّ جَلَسَ يَرْفَا يَسِيرًا ثُمَّ قَالَ هَلْ لَكَ فِي عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ قَالَ نَعَمْ. فَأَذِنَ لَهُمَا، فَدَخَلَا فَسَلَّمَا فَجَلَسَا، فَقَالَ عَبَّاسٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، اقْضِ بَيْنِي وَبَيْنَ هَذَا. وَهُمَا يَخْتَصِمَانِ فِيمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ بَنِي النَّضِيرِ. فَقَالَ الرَّهْطُ عُثْمَانُ وَأَصْحَابُهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، اقْضِ بَيْنَهُمَا وَأَرِحْ أَحَدَهُمَا مِنَ الآخَرِ. قَالَ عُمَرُ تَيْدَكُمْ، أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ، هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ». يُرِيدُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَفْسَهُ. قَالَ الرَّهْطُ قَدْ قَالَ ذَلِكَ. فَأَقْبَلَ عُمَرُ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا اللَّهَ، أَتَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ قَالَ ذَلِكَ قَالاَ قَدْ قَالَ ذَلِكَ. قَالَ عُمَرُ فَإِنِّي أُحَدِّثُكُمْ عَنْ هَذَا الأَمْرِ، إِنَّ اللَّهَ قَدْ خَصَّ رَسُولَهُ - صلى الله عليه وسلم فِي هَذَا الْفَيْءِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ - ثُمَّ قَرَأَ (وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ) إِلَى قَوْلِهِ (قَدِيرٌ) - فَكَانَتْ هَذِهِ خَالِصَةً لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -. وَاللَّهِ مَا احْتَازَهَا دُونَكُمْ، وَلاَ اسْتَأْثَرَ بِهَا عَلَيْكُمْ قَدْ أَعْطَاكُمُوهُ، وَبَثَّهَا فِيكُمْ حَتَّى بَقِيَ مِنْهَا هَذَا الْمَالُ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ، ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللَّهِ، فَعَمِلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - بِذَلِكَ حَيَاتَهُ، أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُونَ ذَلِكَ قَالُوا نَعَمْ. ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ

---

[1] ارشادالساری:۱۹۳/۵)_

[2] قوله: عن مالک بن اوس......".الحدیث.مرتخریجه فی کتاب الجهاد.باب المجن،ومن........)_

تَعْلَمَانِ ذٰلِكَ قَالَ عُمَرُ ثُمَّ تَوَفَّى اللّٰهُ نَبِيَّهُ صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم. فَقَبَضَهَا أَبُو بَكْرٍ، فَعَمِلَ فِيهَا بِمَا عَمِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم -، وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّهُ فِيهَا لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ، ثُمَّ تَوَفَّى اللّٰهُ أَبَا بَكْرٍ، فَكُنْتُ أَنَا وَلِيَّ أَبِي بَكْرٍ، فَقَبَضْتُهَا سَنَتَيْنِ مِنْ إِمَارَتِي، أَعْمَلُ فِيهَا بِمَا عَمِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم وَمَا عَمِلَ فِيهَا أَبُو بَكْرٍ، وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنِّي فِيهَا لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ، ثُمَّ جِئْتُمَانِي تُكَلِّمَانِي وَكَلِمَتُكُمَا وَاحِدَةٌ، وَأَمْرُكُمَا وَاحِدٌ، جِئْتَنِي يَا عَبَّاسُ تَسْأَلُنِي نَصِيبَكَ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ، وَجَاءَنِي هٰذَا يُرِيدُ عَلِيًّا يُرِيدُ نَصِيبَ امْرَأَتِهِ مِنْ أَبِيهَا، فَقُلْتُ لَكُمَا إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ». فَلَمَّا بَدَا لِي أَنْ أَدْفَعَهُ إِلَيْكُمَا قُلْتُ إِنْ شِئْتُمَا دَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا عَلَى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللّٰهِ وَمِيثَاقَهُ لَتَعْمَلَانِ فِيهَا بِمَا عَمِلَ فِيهَا رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم، وَبِمَا عَمِلَ فِيهَا أَبُو بَكْرٍ، وَبِمَا عَمِلْتُ فِيهَا مُنْذُ وَلِيتُهَا، فَقُلْتُمَا ادْفَعْهَا إِلَيْنَا. فَبِذٰلِكَ دَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا، فَأَنْشُدُكُمْ بِاللّٰهِ، هَلْ دَفَعْتُهَا إِلَيْهِمَا بِذٰلِكَ قَالَ الرَّهْطُ نَعَمْ. ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا بِاللّٰهِ هَلْ دَفَعْتُهَا إِلَيْكُمَا بِذٰلِكَ قَالَا نَعَمْ. قَالَ فَتَلْتَمِسَانِ مِنِّي قَضَاءً غَيْرَ ذٰلِكَ فَوَاللّٰهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ، لَا أَقْضِي فِيهَا قَضَاءً غَيْرَ ذٰلِكَ، فَإِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهَا فَادْفَعَاهَا إِلَيَّ، فَإِنِّي أَكْفِيكُمَاهَا. [ر: ٢٧٤٨]

رجال الحديث

① **اسحاق بن محمد الفروى**: دا اسحاق بن محمد الفروى رحمه الله. د فاء په فتحې، د راء او د واؤ په سکون سره دې[١]

خبرداري (يو اهم وضاحت): د فربرى او د قابسى په نسخو کښې دلته قلب واقع شوې دې نو په دې نسخو کښې محمد بن اسحاق الفروى رحمه الله مذکور دې چې وهم دې، صحيح نوم اسحاق بن محمد رحمه الله دې[٢]

ددې نه علاوه اسحاق بن محمد رحمه الله د امام بخارى رحمه الله داسې شيخ دې چې د هغوى نه دوى په واسطې سره او بغير د واسطې نه دواړو طريقو سره روايت کوى، کتاب الصلح[٣] کښې يوځائې کښې امام بخارى رحمه الله د اسحاق بن محمد نه د محمد بن عبدالله په واسطې سره روايت نقل کړې دې[٤]

② **مالک بن انس**: دا امام دارالهجرة مالک بن انس دې د دوى تذکره په "بدء الوحى" کښې

[١]) د دوى د حالاتو کتلو دپاره اوګورئ، کتاب الصلح، باب قول الامام لاصحابه، اذهبوا بنانصلح)_
[٢]) عمدة القارى: ٢٣/١٥، وفتح البارى: ٢٠٤/٦، وارشادالسارى: ١٩٣/٥)_
[٣]) کتاب الصلح، باب قول الامام لاصحابه: اذهبوا بنا نصلح، رقم(٢٦٩٣))_
[٤]) فتح البارى: ٢٠٤/٦)_

تيره شوې ده[1]

③ **ابن شهاب:** د ابن شهاب زهری رحمه الله اجمالی تذکره په "بدء الوحی" کښې تیره شوې ده[2]

④ **مالک بن اوس بن الحدثان:** دا مشهور تابعی حضرت ابو سعید مالک بن اوس بن حدثان بن عوف نصری دې[3]

قوله: وكان محمد بن جبير ذكر لي ذكرا من حديثه ذلك، فانطلقتُ معه حتى أدخل على مالك بن أوس، فسألته عن ذلك الحديث: او محمد بن زبیر د هغوی د حدیث څۀ تذکره ماته کړې وه نو زۀ هم هغوی سره د مالک بن اوس خدمت ته لاړم او هلته حاضر شوم، بیا مې د هغوی نه د حدیث متعلق پوښتنه اوکړه.

محمد بن جبیر نه مراد مشهور تابعی محمد بن جبیر بن مطعم رحمه الله دې[4]

پورته ذکر شوې عبارت د امام زهری دې واقعه داده چې د باب لاندې ذکر کړې شوې حدیث هغوی د محمد بن جبیر نه هم اوریدلې وو لیکن خواهش دا وو چې د واقعې والا نه ئې هم واوری، ددې دپاره ئې محمد بن جبیر ځان سره کړو او د مالک بن اوس په خدمت کښې حاضر شو، مقصد واضح دې چې امام زهری خپل سند اوچتول غوښتل، حافظ فرمائی:

"وفي صنيع ابن شهاب ذلك اصل في طلب علو الاسناد، لانه لم يقتنع بالحديث عنه، حتى دخل عليه، ليشافهه به، وفيه حرص ابن شهاب على طلب الحديث وتحصيله"[5]

دلته د ذلك مشار اليه محذوف ده اى الآتي ذكره[6] یعنی آئنده کرخو کښې چې د کوم حدیث ذکر راځی هغه ما د محمد بن جبیر نه اوریدلې وو.

د أدخل په اعراب کښې دوه احتمالات دی:

① مرفوع دې په دې وجه چې حتى عاطفه ده. مطلب دا دې چې: انطلقت فدخلت،،

② منصوب دې، چې حتى د "إلى أن" په معنی کښې وی. ابن مالک د نصب وجه راجحه ګرځولې ده[7]

حافظ فرمائی چې د ماضی په ځائې د مضارع صیغه استعمالول د مبالغې په طور دی چې دې وخت کښې ټول صورت حال په پوره توګه ما ته حاضر دې[8]

---

[1]) كشف البارى:١/٢٩٠، الحديث الثانى:٢/٨٠)_

[2]) كشف البارى:١/٣٢٦، الحديث الثالث

[3]) د دوی د حالاتو کتلو دپاره اوګورئ، كتاب البيوع، باب مايذكر فى بيع الطعام والحكرة)_

[4]) د دوی د حالاتو کتلو دپاره اوګورئ، كتاب الاذان، باب الجهر فى المغرب)_

[5]) فتح البارى:٦/٢٠٤)_

[6]) پورته حواله، و ارشاد السارى:٥/١٩٣)_

[7]) پورته حواله جات، وعمدة القارى:١٥/٢٣)_

[8]) فتح البارى:٦/٢٠٤)_

قال مالك: مالک بن اوس اوفرمائيل:
حضرت مالک بن اوس په مشرانو تابعينو كښې دې.د حضرت عمر رضي الله عنه نه كثرت سره روايت كوى،د هغوى په صحبت كښې اختلاف دې.بعضې علماؤ د دوى شمار په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې كړې دې ليكن د راجح قول مطابق دوى ته د نبى ﷺ صحبت حاصل شوې نۀ دې البته د دوى والد صاحب حضرت اوس رضي الله عنه بالاتفاق صحابى دې.
د حضرت مالک بن اوس په بخارى شريف كښې دوه روايتونه دى.يو خو د باب حديث دې.دويم روايت په بيوع[1] كښې تير شوې دې[2]

قوله: بينا أنا جالس في أهلي حين متع النهار:دې دوران كښې چې زۀ خپل اهل وعيال سره ناست ووم او ورځ شوې وه.

متع. بالميم والتاء المثناة .....والعين المهملة المفتوحات،[3] معنى دۀ،"ارتفع"يعنى اوچته شوه.
صاحب العين فرمائيلې دى چې متع النهار هغه وخت وئيلې كيږى چې كله ورځ اوخيژى او د زوال نه مخكښې وخت وى[4]
دمسلم او ابوداؤد[5] په روايت كښې د"حين تعالى النهار"الفاظ راغلې دى[6]معنى واضحه دۀ.

قوله: اذا رسول عمربن الخطاب يأتيني ،فقال: أجب أميرالمؤمنين:اچانک ما ته د عمر بن خطاب رضي الله عنه قاصد راغئ او وې وئيل چې اميرالمؤمنين ته حاضر شه.
حافظ فرمائى چې ددې قاصد نوم ماته معلوم نۀ شو،ليكن دا احتمال دې چې مراد يرفا دربان وى،چې د هغۀ ذكر وړاندې راروان دې[7]،حافظ خو دلته احتمالاً يرفا قاصد گرځولې دې ليكن په هدى السارى كښې ئې په خپله ددې نفى هم كړې دۀ،اوگورئ،هدى السارى: ٣٢٩،فرض الخمس)_

قوله: فانطلقت معه حتى أدخل على عمر،فاذا هو جالس على رمال سرير، ليس بينه و بينه فراش،متكئ على وسادة من أدم: نو زۀ هغې قاصد سره لاړم او

---

[1]) صحيح بخارى،كتاب البيوع،باب مايذكرفى بيع الطعام والحكرة،رقم(٢١٣٤))_
[2]) فتح البارى:٢٠٤/٦،وعمدة القارى:٢٣/١٥، والانساب للسمعانى:٤٩٤/٥،النصرى،باب النون والصاد(المهملة))_
[3]) عمدة القارى:٢٣/١٥)_
[4]) پورته حواله،و ارشادالسارى:١٩٣/٥،و كتاب العين،٨٣/٢،باب العين والتاء والميم معهما)_
[5]) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب حكم الفئ،رقم(٤٥٧٧)،وسنن ابى داؤد،كتاب الخراج.....باب فى صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم من الاموال،رقم(٢٩٦٣))_
[6]) عمدة القارى:٢٣/١٥،وفتح البارى:٢٠٤/٦-٢٠٥)_
[7]) فتح البارى:٢٠٥/٦)_

حضرت عمر رضي الله عنه ته حاضر شوم،نو اومې ليدل چې د كهجورو د ښاخونو نه جوړ شوې كټ باندې هغوی ناست وو ،د هغوی او د كټ مينځ كښې څۀ بستره نۀ وه،د څرمن نه جوړه شوې تكيې ته ئې ډډه لګولې وه۔

فانطلقت معه...... كښې هم هغه خبره ده چې كومه اوس وړاندې تيره شوه،د رفع او نصب په حوالې سره او د مبالغې په حوالې سره چې څنګه زهری ته د خپل ملاقات هره جزئيه ياده ده،دغه شان مالک بن اوس ته هم د خپل او د حضرت عمر رضي الله عنه مينځ كښې چې كوم ملاقات شوې وو ،د هغې يو يو جزء ياد او مستحضر دې۔

رُمال د راء په ضمې او كسرې سره،جوړ كړې شوې څيز،د رمال سرير معنی ده هغه كټ چې د كهجورې د ښاخونو نه جوړ شوې وی [1]

د ليس بينه وبينه فراش دا وضاحت ئې دې دپاره اوكړو چې عموماً او عادةً په كټ باندې بستره وی [2] ليكن د وخت خليفه او د نيمې دنيا بادشاه چې په كوم كټ باندې ناست وو نو هغه د بسترې نه هم محروم وو ۔ الله اكبر

قوله: فسلمت عليه،ثم جلست،فقال:يا مالُ: ما ورته سلام اوكړو،بيا كيناستم۔ حضرت اوفرمائيل اې مالک!

مال په اصل كښې مالک وو،د ترخيم په وجه باندې مال شوې دې ۔ لام لره كسرې سره لوستل هم جائز دی ځكه چې اصل هم دا ده او په لام باندې ضمه وئيل هم جائز دی ځكه چې د ترخيم نه پس دا مستقل اسم جوړ شوې دې،په دې وجې د منادی مفرد اعراب دې ته وركړې شو [3]

قوله: إنه قدم علينا من قوم أهل أبيات: ستاسو د قوم څو كورونو والا مونږ ته راغلې دی۔

د قوم نه مراد بنونصر بن معاويه بن بكر بن هوازن دې،د حضرت مالک بن اوس تعلق هم ددې قبيلې سره وو [4]

د مسلم شريف د جويريه عن مالک په طريقه كښې د "دف أهل أبيات" [5] الفاظ دی،ددې مطلب دادې چې هغوی په لړه لړه راغلې دی،غالباً ددې خلقو وطن اصلی د قحط ښكار شوې وو ،په دې وجې دوی د معاش په تلاش كښې مدينې منورې ته راغلې وو [6]

---

[1]) فتح الباري:٦/٢٠٥،وعمدة القاري:١٥/٢٣)_

[2]) پورته حواله جات)_

[3]) عمدة القاري:١٥/٢٤،وفتح الباري:٦/٢٠٥،والقسطلاني:٥/١٩٣،والكرماني:١٣/٧٧)_

[4]) فتح الباري:٦/٢٠٥،وارشادالساري:٥/١٩٣)_

[5]) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب حكم الفئ،رقم(٤٥٧٧))_

[6]) فتح الباري:٦/٢٠٥،وارشادالساري:٥/١٩٣،وعمدة القاري:١٥/٢٤)_

قوله: وقد أمرت فيهم برضخ،فاقبضه،فاقسمه بينهم:يقيناً ما د هغوى دپاره د څۀ امداد حکم جارى کړې دې،د هغې قبضه تاسو واخلئ،بيا ئې هغوى کښې تقسيم کړئ.

رضخ.بفتح الراء،وسكون المعجمة،بعدها خاء معجمة.ورکړې او امداد ته وئيلې شى،چې ډير زيات وى،مقرر شوې نۀ وى.(١)

قوله: فقلت:يا أمير المؤمنين،لو أمرت به غيري؟:نو ما اووئيل،امير المؤمنين!زما نه علاوه بل چاته دا ذمه دارى ورکړئ(نو ډيره غوره به وى)

چونکه د امانت د معاملې برداشت کول وو او ذمه دارى لويه وه،په دې وجه مالک بن اوس د عذر پيش کولو کوشش اوکړو(٢)

قال:اقبضه أيها المرء: حضرت عمر(حكماً)اوفرمائيل اې سړيه!دا په خپله قبضه کښې واخله.

دويم ځل باندې حضرت عمر حکماً حضرت مالک بن اوس ته اوفرمائيل چې دا کار به هم تاسو کوئ،نو هغوى د حضرت عمر حکم منلو سره مذکوره امداد په خپله قبضه کښې واخستلو او د خپل قوم په کسانو کښې ئې تقسيم کړو،چونکه قرينه په دې باندې موجود وه په دې وجه هغوى دا تفصيل حذف کړې دې(٣)

فبينا أنا جالس عنده أتاه حاجبه يرفا: دې دوران کښې چې زۀ هرکله هغوى سره ناستووم چې د هغوى دربان يرفا دننه راغئ.

يرفا: دا نوم همزه سره او د همزه نه بغير دواړو طريقو سره لوستلې شوې دې ليکن د همزې نه بغير ډير مشهور دې(٤)

دا د حضرت عمر رضي الله عنه مولى او دربان وو دوى د نبي ﷺ زمانه موندلې ده بلکه د جاهليت زمانه ئې هم ليدلې ده،ليکن صحبت ئې ثابت نۀ دې(٥)

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کښې دوى د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه سره د حج سعادت هم حاصل کړو.(٦)

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته په څۀ طريقې سره دا خبره معلومه شوه چې حضرت يزيد بن ابى سفيان رضي الله عنه په يو وخت کښې مختلف او قسما قسم خوراکونه کوى چې دا کار د زهد او تقوى خلاف دې،ددې وجې نه هغوى يرفا ته اووئيل چې کله د يزيد رضي الله عنه د شپې خوراک راشى نو ماته اووايه.د حکم مطابق د خوراک په رارسيدو سره يرفا امير المؤمنين ته اطلاع

---

١) پورته حواله جات)_
٢) پورته حواله جات)_
٣) پورته حواله جات)_
٤) عمدة القارى:١٥/٢٤)_
٥) پورته حواله،وفتح البارى:٦/٢٠٥،والاصابة:٣/٦٧٢، وشرح القسطلانى:٥/١٩٤)_
٦) فتح البارى:٦/٢٠٥،والاصابة:٣/٦٧٢)_

ورکړه نو هغوی راغلل او اجازت ئې طلب کړو، په اجازت ملاویدو باندې دننه راغلل، اول ورته د غوښې ثرید پیش کړې شو، چې هغې کښې ورسره حضرت عمر رضی الله عنه هم خوراک اوکړو بیا ورته کړې شوې غوښه پیش کړې شوه نو حضرت یزید خپل لاس وراوږد کړو لیکن حضرت عمر رضی الله عنه اودریدو او وې فرمائیل، ائې یزیده! دا څهٔ دی؟ د خوراک نه پس بیا خوراک؟ قسم دې د هغې ذات چې د هغهٔ د قدرت په قبضه کښې د عمر ساه ده! که تا د هغهٔ د طریقې مخالفت اوکړو نو تهٔ به هم د هغهٔ د طریقې نه لرې کړې شې[1]

د یرفا ذکر د مصنف ابن ابی شیبه رحمه الله د کتاب الصلوة په یو حدیث کښې هم راغلې دې لکه ابن ابی شیبه د "یحیی بن سعید عن عبیدالله بن عبدالله عن أبیه" د طریق نه نقل کړې دی، هغوی فرمائی: "جئت إلی عمر، وهو یصلی، فجعلنی عن یمینه، فجاء یرفا، فجعلنا خلفه"[2]

د سعید بن منصور رحمه الله د یو حدیث نه معلومیږی چې حضرت یرفا د حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه په خلافت کښې هم ژوندې وو لکه ابواسحاق[3] د یرفا نه روایت کوی،

"قال: قال لی عمر: إنی أنزلت نفسی من مال الله بمنزلة ولی الیتیم، إن احتجتُ أخذتُ منه، وإن أیسرتُ رددته، وإن استغنیت استعففت"[4]

قوله: فقال: هل لك فی عثمان و عبدالرحمن بن عوف و الزبیر و سعد بن وقاص یستأذنون؟ قال: نعم. فأذن لهم، فدخلوا، فسلموا وجلسوا: یرفا اووئیل چې (امیرالمؤمنین) ایا تاسو ته د عثمان، عبدالرحمن بن عوف، زبیر بن عوام او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهم په ملاقات کښې څهٔ رغبت شته څکه چې دا حضرات د ملاویدو اجازت غواړی؟ هغوی اوفرمائیل بالکل. نو یرفا هغوی ته اطلاع ورکړه، دا حضرات دننه راغلل، سلام ئې اوکړو او کیناستل.

د حضرت عمر رضی الله عنه دربار ته راتلونکی حضرات ټول څومره وو، په دې باره کښې حافظ فرمائی چې ددې حدیث په ټولو طرقو کښې ددې څلورو نه علاوه د بل چا نوم ما لیدلې نهٔ دې، سوا د نسائی شریف[5] او د عمر بن شبه[6] په یو روایت کښې، چې د عمرو بن دینار عن

---

[1]) کتاب الزهد لابن المبارک، الجزء الرابع، باب ماجاء فی الفقر: ۲۰۳-۲۰۴، رقم (۵۷۸))_

[2]) المصنف لابن ابی شیبة: ۵۶۸/۳، کتاب الصلوة، باب ماقالوا: اذا کانوا ثلاثة......رقم (۴۹۸۲))_

[3]) د حضرت ابواسحاق عمرو بن عبید الله سبیعی رحمه الله ولادت د عثمانی دور په آخری کلونو کښې شوې دې. کشف الباری: ۲۷۱/۲)_

[4]) السنن الکبری للبیهقی: ۳۵۴/۶، کتاب قسم الفیء......رقم (۱۲۷۹۰) ومعرفة السنن والآثار: ۱۶٤/۵، کتاب قسم الفیء......باب رزق الوالی، رقم (۴۰۱۲) دې اثر لره ابن ابی شیبة هم نقل کړې دې لیکن په هغې کښې د یرفا په ځائې حارثه بن مضرب عبدی دا اثر د حضرت عمر رضی الله عنه نه نقل کړې دې. انظر المصنف: ۴۹۱/۱۷، کتاب السیر، باب ما قالوا فی عدل الولی......رقم (۳۳۵۸۵) رحمه الله تعالی رحمة واسعة)_

[5]) سنن النسائی الکبری، کتاب الفرائض، باب ذکر مواریث الانبیاء، رقم (۶۳۰۹))_

[6]) اخبارالمدینة: ۱۲۸/۱، رقم (۵۶۵)، خصومة علی و العباس رضی الله عنهما إلی عمر......)_

ابن شهاب د طريق نه دي. په دې كښې د طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه د نوم اضافه هم موندلې كيږي. ددې نه علاوه امامى عن ابن شهاب په طريق كښې هم د طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه ذكر موندلې شوې دې. دغه شان دا روايت ابوداؤد د ابوالبختري د طريق نه نقل كړې دې[١]

په دې كښې هم د طلحه ذكر موجود دې البته په دې كښې دحضرت عثمان بن عفان ذكر نشته[٢]

قوله: ثم جلس يرفا يسيرا، ثم قال: هل لك في علي وعباس؟ قال: نعم. فاذن لهما، فدخلا، فسلما، فجلسا: بيا يرفا لږ ساعت كيناستو. بيا ئې اووئيل آيا تاسو د حضرت على رضي الله عنه او حضرت عباس رضي الله عنه سره ملاويدل خوښوئ؟ اميرالمؤمنين اوفرمائيل آوجى! نو يرفا دواړو ته دننه د راتلو اووئيل نو دا دواړه حضرات دننه راغلل، سلام ئې اوكړو او كيناستل.

د شعيب بن ابى حمزه د مغازى په روايت كښې "هل لك فى على وعباس" نه پس د "يستاذنان"[٣]، اضافه هم ده چې "هغه دواړه دننه د راتلو اجازت غواړى".

قوله: فقال عباس: يا اميرالمؤمنين، اقض بيني وبين هذا..: حضرت عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه اوفرمائيل، اميرالمؤمنين! زما او د دوى مينځ كښې فيصله اوكړئ.

دلته د باب روايت داسې دې چې "اقض بينى وبين هذا" ليكن د شعيب بن ابى حمزه د روايت الفاظ داسې دى چې "فاستب على وعباس"[٤] او د عقيل عن ابن شهاب په طريق كښې د "اقض بينى وبين هذا الظالم، استبا"[٥] الفاظ دى او د جويريه په روايت كښې "و بين هذا الكاذب، الآثم، الغادر، الخائن"[٦] الفاظ دى.

ددې ټولو طرقو حاصل دادې چې د حضرت عمر رضي الله عنه او نورو مشرانو په موجودګئ كښې حضرت عباس رضي الله عنه حضرت على رضي الله عنه ته بد رد اووئيل او د هغوى په حق كښې ئې د كاذب، آثم او غادر په شان سخت كلمات استعمال كړل ليكن حضرت على رضي الله عنه چې حضرت عباس رضي الله عنه ته هرڅه وئيلې وى نو په رواياتو كښې د هغې څه وضاحت نشته، د حافظ د قول مطابق صرف د عقيل يو روايت دې، چې په هغې كښې د "استبا" كلمات دى چې دې دواړو يو بل ته بد رد اووئيل، لكه حافظ وائى:

---

[١] سنن أبى داود، كتاب الخراج......باب فى صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم ....رقم(٢٩٧٥))_

[٢] فتح البارى:٦/٢٠٥، وشرح القسطلانى:٥/١٩٤)_

[٣] صحيح البخارى، كتاب المغازى، باب حديث بنى النضير، ومخرج رسول الله.......رقم(٤٠٣٣))_

[٤] پورته حواله)_

[٥] صحيح بخارى، كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، باب مايكره من التعمق.......رقم(٧٣٠٥))_

[٦] صحيح مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب حكم الفئ، رقم(٤٥٧٧))_

"ولم أر في شئ من الطرق أنه صدر من علي في حق العباس شئ، بخلاف مايفهم قوله في رواية عقيل: استبا"[1]
ددې نه علاوه د شعيب روايت هم په دې خبره دلالت کوی چې دې دواړو يو بل ته بدرد وئيلې دی، "فاستب علي وعباس"
ليکن راجحه خبره داده چې په دې موقع باندې حضرت عباس رضي الله عنه دا مذکوره کلمات وئيلې دی نۀ چې حضرت علی رضي الله عنه وئيلې دی، په دې شرط چې ددې صحت تسليم کړې شی چې حضرت عباس رضي الله عنه واقعی هم دا کلمات وئيلې دی او حضرت علی رضي الله عنه ته ئې بد ردوئيلې دی.
ايا حضرت عباس رضي الله عنه واقعی دا کلمات وئيلې دی؟ اوس سوال دا دې چې آيا واقعی حضرت عباس دا مذکوره کلمات وئيلې دی او حضرت علی ته ئې بدرد وئيلې دی؟نو په دې کښې د علماؤ مختلف اقوال دی:

① علامه عينی فرمائی چې دلته د عبارت تقدير داسې دې: الکاذب إن لم ينصف[2] چې دې دروغژن دې، خيانت گر دې.......که چرته ماسره انصاف اونکړی يعنی د حضرت عباس رضي الله عنه دا مذکوره کلمات په شرط سره مقيد دی.
② علامه مازری دې کلماتو لره د حذف کولو صورت جوړ کړې دې، هغوی فرمائی چې غالباً دلته بعضې راويانو ته وهم شوې دې او علامه عينی خو دې کلماتو لره حذف کول واجب گڼړی، "يجب إزالة هذه اللفظة عن الکتاب"[3]
③ مازری مزيد دا هم فرمائی چې که دا کلمات محفوظ هم وی نو دا به داسې حمل کړې شی چې حضرت عباس رضي الله عنه دا مذکوره کلمات د ناز و ادا په طريقه باندې فرمائيلې دی ځکه چې حضرت علی رضي الله عنه د حضرت دپاره د ځوی په منزله دې ځکه چې حضرت عباس ئې خپل سکه تره وو، د پلار ځوی او د تره ورارۀ ترمينځه داسې کلمات څۀ لرې خبره نۀ ده، حضرت عباس رضي الله عنه چونکه حضرت علی رضي الله عنه په غلطئ باندې گڼړلو په دې وجه د هغوی غرض دا وو چې حضرت علی رضي الله عنه منع کړې شی.
④ دغه شان د حضرت عباس رضي الله عنه غرض دا هم کيدې شی چې حضرت علی رضي الله عنه څۀ کوی نو که دا ټول قصداً عمداً کوی نو بيا خو په دې مذکوره صفاتو سره متصف دې، او که قصداً نه وی نو بيا مذکوره صفاتو سره متصف نۀ دې.
مزيد فرمائی چې دا تاويل ځکه ضروری دې چې څۀ هم اوشو نو دا ټول هرڅۀ د صحابه کرامو رضي الله عنهم د يو جماعت په موجودگئ کښې اوشو، چې په هغوی کښې د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په شان شخصيت هم وو او نور جليل القدر صحابه کرام رضي الله عنهم او لوئې لوئې هستئ هم موجود وې، ددې ټولو حضراتو په موجودگئ کښې ددې واقعې پيښيدل او ددې حضراتو پرې تنبيه او خبردارې نۀ کول په سمجه او پوهه کښې نۀ راځی، مازری ليکی:

---
[1]) فتح الباری: (۲۰۵/۶)_
[2]) عمدة القاری: (۲٤/۱۵)_
[3]) پورته حواله)_

"ولا بد من هذا التأويل، لوقوع ذلك بمحضر الخليفة ومن ذكر معه، ولم يصدر منهم إنكار لذلك، مع ما علم من تشددهم في إنكار المنكر"(۱) وهما يختصمان فيما أفاء الله على رسوله صلى الله عليه وسلم من بني النضير
او دي دواړو د بنو نضير په هغې مال فئ کښې جهګړه کوله کوم چې الله تعالى نبى کريم ﷺ ته ورکړې وو.

په روايت کښې اختصار: دلته په روايت کښې اختصار دې ځکه چې په دې کښې صرف د بنونضير د مال فئ ذکر دې او مراد ترينه د نبى کريم ﷺ ملکيتى زمکې دى، چې په هغې کښې د بنوقريظه، بنونضير زمکې چې په مدينه منوره کښې وې، د فدک او د خيبر خمس وغيره هم شامل دى، علامه عينى د امام نسفى په حوالې سره فرمائى:

"وقال ابن عباس في قوله (وما أفاء الله على رسوله منهم)(۲) هو من أموال الكفار، و أهل القرى. وهم بنوقريظة والنضير وهما بالمدينة، وفدك، وخيبر، وقرى عرينة، وينبع"(۳) فقال الرهط عثمان و أصحابه: يا امير المؤمنين، اقض بينهما، وأرح أحدهما من الآخر
جماعت يعنى حضرت عثمان ﷺ او د هغوى ملګرو اووئيل، اميرالمؤمنين! ددې دواړو حضراتو مينځ کښې فيصله اوکړئ او يو ته د بل نه آرام ورکړئ.

دلته په روايت کښې د "الرهط" لفظ دې او د مسلم شريف په روايت کښې "القوم" راغلې دې.
دغه روايت کښې ددې کلماتو اضافه هم نقل ده، "فقال مالك بن أوس: يخيل إلى أنهم قد كانوا قدموهم لذلك"(۴) او د ابوداؤد شريف په روايت کښې دى: "فقال العباس: يا امير المؤمنين، اقض بيني وبين هذا. يعني عليا. فقال بعضهم: أجل يا امير المؤمنين، فاقض بينهما و أرحهما"(۵) ددې نه ددې حضراتو د تشريف راوړلو مقصد واضحه کيږى چې دا حضرات د سفارش دپاره راغلې وو، چې د حضرت عباس ﷺ او د حضرت على ﷺ مينځ کښې څۀ واضحه فيصله اوکړې شى چې دا جهګړه ختمه شى او خپل مينځ کښې تعلقات نور خراب نۀ شى(۶)
حافظ ابن حجر د مسند ابن ابى عمر د يو روايت چې د معمر عن الزهرى د طريق نه روايت دې په حوالې سره ليکلې دى چې حضرت زبير بن العوام ﷺ "اقض بينهما" فرمائيلې وو، په

---

(۱) پورته حواله، وفتح البارى: ۲۰۵/۶، وشرح النووى على مسلم: ۹۰/۲، وكذا انظر حاشية السندى على صحيح مسلم، المطبوعة مع مسلم: ۳۶۶/۲)_
(۲) الحشر/۶)_
(۳) عمدة القارى: ۲۴/۱۵، وتنوير المقياس من تفسير ابن عباس، الحشر/۳_۸ ۸۶/۲، و أحكام القرآن للرازى: ۵۷۴/۳، ومن سورة الحشر/۱
(۴) مسلم شريف، كتاب الجهاد والسير، باب حكم الفئ، رقم(۴۵۷۷))_
(۵) سنن أبى داود، كتاب الخراج و الفئ و الامارة، باب فى صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم ...... رقم(۲۹۶۳)
(۶) فتح البارى: ۲۰۵/۶، وعمدة القارى: ۲۴/۱۵، وتكملة فتح الملهم: ۴۹/۳)_

دې سره ددې خبرې تعيين اوشو چې په قوم (ډله) كښې خبره چا شروع كړې وه[١]

فقال الرهط عثمان و أصحابه كښې عثمان واصحابه د محذوف مبتدا دپاره خبر دې. اى: هم عثمان واصحابه المذكورون.

البته دا د الرهط نه بدل يا عطف بيان هم كيدې شى[٢]

وارح د امر صيغه ده. د اراحة (افعال) نه او واو عاطفه دې. مطلب دادې چې دا دواړه په كومه جهګړه كښې دى، ددې نه ورته آرام وركړئ[٣]

قال عمر: تيدكم: حضرت عمر اوفرمائيل. لږ صبر اوكړئ.

د تيدكم ضبط او معنى: تيدكم د تاء مثناة د فتحې او د كسرې سره او ياء ساكنه ده او دال مفتوحه يا مضمومه. يعنى تَيْدَكُم، دا اسم فعل دې د رويد په شان، ددې معنى ده صبر اوكړئ.

د ابوذر په روايت كښې دا كلمه تَيئدكم. بفتح المثناة وكسر التحتانية مهموز وفتح الدال. مروى ده.

ابن التين فرمائى چې ددې اصل تيدكم دې چې د التؤدة مصدر نه مشتق دې. ددې معنى نرمى ده. ابن الاثير هم دا خبره اختيار كړې ده[٤]

قوله: أنشدكم بالله الذي بأذنه تقوم السماء والارض، هل تعلمون أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا نورث، ما تركنا صدقة؟ يريد رسول الله صلى الله عليه وسلم نفسه. قال الرهط: قد قال ذلك: زۀ ستاسو نه د هغې ذات په واسطه دركولو سره پوښتنه كوم چې د چا په حكم سره زمكې او اسمانونه قائم دى چې آيا تاسو ته پته لګى چې نبى كريم ﷺ فرمائيلې وو چې مونږ نه كومه تركه پاتې شى نو په هغې كښې وراثت نۀ جارى كيږى، هغه خو صدقه ده؟ ددې نه نبى ﷺ خپل ذات مبارك مراد اخستلې وو، حاضرينو اووئيل، بالكل، نبى كريم ﷺ دغه شان فرمائيلې وو.

أنشدكم كښې روايت د شين د ضمې سره دې، دا باء سره او د باء نه بغير دواړو طريقو سره مستعمل دې نشدتك الله او نشدتك بالله ددې معنى ده اسئلكم بالله چې زۀ د الله تعالى په نوم مبارك سره تپوس كوم، درخواست كوم او د هغۀ واسطه دركوم.

ددې نه علاوه دا لفظ د باب افعال نه هم مستعمل دې، يعنى د همزه په ضمې او د شين په كسرې سره (مضارع متكلم) نووى ددې وضاحت كړې دې[٥]

---

[١] فتح البارى: ٦/٢٠٥

[٢] عمدة القارى: ١٥/٢٤

[٣] پورته حواله، و تكمله فتح الملهم: ٣/٤٩

[٤] عمدة القارى: ١٥/٢٤، وفتح البارى: ٦/٢٠٦، والنهاية فى غريب الحديث......: ١/١٧٨، باب التاء مع الهمزة، مادة تئد، وشرح القسطلانى: ٥/١٩٤

[٥] عمدة القارى: ١٥/٢٤، وارشادالسارى: ٥/١٩٤، وشرح النووى على مسلم: ٢/٩٠

په لانورث كښې روايت د نون سره دې.يعنى د جمع متكلم صيغه ده.امام قرطبى فرمائى چې
دې نه مراد د انبياء كرامو ﷺ جماعت دې[١] لكه په يو روايت كښې دا الفاظ هم راغلې
دى."إنا معشر الانبياء لانورث"[٢]د دې نه علاوه ابن عبدالبر د ابن شهاب عن مالک بن اوس عن
عمر د طريق نه يو حديث نقل كړې دې،د هغې الفاظ نور هم زيات واضح دى. فرمائى، "إنا
معشر الانبياء، ماتركنا صدقة"[٣]
البته د حضرت حسن بصرى رحمه الله مذهب دادې چې دا د حضرت نبى كريم ﷺ سره خاص
دې،په دې كښې نبى سره نور انبياء ﷺ شامل نۀ دى،د هغوى استدلال د قرآنى آيتونو (يرثنى
ويرث من آل يعقوب)[٤] او (وورث سليمان داود)[٥] نه دې.
ليكن د امت جمهور علماؤ دې آيتونو لره د ميراث علم،نبوت،حكمت(يحيى عليه السلام
دپاره)او د مارغانو خبرې اترې(د حضرت سليمان دپاره)باندې حمل كړې دى.لهذا راجحه
خبره هم داده چې د انبياء كرامو ﷺ په مال كښې ميراث نۀ جارى كيږى.هغه صدقه وى[٦]

انبياء وارثان كيدې شى؟ پورته تفصيل په دې باره كښې وو چې د انبياء كرامو ﷺ څوک
وارث كيدې شى يا نۀ،د هغوى په مال كښې وراثت جارى كيږى يا نۀ.اوس سوال دادې چې
آيا انبياء كرام ﷺ هم وارثان نۀ شى كيدې چې د خپل مورثينو د ميراث نه مال اوومومى؟
په دې مسئله كښې زمونږ د حضراتو احنافو.كثرالله سوادهم.اقوال دوه قسمه دى:
علامه شامى په خپلو رسائلو كښې فرمائيلې دى چې نبوت د ارث نه مانع دې البته دا د
وارثيت يا موروثيت دواړو نه مانع دې يا صرف د موروثيت نه؟نو د شوافعو حضراتو ميلان
دويم طرفته دې چې نبوت صرف د موروثيت نه مانع دې د وارثيت نه مانع نۀ دې.....ليكن
په دې مسئله كښې زمونږ د امامانو اقوال مختلف دى:
لكه د ابن نجيم د عبارت نه دا معلوميږى چې انبياء كرام ﷺ نۀ وارثان جوړيدې شى او نه
مورثين،فرمائى،"كل إنسان يرث ويورث،الا الانبياء عليهم السلام لا يرثون ولا يورثون"دغه شان
فرمائى چې دا خبره چې منقول ده چې نبى د حضرت خديجه د مال وارث جوړ شوې وو نو دا
خبره صحيح نۀ ده،بلكه هلته خو داسې شوې وه چې هغې خپل ټول مال د صحت په وخت
كښې نبى ته هبه كړې وو[٧]

---

[١]) عمدة القارى:١٥/ ٢٤،والمفهم للقرطبى:١١/٨٥،باب مايصرف فيه الفئ:.....)_
[٢]) وتمامه: ماتركنا فهو صدقة"انظر سنن النسائى الكبرى،كتاب الفرائض،باب ذكر مواريث الانبياء،
رقم(٦٣٠٩)وفتح البارى:١٢/٨،كتاب الفرائض)_
[٣]) التمهيد لابن عبدالبر:٨/١٧٥،حديث ثامن لابن شهاب عن عروة)_
[٤]) مريم/٦)_
[٥]) النمل/١٦)_
[٦]) عمدة القارى:١٥/ ٢٤_٢٥،وارشاد السارى:٥/ ١٩٤،والتمهيد لابن عبدالبر:٨/ ١٧٤_١٧٥)_
[٧]) الاشباه والنظائر مع شرحه للحموى:٢/ ٤٩٦،الفن الثانى،كتاب الفرائض،رقم(١٧٨٢))_

بل طرفته د ابن الكمال او سكب الانهر د عبارتونو نه معلوميږى چې انبياء كرام ﷺ هم د عوامو په شان وارثان جوړيدې شى(١)

د شوافعو او موالكو مذهب: پورته د علامه شامى په عبارت كښې تير شو چې شافعيه د انبياء كرامو دپاره وارثيت صحيح گڼرى، صاحب د "الاقناع" علامه شربينى فرمائى:

"....... أن الناس فى الارث اربعة أقسام: منهم من يرث و يورث، و عكسه فيهما، و منهم من يورث ولا يرث، وعكسه.....والرابع الانبياء عليهم السلام، فانهم يرثون ولا يورثون"(٢)

د موالكو مذهب هم په دې مسئله كښې د شوافعو په شان دې. د هغوى په نزد هم دا راجحه ده چې انبياء كرام ﷺ وارثان كيدې شى، علامه دردير په الشرح الكبير كښې د نبى ﷺ په خصوصياتو كښې ليكلې دى: "و بأن لا يورث، وكذا غيره من الانبياء"(٣) ددې په وضاحت كښې علامه دسوقى فرمائى چې ددې عبارت تقاضه داده چې هغوى وارثان كيدې شى. ځكه چې دردير دلته په "لايورث" باندې اقتصار كړې دې چې ددې مقتضى "يرث" ده. هم دا راجحه هم ده ځكه چې دا خبره ثابته ده چې نبى كريم ﷺ ته د خپل والد محترم په ميراث كښې ام ايمن بركة حبشه ملاؤ شوې وه، او دې سره سره څۀ چيلئ وغيره هم ملاؤ شوې وې(٤)

ابن سعد د ام ايمن په باره كښې فرمائى:

"قالوا: وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم ورثها عن ابيه......، فاعتق رسول الله صلى الله عليه وسلم ام ايمن حين تزوج خديجة........ رضى الله عنها"(٥)

د حضرت گنگوهى رائې: زمونږ په مشائخو كښې حضرت گنگوهى رحمه الله هم په دې مسئله كښې د شوافعو او موالكو په شان ددې خبرې قائل دى چې انبياء كرام ﷺ وارثان كيدې شى، مورث كيدې نۀ شى، فرمائى:

"اختلف العلماء فى توريث الانبياء من غيرهم، فقال بعضهم: لا يَرِثون كما لا يُورَثون، و رووا نحن معاشر الانبياء، لانرث ولانورث، والصحيح ان هذه اللفظة غير ثابتة......"(٦)

---

(١) رسائل ابن عابدين: ٢٠٢/٢، الرحيق المختوم شرح قلائد المنظوم، فصل فى موانع الارث. وردالمختار، كتاب الفرائض، (تتمه): ٥٤٣/٥، جملة الموانع حينئذ ستة......)_

(٢) الاوجز: ٥٤٤/١٧، والاقناع: ٢٨٥/٢، كتاب بيان احكام الفرائض، القول فى موانع الارث الحقيقية)_

(٣) الشرح الكبير مع الدسوقى: ٥٤١/٢، باب الخصائص)_

(٤) پورته حواله، والاوجز: ٥٤٤/١٧، وفى السيرة الحلبية: ٥٢/١، باب وفاة والده صلى الله عليه وسلم: وترك عبدالله خمسة اجمال، وقطعة من غنم، فورث ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم من ابيه")_

(٥) الطبقات الكبرى لابن سعد: ٢٢٣/٨، ذكرام ايمن. والاصابة: ٤٣٢/٤، فصل فيمن عرف بالكنية من النساء، الا ان فيه ورثها عن امه")_

(٦) الكوكب الدرى: ١٠٣/٣_١٠٤، كتاب الفرائض، تحت رقم (٢١٠٥))_

په دې عبارت كښې د هذه اللفظة نه مراد "لانرث" دې، دا غيرثابت دې او عام روايات ددې لفظ د اضافې نه خالي دي، په عامو رواياتو كښې صرف د لانورث كلمات موندلې كيږي[1]

دغه شان علامه گنگوهي د حديث نبوي "سلوني من مالي" په تشريح كښې فرمائي:

"والايراد بانه صلى الله عليه وسلم لم يكن له مال سيما بمكة توهم، أفلم يكن له صلى الله عليه وسلم مافيه اكله وشربه، والتركة التى أصابه من أبيه؟ وما اشتهر من "إنا لانرث، ولانورث" فالكلمة الاولى منها لم تثبت"[2]

خلاصه دا شوه چې د حضرت گنگوهي موقف په دې مسئله كښې هم هغه دې چې كوم موقف د شوافعو او د موالكو دې چې انبياء كرام عليهم السلام وارثان كيدې شي[3]

يو سوال او د هغې جواب: په دې پورته مذكوره موقف باندې سوال اعتراض كيږي چې د نبي كريم ﷺ د دريو لونړو مباركو حضرت زينب، حضرت رقيه او حضرت ام كلثوم رضي الله عنهن وفات خو د نبي ﷺ په ژوند مبارك كښې شوې وو ليكن په رواياتو كښې دا خبره چرته هم نشته چې نبي كريم ﷺ د هغوى په ميراث كښې څۀ حصه اخستلې وى.

نو علماو د سيرت ددې جواب دا وركړې دې چې اول خو دا خبره تسليمه نۀ ده چې نبي كريم ﷺ د هغوى په ميراث كښې څۀ حصه نۀ ده اخستلې.

دويمه دا چې كه دا دعوى تسليمه هم كړې شي چې نبي د هغوى ميراث نۀ وو اخستلې نو كيدې شي چې د استغناء په طور ئې نۀ وى اخستلې ليكن بهرحال په دې سره د وارثيت نفي نۀ شي كيدې[4] والله اعلم بالصواب

د "صدقة" اعراب: حديث نبوي "لا نورث ما تركنا صدقة" كښې لفظ د صدقة مرفوع دې، ملاعلى قارى فرمائي، دا رفعې سره دې او جمله مستانفه ده، گويا كه نبي ﷺ چې كله اوفرمائيل، "لا نورث" نو قدرتى طور باندې دا سوال پيدا شو چې بيا به ستاسو د تركې څۀ كيږي؟ نو جواب اوكړې شو چې "ماتركنا صدقة" چې مونږ څۀ پريږدو نو هغه صدقه ده.

دا لفظ د نصب سره هم مروي دې، په دې صورت كښې به د عبارت تقدير داسې شي "ماتركناه مبذول صدقة" نو خبر (مبذول) حذف كړې شو او صدقه (د نصب په صورت كښې) حال شو او د خبر په عوض كښې باقي پاتې شو......

د شيعه شنيعه دا وينا چې په دې جمله كښې ما نافيه ده او لفظ د صدقة د تركنا مفعول به

---

[1]) تعليقات الكوكب الدرى للكاندهلوى: ۳/ ۱۰٤، وكذا انظر اوجزالمسالک: ۱۷/ ٥٤٥)_

[2]) الكوكب الدرى: ٤/ ۲۲۹، كتاب التفسير، سورة الشعراء، تحت قوله صلى الله عليه وسلم: سلونى من مالى")

[3]) تعليقات الكوكب: ٤/ ۲۲۹، والاوجز: ۱۷/ ٥٤٥)_

[4]) تعليقات الكوكب: ٤/ ۲۳۰، والبذل: ۱۰/ ۷۳، كتاب الفرائض، باب: فى ميراث ذوى الارحام، رقم(۲۹۰۲)، والاوجز: ۱۷/ ٥٤٦، والسيرة الحلبية: ۱/ ٥۲، باب وفاة والده صلى الله عليه وسلم)_

كيدو په وجه منصوب دي نو دا بهتان او افتراء ده.د هغوى د رد دپاره دا هم كافى ده چې په اكثرو رواياتو كښې ترکناه د ضمير منصوب سره راغلې دي چې ضمير عائد دې او ددې مرجع ما موصوله ده.

ددې نه علاوه په بعضې روايتونو كښې "فهو صدقة" راغلې دي[1] ددې خو په مرفوع كيدو كښې څۀ شک نشته چې هو ضمير مبتداء ده او صدقة ئې خبر دې.

دغه شان هغه احاديث چې په هغې كښې ددې قسمه صراحت راغلې دې "إنا معشر الانبياء، لانورث" ددې ټولو خلاصه داده چې دلته لفظ د صدقة اكثرو روايتونو كښې مرفوع دې او ماموصوله ده،نۀ چې مانافيه ده[2]

قوله: فأقبل عمر على على وعباس،فقال:أنشدكما الله،أتعلمان أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قد قال ذلك؟قالا:قد قال ذلك....: بيا حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت على رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه طرفته متوجه شو او وې فرمائيل،زۀ ستاسو دواړو نه د الله تعالى په نامه سره تپوس كوم چې آيا تاسو دواړو ته معلومه ده چې نبى كريم صلی الله علیه وسلم مذكوره خبره ارشاد فرمائيلې وه؟هغوى دواړو اوفرمائيل. بالكل ئې ارشاد فرمائيلې وه

اول حضرت عمر رضی الله عنه د سفارشيانو وړاندې مذكوره سوال كيخودو چې آيا تاسو د نبى عليه السلام دا فرمان اوريدلې وو چې "لا نورث،ماتركنا صدقة؟" چې هركله هغوى د اوريدلو اقرار اوكړو نو هم دا سوال ئې د حضرت على رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه نه هم اوكړو.چې د هغې جواب دې دواړو حضراتو هم دا وركړو چې مونږ دا خبره د نبى كريم صلی الله علیه وسلم نه اوريدلې ده،مونږ ددې تصديق كوو. دا د وړاندې خبرې دپاره يوقسمه تمهيددې د ذلك مشاراليه حديث "لا نورث،ماتركنا صدقة"[3] ده.

قوله: قال عمر:فانى احدثكم عن هذا الامر: إن الله قد خص رسوله صلى الله عليه وسلم فى هذا الفئ بشئ لم يعطه احدا غيره،ثم قرء(وما افاء الله على رسوله منهم-الى قوله-قدير)فكانت هذه خالصة لرسول الله صلى الله عليه وسلم : حضرت عمر اوفرمائيل،زۀ تاسو ته په دې معامله كښې وايم،الله تعالى د خپل

---

[1]) انظر الموطا،كتاب الكلام،باب ماجاء فى تركة النبى صلى الله عليه وسلم،رقم(١٨٠٨))_

[2]) مرقاة المفاتيح:١١/١٢٩-١٣٠،كتاب الفضائل والشمائل،رقم(٥٩٧٦)،وشرح الطيبى: ١١/١٩٥، والاوجز:١٧/٥٣٥،والتعليق الممجد:٣١٩)_

[3]) عمدة القارى:١٥/٢٥،وارشادالسارى:٥/١٩٤)_

رسول پاک ﷺ دپاره په دغه مال فئ کښې څۀ مخصوص حصه مقرر کړې وه.چې په هغې کښې هغوی چاته هم ورکړې نۀ وه په دې وجه دا صرف اوصرف د نبی کریم ﷺ سره خاص وه. په عبارت کښې ذکر کړې شوې آیت پوره دغه شان دې:

﴿وما افاء الله على رسوله منهم فما أوجفتم عليه من خيل ولا ركاب ولكن الله يسلط رسله على من يشاء، والله على كل شئ قدير﴾[1]

او کوم مال چې الله تعالی خپل رسول پاک ﷺ ته د دوی نه ورکړې دې،په دې باندې تاسو نۀ اسونو ته منډه ورکړې ده او نۀ اوښانو ته.لیکن خپلو رسولانو ته په چا باندې چې اوغواړی غلبه ورکوی او الله پاک ته په هر هر څیز باندې پوره قدرت حاصل دې.

پورته آیت کریمه چې څنګه د مال فئ تعریف ته شامل دې نو دغه شان په دې کښې ددې خبرې وضاحت هم راغئ چې دا مال به د نبی کریم ﷺ دپاره خالص وو او په دې کښې د هیچا څۀ حق نۀ وو ،نبی ﷺ چې دا مال څنګه صرف کوی نو هغوی ته ددې اختیار وو او په هغوی باندې دا منحصر وه.،د باب د حدیث د جملې "فكانت هذه خالصة لرسول الله صلى الله عليه وسلم" مطلب هم دا دې[2]

اوس دا خبره ذهن ته راځی چې نبی کریم ﷺ به په دې مال باندې څۀ کول؟نو ددې جواب دادې چې دا مال به د هغوی په نان نفقه او د هغوی د اهل و عیال په نان نفقه کښې استعمالیدۀ او څۀ به چې باقی پاتې شو نو هغه به ئې د مسلمانانو په مصلحتونو کښې خرچ کوو لکه څنګه چې وړاندې روایت کښې راځی.

والله ما احتازها دونكم، ولا استاثربها عليكم، قد اعطاكموها،وبثها فيكم

لیکن په الله قسم!نبی کریم ﷺ دا مال صرف د خپل ځان دپاره جمع کړې نۀ وو او نۀ ئې خپل ذات ته په تاسو باندې ترجیح ورکړې وه،بلکه دا مال هغوی هم تاسو ته درکړو او په تاسو کښې ئې تقسیم کړو.

د مختلفو الفاظو ضبط او معنی: احتاز کښې دوه روایتونه دی:

① حاء مهمله او زاء معجمه سره ددې مصدر حيازة دې،ددې معنی ده جمع کول. د اکثرو روایت هم دادې.

② د کشمیهنی په روایت کښې دا لفظ خاء معجمه او راء مهمله سره دې،یعنی اختار،ددې معنی ده اختیارول[3]

د استاثر معنی ده خپل ځان ته ترجیح ورکول[4]

---

[1]) الحشر/۶)_

[2]) عمدة القاری:۱۵/۲۵)_

[3]) پورته حواله.وفتح الباری:۶/۲۰۶.وارشادالساری:۵/۱۹۵)_

[4]) عمدة القاری:۱۵/۲۵.وارشادالساری:۵/۱۹۵)_

په اعطاکموها کښې هم دوه روايتونه دی:

① اعطاکموها، په دې صورت کښې به د ضمير مرجع اموال الفئ وی۔

② اعطاکموه، په دې صورت کښې به مرجع فئ وی([1]) په دواړو صورتونو کښې څۀ قباحت نشته۔

د بثهامعنی ده فرقهایعنی تقسيم ئې کړل، چې د بثیبث بثا(ثاء مثلثه مشدده سره) نه دې([2]) او مطلب دادې چې دا اموال فئ اګرچه د نبی کريم د ذات اقدس سره خاص وو ليکن په دې سره به نبی کريم درشته دارو اوغيررشته دارودواړه قسمه خلقومعاونت او امداد فرمائيلو. د نسائی شريف([3]) د عکرمه بن خالد عن مالک بن اوس د طريق نه ددې تائيد کيږی([4])

قوله: حتی بقي منها هذا المال، فکان رسول الله صلی الله عليه وسلم ينفق علی أهله نفقة سنتهم من هذا المال، ثم يأخذ ما بقي، فيجعله مجعل مال الله: تردې چې په هغې کښې دا موجوده مال (زمکې) باقی پاتې شوې دی، په دې کښې به نبی کريم ﷺ د اهل عيال دپاره د ټول کال نفقه ويستله، بيا به چې څۀ باقی پاتې شو نو هغه به ئې د الله تعالی د مال په طور باندې ساتلو.

يو اشکال او د هغې جواب: پورته عبارت بالکل واضح دې، ليکن د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها په يو حديث کښې "**توفی رسول الله صلی الله عليه وسلم ودرعه مرهونة عند يهودی بثلاثين صاعاً من شعير**"([5]) وارد شوې دې چې د نبی ﷺ د وفات په وخت د هغوی مبارک يو زره د يهودی سره د ديرش صاعو اوربشو په بدله کښې ګانړه کيخودلې شوې وه۔

سوال دا دې چې هرکله خپل ذاتی مال دومره فراخه وو چې د کور والاد خرچ د جدا کولو نه پس به هم ډير مال بچ پاتې شو، کوم به چې بيا په بيت المال کښې جمع کيدې شو نو د حضرت عائشه صديقه ددې حديث څۀ مطلب دې او د قرض (هغه هم زرعه په رهن کښې کيخودل!) اخستلو ضرورت ولې پيښ شو؟

ددې جواب دادې چې عام معمول خو دا وو چې د ټول خرچ به ئې جدا کوو ليکن کال تيريدلو سره سره نبی کريم ﷺ نور د خير کارونو او خارجی ضرورياتو کښې به هم ددې نه صرف کوو، دغه شان د کال په پوره کيدو باندې به مقرره نفقه ختمه شوه او د قرض اخستلو ضرورت به پيښ شو، علامه قسطلانی فرمائی:

---

[1]) ارشادالساری:۱۹۵/۵)_

[2]) پورته حواله. و عمدة القاری:۲۵/۱۵)_

[3]) سنن النسائی،أول کتاب قسم الفئ،رقم(۴۱۵۳))_

[4]) فتح الباری:۲۰۶/۶)_

[5]) انظرصحيح البخاری،کتاب الجهاد والسير،باب ماقيل فی درع النبی صلی الله عليه وسلم...... رقم(۲۹۱۶)

"وهذا لايعارضه حديث عائشة أنه صلى الله عليه وسلم توفي ودرعه مرهونة على شعير، لأنه يجمع بينهما بأنه كان يدخر لأهله قوت سنتهم، ثم في طول السنة يحتاج لمن يطرقه إلى إخراج شئ منه، فيخرجه، فيحتاج إلى تعويض ما أخذ منها، فلذلك استدان"[1]

"مجعل مال الله" كښې مجعل د میم د فتحې سره د ظرف صیغه ده. بیت المال ترینه مراددې چې په هغې سره به اسلحه وغیره اخستې کیده او د مسلمانانو په نورو مصلحتونو باندې به دغه مال خرچ کولې شو[2]

قوله: فعمل رسول الله صلى الله عليه وسلم بذلك حياته، أنشدكم بالله، هل تعلمون ذلك؟ قالوا: نعم: نو د نبی کریم ﷺ په خپل ژوند مبارک کښې هم دغه معمول وو، تاسو خلقو ته د الله تعالى واسطه درکولو سره ستاسو نه تپوس کوم چې آیا تاسو خلقو ته ددې علم شته؟ جماعت اووئیل، بالکل، مونږ ته ددې معلومات شته.

په عمل کښې میم مکسور دې، دا دلته د باب سمع نه مستعمل دې[3]

قوله: ثم قال لعلي وعباس: أنشدكما بالله، هل تعلمان ذلك؟: بیا حضرت عمر رضی الله عنه حضرت علی رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه طرفته متوجه کیدو سره اوفرمائیل ...... آیا تاسو دواړو ته هم ددې خبرې معلومات شته؟

دلته په روایت کښې سوال خو مذکور دې لیکن دې دواړو حضراتو په جواب کښې څه اوفرمائیل ددې تذکره نشته، نو د کتاب الفرائض د عقیل په روایت[4] کښې ددې نه پس دا اضافه هم روایت شوې ده، "قالا: نعم"[5]

قال عمر: ثم توفى الله نبيه صلى الله عليه وسلم، فقال أبوبكر: أنا ولي رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقبضها أبوبكر، فعمل فيها بما عمل رسول الله صلى الله عليه وسلم، والله يعلم أنه فيها لصادق، بار، راشد، تابع للحق، ثم توفى الله أبابكر، فكنت أنا ولي أبي بكر، فقبضتها سنتين من إمارتي، أعمل فيها بما عمل رسول الله صلى الله عليه وسلم وما عمل فيها أبوبكر، والله يعلم أني فيها لصادق، بار، راشد، تابع للحق

حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل، بیا الله تعالى خپل نبی پاک ﷺ پورته کړو نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوفرمائیل چې زهٔ د رسول الله مبارک ﷺ نائب یم، نو دغه مال هغوی په خپل

---

[1] ارشاد الساری: ۱۹۵/۵، وایضاً فی الفتح: ۲۰۶/۶، والعمدة: ۱۲۵/۱۵
[2] پورته حواله جات)_
[3] ارشاد الساری: ۱۹۵/۵)_
[4] صحیح البخاری، کتاب الفرائض، باب قول النبی.....: لانورث......، رقم (۶۷۲۸))_
[5] ارشاد الساری: ۱۹۵/۵، وفتح الباری: ۲۰۶/۶)_

تصرف كښې واخستۀ.او هغوى په دې كښې هم په دغه معمول باندې روان وو.كوم معمول چې د نبى كريم ﷺ وو . الله تعالى ته ښۀ علم دې چې هغوى ددې مال په معامله كښې رښتونى،نيک،هدايت يافته او د حق تابع وو . بيا الله تعالى حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه خپل ځان ته اوغوښتلو نو زۀ د ابوبكر صديق رضی الله عنه ولى او نائب جوړ شوم،ما د خپل خلافت(ابتدائى) دوو كالو پورې دا مال په خپل تصرف كښې اوساتلو.ما هم په دې كښې خپل هغه معمول اوساتلو كوم چې د نبى كريم ﷺ او د هغوى نه پس د حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه وو.الله تعالى ته ښۀ معلومه ده چې زۀ ددې مال په معامله كښې رښتونې، نيک،هدايت يافته او د حق تابع يم.

"بار"راء مشدده سره،د برير نه دې،ددې معنى ده نيک.

"إمارتى"د همزه كسرې سره،خلافت او حكومت ته وائى.يو بل لفظ دې أمارة د همزه د فتحې سره،د هغې معنى ده علامت او نشانى(١)

د كتاب الاعتصام په روايت،چې د عقيل ابن شهاب د طريق نه دې،كښې "فقال ابوبكر:أنا ولى......فعمل فيها بما عمل رسول الله صلى الله عليه وسلم" الفاظو نه پس دا كلمات هم موندلې شى، "واتما حينئذ.واقبل على على وعباس.تزعمان أن أبابكر كذا وكذا"(٢)او د مغازى د شعيب بن ابى حمزه په روايت كښې د "تذكران أن أبابكر فيه كما تقولان"(٣) الفاظ دى.ددې دواړو روايتونو نه واضح روايت هغه دې كوم چې په مسلم شريف كښې دې.په هغې كښې په دې دواړو روايتونو كښې مذكور د مبهم كلماتو وضاحت هم كړې شوې دې چې د"كذا وكذا"او "كما تقولان"مراد څۀ دې،په دې روايت كښې مذكوره اضافه لاندې ذكر كولې شى.

"فجئتما،تطلب ميراثك من ابن أخيك،ويطلب هذا ميراث امراته من أبيها،فقال أبوبكر:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:"ما نورث،ماتركنا صدقة"،فرايتماه كاذبا آثما غادرا خائنا"(٤)

ددې درې واړو طرق نه دا لاندې فائدې مستنبط شوې:

① ددې حديث مدار چونكه امام زهرى دې نو په دې سلسله كښې د هغوى كار دادې چې هغوى د مذكوره كلماتو،كوم چې د ابوبكر صديق رضی الله عنه په باره كښې اووئيلې شو،روايت به كله صراحةً كوو،كله به ئې مبهم كلمات استعمالول،هم دا حال د حضرت مالک ابن اوس هم دې چې كله صراحت كوى او كله كنايه كوى.

② هم دا روايت اسماعيلى وغيره هم درج كړې دې،د هغوى د بشر بن عمر په طريق كښې دا كلمات بالكل نشته،محذوف دى،ددې مثال هم هغه دې كوم چې د روايت په ابتداء كښې

---

(١) ارشاد السارى:(١٩٥/٥)_

(٢) صحيح البخارى،كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة،باب مايكره من التعمق.......رقم(٧٣٠٥)_

(٣) صحيح البخارى،كتاب المغازى،باب حديث بنى النضير،ومخرج رسول الله.......رقم(٤٠٣٣)_

(٤) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب حكم الفئ،رقم(٤٥٧٧)_

دې چې حضرت عباس رضی الله عنه حضرت علی رضی الله عنه ته بد رد وئیلې وو، په دې کښې تاویل هم هغه دې چې غوره او بهتره خبره هم ددې کلماتو حذف کول دی[۱]

قوله: ثم جئتماني تكلماني، وكلمتكما واحدة، وامركما واحد، جئتني يا عباس تسألني نصيبك من ابن اخيك، وجاءني هذا ـ يريد عليا ـ يريد نصيب امراته من ابيها: بیا تاسو دواړه ماته په دې معامله کښې ماسره خبره کولو دپاره راغلئ، ستاسو دواړو خبره یوه وه او معامله هم یوه وه، ائې عباس! ته ماته د خپل ورارهٔ (صلی الله علیه وسلم) حصه اخستلو دپاره راغلې او دې (علی) هم ماته راغئ چې دوی ته د خپلې بی بی حصه ورکړې شی۔

د باب حدیث او امام عبدالرزاق: علامه عقیلی[۲] نقل کړې دی چې امام عبدالرزاق بن همام، چې مشهور محدث، صاحب د مصنَف او د اصحاب سته راوی دې، هغوی دې مقام ته رارسیدو باندې یوه ډیره بې مناسبه جمله استعمال کړه، اګرچه دا وئیلې کیږی چې دا جمله هغوی د حضوراقدس صلی الله علیه وسلم د محبت نه د مجبوره کیدو په وجه وئیلې ده لیکن بهرحال د حضرت عمر رضی الله عنه په باره چونکه دا جمله استعمال شوې ده او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چې د حضوراقدس سره کوم تعلق او د زړهٔ ترون وو نو هغه معلوم او مشهور دې، په دې وجه د امام عبدالرزاق په دې جمله باندې د افسوس د اظهار نه سوا بله څهٔ لاره نشته۔

هغه حضرت عمرفاروق باندې تنقید کښې لیکی: "انظر الى هذا الانوك، يقول: من ابن أخيك، من أبيها، لايقول: رسول الله صلى الله عليه وسلم" (اللفظ للذهبى)[۳]

پورته چې کوم روایت تیر شو، په هغې کښې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د نبی کریم ذکر حضرت عباس سره اوکړو نو ابن اخيك ئې اوفرمائیل او حضرت علی سره ئې اوکړو نو يريد نصيب امراته من أبيها ئې اوفرمائیلو، په دې باندې امام عبدالرزاق خفه شوې دې چې دې بیوقوف ته اوګوره! حضور اقدس په من ابن اخيك او من ابيها سره رابلی او د رسول الله الفاظ نهٔ لولی۔

أنوك بیوقوف ته وئیلې شی، په دې کلام کښې ددې نه مراد حضرت عمر رضی الله عنه دې دا لفظ نوك د ينوك نوكا ونواكا (س) نه مشتق دې، د أنوك جمع نوك او نَوكَی راځی[۴]

علی بن عبدالله بن مبارک صنعانی وائی چې زید بن المبارک به د امام عبدالرزاق د حدیث

---

[۱] فتح الباری: ۶/۲۰۶۔

[۲] الضعفاء الکبیر: ۳/۱۱۰۔

[۳] میزان الاعتدال: ۲/۶۱۱۔

[۴] القاموس الوحید، باب النون، مادة نوک، والنهاية للجزری: ۵/۱۲۹، باب النون والواو......وغريب الحديث للخطابی: ۲/۱۴۹، وتاج العروس: ۲۷/۳۷۸، مادة (ن و ک))۔

په مجلسونو کښې پابندۍ سره شرکت کوو او د هغۀ نه به ئې ښۀ روایتونه نقل کول لیکن بیا د عبدالرزاق نه نقل کړې شوې ټول کتابونه زید بن المبارک اوسیزل او د محمد بن ثور حلقو ته به تلو. چا ترینه د وجې تپوس اوکړو نو وې فرمائیل چې مونږ یو ځل د هغۀ په درس کښې شریک وو چې هغۀ د ابن الحدثان حدیث(د باب حدیث)روایت کړو. چې کله د حضرت عمر رضی الله عنه دې کلماتو فجئت أنت تطلب میراثك من ابن اخیك......ته راورسیدۀ نو پورته ذکر کړې شوې کلمات ئې اووئیل أنظر إلی هذا الانوك.....زید بن المبارک فرمائی چې زۀ د هغۀ د مجلس نه پاسیدم او دوباره د هغۀ طرفته لانۀ ړم او نۀ اوس د هغۀ نه روایت کوم[1]

حافظ شمس الدین ذهبی په میزان الاعتدال کښې ددې حکایت نقل کولو نه پس دا وئیلې دی چې اول خو دا کلام مرسل دې، ددې په ثبوت کښې اشکال دې چې عبدالرزاق دا خبره کړې هم ده که نه

که اومنلې شی چې دا خبره هغوی کړې ده نو بیا د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه له طرفه حافظ ذهبی په جواب کښې فرمائی چې حضرت عمر رضی الله عنه دلته د اصحاب المیراث په ژبه کښې خبره کړې ده لکه د هغوی مقصد "من ابن أخیك" وئیلو سره هغه د میراث تعلق ښکاره کول وو ځکه چې حضرت عباس رضی الله عنه په عصبه کښې داخل وو او "من ابیها" وئیلو سره د حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها د نیمې حصې ذکر مقصود وو، چې کله لور یواځې وی نو هغه د پلار په میراث کښې د نیمې وارثه وی. په دې وجه هغوی د اصحاب المیراث په ژبه کښې "من ابن أخیك" او "من أبیها" وئیلې دی. خدانخواسته تحقیر خو ترې نه هډو هم نۀ دې مقصود.

"قلت: فی هذه الحکایة إرسال، والله أعلم بصحتها، ولا اعتراض علی الفاروق رضی الله عنه فیها، فانه تکلم بلسان قسمة الترکات"[2]

په میزان الاعتدال کښې خو ذهبی د امام عبدالرزاق څۀ حده پورې دفاع کړې ده لیکن په سیر کښې هغوی امام عبدالرزاق لره هم په دغه مذکوره کلماتو باندې د سخت تنقید نشانه کړې دې، د هغې وجه ښکاره ده ځکه چې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په دې حدیث کښې هر ځائې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم عظمت او توقیر سره ذکر کړې دې او موقع په موقع ئې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تقلید او د اتباع ذکر کړې دې، په دې وجه دا ولې په بې ادبۍ او ګستاخۍ باندې حمل کولې شی؟او مونږ دا هم وایو چې چا دا په بې ادبۍ باندې حمل کړې ده هغه یا خو په خپله مغلوب الحال دې یا هغۀ په خپله د بې ادبۍ ارتکاب کړې دې.

لکه حافظ ذهبی په سیر کښې لیکی: "قلت: هذه عظیمة، وما فهم قول أمیر المؤمنین عمر، فانك یاهذا، لوسکت، لکان أولی بك، فان عمر انما کان فی مقام تبیین العمومة والبنوة، والا فعمر رضی الله عنه أعلم بحق

---

[1]) کتاب الضعفاء الکبیر للعقیلی:۳/۱۱۰، ومیزان الاعتدال:۳/۶۱۱، وسیر اعلام النبلاء:۹/۵۷۲)_

[2]) میزان الاعتدال:۳/۶۱۱)_

المصطفى و بتوقيره وتعظيمه من كل متحذلق(١)، متنطع(٢)، بل الصواب أن نقول عنك: انظروا إلى هذا الانوك الفاعل. عفاالله عنه. كيف يقول عن عمر هذا، ولا يقول: قال أمير المؤمنين الفاروق؟! وبكل حال فنستغفر الله لنا ولعبد الرزاق، فانه مامون على حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم، صادق"(٣)

قلت لكما: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لانورث ماتركنا صدقة

هغه وخت ما تاسو دواړو ته وئيلې وو چې نبی کریم ﷺ فرمائیلې دی چې زمونږ په ترکه کښې میراث نهٔ جاری کیږی، مونږ چې کومه ترکه پریږدو نو هغه صدقه ده.

د نبی کریم د فرمان "لا نورث ماتركنا صدقة" څهٔ تشریح خو مونږددې باب د حدیث په شروع کښې بیان کړې وه چې په دې مسئله کښې د اهل سنت مسلک دادې چې دا حکم صرف د نبی ﷺ سره خاص نهٔ دې بلکه ټول انبیاء کرام ددې حکم په عموم کښې داخل دی، صرف حسن بصری رحمه الله او ورسره ابن علیه رحمه الله (٤) دې لره د نبی ﷺ سره خاص کوی.

او د شیعه امامیه (عليهم لعائن الله والملائكة والناس اجمعين) عقیده داده چې د عامو خلقو په شان د انبیاء کرامو ﷺ په مال کښې هم میراث تقسیمیږی او په حدیث شریف کښې مختلف قسم لرې لرې تاویلات کوی، مونږ لاندې د اهل علم دپاره یو واقعه ذکر کوو، چې د خوند سره سره د لوې فائدې نه هم خالی نهٔ ده.

د ابن شاذان او د ابن المعلم مناظره: علامه باجی د ابوجعفر سمنانی په حوالې سره لیکلی دی چې ابوعلی بن شاذان چې لوئې عالم او امام وو لیکن هغوی ته په عربی علومو باندې مهارت حاصل نهٔ وو، هغوی په دې پورته مسئله باندې د امامیه یو عالم ابوعبدالله بن المعلم سره مناظره اوکړه چې د خپل وخت د امامیه د امام کیدو سره سره ورته په عربی علومو باندې هم لوې مهارت حاصل وو.

ابن شاذان په خپل موقف باندې د نبی کریم ﷺ دا حدیث مبارک پیش کړو:

"إنا معاشر الانبياء، لانورث، ماتركنا صدقة"(٥)

---

(١) دا لفظ د تحذلق نه مشتق دې، ددې معنی ده پوتې ایشتل (یعنی لونې لونې خبرې کول. مترجم) د المتحذلق معنی شوه پوتې ایشتونکې: القاموس الوحيد، باب الحاء، مادة حذلق").

(٢) ددې لفظ معنی ده غالی، د حد نه تجاوز کوونکې وغیره، د نبی کریم د حدیث هلك المتنطعون" [مسلم، رقم (٦٧٢٥)، وابو داود، رقم (٤٦٠٨)] په شرح کښې علامه ابن الاثير جزری فرمائی "هم المتعمقون، المغالون فى الكلام، المتكلمون باقصى حلوقهم، ماخوذ من النطع، وهو الغار الاعلى من الفم، ثم استعمل فى كل تعمق، قولا وفعلا". انظر النهاية: ٥/ ٧٤، باب النون مع الطاء).

(٣) سير أعلام النبلاء: ج ٩ ص ٥٧٢-٥٧٣).

(٤) المنتقى: ٩/ ٥٠٠-٥٠١، تلخيص الحبير: ٢/ ٢٨٥، كتاب النكاح، الواجبات، رقم (١٤٥٩)، دارالكتب، والاوجز: ١٧/ ٥٣٥، والتعليق المجد: ٣١٩، كتاب الفرائض، باب النبي صلى الله عليه وسلم هل يورث؟).

(٥) سنن النسائى الكبرى، كتاب الفرائض، ذكر مواريث الانبياء، رقم (٦٣٠٩)، والكامل لابن عدى: ٢/ ٨٦، رقم (٣٠٧)

په دې باندې ابن المعلم په جواب کښې اووئيل چې دا کلمه د "صدقة" منصوب ده د حال واقع کيدو په وجه، چې ددې تقاضه داده چې نبي کريم کوم څيزونه د صدقې په طور پريخودلې وو نو په هغې کښې به ميراث نۀ جارى کيږى. د هغې به څوک وارث نۀ وى. ددې نه مونږ هم منع نۀ کوو، البته کوم څيزونه چې ئې د صدقې په طور نۀ دى پريخودلې نو په هغې کښې به ميراث جارى کيږى.
ابن المعلم دا استدلال دې دپاره کړې وو چې هغۀ ته دا خبره معلومه وه چې ابن شاذان په عربى علومو باندې ډير نۀ پوهيږى او په دې کښې ډير مهارت نۀ لرى او نۀ د حال او د غير حال فرق باندې پوهيږى، ليکن ددې هرڅۀ باوجود ابن شاذان ابن المعلم لره لاجواب کړو. هغه داسې چې ابن شاذان ابن المعلم ته اووئيل ستا گمان دادې چې دا لفظ د"صدقة" منصوب دې او تۀ دا وائې چې کوم څيزونه نبى کريم ﷺ د صدقې په طور پريخودلې وى په هغې کښې مونږ هم تاسو سره موافق يو چې په هغې کښې ميراث نۀ جارى کيږى ليکن واؤره! ماته د نصب او د رفع فرق معلوم نۀ دې دغه شان په دې مسئله کښې د نصب او د رفع په فرق باندې د ځان پوهولو ضرورت هم نۀ محسوسوم البته يو خبره ده چې نۀ په هغې کښې ماته څۀ قسم شک شته او نۀ تا ته چې حضرت فاطمه رضي الله عنها افصح العرب وه. دغه شان "صدقة" منصوب دې يا مرفوع، په دې باندې هم د ټولو نه زياته پوهيدله، هم دا صورت د حضرت عباس رضي الله عنه هم دې هغه هم په ميراث کښې مستحق وو. که نبى موروث وو، هم دغه حال د حضرت على رضي الله عنه هم دې ځکه چې د هغوى شمار هم د قريشو په فصيحو علماؤ کښې کيږى بلکه د هغوى نه هم په مرتبه کښې اوچت او لوئې وو.
او واؤره! چې کله حضرت فاطمه رضي الله عنها د خپلې حصې طلب کولو دپاره حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته تشريف راؤړلو نو هغوى چې حضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنها ته کوم جواب ورکړو، ددې نه هغوى هم دا اوگنړل چې د نبى ﷺ په ميراث کښې هغوى دپاره هيڅ هم نشته او د خپلې دعوې نه وروستو شوه، هم دغه شان حضرت عباس رضي الله عنه هم دا اوگنړل، هم دغه شان حضرت على رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم اوگنړل، په هغوى کښې چا هم دا اعتراض اونکړو کوم اعتراض چې تاسو کوئ. دغه شان حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه چې ددې حديث نه کوم استدلال کوى نو هغوى هم ددې حديث دا مفهوم نۀ اخلى کوم چې تاسو اخلئ، بلکه د هغوى مقصد هم د ممانعت تقاضه ښکاره کول دى، حال دادې چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په اهل عربو کښې دفصيح اولوئې عالم کيدو کښې دچا هم څۀ اختلاف نشته، که دحديث کلماتو په ممانعت باندې دلالت نۀ کوو نو دا به هغوى هيڅکله په دليل کښې پيش کړې نۀ وو.
اوس دوه صورتونه دى، صدقة منصوب دې لکه څنگه چې ستاسو دعوى ده ليکن ددې نه هغه مفهوم او مطلب چاهم نۀ دې اخستلې کوم چې تاسو اخلئ، حالانکه دغه ټول حضرات د عربو فصيح خلق وو لهذا د نصب تقاضه هم هغه ده چې کومه دغې حضراتو گنړلې وه چې ميراث نۀ جارى کيږى، په دې وجه ستاسو دعوى باطله ده.
يا دا لفظ مرفوع دې، داسې کيدل پکار هم دى او هم دغه شان مروى هم دې په دې وجه په

دي كښې د نصب دعوى باطله ده. (۱)

فلما بدا لى أن أدفعه إليكما،قلت:إن شئتما دفعتها إليكما،على أن عليكما عهدَالله وميثاقه لتعملان فيها بما عمل فيها رسول الله صلى الله عليه وسلم وبما عمل فيها أبوبكر، وبما عملت فيها منذ وليتها،فقلتما:ادفعها ألينا،فبذلك دفعتُها إليكما،فأنشدكم بالله،هل دفعتها إليهما بذلك؟قال الرهط:نعم

چې هركله زما سينه په دې خبره كهلاؤ شوه چې دا مال تاسو دواړو ته حواله كړم نو ما تاسو ته وئيلي وو چې كه تاسو دواړه غواړئ نو دا مال تاسو ته حواله كوم په دې شرط چې د الله تعالى د عهد او د وعدې پابندى به په تاسو باندې لازم وى چې تاسو دواړه به ددې زمكو په خدمت كښې هغه معمول اختياروئ كوم معمول چې د نبى كريم ﷺ وو.كوم چې د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وو او كوم معمول او طريقه چې زما راروانه ده د كوم وخت نه چې ما ددې ذمه دارى قبوله كړې ده.نو(هغه وخت)تاسو دواړو وئيلي وو چې(په دې شرط باندې)دا زمكې مونږ ته حواله كړه لهذا ما په دې شرط باندې تاسو دواړو ته دا زمكه حواله كړې وه.زۀ تاسو ته د الله تعالى واسطه دركولو سره ستاسو نه تپوس كوم چې آيا ما دا زمكې دې دواړو(حضرت على و عباس)ته په دې شرط باندې حواله كړې وې؟د صحابه كرامو رضي الله عنهم جماعت اووئيل،آوجى!هم دغه شان وه.

مطلب دادې چې دا زمكې ددې دواړو حضراتو په حواله باندې د تمليک په غرض سره نۀ وې شوې بلكه د تصرف او د فائدې په غرض سره ورته حواله كړې شوې وې چې تاسو دواړه په دې كښې تصرف كولې شئ او څومره چې ستاسو دواړو حق دې د هغې په اندازه ددې زمكو نه فائده هم حاصلولې شئ ځكه چې ددې صدقو تمليک په هيڅ طريقې سره نۀ شى كيدې،دا حرام دى(۲)

ثم أقبل على على وعباس،فقال:أنشدكما بالله،هل دفعتها إليكما بذلك؟قالا:نعم،قال:فتلتمسان منى قضاء غير ذلك؟فوالله الذى باذنه تقوم السماء والارض،لا اقضى فيها قضاء غير ذلك،فان عجزتما عنها فادفعاها الى،فانى اكفيكماها.

بيا حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت على رضي الله عنه او حضرت عباس رضي الله عنه طرفته متوجه شو،وې فرمائيل زۀ تاسو ته د الله تعالى واسطه دركولو سره ستاسو نه تپوس كوم چې آيا دا زمكې ما تاسو دواړو ته په دې شرط باندې حواله كړې نۀ وې؟دواړو حضراتو اووئيل،او جى!حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل،اوس تاسو د تيرې شوې فيصلې نه اوړئ او ما باندې بله څۀ فيصله كول غواړئ؟نو واورئ!قسم دې د هغه ذات چې د هغۀ په حكم سره زمكې او آسمانونه قائم دى،زۀ به په دې زمكو كښې ددې نه علاوه هيڅ فيصله نۀ كوم كه تاسو دواړه

---

(۱) أوجز المسالک:۱۷/۵۳۵-۵۳۶،والمنتقى:۹/۵۰۰،كتاب الجامع من الموطا)_

(۲) ارشادالسارى:۵/۱۹۵)_

ددې زمكو په خدمت او خيال كولو باندې تنګ شوې ئې نو دا ماته واپس كړئ.زۀ به ستاسو دواړو له طرفه ددې زمكو دپاره يواځې كافي شم.

يو اشكال او د هغې جواب دلته اشكال دا كيږى چې د حضوراقدس ﷺ ارشاد دې "لا نورث، ما تركنا صدقة" نو حضرت عباس رضي الله عنه و حضرت على رضي الله عنه دا كلام د حضوراقدس ﷺ نه اوريدلى وو يا د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه نه.دې دواړو د نبى ﷺ دا حديث اوريدلى وو .لكه څنګه چې هغوى په خپله د باب په حديث كښې د اوريدلو تصديق كړې دې كه دا اووئيلې شى چې د نبى كريم ﷺ نه ئې دا حديث اوريدلې وو نو حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته د ميراث د طلب كولو دپاره ولې ورغلې وو او كه دا اووئيلې شي چې د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه نه ئې دا حديث اوريدلې وو نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته د ميراث د طلب دپاره ولې ورغلل څكه چې دا خو د حديث شريف خلاف ورزى ده؟

ددې جواب دا دې چې دې حضراتو دا حديث مبارک اوريدلې وو.په دې باندې د دوى عمل هم وو ليكن ددې حضراتو موقف او نقطه نظر دا وه چې د حضوراقدس ﷺ ميراث به په منقولى څيزونو كښې نۀ جارى كيږى البته په غيرمنقولى څيزونو كښې به جارى كيږى.نو په دې وجه اول دا حضرات حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته ورغلل او هغوى انكار اوكړو چونكه د هغوى رائې دا وه چې دا حكم عام دې.منقولى او غير منقولى دواړو او ټولو پريخودلې شوې څيزونو ته شامل دې نو چې كله د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه انتقال اوشو او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دور راغئ نو د دوى خيال شو چې دوى طرفته به رجوع اوكړو.ممكنه ده چې د دوى مؤقف هم هغه وى كوم مؤقف چې زمونږ دې ليكن حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم د "لا نورث،ماتركنا صدقة" په عموم باندې عمل اوكړو او دې حضراتو ته ئې د ميراث نه د څۀ وركولو نه انكار اوكړو[1]

يو سوال او د هغې جواب: البته دلته دويم سوال ذهن كښې دا پيدا كيږى چې حضرت عمر رضي الله عنه هركله دا دواړه حضرات يوځل منع كړې وو چې زۀ دا پريخودلې شوې څيزونه د ميراث په طور تقسيمولې نۀ شم نو دوباره دا حضرات د حضرت عمر رضي الله عنه دربار ته ولې راغلل؟

ددې جواب امام دارقطنى د قاضى اسماعيل په حوالې سره دا وركړې دې چې دا دوباره راتلل د ميراث دپاره نۀ وو .بلكه ددې مقصد ددې جهګړې دفع كول وو چې كومه جهګړه ددې دواړو حضراتو(حضرت على رضي الله عنه و حضرت عباس رضي الله عنه)مينځ كښې ددې زمكو په تصرف او ولايت كښې شوې وه[2]

واقعه اصل كښې داده چې دا دواړه حضرات كله د حضرت عمر رضي الله عنه خوا ته په اول ځل باندې راغلل نو حضرت عمر رضي الله عنه دوى د ميراث وركولو نه خو منع كړې وو ليكن د صدقاتو

---

[1]) فتح البارى:۲۰۷/۶)_

[2]) فتح البارى:۲۰۷/۶،وبمثله قال الخطابى ايضاً.انظر اعلام الحديث:۱۴۴۰/۲_۱۴۴۱،وعمدة القارى: ۲۵/۱۵،والتمهيد لابن عبدالبر:۱۶۸/۸)_

دغه زمکې ئې د تصرف او د خیال ساتلو په غرض سره دوی ته حواله کړې وې چې ددې انتظام به دا تړهٔ او وراړهٔ کوی او دا زمکې به سمبالې کړی.تړهٔ حضرت عباس رضي الله عنه وو او وراړهٔ حضرت علی رضي الله عنه وو لیکن په مزاج کښې اختلاف وو.حضرت علی رضي الله عنه سخی سړې وو او د ضرورت او حاجت دپاره د مال د جمع کولو به ئې څهٔ اهتمام او پرواه نه کوله او حضرت عباس رضي الله عنه مدبر او د سوچ خاوند وو او دنیا ئې لیدلې وه.هغوی به بې ځایه د مال خرچ کول نهٔ خوښول نو څو څو ځله دغه شان اوشو چې یوځائې حضرت علی رضي الله عنه خرچ کول غواړی او حضرت عباس رضي الله عنه مزاحمت کوی،یوځائې حضرت عباس رضي الله عنه مال محفوظ کول غواړی او حضرت علی رضي الله عنه په خرچ کولو باندې اصرار کوی.

ددې اختلاف په وجه باندې دا حضرات بیا حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلل او د هغوی په وړاندې ئې خپله مسئله پیش کړه او وې وئیل چې تاسو نیمې نیمې زمکې مونږ ته راکړئ، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه انکار اوکړو.

د انکار څهٔ وجه وه؟:اوس سوال دا پیدا کیږی چې ددې دواړو حضراتو مطالبه خو په ظاهره معقوله وه چې دا زمکې دې د تصرف دپاره نیمې نیمې تقسیم کړې شی.ددې باوجود حضرت عمر رضي الله عنه ولې انکار اوکړو؟

ددې جواب امام ابوداؤد ورکړې دې چې اصل کښې د حضرت عمر رضي الله عنه په وړاندې دا خبره وه چې دا زمکه تقسیمېدل پکار نهٔ دی ځکه چې دا څوک اونهٔ وائی چې نیمه خو ئې حضرت عباس رضي الله عنه ته ورکړه او نیمه ئې حضرت علی رضي الله عنه ته ورکړه او زمکه ئې تقسیم کړه.چونکه په دې باندې د تقسیم اطلاق اوشی نو خلق به صبا وائی چې هغه خو په میراث کښې تقسیم شوې وه او حضرت عمر رضي الله عنه د تقسیم د لفظ اوریدلو دپاره بالکل تیار نهٔ وو،په دې وجه دوی صفا انکار اوکړو اوقسم ئې اوخوړلو چې داسې نهٔ شی کیدې،که تاسو ددې خدمت او خیال نهٔ شئ ساتلې نو واپس ئې کړئ،دا معاملات به زهٔ جاری ساتم،تاسو خپل کار کوئ[1]

د عمر بن شبه د روایت په آخره کښې دا الفاظ راغلې دی،"**فاصلحا أمركما،و الا لم يرجع. والله. اليكما،فقاما و تركا الخصومة،و امضيت صدقة**"[2] چې حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چې "خپل معاملات صحیح ساتئ،ورنه په خدائې قسم دا به تاسو دواړو ته حواله نهٔ کړې شی". ددې په اوریدلو سره دواړه حضرات پاسیدل،جهګړه ئې ختمه کړه او ددې زمکې د صدقې والا حیثیت برقرار پاتې شو.

---

[1]) قال ابوداود: إنما ان يكون يصيره بينهما نصفين،لا أنهما جهلان أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لا نورث،ما تركنا صدقة"فانهما كانا لا يطلبان الا الصواب،فقال عمر: لا أوقع عليه اسم القسم،أدعه على ماهو عليه".انظر سننه،كتاب الخراج.......باب فى صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم،رقم٢٩٦٣)،دغه شان اوګورئ: عمدة القارى:٢٥/١٥، وفتح البارى:٢٠٧/٦، ارشاد السارى:١٩٥/٥،وتحفة البارى:٣/ ٥٣٤)_

[2]) فتح البارى:٢٠٧/٦،واخبارالمدينة لابن شبة:١٣٠/١،خصومة على والعباس......رقم(٥٧١))_

وروستو بیا[1] دا زمکه حضرت علی رضی الله عنه ته راغلې وه، د هغوی نه پس د حضرت حسن رضی الله عنه بیا د حضرت حسین رضی الله عنه، بیا د حضرت علی بن الحسین (زین العابدین) رحمه الله بیا د حسن بن حسن رحمه الله، بیا د زید بن حسن رحمه الله په تصرف کښې راغلې وه، دې حیثیت سره چې دا د صدقې زمکه ده[2]، معمر فرمائی چې د زید بن حسن نه پس دا زمکه د عبدالله بن حسن په تصرف کښې راغلې وه تردې چې دا خلق یعنی بنوالعباس امیران جوړ شو نو هغوی په دې باندې قبضه اوکړه[3]

د عمر بن شبه د قول مطابق دا زمکه نن صبا د خلیفه په تصرف کښې ده، هم هغه ددې دپاره نګران مقرروی او د مدینې منورې په حاجتمندو کښې ددې پیداوار تقسیموی، ددې کار دپاره هغهٔ جدا وکیلان مقرر کړې دی[4]

حافظ فرمائی چې عمر بن شبه د کومو ورځو خبره کوی نو هغه د دویمې صدئ هجرئ آخری ورځې دی، بیا معاملات خراب شو.

قوله: "کان ذلك علی رأس المأتین، ثم تغیرت الامور، والله المستعان":[5]

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حدیث په مناسبت کښې هم هغه تفصیل دې کوم چې مونږ وړاندې د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها په حدیث کښې بیان کړو چې په کومو زمکو او صدقاتو کښې دې حضراتو د میراث مطالبه کوله، په هغې کښې د خیبر خمس هم شامل وو، دغه شان ترجمة الباب سره ددې حدیث مناسبت هم موجود دې[6]

یو اهمه فائده: د بعضې خلقو خیال دې چې امام زهری ددې حدیث په روایت کښې متفرد دې، د هغوی نه علاوه د بل چا نه دا روایت منقول نهٔ دې، علامه ابوعلی کرابیسی فرمائی یو قوم ددې روایت انکار کړې دې، د هغې خلقو دا وینا ده چې دا روایت د ابن شهاب په مستنکر روایتونو کښې دې البته دا خبره صحیح نهٔ ده، ددې وجې نه دلته دوه صورتونه دی:

① دې معترضینو ته که چرته دا خبره معلومه ده چې زهری دلته متفرد نهٔ دې نو دا ممکن نهٔ ده (بلکه دوی ته بنهٔ معلومه ده چې متفرد نهٔ دې).

② که دوی ته معلومه نهٔ ده نو دا جهل دې، د جاهل سړی اعتراضات معتبر نهٔ وی.

[1]) دا د عثمانی دور خبره ده، قاله اسماعیل القاضی، فتح الباری: ۲۰۷/۶)_

[2]) فکانت هذه الصدقة بید علی، منعها علی عباسا، فغلبه علیها، ثم کان بید حسن بن علی، ثم بید حسین بن علی، ثم بید علی بن حسین، وحسن بن حسن، کلاهما کانا یتداولانها، ثم بید زید بن حسن...... ۳انظر صحیح بخاری، کتاب المغازی، باب حدیث بنی النضیر......رقم(۴۰۳۴))_

[3]) مصنف عبدالرزاق: ۳۲۷/۵، کتاب المغازی، خصومة علی والعباس، رقم (۹۸۳۵)، واخبارالمدینة: ۱/ ۱۳۰، رقم(۱۷۲))_

[4]) فتح الباری: ۲۰۷/۶، وکتاب اخبارالمدینة: ۱۳۵/۱، رقم(۵۸۰))_

[5]) فتح الباری: ۲۰۸/۶)_

[6]) عمدة القاری: ۲۳/۱۵، وفتح الباری: ۲۰۸/۶، وشرح ابن ابطال: ۲۵۲/۵)_

بيا امام كرابيسى د هغه حضراتو نومونه شمارلي دى كومو چي دا حديث د حضرت مالك بن اوس نه روايت كړې دې يعنى عكرمه بن خالد، ايوب بن خالد، محمد بن عمرو بن عطاء ﷭ وغيره وغيره.
په دې وجه بالكل د روايت انكار كول او امام زهرى لره ننبه ګرځول بالكل صحيح نۀ ده[۱] والله اعلم بالصواب

د حديث شريف نه مستنبطې فائدې: ①د حديث نه يو دا خبره معلومه شوه چې د هيڅ يو قبيلې يا جماعت يا ډلې د معاملاتو وغيره ذمه دارى د هغوى سردارانو يا د حيثيت خاوندانو ته حواله كول پكار دى، ځكه چې هغوى دغه ټول كسان پيژنى كوم كسان چې د هغوى ماتحت وى، دغه شان د هر سړى څومره حق دې نو دا هم د هغوى په علم كښې وى.

②دغه شان د حديث شريف ددې خبرې جواز هم معلوميږى چې كه امام يو سړى ته ذمه دارى حواله كړى نو په نرم كلامئ سره دا ذمه دارى د خپل ځان نه د جدا كولو كوشش كوى، په دې كښې هيڅ قباحت نشته (په دې شرط چې د ذمه دارئ اهل بل څوك موجود وى، ورنه بيا صحيح نۀ ده)

③ سړې خپل تعريف او صفات بيانولې شى په دې شرط چې رښتيا وى.

④دا خبره هم معلومه شوه چې سړې د خپل ځان او خپل اهل وعيال دپاره غله ذخيره كولې شى اګرچه هغه د ټول كال دپاره وى، دا كار د توكل خلاف نۀ دې ځكه چې ښكاره خبره ده چې د نبى كريم ﷺ نه زيات نور څوك متوكل كيدې شى!

په دې كښې د هغه جاهل صوفيانو رد اوشو چې مذكوره عمل لره د توكل خلاف منى، علامه ابن ابطال فرمائى:

"وفيه جواز ادخار الرجل لنفسه واهله قوت السنة، وان ذالك كان من فعل الرسول حين فتح الله عليه من النضير وفدك وغيرهما، وهو خلاف قول جهلة الصوفية، المنكرة للادخار، الزاعمين: أن من ادخر فقد اساء الظن بربه، ولم يتوكل عليه حق توكله"[۲]

⑤ د حديث نه دا هم معلومه شوه چې كه په واقعه او معامله كښې په حاكم باندې د هغې حقيقت واضح او كهلاؤ شى چې حق دادې نو هغۀ ته په هغې باندې عمل كول پكار دى، د هغې تقاضې ته كتل پكار دى، د بل چانه په دغه معامله كښې د رائې اخستلو ضرورت نشته[۳]. والله اعلم بالصواب

---

[۱]) فتح البارى:۶/۲۰٤)_
[۲]) شرح ابن ابطال:۵/۲۵٤،وعمدة القارى:۱۵/۲۶)_
[۳]) العمدة:۱۵/۲۶،والفتح:۶/۲۰،وابن ابطال:۵/۲۵٤ـ۲۵۵،والتمهيد لابن عبدالبر:۸/۱۷۶)_

(۲) باب: أَدَاءُ الْخُمُسِ مِنَ الدِّينِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاري دا فرمائي چې د خمس ادا كول د دين يو حصه ده او د دين په شعبو كښې يو اهمه شعبه ده[۱]

د ترجمې د تكرار اشكال او د هغې جواب: مصنف په كتاب الايمان كښې يو ترجمه قائمه كړې وه، "باب اداء الخمس من الايمان"[۲] او دلته ترجمه د "اداء الخمس من الدين" ده، دغه شان دا خبره هم په كتاب الايمان كښې تيره شوې ده چې امام بخارى د ايمان، اسلام او د دين وغيره د ترادف قائل دې[۳] ددې وجې نه دلته د ترجمې د تكرار اشكال كيږى چې ايمان او دين يو خيز دې؟

د اشكال جواب دادې چې دلته د حيثيتونو فرق دې، په كتاب الايمان كښې ئې چې كومه ترجمه قائمه كړې وه د هغې غرض د ايمان امور بيانول وو، هلته د ايمانياتو د بحث په ضمن كښې مذكوره ترجمه قائمه كړې شوې وه، ددې خائې ترجمه د مال غنيمت احكامات بيانولو دپاره ذكر كړې شوې ده چې د غنيمت د مال په تقسيم كښې خمس ويستل هم شامل دى او دا اهمه معامله ده، لكه شيخ الحديث صاحب فرمائي:

"ولايتوهم التكرار، لان المقصود هناك بيان امور الايمان، والغرض ههنا بيان اداء الخمس اهتماماله"[۴]

حيثيت چونكه بدل شوې دې، ددې وجې نه د تكرار اشكال پاتې نۀ شو.

۲۹۲۸: [۵] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ الضُّبَعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - يَقُولُ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ، بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ، فَلَسْنَا نَصِلُ إِلَيْكَ إِلاَّ فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ، فَمُرْنَا بِأَمْرٍ نَأْخُذُ مِنْهُ وَنَدْعُو إِلَيْهِ مَنْ وَرَاءَنَا. قَالَ «آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ، وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ، الإِيمَانِ بِاللَّهِ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ - وَعَقَدَ بِيَدِهِ - وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ، وَأَنْ تُؤَدُّوا لِلَّهِ خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ، وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ». [ر: ۵۳]

رجال الحديث

(۱) **ابوالنعمان**: دا ابوالنعمان محمد بن الفضل السدوسى دې د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: الدين النصيحة......" كښې تيره شوې ده[۶]

---

[۱]) عمدة القارى: ۲۶/۱۵)_
[۲]) صحيح البخارى: ۱۳/۱، قديمى كتب خانه كراچى)_
[۳]) كشف البارى: ۶۰۹/۱)_
[۴]) الابواب والتراجم: ۲۰۵/۱)_
[۵]) قوله: ابن عباس رضى الله عنهما": الحديث، مر تخريجه فى الايمان، كشف البارى: ۶۹۶/۲)_
[۶]) كشف البارى: ۷۶۸/۲)_

②**حماد**:دا حماد بن زید دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "**باب وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا.....الخ**" کښې بیان شوې دی[۱]

③**ابوحمزه**:دا ابوحمزه نصر بن عمران ضبعی دې. د دوی ترجمه په کتاب الایمان. "**باب اداء الخمس من الایمان**" کښې تیره شوې ده[۲]

④ **ابن عباس**:د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات د "بدء الوحی" لاندې تیر شوې دی[۳]
خبرداری:د حضرت ابن عباس د وفد عبدالقیس سره متعلق د باب د حدیث مکمل تشریح په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده[۴]

ترجمة الباب سره مناسبت:ترجمې سره د حدیث مناسبت په دې جمله کښې دې. "**وان تؤدوا لله خمس ماغنمتم**"[۵]

③باب: نَفَقَةِ النبی صلی الله علیه وسلم بَعْدَ وَفَاتِهِ

د ترجمة الباب مقصد:دلته امام بخاری د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس د هغوی د بیبیانو د نفقې مسئله بیانوی[۶]تفصیل وړاندې راځی.

۲۹۲۹:[۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- قَالَ «لاَ يَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا، مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمَئُونَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ».[ر: ۲۶۲۴]

رجال الحدیث

①**عبدالله بن یوسف**:دا عبدالله بن یوسف تنیسی دې.
② **مالک**:دا امام دارالهجرة حضرت امام مالک بن انس دې. ددې دواړو حضراتو تذکره د "بدء الوحی" په اولنی حدیث کښې تیره شوې ده[۸]
③ **ابوالزناد**:دا ابوالزناد عبدالله بن ذکوان دې.

---

[۱]) کشف الباری:۲/۲۱۹)_
[۲]) کشف الباری:۲/۷۰۱)_
[۳]) کشف الباری:۱/۴۳۵،و۲/۲۰۵)_
[۴]) کشف الباری:۲/۷۰۴-۷۲۹)_
[۵]) عمدة القاری:۱۵/۲۶)_
[۶]) عمدة القاری:۱۵/۲۷)_
[۷]) قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه" الحدیث،مر تخریجه فی الوصایا،باب نفقة القیم للوقف.)_
[۸]) کشف الباری:۱/۲۸۹-۲۹۰، امام مالک دپاره مزید اوګورئ:۲/۸۰)_

④ **الاعرج**: دا امام عبدالرحمن بن هرمز الاعرج دې. ددې دواړو حضراتو حالات په کتاب الایمان، "باب حب الرسول صلی الله علیه وسلم من الایمان" کښې تیر شوي دي.[1]

⑤ **ابوهریره**: د ابوهریره حالات په کتاب الایمان، "باب أمور الایمان" کښې تیر شوي دي.[2]

قوله: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لایقتسم ورثتي دینار: د حضرت ابوهریره نه روایت دې چې رسول الله فرمائیلي دی چې زما وارثان به هیڅ دینارنه تقسیموی مطلب دادې چې زما په پریخودلې شوې مال کښې به وراثت نهٔ جاری کیږی. لکه څنګه چې عموماً د نورو خلقو په وفات باندې د هغوی په متروکه مال کښې وراثت جاری کیږی.

د صحیحینو دا روایت چې د مالک عن ابی الزناد د طریق نه روایت دې، په دې کښې صرف لفظ د "دینارا" راغلې دې[3] او د مسلم شریف په یو روایت چې د ابن عیینه عن ابی الزناد د طریق نه مروی دې، هغې کښې "دینارا ولا درهما" دې[4]

د مالک عن ابی الزناد والا روایت په اعتبار سره به د حدیث معنی دا شی چې که زما مال متروکه یو دینار هم وی نو بیا هم په هغې کښې به میراث نهٔ جاری کیږی. چې ددې نه زیات وی نو بیا خو په طریقه اولی به په کښې نهٔ جاری کیږی، ددې وجې نه دا د "تنبیه بالادنی علی الاعلی" د قبیل نه دې، ددې په شان د الله تعالی دا فرمان هم دې چې (ومنهم من إن تامنه بدینار......) [5] چې په دې یهودیانو کښې داسې بدبخت هم دی چې که تاسو هغوی سره یو دینار هم د امانت په طور باندې کیږدئ نو هغوی ئې نهٔ واپس کوی. دلته هم تنبیه الادنی بالاعلی [6] ده چې کوم کس یو دینار واپس کولو ته تیار نهٔ وی، نو هغه به ددې نه زیات مال څنګه واپس کړې شی؟[7]

---

[1]) کشف الباری:۲/ ۱۰-۱۱)_

[2]) کشف الباری:۱/ ۶۵۹)_

[3]) اوګورئ، صحیح بخاری، کتاب الوصایا، باب تفقة القیم للوقف، رقم(۲۷۷۶) وکتاب الفرائض، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: لا نورث، رقم(۶۷۲۹)، ومسلم، کتاب الجهاد والسیر، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: لا نورث........رقم(۴۵۸۳))_

[4]) هذا ما قاله الحافظ رحمه الله، ولکنی لم أجد هذا اللفظ عند مسلم. والله أعلم. ثم وجدته فی التمهید لابن عبدالبر:۸/ ۱۷۳)_

[5]) آل عمران:۷۵)_

[6]) شرح التلویح علی التوضیح ۲۶۳، فصل: مفهوم المخالفة، والتقریر والتحبیر:۱/ ۱۴۸، انقسام المفهوم إلی مفهوم موافقة.......ورفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب:۳/ ۴۹۲، المطلق والمقید)_

[7]) فتح الباری:۶/ ۲۰۹، وعمدة القاری:۱۵/ ۲۷، والاوجز للکاندهلوی:۱۷/ ۵۴۸، والتمهید لابن عبدالبر: ۱۸/ ۱۷۱، وشرح الکرمانی:۱۳/ ۸۱)_

او د مسلم د ابن عیینه عن ابی الزناد والا روایت په باره کښې حافظ صاحب فرمائی چې دا زیاتوالې غوره دهٔ[1]، دا أبلغ فی النفی ده چې مال متروکه خواه درهم وی یا دینار، په هغې کښې وراثت نهٔ جاری کیږی. او ددې زیاتوالی متابعت هم په شمائل ترمذی کښې موجود دې[2]

قوله: ماترکت بعد نفقة نسائي، ومؤنة عاملي، فهو صدقة: زما د بیبیانو او زما د خلیفه د خرچ نه علاوه چې کوم مال زهٔ پریږدم هغه به صدقه وی.

د نفقهٔ نسائي وضاحت: د حضور اکرم ﷺ د وفات نه پس د هغوی په مال کښې د بیبیانو نفقه واجب وه. ددې څهٔ وجه وه، په دې کښې مختلف اقوال دی:

① ځکه چې ازواج مطهرات د نبی ﷺ په حق کښې محبوس (بندې) وې، هغوی د معتداتو په حکم کښې وې، ښکاره خبره ده چې هغوی نکاح نهٔ شو کولې نهٔ شوه[3] نو کوم سړې چې د چا په حق کښې محبوس (بندی) وی په هغهٔ باندې ددهٔ نفقه واجبه وی.

② دغه شان دا خبره هم ده چې حضور اقدس په خپل قبر کښې ژوندې دې. "إن الله حرم على الارض ان تاكل اجساد الانبياء، فنبي الله حي يرزق"[4] نو ددې وجې نه هم د سرکار دو عالم ﷺ د بیبیانو نفقه د دوی په ذمه باندې واجبه وه[5]

دلته بیا په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې لفظ د "نفقة" د ژوند ټولو ضروریاتو او لوازماتو ته شامل دې، هم دا وجه وه چې د نبی ﷺ د وفات نه مخکښې ازواج مطهرات ﷺ په کومو کورونو کښې مقیمې وې، د وفات نه پس هم هغه د هغوی په ملکیت کښې وو[6] والله أعلم بالصواب

د عامل نه څهٔ مراد دې؟: په دې کښې پنځه اقوال دی:

① ددې نه د نبی پاک ﷺ خلیفه مراد دې، حافظ ابن حجر فرمائی "وهذا هو المعتمد، وهو الذي يوافق ما تقدم في حديث عمر"[7]

---

[1] فتح الباري: ۲۰۹/۶_

[2] پورته حواله، والشمائل المحمدية، باب ماجاء في ميراث رسول الله صلى الله عليه وسلم، رقم(۴۰۴)_

[3] قال الله تعالى: (ولا ان تنكحوا ازواجه من بعده ابداً. إن ذلكم كان عندالله عظيماً) الاحزاب/۵۳_

[4] سنن ابن ماجه، كتاب الجنائز، باب ذكر وفاته و دفنه صلى الله عليه وسلم، من رواية ابى الدرداء رضى الله عنه، رقم(۱۶۳۷) والحديث صحيح، كما نبه عليه ابن حجر الامام فى التهذيب: ۳/ ۳۱۸، ترجمة زيد بن ايمن)

[5] الكرماني: ۸۲/۱۳، والعمدة: ۲۷/۱۵، والفتح: ۲۰۹/۶، والاوجز: ۵۴۸/۱۷، والديباج على مسلم: ۷۲۴/۲، دغه شان اوګورئ. خصائل نبوی اردو: ۲۵۲)_

[6] قاله السبكى والحافظ، انظر فتح البارى: ۸/۱۲، مزيد تفصيل د باب ماجاء فى بيوت ازواج النبى .... لاندې راځى_

[7] فتح البارى: ۲۰۹/۶، وعمدة القارى: ۲۷/۱۵، والاوجز: ۵۴۹/۱۷)_

چې هم دا معتمد او صحیح خبره ده، وړاندې چې کوم حدیث تیر شو د هغې موافق هم ده۔

② ددې نه عامل علی النخل مراد دې، یعنی کوم کس چې به د نبی کریم ﷺ د کهجورو د باغونو خیال ساتلو. په دې باندې ابن ابطال او امام طبری یقین کړې دې[1]

③ د نبی ﷺ قبر مبارک کنستونکی ترینه مراد دې، دا احتمال حافظ لرې ګرځولې دې۔

④ د نبی پاک ﷺ خادم تری نه مراد دې، دا د ابن دحیه قول دې۔

⑤ عامل علی الصدقات ترینه مراد دې[2]

په طاعاتو(عباداتو) باندې اجرت اخستل جائز دی: امام طبری فرمائی چې ددې حدیث نه دا فائده معلومه شوه چې هیڅ یو سړې هم چې په کوم نیک کار کښې مشغول وی او د هغې په ذریعې سره د مسلمانانو په مشقت او تکلیف کښې سپکوالې او کمې راځی، په هغوی باندې لازمه شوې ذمه واری کمیږی نو په دې باندې دې انسان ته اجرت او معاوضه اخستل جائز دی، لکه مؤذن ته په اذان وئیلو باندې اجرت اخستل او معلم ته د تعلیم اجرت اخستل جائز دی۔

دې سره چې کوم خلق په اعمالو باندې اجرت اخستلو ته حرام وائی د هغوی د قول بطلان هم ددې حدیث نه کیږی۔

ددې وجه داده چې نبی کریم ﷺ د باب په حدیث کښې خپل پریخودلې شوې مال د هغې کار ولی ته د حواله کولو حکم کړې دې، چې کوم کس به د نبی پاک ﷺ نه پس د مسلمانانو د ټولو کارونو نګران وی، هم دغه نګرانی او مصروفیت دۀ لره د مال متروکه حقدار جوړوی. ددې وجې نه اوس دا خبره واضحه شوې ده چې هر هغه سړې چې د مسلمانانو د څۀ معاملې ذمه دار وی، چې د هغې نفع ټولو خلقو ته رسیږی نو دۀ دپاره به هم هغه لاره اختیارولې شی چې کومه د نبی د عامل(ولی الامر) دپاره اختیار کړې شوې وه چې دۀ وظیفه وغیره به هم د بیت المال نه وی ترځو چې دا کس دا ذمه واری سر ته رسوی، لکه عالمان، قاضیان، د سلطنت امیران او نور ډیرهغه حضرات چې د عامو مسلمانانو په کارونو کښې مشغول دی[3]

مالونه جمع کول جائز دی: ددې نه علاوه د حضرت ابوهریره د باب په حدیث کښې ددې خبرې هم واضح دلالت دې چې الله تعالی مسلمانانو دپاره دومره قدرې مال و دولت جمع کول حلال ګرځولې دی چې د دوی او د دوی د اهل وعیال د رزق و خوراک دپاره کافی وی، چې ددې په ذریعې سره دوی د مختلف قسمه حوادثو او آفاتو مقابله کولې شی او د دوی د ضروریاتو نه زیاتی وی، د نبی کریم ﷺ خپل فعل مبارک هم دا وو چې د خپل کوروالو غیره دپاره به ئې د یو کال خرچ جمع ساتلو، دې سره سره خپله نفقه او مصرفونه هم.....او

---

[1]) شرح ابن ابطال:۲۵۹/۵، ددې قول نسبت د حافظ طبری طرفته حافظ رحمه الله کړې دې، او په شرح ابن بطال کښې ددې برخلاف(ولی الامر) قول د حافظ طبری طرفته منسوب دې۔ والله أعلم -)_

[2]) الفتح،۲۰۹/۶، والعمدة،۲۷/۱۵، والدیباج علی مسلم للسیوطی:۷۲٤/۲، والکرمانی:۸۲/۱۳)_

[3]) شرح ابن ابطال:۲۵۹/۵)_

څه به چې بچ پاتې کیدل نو هغه به ئې د مسلمانانو په نفع کښې استعمالول. اسلحه وغیره به ئې اخستله. ښکاره خبره ده چې دا ټول هرڅه یوځائې شي نو د مال ومتاع یو لویه مجموعه ده او په دې باندې بیشکه د "مال کثیر" اطلاق کیدې شي.

ددې ټول تفصیل نه دا خبره ښه معلومه شوه چې مال جمع کول جائز دی لیکن چې نیت د نورو خلقو په وړاندې د سوال د لاس خورولو نه ځان بچ کول، د نفس عزت لره برقرار ساتلو سره د نبی کریم ﷺ اقتداء وی.[1]

مال جمع کول د نهرې لوږې اختیارولو نه غوره دي: د باب د حدیث نه دا خبره هم معلومه شوه چې د مال ومتاع جمع کول د نهرې لوږې اختیارولو نه غوره دي، په دې شرط چې بنده په مال کښې هغه حقوق هم ادا کوی کوم چې د الله تعالی حقوق دی.

که نهره لوږه غوره وې نو نبی کریم ﷺ به کله هم مال و سامان وغیره جمع کړې نه وو، بلکه ورسره به چې څۀ وو نو هغه به ئې په خپلو ملګرو خصوصاً په ضرورتمندو کښې تقسیمول. په خپل ملکیت کښې به ئې هیڅ هم نۀ ساتل حالانکه حدیث مبارک ددې برخلاف دې.

ددې وجې نه ابن ابطال فرمائی:

"وان ذلك (أى اتخاذ الاموال واقتناؤها) افضل من الفقر والفاقة اذا ادى حق الله منها، ولو كان الفقر افضل لما كان الرسول يختار اخس المنزلتين عند الله على ارفعهما، بل كان يقسم امواله واصوله على اصحابه، ولا سيما بين ذوى الحاجة منهم"[2]

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت واضح دې[3] چې ترجمه د ازواج مطهرات د نفقې وه، په حدیث شریف کښې هم دا مضمون دې چې د نبی پاک ﷺ په متروکه مال کښې به د ازواج مطهرات ﷺ حصه د نفقې په طور باندې وی. والله اعلم

۲۹۳۰: (۴) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَمَا فِي بَيْتِي مِنْ شَيْءٍ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ، إِلاَّ شَطْرُ شَعِيرٍ فِي رَفٍّ لِي، فَأَكَلْتُ مِنْهُ حَتَّى طَالَ عَلَيَّ، فَكِلْتُهُ فَفَنِيَ. [۶۰۸۶]

رجال الحديث

① **عبدالله بن ابی شیبه**: دا ابوبکر عبد الله بن محمد بن ابی شیبه دې.[5]

---

[1]) شرح ابن ابطال: ۲۵۹/۵-۱۲۶۰

[2]) شرح ابن ابطال: ۲۶۰/۵)_

[3]) عمدة القاری: ۲۷/۱۵)_

[4]) قوله: عن عائشة رضی الله عنها": الحدیث، اخرجه البخاری، کتاب الرقاق ایضاً، باب فضل الفقر، رقم (۶۴۵۱)، ومسلم، اوائل کتاب الزهد، رقم (۷۴۵۱)، والترمذی، کتاب صفة القیامة، باب حدیث عائشة: توفی رسول الله......"، رقم (۲۴۶۷)، وابن ماجه، الاطعمة، باب خبز الشعیر، رقم (۳۳۴۵))_

[5]) د دوی حالات کتلو دپاره اوګوری: کتاب العمل فی الصلوة، باب لا یرد السلام فی الصلوة_

②**ابواسامه**:دا ابو اسامه حماد بن اسامه دې.د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم"کښې تیره شوې ده[1]

③**هشام بن عروه**:دا مشهور محدث حضرت هشام بن عروه دې.

④**ابیه**: د اب نه مراد حضرت عروه بن الزبیر بن العوام دې.

⑤**عائشه**:دا حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها بنت صدیق اکبر رضی الله عنه ده.ددې درې واړو حضراتو تذکره د"بدء الوحی"د"الحدیث الاول"لاندې تیره شوې ده[2]

قوله: قالت: توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم وما في بيتي من شئ يأكله ذوكبد، الا شطر شعير في رف لي: حضرت عائشه فرمائی چې کله رسول الله مبارک ﷺ وفات شو نو زما په کور کښې داسې څۀ هم نۀ وو چې هغه څۀ ساه لرونکې څیز اوخوری. سوا د لږو شان اوربشو نه چې زما په یو تاخ کښې پرتې وې.

"ذوکبد" نه مراد ساه لرونکې ذی روح دې، خواه انسان وی یا بل یو څناور[3]

د "شطر"نه مراد د حافظ بن حجر د قول مطابق بعض دې.البته ددې اطلاق په نیم یا په معین جهت باندې هم کیږی لیکن دلته آخری دواړه معنې مرادې نۀ دی[4]

او قاضی عیاض د شطر تفسیر "نیم وسق"بیان کړې دې.ددې نه علاوه ددې کلمې په تفسیر کښې نور اقوال هم دی[5]ددې ټولو خلاصه داده چې دغه اوربشې په ډیر کم مقدار کښې وې.

"رف"په دیوال کښې دننه تاخ ته وئیلې شی او دیوال سره لګیدلې تختې ته هم وائی چې په هغې باندې د کور سامان کیخودلې کیږی،حافظ فرمائی:

"قال الجوهری:"الرف: شبه الطاق فی الحائط".وقال عیاض:"الرف: خشب یرتفع عن الارض فی البیت، یوضع فیه مایراد حفظه".قلت: والاول اقرب للمراد"[6]

ددې جمع رفوف او رفاف راځی[7]

یو اشکال او د هغې جواب:د کتاب الوصایا یو حدیث چې د حضرت عمرو بن الحارث مصطلقی دې (چې د هغې بعضې حصه هم د باب حدیث دې)په هغې کښې راغلې دی:

---

[1]) کشف الباری:۳/۴۱۴_

[2]) کشف الباری:۱/۲۹۱.هشام او عروه دپاره مزید اوګورئ، کشف الباری:۲/۴۳۲-۴۴۰_

[3]) فتح الباری:۱۱/ ۲۸۰، وعمدة القاری:۱۵/۲۸_

[4]) فتح الباری:۱۱/۲۸۰_

[5]) پورته حواله،وعمدة القاری:۱۵/۲۸،واکمال المعلم للقاضی:۸/۲۶۶،کتاب الزهد،رقم(۲۷)_

[6]) فتح الباری:۱۱/۲۸۰،والصحاح للجوهری:۴۱۹،مادة "رفف"_

[7]) عمدة القاری:۱۵/۲۷_

"ماترك رسول الله صلى الله عليه وسلم عند موته دينارا، ولا درهماً، ولا عبداً، ولا امة، ولا شيئاً، إلا......."(۱)
چې نبي كريم ﷺ د خپل وفات په وخت كښې نۀ څۀ دينار په تركه كښې پرېخودلي وو نۀ درهم، نۀ ئې غلام پرېخودلي وو او نۀ وينزه، نه بل څۀ څيز، سواء د يو سپينې خچرې، اسلحې او زمكې نه چې هغه ئې په صدقه كښې جمع كړې وو.
او د باب په حديث شريف كښې حضرت عائشه ﷦ دا فرمائي چې هغوى لره اوربشې هم پرېخودلي وې نو پورته د "شئ" نفي وه او دلته د "شئ" د وجود اثبات دې.
ددې سوال جواب ډېر آسان دې، هغه دا چې د حضرت عمرو بن الحارث په حديث كښې د هغې څيزونو ذكر دې چې كوم د نبي كريم سره خاص وو چې په هغې كښې پيغمبر پاک هيڅ يو څيز هم پرېنخودو او د حضرت عائشه صديقه ﷦ په حديث كښې د هغې څيز ذكر دې چې كوم د هغې د نفقې حصه وه او هغې سره خاص وو او چونكه مورد جدا جدا دې، ددې وجې نه د اشكال هيڅ وجه نۀ شي كيدې(۲)

قوله: فـاكلت منه حتى طـال علي: نو ما د هغې نه خوراک كوو تردې چې معامله په ما باندې اوږده شوه.
يعنې حضرت عائشې ﷦ د دغې اوربشو نه خوراک كوو تردې چې په دې كښې څۀ موده تيره شوه ليكن هغه اوربشې ختمې نۀ شوې.

فكلته ففنى: نو ما د هغې وزن اوكړو ددې وجې نه هغه ختمې شوې.
"كلته" د كاف په كسرې سره(۳) د كال يكيل نه د ماضي واحد متكلم صيغه ده.

د اوربشو د ختميدلو وجه: علامه ابن ابطال فرمائي چې حضرت عائشې سره كومې اوربشې وې هغه چونكه وزن كړې شوې نۀ وې، ددې وجې نه په هغې كښې بركت هم وو، ځكه چې هغې ته د هغې د وزن علم نۀ وو، د هغې كمې طرفته كتلو سره به حضرت عائشې ﷦ روزانه دا خيال كوو چې دا اوربشې به ډېرې زر ختمې شي ددې وجې نه هغې ته دا معامله اوږده ښكاره شوه ليكن هركله چې هغې وزن اوكړو نو د باقي پاتې كيدو مدت معلوم شو نو د هغه مودې په پوره كيدو باندې هغه اوربشې هم ختمې شوې(۴) والله اعلم

ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: د حضرت عائشې ﷦ د حديث مناسبت ترجمة الباب سره په دې جمله كښې دې "فاكلت منه حتى طال علي، فكلته ففنى" او حضرت عائشې ﷦ دلته دا اونۀ فرمائيل چې هغې دا اوربشې په خپله حصه كښې اخستلې وې، ځكه چې كه په نفقه كښې د هغې استحقاق نۀ وو نو موجوده اوربشې به ئې په بيت المال كښې جمع كړې وې يا

(۱) صحيح البخاري، كتاب الوصايا، وقول النبي صلى الله عليه وسلم ....رقم(۲۷۳۹)).
(۲) فتح الباري: (۲۸۰/۱۱).
(۳) فتح الباري: (۲۸۰/۱۱).
(۴) شرح ابن ابطال: (۲۶۱/۵).

به نې د وارثانو مينځ كښې تقسيم كړې وې، په وارثانو كښې هغه هم وه او داسې اونه شو نو معلومه شوه چې دا نفقه وه، ميراث نه وو.

لكه ابن المنير فرمائي: "وجه مطابقة الترجمة لحديث عائشة، قولها: "فأكلت منه حتى طال علي، فكلته ففني" ولم تذكر أنها أخذته في نصيبها، إذ لو لم تكن لها النفقة لكان الشعير الموجود لبيت المال، أو مقسوما بين الورثة، وهي إحداهن"(1)

۲۹۳۱ (2) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ الْحَارِثِ قَالَ مَا تَرَكَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِلاَّ سِلاَحَهُ وَبَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ، وَأَرْضًا تَرَكَهَا صَدَقَةً. [ر: ۲۵۸۸]

رجال الحديث

① **مسدد**: دا مسدد بن مسرهد بن مسربل دې. د دوى تذكره په كتاب الايمان. "باب من الايمان أن يحب لاخيه....." كښې تيره شوې ده(3).

② **يحيى**: د امام يحيى بن سعيد تذكره هم د "كتاب الايمان" مذكوره باب كښې تيره شوې ده(4)

③ **سفيان**: دا امام المحدثين حضرت سفيان ثورى دې. د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" كښې تير شوې دى(5).

④ **ابواسحاق**: دا ابواسحاق عمروبن عبيدالله السبيعى دې. د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب الصلوة من الايمان" كښې تير شوې دى(6).

⑤ **عمروبن الحارث**: دا د نبى ﷺ نسبتى ورور حضرت عمرو بن الحارث خزاعى مصطلقى دې(7)

د حديث شريف ترجمه: دا حديث چونكه اوس نزدې په كتاب الوصايا كښې تير شوې دې، ددې وجې نه دلته صرف په ترجمه باندې اكتفاء كولې شى.

---

(1) المتوارى: ۱۸۵، وفتح البارى: ۲۰۹/۶، وعمدة القارى: ۲۷/۱۵، وقال القاضى فى إكمال المعلم (۲۶۶/۸): وفى هذا أن البركة أكثر ماتوجد فى المجهولات والمبهمات، واما ما حصر بالعدد أو بالكيل فمعرف قدره")_

(2) قوله: عمروبن الحارث رضى الله عنه": الحديث، مر تخريجه فى كتاب الوصايا، باب الوصايا.....)_

(3) كشف البارى: ۲/۲)_

(4) پورته حواله)_

(5) كشف البارى: ۲۷۸/۲)_

(6) كشف البارى: ۳۷۰/۲)_

(7) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الزكوة، باب الزكاة على الزوج والايتام......)_

حضرت عمروبن الحارث فرمائی چې نبی کریم ﷺ د وفات په وخت کښې دا لاندینی څیزونه پریخودلي وو:
اسلحه، سپینه خچره او څۀ زمکې چې دا نبی د صدقې په طور باندې پریخودلې وو.

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت په دې معنی کښې دې چې نبی کریم ﷺ کومې زمکې د صدقې په طور پریخودلې وې. د هغې نه به د ازواج مطهرات ﷺ نفقه ورکولې شوه. دا روایت صراحتاً خو د مصنف مدعی نۀ ثابتوی لیکن د مصنف عادت دې چې هغوی داسې کوی چې بعضې داسې روایات نقل کوی چې صراحتاً د مدعی دپاره مفید وی او بعضې روایات داسې وی چې هغه په خپله خو مدعی نۀ ثابتوی لیکن نورو روایتونو سره چې ملاؤشی اوبیا ورته اوکتلې شی نوبیا ترینه د مدعی اثبات کیږی، دلته هم دغه شان ده، نورو روایتونو سره د ملاویدلو نه پس ددې نه د مدعی اثبات کیږی.

علامه ابن المنیر فرمائی: "ووجه مطابقتها للحدیث.....قوله: "وارضا ترکها صدقة"، لانها الارض التی أنفق علی نسائه منها بعد وفاته صلی الله علیه وسلم، علی ماهو مشروح فی الحدیث"[1]

او علامه عینی فرمائی:

"مطابقته للترجمة تؤخذ من قوله: "وارضا ترکها صدقة" وذلك، لان نفقة نسائه صلی الله علیه وسلم بعد موته کانت مما خصه الله به من الفیء، ومنه فدك، وسهمه من خیبر"[2] والله اعلم بالصواب.

د حدیث سند سره متعلق یو خبرداری: امام قابسی دا حدیث د "حدثنا یحیی عن سفیان......" د طریق نه نقل کړې دې، دغه شان د هغوی نه د بخاری د شیخ حضرت مسدد نوم پاتې شوې دې حالانکه ددې نوم نه بغیر بله څه لاره نشته ځکه چې یحیی بن سعید القطان د امام بخاری شیخ نۀ دې، نۀ د هغوی نه د مصنف سماع ثابته ده. امام جیانی په دې باندې خبرداری کړې دې.

البته د امام قابسی وینا که صحیح هم اوګرځولې شی نو د یحیی نه به مراد ابن موسی یا ابن جعفر وی او د سفیان نه به ابن عیینه، چونکه ابن موسی او ابن جعفر دواړه د امام بخاری شیخان دی[3] لیکن دا خبره د احتمال د حده پورې ده، صحیح خبره هم هغه ده کومه چې جیانی کړې ده، والله اعلم

---

[1]) المتواری: ۱۸۵)_
[2]) عمدة القاری: ۲۸/۱۵، وبه قال القسطلانی، انظر ارشاد الساری: ۵/ ۱۹۷)_
[3]) فتح الباری: ۶/ ۲۱۰، وعمدة القاری: ۲۸/۱۵)_

⑦باب: ماجاء في بيوت ازواج النبي صلى الله عليه وسلم وما نُسِبَ من البيوت اليهن

وقولِ الله تعالى: "وقرن في بيوتكن" /الاحزاب:٣٣. و: "لاتدخلوا بيوت النبي الا ان يؤذن لكم" الاحزاب:٥٣

د ترجمة الباب مقصد: حضرت امام بخارى دلته دا فرمائى چې څنگه د حضور اقدس د وفات نه پس د هغوى په مال كښې د هغوى د ازواج مطهرات ﷺ نفقه واجبه وه، دغه شان د نبى ﷺ د وفات نه پس د هغوى د ازواج مطهرات ﷺ دپاره اوسيدل هم د نبى ﷺ په كورونو كښې واجب وو، ځكه چې دا ټولې بيبيانې د نبى ﷺ په حق كښې محبوسې (قيد) وې، ددې وجې نبى اكرم ﷺ چې په كومو كورونو كښې دا ازواج مطهرات ساتلې وې نو د نبى ﷺ د وفات نه پس هم دوى په دغه كورونو كښې اوسيدلې.

دغه شان دا ازواج مطهرات ﷺ څنگه چې په ژوند كښې د نفقې مستحقې وې نو دغه شان د اوسيدلو (د مكان) هم مستحقې وې[1]

د ازواج مطهراتو قيام د اوسيدلو په حيثيت سره وو يا د ملكيت په حيثيت سره؟ اصل مسئلې طرفته د تللو نه وړاندې په دې باندې ځان پوهه كړئ چې امام بخارى دلته د ترجمة الباب لاندې دوه آيتونه ذكر كړې دى، يو (وقرن في بيوتكن)[2] او دويم (لا تدخلوا بيوت النبى الا ان يؤذن لكم)[3] په اولنى آيت كښې د بيوت نسبت ازواج مطهرات ﷺ طرفته او په دويم آيت كښې د نبى كريم ﷺ طرفته دې.

امام بخارى غالباً ددې په ذريعې سره هغه اختلاف طرفته اشاره كړې ده كوم چې په دې عنوان كښې ذكر دې چې د ازواج مطهرات ﷺ په مذكوره كورونو كښې قيام صرف د اوسيدلو په حيثيت سره وو يا د ملكيت په حيثيت سره، يا داسې اووايئ چې دا كورونه دوى ته صرف د اوسيدلو دپاره وركړې شوې وو يا دوى ددې كورونو مالكان جوړ كړې شوې وو.

د قرآن پاک مشهور مفسر علامه جمل د آيت كريمه (لا تدخلوا بيوت النبى الا ان يؤذن لكم) تفسير كښې فرمائى:

په دې آيت كښې ددې خبرې دليل دې چې كور د سړى وى او هغۀ دپاره به ددې فيصله كولې شى ځكه چې الله تعالى په خپله د كور نسبت د سړى (نبى كريم ﷺ) طرفته كړې دې.

ليكن په دې باندې اعتراض دادې چې په يو بل آيت (واذكرن مايتلى في بيوتكن)[4] كښې خو د

---

[1]) المتوارى: ١٨٦، وفتح البارى: ٢١١/٦، وعمدة القارى: ٢٩/١٥، وتعليقات اللامع: ٢٩٤/٧)_
[2]) الاحزاب: ٣٣)_
[3]) الاحزاب: ٥٣)_
[4]) الاحزاب: ٣٤)_

كورونو نسبت د ښځو(ازواج مطهرات ﵅)طرفته كړې شوې دې.ددې وجې نه دا وينا خو صحيح نۀ شوه چې كور د سړي وي.

ددې جواب دادې چې د بيوت(كورونو)اضافت د نبى ﷺ طرفته د ملكيت په اعتبار سره دې او د ازواج مطهرات ﵅ طرفته د محل په اعتبار سره دې چې دا د دوى د اوسيدلو ځايونه دى. ددې دليل دادې چې په آيت كريمه كښې د داخليدو اجازت د نبى ﷺ فعل ښودلې شوې دې او اجازت صرف د مالک حق وى.

بيا په دې ځان پوهه كړئ چې د نبى ﷺ په كورونو كښې د علماؤ اختلاف دې،او په دې مسئله كښې د هغوى دوه اقوال دى:

① د يو جماعت وينا ده چې دا كورونه د ازواج مطهرات ﵅ ملكيت وو،هغوى په دې كښې د ملكيت په اعتبار سره اوسيدل.ددې خبرې دليل ددې حضراتو د وينا مطابق دا دې چې د نبى ﷺ د وفات نه پس هم ازواج مطهرات ﵅ په دغه كورونو كښې اوسيدل تردې چې وفاتې شوې،ددې وجه داوه چې نبى ﷺ په خپل ژوند مبارک كښې دا كورونه ازواج مطهرات ﵅ ته هبه كړې وو.

② او يو بل جماعت دا وائى چې دا اوسيدل وو،هبه نۀ وه او ازواج مطهرات ﵅ د ژوند پورې دغلته اوسيدل ځكه چې دا د هغې"مؤنة"حصه وه كوم چې نبى كريم ﷺ مستثنى ګرځولې وه،لكه څنګه چې ئې د هغوى نفقه مستثنى ګرځولې وه چې"ماتركت بعد نفقة أهلى و مؤنة عاملى فهو صدقة"[1] هم دا د اهل علمو قول دې او هم دې لره امام ابن عبدالبر[2]او ابن العربى وغيره غوره كړې دې.

ددې دليل دادې چې ازواج مطهرات ﵅ په كومو كورونو كښې مقيمې وې،د هغوى د وفات نه پس دغه كورونه د هغوى د وارثانو طرفته منتقل نۀ شو،ددې وجې نه دا ددې خبرې واضحه دليل دې چې دا كورونه د دوى په ملكيت كښې نۀ وو،صرف مسكن(د اوسيدلو دپاره)وو چې كله دوى وفات شوې نو دغه كورونه د مسجد نبوى ﷺ حصه اوګرځولې شو او ددې كورونو په ذريعې سره د مسجد نبوى توسيع اوكړې شوه[3]

دامام بخاري او د حضرت ګنګوهي رائې: د حضرت شيخ الحديث د قول مطابق د امام بخارى رائې دا معلوميږى چې هغوى ددې كورونو د ملكيت قائل وو چې ازواج مطهرات ﵅ په دې كورونو كښې دملكيت په حيثيت سره مقيمې وې،لكه مصنف"ومانسب اليهن من البيوت"

---

[1]) الحديث،مر تخريجه فى الباب السابق عن أبى هريرة رضى الله عنه)_

[2]) التمهيد لابن عبدالبر:۱۷۲/۸_۱۷٤،واحكام القرآن لابن العربى:۶۱۲/۳_۶۱۳،المسئلة الثالثة،سورة الاحزاب،الآية:۵۳)_

[3]) انتهى ما قاله سليمان الجمل رحمه الله مختصراً،نقلا عن تعليقات اللامع:۲۹۵/۷،والابواب والتراجم للشيخ الكاندهلوى:۲۰۵/۱،وحاشية الجمل على الجلالين:۱۹۲/۶_۱۹۳،سورة الاحزاب/۵۳، دغه شان اوګورئ،ابن ابطال:۲۶۳/۵،والديباج للسيوطى :۷۲٤/۲)_

وئيلو سره غالباً ددې خبرې طرفته اشاره کړې ده۔
ليکي: "وقول البخاري في الترجمة: "ومانسب إليهن" لعله إشارة إلى ترجيح ملكهن"(۱)
او هم دا رائې د حضرت گنگوهی هم ده، ارشاد فرمائي:

"يعنى بذلك أن إضافتها إليهن تمليكة، وإليه صلى الله عليه وسلم لأدنى ملابسة، فكان قد ملكهن إياها قبل الموت، فلا يعترض على قوله: "لانورث، ماتركناه صدقة""(۲)

او ابن المنير ددې خلاف رائې اختياره کړې ده او فرمائي چې امام بخاری دلته دا وئيل غواړي چې دې کورونو کښې ازواج مطهرات ﷺ ته د اوسيدلو اختيار وو، مالکانه اختيارات ورته نۀ وو، فرمائي:

"وساق البخاري الاحاديث التي تنسب إليهن البيوت فيها تنبيها على أن هذه النسبة تحقق دوام استحقاقهن للبيوت مابقين"(۳)

يو اهم خبرداري: حافظ ابن حجر، علامه قسطلانی او شيخ الاسلام زکريا انصاری وغيره په کتاب الوضوء(۴) کښې پورته ذکر شوې اولنې احتمال چې نبی کريم ﷺ دا کورونه ازواج مطهرات ﷺ ته هبه کړې وو او د دغه کورونو ئې مالکانې جوړې کړې وې. ذکر کړې دی او دا قول ئې هلته اختيار کړې دې، او دلته کتاب الخمس ته رارسيدلو سره دې حضراتو دلته ددې خبرې وضاحت کړې دې چې حضور اکرم ﷺ کوم کورونه ازواج مطهرات ﷺ ته ورکړې وو نو هغه د هغوی ملکيت نۀ وو بلکه هلته د هغوی قيام صرف د اوسيدلو په حيثيت سره وو، لکه څنګه چې ښځې ته نفقه ورکولې شی او د اوسيدلو دپاره ورته کور ورکولې شی نو هغه د هغې مالکه نۀ وی او دې حضراتو دا وضاحت هم کړې دې چې هم دا وجه ده چې د هغوی د وارثانو طرفته دغه کورونه منتقل نۀ شو(۵)
په حافظ صاحب، علامه قسطلانی او شيخ زکريا انصاری ټولو باندې دا اعتراض کيږی چې هلته په کتاب الوضوء کښې مو څۀ وئيل او دلته په کتاب الخمس کښې څۀ وائې. ليکن دا اشکال په علامه عينی(۶) باندې نۀ کيږی ځکه چې هغوی دا احتمال په کتاب الوضوء کښې نۀ دې ذکر کړې چې د ازواج مطهرات ﷺ قيام په دغه کورونو کښې په مالکانه حيثيت سره وو(۷)

---

(۱) تعليقات اللامع: ۲۹۵/۷، والابواب والتراجم: ۲۰۵/۱)_
(۲) لامع الدرری: ۲۹۴/۷، والابواب والتراجم: ۲۰۵/۱)_
(۳) المتواری: ۱۸۶-۱۸۷)_
(۴) فتح الباری للعسقلانی، كتاب الوضوء، باب من تبرز على لبنتين، رقم(۱۴۵)، وشرح القسطلانی: ۲۳۸/۱، باب التبرز فی البيوت، وتحفة الباری: ۱۵۸/۱، باب التبرز فی البيوت)_
(۵) فتح الباری: ۲۱۱/۶، وتحفة الباری: ۵۳۷/۳، وشرح القسطلانی: ۱۹۷/۵)_
(۶) عمدة القاری: ۲۸۶/۲، كتاب الوضوء، باب التبرز فی البيوت)_
(۷) عمدة القاری: ۲۹/۱۵)_

دې نه پس خان په دې پوهه کړئ چې امام بخاری د ترجمة الباب لاندې اووه احادیث مارکه ذکر کړې دی، اولنې حدیث د حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها دې:

۲۹۳ :(۱) حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى وَمُحَمَّدٌ قَالاَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وَيُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - اسْتَأْذَنَ أَزْوَاجَهُ أَنْ يُمَرَّضَ فِي بَيْتِي فَأَذِنَّ لَهُ.[ر: ۱۹۵]

رجال الحدیث

①**حبان بن موسی**:دا د امام بخاری شیخ حبان بن موسی السلمی المروزی دې(۲)

②**محمد**:د محمد نه مراد ابن المقاتل مروزی دې،د دوی تذکره په کتاب العلم."باب مایذکر فی المناولة،وکتاب أهل العلم......."کښې بیان شوې ده(۳)

③**عبدالله**،④**معمر**،⑤**یونس**:د عبدالله نه مراد ابن المبارک،د معمر نه ابن راشد او د یونس نه مراد ابن یزید ایلی دې - ددې ټولو حضراتو ترجمه د"بدء الوحی"د "الحدیث الخامس" لاندې تیره شوې ده(۴)

⑥**الزهری**:دا امام محمد بن مسلم ابن شهاب الزهری دې - د دوی حالات د"بدء الوحی"په "الحدیث الاول"کښې تیر شوې دی(۵)

⑦**عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود**:دا د مدینې منورې مشهور فقیه حضرت عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود ې - د دوی حالات هم د"بدء الوحی"په"الحدیث الخامس"کښې تیر شوې دی(۶)

⑧**عائشه**:د حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها حالات د"بدء الوحی"په اولنی حدیث کښې تیر شوې دی(۷)

قوله: أن عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت: لما ثقل رسول الله..:

---

(۱) قوله: عائشة رضی الله عنها......":مر تخریجه فی الوضوء،باب الغسل والوضوء فی المخضب......)_

(۲) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الاذان، باب یسلم حین یسلم الامام)_

(۳) کشف الباری:۲۰۶/۳)_

(۴) کشف الباری:۴۶۲/۱_۴۶۶،د یونس بن یزید دپاره مزید اوګورئ:کشف الباری:۲۸۲/۳)_

(۵) کشف الباری:۳۲۶/۱)_

(۶) کشف الباری:۴۶۶/۱ و:۳۷۹/۳_

(۷) کشف الباری :۲۹۱/۱)_

حضرت عبيدالله بن عبدالله فرمائى چې حضرت عائشه اوفرمائيل چې كله د رسول الله مبارک طبیعت ناساز شو نو دوى د نورو بيبيانو نه ددې خبرې اجازت واخستلو چې دوى به دبيمارئ په ورځو كښې زما په كوركښې اوسيږى نوازواج مطهرات ﷺ ورته اجازت وركړو.
دويم حديث هم د حضرت عائشې صديقې ﷺ دې۔

۲۹۳۳ (۱) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا نَافِعٌ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ۔ رضى الله عنها تُوُفِّيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي بَيْتِي، وَفِي نَوْبَتِي، وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي، وَجَمَعَ اللَّهُ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ. قَالَتْ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بِسِوَاكٍ، فَضَعُفَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْهُ، فَأَخَذْتُهُ فَمَضَغْتُهُ ثُمَّ سَنَنْتُهُ بِهِ. [ر: ۸۵۰]

رجال الحديث

① **ابن ابى مريم:** دا ابومحمد سعيد بن الحكم بن ابى مريم الجمحى دې. د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب من سمع شيئاً فراجع حتى يعرفه" كښې تيره شوې ده(۲)

② **نافع:** دا نافع بن يزيد مصرى دې(۳)

③ **ابن ابى مليكه:** دا عبيدالله بن ابى مليكه دې. د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله......" كښې تير شوې دى(۴)

④ **عائشه:** د حضرت عائشه صديقه تذكره په "بدء الوحى" كښې تيره شوې ده(۵)

قوله: قالت عائشة رضى الله عنها: توفى النبى صلى الله عليه وسلم فى بيتى.....: حضرت عائشه صديقه ﷺ فرمائى چې د نبى كريم ﷺ انتقال زما په كور كښې، زما د نمبر والا ورځ، زما په سينه باندې (داسې چې د نبى كريم ﷺ سر مبارک زما په سينه باندې پروت وو) اوشو او الله تعالى زما لاړې او د نبى كريم ﷺ لاړې مباركې جمع كړې هغه داسې چې حضرت عبدالرحمن بن ابى بكر ﷺ چې راغې نو مسواک ورسره وو، نبى ﷺ كښې دومره طاقت نۀ وو چې هغه ئې چوپلې وو، نو ما مسواک واخستلو، هغه مې په خلۀ كښې نرم كړو، بيا مې ورله مسواک اوكړو.

او د حديث پوره تفصيلى تشريح وړاندې په كتاب الجمعه كښې تيره شوې ده(۶)

---

[1]) قوله: قالت عائشة رضى الله عنها": الحديث، مر تخريجه فى كتاب الجمعة، باب من تسوک........)_
[2]) كشف البارى : ۱۰۶/۴)_
[3]) د دوى حالات كتلو دپاره اوګورئ، كتاب الجنائز، باب الدخول على الميت بعد الموت اذا......)_
[4]) كشف البارى : ۵۴۸/۲)_
[5]) كشف البارى : ۲۹۱/۱)_
[6]) صحيح البخارى، كتاب الجمعة، باب من تسوک......، رقم (۸۹۰))_

د باب دريم حديث د ام المؤمنين حضرت صفيه دې.

۲۹۳۴: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ أَنَّ صَفِيَّةَ زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - تَزُورُهُ، وَهْوَ مُعْتَكِفٌ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ فَقَامَ مَعَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى إِذَا بَلَغَ قَرِيبًا مِنْ بَابِ الْمَسْجِدِ عِنْدَ بَابِ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - مَرَّ بِهِمَا رَجُلاَنِ مِنَ الأَنْصَارِ، فَسَلَّمَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، ثُمَّ نَفَذَا فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «عَلَى رِسْلِكُمَا». قَالاَ سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. وَكَبُرَ عَلَيْهِمَا ذَلِكَ. فَقَالَ «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا». [ر: ۱۹۳۰]

رجال الحديث

①**سعيد بن عفير**: دا سعيد بن كثير بن عفير دې. د دوى تفصيلى تذكره كتاب العلم، "باب من يرد الله به....." كښې تيره شوې ده[2]

②**الليث**: دا مشهور محدث ليث بن سعد فهمى دې. د دوى حالات د "بدء الوحى" په "الحديث الاول" كښې تير شوې دى[3]

③**عبدالرحمن بن خالد**: دا عبد الرحمن بن خالد دې. د دوى ترجمه تفصيل سره د كتاب العلم، په "باب السمر فى العلم" كښې تيره شوې ده[4]

④**ابن شهاب**: د ابن شهاب الزهرى مختصر حالات د "بدء الوحى" په "الحديث الاول" كښې تير شوې دى[5]

⑤**على بن حسين**: دا امام زين العابدين على بن حسين بن على دې[6]

⑥**صفيه**: دا ام المؤمنين حضرت صفيه بن حيى رضي الله عنها ده[7]

---

[1]) قوله: ان صفية ......" الحديث، مر تخريجه فى الاعتكاف، باب هل يخرج المعتكف الى......؟)_

[2]) كشف البارى :۳/۲۷٤)_

[3]) كشف البارى :۱/۳۲٤)_

[4]) كشف البارى :٤/٤۰۵)_

[5]) كشف البارى :۱/۳۲۶)_

[6]) د دوى حالات كتلو دپاره اوګورئ: كتاب الغسل، باب الغسل بالصاع ونحوه)_

[7]) د دوى حالات كتلو دپاره اوګورئ: كتاب الحيض، باب المراة تحيض بعد الافاضة)_

د حديث شريف ترجمه: حضرت صفيه رضي الله عنها فرمائى چې دا يو ځل د رسول الله مبارک ﷺ د ملاقات دپاره مسجد نبوى ته حاضره شوه.چرته چې نبى كريم ﷺ د رمضان المبارک په آخرى عشره كښې معتكف وو،د ملاقات نه پس د رخصتيدو دپاره اودريده نو نبى ﷺ ورسره هم اودريدلو او ورسره روان شو،تردې چې كله د مسجد دروازې ته اورسيدل كوم چې د باب ام سلمه سره متصله وه،هغې ته نزدې اورسيدل نو ددې دواړو خوا ته دوه انصارى صحابه تير شو.هغوى نبى كريم ﷺ ته سلام اوكړو.بيا وړاندې تير شو نو نبى ﷺ دغې دواړو ته اوفرمائيل چې آرام سره ځائې(څه داسې خبره نشته)هغې دواړو حضراتو اوونيل،يا رسول الله!سبحان الله!(دا جمله هغوى د تعجب د وجې نه اوونيل)او په دې دواړو باندې د نبى ﷺ خبره ډيره سخته اولګيده،نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې بيشكه شيطان د انسان په بدن كښې داسې ګرځى لكه څنګه چې وينه ګرځى . او ماته دا ويره شوه چې شيطان ستاسو دواړو په زړونو كښې د بدګمانئ څه تخم اونۀ كرى.

مختصر تشريح:علامه قسطلانى په لفظ د قيل سره نقل كړې دى چې دا دواړه حضرات حضرت اسيد بن حضير او عباد بن بشر وو(١)

حضرت امام شافعى فرمائى چې په نبى ﷺباندې د بهتان د تړلو نتيجه چونكه د كفر نه سوا بل څۀ نۀ ده،په دې وجه نبى كريم ﷺ ته دا ويره شوه چې دا دواړه هسې نۀ د كفر ارتكاب اونكړى،لهذا نبى ﷺوړاندې والې اوكړو او اصل خبره ئې ورته اونبودله او شيطان ته ئې دا موقع ورنكړه چې ددې دواړو په زړونو كښې څۀ وسوسه واچوى،څۀ غلط تصور په كښې واچوى چې د هغې د وجې نه دوى هلاک او برباد شى.

علامه قسطلانى فرمائى: قال إمامنا الشافعى(رحمه الله): خاف عليهما الكفر إن ظنا به تهمة،فبادر إلى إعلامهما نصيحةً لهما قبل أن يقذف الشيطان في قلوبهما شيئاً يهلكان به"(٢)

د باب څلورم حديث د حضرت ابن عمر دې.

٢٩٣٥(٣) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ ارْتَقَيْتُ فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ، فَرَأَيْتُ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقْضِى حَاجَتَهُ، مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ، مُسْتَقْبِلَ الشَّأْمِ.[ر ١٤٥]

---

(١) شرح القسطلانى :١٩٨/٥،وفتح البارى :٢٨٠/٤،الاعتكاف،وتهذيب تاريخ دمشق الكبير:٤٢٩/٦، وشرح ابن ماجه،كتاب الصوم،باب المعتكف يزوره اهله فى المسجد،رقم (١٧٧٠))_

(٢) شرح القسطلانى :١٩٨/٥)_

(٣) قوله: عن عبدالله بن عمر رضى الله عنهما":الحديث،مر تخريجه فى الضوء،باب التبرز فى البيوت)_

رجال الحديث

① ابراهيم بن المنذر: دا ابراهيم ابن المنذر القرشی الحزامی دې. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب من سئل علما وهو....." کښې تيره شوې ده[1].
② انس بن عياض: دا انس بن عياض أبوضمره ليثی دې.
③ عبيدالله: دا عبيد الله بن عمر بن حفص بن خطاب دې[2].
④ محمد بن يحيى بن حبان: دا محمد بن يحيى بن حبان دې.
⑤ واسع بن حبان: دا د پورتنی راوی ترۀ واسع بن حبان دې[3].
⑥ عبدالله بن عمر: مشهور صحابی حضرت ابن عمر حالات په کتاب الايمان، "باب الايمان، وقول النبی صلی الله عليه وسلم ......" کښې تير شوې دی[4].

قوله: عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما قال: ارتقيت فوق بيت......:
حضرت ابن عمر فرمائی چې زۀ د خپلې خور بی بی حضرت حفصه رضی الله عنها د کور په چت باندې اوختلم نو اومې کتل چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د قبلې طرفته شا کړې او د شام ملک طرفته ئې مخ کړې خپل حاجت پوره کوی.

د کتاب الوضوء په روايت کښې "فوق ظهربيت حفصة"[5] دې. مقصود د دواړو روايتونو يو دې يعنی د کور په چت باندې ختل مراد دی او هلته ددې خبرې هم وضاحت دې چې حضرت ابن عمر رضی الله عنه د خپل څۀ ضرورت دپاره په چت باندې ختلې وو[6].
پنځم حديث د حضرت عائشې صديقې رضی الله عنها دې.

۲۹۳۲:[7] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَائِشَةَ-رضی الله عنها- قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ-صلی الله عليه وسلم- يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ لَمْ تَخْرُجْ مِنْ حُجْرَتِهَا.[ر: ۵۱۹]

---

[1]) کشف الباری :۵۸/۳)_
[2]) ددې دواړو حالات کتلو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء ،باب التبرز فی البيوت)_
[3]) ددې دواړو حالات کتلو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء ،باب من تبرز علی لبنتين)_
[4]) کشف الباری :۶۳۷/۱)_
[5]) کتاب الوضوء ،باب التبرز فی البيوت،رقم (۱۴۸))_
[6]) د حديث مزيد وضاحت دپاره اوګورئ (کشف الباری)،کتاب الوضوء ،باب التبرز فی البيوت ،وباب من تبرز علی لبنتين)_
[7]) قوله: ان عائشة رضی الله عنها": الحديث ،مر تخريجه فی مواقيت الصلاة، باب مواقيت الصلاة.....)_

رجال الحديث

①ابراهيم بن المنذر، ②انس بن عياض: ددې دواړو دپاره سابقه سند اوګورئ۔

③هشام: دا مشهور محدث حضرت هشام بن عروه بن زبير دې۔

④ابيه: د اب نه مراد حضرت عروه بن زبير بن العوام دې۔

⑤عائشة: دا حضرت عائشه ده۔ ددې درې واړو حضراتو تذکره د "بدء الوحى" په "الحديث الاول" کښې تيره شوې ده[۱]

قوله: أن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم

.......: حضرت عائشه فرمائی چې رسول الله مبارک به د مازيګر مونځ ورکوو او هغه وخته پورې به نمر د حضرت صديقې رضي الله عنها د حجرې نه وتلې نۀ وو۔

شپږم حديث د حضرت ابن عمر رضي الله عنه دې۔

۲۹۳۷: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنه. قَالَ قَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - خَطِيبًا فَأَشَارَ نَحْوَ مَسْكَنِ عَائِشَةَ فَقَالَ «هُنَا الْفِتْنَةُ - ثَلاَثًا - مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ»[۲] [۴۹۹۰، ۳۳۲۰، ۳۱۰۵، ۶۶۷۹، ۶۶۸۰، وانظر: ۹۹۰]

رجال الحديث

①موسى بن اسماعيل: دا موسى بن اسماعيل تبوذکى بصرى دې۔ د دوى تذکره د "بدء الوحى" په "الحديث الرابع" کښې تيره شوې ده[۳]

②جويريه: دا جويريه بن اسماء الضبعى البصرى دې[۴]

③نافع: دا نافع مولى ابن عمر دې۔ د دوى حالات په كتاب العلم، "باب ذكر العلم والفتيا فى المسجد" کښې تير شوې دى[۵]

---

[۱]) كشف البارى :۲۹۱/۱، هشام او عروه دپاره مزيد اوګورئ، كشف البارى :۴۳۲/۲_۴۴۰)_

[۲]) قوله: عن عبدالله رضى الله عنه": الحديث ،اخرجه البخارى فى كتاب بدء الخلق ايضا،باب صفة ابليس وجنوده ،رقم (۳۲۷۹)، وكتاب المناقب ،باب بلا ترجمة، بعد باب نسبة اليمن الى اسماعيل،رقم (۳۵۱۱)، وكتاب الطلاق، باب الاشارة فى الطلاق والامور ،رقم (۵۲۹۶)، وكتاب الفتن، باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: (الفتنة من قبل المشرق)، رقم (۷۰۹۲_۷۰۹۳)، ومسلم فى صحيحه، كتاب الفتن......باب الفتنة من المشرق من حيث.....رقم(۷۲۵۲_۷۲۶۷)، ولترمذى فى سننه، ابواب الفتن، باب فى العمل فى الفتن...... رقم (۲۲۶۸)

[۳]) كشف البارى :۴۳۳/۱)_

[۴]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل،باب الجنب يتوضا ثم.....)_

[۵]) كشف البارى :۶۵۱/۴)_

④عبدالله: د حضرت ابن عمر حالات په كتاب الايمان، "باب الايمان، وقول النبى صلى الله عليه وسلم ...."كښې تير شوې دى[1]۔

قوله: قال: قام النبى صلى الله عليه وسلم خطيباً، فأشار نحو مسكن عائشة، فقال: هنا الفتنة ـ ثلاثاً ـ من حيث يطلع قرن الشيطان: حضرت ابن عمر فرمائى چې نبى كريم د خطبې (تقرير) كولو دپاره اودريدو نو د حضرت عائشې صديقې مسكن طرفته ئې اشاره اوفرمائيله او وې فرمائيل، دلته فتنه ده، دا خبره ئې درې ځله ارشاد اوفرمائيله، د چرته نه چې د شيطان ښكر ښكاره كيږى.

دا خود حديث ترجمه شوه، په دې حديث كښې څو مباحث دى، چې هغه مونږ لاندې ذكر كوو.

نبى دا خبره چرته ارشاد اوفرمائيله؟ پورته دا خبره بيان كړې شوه چې نبى ﷺ د حضرت عائشې ؓ د كور طرفته اشاره كولو سره پورته خبره ارشاد اوفرمائيله ليكن دغه وخت نبى ﷺ په خپله چرته موجود وو، په دې حوالې سره روايت كښې څۀ صراحت نشته.

په دې سلسله كښې درې قسمه روايتونه دى، د مسلم په يو روايت[2] كښې د "قام عند باب حفصة" الفاظ دى او په دويم [3] كښې د "عند باب عائشة" او په يو بل روايت كښې چې د جامع ترمذى[4] دې، كښې د "قام رسول الله صلى الله عليه وسلم على المنبر....." كلمات دى.

امام زرقانى ددې ټولو روايتونو مينځ كښې تطبيق كولو سره فرمائى چې ممكنه ده چې نبى ﷺ د مذكوره دواړو بيبيانو په دروازو كښې د يوې د دروازې نه راوتلې وى او ددې دواړو دروازې نزدې وې، لكه يو ځل اشاره نبى ﷺ هغه وخت اوفرمائيله كوم وخت چې نبى ﷺ د دواړو دروازو مينځ كښې ولاړ وو چې د هغې تعبير كله په "باب حفصة" سره شوې دې او كله په "باب عائشة" سره شوې دې، بيا د منبر طرفته لاړل او دويم ځل باندې ئې اشاره اوفرمائيله، بيا په منبر باندې اودريدل او په دريم ځل باندې ئې اشاره اوفرمائيله[5].

دا يو ښۀ تطبيق دې، ددې نه علاوه بل څۀ د تطبيق صورت ښكاره په نظر هم نۀ راځى او دا روايت د واقعې په تعدد باندې هم محمول كيدې نۀ شى ځكه چې مخرج يو دې يعنى ابن عمر، لكه زرقانى فرمائى:

"فإن ساغ هذا، وإلا فيطلب جمع غيره، ولا يجمع بتعدد القصة، لاتحاد المخرج، وهو ابن عمر"[6]

---

[1]) كشف البارى: ۱/۶۳۷)_

[2]) صحيح مسلم، كتاب الفتن، باب الفتنة من المشرق من حيث يطلع.....رقم(۷۲۵۳))_

[3]) پورته حواله، رقم(۷۲۵۴))_

[4]) جامع الترمذى، ابواب الفتن، باب فى العمل فى الفتن، رقم(۲۲۶۸))_

[5]) شرح الزرقانى على المؤطا: ۴/ ۳۸۴، والاوجز: ۱۷/ ۳۵۲، وفتح البارى: ۱۳/ ۴۶)_

[6]) شرح الزرقانى على المؤطا: ۴/ ۳۸۴ـ۳۸۵، ماجاء فى المشرق، رقم(۱۸۹۰)، والاوجز: ۱۷/ ۳۵۲)_

البته حضرت شیخ الحدیث د امام زرقانی سره اختلاف کوی او فرمائی چې دې روایتونو لره د واقعې په تعدد باندې حمل کولو کښې هیڅ مانع نشته چې دا روایات د واقعې په تعدد باندې حمل کړې شی ځکه چې د روایتونو په سیاق و سباق کښې ډیر زیات اختلاف دې لکه نبی ﷺ د فتنې متعلق مضمون طرفته څو ځله تنبیه کړې وه او دې لره حضرت ابن عمر رضی الله عنهما او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم د خپلې خپلې سماع مطابق روایت کړې دی[1]

نبی اشاره کوم طرفته کړې وه؟: د باب په حدیث شریف کښې خو دا راغلې دی چې نبی کریم د حضرت عائشې کور او مسکن طرفته اشاره اوفرمائیله او وې فرمائیل چې فتنه دلته ده. او ددې روایت په نورو طرقو کښې لفظ د "مشرق" راغلې دې چې پیغمبر د مشرق طرفته اشاره اوکړه، ددې ټولو طرقو طرفته نظر کولو نه پس به هم دا ویلې کیږی چې عائشې د مسکن نه د مشرق طرف مراددې او د "هنا" مشارالیه مشرق دې[2]

د حضرت عائشې کور ترینه هیڅکله مراد نهٔ دې لکه څنګه چې د روافضو او د شیعه ګانو خیال دې، هغوی دې حدیث لره بنیاد جوړوی او په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې الزامات لګوی چې نبی پاک ﷺ د هغې کور لره د فتنو سرچشمه ګرځولې ده. العیاذبالله. لیکن څنګه چې تاسو اوکتل او وړاندې به هم خبره راځی چې دلته د هنا نه مراد د مشرق طرف دې.

د مشرق نه څهٔ مراد دې؟: په دې کښې د علماؤ مختلف اقوال دی:

د اکثرو عالمانو رائې داده چې د مشرق نه مراد نجد دې، ددې په دلیل کښې د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما یو روایت پیش کړې شوې دې چې:

"ذكر النبى صلى الله عليه وسلم: اللهم بارك لنا فى شامنا، اللهم بارك لنا فى يمننا، قالوا: يا رسول الله، وفى نجدنا؟ قال: اللهم بارك لنا فى شامنا، اللهم بارك لنا فى يمننا، قالوا: يا رسول الله، وفى نجدنا! فاظنه قال فى الثالثة: هناك الزلازل والفتن، وبها يطلع قرن الشيطان"[3]

"نبی ﷺ یو ورځ د شام او د یمن ذکر کولو کښې ددې دواړو دپاره د برکت دعا اوفرمائیله، صحابه کرامو رضی الله عنهم درخواست اوکړو چې دا دعا د نجد دپاره هم اوکړئ، لیکن نبی کریم ﷺ هغه اولنئ خبره دوباره ارشاد اوفرمائیله، صحابه کرامو بیا درخواست اوکړو چې د نجد دپاره هم دعا اوکړئ. غالباً په دریم ځل باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې په نجد کښې خو به زلزلې او فتنې وی، د هغې ځائې نه به د شیطان ښکر ښکاره کیږی".

ددې حدیث شریف نه استدلال کولو سره بعضې حضراتو د مشرق نه نجد مراد اخستلو لره

---

[1]) أوجزالمسالک: ۱۷/۳۵٤)_

[2]) پورته حواله)_

[3]) الحديث، اخرجه البخاری، كتاب الفتن، باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: الفتنة من قبل المشرق، رقم(۷۰۹٤)، وكتاب الاستسقاء، باب ماقيل فى الزلازل......رقم(۱۰۳۷)، والترمذی، كتاب المناقب، باب فى فضل الشام واليمن، رقم(۳۹۵۳))_

راجح ګرځولې دي[1]

او بعضې نور عالمان د مشرق نه مراد عراق اخلي، د هغوی استدلال د حضرت سالم بن عبدالله بن عمر ددې روايت نه دې. ابن فضيل د خپل والد صاحب نه نقل کوی

"سمعت سالم بن عبدالله بن عمر يقول: يا اهل العراق، ما اسئلكم عن الصغيرة، و اركبكم للكبيرة؟! سمعت أبي عبدالله بن عمر يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "إن الفتنة تجيئ من ههنا" و اومابيده نحو المشرق "من حيث يطلع قرنا الشيطان" وانتم يضرب بعضكم رقاب بعض....."[2]

چې حضرت سالم اهل عراق ته د خطاب کولو دوران کښې اوفرمائيل چې تاسو څومره عجيبه خلق يئ، د وړو ګناهونو په باره کښې خو ښۀ تپوسونه کوئ او د لوئې ګناهونو نه ځان نۀ ساتئ؟ ما د خپل والد عبدالله رضي الله عنه او هغوی د رسول الله مبارک ﷺ نه اوريدلي دی چې فتنه به ددې ځائې نه اوچتيږی او نبی ﷺ د لاس مبارک په اشارې سره د مشرق طرفته اشاره اوکړه، د کوم ځائې نه به چې د شيطان دواړه ښکرونه ښکاره کيږی او تاسو خلق (اهل عراق) د يو بل سرونه وهئ.......

نو په دې حديث کښې د مشرق نه عراق او د اهل مشرق نه اهل عراق مراد دی[3]

د مؤطا مالک او د کنزالعمال وغيره روايت دې چې حضرت عمر دا عزم اوکړو چې هغه به د ټولو اسلامی ښارونو دوره کوی نو حضرت کعب احبار هغوی د خپل عزم نه منع کړل او ورته ئې اوفرمائيل: "لاتات العراق، فان فيه تسعة اعشار الشر"[4]

دې ټولو روايتونو ته په نظر کولو سره ډيرو عالمانو د مشرق نه عراق مراد اخستلې دې.

د دواړو قولونو مينځ کښې تطبيق: څنګه چې تاسو پورته اوکتل چې بعضې حضراتو د مشرق نه مراد نجد او بعضو عراق مراد اخستلې دې ليکن ددې دواړو مينځ کښې هيڅ منافات نشته، اوس چې د نجد په حوالې سره کوم روايت تير شوې دې په هغې کښې د نجد څۀ مخصوص علاقه مراد نۀ ده. د حديث شارحينو دلته نجد په لغوی معنی باندې محمول کړې دې او عموم يې مراد اخستلې دې. د نجد لغوی معنی "ما ارتفع من الارض" ده. يعنی هغه علاقه چې د زمکې د سطحې نه اوچته وی، دغه شان به په دې حديث کښې عراق هم داخل شی، علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې نجد په مشرقی طرف کښې دې او د اهل مدينه چې کوم نجد دې هغه د عراق ديهات او د هغې طرفونه دی، هم دا د اهل مدينه مشرق دې، ځکه چې د نجد لغوی معنی "ما ارتفع من الارض" ده.[5]

---

[1]) تكملة فتح الملهم:۶/۱۶۲، وفتح البارى:۱۳/۴۷)_

[2]) صحيح مسلم، كتاب الفتن، باب الفتنة من المشرق، من حيث يطلع.....رقم،(۷۲۵۷))_

[3]) تكمله فتح الملهم:۶/۱۶۲، وشرح الابى على مسلم:۱)_

[4]) المؤطا:۲/۹۷۵، كتاب الاستئذان، باب ماجاء فى المشرق، رقم(۳۰)، وكنزالعمال:۱۴/۱۷۳، مسند عمر، رقم (۳۸۲۷۹)، و المصنف لابن ابى شيبة:۲۱/۱۶۸، كتاب الفتن، من كره الخروج فى الفتنة، رقم(۳۸۵۶۱))_

[5]) قال الحموى: نجد: بفتح اوله، وسكون ثانيه، قال النضر: النجد: قفاف الارض وصلابها، وما غلظ منها واشرف، والجماعة النجاد......". انظر معجم البلدان:۵/۲۶۱)_

"وقال الخطابي رحمه الله:نجد: ناحية المشرق،ومن كان بالمدينة كان نجده بادية العراق ونواحيها،وهي مشرق أهلها،وأصل النجد:ما ارتفع من الارض.......".(١)

د فتنې نه څهٔ مراد دی؟:د باب په حدیث شریف کښې چې د مشرق د فتنې کومه پیشن ګوئی ده،یو بل حدیث چې د حضرت اسامه بن زید رضي الله عنهما نه روایت دې،په هغې کښې دا پیشن ګوئی د مدینې منورې سره متعلق ده چې په مدینه منوره کښې به دا فتنه ښکاره کیږی،نبی علیه السلام فرمائی:"فاني لارى الفتن تقع خلال بيوتكم كوقع القطر"(٢)چې"زهٔ ستاسو کورونو کښې راتلونکې فتنې داسې وینم لکه څنګه چې باران راځی".

دغه شان یو حدیث کښې راغلې دی،کوم چې د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې:

"ستكون فتن،القاعد فيها خير من القائم"(٣)

په دې حدیث شریف کښې د ډیرو فتنو د ښکاره کیدو پیشن ګوئی ده.ددې ټولو احادیثو مینځ کښې تطبیق دادې چې د باب د حدیث شریف او د حضرت اسامه بن زید رضي الله عنهما په حدیث کښې د فتنې نه مراد د دریم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه قتل دې،او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت او نور هغه ټول روایتونه چې په هغې کښې "فتن" د جمعې صیغې سره راغلې دې، په دې کښې د حضرت عثمان رضي الله عنه د قتل نه پس ښکاره کیدونکې نور واقعات او احوال دی.

ددې اجمال تفصیل دادې چې د حضرت عثمان رضي الله عنه قتل د ټولو فتنو او د حوادثو بنیاد وو،کوم چې په مدینه منوره باندې اوشو،ددې نه پس فتنه په نورو ښارونو کښې هم ښکاره شوه،د صفین او د جمل جنګونه اوشو،په نهروان کښې چې کوم جنګ اوشو د هغې سبب د صفین واقعه اوګرځیده،ددې وجې نه دا وئیلې کیدې شی چې په اولنۍ صدۍ هجرۍ کښې چې کومې فتنې ښکاره شوې،ددې ټولو وجه او سبب،بنیاد د حضرت عثمان رضي الله عنه مظلومانه شهادت وو.

حافظ صاحب رحمه الله فرمائی: "وإنما اختصت المدينة بذلك لان قتل عثمان رضي الله عنه كان بها،ثم انتشرت الفتن في البلاد بعد ذلك،فالقتال بالجمل والصفين كان بسبب قتل عثمان رضي الله عنه،والقتال

---

(١) شرح الخطابي،(اعلام الحديث):٤/٢٣٣٠،وفتح الباري:١٣/٤٧،ددې تعیین وجه داده چې که د نجد نه مطلقاً څهٔ مخصوص علاقه مراد کړې شی نو بیا به مشکل شی،لکه د نجد اطلاق د عرب په ډیرو علاقو باندې کیږی.مثلاً: نجد تهامه،نجد برق،نجد العقاب،نجد مريع او نجد اليمن وغیره وغیره. اوګورئ، معجم البلدان:٥/٢٦٢_٢٦٥)_

(٢) الحديث،اخرجه البخاري في كتاب الفتن،باب قول النبي صلى الله عليه وسلم :ويل للعرب......رقم (٧٠٦٠)،وانظر جامع الاصول وتعليقاته:١٠/٣٨،ومسند الحميدي:١/٢٤٨،احاديث اسامة بن زيد، رضي الله عنهما ،رقم (٢٥٢))_

(٣) الحديث،اخرجه البخاري،كتاب احاديث الانبياء،باب علامات النبوة في الاسلام،رقم (٣٦٠١)،وكتاب الفتن،باب تكون فتنة القاعد فيها خير من القائم،رقم (٧٠٨١_٧٠٨٢)،ومسلم،كتاب الفتن،باب نزول الفتن كمواقع القطر،رقم (٧٢٤٧_٧٢٤٩))_

بالنهروان كان بسبب التحكيم بصفين، وكل قتال وقع في ذلك العصر إنما تولد عن شئ من ذلك أو عن شئ تولد عنه"(١).
دا تفصيل د هغې حديث شريف وو كوم چې د مدينې منورې سره متعلق وو۔
تاريخ كۀ لږ وړاندې اوكتلې شي نو معلومه به شي چې د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت سبب عراق وو. لکه په دريم خليفه باندې چې كوم اعتراضات شوې وو. په هغې كښې يو اعتراض د ښارونو اميران او گورنران وو چې هغوى په مختلفو علاقو باندې كوم گورنران او اميران مقرر كړې وو. په هغې كښې د ټولو نه مخكښې د عراق په امير باندې اعتراض شوې وو. هم دا وروستو د لوئې فتنې سبب اوگرځيدۀ. آخر د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت واقعه پيښه شوه او عراق په مشرقى طرف كښې دې(٢).
بيا وروستو اسلامى دنيا د لويو لويو فتنو او حوادثو سره مخامخ شوه. قيامت پورې به دا سلسله جارى وى. أعاذنا الله من جميع الفتن ظاهرها وباطنها.
حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى: "فالمراد عندي في هذه الاحاديث مبدأ الفتن، وهو قتل عثمان رضى الله عنه، ومبدؤه كان من العراق...... "(٣) چون كفر از كعبه برخيزد......
مزيد فرمائى: "كوم سړې چې د حضرت عائشې رضي الله عنها حجرې باندې د فتنې د ځائې گمان اوكړى، هغه وخت كله چې ورته د بصرې سفر پيښ شو نو دې بيشكه كافر دې. ځكه چې دا خو د اهل ايمان د سردار محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم ټهكانه ده. چې د هغوى په نوم اوريدو سره كفر او فتنې تختى او د مزې خبره داده چې حضرت عائشه رضي الله عنها دې حجرې نه د حج ادا كولو دپاره روانه شوې وه نۀ چې د فتنې پيدا كيدو دپاره، كه حضرت عائشه رضي الله عنها فتنه انگيزه اوگرځولې

---

(١) فتح البارى:١٣/١٣، رقم (٦٦٥١)، وايضا انظر الاستذكار:٥٢٩/٧، والاوجز:٣٤٥/١٧_
(٢) فتح البارى:٤٧/١٣، والاوجز:٣٥٤/١٧_
(٣) الاوجز:٣٥٤/١٧، قال الامام ابو عمر ابن عبد البر رحمه الله: روينا عن حذيفة رضي الله عنه، انه قال: اول الفتن قتل عثمان، وآخرها الدجال"
ومعلوم ان اكثر البدع انما ظهرت و ابتدات من المشرق، و ان كان الذين اقتتلوا بالجمل وصفين منهم كثير من اهل الحجاز والشام، فان الفتنة وقعت فى ناحية المشرق، وكانت سببا الى افتراق كلمة المسلمين ومذاهبهم، و فساد نيات كثير منهم الي اليوم، والى ان تقوم الساعة، والله اعلم". الاستذكار:٥٢٩/٧
او شاه عبد العزيز محدث دهلوى رحمه الله فرمائى: "په دې امت مرحومه كښې چې كومه لويه فتنه هم پورته شوه، د دغه طرف نه پورته شوه. د ټولو نه اولنئ فتنه د مالک بن اشتر خروج وو چې هغه او د هغۀ ملگرى د حضرت عثمان شهيد خلاف د كوفې نه راووتل او كوفه د مدينې منورې نه د مشرق په طرف ده. دويمه فتنه د عبيد الله بن زياد ده، كومه چې د حضرت حسين د شهادت سبب اوگرځيده. د دې نه پس د نبوت دعوى كوونكې د مختار ثقفى فتنه ښكاره شوه. بيا هم د دې طرفنه اكثر بدعتونه او باطل عقيدې ښكاره كيدې، د دې وجې نه د "روافضو" چشمه هم كوفه ده او د معتزله د پيدا كيدو ځائې بصره ده. واصل بن عطاء بصرى دې. قرامطه د كوفې د علاقې پيدا اوارده. خوارج د نهروان نه راووتل او دجال به د اصفهان نه راوځى" ملخص از: تحف اثنا عشريه فارسى، مطاعن ام المؤمنين رضي الله عنها طعن نهم، ص: ٣٣٧)

شی نو بیا دا حقیقت هم د نظر لاندې ساتل پکار دی چې حضرت عائشه رضی الله عنها مکې مکرمې نه بصرې ته دپاره روانه شوې وه، بیا خو د حضرت عائشې رضی الله عنها حجرې په ځائې مکې معظمې ته د فتنې ځائې وئیل پکار دی!

چون کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

او چې هرکله د کعبې نه کفر راوخی نو اسلام به چرته باقی شی"

پورته حواله. دغه شان اوګورئ، احکام القرآن لابن العربی: ۳/۵۶۹_۵۷۰، سورة الاحزاب: ۳۲_۳۳، الایة الثامنة، المسالة الخامسة)_ والله اعلم بالصواب.

د قرن معنی او مراد: قرن د قاف فتحې او د راء سکون سره ښکر ته وئیلې شی.

علامه داودی رحمه الله فرمائی چې په حقیقت کښې د شیطان ښکر وی. او دا احتمال هم شته چې د قرن نه مراد د شیطان طاقت وی او هغه ځیزونه چې د هغې په ذریعې سره هغه خلق ګمراه کوی. حافظ ابن حجر رحمه الله دا راجح ښودلې ده.(۱).

او علامه سیوطی رحمه الله لیکلې دی چې د قرن الشیطان نه مراد د هغهٔ ډله او ملګری دی او مطلب دادې چې ددې نه د شیطان ملګری راوخی(۲).

قرن الشیطان به کله ښکاره کیږی؟: حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چې زما په نزد د قرن الشیطان د ظهور نه مراد د دجال ښکاره کیدل دی، ځکه چې د دجال ښکاره کیدل په امت محمدیه فتنه ده او داسې فتنه ده چې ددې نه لویه فتنه نشته. مزید فرمائی چې زما ددې قول تائید د حضرت سالم بن عبدالله رضی الله عنه د هغه روایت نه کیږی کوم چې اوس تیر شو. هلته ترتیب دا وو چې اول "الفتنة تجئ من ههنا" فرمائیلې شوې وو، بیا "من حیث یطلع قرن الشیطان" د حدیث ظاهر سیاق په دې خبره باندې دلالت کوی چې "مجئ الفتنة" جدا ځیز دې او "طلوع القرن" جدا ځیز دې، دغه شان د طلوع نه مراد خروج دې لکه څنګه چې د ترمذی په یو روایت(۳) کښې هم د "یطلع" په ځائې "یخرج" راغلې دې(۴). والله اعلم بالصواب

یوه فائده: په اکثرو روایتونو کښې قرن الشیطان راغلې دې، او د بخاری شریف(۵) په یو روایت کښې شک سره قرن الشیطان او قرن الشمس ذکر دې، دغه شان د مسلم شریف(۶) په یو روایت کښې د قرن تثنیه "قرنا الشیطان" راغلې دې، لیکن راجحه صیغې د مفرد سره د

---

(۱) وفیه اقوال اخر ایضا. انظر فتح الباری: ۱۳/۴۶. وعمدة القاری: ۲٤/۹۹)_

(۲) مرقاة المفاتیح: ۱۱/٤۰٤)_

(۳) انظر الجامع للترمذی، ابواب المناقب، باب فی فضل الشام والیمن، رقم (۳۹۵۳))_

(۴) اوجز المسالک: ۱۷/۳۵۵)_

(۵) صحیح البخاری، کتاب الفتن، باب قول النبی a ؟؟: الفتنة من........رقم (۷۰۹۲))_

(۶) صحیح مسلم، کتاب الفتن، باب الفتنة من المشرق......رقم (۷۲۹۷))_

شک نه بغیر قرن الشیطان ده [1]

د باب اووم حدیث شریف د حضرت عمرة بنت عبدالرحمن رحمهما الله تعالی دي.

٢٩٣٨ [2] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ عَمْرَةَ ابْنَةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَخْبَرَتْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ عِنْدَهَا، وَأَنَّهَا سَمِعَتْ صَوْتَ إِنْسَانٍ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِ حَفْصَةَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا رَجُلٌ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِكَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أُرَاهُ فُلاَنًا، لِعَمِّ حَفْصَةَ مِنَ الرَّضَاعَةِ، الرَّضَاعَةُ تُحَرِّمُ مَا تُحَرِّمُ الْوِلاَدَةُ». [ر: ٢٥٠٣]

رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف**: دا عبدالله بن يوسف تنيسي رحمه الله دي.

② **مالک**: دا امام دارالهجرة حضرت مالک بن انس رحمه الله دي. ددي دواړو تذکره د"بدء الوحي" په اولنی حدیث کښې راغلې ده [3].

③ **عبدالله بن ابی بکر**: دا عبدالله بن أبوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم انصاري رحمه الله دي [4].

④ **عمرة**: دا عمرة بنت عبدالرحمن بن سعد رحمهما الله تعالی ده [5].

⑤ **عائشة**: د حضرت عائشې رضی الله عنها تذکره د"بدء الوحي" په اولنی حدیث کښې تیره شوې ده [6].

د حدیث شریف ترجمه: حضرت عمرة فرمائی چې حضرت عائشې رضی الله عنها ماته اووئیل چې نبی کریم ﷺ ماسره وو چې هغوی د یو سړی آواز واوریدۀ. کوم چې د حضرت حفصه رضی الله عنها کورته د داخلیدو دپاره اجازت غوښتۀ، حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی: نو ما اووئیل یا رسول الله! څوک سړې دي، چې ستاسو کور ته راتلل غواړی. نبی علیه السلام اوفرمائیل زما په خیال دا فلانې دي. دا ئې د حضرت حفصه رضاعی ترۀ یاد کړو. رضاعت سره هم هغه رشتې حرامیږی کومې چې ولادت سره حرامیږی.

ددې حدیث تشریح په ابواب الرضاع کښې راغلې ده. [7]

د باب د حدیثونو ترجمة الباب سره مناسبت: د باب ټول احادیث مبارکه ترجمة الباب سره واضح مناسبت لری. تفصیل لاندې ذکر کولې شی:

---

[1]) انظر فتح الباري: ٢٤٠/٤، والاوجز: ٣٥٣/١٧_

[2]) قولها: "ان عائشة......": الحدیث، مر تخریجه فی کتاب الشهادات، باب الشهادة علی الانساب.....)_

[3]) کشف الباري: ٢٨٩/١_٢٩٠، دغه شان اوګورئ، کشف الباري: ٨٠/٢)_

[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب الوضوء مرتين مرتين)_

[5]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الحيض، باب عرق الاستحاضة)_

[6]) کشف الباري: ٢٩١/١)_

[7]) کشف الباري، کتاب النکاح، ابواب الرضاع: ١٨٧_١٨٨)_

① د اولنی حدیث ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله کښې دې "فی بیتی" چې دلته حضرت عائشې رضی الله عنها د بیت نسبت خپل طرفته کړې دې[1]

② د دویم حدیث شریف مناسبت هم واضح او ښکاره دې.لکه د حضرت عائشې رضی الله عنها په دې جمله "توفی النبی صلی الله علیه وسلم فی بیتی....." کښې مطابقت موجود دې[2]

③ دریم حدیث،چې د حضرت حفصه رضی الله عنها دې،د هغې مطابقت ترجمة الباب سره په دې الفاظو کښې دې،"عند باب أم سلمة...."ځکه چې د دروازې ذکر کول کور ته لازم او مستلزم دی[3]

④ څلورم حدیث،کوم چې د ابن عمر رضی الله عنهما وو،د هغې مناسبت هم ښکاره دې.د هغې الفاظو "فی بیت حفصة" کښې مناسبت موجود دې[4].

⑤ د پنځم حدیث مناسبت "من حجرتها" کښې دې،چې حجره او کور یو څیز دې[5]

⑥ د شپږم حدیث مبارک مطابقت ترجمة الباب سره په دې جمله کښې دې. "فاشار نحو مسکن عائشة" ځکه چې د حضرت عائشې رضی الله عنها مسکن هم د هغې کور وو[6]

⑦ د آخری او د اووم حدیث شریف مناسبت ترجمة الباب سره په "فی بیت حفصة" کښې دې[7]

⑤ باب: ما ذُكِرَ من دِرعِ النبي صلى الله عليه وسلم وعصاهُ وسيفِهِ وقَدَحِه وخاتَمِه،

وما استعمَلَ الخُلفاءُ بعدَه من ذلك مما لم تُذكَرْ قِسمتُهُ،ومن شَعَرِهِ ونَعْلِه وآنِيَتِه مما يَتَبرَّكُ به أصحابُه وغيرُهم بعدَ وفاتِه.

د ترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د متروکاتو تذکره فرمائیلې ده،دا تذکره ئې ولې فرمائیلې ده؟دې سره د امام بخاری رحمه الله څهٔ غرض دې؟ په دې سلسله کښې دوه خبرې شوې دی:

① یو خبره خو شوې ده چې اصل کښې د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چې ولاة الامور (حکمرانانو) ته دا دې څیزونو په استعمال کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اتباع او اقتداء کول پکار

---

[1]) عمدة القاری:۲۹/۱۵،وارشاد الساری:۱۹۷/۵)_
[2]) پورته حواله جات)_
[3]) عمدة القاری:۲۹/۱۵،وفتح الباری:۲۱۱/۶)_
[4]) عمدة القاری:۳۰/۱۵،وارشاد الساری:۱۹۸/۵)_
[5]) پورته حواله جات)_
[6]) عمدة القاری:۳۰/۱۵،وفتح الباری:۲۱۱/۶)_
[7]) عمدة القاری:۳۱/۱۵)_

دی ددې طرفته امام بخاری رحمه الله توجه پیدا کول غواړی دا قول د علامه مهلب رحمه الله دې[1]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې په دې کښې نظر او اشکال دې او دا خبره پوهه کښې نهٔ راځی، فرمائی: "وأما قول المهلب: إنه إنما ترجم بذلك ليتاسى......ففيه نظر، وما تقدم أولى، وهو الأليق لدخوله في أبواب الخمس"[2]
حافظ رحمه الله په خپله د ترجمة الباب غرض دا بیان کړې دې چې امام بخاری دا وئیل غواړی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په متروکاتو کښې کوم مال موجود وو او کوم څیزونه چې موجود وو نو په هغې کښې وراثت جاری نهٔ شو، نهٔ هغه خرڅ کړې شو، بلکه هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم متروکات او تبرکات اوګرځولې شو او باقی اوساتلې شو، دې دپاره چې خلق ددې نه تبرک حاصل کړی، هم دا رائې هغوی الیق او غوره ګرځولې ده[3]
شیخ الاسلام زکریا انصاری چې د ابن حجر رحمهما الله شاګرد دې، هغوی په دې غرض کښې د حافظ صاحب تقلید کړې دې[4]، او هم دا غرض واقعی ډیر زیات صحیح او غوره هم دې. او حضرت ګنګوهی رحمه الله د باب د ترجمة الباب مقصد بیانولو کښې فرمائی:
"يعني أن ما تركه النبي صلى الله عليه وسلم وقت موته كان حقاً مشتركاً بين المسلمين أجمعين، لكونه صدقة، إلا أن يكون ملكه أحداً من أصحابه قبل موته، وإذا ثبت فيه اشتراك الكل، فيد الصحابي الذي هو عنده يد تولية وحفظ، لا يد استبداد بالتصرف وتملك"[5]
مطلب دادې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل وفات په وخت کوم څیزونه پریخودلې وو په هغې کښې د ټولو مسلمانانو مشترکه حق وو، ځکه چې دا صدقات وو (ددې وجې نه دا په بیت المال کښې داخل کړې شو) سوا د هغه څیزونو نه، چې د وفات نه مخکښې نبی علیه السلام څوک د هغې مالکان جوړ کړې وو، هرکله چې دا ثابته شوه چې په دې کښې د ټولو مسلمانانو مشترکه حق وو نو کوم صحابی سره هم چې څهٔ متروکه څیزونه وو، هغه صحابی د هغې څیزونو مالک نهٔ وو، نهٔ ورته په دغه څیزونو کښې د تصرف کولو اختیار وو، بلکه دا قبضه صرف د حفاظت او د تولیت وه ځکه چې د هغوی په کورونو کښې دغه څیزونه حفاظت سره وو.
غالباً په دې پورتنی عبارت کښې حضرت ګنګوهی رحمه الله د هغه اشکال جواب ورکړې دې چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم پریخودلې شوې څیزونه په صدقاتو کښې داخل وو نو په هغې کښې بعضې

[1]) شرح ابن بطال: (۲۶۵/۵)_
[2]) فتح الباری: (۲۱۳/۶)_
[3]) پورته حواله، وتعلیقات لامع الداری: (۲۹۶/۷)_
[4])قال الانصاری رحمه الله: قال شیخنا: الغرض من هذه الترجمة تثبیت انه صلی الله علیه وسلم لم یورث، ولا بیع موجوده ......". انظر تحفة الباری: ۵۳۹/۳. د حافظ نه مخکښې هم دا مقصد ابن المنیر اسکندرانی رحمه الله هم بیان کړې دې. انظر المتواری: ۱۸۹. او ابن بطال رحمه الله هم، انظر شرح ابن بطال: (۲۶۵/۵)_
[5]) لامع الدراری: (۲۹۶/۷)_

خیزونه د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په ملکیت کښې ولې وو؟ددې جواب هم حضرت په ترجمة الباب کښې بیان کړو چې دا تصرف مالکانه نۀ وو بلکه دا خیزونه د هغوی په قبضه کښې د حفاظت له جهته وو، وړاندې به د حدیث شریف په تشریح کښې ددې تفصیل راشی۔
ددې نه پس ځان په دې پوهه کړئ چې امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې شپږ حدیثونه او یو تعلیق ذکر کړې دې، دا ټول به مونږ لاندې ترتیب سره ذکر کوو۔
اولنې حدیث د حضرت انس رضی الله عنه دې۔

۲۹۳۹ (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ - رضى الله عنه - لَمَّا اسْتُخْلِفَ بَعَثَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ ، وَكَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ وَخَتَمَهُ، وَكَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلاَثَةَ أَسْطُرٍ مُحَمَّدٌ سَطْرٌ، وَرَسُولُ سَطْرٌ، وَاللَّهِ سَطْرٌ. [۵۵۴۰]

رجال الحديث

دا حدیث بعینه هم دې سند سره په کتاب الزکوة(۱) کښې تیر شوې دې، هلته اوګورئ۔

د حدیث شریف ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چې کله حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه مقرر کړې شو نو هغوی زۀ (حضرت انس) د بحرین طرفته واستولم او دا خط ئې راکړو او په دې باندې ئې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ګوتمه باندې مهر اولګوو، د هغې ګوتمې چې کوم مضمون وو، هغه په دریو لکیرو باندې مشتمل وو، یو لکیره کښې لفظ د محمد (صلی الله علیه وسلم)، په دویمه لکیره کښې لفظ د رسول او په دریمه لکیره کښې لفظ د الله وو۔

د "هذا الکتاب" نه مراد هغه کتاب دې، په کوم کښې چې د صدقاتو تفصیل وو، ددې مضمون په کتاب الزکوة(۲) کښې تیر شوې دې، چونکه دا کتاب د هغوی په نزد ډیر مشهور وو، ددې وجې نه ئې دا مطلق بیان کړو اوددې طرفته ئې "هذا الکتاب" وئیلو سره اشاره اوکړه(۳).

د باب حدیث شریف سره متعلق نور تفصیلات په کتاب اللباس کښې راغلې دی(۵).

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف مناسبت د ترجمة الباب یو جزء "وخاتمه" سره دې(۶)، او حافظ وائی چې په دې حدیث شریف کښې د نبی علیه السلام د ګوتمې ذکر دې، کومه چې حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه وغیره هم استعمال کړه نو

---

(۱) قوله: انس رضی الله عنه": الحديث، مر تخريجه فى كتاب الزكاة، باب العرض فى الزكاة)_
(۲) صحيح البخارى، كتاب الزكاة، باب العرض فى الزكاة، رقم (۱۴۴۸))_
(۳) صحيح البخارى، كتاب الزكاة، باب زكاة الغنم، رقم (۱۴۵۴))_
(۴) عمدة القارى: ۳۱/۱۵، وشرح القسطلانى: ۱۹۹/۵)_
(۵) كشف البارى، كتاب اللباس: ۲۳۵_۲۳۸)_
(۶) عمدة القارى: ۳۱/۱۵)_

ترجمة الباب سره مطابقت "وما استعمل الخلفاء بعده من ذلك" سره دى[1].
د باب دويم حديث شريف هم د حضرت انس رضي الله عنه دي.

۲۹۴۰: [2] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأَسَدِي حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ قَالَ أَخْرَجَ إِلَيْنَا أَنَسٌ نَعْلَيْنِ جَرْدَاوَيْنِ لَهُمَا قِبَالاَنِ، فَحَدَّثَنِي ثَابِتٌ الْبُنَانِي بَعْدُ عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُمَا نَعْلاَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم-.[۵۵۱۹، ۵۵۲۰]

رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد**: دا عبد الله بن محمد بن ابى شيبه رحمه الله دي[3].

② **محمد بن عبدالله الاسدى**: دا ابو احمد محمد بن عبدالله الاسدى الزبيرى رحمه الله دي[4].

③ **عيسى بن طهمان**: دا ابوبكر يا ابوليث عيسى بن طهمان بن رامه جُشَمى كوفى بصرى رحمه الله دى[5].

په وړوكو تابعينو كښې وو، اصل كښې د بصرې دې، بيا ئې وروستو په كوفه كښې استوګنه اختيار كړه او آخره پورې دلته اوسيدلو[6].

دې د حضرت انس بن مالک، ثابت البنانى، مساور مولى ابى برزه او ابوصادق الازدى (رضى الله عن الجميع) وغيره نه حديث روايت كوى. او ددوى نه د حديث په روايت كوونكو كښې عبدالله بن مبارک، وكيع، ابواحمد زبيرى، يحيى بن آدم، ابوقتيبه، ابوالنضر، خالد بن عبدالرحمن خراسانى، قبيصه بن عقبه، خلاد بن يحيى او ابونعيم رحمهم الله وغيره شامل دى[7].

امام احمد رحمه الله فرمائى: "شيخ، ثقة"[8] دغه شان فرمائى: "ليس به باس"[9].

---

[1]) فتح البارى: ۲۱۳/۶)_

[2]) قوله: انس": الحديث، اخرجه البخارى ايضا فى كتاب اللباس، باب قبالا فى نعل...... رقم (۵۷۵۸_۵۸۵۸)، وابو داود فى سننه، ابواب اللباس، باب فى الانتعال، رقم (٤١٣٤)، والترمذى فى جامعه، ابواب اللباس، باب ما جاء فى نعل النبى ﷺ، رقم (۱۷۷۲_۱۷۷۳)، وفى الشمائل المحمديه، باب ما جاء فى نعل رسول الله...... رقم (۷۸)، والنسائى فى سننه، كتاب الزينة، باب صفة نعل رسول الله...... رقم (۵۳۶۹))_

[3]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب العمل فى صلاة، باب لا يرد السلام فى الصلاة)_

[4]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الاذان، باب المكث بين السجدتين)_

[5]) تهذيب الكمال: ۶۱۷/۲۲_۶۱۸، وكتاب المجروحين لابن حبان: ۹۸/۲، وتاريخ بغداد: ۱٤۳/۱۱، رقم (۵۸٤۱)، وتاريخ الاسلام للذهبى: ٢٦٣/٤، رقم (۳۳۹۸))_

[6]) هدى السارى، حرف العين: ۶۰۶، وتهذيب الكمال: ۶۱۸/۲۲)_

[7]) د استاذانو او شاګردانو دپاره اوګورئ، تهذيب الكمال: ۶۱۸/۲۲)_

[8]) الجرح والتعديل: ۳۶۰/۶، رقم (۱۰۸۰۲/۱۵۵۲)، وتهذيب الكمال: ۶۱۸/۲۲)_

[9]) تهذيب الكمال: ۶۱۸/۲۲، وتاريخ بغداد: ١٤٤/١١)_

یحیی بن معین رحمہ اللہ فرمائی: "بصری، صار إلی الکوفة، ثقة....."[1]
ابو حاتم رحمہ اللہ فرمائی: "لابأس به، یشبه حدیثه حدیث أهل الصدق، مابحدیثه بأس"[2]
ابو داؤد رحمہ اللہ فرمائی: "لابأس به، أحادیثه مستقیمة"[3]
ذهبی رحمہ اللہ فرمائی: "ثقة"[4]
ددې حضراتو نه علاوه د جرح او تعدیل نورو ډیرو علماء کرامو هم ددوی توثیق کړې دې[5] لیکن علامه عقیلی او ابن حبان په دوی باندې کلام کړې دې، بلکه ابن حبان خو ډیر سخت الفاظ استعمال کړي دی، لکه عقیلی فرمائی: "ولا یتابع علی حدیثه"[6] لیکن دې سره سره هغوی عیسی بن طهمان ددې الزام نه هم بری کړي دې او فرمائیلي ئې دی چې په احادیثو کښې د عدم متابعت کوم الزام دې د هغې وجه خالد بن عبد الرحمن دې، کوم چې د عیسی نه روایت کوی، هم دا خبره صحیح هم ده چې دلته د عدم متابعت الزام په عیسی باندې نۀ دې، بلکه د خالد بن عبد الرحمن په ذمه باندې دې، حافظ رحمہ اللہ فرمائی:

"وقال العقیلی: "لایتابع، ولعله أتي من خالد بن عبد الرحمن" یعني: الراوي عنه، وهو کما ظن العقیلی"[7]
د عیسی بن طهمان په باره کښې د ابن حبان رحمہ اللہ کلام دادې:

"ینفرد بالمناکیر عن أنس، ویأتي عنه بما لا یشبه حدیثه، کأنه کان یدلس علی أبان بن أبي عیاش ویزید الرقاشي عنه، لایجوز الاحتجاج بخبره، وإن اعتبر بما وافق الثقات من حدیثه فلا ضیر....."[8]
په دې عبارت کښې په عیسی بن طهمان باندې دا اعتراضات شوي دی چې د حضرت انس رضی اللہ عنہ نه منکر روایتونه نقل کوی او د هغوی نه داسې روایتونه نقل کوی چې د هغوی د حدیثونو سره مشابهت نۀ لری، گویا چې عیسی بن طهمان مدلس هم دې، ددې وجې نه د دوی د مرویاتو نه استدلال کول صحیح نۀ دی، البته که د دوی روایات د ثقاتو د روایتونو موافق وی نو بیا هیڅ باک نشته۔
او د دلیل په طور ابن حبان رحمہ اللہ دا حدیث پیش کړې دې:

"......عن أنس بن مالك، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ارحموا من الناس ثلاثة:

---

[1]) تهذیب الکمال:۲۲/۶۱۹، وتاریخ بغداد:۱۱/۱۴۴، وتهذیب التهذیب:۸/۲۱۶)_
[2]) الجرح والتعدیل:۶/۳۶۰، رقم (۱۵۵۲/۱۰۸۰۲)، وتهذیب الکمال:۲۲/۶۱۹)_
[3]) تهذیب الکمال:۲۲/۶۱۹، وتهذیب التهذیب:۸/۲۱۶)_
[4]) المغنی فی الضعفاء:۲/۱۶۷، رقم (۴۸۰۵))_
[5]) مثلاً یعقوب بن سفیان، ابن حجر او دارقطنی وغیره، اوګورئ، هدی الساری:۶۰۶، وتهذیب الکمال وتعلیقاته: ۲۲/۶۱۹-۶۲۰، والمعرفة والتاریخ، الکنی والاسامی.....۳/۲۷۰)_
[6]) الضعفاء الکبیر للعقیلی:۳/۳۸۵، رقم(۱۴۲۵)، وتعلیقات تهذیب الکمال:۲۲/۶۱۹، وهدی الساري:۶۰۶)
[7]) هدی الساري: حرف العین:۶۰۶)_
[8]) پورته حواله، وکتاب المجروحین:۲/و تعلیقات تهذیب الکمال:۲۲/۶۱۹، وتهذیب التهذیب۸/۲۱۵)_

عزيز قوم ذل،وغنى قوم افتقر،وعالماً بين الجهال.[1]
ليكن ياد ساتئ چې د عيسى بن طهمان په باره كښې د ابن حبان دا مذكوره كلام هيڅ كله نقصان نۀ دې.اول خو ددې وجې نه چې د ابن حبان كلام په جرح كښې معتبر نۀ دې،ځكه چې دې په متشددينو كښې دې[2]دويم ددې وجې نه چې حافظ رحمه الله فرمائى چې ابن حبان د خپلې دعوې "لايجوز الاحتجاج به" دپاره د دليل په طور صرف يو روايت پيش كړې دې،په دې كښې هم د عيسى قصور نشته بلكه د دوى نه پس د يو بل راوى قصور دې،ليكى چې:
"ثم لم يسق له إلاحديثا واحداً،والآفة فيه ممن دونه"[3]
دريم ددې وجې نه چې امام بخارى رحمه الله د دوى صرف دوه حديثونه په خپل صحيح كښې نقل كړې دى،يو خو د باب دا حديث،چې د هغې دويم طريق په كتاب اللباس[4]كښې دې، دويم په كتاب التوحيد[5]كښې،او دواړو ځايونو كښې هغوى د سماع او د تحديث وضاحت كړې دې،ددې وجې نه د بخارى پورې د تدليس الزام هم صحيح نۀ دې[6]والله اعلم بالصواب
عيسى بن طهمان رحمه الله د صحيح بخارى نه علاوه د ترمذى(فى الشمائل)او د نسائى راوى هم دې[7].د حافظ ذهبى رحمه الله د قول مطابق ددوى انتقال په ۱۶۰هجرئ كښې اوشو[8]دې د امام بخارى د يو دريم روايت هم راوى دې[9]

④انس رضي الله عنه: د حضرت انس حالات په كتاب الايمان،"باب من الايمان أن يحب لاخيه...."كښې تير شوى دى[10]

⑤ثابت البنانى:د حضرت ثابت بن اسلم البنانى رحمه الله حالات په كتاب العلم،"باب القراءة والعرض على المحدث"كښې راغلې دى[11]

---

[1]) كتاب المجروحين:۹۸/۲.د حديث ترجمه دا ده:"په خلقو كښې درې قسمه كسانو باندې رحم اوكړئ،يو د قوم معزز او سردار كوم چې ذليل شوې وى،دويم د قول مالدار كوم چې محتاج شوې وى،او دريم هغه عالم چې د جاهلانو مينځ كښې وى"۔
[2]) قواعد فى علوم الحديث للعثمانى،لا يؤخذ بقول كل جارح......:۱۷۸-۱۷۹)_
[3]) هدى السارى:حرف العين:۶۰۶،وتهذيب التهذيب:۲۱۶/۸)_
[4]) صحيح البخارى،كتاب اللباس،باب قبالان فى نعل،رقم(۵۸۵۸))_
[5]) صحيح البخارى،كتاب التوحيد.باب(وكان عرشه على الماء)،رقم(۷۴۲۱))_
[6]) هدى السارى:۶۰۶)_
[7]) تهذيب الكمال:۶۲۰/۲۲)_
[8]) تهذيب التهذيب:۲۱۶/۸)_
[9]) صحيح البخارى،كتاب التوحيد،باب(وكان عرشه على الماء)رقم(۷۴۲۱)وتاريخ الاسلام للذهبى:٤/۲۶۳،الطبقة السادسة عشرة،رقم(۳۳۹۸))_
[10]) كشف البارى:٤/۲)_
[11]) كشف البارى:۱۸۳/۳)_

د حدیث شریف ترجمه: عیسی بن طهمان رحمه الله وائی چې حضرت انس رضی الله عنه څپلئ اوباسلې او مونږ ته ئې اوښودلې، چې د هغې پورته ویختهٔ د د زړېدو د وجې نه پرېوتې وو. د هغې دوه تسمې وې عیسی بن طهمان وائی چې بیا وروستو ماته ثابت البنانی رحمه الله اووئیل چې دا دواړه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څپلئ دی.

د جرداوین تحقیق: جرداوین د جرداء تثنیه ده. دا د اجرد مؤنث دې. ددې دوه معنې بیان کړې شوې دی (۱) چې ویختهٔ پرې نهٔ وی (۲) زوړ مونږ چې پورته کومه ترجمه کړې ده هغه د علامه عینی رحمه الله د کلام مطابق ده او حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله اوله معنی اختیار کړې ده او دویمه معنی ئې قیل سره بیان کړې ده[1] او دواړه معنې صحیح دی.

د قبالان معنی: قبالان د قبال تثنیه ده، د څپلئ هغې تسمې ته وئیلې شی کومه چې د پورته نه د خپې غټې ګوتې او دې سره یوځائې ګوتې مینځ کښې پیوست شوې وی.[2]

د فحدثنی ثابت البنانی بعد..... مقصد: حضرت انس رضی الله عنه چې دوی ته کومې څپلئ ښودلې وې نو دا د چا وې؟ دا معلومه نهٔ وه، بیا وروستو حضرت ثابت بنانی رحمه الله ددې وضاحت اوکړو چې دا څپلئ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دی او ښکاره خبره ده چې حضرت ثابت به هم دا خبره د خپل طرفنه نهٔ وی کړې بلکه د حضرت انس رضی الله عنه نه به ئې اورېدلې وی، قسطلانی رحمه الله فرمائی:

"وکانه رأی النعلین مع أنس، ولم یعلم أنهما نعلا النبی صلی الله علیه وسلم، فحدثه بذلك ثابت عن أنس"[3]

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حدیث مناسبت ددې جزء "ونعله" سره دې ځکه چې په دې کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د څپلو تذکره ده.[4]

د باب دریم حدیث شریف د حضرت عائشه رضی الله عنها دې.

۲۹۴۱: [5] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ - رضی الله عنها - كِسَاءً مُلَبَّدًا وَقَالَتْ فِي هَذَا نُزِعَ رُوحُ

---

[1]) عمدة القاری: ۳۲/۱۵، وخصائل نبوی شرح شمائل ترمذی مع عربی حواشی للکاندهلوی: ۴۷، وقال الخطابی رحمه الله: جردوان: یرید، خلقین، وثوب جرد، ای: خلق". اعلام الحدیث: ۱۴۴۲/۲)_

[2]) کشف الباری، کتاب اللباس: ۲۱۵، وعمدة القاری: ۳۲/۱۵)_

[3]) شرح القسطلانی: ۲۰۰/۵، وایضا انظر فتح الباری: ۲۱۴/۶)_

[4]) عمدة القاری: ۳۲/۱۵)_

[5]) قوله: اخرجت الینا عائشة......": الحدیث، اخرجه البخاری ایضا، کتاب اللباس، باب الاکسیة والخمائص، رقم (۵۸۱۸)، ومسلم، کتاب اللباس والزینة، باب التواضع فی اللباس، رقم (۵۴۴۲_۵۴۴۴)، و ابو داود، ابواب اللباس، باب لباس الغلیظ، رقم (۴۰۳۶)، والترمذی، ابواب اللباس، باب ماجاء فی لبس الصوف، رقم (۱۷۳۳)، وابن ماجه، ابواب اللباس، باب لباس رسول الله صلی الله علیه وسلم، رقم (۳۵۵۱))_

النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - . وَزَادَ سُلَيْمَانُ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ إِزَارًا غَلِيظًا مِمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ، وَكِسَاءً مِنْ هَذِهِ الَّتِي يَدْعُونَهَا الْمُلَبَّدَةَ.[۵۴۸۰]

رجال الحديث

①**محمد بن بشار**:دا محمد بن بشار عبدی رحمه الله دې.د دوی تفصیلی تذکره په کتاب العلم، "باب ماكان النبي صلى الله عليه وسلم يتخولهم...." کښې راغلې ده[1].

②**عبدالوهاب**:دا عبد الوهاب بن عبد المجید ثقفی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب حلاوة الايمان"کښې تیره شوې ده[2].

③**ایوب**: د ایوب سختیانی رحمه الله تذکره هم د کتاب الایمان مذکوره باب کښې راغلې ده[3].

④**حمید بن هلال**:دا حمید بن هلال عدوی رحمه الله دې[4].

⑤**ابو برده**:دا ابوبرده حارث بن ابی موسی اشعری دې.د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب أي الاسلام افضل"کښې تیر شوې دی[5].

⑥**عائشة**:د حضرت عائشه رضي الله عنها حالات په"بدء الوحی"کښې بیان کړې شوې دی[6].

قوله: قَالَ: أخرجت إلينا عائشة رضي الله عنها كساء ملبدا: حضرت ابوبرده رحمه الله فرمائی چې حضرت عائشې رضي الله عنها مونږ ته یو پلن(پیړ)څادر اوښودلو.

د کساءً ملبداً معنی:نن صبا خو کساء مطلقاً څادر ته وئیلې شی لیکن مخکښې به ددې اطلاق صرف د وړئ په څادر باندې کیدلو ،قال العيني:"الكساء معروف،لكن الظاهر أنه لا يطلق إلا على ما كان من الصوف"[7].

او ملبد د تلبید نه د اسم مفعول صیغه ده،ددې اصل لبد یا لبدة دې،لبده نمده ته وئیلې شی یعنی هغه کپړه چې وړئ یا ویختهٔ په اوبو کښې خوشتولو نه پس جوړولې شی او د اس د زین نه لاندې کیخودلې شی،دې دپاره چې خوله زین لره متاثره نهٔ کړی،اوس د کساء ملبد معنی دا شوه چې هغه څادر چې د هغې مینځ سخت وی،د مختلفو کپړو د لمدولو نه پس،په

---

[1]) كشف الباري:۳/۲۵۸)_
[2]) كشف الباري:۲/۲۶)_
[3]) پورته حواله)_
[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الصلاة،باب يرد المصلي من مربين يديه)_
[5]) كشف الباري:۱/۶۹۰)_
[6]) كشف الباري:۱/۲۹۱)_
[7]) عمدة القاري:۳۲/۱۵،والقاموس الوحيد،مادة "لبد")_

يو بل باندې قط په قط ايخودلو نه وروستو تيار کړې شوې وي[1]

نبی علیه السلام به دا څادر ولې استعمالوو؟ نبی کریم ﷺ به کساء ملبد ولې استعمالوو،په دې سلسله کښې مختلف خبرې شوې دی.

①:دې استعمال به ئې د عاجزۍ د وجې نه کوو. ② ددې نه غوره څادر چونکه نبی علیه السلام سره نه وو،ددې وجې نه به ئې دا استعمالوو. ③ د څۀ قصد او ارادې نه بغير اتفاقی طور به ئې استعمالوو، چې څۀ به ملاؤ شو نو هغه به ئې اغوستل.

ليکن په دې ټولو کښې اولنې احتمال غوره دې،علامه نووی او علامه عينی دغه احتمال غوره کړې دې[2]

قوله: وقالت: في هذا نزع روح النبي صلى الله عليه وسلم: حضرت عائشې رضي الله عنها مزيد اوفرمائيل چې هم په دې څادر کښې د نبی کريم ﷺ روح وتلې وو.
مطلب دا دې چې د وفات په وخت هم نبی علیه السلام دا څادر اغوستې وو.

وزاد سليمان عن حميد عن أبي بردة قال: أخرجت إلينا عائشة.....

او سليمان بن مغيره د حميد عن ابی برده د طريق نه دا اضافه هم ښودلې ده چې ابوبرده اوفرمائيل چې حضرت عائشې رضي الله عنها د يمن جوړ کړې شوې يو پلن ازار(لنګ)او يو څادر مونږ ته اوښودل،کوم ته چې تاسو ملبده وائې.

د سليمان نه ابوسعيد سليمان بن مغيره قيسی بصری رحمه الله مراد دې[3]

د مذکوره تعليق مقصد: غالباً ددې تعليق مقصد دادې چې د ايوب عن حميد په روايت کښې اختصار دې،او د حميد نه د باب د حديث په روايت کولو کښې يو بل راوی د سليمان بن مغيره په روايت کښې د ازار تذکره هم شته،اوس د حديث مطلب دا شو چې د وفات په وخت د نبی کريم ﷺ په بدن مبارک باندې دوه کپړې وې،يو ازار چې د يمن جوړ کړې شوې وو او دويم کساء ملبد. والله اعلم

د مذکوره تعليق تخريج: دا تعليق امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کښې "شيبان بن فروخ،عن سليمان بن المغيرة،عن حميد،عن أبي بردة" طريق سره موصولاً نقل کړې دې،هلته پوره روايت دغه شان دې،حضرت ابوبرده فرمائي:

"دخلت على عائشة،فأخرجت إلينا إزاراً غليظاً،مما يصنع باليمن،وكساء من التي تسمونها الملبدة،قال: فأقسمت بالله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قبض في هذين الثوبين"[4]

---

[1]) پورته حواله جات،وشرح النووی علی مسلم:٢/١٩٤،والنهاية لابن الاثير:٤/٢٢٤)_

[2]) عمدة القاری:١٥/٣٢،وشرح النووی:٢/١٩٣)_

[3]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ،کشف الباری:٣/١٨١،کتاب العلم،باب القراءة والعرض......)_

[4]) صحيح مسلم،کتاب اللباس والزينة،باب التواضع فی اللباس،والاقتصار......رقم (٥٤٤٢)،وتغليق التعليق: ٣/٤٦٨،وفتح الباری:٦/٢١٤،وعمدة القاری:٣٢)_

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: د علامه عيني رحمه الله د قول مطابق ددې حديث شريف مناسبت ترجمة الباب سره د ترجمة الباب جزء ''وما استعمل الخلفاء.....'' سره دې[1] د باب څلورم حديث د حضرت انس رضي الله عنه دې.

۲۹۴۲[2]: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنْ عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - أَنَّ قَدَحَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - انْكَسَرَ، فَاتَّخَذَ مَكَانَ الشَّعْبِ سِلْسِلَةً مِنْ فِضَّةٍ. قَالَ عَاصِمٌ رَأَيْتُ الْقَدَحَ وَشَرِبْتُ فِيهِ. [۵۳۱۵]

رجال الحديث

①**عبدان:** دا عبد الله بن عثمان بن جبله رحمه الله دې چې ملقب په ''عبدان'' سره دې. د دوی تذکره په ''بدء الوحی'' کښې تیره شوې ده[3]؛

②**ابوحمزه:** دا ابوحمزه محمد بن میمون سکری مروزی رحمه الله دې[4]

③**عاصم:** دا عاصم بن سلیمان الاحول رحمه الله دې[5]

④**ابن سیرین:** دا مشهور محدث او تعبیر کوونکې محمد بن سیرین رحمه الله دې. د دوی حالات په کتاب الایمان ''باب اتباع الجنائز من الایمان'' کښې راغلې دی[6]

⑤**انس بن مالک:** د حضرت انس رضي الله عنه تذکره په کتاب الایمان، ''باب من الایمان..... '' کښې راغلې ده[7]

د حدیث شریف سند سره متعلق یو اهم خبرداري: ددې حدیث شریف په سند کښې اختلاف دې. ابوحمزه دا د عاصم عن ابن سیرین عن انس طریق سره نقل کړې دې. او شریک د عاصم عن انس د طریق سره. یعني هغوی په کښې د ابن سیرین واسطه نۀ ده ذکر کړې. هم دا حدیث امام بزار رحمه الله هم د امام بخاری رحمه الله په واسطې سره په خپل مسند کښې ذکر کړې دې او فرمائی چې ''لانعلم من رواه عن عاصم هكذا الا اباحمزة''[8] او امام دارقطنی رحمه الله فرمائی، ''والصحیح الاول''

---

[1]) عمدة القاری: ۱۵/۳۲)_

[2]) قوله: انس بن مالک'': الحدیث، اخرجه البخاری ایضا، کتاب الاشربة، باب الشرب من قدح النبی صلی الله علیه وسلم وآنیته، رقم (۵۶۳۸)، ولم یخرجه غیره، انظر تحفة الاشراف: ۱/۲۴۸ و: ۱/۳۷۳)_

[3]) کشف الباری: ۱/۴۶۱)_

[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الغسل، باب نفض الیدین من الغسل عن الجنابة)_

[5]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب الماء الذی یغسل به شعر الانسان)_

[6]) کشف الباری: ۲/۵۲۴)_

[7]) کشف الباری: ۲/۴)_

[8]) مسند الامام البزار: ۱۳/۲۳۷، مسند انس بن مالک، رقم (۶۷۳۹))_

(۱)چې د ابوحمزه والا سند صحيح دې.البته علامه جيانى رحمه الله فرمائى چې دلته يو سند ته د صحيح وئيلو او دويم ته د غلط وئيلو ضرورت نشته.په دې سلسله كښې زما په نزد تحقيقى خبره داده چې ددې حديث بعضې حصه عاصم د انس په واسطې سره او بعضې حصه ابن سيرين د عن انس د طريق نه نقل كړې ده.لكه امام بخارى رحمه الله چې د ابوعوانه د طريق نه كوم روايت په كتاب الاشربه كښې ذكر كړې دې،هغه تفصيلى هم دې او په دې مسئله كښې واضح هم دې.ددې په آخره كښې عاصم فرمائى:"قال ابن سيرين: "إنه كانت فيه حلقة من حديد......فقال له أبوطلحة:لا تغيرن فيه شيئاً..... (۲)"ددې وجې نه د ابوحمزه او د شريک والا دواړه روايتونه صحيح دى،هر يو د حديث شريف بعضې حصه نقل كړې ده او د ابوعوانه روايت دواړو ته جامع دې او واضح هم دې(۳).والله اعلم بالصواب

قوله:أن قدح النبي صلى الله عليه وسلم انكسر،فاتخذ مكان الشعب سلسلة من فضة: د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چې د نبى كريم صلی الله علیه وسلم پيالئ ماته شوې وه نو د اصلاح په غرض متاثره ځائې باندې هغوى د چاندئ يو زنځير اولګوو.

"شعب"د شين فتحه او د عين سكون سره،شليدلو ته وئيلې شى،دغه شان د شليدلى او مات شوې ځائې اصلاح او سمولو ته هم شعب وئيلې شى(۴)

د باب په حديث شريف كښې چې د كومې پيالئ ذكر دې،ددې متعلق د كتاب الاشربه(۵) په روايت كښې راغلې دى چې دا د يو خاص قسم لرګى نُضار جوړه كړې شوې وه،شارحينو د نضار مختلف تفسيرونه كړې دى،مثلاً خالص عود،نبع وغيره،ابوحنيفه دينورى رحمه الله وئيلې دى چې د لوښو دپاره د تهولو نه غوره لرګې هم داوى.

ددې نه علاوه ددې په صفت كښې د"عريض"لفظ راغلې دې يعنى پلنه،ددې پلنوالي څومره وو؟تحقيقاً خو معلومه نه ده البته امام احمد رحمه الله د حجاج بن حسان تابعى رحمه الله حديث نقل كړې دې،هغوى فرمائى چې مونږ حضرت انس رضی الله عنه سره وو،هغوى يو لوښې طلب كړو.د هغې درې واړه لاسكى د اوسپنې وو،حلقه هم د اوسپنې وه،هغوى دا د يو تورې كپړې نه رابهر كړو نو ددې وزن د يو ربع نه كم او د نصف ربع(۶)نه زيات وو،د حضرت

---

۱) العلل للدار قطنى،رقم السوال(۲۶۲۸))_

۲) صحيح البخارى،كتاب الاشربة،رقم (۵۶۳۸))_

۳) عمدة القارى:۱۵/۳۳،وفتح البارى:۶/۲۱۴،و:۱۰/۱۰۰،كتاب الاشربة)_

۴) عمدة القارى:۱۵/۳۳،وفتح البارى:۱۰/۱۰۰)_

۵) صحيح البخارى،كتاب الاشربة،باب الشرب من قدح......رقم (۵۶۳۸))_

۶) ربع يو پيمانه ده چې د جديد پيمانش په حساب سره ۳،۲۳ګيلن جوړيږى،يعنى د ربع ګنجائش به دومره وو،ددې جمع ارباع ده،اوګورئ القاموس الوحيد،مادة"ربع")_

انس رضی الله عنه په حکم سره په دې کښې اوبۀ واچولې شوې،بیا دا زمونږ وړاندې پیش کړې شو
نو مونږ هغه اوبۀ اوڅکلې،په خپلو سرونو او مخونو مو واچولې او په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې
مو درود اولوستلو[1]صلی الله علیه وسلم
کیدې شی په دې حدیث شریف کښې د اناء نه مراد هم دغه پیالۍ وی،د کومې پیالۍ تذکره
چې د باب په حدیث شریف کښې ده.

پیالۍ چا صحیح کړې وه؟:د باب په حدیث شریف کښې چې د"فاتخذ"کوم فعل دې،نو ددې
فاعل څوک دې؟په دې کښې دوه اقوال دی،یو خو دادې چې د فاتخذ فاعل نبی کریم صلی الله علیه وسلم دې
چې نبی علیه السلام دا پیالۍ ټهیک کړې وه او دویم قول دادې چې ددې فاعل حضرت انس رضی الله عنه
دې، د حدیث شریف د ظاهر نه اولنۍ رائې صحیح معلومیږی او د کتاب الاشربه[2] د روایت
د ظاهر نه دویمه رائې صحیح معلومیږی،د هغې الفاظ دادی:"رایت قدح النبی صلی الله علیه وسلم عند انس
بن مالك،وكان قد انصدع فسلسلة بفضة....."لیکن د باب د حدیث ددې طریق چې کوم الفاظ
امام بیهقی رحمه الله[3] نقل کړې دی،د هغې نه دا معلومیږی چې ددې فاعل حضرت انس
رضی الله عنه دې،په هغې کښې دی:"أن قدح النبی صلی الله علیه وسلم انصدع،فجعلت مكان الشعب
سلسلة،يعنى أن أنسا جعل مكان الشعب سلسلة"ددې نه پس امام بیهقی رحمه الله فرمائی چې حدیث
دغه شان روایت دې،اوس دا معلومه نۀ ده چې ددې قائل کوم راوی دې،آیا هغه موسی بن
هارون دې یا بل څوک دې[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله د امام بیهقی په دې روایت باندې تبصره کولو کښې فرمائی چې ددې
روایت نه دا معلومه نۀ شوه چې ددې قائل څوک دې؟او ددې بنیاد دادې چې په"جعلتُ"
کښې تاء د متکلم اومنلې شی او دا مضمومه وی،دغه شان حضرت انس رضی الله عنه ددې فاعل
کیدې شی.دا هم کیدې شی چې د"جُعلتْ"جیم مضموم شی او دا فعل مجهول شی نو دغه
شان به داحدیث د باب دحدیث سره یوشان شی اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم فاعل کیدل به متعین شی.
هغوی لیکی:"وجزم بعض الشراح بالثانی(أی الضمیر لانس)واحتج برواية بلفظ"فجعلتُ مكان الشعب
سلسلة"ولا حجة فيه لاحتمال أن يكون فجعلت بضم الجيم على البناء للمجهول،فرجع إلى الاحتمال لابهام
الجاعل"[5]

---

[1]) مسند احمد:۱۸۷/۳،مسند انس بن مالک،رقم (۱۲۹۷۹)،وعمدة القاری:۳۲/۱۵)_
[2]) البخاری،کتاب الاشربة،باب الشرب من قدح النبی صلی الله علیه وسلم.......رقم (۵۶۳۸))_
[3]) السنن الکبری للبیهقی:۳۰/۱،کتاب الطهارة،باب النهی عن الاناء المفضض،رقم (۱۱۵))_
[4]) پورته حواله)_
[5]) فتح الباری:۲۱۴/۶،و:۱۰۰/۱۰،وتحفة الباری:۵۳۹/۳)

قوله: قال عاصم: رأيت القدح، وشربت فيه: حضرت عاصم الاحول فرمائی چې ما هغه پیالئ لیدلې ده او هغې باندې مې اوبۀ هم څکلې دی.
دلته د تحدیث بالنعمت په طور او د فخر په طور حضرت عاصم دا فرمائی چې ماته دغې پیالئ باندې د اوبو څکلو شرافت هم حاصل شوې دې.
ددې نه علاوه بیا وروستو دا شرافت نورو ډیرو حضراتو ته هم حاصل شوې دې، لکه حافظ ابونعیم د علی بن حسن بن شقیق عن ابی حمزه د طریق نه هم دا حدیث نقل کړې دې، په هغې کښې دی: "**قال علی بن الحسین: وأنا رأیت القدح، وشربت منه**"[1] په خپله د امام بخاری رحمه الله نه هم په دې پیالئ باندې څکل منقول دی، علامه قرطبی رحمه الله په "مختصر البخاری" کښې لیکلې دی چې هغوی د صحیح بخاری په بعضې زړو (قدیمو) نسخو کښې دا عبارت لیکلې شوې اولیدۀ چې: "**قال أبوعبدالله البخاری: رأیت هذا القدح بالبصرة، وشربت منه، وکان اشتری من میراث النضر بن أنس بثمان مائة ألف**"[2]
یعنی "امام بخاری فرمائی چې دا پیالئ ما په بصره کښې اولیده او دې سره مې اوبۀ څکلې دی، دا د نضر بن انس رحمه الله د میراث نه په اتۀ لکهه کښې اخستلې شوې وه".
د سرو زرو او د چاندئ د جوړ او د زنځیر لګولو حکم: د باب د حدیث شریف نه د چاندئ د جوړ کړې شوې لاسکې، زنځیر (کړا) او د حلقې وغیره د استعمالولو جواز ثابتیږی، لیکن په دې مسئله کښې اختلاف دې.
امام ابوحنیفه رحمه الله دا مطلقاً جائز ګرځوی، البته صاحب هدایه علامه مرغینانی رحمه الله دا مطلق حکم یو شرط سره مقید کوی، هغه دا چې د سرو زرو او د چاندې ځائې خلې سره اونۀ لګوی، ددې نه ځان بچ اوساتی.[3]
د امام مالک رحمه الله نه دواړه قسمه اقوال نقل دی، یعنی حلال والې او حرموالې. وروستنو ائمه مالکیه مثلاً دردیر، دسوقی او ابن الحاجب رحمهم الله وغیره حرمت غوره ښودلې دې.[4]
د شوافعو مذهب د امام نووی رحمه الله د قول مطابق دادې چې دسته وغیره که لویه وی او د زینت دپاره وی نو حرام ده او که وړوکې وی او د ضرورت دپاره وی نو بیا جائز ده، د دوی دویم قول د مطلق حرمت دې چې دا کار جائز نۀ دې.[5]

---

[1]) فتح الباری: ۱۰/۱۰۰)_
[2]) پورته حواله)_
[3]) بدائع الصنائع: ۶/۵۲۴_۵۲۵، کتاب الاستحسان، واما الاناء المضبب......والهدایة مع البنایة: ۱۲/۷۰_۷۲، کتاب الکراهی، ومؤطا محمد: ۳۷۵، ابواب السیر، باب الشرب فی آنیة الفضة)_
[4]) حاشیة الدسوقی مع الشرح الکبیر: ۱/۱۰۹، باب احکام الطهارة، فصل الطاهر)_
[5]) المجموع شرح المهذب: ۱/۲۵۴_۲۵۸، کتاب الطهارة، حکم الاوانی المضببة......وشرح النووی علی مسلم: ۲/۱۹۳)_

او حنابله ددې څيزونو استعمالول دربيو شرطونو سره مقيد كوى،يعنى لږ(كم)وى،صرف چاندى وى او د ضرورت دپاره وى يعنى څۀ فائده په كښې وى لكه چې د دوى په نزد په دې غرض سره سرۀ زر استعمالول بالكل ناجائزدى او دچاندئ استعمال شرطونو سره مقيد دې.(۱)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت:ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په دې جمله كښې دې، "أن قدح النبى صلى الله عليه وسلم انكسر" څكه چې په دې كښې د نبى كريم ﷺ د پيالئ تذكره ده،كومه چې د ترجمة الباب جزء "قدحه" سره مطابق ده.(۲)

د باب پنځم حديث شريف د حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه دې.

۲۹۴۳:(۳)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجَرْمِيُّ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي أَنَّ الْوَلِيدَ بْنَ كَثِيرٍ حَدَّثَهُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ الدُّؤَلِيِّ حَدَّثَهُ أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ حَدَّثَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ حُسَيْنٍ حَدَّثَهُ أَنَّهُمْ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ مِنْ عِنْدِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ مَقْتَلَ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ لَقِيَهُ الْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ فَقَالَ لَهُ هَلْ لَكَ إِلَيَّ مِنْ حَاجَةٍ تَأْمُرُنِي بِهَا فَقُلْتُ لَهُ لاَ. فَقَالَ لَهُ فَهَلْ أَنْتَ مُعْطِيَّ سَيْفَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَغْلِبَكَ الْقَوْمُ عَلَيْهِ، وَايْمُ اللَّهِ، لَئِنْ أَعْطَيْتَنِيهِ لاَ يُخْلَصُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا حَتَّى تُبْلَغَ نَفْسِي، إِنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ خَطَبَ ابْنَةَ أَبِي جَهْلٍ عَلَى فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلاَمُ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَخْطُبُ النَّاسَ فِي ذَلِكَ عَلَى مِنْبَرِهِ هَذَا وَأَنَا يَوْمَئِذٍ مُحْتَلِمٌ فَقَالَ «إِنَّ فَاطِمَةَ مِنِّي، وَأَنَا أَتَخَوَّفُ أَنْ تُفْتَنَ فِي دِينِهَا». ثُمَّ ذَكَرَ صِهْرًا لَهُ مِنْ بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، فَأَثْنَى عَلَيْهِ فِي مُصَاهَرَتِهِ إِيَّاهُ قَالَ «حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي، وَوَعَدَنِي فَوَفَى لِي، وَإِنِّي لَسْتُ أُحَرِّمُ حَلاَلاً وَلاَ أُحِلُّ حَرَامًا، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لاَ تَجْتَمِعُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَبِنْتُ عَدُوِّ اللَّهِ أَبَدًا». [ر: ۸۸۴]

رجال الحديث

①**سعيد بن محمد الجرمى**:دا سعيد بن محمد بن سعيد الجرمى رحمه الله دې.د دوى تذكره په كتاب الجهاد، "باب قتال الترك" كښې تيره شوې ده.(۴)

②**يعقوب بن ابراهيم**:دا يعقوب بن ابراهيم قرشي زهرى رحمه الله دې.د دوى ترجمه په كتاب العلم "باب ماذكر فى ذهاب موسى...." كښې تيره شوې ده.(۵)

---

(۱) المغنى:۹۱۴/۷،كتاب الاشربة،رقم (۷۳۷۰)،والموسوعة الفقهية:۱۶۵/۳۲_۱۶۶،مادة فضة)_

(۲) عمدة القارى:۳۳/۱۵)_

(۳) قوله: المسوربن مخرمة":الحديث،مر تخريجه فى الجمعة،باب من قال فى الخطبة بعد......)_

(۴) كشف البارى،كتاب الجهاد:۷۰۳/۱)_

(۵) كشف البارى:۳۳۱)_

③**ابي**:د اب نه مراد ابراهيم بن سعد قرشي زهري رحمة الله عليه دې.د دوی حالات په كتاب الايمان، "باب من كره أن يعود في الكفر......" كښې راغلي دي[1]

④**الوليد بن كثير**:دا الوليد بن كثير مخزومي رحمة الله عليه دې[2]

⑤**محمد بن عمرو بن حلحله الدؤلي**:دا محمد بن عمرو بن حلحله الدؤلي بضم الدال وفتح الهمزة رحمة الله عليه[3] دې[4]

⑥**ابن شهاب**:د محمد بن مسلم بن شهاب زهري رحمة الله عليه تذكره د "بدء الوحی" په اولنی حديث كښې تيره شوې ده[5]

⑦**علي بن حسين**:دا امام زين العابدين علي بن حسين بن علي رحمة الله عليه دې[6]

قوله: أن علي بن حسين حدثه أنهم حين قدموا المدينة من عند يزيد بن معاوية مقتل حسين بن علي رضي الله عنه لقيه مسور بن مخرمة: ابن شهاب رحمة الله عليه فرمائی چې ماته امام زين العابدين علي بن حسين رحمة الله عليه اوفرمائيل چې دا حضرات كله د خليفه يزيد بن معاويه د خوا نه د حضرت حسين بن علي رضي الله عنه د شهادت نه پس مدينې منورې ته راغلل نو دوی سره مسور بن مخرمه ملاؤ شو.د حضرت مسور بن مخرمه او د امام زين العابدين د ملاقات دا واقعه د ۶۱هجرئ ده،ځكه چې په دغه كال باندې د حضرت حسين رضي الله عنه د شهادت واقعه پيښه شوې وه[7]

دې پورتنی عبارت كښې د يزيد بن معاويه نه مراد مشهور اموی خليفه[8].د حسين بن علي نه د نبی كريم صلی الله عليه وسلم نوسې[9]او د مسور بن مخرمه نه مراد مشهور صحابی دې[10]

قوله: فقال له: هل لك إلي من حاجة تأمرني بها؟ فقلت له:لا: حضرت مسور بن مخرمه د امام زين العابدين نه تپوس اوكړو چې كه ستاسو څۀ ضرورت ماسره متعلق وی

---

[1]) كشف الباري:۲/۱۲۰)_

[2]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الصلاة،باب الحلق والجلوس في المسجد)_

[3]) عمدة القاري:۱۵/۳۳،وتحفة الباري:۳/۵۳۹)_

[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الاذان،باب جهر الامام بالتامين)_

[5]) كشف الباري:۱/۳۲۶)_

[6]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل،باب الغسل بالصاع ونحوه)_

[7]) عمدة القاري:۱۵/۳۳)_

[8]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب التهجد،باب صلاة النوافل جماعة)_

[9]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب التهجد،باب تحريض النبي صلی الله عليه وسلم على صلاة.....)_

[10]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء،باب استعمال فضل وضوء الناس)_

نو ماته حكم اوكړئ چې زۀ ئې پوره كړم؟ما ورته اووئيل چې نه.حضرت مسور رضي الله عنه چې وړاندې امام زين العابدين ته كومې خبرې او كوم ګزارش وړاندې كول غواړى نو دا پورته چې څۀ تير شو دا د هغې دپاره تمهيد وو.

قوله: فقال له: فهل أنت معطي سيف رسول الله صلى الله عليه وسلم؟: نو مسور رضي الله عنه زين العابدين رحمه الله ته اوفرمائيل چې ايا تاسو به ماته د نبى كريم صلى الله عليه وسلم توره (تلوار) راكړئ؟

معطى د ياء تشديد سره دې،دويمه ياء د متكلم ده[1]

او د "سيف رسول الله" نه مراد په ظاهره د نبى كريم صلى الله عليه وسلم مشهوره توره "ذوالفقار" ده.دا توره نبى كريم صلى الله عليه وسلم د غزوۀ بدر په موقع باندې د نفل په طور اخستلې وه او دا هغه توره ده چې ددې باره كښې نبى عليه السلام د غزوۀ احد په موقع باندې خوب ليدلې وو چې د دوى په توره باندې دوه غاښونه لګيدلې دى[2].

انظر سيرة ابن هشام:۳/۶۲،غزوة احد،رؤيا رسول الله ......،وايضا الروض الانف:۲/۱۲۷)_نبى عليه السلام سره تولې لس تورې وې چې په هغې كښې يو توره "ذوالفقار" ده[3]

اوس سوال دادې چې د نبى عليه السلام دا توره د حضرت على رضي الله عنه خاندان ته څنګه راغله؟

ددې په جواب كښې علامه عينى رحمه الله دوه احتمالات ذكر كړې دى:

① غالباً دا توره نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خپل ژوند كښې حضرت على رضي الله عنه ته هبه كړې وه.چې وروستو بيا حضرت زين العابدين رحمه الله ته راورسيده..

② يا حضرت ابوبكرصديق حضرت على رضي الله عنهما ته وركړې وه چې وروستو بيا د دوى خاندان ته منتقل شوه[4].

قوله: فـانى أخـاف أن يغلبك القوم عليه: ځكه چې ماته ويره ده چې دا قوم به د طاقت په زور سره ستاسو نه دا توره واخلى.دلته د قوم نه مراد بنو اميه دى،ځكه چې د ساداتو حضراتو اختلاف هم دوى سره وو..

قوله: وأيم الله،لان أعطيتنيه لايخلص إليهم أبداً حتى تبلغ نفسي: په خدائې قسم!

---

[1]) عمدة القارى:۱۵/۳۳،وارشاد السارى:۵/۲۰۰)_

[2]) د نبى كريم صلى الله عليه وسلم مذكوره خوب لاندې ذكر كولې شى،ابن هشام رحمه الله فرمائى: فلما سمع بهم رسول الله صلى الله عليه وسلم والمسلمون قد نزلوا حيث نزلوا.قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للمسلمين: انى قد رايت والله خيرا،رايت بقرا، ورايت فى ذباب سيفى ثلما،ورايت انى ادخلت يدى فى درع حصنية.فاولتها المدينة")_

[3]) قال العينى: والظاهر ان هذا السيف هو ذوالفقار؛لان سبط ابن الجوزى ذكر فى تاريخه:ولم يزل ذوالفقار عنده صلى الله عليه وسلم ،حتى وهبه لعلى رضي الله عنه قبل موته،ثم انتقل الى آله،وكانت به عشرة اسياف؛ منها: ذوالفقار، تنفله يوم بدر".انظر عمدة القارى:۱۵/۳۳)_

[4]) عمدة القارى:۱۵/۳۳،وفتح البارى:۶/۲۱۴،وعمدة القارى:۱۵/۳۴،وشرح القسطلانى:۵/۲۰۱)_

كه تاسو دا توره ماته راكړئ نو بنو اميه به هيڅكله دا حاصله نه كړى يا دا چې زما ساه لاړه شى، زۀ پرې وفات شم، مطلب دادې چې زۀ به ددې تورې په خاطر خپل ځان قربان كړم[1]

يو سوال او د هغې جواب حافظ رحمه الله د باب د حديث په بنياد باندې د تعجب په طور يو سوال نقل كړې دې. هغه دا چې حضرت مسور رضي الله عنه فرمائى چې زۀ ددې تورې د حفاظت دپاره د خپل ځان قربانۍ ته تيار يم. دلته حضرت مسور رضي الله عنه صرف او صرف د حضرت فاطمه رضي الله عنها د نوسى، زين العابدين، د زړۀ ساتلو دپاره خپل خواهش د هغوى وړاندې كوى. ليكن بل طرفته چې حضرت حسين بن على رضي الله عنهما چې د حضرت فاطمه رضي الله عنها خوئې دې، د هغوى دپاره د خپل ځان قربانى نه وركوى، نه ئې څۀ داسې د خپل خواهش اظهار اوكړو، تردې چې حضرت حسين رضي الله عنه د ظالمانو حكمرانانو دلاسه شهيد شو او دا لويه واقعه پيښه شوه.

ددې په جواب كښې د حضرت مسور رضي الله عنه له طرفه په عذر كښې دا وئيلې كيدې شى چې حضرت حسين رضي الله عنه كله عراق ته روان شو نو د اهل حجاز او د حضرت مسور رضي الله عنه په ذهن كښې هم دا خبره نۀ وه چې د حضرت حسين رضي الله عنه معامله به دا رخ اختيار كړى او هلته به د خپلو ملګرو سره مظلومانه شهادت بيا مومى[2] والله اعلم

قوله: إن على بن ابى طالب خطب ابنة أبى جهل على فاطمة رضي الله عنها: حقيقت كښې حضرت على په حضرت فاطمه رضي الله عنها باندې بن راوستلو دپاره د ابوجهل هشام بن مغيره لور ته د نكاح پيغام وركړو.

د حضرت على رضي الله عنه تذكره تفصيل سره په كتاب العلم، "باب إثم من كذب على النبى صلى الله عليه وسلم كښې تيره شوې ده[3]

د ابنة ابى جهل نه څوك مراد دى؟ دا د دين مشهور دشمن د ابوجهل لور حضرت جويريه بنت هشام بن مغيره مخزوميه رضي الله عنها ده. ددې نوم جميله ښودلې شوې دې، ليكن د حافظ رحمه الله په قول حضرت على رضي الله عنه چې كومې ښځې ته د نكاح پيغام وركول غوښتل نو هغه جويريه وه[4] چې كله نبى كريم صلى الله عليه وسلم د خپل خفګان اظهار اوكړو او حضرت على رضي الله عنه دې سره نكاح اونكړې شوه نو عتاب ابن اسيد ورسره نكاح اوكړه چې د نبى عليه السلام په عهد كښې د مكې مكرمې امير وو، ددې نه ئې اولاد هم اوشو، تاريخ ئې د يو ځوى نوم محفوظ كړې دې چې د هغۀ نوم عبد الرحمن وو، دې په جنګ جمل كښې شهيد شو[5].

[1]) فتح البارى: ۲۱٤/٦، وعمدة القارى: ۳٤/۱٥، وشرح القسطلانى: ۲۰۱/٥)_

[2]) فتح البارى: /۹۳۲۷)_

[3]) كشف البارى، كتاب العلم: ۱٤۹/٤، دغه شان د حضرت فاطمه رضي الله عنها د حالاتو دپاره اوګورئ: كتاب الوضوء، باب غسل المراة اباها الدم.....)_

[4]) الاصابة: ۲٦٥/٤، وعمدة القارى: ۳٤/۱٥، ددې په نوم كښې نور اقوال هم دى، اوګورئ: فتح البارى: ۸٦/۷ والطبرانى فى الكبير: ۲۱۰/۲٤)_

[5]) الاصابة: ۲٦٥/٤، وفتح البارى: ۸٦/۷، وعمدة القارى: ۲۳۰/۱٦)_

حضرت جویریه رضی الله عنها د نبی علیه السلام نه د حدیث روایت هم کوی[۱]، فرمائی چې یوځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ کور سره تیر شو او اوبه ئې طلب کړې نو ما ورته پیالئ راوړه او اوبه مې ورته پیش کړې دې دوران کښې یو سړی د نبی علیه السلام نه څه تپوس اوکړو چې دوه د زیړ رنګ خادرونه پرې پراته وو ،نبی علیه السلام په جواب کښې اوفرمائیل. "تعبد الله،لاتشرك به شيئاً،وتقيم الصلوة،وتؤدی الزكوة،وتصل الرحم" بیا ئې اوفرمائیل "خيرامتی قرنی،ثم الذين يلونهم"[۲]

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خطبې سبب څه وو؟:د باب په حدیث شریف کښې چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کومه خطبه او تقریر نقل کړې شوې دې ددې وجه څه وه؟په دې کښې دوه قولونه دی:

①:د کتاب النکاح د روایت نه معلومیږی کوم چې د ابن ابی ملیکه نه روایت دې[۳]چې د بنو هشام بن مغیره اجازت غوستل د خطبې سبب وو،چې کله بنو هشام بن مغیره د خپلې جینئ نکاح حضرت علی رضی الله عنه سره کول غوښتل او د نبی علیه السلام نه ئې اجازت طلب کړو نو نبی علیه السلام خطبه ارشاد اوفرمائیله[۴].

②او د امام زهری چې کوم طریق دې،په هغې کښې یو بل سبب بیان کړې شوې دې،په صحیح ابن حبان کښې دی:

"أن علياً خطب بنت أبي جهل،فبلغ ذلك فاطمة،فأتت رسول الله صلى الله عليه وسلم،فقالت:إن الناس يزعمون أنك لاتغضب لبناتك،وهذا علي ناكح بنتَ أبي جهل!......"[۵]

"حضرت علی رضی الله عنه د ابوجهل لور ته د نکاح پیغام ورکړو،دا خبر حضرت فاطمه رضی الله عنها ته اورسیدو نو هغه نبی علیه السلام ته راغله او وې فرمائیل چې د خلقو خیال دادې چې تاسو د خپلو لونړو د حمایت او ملګرتیا دپاره نه غصه کیږئ،دې علی ته اوګورئ چې هغه د ابوجهل لور سره نکاح کوونکې دې!......"

نبی علیه السلام د حضرت فاطمه په خبرې اوریدو سره مسجدنبوی ته تشریف راوړلو او خطبه ئې ارشاد اوفرمائیله.ددې روایت نه د نبی علیه السلام د خطبې لوستلو سبب معلومیږی چې ددې خطبې سبب حضرت فاطمه رضی الله عنها وه[۶]

د دواړو قولونو مینځ کښې تطبیق:اوس د دواړو قولونو مینځ کښې تطبیق دادې چې د نبی علیه السلام د تقریر سبب دا دواړه خبرې کیدې شی چې بنی هشام بن مغیره د خپلې جینئ په سلسله

---

[۱]) الاصابة:۲۶۲/٤،ومعرفة الصحابة:۲۰٤/۵،باب الجيم)_
[۲]) پورته حواله جات،والطبرانی فی الکبیر:۲۵۸/۲٤،رقم (۶۵۸)،باب الدال،درة بنت ابی لهب.....)_
[۳]) صحیح البخاری،کتاب النکاح،باب ذب الرجل عن ابنته فی الغیرة والانصاف،رقم (۵۲۳۰))_
[٤]) فتح الباری:۳۲۸/۹)_
[۵]) الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان،مناقب علی بن ابی طالب،ذکر البیان بان علی بن ابی طالب......رقم (۶۹۱۸). وروی بعضه البخاری فی صحیحه،کتاب فضائل الصحابة،باب ذکر اصهار النبی صلی الله علیه وسلم.....رقم (۳۷۲۹)
[۶]) فتح الباری:۳۲۸/۹)_

كښې نبي عليه السلام سره رابطه اوکړه چې نکاح کیدل پکار دی یا نهٔ؟ او چې کله ددې معاملې خبر حضرت فاطمه رضي الله عنها ته اوشو نو هغې هم خپل والد محترم ته شکایت اوکړو چې علي زما بن راوستل غواړي.بهرحال په دواړو سببونو کښې څهٔ منافات نشته.

د نکاح پیش کش د چاله طرفه وو؟ د روایتونو د تلاش نه هم دا معلومیږي چې د ابوجهل لور سره د نکاح کولو فیصله د حضرت علي رضي الله عنه خپله فیصله وه،په خپله د جینئ والو له طرفه په دې کښې څهٔ حرکت نهٔ وو،ددې وجې نه په اکثرو روایتونو کښې د خطبې نسبت د حضرت علي رضي الله عنه طرفته دې،په خپله چې د حضرت فاطمه رضي الله عنها په حوالې سره پورته کوم حدیث مبارک تیر شو،په هغې کښې هم د "ناکح" لفظ حضرت فاطمه رضي الله عنها استعمال کړې دې،حالانکه دغه وخت پورې نکاح شوې نهٔ وه،ددې وجه ښکاره ده چونکه د حضرت علي رضي الله عنه اراده وه او اراده ئې مضبوطه هم وه چې که ممانعت اونکړې شو نو چې نن نهٔ وی چې صبا نکاح خامخا اوشي،ددې وجې نه حضرت فاطمه رضي الله عنها د "ناکح" لفظ استعمال کړو[1] په بعضې روایتونو کښې راځي چې په خپله حضرت علي رضي الله عنه هم په دې سلسله کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مشوره کړې وه او د نکاح اجازت ئې غوستلې وو.په مستدرک حاکم کښې د حضرت سوید بن غفله مخضرمي رضي الله عنه روایت دې،فرمائي:

"خطب علي ابنة أبي جهل إلى عمها الحارث بن هشام،فاستشار النبي صلى الله عليه وسلم،فقال: أعن حسبها تسئلني؟قال علي: قد أعلم ما حسبها،ولكن أتامرني بها؟فقال: لا،فاطمة بضعة مني،ولا أحسب إلا وأنها تحزن وتجزع،فقال علي:لا آتي شيئاً تكرهه"[2]

یعنې:"حضرت علي رضي الله عنه د ابوجهل لور سره د نکاح کولو دپاره د هغې ترهٔ حارث بن هشام ته پیغام واستوو او په دې معامله کښې ئې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مشوره اوکړه.نبي علیه السلام اوفرمائیل.آیا تهٔ ما نه ددغه ښځې د حسب نسب تپوس کول غواړې؟نو حضرت علي رضي الله عنه اووئیل چې د هغې حسب نسب ماته ښهٔ معلوم دې لیکن آیا تاسو ماته هغې سره د نکاح کولو مشوره راکوئ؟نبي علیه السلام اوفرمائیل،فاطمه زما حصه ده او زما خیال دادې چې ستا په دې نکاح کولو سره به هغه غمژنه او پریشانه شي.نو حضرت علي رضي الله عنه اووئیل چې زهٔ به داسې هیڅ یو کار اونکړم چې تاسو ته ناخوښه وی".

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې غالباً حضرت علي رضي الله عنه د نبي علیه السلام د خطبې لوستلو نه پس اجازت غوستلې وو او په خپله د خطبې دوران کښې موجود نهٔ وو.ددې وجې نه ئې مشوره هم اوکړه لیکن هرکله چې نبي علیه السلام منع کړو نو حضرت علي رضي الله عنه ددې معاملې نه وروستو.لکه په یو حدیث کښې دا الفاظ راغلې دې کوم چې د "شعیب عن الزهری" د طریق نه روایت دې چې:"فترك على الخطبة"[3]

---

[1]) پورته حواله)_

[2]) المستدرک للحاکم:۱۷۳/۳،کتاب معرفة الصحابة،ذکر مناقب فاطمة بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ،رقم (۴۷۴۹)

[3]) صحیح البخاري،کتاب فضائل الصحابة،باب ذکر اصهار النبي صلی الله علیه وسلم ......رقم (۳۷۲۹))_

او د ابوداؤد شريف روايت[1] چې د "معمرعن الزهرى عن عمروة" نه دې. هغې كښې دا الفاظ راغلې دى: "فسكت على عن ذلك النكاح"[2] والله اعلم بالصواب

قوله: فسمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يخطب الناس فى ذلك على منبره هذا: نو ما د نبى عليه السلام نه واوريدل چې هغوى خلقو ته په دې معامله كښې خطاب كوو په خپل منبر باندې.

مطلب دادې چې كله نبى عليه السلام دا واوريدل چې حضرت على رضي الله عنه د حضرت فاطمه رضي الله عنها بن راوستل غواړى او د ابوجهل لور سره نكاح كول غواړى نو نبى عليه السلام د خپل منبر نه دا راتلونكې خطبه ارشاد اوفرمائيله، دې دپاره چې خلق هم د اصل واقعې نه خبردار شى او خلقو ته هم پته اولګى چې د نبى د لور او د الله تعالى د دشمن د لور اجتماع نه شى كيدې[3]

وأنا يومئذ محتلم: او زۀ دغه ورځو كښې بالغ ووم.

ددې جملې نه د حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه مقصود دادې چې وراندې به زۀ د نبى كريم صلى الله عليه وسلم كوم الفاظ نقل كوم نو هغه غيريقينى نۀ دى بلكه ماته ښۀ ياد دى چې زۀ هغه وخت بالغ ووم او د واقعاتو د تول مې صلاحيت او قابليت لرلو[4]

د حضرت مسور رضي الله عنه عمر دغه وخت څومره وو؟: ددې نه پس ځان په دې پوهه كړئ چې ابن سيد الناس د باب د حديث دې الفاظو "وأنا يومئذ محتلم" ته د حقيقت نه خلاف او غلط وئيلې دى او فرمائى چې صحيح لفظ "كالمحتلم" دې مطلب دا چې د بالغانو په شان وو. دا د اسماعيلى روايت دې ددې وجه دا ده چې حضرت مسور رضي الله عنه د نبى په ژوند مبارک كښې بالغ شوې نۀ وو ځكه چې دوى د حضرت عبدالله بن زبير نه پس پيدا شوې وو. ددې وجې نه د حضرت مسور عمر مبارک به د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس اتۀ كاله وى[5] ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن سيدالناس ددې رائې سره اختلاف كړې دې او فرمائى چې د ابن سيدالناس له طرفه د باب حديث ته غلط وئيل صحيح نۀ دى، ځكه چې د صحيح قول مطابق د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه ولادت د هجرت نه مخكښې كال باندې شوې وو. ددې وجې نه به د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د وفات په وخت د دوى عمر نهه كاله وى. لهذا دا خبره بالكل ممكن ده ځكه چې دا د بلوغ اقل مدت (كمه مده) ده يعنى نهه كاله، په دې كښې به بالغ شوې وى. يا به

---

[1] سنن ابى داود، كتاب النكاح، باب ما يكره ان يجمع بينهن من النساء، رقم (٢٠٧٠)_

[2] فتح البارى:/٩٣٢٨، دغه شان اوګورئ، شرح مشكل الآثار للامام الطحاوى:١٢/٥١١_٥١٩، باب بيان مشكل ما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من قوله: ان بنى هشام بن المغيرة..... "الباب:(٧٨٨)_

[3] فتح البارى:٧/٨۶)_

[4] فتح البارى:/٩٣٢٧)_

[5] پورته حواله)_

د حضرت مسور قول "محتلم" په مبالغه باندې حمل کولې شی، ددې نه مراد به تشبیه وی.
دغه شان دواړه روایتونه یعنی "محتلم" او "کالمحتلم" د معنې په لحاظ سره به موافق شی، يو ته صحیح وئیل او دویم لره د غلط گرځولو به هیڅ ضرورت پاتې نهٔ شی.
ددې ټول تفصیل ضرورت دې دپاره محسوس کړې شو او ددې وجه دا شوه چې د اتو کالو ماشوم ته چرته هم محتلم یا کالمحتلم نهٔ دې وئیلې شوې، مگر دا چې تشبیه مراد واخستلې شی او دا اووئیلې شی چې په فهم او حفظ کښې او د اخذ په معامله کښې حضرت مسور د بالغ په شان وو(١) والله اعلم بالصواب.

قوله: فقال: ان فاطمة منى، وانا اتخوف ان تفتن فى دينها: نو نبى كريم ﷺ اوفرمائیل، فاطمه رضی الله عنها زما نه ده او ما ته دا ویره ده چې ددې معاملې د وجې نه به د فاطمې رضی الله عنها دین متاثره شی.
مطلب دادې چې حضرت فاطمه رضی الله عنها به د طبعی غیرت په وجه سره صبر اونکړې شی او په دې سره به د هغې ذاتی او خانگی ژوند متاثره شی(٢)

قوله: ثم ذكر صهرا له من بنى عبد شمس، فاثنى عليه فى مصاهرته اياه، قال: حدثنى فصدقنى ووعدنى فوفى لى: بیا نبی کریم ﷺ د بنوعبدشمس سره تعلق لرونکی یو خپل زوم (د ابوالعاص بن الربیع) تذکره اوفرمائیله نو هغهٔ سره ئې د خپلې رشتې او تعلق تعریف اوکړو، وې فرمائیل هغهٔ ماسره خبره اوکړه او هغه ئې رښتونې کړه، ماسره ئې وعده اوکړه او هغه ئې پوره کړه.

حضرت ابوالعاص بن الربیع: دا حضرت ابوالعاص بن الربیع رضی الله عنه بن عبدالعزی بن عبدمناف بن قصی بن کلاب قرشی عبشمی دې(٣)
د دوی د مور نوم هاله بن خویلد ده چې د ام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها خور وه.
دغه شان حضرت ابوالعاص رضی الله عنه د حضرت خدیجه رضی الله عنها حقیقی خورئې شو(٤)
د دوی نوم څهٔ وو، په دې کښې د سیرت د عالمانو اختلاف دې، بعضو لقیط، بعضو زبیر، بعضو هشیم، بعضو مهشم او بعضو یاسر ښودلې دې.
د ابن عبد البر رحمه الله د قول مطابق اکثر حضراتو لقیط اختیار کړې دې(٥)

---

(١) پورته حواله)_
(٢) عمدة القاری:١٥/٣٤)_
(٣) سیر اعلام النبلاء:١/٣٣٠، والاصابة: ٤/١٢١، والاستیعاب:٢/٤٣٠، باب العین من الکنی)_
(٤) سیر اعلام النبلاء:١/٣٣١، والاصابة:٤/١٢١، والاستیعاب:٢/٤٣٠، والمستدرک للحاکم:٣/٦٣٨ کتاب معرفة الصحابة، ذکر ابی العاص......رقم (٦٦٩٣))_
(٥) الاستیعاب:٢/٤٣٠)_

د دوی لقب جرو البطحاء وو، دغه شان په امين سره به هم رابللې كيدو(۱)

د غزوه حديبيه نه پنځه مياشتې مخكښې دوی اسلام قبول كړو(۲)

د نبی كريم ﷺ د ټولو نه مشره لور حضرت زينب رضي الله عنها د دوی په عقد كښې وه، د بدر په موقع باندې د مكې مكرمې د مشركينو چې كوم كسان ګرفتار شوې وو، په هغوی كښې حضرت ابوالعاص بن الربيع هم وو، مسلمانانو چې كله د دغه كسانو په بدله كښې د فديې د وصولولو فيصله اوكړه نو د قيديانو متعلقينو او وارثانو د مكې مكرمې نه پيسې راواستولې، حضرت زينب چې دغه وخت مكه مكرمه كښې وه، هغې هم د خپل خاوند د آزادئ دپاره فديه راواستوله، كوم څيز چې هغې راواستوو د هغې په ليدلو سره د نبی كريم ﷺ زړهٔ مبارک نرم شو، هغه د حضرت خديجة الكبرى رضي الله عنها هار وو(۳)، چې ددې دواړو د وادهٔ په موقع باندې حضرت خديجة الكبرى رضي الله عنها حضرت زينب رضي الله عنها ته په غاړه كښې اچولې وو، د هار په ليدلو سره نبی كريم ﷺ صحابه كرامو ته اوفرمائيل چې كه تاسو مناسب ګڼړئ نو د زينب قيدی پريږدئ چې دې هغې ته واپس لاړ شی. صحابه كرامو رضي الله عنهم دا خبره اومنله او هغه ئې آزاد كړو.

مكې مكرمې ته د روانيدو نه مخكښې نبی كريم ﷺ د حضرت ابوالعاص نه وعده واخستله چې دې واپس لاړ شی نو حضرت زينب رضي الله عنها به د نبی كريم ﷺ خدمت ته راؤليږی او نبی كريم ﷺ دهٔ ته ددې خبرې د پټ ساتلو دپاره هم اوفرمائيل.

بل طرفته رسول الله مبارک ﷺ حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه (چې د نبی عليه السلام متبنى وو) او يو بل انصاری راؤبلل او ورته ئې اوفرمائيل چې تاسو دواړه بطن ياجج(۴) ته روان شئ او هلته اودريږئ، تردې چې حضرت زينب رضي الله عنها تاسو ته راشی نو تاسو دواړه به د هغې د سفر ملګری ئې او هغه خپل ځان سره راولئ، دا د بدر نه څو مياشتې پس واقعه ده.

حضرت ابوالعاص چې د آزاديدو نه پس كله مكې مكرمې ته اورسيدو نو حضرت زينب ته ئې اووئيل چې خپل والد محترم ته د تلو دپاره تيارى اوكړه نو هغوی تياره مكمل كړه او د هغې ليور كنانه چې د ترور ځوې ئې هم وو، يو اوښ ئې راوستو چې په هغې باندې حضرت زينب رضي الله عنها سوره شوه او كنانه هم غشی او كمان ځان سره كړل او د ورځې په رڼړا كښې روان شو، په دې باندې د مكې مكرمې والا ډير غصه شو او د حضرت زينب رضي الله عنها په تلاش كښې

---

۱) پورته حواله، والاصابة: ۱۲۱/٤، وسير اعلام النبلاء: ۳۳۱/۱)_

۲) سير اعلام النبلاء: ۳۳۱/۱)_

۳) سير اعلام النبلاء: ۳۳۲/۱، والمستدرک: ۲۳۶/۳، كتاب معرفة الصحابة، ذكر مناقب ابى العاص.....، رقم (۵۰۳۸)، والسيرة النبوية لابن هشام: ۶۵۳/۲، ومسند احمد، مسند عائشة، رقم (۲۶۸۹٤)، وابو داود، كتاب الجهاد، باب فى فداء الاسير بالمال، رقم (۲۶۹۲)، من رواية رضي الله عنها، والاصابة: ۱۲۱/٤)_

٤) قوله: "ياجج" هو بفتح الياء، وبعدها همزة، وجيم مكسورة: موضع على ثمانية اميال من مكة. انظر تعليقات سير اعلام النبلاء: ۳۳۳/۱، ومعجم البلدان: ٤۲٤/۵، باب الياء والالف وما يليهما)_

راووتل نو كنانه په يو مقام "ذوطوى" كښې اوښ اودرولو او خپل تركش ئې خوركړو، دلته يو مشرك هبار بن الاسود حضرت زينب رضي الله عنها ته نيزه اوښودله او وې ويروله، ددې معاملې په ليدلو سره كنانه اووئيل چې څوك هم نزدې راغې نوزۀ به دهغۀ په بدن كښې دا غشي ښخ كړم. دې خلقو كښې ابوسفيان هم وو، هغۀ كنانه ته اووئيل، ائې سړيه! دا غشى زمونږ نه لرې كړه، مونږ تاسره څۀ خبره كول غواړو نو كنانه صبر شو او د ابوسفيان خبره ئې واؤريده، ابوسفيان وئيل چې دا تا ښۀ اونكړل چې د ورځې په وخت كښې اود سردارانو او اميرانو په موجودګئ كښې راووتلې، حالانكه اوس نزدې مونږ په بدر كښې چې كومې رسوايئ او ذلت سره مخامخ شو او د محمد صلى الله عليه وسلم نه چې مونږ ته كوم تكليف راؤرسيدۀ د هغې تاته ښۀ پته ده، دا تۀ چې د ورځې په رڼا كښې دا ښځې بولې، خلق به دا ګڼړی چې دا هم د بدر د ذلت يو حصه ده. په خدائې قسم! دوى دلته د حصارولو مونږ ته هيڅ ضرورت نشته، ددې وجې نه اوس دا زينب واپس بوځه، چې كله حالات پرسكون او د امن شى او خلقو كښې دا خبره مشهوره شى چې مونږ دوى واپس كړې دى نو پټه ئې بيا بوځه او پلار ته ئې حواله كړه.
نو كنانه د ابوسفيان په خبره باندې عمل اوكړو او حضرت زينب رضي الله عنها ئې واپس كړه، څو ورځې پس دوباره اووتل او دا ئې حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه او د هغوى ملګرى ته حواله كړه، دې دواړو حضراتو حضرت زينب رضي الله عنها مدينې منورې ته اورسوله.
د فتح مكه نه څۀ وخت مخكښې خبره ده چې حضرت ابوالعاص د تجارت په غرض سره د شام قصد اوكړو، د قريشو هم ورسره ډير مال وو، واپسئ كښې د مسلمانانو يو لښكر سره مخامخ شو، مسلمانانو ترينه ټول مال واخستۀ ليكن دې يئ ګرفتار نۀ كړې شو. دې د هغه ځائې نه اوتختيدۀ، د شپې مدينې منورې ته راغئ او حضرت زينب رضي الله عنها ته راؤرسيدۀ، د هغې نه ئې پناه طلب كړه، حضرت زينب رضي الله عنها ورته پناه وركړه او شپه ئې هلته تيره كړه.
سحر چې كله نبى كريم صلى الله عليه وسلم او صحابه كرام رضي الله عنهم د مانځه نه فارغ شو نو د ښځو د ډلې نه حضرت زينب رضي الله عنها په اوچت آواز سره اوفرمائيل: "ايها الناس! قد اجرت ابا العاص بن الربيع" چې ائې "خلقو! ابوالعاص بن الربيع زما په پناه كښې دې".
بل طرفته نبى كريم صلى الله عليه وسلم هغه لښكر ته پيغام اوليږو كوم لښكر چې د ابوالعاص مال اخستلې وو: "ان هذا الرجل منا حيث قد علمتم، وقد اصبتم له مالا، فان تحسنوا وتردوه، فانا نحب ذلك، وان ابيتم، فهوفئ الله، فانتم احق به"
يعنى: "څنګه چې تاسو ته هم معلومه ده چې دا زمونږ د خاندان كس دې او تاسو ددۀ مال اخستلې دې، نو كه تاسو دۀ سره ښۀ سلوك اوكړئ او ددۀ مال واپس كړئ نو دا مونږ ته خوښه ده او كه تاسو انكار اوكړئ نو دا غنيمت دې، چې تاسو ئې ډير حقدار يئ"
په دې باندې حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم اوفرمائيل، دغه مال به ورته مونږ واپس كړو، نو د وعدې مطابق صحابه كرامو رضي الله عنهم د هغۀ اخستلې شوې ټول مال واپس كړو.
حضرت ابوالعاص د خپل تجارت مال او سامان واخستلو او مكې مكرمې ته روان شو، هلته په رسيدلو سره چې څومره مال وو، هغه ئې حواله كړو او بيا ئې وفرمائيل ائې د

مكې والو! آيا په تاسو كښې په ما باندې د چا څۀ حق شته؟ هغوى په جواب كښې اووئيل، نه! الله تعالى دې تا ته جزاء خير دركړى، په دې باندې حضرت ابو العاص اوفرمائيل:

"اشهد ان لا اله الا الله و ان محمدا عبده ورسوله" په الله تعالى قسم! ما مدينه منوره كښې د نبى كريم ﷺ خوا كښې اسلام ددې وجې نه قبول نۀ كړو چې هسې نۀ تاسو دا خيال اونكړئ چې زۀ ستاسو مال خوړل غواړم، اوس چې هركله ما تاسو ته ستاسو مالونه واپس كړل او په ما باندې د چا څۀ حق پاتې نۀ شو نو ددې وجې نه زۀ د اسلام د قبلولو اعلان كوم.

ددې نه پس دوى مدينې منورې ته د نبى عليه السلام خوا ته تشريف راوړلو او نبى كريم عليه السلام حضرت ابو العاص او د حضرت زينب نكاح خپل مينځ كښې برقرار اوساتله، دغه شان شپږ كاله فراق او جدائى ددې دواړو ترمينځه تيره شوه[1]

د باب د حديث شريف په الفاظو "حدثني فصدقني، ووعدني، فوفى لي" كښې دې پورتنئ ذكر شده واقعې طرفته اشاره ده چې حضرت ابو العاص رضي الله عنه د خپل ډير زيات محبت باوجود (كوم چې ئې حضرت زينب رضي الله عنها سره وو) هغه د خپل پلار طرفته روانه كړه او نبى عليه السلام سره ئې چې كومه وعده كړې وه نو هغه ئې پوره كړه، په دې كښې نبى عليه السلام د ابو العاص ددې كار تعريف او ستائينه كړې ده[2] د حضرت ابو العاص رضي الله عنه د اولاد په سلسله كښې تاريخ صرف د يو لور تذكره كوى[3] امامه بنت ابو العاص چې ددې مور حضرت زينب رضي الله عنها وه. دا هغه امامه ده چې نبى عليه السلام به دا اوچته كړې وه او مونځ به ئې كوو، دې نه د دوى خپل مينځ كښې هغه ډير زيات مينه محبت ښۀ طريقې سره معلوميږى، د صحيح بخارى وغيره روايت دې كوم چې د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه نه روايت دې چې:

"أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يصلي وهو حامل بنت زينب بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم، ولأبي العاص بن الربيع، فإذا قام حملها، وإذا سجد وضعها؟......"[4] (اللفظ للبخارى)

---

[1]) للاستزادة انظر: سير الذهبى: ۱/۳۳۲_۳۳۴، والاصابة: ۴/۱۲۲، والمعجم الكبير: ۲۲/۴۲۶_۴۳۱، ما اسندت ام سلمة رضي الله عنها رقم (۱۰۵۰)، والسيرة النبوية لابن هشام: ۲/۶۵۱_۶۵۹ اسر ابى العاص بن الربيع رضي الله عنه .....)

[2]) سير اعلام النبلاء: ۱/۳۳۱)_

[3]) دا د مشهور قول مطابق خبره ده. البهت حاكم په مستدرك (۳/۲۳۶) كښې او حافظ په فتح البارى (۷/۸۵) كښې او عينى په عمدة القارى (۱۶/۲۳۰) كښې د يو خوى ذكر هم كړې دې چې د هغۀ نوم على وو. دې په ماشوموالى كښې وفات شوې وو، غالباً ددې وجې نه عام طور سره د دوى ذكر نۀ كيږى. او حضرت امامه رضي الله عنها ډير وخت ژوندئ وه. اول د حضرت على ابن ابى طالب رضي الله عنه په نكاح كښې وه، د هغوى د وفات نه پس د حضرت مغيره بن نوفل په نكاح كښې راغله او د حضرت امير معاويه رضي الله عنه په دور كښې دا وفات شوه. رضى الله عن الجميع اوګورئ سير اعلام النبلاء: ۱/۳۳۵، والاصابة: ۴/۱۲۳)_

[4]) الحديث اخرجه البخارى، ابواب سترة المصلى، باب اذا حمل جارية صغيرة على عنقه فى الصلاة، رقم (۵۱۶)، وكتاب الادب، باب رحمة الولد وتقبيله، رقم (۵۹۹۶)، ومسلم، كتاب المساجد، باب جواز حمل الصبيان...... رقم (۱۲۱۲_۱۲۱۵)، وابو داود، كتاب الصلاة، باب العمل فى ....

[بقيه برصفحه آئنده...

چې "نبی ﷺ به امامه اوچته کړې وه او مونځ به يې کولو.د قيام په حالت کښې به ئې اوچته کړې وه او د سجدې په وخت به ئې په زمکه کېخودله"[١]په شپږو کتابونو کښې د حضرت ابوالعاص رضی الله عنه نه څۀ حديث منقول نۀ دې[٢] دوی د حضرت صديق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې په ١٢ هجرئ او د ذی الحجې په مياشت کښې وفات شو[٣]رضی الله عنه وأرضاه

قوله: وإني لیست أحرم حلالاً،ولا أحل حراماً،ولكن والله،لا تجتمع بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم وبنت عدو الله أبداً: او زۀ يو حلال څيز لره حرام او حرام څيز لره حلال نۀ ګرځوم،ليکن په خدائې قسم!د رسول الله ﷺ او د الله تعالی د دشمن لور په يوځائې کښې جمع کيدې نۀ شی.د باب د حديث شريف الفاظ خو تاسو اوکتل او په کتاب النکاح کښې دا الفاظ راغلې دی:

"فلا آذن،ثم لا آذن،إلا أن يريد ابن أبي طالب أن يطلق ابنتي،وينكح ابنتهم"[٤]

چې "زۀ اجازت نۀ ورکوم،بيا نۀ ورکوم،البته يو صورت دې هغه دا چې علی زمونږ لور ته طلاق ورکړی او د هغوی جينئ سره نکاح اوکړی".

په دې روايت کښې چې نبی ﷺ درې ځله کوم لفظ د "لا آذن" اوفرمائيلو نو دا د تاکيد په طور وو،دغه شان په دې کښې دې خبرې طرفته اشاره ده چې دا ممانعت هميشه دپاره وو،هسې نۀ چې څوک دا خيال اوکړی چې دا ممانعت عارضی دې،د څو ورځو دپاره دې،نو ددې احتمال د بالکل ختمولو دپاره نبی ﷺ په خپله خبره کښې زور او تاکيد پيدا کړو او دا مذکوره پورتنې کلام ئې درې ځله ارشاد اوفرمائيلو[٥]او هرچه د نبی ﷺ دا الفاظ "إلا أن يريد ابن أبي طالب أن يطلق" دی نو دا غالباً په دې خبره باندې محمول دی چې چا نبی ﷺ ته چغلی کړې وی چې حضرت علی رضی الله عنه د ابوجهل لور سره د نکاح کولو مضبوطه اراده کړې

...بقيه ازحاشيه گذشته] الصلاة،رقم (٩١٧_٩٢٠)، والنسائی، کتاب المساجد،باب ادخال الصبيان المساجد، رقم (٧١٢)،وکتاب السهو،باب حمل الصبيان فی الصلاة، ووضعهن فی الصلاة،رقم (١٢٠٥_١٢٠٦))_

[١]) سير اعلام النبلاء:٣٣١/١)_

[٢]) علامه نابلسی د دوی يو روايت ذکر کړې دې،ليکن په دې کښې د دوی نه تسامح شوې ده، نابلسی رحمه الله چې د سنن نسائی د کوم روايت حواله ورکړې ده نو هغه د حضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه نه روايت دې نۀ چې د ابوالعاص بن الربيع رضی الله عنه نه،اوګورئ ذخائر المواريث:٩٧/٣،حرف العين،رقم (٧٣٤٧). وسنن النسائی،کتاب الاستعاذة من الهرم،رقم (٥٤٨٩)،وتحفة الاشراف:٢٣٩/٧(٩٧٦٨)،عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه)_

[٣]) الاصابة:١٢٣/٤،وسير اعلام النبلاء:٣٣٥/١،والطبقات الکبری لابن سعد:١٨/٢،ومنهم من اغرب فی تاريخ وفاته (هو العلامة العينی)،وقال:انه قتل يوم اليمامة)_

[٤]) صحيح البخاری،کتاب النکاح،باب ذب الرجل ابنته فی الغيرة والانصاف،رقم (٥٢٣٠))_

[٥]) فتح الباری:/٩٣٢٨)_

ده.ددې وجې نه ئې اوفرمائيل چې صرف په دې صورت كښې على نكاح كولې شى چې حضرت فاطمه رضي الله عنها ته طلاق وركړى ورنه د حضرت على رضي الله عنه په شان شخصيت نه داسې توقع څنګه كيدې شى چې هغه د نبى عليه السلام د منع كولو باوجود د خپلې نكاح اراده اولري؟[١]

د منع كولو وجه څۀ وه؟ پورتنى حديث كښې نبى عليه السلام فرمائيلې دى چې د نبى لور او د الله تعالى د دشمن لور د يو سړى په عقد كښې جمع كيدې نۀ شى.اوس سوال دا پيدا كيږى چې ددې منع كولو وجه څۀ وه؟

ابن التين رحمه الله فرمائى چې ددې واقعې صحيح ترين محمل دادې چې نبى عليه السلام د خپلې لور او د ابوجهل د لور جمع كيدل حرام ګرځولې دى.ځكه چې نبى عليه السلام په خپله ددې علت او وجه هم بيان كړې ده چې ددې كار د وجې نه به ماته تكليف وى او دا خبره اتفاق سره واضحه ده چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته تكليف رسول يا په دې كار كښې اخته كيدل حرام دى او د نبى عليه السلام د قول مبارك "لا احرم حلالاً" مطلب دادې چې د ابوجهل لور د حضرت على رضي الله عنه دپاره حلاله ده،نكاح ورسره كولې شى ليكن د حضرت فاطمه رضي الله عنها په موجودګئ كښې ورسره نكاح نۀ شى كولې ځكه چې ددې دواړو ښځومينځ كښې جمع والې به دحضرت فاطمه رضي الله عنها د تكليف سبب جوړ شى او دهغې تكليف به د نبى عليه السلام د تكليف سبب اوګرځى. "ويؤذيني ما اذاها"[٢]

او حافظ ابن حجر رحمه الله دا د نبى عليه السلام په خصوصياتو كښې شمار كړې دى چې يو سړى سره د نبى عليه السلام لور په نكاح كښې وى نو هغه دويمې ښځې سره نكاح نۀ شى كولې.دغه شان دا هم كيدې شى چې دا د حضرت فاطمه رضي الله عنها خصوصيت وى،حافظ صاحب فرمائى:

"والذى يظهرلى انه لايبعد ان يعد فى خصائص النبى صلى الله عليه وسلم ان لايتزوج على بناته،ويحتمل ان يكون ذلك خاصاً بفاطمة....."[٣]

يو سوال او د هغې جواب: البته دلته يو سوال دا پيدا كيږى چې د نبى عليه السلام يو بل زوم حضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه هم وو،ليكن په خپل تقرير كښې نبى عليه السلام د حضرت ابوالعاص بن الربيع ذكر اوكړو،د هغۀ تعريف او ستائينه ئې اوكړه او د حضرت على رضي الله عنه د پوهولو دپاره ئې د دوى حواله وركړه او د حضرت عثمان رضي الله عنه تذكره ئې اونۀ كړه،ددې څۀ وجه وه؟

شارحينو ددې مختلف جوابونه ذكر كړې دى:

① غالباً نبى عليه السلام حضرت على او حضرت ابوالعاص رضي الله عنهما دواړو سره دا شرط لګولې وو چې دوى به د حضرت زينب او حضرت فاطمه رضي الله عنهما په موجودګئ كښې دويمه نكاح نۀ كوى نو حضرت ابوالعاص خو ددې شرط موافق څۀ داسې قدم پورته نۀ كړو او حضرت على رضي الله عنه دا اقدام اوكړو ددې وجې نه نبى عليه السلام د حضرت ابوالعاص رضي الله عنه تعريف بيان كړو او حضرت

---

[١] پورته حواله_

[٢] پورته حواله ،وعمدة القارى:١٥/٣٤،وشرح الكرمانى:١٣/٨٨)_

[٣] فتح البارى:٩/٣٢٩،وتحفة البارى:٣/٥٤٠،وارشاد السارى:٥/٢٠١)_

علی رضي الله عنه ته يې تنبيه اوکړه(۱)

۲ دا هم کيدې شی چې مذکوره شرط د حضرت علی رضي الله عنه نه هير شوې وی،ددې وجې نه ئې دا قدم اوچت کړو .

۳ دا داسې څۀ شرط خو نۀ وو څکه چې ددې وضاحت چرته نشته ليکن ددې باوجود مناسب دا وه چې حضرت علی رضي الله عنه ددې خبرې خيال ساتلې وې او داسې څۀ قدم ئې پورته کړې نۀ وو چې هغې سره حضرت فاطمه رضي الله عنها او نبی عليه السلام ته تکليف وو،ددې وجې نه حضرت علی رضي الله عنه ته تنبيه اوکړې شوه حالانکه نبی عليه السلام به ډير کم چاته غصه کيدو(۲)والله اعلم بالصواب

د حضرت فاطمه رضي الله عنها خصوصيت ولې بيان کړې شو؟ ليکن دلته دا سوال پيدا کيږی چې په دې معامله کښې د حضرت فاطمه رضي الله عنها تخصيص ولې اوکړې شو چې د هغې په موجودګئ کښې حضرت علی رضي الله عنه د دويمې نکاح نه منع کړې شو؟

ددې جواب هم د باب په حديث شريف کښې موجوددې .يعنی"وانا اتخوف ان تفتن فی دينها"،ددې اجمال تفصيل دادې چې حضرت فاطمه رضي الله عنها د خپلې مور بی بی حضرت خديجه الکبری او نورو درې واړو خويندو زينب،رقيه او د ام کلثوم رضي الله عنها د وفات نه پس يواځې شوې وه،داسې څۀ هستی د هغې دپاره موجوده نۀ وه چې هغې له ئې تسلې ورکړې وې،چې هغوی ته حضرت فاطمه رضي الله عنها تلې وې او خپل غم ئې سپک کړې وې،څکه چې دا خبره واضحه ده چې د بن وجود هيڅ يو ښځه هم برداشت کولې نۀ شی،ددې وجې نه که څۀ داسې خبره وه او حضرت فاطمه رضي الله عنها د غيرت د وجې نه څۀ کار کړې وې چې هغه د حضرت علی رضي الله عنه د خفګان سبب جوړ شوې وو نو د حضرت فاطمه رضي الله عنها ذاتی او کورنې ژوند او دينی کارونه به هم متاثره شوې وو حالانکه د هرې ښځې دپاره د ټولو نه لوئې او اهم څيز د خپل خاوند خوشحالی وی،چونکه ددې معاملې طرفته د نبی عليه السلام نظر مبارک وو نو ددې وجې نه هغوی حضرت علی رضي الله عنه د دويمې نکاح نه منع کړو او هغوی هم د نبی عليه السلام د تابعدارئ کولو د وجې نه منع شو(۳)والله اعلم بالصواب

يو اشکال او د هغې جوابونه: دلته يو اشکال داکيږی چې نبی عليه السلام دحضرت فاطمه رضي الله عنها د وجې نه حضرت علی رضي الله عنه د دويمې نکاح نه منع کړو چې هغه غيرت کښې راتلو سره هر څۀ کولې شی ليکن په خپلې حوالې سره ئې ددې اصولو طرفته خيال اونۀ کړو او ډير نکاحونه ئې اوکړل، هغه هم په يو وخت ئې ټول اوکړل،څکه چې په يو وخت کښې د نبی عليه السلام په نکاح کښې څو څو امهات المؤمنين موجودې وې او د هغوی مينځ کښې به کله د خفګان

---

۱) فتح الباری:۸۶/۷،وعمدة القاری:۲۳۱/۱۶)_
۲) فتح الباری:۸۶/۷)_
۳) فتح الباری:۹۳۲۹/،و :۸۶/۷)_

واقعات هم پیښیدل[1] لیکن ددې باوجود نبی علیه السلام د دغه امهات المؤمنین په باره کښې ددې خبرې لحاظ اونهٔ ساتلو ،د کومې خبرې خیال چې ئې د حضرت فاطمه رضی الله عنها په باره کښې اوساتلو ؟ ددې اشکال دوه جوابونه دی:

①لکه څنګه چې اوس پورته تیر شو چې د حضرت فاطمه رضی الله عنها حالت دغه وخت دا وو چې هغه د داسې قسمه هستئ نه محرومه وه چې د هغې په وړاندې خپل غم پیش کړی.مور بی بی او نورې خویندې ئې وفات شوې وې.د غم او د خفګان لرې کولو څهٔ ذریعه نهٔ وه،په خلاف د نورو امهات المؤمنین رضی الله عنهن،ځکه چې په هغوی کښې تقریباً د هرې یوې مور یا خویندې موجود وې،چې د هغوی د وجې نه یئ خپل غم او خفګان لرې کولې شو.

②ددې نه علاوه د هغوی خاوند نبی کریم صلی الله علیه وسلم وو.نبی علیه السلام به چې هغوی سره څنګه د نرمئ،محبت او د زړهٔ د راښکلو وغیره کومه معامله ساتله نو دا د بل انسان د طاقت خبره نهٔ ده،ددې وجې نه ټول ازواج مطهرات به د هغوی نه په هرحالت کښې خوشحاله او راضی وو ،دغه شان نبی علیه السلام ته چې کوم ښائسته اخلاق،او ظاهری ا وباطنی حسن وجمال ورکړې شوې وو ،نو ددې وجې نه که څهٔ واقعه به هم پیښه شوه نو هغه به د نبی علیه السلام په نزدیکت سره ختمیده[2].په دې باندې د ټولو نه زیات واضح دلیل د سورة احزاب والا واقعه ده،چې کله د تخییر آیتونه[3]نازل شو او ازواج مطهرات رضی الله عنهن ته اختیار ورکړې شو چې یا خو رسول الله صلی الله علیه وسلم اختیار کړئ یا د دنیا لذتونه اختیار کړئ نو هغوی نبی کریم صلی الله علیه وسلم اختیار کړو[4].

اوګورئ!بیبیانو ته چې کوم اختیار ورکړې شوې وو نو د هغې باوجود هم هغوی د نبی علیه السلام نه جدا کیدل او فراق خوښ نهٔ کړو.ښکاره خبره ده چې هغوی په هرحال کښې نبی علیه السلام سره راضی او خوشحاله وې او د حضرت فاطمه رضی الله عنها په باره کښې هغوی مبارک په خپله حضرت علی رضی الله عنه ته شکایت کوی.ددې وجې نه نبی علیه السلام منع اوفرمائیله.والله اعلم بالصواب

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: علامه کرمانی رحمه الله ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف د مناسبت واضح کولو دپاره درې مناسبتونه ذکر کړې دی:

① غالباً امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دا حکایت او مکالمه ددې وجې نه ذکر کوی چې نبی علیه السلام به د هرهغه کار نه ځان ساتلو چې دهغې د وجې نه د رشته دارانو مینځ

---

[1]) مثلاً په سورهٔ تحریم کښې بیان شوې واقعه د عسل،تفصیل دپاره اوګورئ:کشف الباری،کتاب التفسیر:۶۸۴)_

[2]) فتح الباری:۹/۳۲۹)_

[3]) د تخییر آیتونو نه مراد دا آیتونه دی:یاأیهاالنبی قل لازواجک إن کنتن تردن الحیوة الدنیا وزینتها فتعالین أمتعکن وأسرحکن سراحاً جمیلاً.وإن کنتن تردن الله و رسوله والدار الآخرة فان الله أعد للمحسنات منکم اجراً عظیماً.الاحزاب:۲۹_۲۹)

[4]) تفصیلی واقعې دپاره اوګورئ،کشف الباری،کتاب النکاح،باب موعظة الرجل ابنته.....: ۳۲۸_۳۳۸، کتاب التفسیر:۵۱۸_۵۱۹)_

كنبې څۀ غم او خفگان پيدا شي دلته هم حضرت مسور رضي الله عنه حضرت علي بن حسين رضي الله عنه ته دا وئيل غواړي چې تاسو هم ددې نه ځان اوساتئ او دا تلوار ماته راکړئ. ددې وجې نه چې ددې تلوار دوجې نه ستاسو او ستاسو د نور ورشته دارانو مينځ کنبې څۀ خفگان پيدا نۀ شي.[1]

② يا دا مناسبت دې چې نبي عليه السلام به څنگه د عبشمي ورونړو خيال ساتلو نو دغه شان تاسو هم د خپلو نوفلي ورونړو خيال اوساتئ او دا تلوار ماته راکړئ ځکه چې حضرت مسور رضي الله عنه نوفلي دې[2] ليکن د علامه کرماني دا آخرى خبره صحيح نۀ ده چې دې نوفلي دې بلکه دې زهري دې.[3]

③ يا دا چې نبي عليه السلام به څنگه د حضرت فاطمه رضي الله عنها د زړۀ د ساتلو کوشش خيال ساتلو، ددې خبرې اهتمام به ئې کوو، دغه شان زۀ هم ستاسو زړۀ ساتل غواړم ځکه چې تاسو د حضرت فاطمه رضي الله عنها خوئى يئ، ددې وجې نه دا تلوار ماته راکړئ چې زۀ ددې حفاظت اوکړم.[4] حافظ ابن حجر رحمه الله هم د عسقلانى په حوالې سره دا درې واړه مناسبتونه ذکر کړې دى او آخرى مناسبت ئې معتمد ښودلې دې، فرمائى:

"وهذا الأخير هو المعتمد، وماقبله ظاهر التكلف"[5]

او حافظ صاحب رحمه الله هم ترجمة الباب سره ددې حديث د مناسبت ښکاره کولو دپاره دې دريم مناسبت سره لگ يو شان کلام ذکر کړې دې، ليکى:

"أمر سيف النبى صلى الله عليه وسلم، وأراد المسور بذلك صيانة سيف النبى صلى الله عليه وسلم لئلا يأخذه من لايعرف قدره"[6]

ليکن دلته مزيداره خبره هغه ده کومه چې علامه عينى رحمه الله په خپله مختصر جمله کنبې وئيلې ده.- مطابقته لجزء الترجمة الذى هو قوله: وسيفه"[7] چې ترجمة الباب سره ددې حديث مناسبت د ترجمة الباب جزء "وسيفه" سره دې، په دې حديث کنبې هم د سيف النبى صلى الله عليه وسلم ذکر دې، چې په هغې کنبې وراثت جارى شوې نۀ وو او هم دومره قدرې تفصيل د ترجمة الباب د ثابتولو دپاره کافى ده.

د حديث شريف نه مستنبط شوې فائدې: د حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه په دې حديث شريف

---

[1]) شرح الكرمانى:۱۳/۸۸)_
[2]) پورته حواله)_
[3]) فتح البارى:۶/۲۱٤)_
[4]) شرح الكرمانى:۱۳/۸۸_۸۹)_
[5]) فتح البارى:۶/۲۱٤)_
[6]) پورته حواله)_
[7]) عمدة القارى:۱۵/۳۳)_

کښې مختلف او قسم قسم فوائد او نکات دی، چې د هغې طرفته د حدیث شارحینو ښودنه کړې ده. په هغې کښې بعضې دلته لاندې درج کولې شی.

① ددې حدیث شریف نه یو دا خبره معلومه شوه چې څنګه نبی علیه السلام ته تکلیف او او اذیت رسول حرام دی. خواه هغه تکلیف لږ وی یا ډیر. نو دغه شان هغه خلقو ته هم تکلیف ورکول حرام دی چې کومو ته د تکلیفونو رسولو په وجه نبی علیه السلام ته هم تکلیف وی. په دې حدیث کښې نبی علیه السلام یقین سره اوفرمائیل چې کوم څیز سره حضرت فاطمه رضی الله عنها ته تکلیف وی نو د هغې د وجې نه به ماته هم تکلیف وی. "یؤذینی ما آذاها".

اوس اوګورئ: ددې حدیث په رڼا کښې دا خبره معلومه شوه چې د حضرت فاطمه رضی الله عنها په حق کښې که د یو سړی نه څهٔ څیز صادر شوې وی او د هغې د وجې نه ورته تکلیف هم وی نو د هغې د وجې نه به نبی علیه السلام ته هم تکلیف وی. بیا په دې خان پوهه کړئ چې ددې نه به زیات تکلیف څهٔ وی چې د حضرت فاطمه رضی الله عنها خوئې مبارک شهید کړې شی. ددې نه ښهٔ طریقې سره اندازه کیدې شی چې په دې کار سره به حضرت فاطمه رضی الله عنها او د هغې والد محترم نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته څومره تکلیف رسیدلې وی؟ ددې نتیجه هم د حضرت حسین قاتلانو ته ښهٔ ملاو شوه. په دنیا کښې خو خوار او ذلیل شو ولعذاب الآخرة أشد وابقی.[1]

② د فقهې یو اصطلاح ده. "سد ذریعه" ددې خلاصه داده چې یو کار د مباح او جائز کیدو باوجود صرف ددې وجې نه منع کړې شی چې مستقبل کښې د هغې د وجې نه د ضرر او د نقصان خطره وی. دا حدیث شریف د هغې خلقو دلیل دی څوک چې د سدذریعه قائل دی. ددې تفصیل دادې چې څلور نکاحونه د سړی دپاره کول جائز دی. ددې نه زیات کول جائز نهٔ دی. ددې باوجود نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه د دویمې نکاح نه منع کړو. ځکه چې ددې د وجې نه په مستقبل کښې نقصان واقع کیدهٔ. حافظ صاحب لیکی:

"وفیه حجة لمن یقول بسد الذریعة لان تزویج ما زاد علی الواحدة حلال للرجال مالم یجاوز الاربع، ومع ذلك فقد منع من ذلك فی الحال، لما یترتب علیه من الضرر فی المال".[2]

③ ددې حدیث شریف نه دا فائده هم معلومه شوه چې د پلار نیکهٔ رسوائی او ذلت د هغوی نسلونو کښې هم منتقل کیږی. یا داسې اووایئ چې د وینې اثر په هرحال کښې وی. لکه نبی علیه السلام د ابوجهل لور ته "بنت عدو الله" فرمائیلې دی، ددې نه دا معلومیږی چې نبی علیه السلام چې حضرت علی رضی الله عنه منع کړې وو نو په هغې کښې ددې صفت هم څهٔ نا څهٔ اثر وو. اګرچه په خپله دغه ښځه یو نیکه او ښهٔ مسلمانه وه لیکن د "بنت عدو الله" کیدل د هغې دپاره یو پیغور جوړ شو.[3]

---

[1]) فتح الباری: ۹/۳۲۹)_

[2]) پورته حواله. وفی الموسوعة: ومعنی سد الذریعة: حسم مادة وسائل الفساد دفعالها. اذا کان الفعل السالم من المفسدة وسیلة الی مفسدة" (۲٤/۲۷۹) سد الذرائع)_

[3]) پورته حواله)_

شریف مرتضی او د حضرت مسور بن مخرمه حدیث: مشهور شیعه عالم شریف مرتضی موسوی[۱] دې د نورو ډیرو کتابونو مصنف هم دې،د دوی انتقال په۴۳۶هجرئ کښې اوشو. د تفصیلی حالاتو دپاره اوګورئ، الاعلام للزرکلی:۴/۲۷۸،ومیزان الاعتدال:۲/۱۲۴،رقم (۵۸۲۷)، ولسان المیزان:۵/۵۲۹،رقم (۵۳۷۵)،وتاریخ بغداد:۱۱/۴۰۲_په خپل کتاب"غرر"کښې د حضرت مسور بن مخرمه رضی الله عنه دې حدیث ته موضوع وئیلې دی ځکه چې په دې کښې یوقسم د حضرت علی رضی الله عنه نقصان بیان شوې دې او دلیل ئې دا پیش کړې دې چې ددې حدیث راوی حضرت مسور رضی الله عنه دې چې حضرت علی رضی الله عنه سره به ئې بغض ساتلو.ددې وجې نه د خپل بغض اظهار کولو سره ئې دا حدیث او دا واقعه د خپل طرفه جوړه کړې ده.دغه شان دا روایت د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه نه هم روایت شوې دې[۲]چې د حضرت علی رضی الله عنه په بغض کښې د حضرت مسور رضی الله عنه نه هم ډیر زیات سخت وو[۳]لیکن د دوی دا کلام باطل او مردود دې ځکه چې د صحاح سته اصحاب ددې حدیث شریف په تخریج باندې بالاجماع متفق دی.که دا حدیث موضوعی وو نو دې حضراتو به هیڅکله په خپلو کتابونو کښې نقل کړې نه وو حالانکه د دوی په صحت باندې د امت اتفاق دې[۴]

۲۹۴۴:[۵]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ عَنْ مُنْذِرٍ عَنِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ قَالَ لَوْ كَانَ عَلِيٌّ - رضى الله عنه - ذَاكِرًا عُثْمَانَ - رضى الله عنه - ذَكَرَهُ يَوْمَ جَاءَهُ نَاسٌ فَشَكَوْا سُعَاةَ عُثْمَانَ ، فَقَالَ لِي عَلِيٌّ اذْهَبْ إِلَى عُثْمَانَ فَأَخْبِرْهُ أَنَّهَا صَدَقَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَمُرْ سُعَاتَكَ يَعْمَلُونَ فِيهَا . فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ أَغْنِهَا عَنَّا . فَأَتَيْتُ بِهَا عَلِيًّا فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ضَعْهَا حَيْثُ أَخَذْتَهَا .

---

[۱]) دا مشهور شیعه عالم ابوالقاسم علی بن حسین بن موسی بن محمد بن ابراهیم دې،په ۳۵۵ هجرئ کښې پیدا شوې وو،نسلاً حسینی دې،د شیعیت او د اعتزال دواړو قائل وو،د حضرت علی رضی الله عنه طرفته منسوب کتاب د"نهج البلاغة"جمع کوونکې هم دادې،چې حقیقت کښې د دوی خپل تالیف دې لیکن د حضرت علی رضی الله عنه طرفته ئې منسوب کړې دې،حافظ ذهبی لیکي: وهو المتهم بوضع کتاب نهج البلاغة......ومن طالعه جزم بانه مکذوب علی امیر المؤمنین رضی الله عنه ؛ففیه:السب الصراح، والحط علی السیدین:ابی بکر و عمر، رضی الله عنهما،وفیه التناقض والاشیاء الرکیکة والعبارات التی من له معرفة بنفس القرشیین الصحابة وبنفس غیرهم ممن بعدهم من المتاخرین جزم بان الکتاب اکثرة باطل".میزان الاعتدال:۲/۱۲٤)_

[۲]) انظر الجامع للترمذی،کتاب المناقب،باب ماجاء فی فضل فاطمة رضی الله عنها،رقم (۳۸۶۹))_

[۳]) غرر القلائد و درر الفوائد نومې کتاب د ډیر زیات تلاش کولو باوجود مونږ ته ملاؤ نه شو_

[٤]) فتح الباری:۷/۸۶،وعمدة القاری:۱۶/۲۳۱)_

[٥]) قوله: عن ابن الحنفیة":الحدیث،تفرد بتخریجه البخاری رحمه الله،وهو فی هذا الباب فقط)_

رجال الحدیث

①**قتیبه بن سعید**: دا مشهور محدث حضرت قتیبه بن سعید رحمه الله دي د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب إفشاء السلام......" کښې راغلې ده[1]

②**سفیان**: دا مشهور محدث حضرت سفیان بن عیینه رحمه الله دي د دوی مختصر تذکره د "بدء الوحی" په اولنی حدیث کښې راغلې ده[2]

③**محمد بن سوقه**: دا ابوبکر محمد بن سوقه غنوی کوفی رحمه الله دي[3]

④**منذر**: دا ابویعلی منذر بن یعلی ثوری کوفی رحمه الله دي.

⑤**ابن الحنفیه**: دا محمد بن علی بن ابی طالب ابن الحنفیه رحمه الله دي ددې دواړو حضراتو تذکره کتاب العلم، "باب من استحیاء فامرغیره......" لاندې تیره شوې ده[4]

⑥**علی**: د حضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه تذکره په کتاب العلم، "باب کتابة العلم" کښې راغلې ده.[5]

⑦**عثمان**: دا حضرت عثمان بن عفان ذوالنورین رضی الله عنه دي[6]

قال: لوکان علی رضی الله عنه ذاکرا عثمان رضی الله عنه ذکره یوم جاءه ناس فشکوا سعاة عثمان

محمد ابن الحنفیه رحمه الله فرمائی چې که چرته حضرت علی د حضرت عثمان رضی الله عنه تذکره نامناسب الفاظو کښې کوله نو هغه ورځ به ئې خامخا کړې وه چې په کومه ورځ ورته څۀ خلق راغلل او د هغوی په وړاندې ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه له طرفه د زکوة دپاره مقرر کړه عاملینو باندې شکایت اوکړو.

د حدیث پس منظر: امام ابن ابی شیبه رحمه الله په خپل مصنف کښې دا روایت د محمد بن سوقه نه یو بل طریق سره نقل کړې دې، په هغې کښې راغلې دی، منذر بن یعلی فرمائی:

"کنا عند ابن الحنیفة، فنال بعض القوم من عثمان، فقال: مه، فقلنا له: أکان أبوك یسب عثمان؟ فقال: ماسبه، ولوسبه یوماً لسبه یوم جئته......"[7]

---

[1]) کشف الباری: ۲/۱۸۹)_

[2]) کشف الباری: ۱/۲۳۸، تفصیلی حالاتو دپاره اوګورئ، ۳/۱۰۲)_

[3]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب العیدین، باب مایکره من حمل السلاح فی العید والحرم)_

[4]) کشف الباری: ٤/٦٣٧_٦٤٠)_

[5]) کشف الباری: ٤/١٤٩)_

[6]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء ثلاثا ثلاثا)_

[7]) المصنف لابن ابی شیبة: ۲۱/۳۲۶، کتاب الفتن، باب ما ذکر فی عثمان......رقم (۳۸۸۶۲))_

چې "مونږ خلق محمد بن الحنفيه رحمه الله سره ناست وو چې په مجلس کښې چا د حضرت عثمان رضي الله عنه خلاف څه نامناسب خبره اوکړه، په دې باندې هغوی اوفرمائيل چې خاموش شه، نو مونږ اووئيل چې آيا ستاسو والد حضرت علي په حضرت عثمان رضي الله عنهما ته بد رد وئيل؟ محمد ابن الحنفيه اووئيل چې زما والد صاحب ورته کله هم بد ردن نه دې وئيلي، که هغوی چرته بد رد وئيلي نو به هغه ورځ به ئې وئيلي وو چې کله زه ورغلم......"

ددې روايت نه هم معلومه شوه چې د باب په حديث شريف کښې د ذکر نه مراد ذکر بالسوء دې، لکه د حديث شريف په بعضې طرقو کښې ددې ذکر موجود دې، يعنى "ذاکرا عثمان بسوء......"(١)

بيا په دې ځان پوهه کړئ چې په حديث کښې ناس او سعاة مطلق دي، دې سره دا تعيين نه کيږي چې شکايت کوونکي خلق څوک وو، نه دا خبره متعين کيدې شي چې د کوم عامل شکايت کړې شوې وو، ددې وجې نه حافظ صاحب ليکي:

"ثم أقف على تعيين الشاكي، ولا المشكو"(٢)

او سعاة د ساع جمع ده، د زکوة عامل ته وئيلې شي، کوم چې د مالدارانو نه زکوة وصولوی او د وخت امام ته ئې حواله کوی(٣)

قوله: فقال لي علي: اذهب إلى عثمان، فاخبره أنها صدقة رسول الله ﷺ، فمر سعاتك يعملون فيها: نو حضرت علي رضي الله عنه ما ته اووئيل چې حضرت عثمان رضي الله عنه ته لاړ شه، ورته دا اووايه چې دا د نبی کريم ﷺ د صدقاتو کتاب دې، لهذا تاسو خپلو عاملينو ته دا اوليږئ او ورته اووايئ چې په دې باندې عمل اوکړئ.

حضرت علي رضي الله عنه چې حضرت عثمان رضي الله عنه ته کوم څيز ليږلې وو دا غالباً څه کتاب يا صحيفه وو لکه د باب په راروان روايت کښې، "خذ هذا الکتاب" الفاظ هم دی، دغه شان دا هم دی "فان فيه أمر النبی ﷺ في الصدقة" او د ابن ابی شيبه(٤) د روايت الفاظ دا دی: "خذ کتاب السعاة، فاذهب به إلی عثمان"(٥)

قوله: فأتيته بها، فقال: أغنها عنا: نو هغه صحيفه ما واخستله او د هغوی په خدمت

---

(١) فتح الباری:٢١٤/٦، دغه شان اوګورئ ،عمدة القاری:٣٤/١٥، وابن بطال: ٢٦٧/٥، والقسطلانی: ٢٠١/٥، وکشف المشکل من حديث الصحيحين:١٤٠/١،مسند ابی الحسن،ومسند الامام احمد:٣٩٥/١،رقم (١١٩٦)مسند علی.....)_

(٢) فتح الباری:٢١٥/٦)_

(٣) پورته حواله،وعمدة القاری:٣٤/١٥)_

(٤) المصنف لابن ابی شيبة:٣٢٦/٢١،کتاب الفتن،باب ما ذکر فی عثمان......رقم (٣٨٨٦٢))_

(٥) فتح الباری:٢١٥/٦،وعمدة القاری:٣٤/١٥،واعلام الحديث للخطابی:١٤٤٣/٢)_

كښې حاضر شوم نو هغوى اوفرمائيل چې دا زما نه لرې ساته.
د اغنها لغوى او صرفى تحقيق دا د باب افعال نه د امرحاضرمعروف صيغه ده.ضمير د مفعول دې.د اغنى عن كذا معنى ده اړول.ګرځول اغن وجهك عنى،اى:صرفه.ددې په شان د الله تعالى دا قول دې لكل امرئ منهم يومئذ شان يغنيه"[1]اى:يصده ويصرفه عن غيره[2]
ددې كلمې په ضبط كښې دويم قول دادې چې د مجرد نه د باب سمع نه د امرحاضر معروف صيغه ده.ددې معنى ده پريخودل.اعراض كول او بې پرواه كيدل ابن الانبارى نحوى رحمه الله فرمائى چې ددې نه مشتق د الله تعالى دا قول دې "وتولوا واستغنى الله" المعنى تركهم.ځكه چې كله يو سړې د يو ځيز نه استغنا ښكاره كوى نو هغه پريږدى.
قال الخطابى رحمه الله:"وقوله:"اغنها عنا".كلمة معناها:الترك والاعراض.
قال ابن الانبارى:"ومن هذا قوله سبحانه:"فكفروا وتولوا واستغنى الله"[3]المعنى تركهم،لان كل من استغنى عن شئ تركه"[4]
حضرت عثمان رضي الله عنه ددې صحيفې نه ولې اعراض اوكړو؟
دلته سوال دا پيدا كيږى چې حضرت عثمان رضي الله عنه حضرت محمدبن الحنفيه رحمه الله ته دا ولې اوفرمائيل "اغنها عنا"او ددې صحيفې يا ددې كتاب نه ئې ولې اعراض اوكړو؟حالانكه پورته دا خبره ذكر شوه چې صحيفه د نبى عليه السلام مرتب كړې شوې وه؟
علامه داؤدى او ابن بطال رحمهما الله ددې اشكال په جواب كښې فرمائى چې حضرت عثمان رضي الله عنه دا خبره ددې وجې نه اوكړه چې هغوى سره ددې مثال موجود وو هغوى ددې نه بې خبره او ناواقف نۀ وو بلكه ددې د ليكلې شوې خبرو نه ښۀ طريقې سره خبردار وو دې سره سره ئې په خپلو عاملينو باندې په دې باندې عمل هم كوو.ددې وجې نه د حضرت عثمان رضي الله عنه ددې صحيفې رد كول مقصد نۀ وو البته هغوى دا وئيل غوښتل چې ماته ددې ضرورت نشته او دا خبره څۀ د عقل نه لرې هم نۀ ده.دويم مطلب چې كوم مراد اخستلې كيږى د هغې مقصد د حضرت عثمان رضي الله عنه نه توقع هم نۀ شى كيدې چې هغوى دا د سپک والى د وجې نه رد كړې وى.
"واما رد الصحيفة وقوله:"اغنها عنا"فذلك لانه كان عنده نظير منها،ولم يجهلها،لا انه ردها وليس عنده علم منها،ولانه قد كان امرها سعاته،فلا يجوز على عثمان غير هذا"[5]

---

[1] عبس:۳۷_
[2] فتح البارى:۲۱۵/۶،وعمدة القارى:۳٤/۱۵_
[3] التغابن:۶_
[4] اعلام الحديث:۱٤٤۳/۲_۱٤٤٤،وعمدة القارى:۳٤/۱۵،وفتح البارى:۲۱۵/۶_
[5] شرح ابن بطال:۲۶۷/۵،وعمدة القارى:۳٤/۱۵،وشرح القسطلانى:۲۰۱/۵_

هم دا خبره د ابن عيينه رحمه الله نه هم بعضې شاگردانو نقل کړې ده(۱)

وقال الكنكوهي رحمه الله: "قوله: "اغنها عنا" لانا انما نعمل بها، لاغير". وقال الكاندهلوي رحمه الله: "يعني علمنا موافق لهذه الصحيفة، فلاحاجة لنا اليها". لامع الدراري وتعليقاته: ۷/۲۹۱م_ حافظ ابن حجر رحمه الله د لته نور احتمالات هم ذکر کړې دی:

① کیدې شي چې حضرت عثمان رضي الله عنه دا مذکوره صحیفه ددې وجې نه رد کړې وی چې د هغوی په عاملینو باندې کوم الزام لګیدلې وو نو دا د هغوی په نزد هم ثابت شوې نهٔ وو.

② الزام خو ثابت شوې وو لیکن تدبیر ددې خبرې تقاضه کوله چې څهٔ تاخیر سره کاررووائي اوکړې شي.

③ حضرت علی رضي الله عنه چې کوم اعتراض کړې وو نو ممکنه ده چې د هغې تعلق مستحباتو سره وو او واجباتو سره نهٔ وو، غالباً هم دا وجه وه چې حضرت علی رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه عذر قبول کړو او د هغوی په شان کښې ئې څهٔ نامناسب خبره اونهٔ کړه.(۲)

د حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله رائې دا خو ددې حضراتو رائې شوه یعنی د ابن عیینه، ابن بطال، داؤدی، عینی، ابن حجر عسقلانی، قسطلانی او د ګنګوهی رحمهم الله وغیره لیکن شیخ الحدیث صاحب د ذوی د رائې نه جدا یوه بله خبره ارشاد فرمائیلې ده هغه دا چې حضرت عثمان رضي الله عنه به د صدقاتو په سلسله کښې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په کتاب باندې عمل کوو ددې وجې نه هغوی د حضرت علی رضي الله عنه د صحیفې متعلق دا اوفرمائیل چې مونږ ته ددې ضرورت نشته. ددې اجمال تفصیل دادې چې د صدقاتو په سلسله کښې د نبی کریم صلى الله عليه وسلم نه درې قسمه صحیفې منقول دی:

۱. صحیفه د ابوبکر. ۲. صحیفه د عمر او ۳. صحیفه د آل عمرو بن حزم رضي الله عنهم(۳)

علامه زرقانی رحمه الله په شرح المواهب کښې فرمائی چې نبی علیه السلام د مختلفو احکاماتو متعلق څهٔ صحیفې تیارې کړې وې. په هغې کښې یو کتاب الصدقات وو کوم چې د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره وو، دوی چې کله حضرت انس رضي الله عنه د بحرین والی جوړ کړو او هلته ئې واستولو نود هغې یوه نسخه یئ هم ورکړه.(۴) په هغې کښې دویمه صحیفه حضرت عمر رضي الله عنه

---

[1]) الجمع بين الصحيحين للحميدي: ۱/۱۶۶، رقم (۱۳۹)، افراد البخاري.....عن على رضي الله عنه . وتاريخ مدينة دمشق: ۳۹/۲۶۶، ذكر من اسمه عثمان، وفتح الباري: ۶/۲۱۵)_

[2]) فتح الباري: ۶/۲۱۵)_

[3]) قال ابن العربي في كتابه المسالك شرح مؤطا مالك": ثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم في الماشية ثلاث كتب: كتاب ابى بكر، وكتاب آل عمرو بن حزم. وكتاب عمربن الخطاب، وعليه عول مالك ..." انظر الاوجز: ۵/۶۵۲، وتعليقات لامع الدراري: ۷/۲۹۸)_

[4]) الحديث اخرجه البخاري في صحيحه، كتاب الزكاة، باب العرض في الزكاة، رقم (۱۴۴۸)، وباب لا يجمع بين متفرق.....رقم(۱۴۵۰)وباب ما كان من خليطين.......رقم(۱۴۵۱)وباب من بلغت...[بقيه برصفحه آئنده...

سره وه (۱)ياد ساتئ دا هغه صحيفه نۀ ده كومه چې حضرت ابوبكر حضرت انس رضي الله عنهما ته وركړه، ددې دواړو كتابونو د الفاظو په خپل مينځ كښې كوم مغايرت او فرق دې نو د هغې نه هم دا معلوميږى چې دا دواړه يو صحيفه نۀ وه بلكه جدا جدا صحيفې دى هر چه د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت دې چې "نبى عليه السلام كتاب الصدقه تيار كړو ليكن د حكومت عاملينو ته ئې هغه صحيفه اونۀ ښودله او هغه ئې خپلې تورې سره اوتړله.تردې چې وفات شو.د دوى مبارک نه پس حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د خلافت د مودې پورې په دې باندې عمل جارى اوساتلو.د هغوى نه پس حضرت عمر رضي الله عنه په خپل ژوند كښې په دې باندې عمل كوو "(۲)نو ددې روايت نه ددې دواړو صحيفو(صديقى او عمرى)يو كيدل لازم نۀ راځى چې دا دواړه يو قسم صحيفې وې(۳)

ليكن شيخ الحديث كاندهلوى رحمه الله د زرقانى د كلام آخرى حصه رد كوى او فرمائى چې د صحيفې د ابوبكر او د عمر د دواړو صحيفو بعضې ځايونو كښې موجود اختلاف ددې خبرې نه مانع نۀ دې چې په دې باندې عمل ممكن نۀ وى.شايد حضرت عثمان رضي الله عنه د هغې مطابق عمل ددې وجې نه كوو چې د شيخينو عمل هم په دې باندې وو او دا د هغوى مشهور عادت دې چې هغوى به د شيخينو عمل ته ترجيح وركوله او د هغوى په رائې باندې به ئې چليدل خوښول(۴)

قوله: فأتيت بها عليا،فأخبرته،فقال: ضعها حيث أخذتها: نو ما هغه حضرت على رضي الله عنه ته واپس راوړله او تفصيل مې ورته بيان كړو نو هغوى اوفرمائيل چې دا صحيفه دې د كوم ځائې نه اخستلې وه نو هم هلته ئې كيده.

د حديث نه مستنبط يو فائده: امام ابن عيينه رحمه الله فرمائى چې ددې حديث نه دا فائده حاصله شوه چې اميرانو او واليانو ته نصيحت كول پكار دى.د هغوى لاندې كسانو كښې

...بقيه ازحاشيه گذشته] عنده صدقة......رقم (۱۴۵۳)، وباب زكاة الغنم،رقم (۱۴۵۴)،وباب لا تؤخذ فى الصدقة هرمة......رقم (۱۴۵۵)،وكتاب الشركة،باب ما كان من خليطين......رقم (۲۴۸۷)،وكتاب فرض الخمس،باب ما ذكر من درع النبى صلى الله عليه وسلم ......رقم (۳۱۰۶)،وكتاب اللباس،باب هل يجعل نقش الخاتم.....؟رقم (۵۸۷۸)،وكتاب الحيل،باب فى الزكاة......رقم (۶۹۵۵)،وابو داود فى سننه،كتاب الزكاة،باب فى زكاة،باب اذا اخذ المصدق سنا دون سن،رقم (۱۸۰۰))_

[1]) والحديث عند مالک فى الموطا،كتاب الزكاة،باب صدقة الماشية،رقم (۲۳/۶۵۹)،وابى داود فى سننه،كتاب الزكاة،باب زكاة السائمة،رقم (۱۵۷۰)،والترمذى فى جامعه،كتاب الزكاة،باب ماجاء فى زكاة الابل والغنم،رقم (۶۲۱))_

[2]) اخرجه الترمذى،كتاب الزكاة،باب فى زكاة الابل والغنم،رقم (۶۲۱)،وابو داود،كتاب الزكاة،باب زكاة السائمة،رقم (۱۵۶۸_۱۵۶۹)،وابن ماجه،كتاب الزكاة،باب صدقة الابل،رقم (۱۷۹۸))_

[3]) شرح المواهب تعليقات لامع الدرارى:۲۹۸/۷)_

[4]) تعليقات لامع الدرارى:۲۹۸/۷)_

كه څۀ قسم فساد وى نو د هغوى په وړاندې ددې وضاحت كول پكار دى او د وخت امام ته هم د دوى په حقله د شكاياتو تحقيق او تفتيش كول پكار دى(١)

قَالَ الْحُمَيْدِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُوقَةَ قَالَ سَمِعْتُ مُنْذِرًا الثَّوْرِي عَنِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ قَالَ أَرْسَلَنِي أَبِي ، خُذْ هَذَا الْكِتَابَ فَاذْهَبْ بِهِ إِلَى عُثْمَانَ ، فَإِنَّ فِيهِ أَمْرَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي الصَّدَقَةِ.

د مذكوره تعليق مقصد: امام حميدى د امام بخارى رحمه الله شيخ دې، امام بخارى په فقه او حديث دواړو كښې د دوى شاګردى كړې ده، د قتيبه بن سعد د روايت ذكر كولو نه پس دوى تعليقاً د امام حميدى روايت هم نقل كړې دې. ددې وجه او مقصد دادې چې د حميدى په روايت كښې د قتيبه د روايت په نسبت د سفيان بن عيينه د تحديث وضاحت كوى. دغه شان په دې كښې محمد بن سوقه هم د منذر بن يعلى نه د سماع وضاحت كوى(٢)

د مذكوره تعليق تخريج: د امام حميدى دا تعليق د دوى په تاليف "كتاب النوادر" كښې هم دې سند سره موصولاً موجود دې(٣)

د مذكوره صحيفې مضمون څۀ وو؟ د باب حديث شريف امام بخارى رحمه الله دوو طرقو سره موصولاً او تعليقاً نقل كړې دې ليكن په دې كښې د مذكوره صحيفې مضمون ذكر نۀ دې چې په دې كښې څۀ ليكلې شوې وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ماته ددې حديث په هيڅ يو طريق كښې دا خبره معلومه نۀ شوه چې په دې صحيفه كښې څۀ مضمون ليكلې شوې وو؟ البته امام خطابى رحمه الله په "غريب الحديث" كښې د عطيه عن ابن عمر رضي الله عنهما د طريق نه يو حديث نقل كړې دې چې:

"بعث علي إلى عثمان بصحيفة، فيها: لا تأخذوا الصدقة من الزخة، ولا من النخة"(٥)

يعنې: "حضرت على حضرت عثمان رضي الله عنهما ته يوه صحيفه واستوله چې د هغې مضمون دا وو چې په زكوة كښې د چيلئ بچې او د اوبن بچې مۀ اخلئ". ددې حديث سند اګر چه ضعيف دې ليكن ددې مضمون احتمال كيدې شى(٦) والله اعلم بالصواب

---

(١) فتح البارى: ٢١٥/٦ـ

(٢) د امام حميدى رحمه الله حالات په كشف البارى، بدء الوحى (٢٣٧/١) كښې تير شوې دى او د نورو حضراتو راويانو د ترجمو نشاندهى په تير شوې سند كښې كړې شوې ده)ـ

(٣) فتح البارى: ٢١٥/٦، وارشاد السارى: ٢٠١/٥ـ

(٤) فتح البارى: ٢١٥/٦، وتغليق التعليق: ٤٦٩/٣ـ

(٥) غريب الحديث: ١٧٦/٢ـ١٧٧، حديث ابن عمر رضي الله عنه، وتلخيص الحبير: ١٥٦/٢، رقم (٨٢٠)، كتاب الزكاة، باب زكاة النعم، الشرط الثالث: الحول، ولسان العرب: ٢١/٣، مادة "زخخ"، وفيه عثمان بن حنيف غير عثمان بن عفان)ـ

(٦) فتح البارى: ٢١٥/٦. دا هم كيدې شى چې حضرت على رضي الله عنه كومه صحيفه ليږلې وه [بقيه بر صفحه آئنده

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت. ترجمة الباب سره ددې حديث د دواړو طرقو په دې جمله کښې مطابقت موجود دې "فاخبره أنها صدقة رسول الله صلى الله عليه وسلم" دا سې چې دلته: صدقة رسول الله نه مراد هغه صحيفه ده په کومه کښې چې د صدقاتو احکامات وو. امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې يو جمله "وما استعمل الخلفاء بعده" هم ذکر کړې ده، دې جملې سره به ددې حديث مناسبت وی چې دا صحيفه وروستنی خليفه ګانو په خپل استعمال کښې اوساتله او د هغې په احکاماتو ئې عمل کوو. علامه عينی رحمه الله فرمائی:

"مطابقته للترجمة يمكن أن تؤخذ من قوله: "فاخبره أنها صدقة رسول الله ﷺ"، و أراد به الصحيفة التى كانت فيها أحكام الصدقات ويكون هذا مطابقاً لقوله فى الترجمة: وما استعمل الخلفاء بعده"(١)

ترجمة الباب سره متعلق يو بحث: امام بخاری رحمه الله چې کومه ترجمه ذکر کړه نو دا په نهه جزونو باندې مشتمله ده، يعنی درع، همسا، توره، پيالئ، ګوتمه، وما استعمل الخلفاء بعده من ذلك، شعر، نعل او آنية. او په ترجمه کښې چې کوم احاديث ذکر کړې شوې دی نو د هغې تعداد شپږ دې په اولنی کښې د ګوتمې، په دويم کښې د نعل. په دريم کښې د كساء ملبد، په څلورم کښې د پيالئ، په پنځم کښې د تورې او په شپږم کښې د صحيفې ذکر دې. د پورته ذکر شوو شپږو احاديثو مناسبت ترجمة الباب سره څنګه دې نو ددې وضاحت مونږ وړاندې کړې دې. ليکن د څلورو څيزونو يعنی ذغره، همسا، ويختو او د لوښو مطابقت به ترجمة الباب سره څنګه وی، دا مذکور نۀ دی نۀ دې سره متعلق څۀ حديث مصنف رحمه الله ذکر کړې دې. ددې دوه جوابونه دی:

① دې څيزونو سره متعلق حديثونه خو د هغوی په نظر کښې وو ليکن اتفاقاً هغوی په باب کښې ذکر نۀ کړې شو.

② د مصنف رحمه الله يو عادت دا هم دې چې هغوی بعضې وخت په ترجمه کښې يو څيز ذکر کړی ليکن هغې سره متعلق څۀ حديث ذکر نۀ کړی، بلکه يو بل مقام کښې ورته اشاره اوکړی چې د اهل علم نه پټه نۀ وی نو دلته هم دا معامله ده.

اوس تفصيل ته اوګورئ.

① ذغرې سره متعلق حديث حضرت مصنف رحمه الله په بيوع وغيره کښې ذکر کړې دې، حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمائی: "توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم و درعه مرهونة عند يهودى"(٢)

چې "د نبی عليه السلام وفات په وخت د هغوی يو ذغره يو يهودی سره د ګانړې (رهن) په طور کيخودلې شوې وه"

...بقيه ازحاشيه گذشته] د هغې مضمون د صديق او د عمر رضی الله عنهما د صحيفې په شان وو، چې هغوی سره د مخکښې نه موجود وو. كما مر عن شيخ الحديث رحمه الله آنفا)_

(١) عمدة القارى: ١٥/ ٣٤)_

(٢) انظر صحيح البخارى، كتاب الجهاد والسير، ما قيل فى درع النبى......رقم (٢٩١٦))_

③همسا سره متعلق حديث مصنف رحمه الله په كتاب الحج كښې د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت سره نقل كړې دې "طاف النبى صلى الله عليه وسلم فى حجة الوداع على بعير، يستلم الركن بمحجن"[١] دغه شان وراندې په كتاب التفسير كښې ئې هم يو حديث د حضرت على رضي الله عنه په روايت سره ذكر كړې دې[٢] چې په هغې كښې يو د مختصره (يعنى لختې، چوكې) ذكر راغلې دې[٣]

④ويختو سره متعلق حديث هغه دې كوم چې په كتاب الطهارة كښې تير شو. ابن سيرين رحمه الله فرمائى "عندنا من شعر النبى صلى الله عليه وسلم، أصبناه من قبل أنس رضي الله عنه"[٤]

⑤هرچه لوښى وو نو حافظ رحمه الله فرمائى چې د پيالئ نه پس ددې ذكر كول د عطف العام على الخاص د قبيل نه دې او په باب كښې هغوى صرف د پيالئ ذكر كړې دې او دا كافى دې. ځكه چې دې سره په نورو لوښو باندې هم دلالت كيږى[٥] والله اعلم بالصواب

⑥باب الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الْخُمُسَ لِنَوَائِبِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَالْمَسَاكِينِ.

وَإِيثَارِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَهْلَ الصُّفَّةِ وَالأَرَامِلَ حِينَ سَأَلَتْهُ فَاطِمَةُ وَشَكَتْ إِلَيْهِ الطَّحْنَ وَالرَّحَى أَنْ يُخْدِمَهَا مِنَ السَّبْيِ، فَوَكَلَهَا إِلَى اللَّهِ.

د ترجمة الباب نحوى تحليل او مفهوم: علامه عينى رحمه الله خو دا وئيلې دى "هذا باب فى بيان الدليل......" ددې مقصد دادې چې دلته مبتدا محذوف ده چې هغه هذا اسم اشاره ده. بيا: المساكين او د ايثار النبى عطف په نوائب باندې دې او اهل الصفة او الارامل د ايثار مصدر د مفعول به كيدو د وجې نه په حالت د نصب كښې دى، ددې نه علاوه حين ... ظرف دې د ايثار مصدر دپاره او جمله د "أن يخدمها" د مصدر په تاويل سره دويم مفعول دې د

---

[١]) صحيح البخارى، كتاب الحج، باب استلام الركن بالمحجن، رقم (١٦٠٧))_

[٢]) صحيح البخارى، كتاب التفسير، باب قوله: (وكذب بالحسنى)، رقم (٤٩٤٨))_

[٣]) قال العينى فى العمدة: (٣١/١٥): و اما عصاه فقد ذكروا انه كانت له مخصرة، تسمى العرجون، وهى كالقضيب، يستعملها الاشراف للتشاغل بها فى ايديهم، ويحكون بها ما بعد من البلدن عن اليد، وكان له قضيب من شوحط يسمى الممشوق، وكان له عسيب من جريد النخل")_

[٤]) صحيح البخارى، كتاب الطهارة، باب الماء الذى يغسل به شعر الانسان، رقم (١٧٠))_

[٥]) فتح البارى: ٦/٢١٣. وقال العينى فى العمدة (٣١/١٥):

واما آنيته فكثيرة، ذكرها اصحاب السير، منها: قدر من حجارة، يدعى المخضب، يتوضا فيه، ومخضب آخر من شبه، يكون فيه الحناء والكتم، يضع على راسه اذا وجد فيه حرا، وكان له مغسل من صفر، وكانت له ركوة، تسمى الصادرة، وكان له طست من نحاس، وقدح من زجاج، وكانت له جفنة عظيمة يطعم فيها الناس، يحملها اربعة رجال، تسمى الغداء....." وكذا انظر مجمع الزوائد: ٥/٢٧٢، كتاب الجهاد، باب آلات الحرب.....)_

سئلته فعل دپاره(۱)خلاصه دا شوه چې هذا محذوف مبتدا ده او باقی عبارت خبر دې.
او علامه سندهی رحمه الله فرمائی چې الدلیل......مبتدا ده او حین سئلته دا جمله خبر دې.ددې دپاره به تقدیری عبارت راویستلې شی.یعنی ما فعله(۲)باقی تفصیل د ما قبل په شان دې.ددې مطابق به عبارت داسې شی.الدلیل علی......ما فعله حین سئلته فاطمة......"او د ترجمة الباب د عبارت مفهوم به دا وی:
د خمس مصرف د نبی علیه السلام نوائب او مسکینان وغیره دی.ددې دلیل د نبی علیه السلام فعل دې چې کله حضرت فاطمې رضی الله عنها د کور د کار دپاره د خادم مطالبه اوکړه نو نبی علیه السلام هغې باندې اصحاب صفه ته ترجیح ورکړه او د هغې معامله ئې الله تعالی ته اوسپارله.
د ترجمة الباب لغوی تحقیق: په ترجمة الباب کښې د مذکوره بعضې الفاظو وضاحت لاندې ذکر کولې شی:
①نوائب:دا د نائبة جمع ده،"وهی ما کانت تنوبه"یعنی مختلف کارونه او حادثات کوم چې به نبی علیه السلام ته پیښیدل.
②الارامل:دا د أرمل جمع ده،هغې سړی ته وائی چې د هغۀ ښځه نۀ وی او أرملة هغې ښځې ته وئیلې شی چې د هغې خاوند نۀ وی.دلته د ارامل نه دواړه مراد دی.هرکله چې فقیران وی(۳)
د ترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د خمس مصرف ښودلې دې او په دې سلسله کښې ئې د امام مالک رحمه الله مذهب اختیار کړې دې کوم چې ددې خبرې قائل دې چې په خمس کښې د وخت حاکم او امام ته اختیار دې چې خمس په خپله مرضئ باندې چرته او څومره چې غواړی نو خرچ کولې شی.د مسئلې تفصیل وړاندې راځی.
خمس به کومو خلقو ته ورکولې شی؟ د علماء اسلام په دې خبره کښې څۀ اختلاف نشته چې غنیمت به پنځه حصې کولې شی،چې په هغې کښې به څلور حصې د مجاهدینو وی یعنی کوم خلق چې په غزوه کښې شریک وو.یو حصه چې هغې ته خمس وئیلې شی په دې کښې اختلاف دې چې ددې مستحق به کوم خلق وی او دا به کوم ځائې کښې خرچ کولې شی.د مذهبونو تفصیل لاندې ذکر کولې شی:
①احناف دا وائی چې خمس به درې حصې کولې شی،یوه حصه به د یتیمانانو وی،یوه حصه به د مسکینانو او یوه حصه به د مسافرو وی.البته په مسافرو کښې رشته دار هم داخل دی او په دې معامله کښې به دوی ته ترجیح ورکولې شی او په رشته دارو کښې چې کوم مالداران وی نو د هغوی به په دې کښې څۀ حصه نۀ وی.د وخت امام او حاکم به په دې

---

۱) عمدة القاری:(۳۵/۱۵)_
۲) حاشیة السندی علی البخاری:۴۳۹/۱.وتعلیقات اللامع:(۲۹۸/۷_۲۹۹)_
۳) عمدة القاری:۳۵/۱۵.وشرح القسطلانی:(۲۰۲/۵)_

تقسیم کښې خود مختار وی چې چاته ورکوی او چاته نۀ ورکوی.
په ذوی القربی کښې د قرابت نه مراد قرابت د رسول ﷺ دې، یعنی د نبی کریم ﷺ رشته دار وغیره دا د خلفاء راشدینو مذهب هم دې[1]
(۲) شوافع او حنابله دا وائی چې خمس به پنځه حصې کړې شی او په دې خلقو باندې به تقسیم کړې شی، یتیمان، مسکینان، مسافر، رشته دار او نبی علیه السلام اوس چونکه نبی علیه السلام وفات شوې دې نو دهغوی دا حصه به د مسلمانانو په کارونو او د اسلحې وغیره په اخستلو باندې خرچ کولې شی. بیا ددې حضراتو په نزد په رشته دارو کښې د فقیرانو څۀ تخصیص نشته، په رشته دارو کښې به مالداران هم ددې حصې مستحق وی[2] ابن قدامه فرمائی چې هم دا مذهب د عطاء، مجاهد، شعبی، نخعی، قتاده او د ابن جریج رحمهم الله وغیره هم دې[3].
(۳) د مالکیه په نزد د خمس، جزیه، فئ، عشر او د خراج وغیره ذدې ټولو محل بیت المال دې. د وخت امام به د خپلې رائې مطابق دا د مسلمانانو په مصلحتونو باندې خرچ کوی لیکن په دې کښې به بنوهاشم یعنی د نبی علیه السلام خاندان ته ترجیح ورکولې شی او دوی ته به ددې نه ډیر مقدار کښې ورکړه کولې شی ځکه چې دوی د زکوة مال نۀ شی اخستلې. بیا به دا مال د عامو مسلمانانو په خیرښیګړه کښې خرچ کولې شی لکه جماتونه، پُلونه او جنګونه وغیره[4]
ابن همام رحمه الله فرمائی: "فعند مالك الامر مفوض إلى رائ الامام، إن شاء قسم بينهم، وإن شاء أعطى بعضهم دون بعض، وإن شاء أعطى غيرهم، إن كان أمرغيرهم أهم من أمرهم"[5]
دا خو د ائمه اربعه د مذهبونو بیان وو، په دې مسئله کښې نور مذهبونه هم شته چې د هغې تعداد د حافظ ابن حجر رحمه الله د قول مطابق اووۀ[6] دې او د حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله

---

[1]) احكام القرآن للرازى:٨٢/٣،واعلاء السنن:٢١٠/١٢،والاوجز :٩٢٨٢/،والدر المختار:٢٥٨/٣، والهداية: ٢٤٠/٤، وفتح القدير لابن الهمام:٢٤٣/٥،وروح المعانى:٢٨٠/١٠_٢٨٣ ،سورة الانفال
په دې مسئله کښې امام نسائی رحمه الله هم د احنافو ملګرې دې، هغوی په خپل سنن کښې د مختلفو روایتونو د نقل کولو نه پس دا کلمات ارشاد فرمائیلې دی:
"وسهم لذى القربى،وهم بنو هاشم،و بنو المطلب،بينهم الغنى منهم والفقير،وقد قيل:انه للفقير منهم دون الغنى،كليتامى وابن السبيل،وهو اشبه القولين بالصواب عندى،والله اعلم"
راجع السنن الصغرى:اول كتاب قسم الفئ،تحت رقم (٤١٥٢)،والسنن الكبرى:٤٨/٣،كتاب الخمس،تفريق الخمس......قبل رقم (٤٤٥٠))_
[2]) المغنى لابن قدامة:٣١٤/٦،وكتاب الام:١٤٧/٤/٢،قسم الفئ،سن تفريق القسم،رقم (١٢٧٩٣))_
[3]) المغنى:٣١٤/٦،كتاب الزكاة،باب قسمة الفئ والغنيمة والصدقة،رقم (٥٠٧٩)،الفصل الرابع)_
[4]) الشرح الكبير مع حاشية الدسوقى:٥٠١/٢_٥٠٢،والاوجز:٩٢٨٥/،والمغنى:٣١٥/٦)_
[5]) فتح القدير:٢٤٣/٥)_
[6]) فتح البارى:٢٣٨/٦)_

مطابق يوولس(۱)دې وړاندې به هغې کښې بعضو طرفته اشاره هم کيږي.

د مذهبونو ماخذ په دې مسئله کښې آئمه کرام دا آيت کريمه(**واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول ولذى القربى واليتامى والمساكين وابن السبيل**)(۲) د ماخذ په طور منى.هم دا آيت کريمه د مذهبونو د اختلاف اصل هم دې.ددې آيت کريمه په تفسير کښې د ملت د مفسرينو او د فقهاء کرامو اختلاف دې چې د هغې تفصيل لاندې ذکر کولې شي.

په ايت کريمه کښې د لفظ"الله"معنى: اولنئ اختلافى مسئله داده چې دلته په آيت کريمه کښې د لفظ"الله"څۀ مطلب دې؟الله تعالى ته به د حصې ورکولو څۀ صورت وى؟په دې سلسله کښې اولنې قول د حضرت ابوالعاليه رحمه الله دې.هغه فرمائى چې خمس به شپږ حصې کړې شى ځکه چې په آيت کريمه کښې د خمس مصارف شپږ بيان کړې شوې دى.يعنى الله تعالى،رسول الله ﷺ،رشته دار،يتيمان،مسکينان اومسافر.اوالله تعالى ته به سهم(د حصې) ورکولوصورت داوى چې دهغې شپږمه حصه به دبيت الله(کعبه مبارکه)دپاره استعماليږى(۳)

د بيضاوى د قول مطابق:دوى د آيت د ظاهر نه استدلال کړې دې(۴).دغه شان ابو العاليه رحمه الله فرمائى چې د نبى عليه السلام په وړاندې به د غنيمت مال پيش کړې شو نو هغوى به پړې لاس رانبکلو.څۀ چې به لاس کښې راغلل نو هغه به ئې د کعبې مبارکې دپاره خاص کړل.بيا به ئې باقى مال غنيمت په پنځو مصارفو کښې تقسيم کړو(۵).

او د اکثرو حضراتو رائې داده چې په آيت کريمه کښې لفظ د الله د کلام د افتتاح او د تبرک او تعظيم دپاره راغلې دې(۶).امام رازى رحمه الله د ابوالعاليه قول رد کولو سره فرمائى چې ددې هيڅ معنى نشته ځکه چې که دا خبره ثابته وه نو څلور واړه خليفه ګان ذ نورو خلقو په مقابله کښې ددې زيات حقدار وو چې هغوى په دې باندې عمل کړې وو حالانکه دا خبره ثابته نۀ ده نو د ابوالعاليه قول هم ثابت نۀ دې.دغه شان ددې هيڅ مطلب نشته چې حصه د بيت الله شريف الله تعالى سره خاص اووئيلې شى ځکه چې نور مذکوره حصه جات هم د الله تعالى د قرب حاصلولو دپاره خرچ کولې شى.معلومه دا شوه چې په آيت کريمه کښې (**فان لله خمسه**)دا حصه د بيت الله شريف سره خاص نۀ ده.

---

(۱) الاوجز:/۹۲۷۷_۲۸۲)_

(۲) الانفال:۴۱)_

(۳) الاوجز:/۹۲۷۷،وتفسير مع حاشية الشهاب الخفاجى:۴/۴۷۶،والتفسير الكبير:۱۵/۱۶۵_۱۶۶،واحكام القرآن:۳/۷۹)_

(۴) تفسير البيضاوى مع الشهاب:۴/۴۷۶،والاوجز:/۹۲۷۷)_

(۵) احكام القرآن:۳/۷۹،والاوجز:/۹۲۷۸)_

(۶) احكام القرآن:۳/۷۹_۸۰،والاوجز:/۹۲۸۱،والتفسير الكبير:۱۵/۱۶۶،والمغنى :۶/۳۱۴_۳۱۵،وتفسير البيضاوى:۴/۴۷۵،وبذلک جزم صاحب الهداية:۴/۲۴۲،طبع مکتبة البشرى،کراتشى،وشرح ابن بطال: ۵/۲۷۴)

اوس چې هركله د ابو العاليه دقول بطلان ثابت شو نوددې دوه معنې او وجوهات كيدې شى
①اول دا چې دا لفظ د"الله"د كلام د افتتاح دپاره وى.لكه څنګه چې مونږ د مشرانو د يو جماعت(عطاء،شعبى او د قتاده)په حوالې سره وئيلې دى او مقصد زمونږ تعليم وى چې د الله تعالى په نوم سره تبرک حاصل كړې شى او ټول كارونه د الله تعالى د باعظمت نوم نه شروع كړې شى.
دويم ددې دا معنې هم كيدې شى چې خمس ټول په ټوله په هغه لارو كښې خرچ كړې شى كوم چې د الله تعالى د رضا او د هغهٔ د قرب حاصلولو سبب وى.ددې وجې نه ئې شروع كښې لفظ د"الله"راوړلو،بيا ئې هغه وجوهات او لارې اوښودلې چې هغه لارې دادى (وللرسول ولذى القربى.....)خلاصه دا شوه چې ابتداء كښې ئې د خمس حكم مجمل اوساتلو.
بيا ئې دهغې تفصيل او وضاحت ذكر كړو[1]ليكن اشكال دا كيږى چې په دې صورت كښې ددې واو څهٔ معنى ده كوم چې د"لله ولرسوله"مينځ كښې واقع شوې دې؟
ددې په جواب كښې امام رازى رحمه الله فرمائى چې د لغت په رڼړا كښې ددې واو داخلول جائز دى ليكن ددې نه مراد الغاء ده مطلب دا چې ددې هيڅ اعتبار نشته.لكه څنګه چې د الله تعالى قول دې،(ولقد آتينا موسى وهارون الفرقان وضياء)[2]په دې كښې واو ملغى او غير معتبر دې ځكه چې هم فرقان ضياء ده.دغه شان په قرآن كريم كښې دى:(فلما أسلما وتله للجبين)[3] ددې معنى ده :(لما أسلما تله للجبين"،ځكه چې"فلما أسلما"د جواب تقاضه كوى او د هغې جواب"للجبين"دې[4].
د سهم الرسول معنى او په دې كښې اختلاف:د پورتنى بحث نه دا خبره واضحه شوه چې په آيت كريمه كښې د لفظ"الجلالة"ذكر كولو څهٔ مقصد دې.ددې نه پس په دې ځان پوهه كړئ چې نبى عليه السلام ترڅو حيات وو نو د خمس يو حصه ئې اخستله.ددې نه علاوه صفى[5]يوغيره باندې هم د نبى عليه السلام حق وو.په غنيمت كښې به هم نبى عليه السلام د يو عام لښكرى په شان حصه اخستله ليكن د نبى عليه السلام د وفات نه پس په دې حصه كښې د اسلافو اختلاف شو چې ددې څهٔ حكم دې؟په دې سلسله كښې د حنابله او د شافعيه مؤقف خو دادې چې دا حصه اوس هم باقى ده او كله چې خمس تقسيميږى نو دا حصه به هم جدا شمارلې شى البته اوس به ددې

[1]) احكام القرآن للرازى:۳/۸۰_
[2]) الانبياء:۴۸)_
[3]) الصافات:۱۰۳)_
[4]) احكام القرآن:۳/۸۰_۸۱)_
[5]) قال الموفق: .....الصفى:وهو شئ يختاره من المغنم قبل القسمة،كالجارية،والعبد،والثوب والسيف ونحوه".المغنى:۶/۳۱۶،وايضا انظر بذل المجهود:۱۳/۳۱۱)_

مصرف داوي چې دا به د مسلمانانو په مصلحتونو کښې خرچ کولې شي يعنې په دې باندې به اسلحه اخستلې کيږي او د سرحدونو حفاظت به پرې کولې شي وغيره.

امام شافعي رحمه الله فرمائي: "اختار أن يصنعه الامام في كل أمر حصن به الاسلام وأهله من سد ثغر، و إعداد كراع أو سلاح، أو اعطائه أهل البلاء في الاسلام نفلاً......."[1]

او د موالکو مسلک د خمس په حواله سره اوس وړاندې تير شو چې هغوی د هيڅ تقسيم قائل نهٔ دی او دا چې ټول په ټوله خمس امام ته حواله دې چې هغه دا د مسلمانانو په مصرفونو او مصلحتونو کښې خرچ کړي[2].او احناف دا وائي چې د نبي عليه السلام حصه د هغوی د وفات نه پس ساقطه شوې ده ځکه چې دا حصه به نبي عليه السلام ته د يو خاص قسم صفت په بنياد باندې ملاويده.يعنې د رسالت د وجې نه،ددې تصور د نبي عليه السلام نه پس ممکن هم نهٔ دې[3] امام جصاص رحمه الله فرمائي:

"سهم النبي صلى الله عليه وسلم إنما كان له ما دام حيا،فلما توفي سقط سهمه كما سقط الصفي بموته،فرجع سهمه إلى جملة الغنيمة كما رجع إليها،ولم يعد للنوائب"[4]

د رشته دارو حصه او په دې کښې اختلاف: په آيت کښې چې کوم دريم مصرف ذکر کړې شو نو دا د رشته دارانو دې،د دوی په حصه کښې هم اختلاف دې.امام ثوري رحمه الله فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سهم د خمس په پنځمه حصه کښې خمس دې.دا پنځه حصه او څهٔ چې بچ شي نو دا به په هغه خلقو کښې تقسيميږي د کوم چې په آيت کريمه کښې ذکر دې يعنې رشته دار،يتيمان،مسکينان او مسافر.

د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله مسلک وړاندې تير شو چې دوی د ذوی القربی د سهم او د حصې مستقل قائل دی،خواه دا خلق مالدار وي يا حاجت مند.او په دې ذوالقرابة کښې به تقسيم د للذكر مثل الانثيين د اصل مطابق وي او احناف دا وائي چې په خمس کښې د ذوالقربی مستقل څهٔ حصه نشته،تقسيم به درې طبقاتو کښې کيږي،يتيمان،مسکينان او مسافر،كما مر قبل.

امام مالک رحمه الله فرمائي چې د وخت حاکم به د خپلې رائې او اجتهاد مطابق د نبي عليه السلام رشته دارو ته د خمس نه ورکړه کوي،كما مر قبل.البته د رشته دارانو په فقيرانو باندې ددې نه هم خرچ کولې شي ليکن ددې علت به فقيري وي،د نبي عليه السلام قرابت نهٔ،دغه شان به دوی په دريو

---

[1]) المغني:٦/٣١٥،والام:٢/١٤٧،رقم (١٢٨٠٢)،والاوجز:/٩٢٨٤)_
[2]) الشرح الكبير للدردير:٢/١٩٠،والاوجز:/٩٢٨٥)_
[3]) الدر المختار:٣/٢٥٩،والهداية:٤/٢٤٢،ومعالم السنن للخطابي:٢/٢٩١،رقم (٧٧٦)،باب المن عن الاسير بغير فداء)_
[4]) احكام القرآن:٣/٨١)_

وارو طبقاتو كښې داخل شي.[1]

په خمس كښې د مستحق كيدو بنياد څهٔ دې؟ د احنافو او شوافعو مينځ كښې د اختلاف وجه دا خبره ده چې هغوى د استحقاق وجه د نبى عليه السلام رشته دارى بنائى او وائى چې د نبى عليه السلام رشته دارى ددې استحقاق دپاره كافى ده او احناف وائى چې د استحقاق دپاره دوه څيزونه دى. د نبى عليه السلام رشته دارى او نصرت. ددې اجمال تفصيل دادې چې لفظ د ''ذوى القربى'' مجمل دې. د بيان ضرورت لرى. ښكاره خبره ده چې دا لفظ د نبى عليه السلام رشته دارئ سره خاص نهٔ دې. د نورو خلقو رشته دارئ هم وى او دا هم ښكاره خبره ده چې دلته د ټولو خلقو رشته دارئ مراد نهٔ دى. ددې وجې نه ددې لفظ وضاحت ضرورى دې د سلف صالحينو په دې خبره كښې اتفاق دې چې په دې آيت كريمه كښې د قرابت نه مراد د نبى عليه السلام رشته دارى ده. او بيا په دوى كښې بعضې حضرات هغه دى كوم چې دا وائى چې په دې رشته دارانو كښې د خمس حق لرونكى هغه كسان دى چې هغوى به د نبى عليه السلام نصرت هم كوو. ددې وجې نه په حصه كښې د مستحق جوړيدو دپاره دوه څيزونه بنياد اوګرځيدل. د نبى عليه السلام رشته دارى او نصرت كول او هغه رشته دار چې د نبى عليه السلام نصرت به ئې نه كوو يعنى وروستو پيدا شوى ئې وروستو اسلام قبول كړو هغوى هم ددې مستحق وو ليكن ددې بنياد فقر وو چې په دوى كښې به څوك فقير او محتاج وو نو هغوى ته به ددې حصې نه څهٔ وركړې كيدل. لكه څنګه چې به نورو عامو فقيرانو ته حصه وركولې شوه او د نبى عليه السلام رشته دار هم نهٔ وو.

ددې واضح دليل د حضرت جبيربن مطعم رضى الله عنه حديث دې، فرمائى:

''لما قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم سهم ذوى القربى بين بنى هاشم وبنى المطلب اتيته انا وعثمان فقلنا: يا رسول الله، هؤلاء بنوهاشم، لاننكر فضلهم بمكانك الذى وضعك الله فيهم، أرأيت بنى المطلب أعطيتهم ومنعتنا، وإنما هم ونحن منك بمنزلة؟ فقال صلى الله عليه وسلم: إنهم لم يفارقونى فى جاهلية ولا إسلام؟ وإنما بنوهاشم وبنوالمطلب شئ واحد، وشبك بين أصابعه''.[2]

په دې حديث شريف كښې نبى عليه السلام د شعب ابى طالب د واقعې طرفته اشاره كړې ده چې په هغې كښې قريشو د نبى عليه السلام، او د دوى حمايتى او ملګرى قبيلو بنو هاشم او بنو عبدالمطلب سره بائيكاټ او مقاطعه كړې وه، هغه وخت پوره قريش د اسلام په مخالفت كښې يو طرفته وو او بنوهاشم او بنوعبدالمطلب د نبى عليه السلام په ملګرتيا كښې بل طرفته

---

[1]) احكام القرآن:۸۱/۳، وحاشية الدسوقى:۵۰۲/۲، باب فى الجهاد. والاوجز:/۹۲۸۵، والام:۱٤۷/٤/۲، رقم (۱۲۷۹۳)، المغنى:/۹۳۱٤، والهداية:۲٤۰_۲٤۲)_

[2]) الحديث، اخرجه البيهقى:۵۵٤/٦_۵۵۵، كتاب قسم الفئ.....باب سهم ذى القربى، رقم (۱۲۹۵۱_۱۲۹۵۵)، وابن ابى شيبة:۱۳۰/۱۸، كتاب السير، باب سهم ذوى القربى.....رقم (۳٤۱۳۳)، وكتاب المغازى، باب غزوة خيبر، رقم (۳۸۰۳۰) دغه شان اوګورئ وړاندې باب(۱۷)، ومن الدليل على ان الخمس للامام. وانه يعطى.....ک د حضرت جبير بن مطعم رضى الله عنه د حديث تخريج)_

وو دا حديث په دوو وجوهاتو سره په دې خبره باندې دلالت کوي چې په خمس کښې د حقدار جوړيدو دپاره صرف رشته داري کافي نۀ ده اوله وجه خو دا ده چې بنو عبد شمس او بنو مطلب دواړه د نبي عليه السلام په رشته داري کښې برابر دي ليکن نبي عليه السلام بنو المطلب ته خو په خمس کښې ورکړه او بنو عبد شمس ته ئې څۀ ورنۀ کړل، که استحقاق د قرابت د وجې نه وو نو نبي عليه السلام به په دواړو کښې برابروالي کړې وو.

دويمه وجه داده چې په آيت کريمه کښې ذکر شوي لفظ د ذوی القربی کښې چې کوم احتمال وو نو دا دنبي عليه السلام فعل سره مجمل پاتې نۀ شو بلکه ددې وضاحت اوشو اودنبي عليه السلام کارچې چرته دبيان اجمال دپاره راشي نودا په وجوب باندې دلالت کوي. كما تقرر فى الاصول[1] چې هرکله نبي عليه السلام دا بيان اوکړو چې قرابت د نصرت سره سره نو دا معلومه شوه چې هم دا د الله تعالى مراد هم دې.په دوی کښې هغه خلق چې د نبي عليه السلام نصرت سره موصوف نۀ دی که هغوی په دې خمس کښې اخلي نو د فقر او احتياج په بنياد باندې به اخلي.داسې نۀ چې د نبي عليه السلام د رشته دارئ د وجې نه اخلي[2]

د خلفاء راشدينو اجماع:ددې نه علاوه د څلورو واړو خليفه ګانو هم په دې باندې اجماع ده چې په خمس کښې د حقدار جوړيدو دپاره سبب او وجه فقر دې،دليلونه لاندې ذکر کولې شي.

(١) محمد بن اسحاق وائي چې ما د محمد بن علي رحمه الله نه تپوس اوکړو چې کله حضرت علي رضي الله عنه خليفه جوړ شو نو هغوی د رشته دارو د حصې سره څۀ اوکړل؟محمد بن علي رحمه الله اوفرمائيل چې په دې مسئله کښې هغوی هغه طريقه اختيار کړه کومه طريقه چې د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما وه او هغوی دا خبره ناخوښه کړه چې په ما باندې د شيخينو د رائې نه خلاف د چليدو الزام راشي[3]

امام ابوبکررازی رحمه الله فرمائي چې که د حضرت علي رضي الله عنه رائې هم هغه نۀ وه کومه چې د حضرات شيخينو رضي الله عنهما وه نو حضرت علي رضي الله عنه به د هغې مطابق فيصله نۀ کوله،ځکه چې بل طرفته په نورو څو مسئلو کښې حضرت علي د حضراتو شيخينو سره اختلاف کړې دې، مثلاً د نيکۀ ميراث،ځکه چې په دې مسئله کښې د دوی شيخينو حضراتو سره اختلاف دې.اوس دا خبره پوره شوه چې د حضرت علي او د حضراتو شيخينو رضي الله عنهم رائې په دې مسئله کښې يو ده چې د رشته دارانو د حصې حقداران به فقيران وي او چې هرکله د څلورو واړو خليفه ګانو(د حضرت عثمان رضي الله عنه عمل هم په دې مسئله کښې د شيخينو موافق وو لکه څنګه چې وړاندې حديث راځي)په دې مسئله کښې اجماع اوشوه نو ددې مسئلې حجيت د دوی په دې اجماع سره ثابت شو،ځکه چې د نبي عليه السلام ارشاد دې،

---

[1]) احکام القرآن :٨٢/٣)_

[2]) پورته حواله وشرح معانی الآثار:١٥٣/٢،والهداية: ٢٤٠/٤_٢٤٢)_

[3]) احکام القرآن:٨٢/٣،وشرح معانی الآثار:١٥٢/٢،والسنن الکبری للبيهقی:٥٥٧/٦_٥٥٨،کتاب قسم الفئ والغنيمة،باب سهم ذی القربی من الخمس،رقم (١٢٩٦٠))_

"عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين من بعدي"[1]

④حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نجدة الحروري د رشته دارئ د حصې متعلق د سوال په جواب كښې فرمائيلې وو:

"كنا نرى أنه لنا، فدعانا عمر إلى أن نزوج منه أيمنا، ونقضي منه عن مغرمنا، فأبينا أن لا يسلمه لنا، وأبى ذلك علينا قومنا"[2]

يعنى "زمونږ دا خيال وو چې دا زمونږ حصه ده ليكن حضرت عمر رضي الله عنه مونږ دې خبرې طرفته راغوښتلو چې مونږ ددې په ذريعې سره د خپلو كنډو رنډو ودونه اوكړو او په مونږ كښې چې څوك قرضدار وى، د هغوى قرض ادا كړو البته مونږ په دې باندې اصرار اوكړو چې دا دې مونږ ته راكړې شى (څهٔ قسم قيد دې په كښې نهٔ لګولې كيږى) ليكن په دې باندې زمونږ قوم (خلفاء راشدينو او نور صحابه كرام رضي الله عنهم) راضى نهٔ شو"

په دې روايت كښې ابن عباس رضي الله عنه په خپله اقرار كوى چې زمونږ د قوم يعنى د صحابه كرامو رضي الله عنهم خيال هم دا وو چې په دې كښې زمونږ د فقيرانو حصه خو شته ليكن د مالدارانو نشته. دغه شان د هغوى دا فرمائيل چې "كنا نرى أنه لنا" ددې خبرې دليل دې چې دا صرف د هغوى رائې وه، چې په سنتو او د صحابه كرامو رضي الله عنهم په موجودګئ كښې ددې هيڅ حيثيت نشته. صرف يو رائې ده[3]

③حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه فرمائى: "وكان أبو بكر يقسم الخمس نحو قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم، غير أنه لم يكن يعطي قربى رسول الله صلى الله عليه وسلم ما كان النبي صلى الله عليه وسلم يعطيهم، قال: فكان عمر بن الخطاب يعطيهم منه، وعثمان بعده"[4]

يعنى "د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خمس تقسيمولو طريقه هم هغه وه كومه طريقه چې د نبى عليه السلام وه، البته هغوى به د نبى عليه السلام رشته دارانو ته دومره نهٔ وركوله، څومره قدرې چې به دوى په خپله وركوله، بيا وروستو حضرت عمر او حضرت عثمان به رضي الله عنهما هغوى ته په دې كښې حصه وركوله".

په دې حديث شريف كښې وضاحت دې چې اولنى خليفه به رشته دارانو ته حصه نهٔ وركوله ليكن حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهما وركوله، ددې وجه هم تيرو شوو احاديثو كښې

---

[1]) الحديث، اخرجه ابو داود، كتاب السنة، باب في لزوم السنة، رقم (٤٦٠٧)، واحمد في مسنده، مسند العرباض بن سارية، رقم (١٧٢٧٥)، وجامع المسانيد والسنن، مسند العرباض......رقم (٦٤٧٣))_

[2]) مسند الامام احمد، مسند عبدالله بن عباس رضي الله عنهما رقم (٢٨١٢) و(٢٩٤٣)، وسنن النسائي، اول كتاب قسم الفئ، رقم (٤١٣٨_٤١٣٩)، والمعجم الكبير للطبراني: ٣٣٦/١٠، يزيد بن هرمز عن ابن عباس، رقم (١٠٨٣٢)

[3]) احكام القرآن للرازي: ٨٣/٣)_

[4]) سنن ابى داود، كتاب الخراج......باب في بيان مواضع قسم الخمس، رقم (٢٩٧٨_٢٩٧٩))_

تيره شوه چې ددې بنياد فقر او احتياج وو،داسې نۀ چې د استحقاق په بنياد باندې ئې ورکولے[1] بيا پورته د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه په حديث کښې چې د حضرت عمر رضي الله عنه متعلق دا اوونيلې شو چې هغوی به حصه ورکوله نو ددې دا مطلب نۀ دې چې هغوی به ټوله پوره پوره حصه د رشته دارئ هغوی ته حواله کوله بلکه ددې مطلب دا دې چې د نورو حصو نه به ئې د هغوی د حاجت مطابق ورکوله.ددې دليل هم هغه نجدة الحروری ليکلې شوې دې،د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما خط دې،په بعضې طُرقو کښې د هغې الفاظ دادی:

"وقد كان عمر عرض علينا من ذلك عرضا، رأيناه دون حقنا، فرددناه عليه، وأبينا أن نقبله"[2]

په دې حديث شريف کښې حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائي:

"ولعل هذا مبنى على أن عمر و رآهم مصارف، وظن ابن عباس أنهم أهل استحقاق فيه، أفترى ينقص حقهم أولاً، ثم إذا نقص فردوه؟ أفيظن به أنه يحرمهم منه أصلاً؟ فلم يكن إلا أنه رآهم مصارف، ورأى استغنائهم عنه، فلم يرد عليهم ثانياً"[3]

يعنی"شايد ددې وجه دا وه چې د حضرت عمر رضي الله عنه په رائې کښې رشته دار مصرف وو او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په خيال کښې دا حضرات ددې مستحق وو يعنی دوی ته ورکول ضروری وو.ورنه آيا تاسو دا خيال کوئ چې حضرت عمر رضي الله عنه اول خو د دوی په حق کښې کمې کړې وو او د کمی نه پس چې کله دوی واپس کړل نو آيا دا ګمان د هغوی باره کښې صحيح کيدې شی چې هغوی به دوی لره ددې نه بالکل محروم اوساتی؟ددې وجه هم دا وه چې هغوی دوی مصرف ګنړل،چې کله هغوی د دوی استغناء اوکتله نو دوباره ئې ورته پيشکش اونۀ کړو".

په مصرف او استحقاق کښې فرق: د حضرت سهارنپوری رحمه الله د پورتنی عبارت نه د مصرف او د استحقاق مينځ کښې فرق هم واضح شو.د مصرف مطلب دادې چې خمس په آيت کريمه کښې مذکوره کسانو کښې خرچ کړې شی نو دا خرچ به په صحيح محل کښې استعمال شی،چې چاته ورکړې شی او چاته ورنۀ کړې شی نو په دې کښې د اعتراض څۀ خبره نشته او د استحقاق مطلب دادې چې په دې مذکوره کسانو کښې دا فلانې متعين کول او په دۀ باندې خرچ کول ضروری دی.

دا هم د ائمه اربعه مينځ کښې يو بنيادی اختلاف دې چې په قرآن کريم کښې د کومو خلقو ذکر دې نو دا مصرف دی يا مستحق دی؟امام شافعی او احمد رحمهما الله د مستحق کيدو قائل دی او دا وائی چې دې ټولو ته رسول او ورکول ضروری دی،امام مالک او امام ابو حنيفه

---

[1]) تکملة فتح الملهم:۳/۲۵۵_۲۵٦)_

[2]) سنن ابی داود،کتاب الخراج......باب فی بيان مواضع.......رقم (۲۹۸۲))_

[3]) بذل المجهود:۱۰/۱۷۱،کتاب الخراج........د احنافو د نورو دليلونو دپاره اوګورئ،تکملة فتح الملهم: ۳/۲۵٤_۲۵۸،واحکام القرآن للجصاص:۳/۸۳،واعلاء السنن:۱۲/۲۰۹_۲۵۱،باب اربعة اخماس الغنيمة....)

رحمة الله عليهما د مصرف كيدو قائل دى او استحقاق نهٔ منى۔
د بحث خلاصه ددې ټول تفصيلي بحث نه دا لاندينئ خبرې ثابت شوې
①اوس به خمس درې حصې كيږى چې په يتيمانو، مسكينانو او مسافرو كښې به تقسيمولې شى۔
②د استحقاق دپاره علت فقر او احتياج دې، ددې وجې نه په دې باندې تقريباً ټول متفق دى چې په آيت كريمه كښې د يتيم نه مراد هغهٔ يتيم دې چې د هغهٔ مورث ددې يتيم دپاره هيڅ هم پريخودلې نهٔ وى، محتاج او ضرورت مند وى، د مالدار او غنى كيدو په صورت كښې به دې يتيم ته هم نهٔ ملاويږى.[1]
③په دې باندې د خلفاء راشدينو اجماع هم دہ۔
يو سوال او د هغې جواب: دلته د احنافو په مسلک باندې دا اشكال پيدا كيږى چې كه د رشته دارانو فقيران د خمس مستحق دى او مالداران نهٔ دى نو د دوى د جدا ذكر كولو څهٔ ضرورت وو؟ حالانكه دوى ددې فقيرئ د علت د وجې نه په مسكينانو كښې داخل دى؟
ددې يو جواب خو دا دې چې څنګه يتيمان او مسافر خاص طور سره ذكر كړې شو نو دغه شان د رشته دارو هم تخصيص شوې دې ورنه يتيمان او مسافر به هم ددې حصې مستحق په هغه وخت كښې وى چې كله دوى فقيران وى۔
دويم جواب دادې چې په قرآن كريم كښې د الله تعالى ارشاددې: "إنما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين......"[2] چې د صدقاتو مستحق خو فقيران او مسكينان ..... وغيره دى او د نبى عليه السلام ارشاددې، "إن الصدقة لاتحل لنا......"[3] ددې نه دا معلومه شوه چې صدقات د نبى عليه السلام د آل دپاره حلال نهٔ دى. كه د خمس په مستحقينو كښې د دوى نوم نهٔ وو نو چا هم دا وئيلې شو چې په خمس كښې هم رشته دارو ته وركول جائز نهٔ دى څنګه چې ورته صدقات وركول جائز نهٔ دى نو ددې وهم د وجې نه الله تعالى مونږ ته ددې د ښودلو دپاره ددې تذكره هم اوفرمائيله چې د خمس په معامله كښې د دوى مسئله د صدقاتو د مسئلې نه جدا او مختلفه دہ، په خمس كښې د دوى دپاره اخستل جائز دى[4] والله اعلم
يو اشكال او د هغې جوابونه: نبى عليه السلام خپل تره حضرت عباس بن عبد المطلب رضى الله عنه ته هم د

---

[1]) احكام القرآن:٨٣/٣، و٨٥، وفتح القدير:٢٤٣/٥)_
[2]) التوبة:٦٠)_
[3]) و تمامه وان موالى القوم من انفسهم". اللفظ للترمذى، من رواية ابى رافع مولى رسول الله صلى الله عليه وسلم، كتاب الزكاة، باب ما جاء فى كراهية الصدقة......(٦٥٧)، وكذا انظر سنن ابى داود، كتاب الزكاة، باب الصدقة على بنى هاشم، رقم (١٦٥٠)، والنسائى، كتاب الزكاة، باب مولى القوم منهم، رقم (٢٦١٣)، والمصنف لابن ابى شيبة:٥٠/٧، كتاب الزكاة، من قال: لاتحل الصدقة على بنى هاشم، رقم (١٠٨١٠))_
[4]) احكام القرآن:٨٣/٣، و٨٦)_

خمس د مال نه ورکړې وو حالانکه هغه مالدار وو(١) دې نه خو هم دا ثابته شوه چې په دې کښې د مالدارو او فقیرانو دواړو رشته دارانو حصه ده.
ددې اعتراض دوه جوابونه دی:
①دوی ته چې نبی علیه السلام څۀ ورکړل نو ددې وجه رشته داری او نصرت دواړه وو. دا علت دوی په خپله هم بیان کړې دې چې "إنهم لم يفارقوني في جاهلية ولا إسلام" نو په دې کښې مالدار او فقیر دواړه برابر دی، په دې کښې هیڅ اختلاف نشته. اختلاف خو د نبی علیه السلام د وفات نه پس دې ځکه چې اوس نصرت باقی پاتې شوې نۀ دې.
②دا خو هم ممکنه ده چې دغه مال نبی علیه السلام حضرت عباس رضی الله عنه ته ددې دپاره ورکړې وی چې هغوی دا د بنوهاشم په فقیرانو کښې تقسیم کړی، یعنی د خپل ذات دپاره ئې نۀ وو ورکړې.(٢) والله اعلم

د ذوی القربی نه کوم خلق مراد دی؟ د امت د عالمانو په ذوی القربی کښې هم اختلاف دې چې ددې نه څوک مراد دی؟ په دې کښې علامه قرطبی رحمه الله درې قولونه ذکر کړې دی
①ددې نه مراد د قریشو ټوله قبیله ده، دا د بعضې اسلافو قول دې. د دوی دلیل دادې چې نبی علیه السلام د بعثت په ابتداء کښې کله د صفا غر ته اوختلو نو دا آواز ئې اوکړو "يا بني فلان، يا بني عبد مناف، يا بني عبد المطلب، يا بني كعب بن مرة، يا بني عبد شمس، أنقذوا أنفسكم من النار..."(٣)
②ددې نه مراد بنو هاشم او بنو عبد مناف دی، ددې وینا ویونکې حضرت امام شافعی، احمد، ابوثور، مجاهد، قتاده، ابن جریج او مسلم بن خالد رحمهم الله دی. دلیل وړاندې تیر شوې دې چې "إنهم لم يفارقوني في جاهلية......"(٤)
③ددې نه صرف بنوهاشم مراد دی، دا قول د مجاهد (في رواية) د حضرت عمر بن عبد العزیز.

---

[1]) احکام القرآن:٣/٨٤، وفتح القدير:٥/٢٤٥، په روایتونو کښې راغلې دی چې د حضرت عباس رضی الله عنه شل غلامان وو چې هغوی به ګټله او دوی ته به ئې ورکوله. دغه شان نبی علیه السلام یوځل د دوی نه د دوو کالو وړاندې زکوة وصول کړې وو. دا هم د مالدارئ او د فراخئ دلیل دې. اوګورئ شرح معانی الآثار: ٢/١٨٤، کتاب وجوه الفئ وخمس الغنائم، دغه شان اوګورئ المستدرک للحاکم:٣/٣٦٦، ذکر اسلام العباس، رقم (٥٤٠٩)، وسنن البيهقى الكبرى:٦/٥٢٤، كتاب قسم الفئ......باب مفاداة الرجل منهم بالمال، رقم (١٢٨٤٩)، والمعجم الكبير للطبرانى:١١/١٧١، عطاء عن عباس، رقم (١١٣٩٨)، ومجمع الزوائد:٧/٢٨، سورة الانفال، والطبقات الكبرى لابن سعد:٤/١٥، الطبقة الثانية من المهاجرين......رقم (ودلائل النبوة:٣/١٤٣، غزوة بدر المعظمى، باب ما فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم بالغنائم......وفتح البارى:٨/٣١٢، كتاب التفسير، رقم (٤٣٨٦)، وعمدة القارى:١٣/٩٧، كتاب العتق، باب اذا اسراخو الرجل اوعمه هل يفادى......؟)_

[2]) احكام القرآن:٣/٨٤)_

[3]) الحديث اخرجه مسلم، كتاب الايمان، من رواية ابى هريرة باختصار، رقم (٥٠١))_

[4]) سبق تخريجه آنفا)_

زید بن ارقم او د علی بن الحسین(امام زین العابدین)دي،دغه شان امام مالک،ثوری او اوزاعی رحمهم الله هم ددې قائل دی.[1]
هم دا دریم قول د احنافو هم دې او د بنوهاشم نه مراد آل د علی،آل د عباس،آل د جعفر،آل د عقیل او اولاد د حارث بن عبدالمطلب دی.[2]
پورته ذکرشوې درې واړه طبقات د نبی علیه السلام د رشته دارئ حامل دی،ځکه چې کله آیت کریمه "وانذر عشیرتك الاقربین"[3] نازل شو نو نبی علیه السلام دا ټول د صفا په غر باندې جمع کړل او دوی ټولو ته ئې دعوت ورکړې وو،ددې نه دا ثابته شوه چې د رشته دارئ وصف دې ټولو ته شامل دې.
ذوی القربی سره متعلق احکامات: اوس ذوی القربی سره متعلق درې احکامات دی:
① د خمس د حصې استحقاق،بقوله تعالی(ولله رسول ولذی القربی)[4] او د ذی القربی نه مراد د دوی فقیران دی.کما مرقبل.
② په دوی باندې صدقات حرام دی او په چا باندې چې صدقات حرام دی نو هغه آل د علی، آل د حضرت عباس،آل د حضرت جعفر،آل د حضرت عقیل او اولاد د حارث بن عبدالمطلب رضی الله عنهم دې،هم دا خلق اهل بیت دی،په دې حکم کښې بنو المطلب داخل نهٔ دی ځکه چې دوی په اهل بیت کښې نهٔ دی.که دوی په اهل بیت کښې وې نو بنو امیه به هم په اهل بیت کښې وو چونکه د بنو امیه نسبی تعلق نبی علیه السلام سره هم هغه دې کوم چې ورسره د بنو المطلب دې او د امت د عالمانو په دې باره کښې هیڅ اختلاف نشته چې بنو امیه په اهل بیت کښې داخل نهٔ دی،ددې وجې نه به په اهل بیت کښې بنوالمطلب هم داخل نهٔ وی.
③ د الله تعالی خپل نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خاص طور سره دا حکم ورکول چې هغوی خپل نزدې رشته دار د الله تعالی د عذاب نه اوویروی،دا انداز د قریشو ټولو شاخونو او قبیلو ته شامل دې چې کله دا آیت کریمه(وانذر عشیرتك الاقربین)نازل شو نو نبی علیه السلام ټولو ته خطاب کولو سره د ویرولو فریضه پوره کړه.کما ورد به الاثر[5] او نزدې رشته دارو له خاص طور سره

---

[1]) الجامع لاحکام القرآن:۱۲/۸،وفتح الباری:۲۴۵/۶_۲۴۶)_
[2]) احکام القرآن للرازی:۸۴/۳_۸۵)_
[3]) الشعراء:۲۱۴)_
[4]) الانفال:۴۱)_
[5]) روی مسلم بسنده عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:لما نزلت هذه الآیة:(وانذر عشیرتک الاقربین)دعا رسول الله صلی الله علیه وسلم قریشا،فاجتمعوا،فعم وخص،فقال:یا بنی کعب بن لؤی،انقذوا انفسکم من النار،یابنی مرة بن کعب،انقذوا......یابنی عبد شمس،انقذوا......یابنی عبد مناف انقذوا......یابنی هاشم،انقذوا......یابنی عبد المطلب: انقذوا......یا فاطمة،انقذی نفسک من النار،فانی لا املک لکم من الله شیئا،غیر ان لکم رحما،سابلها ببلالها".انظر صحیحه،کتاب الایمان،باب فی قوله تعالی:(وانذر عشیرتک......)رقم (۵۰۱))_

ويرول،نو ددې يوه وجه خو دا وه چې د دين د دعوت په سلسله کښې دا کار ډير زيات غوره او ښۀ دې دويم دا چې د دعوت الى الله په معامله کښې دا بهترين صورت وو چې رشته دارو سره بې ځايه طرفدارى اونۀ کړې شى.دا ځکه چې کله چې خلقو ته دا معلومه شى چې نبى ﷺ د خپلو نزدې رشته دارو او خاندان په باره کښې هم دا برداشت نه کړه چې هغوى د غيرالله عبادت اوکړى او هغوى ئې هم د الله تعالى د عذاب نه اويرول.د غيرالله د عبادت نه ئې منع کړل نو نبى ﷺ زيات حقدار دې چې نور خلق هم د الله تعالى نه اوويروى او د غيرالله د عبادت نه ئې منع کړى ځکه چې په دې معامله کښې مداهنت او طرفدارى جائز وه نو د نبى ﷺ نزدې رشته دار ددې زيات حقدار وو چې په دې باره کښې ورته څۀ اونۀ وئيلې شى ليکن ددې برعکس نبى ﷺ هغوى ته د نورو خلقو په مقابله کښې زيات دعوت ورکړو او په هغوى ئې زياته توجه اوساتله[1] والله اعلم بالصواب

ددې نه پس د باب حديث شريف ته اوګورئ.

۲۹۴۵: حَدَّثَنَا بَدَلُ بْنُ الْمُحَبَّرِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي الْحَكَمُ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى حَدَّثَنَا عَلِيٌّ أَنَّ فَاطِمَةَ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - اشْتَكَتْ مَا تَلْقَى مِنَ الرَّحَى مِمَّا تَطْحَنُ، فَبَلَغَهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أُتِيَ بِسَبْيٍ، فَأَتَتْهُ تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَلَمْ تُوَافِقْهُ، فَذَكَرَتْ لِعَائِشَةَ، فَجَاءَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَذَكَرَتْ ذَلِكَ عَائِشَةُ لَهُ، فَأَتَانَا وَقَدْ دَخَلْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْنَا لِنَقُومَ فَقَالَ «عَلَى مَكَانِكُمَا» حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى صَدْرِي فَقَالَ «أَلاَ أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَاهُ، إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا فَكَبِّرَا اللَّهَ أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ، وَاحْمَدَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَسَبِّحَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، فَإِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ لَكُمَا مِمَّا سَأَلْتُمَاهُ».

[۳۵۰۲، ۵۰۴۶، ۵۰۴۷، ۵۹۵۹]

رجال الحديث

① **بدل بن المحبر**:دا بدل بن المحبر.بتشديد الباء رحمه الله دې[2]

② **شعبه**:دا د حديثو مشهور امام شعبه بن الحجاج عتکى بصرى رحمه الله دې.د دوى حالات په

---

[1]) احکام القرآن للرازى:۳/۸۵)_

[2]) قوله: على":الحديث اخرجه البخارى ايضا،کتاب فضائل اصحاب النبى ﷺ ،باب مناقب على......رقم (۳۷۰۵)، وکتاب النفقات،باب عمل المراة فى بيت زوجها،رقم (۵۳۶۱)،وباب خادم المراة،رقم (۵۳۶۲)، وکتاب الدعوات،باب التکبير والتسبيح......رقم (۶۳۱۸)،ومسلم،کتاب الذکر والدعاء،باب التسبيح اول النهار......رقم (۶۹۱۵_۶۹۱۷)،والترمذى،کتاب الدعوات،باب ما جاء فى التسبيح والتکبير......رقم (۳۴۰۵)، وابو داود،کتاب الخراج......باب بيان مواضع قسم الخمس،رقم (۲۹۸۸_۲۹۸۹)،وکتاب الادب، باب التسبيح عند النوم،رقم (۵۰۶۲_۵۰۶۳))_

[3]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الاذان،باب استواء الظهر فى الرکوع)_

كتاب الايمان، "باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" كښې راغلي دى.[1]

③**الحكم**: دا الحكم بن عتيبه رحمه الله دې د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب السمر فى العلم" كښې تيره شوې ده.[2]

④**ابن ابى ليلى**: دا مشهور محدث عبدالرحمن بن ابى ليلى رحمه الله دې.[3]

⑤**على**: د څلورم خليفه حضرت على بن ابى طالب رضي الله عنه حالات په كتاب العلم، "باب كتابة العلم" كښې تير شوې دى.[4]

⑥**فاطمه**: دا فاطمه رضي الله عنها د نبى كريم صلى الله عليه وسلم لورمباركه ده.[5]

د باب د حديث شريف ترجمه: عبدالرحمن بن ابى ليلى وائى چې حضرت على رضي الله عنه مونږ ته اووئيل چې د حضرت فاطمه رضي الله عنها په لاسونو مباركو باندې[6] د ميچن چلولو د وجې نه نښې جوړې شوې وې، نو هغوى ته پته اولګيده چې نبى عليه السلام ته څۀ قيديان راغلي دى نو هغه نبى عليه السلام ته راغله چې يو خادم ترينه واخلى، ليكن نبى عليه السلام سره د هغې ملاقات اونۀ شو نو دوى خپل ضرورت حضرت عائشې رضي الله عنها ته بيان كړو، كله چې نبى عليه السلام كور ته تشريف راوړلو. حضرت عائشې رضي الله عنها ورته بيان اوكړو چې حضرت فاطمه راغلې وه او خپل ضرورت ئې بيان كړو. نو نبى عليه السلام مونږ كره تشريف راوړلو په داسې حال كښې چې مونږ خپلو خپلو بسترو ته تلې وو. د نبى عليه السلام په ليدلو سره مونږ پاسيدل اوغوښتل نو نبى عليه السلام منع كړو او وې فرمائيل چې دواړه په خپل ځائې اوسيږئ. تردې چې د نبى عليه السلام د قدمونو يخوالې ما په خپله سينه كښې محسوس كړو نو وې فرمائيل تاسو چې زما نه د كوم څيز مطالبه كړې ده نو د هغې نه غوره څيز زۀ تاسو ته اونۀ ښايم؟ كله چې تاسو دواړه خپلو خپلو بسترو ته لاړ شئ نو څلور ديرش ځله الله اكبر، درې ديرش ځله الحمد لله او درې ديرش ځله سبحان الله وايئ. د كوم څيز چې تاسو مطالبه كړې ده نو دا عمل تاسو دپاره د هغې نه زيات غوره دې.

---

[1]) كشف البارى: ٦٧٨/١_

[2]) كشف البارى: ٤١٤/٤_

[3]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الاذان، باب استواء الظهر فى الركوع.
ابن الاثير رحمه الله ليكلي دى چې د محدثينو په نزد د ابن ابى ليلى نه مراد عبدالرحمن وى او د فقهاؤ په نزد د ابن ابى ليلى نه مراد د عبدالرحمن خوئې محمد بن عبدالرحمن بن ابى ليلى وى. عمدة القارى: ٣٦/١٥_

[4]) كشف البارى: ١٤٩/٤_

[5]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء، باب غسل المراة اباها الدم.....)_

[6]) د مسلم شريف او ابوداؤد شريف په روايت كښې د يد يعنى د لاس وضاحت دې، چې د ميچن چلولو د وجې نه لاسونه متاثره شوې وو. صحيح مسلم، كتاب الذكر والدعاء، باب التسبيح اول النهار...... رقم (٦٩١٥_٦٩١٧)، وسنن ابى داود، كتاب الخراج......باب فى بيان مواضع قسم الخمس، رقم (٢٩٨٨))_

د حديث د بعضې حصو تشريح: د سبى معنى ده تختول او خلق نيول او ددې اطلاق په غلام او وينزه دواړو باندې كيږى.ددې جمع سبايا ده(۱)دغه شان د خادم اطلاق هم په سړى او ښځه دواړو باندې كيږى(۲).

د باب په روايت كښې **فاتته تسئله** راغلې دې چې حضرت فاطمه رضي الله عنها راغله آيا دې سره بل هم څوك وو ،دلته ددې خبرې وضاحت نشته.امام ابوداؤد يو روايت نقل كړې دې په هغې كښې د ام الحكم بنت الزبير يا د ضباعة بنت الزبير رضي الله عنهما دا بيان دې

"أصاب رسول الله صلى الله عليه وسلم سبياً،فذهبتُ أنا وأختى وفاطمة بنتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم نشكُكونا إليه مانحن فيه،وسئلناه أن يامرلنا بشئ من السبى،فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : سبقكن يتامى بدر"(۳)

چې "نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته څهٔ قيديان راغلل نو زهٔ،زما خور او حضرت فاطمه د نبى عليه السلام لور مباركه نبى عليه السلام ته ورغلو ،په كوم تكليف او مشقت كښې چې مونږ اخته وو نو مونږ ورته د هغې تذكره اوكړه او دا درخواست مو اوكړو چې په قيديانو كښې مونږ ته هم څهٔ راكړې شى (د خادم په طور) نبى عليه السلام په جواب كښې اوفرمائيل چې د بدر د يتيمانو نه تاسو سبقت كړې دې"

د ابوداؤد شريف د روايت نه څنګه دا معلومه شوه چې حضرت فاطمه رضي الله عنها سره د حضرت زبيربن العوام رضي الله عنه دوه لونړه هم وې نو دا هم معلومه شوه چې دا واقعه د غزوه بدر نه پس ده.بيا د باب په حديث شريف كښې دا راغلې دى چې نبى عليه السلام په كور كښې موجود نهٔ وو نو ددې وجې نه حضرت فاطمه رضي الله عنها د خپل حاجت تذكره حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوكړه.په اكثرو روايتونو كښې دغه شان دى.البته دارقطنى رحمه الله په خپل "علل" كښې يو روايت نقل كړې دې چې په هغې كښې د حضرت ام سلمه رضي الله عنها ذكر دې.

حافظ په دواړو كښې تطبيق كولو سره فرمائى چې كيدې شى چې دواړو ازواج مطهراتو كره حضرت فاطمه رضي الله عنها راغلې وى،يعنى اول حضرت عائشه رضي الله عنها كره راغلې وى هلته نبى عليه السلام ملاو نهٔ شو نو ام سلمه رضي الله عنها كره ئې تشريف راوړلو(۴)

قوله: فأتانا وقد دخلنا مضاجعنا،فذهبنا لنقوم،فقال: على مكانكما،حتى وجدت برد قدميه على صدرى: په دې عبارت كښې مختلف فائدې دى:

① كله چې نبى عليه السلام دې دواړو ته تشريف راوړلو نو دا د شپې وخت وو .لكه په يو روايت

---

(۱) عمدة القارى:۱۵/۳۶)_

(۲) جامع الاصول للجزرى:۴/۲۵۶)_

(۳) انظر سنن ابى داود،كتاب الخراج......باب فى بيان مواضع قسم.....رقم (۲۹۸۷))_

(۴) العلل للدار قطنى:۳/۲۸۲_۲۸۴،رقم السوال:(۴۰۶)،وفتح البارى:۱۱/۱۲۴)_

كنبې ددې وضاحت دې چې "أتانا النبى ﷺ ذات ليلة"[1] چې يو شپه نبى ﷺ مونږ ته راغلو.
② دغه شان كله چې نبى ﷺ تشريف راوړلو نو هغه وخت دوى دواړو څادر اغوستلې وو ځكه چې د يخنۍ موسم وو، دوى دواړو چې كله نبى ﷺ اوليدو نو د اودريدلو او د كپړو اغوستلو اراده ئې اوكړه نو نبى ﷺ منع كړل چې په خپل ځائې باندې اوسيږئ، د پاسيدلو ضرورت نشته. په يو روايت كنبې دى، "وكانت ليلة باردة، وقد دخلت هى وعلى فى اللحاف، فاراد ان يلبسا الثياب....."[2] فقهاء كرامو ددې نه دا مسئله مستنبط كړې ده چې پلار لور كره هغه وخت هم تلې شى چې كله دا خپل خاوند سره ملاسته وى[3]
③ د ابوداؤد شريف په يو روايت كنبې دا هم راغلې دى چې نبى ﷺ ددې دواړو د سر له طرفه تشريف راوړلو، چې كله حضرت فاطمې رضي الله عنها خپل والدصاحب اوليدو نو د شرم او حيا له وجې نه ئې خپل مخ مبارك په څادر كنبې پټ كړو[4]
④ هم د بخارى شريف په يو روايت كنبې دا اضافه هم ده چې نبى ﷺ راغلو او ددې دواړو مينځ كنبې كيناستلو، "فجاء فقعد بينى وبينها"[5] فقهاء كرامو ددې نه دا مسئله مستنبط كړې ده چې پلار د خپلې لور او د هغې د خاوند مينځ كنبې هم كيناستلې شى چې كله دوى دواړه ملاست وى، اگرچه د پلار د بدن څۀ حصه د لور د بدن سره مس كيږى هم. لكه څنگه چې د باب په روايت كنبې حضرت على رضي الله عنه د قدمونو د يخوالى په باره كنبې فرمائى[6] ليكن امام مالك رحمه الله دا جائز نۀ گڼرى[7] د زيات احتياط خبره هم داده چې جائز نۀ شى، خصوصاً زمونږ په دې زمانه كنبې چې هركله د محارمو پيژندگلو ختميږى، نبى كريم ﷺ خو معصوم وو، د هغوى په باره كنبې داسې سوچ كول هم صحيح نۀ دى.

الامرفوق الادب

بيا په حديث شريف كنبې راغلې دى چې د نبى ﷺ په ليدلو سره حضرت على او حضرت فاطمه رضي الله عنهما ادباً د اودريدو اراده اوكړه ليكن نبى ﷺ حكماً اوفرمائيل، "على مكانكما" چې په خپل ځائې باندې اوسيږئ، ددې نه پس دوى دواړه پاڅۀ سيدل، په خپل زوږ حالت باندې پاتې شو، ددې وجې نه چې دا د "الامرفوق الادب" د قبيل نه دې چې هركله د نبى ﷺ حكم

---

[1]) مسند احمد: ١/٤٤، مسند على بن ابى طالب رضي الله عنه، عن ابن ابى ليلى، رقم (١٢٢٩))_
[2]) عمدة القارى: ١٥/٣٦)_
[3]) شرح ابن بطال: ٥/٢٧٣)_
[4]) سنن ابى داود، كتاب الادب، باب التسبيح عند النوم، رقم (٥٠٦٣))_
[5]) صحيح البخارى، كتاب النفقات، باب عمل المراة فى بيت زوجها، رقم (٥٣٦١))_
[6]) شرح ابن بطال: ٥/٢٧٣)_
[7]) پورته حواله)_

راغلو نو ادباً چې ئې کومه د اودریدلو اراده کړې وه، هغه ئې پرېښود[1] دې نه پس په دې خان پوهه کړئ چې حضرت گنگوهی رحمه الله د "حتى وجدت برد قدميه" مجازی معنی مراد اخستلو سره ددې تفسیر په اطمینان او سکینې سره کړې دې، مطلب دادې چې ما یو قسم اطمینان او سکون محسوس کړو او فرمائی چې ددې نه حسی یخوالې مراد نه دې[2]. لیکن حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چې د نبی ﷺ لائق خو دا خبره ده چې د "برد قدميه" نه اطمینان او سکون مراد وی ځکه چې د نبی ﷺ ذات مبارك خو هر اعتبار سره راحت، سکون او اطمینان وو، البته د روایتونو نه ښکاره دا معلومیږی چې دلته ددې نه مراد حسی یخوالې دې، لکه د طبری په یو روایت کښې وضاحت سره دا الفاظ نقل دی، "قال على: حتى وجدت برد قدميه على صدرى فسخنتهما"[3] چې ما د هغوی د قدمونو مبارکو یخوالی په خپله سینه کښې محسوس کړو نو ما هغه گرم کړل او یو روایت چې وړاندې هم تیر شو، په هغې کښې "وكانت ليلة باردة"[4] راغلې دی[5]، په دې ټولو کښې د حسی یخوالی ذکر دې، ددې نه علاوه وړاندې ذکر شوې روایت کښې د لحاف لفظ[6] هم په دې باندې دلالت کوی چې دا د یخنئ موسم وو، چونکه نبی کریم ﷺ د بهر نه تشریف راوړلې وو، ددې وجې نه ئې خپې مبارکې یخې وې. والله اعلم بالصواب

قوله: فقال: الا ادلكما على خير مما سالتمانى؟: نو نبی ﷺ اوفرمائیل چې زهٔ تاسو ته د هغې نه غوره څیز اونهٔ ښایم د کوم څیز چې تاسو زما نه تقاضه او مطالبه کړې ده؟

په اصل کښې سوال کوونکې حضرت فاطمه رضی الله عنها وه لیکن دا طلب او تقاضا چونکه د حضرت علی رضی الله عنه په رضامندئ سره وه نو ددې وجې نه د طلب نسبت نبی ﷺ دواړو طرفته اوفرمائیلو او وې فرمائیل چې، "سئلتمانى"[7] بلکه د جامع ترمذی د یو روایت نه خو دا معلومیږی چې حضرت علی رضی الله عنه په خپله، خپله بی بی مبارکه د نبی ﷺ خدمت ته لیږلې وه چې هلته څوك خادم اوگوره، حضرت علی رضی الله عنه فرمائی:

"شكت الى فاطمة مجل يديها من الطحن، فقلت لها: لو اتيتِ اباك، فسالتيه خادماً؟......."[8]

---

[1]) لامع الدرارى:۷/۳۰۲_

[2]) پورته حواله)_

[3]) فتح البارى:۱۱/۱۲۰، رقم (۶۳۱۸)، وعمدة القارى:۱۵/۳۶، طبرى)_

[4]) لم اجده فى متون الحديث، وانما ذكره العينى فى العمدة:۱۵/۳۶)_

[5]) تعليقات اللامع:۷/۳۰۲)_

[6]) انظر سنن ابى داود، كتاب الادب، باب التسبيح عند النوم، رقم (۵۰۶۳))_

[7]) عمدة القارى:۱۵/۳۶)_

[8]) الجامع للترمذى، كتاب الدعوات، باب ماجاء فى التسبيح والتكبير....... ..... [بقيه برصفحه آئنده....

د تلقين كړده كلماتو حكمت او خاصيت: حضرت فاطمه رضي الله عنها د نبى ﷺ نه د خادم تقاضه كړې وه په جواب كښې نبى ﷺ د هغې كلماتو تلقين اوفرمائيلو چې په حديث شريف كښې د هغې ذكر دې.دې كلماتو ته"تسبيحات فاطمى"هم وئيلې شى.امام ابن تيميه رحمه الله ليكلى دى چې كوم كس د اوده كيدو په وخت ددې كلماتو پابندى كوى او خامخا ددې ورد كوى نو هغه به كله هم ستړې نۀ شى.ځكه چې حضرت فاطمه رضي الله عنها هم ددې شكايت كړې وو چې د كار د ډيروالى او د ميچن كولو د وجې نه په لاسونو باندې پولئ راختلې دى.ددې وجې نه يې خادم راكړئ ليكن نبى كريم ﷺ د خادم په ځائې ددې كلماتو تلقين اوفرمائيلو(١)

البته د حافظ ابن حجر رحمه الله په دې كښې سوچ او فكر دې.هغوى دا وائى چې دا خبره متعين نۀ ده چې ستړې والې به بالكل نۀ وى بلكه مطلب دادې چې كوم سړې ددې كلماتو پابندى كوى نو د كار د ډيروالى د وجې نه به هغۀ ته څۀ نقصان نۀ كيږى،نۀ به دغه كار كول ددې انسان دپاره درونډ ثابتيږى،اګرچه ستړې والې هم محسوسوى(٢)ددې كلماتو د تلقين د حكمت په بيانولو كښې علامه عينى رحمه الله فرمائى چې د خادم په بدله كښې نبى ﷺ هغوى ته دا كلمات وركړل او دا ئې غوره څيز اوښودلو ځكه چې د ذكر فائده د آخرت ثواب دې او د خادم فائده خدمت وغيره دې چې يو دنيوى كار دې،ددې وجې نه دا خبره منلې شوې ده چې"الثواب اكثروابقى،فهوخير"(٣)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: حديث شريف سره د ترجمة الباب مطابقت واضح دې،په ترجمه كښې د امام بخارى رحمه الله دعوى دا وه چې د وخت امام او حاكم ته د خمس په مالونو كښې پوره تصرف او اختيار حاصل دې چرته چې خرچ كول غواړى نو خرچ كولې شى او په دې كښې څۀ قسم تخصيص نشته.لكه د باب په حديث شريف كښې اوګورئ چې نبى ﷺ ددې باوجود حضرت فاطمه رضي الله عنها ته د خادم وركولو نه منع اوفرمائيله چې هغه ئې د ټولو نه نزدې او د زړۀ ټكړه وه او په هغې باندې ئې نورو خلقو ته ترجيح وركړه.قاله اسماعيل القاضى(٤) هم دا خبره امام طبرى رحمه الله هم فرمائيلې ده،ليكى چې:

"ولوكان قسماً مفروضاً لذوى القربى لاخدم ابنته،ولم يكن عليه السلام ليدع شيئاً اختاره الله لهم وامتن به عليهم لان ذلك حيف على المسلمين،واعتراض لما افاء الله عليهم،فاخدم منه ناساً،وتركه ابنته،ثم لم تدع

....بقيه ازحاشيه گذشته]رقم (٣٤٠٥).واخرجه ابو داود ايضا فى سننه.كتاب الخراج......باب فى بيان مواضع قسم الخمس.رقم (٢٩٨٨))_

(١) فتح البارى:١١/١٢٤_١٢٥.كتاب الدعوات.رقم (٦٣١٩).والوابل الصيب:٢٠٦.ذكرالله وفوائده.الحادية والستون)

(٢) فتح البارى:١١/١٢٥)_

(٣) عمدة القارى:١٥/٣٦.ومثله عند ابن بطال بزيادة:٥/٢٧٣. د باب د حديث شريف د مزيد وضاحت دپاره اوګورئ.كشف البارى.كتاب الدعوات:٢٠٤)_

(٤) فتح البارى:٦/٢١٦.وشرح ابن بطال:٥/٢٧٠)_

فيه رضي الله عنها حقاً لقرابة حين وكلها الى التسبيح، ولوكان فرضاً لبينه تعالىٰ كما بين فرائض المواريث"[۱]
هم دا خبره امام طحاوي رحمه الله هم ليکلې ده او مزيد فرمائي:

"وان أبابکر وعمر اخذا بذلك، وقسما جميع الخمس، ولم يجعلا لذوي القربىٰ منه حقاً مخصوصاً به، بل يحسب مايرى الامام، وكذلك فعل علي......"[۲]

يو اهم خبرداري: امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې د اهل صفه او د ارامل تذکره هم کړې وه ليکن په ترجمه کښې چې کوم حديث نقل شوې دې هغې کښې دا تذکره نشته. ددې په توجيه کښې حافظ صاحب فرمائي چې امام بخاري رحمه الله د خپل مشهور عادت مطابق دلته د هغه روايتونو او د حديثونو هغه طرقو طرفته اشاره کولو باندې اکتفاء کړې ده، په کومو کښې چې ددې ذکر دې. لکه د مسند احمد[۳] په يو طريق کښې د باب حديث اوږدوالى سره ذکر کړې شوې دې، په هغې کښې د نبى کريم ﷺ دا کلمات هم دي:

"والله لاأعطيكما وأدع أهل الصفة تطوى بطونهم من الجوع، لا أجد ما أنفق عليهم ولكن أبيعهم وأنفق عليهم أثمانهم"[۴]

"په خدائې قسم! زهٔ تاسو ته نهٔ شم درکولې په داسې حال کښې چې د اهل صفه خيټې د لوږې د وجې نه لګيدلې دی، ماسره داسې هيڅ څيز هم نشته چې په هغوی باندې خرچ کړم. ددې وجې نه زهٔ دا خادمان خرڅوم او ددې قيمت به په اهل صفه باندې خرچ کوم."
د مسند احمد ددې روايت نه دا فائده معلومه شوه چې د ديني علومو طالبان به د غنيمتونو په خمس وغيره کښې مقدم کولې شی د هغې خلقو په مقابله کښې د کومو ذکر چې په آيت کريمه کښې شوې دې[۵]

⑦ باب: قول الله تعالىٰ: فأن لله خمسه وللرسول /الانفال: ۴۱/

يعني: للرسول قسم ذلك، قال رسول الله ﷺ: (انما انا قاسم وخازن، والله يعطي)

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاري رحمه الله دا خبره راجحه ګرځوي چې په خمس کښې د رسول اکرم ﷺ څهٔ حصه نهٔ وه، هغوی مبارک صرف د تقسيم ذمه دار وو، دا کار نبي کريم ﷺ ته د خمس په معامله کښې د الله تعالىٰ له طرفه حواله کړې شوې وو چې هغوی مبارک دا حصه جات خپلو مستحقينو ته اورسوي. حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي: "أن اضافة الخمس اليه

---

[۱]) شرح ابن بطال: ۲۷۱/۵، وفتح الباري: ۲۱۶/۶)_
[۲]) شرح معاني الآثار للطحاوي: ۲۰۱/۲، وشرح ابن بطال: ۲۷۱/۵، وفتح الباري: ۲۱۶/۶)_
[۳]) مسند الامام احمد بن حنبل: ۱/مسند علي بن ابى طالب رضي الله عنه، رقم (۸۳۸))_
[۴]) فتح الباري: ۲۱۶/۶، وعمدة القاري: ۳۶/۱۵)_
[۵]) شرح ابن بطال: ۲۷۲/۵)_

تبارك وتعالىٰ تبرك، والى النبى صلى الله عليه وسلم باعتبار أنه يقسمه، وانما هو لنوائب المسلمين"[۱]

د ايت كريمه په تفسير كښې اختلاف: په ترجمة الباب كښې چې كوم آيت كريمه ذكر كړې شوې دې نو د هغې په تفسير كښې د مفسرينو حضراتو اختلاف دې، ددې څه تفصيل وړاندې باب كښې ذكر كړې شوې دې، دلته چې باب سره متعلقه كومه مسئله ده هغه دا چې "للرسول" كښې چې كوم لام دې، دا لام د تمليك دې يا بل څۀ لام دې؟

امام بخارى رحمه الله دويمه رائې غوره ګرځولې ده چې نبى كريم ﷺ به د خمس په حصو كښې مالك نۀ وو بلكه هغوى ته صرف د تقسيم ذمه دارى حواله كړې شوې وه چې دا په خپلو مصارفو كښې خرچ كړى. په دې مسئله كښې د شوافعو حضراتو دوه قولونه دى او مشهور قول ئې دادې چې دا لام دلته د تمليك دې، هغوى دا وائى چې نبى كريم ﷺ به په جنګ كښې حاضر وو يا حاضر نۀ وو ليكن هغوى ته به يوه حصه خامخا ملاويدله او نبى ﷺ به د هغې مالك وو[۲]

په دې سلسله كښې د موالكو حضراتو مسلك هم هغه دې كوم چې د امام بخارى رحمه الله دې[۳] امام أسماعيل قاضى رحمه الله فرمائى:

"لاحجة لمن ادعى أن الخمس يملكه النبى صلى الله عليه وسلم بقوله تعالىٰ: ﴿واعلموا أنما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول﴾[٤] لانه تعالىٰ قال: ﴿يسئلونك عن الانفال، قل الانفال لله والرسول﴾[٥] واتفقوا على أنه قبل فرض الخمس كان يعطى الغنيمة للغانمين بحسب ما يؤدى اليه اجتهاده، فلما فرض الخمس تبين للغانمين أربعة أخماس الغنيمة، لا يشاركهم فيها أحد، وانما خص النبى صلى الله عليه وسلم بنسبة الخمس اليه اشارة الى أنه ليس للغانمين فيه حق بل هو مفوض الى رأيه، وكذلك الى الامام بعده......"[٦]

قال المهلب: "وانما خص بنسبة الخمس اليه عليه السلام، لان ليس للغانمين فيه دعوى، وانما هو الى اجتهاد الامام، فان راى رفعه بيت المال لما يخشى ان ينزل بالمسلمين رفعه، اويجعله فيما يراه، وقد يقسم منه للغانمين، كما انه يعطى من المغانم لغير الغانمين، كما قسم لجعفر وغيره ممن لم يشهد الوقعة، فالخمس وغيره

---

[۱]) لامع الدرارى وتعليقاته:۳۰۲/۷)_

[۲]) فتح البارى:۲۱۷/٦_۲۱۸، وعمدة القارى:۳٦/۱۵)_

[۳]) بداية المجتهد:٤٤٦/۳، كتاب الجهاد، الفصل الاول فى حكم خمس الغنيمة)_

[٤]) الانفال:٤۱)_

[٥]) الانفال:۱)_

[٦]) فتح البارى:۲۱۸/٦، وقال ابن بطال رحمه الله فى شرحه (۲۷٤/۵): وغرض البخارى فى هذا الباب ايضا الرد على من جعل للنبى خمس الخمس ملكا، استدلالا بقوله تعالى: (واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول)، وهو قول الشافعى")_

الى قسمته عليه السلام واجتهاده، وليس له فى الخمس ملك، ولا يمتلك من الدنيا الا قدر حاجته، وغير ذلك كله عائد على المسلمين، وهذا معنى تسميته بقاسم، وليست هذه التسمية بموجبه الا تكون اثرة فى اجتهاده لقوم دون قوم". (ابن بطال:۵/۲۷۳_۲۷۵)_

په دې عبارت کښې څنګه چې د امام شافعي رحمه الله د دليل رد دې نو دغه شان د نبی کريم ﷺ طرفته د خمس د نسبت کولو حکمت هم دې لکه امام شافعي رحمه الله د آيت کريمه د ظاهر نه استدلال کوی چې دلته لام د تمليك دې او نبی کريم ﷺ به د خمس مالك وو ليکن دا دليل ددې وجې نه صحيح نۀ دې چې د سورة انفال په اولنی آيت کښې هم ﴿الانفال لله والرسول﴾ فرمائيلې شوې دې، دا آيت د خمس د فرض کيدو نه مخکښې نازل شوې دې او په دې باندې تقريباً د ټولو اتفاق دې چې د خمس د فرض کيدو نه مخکښې هم غنيمت تقسيم شوې دې او دا تقسيم به د نبی کريم ﷺ د رائې او د اجتهاد مطابق وو نو کله چې د خمس فرضيت راغئ نو دا خبره واضحه شوه چې د غنيمت په پنځو حصو کښې په خپله د لښکر څلور حصې دی چې په دې څلورو کښې دوی سره بل څوك شريکيدې نۀ شی او يو حصه چې هغې ته خمس وئيلې شی هغې سره متعلق تفصيل تير شوې باب کښې تير شو.

د﴿وللرسول﴾د تخصيص بالذکر وجه: اوس سوال دا پاتې شو چې بيا په آيت کريمه کښې ﴿وللرسول﴾ خاص طور سره د ذکر کولو څۀ وجه ده؟ او د خمس نسبت د نبی کريم ﷺ طرفته ولې اوکړې شو؟

ددې جواب هم په خپله قاضی اسماعيل رحمه الله ورکړې دې چې په آيت کريمه کښې د نبی کريم ﷺ ذکر ددې خبرې د بيانولو دپاره اوکړې شو چې په دې خمس کښې د مجاهدينو هيڅ حق نشته. د هغوی حق صرف څلورو حصو سره متعلق دې او ددې مصرف به څۀ وی. دا به کوم ځائې کښې خرج کولې شی؟ نو ددې جواب دا ورکړې شو چې دا خبره د نبی ﷺ په رائې باندې موقوف ده، نبی ﷺ مبارك ته اختيار دې چې په خپله مرضۍ باندې دا کوم ځائې کښې خرچ کوی، هم دا حکم د هر هغه امام او حاکم دپاره دې چې کوم وروستو زمانې والا دی.

قوله: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (انما انا قاسم وخازن، والله يعطي): نبی ﷺ فرمائيلې دی: زۀ خو تقسيمونکې او خازن يم او ورکوونکې ذات د الله تعالی دې.

د تعليق مقصد: دا تعليق دې او امام بخاری رحمه الله ددې په ذريعې سره په خپل بيان کړه مؤقف باندې استدلال کړې دې چې نبی ﷺ په خمس کښې د خپلې حصې مالك نۀ وو، بلکه د تقسيمولو او د هغې د حفاظت کولو ذمه دار وو او په هغه حضراتو باندې ئې رد کړې دې څوك چې ددې د ملکيت قائل دی.[1]

[1]) عمدة القارى:۱۵/۳۷)_

د مذكوره تعليق موصولاً تخريج حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې د امام بخارى رحمه الله دا مذكوره تعليق دې الفاظو سره په دې يو سياق كښې چرته هم نۀ دې راغلې حقيقت كښې دا تعليق د دوو مختلفو حديثونو نه اخستلې شوې دې لكه انما انا قاسم د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حديث حصه ده كوم چې وړاندې هم په دې باب(١) كښې وړاندې موصولاً راځى دغه شان وړاندې په كتاب العلم كښې د حضرت معاويه رضي الله عنه حديث تير شوې دې. په هغې كښې دا الفاظ راغلې دى "انما انا قاسم والله يعطى"(٢) هرچه دا حديث "انما انا خازن، والله يعطى" دې نو دا حديث د حضرت معاويه رضي الله عنه د روايت نه وړاندې په كتاب الاعتصام......(٣) كښې موصولاً راځى(٤). دې سره يو شان الفاظ امام داؤد هم د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل كړې دى(٥)

د هغوى د حديث الفاظ د امام بخارى رحمه الله په مدعى باندې زيات وضاحت سره دلالت كوى. د هغې الفاظ دا دى: "ان انا الا خازن، اضع حيث امرت"(٦)

ترجمة الباب سره د مذكوره تعليق مقصد: امام بخارى رحمه الله خپله مدعا دا بيان كړې وه چې نبى ﷺ د خمس د خمس مالك نۀ وو بلكه صرف منتظم او متولى وو. ددې د ثابتولو دپاره امام صاحب دا مذكوره پورتنې تعليق هم نقل كړو. په كوم كښې چې نبى ﷺ خپل ځان ته قاسم او خازن وئيلې دې او الله تعالى ته ئې وركوونكې ذات وئيلې دې. ددې نه معلومه شوه چې نبى ﷺ به د څۀ څيز مالك نۀ وو. حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى:

"**واستدل على مدعاه من حيث انه صلى الله عليه وسلم سمى نفسه قاسما، والله المعطى فعلم انه لم يكن يملك شيئاً، والله أعلم**"(٧)

ددې نه پس په دې باندې ځان پوهه كړئ چې امام بخارى رحمه الله د خپلې مدعا دپاره څلور موصول حديثونه هم ذكر كړې دى. په هغې كښې اولنې حديث د حضرت جابر رضي الله عنه دې. كوم چې مؤلف په مختلفو طرقو سره نقل كړې دې(٨)

---

(١) البخارى. رقم (٣١١٧)_

(٢) صحيح البخارى. كتاب العلم. باب من يرد الله به خيرا يفقه فى الدين. رقم (٧١)_

(٣) صحيح البخارى. كتاب الاعتصام. باب قول النبى ﷺ: لاتزال طائفة....." رقم (٧٣١٢)_

(٤) تغليق التعليق: ٤٧١/٣. وفتح البارى: ٢١٨/٦)_

(٥) سنن ابى داود. كتاب الخراج......باب فيما يلزم الامام من امر الرعية......رقم (٢٩٤٩)_

(٦) عمدة القارى: ٣٧/١٥. وفتح البارى: ٢١٨/٦)_

(٧) لامع الدرارى: ٣٠٣/٧)_

(٨) فتح البارى: ٢١٨/٦)_

٢٩٤٦، ٢٩٤٧ (١) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ وَمَنْصُورٍ وَقَتَادَةَ سَمِعُوا سَالِمَ بْنَ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنهما- قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا مِنَ الأَنْصَارِ غُلاَمٌ، فَأَرَادَ أَنْ يُسَمِّيَهُ مُحَمَّدًا - قَالَ شُعْبَةُ فِي حَدِيثِ مَنْصُورٍ إِنَّ الأَنْصَارِيَّ قَالَ حَمَلْتُهُ عَلَى عُنُقِي فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم-. وَفِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ وُلِدَ لَهُ غُلاَمٌ، فَأَرَادَ أَنْ يُسَمِّيَهُ مُحَمَّدًا -قَالَ «سَمُّوا بِاسْمِي، وَلاَ تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي، فَإِنِّي إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ». وَقَالَ حُصَيْنٌ «بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ». قَالَ عَمْرٌو أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ سَالِمًا عَنْ جَابِرٍ أَرَادَ أَنْ يُسَمِّيَهُ الْقَاسِمَ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «سَمُّوا بِاسْمِي وَلاَ تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي».

رجال الحديث

① **ابوالوليد**: دا ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسى رحمه الله دې. د دوى تذکره په کتاب الايمان، "باب علامة الايمان حب الانصار" کښې راغلي ده (٢)

② **شعبه**: دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبة بن الحجاج بصرى رحمه الله دې. د دوى حالات په کتاب الايمان، "باب المسلم من سلم المسلمون من......" کښې تير شوي دى (٣)

③ **سليمان**: دا سليمان بن مهران رحمه الله دې چې په اعمش باندې مشهور دې. د دوى حالات په کتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې تير شوي دى (٤)

④ **منصور**: دا منصور بن معتمر رحمه الله دې. د دوى تذکره په کتاب العلم، "باب من جعل لاهل العلم أياما معلومة" کښې تيره شوې ده (٥)

⑤ **قتاده**: دا قتاده بن دعامه سدوسى بصرى رحمه الله دې. د دوى حالات په کتاب الايمان، "باب من

---

[1]) قوله: جابر بن عبدالله رضي الله عنه: "الحديث، اخرجه البخارى فى نفس هذا الباب، رقم (٣١٥)، وكتاب الانبياء، باب كنية النبى صلى الله عليه وسلم، رقم (٣٥٣٨)، وكتاب الادب، باب احب الاسماء الى الله عزوجل، رقم (٦١٨٦)، وباب قول النبى صلى الله عليه وسلم: سموا باسمى.....، رقم (٦١٨٧)، وباب من سمى باسماء الانبياء، رقم (٦١٩٦)، ومسلم، كتاب الادب، باب النهى عن التكنى بابى القاسم، رقم (٥٥٨٨_٥٥٩٧)، والترمذى، كتاب الادب، باب ماجاء فى كراهة الجمع بين اسم......، رقم (٢٨٤٢)، وابو داود، كتاب الادب، باب من راى ان لايجمع بينهما، رقم (٤٩٦٦)، وابن ماجه، كتاب الادب، باب الجمع بين اسم النبى......، رقم (٣٧٣٦))_

[2]) كشف البارى: ٣٨/٢)_

[3]) كشف البارى: ٦٧٨/١)_

[4]) كشف البارى: ٢٥١/٢)_

[5]) كشف البارى: ٢٧٠/٣)_

الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه" كښې راغلي دی.[1]

⑥ سالم: دا مشهور تابعي حضرت سالم بن ابی الجعد رحمه الله دې.[2]

⑦ جابر بن عبدالله رضي الله عنهما: دا مشهور صحابي حضرت جابر بن عبدالله الانصاری رضي الله عنهما دې.[3]

⑧ حصين: دا ابو الهذيل حصين بن عبدالرحمن كوفي رحمه الله دې.[4]

⑨ عمرو: دا عمرو بن مرزوق رحمه الله دې.[5]

۲۹۴۷: [6] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيِّ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلاَمٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقَالَتِ الأَنْصَارُ لاَ نَكْنِيكَ أَبَا الْقَاسِمِ وَلاَ نُنْعِمُكَ عَيْنًا، فَأَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وُلِدَ لِي غُلاَمٌ، فَسَمَّيْتُهُ الْقَاسِمَ فَقَالَتِ الأَنْصَارُ لاَ نَكْنِيكَ أَبَا الْقَاسِمِ وَلاَ نُنْعِمُكَ عَيْنًا. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَحْسَنَتِ الأَنْصَارُ، سَمُّوا بِاسْمِي، وَلاَ تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي، فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ». [۳۳۴۵، ۵۸۳۲، ۵۸۳۳، ۵۸۳۵، ۵۸۴۳]

رجال الحديث

① محمد بن يوسف: دا محمد بن يوسف بيكندي رحمه الله دې. د دوی حالات په كتاب العلم، "باب متى يصح سماع الصغير؟" كښې بيان كړې شوي دی.[7]

② سفيان: دا مشهور محدث حضرت سفيان ثوري رحمه الله دې. د دوی تذكره په كتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" كښې تيره شوې ده.[8]

روايت دريو طرقو سره د راوړلو وجه: ددې نه پس په دې باندې ځان پوهه كړئ چې امام بخاری رحمه الله د حضرت جابر رضي الله عنه دا حديث د دريو شيخانو نه نقل كړې دې، د ابو الوليد هشام بن عبدالملك طيالسي، عمرو بن مرزوق او د محمد بن يوسف بيكندي رحمهم الله.

د ابو الوليد اود عمرو بن مرزوق شيخ شعبه دې او د محمد بن يوسف شيخ سفيان ثوري دې.

---

[1]) كشف الباری: ۲/۳)_
[2]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء، باب التسمية على كل حال وعند الوقاع)_
[3]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء، باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين.....)_
[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب مواقيت الصلاة، باب الاذان بعد ذهاب الوقت)_
[5]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل، باب اذا التقى الختانان)_
[6]) قوله: عن جابر بن عبد الله الانصاری": الحديث، مر تخريجه في الحديث السابق)_
[7]) كشف الباری: ۳/۳۸۷)_
[8]) كشف الباری: ۲/۲۷۸)_

اوس سوال دادې چې مؤلف همام دا روايت دريو طرقو سره ولې نقل کړې دې؟نو ددې جواب دا دې چې امام شعبه رحمه الله دا روايت د مختلفو شيوخو نه روايت کړېدې او ددې شيوخو په الفاظو کښې اختلاف دې.ددې اختلاف د ختمولو دپاره او د امام ثورى روايت ته ترجيح ورکولو دپاره مؤلف دا طريقه اختيار کړه.لکه د امام شعبه رحمه الله هغه روايت.په کوم کښې چې د امام بخارى شيخ ابو الوليد دې،په هغې کښې سليمان،منصور او قتاده (هؤلاء شيوخ شعبة) درې واړه حضرات په دې باندې متفق دى چې انصارى.د کوم چې ځوئې پيدا شوې وو نو هغهٔ د خپل ځوى نوم محمد کيخودل غوښتل او د عمرو بن مرزوق روايت. کوم چې امام بخارى تعليقاً نقل کړې دې په هغې کښې شعبه د قتاده نه روايت کولو سره فرمائى چې انصارى صحابى د خپل ځوى نوم قاسم کيخودل غوښتل.دغه شان د شعبه په روايت کښې اختلاف راغئ چې مذکوره انصارى صحابى د خپل ځوى نوم محمد کيخودل غوښتل يا قاسم؟ددې اختلاف د ختمولو دپاره امام بخارى رحمه الله د سفيان ثورى روايت هم نقل کړو او ددې خبرې د ترجيح طرفته ئې اشاره اوفرمائيله چې مذکوره انصارى صحابى د خپل ځوى نو محمد نهٔ بلکه قاسم کيخودل غوښتل.معنوى او عقلى اعتبار سره م د امام ثورى رحمه الله دا روايت ددې وجې نه راجح دې چې انصارو په مذکوره انصارى صحابى باندې کوم نکير کړې وو د هغې وجه دا وه چې که هغوى د خپل ځوى نوم قاسم کيخودلې وو نو د هغهٔ کنيت به ابوالقاسم شوې وو او دا خبره نورو انصارو ته ناخوښه وه.ددې ممانعت هم راغلې دې په خلاف د محمد کيخودلو،چې په دې صورت کښې به ئې کنيت ابومحمد وو. په دې کښې څهٔ باك هم نشته او ممانعت په کښې هم نشته(¹)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حديث شريف مطابقت په دې جمله کښې دې: "**انما جعلت قاسماً أقسم بينكم**" دا جمله د امام بخارى رحمه الله په مدعىٰ باندې واضح دلالت کوى(²).

دويم حديث شريف د حضرت معاويه رضي الله عنه دې.

٢٩٤٨ (٣): حَدَّثَنَا حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ ، وَاللَّهُ الْمُعْطِي وَأَنَا الْقَاسِمُ ، وَلاَ تَزَالُ هَذِهِ الأُمَّةُ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ». [ر: ٧١]

---

¹) فتح البارى:٢١٨/٦،وعمدة القارى:٣٨/١٥،وشرح القسطلانى:٢٠٣/٥)_

²) عمدة القارى:٣٨/١٥)_

³) قوله: معاوية رضي الله عنه: "الحديث،مر تخريجه فى كتاب العلم،كشف البارى:٢٧٤/٣)_

رجال الحديث

① **حبان**: دا ابومحمد حبان بن موسیٰ مروزی رحمه الله دې.(۱)

② **عبدالله**: دا مشهور محدث او امام عبدالله بن مبارك مروزى رحمه الله دې.ددوى تذكره د"بدء الوحى" په "الحديث الخامس" كښې اجمالاً تيره شوې ده.(۲)

③ **يونس**: دا يونس بن يزيد الايلى رحمه الله دې.د دوى حالات په "بدء الوحى" كښې اجمالاً او په كتاب العلم، "باب من يردالله به خيرا يفقهه...." كښې تفصيلاً تير شوى دى.(۳)

④ **الزهرى**: دا محمد بن مسلم بن شهاب زهرى رحمه الله دې.د دوى تذكره په "بدء الوحى" كښې راغلې ده (۴)

⑤ **حميد بن عبدالرحمن**: دا حميد بن عبدالرحمن بن عوف قرشى رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب تطوع قيام رمضان......" كښې تير شوى دى.(۵)

⑥ **معاويه**: د حضرت معاويه بن ابى سفيان رضي الله عنه تذكره په كتاب العلم، "باب من يرد الله به خيرا يفقهه....." كښې بيان شوې ده.(۶)

د حديث شريف ترجمه: حضرت حميد بن عبدالرحمٰن رحمه الله فرمائى چې ما د حضرت معاويه رضي الله عنه نه واوريدل چې رسول الله مبارك صلى الله عليه وسلم فرمائيلې دى چې الله تعالى كوم بنده سره د خير اراده اوفرمائى نو هغهٔ ته د دين پوهه وركړى او وركوونكې ذات د الله تعالى دې او زهٔ تقسيموونكې يم.او دا امت به هميشه دپاره په خپلو مخالفينو باندې غالب وى،تردې چې د الله تعالى حكم(قيامت)راشى او هم دوى به غالب وى.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: دا حديث په دريو جزونو باندې مشتمل دې،ددې اولنې جزء "من يردالله به ....الدين" دې،ددې تفصيلى تشريح په كتاب العلم كښې تيره شوې ده.(۷)

ددې دويم جز "والله المعطى وأنا القاسم" دې،هم دا حصه ترجمة الباب سره مطابقت لرى،د امام

---

(۱) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الاذان،باب يسلم الامام)_

(۲) كشف البارى:۴۶۲/۱)_

(۳) كشف البارى:۴۶۳/۱،و۲۸۲/۳)_

(۴) كشف البارى:۳۲۶/۱،الحديث الاول)_

(۵) كشف البارى:۳۱۶/۲)_

(۶) كشف البارى:۲۸۵/۳)_

(۷) كشف البارى:۲۸۹/۳و ۲۹۰)_

بخارى رحمه الله دعوى دا وه چې نبى ﷺ د غنيمت د مالونو تقسيموونكې دې،ددې خبرې اظهار په دې جمله كښې موجود دې.(۱)

دريم جزء"ولا تزال هذه الامة......وهم ظاهرون"دې.ددې تشريح هم په كتاب العلم كښې تيره شوې ده.(۲)

دريم حديث شريف د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې.

۲۹۴۹:(۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ حَدَّثَنَا هِلاَلٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رضي الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَا أُعْطِيكُمْ وَلاَ أَمْنَعُكُمْ، أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ».

رجال الحديث

① **محمد بن سنان**،② **فليح**،③ **هلال**: د فليح نه عبدالملك بن سليمان بن مغيره او د هلال نه ابن على الفهرى مراد دى.ددې درې واړو حضراتو تذكره تفصيل سره په كتاب العلم،"باب من سئل علماً وهومشتغل...."كښې راغلې ده.(۴)

④ **عبدالرحمٰن بن ابى عمرة**:دا عبدالرحمٰن بن ابى عمره الانصارى النجارى رحمه الله دې.(۵)

⑤**ابوهريره رضي الله عنه**:د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان،"باب أمور البيان"كښې تير شوې دى.(۶)

قوله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ما أعطيكم، ولا أمنعكم، أنا قاسم أضع حيث أمرت: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله مبارك ﷺ اوفرمائيل چې زۀ وركوم،منع او بندول نۀ كوم،زۀ خو صرف تقسيموونكې يم،چرته چې حكم كيږى نو هلته خرچ كوم.

په مسند احمد شريف كښې هم دا روايت د فليح نه سريج بن نعمان روايت كړې دې،په هغې كښې د"ما أعطيكم ......"نه مخكښې ددې جملې اضافه هم ده."والله المعطى"چې وركوونكې ذات د الله تعالى دې.(۷)

---

۱) فتح البارى:۲۱۸/۶،وعمدة القارى:۴۰/۱۵)_

۲) كشف البارى:۲۹۱/۳_۲۹۵)_

۳) قوله: عن ابى هريرة رضي الله عنه "الحديث،تفرد به البخارى رحمه الله.انظر تحفة الاشراف:۱۴۹/۱۰،رقم (۱۳۶۰۶)

۴) كشف البارى:۵۳/۳_۵۸،و:۶۳/۳)_

۵) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب المساقاة،باب حلب الابل على الماء)_

۶) كشف البارى:۶۵۹/۱)_

۷) هذا ما ذكره الحافظ،والكننى لم اجد هذه الرواية فى مسند الامام احمد)_

او د حديث شريف مطلب دادې چې ورکوونکې ذات د الله تعالى دې.زۀ صرف په خپلې رائې سره نۀ چا ته ورکوم او نۀ منع کوم.ددې وجې نه که زۀ چا ته څۀ ورکړم نو هغه هم د الله تعالى په حکم سره او که چاته ورنۀ کړم او منع اوکړم نو دا هم د الله تعالى په حکم سره.په دې زما ذاتى څۀ دخل نشته.زما حيثيت صرف د يو تقسيموونکى دې چې د موقع محل په اعتبار سره ورکوى يا منع کوى.(۱) او د ابن همام عن ابى هريره رضي الله عنه طريق سره چې کوم روايت امام ابوداؤد نقل کړې دې.په هغې کښې "ان انا الاخازن" دې.(۲)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت بالکل واضح دې.کوم چې په دې جمله کښې دې:"انا قاسم ......"(۳) ددې نه د امام بخارى رحمه الله مدعى په واضحه توګه ثابتيږى.

څلورم حديث د حضرت خوله انصاريه رضي الله عنها دې.

۲۹۵۰:(۴) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو الأَسْوَدِ عَنِ ابْنِ أَبِي عَيَّاشٍ - وَاسْمُهُ نُعْمَانُ - عَنْ خَوْلَةَ الأَنْصَارِيَّةِ - رضى الله عنها - قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «إِنَّ رِجَالاً يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

رجال الحديث

① **عبدالله بن يزيد:** دا ابوعبدالرحمٰن عبدالله بن يزيد المقرى رحمه الله دې.(۵)

② **سعيد بن ابى ايوب:** دا سعيد بن مقلاص ابو ايوب خزاعى مصرى رحمه الله دې.(۶)

③ **ابوالاسود:** دا ابو الاسود محمد بن عبدالرحمٰن بن نوفل نوفلى رحمه الله دې.(۷)

④ **ابن ابى عياش النعمان:** دا نعمان ابن ابى عياش زيد زرقى رحمه الله دې.د دوى تذکره په کتاب الجهاد والسير "باب فضل الصوم فى سبيل الله" کښې تيره شوې ده.(۸)

---

(۱) فتح البارى:۲۱۸/۶،وعمدة القارى:۴۰/۱۵،وبذل المجهود:۱۲۸/۱۰)_

(۲) سنن ابى داود،كتاب الخراج......باب فيما يلزم الامام من امر الرعية،رقم (۲۹۴۸))_

(۳) عمدة القارى:۴۰/۱۵)_

(۴) قوله: عن خولة الانصارية....."الحديث،اخرجه الترمذى فى كتاب الزهد،باب ماجاء فى اخذ المال بحصة،رقم (۲۳۷۵))_

(۵) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الاذان،باب بين كل اذانين صلاة لمن شاء)_

(۶) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب التهجد،باب المداومة على ركعتى الفجر)_

(۷) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الغسل،باب الجنب يتوضا ثم ينام)_

(۸) كشف البارى،كتاب الجهاد:۳۰۷/۱)_

⑤**خوله الانصاریه:** دا حضرت خوله بنت قیس بن قهد بن قیس بن ثعلبه النجاریه الانصاریه رضی الله عنها ده.[1]

بعضي حضراتو ددې د پلار نوم ثامر ښودلې دې لیکن تحقیقي خبره دا ده چې ثامر ددې د پلار لقب دې، نوم ئې نه دې. ددې وجې نه کله دې ته بنت ثامر او کله ورته بنت قیس وئیلې شوې ده، په حقیقت کښې دا یو زنانه ده.

ابن المدینی رحمه الله فرمائی، "خولة بنت قیس هی خولة بنت ثامر"[2]

بعضو ددې نوم خویله-تصغیر سره-هم نقل کړې دې.[3] ددې کنیت ام محمد وو. دا د نبی ﷺ د تره حضرت حمزه رضی الله عنه په نکاح کښې وه. د هغوی د شهادت نه پس حضرت خوله رضی الله عنها یو انصاری صحابی حضرت حنظله رضی الله عنه سره نکاح اوکړه. بعضو د دوی نوم نعمان بن عجلان ښودلې دې، ددې تعلق د بنو زریق سره وو.[4]

دا د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی.

او ددې نه په روایت کوونکو کښې ابوالولید عبید سنوطا. معاذ بن رفاعه زرقی او نعمان بن ابی عیاش زرقی رحمه الله وغیره شامل دی[5]

د دوی نه بخاری او ترمذی روایت کوی[6] ددوی نه صرف یو حدیث (د باب حدیث شریف) روایت دې.[7] رضی الله عنها وأرضاها

قوله: قالت: سمعت النبی ﷺ یقول: ان رجالاً یتخوضون فی مال الله بغیر حق، فلهم النار یوم القیامة: حضرت خوله رضی الله عنها فرمائی چې ما د نبی کریم ﷺ نه واوریدل چې بعضې خلق به په ناحقه د الله تعالی په مال کښې تصرف کوی، نو د داسې خلقو دپاره د قیامت په ورځ د جهنم اور دې. "یتخوضون" د خوض نه مشتق دې، ددې معنی ده په اوبو کښې تلل او اوبو ته حرکت ورکول، لیکن بیا دا لفظ په دې معنی کښې مستعمل شو چې په یو څیز کښې دننه کیدل او په هغې کښې تصرف کول[8]

---

[1] تهذیب الکمال:۳۵/ ۱۶۴، وعمدة القاری:۱۵/ ۴۰، والاستیعاب:۲/ ۵۱۳و۵۱۵، وتهذیب التهذیب:۱۲/ ۴۵۱)

[2]) تهذیب المزی:۳۵/ ۱۶۵، والاصابة: ۴/ ۲۸۹، والعمدة:۱۵/ ۴۰، وتهذیب التهذیب:۱۲/ ۴۱۵)_

[3]) تهذیب الکمال:۳۵/ ۱۶۵، وعمدة القاری:۱۵/ ۴۰، وتهذیب التهذیب:۱۲/ ۴۱۵)_

[4]) تهذیب الکمال:۳۵/ ۱۶۵، وعمدة القاری:۱۵/ ۴۰، والاستیعاب:۲/ ۵۱۵)_

[5]) تهذیب الکمال:۳۵/ ۱۶۵، وتهذیب التهذیب:۱۲/ ۴۱۵)_

[6]) پورته حواله جات)_

[7]) معرفة الصحابة للاصبهانی:۵/ ۲۲۰، وقال الخزرجی: لها احادیث، روی عنها فی (خ) حدیثا واحدا، وکذلک الترمذی....."خلاصة لتذهیب تهذیب الکمال: ۴۹۰، حرف الخاء، من کتاب النساء)_

[8]) عمدة القاری:۱۵/ ۴۰، وارشاد الساری:۵/ ۲۰۵)_

ددې نه پس په دې خان پوهه کړئ چې هم دا حديث امام ترمذى رحمه الله هم نقل کړې دې،په هغې کښې د حديث په الفاظو کښې څۀ اضافه هم ده،ابوالوليد عبيد سنوطا فرمائى:

"سمعت خولة بنت قيس ـ وكانت تحت حمزة بن عبد المطلب ـ تقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان هذا المال خضرة حلوة، من أصابه بحقه بورك له فيه، ورب متخوض فيما شاءت نفسه من مال الله ورسوله ليس له يوم القيامة الا النار" (١)

او د ابن عبد البر رحمه الله چې کوم روايت دې،په هغې کښې د حديث پس منظر هم دې چې نبى ﷺ دا کلمات کله ارشاد فرمائيلې وو،په هغې کښې دى:

"أن النبى صلى الله عليه وسلم تذاكر هو و حمزة بن عبد المطلب الدنيا،فقال النبى صلى الله عليه وسلم......." (٢)

د دواړو روايتونو مطلب دادې چې نبى کريم ﷺ او د هغوى ترۀ مبارك حضرت حمزه رضي الله عنه خپل مينځ کښې د دنيا په باره کښې مذاکره کوله چې ددې دنيا څۀ حقيقت دې؟نو نبى ﷺ اوفرمائيل چې حقيقت کښې دا دنيا ميلان پيدا کوونکې او خوږه ده،خلق ددې طرفته مائله کيږى،د ښۀ نه ښۀ څيز په تلاش کښې اخته وى ليکن په دې کښې به برکت هغه چاته وى چې څوك د خپلې حصې په اندازه باندې ددې نه واخلى،د چا مال په ناحقه اونۀ خورى او ډير خلق داسې هم دى چې د الله تعالى او د رسول په مال کښې د خپل نفس د خوښې مطابق په ناحقه تصرف کوى نو د داسې خلقو دپاره د قيامت په ورځ به صرف او صرف د جهنم اور وى،دا خلق به ددې مستحق وى.پورته په حديث شريف کښې د مال دپاره خبر مؤنث استعمال کړې شوې دې ځکه چې دلته مال د غنيمت په معنٰى کښې دې،ددې دليل د"من مال الله"الفاظ دى او د خضرة معنٰى مشتهاة ده چې خلق ددې طرفته مائله کيږى (٣)ددې نه علاوه په حديث شريف کښې په"من مال الله"کښې لفظ د الله د مظهراقيم مقام المضمر قبيل نه دې، يعنى"من ماله"وئيل کافى وو ليکن لفظ د الله تاکيد دپاره ظاهر کړې شو او دې خبرې طرفته اشاره اوکړې شوه چې د الله تعالى او د رسول په مال کښې د نفس او د زړۀ د خوښې مطابق تصرف کول ډير نامناسبه کار دې(٤)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: حافظ رحمه الله فرمائى چې ترجمة الباب سره ددې حديث شريف مناسبت په"فى مال الله بغير حق"کښې دې اومطلب دادې چې دا خلق د مسلمانانو په مالونو کښې په ناحقه سره تصرف کوى او دا خبره عامه ده چې دا ناحقه

---

(١) جامع الترمذى،كتاب الزهد،باب (٤١)ماجاء فى اخذ المال بحقه،رقم (٢٣٧٤))_

(٢) الاستيعاب فى اسماء الاصحاب:٥١٥/٢)_

(٣) فتح البارى:٢١٩/٦)_

(٤) پورته حواله)_

تصرف کول په تقسیم کښې وی یا د تقسیم نه بغیر وی[1] او علامه کرمانی رحمه الله دا فرمائی چې ترجمة الباب سره ددې حدیث مناسبت پټ دې، واضح او صریح نۀ دې البته دا ممکنه ده چې ترجمة الباب سره مناسبت ددې جملې نه واخستلې شی. "یتخوضون فی مال الله بغیر حق" أی: بغیر قسمة حق. اګرچه دلته په الفاظو کښې عموم دې لیکن مونږ تخصیص اوکړو د تقسیم سره. دې دپاره چې ترجمة الباب صراحت سره فهم کښې راشی.[2] هم دا قول علامه عینی، قسطلانی او د حافظ ابن حجر شاګرد رشید شیخ الاسلام زکریا انصاری رحمهم الله هم اختیار کړې دې.[3] او علامه ابن بطال رحمه الله د حضرت خوله رضی الله عنها دا حدیث مبارك په ترجمة الباب کښې د ذکر کیدو وجه دا بیانوی چې کوم سړې هم د غنیمت وغیره نه د نبی ﷺ یا د هغوی نه پس د حاکم د تقسیم نه بغیر څۀ واخلی نو دې به د الله تعالی په مال کښې په ناحقه سره تصرف کوونکې وی او دۀ چې کوم خیانت کړې دې نو د قیامت په ورځ به دې ددې خیانت سره د الله تعالی په دربار کښې پیش کیږی.[4] والله اعلم بالصواب

د حدیث نه مستنبطې فائدې: ددې حدیث شریف نه یو خو دا فائده حاصله شوه چې د وخت د امام د تقسیم نه بغیر که څوك په غنیمت کښې څۀ واخلی نو دا انسان به ګناهګار وی.[5] دویمه فائده په دې حدیث شریف کښې داده چې په دې کښې د سلطنت امیرانو او بادشاهانو ته ددې خبرې خبرداری ورکړې شوې دې چې هغوی د مال غنیمت یا د بیت المال نه په ناحقه باندې څۀ وانخلی، دغه شان که څوك حقدار راشی نو هغه مۀ منع کوئ. بلکه هغۀ ته خپل حق پوره پوره ورکوئ.[6] والله اعلم بالصواب

⑧ باب: قول النبی ﷺ: (احلت لکم الغنائم)

وقال الله تعالی: ﴿وعدکم الله مغانم کثیرة تأخذونها فعجل لکم هذه﴾ [الفتح: ۲۰] وهی للعامة حتی یبینه الرسول ﷺ

د نسخو اختلاف: په اکثرو نسخو کښې "باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: احلت لکم الغنائم" دې البته د ابن التین په نسخه کښې "أحلت لی....." راغلې دې. د حافظ ابن حجر رحمه الله وینا ده چې

---

[1]) پورته حواله)_

[2]) پورته حواله، وشرح الکرمانی: ۱۳/۹۳)_

[3]) عمدة القاری: ۱۵/۴۰، وتحفة الباری للانصاری: ۳/۵۴۳، وارشاد الساری: ۵/۲۰۵)_

[4]) شرح ابن بطال: ۵/۲۷۵)_

[5]) فتح الباری: ۶/۲۱۹، قال ابن بطال رحمه الله : .....من اخذ من المقاسم شیئا بغیر الرسول او الامام بعده، فقد تخوض فی مال الله بغیر حق، ویاتی بما غل یوم القیمة". انظر شرحه: ۵/۲۷۵)_

[6]) پورته حواله جات)_

د ابن التين الفاظ زيات غوره دى څكه چې امام بخارى رحمه الله په خپله هم دې الفاظو سره په دې باب كښې حديث شريف ذكر كړې دې......(١)

د ترجمة الباب مقصد: دلته په ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله دا وئيل غواړى چې غنيمتونه د مسلمانانو دپاره وى، الله تعالى په آيت كريمه ﴿وعدكم الله.......﴾ كښې هم دا وعده كړې ده او د نبى كريم ﷺ ارشاد مبارك هم په دې باندې دلالت كوى چې غنيمت د مسلمانانو وى او دا د دوى دپاره حلال دې.دا خو عامو مسلمانانو سره متعلق خبره وه.په خپله د نبى كريم ﷺ څۀ حيثيت وو؟نو دا امام بخارى رحمه الله په "وهى للعامة حتى يبينه للرسول" كښې اووئيل چې غنيمت خو به اصل كښې د مسلمانانو دپاره وى ليكن ددې د استحقاق فيصله به نبى ﷺ كوى چې چاته دا د غنيمت وركول پكار دى او چاته وركول پكار نۀ دى.څوك مجاهد او غانم وو او څوك نۀ وو،د غنيمت په مال كښې به چاته حصه ملاويږى او په خمس كښې به چا ته ملاويږى؟دا ټول كارونه د نبى ﷺ دى او بيا د دوى مبارك نه پس د دوى د نائب او د خليفه دى چې دا كسان به بيا په دې كارونو كښې اختيار لرى.نو قرآن پاك مجمل وو او سنت سره ددې تفسير اوشو.(٢)

پورته چې امام بخارى رحمه الله په ترجمه كښې كوم آيت كريمه ذكر كړو نو د هغې دوه حصې دى، يو خو ﴿وعدكم الله مغانم كثيرة تاخذونها﴾ ده،په دې كښې د هغې غنيمتونو ذكر دې كوم چې به د قيامته پورې حاصليږى،خواه د نبى ﷺ په ملګرتيا كښې حاصل شوې وى يا د هغوى نه پس د خليفه ګانو او د لښكر د اميرانو په ملګرتيا كښې حاصل شوې وى.دويمه حصه ﴿فعجل لكم هذه﴾ ده،ددې نه مراد د خيبر غنيمتونه دى.(٣)

بيا په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله شپږ حديثونه ذكر كړې دى.اولنې حديث د حضرت عروه البارقى رضي الله عنه دې.

٢٩٥١:(٤) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِي - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِى - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ الأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ».[ر: ٢٦٩٥]

---

(١) فتح البارى:٦/٢٢٠)_

(٢) پورته حواله.وارشاد السارى:٥/٢٠٥.وشرح ابن بطال:٥/٢٧٧)_

(٣) پورته حواله جات.وعمدة القارى:١٥/٤١.وتحفة البارى:٣/٥٤٤)_

(٤) قوله: عروة البارقى":الحديث.مر تخريجه فى كتاب الجهاد.كشف البارى.كتاب الجهاد:١/٣٥٩)_

رجال الحدیث

① **مسدد**:دا مسدد بن مسرهد رحمه الله دي.د دوی تذکره په کتاب الایمان،"باب من الایمان أن یحب لاخیه......"کښې تیره شوې ده.[1]

② **خالد** دا خالد بن عبدالله بن عبدالرحمٰن الطحان رحمه الله دي.[2]

③ **حصین**:دا حصین بن عبدالرحمٰن سُلمی رحمه الله دي.[3]

④ **عامر**:دا مشهور محدث عامر شعبی رحمه الله دي.د دوی حالات اجمالاً په کتاب الایمان"کښې او تفصیل سره په کتاب العلم،"باب کتابة العلم"کښې راغلي دی.[4]

⑤ **عروه البارقی**:دا حضرت عروه بن ابی الجعد البارقی رضی الله عنه دي.د دوی تذکره په کتاب الجهاد،"باب الخیل معقود فی نواصیها الخیر......"کښې بیان کړې شوې ده.[5]

حضرت عروه البارقی رضی الله عنه د نبی ﷺ نه روایت کوی چې نبی ﷺ فرمائیلي دی چې د اسونو په تندو(پیشانی)کښې خیر تړلې شوې دې.یعنی د قیامته پورې په کښې اجر او غنیمت دي.ددې حدیث تفصیلی تشریح مونږ په کتاب الجهاد کښې بیان کړې ده.[6]

ترجمة الباب سره مناسبت:ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف مناسبت واضح دې.کوم چې په دې کلمه کښې دې"والمغنم".[7]

دویم حدیث شریف د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دي.

۲۹۵۲:[8] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِذَا هَلَكَ كِسْرَى فَلاَ كِسْرَى بَعْدَهُ، وَإِذَا هَلَكَ قَيْصَرُ فَلاَ قَيْصَرَ بَعْدَهُ، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ، لَتُنْفَقَنَّ كُنُوزُهُمَا فِى سَبِيلِ اللَّهِ». [ر: ۲۸۶۴]

رجال الحدیث

① **ابوالیمان**:دا ابو الیمان حکم بن نافع رحمه الله دي.

---

[1]) کشف الباری:۲/۲)_
[2]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب من مضمن.....)_
[3]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ،کتاب مواقیت الصلاة،باب الاذان بعد ذهاب الوقت)_
[4]) کشف الباری:۱/۶۷۹،و:۴/۲۲۹)_
[5]) کشف الباری،کتاب الجهاد:۱/۳۶۰)_
[6]) کشف الباری،کتاب الجهاد:۱/۳۵۴_۳۶۵،باب الخیل معقود فی نواصیها الخیر.....)_
[7]) عمدة القاری:۱۵/۴۱،وفتح الباری:۶/۲۲۰)_
[8]) قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه :الحدیث،مر تخریجه فی الجهاد والسیر،باب الحرب خدعة)_

③ **شعيب**: دا شعيب بن ابى حمزه رحمه الله دي.ددې دواړو حضراتو تذکره د "بدء الوحی" په "الحديث السادس" کښې تيره شوې ده.(۱)

③ **ابوالزناد** دا ابوالزناد عبد الله بن ذکوان رحمه الله دې.

④ **الاعرج**: دا عبدالرحمٰن هرمز رحمه الله دې چې په الاعرج باندې مشهور دې.ددې دواړو حالات په کتاب الايمان، "باب حب الرسول صلی الله عليه وسلم من الايمان" کښې راغلي دی.(۲)

⑤ **ابوهريره** رضي الله عنه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حالات په کتاب الايمان، "باب أمور الايمان" کښې بيان کړې شوې دی.(۳)

د حديث شريف ترجمه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چې نبی ﷺ فرمائی چې کله کسرٰی هلاك شی نو ددهٔ نه پس به بل کسرٰی نهٔ وی.قيصر به هلاك شی نو ددهٔ نه پس به هم بل قيصر نهٔ وی او په هغه ذات قسم چې د هغهٔ د قدرت په قبضه کښې زما ساه ده تاسو خلق به ددې دواړو د خزانو نه د الله تعالی په لاره کښې خرچ کوئ.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حديث شريف مناسبت په دې جمله کښې دې، "لتنفقن کنوزهما فی سبيل الله"(۴) نو د نبی کريم ﷺ د پيشن ګوئې مطابق د کسرٰی او د قيصر خزانې د مال غنيمت په صورت کښې د مسلمانانو لاسونو ته راغلې او هغوی دا خزانې خرچ کړې.معلومه شوه چې غنيمت د مسلمانانو دپاره دې او دا غنيمت به د مسلمانانو په ضرورتو کښې خرچ کيږی البته تقسيمونکې به د الله تعالی رسول او د دوی مبارك نه پس به د دوی نائب او خليفه وی.ددې حديث تفصيلی تشريح په کتاب الجهاد کښې تيره شوې ده.(۵)

دريم حديث د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه دې.

۲۹۵۳: (۶) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ سَمِعَ جَرِيرًا عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا هَلَكَ كِسْرَى فَلاَ كِسْرَى بَعْدَهُ، وَإِذَا هَلَكَ قَيْصَرُ فَلاَ قَيْصَرَ بَعْدَهُ، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ، لَتُنْفَقَنَّ كُنُوزُهُمَا فِى سَبِيلِ اللَّهِ». [۳۶۱۹، ۶۶۲۹، ۶۲۵۴]

---

(۱) کشف البارى:۱/۴۷۹_۴۸۰)_
(۲) کشف البارى:۲/۱۰_۱۱)_
(۳) کشف البارى:۶۵۹)_
(۴) فتح البارى:۶/۲۲۱،وعمدة القارى:۱۵/۴۱)_
(۵) کشف البارى،کتاب الجهاد:۲/۳۷۹_۳۸۵،باب الحرب خدعة)_
(۶) قوله: عن جابر بن سمرة رضي الله عنه ":الحديث،اخرجه البخارى فى كتاب الانبياء ايضا،باب علامات النبوة فى الاسلام،رقم (۳۶۱۹)،وكتاب الايمان والنذور،باب كيف كانت يمين النبى ﷺ ؟رقم (۶۶۲۹)، ومسلم: كتاب الفتن......باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل......رقم (۷۳۲۷_۷۳۲۹))_

رجال الحديث

① **اسحاق**: دا اسحاق بن ابراهيم بن راهويه رحمه الله دي.
ابوعلي جياني رحمه الله ليكلي دي چې ما يو راوى كله هم د دوى طرفته د نسبت او نسب ذكر كولو سره ليدلي نۀ دي،يعنى دا نۀ معلوميده چې د اسحاق نه څوك مراد دى؟ ليكن وروستو بيا دا حديث شريف مونږ ته هم دې سياق او مضمون سره په مسند اسحاق كښې ملاو شو نو غالب گمان هم دادې چې ددې نه مراد ابن راهويه دې.(۱)
د اسحاق بن راهويه تذكره په كتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم" كښې تيره شوې ده.(۲)
② **جرير**: دا جرير بن عبد الحميد رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب العلم، "باب من جعل لاهل العلم أيامامعلومة" كښې بيان شوې دى.(۳)
③ **عبدالملك**: دا عبد الملك بن عمير كوفى رحمه الله دې.(۴)
④ **جابر بن سمرة**: دا مشهور صحابى حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه دې.(۵) ددې حديث شريف مضمون بعينه هم هغه دې كوم مضمون چې د تيرشوې حديث مبارك وو.
څلورم حديث شريف د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما دې.

۲۹۵۴:(۶) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا سَيَّارٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ الْفَقِيرُ حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « أُحِلَّتْ لِى الْغَنَائِمُ ».[ر: ۳۲۸]

رجال الحديث

① **محمد بن سنان**: دا محمد بن سنان باهلى رحمه الله دې.د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب من سئل علما وهو......" كښې تيره شوې ده.(۷)
② **هشيم**: دا هشيم بن بشير واسطى رحمه الله دې.
③ **سيار**: دا سيار بن ابى سيار وردان واسطى رحمه الله دې.

---

[۱]) فتح البارى:۲۲۱/۶،وشرح الكرمانى:۹٤/۱۳،ومسند اسحاق)_
[۲]) كشف البارى:۴۲۸/۳)_
[۳]) كشف البارى:۲۶۸/۳)_
[۴]) د دوى دحالاتو دپاره اوگورئ، كتاب الاذان،باب اهل العلم والفضل احق بالامامة)_
[۵]) د دوى دحالاتو دپاره اوگورئ، كتاب الاذان،باب وجوب القراءة للامام.....)_
[۶]) قوله: جابر بن عبد الله......":الحديث،مر تخريجه في كتاب التيمم)_
[۷]) كشف البارى:۵۳/۳)_

④ **يزيد الفقير**: دا يزيد بن صهيب كوفى رحمه الله دې چې په الفقير باندې مشهور دې.[1]

⑤ **جابر بن عبدالله**: دا مشهور انصارى صحابى حضرت جابربن عبد الله رضي الله عنهما دې.[2]

دلته امام بخارى رحمه الله د حضرت جابربن عبد الله رضي الله عنه د حديث صرف يوه جمله ذكر كړې ده.دا حديث پوره په كتاب التيمم كښې راغلې دې.په هغې كښې د نبى كريم ﷺ دا ارشاد مبارك دې چې "أعطيت خمساً......"ماته خاص طور سره د الله تعالى له طرفه پنځه څيزونه راكړې شوې دى چې زما نه مخكښې چاته وركړې شوې نۀ وو.لكه د يو مياشت په مسافت (فاصله) باندې د رعب او دبدبې په ذريعې سره زما نصرت كړې شوې دې او ټوله زمكه زما دپاره د مانځه ځائې او د پاكوالى ذريعه ګرځولې شوې ده.نو زما د امت هر سړې چې كوم ځائې كښې هم د مانځه وخت بيامومى نو مونځ دې اوكړى او زما دپاره غنيمتونه حلال كړې شوې دى حالانكه زما نه مخكښې دا غنيمتونه د چا دپاره حلال نۀ وو او ما ته شفاعت راكړې شوې دې او زما نه مخكښې به انبياء كرام ﷺ د يو قوم دپاره خاص طور سره راستولې كيدل او زما راليږل عام طور د ټول انسانيت دپاره شوې دى.[3]

غنيمت او سابقه امتونه: علامه خطابى رحمه الله ليكلې دى چې په تير شوې امتونو كښې به خلق په دوه قسمه وو،يو خو هغه خلق چې هغوى ته په جهاد او قتل وقتال كښې اجازت نۀ وو نو هغوى ته به غنيمت هم نۀ ملاويدۀ او دويم قسم هغه خلق وو چې په قتال كښې خو به شريكيدل ليكن كه هغوى به مال غنيمت حاصل كړو نو ددې هغې خوراك د هغوى دپاره حلال نۀ وو بلكه يو آسمانى اور به راغئ او هغه د غنيمت ټول مال به ئې اوسوزوو.[4]

په غنيمت كښې تصرف،ددې خوراك صرف د محمد ﷺ او د دوى مبارك د امت خصوصيت دې[5] بلكه په قرآن پاك كښې خو دېته حلالاً طيباً وئيلې شوې دې.[6] د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په يو روايت كښې راغلې دى "أطيب كسب المسلم سهمه فى سبيل الله".[7]

---

[1]) د هشيم، سيار او د يزيد الفقير د حالاتو دپاره اوګورئ:كتاب التيمم،باب التيمم)_

[2]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الوضوء،باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين......)_

[3]) اوګورئ، صحيح البخارى،كتاب التيمم،باب التيمم،رقم (۳۳۵))_

[4]) فتح البارى:۴۳۸/۱،واعلام الحديث للخطابى:۳۳۴/۱،كتاب التيمم،رقم (۳۳۵))_

[5]) قال ابن رجب الحنبلى: واما احلال الغنائم له ولامته خاصة،فقد روى ان من كان قبلنا من الانبياء كانوا يحرقون الغنائم،وفى حديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده،عن النبى ﷺ:((واحلت لى الغنائم اكلها، وكان من قبلى يعظمون اكلها،وكانوا يحرقونها))".فتح البارى:لابن رجب:۳۱۵/۱،تحت رقم (۳۳۵)،وحديث عمر بن شعيب اخرجه احمد فى مسنده:۲۲۲/۲،مسند عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه،رقم (۷۰۶۸))_

[6]) قال الله تعالى:(فكلوا مما غنمتم حلالا طيبا) (الانفال:۶۹))_

[7]) اوګورئ، التمهيد لابن عبدالبر:۱۳۴/۳،حديث خامس لربيعة بن عبدالرحمن.....وكنزالعمال:۲۸۵/۴،عن ابن عباس رضي الله عنه،رقم (۱۰۵۶۱)،كتاب الجهاد،والجامع الصغير مع الفيض:۶۹۹/۱،رقم (۱۱۲۳))_

ددې په تشریح کښې علامه مناوی رحمه الله فرمائي:

"أى مايكسبه من غنيمة ولى سلب قتيل ونحوها لان ما حصل بسبب الحرص على نصرة دين الله و نيل درجة الشهادة لا شئ أطيب منه، فهو افضل من البيع وغيره مما مر لانه كسب المصطفى ﷺ وحرفته، الا ترى الى قوله: "وجعل رزقى تحت ظل رمحى" فافضل الكسب مطلقاً سهم الغازى لما ذكر......"(۱)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت واضح دې، کوم چې په دې جمله کښې دې، "أحلت لى الغنائم".

پنځم حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې.

۲۹۵۵ (۲) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « تَكَفَّلَ اللَّهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِي سَبِيلِهِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِهِ وَتَصْدِيقُ كَلِمَاتِهِ، بِأَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ يَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ {مَعَ مَا نَالَ} مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ ». [ر: ۳۶]

رجال الحديث

① **اسماعیل:** دا مشهور محدث اسماعیل بن ابی اویس رحمه الله دې د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب من كره أن يعود فى الكفر كما يكره......" کښې تیره شوې ده.(۳)

② **مالک:** دا امام دارالهجرة حضرت امام مالك بن انس رحمه الله دې. ددوی حالات د "بدء الوحی" په "الحديث الثانی" کښې تیر شوې دی.(۴)

③ **ابو الزناد:** دا ابو الزناد عبدالله بن ذکوان رحمه الله دې.

④ **الاعرج:** دا عبدالرحمن بن هرمز رحمه الله دې. ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب الایمان، "باب حب الرسول....." کښې راغلې ده.(۵)

⑤ **ابوهریره:** د حضرت ابوهریره رضي الله عنه حالات په کتاب الایمان، "باب أمور....." کښې تیر شوې دی.(۶)

---

(۱) فيض القدير شرح الجامع الصغير: ۶۹۹/۱، حرف الهمزة)_

(۲) قوله: عن ابى هريرة رضي الله عنه ": الحديث، مر تخريجه فى كتاب الايمان، باب الجهاد من الايمان، كشف البارى: ۳۰۱/۲)_

(۳) کشف الباری: ۱۱۳/۲)_

(۴) کشف الباری: ۲۹۰/۱، تفصیلی حالاتو دپاره اوګورئ، کشف الباری: ۸۰/۲)_

(۵) کشف الباری: ۱۰/۲_۱۱)_

(۶) کشف الباری: ۶۵۹/۱)_

د حديث شريف ترجمه حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چې نبیﷺ فرمائيلي دی چې الله تعالى د هغې كس ضمانت اخستلې دې څوك چې د هغۀ په لاره كښې جهاد كوى.هغۀ لره د خپل كور نه صرف جهادفی سبيل الله او د الله تعالى د كلماتو تصديق ويستلې وى.چې دې به د شهادت په صورت كښې جنت كښې داخلوى او يا به ئې د غازى كيدو په صورت كښې د خپل كور طرفته واپس كړى،د كوم ځائې نه چې دې تلې وو.هغه اجر او غنيمت سره كوم چې دۀ حاصل كړو(يعنى په دواړو صورتونو كښې دې كامياب دې)

خبرداري:ددې حديث پوره تشريح په كتاب الايمان او كتاب الجهاد كښې تيره شوې ده(۱)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:ددې شريف مناسبت ترجمة الباب سره په دې كلمه كښې دې."اوغنيمة"(۲)

شپږم حديث شريف هم د حضرت ابوهريره رضی الله عنه دې.

۲۹۵۶ :(۳)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الأَنْبِيَاءِ فَقَالَ لِقَوْمِهِ لاَ يَتْبَعْنِي رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا، وَلاَ أَحَدٌ بَنَى بُيُوتًا وَلَمْ يَرْفَعْ سُقُوفَهَا، وَلاَ أَحَدٌ اشْتَرَى غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ يَنْتَظِرُ وِلاَدَهَا. فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ صَلاَةَ الْعَصْرِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ، اللَّهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا. فَحُبِسَتْ، حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَجَمَعَ الْغَنَائِمَ، فَجَاءَتْ - يَعْنِي النَّارَ - لِتَأْكُلَهَا، فَلَمْ تَطْعَمْهَا، فَقَالَ إِنَّ فِيكُمْ غُلُولاً، فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ. فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ. فَلْتُبَايِعْنِي قَبِيلَتُكَ، فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلَيْنِ أَوْ ثَلاَثَةٍ بِيَدِهِ فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ، فَجَاءُوا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ فَوَضَعُوهَا، فَجَاءَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهَا، ثُمَّ أَحَلَّ اللَّهُ لَنَا الْغَنَائِمَ، رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا». [۴۸۶۲]

رجال الحديث

① **محمد بن العلاء**:دا محمد بن العلاء همدانى كوفى رحمه الله دې.ددوى تذكره په كتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم" كښې راغلې ده.(۴)

---

۱) كشف البارى.كتاب الايمان:۲/۳۰۵_۳۱۴.و كتاب الجهاد:۱/۶۸.و:۱۱۲_۱۱۵)_

۲) عمدة القارى:۱۵/۴۲)

۳) قوله: عن ابى هريرة رضی الله عنه:"الحديث اخرجه البخارى،كتاب النكاح،باب من احب البناء قبل الغزو،رقم (۵۱۵۷).ومسلم.كتاب الجهاد.باب تحليل الغنائم لهذه الامة خاصة.رقم (۴۵۵۵))_

۴) كشف البارى:۳/۴۱۳)_

⑩ **ابن المبارک** دا حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله دې د دوی اجمالی تذکره د "بدء الوحی" په الحدیث الخامس "کښې راغلې ده.[1]

⑪ **معمر** دا ابوعروه معمر بن راشد ازدی رحمه الله دې د دوی تذکره هم د "بدء الوحی" په الحدیث الخامس "کښې تېره شوې ده.[2]

⑫ **همام بن منبه** دا د حضرت ابوهریره رضی الله عنه مشهور شاګرد حضرت همام بن منبه رحمه الله دې د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب من حسن اسلام المرء......."کښې تېر شوې دی.[3]

⑬ **ابوهریره** د حضرت ابوهریره رضی الله عنه تذکره په کتاب الایمان، "باب أمور الایمان" کښې تېره شوې ده.[4]

قوله: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: غزا نبي من الانبياء: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې نبی علیه السلام اوفرمائیل چې په انبیاء کرامو کښې یو نبی قتال اوکړو غزا فعل ماضی ده لیکن د مضارع په معنی کښې ده. مطلب دا دې چې د غزوې او د قتال اراده ئې اوکړه.[5]

دا نبی څوک وو؟ د قاضی عیاض، ابن اسحاق[6]، امام حاکم[7] او د جمهور محدثینو او علماء کرامو رائې هم دا ده چې دا نبی حضرت یوشع بن نون علیه السلام وو. چې د بنی اسرائیلو طرفته رالیږلې شوې وو.[8]

د دې تصدیق او تائید د هغه حدیث شریف نه هم کیږی کوم چې امام احمد رحمه الله په خپل "مسند" کښې د هشام عن محمد بن سیرین عن ابی هریره رضی الله عنه د طریق نه نقل کړې دې چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دې: "ان الشمس لم تحبس لبشر الا لیوشع بن نون لیالی سار الی بیت المقدس......"[9] دا حدیث شریف مرفوع هم دې او صحیح هم دې.[10]

---

[1]) کشف الباری:۱/۴۶۲_

[2]) کشف الباری:۱/۴۶۵_

[3]) کشف الباری:۲/۴۲۸_

[4]) کشف الباری:۱/۶۵۹_

[5]) فتح الباری:۶/۲۲۱، وتحفة الباری:۳/۵٤٤_

[6]) عمدة القاری:۱۵/٤۲، وطرح التثریب فی شرح التقریب للعراقی:۶/۱۹۷۶، باب الغنیمة.....)_

[7]) فتح الباری:۶/۲۲۱، والمستدرک للحاکم: ۲/۱۳۹_۱٤۰، کتاب قسم الفیٔ، رقم (۲۶۱۸))_

[8]) فتح الباری:۶/۲۲۱، وعمدة القاری:۱۵/٤۲، وارشاد الساری:۵/۲۰۶، وشرح الابی علی مسلم:۲/۵۸، وتحفة الباری:۳/۵٤٤)_

[9]) مسند احمد:۲/۳۲۵، مسند ابی هریرة، رقم (۸۲۹۸))_

[10]) فتح الباری:۶/۲۲۱)_

ليكن ابن بطال رحمه الله دا واقعه د حضرت داؤد عليه السلام طرفته منسوب كړې ده او د باب د حديث د الفاظو نسبت ئې د هغوى طرفته كړې دې.(۱) ،حافظ وائى چې ماته په هيڅ يو مسند حديث كښې دا خبره ملاو نۀ شوه.البته خطيب بغدادى په خپل تاليف "ذم النجوم" كښې د ابو حذيفه د طريق نه او امام بخارى رحمه الله په "المبتدا" كښې د حضرت على رضي الله عنه د طريق نه يو روايت نقل كړې دې،د هغې خلاصه داده چې د حضرت يوشع عليه السلام قوم د هغوى نه مطالبه اوكړه چې مونږ ته د مخلوقاتو د ابتداء او زمونږ د مقرره وختونو(د مرګ)په باره كښې حال احوال بيان كړئ، هغوى د قوم دا مطالبه پوره كړه،اوس هر سړى ته د خپل مرګ وخت معلوم شوې وو. حالات هم په دې طريقه باندې روان وو تردې چې حضرت داود عليه السلام تشريف راوړلو او هغوى دوى سره(په داسې حال كښې چې دوى كافران شوې وو)د قتال اراده اوكړه او لښكر ئې راوستلو نو دوى هم د حضرت داود عليه السلام د مقابلې كولو دپاره خپل كسان روان كړل ليكن هغه كسان ئې روان كړل چې د كومو خلقو مرګ كښې وخت باقى وو.اوس د جنګ نتيجه دا شوه چې د حضرت داود عليه السلام لښكريان خو شهيدان شو ليكن په دوى كښې څوك هم مړۀ نۀ شو،حضرت داود عليه السلام الله تعالى ته شكايت اوكړو او د الله تعالى نه ئې مدد اوغوښتلو نو الله تعالى په دوى باندې نمر اودرولو چې نمر ډوب نۀ شى،دغه شان ورځ اوږده شوه او په كافرانو باندې شپه ورځ ګډ وډ شو او خپل حساب ترينه هير شو،دغه شان پرې حضرت داود عليه السلام قابو اوموندلو.حافظ ابن حجر رحمه الله ددې روايت د نقل كولو نه پس ليكى:

"واسناده ضعيف جداً،وحديث أبي هريرة المشار اليه عند أحمد أولى فان رجال اسناده محتج بهم في الصحيح،فالمعتمد أنها لم تحبس الاليوشع"(۲)

ايا د نمر اودريدل(نۀ ډوبيدل)صرف حضرت يوشع عليه السلام سره خاص دى؟:د پورتنى تفصيل نه هم دا معلوميږى چې د نمر د اودريدلو واقعه صرف د حضرت يوشع عليه السلام سره شوې وه،د مسند احمد شريف د پورتنى ذكركړه حديث نه حصر معلوميږى، "ان الشمس لم تحبس لبشر الاليوشع بن نون...." ليكن څۀ نور واقعات چې صحيح سندونو سره روايت شوې دى،د هغې نه دا حصر باطل معلوميږى چې دا واقعه صرف حضرت يوشع عليه السلام سره خاص نۀ ده.

لكه ابن اسحاق په "المبتدا" كښې د يحيى بن عروة بن الزبير عن ابيه د طريق نه نقل كړې دى چې كله الله تعالى حضرت موسى عليه السلام ته حكم اوكړو چې بنى اسرائيل ځان سره كړه او د مصر نه اوځئ اوكړئ نو دا حكم ئې هم وركړو چې خپل ځان سره د حضرت يوسف عليه السلام تابوت هم واخلئ.د الله تعالى په حكم سره دوى د حضرت يوسف عليه السلام تابوت تلاش كوو ليكن هغه دوى عليه السلام پيدا نۀ كړې شو،ترډې چې د سحر رڼا په خوريدو شوه نو ددې نه مخكښې حضرت موسى عليه السلام بنى اسرائيلو سره وعده كړې وه چې د صبا په راختلو(طلوع فجر)باندې

(۱) شرح ابن بطال:۱۳۵/۵،باب استئذان الرجل الامام.....)_

(۲) فتح البارى:۲۲۱/۶)_

به روانګې کوو، ددې وجې نه هغوى الله تعالى ته دعا اوکړه چې طلوع فجر هغه وخت پورې مؤخر کړې شي چې کله د يوسف ﷺ د تابوت ذمه دارئ نه فارغ شم نو الله تعالى د هغوى دا دعا قبوله کړه.[1]

ددې نه علاوه د نبى کريم ﷺ په باره کښې د تاريخ مختلفو عالمانو ليکلى دى چې د معراج د شپې په سحر باندې نبى ﷺ د مکې مکرمې قريشو ته اووئيل چې ما ستاسو هغه قافله ليدلې ده کومې چې سره د تجارت مال او سازوسامان دې او هغه قافله به د ورځې په ختميدو باندې ښکاره کيږى ليکن د قافلې د رارسيدلو نه مخکښې نمر په ډوبيدو شو نو نبى ﷺ د الله تعالى په دربار کښې خپل درخواست پيش کړو چې نمر اودرولې شى نو نمر اودرولې شو تردې چې هغه قافله راورسيدله.د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنهما کلمات دادي:

"أن النبى صلى الله عليه وسلم أمر الشمس، فتاخرت ساعة من نهار".[2]

ددې ټولو واقعاتو نه دا خبره معلوميږى چې د نمر اودريدل صرف د حضرت يوشع ﷺ خصوصيت نهٔ دې او په هغوى کښې داخبره منحصر هم نهٔ ده بلکه دغه شان نور واقعات هم شته.

د حصر حديث او د مذکوره واقعاتو مينځ کښې تطبيق: د حضرت موسى ﷺ واقعه بنياد جوړول او بيا د مسنداحمد د حصر والا حديث باندې اشکال کول صحيح نهٔ دى،دا ځکه چې د حضرت يوشع بن نون ﷺ د واقعې تعلق د نمر د ډوبيدو سره دې او د حضرت موسى ﷺ د واقعې تعلق د طلوع فجر سره دې،يعنى هغه د ماښام واقعه ده او دا د سحر واقعه ده.،ددې وجې نه د حضرت يوشع ﷺ دپاره د نمر اودريدل ددې خبرې سره منافى نهٔ دى چې د هغوى نه علاوه د بل چا دپاره د طلوع فجر اودريدل نهٔ وى شوې.[3] هرچه د نبى ﷺ د معراج شريف د واقعې د سحر خبره ده نو د هغې جواب دادې چې د حصر والا په حديث شريف کښې د حصر تعلق د سابقه انبياء کرامو ﷺ سره دې،مطلب دادې چې زمونږ د نبى کريم ﷺ نه وړاندې د نمر اودريدل صرف د حضرت يوشع ﷺ دپاره شوې دى نو په دې کښې ددې خبرې هيڅ نفى نشته چې دنمر اودريدل دهغوى نه پس زمونږ دنبى کريم ﷺ دپاره نهٔ شى کيدې.[4]

امام سدى رحمه الله ددې واقعې په باره کښې فرمائى:

"ان الشمس كادت أن تغرب قبل أن يقدم ذلك العير، فدعا الله عزوجل،فحبسها حتى قدموا كما وصف لهم....فلم تحبس الشمس على أحد الاعليه ذلك اليوم، وعلى يوشع بن نون.......".[5]

---

[1]) پورته حواله،وعمدة القارى:۱۵/۴۳)_

[2]) پورته حواله جات،وحديث جابر اخرجه الطبرانى فى "الاوسط":۴/۲۲۴،باب من اسمه ابراهيم،رقم (۴۰۳۹)، بسند حسن_كما قال الحافظ فى الفتح:۶/۲۲۱،وطرح التثريب:۶/۱۹۷۸واخرجه البيهقى فى دلائل النبوة:۲/۴۰۴،بسنده عن اسماعيل بن عبدالرحمن القرشى،تحت باب الاسراء برسول الله ﷺ من المسجد.....)

[3]) فتح البارى:۶/۲۲۱)_

[4]) پورته حواله)_

[5]) عمدة القارى:۱۵/۴۳،وشرح الابى على مسلم:۲/۵۸)_

د نمر د واپس کیدو واقعات پورته چې کوم واقعات ذکر شو نو ددې تعلق اودریدو سره وو. خواه سحر وی یا ماښام. ددې نه علاوه د تاریخ او د سیر په کتابونو کښې د نمر د واپس کیدو واقعات هم ملاویږی. یعنی هغه واقعات چې په هغې کښې د یو شخصیت دپاره نمر د پریوتلو نه پس دوباره د واپس کیدو تذکره ده. لاندې د هغې واقعاتو تذکره کولې شی

(۱) په دې ضمن کښې د ټولو نه اولنۍ واقعه د حضرت سلیمان علیه السلام په باره کښې مشهوره ده. د قرآن کریم په دې آیتونو کښې د هغې ذکر، د بعضې مفسرینو د وینا مطابق، راغلې دې:

﴿اذعرض علیه بالعشی الصافنات الجیاد، فقال انی احببت حب الخیر عن ذکر ربی حتی توارت بالحجاب، ردوها علی فطفق مسحاً بالسوق والاعناق﴾[1]

ددې آیتونو خلاصه داده چې یو ماښام حضرت سلیمان علیه السلام ته اسونه د کتلو دپاره راوستې شو. دوی مبارک په دې کار کښې دومره قدرې مشغول شو چې د ماز یګر مونځ ترینه پاتې شو او نمر پریوتلو. وروستو ورته خبر اوشو نو دوباره ئې د اسونو د راوستلو حکم اوکړو او په توره باندې ئې د هغوی ښتونه او خپې وهل شروع کړل.[2] دا خلاصه د مشهور تفسیر مطابق ده او په دې کښې د ﴿ردوها﴾ ضمیر د اسونو طرفته راجع کیږی لیکن بعضې مفسرینو (ثعلبی او بغوی وغیره)[3] د دې ضمیر مرجع نمر ښودلې دې او وائی چې سلیمان علیه السلام د نمر د واپس کولو وئیلې وو، د هغوی درخواست قبول کړې شو. نمر واپس کړې شو. دغه شان هغوی د ماز یګر مونځ اوکړو.[4] لیکن د محققینو علماؤ په نزد دا واقعه ثابته نه ده او د جمهورو مفسرینو رائې هم داده چې د ﴿ردوها﴾ ضمیر د مؤنث اسونو طرفته راجع کیږی.

حافظ فرمائی: "أورد هذا الأثر جماعة ساكتين عليه جازمين بقولهم: "قال ابن عباس: قلت لعلی؟" وهذا لا يثبت عن ابن عباس ولا عن غيره، والثابت عن جمهور أهل العلم بالتفسير من الصحابة ومن بعدهم أن الضمير المؤنث فی قوله ﴿ردوها﴾ للخيل، والله أعلم"[5]

البته بعضې مفسرین مذکوره واقعې ته صحیح وائی او دا د حضرت سلیمان علیه السلام معجزه ئې ګرځوی، علامه قرطبی رحمه الله فرمائی:

"قلت ومن قال ان الهاء فی ﴿ردوها﴾ ترجع للشمس، فذلك من معجزاته"[6]

---

[1] سورة ص: ۳۱_۳۳)_

[2] ددې آیتونو د تفسیر دپاره اوګورئ: کشف الباری، کتاب التفسیر، ص: ۵۵۵)_

[3] فتح الباری: ۲۲۲/۶، وتفسیر البغوی: ۶۱/۴، وتفسیر النسفی: ۳۹/۴)_

[4] فتح الباری: ۲۲۲/۶، وعمدة القاری: ۴۳/۱۵)_

[5] فتح الباری: ۲۲۲/۶)_

[6] الجامع لاحکام القرآن للقرطبی: ۱۹۷/۱۵)_

③:ویمه واقعه د حضرت نبی اکرمﷺ ده.قاضی عیاض رحمه الله وغیره فرمانی چې په غزوه خندق کښې په قتال کښې د مشغولیت د وجې نه د نبیﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د مازیگر مونځ پاتې شوې وو.تردې چې نمر پریوتلو نو نبیﷺ په بارګاه الهی کښې خپل درخواست پیش کړو.هغه قبول کړې شوا ونمر واپس کړې شو بیا ټولو د مازیگر مونځ اوکړو دې واقعې ته امام طحاوی رحمه الله صحیح وئیلې دی او راویان ئې ثقه ګرځولې دی (١)

④:ریمه واقعه د حضرت علی رضی الله عنه ده.ددې تخریج امام طحاوی رحمه الله په دوو طریقو سره کړې دې او دواړو طریقو ته ئې صحیح او ثابت وئیلې دی.

حضرت اسماء بنت عمیس رضی الله عنها فرمائی:"کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یوحی الیه، و رأسه فی حجر علی،فلم یصل العصر حتی غربت الشمس،فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم :"صلیت یا علی؟"قال: لا،فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم :"اللهم ،انه کان فی طاعتك وطاعة رسولك،فاردد علیه الشمس".قالت أسماء:فرأیتها غربت،ثم رأیتها طلعت،بعد ما غربت"(٢)

مطلب دا دې چې په رسول الله مبارکﷺ باندې وحی نازلیده او د هغوی سر مبارك د حضرت علی رضی الله عنه په غیږه کښې وو.حضرت علی رضی الله عنه د مازیگر مونځ نه وو کړې او نمر پریوتلې وو.نبیﷺ ترینه تپوس اوکړو چې ائې علی.تاسو مونځ کړې دې؟نو هغوی جواب ورکړو چې نه جی.نبیﷺ د الله تعالی په دربار کښې عرض اوکړو چې ائې الله!دا علی ستا او ستا د رسول په اطاعت او خدمت کښې مشغول وو نو ددهٔ دپاره نمر دوباره واپس کړه.حضرت اسماء وائی چې ما نمر اولیدو نو پریوتلې وو.بیا مې اولیدهٔ نو دا مشاهده مې اوکړه چې هغه د پریوتلو نه پس دوباره راختلې دې.

ددې حدیث شریف په دویم طریق کښې حضرت اسماء رضی الله عنها دا هم فرمائی:

"ثم قام علی،فتوضأ وصلی العصر،ثم غابت،وذلك فی الصهباء فی غزوة خیبر".(٣)

بیا حضرت علی رضی الله عنه پاسیدلو.اودس ئې اوکړو او د مازیگر مونځ ئې اوکړو.بیا نمر

---

(١) ددې تخریج د قاضی عیاض د وینا مطابق امام طحاوی کړې دې لیکن مونږ ته دا حدیث په شرح مشکل الآثار کښې خو ملاو نهٔ شو.حافظ ابن حجر ته هم ددې په نسبت کښې تامل دې لیکن په واقعه باندې هغوی څهٔ تنقید نهٔ دې کړې.غالباً هغوی دا قصه صحیح منی،هم دا حالت د علامه عینی رحمه الله هم دې.هغوی ددې واقعې د نقل کولو نه پس په دې باندې خاموشی اختیار کړې ده. انظر الفتح:۶/۲۲۲،والعمدة:۱۵/۴۳. او علامه ذهبی رحمه الله ددې واقعې تغلیط کړې دې.اوګورئ، تنزیه الشریعة المرفوعة:۱/۳۷۹)_

(٢) شرح مشکل الآثار:۳/۹۲.باب:۱۶۵.بیان مشکل ما روی عن رسول اللهﷺ فی مسالته الله عزوجل ان یرد الشمس......رقم (۱۰۶۷).والمعجم الکبیر للطبرانی:۲۴/۱۵۰_۱۵۲.رقم (۳۹۰_۳۹۱).و روی اوله ابن ابی عاصم فی کتاب السنة:۲۲۶.رقم (۱۳۲۳))_

(٣) شرح مشکل الآثار:۳/۹۲.باب:۱۶۵.بیان مشکل ما روی عن رسول اللهﷺ فی مسالته الله عزوجل ان یرد الشمس......رقم (۱۰۶۸))_

پریوتلو او دا د صهباء د ځائې واقعه ده،د غزوه خیبر ورځې وی.
امام طحاوی رحمه الله ددې حدیث د نقل کولو نه څو صفحې پس لیکی:
"وکل هذه الاحادیث من علامات النبوة.
وقد حکی لی علی بن عبدالرحمٰن بن المغیرة،عن أحمد بن صالح، انه کان یقول: لا ینبغی لمن کان سبیله العلم التخلف عن حفظ حدیث أسماء الذی رواه لنا عنه لانه من أجل علامات النبوة"[1]
چې دا ټول حدیثونه د نبوت د علاماتو نه دی او ماته علی بن عبدالرحمٰن د احمد بن صالح قول نقل کولو سره اوفرمائیل چې هغوی به فرمائیل چې د هیڅ یو عالم دپاره هم دا مناسب نۀ دی چې هغه د حضرت اسماء رضی الله عنها ددې حدیث نه اجتناب اوکړی ځکه چې دا حدیث د نبوت د لویو علاماتو نه دې.
ددې نه علاوه حافظ ابن حجر،علامه عینی،امام قرطبی،امام ابوالفضل عراقی او د هغوی جلیل القدرځوئی ابوزرعه عراقی رحمهم الله وغیره هم دې حدیث اودې واقعې ته صحیح وئیلې دی[2]
لیکن بل طرفته بعضې محدثینو دا حدیث موضوع او باطل ښودلې دې چې په هغوی کښې ابن الجوزی[3]،ابن تیمیه[4]،ذهبی[5]،ابن کثیر[6]،ابن عساکر او جوزقانی رحمهم الله [7] په شان امامان شامل دی.[8] امام ابن تیمیه رحمه الله خو ددې حدیث په بنیاد باندې امام طحاوی رحمه الله د ډیر سخت تنقید نشانه ګرځولې ده او وائی چې دۀ ته د احادیثو د تللو او د هغې د سندونو د صحت او د کمزورتیا په معلومولو کښې څۀ زیات مهارت حاصل نۀ وو.[9]
امام طحاوی او حدیث رد الشمس لعلی: هرچه د امام طحاوی رحمه الله مناقب او صفات دی نو د هغې د بیانولو خو دا موقع نۀ ده،پاتې شو حدیث د حضرت علی رضی الله عنه دپاره د نمر د واپس کیدو والا،او په دې بنیاد باندې امام طحاوی د تنقید نشانه ګرځول،دا خو بالکل صحیح نۀ دی.ددې وجه دا ده چې ددې حدیث نقل کونکې صرف حضرت امام طحاوی رحمه الله نۀ دې،

---

[1]) پورته حواله،ص :۹۷_۹۸)_
[2]) الفتح:۲۲۲/۶،والعمدة:۴۳/۱۵،وطرح التثریب التقریب:۱۹۷۸/۶_۱۹۷۹،وتفسیر القرطبی: ۱۹۷/۱۵،۱۹۷، وایضا صححه القاضی عیاض فی الشفاء:۱۷۷/۱،والخفاجی فی شرحه نسیم الریاض للشفاء:۳۸۳/۳_۳۸۶،القسم الاول،فصل انشقاق القمر وحبس الشمس)_
[3]) کتاب الموضوعات:۳۶۶/۱،باب فی فضائل علی رضی الله عنه،الحدیث الحادی عشر،فی ردالشمس له)_
[4]) منهاج السنة النبویة: ۱۸۹/۴/۴،فصل،قال الرافضی.....التاسع،رجوع الشمس له.....)_
[5]) تنزیه الشریعة المرفوعة:۳۷۹/۱،الفصل الثانی،رقم (۱۰۴))_
[6]) البدایة والنهایة لابن کثیر:۸۱/۶)_
[7]) الاباطیل والمناکیر:۱۵۸/۱،بحواله تعلیقات شرح مشکل الآثار:۹۳/۳)_
[8]) فتح الباری:۲۲۲/۶،وتعلیقات شرح مشکل الآثار:۹۳/۳)_
[9]) منهاج السنة لابن تیمیة: ۱۸۹/۴)_

بلکه د طبراني(۱)، بيهقي(۲)، او د امام حاکم(۳) په شان محدثين هم دا حديث روايت کوي(۴).
ددې وجې نه دا حديث بالکل رد کول ممکن نهٔ دی.
هم دا وجه وه چې د حافظ ابن حجر رحمه الله په شان جليل القدر د حديث رد کوونکې هم دا د نبی کريم ﷺ معجزه بنودلو سره فرمائی:

"وقد أخطأ ابن الجوزي بإيراده له في "الموضوعات"، وكذا ابن تيميه في "كتاب الرد على الروافض" في زعم وضعه، والله أعلم"(۵).

ابن تيميه چې په امام طحاوي رحمه الله کوم تنقيد کړې دې نو ددې جواب علامه کوثري مصري ورکړې دې چې ددې الزام بنياد دادې چې امام طحاوي د "رد الشمس لعلي" حديث صحيح ګرځولې دې او د اخبره د ابن تيميه د خيال خلاف ده، ابن تيميه دا د روافضو شرارت ګنړي. دا د عناد نه سوا هيڅ نهٔ دی ځکه چې نورو ډيرو محدثينو هم ددې حديث شريف تصحيح کړې ده، خواه ابن تيميه په دې باندې خوشحاله وی يا خفه(۶) والله أعلم بالصواب

قوله: فقال لقومه: لا يتبعني رجل ملك بضع امرأة وهو يريد أن يبني بها، ولما يبن بها..: نو حضرت يوشع عليه السلام خپل قوم ته اووئيل چې ماسره دې داسې سړې سفر نهٔ کوي چې هغهٔ اوس اوس(تازه) نکاح کړې وی او خپلې بی بی ته تلل غواړی ځکه چې اوسه پورې هغه ورغلې نهٔ دې.

حضرت يوشع عليه السلام د جهاد دپاره د روانيدو نه مخکښې يو اعلان اوکړو چې داسې قسم خلق دې ماسره په سفر کښې نهٔ ځی، چې هغوی اوس اوس نکاح کړې وی او بی بی سره ئې ملاقات شوې نهٔ دې او غواړی چې زما ملاقات ورسره اوشی.

"بضع" د باء ضمې سره لوستلې شی او ددې معنی نکاح ده، دغه شان ددې معنی شرمګاه او جماع هم راځی او دلته درې واړه معنې صحيح دی، دغه شان ددې لفظ اطلاق په مهر او په طلاق باندې هم کيږی، جوهري د ابن السکيت نه د بضع معنی نکاح نقل کړې ده،

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني: ۲۴/۱۵۰_۱۵۲، حديث اسماء بنت عميس، رقم (۳۹۰_۳۹۱)، وايضا اخرجه السيوطي في الخصائص الكبرى: ۲/۸۲، باب ردالشمس بعد غروبها)_

(۲) لم اجده في مطبوعاته، والله اعلم بالصواب)_

(۳) لم اجده فقي مطبوعاته، والله اعلم بالصواب)_

(۴) فتح الباري: ۶/۲۲۱)_

(۵) فتح الباري: ۶/۲۲۲)_

(۶) الحاوي في سيرة الامام الطحاوي، ص: ۱۳، ددې بحث سره متعلق د مزيد وضاحت او تفصيل دپاره اوګورئ، نسيم الرياض في شرح الشفاء للقاضي عياض: ۳/۳۸۳_۳۸۶، وتعليقات حمدي عبد المجيد على المعجم الكبير: ۲۴/۱۴۸_۱۵۱، رقم (۳۹۰_۳۹۱))_

یقال: "مالك فلان بضع فلانة".(۱)

"ولما یبن بها" کښې "لما" جازمه د "لم" په معنیٰ کښې ده لیکن د لما په ذریعې سره ترینه تعبیر اوکړې شو چې هغه ددې خبرې توقع هم لرې چې ورته د زفاف موقع به ملاو شی لکه سعید بن المسیب عن ابی هریره رضی الله عنه د طریق نه چې کوم روایت امام نسائی او ابو عوانه او ابن حبان(۲) نقل کړې دې، د هغې الفاظ دادی:

"لایتبعنی رجل بنی دارًا لم یسکنها اوتزوج امرأة ولم یدخل بها"(۳)

بیا چې د عدم دخول کوم قید لګولې شوې دې ددې نه دا معلومیږی چې د دخول نه پس به معامله ددې برعکس وی او ددې دواړو خبرو مینځ کښې چې کوم فرق دې نو هغه پټ نه دې. اګرچه د دخول نه پس هم د بعضې خلقو زړونه په کورونو کښې بانډه وی لیکن بهرحال هغه حالت به نۀ وی کوم چې د دخول نه مخکښې وی ځکه چې په دې صورت کښې خو به ذهن باندې بس ښځه سوره وی.(۴) والله اعلم

قوله: ولا أحد بنی بیوتاً ولم یرفع سقوفها: نۀ داسې سړې چې هغۀ کور جوړ کړې وی لیکن د هغې چت ئې اچولې نۀ وی.

مطلب دادې چې داسې سړې دې هم ماسره په سفر کښې نۀ ځی چې د کور په جوړولو او تعمیر کښې مشغول وی او د هغې نه مکمل فارغ شوې نۀ وی بلکه څۀ کار باقی پاتې وی. د مسلم شریف(۵) او د مسند احمد(۶) په روایت کښې د سقوفها په ځائې سُقُفها راغلې دې، دواړه صیغې د جمع دې، دغه شان د شیخینو او د مسند احمد روایتونه به خپل مینځ کښې په معنیٰ کښې موافق شی، حافظ رحمه الله د سین فتحه او د قاف سکون سره ضبط وهم ګرځولې دې(۷) په دې صورت کښې به لفظ مفرد وی.

قوله: ولا أحد اشتری غنما أو خلفات وهو ینتظر ولادها: نۀ داسې سړې چې هغۀ چیلۍ یا حاملې اوښې اخستلې وی او د هغې د لنګون انتظار کوی

د خلفات معنوی تحقیق: خلفات. بفتح الخاء المعجمة وکسر اللام وفتح الفاء د خلفة جمع ده، حاملې

---

(۱) الصحاح للجوهری:۹۵،مادۃ "بضع"،فتح الباری:۶/۲۲۲،وعمدۃ القاری:۱۵/۴۳،وارشاد الساری:۵ /۲۰۶، وطرح التثریب:۶/۱۹۷۶)_

(۲) صحیح ابن حبان:۸/۱۴۹،کتاب السیر،باب الغنائم وقسمتها،ذکر تحلیل الله......رقم (۴۷۸۷))_

(۳) فتح الباری:۶/۲۲۲)_

(۴) پورته حواله،وارشاد الساری:۵/۲۰۶)_

(۵) صحیح مسلم،کتاب الجهاد،باب تحلیل الغنائم لهذه الامة خاصة،رقم (۴۵۵۵))_

(۶) مسند الامام احمد:۲/۳۱۸،مسند ابی هریرة رضی الله عنه ،رقم (۸۲۲۱))_

(۷) فتح الباری:۶/۲۲۲،وطرح التثریب:۶/۱۹۷۷)_

اوښې ته ونیلې شی.البته بعضې وخت کښې د اوښې نه علاوه په نورو څناورو باندې هم ددې اطلاق کیږی.(۱)

او کلمه د او چې د غنماو خلفات مینځ کښې ده،دا د تنویع دپاره ده.بیا دلته غنماً مطلق ذکر کړې شوې دې او ددې صفت حمل غالباً حذف کړې شوې دې.ددې وجه یا خو داده چې دویمه کلمه یعنی خلفات په دې باندې دلالت کوی.په دې صورت کښې د غنما ترجمه به هم داوی چې حامله چیلۍ دویمه وجه دا هم کیدې شی چې غنم دلته مطلق دې د څهٔ زیاتی وصف نه بغیر.یعنی صرف چیلۍ.په دې صورت کښې به ددې د مطلق بیانولو توجیه دا وی چې په چیلۍ کښې د برداشت ماده کمه وی،دا ډیره زر ویریږی.دغه شان ددې د ضائع کیدو ویره وی.په خلاف د اوښې دلته خو د حمل د ضائع کیدو ویره وی چې چرته حمل ضائع نهٔ شی.څکه چې په عربو کښې د نومې اوښې اهمیت وو.(۲)

بعضې شارحینو"او" د شك دپاره ګرځولې دې لیکن حافظ صاحب رحمه الله فرمائی چې دا صرف د یو احتمال په درجه کښې ده.معتمد د تنویع دپاره کیدل دی څکه چې د ابویعلی(۳) محمد بن العلاء نه د روایت الفاظ دا دی."ولا رجل له غنم أو بقر أو خلفات"دلته خو دا او په تنویع باندې صراحةً دلالت کوی(۴)او ولادد ولد یلد ولادة مصدر دې.د واو کسرې سره.(۵)

ددې کسانو د منع کولو حکمت:څنګه چې تاسو اوکتل چې حضرت یوشع علیه السلام درې قسمه خلق خپل څان سره د تلو نه منع کړل او وې فرمائیل."لایتبعنی......"نو ددې حکمت دا وو چې په جهاد کښې به د هغوی توجو تقسیم شوې وه،ذهن به ئې په دغه کارونو کښې انختې وو.ددې وجې نه مهلب رحمه الله فرمائی چې په دې حدیث شریف کښې ددې خبرې دلیل دې چې ددنیا فتنې انسان لره بې صبره او بې حواسه کوی،مثلاً هغه سړې چې نزدې وخت کښې ئې وادهٔ کړې وی،د خپلې بی بی سره د نزدیکت خواهشمند هم وی،د هغې د دیدار کولو مشتاق وې نو داسې سړې که چرته جهاد ته هم لاړ شی نو ددهٔ زړهٔ به د واپس کیدو په فکر کښې وی(۶)

---

(۱) فتح الباری:۲۲۲/۶،وعمدة القاری:۴۳/۱۵)_
(۲) فتح الباری:۲۲۲/۶،وطرح التثریب:۱۹۷۷/۶)_
(۳) لم اجده فی مسند ابی یعلی،وانما عزاه الیه الحافظ رحمه الله،فی الفتح:۲۲۲/۶)_
(۴) فتح الباری:۲۲۲/۶)_
(۵) پورته حواله،وطرح التثریب:۱۹۷۷/۶)_
(۶) وضاح بن اسماعیل خپلې محبوبې ته په خطاب کولو کښې دا مضمون په دې بیتونو کښې بیان کړې دې.

ذرنیی ما امن بنات نعش — من الطیف الذی ینتاب لیلا
ولکن ان اردت فهیجینا — اذا رمقت باعینها سهیلا (دیوان الحماسة ۱۰۹)

شيطان به دې د عبادت نه بې فكره كړي په كوم عبادت كښې چې دې مشغول دې او دده په زړه كښې به ويره واچوي هم دا حال د دنيا د نور ساز و سامان دې.(۱)

او امام نووي رحمه الله فرمائى چې ددې حديث شريف نه د اخبره معلومه شوه چې اهم امور د داسې كسانو په ذمه باندې لګول پكار دى چې فارغ وي، ددې كارونو دپاره وخت وركولې شي، اهم كارونه دداسې كسانو په ذمه باندې لګول پكار نۀ دى چې د هغوى زړۀ ددې كارونو نه علاوه په نورو كارونو كښې مشغول وي ځكه چې دغه كارونه به ددۀ عزم كمزورې كړي اوكوم كوشش چې دې كوى نوپه هغې كښې به دغه نور كارونه د نقصان سبب وي.(۲) او علامه ابى رحمه الله په شرح مسلم كښې فرمائى چې زياته واضحه خبره داده چې دا حديث د "لا يقضى القاضى وهوغضبان" د قبيل نه دې لكه دا د تنقيح مناط (۳) باب نه دې.....او د حديث شريف مطلب دادې چې ماسره دې داسې هيڅ يو سړې هم رانۀ شى چې د هغۀ زړۀ په بله څۀ معامله كښې مشغول وي.(۴) ياد ساتئ چې مذكوره حكم په هغه صورت كښې دې چې كله جهاد فرض كفايه وي ورنه د فرض عين كيدو په صورت كښې چې كله نفيرعام شى نو د هر سړي دپاره وتل ضروري دي، البته كه حاكم وقت د څۀ مصلحت د وجې نه څوك منع كړي نو جدا خبره ده.

فغزا: نو د غزوې دپاره روان شو.

يعنى هغه كسان ئې ځان سره كړل كوم كسانو كښې چې دا مذكوره صفات نۀ وو د كومو ذكر چې حضرت يوشع عليه السلام كړې وو.(۵) چې "لايتبعنى رجل......" او جهاد دپاره روان شو.

قوله: فدنا من القرية صلاة العصر أو قريباً من ذلك: نو هغوى كلى ته نزدې شو د مازيګر په وخت كښې يا مازيګر ته نزدې

د كلى نه مراد (اريحا) (۶) د عبرانئ ژبې لفظ دې، د حضرت نوح عليه السلام په نسل كښې د يو سړي اريحا بن مالك بن ارفحشذ بن سام بن نوح طرفته ددې ښار نسبت كولو سره دې ته اريحا وئيلې شى، دا د شام په ښار أردن (ن صبا مستقل مملكت دې) په نشيب كښې واقع وو، ددې

---

(۱) شرح ابن بطال: ۲۷۷/۵، وفتح البارى: ۲۲۳/۶، وطرح التثريب: ۱۹۷۶/۶)_

(۲) شرح النووى على مسلم: ۸۵/۲، ومثله فى فتح البارى: ۲۲۳/۶_۲۲۴، وشرح الكرمانى: ۹۶/۱۳)_

(۳) وتنقيح المناط عند الاصوليين: هو النظر والاجتهاد فى تعيين ما دل النص على كونه علة من غير تعيين، بحذف ما لا مدخل له فى الاعتبار مما اقترن به من الاوصاف، و ذلک مثل قول النبى صلى الله عليه وسلم للاعرابى الذى قال: هلكت يا رسول الله_ما صنعت؟.....انظر الموسوعة الفقهية: ۷۷/۱۴، مادة تنقيح المناط)_

(۴) شرح الابى على مسلم: ۵۸/۵، احاديث اباحة الغنائم لهذه الامة.....)_

(۵) فتح البارى: ۲۲۲/۶)_

(۶) اريحا_بالفتح، ثم الكسر، وياء ساكنة، والحاء المهملة، والقصر_

او د بيت المقدس مينځ كښې د يو ورځ مشكل غريز سفر فاصله ده،دا د حموى د زمانې خبره ده،دلته جبارين قوم آباد وو،چې د هغوى ذكر په قرآن كريم كښې هم راغلې دې﴿قالوا يموسى ان فيها قوما جبارين.....﴾ (المائدة:۲۲) اوګوره معجم البلدان:۱/۱۶۵،مادة "اريحا"_ ښار دې،دلته د ښار نه په قريه سره تعبير كړې شوې دې،امام حاكم رحمه الله[1] چې كوم روايت د حضرت كعب رضي الله عنه نه نقل كړې دې،په هغې كښې ددې كلى نوم اريحا راغلې دې.[2]

د مسلم شريف په روايت كښې "فادنى للقرية"[3] راغلې دې،په دې صورت كښې به مطلب دا شى چې هغوى خپل لښكر اريحا ښار ته نزدې كړو.[4]

جبابره قوم سره د حضرت يوشع عليه السلام جهاد: د باب په حديث شريف كښې چې د كوم جهاد او قتال ذكر دې نو دا د جبابره قوم يا د جبارينو خلاف وو،ابن اسحاق وائى چې كله حضرت موسى عليه السلام وفات شو اوددې واقعې څلوېښت كاله تيرشو نوحضرت يوشع عليه السلام بنى اسرائيلو ته پيغمبر راواستولې شو او هغوى بنى اسرائيلو ته اووئيل چې اوس زۀ د الله تعالى نبى يم او ماته الله تعالى جبابره قوم سره د جهاد كولو حكم كړې دې.نو بنى اسرائيلو ددوى تصديق اوكړو،په دوى ئې ايمان راوړو او د دوى په لاس ئې بيعت اوكړو.نو حضرت يوشع عليه السلام بنى اسرائيل ځان سره د اريحا طرفته بوتلل،دوى سره د ميثاق تابوت[5] هم وو.هلته په رسيدلو سره دوى د اريحا ښار محاصره اوكړه او دا محاصره شپږو مياشتو پورې جارى وه.

د اوومې مياشتې په شروع كښې د حضرت يوشع عليه السلام ملګرو په يوځائې حمله اوكړه چې د هغې د وجې نه د جبارينو ټول قوم اوويريدۀ،په هغوى كښې وارخطائى خوره شوه او د ښار د پناه والا ديوال پريوتۀ.دغه شان دوى داخل شو او جبابره ئې ښۀ قتل كړل،دا د جمعة المبارك ورځ وه او د جبابره څۀ خلق ژوندى وو او جنګيدل،په دې دوران كښې نمر پريوتل شروع شو او د هفتې شپه په داخليدو شوه،په دې شپه كښې د دوى دپاره د قتال او د ښكار وغيره ممانعت وو،ددې صورت حال په ليدلو سره حضرت يوشع عليه السلام ته ويره شوه چې چرته مونږ كمزورې نۀ شو او جنګ د هفتې ورځې ته اونۀ رسى نو ددې وجې نه هغوى د الله تعالى

---

[1]) المستدرك للحاكم:۲/۱٤٠،كتاب قسم الفئ،رقم (۲۶۱۸)،والمعجم الاوسط للطبرانى:۶/۳۵۳،من اسمه محمد،رقم (۶۶۰۰))_

[2]) فتح البارى:۶/۲۲۲)_

[3]) صحيح مسلم،كتاب الجهاد،باب تحليل الغنائم لهذه الامة خاصة،رقم (٤۵۵۵))_

[4]) فتح البارى:۶/۲۲۲،وطرح التثريب:۶/۱۹۷۸)_

[5]) د ميثاق د تابوت نه مراد هغه تابوت دې په كوم كښې چې سكينه،د حضرت موسى او هارون عليهما السلام همسا او د هغې تختو لرګى وو كومې چې حضرت موسى عليه السلام د خپل قوم د غوا د بچى په عبادت باندې د ليدلو په وخت كښې ماتې كړې وې،دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول دې. هناك اقوال اخرى ايضا،انظر تفسير القرطبى:۳/۲٤۹)_

په دربار عالیه کښې دعا اوکړه، "اللهم اردد الشمس علی......"(١)

قوله: فقال للشمس: انك مامورة، وأنا مامور، اللهم احبسها علینا، فحبست حتی فتح الله علیهم: نو حضرت یوشع علیه السلام نمر ته په خطاب کولو کښې اووئیل چې ته هم مامور ئې او زهٔ هم مامور یم. ائې الله! دا نمر زمونږ دپاره اودرئ نو نمر اودرولې شو تردې چې الله تعالی هغوی ته په جبابره قوم باندې فتح نصیب کړه.

مطلب دادې چې کله یوشع علیه السلام اولیدل چې نمر پریوځی او دشمن تردې وخته پورې پوره ختم شوې نهٔ دې نو هغوی نمر ته خطاب اوکړو او وې فرمائیل چې ته هم مامور ئې او زهٔ هم مامور یم، تا ته د عام عادت مطابق د پریوتلو دپاره د الله تعالی حکم دې او ما ته دا حکم دې چې د "هفتې" په ورځ جنګ اونهٔ کړم لکه د حاکم په روایت کښې ددې سبب هم موجود دې، حضرت کعب رضی الله عنه فرمائی:

"انه وصل الی القریة وقت عصر یوم الجمعة، فکادت الشمس أن تغرب ویدخل اللیل"(٢)

د وانا مامور هم دا معنی ده او د دواړو مامورانو مینځ کښې هم دا فرق دې چې جماداتو ته امر ته د تسخیر(مسخر کیدو) دې او عاقلانو ته امر د تکلیف(مکلف کیدو) دې.(٣)

نمر ته د خطاب کولو حقیقت: دلته حضرت یوشع علیه السلام چې نمر ته کوم خطاب اوکړو نو دا یا په حقیقت باندې محمول دې چې الله تعالی په نمر کښې دا صلاحیت پیدا کړې وو چې په هغه کښې تمیز او ادراك راغلې وو او د حضرت یوشع علیه السلام په خبرو باندې پوهیدلو. یا دا په مجاز باندې محمول دې چونکه دا خبره هغوی ته معلومه شوه چې نمر د خپل عام عادت نه اړول صرف د خرق عادت په طور باندې ممکن دی، ددې وجې نه هغوی په زړهٔ کښې ددې خبرې سوچ اوکړو چې تهٔ هم مامور ئې او زهٔ هم مامور یم، ددې نه پس هغوی په ژبې سره اوفرمائیل چې، "اللهم احبسها علینا"

حافظ رحمه الله فرمائی(٤) چې د دویم احتمال تائید د هغې روایت نه هم کیږی کوم چې د حضرت سعید بن المسیب رحمه الله نه روایت دې، په هغې کښې دی:

"اللهم، انها مامورة، وانی مامور، فاحبسها علی، حتی یقضی بینی وبینهم، فحبس الله علیه"(٥)

"ائې الله! دې هم مامور دې، زهٔ هم مامور یم نو دې د ډوبیدو نه بند کړه، تردې چې زما او د جبابره قوم مینځ کښې څهٔ فیصله اوشی نو الله تعالی نمر د ډوبیدو نه منع کړو." ددې روایت

---

١) عمدة القاری:٤٣/١٥، وکتاب الاسماء المبهمة:٣٣٢/٥)_
٢) لم اجدها فی المستدرک، وانما قاله الحافظ:٢٢٢/٦)_
٣) فتح الباری:٢٢٣/٦)_
٤) پورته حواله، وانظر کذلک طرح التثریب:١٩٧٨/٦)_
٥) صحیح ابن حبان:١٤٩/٨، کتاب السیر، باب الغنائم وقسمتها......رقم (٤٧٨٧))_

نه د "وانا مامور" د ارشاد وضاحت کیږی(۱)بهرحال دواړه احتمالات ممکن دی او راجح دویم احتمال دې والله اعلم

د باب په روایت کښې "اللهم احبسها علینا" راغلې دې کوم چې مطلق دې او د امام احمد په روایت کښې مقید راغلې دې چې "اللهم احبسها علی شیئاً" چې دا نمر هغه وخت پورې منع کړې کوم وخت پورې چې زمونږ ضرورت دی چې هغه پوره شی او ښار فتح شی.(۲)

د نمر منع کیدو په کیفیت کښې اختلاف: لکه څنګه چې په روایت کښې راغلې دی چې نمر د ډوبیدو نه منع کړې شو لیکن ددې کیفیت څۀ وو؟په دې کښې د حدیث د عالمانو اختلاف دې،په دې سلسله کښې راجح قول هغه دې کوم چې ابن بطال رحمه الله وغیره اختیار کړې دې چې د نمر حرکت رو شوې وو.د هارون بن یوسف امادی په ترجمه کښې راغلې دی چې دا واقعه د حزیران په میاشت(غالباً جون)کښې په څوارلسم تاریخ باندې پیښه شوې وه.دا ورځ ډیره اوږده وی.(۳) (په انګریزی میاشتو کښې د جون ۲۲ تاریخ د کال په ورځو کښې د ټولو نه اوږده ورځ وی،کیدې شی چې دا هم دغه ورځ وی)والله اعلم

قوله: فجمع الغنائم،فجاءت ـ یعنی النار ـ لتاکلها،فلم تطعمها: نو حضرت یوشع علیه السلام غنیمتونه جمع کړل دې دپاره چې هغه یعنی اور راشی او دا اوخوری لیکن هغې اور غنیمتونه اوم نۀ څکل(خوړل خو لرې خبره ده)

"یعنی النار" جمله تفسیریه ده،دا د یو راوی له طرفه ده،په دې کښې د جاءت د فاعل وضاحت کړې شوې دې.بیا دلته "فلم تطعمها" وئیلې شوې دې او لم تاکلها نۀ دې وئیلې شوې څکه چې لتاکلها سره به موافقت شوې وو نو دا مبالغه ده څکه چې د طعم معنی ده څکل او د اکل معنی ده خوړل،مطلب دادې چې راتلونکی اور د غنیمتونو نه څکل هم اونۀ کړل،خوړل خو لرې خبره ده،ددې وجې نه ددې جملې "فلم تطعمها" معنی د لم تذق طعمها ده،ددې مثال په قرآن کریم کښې هم موجود دې.(۴)

ارشاد مبارك دې:﴿ومن لم یطعمه فانه منی﴾چې حضرت طالوت علیه السلام بنی اسرائیلو ته اووئیل چې کوم کس دې نهر ته د اوبو څکلو دپاره لاس نزدې نۀ کړی نو هغه زما ملګرې دې او څوك چې ددې خلاف کار اوکړی نو هغۀ سره زما هیڅ تعلق نشته

---

(۱) فتح الباری:۲۲۳/۶_

(۲) بورته حواله،والمسند للامام احمد:۳۱۸/۲،مسند ابی هریرة (۸۲۲۱)_

(۳) فتح الباری:۲۲۳/۶،وابن بطال:۲۷۸/۵،والکرمانی:۹۶/۱۳،وطرح التثریب:۱۹۷۸/۶_

(۴) البقرة ۲۳۹)_

قوله: فقال: ان فيكم غلولاً: نو حضرت يوشع عليه السلام اوفرمائيل چې بيشكه په تاسو خلقو كښې غلول دي

غلول د غنيمت په مال كښې خيانت كولو ته وئيلې شى.[1]

قوله: فليبايعني من كل قبيلة رجل فلزقت يد رجل بيده فقال: فيكم الغلول،فليبايعني قبيلتك،فلزقت يد رجلين أو ثلاثة بيده،فقال: فيكم الغلول: نو د هرې قبيلې نه دې يو سړې زما په لاس باندې بيعت اوكړي نو د يو سړي لاس د هغوى لاس پورې انختلو،وې فرمائيل چې خيانت هم تاسو خلقو كړې دې،ددې وجې نه اوس دې ستاسو قبيله زما په لاس باندې بيعت اوكړى.نو د دوو يا دريو كسانو لاسونه انختل،يوشع عليه السلام اوفرمائيل چې خيانت هم تاسو خلقو كړې دې.

د **فلزقت** نه مخكښې دواړو ځايونو كښې حذف دې،چونكه د كلام سياق په دې باندې دلالت كوى، ددې وجې نه دا جمله حذف كړې شوه،يعنى **فبايعوه** چې هغوى بيعت اوكړو......نو دا واقعه پيښه شوه،[2]دلته په روايت كښې "**رجلين او ثلاثة**"راغلې دې،د ابويعلى[3]په روايت كښې "**رجل او رجلين**"دې.د بيعت دوران كښې د څو كسانو لاس انختۀ نو په دې كښې شك دې، البته د سعيد بن المسيب رحمه الله په روايت كښې يقين سره "**رجلين**"راغلې دې،[4] چې د دوو كسانو لاس انختلې وو.[5]

ابن المنير رحمه الله فرمائى چې د هغوى په وخت كښې د خيانت معلومولو طريقه هم دا وه.[6]

---

[1]) عمدة القارى:۴۳/۱۵،وفتح البارى:۲۲۳/۶،وشرح الكرمانى:۹۶/۱۳)_

[2]) فتح البارى:۲۲۳/۶)_

[3]) لم اجده فى مسند ابى يعلى،وانما قاله الحافظ فى الفتح)_

[4]) صحيح ابن حبان:۱۴۹/۸،كتاب السير،باب الغنائم وقسمتها......رقم (۴۷۸۷))_

[5]) فتح البارى:۲۲۳/۶)_

[6]) يوه عجيبه واقعه:دلته علامه قسطلانى رحمه الله يو واقعه ذكر كړې ده،كومه چې د مستند او ثقه راويانو نه روايت ده،فرمائى چې په مدينه منوره كښې يو حمام وو،په هغې كښې به ښځو ته غسل وركولې شو،هغې كښې يو ځل يو ښځه راوستلې شوه،هغې ته غسل وركولې شو چې يو بله ښځه تخت ته راغله او اودريدله او مرده ښځې ته ئې اووئيل ائې زناكارې او د هغې ښځې په شرم ګاه ئې لاس هم اووهلو چې په هغې ځائې باندې وينختلو،هغې ښځې او نورو ښځو ډيرې چغې اووهلې چې په څۀ طريقې سره دا لاس لرې شى ليكن داسې اونۀ شو.دا معامله د مدينې منورې والى ته بيان كړې شوه نو هغوى د مدينې منورې فقهاؤ سره مشوره اوكړه نو يو كس رائې وركړه چې لاس دې ترينه كټ كړې شى.دويم اووئيل چې د مړې ښځې ددغه ځائې نه دې غوښه كټ كړې شى ځكه چې بهرحال د مړ انسان په مقابله كښې د ژوندى حرمت زيات دې.د مدينې منورې والى اووئيل چې ترڅو ما د ابوعبيد(امام مالك)سره مشوره كړې نۀ وى نو هيڅ قسم حكم جارى كولې نۀ شم نو د امام مالك طرفته قاصد واستولې شو نو هغوى اوفرمائيل چې مۀ د ښځې لاس كټ كوئ ..... [بقيه برصفحه آئنده...

نو کوم کس چې به خیانت گر او دهوکه باز وو نو د بیعت کولو په وخت به د هغهٔ لاس انختلو په دې کښې به دې خبرې طرفته اشاره وه چې په دې لاس باندې د بل چا څهٔ حق دې چې ددهٔ نه اخستل پکار دی.یا دا داسې لاس دې چې دا وهل پکار دی او ددې لاس مالک خائن لره قید کول پکار دی.تردې چې مذکوره حق خپل مالك ته واپس کړی.دا د هغې جنس نه دې د کوم ذکر چې په روایتونو کښې هم راغلې دې چې په قیامت کښې به لاس د خپل مالك خلاف گواهي ورکوی.(۱)

"فیکم الغلول"نه پس د سعید بن المسیب رحمه الله په روایت کښې د هغې دوارو د جرم قبلول هم مذکور دی چې هغې دوارو اووئیل فقالا:اجل،غللنا"(۲)

قوله: فجاؤا برأس مثل رأس بقرة من الذهب،فوضعوها،فجاءت النار فاكلتها: نو هغوی د سرو زرو یو سر راوړو چې د غوا د سر برابر وو،هغه ئې کیخودلو، اور راغئ او هغه غنیمت ئې اوخوړهٔ.

مطلب دادې چې هرکله په هغوی باندې جرم ثابت شو نو هغوی د غوا د سر برابر یو سر راوړو چې د سرو زرو جوړ کړې شوې وو،هغه ئې راوړلو او نورو غنیمتونو سره ئې کیخودلو،اوس چونکه غنیمت مکمل راغئ نو راتلونکې اور هغه ټول غنیمت اوخوړلو کوم چې د قبولیت علامت وو.لکه څنگه چې وړاندې تیر شو چې د تیر شوې امتونو او انبیاء کرامو علیهم السلام خصوصیت دا وو چې په یو فراخه ځائې کښې به ئې غنیمت جمع کړو،د آسمان نه به اور راغئ او هغه به ئې اوسوزوو او که په هغې کښې به څهٔ قسم خیانت وو یا داسې څیز به ووچې حلال به نهٔ وو نو اوربه هغې ته هیڅ هم نهٔ وئیل اودا به د نهٔ قبلیدو علامت گنړلې شو.

دا حال د هغوی د قربانو هم وو،د څناور د قربانی کولو نه پس به اور راغئ او هغه به ئې اوسوزوو کوم چې به د الله تعالی په نزد قبول وو او چې کوم به قبول نهٔ وو نو هغه به په خپل

...بقیه ازحاشیه گذشته]او مهٔ غوښه کټ کوئ، زما خیال خو دادې چې دا مړه او وفات شده ښځه په خپل حد کښې خپل حق غواړی،دې الزام لگوونکې ښځې(قاذفه)ته حد اولگوئ.نو د هغوی په مشوره باندې عمل کولو سره د مدینې منورې والی په هغې ژوندۍ ښځې باندې حد جاری کړو،چې کله یو اتیا کوړې ورکړې شوې نو لاس هم هغه شان انختلې وو لیکن څنگه چې ورته اتیایمه کوړه ورکړې شوه او د حد قذف نصاب پوره شو نو د هغې ښځې لاس هم د مړې ښځې د بدن نه جدا شو!!!

علامه قسطلانی رحمه الله ددې واقعې د نقل کولو نه پس لیکی: فاما أن يكون مالك رحمه الله اطلع على هذا الحديث.فاستعمله بنور التوفيق فى مكانه،و اما أن يكون وفق،فوافق:

وقد كان الزاق يدالغال بيد يوشع تنبيها على أنها يد عليها حق يطلب أن يتخلص منه،أو دليلاً على أنها يد ينبغي أن يضرب عليها،ويحبس صاحبها،حتى يؤدى الحق الى الامام،وهو من جنس الشهادة اليد على صاحبها يوم القيامة"اوگورئ ارشاد السارى:۲۰۷/۵)_

(۱) فتح الباري:۲۲۳/۶،وبمثله قال ابن بطال.انظر شرحه:۲۷۸/۵)_

(۲) پورته حواله جات،وصحيح ابن حبان:۱۴۹/۸،كتاب السير،باب الغنائم......رقم (۴۷۸۷))_

حالت باندې باقی پاتې شو او اور به هغې ته هیڅ هم نه ورنیل.(۱)

قوله: ثم أحل الله لنا الغنائم، رأی ضعفنا وعجزنا، فاحلها لنا: بیا الله تعالی زمونږ دپاره غنیمتونه حلال کړل. هغه زمونږ عجز او کمزورئ ته او کتل نو دا ئې زمونږ دپاره حلال کړل یعنی الله تعالی امت محمدیه سره د شفقت معامله اوکړه او په حکم کښې ئې تخفیف او سپکوالې اوکړو او غنیمتونه ئې د امت محمدیه ﷺ دپاره حلال کړل. اوس دا امت غنیمت مالونه خوړلې شی او دا ددې امت خصوصیت دې.

د نسائی شریف(۲)په روایت کښې راغلي دی ”فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم عند ذلك: ان الله أطعمنا الغنائم رحمة رحمنا بها، وتخفیفاً وخففه عنا“(۳)

جمله د ”رأی ضعفنا وعجزنا“ جمله تعلیلیه او سببیه ده، په دې کښې د امت محمدیه ﷺ دپاره غنیمتونه حلال ولې او ګرځولې شو، ددې خبرې علت او سبب په کښې بیان کړې شوې دې. د سعید بن المسیب رحمه الله په روایت کښې نور هم وضاحت دې. په هغې کښې دی. ”لما رأی من ضعفنا“(۴)په دې جمله کښې دې خبرې طرفته هم اشاره ده چې د الله تعالی په وړاندې عاجزئ اظهار کول د فضل او د انعام سبب جوړیږی.(۵)

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف عناسبت په دې جمله کښې دې. ”ثم أحل الله لنا الغنائم“(۶)

⑨ باب: الغنیمة لمن شهد الوقعة

د ترجمة الباب مقصد: دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد د ائمه ثلثه مذهب لره راجح ګرځول دی هغوی دا وائی چې کوم خلق په جهاد کښې شریك وی نو هغوی ته به د غنیمت په مال کښې حصه ملاویږی او کوم کسان چې شریك نه وی نو هغوی ته به په کښې حصه نه ملاویږی. بیا چې امام بخاری رحمه الله کومو الفاظو سره ترجمه قائمه کړې ده نو هغه د حضرت عمر رضی الله عنه د یو اثر الفاظ دی. چې هغوی د حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه ته د هغوی په تپوس کولو باندې راستولې وو. ددې نه ائمه ثلثه په خپل مذهب باندې استدلال کوی(۷)

---

(۱) عمدة القاری: ۱۵/۴۳_۴۴. وشرح ابن بطال: ۵/۲۷۸. وطرح التثریب: ۶/۱۹۷۹)_

(۲) سنن النسائی الکبری: ۶/۳۵۲. کتاب التفسیر. الانفال. قوله تعالی: (حلالا طیبا). رقم (۱۱۲۰۹))_

(۳) فتح الباری: ۶/۲۲۳. وعمدة القاری: ۱۵/۴۴. وشرح الکرمانی: ۱۳/۹۶)_

(۴) سنن النسائی: ۶/۳۵۲. کتاب التفسیر........ قوله تعالی: (حلالا طیبا). رقم (۱۱۲۰۹). ومسند احمد: ۳/۲۳۲. مسند ابی هریرة من روایة همام بن منبه. رقم (۸۱۸۵) و: ۳/۲۳۸. رقم (۸۲۲۱))_

(۵) فتح الباری: ۶/۲۲۳)_

(۶) عمدة القاری: ۱۵/۴۴)_

(۷) فتح الباری: ۶/۲۲۴)_

دا اثر امام عبدالرزاق صنعانی رحمه الله موصولاً په خپل مصنف کښې نقل کړې دې.(۱) د دې نه علاوه امام بیهقی رحمه الله هم دا اثر مختلف طرق سره نقل کړې دې او د دې په پس منظر بیانولو کښې ئې یوه واقعه هم لیکلې ده. لکه طارق بن شهاب رحمه الله فرمائی:

"ان أهل البصرة غزوا أهل نهاوند(۲) فأمدوهم بأهل الكوفة، وعليهم عمار بن ياسر، فقدموا عليهم بعد ما ظهروا على العدو، فطلب أهل الكوفة الغنيمة، وأراد أهل البصرة أن لا يقسموا لأهل الكوفة من الغنيمة، فقال رجل من بنى تميم لعمار بن ياسر: أيها الاجدع، تريد أن تشاركنا فى غنائمنا؟ قال: وكانت أذن عمار جدعت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم، فكتبوا الى عمر بن الخطاب، رضى الله عنه، فكتب اليهم عمر: "ان الغنيمة لمن شهد الوقعة"(۳)

چې "اهل بصره اهل نهاوند سره جنګ اوکړو. د هغوی د مدد دپاره اهل کوفه روان شو او د دوی امیر حضرت یاسر رضی الله عنه وو. اهل کوفه میدان جنګ ته هغه وخت اورسیدل چې کوم وخت کښې اهل بصره په دشمن باندې غالب شوې وو. نو اهل کوفه په غنیمت کښې خپله حصه اوغوښتله او د اهل بصره خواهش دا وو چې اهل کوفه مونږ سره په تقسیم کښې شریك نهٔ شی، نو په بنوتمیم کښې یو سړی حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه ته په خطاب کښې اووئیل...... آیا تاسو زمونږ په غنیمتونو کښې نور خلق شریکول غواړئ......؟ نو هغې خلقو صورت حال حضرت عمر رضی الله عنه ته واستوو. او د حل باره کښې ئې پوښتنه اوکړه نو حضرت عمر رضی الله عنه په جواب کښې اوفرمائیل چې د غنیمت حقدار هغه دې څوك چې په جنګ کښې شریك شوې وی".

د اصل مسئلې طرفته د تللو نه مخکښې په دې باندې ځان پوهه کړئ چې د غنیمت د استحقاق دپاره څو شرطونه دی، کوم چې لاندې ذکر کولې شی:

① مستحق صحیح او سالم وی، بیمار نهٔ وی. مطلب دادې چې د جنګ کولو صلاحیت لری، ګډ، شل او نابینا وغیره نهٔ وی.

② دارالحرب کښې دې د قتال په نیت سره داخل شوې وی، خواه وروستو بیا په جنګ کښې حصه واخلی یا وانخلی لیکن مقصد ئې قتال او دشمن سره جنګیدل وی.

③ سړې وی، په غنیمت کښې د ښځو څهٔ حصه نشته، اګرچه په جنګ کښې شرکت اوکړی.

④ مسلمان وی، کافر دپاره دغنیمت په مال کښې څهٔ نشته اګرچه په جنګ کښې شریك وی.(۴)

---

۱) مصنف عبدالرزاق: ۵/۳۰۲_۳۰۳، کتاب الجهاد، باب لمن الغنيمة؟ رقم (۹۶۸۹)_

۲) د نهاوند غزوې سره متعلق تفصيل به په کتاب الجزية، باب ما الجزية کښې راشی_

۳) السنن الكبرى للبيهقى: ۹/۸۶، کتاب السير باب الغنيمة لمن شهد الوقعة، رقم (۱۷۹۵۳_۱۷۹۵۴)، وايضا عند ابن ابى شيبة: ۱۸/۴۹، کتاب السير، باب من قال: ليس له شئ اذا......رقم (۳۳۹۰۰)_

۴) الموسوعة الفقهية: ۳۱/۳۳۱_۳۱۲، وبدائع الصنائع: ۲/۹۵۰، کتاب السير، فصل فى احكام الغنائم وما يتصل بها، وحاشية الدسوقى: ۲/۵۰۴، باب فى الجهاد، والمغنى: ۸/۲۰۸_۲۰۹_

د باب د حديث شريف مسئله: امام بخاري رحمه الله چې د كومې مسئلې د تشريح دپاره دلته دا باب قائم كړې دې نو د هغې تعلق پورته ذكر شوې دويم شرط سره دې او د مسئلې صورت دادې چې كه د جنګ ختميدو نه پس يو سرې يا يو لښكر د جنګ ميدان ته راورسى نو آيا ددۀ به په غنيمت كښې حصه وى يا نۀ؟

نو ددې دوه صورتونه دى، يو اتفاقى دې او دويم صورت اختلافى دې.

اتفاقى صورت دادې چې مذكوره سړې يا لښكر د جنګ ميدان ته داسې وخت كښې اوراسى چې جنګ هم ختم شوې وى او د غنيمت د تقسيم عمل هم پوره شوې وى نو ددۀ په غنيمت كښې څۀ حصه نشته. او اختلافى صورت دادې چې جنګ خو ختم شوې وى ليكن د غنيمت د تقسيمولو نه مخكښې دا سړې يا دا لښكر ميدان جنګ ته اورسى نو د احنافو په نزد به دا سړې په غنيمت كښې شريك وى، دوى ته به هم حصه ملاويږى او د جمهورو په نزد به دوى ته په غنيمت كښې هيڅ هم نۀ ملاويږى(۱) د جمهورو دليل د حضرت عمار رضي الله عنه هغه واقعه ده كومه چې اوس تيره شوه چې حضرت عمر رضي الله عنه په خپل خط كښې "الغنيمة لمن شهد الوقعة" ليكلې وو. او د دوى دويم دليل د بخارى شريف او ابوداؤد شريف د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث دې، "أن النبى صلى الله عليه وسلم بعث أبان بن سعيد بن العاص فى سرية قبل نجد، فقدم أبان بعد فتح خيبر، فلم يسهم له"(۲)

د احنافو دليلونه: په دې مسئله كښې د احنافو دليلونه ډير زيات دى، په هغې كښې مونږ يو څو دلته ذكر كوو.

① امام ابويوسف رحمه الله خپل سند سره د حضرت عمر رضي الله عنه په باره كښې روايت كړې دى چې هغوى حضرت سعد رضي الله عنه ته خط اوليكۀ چې "قد أمددتك بقوم، فمن أتاك منهم قبل أن تفنى القتلى، فأشركه فى الغنيمة"(۳) يعنى: "زۀ د امداد په طور يو لښكر ستاسو طرفته درليږم، د مقتولينو د ختميدو نه مخكښې چې په هغوى كښې څوك هم تاسوته دراورسى نو هغه په غنيمت كښې شريك كړئ".

② حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د حضرت عكرمه بن ابى جهل په سردارئ كښې د پنځو سوو كسانو يو لښكر د ابواميه او د زياد بن لبيد بياضى د مدد دپاره روان كړو، دا جماعت دوى ته هغه وخت اورسيدۀ كله چې هغوى "نجير"(۴) فتح كړې وو نو هغوى دغه راتلونكې جماعت

---

۱) الموسوعة الفقهية: ۳۱/۳۱۱، غنيمة، شروط استحقاق الغنيمة)_

۲) الحديث، اخرجه البخارى فى الجهاد، باب الكافر يقتل المسلم......رقم (۲۸۲۷)، والمغازى، باب غزوة خيبر، رقم (۴۲۳۷، و۴۲۳۹)، وابو داود فى سننه، كتاب الجهاد، باب فيمن جاء بعد الغنيمة لا سهم له، رقم (۲۷۲۳_۲۷۲۴))_

۳) التلخيص الحبير: ۳/۱۰۸، والمغنى: ۹/۲۱۰، واعلاء السنن: ۱۲/۱۱۸)_

۴) قال الحموى: النجير:......حصن باليمن_قرب حضر موت_منيع، لجا اليه اهل الردة....[بقيه برصفحه آئنده

هم خپل خان سره په غنيمت كښې شريك كړو.[1]

د ائمه ثلثه د دليلونو جوابونه د هغوى اولنې دليل د "الغنيمة لمن شهد الوقعة والا اثر وو، ددې نه استدلال كول د څو وجوهاتو په بناء صحيح نۀ دې، هغه وجوهات لاندې ذكر كولې شى:

① ددې اثر په وقف او رفع كښې اختلاف دې او ددې موقوف كيدل راجح دى.[2]

② احناف هم د حضرت عمر رضي الله عنه د اثر نه استدلال كوى، چونكه اوس د هغوى نه روايت شده روايتونو كښې تعارض راغلې نو ددې وجې نه دا حديث د احنافو خلاف حجت جوړيدې نۀ شى.

③ احناف ددې اثر مطلب دا اخلى چې په جنګ كښې څوك د قتال په نيت سره شريك شوې وى نو هغۀ ته به غنيمت كښې حصه ملاويږى، اوس ددۀ نيت د قتال وو يا نۀ وو نو ددې پته به څنګه لګى نو ددې دوه طريقې كيدې شى چې هغه د جهاد يا قتال دپاره د وتلو اظهار اوكړى، دهغې دپاره تيارې اوكړى او ددې عملى مظاهره هم اوكړى چې په جهاد كښې شريك شوې دې. دويم صورت دادې چې ددۀ وتل خو په بل څۀ غرض سره وو ليكن هلته تلو سره په جهاد كښې هم شريك شو لكه د اسونو په خيال ساتلو وغيره باندې مامور سړې، نو دۀ ته به دې صورت كښې په غنيمت كښې حصه ملاويږى چې په قتال كښې هم شريك شوې وى، صرف په ميدان جنګ كښې ددۀ موجود كيدل د غنيمت د حاصلولو دپاره كافى نۀ دى.[3]

د ائمه ثلثه دويم دليل د حضرت ابان بن سعيد بن العاصى رضي الله عنه واقعه ده، ددې واقعې نه ددې حضراتو استدلال كول ددې وجې نه صحيح نۀ دى چې دا د خيبر واقعه ده كوم چې فتح كيدو سره په دارالاسلام كښې بدل شوې وو او د باب د مسئلې تعلق د دارالحرب سره دې، په دارالاسلام كښې دغه شان مدد دپاره رارسيدونكو خلقو ته په اتفاق سره په غنيمت كښې حصه نۀ وركړې كيږى.[4]

دويم طرفته هم دې خيبر سره متعلق د حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه واقعه ده كومه چې وړاندې راځى،[5] په هغې كښې دا راغلې دى چې كله هغوى د خپل قوم ملګرو سره چې

...بقيه ازحاشيه گذشته] مع الاشعث بن قيس فى ايام ابى بكر، رضي الله عنه، فحاصره زياد بن لبيد البياضى، حتى افتتحه عنوة، وقتل من فيه، واسر الاشعث بن قيس، وذلك فى سنة ١٢للهجرة......"انظر معجم البلدان:٥/٢٧٢، باب النون والجيم)_

[1]) التلخيص الحبير:١٠٨/٣، والسير الكبير:١١٢/٣، مع شرحه للسرخسى، باب كيفية قسمة الغنيمة.....رقم الباب (١٠٥)، واللاستزادة انظر اعلاء السنن:١١٨/١٢_١٢٨)_

[2]) اعلاء السنن:١٢٠/١٢، كتاب السير، باب اذا لحق عسكر الاسلام مدد.......والهداية مع البناية: ١٤٣/٧، كتاب السير، باب الغنائم وقسمتها)_

[3]) اعلاء السنن:١٢١/١٢، وفتح القدير:٢٢٦/٥_٢٢٧، كتاب السير، باب الغنائم وقسمتها)_

[4]) اعلاء السنن:١٢١/١٢)_

[5]) الحديث، اخرجه البخارى فى فرض الخمس، باب ومن الدليل على ان الخمس.....[بقيه برصفحه آئنده...

دهغوی تعداد پنځوس زره وو او د حضرت جعفربن ابی طالب رضی الله عنه ملګرو. کوم چې نجاشی سره مقیم وو. سره د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو نو دا عین هغه وخت وو کوم وخت چې نبی ﷺ د خیبر د فتح کولو نه فارغ شوې وو. نو نبی ﷺ دوی هم په غنیمت کښې شریک کړل او ددې حضراتو نه علاوه هغه کسان ئې په غنیمت کښې شریک نه کړل کوم کسان چې په دغه موقع باندې حاضر نه وو.

یو طرفته دا حدیث دې او دویم طرفته د حضرت ابان رضی الله عنه واقعه. په دې دواړو کښې چونکه ظاهری تعارض دې نو ددې وجې نه د جمع بین الروایات طریقه اختیارولو سره احناف هم دا وائی چې د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه واقعه د غنیمت د تقسیمولو نه مخکښې ده او د حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه د واقعې تعلق د غنیمت د تقسیم نه پس وخت سره دې. په دې باندې د حدیث دا الفاظ واضح دلالت کوی چې. "تقدم ابان بعد فتح خیبر......"(۱) او د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه الفاظ خو دادی. "فوافيناه حين افتتح خيبر......"(۲) ددې وجې نه احناف حضرات د تفریق قائل دی او د دوی په مذهب کښې په دواړو واقعاتو باندې عمل کیږی.(۳) والله اعلم بالصواب

ددې نه پس د باب حدیث شریف ته اوګورئ.

۲۹۵۷:(۴) حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ عُمَرُ - رضى الله عنه لَوْلاَ آخِرُ الْمُسْلِمِينَ مَا فُتِحَتْ قَرْيَةٌ إِلاَّ قَسَمْتُهَا بَيْنَ أَهْلِهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - خَيْبَرَ. [ر: ۲۲۰۹]

رجال الحدیث

① صدقة: دا ابوالفضیل صدقه بن الفضل مروزی رحمه الله دې. ددوی تذکره په کتاب العلم، "باب العلم والعظة بالليل" کښې تیره شوې ده.(۵)

② عبدالرحمن: دا عبدالرحمن بن مهدی بصری رحمه الله دې.(۶)

...بقیه ازحاشیه ګذشته] لنوائب المسلمين ما سال هوازن......رقم (۳۱۳۶))_

(۱) الحديث اخرجه البخاری، وابو داود، مر تخريجه آنفا)_

(۲) صحيح بخاری، كتاب فرض الخمس، باب ومن الدليل على ان الخمس......رقم (۳۱۳۶))_

(۳) اعلاء السنن: ۱۲/۱۲۲، دغه شان اوګورئ، کشف الباری، كتاب المغازی: ۴۴۷_۴۴۸)_

(۴) قوله: قال عمر رضی الله عنه ": الحديث، مر تخريجه فی كتاب الحرث والمزارعة، باب اوقاف اصحاب النبی ﷺ وارض الخراج.....)_

(۵) کشف الباری: ۴/۳۸۸)_

(۶) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الصلاة، باب فضل استقبال القبلة)_

(۳) **مالک:** دا امام دار الهجرة مالك بن انس رحمه الله دې د دوى حالات په "بدء الوحى" كښې راغلي دى.[1]

(۴) **زيد بن اسلم:** دا زيد بن اسلم رحمه الله دې د دوى ترجمه په كتاب الايمان، "باب كفران العشير....." كښې راغلي ده.[2]

(۵) **اسلم:** دا ابوخالد اسلم رحمه الله دې چې د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه مولى دې.[3]

(۶) **عمر:** د حضرت عمر رضي الله عنه حالات د بدء الوحى په "الحديث الاول" كښې تير شوې دى.[4]

قال عمر رضى الله عنه: لولا آخر المسلمين ما فتحت قرية الا قسمتها بين أهلها، كما قسم النبى صلى الله عليه وسلم خيبر.

حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې كه د راتلونكې (آئنده) مسلمانانو خيال نۀ وو نو هر يو كلې يا ښار فتح كولو نه پس به مې د هغې اوسيدونكو كښې تقسيمولو لكه څنګه چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د خيبر زمكې سره كړې وو.

د بخارى شريف په روايت كښې دا اثر ډير اختصار سره راغلې دې، د ابن ابى شيبه په روايت كښې نور هم تفصيل دې. اسلم فرمائى:

"**سمعت عمر يقول: "والذى نفس عمر بيده، لولا أن يترك آخر الناس لا شئ لهم، ما افتتح على المسلمين قرية من قرى الكفار الا قسمتها سهمانا كما قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم خيبر سهمانا، ولكنى أردت أن تكون جزية تجرى عليهم وكرهت أن يترك آخر الناس لا شئ لهم**".[5]

دې حديث شريف سره متعلق تفصيل به په كتاب الحرث والمزارعة كښې راشى.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ابن المنير رحمه الله فرمائى چې په ترجمه او د باب په حديث كښې څۀ مناسبت نشته، دا ځكه چې ترجمه د **الغنيمة لمن شهد الوقعة** ده او په باب كښې چې كوم حديث ذكر كړې شوې دې نو د هغې مضمون د ترجمة الباب خلاف دې، په دې كښې خو ددې ذكر دې چې غنيمت د عامو مسلمانانو دپاره وقف دې او په مجاهدينو كښې به نۀ تقسيمېږى، بلكه د آئنده راتلونكې مسلمانانو د مصلحتونو دپاره به وقف كيږى او تاسو خو وئيل چې غنيمت صرف د مجاهدينو دپاره وى، په دې كښې د بهر خلقو حصه نۀ وى نو دلته خوخبره په عكس شوه؟

ددې اشكال جواب هم ابن المنير رحمه الله وركړې دې چې ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت په دې جمله كښې دې، "**كما قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم خيبر**"

---

[1]) كشف البارى:۱/ ۲۹۰، الحديث الثانى، تفصيل دپاره اوګورئ، كشف البارى:۲/ ۸۰_

[2]) كشف البارى:۲/ ۲۰۳)_

[3]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الزكاة، باب هل يشترى صدقته؟)_

[4]) كشف البارى:۱/ ۲۳۹)_

[5]) المصنف لابن ابى شيبة:۱۷/ ۵۱۰، كتاب السير، فى قسمة ما يفتح......رقم (۳۳۶۴۸))_

په دې کښې امام بخاری رحمه الله د غنیمت فوراً د تقسیمولو ترجیح طرفته اشاره کړې ده چې غنیمت فوراً تقسیمول پکار دی، ځنګه چې نبی ﷺ اوکړل لکه د نبی ﷺ دا کار ددې خبرې دلیل دې چې په موقع باندې کوم کس حاضر نهٔ وی نو په موجوده غنیمت کښې به د هغهٔ هیڅ حق نهٔ وی، ددې وجې نه خو فوری د تقسیم عمل اختیارولې شی.اوس چې کوم کس بالکل په جنګ کښې شریک نهٔ وی نو هغهٔ ته خو په طریقه اولی سره حصه ملاویدل پکار نهٔ دی.(۱) والله اعلم

دا د امام بخاری او د ائمه ثلثه رائې ده،وړاندې تفصیل تیر شوې دې،دواړو طرفونو ته دلیلونه دی،البته د احنافو د مذهب په سلسله کښې څهٔ فراخی شته کوم چې د سابقه تفصیل نه وضاحت سره معلومیږی.

⑩ بَابُ: مَنْ قَاتَلَ لِلْمَغْنَمِ،هَلْ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ؟

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد دلته دا بیانول دی چې یو سړې د غنیمت په نیت سره قتال کوی نو ددهٔ څهٔ حکم دې؟په دې قتال باندې دهٔ ته اجر ملاویږی یا نهٔ؟که اجر ملاویږی نو څومره به ملاویږی؟پوره یا ناقص؟

په دې مسئله کښې د عالمانو اختلاف دې.یو رائې د جمهورو ده او یو مؤقف د بعضې حضراتو دې.ظاهراً خو دا معلومیږی چې ددې سړی اجر به کم شی لیکن جمهور علماء دا فرمائی چې دې سره هیڅ فرق نهٔ پریوځی.اوګورئ کله چې د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړې شو چې یو سړې د غنیمت دپاره قتال کوی او دویم د بهادرئ دپاره او دریم د ریاکارئ دپاره نو په دوی کښې فی سبیل الله کوم یو دې؟نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل،"من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله"نبی ﷺ دا ئې اونهٔ فرمائیل چې که ددهٔ نیت د غنیمت وی نو دې په فی سبیل الله کښې داخل نهٔ دې.

اوس یو سړې د اعلاء کلمة الله دپاره قتال کوی او ورسره ورسره ئې په زړهٔ کښې د مال غنیمت خیال هم دې نو دې به د کال او د پوره اجر مستحق وی او ددهٔ په اجر کښې به هیڅ کمې نهٔ راځی.امام ابن جریر طبری رحمه الله د امت د جمهور عالمانو نه هم دا نقل کړې دی.(۲) دغه شان علامه قاضی ابوبکر ابن العربی رحمه الله هم په احکام القرآن کښې ددې وضاحت کړې دې(۳)

ددې حضراتو دلیل هغه روایت دې کوم چې امام ابوداؤد رحمه الله په خپل "سنن" کښې نقل کړې دې،حضرت عبدالله بن حواله رضی الله عنه فرمائی:

"بعثنا رسول الله صلی الله علیه وسلم لنغنم علی أقدامنا، فرجعنا، فلم نغنم شیئاً، وعرف الجهد فی وجوهنا،

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۲۵)_

(۲) فتح الباری:۶/۲۸،وهو قول ابن المنیر کذلک.انظر فتح الباری:۶/۲۲۶)_

(۳) احکام القرآن لابن العربی:۲/۳۸۳،سورة الانفال.الآیة:۷.المسالة الثالثة)_

فقام فینا، فقال: اللهم، لا تکلهم الی فاضعف منهم، ولا تکلهم الی انفسهم فیعجزوا منها، ولا تکلهم الی الناس فیستاثروا علیهم"(۱)

نبی کریم ﷺ مونږ د غنیمت د وصولولو دپاره په پیدل لښکر کښې واستولو لیکن مونږ واپس شو او مونږ ته څۀ غنیمت ملاو نۀ شو(یعنی په مقصد کښې کامیاب نۀ شو)نبی ﷺ زمونږ د مخونو نه زمونږ په مشقت او تکلیف باندې پوهه شو نو د خطبې دپاره(د تسلئ په طور)اودریدلو، په خطبه کښې ئې اوفرمائیل، ائې الله!دوی ماته مۀ حواله کوه ځکه چې زۀ د دوی د مدد او نصرت کولو نه عاجز یم، نۀ دوی خپلو ځانونو ته حواله کړې چې دوی به د خپل نصرت او مدد نه عاجز راشی او مۀ دوی هغه خلقو ته حواله کړې چې هغه خلق په دوی باندې خپلو ځانونو ته ترجیح ورکړی"

په دې حدیث شریف کښې وضاحت دې چې نبی ﷺ دا حضرات د غنیمت د مال د حاصلولو دپاره لیږلي وو، ددې نه معلومه شوه چې اعلاء کلمة الله سره که د مال غنیمت نیت هم وی نو بیا هم په اجر کښې څۀ کمې نۀ واقع کیږی.(۲)

۲۹۵۸:(۳) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِي رضي الله عنه قَالَ قَالَ أَعْرَابِي لِلنَّبِي صلى الله عليه وسلم الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَ، وَيُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، مَنْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَالَ «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»[ر ۱۲۳]

رجال الحدیث

① **محمد بن بشار**: دا محمد بن بشار رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یتخولهم......" کښې تیره شوې ده.(۴)

② **غندر**: دا محمد بن جعفر رحمه الله دې چې په "غندر" باندې مشهور دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې راغلي دی.(۵)

③ **شعبه**: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبة بن الحجاج بصری رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب المسلم من سلم المسلمون......" کښې راغلې ده.(۱)

---

[۱]) سنن ابی داود، کتاب الجهاد، باب فی الرجل یغزو: یلتمس الاجر والغنیمة، رقم (۲۵۳۵)_

[۲]) فتح الباری: ۲۹/۶)_

[۳]) قوله: ابو موسی الاشعری رضي الله عنه ": الحدیث، مر تخریجه فی کتاب العلم، باب من سال وهو قائم عالما جالسا. کشف الباری: ۵۱۰/۴)_

[۴]) کشف الباری: ۲۵۸/۳)_

[۵]) کشف الباری: ۲۵۰/۲)_

④ **عمرو**: دا عمرو بن مره رحمه الله دې.(١)

⑤ **ابووائل**: دا مشهور تابعی ابو وائل شقیق بن سلمه رحمه الله دې.د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب خوف المؤمن من أن یحبط عمله......" کښې بیان کړې شوې دی.(٢)

⑥ **ابوموسٰی اشعری**: د حضرت ابوموسٰی اشعری(عبد الله بن قیس) رضي الله عنه حالات په کتاب الایمان، "باب أی الاسلام أفضل؟" کښې راغلي دی.(٣)

خبرداري: د باب د حدیث شریف تشریح وړاندې په کتاب العلم،(٤) او کتاب الجهاد،(٥) کښې تیره شوې ده.

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: دلته ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت د علامه عینی رحمه الله د وینا مطابق په "الرجل یقاتل للمغنم" کښې دې.(٦)

⑪ باب: قسمة الامام مایقدم علیه، ویخبالمن لم یحضره أوغاب عنه

د ترجمة الباب مقصد: علامه ابن المنیر رحمه الله فرمائی چې په خلقو کښې چې دا مشهوره شوې ده چې "الهدیة لمن حضر" چې هدیه به صرف هغه چا ته ملاویږی څوك چې په مجلس کښې شریك وی.امام بخاری رحمه الله د دې خبرې تردید کوی او دا فرمائی چې کوم خلق موجود نه وی او امام د هغوی دپاره هدیه اوساتی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته.(٧)

لیکن د ابن المنیر رحمه الله دا رائې بې ځایه او بې محله ده،دا ددې وجې نه چې امام بخاری رحمه الله دا وئیل غواړی چې امام المسلمین ته کوم مال د کافرانو نه حاصل شی لکه مال د غنیمت، مال فئ او جزیه وغیره نو امام ته په دې کښې پوره اختیار حاصل دې،چرته چې مناسب ګنړی نو خرچ کولې شی،په حاضرینو کښې تقسیمول غواړی نو په حاضرینو کښې دې تقسیم کړی او که د حاضرینو نه علاوه په غائب خلقو کښې تقسیمول غواړی نو هغوی ته دې ورکړی،چاته چې غواړی نو ورکولې شی.علامه عینی رحمه الله فرمائی: "حاصل المعنی یقسم

---

(١) کشف الباری:١/٦٧٨)_

(٢) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الاذان،باب تسویة الصفوف عند الاقامة وبعدها)_

(٣) کشف الباری:٢/٥٥٩)_

(٤) کشف الباری:١/٦٩٠)_

(٥) کشف الباری:٤/٥١١_٥١٥)_

(٦) کشف الباری،کتاب الجهاد:١/١٧٣_١٧٥،باب من قاتل لتکون کلمة الله.....)_

(٧) عمدة القاری:١٥/٤٥)_

(٨) فتح الباری:٦/٢٢٦،والمتواری علی تراجم ابواب البخاری:١٩١)_

مایقدم علیه بین الحاضرین والغائبین، بان یعطی شیئاً للحاضرین، ویخبا شیئاً للغائبین"(۱)

۲۹۵۹ (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أُهْدِيَتْ لَهُ أَقْبِيَةٌ مِنْ دِيبَاجٍ مُزَرَّرَةٌ بِالذَّهَبِ، فَقَسَمَهَا فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَعَزَلَ مِنْهَا وَاحِدًا لِمَخْرَمَةَ بْنِ نَوْفَلٍ، فَجَاءَ وَمَعَهُ ابْنُهُ الْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ، فَقَامَ عَلَى الْبَابِ فَقَالَ ادْعُهُ لِي. فَسَمِعَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - صَوْتَهُ فَأَخَذَ قَبَاءً فَتَلَقَّاهُ بِهِ وَاسْتَقْبَلَهُ بِأَزْرَارِهِ فَقَالَ «يَا أَبَا الْمِسْوَرِ، خَبَأْتُ هَذَا لَكَ، يَا أَبَا الْمِسْوَرِ، خَبَأْتُ هَذَا لَكَ». وَكَانَ فِي خُلُقِهِ شِدَّةٌ.

رجال الحدیث

① **عبدالله بن یوسف:** دا ابومحمد عبدالله بن عبدالوهاب حجبی رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب لیبلغ الشاهد الغائب" کښې تیره شوې ده.(۳)

② **حماد:** دا حماد بن زید بن درهم رحمه الله دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب المعاصی من أمرالجاهلیة" کښې تیر شوي دی.(۴)

③ **ایوب:** دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب حلاوة الایمان" کښې راغلې ده.(۵)

④ **عبدالله بن ابی ملیکه:** دا قاضی عبدالله بن ابی ملیکه تمیمی رحمه الله دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب خوف المؤمن من أن یحبط......" کښې بیان کړې شوي دی.(۶)

حضرت عبدالله بن ابی ملیکه رحمه الله فرمائی چې د نبی ﷺ په خدمت کښې څه قباګانې هدیه راغلې چې د ریښمو وې او د سرو زرو کار پرې شوې وو نو هغه تولې نبی ﷺ په بعضې صحابه کرامو کښې تقسیم کړې او په هغې کښې یو قباء جدا د حضرت مخرمه بن نوفل(۷) دپاره کیخوده، حضرت مخرمه چې کله په خدمت اقدس کښې حاضر شو نو ورسره خپل ځوئې مسور(۸) وو، هغه راغئ دروازه کښې اودریدلو او ځوئې ته ئې اووئیل، دوی راوبله

(۱) عمدة القاری: ۱۵/۴۵، د دغه شان اوګورئ، فتح الباری: ۶/۲۲۶، وارشاد الساری: ۵/۲۰۹)_

(۲) قوله: عن عبدالله......": الحدیث، مر تخریجه فی کتاب الهبة، باب کیف یقبض العبد والمتاع؟)_

(۳) کشف الباری: ۴/۱۳۸)_

(۴) کشف الباری: ۲/۲۱۹)_

(۵) کشف الباری: ۲/۲۶)_

(۶) کشف الباری: ۲/۵۴۸)_

(۷) د حضرت مخرمه بن نوفل رضی الله عنه د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الهبة، باب کیف یقبض العبد والمتاع؟)

(۸) د حضرت مسور بن مخرمه رضی الله عنه د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب استعمال فضل وضوء الناس)

(یعنی نبیﷺ) نبیﷺ ئې آواز واوریدلو نو قباء ئې راواخسته او دوی سره ملاو شو او د هغې بټن ئې دوی ته مخامخ کړې او وې فرمائیل ائې ابو المسور! ما دا قبا ستاسو دپاره پټه کیخودلې وه او د هغوی په طبیعت کښې څۀ سختي وه.

قوله: أن النبی صلی الله علیه وسلم أهدیت له أقبیة من دیباج مزردة بالذهب: په اکثرو نسخو کښې دغه شان "مزردة بالذهب" راغلې دې، ددې معنی مونږ پورته بیان کړې ده چې د سرو زرو کار پرې شوې وو، په اصل کښې تزرید وائی د زرې د حلقو خپل مینځ کښې ملاویدلو ته، یوبل کښې داخلیدل.(۱) البته ابوذر چې د مستملی نه کوم روایت نقل کړې دې نو په هغې کښې مزررة دې یعنی د تزریر نه دې په دې صورت کښې به معنی دا شی چې په دې قباء باندې د سرو زرو تنړئ لګیدلې وې ځکه چې د تزریر معنی ده بټن لګول.(۲)

ادعه لی: دا د حضرت مخرمهؓ کلام دې، د دوی مخاطب دلته حضرت مسورؓ دې. هغوی خپل ځوی ته دا اووئیل چې لاړ شه او نبیﷺ ته آواز اوکړه چې زۀ راغلې یم. په یو روایت کښې دی، مسور وائی چې ما ته دا خبره نامناسبه ښکاره شوه او ما د ناخوښئ اظهار اوکړو چې دغه شان نبیﷺ رابلل نامناسب دی او ښۀ خبره نۀ ده. نو د هغوی پلار حضرت مخرمهؓ اووئیل چې ائې ځویه! په دې کښې د بد منلو (نامناسب والي) څۀ خبره نشته، نبیﷺ نۀ ناراضه کیږی ځکه چې هغوی مبارک جبار نۀ دی.(۳)

ددې حدیث شریف متن سره متعلق نور بحثونه په کتاب اللباس او کتاب الادب وغیره کښې راغلي دی.(۴)

قوله: وَرَوَاهُ ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ أَيُّوبَ. قَالَ حَاتِمُ بْنُ وَرْدَانَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْمِسْوَرِ قَدِمَتْ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَقْبِيَةٌ. تَابَعَهُ اللَّيْثُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ: او دغه شان اسماعیل بن علیه(۵) هم د ایوب نه روایت کړې دې. او حاتم بن وردان(۶) په سند بیانولو کښې د عن المسور...... اضافه هم کړې ده.

---

(۱) مجمع بحار الانوار: ۴۲۲/۲، باب الزای مع الراء، مادة زرر"، والقاموس الوحید، مادة زرد"_

(۲) مجمع بحار الانوار: ۴۲۲/۲، باب الزای امع الراء، مادة زرر"، والقاموس الوحید، مادة زرر"، وارشاد الساری: ۲۰۹/۵، وعمدة القاری: ۴۵/۱۵)_

(۳) ارشاد الساری: ۲۰۹/۵، وعمدة القاری: ۴۵/۱۵)_

(۴) کشف الباری، کتاب اللباس: ۱۶۴، وکتاب الادب: ۵۲۶_۵۲۸)_

(۵) د اسماعیل بن ابراهیم بن مسلم ابن علیه حالات په کشف الباری: ۱۲/۲، کتاب الایمان کښې تیر شوې دی_

(۶) د حاتم بن وردان د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الشهادات، باب شهادة الاعمی وامره.....)_

د مذكوره تعليقاتو مقصد: په دې عبارت باندې د پوهيدلو نه مخكښې دا زده كړئ چې د باب حديث شريف لره د ايوب سختيانى نه روايت كوونكى كسان درې دى.حماد بن زيد، اسماعيل بن عليه او حاتم بن وردان او د درې واړو په روايت كښې په ارسال او وصل كښې اختلاف دې.لكه د باب په حديث شريف كښې "ايوب عن ابن ابى مليكة أن النبى صلى الله عليه وسلم......" راغلې دې او دا حديث مرسل دې ځكه چې ابن ابى مليكه تابعى دې.ددې نه علاوه د اسماعيل بن عليه چې كوم روايت دې نو هغه هم مرسل دې.دغه شان دا دواړه حضرات د روايت په مرسل كيدو باندې متفق شو.ددې دواړو روايتونه يو شان دى.او د حاتم بن وردان رحمه الله چې كوم روايت دې،په هغې كښې "ابن ابى مليكة عن المسور بن مخرمة...." دې.دغه شان دا روايت موصول شو.

امام بخارى رحمه الله د ارسال اووصل ددې اختلاف دواضحه كولو دپاره داتعليقات ذكركړې دى.

د مذكوره تعليقاتو تخريج: پورته چې امام بخارى رحمه الله كوم دوه تعليقات ذكر كړې دى،اول د ابن عليه او دويم د حاتم بن وردان.د اسماعيل بن عليه رحمه الله تعليق مصنف په كتاب الادب كښې موصولاً ذكر كړې دې.(۱) او د حاتم بن وردان رحمه الله تعليق موصولاً په كتاب الشهادات كښې تير شوې دې.(۲)

تابعه الليث،عن ابن ابى مليكة. [ر:۲۴۵۹]

حضرت ليث بن سعد رحمه الله (۳)د ابن ابى مليكه نه روايت كولو كښې د ايوب رحمه الله تابعدارى كړې ده.

د مذكوره تابعدارئ مقصد: پورته د تعليقاتو په ضمن كښې چې مونږ څۀ بيان كړل نو هغه تاسو اوكتل.اوس سوال دا دې چې دا روايت مرسل دې،لكه څنګه چې د ابن عليه او د حماد بن زيد روايت دې يا موصول دې لكه څنګه چې د حاتم بن وردان روايت دې او راجح كوم يو دې؟

امام بخارى دا متابعت ددې ترجيح او رجحان ښودلو دپاره ذكر كړې دې چې ليث بن سعد احفظ دې او د روايت موصول كيدل راجح دى،ابن حجر رحمه الله فرمائى:

"واعتمد البخارى الموصول لحفظ من وصله" (۴)

د مذكوره متابعت تخريج: امام بخارى حضرت ليث بن سعد رحمه الله مذكوره پورتنې متابعت په كتاب الهبه كښې موصولاً نقل كړې دې.(۵)

---

(۱) صحيح بخارى،كتاب الادب،باب المدارة مع الناس،رقم (۶۱۳۲)_

(۲) صحيح بخارى،كتاب الشهادات،باب شهادة الاعمى......رقم (۲۶۵۷)_

(۳) د حضرت ليث بن سعد رحمه الله حالاتو دپاره اوګورئ، كشف البارى:۱/۳۲۴،بدء الوحى)_

(۴) فتح البارى:۶/۲۲۶)_

(۵) صحيح بخارى،كتاب الهبة،باب كيف يقبض العبد والمتاع؟رقم (۲۵۹۹))_

د اصیلی یو وهم: ددې پوره تفصیل نه یو خبره دا هم واضحه شوه چې د اصیلی په نسخه کښې چې عن ابن أبي مليكة عن المسور مذکور دې نو دا وهم دې، صحیح او معتمد خبره داده چې د "حماد بن زيد عن أيوب عن ابن أبي مليكة" والا طریق مرسل دې.[1]

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت په دې جمله کښې دې، "خبأت هذا لك"[2] ددې نه د امام بخاری رحمه الله مدعی ثابتیږی چې په دې کښې هیڅ باك نشته او امام ته په دې کارونو کښې اختیار دې. والله اعلم بالصواب

⑫ باب: كيف قسم النبي ﷺ قريظة والنضير، وما أعطى من ذلك في نوائبه.

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله د استفسار په طور دا فرمائی چې نبی کریم ﷺ د بنو قریظه او د بنو نضیر نه حاصل شده مال غنیمت څنګه تقسیم کړې وو؟ اوس هغوی د تقسیم کیفیت خو بیان کړې نۀ دې کوم چې ترجمة الباب دې او په باب کښې ئې د حضرت انس رضی الله عنه حدیث نقل کړو ددې نه معلومه شوه چې هغه مالونه نبی ﷺ په نوائبو او حاجاتو کښې خرچ کړل، ددې په ذریعې امام بخاری رحمه الله دا اوښودل چې په دې تصرفاتو کښې نبی ﷺ ته پوره او کلی اختیار حاصل وو، نبی ﷺ به چې چرته مناسب ګڼړله نو هلته به ئې خرچ کول.[3]

۲۹۲۰ :[4] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ -رضي الله عنه- يَقُولُ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- النَّخَلَاتِ حَتَّى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرَ، فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ. [۳۸۰۶، ۳۸۹۴]

رجال الحديث

① **عبدالله بن ابی الاسود:** دا عبدالله بن حمید ابو الاسود بصری رحمه الله دې.[5]

② **معتمر:** دا معتمر بن سلیمان بن طرخان تیمی رحمه الله دې.

③ **ابيه:** د اب نه مراد حضرت سلیمان بن طرخان تیمی رحمه الله دې. ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب العلم، "باب من خص بالعلم قوماً دون قوم......" کښې راغلې ده.[6]

---

[1]) فتح الباری: ۶/۲۲۶)_

[2]) فتح الباری: ۶/۲۲۷)_

[3]) عمدة القاری: ۱۵/٤۶، وشرح الکرمانی: ۱۳/۹۹)_

[4]) قوله: سمعت انس.....": الحدیث، مر تخریجه فی الهبة، باب فضل المنیحة)_

[5]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الاذان، باب بلا ترجمة، رقم (۷۹۸))_

[6]) کشف الباری: ٤/۵۹۰_۵۹۵)_

③ **انس بن مالك**: د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه حالات په كتاب الايمان، "باب من الايمان أن يحب لاخيه....." كښې تير شوي دی.[1]

د حديث شريف ترجمه: حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائي چې خلقو به د نبی ﷺ دپاره د كهجورو اونې خاص كولې تردې چې نبی ﷺ ته په بنو قريظه او بنو نضير باندې فتح حاصله شوه، بيا وروستو نبی ﷺ دا اونې واپس كړې.

د حديث شريف مختصره تشريح: په دې حديث شريف كښې د "الرجل" نه انصار مراد دی او د "افتتح" تعلق د بنو قريظه سره دې، ځكه چې بنونضير خو جلا وطن كړې شوې وو ليكن مآلاً او مجازاً ددې نه هم په فتحې سره تعبير كړې شوې دې.[2]

په مدينه منوره كښې چې كله مهاجرين داخل شو او خپل هر څه ئې پريخودل نو انصارو ورته حوصله وركړه، د هغوی ئې هرقسم تعاون او مدد اوكړو. پټې وغيره ئې ورته حواله كړل، د كومو انصاری صحابه كرامو رضی الله عنهم چې دوه دوه بيبيانې وې نو په هغوی كښې ئې يو يو ته طلاق وركړو او هغه ئې خپل مهاجر ورور ته په نكاح كښې وركړه او د قربانئ او د ايثار لوئې لوئې مثالونه ئې پيش كړل. دا د انفرادی كارونو معامله وه. د اجتماعی كارونو دپاره چې د انصارو كوم باغونه وو نو په هغې كښې هغوی څۀ د نبی كريم ﷺ دپاره خاص كړل، د هغې آمدن به د مسلمانانو په مصلحتونو، مصارفو، او اهل بيت باندې خرچ كيدله، دا اختصاص د هديې په صورت كښې وو ځكه چې صدقه خو د نبی كريم ﷺ او د اهل بيت دپاره حرامه ده.

دا سلسله جاری وه، تردې چې نبی كريم ﷺ او صحابه كرامو رضی الله عنهم ته د مدينې منورې په يهوديانو باندې فتح حاصله شوه نو نبی ﷺ هغه اونې انصارو ته واپس كړې.[3] ددې كارونو تفصيلات په كتاب المغازی كښې بيان كړې شوې دی.[4]

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په دې معنٰی كښې دې چې په ترجمه كښې د تقسيم د كيفيت په باره كښې سوال وو، د هغې جواب په حديث شريف كښې موجود دې چې د بنوقريظه د مالونو د تقسيم دپاره څۀ طريقه اختيار كړې شوه، نو جواب دا وو چې نبی ﷺ د خپل خواهش مطابق په هغې كښې تصرف اوكړو او هغه ئې د مسلمانانو په مصلحتونو كښې خرچ كړل.[5]

---

[1]) كشف البارى:۲/ ٤)_

[2]) عمدة القارى:۱۵/ ٤۶)_

[3]) پورته حواله، وارشاد السارى:۵/ ۲۱۰، وشرح ابن بطال:۵/ ۲۸۶)_

[4]) كشف البارى، كتاب المغازى:۱۸۳، و:۳۰۲)_

[5]) عمدة القارى:۱/ ٤۶، وفتح البارى:۶/ ۲۲۷، وارشاد السارى:۵/ ۲۱۰)_

⑬باب: برکة الغازی في ماله حیا ومیتاً، مع النبی ﷺ وولاة الامر

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا فرمائی چې د غازی مال چې د غنیمت وغیره نه حاصل شوې دې، په هغې کښې د غازی په ژوند کښې هم برکت وی او د غازی د وفات نه پس په کښې هم برکت وی، خواه دې غازی دا جهاد د نبی ﷺ په ملګرتیا کښې کړې وی یا ئې د نبی ﷺ نه پس د هغوی نائبانو او خلیفه ګانو سره په ملګرتیا کښې کړې وی(۱).د شهادت او د دلیل په طور امام بخاری رحمه الله د حضرت زبیر رضی الله عنه واقعه پیش کړې ده، چې د هغې تفصیل وړاندې راځی.

یو خبرداری: په ترجمة الباب کښې لفظ د برکة باء مؤحده سره دې، بعضې حضراتو په دې کښې تصحیف کړې دې او تاء مثناة سره ئې ترکه لوستلې دې، قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې د لفظ ترکه احتمال هم اګرچه شته ځکه چې په دې قصه کښې د حضرت زبیر رضی الله عنه د ترکې ذکر دې، لکه وړاندې چې کوم عبارت راځی، "حیا ومیتا مع النبی ﷺ و ولاة الامر" دا په دې خبره باندې دلالت کوی چې صحیح روایت د جمهور حضراتو دې یعنی باء مؤحده سره.(۲)

۲۹۶۱:(۳) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي أُسَامَةَ أَحَدَّثَكُمْ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ لَمَّا وَقَفَ الزُّبَيْرُ يَوْمَ الْجَمَلِ دَعَانِي، فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَقَالَ يَا بُنَيِّ، إِنَّهُ لاَ يُقْتَلُ الْيَوْمَ إِلاَّ ظَالِمٌ أَوْ مَظْلُومٌ، وَإِنِّي لاَ أُرَانِي إِلاَّ سَأُقْتَلُ الْيَوْمَ مَظْلُومًا، وَإِنَّ مِنْ أَكْبَرِ هَمِّي لَدَيْنِي، أَفَتُرَى يُبْقِي دَيْنُنَا مِنْ مَالِنَا شَيْئًا فَقَالَ يَا بُنَيِّ بِعْ مَالَنَا فَاقْضِ دَيْنِي. وَأَوْصَى بِالثُّلُثِ، وَثُلُثِهِ لِبَنِيهِ، يَعْنِي عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ ثُلُثُ الثُّلُثِ، فَإِنْ فَضَلَ مِنْ مَالِنَا فَضْلٌ بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ شَيْءٌ فَثُلُثُهُ لِوَلَدِكَ. قَالَ هِشَامٌ وَكَانَ بَعْضُ وَلَدِ عَبْدِ اللَّهِ قَدْ وَازَى بَعْضَ بَنِي الزُّبَيْرِ خُبَيْبٌ وَعَبَّادٌ، وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعَةُ بَنِينَ وَتِسْعُ بَنَاتٍ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَجَعَلَ يُوصِينِي بِدَيْنِهِ وَيَقُولُ يَا بُنَيِّ، إِنْ عَجَزْتَ عَنْهُ فِي شَيْءٍ فَاسْتَعِنْ عَلَيْهِ مَوْلاَيَ. قَالَ فَوَاللَّهِ مَا دَرَيْتُ مَا أَرَادَ حَتَّى قُلْتُ يَا أَبَتِ مَنْ مَوْلاَكَ قَالَ اللَّهُ. قَالَ فَوَاللَّهِ مَا وَقَعْتُ فِي كُرْبَةٍ مِنْ دَيْنِهِ إِلاَّ قُلْتُ يَا مَوْلَى الزُّبَيْرِ، اقْضِ عَنْهُ دَيْنَهُ. فَيَقْضِيهِ، فَقُتِلَ الزُّبَيْرُ- رضی الله عنه - وَلَمْ يَدَعْ دِينَارًا وَلاَ دِرْهَمًا، إِلاَّ أَرَضِينَ مِنْهَا الْغَابَةُ، وَإِحْدَى عَشْرَةَ دَارًا بِالْمَدِينَةِ، وَدَارَيْنِ

---

(۱) هذا ماقاله الشیخ الکاندهلوی رحمه الله.واختاره شیخنا المبجل رحمه الله .انظر الابواب والتراجم للکاندهلوی:۱/۲۰۶.وقال القسطلانی رحمه الله: والظاهر ان الغرض ذکر الکثرة التی نشات عن البرکة فی ترکة الزبیر،اذ خلف دینا کثیرا،ولم یخلف الا العقار المذکور،ومع ذلک فبورک فیه،حتی تحصل منه هذا المال العظیم". شرح القسطلانی:۵/۲۱۳)_

(۲) فتح الباری:۶/۲۲۸،وعمدة القاری:۱۵/۴۷،وشرح القسطلانی:۵/۲۱۰)_

(۳) قوله: عن عبدالله":الحدیث،تفرد به البخاری،ولم یخرجه غیره،انظر تحفة الاشراف:۳/۱۷۹،رقم (۳۶۲۶)،ومن مسند الزبیر......)_

بِالْبَصْرَةِ، وَدَارًا بِالْكُوفَةِ، وَدَارًا بِمِصْرَ. قَالَ وَإِنَّمَا كَانَ دَيْنُهُ الَّذِي عَلَيْهِ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ يَأْتِيهِ بِالْمَالِ فَيَسْتَوْدِعُهُ إِيَّاهُ فَيَقُولُ الزُّبَيْرُ لاَ وَلَكِنَّهُ سَلَفٌ، فَإِنِّي أَخْشَى عَلَيْهِ الضَّيْعَةَ، وَمَا وَلِيَ إِمَارَةً قَطُّ وَلاَ جِبَايَةَ خَرَاجٍ وَلاَ شَيْئًا، إِلاَّ أَنْ يَكُونَ فِي غَزْوَةٍ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَوْ مَعَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ - رضى الله عنهم - قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ فَحَسَبْتُ مَا عَلَيْهِ مِنَ الدَّيْنِ فَوَجَدْتُهُ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ قَالَ فَلَقِيَ حَكِيمُ بْنُ حِزَامٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي، كَمْ عَلَى أَخِي مِنَ الدَّيْنِ فَكَتَمَهُ. فَقَالَ مِائَةُ أَلْفٍ. فَقَالَ حَكِيمٌ وَاللَّهِ مَا أُرَى أَمْوَالَكُمْ تَسَعُ لِهَذِهِ. فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ أَفَرَأَيْتَكَ إِنْ كَانَتْ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ قَالَ مَا أُرَاكُمْ تُطِيقُونَ هَذَا، فَإِنْ عَجَزْتُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَاسْتَعِينُوا بِي. قَالَ وَكَانَ الزُّبَيْرُ اشْتَرَى الْغَابَةَ بِسَبْعِينَ وَمِائَةِ أَلْفٍ، فَبَاعَهَا عَبْدُ اللَّهِ بِأَلْفِ أَلْفٍ وَسِتِّمِائَةِ أَلْفٍ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ حَقٌّ فَلْيُوَافِنَا بِالْغَابَةِ، فَأَتَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، وَكَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ أَرْبَعُمِائَةِ أَلْفٍ فَقَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ إِنْ شِئْتُمْ تَرَكْتُهَا لَكُمْ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ لاَ. قَالَ فَإِنْ شِئْتُمْ جَعَلْتُمُوهَا فِيمَا تُؤَخِّرُونَ إِنْ أَخَّرْتُمْ. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ لاَ. قَالَ قَالَ فَاقْطَعُوا لِي قِطْعَةً. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ لَكَ مِنْ هَا هُنَا إِلَى هَا هُنَا. قَالَ فَبَاعَ مِنْهَا فَقَضَى دَيْنَهُ فَأَوْفَاهُ، وَبَقِيَ مِنْهَا أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ، فَقَدِمَ عَلَى مُعَاوِيَةَ وَعِنْدَهُ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ وَالْمُنْذِرُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَابْنُ زَمْعَةَ فَقَالَ لَهُ مُعَاوِيَةُ كَمْ قُوِّمَتِ الْغَابَةُ قَالَ كُلُّ سَهْمٍ مِائَةَ أَلْفٍ. قَالَ كَمْ بَقِيَ قَالَ أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ. قَالَ الْمُنْذِرُ بْنُ الزُّبَيْرِ قَدْ أَخَذْتُ سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ. قَالَ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ قَدْ أَخَذْتُ سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ. وَقَالَ ابْنُ زَمْعَةَ قَدْ أَخَذْتُ سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ. فَقَالَ مُعَاوِيَةُ كَمْ بَقِيَ فَقَالَ سَهْمٌ وَنِصْفٌ. قَالَ أَخَذْتُهُ بِخَمْسِينَ وَمِائَةِ أَلْفٍ. قَالَ وَبَاعَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ نَصِيبَهُ مِنْ مُعَاوِيَةَ بِسِتِّمِائَةِ أَلْفٍ، فَلَمَّا فَرَغَ ابْنُ الزُّبَيْرِ مِنْ قَضَاءِ دَيْنِهِ قَالَ بَنُو الزُّبَيْرِ اقْسِمْ بَيْنَنَا مِيرَاثَنَا. قَالَ لاَ، وَاللَّهِ لاَ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ حَتَّى أُنَادِيَ بِالْمَوْسِمِ أَرْبَعَ سِنِينَ أَلاَ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ دَيْنٌ فَلْيَأْتِنَا فَلْنَقْضِهِ. قَالَ فَجَعَلَ كُلَّ سَنَةٍ يُنَادِي بِالْمَوْسِمِ، فَلَمَّا مَضَى أَرْبَعُ سِنِينَ قَسَمَ بَيْنَهُمْ قَالَ فَكَانَ لِلزُّبَيْرِ أَرْبَعُ نِسْوَةٍ، وَرَفَعَ الثُّلُثَ، فَأَصَابَ كُلَّ امْرَأَةٍ أَلْفُ أَلْفٍ وَمِائَتَا أَلْفٍ، فَجَمِيعُ مَالِهِ خَمْسُونَ أَلْفَ أَلْفٍ وَمِائَتَا أَلْفٍ.

رجال الحديث

① **اسحاق بن ابراهيم:** دا اسحاق بن ابراهيم بن راهويه حنظلي مروزى رحمه الله دي.

② **ابواسامه:** دا ابواسامه حماد بن اسامه ليثى رحمه الله دي. ددي دواړو حضراتو تذکره تفصيل سره په كتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم" کښې تيره شوې ده.[1]

---

[1]) كشف البارى: ۳/۴۱۴_۴۱۷، و۴۲۸_۴۳۱)_

④ **هشام بن عروة:** دا هشام بن عروة بن زبير قرشي رحمة الله عليه دې
⑤ **عروة بن زبير:** دا عروة بن زبير بن العوام قرشي رحمة الله عليه دې.ددې دواړو حضراتو حالات د "بدء الوحى" په "الحديث الثانى" كښې تير شوې دى.[1]
⑤ **عبدالله بن زبير،** ⑥ **زبير بن العوام** رضي الله عنهما: ددې دواړو حضراتو حالات تفصيل سره په كتاب العلم، "باب اثم من كذب على النبى ﷺ" كښې راغلي دى.[2]

قوله: قال: لما وقف الزبير يوم الجمل دعانى فقمت الى جنبه: حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه فرمائى چې د جمل په ورځ چې كله زما والدصاحب حضرت زبير رضي الله عنه د قتال دپاره اودريدو نو هغوى زۀ طلب كړم نو زۀ د هغوى يو طرفته اودريدم.

يوم الجمل(د جمل جنګ): د جمل واقعه د اسلامى تاريخ يوه دردناكه واقعه ده،په دې كښې دواړو طرفونو ته جليل القدر صحابه كرام رضى الله عنهم وو او دواړو طرف ته خلق په حق باندې هم وو ،هم دا د اهل سنت والجماعت عقيده ده،دې واقعې سره متعلق تفصيلات خو به انشاء الله په كتاب الفتن كښې راشى،مونږ دلته ددې خلاصه ذكر كوو.

دا د ٣٦هجرئ مطابق ٦٥٦ءجمادى الاولى يا جمادى الثانيه او د حضرت على رضي الله عنه د خلافت واقعه ده.دا جنګ د حضرت على رضي الله عنه د ملګرو او د حضرت عائشه رضي الله عنها د ملګرو مينځ كښې وو،مسئله د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص وه او د جنګ ځائې بصره وو.

حضرت عائشه رضي الله عنها د خپلو طرف دار كسانو سره د مكې مكرمې نه بصرې ته روانه شوه، حضرت على رضي الله عنه د مخكښې نه بصرې سره نزدې ښار كوفه كښې موجود وو،چې كله هغوى د حضرت عائشې رضي الله عنها د لښكر په باره كښې واوريدل چې بصرې ته راروان دې نو هغوى هم د كوفې نه لښكر راويستلو،تردې چې دواړه لښكرې مخامخ شوې او د دواړو ډلو مينځ كښې خو ځله مذاكرات هم اوشو،نزدې وه چې دا مذاكرات كامياب شوې وو او حضرت على رضي الله عنه د دليلونو په رڼړا كښې دويمه ډله قائل كړې وې ليكن هلاكت دې وى ابن سبا يهودى او د هغۀ خبيث ملګرو لره،دوى چونكه د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت ذمه دار وو ،ددې وجې نه دوى ته ويره شوه چې كه دا دواړه ډلې خپل مينځ كښې ملاو شوې نو مونږ به خامخا قصاص كولې شو نو دوى د حضرت على رضي الله عنه ملګرتيا شروع كړه او موقع موندلو سره ئې په اهل جمل يعنى د حضرت عائشې رضي الله عنها په لښكر باندې حمله اوكړه او ددې خبر حضرت على رضي الله عنه ته نۀ وو.چې هغوى ته پته اولګيده نو تپوس ئې اوكړو چې دا شوردځۀ دې؟ نو ځۀ سبائى كسانو غلط بيانى اوكړه او وې وئيل چې فريق ثانى اچانك او په بې خبرۍ كښې مونږ باندې حمله كړې ده.هم دا حال دويم طرفته هم اوشو او دا حضرات د نۀ غوښتلو باوجود د جنګ ميدان ته كوز شواوسبايان په خپل سازش كښې كامياب شو ،لعنهم الله وخذلهم.

---

[1]) كشف البارى:٢٩١/١.دغه شان اوګورئ،كشف البارى:٤٣٢/٢_٤٤٠)_
[2]) كشف البارى:١٦٤/٤_١٧٤)_

د دواړو ډلو مينځ كښې خطرناك جنګ اوشو، دغه وخت حضرت عائشه رضي الله عنها د جنګ په ميدان كښې موجوده نه وه او هغې ته د جنګ د شروع كيدو پته هم نه وه. په دې كښې كعب بن مسور نومې تابعى د هغوى په خدمت كښې حاضر شو او د واقعي حال احوال نه ئې خبر كړه او ورته يې اووئيل چې مناسب دا معلوميږى چې تاسو په اوښ باندې سوره شئ او د جنګ د ميدان طرفته راشئ، كيدې شى چې د صلح څۀ صورت پيدا شى. ددې په اوريدو سره حضرت عائشه رضي الله عنها په اوښ باندې سوره شوه او اووتله. ليكن د توقع نه خلاف خلق ددې په سورلئ ليدلو سره نور هم غصه شو ځكه چې د هغوى خيال دا وو چې دوى د جنګ ميدان ته د قائد او د سپه سالار په حيثيت سره تشريف راوړې دې.

حضرت عائشې رضي الله عنها چې كله اوليدل چې خلق په هيڅ شان باندې د جنګ بندولو دپاره تيار او آماده نۀ دى او مسلسل مرى نو هغې كعب بن مسور ته حكم اوكړو چې تۀ د اوښ مهار پريږده، قرآن مجيد پورته كړه او وړاندې ورشه او خلق د قرآن مجيد د فيصلې طرفته راوبله او ورته اووايه چې مونږ ته د قرآن فيصله منظوره ده، تاسو هم ددې فيصله اومنئ.

كعب وړاندې شو او اعلان ئې اوكړو نو د عبدالله بن سبا ملګرو پرې په يوځائې د غشو باران جوړ كړو او شهيد ئې كړو، ددې نه پس د حضرت عائشې رضي الله عنها كسان نور هم غصه شو. برابر قتليدل ليكن هيڅ يو كس ئې د حضرت عائشې رضي الله عنها د اوښ مهار ته پرينخودۀ.

حضرت على رضي الله عنه ددې حالت په ليدلو سره پوهه شو چې ترڅو په ميدان جنګ كښې دا اوښ په نظر راځى نو د اور دا شعلې به هيڅ كله كمې نۀ شى نو هغوى خپلو كسانو ته حكم اوكړو چې په څۀ طريقې سره دا اوښ ختم كړئ ځكه چې ددې په پريوتلو سره به جنګ ختم شى. ددې په اوريدلو سره هغوى په دې كوشش كښې اولګيدل چې په څۀ طريقې سره دا اوښ راوغورځولې شى ليكن دويم طرفته اهل جمل هم غافل نۀ وو، هغوى د دويم فريق هروار منع كوو، د اوښ مهار نيولو سره برابر جنګيدل، دغه شان په سوونو كسان د اوښ په مهار باندې شهيدان شو، آخر كافى وخت پس يو سړى موقع موندلو سره د اوښ خپې په توره باندې اووهلې او د هغې خپې ئې پرې كړې، دغه شان اوښ په سينه باندې كيناستۀ. د اوښ په پريوتلو سره اهل جمل منتشر شو او د حضرت على رضي الله عنه لښكر د دوى محاصره اوكړه او محمد بن ابى بكر كوم چې دوى سره وو هغۀ ته ئې حكم اوكړو چې لاړ شه د خپلې خور حفاظت اوكړه، چې هيڅ قسمه تكليف ورته اونۀ رسى، دغه شان دا جنګ خپل انجام ته اورسيدۀ.

دا اولنې جنګ وو چې دواړه ډلې په كښې مسلمانان وو، ددې نه پس د فتنو دروازه كهلاؤ شوه. د جنګ ختميدلو نه څو ورځې پس د خلافت امور دوباره مرتب كولو دپاره حضرت على رضي الله عنه محمد بن ابى بكر ته حكم اوكړو چې د سفر تيارى اوكړه. نو په يكم رجب ۳۶ هجرئ كښې د سفر د تيارى كولو نه پس حضرت على رضي الله عنه ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها د بصرې د ځلويښت سردارانو د ښځو سره او د محمد بن ابى بكر سره د بصرې نه روانه كړه، څو پرلانګه فاصلې پورې قافلې سره په خپله هم لاړل، بيا ئې حضرات حسنين د حفاظت په غرض قافلې سره كړل، حضرت عائشه رضي الله عنها اول مكې مكرمې ته لاړه، هلته ئې حج اوكړو او په محرم ۳۷ هجرئ كښې يې مدينې منورې ته تشريف راوړلو.

په دې جنګ کښې د دواړو ډلو په زرګونو کسان شهيدان شو،چې د هغوی په تعداد کښې اختلاف دې،په شهيدانو کښې حضرت طلحه بن عبيدالله هم وو کوم چې په عشره مبشره کښې دې او حضرت زبير بن العوام رضي الله عنهما په کښې هم وو حضرت عائشې رضي الله عنها به فرمائيل. "وددت أني مت قبل هذا اليوم بعشرين سنة" چې "ائې کاش !د نن ورځ نه زۀ شل کاله مخکښې وفات شوې وې چې دا مې نۀ وو ليدلې"

دې جنګ ته جمل نوم ځکه ورکړې شو چې حضرت عائشه رضي الله عنها په دې جنګ کښې په يو لوئي اوښ باندې تشريف فرما وه،د هغۀ نوم عسکر وو،دا حضرت يعلی بن اميه رضي الله عنه د قبيله عرينه د يو سړی نه په دوه سوه دیناره اخستلې وو او دا د حضرت عائشې رضي الله عنها د سورلۍ دپاره مخصوص وو.[1] أعاذنا الله من الفتن،ما ظهر منها وما بطن

قوله: فقال: يا بني،لا يقتل اليوم الا ظالم أو مظلوم: نو زما والد صاحب حضرت زبير ماته اووئيل،ائې ځويه!نن ورځ قتليدونکې به يا ظالم وی يا مظلوم.

ددې جملې مختلف مطلبونه: ددې جملې څو مطلبونه او معنې بيان کړې شوې دی.

① علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي:

که هغوی قتل شو نو هغوی به په خپل خيال کښې مظلومان وی ليکن دويم فريق (مدمقابل) به ئې ظالمان ګڼړی ځکه چې هرفريق خپل ځان په حق باندې او دويم فريق په ناحقه باندې ګڼړلو او په دې کښې به ئې تاويل کولو.

او ددې کلام نه د حضرت زبير رضي الله عنه مقصد دادې چې صحابه چې د امت غوره خلق دی د هغوی خپل مينځ کښې قتال او جنګ کول د هغې خلقو په شان نۀ دی کوم چې د عصبيت په بنياد باندې قتال کوی يا باغيان دی يا هغه خلق چې د هغوی قاتلان او مقتولين دواړه به ظالمان وی،د هغوی په باره کښې خو د نبی صلی الله علیه وسلم صفا ارشاد مبارك دې، "اذا التقى المسلمان بسيفيهما فالقاتل والمقتول في النار"[2] ځکه چې دلته خو د تاويل کولو ګنجائش بالکل نشته چې د هغې د وجې نه دا خلق د الله تعالی په نزد معذور اوګڼړلې شی.

او حضرت زبير،طلحه او د صحابه کرامو رضي الله عنهم جماعت چې د حضرت عائشې رضي الله عنها سره وتلې

---

[1]) د جنګ جمل تفصيلاتو،اسباب او نتيجې دپاره اوګورئ،عمدة القاري:۱۵/۴۹_۵۰،وفتح الباري: ۶/۲۲۹، والبداية والنهاية:۴/۷/۲۲۲_۲۴۱،سنة ۳۶هـ،والكامل لابن الاثير:۳/۹۹ _۱۴۹،وقعة الجمل، وشرح القسطلاني:۵/۲۱۰، تاريخ اسلام (اردو) از اکبرشاه نجيب آبادی:۱/۴۳۰_۴۴۶،طبع مکتبة العلم کراچي، وتاريخ الاسلام للذهبي:۲/۱۷۱،سنة ست وثلاثين،وقعة الجمل،الطبقة الرابعة)_

[2]) الحديث اخرجه البخاري،كتاب الايمان،باب (وان طائفتان من المؤمنين.....) رقم (۳۱)،والديات،باب قول الله تعالى:(ومن احياها)،رقم (۶۸۷۵)،والفتن،باب اذا التقى المسلمان......رقم (۷۰۸۳)،ومسلم في الفتن،باب اذا توجه المسلمان......رقم (۷۲۵۲_۷۲۵۵)،وابو داود،الفتن،باب النهي عن القتال في الفتنة،رقم (۴۲۶۸)،والنسائي،تحريم الدم،باب تحريم القتل،رقم (۴۱۲۱_۴۱۲۲)،و(۴۱۲۵_۴۱۲۸))_

وو نو د هغوی مطالبه خو دا وه چې د حضرت عثمان رضی الله عنه قاتلان دې گرفتار کړې شي او حد دې پرې جاري کړې شي، ښکاره خبره ده چې دا يو شرعی مطالبه ده او دا خلق هيڅکله او بالکل د حضرت علی رضی الله عنه سره د قتال کولو دپاره وتلي نۀ وو ځکه چې په دې کښې دوه رائې نۀ وې ځکه چې حضرت علی رضی الله عنه د خپلې زمانې په خلقو کښې د خلافت صحيح حقدار وو ،هم هغوی د لوئې امامت مستحق وو.

البته کار دا شوې وو چې د حضرت عثمان رضی الله عنه قاتلانو حضرت علی رضی الله عنه سره پناه اخستلې وه.د حضرت علی رضی الله عنه ملګرتيا به ئې کوله.د حضرت علی رضی الله عنه خپل خيال دا وو چې ترڅو د امت حالات برابر شوې او پرامن شوې نۀ وی نو دا قاتلان جلاد ته حواله کول مناسب نۀ دی،البته کله چې حالات پرسکون او برابر شی نو دا کار به هم اوکړې شی.ښکاره خبره ده چې دا دواړه ډلې په خپل خپل ځائې صحيح دی نو ددې وجې نه د دواړو ډلو مقتولين به مظلومان شمارلې شی نۀ چې ظالمان.هم دا د اهل سنت والجماعت مذهب دې، والقاتل منهم والمقتول فی الجنة ان شاء الله[1]

(۲) علامه ابن التين السفاقسی رحمه الله فرمائی:مطلب دادې چې قتال کوونکی دوه قسمه خلق وی:صحابی او غيرصحابی نو په صحابی کښې خو تاويل کيدې شی ددې وجې نه هغه مظلوم دې او غيرصحابی چې ددنيا دپاره جنګ او قتال کوی نو هغه به ظالم وی.

"معناه:انهم اما صحابی متاول فهو مظلوم، واما غير صحابی قاتل لاجل الدنيا فهو ظالم"[2]

قوله: وانی لا أرانی الا ساقتل اليوم مظلوماً: او زما د خپل ځان په باره کښې خيال دې چې نن به زۀ ظلماً شهيد کيږم.

أرانی د همزه ضمه لوستلې شی ددې معنی ده أظن يعنی زما خيال او ګمان دادې او د همزه فتحه هم لوستلې کيږی بيا به ددې معنی أعتقدوی يعنی زما يقين او اعتقاد دادې چې نن به زۀ شهيد کيږم[3]

د هغوی دا ګمان يا يقين پوره شو او عمرو بن جرموز نومې يو سړی پرې اچانک حمله اوکړه او شهيد ئې کړو ،داسې حال کښې چې دوی د جنګ د ميدان نه وتلې وو.[4] ددې تفصيل په کتاب العلم کښې تير شوې دې.[5]

قوله: وان من أكبرهمي لدينی ،أفتری يبقی ديننا من مالنا شيئاً؟: او زما د

---

[1]) شرح ابن بطال:۲۹۰/۵،وعمدة القاری:۵۱/۱۵)_
[2]) شرح القسطلانی:۲۱۰/۵،وعمدة القاری:۵۱/۱۵،وفتح الباری:۲۲۹/۶)_
[3]) عمدة القاری:۵۱/۱۵،وفتح الباری:۲۲۹/۶)_
[4]) پورته حواله جات)_
[5]) کشف الباری:۱۷۳/٤)_

ټولو نه لويه پريشانى زما قرض دې، ستا څۀ خيال دې، زمونږ دا قرض به زمونږ په مال كښې څۀ پريږدى؟
مطلب دادې چې دومره قرضونه چې ما د خلقو نه اخستلې دى د هغې په ادا كولو كښې به ټول مملوكه مال خرچ شى، هغې كښې به څۀ پاتې شى؟
په لديرى كښې لام د تاكيد دې او مفتوح دې او په أفترى كښې همزه د استفهام ده او فعل مجهول دې، دا د أفتعل په معنى كښې دې او يبقى د ابقاء نه دې(افعال نه)نۀ چې د بقاء نه.(۱)

قوله: فقال: يابني، بع مالنا، فاقض ديني، وأوصى بالثلث، وثلثه لبنيه ـ يعني بني عبدالله بن الزبير، يقول: ثلث الثلث ـ فان فضل من مالنا فضل بعد قضاء الدين فثلثه لولدك: بيا ئې اووئيل ائې خويه! زمونږ مال خرڅ كړه او زما قرض ادا كړه او د ثلث(دريمې حصې)وصيت ئې اوكړو او په ثلث كښې به ثلث د هغوى يعنى د عبدالله بن زبير(د مخاطب)د ځامنو دپاره وى، وې وئيل چې ثلث به په دريو حصو كښې تقسيم كړې او د هغې يو ثلث به خپل ځامنو ته وركړې كه د قرض ادا كولو نه پس زمونږ په مال كښې څۀ بچ شو نو د هغې ثلث به ستا د ځامنو دپاره وى.
پورته ذكر شوې عبارت د مختلفو حضراتو په كلام باندې مشتمل دې، ددې وضاحت دادې چې د حضرت زبير رضي الله عنه كلام دادې: "يابني، بع مالنا، فاقض ديني، فان فضل من مالنا فضل بعد قضاء الدين فثلثه لولدك" ددې مطلب دادې چې ائې خويه! زما مال خرڅ كړه او زما قرض ادا كړه او د قرض ادا كولو نه پس كه هم مال باقى بچ پاتې شو نو د هغې يو ثلث به د فقيرانو او مسكينانو دپاره وى، ليكن ددې ثلث ثلث به ستا د اولاد دپاره وى او "وأوصى بالثلث وثلثه لبنيه" دا د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه كلام دې او "يعني بني عبدالله بن الزبير يقول: ثلث الثلث" دا د يو راوى تفسير او وضاحت دپاره راوړلې شوې جمله ده، چې په دې كښې راوى د "ثلثه لبنيه" وضاحت كړې دې كه ددې تفصيل خيال او لحاظ اونۀ ساتلې شى نو په عبارت باندې پوهيدل مشكل دى.
په دې عبارت كښې فثلثه كښې كوم ضمير مجرور دې دا مطلقاً د ثلث طرفته راجع دې يعنى د ثلث ثلث ځكه چې وصيت خو مطلقاً د مال په ثلث كښې جارى كيږى. ددې برعكس امام مهلب رحمه الله دا ضمير مجرور د فضل طرفته راجع كړې دې ليكن دا د اشكال نه خالى نۀ دې.(۲)
بعضې حضراتو په فثلثه كښې لام تشديد سره لوستلې دې يعنى د اسم په ځائې ئې امر

---

(۱) عمدة القارى: ۵۲/۱۵، وشرح القسطلانى: ۲۱۱/۵ـ

(۲) فتح البارى: ۲۳۰/۶، عمدة القارى: ۵۲/۱۵، وارشاد السارى: ۲۱۱/۵، والكوثر الجارى: ۱۱۱/۶ـ

ګرځولې دې چې ددې مطلق ثلث درې حصې کول.حافظ دېته زيات اقرب وئيلې دی.(۱)

قوله: قال هشام: وكان بعض ولد عبدالله قد وازى بعض بني الزبير، خبيب وعباد: هشام وائی چې د عبدالله بن زبير بعضې ځامن د حضرت زبير رضی الله عنه د بعضې ځامنو هم عمر وو يعنې خبيب او عباد د هشام بن عروه دا قول د سابقه سند سره موصول دې (۲)

علامه جوهری رحمه الله وازی په واو سره ليکل غلط او خلاف القياس ښودلې دی.هغوی دا وائی چې دا همزه سره آزی ليکل پکار دی،د باب د حديث شريف الفاظ په دۀ باندې رد کوی چې دلته وازی واو سره دې،ددې معنی ده ساوی يعنی برابر کيدل.(۳)

ددې جملې مطلب: ① علامه مهلب رحمه الله فرمائی چې ددې دا معنی هم کيدې شی چې د حضرت عبدالله ځامن د حضرت زبير رضی الله عنه د ځامنو يعنی د خپلو ترونو په عمر کښې برابر شوې وو ②او دا معنی هم کيدې شی چې د حضرت عبدالله ځامن د ميراث په حصه کښې د خپل ترونو يعنی د حضرت زبير رضی الله عنه د ځامنو برابر شوې وو يعنی هغوی ته هم دومره ملاؤ شوه لکه څومره چې ئې ترونو ته ملاؤ شوه.

دا دويم احتمال مهلب رحمه الله غوره ګرځولې دې او فرمائی چې په دويم صورت کښې د حضرت زبير رضی الله عنه د اولاد د کثرت بيانولو هيڅ معنی نشته.ليکن نورو شارحينو اولنې احتمال راجح او دويم احتمال مرجوح ښودلې دې.(۴) لکه حافظ رحمه الله فرمائی چې دا احتمال د اعتراض او د اشکال نه خالی نۀ دې ځکه چې دغه وخت پورې خو ميراث تقسيم شوې نۀ وو،نۀ د مال موروث څۀ معلومه او معينه اندازه وه نۀ د موصی به يعنی د ثلث اندازه وه.

ددې نه علاوه دا وينا "والا لم يكن لذكر كثرة أولاد الزبير معنى في الموازاة في السن"(۵)هم صحيح نۀ ده ځکه چې مراد دا دې چې حضرت زبير رضی الله عنه د حضرت عبدالله رضی الله عنه اولاد ته خصوصيت سره بيان اوکړو او د نورو نوسو په مقابله کښې ئې هغوی ته زيات اهميت ورکړو،ددې وجه واضحه ده چې د حضرت عبد الله ځامن د لوئې عمر والا او د کورونو خاوندان شوې وو تردې چې په دې معامله کښې د ترونو برابر شوې وو نو حضرت زبير رضی الله عنه د خپل وصيت په ذريعې سره د مال څۀ مقدار د خپلو نوسو دپاره هم مقرر کړو،دې دپاره چې د دوی د پلار حضرت عبد الله رضی الله عنه حصه زياته فراخه شی،دغه شان دوی په مالی معاملاتو کښې د خپل

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۳۰،وعمدة القاری:۱۵/۵۲،وارشاد الساری:۵/۲۱۱)_

(۲) فتح الباری:۲۳۰،وارشاد الساری:۵/۲۱۱)_

(۳) پورته حواله جات،والصحاح للجوهری:۴۰،مادة ازا"حرف الالف،والعمدة:۱۵/۵۲،والکوثر الجاری:۶/۱۱۲)

(۴) فتح الباری۶/۲۳۰،وارشاد الساری:۵/۲۱۱،وشرح ابن بطال:۵/۲۹۱،والکوثر الجاری:۶/۱۱۲،وشرح الکرمانی:۱۳/۱۰۰)_

(۵) قاله ابن بطال:۵/۲۹۱)_

پلار حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه سره معاون او مددګار جوړ شي.(١) والله اعلم بالصواب
"خبيب وعباد" د بدليت يا د بعض نه د بيان د وجې نه مرفوع دى او دا د بعض تفسير كوى.د
مثال په طور صرف په دې دوو نومونو باندې اكتفاء اوكړې شوه.ورنه د حضرت عبدالله په
اولاد كښې نور كسان هم وو چې په عمر كښې د ترونو برابر شوې وو.(٢) حافظ دلته دا هم
وئيلي دى چې"خبيب وعباد"مجرور هم لوستلې كيدې شى چې دا د لفظ"بعض"نه بيان واقع
شى.ليكن دلته د حافظ نه سهو شوې ده،علامه عينى وائى چې لفظ د "بعض"په حديث
شريف كښې دوه ځله راغلې دې،په هغې كښې يو مرفوع دې او دويم منصوب دې.دا دريم
صورت د كوم ځائې نه راغئ؟دا خبره قسطلانى هم كړې ده.صحيح خبره داده چې دا دواړه
نومونه مجرور هم لوستلې كيدې شى ليكن د ولد په اعتبار سره.كوم چې په"بعض ولد
عبدالله......"كښې راغلې دى نۀ چې په اعتبار د بعض سره.(٣)
خبيب:دا خبيب بن عبدالله بن الزبير بن العوام القرشى الاسدى المدنى رحمه الله دې.د دوى مور
بى بى تماضر بنت منظور بن زبان الفزاريه ده.(٤)
دې د خپل والدعبدالله بن زبير او د حضرت عائشه و كعب الاحبار رضي الله عنهم نه روايت كوى.د
دوى نه په روايت كوونكو كښې د دوى ځوئې زبير بن خبيب،يحيى بن عبدالله بن
مالك،زهرى او سليمان بن عطاء وغيره شامل دى.(٥)
دوى په اهل علم او اهل ورع كښې وو،د دوى وررور مصعب بن عبدالله وائى:
"كان خبيب قد لقى كعب الاحبار،ولقى العلماء،وقرأ الكتاب وكان من النساك"(٦)
ابن حبان د دوى تذكره په كتاب الثقات كښې كړې ده.(٧)
علامه ذهبى رحمه الله فرمائى،"ناسك،صدوق،معنى بالعلم"(٨)
علامه مزى رحمه الله فرمائى،"وكان.....عالماً بقريش،وكان طويل الصلوة،قليل الكلام"(٩)

---

(١) فتح البارى:٢٣٠/٦،وارشاد السارى:٢١١/٥،وكذا انظر الكوثر الجارى:١١٢/٦)_
(٢) عمدة القارى:٥٢/١٥،وفتح البارى:٢٣٠/٦،وارشاد السارى:٢١١/٥)_
(٣) پورته حواله جات)_
(٤) تهذيب الكمال:٢٢٣/٨،الثقاتابن حبان (٢١١/٤) د دوى د مور نوم حنتمه بنت عبدالرحمن ليكلې دې كوم چې د مشهور قول خلاف دې)_
(٥) تهذيب الكمال:٢٢٣/٨،وتهذيب التهذيب:١٣٥/٣)_
(٦) تهذيب الكمال:٢٢٣/٨،وتهذيب التهذيب:١٣٥/٣،وخلاصة الخزرجى:١٠٤،من اسمه خبيب)_
(٧) الثقات لابن حبان:٢١١/٤)_
(٨) الكاشف:٣٧١/١،رقم (١٣٧٦))_
(٩) تهذيب الكمال:٢٢٥/٨)_

د بنو اميه خليفه وليد بن عبد الملك د حضرت عمربن عبد العزيز طرفته يو خط واستوو،كله چې عمر د مدينې منورې والى وو چې دهٔ ته سل كوړې ورکړې او قيد كښې ئې واچوه.
حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله د حكم پوره والې اوكړو او په يو منگى كښې اوبه يخې كړې شوې او د يخنئ په موسم كښې يو سحر هغه اوبه په دهٔ باندې واړولې شوې چې د هغې د وجې نه ددهٔ بدن يخ شو او يخنى پرې راغله،هم دا عمل وروستو ددهٔ د مرگ سبب جوړ شو.
په جيل كښې چې كله ددهٔ تكليف زيات شو نو حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله دې د جيل نه بهر كړو او په خپل كار باندې ډير پښيمانه شو،او د خبيب خاندان دې د عمر بن مصعب بن زبير كور ته منتقل كړو،دې دوران كښې چې كله د خبيب خاندان دهٔ سره نزدې ناست وو،د ماجشون سره د ملاقات كولو په غرض باندې راغلل.دا صاحب د حضرت عمربن عبد العزيز په ملگرو كښې وو،كله چې دې د مدينې منورې والى وو.كله چې دې دننه داخل شو نو عروه بن عبد الله بن زبير اووئيل،كيدې شى ستاسو ملگرى(عمربن عبد العزيز)ته تردې وخت پورې ددهٔ په مرگ كښې شك دې او نزدې ناستو كسانو عروه ته اووئيل چې څادر لرې كړئ او ورته د خبيب حالت اوښايئ.چې كله ماجشون د هغهٔ حالت اوليدهٔ ،دغه وخت خبيب وفات شوې وو نو هغه نيغ د حضرت عمر كور"درمروان"ته لاړو.
ماجشون وائى چې هلته په رسيدلو سره ما دروازه اوټكوله،بيا داخل شوم.د داخليدو نه پس مې حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله په دې حالت كښې اوليدو چې هغه په دردزه كښې د مبتلا ښځې په شان كله كينى او كله پاسى،زما په ليدلو سره ئې اوفرمائيل چې څهٔ خبر دې راوړلې دې؟ما ورته اووئيل چې بنده(خبيب)خو مړ شو.نو هغه په زمكه باندې پريوتلو، بيا ئې سر اوچت كړو او وې وئيل انا لله وانا اليه راجعون.ددې حادثې اثر ټول ژوند كښې په حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله باندې وو،ددې نه پس هغوى د مدينې منورې د ولايت نه استعفىٰ وركړه او د گورنرئ وغيره د قبلولو نه منع شو.ددې نه پس كه به دوى ته په يو داسې نيك كار باندې چا مبارك باد وركوو كوم نيك كار چې به دوى جارى كړې وو نو دوى به فرمائيل،"فكيف بخبيب؟"!!چې ستاسو خبره خو صحيح ده ليكن زهٔ به د خبيب څهٔ كوم؟
حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله چې كله خليفه جوړ شو نو هغوى آلِ زبير بن عوام ته خصوصى طورباندې عطيات او تحفې وركړې نو خلقو به وئيل چې دا د خبيب ديت دې.[1]
د ابن حبان رحمه الله د قول مطابق د حضرت خبيب انتقال په۹۳هجرئ كښې اوشو[2]هم دا رائې د ابن الاثير رحمه الله هم ده او د زبير بن بكار هم ده.[3]
په اصحاب سته كښې صرف امام نسائى رحمه الله په سنن كبرىٰ كښې د دوى په واسطې سره يو

[1]) تهذيب الكمال:۲۲۵/۸_۲۲۶،وتهذيب التهذيب:۱۳۵/۳_۱۳۶)_
[2]) الثقات:۲۱۱/٤)_
[3]) الكاشف:۳۷۱/۱،والكامل فى التاريخ:۲۷۸/٤،سنة ثلاث وتسعين،ذكر عدة حوادث)_

روايت اخستلې دي.(۱) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.او د حضرت عباد بن زبير رحمه الله حالات وړاندې تير شوې دى.(۲)

قوله: وله يومئذ تسعة بنين وتسع بنات: دې ورځو كښې ددوى نهه ځامن او نهه لونړه وې.

په له كښې چې كوم ضمير مجرور دې نو دا د زبير طرفته راجع دې،دلته د امام كرمانى نه يو عجيبه تسامح شوې ده چې هغوى دا ضمير د عبد الله طرفته راجع كړې دې.(۳) دا صفا غلطى ده.د حضرت عبدالله رضي الله عنه چې دغه وخت كښې كوم اولاد موجود وو.هغه خبيب. عباد، هاشم،ثابت او حمزه دى.(۴) د دوى د باقى اولاد پيدائش د حضرت زبير رضي الله عنه د شهادت نه پس شوې دې.(۵)

د حضرت زبير رضي الله عنه نارينه اولاد چې نهه دي،د هغوى نومونه دا دى:

عبدالله،عروه او منذر،د دوى مور حضرت اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنهما ده.عمرو او خالد.د دوى مور ام خالد بنت خالد بن حسين ده.مصعب او حمزه او د دوى مور رباب بنت انيف ده.عبيده او جعفر او ددې دواړو مور زينب بنت بشر ده.

ددې نهو نه علاوه چې كوم نارينه اولاد وو نو هغه د حضرت زبير رضي الله عنه د شهادت نه مخكښې وفات شوي وو.او د نهه لونړو نومونه دا دى:

خديجة الكبرىٰ،ام الحسن او عائشه،دا درې واړه د حضرت اسماء بنت ابى بكر نه وې حبيبه،سوده او هند د دوى مور ام خالد ده.د رمله مور رباب،د حفصه مور زينب او د زينب مور ام كلثوم بنت عقبه وه.(۶) رضى الله عنهم وعنهن اجمعين.

قال عبدالله: فجعل يوصينى بدينه،ويقول: ان عجزت عن شئ منه فاستعن عليه مولاى، قال:فو الله،ما دريت ما اراد،حتى قلت: يا أبة،من مولاك؟قال:الله.قال: فو الله،ما وقعت فى كربة من دينه الاقلت:يامولى الزبير،اقض عنه دينه،فيقضيه.

حضرت عبد الله وائى چې زما پلار ما ته د خپل قرض په باره كښې وصيت كوو او دا به ئې وئيل چې ائې ځويه!كه ته د قرض د څه حصې ادا كولو نه عاجز شوې نو زما د مولا نه مدد

---

(۱) السنن الكبرى،ابواب الزينة (۹/۷۸).كذا فى تحفة الاشراف:۳۹۳/۱۱،رقم (۱۶۰۶۶)،وتهذيب الكمال:۲۲۶/۸_۲۲۷)_

(۲) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الزكاة،باب الصدقة فيما استطاع)_

(۳) شرح الكرمانى:۱۰۰/۱۳،وفتح البارى:۲۳۰/۶)_

(۴) د حمزه نوم په تهذيب الكمال:۲۲۳/۸ كښې راغلې دي،حافظ،عينى او قسطلانى نه دا اولنى څلور نومونه ذكر كړې دى)_

(۵) فتح البارى:۲۳۰/۶،وعمدة القارى:۵۲/۱۵،وارشاد السارى:۲۱۱)_

(۶) پورته حواله جات)_

واخله عبدالله وائی چې په خدائې قسم!زهٔ پوهه نهٔ شوم چې دې څهٔ وائی او د مولى نه د دوی څهٔ مراد دې؟ تردې چې ما اووئیل.اباجان ستاسو مولا څوك دې؟نو وې فرمائیل: الله....

حضرت عبدالله وائی چې په خدائې قسم:د هغوی په قرض ادا کولو کښې چې به ما ته کله هم څهٔ پریشانی پیښه شوه نو ما به عرض اوکړو انې د زبیر مولا!د زبیر له طرفه د هغوی ترضه ادا کړې نو الله تعالى به څهٔ لاره پیدا کړه.

د حضرت عبد الله د حیرانه کیدلو وجه: مولى په عرب کښې هغې سړی ته وائی چې یو غلام ئې آزاد کړې وی.ښکاره خبره ده چې حضرت زبیر رضی الله عنه خو حرالاصل وو د هغوی مولى به څوك وو. یعنی د هغوی آزادونکې به څوك وو؟ددې وجې نه حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما ته حیرانتیا او پریشانی جوړه شوه چې د مولا نه د دوی مراد څهٔ دې؟ددې وجې نه ئې تپوس اوکړو، "یاأبة،من مولاك؟"نو په جواب کښې اووئیلې شو."الله"نو کله چې به حضرت عبدالله ته د قرض په سلسله کښې څهٔ مشکل پیښ شو نو الله تعالى ته به ئې درخواست اوکړو.الله تعالى به ئې درخواست قبول کړو،نتیجه دا چې ټول قرض ادا شو.

ددې حضراتو یقین کامل وو او دا ټول دې درجې ته رسیدلې وو.چې خپله هره مسئله.هر مشکل او هره پریشانی به ئې د الله تعالى په دربار عالیه کښې پیش کوله.کوم چې ټولو ته ورکوی،کافر او مسلمان،د غریب او د امیر تفریق د هغهٔ په نزد نشته.یو خو مونږ یو چې په هر څیز کښې په اسبابو باندې نظر ساتو،د رب الاسباب طرفته نهٔ متوجه کیږو.نو د امت چې کوم حشر دې هغه د ټولو په وړاندې دې.

قوله: فقتل الزبير رضي الله عنه،ولم يدع ديناراً ولا درهماً،الا أرضين منها:الغابة،واحدى عشرة داراً بالمدينة،ودارين بالبصرة،وداراً بالكوفة،وداراً بمصر:

ددې نه پس حضرت زبیر رضی الله عنه شهید شو.په ترکه کښې ئې نهٔ دینار پریخودو او نه څهٔ درهم لیکن څهٔ زمکې وې چې په هغې کښې یو غابه ده او یوولس کورونه په مدینه منوره کښې، دوه کورونه په بصره کښې،یو کور په کوفه کښې او یو کور ئې په مصر کښې پریخودو.

"أرضين"د جمع صیغه ده او په حالت د نصب کښې دې،ددې مفرد أرض دې،ددې ترجمه پورته"څهٔ زمکو"سره کړې شوې ده.البته غالباً دلته د حافظ رحمه الله نه تسامح شوې ده چې هغوی داتثنیه ګڼړلې ده اوفرمائی چې د"منها"په ځائې"منهما"تثنیه سره کیدل پکاروو[1] دا لفظ غین معجمه او باء مؤحده خفیفه سره دې.بعضې حضراتو دا الغایه یاء سره لوستلې دې کومه چې واضحه او صفا غلطی ده.[2] دا د مدینې منورې په اطرافو او مضافاتو کښې د یو مشهورې علاقې نوم دې چې ورته"عوالى المدينة"وئیلې شی.ددې مقام او د مدینې منورې

[1]) فتح البارى:۶/۲۳۰)_

[2]) پورته حواله،وعمدة القارى:۵۲/۱۵،وارشاد السارى:۵/۲۱۱)_

مينځ کښې څلور ميله فاصله وه او دا مقام د شام په لاره باندې راتلهٔ.(۱) حضرت زبير رضي الله عنه دا زمکه، کما في حديث الباب، په يو لاك اويا زره باندې اخستلې وه او بيا ئې وروستو په شپاړس لاکه باندې خرڅه کړې وه. د باب په حديث کښې د مذکوره کورونو نه علاوه د حضرت زبير رضي الله عنه يو کور په مکه مکرمه کښې وو. د هغې ذکر ابو نعيم په مستخرج کښې کړې دې، ددې راوی هم هشام بن عروه دې.(۲)

قوله: قال: وانما كان دينه الذي عليه أن الرجل كان ياتيه بالمال فيستودعه اياه، فيقول الزبير: لا، ولكنه سلف، فاني أخشى عليه الضيعة: حضرت عبدالله رضي الله عنه فرمائی چې کومه قرضه په حضرت زبير رضي الله عنه باندې واجبه وه نو ددې صورت داسې شوې وو چې يو سړی به ورته مال راوړلو چې دا خپل ځان سره امانت کېږدئ نو حضرت زبير رضي الله عنه به ورته اووئيل چې امانتاً خو نهٔ البته د قرض په صورت کښې ئې راسره پرېږده ځکه چې ماته ددې د ضائع کېدو وېره ده.

په دې عبارت کښې حضرت عبدالله رضي الله عنه د هغې لوئې رقم وجه بيان کړې ده چې کوم لوئې رقم ئې په والد محترم باندې قرض جمع شوې وو، چې ددې قرض سبب او وجه څهٔ وه.

د حضرت زبير رضي الله عنه د احتياط کمال او تقوی: چې يو سړې به حضرت زبير رضي الله عنه ته راغلو چې خپل مال ورسره امانت کېږدی نو دوی به هغه څيز د امانت په صورت نهٔ قبلولو بلکه ورته به ئې فرمائيل چې د قرض په شکل کښې ئې پرېږده. دغه شان د صاحب المال مال به هم محفوظ وو او اعتماد به ئې هم وو او حضرت زبير رضي الله عنه به ددې الزام نه بچ وو چې هغوی دا مال قصداً عمداً ضائع کړې دې چونکه د امانت په هلاکېدو او ضائع کېدو کښې ضمان نهٔ وی او قرض خو په هر حالت کښې واپس کول وی، ددې وجې نه به حضرت زبير رضي الله عنه ذمه داری په خپل ځان واخستله، په حديث شريف کښې هم ددې طرفته اشاره ده. "فاني أخشى الضيعة" او که په دې مال باندې به ئې تجارت کوو نو ددې منافع به هم د دوی دپاره پاکه او حلاله وه.

ددې عمل نه ددې خبرې اندازه بنهٔ لګی چې حضرت زبير رضي الله عنه کښې څومره لوئې احتياط او حد درجې تقوی وه، علامه ابن بطال رحمه الله ددې وجوهاتو په بيانولو کښې ليکی:

"واما قول الزبير للذين كانوا يستودعونه "لا، ولكنه سلف"، انما يفعل ذلك خشية أن يضيع المال، فيظن به ظن سوء فيه، أو تقصيراً في حفظه، فيرى أن هذا أبقى لمروته، وأوثق لصاحب الاموال، لانه كان صاحب ذمة وافرة، و عقارات كثيرة، فرأى ان يجعل أموال الناس مضمونة عليه، ولا يبقيها تحت شيء من جواز التلف، ولتطيب نفس صاحب الوديعة على ذمته، وتطيب نفسه هو على ربح هذا المال"(۳)

---

(۱) پورته حواله جات، والكوثر الجاري: ۱۱۲/٦، ومعجم البلدان: ۱۸۲/٤، باب الغين مع الالف.....)_

(۲) فتح الباري: ۲۳۱/٦_۲۳۲)_

(۳) شرح ابن بطال: ۲۹۱/۵، وعمدة القاري: ۵۲/۱۵، وفتح الباري: ۲۳۰/٦)_

مشرانو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم د خپلو مالی معاملاتو ذمه داری حضرت زبیر رضی الله عنه ته حواله کړې وه. دوی به د هغوی د مالی کارونو او امورو نګرانی کوله. لکه زبیر بن بکار د هشام بن عروه د طریق نه نقل کړې دي چې د حضرت عثمان، حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت مطیع بن الاسود، حضرت ابوالعاص بن الربیع، حضرت عبدالله بن مسعود او د حضرت مقداد بن عمرو رضی الله عنهم وغیره په شان صحابه کرامو هم د خپل مالی معاملاتو انتظام حضرت زبیر رضی الله عنه ته حواله کړې وو.[1]

قوله: وما ولي امارة قط، ولا جباية خراج، ولا شيئاً الا أن يكون في غزوة مع النبي ﷺ، أو مع أبي بكر وعمر وعثمان رضی الله عنهم: کله هم دوی د څه ځائي حاکم جوړ شوې نه دی، کله ئې هم د خراج د وصولولو ذمه داری اخستلې نه ده او نه بل څه څیز وو چې په هغې کښې ئې څه عهده اخستلې وی، بس نبی کریم ﷺ سره یا حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم سره به ئې غزا (جهاد) کوله.[2]

په دې جمله کښې حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما د یو وهم دفع کړې ده چې حضرت زبیر رضی الله عنه سره دومره لوئې مقدار کښې مال د کوم ځائې نه راغئ. چې هر کله والی هم نه وو. جابی هم نه وو (ټیکس وصولوونکې) نو ددې جواب هغوی بیان کړو چې دا ټول مال د مختلفو غزاګانو برکت دې، حضرت زبیر رضی الله عنه به په غزاګانو کښې نبی کریم ﷺ، حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم سره ملګرتیا کوله. کوم غنیمت چې به ملاؤ شو نو هغه به ئې په کاروبار وغیره کښې لګوو. ددې وجې نه څه بد او خراب ګمان کول پکار نه دی. الله تعالی د دوی په مال کښې برکت اچولې وو. په هغې کښې ورته ډیرې زیاتې فائدې حاصلې شوې یعنی د لکونو او کروړونو نه زیاتې شوې. ابن بطال رحمه الله فرمائی:

"وقوله: "وما ولى امارة قط، ولا جباية خراج" فيكثر ماله من هذا الوجه، فيكون عليه فيه ظن سوء ومغمز لظن عمر والمسلمين بالعمال، حتى قاسمهم، بل كان كسبه من الجهاد وسهمانه من الغنائم مع رسول الله وخليفتيه بعده، فبارك الله في ماله لطيب أصله، وربح أرباحاً بلغت ألوف الالوف"[3]

ددې نه علاوه زبیر بن بکار خپل سند سره روایت کړې دې چې د حضرت زبیر رضی الله عنه په ملکیت کښې سل غلامان وو چې دوی ته به ئې خراج ادا کوو. نو په دې وجوهاتو باندې خیال کول چې هغوی دا مال غلطو طریقو سره حاصل کړې وو، دا خیال بالکل غلط دې.[4]

قوله: قال عبدالله بن الزبير: فحسبت ما عليه من الدين، فوجدته ألفي ألف،

---

[1] فتح الباری: ۶/۲۳۰_

[2] د حضرت ابوبکر رضی الله عنه حالاتو د پاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب من لم يتوضا من لحم الشاة والسويق)

[3] شرح ابن بطال: ۵/۲۹، وعمدة القاری: ۱۵/۵۲، وفتح الباری: ۶/۲۳۰)_

[4] فتح الباری ۶/۲۳۰)_

ومائتى ألف: حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه وائى چې په دوى باندې كومه قرضه وه. ما د هغې حساب اولګوو نو هغه دوه ويشت لاكه وه، (دوه ملين، دوه لكهه)
دا قول هم سابقه سند سره موصول دې.(۱)
او حسبت د باب نصر نه د ماضى متكلم صيغه ده ددې معنى ده شمارل او حساب كول. حساباً وحسباناً. بالضم. وغيره ددې مصدرونه دى. دويم يو لفظ دې چې د باب حسب بالكسر نه دې، د هغې مصدر حسباناً. بالكسر. وغيره دې، د هغې معنى ده ګمان او اندازه لګول(۲)

قال: فلقى حكيم بن حزام عبدالله بن الزبير، فقال: يا ابن أخى. كم على أخى من الدين؟

فرمائى چې حضرت حكيم بن حزام(۳)حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما سره ملاؤ شو او وې فرمائيل: ورارهٔ! زما د ورور قرضه څومره ده؟
حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه د حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه د ترهٔ ځوئې وو. ددې وجې نه هغوى حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه ته "يا ابن اخى" سره آواز اوكړو.(۴)

قوله: فكتمه، فقال: مائة ألف: حضرت عبدالله رضي الله عنه ترينه د قرض اصل مقدار پټ اوساتلو او وې فرمائيل يو لاك.

ايا دا دروغ او غلط بيانى نهٔ ده؟ په حضرت زبير رضي الله عنه باندې د واجب قرض مقدار دوه ويشت لاكه وو ليكن د حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه په تپوس باندې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه د قرض اصل مقدار ترينه پټ اوساتلو او صرف يو لاك ئې ورته اووئيل او باقى يو ويشت لاكهٔ ئې حذف كړل نو آيا دا په دروغو او غلط بيانئ كښې نهٔ راځى؟
ابن بطال رحمه الله ددې اشكال جواب دا ارشاد فرمائيلې دې چې دا دروغ نهٔ دى او نهٔ غلط بيانى ده ځكه چې هغوى ورته څهٔ اووئيل او څهٔ ئې پټ اوساتل ځكه چې هر سړى ته دا حق حاصل دې چې كله د هغهٔ نه د څهٔ څيز په باره كښې تپوس اوكړې شى نو تپوس كوونكې ته چې څومره ئې خوښه وى وئيلې شى نو دغه شان هغوى ته هم دا حق حاصل وو چې څهٔ ورته اووائى او څهٔ ورته اونهٔ وائى، دلته هغوى د حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه په تپوس كولو باندې دا خپل حق اختيار كړو.(۵)

د قرض د اصل مقدار پټولو وجه: ددې وجه دا وه چې حضرت حكيم رضي الله عنه د حضرت زبير رضي الله عنه په باره كښې څهٔ غلط ګمان او د احتياط د كموالى رائې اختيار نهٔ كړى چې دومره لويه قرضه

---

(۱) فتح البارى: ۲۳۰/۶، وعمدة القارى: ۵۲/۱۵_
(۲) پورته حواله جات)_
(۳) د حضرت حكيم بن حزام رضي الله عنه د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الزكاة، باب لا صدقة الا عن ظهر غنى)_
(۴) عمدة القارى: ۵۳/۱۵، وشرح الكرمانى: ۱۰۱/۱۳، وفتح البارى: ۲۳۱/۶)_
(۵) شرح ابن بطال: ۲۹۲/۵، وفتح البارى: ۲۳۱/۶، وعمدة القارى: ۵۳/۱۵)_

پرې څنګه واجبه شوه، چې بیا د هغې په ادا کولو کښې وارثان پریشان وی؟
ددې نه علاوه د حضرت عبدالله رضی الله عنه په نظر کښې دا خبره هم وه چې حضرت حکیم رضی الله عنه د هغوی په باره کښې دا خیال اونه کړی چې دې د څۀ مدد او تعاون محتاج دې. چې د هغې په نتیجه کښې دې (حضرت حکیم) حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما لره خپل محتاج خیال کړی.(۱)
د حقیقت د پټولو خلاصه دوه خبرې شوې.
①: حضرت زبیر رضی الله عنه متعلق حضرت حکیم بن حزام رضی الله عنه د څۀ غلط فهمۍ ښکار نۀ شی.
② د حضرت عبدالله رضی الله عنه غیرت او خود داریٔ ته څۀ نقصان اونۀ رسی چې حضرت حکیم بن حزام رضی الله عنه دوی لره د خپل مدد او تعاون محتاج خیال کړی

قوله: فقال حکیم: والله، ما أری أموالکم تسع هذه، فقال له عبدالله: أرأیتك إن کانت ألفی ألف ومائتی ألف؟ قال: ما أراکم تطیقون هذا، فإن عجزتم عن شئ منه فاستعینوا بی: حضرت حکیم اوفرمائیل. په خدائې قسم: زما خیال نۀ دې چې ستاسو مالونه به ددومره قرض دپاره کافی شی نو حضرت عبدالله ورته اووئیل. که قرض دوه ویشت لاکه وی نو ستاسو څۀ خیال دې؟ نو حضرت حکیم اوفرمائیل زما په خیال تاسو ددې د ادا کولو قدرت نۀ لرئ، نو که چرته تاسو ددې د ادا کولو نه عاجزه شوئ نو زما تعاون حاصل کړئ.
ابتداء کښې حضرت عبدالله د قرض مقدار کم اوښودلو. چې د هغې وجه اوس تیره شوه. چې هرکله ئې محسوسه کړه چې حضرت حکیم یو لاک قرض ډیر لوئې رقم ګڼړی نو حضرت عبدالله دا ضروری اوګڼړله چې د قرض پوره مقدار دوی ته اوښودلې شی او دا یقین ورته هم ورکړې شی چې د قرض د دومره لوئې مقدار په ادا کولو باندې زما قدرت هم شته. یو لاک خو ډیر معمولی رقم دې.(۲)

قوله: وکان الزبیر اشتری الغابة بسبعین ومائة ألف، فباعها عبدالله بألف ألف وستمائة ألف: او حضرت زبیر غابه په یو لاک اویا زره باندې اخستې وه، دا حضرت عبدالله په شپاړس لاکه باندې خرڅه کړه.
حضرت عبدالله د غابه زمکه شپاړس حصو کښې تقسیم کړه او د هرې حصې قیمت ئې یو لاک مقرر کړو چې څوک اخستل غواړی نو د هرې حصې یو لاک روپۍ قیمت دې، دغه شان ټوله زمکه د شپاړس لاکو شوه(۳)

قوله: ثم قام، فقال: من کان له علی الزبیر حق فلیوافنا بالغابة: بیا حضرت عبدالله (د اعلان کولو دپاره) اودریدو، وې فرمائیل چې په زبیر باندې د چا حق وی نو هغه

---
(۱) پورته حواله جات)_
(۲) فتح الباری: ۲۳۱/۶، وعمدة القاری: ۵۳/۱۵)_
(۳) فتح الباری: ۲۳۱/)_

دي مونږ سره په غابه کښې ملاؤ شی۔
فليوافنا د موافاة(مفاعلة)نه دي، ددې معنی ده راتلل، أی فليأتنا.(۱)

فأتاه عبدالله بن جعفر۔ وكان له على الزبير أربعمائة ألف۔ فقال لعبدالله: إن شئتم تركتها لكم. قال عبد الله: لا، قال: فإن شئتم جعلتموها فيما تؤخرون إن أخرتم. فقال عبد الله: لا، قال: قال: فاقطعوا لي قطعة. قال عبدالله: لك من هاهنا إلى هاهنا

نو عبدالله بن جعفر د حضرت عبدالله بن زبیر(اعلان اوریدلو سره) راغئ. د دوی په حضرت زبیر باندې څلور لاکه روپئ وې او ابن الزبیر ته ئې اووئیل چې که تاسو غواړئ نو زۀ به خپل رقم تاسو ته پرېږدم. ابن الزبیر اوفرمائیل نه، دا نۀ شی کیدې. نو ابن جعفر اووئیل چې که تاسو غواړئ نو دا معامله مؤخر کړئ د نورو مؤخر شوې معاملاتو په شان، ابن الزبیر اووئیل چې نه دا هم نۀ شی کیدې. ابن الزبیر وائی چې ابن جعفر اووئیل تۀ زما دپاره د زمکې یوه حصه جدا کړه حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما اووئیل چې ستاسو دپاره ددې ځائې نه دې ځائې پورې زمکه ده۔

حضرت زبیر د حضرت عبدالله بن جعفر څلور لاکه قرض دارې وو، چې کله عبدالله بن زبیر اعلان اوکړو نو د اعلان په اوریدو سره عبدالله بن جعفر ورته راغئ او دوه پیشکشونه ئې اوکړل، یو خو دا چې زۀ خپل حق پرېږدم، دویم دا چې دا معامله فی الحال د نورو معاملاتو په شان مؤخر کړه، زۀ اوس د خپل حق مطالبه نۀ کوم، چې کله دې خوښه شی نو بیا راته راکړه، د باب د حدیث شریف مضمون هم دا دی۔

د یعقوب بن سفیان په تاریخ کښې نور تفصیل دادې چې په دې موقع باندې حضرت حکیم بن حزام او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم هم حاضر وو او دا خبرې اترې د حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنهما په کور کښې شوې وې، نو هرکله چې دا ټول حضرات د هغوی کور ته داخل شو نو ابن جعفر اوفرمائیل چې آیا تاسو دا حضرات ماته د سفارش دپاره راوستلې دی، بس ما درته خپل حق پریخودو نو ابن الزبیر اووئیل، زۀ دا نۀ غواړم، نو هغوی اووئیل چې ددې قرض په بدله کښې تاسو ماته خپلې څپلئ راکړئ، ابن الزبیر اووئیل، زۀ دا هم نۀ غواړم نو حضرت عبدالله بن جعفر حیرانتیا سره اووئیل آیا تاسو معامله د قیامت د ورځ دپاره پریخودل غواړئ چې هلته فیصله اوشی؟ ابن الزبیر اووئیل، داسې هم نۀ غواړم نو ابن جعفر اووئیل چې زۀ معامله په تاسو باندې پرېږدم، تاسو چې څۀ فیصله اوکړئ نو ماته به قبول وی نو ابن الزبیر اووئیل چې زۀ به د قرض په بدله کښې تاسو ته جائیداد درکوم نو هغوی اووئیل چې ټهیک ده.(۲)

قوله: قال: فباع منها، فقضى دينه، فأوفاه، وبقي منها أربعة أسهم ونصف...:

---

(۱) عمدة القاری:۱۵/۵۳. والقاموس الوحيد للكيرانوى، مادة: "وفى".

(۲) المعرفة والتاريخ للفسوى:۲/۲۳۹، مكحول، رقم(۲۴۰)وفتح البارى:۶/۲۳۱)_

فرمائي چې حضرت عبدالله بن زبير په ترکه کښې څۀ حصه خرڅه کړه او قرض ئې پوره ادا کړو او د زمکې څلورنيمې حصې(د قرض ادا کولو نه پس)بچ شوې.

"منها"نه مراد"من الغابة والدور"دې،صرف"من الغابة"نۀ دې.دا ځکه چې قرض ډوه ويشت لاکه وو،پورته ذکر شوې دی چې د زمکې قيمت شپاړس لاکه وو(١)،نبکاره خبره ده چې په شپاړس لاکه باندې دوه ويشت لاکهه څنګه ادا کيدې شي؟ددې وجې نه ابن الزبير زمکه هم خرڅه کړه او څۀ کورونه ئې هم خرڅ کړل،دغه شان ئې قرض ادا کړو او د زمکې څلور نيمې حصې بچ پاتې شوې.

قوله: فقدم على معاوية ـ وعنده عمرو بن عثمان، والمنذر بن الزبير، وابن زمعة:

ددې نه پس حضرت عبدالله بن زبير حضرت معاويه رضي الله عنه ته راغئ،دغه وخت دوی سره عمرو بن عثمان(٢)،منذر بن زبير او عبدالله بن زمعه رضي الله عنهم هم موجود وو.

قوله: المنذر بن الزبير: دا جليل القدر شخصيت ابوعثمان منذر بن زبير بن عوام بن خويلد دې. حضرت اسماء بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما د دوی مور بی بی ده(٣)او د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما ورور دې. دوی د حضرت عمر رضي الله عنه په دور خلافت کښې پيدا شوې وو.(٤)

حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه چې د قسطنطنيه د محاذ دپاره د خپل ځوی يزيد په مشرئ کښې کوم لښکر ته ترتيب ورکړې وو،په هغې کښې دوی هم وو او په دغه غزوه کښې شريک وو.(٥)

زبير بن بكار وائي چې د منذر د خپل ورور حضرت عبدالله سره څۀ خفګان پيدا شو نو دوی هغه پريخودلو او کوفه کښې د حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه خدمت کښې حاضر شو،چې هغوی ئې ډير اکرام اوکړو او لس لاکه درهمه(٦)او دې سره سره څۀ جائيداد هم وو.(٧)،ئې ورکړل ليکن د هغې د وصولولو نه مخکښې حضرت امير معاويه رضي الله عنه وفات شو.

حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه په خپل وصيت کښې فرمائيلې وو چې زما قبر ته به منذر کوزيږی(٨) ددې نه ددې دواړو د تعلق د کلکوالى اندازه ښۀ کيدې شي.

---

(١) فتح البارى:٦/٢٣١)_

(٢) د حضرت عمروبن عثمان حالات كتلو دپاره اوګورئ،كتاب الجنائز،باب قول النبى صلى الله عليه وسلم:يعذب الميت.......)_

(٣) سير أعلام النبلاء:٣/٣٨١،والطبقات الكبرى لابن سعد:٥/١٨٢)_

(٤) سير أعلام النبلاء:٣/٣٨١،والبداية والنهاية:٨/٢٤٦)_

(٥) پورته حواله جات)_

(٦) د ابن كثير مطابق دا رقم يو لاک وو

(٧) البدايه والنهاية:٨/٢٤٦)_

(٨)البدايه والنهاية:٨/٢٤٦،وسير أعلام النبلاء:٣/٣٨١)_

د دوى د ورور عبدالله بن زبير او د يزيد بن معاويه مينځ كښې چې كله د بيعت په معامله كښې اختلاف شو، خبره ډيره شوه او دوى ته اطلاع اوشوه نو دوى د كوفې نه راغلل او په اتو ورځو كښې ئې د مكې مكرمې مسافت پوره كړو او راؤرسيدو. اهل شام چې كله د عبدالله بن زبير محاصره اوكړه نو په دې محاصره كښې دوى هم راغلل. دې دوران كښې ۶۴هـ كښې دوى وفات شو، ټول عمر مبارك ئې څلويښت كاله وو.[1]

ابن كثير ليكلي دى چې دوى او عثمان بن عبدالله بن حكيم به د ورځې د اهل شام خلاف جنګيدل او د شپې به ئې هم په دوى باندې خوراک كوو.[2]

د دوى لور فاطمه بنت المنذر مشهوره محدثه وه او د هشام بن عروه بن زبير په نكاح كښې وه.[3] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

ابن زمعه: دا د نبى كريم ﷺ صحابى عبدالله بن زمعه بن اسود بن مطلب بن اسد قرشى اسدى مدنى رضي الله عنه دې. د دوى مور بى بى قريبة الكبرى ده چې د ام المؤمنين حضرت ام سلمه حقيقى خور ده، دغه شان حضرت ابن زمعه د حضرت ام سلمه خورئې شو.[4]

د حضرت ام سلمه لور زينب بنت ابوسلمه د ابن زمعه په نكاح كښې وه.[5]

دوى د نبى كريم ﷺ او د خپلې ترور حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت كوى.

د دوى نه د حديث په روايت كوونكو كښې د دوى ځوئې ابوعبيده، عبيدالله بن عبدالله بن عتبه، عروه بن الزبير او ابوبكر بن عبدالرحمن بن الحارث وغيره شامل دى.[6]

دوى د قريش په اشرافو كښې دى، البته د محدثينو په نزد د دوى شمار په اهل مدينه كښې كيږى.[7]

دوى به د نبى كريم ﷺ كور ته خپلې ترور كره تلل راتلل، د نبى كريم ﷺ په مرض الوفات كښې ئې دا خبر راؤړې وو چې ابوبكر ته اووايه چې مونځ وركړى، ليكن حضرت ابوبكر رضي الله عنه په موقع باندې موجود نه وو نو دوى حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته د مونځ وركولو دپاره اوفرمائيل.[8] د نبى كريم ﷺ د وفات په وخت د دوى عمر پنځلس كاله وو.[9]

---

[1]) پورته حواله جات، وتاريخ الذهبى: ۲/۳۷۶)_

[2]) البداية والنهاية: ۸/۲۴۶)_

[3]) سير أعلام النبلاء: ۳/۳۸۱)_

[4]) تهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۵، وتهذيب التهذيب: ۵/۲۱۸، والاستيعاب: ۱/٥٤٤، والجرح والتعديل: ۵/۶۹، باب العين، رقم (۲۷۲))_

[5]) تهذيب التهذيب: ۵/۲۱۸، وتهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۶)_

[6]) تهذيب التهذيب: ۵/۲۱۸، وتهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۶)_

[7]) الاستيعاب: ۱/٥٤٤، وإكمال مغلطاى: ۳۵۹، وتهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۶)_

[8]) تهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۶، والاستيعاب: ۱/٥٤٤، وتهذيب التهذيب: ۵/۲۱۸-۲۱۹، وسنن أبى داؤد، كتاب السنة، باب فى استخلاف أبى بكر، رضى الله عنه، رقم (۴۶۶۰))_

[9]) تهذيب الكمال: ۱٤/۵۲۵)_

دوى د زيادى د قول مطابق حضرت عثمان سره ۳۵هجرى كښې شهيد شو اودابن الكلبى وينا دا ده چې مسلم بن عقبه په "يوم الحرة" باندې دوى ظلماً شهيد كړې وو. ليكن ابن عبدالبر فرمائى چې په يوم الحره باندې خو د دوى ځوئې يزيد شهيد شوې وو نهٔ چې ابن زمعه.[1]

امام ذهبى وائى چې حضرت عبدالله بن زمعه د ام المؤمنين حضرت سوده ورور دې،[2].

غالباً هم د دوى په تقليد كښې علامه عينى هم دا ليكلې دى. البته دا خبره صحيح نهٔ ده. دلته د دوى نه تسامح شوې ده. د دواړو په نسب كښې غوروفكر كولو سره دلته ددې خبرې غلط كيدل په واضحه توګه معلوميږى.[3]

د اصول سته اصحابو د دوى روايات نقل كړې دى.[4].

د دوى نه ټول ځلور احاديث مباركه روايت دى. چې په هغې كښې يو حديث داسې دې چې په دريو احكاماتو باندې مشتمل دې، ددې وجې نه بعضې راويانو خو دا درې واړه يوځائې كړې دى او د يو حديث مجموعه ئې ګرځولې ده او بعضو په هر حكم باندې مشتمل حديث مستقل بالذات حديث ګرځولې دې، لكه څنګه چې علامه خزرجى هم كړې دى او فرمائى چې "وله حديث متفق عليه"[5] په دې اعتبار سره به مجموعى روايتونه دوه شى، هم دې خبرې لره اختيارولو سره علامه نابلسى د دوى صرف دوه حديثونه ذكر كړې دى[6]

په حديث شريف كښې چې د حضرت عبدالله بن زبير حضرت معاويه ﷺ ته د تللو كومه تذكره ده نودا د دمشق ده ځكه چې دوى مبارك هلته وو چې حضرت عبدالله دملاقات دپاره تشريف يوړو، دغه ځائې كښې دغه وخت نور حضرات هم تشريف فرما وو.[7]. كمامر.

فقال له معاوية: كم قومت الغابة؟ قال: كل سهم مائة ألف. قال: كم بقي؟ قال: أربعة

---

[1]) تهذيب التهذيب: ۲۱۹/۵، والاستيعاب: ۱/۵٤۵، والاكمال للمغلطاى: ۳۵۹/۷)_

[2]) الكاشف للذهبى: ۵۳۳/۱، رقم (۲۷۲۶)، وعمدة القارى: ۵۳/۱۵)_

[3]) تهذيب التهذيب: ۲۱۹/۵، د ام المؤمنين حضرت سوده نسب دادې: سودة بنت زمعه بن قيس بن عبدشمس بن عبدود بن نصر.......قرشيه عامريه، رضى الله عنها (تهذيب الكمال: ۲۰۰/۳۵، النساء) او د حضرت عبدالله بن زمعه نسب داسې دې: عبدالله بن زمعه بن الاسود بن المطلب بن اسد بن عبدالعزى..... قرشى اسدى، رضى الله عنه (تهذيب الكمال: ۵۲۵/۱٤)]-

نو د دواړو په نسب كښې واضح طور سره فرق دې چې د حضرت سوده نيكهٔ قيس بن عبدشمس دې، او د عبدالله بن زمعه نيكهٔ الاسود بن المطلب دې، دغه شان حضرت سوده عامريه ده ځكه چې د بنوعامر سره ئې تعلق دې او د عبدالله بن زمعه تعلق د بنواسد سره دې رضى الله عنهما.

[4]) تهذيب الكمال: ۱٤/ ۵۲۶، والكاشف: ۵۳۳/۱، وتهذيب التهذيب: ۲۱۸/۵)_

[5]) خلاصة الخزرجى: ۱۹۸، دغه شان اوګورئ: الاصابة: ۳۱۱/۲، والاستيعاب: ۱/ ۵٤٤)_

[6]) ذخائر المواريث فى الدلالة على مواضع: ۲۶/۲، رقم (۲۶۹۰-۲۶۹۱))_

[7]) عمدة القارى: ۵۳/۱۵)_

أسهم ونصف. فقال المنذر بن الزبير: قد أخذت سهما بمائة ألف. وقال عمرو بن عثمان: قد أخذت سهما بمائة ألف. وقال ابن زمعة: قد أخذت سهما بمائة ألف. فقال معاوية: كم بقي؟ فقال: سهم ونصف. قال: أخذته بخمسين ومائة ألف.
نو حضرت معاويه اووئيل چې د غابې څه قيمت مقرر شوې دې؟ عبدالله اووئيل چې هره حصه د يو لاک ده. وې فرمائيل چې څومره حصې پاتې دی؟ وې فرمائيل څلور نيمې حصې نو منذر بن زبير اووئيل چې يوه حصه زۀ په يو لاک اخلم او عمرو بن عثمان اووئيل چې يوه حصه ما په يو لاک واخسته او عبدالله بن زمعه اووئيل چې يوه حصه ما په يو لاک واخسته بيا معاويه ﷺ اووئيل چې څومره پاتې شوه؟ عبدالله بن زبير اووئيل چې يوه نيمه حصه. نو معاويه ﷺ اوفرمائيل چې دا ما په يو نيم لاک (يو لاک پنځوس زره) باندې واخسته.

د حضرت عبدالله په قول "كل سهم مائة الف" كښې لفظ د مائة منصوب بنزع الخافض دې. اصل عبارت داسې دې، "كل سهم بمائة الف" (¹).

قوله: قال: وباع عبدالله بن جعفر نصيبه من معاوية بستمائة ألف: فرمائي: او عبدالله بن جعفر هم خپله حصه په حضرت معاويه ﷺ باندې په شپږ لاکه باندې خرڅه كړه. مطلب دادې چې حضرت عبدالله بن جعفر ته د خپل قرض په بدله كښې په غابه كښې كومه حصه ملاؤ شوې وه نو هغه ئې په حضرت اميرمعاويه باندې خرڅه كړه. د څلورو لاكو حصه وه او هغه ئې په هغوی باندې په شپږ لاكه خرڅه كړه، دغه شان هغوی ته دوه لكه روپئ فائده اوشوه. (²).

قوله: فلما فرغ ابن الزبير من قضاء دينه قال بنو الزبير: اقسم بيننا ميراثنا. قال: لا والله، لا أقسم بينكم حتى أنادي بالموسم أربع سنين: ألا من كان له على الزبير دين، فليأتنا، فلنقضه: هركله چې حضرت عبدالله بن زبير د قرض ادا كولو نه فارغ شو نو بنوالزبير مطالبه اوكړه چې زمونږ ميراث په مونږ كښې تقسيم كړه. هغوی اوفرمائيل په خدائې قسم چې نۀ تقسيموم، هغه وخته پورې نۀ تقسيموم چې د حج په موقع باندې څلور كالو پورې آواز اونۀ كړم چې كه په زبير باندې د چا څۀ حق وی نو هغه دې مونږ ته راشی چې مونږ د هغۀ حق ادا كړو.

د حضرت عبدالله قول "لا والله" د فعل د حذف سره دې، "لا اقسم والله" دې نه پس جمله د ماقبل تفسير دې. حضرت عبدالله چونكه وصی وو او په بنو الزبير كښې د ټولو نه مشر هم وو، ددې وجې نه هغوی د ميراث د تقسيمولو نه انكار اوكړو، ددې گمان په بنياد باندې چې شايد د چا حق پاتې شوې وی او ماته اطلاع نۀ وی رارسيدلې، بنكاره خبره ده چې ترڅو د

---

¹) پورته حواله، وإرشاد الساري: ۲۱۲/۵)_
²) فتح الباري: ۲۳۲/۶، وإرشادالساري: ۲۱۳/۵)_

قرض پوره ادائیگی شوې نهٔ وی نو میراث خو نهٔ شی تقسیمیدې.ددې وجې نه ئې اوفرمائیل چې لږ صبر اوکړئ،زهٔ د حج په موقع باندې څلور کالو پورې اعلان کوم،ددې نه پس به ئې تقسیموم - بهرحال د هغوی مقصد هیڅکله حق دار لره د خپل حق د وصولئ نه منع کول نهٔ وو چې حقدار ته د هغهٔ حصه ورنهٔ کړې شی.(۱)

الموسم.بکسر السین.نه مراد د حج ورځې دی،دا د وسمه بمعنی علامت نه مشتق دې،چونکه دا ورځې په مکه مکرمه کښې د خلقو د جمع کیدو دپاره علامت وی،ددې وجې نه ددې نوم موسم اوګرځولې شو.(۲)

او د څلور کالو د خاص کولو وجه داده چې دغه وخت هم او د هغې نه پس بیا هم د مکې مکرمې او د دنیا د نورو علاقو ترمینځه دوه کاله مسافت وو،د هغوی مقصد دا وو چې اقطار عالم ته د دوی پیغام اورسی،دا دوه کاله شو،بیا ددې جواب راتلو نو دا دوه کاله شو،دغه شان دا ټول څلور کاله شو.(۳)

قوله: قال: فجعل كل سنة ينادي بالموسم،فلما مضى أربع سنين قسم بينهم:

فرمائی چې حضرت عبدالله بن زبیر به هرکال د حج په ورځو کښې اعلان کوو،چې کله څلور کاله تیر شو نو په وارثانو کښې ئې میراث تقسیم کړو.

قوله: قال: وكان للزبير أربع نسوة: فرمائی او د حضرت زبیر څلور بیبیانې وې.

دا د شهادت د وخت ذکر دې چې د شهادت په وخت کښې د هغوی په نکاح کښې څلور بیبیانې وې،د هغوی نومونه دا دی،ام خالد ،رباب،زینب او عاتکه بنت زید(دا د حضرت سعید بن زید خور بی بی ده چې په عشره مبشره کښې دې).

حضرت زبیر شپږ نکاحونه کړې وو،چې په هغې کښې هغوی حضرت اسماء بنت ابی بکر او ام کلثوم ته طلاق ورکړې وو،طلاق هغوی بی بی عاتکه ته هم ورکړې وو لیکن د هغوی د شهادت په وخت دا په عدت کښې وه او حضرت عبدالله بن زبیر د مال په یو مخصوص مقدار باندې دوی سره صلح کړې وه.(۴).کما رواه الحاکم(۵)

ورفع الثلث: او دریمه حصه ئې جدا کړه.

یعنی د کوم ثلث مال چې حضرت زبیر وصیت کړې وو،هغه ئې جدا کړو.(۶)

---

۱) عمدة القاری:۵۳\۱۵،وشرح الکرمانی:۱۰۲\۱۳)_
۲) عمدة القاری:۵۳\۱۵،وشرح الکرمانی:۱۰۳\۱۳،والقاموس الوحید،مادة وسم)_
۳) العمدة:۵۳\۱۵،والکرمانی:۱۰۲\۱۳،وارشاد الساری:۲۱۳\۵،والکوثر الجاری:۱۱۳\۶)_
۴) فتح الباری:۲۳۲\۶،وعمدة القاری:۵۳\۱۵)_
۵) المستدرک:۴۱۵\۳،کتاب معرفة الصحابة،ذکر مقتل الزبیر بن العوام،رقم (۵۵۸۲).
۶) فتح الباری:۲۳۲\۶،وعمدة القاری:۱۵،وارشاد الساری:۲۱۳\۵)_

فأصاب كل امرأة ألف ألف ومائتا ألف: نو د هرې ښځې په حصه کښې دولس لاکه راغلې.
ددې مطلب دادې چې د میراث پیسې ۴۸ لاکه وې، دولس لره څلورو سره ضرب ورکولو کښې هم دا تعداد جوړیږی.(۱)

قوله: فجميع ماله خمسون ألف ألف ومائتا ألف: د دوی د ټول مال مقدار ۵ کروړه او دوه لاکه وو.

دلته د حدیث شارحینو تفصیلي بحثونه کړې دی، چې په هغې باندې پوهیدل آسان نۀ دی البته مونږ لاندې یو څو اقوال نقل کوو او په هغې باندې به تبصره هم کیږی.
حضرت زبیر بن عوام رضی الله عنه فرمائیلې وو چې که د قرض ادا کولو نه پس څۀ مال بچ پاتې شی نو د هغې په ثلث کښې دې وصیت جاری کړې شی او باقی مال دې په وارثانو کښې تقسیم کړې شی، تفصیل وړاندې تیر شوې دې.
اوس په حساب باندې ځان پوهه کړئ!
قرض دوه ویشت لاکه روپئ دې او هرې بی بی ته دولس لاکه ورکړې شوې، نو د دوی ټوله حصه اتۀ څلویښت لاکه جوړیږی، دا اتۀ څلویښت د قرض او وصیت ادا کولو نه پس باقی مال دې نو ۴۸ لاکه ته چې په ۸ کښې ضرب ورکړې شی نو د قرض او وصیت ادا کولو نه پس چې څۀ پاتې کیږی د هغې ټول مقدار به معلوم شی(۴۸۰۰۰۰۰×۸ = ۳۸۴۰۰۰۰۰)
دغه شان به دا رقم ۳ کروړه او ۸۴ لاکه شی، دې سره چې د وصیت ثلث ملاؤ کړې شی کوم چې یو کروړ ۹۲ لاکه دې، نو حاصل جمع(۵۷۶۰۰۰۰۰)پنځه کروړه او شپږ اویا لاکه روپئ شوې.
د وصیت د ثلث ویستلو طریقه به دا وی چې ۵ کروړ ۷۶ لاکه په ۳ باندې تقسیم کړې شی نو ثلث به راؤځی، یعنی ۵۷۶۰۰۰۰۰/۳ = ۱۹۲۰۰۰۰۰
بیا چې په دې ټول رقم یعنی ۵ کروړه ۷۶ لاکه کښې ۲۲ لاکه قرض شامل کړې شی، یعنی ۵۷۶۰۰۰۰۰+۲۲۰۰۰۰۰ = ۵۹۸۰۰۰۰۰ نو ټول مال ۵ کروړه او ۹۸ لاکه روپئ شو. دا ساده حساب دې او په دې کښې د دَین او وصیت نه پس، ثلث او وصیت ټول راغلل.(۲)

---

(۱) فتح الباری: ۶/۲۳۲)_
(۲) ټول مال ۵ کروړه ۹۸ لاکه دې، چې د هغې تفصیل د اجزاؤ په اعتبار سره لاندې ذکر کولې شی: ثمن ۴۸۰۰۰۰۰×۸ (د ۴ بیبیانو حصه)(اتۀ څلویښت لاکه)
ثمن ته مو په ۸ کښې ضرب ورکړو ۳۸۴۰۰۰۰۰ چې د قرض او وصیت نه پس مجموعه ده(۳ کروړه ۸۴ لاکه)

د وصیت دریمه حصه	۱۹۲۰۰۰۰۰+(۱ کروړ ۹۲ لاکه)
حاصل جمع	۵۷۶۰۰۰۰۰(۵ کروړ ۷۶ لاکه)
قرض	۲۲۰۰۰۰۰(دوه ویشت لاکه)

......[بقیه برصفحه آئنده...

اشکال او د هغې جوابات تفصیل تاسو اولوستلو،اوس اشکال دادې چې د روایت په آخره کښې دی، "فجمیع ماله خمسون ألف ألف ومائتا ألف" یعنی ټول مال ۵ کروړه او دوه لاکه وو او تفصیلی حساب سره ټول مال ۵ کروړه۹۸لاکه جوړیږی،نو په اجمال او تفصیل کښې مطابقت نشته؟هم دې خبرې د بخاری شریف شارحین حیران او پریشان کړې دی۔

جواب نمبر① حافظ شرف الدین دمیاطی ددې اشکال جواب دا ورکړې دې چې د بیبیانو په حصو کښې بعضې راویانو ته وهم شوې دې،اصل کښې د هرې بی بی حصه زر زر یعنی لس لاکه وه،په قرض کښې چې کوم الفی ألف ومائتی ألف وو،د هغې نه مائتی ألف(دوه لاکه)د بیبیانو په الف الف کښې شامل کړې شوې او الف الف ومائتا الف جوړ شو،که د بیبیانو نیمه حصه الف الف(۱۰لاکه)وی نو د څلورو بیبیانو حصه به ۴۰ لاکهه شی،بیا څلوېښت لاکه چې ثمن دې،دې ته به ۸ کښې ضرب ورکوو ۴۰۰۰۰۰۰×۸ = ۳۲۰۰۰۰۰۰،د ضرب حاصل درې کروړه او شل لاکه شو،چې د دین او وصیت نه پس باقی پاتې شوې مال دې،په دې کښې به د وصیت ثلث یوځائې کړې شی چې یو کروړ ۲۰ لاکه دې،یعنی ۳۲۰۰۰۰۰۰+ ۱۲۰۰۰۰۰۰= ۴۸۰۰۰۰۰۰ نو حاصل جمع به ۴کروړه۸۰ لاکه شی،بیا دې سره ۲۲ لاکه قرض یوځائې کړې شی،یعنی:

۴۸۰۰۰۰۰۰+ ۲۲۰۰۰۰۰= ۵۰۲۰۰۰۰۰ نو حاصل جمع به ۵ کروړه او دوه لاکه شی او اجمال او تفصیل کښې به مطابقت پیدا شی۔

حافظ ابن حجر دې جواب ته غوره وئیلې دی۔[1]

جواب نمبر② حافظ شرف الدین دویم جواب دا ورکړې دې چې حضرت عبدالله بن زبیر چې کوم څلور کاله میراث مؤخر کړې وو،په دغه زمانه کښې دا مال زیات شو او ۵کروړه ۹۸

...بقیه ازحاشیه گذشته] ټول مال- ۵۹۸۰۰۰۰۰(۵کروړ،۹۸لاکه)

تفصیل دپاره اوګورئ،فتح الباری:۲۳۲/۶)۔

[1] فتح الباری:۲۳۳/۶،هم دا قول علامه عینی هم ذکر کړې دې،لیکن ددې قول نسبت یئ نهٔ دې ذکر کړې،اوګورئ عمدة القاری:۴۹/۱۵

ددې قول خلاصه داده:

ثمن	۴۰۰۰۰۰۰	(د څلورو بیبیانو حصه،څلوېښت لاکهه)
ثمن ته مو ضرب ورکړو ۸ سره		
حاصل ضرب	۳۲۰۰۰۰۰۰	(درې کروړه شل لاکه،چې د قرض او وصیت نه پس باقی مانده دې)
د وصیت ثلث	۱۲۰۰۰۰۰۰	(یو کروړ شپیتهٔ لاکه)
حاصل جمع	۴۸۰۰۰۰۰۰	(څلور کروړه اتیا لاکه)
قرض	۲۲۰۰۰۰۰	(دوه ویشت لاکه)
ټول مال	۵۰۲۰۰۰۰۰	(پنځه کروړه دوه لاکه))۔

لاکه شو. ورنه ابتداء کښي دا ۵کروړه ۲ لاکه وو.(۱) ګویا ۹۲لاکه زیاتوالي په کښي اوشو. حافظ صاحب دا جواب د اول جواب نه هم غوره ښودلي دي او ترجمه کښي چې برکة الغازی سهر د حیا او د میتا کوم قید دي نو هغې سره هم ددې مطابقت دې او دا جواب بې تکلفه هم دي.(۲) هم دا جواب علامه کرمانی هم ذکر کړې دې.(۳)

جواب نمبر③ حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي چې "جمیع ماله خمسون" دا مبتدا او خبر دی، ددې معنی ده، "جمیع ماله خمسون سهما" کل د ټول مال پنځوس حصې وې او ددې نه پس "الف الف ومائتا الف" دې، دا د هرې حصې قیمت دې چې هره حصه د دولس لاکو روپو وه، اوس چې ۱۲ لاکه لره په ۵۰ کښي ضرب ورکړې شي، یعنی ۱۲۰۰۰۰۰× ۵۰ = ۶۰۰۰۰۰۰۰ نو د ټول مال مجموعه شپږ کروړه جوړیږی. او ۵ کروړه ۹۸لاکه کښي صرف دوه لاکه فرق پاتې کیږی، لکه په تفصیل کښي خو ۵ کروړه ۹۸ لاکه جوړیږی او په اجمال کښي تقریبی طور سره دي ته شپږ کروړه اووئیلې شو او په محاوراتو کښي دغه شان اطلاقات کیږی.(۴) لیکن ښکاره خبره ده چې دا جواب به تقریبي وی، تحقیقي به نۀ وی.

جواب نمبر④ بعضي علماؤ یو بل جواب ورکړې دې چې قرض د یو ښځې د حصې یعنی د دولس لاکو دوچند یعنی ۲۴ لاکه. په دې صورت کښي به مجموعه شپږ کروړه وی. ۵کروړه ۹۸ لاکه به نۀ وی، په دې صورت کښي به د اجمال او د تفصیل پوره مطابقت وی، په دې جواب کښي د یو ښځې حصه دوچند کولو سره د قرض مقدار متعین کړې شوې دې.

دلته قرض د من قبیل تثنیة المرکب نه معتبر منلې شوې دې، د یو ښځې حصه چې دولس لاکه ده، هغه مرکب ده، ددې دوچند قرض ګرځولي شوې دې. بیا جمیع ماله مبتدا او خمسون ئې خبر دې، ددې نه مراد خمسون سهما دې او الف الف ومائتا الف د هرې حصې قیمت دې، نو د پنځوس حصو قیمت د ۱۲ لاکو په حساب سره ۶ کروړه جوړیږی، دغه شان په اجمال او تفصیل کښي فرق نۀ پاتې کیږی.(۵) والله اعلم بالصواب

---

۱) فتح الباری:۶/۲۳۳)_

۲) فتح الباری:۶/۲۳۴)_

۳) پوره حواله، وشرح الکرمانی:۱۳/۱۰۳، وعمدة القاری:۱۵/۵۳)_

۴) فیض الباری:۳/۴۶۵، قصة شهادة الزبیر)_

۵) البدر الساری الی فیض الباری:۳/۴۶۵_۴۶۶. ددې قول خلاصه لاندې ذکر کولې شي:

د ښځو حصې ۴۸۰۰۰۰۰ (اته څلویښت لاکه)

۸ کښي ضرب ورکړې شو ۸×

د ضرب حاصل ۳۸۴۰۰۰۰۰ (درې کروړه، څلور اتیا لاکه، دا د قرض او وصیت نه پس باقي مانده مال دې)

.....ابقیه برصفحه آئنده.....

پورته چې کوم صورتونه بيان کړې شو نو دهغې روايت مطابق دى کوم چې امام بخارى صاحب رحمه الله نقل کړې دې،ورنه ابن سعد په طبقات کښې،ددې نه علاوه نورو حضراتو محدثينو چې کوم روايتونه نقل کړې دى،د هغې په اعتبار سره نور شکلونه جوړيږى.(١)

د حديث شريف متن سره متعلق يو وضاحت: د باب د حديث شريف شمار په هغه احاديثو کښې دې،چې په کومو کښې امام بخارى صاحب رحمه الله متفرد دې ځکه چې په اصحاب سته کښې د دوى نه علاوه چاهم دا حديث نهٔ دې ذکر کړې.

اصحاب الاطراف دا حديث په مسند زبير کښې ذکر کړې دې.حالانکه ددې شمار په مسند عبدالله بن زبير رضي الله عنه کښې کيدل پکار دى.(٢)

د استفهام د جواب ذکر: دلته د حديث په سند کښې راغلې دى "**قلت لابي أسامة: أحدثكم هشام بن عروة....؟**" چې استفهام او سوال خو ذکر دې ليکن په دې کښې جواب او تصديق ذکر نهٔ دې ځکه چې ابو اسامه د ابو اسحاق بن ابراهيم په تپوس باندې "نعم" وغيره نهٔ دې وئيلې.ليکن هم دا حديث ددې سند سره په مسند د اسحق بن راهويه کښې موجود دې،په هغې کښې کلمه د ايجاب موندلې کيږى چې هغوى د تحديث په سوال باندې اوفرمائيل چې او،هشام بن عروه ماته دا حديث اورولې دې.(٣) والله أعلم

...بقيه ازحاشيه گذشته]

د وصيت دريمه حصه	۱۹۲۰۰۰۰۰	(يو کروړ،دوه نوى لاکه)
حاصل جمع	۵۷۲۰۰۰۰۰	(پنځه کروړه،شپږ اويا لاکه)
د قرض مقدار	۲۴۰۰۰۰۰	(ځلويريشت لاکه،دا د من قبيل تثنية المركب نه دې)
ټول مال	۶۰۰۰۰۰۰۰	(شپږ کروړه)۔

(١) حافظ ابن حجر رحمه الله ددې سلسلې تقريباً ټول روايتونه او طرق بيان کړې دى(فتح البارى:٦/٢٣٣)، په دې ټولو کښې د حضرت زبير رضي الله عنه د مال په باره کښې ډير سخت اختلاف دې،ځوک څهٔ وائى او ځوک څهٔ وائى.البته حافظ رحمه الله په دې ټولو روايتونو کښې تطبيق کولو سره فرمائيلې دى چې دلته مقصود د مال په کميت کښې اختلاف بيانول نهٔ دى،بلکه مقصود دا وينا ده چې د هغوى په ترکه کښې څومره قدرې زياتوالې اوشو ځکه چې د شهادت په وخت هغوى د خپلو پسماندګانو دپاره څهٔ جائيداد پريخودلې وو او دې سره سره لوئې قرض هم ليکن الله تعالى په دې کښې برکت پيدا کړو او د مال دومره لويه مجموعه حاصله شوه،ليکى:

"وكان القوم أتوا من عدم إلقاء البال على تحرير الحساب،إذ الغرض فيه ذكر الكثرة التى نشات عن البركة فى تركة الزبير إذ خلف دينا كثيراً،ولم يخلف الا العقار المذكور،ومع ذلك فبورك فيه حتى تحصل منه هذا المال العظيم".فتح البارى:٦/٢٣٣)_

(٢) عمدة القارى:١٥/٤٨،وفتح البارى:٦/٢٢٨_٢٢٩)_

(٣) فتح البارى:٦/٢٢٩،وشرح القسطلانى:٥/٢١٣.دا د حافظ او د هغوى په اتباع کښې د قسطلانى ارشاد دې،البته دا روايت مونږ ته د ډير زيات تلاش کولو باوجود هم په ......[بقيه برصفحه آئنده...

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په دې معنى کښې دې چې حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه په خپله ترکه کښې څۀ کورونه پريخودلې وو، دې سره سره ډير زيات قرض هم. ليکن کوم مال چې ورته د حضرت نبى کريم ﷺ او د خلفاء ثلاثه حضرت ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره په غزواتو کښې شرکت کولو سره حاصل شو، هغې مال کښې الله تعالى د دوى په ژوند کښې هم برکت واچوو او د شهادت نه پس هم[1] لکه څنګه چې تاسو په حديث شريف کښې اوکتل. هم دا د ترجمې مقصود هم وو چې د غازى په مال کښې د هغۀ په ژوند کښې او د مرګ نه پس برکت وى. والله أعلم بالصواب

⑭ باب: إذا بعث الامام رسولاً فى حاجةٍ، أو أمره بالمقام، هل يُسهم له.

د ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله دلته دا فرمائى چې که د وخت امام يو سړى لره په دارالاسلام کښې د څۀ ضرورت د وجې نه پريخودلې وى، يا ئې د څۀ ضرورت د وجې نه يو سړې قاصد او پيغام رسوونکې ليږلې وى نو هغۀ ته به د غنيمت په مال کښې حصه ملاويږى يا نه؟[2]

په دې مسئله کښې اختلاف دې، د ائمه ثلثه، امام اوزاعى، ابوثور، نخعى او ليث بن سعد رحمهم الله وغيره مسلک دادې چې په دې صورت کښې به دغه قاصد او رسول يا چې په اقامت باندې مامور وى دوى ته به د غنيمت نه حصه نۀ ملاويږى، هم دې سره يوشان مسئله په باب[٩] الغنيمة لمن شهد الوقعة کښې تيره شوې ده.

① **احناف:** او د امام ابوحنيفه او د هغوى د ملګرو رحمهم الله وينا داده چې دې قسمه خلقو ته به په غنيمت کښې حصه ملاويږى، دوى به د غنيمت په مال کښې شريک وى.[3]

② **د ائمه ثلثه دليل:** په دې سلسله کښې د جمهورو مشهور دليل د حضرت عمر رضي الله عنه اثر دې چې "الغنيمة لمن شهد الوقعة" چې په غنيمت کښې به د هغه چا حصه وى څوک چې په جنګ کښې هم شريک شوې وى.[4]

....بقيه ازحاشيه گذشته] مسند اسحاق کښې ملاؤ نۀ شو. بلکه دلته د حافظ نه تسامح شوې ده څکه چې امام ابن راهويه ددې سند سره حديث د افک هم نقل کړې دې، چې د هغې په آخره کښې واقعى کلمه د ايجاب موجوده ده، فاقربه ابو اسامة، وقال: نعم. مسند اسحاق بن راهويه، حديث رقم(١١٧٧)_

[1]) فتح البارى: ٦/ ٢٣٣، وشرح القسطلانى: ٥/ ٢١٣، وعمدة القارى: ١٥/ ٤٨)_

[2]) عمدة القارى: ١٥/ ٥٤)_

[3]) شرح ابن بطال: ٥/ ٢٩٣، والکوثر الجارى: ٦/ ١١٤)_

[4]) ارشاد السارى: ٥/ ٢١٤)_

د باب الغنیمة لمن شهد الوقعة والا مسئله کښې امام بخاری ﷫ د ائمه ثلثه سره یو شان وو، او په دې مسئله کښې هغوی د احنافو هم مسلک معلومیږی.

د احنافو دلیل: د احنافو دلیل د باب حدیث شریف دې، په کوم کښې چې راغلې دی چې حضرت عثمان ﷛ ته نبی کریم ﷺ په غزوه بدر کښې د نه شریکیدو باوجود په غنیمت کښې حصه ورکړې وه، ځکه چې د هغوی د نه شرکت وجه د حضرت نبی اکرم ﷺ ممانعت وو چې تاسو دلته د خپلې بی بی پرورش اوکړئ (۱).

دغه شان اهل سیر ذکر کړې دی چې نبی کریم ﷺ حضرت سعید بن زید وطلحه بن عبیدالله ﷠ هغه لارې ته لیږلې وو کومه لاره چې د شام طرفته تلې وه، مقصد جاسوسی کول وو، دا دواړه حضرات د غزوه بدر د ختمیدو نه پس راؤرسیدل نو نبی ﷺ دې دواړو حضراتو ته په غنیمت کښې حصه ورکړه، دې دواړو اووئیل چې حضرت! د اجر نه خو محرومه پاتې شو؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې اجر به هم ملاؤ شی. (۲)

د جمهورو له طرفه جواب: جمهورو د حضرت عثمان ﷛ د حدیث دا جواب ورکړو چې دا د نبی کریم ﷺ خصوصیت دې. یا نبی ﷺ هغوی ته په خمس کښې ورکړې وه (۳).

---

(۱) شرح ابن بطال: ۲۹۳/۵، والکوثر الجاری: ۱۱۴/۶، وعمدة القاری: ۵۴/۱۵)_

(۲) پورته حواله جات. علامه عینی د ابن اسحاق په حواله سره او ابن عبد البر ﷫ د هغه صحابه کرامو ﷡ نومونه شمارلې دی، کوم چې په غزوه بدر کښې په مختلفو وجوهاتو سره شریک شوی نه وو، لیکن هغوی ته حصه ورکړې شوې وه، دهغوی تعداد تقریباً لس دې، چې لاندې ذکرکولې شی:
① عثمان بن عفان ﷛، د شرکت نه کولو وجه د باب په حدیث شریف کښې ذکر ده.
②، ③: طلحه بن عبید الله وسعید بن زید بن نفیل، د جاسوسئ دپاره د شام طرفته لیږلې شوې وو.
④ ابولبابه بشیر بن عبد المنذر: چې کله د مکې مکرمې نه د مشرکینو د روانیدو پته نبی کریم ﷺ ته اولګیده نو دوی ئې د مقام روحاء نه واپس کړل او د مدینې منورې د عامل په حیثیت سره ئې مقرر کړل. ⑤ حارث بن حاطب بن عبید، دوی هم د لارې نه واپس کړې شوې وو.
⑥ حارث بن صمه. دوی ته د روحاء په مقام کښې زخم لګیدلې وو، ددې وجې نه واپس شو.
⑦ خوات بن جبیر. په غزوه کښې شریک نه وو.
⑧ ابو الضیاح بن ثابت بن نعمان. په لاره کښې د دوی یو خپه په کانړی باندې د لګیدو په وجه ډیره زخمی شوې وه، ددې وجې نه واپس شو.
⑨ عاصم بن عدی بن الجد بن العجلان. دوی هم غزوه کښې د شرکت کولو دپاره راوتلې وو لیکن نبی کریم ﷺ دوی واپس کړل.
⑩ سعد بن مالک بن خالد الساعدی. دوی د غزوې دپاره پوره تیارې کړې وو لیکن وفات شو. یو قول دادې چې د روحاء په مقام باندې دوی وفات شو. دا د مشهور صحابی حضرت سهل بن سعد ﷄ والد صاحب دې.
نو نبی کریم ﷺ دې ټولو ته د غنیمت په مال کښې حصه ورکړه او د اجر خوشخبری ئې هم ورکړه. اوګورئ عمدة القاری: ۵۴/۱۵، والسیرة النبویة لابن هشام: ۶۷۸/۲_۷۰۶، باب: من حضر بدراً من المسلمین، والاستیعاب: ۳۶۱/۱، باب سعد، رقم (۹۵۲) والله اعلم)_

(۳) عمدة القاری: ۵۵/۱۵، والکوثر الجاری: ۱۱۴/۶)_

د احنافو له طرفه جمهورو ته جواب: د حضرت عثمان رضي الله عنه معامله په خصوصيت باندې محمول كول ددې وجې نه صحيح نۀ دى چې د خصوص دپاره د څۀ دليل كيدل ضرورى دى او دلته دليل نشته.

او دا وينا چې نبى عليه السلام هغوى ته د خمس نه حصه وركړې وه، نو دا د غزوه حنين واقعه ده، د بدر واقعه نۀ ده[1]، په غزوه بدر كښې حصه وركړې شوې وه، چې په هغې باندې د باب د حديث شريف دا الفاظ دلالت كوى، ”فقال له النبى صلى الله عليه وسلم: إن لك أجر رجل ممن شهد بدرا وسهمه“.

بهرحال د دليلونو په رنړا كښې دلته د احنافو مذهب راجح معلوميږى. والله أعلم بالصواب

۲۹۷۲ :[2] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ مَوْهَبٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما - قَالَ إِنَّمَا تَغَيَّبَ عُثْمَانُ عَنْ بَدْرٍ، فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - وَكَانَتْ مَرِيضَةً. فَقَالَ لَهُ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - « إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ ». [۳۴۹۵، ۳۸۳۹]

رجال الحديث

① **موسى:** دا موسى بن اسماعيل تبوذكى رحمه الله دې.

② **ابوعوانه:** دا ابوعوانه وضاح بن عبدالله اليشكرى رحمه الله دې. ددې دواړو حضراتو تذكره اجمالاً د ”بدء الوحى“ په ”الحديث الرابع“ كښې تيره شوې ده[3].

③ **عثمان بن موهب:** دا عثمان بن عبدالله بن موهب الاعرج تميمى قرشى رحمه الله دې[4].

خبردارې: ابوعلى جيانى رحمه الله ليكى چې د اصيلى په نسخه كښې د عثمان بن موهب په ځائې عمروبن عبدالله مذكور دې چې غلط دې، صحيح عثمان بن موهب دې[5].

---

[1]) العمدة:۵۵/۱۵،ددې مسئلې سره متعلق څۀ تفصيلات وړاندې په باب الغنيمة لمن شهد الوقعة كښې تير شوې دى.

[2]) قوله:عن ابن عمر رضى الله عنهما:الحديث:اخرجه البخارى ايضا،كتاب فضايل اصحاب......باب مناقب عثمان بن عفان،رضى الله عنه......رقم (۳۶۹۸)،وباب مناقب على بن ابى طالب......رقم (۳۷۰۴)،وكتاب المغازى، باب قول الله تعالى:(ان الذين تولوا منكم يوم التقى الجمعان.....)،رقم(۴۰۶۶)،وكتاب التفسير،باب (وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة ويكون.....)،رقم (۴۵۱۳_۴۵۱۴)،وباب (وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة)،رقم (۴۶۵۰_۴۶۵۱)، وكتاب الفتن،باب قول النبى صلى الله عليه وسلم:الفتنة من قبل المشرق،رقم(۷۰۹۵) والترمذى،كتاب المناقب،باب مناقب عثمان بن عفان رضى الله تعالى عنه،رقم (۳۷۰۹))_

[3]) كشف البارى:۴۳۳/۱_۴۳۴)_

[4]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الزكاة،باب وجوب الزكاة)_

[5]) عمدة القارى:۵۴/۱۵)_

⑩ ابن عمر: د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حالات په كتاب الايمان، "باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: "بنى الاسلام على خمس" كښې تير شوى دى.(۱).

قوله: قال: إنما تغيب عثمان عن بدر، فإنه كانت تحته بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم وكانت مريضة، فقال له النبى صلى الله عليه وسلم: إن لك أجر رجل من شهد بدرا وسهمه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چې حضرت عثمان رضي الله عنه د غزوه بدر نه غائب وو ځکه چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم لور مباركه د هغوى سره د نكاح په عقد كښې وه او هغه بيماره وه نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم هغوى ته اوفرمائيل چې ستاسو دپاره د بدرى صحابى په شان اجرت او په غنيمت كښې حصه ده.

د باب د حديث شريف پس منظر: ددې حديث مبارك تعلق اصل كښې فضائلو سره دې، البته امام بخارى رحمه الله د خپلې مدعى ثابتولو دپاره دا دلته نقل كړې دې، هغه هم اختصار سره، تفصيلى روايت مؤلف عليه الرحمة په فضائل اصحاب النبى او مغازى وغيره(۲) كښې نقل كړې دې، چې د هغې خلاصه داده:

يو مصرى سړې د حج دپاره راغلې وو او د حضرت عثمان رضي الله عنه په مخالفينو كښې وو، هغهٔ د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په وړاندې په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې درې اعتراضونه اوكړل، ابن عمر رضي الله عنهما اول خو ددهٔ د مزيد كتلو دپاره اول ددهٔ تائيد اوكړو او بيا ئې ورته د درې واړو اعتراضاتو جوابونه وركړل.

د هغهٔ اولنې اعتراض دا وو چې حضرت عثمان د غزوه احد په ورځ تختيدلې وو، حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ددې خبرې تصديق اوكړو، بيا ئې وضاحت اوكړو چې د الله تعالى له طرفه ددې مسئلې معافى شوې ده، ددې وجې نه مونږ ته په دې مسئله كښې د خبرې كولو حق نشته، د الله تعالى ارشاد دې: (ولقد عفا الله عنهم)(۳) نو دا معامله اوس ختمه شوه.

دويم اعتراض د هغهٔ دا وو چې حضرت عثمان رضي الله عنه د جنګ بدر نه هم غائب وو. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ددې وجه دا بيان كړه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه په عقد كښې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم لور وه او د بدر په موقع باندې هغه بيماره وه نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم هغوى ته د خپلې بى بى د خيال ساتلو دپاره په مدينه منوره كښې د اوسيدلو دپاره اوفرمائيل او دا ئې اوفرمائيل چې تاسو ته به هغه اجر و ثواب او په غنيمت كښې هغومره حصه ملاويږى څومره چې په جنګ كښې يو شريک مجاهد ته ملاويږى. نو ددې وجې نه هغوى حكماً بدرى دى.

ددې سړى دريم اعتراض دا وو چې حضرت عثمان رضي الله عنه د بيعت رضوان نه وروستو پاتې شوې وو. ددې جواب دادې چې كه د مكې مكرمې په وادئ كښې د حضرت عثمان رضي الله عنه نه

---

(۱) كشف البارى: ۱/۶۳۷_

(۲) اوګورئ، صحيح بخارى، كتاب فضايل اصحاب، رقم (۳۶۹۸)، وكتاب المغازى، رقم ۴۰۶۶)_

(۳) آل عمران: ۱۵۵)_

زیات عزتمند بل څوک سړې وو نو نبی کریم ﷺ به هغه لیږلې وو(چونکه دوی د ټولو نه زیات عزتمند وو،ددې وجې نه نبی کریم ﷺ د دوی انتخاب اوفرمائیلو) ـ هرکله چې حضرت عثمان رضی الله عنه مکې مکرمې ته اورسیدلو نو د بیعت رضوان واقعه پیښه شوه،حضرت عثمان رضی الله عنه چونکه په موقع باندې په خپله موجود نۀ وو،ددې وجې نه نبی کریم ﷺ خپل ښۍ لاس مبارک اوچت کړو او وې فرمائیل چې "دا د عثمان لاس دې" ـبیا ئې هغه په دویم لاس باندې کیخودلو او وې فرمائیل چې "دا د عثمان بیعت دې" ـ

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ددې سړی د دریو واړو اعتراضاتو د جوابونو ورکولو نه پس اوفرمائیل چې "اوس خپل ځان سره دا تفصیل یوسه" ـ

د باب د حدیث شریف د بعضې حصو تشریح: تغیب د باب تفعل نه دې،دې کښې د تکلف معنی پرته ده،مطلب دادې چې حضرت عثمان رضی الله عنه د خپلې بی بی د خیال ساتلو په غرض سره د غزوه بدر نه غائب وو،قصداً غائب نۀ وو[1] ـ

د بنت رسول الله ﷺ نه مراد حضرت رقیه رضی الله عنها ده ـ

حضرت رقیه رضی الله عنها: دا د نبی کریم ﷺ لور مبارکه حضرت ام عبدالله رقیه بنت سید البشر ﷺ محمد بن عبدالله الهاشمیه رضی الله عنها ده ـ د دوی مور بی بی حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها ده[2] ـ

د مشهور قول مطابق دا د نبی کریم ﷺ درمیانه لور ده(مینځنۍ)،ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چې په دې کښې څو څۀ اختلاف نشته چې حضرت زینب رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ د ټولو نه مشره لور ده،البته رقیه،فاطمه او د ام کلثوم رضی الله عنهن باره کښې اختلاف دې،د اکثرو قول دادې چې مینځ کښې حضرت رقیه،فاطمه د دوی نه وړوکې او ام کلثوم رضی الله عنها د ټولو نه کشره ده[3] ـ

حضرت رقیه رضی الله عنها اول د ابولهب د ځوی عتبه په نکاح کښې وه،دا خبره د هجرت نه د وړاندې زمانې ده،البته کله چې سورة اللهب نازل شو نو ابولهب سخت خفه شو او خپل ځوی ته ئې اووئیل چې که تا دده(محمد ﷺ)لورته طلاق ورنه کړو نو زما او ستا به هیڅ قسم تعلق نۀ وی نو عتبه دې ته د دخول نه مخکښې طلاق ورکړو،بیا دا د حضرت عثمان رضی الله عنه په نکاح کښې راغله،د هغوی نه ئې یو ځوې عبدالله پیدا شو،هم ددې ځوئې طرفته کنیت کولو سره به حضرت عثمان رضی الله عنه په ابوعبدالله باندې بللې شو[4] ـ

حضرت رقیه رضی الله عنها نه خپل خاوند سره د حبشې طرفته دواړو هجرتونو کښې د ملګرتیا شرف

[1]) عمدة القاری:۱۵/۵۴ـ
[2]) الاصابة:۴/۳۰۴،سیر اعلام النبلاء:۲/۲۵۰ـ
[3]) الاستیعاب بهامش الاصابة:۴/۲۹۹،والاصابة:۴/۳۰۴)ـ
[4]) پورته حواله جات ،وسیر اعلام النبلاء:۲/۲۵۱)ـ

او سعادت حاصل دي.(۱).
هم په حبشه كښې د دوى خوې حضرت عبدالله وفات شو.دغه وخت ددې هلک عمر شپږ كاله وو.(۲).
بيا حضرت رقيه رضي الله عنها د خپل خاوند حضرت عثمان نه پس مديني منورې ته هجرت اوكړو،هلته د بدر نه څۀ موده وړاندې دوى د خسرې په بيمارئ كښې مبتلا شو.ددې وجې نه حضرت عثمان رضي الله عنه ته نبى كريم صلى الله عليه وسلم د دوى د عيادت او خيال ساتلو دپاره په مدينه منوره كښې د اوسيدلو حكم اوفرمائيلو،هم په دې مرض كښې دا وفات شوه او مسلمانان دغه وخت په بدر كښې وو.(۳).
حضرت عثمان رضي الله عنه چې كوم وخت ددې په دفن كولو كښې مشغول وو،نو اتفاقاً دغه وخت حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه په غزوه بدر كښې د فتحې خوشخبرى مديني منورې ته راوړلو دپاره راورسيدو،حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنهما هم د دفن كولو په دې عمل كښې شريک وو،هشام بن عروه د خپل پلار نه نقل كوى:
"تخلف عثمان وأسامة بن زيد عن بدر،فبيناهم يدفنون رقية سمع عثمان تكبيراً،فقال: يا أسامة، ماهذا؟فنظروا،فاذا زيد بن حارثة على ناقة رسول الله صلى الله عليه وسلم الجدعاء،بشيراً بقتل المشركين يوم بدر"(۴).
د حضرت رقيه رضي الله عنها وفات په دويمه هجرئ كښې اوشو.د دوى د وفات نه پس نبى كريم صلى الله عليه وسلم په ربيع الاول دريمه هجرئ كښې خپل لور حضرت ام كلثوم رضي الله عنها حضرت عثمان رضي الله عنه ته په نكاح وركړه او وې فرمائيل چې"كه زما لس لونړه وې نو ما به ټولې عثمان ته په نكاح وركړې وې"(۵).ددې وجې نه حضرت عثمان ته ذوالنورين وئيلې شى. رضى الله عنهم وأرضاهم
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: د ترجمة الباب دويم جزء سره خو د حديث شريف مناسبت واضح دې چې حضرت عثمان رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په هدايت باندې د خپلې بى بى د عيادت دپاره د غزوې نه پاتې شوې وو،ددې باوجود دوى ته اجر او غنيمت دواړه ملاؤ شو.ددې تعلق د ترجمې د الفاظو"أو أمره بالمقام"سره دې(۶).

---

(۱) پورته حواله جات_
(۲) الاستيعاب بهامش الاصابة:۴/۳۰۰،والاصابة:۴/۳۰۴،وسير اعلام النبلا:۲/۲۵۱)_
(۳) الاصابة:۴/۳۰۴_۳۰۵،وسير اعلام النبلا:۲/۲۵۱،وطبقات ابن سعد:۸/۳۶،والاستيعاب بهامش الاصابة:۴/۳۰۱)_
(۴) الاصابة:۴/۳۰۵،والاستيعاب بهامش الاصابة:۴/۳۰۲،وكذا انظر المعجم الكبير:۲۲/۴۳۵،رقية بنت رسول الله صلى،رقم (۱۰۵۸)_
(۵) الطبقات الكبرى:۸/۳۸،وسير اعلام النبلا:۲/۲۵۲_۲۵۳،ومجمع الزوايد:۹/۲۱۷،والمعجم الكبير:۲۲/۴۳۶،رقم (۱۰۶۱)_
(۶) عمدة القاري:۱۵/۵۴،والكوثر الجاري:۶/۱۱۳)_

ليكن د ترجمې اولنى جزء يعنى د "بعث الامام رسولاً فى حاجة" د اثبات دپاره مؤلف رحمه الله ځه حديث وغيره نه دي ذكر كړې؟
ددې دوه جوابونه دى:
يو خو دا چې هغوى دا مسئله د اقامت والا په مسئله باندې قياس كړې ده.(١) چې هلته ځنګه د حاكم حكم موجود دې،نو دغه شان د قاصد ليږل هم د وخت د حاكم په ذريعې سره كيږى،ددې وجې نه قاعده به دا وى چې كه د وخت امام يو كس لره د ځۀ غرض د وجې نه په غزوه كښې د شركت كولو نه منع كړى او بل ځۀ كار ورته اوسپارى نو د هغۀ به هم په غنيمت كښې حصه وى.
دويم دا چې حديث خو موجود وو،ليكن د امام بخارى رحمه الله د شرط مطابق پوره نۀ وو،ددې وجې نه هغوى د ارسال رسل لاندې ځۀ حديث شريف ذكر نۀ كړو.
او دا حديث هم هغه دې كوم چې اوس مخكښې تير شو چې نبى كريم ﷺ حضرت طلحه بن عبيد الله او سعيد بن زيد رضي الله عنهما لره د شام لارې طرفته د جاسوسئ دپاره ليږلې وو،دغه شان دا دواړه حضرات په غزوه بدر كښې شريك نۀ شو،ددې باوجود نبى عليه السلام دوى ته غنيمت وركړو او د اجر و ثواب خوشخبرى ئې هم وركړه.(٢)

⑮باب: وَمِنَ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الْخُمُسَ لِنَوَائِبِ الْمُسْلِمِينَ

مَا سَأَلَ هَوَازِنُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- بِرَضَاعِهِ فِيهِمْ فَتَحَلَّلَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ.(١٥) وَمَا كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَعِدُ النَّاسَ أَنْ يُعْطِيَهُمْ مِنَ الْفَيْءِ وَالأَنْفَالِ مِنَ الْخُمُسِ، وَمَا أَعْطَى الأَنْصَارَ، وَمَا أَعْطَى جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ تَمْرَ خَيْبَرَ.

د ترجمة الباب مقصد: دا باب ددې خبرې په بيان كښې دې چې خمس به د عامو مسلمانانو په ضرورتونو كښې خرچ كولې شى،ددې دليل دا دې چې قبيله بنو هوازن نبى عليه السلام ته درخواست كړې وو چې زمونږ نه اخستلې شوې مال غنيمت مونږ ته واپس كړې شى ځكه چې د نبى عليه السلام د قبيله بنوهوازن سره رضاعى تعلق دې،نو نبى كريم ﷺ صحابه كرامو رضي الله عنهم ته اوفرمائيل چې هغوى په غنيمت كښې د خپل خپل حق نه لاس وينځى،او غنيمت واپس كړى.دغه شان ددې دليل دا هم دې چې نبى كريم ﷺ به مختلف صحابه كرامو رضي الله عنهم سره دا وعده فرمائيله چې زۀ به تاسو ته په مال فئ،غنيمت كښې دركوم،كوم چې د خمس نه حاصل شى.ددې نه علاوه نبى عليه السلام چې انصارو ته ځۀ وركړل او حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه ته ئې چې د خيبر كومې كهجورې وركړې نو دا هم ددې خبرې دليل دې چې د خمس مصرف د عامو مسلمانانو ضرورتونه هم دى.

(١) الكوثر الجارى:٦/١١٤)_
(٢) پورته حواله،والاستيعاب لابن عبدالبر بهامش الاصابة:١/٤٥٠_٤٦٠،باب طلحة،رقم (١٢٧٩)_

د ترجمة الباب نحوى تعليل: باب مرفوع دې او منون دې(يعنى تنوين لرى)د خبريت د وجې نه.ددې مبتدا محذوف ده چې هذا دے[1]

ومن الدليل. المسلمين پورې خبر مقدم دې،ما موصوله او معطوف عليها ده او"وماكان...... ومااعطى الانصار،وما أعطى جابربن عبدالله....."دا ټول معطوف دى.بيا مبتدا ده[2].

په ما سئل هوازن النبى صلى الله عليه وسلم كښې هوازن د فاعليت د وجې نه مرفوع او النبى د مفعول به كيدو د وجې نه منصوب دې[3].

د هوازن نه مراد قبيله ده ليكن دلته ددې په بعضې كسانو باندې ددې اطلاق مجازاً كړې شوې دې او په برضاعه كښې باء سببيه ده.يعنى بسبب رضاعه[4]

واو عاطفه يا استفتاحيه: امام بخارى رحمه الله وړاندې اتۀ بابونه مخكښې يو باب"ومن الدليل على أن الخمس لنوائب رسول الله صلى الله عليه وسلم....."قائم كړې وو.د هغې نه پس ئې دويم باب دا قائم كړې دې:"ومن الدليل على أن الخمس لنوائب المسلمين......"دريم باب وړاندې راځى،"ومن الدليل على أن الخمس للامام،وأنه يعطى....."دا درې بابونه دى.

اوس د حافظ رحمه الله رائې خو داده چې"ومن الدليل"كښې واؤ عاطفه دې.ددې معطوف عليه هغه تير شوې باب دې كوم چې د اتو بابونو نه وړاندې ذكر شوې دې او دا باب معطوف دې او يو معطوف وړاندې راځى[5]. علامه عينى رحمه الله فرمائى چې دا د دليل نه بغير يو دعوى ده.دا هم څۀ خبره ده چې په معطوف او معطوف عليه كښې دومره فاصله وى،د احاديثو سره سره دومره ډير بابونه مينځ كښې فاصله جوړه شى؟

كه د دوى خبره اومنلې هم شى چې دلته واؤ راغلې دې نو ددې جواب دا دې چې دا واؤ عاطفه نۀ دې،اكثر وختونو كښې داسې كيږى چې واؤ استعمال كړې شى او هغه په څۀ څيز باندې عطف نۀ وى،ددې وجې نه به دا اووئيلې شى چې دا واؤ د استفتاح دې،هم دا خبره د مشرانو استاذانو نه اوريدلې شوې ده[6]. علامه قسطلانى رحمه الله په دې مسئله كښې د علامه عينى رحمه الله ملګرتيا كوى[7].

---

[1]) عمدة القارى:۵۵/۱۵،وفتح البارى:۲۳۸/۶،وارشاد السارى:۲۱۴/۵)_

[2]) عمدة القارى:۵۵/۱۵، وارشاد السارى:۲۱۴/۵)_

[3]) پورته حواله جات،وفتح البارى:۲۳۸/۶)_

[4]) پورته حواله جات)_

[5]) فتح البارى:۲۳۸/۶)_

[6]) عمدة القارى:۵۵/۱۵)_

[7]) شرح القسطلانى:۲۱۴/۵)_

د ترجمة الباب مقصد: اصل خبره دلته داده چې امام بخارى رحمه الله هم يو خبره بيانوى چې خمس به د مسلمانانو په ضرورياتو كښې خرچ كيږى، نبى كريم ﷺ به دهغې د تقسيم ذمه دار وى، چې هغې لره نبى كريم ﷺ په خپلو ضرورياتو كښې هم د ضرورت په اندازه باندې خرچ كولې شى او د دوى مبارک نه پس چې كوم امام وى هغه به د دوى نائب وى، هغه هم د خپل ضرورت مطابق ددې نه اخستلې شى، ددې نه علاوه خمس به هغه د مسلمانانو په ضرورتونو او حاجتونو كښې خرچ كوى.[1]

د تعليقاتو مقصد: بيا په دې خان پوهه كړئ چې مصنف رحمه الله د خپلې خبرې ثابتولو دپاره د باب لاندې د احاديثو نه علاوه د ترجمة الباب جزء جوړولو سره څلور تعليقات هم ذكر كړې دى، ددې ټولو نه د هغهٔ مدعى ثابتيږى چې خمس به د عامة المسلمين په ضرورتونو وغيره كښې خرچ كيږى.

د تعليقاتو موصولاً تخريج: د اولنى تعليق قصه هوازن سره ده، كومه چې مؤلف رحمه الله په دې باب كښې مسنداً ذكر كړې ده، ددې نه علاوه په كتاب الهبه.....وغيره كښې[2]. دويم تعليق د وعدو سره متعلق دې چې نبى كريم عليه السلام د مختلفو صحابه كرامو رضي الله عنهم سره په مختلفو وختونو كښې دا وعده كړې وه چې زهٔ به تاسو ته د مال فئ نه دركوم. په دې باره كښې هم احاديث په دې باب كښې مذكور دى.[3]. د دريم تعليق تعلق د حضرات انصار رضي الله عنهم سره دې چې نبى كريم ﷺ هغوى ته په مختلفو مقامونو كښې وركړه كړې وه. په هغې كښې د يو واقعې تخريج حضرت مؤلف رحمه الله په كتاب الهبه وغيره.[4] كښې كړې دې.[5]

او څلورم تعلق د حضرت جابر رضي الله عنه واقعې سره متعلق دې، يعنى خيبر كښې چې هغوى ته كومې كهجورې وركړې شوې وې. دا واقعه امام ابوداؤد رحمه الله موصولاً په خپل سنن كښې ذكر كړې ده، چې په هغې كښې د واقعې پوره تفصيل دې، امام بخارى رحمه الله چې په دې باب

---

[1]) فتح البارى:۲۳۸/٦)_

[2]) امام بخارى رحمه الله دا حديث ددې باب نه علاوه په مختلفو مقامونو كښې موصولاً نقل كړې دې، اوګورئ، كتاب الوكالة، رقم (۲۳۰۸،۲۳۰۷)، وكتاب العتق، رقم (۲۵۰٤،۲۵۳۹)، وكتاب الهبة، رقم (۲۵٤۸،۲۵۸۳)، ورقم (۲٦۰۸،۲٦۰۷)، وكتاب المغازى، رقم (٤۳۱۹،٤۳۱۸) ددې نه علاوه امام ابوداؤد رحمه الله هم دا حديث په خپل سنن كښې موصولاً روايت كړې دې، اوګورئ، كتاب الجهاد، باب فى فدا الاسير بالمال، رقم (۲٦۹۳)_

[3]) فئ دپاره اوګورئ، ددې باب د حضرت جابر رضي الله عنه حديث مبارک، رقم (۳۱۳۷)، وكتاب الجزية، رقم (۳۱٦٤) او غنيمتونو سره متعلق حديث د ابن عمر رضي الله عنهما دې كوم چې په باب كښې ذكر دې.

[4]) هو من حديث انس بن مالک، انظر كتاب الهبة، باب فضل المنيحة، رقم (۲٦۳۰)، اردو كتاب الخمس، باب كيف قسم النبى ﷺ قريظة والنضير......رقم (۳۱۲۸)، وكتاب المغازى، باب حديث بنى النضير، رقم (٤۰۳۰)، وباب مرجع النبى ﷺ من الاحزاب......رقم (٤۱۲۰)_

[5]) تغليق التعليق وتعليقاته: ٤۷٦/۳)_

کښې شپږم نمبر کوم حديث مبارک ذکر کړې دې،نو دا د هغه حديث يو حصه ده.(۱).

د مذکوره تعليقاتو ترجمې سره مناسبت: د مذکوره څلورو واړو تعليقاتو مناسبت ترجمې سره بالکل واضح دې،چې دعوه ددې خبرې وه چې د خمس مصرف صرف د مسلمانانو ضروريات او حاجات وغيره دی او په دې تعليقاتو کښې ددې دعوې دليل دې چې خمس به د مسلمانانو په ضرورتونو وغيره کښې د موقع محل مناسب خرچ کولې شی.

د باب اولنی حديث: بيا په دې ځان پوهه کړئ چې امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ټول اووه احاديث ذکر کړې دی.چې په هغې کښې اولنې حديث د حضرت مسور بن مخرمه رضی الله عنه او مروان بن حکم نه روايت دې.

۲۹۶۳:(۲) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ وَزَعَمَ عُرْوَةُ أَنَّ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ وَمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ ، فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « أَحَبُّ الْحَدِيثِ إِلَيَّ أَصْدَقُهُ ، فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ ، وَقَدْ كُنْتُ اسْتَأْنَيْتُ بِهِمْ » . وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - انْتَظَرَ آخِرَهُمْ بِضْعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً ، حِينَ قَفَلَ مِنَ الطَّائِفِ ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - غَيْرُ رَادٍّ إِلَيْهِمْ إِلاَّ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ . قَالُوا فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي الْمُسْلِمِينَ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ « أَمَّا بَعْدُ ، فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ هَؤُلاَءِ قَدْ جَاءُونَا تَائِبِينَ ، وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ ، مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُطَيِّبَ فَلْيَفْعَلْ ، وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللَّهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ » . فَقَالَ النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ . فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « إِنَّا لاَ نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ فِي ذَلِكَ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ ، فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ » فَرَجَعَ النَّاسُ ، فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا فَأَذِنُوا . فَهَذَا الَّذِي بَلَغَنَا عَنْ سَبْيِ هَوَازِنَ . [ر: ۲۱۸۴]

رجال الحديث

①**سعيد بن عفير:** دا سعيد بن کثير بن عفير رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب من يرد الله به خيرا....." کښې تيره شوې ده.(۳).

---

۱) پورته حواله:۳/۴۷۶_۴۷۷،وسنن ابی داود،کتاب الاقضية،باب فی الوکالة،رقم (۳۶۳۲)_

۲) قوله: ان مروان......ومسور......:الحديث،مر تخريجه فی الوکالة،باب اذا وهب شيا لو کيل او.....)_

۳) کشف الباری:۳/۲۷۴)_

② **الليث**: دا مشهور محدث ليث بن سعد فهمى رحمه الله دي.
③ **عقيل**: دا عقيل بن خالد رحمه الله دي.
④ **ابن شهاب**: دا محمد بن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دي. ددې دري وارو حضراتو تذكره د "بدء الوحى" په "الحديث الثالث" كښې بيان كړې شوې ده.[1]
⑤ **عروة**: دا مشهور تابعى حضرت عروه بن زبير رحمه الله دي. د دوى مختصر حالات د "بدء الوحى" په "الحديث الثانى" كښې تير شوي دى.[2]
⑥ **مروان بن الحكم**: دا مروان بن حكم اموى رحمه الله دي.[3]
⑦ **المسوربن مخرمه**: دامشهورصحابى دصحابى ځوئې حضرت مسوربن مخرمه رضي الله عنه دي.[4]

خبرداري: ددې حديث تشريح په مغازى كښې د غزوه حنين لاندې بيان كړې شوې ده.[5]
ترجمة الباب او د باب حديث: دا حديث شريف په خپل مطلب كښې بالكل واضح دي، البته په ترجمة الباب كښې ذكر كړې شوې يو اهم جزئيه دلته ذكر نۀ ده، هغه دا چې په ترجمه كښې مؤلف رحمه الله دا فرمائيلي وو چې قبيله بنو هوازن د نبى كريم ﷺ رضاعت سبب اوګرځوو او خپل درخواست ئې پيش كړو او په حديث شريف كښې ددې رضاعت هيڅ ذكر نشته.
ددې د جواب د كتلو نه مخكښې په دې ځان پوهه كړئ چې د نبى كريم ﷺ د مرضعې حضرت حليمه سعديه رضي الله عنها تعلق د بنو سعد سره وو، چې د قبيله بنوهوازن يو شاخ دي.[6] نو امام بخارى رحمه الله د رضاعت ذكر دلته خو اونه كړو ليكن په خپل تاريخ كښې ئې ددې تفصيلي ذكر كړې دې، ددې نه علاوه د تاريخ نورو امامانو هم ددې ذكر كړې دې.[7]
لكه د نبى كريم ﷺ د رضاعت سره متعلق دا حديث شريف ابن اسحاق په مغازى كښې د عمرو بن شعيب عن ابيه(شعيب)عن جده(عبدالله بن عمرو بن العاص، رضي الله عنهما) د طريق نه نقل كړې دې او ددې دويم طريق زهير بن صرو الجمشى رضي الله عنه دې، كوم چې په طبرانى كښې ذكر دې.
ددې دواړو طرقو خلاصه داده چې د هوازن وفد كله جعرانه مقام كښې د نبى كريم ﷺ خدمت كښې حاضر شو، په داسې حال كښې چې دغه وخت دا قبيله مسلمانه شوې وه، وې وئيل چې مونږ يو قوم او قبيله يو، په مونږ باندې هغه مصيبت راغلې دې كوم چې ستاسو نه پټ نۀ دې، تاسو په مونږ باندې احسان اوكړئ، الله تعالى به تاسو ته د احسان بدله دركړي.

---

[1]) كشف البارى:۱/۳۲٤_۳۲۶)_
[2]) كشف البارى:۱/۲۹۱،اوګورئ:۲/٤۳۶)_
[3]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ، اردو كتاب الوضوء،باب البزاق والمخاط ونحوه فى الثوب)_
[4]) د دوى دحالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الوضوء،باب استعمال فضل وضوء الناس)_
[5]) كشف البارى،كتاب المغازى:۵۳۶_۵۳۸)_
[6]) فتح البارى:۶/۲۳۸،وعمدة القارى:۱۵/۵۶،والكوثر الجارى:۶/۱۱٤)_
[7]) تاريخ البخارى الصغير:۱/۵)_

بیا په هغوی یو سړي اودریدهٔ چې د هغهٔ نوم زهیر[1] وو، او وې وئیل انې د الله رسوله! زمونږ ښځې ستاسو تروریانې، ماسی او پرورش کوونکی دی، چا چې په وړوکوالی کښې ستاسو پرورش کړې دې.
که حارث بن ابی شمر(د شام بادشاه)او نعمان بن المنذر(د عراق بادشاه)باندې مونږ پئ څکلې وې او په مونږ باندې دا مصیبت د هغوی له طرفه راغلې وو کوم چې ستاسو له طرفه راغئ، نو په دې معامله کښې به مونږ د هغوی دواړو له طرفه د ښیګړې او د مهربانئ امیدوار وو، حالانکه تاسو خو د ټولو نه غوره یئ(نو ستاسو د ښیګړې او د مهربانئ به څنګه امید نهٔ لرو؟)بیا زهیر نومې سړی د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې څهٔ اشعار پیش کړل،[2] چې په دې کښې د نبی کریم ﷺ د رشته دارئ وغیره ذکر وو[3]، ددې سړی ددې خبرو نه نبی کریم ﷺ ډیره متاثره شو، ددې نه پس د واقعې تفصیل د باب په حدیث شریف کښې ذکر دې.
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: د ترجمة الباب د ابتدائی حصې "**ومن الدلیل علی أن الخمس لنوائب المسلمین ما سئل هوازن النبی صلی الله علیه وسلم.....فتحلل من المسلمین**" سره ددې حدیث مطابقت دې.[4]
د باب دویم حدیث شریف د حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه دې.

---

[1]) د علامه واقدی رحمه الله په روایت کښې ددې سړی نوم ابو برقان السعدی ذکر دې، چې ددې نه په ظاهره هم دا معلومیږی چې خطیب بل څوک وو او شاعر بل کس، البته په دې کښې تطبیق هم کیدې شی چې ابو برقان کنیت وو او زهیر نې نوم وو، شرح القسطلانی:۵/۲۱۴)_
[2]) په هغې کښې څهٔ اشعار لاندې ذکر کولې شی.

انا لنشکر للنعماء اذ کفرت	و عندنا بعد هذا الیوم مدخر
فالبس العفو من قد کنت ترضعه	من امهاتک ان العفو مشتهر
یا خیر من مرحت کمت الجیاد به	عند الهیاج اذا ما استوقد الشرر
انا نؤمل عفواً منک تلبسه	هدی البریة اذ تعفو و تنتصر
فاعف عفا الله عما انت راهبه	یوم القیامة اذ یهدی لک ظفر

تغلیق التعلیق:۳/۴۷۵)_
[3]) القسطلانی:۵/۲۱۴، والفتح:۶/۲۳۸، ومجمع الزاوید:۶/۱۸۷، وتغلیق التعلیق:۳/۴۷۳_۴۷۵)_
[4]) عمدة القاری:۱۵/۵۷)_

۲۹۲۴ (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ وَحَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ عَاصِمٍ الْكُلَيْبِيِّ - وَأَنَا لِحَدِيثِ الْقَاسِمِ أَحْفَظُ - عَنْ زَهْدَمٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى، فَأُتِيَ ذَكَرَ دَجَاجَةً وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَيْمِ اللَّهِ أَحْمَرُ كَأَنَّهُ مِنَ الْمَوَالِي، فَدَعَاهُ لِلطَّعَامِ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ شَيْئًا، فَقَذِرْتُهُ، فَحَلَفْتُ لَا آكُلُ. فَقَالَ هَلُمَّ فَلَأُحَدِّثْكُمْ عَنْ ذَاكَ، إِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فِي نَفَرٍ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ نَسْتَحْمِلُهُ فَقَالَ «وَاللَّهِ لَا أَحْمِلُكُمْ، وَمَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ». وَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِنَهْبِ إِبِلٍ، فَسَأَلَ عَنَّا فَقَالَ «أَيْنَ النَّفَرُ الْأَشْعَرِيُّونَ». فَأَمَرَ لَنَا بِخَمْسِ ذَوْدٍ غُرِّ الذُّرَى، فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قُلْنَا مَا صَنَعْنَا لَا يُبَارَكُ لَنَا، فَرَجَعْنَا إِلَيْهِ فَقُلْنَا إِنَّا سَأَلْنَاكَ أَنْ تَحْمِلَنَا، فَحَلَفْتَ أَنْ لَا تَحْمِلَنَا أَفَنَسِيتَ قَالَ «لَسْتُ أَنَا حَمَلْتُكُمْ، وَلَكِنَّ اللَّهَ حَمَلَكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَتَحَلَّلْتُهَا». [۴۱۲۴، ۴۱۵۳، ۵۱۹۸، ۵۱۹۹، ۶۲۴۹، ۶۲۷۳، ۶۳۰۰، ۶۳۰۲، ۶۳۴۰، ۶۳۴۲، ۷۱۱۶]

رجال الحديث

① **عبدالله بن عبدالوهاب**: دا ابومحمد عبدالله بن عبدالوهاب حجبی بصری رحمه الله دي. د دوی حالات په کتاب العلم، "باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب" کښې تير شوي دی (۲).

② **حماد**: دا حماد بن زيد بن درهم رحمه الله دي. د دوی تذکره په کتاب الايمان، "باب المعاصي من أمر الجاهلية...." کښې تيره شوې ده (۳).

③ **ايوب**: دا ايوب سختيانی رحمه الله دي.

④ **ابوقلابه**: دا ابوقلابه عبدالله بن زيد جرمی بصری رحمه الله دي. ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب الايمان، "باب حلاوة الايمان" کښې تيره شوې ده (۴).

---

(۱) قوله: "كنا عند ابى موسى.....: الحديث، اخرجه البخارى ايضا، المغازى، باب قدوما لا شعر بين...... رقم (۴۳۸۵)، وباب غزوه تبوک......رقم (۴۴۱۵)، والاطعمة، باب الدجاج، رقم (۵۵۱۷_۵۵۱۸)، والايمان والنذور، باب قول الله تعالى: (لا يؤاخذ كم الله.....)، رقم (۶۶۲۳)، وباب: لا تحلفوا بآباء كم، رقم (۶۴۹)، وباب اليمين فيما لا يملک.....رقم (۶۶۷۸و ۶۶۸۰)، وباب الاستثناء فى الايمان، رقم (۶۷۱۸_۶۷۱۹)، وباب الكفارة قبل الحنث وبعده، رقم (۷۲۱)، والتوحيد، باب قول الله تعالى: (والله خلقكم وما تعملون)......رقم (۷۵۵۵)، ومسلم، الايمان، باب ندب من حلف يمينا، فراى غيرها خيرا منها......رقم (۴۲۶۳_۴۲۸)، والنسائى، الايمان، باب الكفارة قبل الحنث، رقم (۳۸۱۱)، الصيد والذباءح، باب اكل لحوم الدجاج، رقم (۴۳۵۱_۴۳۵۲)، وابو داود، الايمان، باب الرجل يكفر قبل ان يحنث، رقم (۳۲۷۶)، وابن ماجه، الكفارات، باب من حلف على يمين......رقم (۲۱۰۷)

(۲) كشف البارى: ۳/۳۸_

(۳) كشف البارى: ۲/۲۱۹_

(۴) كشف البارى: ۲/۲۶_

⑤**قاسم بن عاصم الکلیبی**: دا مشهور محدث او تابعی حضرت قاسم بن عاصم کلیبی تمیمی لیثی بصری رحمه الله دې. بعضو د دوی نسبت کلینی[1] هم لیکلې دې[2].

دوی د حضرت رافع بن خدیج رضي الله عنه. او زهدم بن مضرب جرمی، سعید بن المسیب او عطاء الخراسانی رحمهم الله نه روایت کوی. د دوی نه په روایت کوونکو کښې ایوب سختیانی، حمید الطویل او خالد الخداء رحمهم الله وغیره شامل دی[3].

ابن حبان رحمه الله دوی په خپل کتاب "الثقات" کښې ذکر کړې دی[4].

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی "مقبول"[5].

امام ابوداؤد د دوی نه په "مراسیل" کښې، امام ترمذی په "شمائل" کښې او نورو محدثینو بخاری او مسلم او نسائی رحمهم الله د دوی روایات اخستلې دی. البته په ابن ماجه کښې د دوی څۀ روایت نشته[6]. رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

⑥ **زهدم**: دا زهدم بن مضرب جرمی ازدی بصری رحمه الله دې[7].

⑦**ابوموسی**: د حضرت ابوموسی عبدالله بن قیس اشعری رضي الله عنه حالات په کتاب الایمان، "باب أی الاسلام أفضل؟" کښې تیر شوې دی[8].

ددې سند ټول راویان د بصرې دی، دغه شان دا سند بصری شو.

قوله: قال: وحدثني القاسم بن عاصم الکلیبي، وأنا لحدیث القاسم أحفظ عن زهدم: دلته ویونکې ایوب سختیانی رحمه الله دې[9] او ددې عبارت وضاحت دادې چې

---

[1]) حافظ مزی او ابن حجر وغیره رحمهم الله د دوی نسبت کلینی(نون سره) ذکر کړې دې. لیکن دا په ظاهره صحیح نۀ دې، صحیح کلیبی باء مؤحده سره دې، ددې وجه داده چې د دوی اصل تعلق د بنوتمیم سره دې چې د هغې یو شاخ کلیب بن یربوع هم دې، د هغې طرفته منسوب کیدلو سره دوی ته کلیبی وئیلې شی، اوګورئ، لانساب: ۴۶۵/۱۰، وتعلیقات تحریر تقریب التهذیب: ۱۷۰/۳، او کلین_بضم الکاف وفتح اللام_مصغراً او کسرها بالامالة. د عراق یو کلې دې، اوګورئ، الانساب: ۴۶۳/۱۰، والاکمال للمغلطای: ۱۸۶/۷، و وضیح المشتبه للذهبی: ۵۶/۵، والله اعلم)_

[2]) تهذیب الکمال: ۳۷۱/۲۳، وتهذیب التهذیب: ۳۱۹/۸)_

[3]) پورته حواله جات)_

[4]) الثقات لابن حبان: ۳۰۳/۵)_

[5]) تقریب التهذیب: ۱۹/۲، رقم (۵۴۶۵)

[6]) پورته حواله، وتهذیب الکمال: ۳۷۲/، وتهذیب ابن حجر: ۳۱۹/۸، وخلاصة الخزرجی ۳۱۲)_

[7]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الشهادات، باب لا یشهد علی شهادة زور......)_

[8]) کشف الباری: ۶۹/۱)_

[9]) فتح الباری: ۲۳۹/۶، وعمدة القاری: ۵۷/۱۵، وارشاد الساری: ۲۱۵/۵)_

ايوب دا روايت د دوو حضراتو يعنى ابو قلابه او قاسم بن عاصم نه روايت كوى او دا دواړه حضرات د زهدم بن مضرب جرمى نه روايت كوى. لكه امام بخارى رحمه الله چې په كتاب الايمان والنذور كښې كوم روايت نقل كړې دې، د هغې سند داسې دې: "حدثنا قتيبة، حدثنا عبدالوهاب عن أيوب، عن أبي قلابة والقاسم التميمي، عن زهدم..." (١)
په دې كښې د دواړو ذكر يوځائې دې. اوس ايوب سختيانى رحمه الله دا فرمائى چې د قاسم روايت د ابو قلابه په نسبت ماته زيات ياد دې.
خبرداري: د دې حديث مبارك تشريح په مغازى او اطعمه وغيره مختلفو ځايونو كښې راغلې ده (٢).
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د دې حديث مناسبت په دې جمله كښې دې، "وأتي رسول الله صلى الله عليه وسلم بنهب أبل......فأمرلنا بخمس ذود غر الذرى" چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم مونږ ته د اوچت قُب والا پنځهٔ سپين اوښان راكړل، دا اوښان د خمس وو، د غه شان د دې حديث مناسبت د ترجمې د جزء "وماكان النبى صلى الله عليه وسلم يعطى الناس أن.....من الخمس" سره واضح دې (٣).
د باب دريم حديث د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دې.
٢٩٦٥: (٤) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَ سَرِيَّةً فِيهَا عَبْدُ اللَّهِ قِبَلَ نَجْدٍ، فَغَنِمُوا إِبِلاً كَثِيرًا، فَكَانَتْ سِهَامُهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا أَوْ أَحَدَ عَشَرَ بَعِيرًا، وَنُفِّلُوا بَعِيرًا بَعِيرًا. [٤٠٨٣]

رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف:** دا عبدالله بن يوسف تنيسى رحمه الله دې.
② **مالك:** دا امام دارالهجرة حضرت امام مالك بن انس رحمه الله دې. د دې دواړو حضراتو تذكره د بدء الوحى په "الحديث الثانى" كښې تيره شوې ده (٥).
③ **نافع:** دا نافع د ابن عمر رضي الله عنهما مولى دې. د دوى تفصيلى حالات په كتاب العلم، "باب ذكر

(١) صحيح بخارى، كتاب الايمان والنذور، باب: لا تحلفوا بآباءكم، رقم (٦٦٤٩)_
(٢) كشف البارى، كتاب المغازى: ٦٠٨، و٦٣٣، وكتاب الاطعمة: ٢٨٧_٢٩٠)_
(٣) عمدة القارى: ٥٧/١٥)_
(٤) قوله: عن ابن عمر رضي الله عنهما: الحديث، اخرجه البخارى فى المغازى، باب السرية التى قبل نجد، رقم (٤٣٣٨)، ومسلم، فى الجهاد والسير، باب الانفال، رقم (٤٥٢١_٤٥٢٥)، وابوداود، فى الجهاد، باب فى النفل فى السرية.....رقم (٢٧١٤_٢٧٤٦)_
(٥) كشف البارى: ٢٩٨/١_٢٩٠)_

العلم والفتيا فى المسجد" كښې تير شوي دى.(۱).

⑧ ابن عمر: د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حالات په كتاب الايمان، "باب الايمان...." كښې تير شوي دی.(۲).

عن ابن عمر رضی الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث سرية، فيها عبدالله بن عمر، قبل نجد، فغنموا ابلا كثيرة

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې چې نبی كريم صلى الله عليه وسلم يوه سريه روانه كړه، چې په هغې كښې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په خپله هم موجود وو، دا سريه د نجد طرفته ليږلې شوې وه، په دې كښې هغوی په غنيمت كښې ډير زيات اوښان حاصل كړل. پورته په حديث شريف كښې چې د كومې سريې تذكره ده هغه په "سريه ابى قتادة بن ربعى الانصارى" سره موسوم ده، ددې امير حضرت ابوقتاده رضی الله عنه وو، دا سريه د فتح مكه نه مخكښې روانه كړې شوې وه، د ابن سعد د تحقيق مطابق دا د ۸هجرى واقعه ده.(۳).

دلته نجد مطلقاً ذكر شوي دې، چې ډيره لويه علاقه ده. ددې تحقيق وړاندې په څۀ مقام باندې تير شوې دې.(۴)، البته د باب په حديث كښې د نجد نه يو خاص علاقه "ارض محارب" مراده ده، كوم ځائې چې قبيله غطفان اوسيدله، دا سريه ددې قبيلې د شكست او سركوبئ دپاره روانه كړې شوې وه.(۵).

د مشهور قول مطابق په دې سريه كښې پنځلس صحابه كرام رضی الله عنهم وو. په مال غنيمت كښې دوه سوه اوښان، دوه زره چيلۍ او ډير زيات قيديان په لاس راغلل او دا سريه صرف پنځلس ورځې وه.(۶) په دې حديث شريف كښې د نفل ذكر راغلې دې، لاندې به مونږ ددې متعلق اختصار سره بحثونه پيش كوو، ځكه چې دا حديث شريف د نفل په باب كښې د اصل حيثيت لري.

د نفل لغوی او اصطلاحی تعريف: نفل د نون او د فاء فتحې سره دې، كله فاء ساكن هم لوستلې شى، ددې جمع انفال ده، ددې معنى ده زياتوالې.(۷).

د شريعت په اصطلاح كښې نفل هغه انعام او زياتوالى ته وئيلې شى كوم چې مجاهد ته د غنيمت نه علاوه ملاويږى، البته ددې اطلاق په اكثرو روايتونو كښې په مطلق غنيمت

---

۱) كشف البارى: ۴/۶۵۱)_
۲) كشف البارى:۱/۶۳۷)_
۳) طبقات ابن سعد:۲/۱۳۲)_
۴) اوګورئ د باب ما جاء فى بيوت ازواج النبى....شپږم حديث، حديث ابن عمر)_
۵) طبقات ابن سعد:۲/۱۳۲_۱۳۳)_
۶) پورته حواله، والاوجز:۹/۱۱۸)_
۷) شرح الزرقانى:۳/۱۵، كتاب الجهاد، جامع النفل فى الغزو، باب رقم(۳۰۲) والاوجز:۹/۱۱۶)_

باندې هم شوې دې، علامه راغب اصفهانى وائى چې دا اختلاف د تعبير دې، لکه په دې اعتبار چې غازى ته دا انعام ملاؤ شوې دې نو دې ته غنيمت وائى او په دې اعتبار سره چې د الله تعالى له طرفه ورته دا انعام ملاؤ شو، چې ضرورى نهٔ وو نو دې ته نفل وائى، په دې دواړو کښې نور فرقونه هم بيان کړې شوې دى، چې د هغې دلته ضرورت نشته.[1]

د نفل مشروعيت: د نفل په مشروعيت باندې د جمهور علماؤ او فقهاؤ اتفاق دې، البته صرف يو فقيه عمرو بن شعيب ددې د مشروعيت قائل نهٔ دې، هغوى دا وائى چې د نبى کريم ﷺ نه پس ددې گنجائش نشته ليکن دا قول مرجوح دې.[2]

① **امام شافعى او امام مالک رحمهما الله:** بيا ائمه ثلثه کښې امام شافعى او امام مالک رحمهما الله دې لره د ضرورت د شرط سره مشروط کوى چې ترڅو سخت ضرورت نهٔ وى، مثلاً مسلمانان په تعداد کښې کم او کفار په تعداد کښې زيات وى نو جائز دى، او که داسې نهٔ وى نو جائز نهٔ دى

② **احناف:** احناف ددې د مطلقِ جواز قائله دى، ځکه چې دا هم د تحريض او د ترغيب يو قسم دې، د الله تعالى حکم هم ددې خبرې دې چې ﴿يايها النبى حرض المؤمنين على القتال﴾[3] چې "اې نبى! مسلمانان په قتال باندې راتيز کړئ" دا حکم مطلق دې[4] البته احناف کثرالله سوادهم دا هم فرمائى . کما فى البدائع. چې د وخت د امام دپاره دا مناسب نهٔ دى چې د غنيمت ټول مال چاته نفلى ورکړى، ځکه چې په دې کښې به د ټولو مجاهدينو حق اووهلې شى، ليکن که داسې اوکړى نو جائز دى.[5]

د نفل صورتونه: د تنفيل بيا درې صورتونه دى:

①د وخت امام د لوئې لښکر نه مخکښې يو وړوکې لښکر (سريه) اوليږى، چې په دشمن باندې حمله اوکړى، دې لښکر ته چې کوم غنيمت ملاؤ شى د هغې يوه مقرره حصه مثلاً ځلورمه يا دريمه به د هغهٔ دپاره خاص کړى.

②د وخت امام يا د لښکر امير د څهٔ متعين او معلومو کسانو دپاره څهٔ انعام مقرر کړى او دا ددې وجې نه چې هغوى د جنگ دوران کښې د بهادرئ مظاهره کړې وى يا ئې بل څهٔ د

---

[1]) المفردات فى غريب القرآن:٥٠٤،کتاب النون،مادة نفل،والاوجز:١١٦/٩،والبداءع:٤٥٩/٦،وفى الموسوعة الفقهية (٧٤/١٤):وهو.....زيادة مال على سهم الغنيمة،يشترط الامام او امير الجيش لمن يقوم بما فيه نكاية زائدة على العدو")_

[2]) الموسوعة الفقهية:٧٥/١٤،(مادة تنفيل)،وفتح البارى:٢٤٠/٦،والاوجز:١١/٩)_

[3]) الانفال:٦٥)_

[4]) الموسوعة الفقهية:٧٥/١٤،وشرح الزرقانى:١٦/٣)_

[5]) بدايع الصنايع:٤٥٩/٩_٤٦٠،وانظر فتح القدير:٢٤٩/٥،والفتاوى الشامية لابن عابدين:٢٦/٣،وكتاب السير للشيبانى:١٢١/٢/١،ابواب الانفال)_

فانديٍ کار کړي وی چې دغه کار نور چا نه وی کړې او دا کار مشروط هم نه وی.يعنی د مخکښې نه پرې خبره نه وی شوې.بلکه د غنيمت د تقسيم په وخت کښې دا انعام ورکړې شی چې فلانی سړی ته د هغهٔ د مقررې حصې نه زياتی د هغهٔ ددې کارنامې د وجې نه دا انعام ورکولې شی.

④:دوخت امام دا اووائی چې کوم سړې فلانې ديوال مات کړی يا په دې کښې سورې اوکړی ,ونحوذلك)نو هغهٔ ته به دا څيز يا دومره قدرې مال د انعام په طور ورکولې شی (۱).

دا درې صورتونه شو،دا درې صورتونه د جمهورو فقهاؤ په نزد صحيح دی.البته امام مالک رحمه الله او د هغوی ملګری دريم صورت لره مکروه ګڼړی.هغوی دا فرمائی چې دې سره به د مجاهد اخلاص متاثره شی او د هغهٔ قتال به د دنيا دپاره شی.نه چې د آخرت دپاره.دغه شان په دې کښې خپل ځان په خطره کښې اچول هم موندې کيږی حالانکه دا سې کول جائز نهٔ دی(۲).

په دې سلسله کښې د جمهورو دليل د حضرت حبيب بن مسلمه فهری هغه روايت دې کوم چې په ابوداؤد شريف کښې(۳) کښې مذکور دې چې نبی کريم ﷺ په ابتداء کښې څلورمه او د واپسئ په وخت دريمه حصه د نفل په طور ورکړه.ددې نه ثابته شوه چې ابتداء کښې هم دا کار صحيح دې(٤).

د نفل محل:د نفل ادا کول د بيت المال نه هم جائز دی ليکن په دې صورت کښې د نفل قسم او مقدار معلومول ضروری دی.

دغه شان د دشمن نه چې نزدې کوم غنيمت حاصل شی.په هغې کښې هم نفل ورکول جائز دی.په دې کښې اګرچه جهالت موندې کيږی چې څهٔ معلومه ده چې غنيمت به حاصل هم شی يا نهٔ؟ ليکن دا جهالت نقصان دا نهٔ دې ځکه چې ددې ضرورت دې.(۵).

بيا د امت د فقهاء کرامو رحمهم الله په دې خبره کښې اختلاف دې چې نفل که د غنيمت نه وی نو څنګه به وی؟

①**حنابله او شوافع**:د حنابله او شوافعو په نزد به نفل د غنيمت د خمس په څلورمه حصه کښې ورکولې شی،هم دا قول د حضرت انس رضی الله عنه هم دې،دليل دا حديث شريف دې. "لانفل الا بعدالخمس"(٦).

---

(۱) الموسوعة: ۷٥/۱٤. والمغنی:۱۸٥/۹ ,وحاشيه ابن عابدين:۲٦۲/۳.وفتح القدير:٥/۲٤۹)_

(۲) حاشيه الزرقانی:۱٦/۳.والاوجز:۱۲٥/۹)_

(۳) سنن ابی داود.کتاب الجهاد.فيمن قال:الخمس قبل النفل.رقم (۲۷٤۸_۲۷٥۰)_

(٤) المغنی:۱۸٤/۹.والاوجز:۱۲٥/۹)_

(٥) المغنی:۱۸٦/۹. والموسوعة: ۷٥/۱٤)_

(٦) المغنی:۱۸۷/۹.دا د موفق د وضاحت مطابق دې،ورنه د شوافعو په کتابونو.....[بقيه برصفحه آئنده...

(٢) احناف: د احنافو په نزد په دې کښې تفصيل دې:
که د جنګ دوران کښې امام نفل ورکوی نو د غنيمت د خمس څلورمه حصه به وی.
که د مال غنيمت د تقسيم نه پس کوی يعنی د جنګ ختميدلو نه پس د غنيمت د تقسيم عمل شروع شی او هغه وخت د نفل ورکولو اعلان اوکړی نو دا به په خمس کښې جاری کيږی(١). او د مالکيه په نزد به نفل د غنيمت په خمس کښې جاری کيږی شرح الزرقانی: ١٦/٣، وبداية المجتهد: ٣٩٦/١، الفصل الثالث فی حکم الانفال)_

د نفل مقدار: د فقهاء کرامو رحمهم الله په نزد د نفل دوه مقدارونه دی، غوره او بيکاره.
بيکاره خو دادې چې څلورمه حصه يا دريمه يا ددې نه هم کمه وی يا بالکل نۀ وی، د وخت امام ته په دې ټولو څيزونو کښې اختيار دې چې په نفل کښې دريمه ورکوی يا څلورمه يا ددې نه هم کمه يا بالکل نۀ ورکوی. په دې کښې د ټولو فقهاؤ اتفاق دې(٢).
البته د غوره په حد کښې د دوی اختلاف دې.
د امام احمد رحمه الله په نزد د دريمې حصې نه زيات مقدار په نفل کښې نۀ شی ورکړې کيدې(٣)
د امام شافعی رحمه الله په نزد د نفل څۀ غوره حد نشته بلکه دا د وخت د امام په رائې باندې منحصر ده څکه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم کله دريمه حصه ورکړې ده او کله څلورمه نو دا ددې خبرې دليل دې چې "ليس للنفل حد"(٤)
او د احنافو په نزد هم د نفلو څۀ غوره مقدار متعين نۀ دې، که د وخت امام اوغواړی نو ټول غنيمت هم لښکر ته ورکولې شی ليکن دوی دا هم فرمائی چې دا کار مناسب نۀ دې څکه چې په دې صورت کښې به د نورو مجاهدينو حق اووهلې شی(٥).
دا خو نفل سره متعلق فقهی بحثونه وو کوم چې مونږ دلته مختصراً پيش کړل.
اوس يو نظر د باب په حديث شريف باندې اچوو.

...بقيه ازحاشيه گذشته] کښې د هغوی مذهب دا ليکلې شوې دې چې نفل به د خمس په خمس کښې جاری کيږی، يعنی د غنيمت د پنځمې حصې پنځمه حصه به نفل کښې ورکولې شی، هم دا صحيح قول دې، اوګورئ، نووی: ٨٦/٢، وفتح البارى: ٢٤. وحديث انس اخرجه ابوداود من حديث معن بن يزيد، کتاب الجهاد، باب فی النفل من الذهب والفضة......رقم (٢٧٥٣)_

[1]) حاشية ابن عابدين: ٢٦٤/٣، وفتح القدير: ٢٥٠/٥، والاوجز: ١٢٧/٩)_

[2]) الموسوعة: ٧٦/١٤، (مادة تنفيل)_

[3]) پورته حواله، والمغنی: ١٨٤/٩، والاوجز: ١٢٥/٩)_

[4]) الاوجز: ١٢٥/٩، والموسوعة: ٧٦/١٤)_

[5]) حاشيه ابن عابدين: ٢٦٣/٣، والبدايع: ٤٦/٩، فصل فی احکام الغنام......والاوجز: ١٢٦/٩_١٢٧. د نفلو سره متعلق نورو معلوماتو دپاره اوګورئ، الاوجز: ١١٦/٩_١٢٨، والموسوعة الفقهية: ٧٤/١٤_٧٧، والاستذکار لابن عبدالبر: ١٤/٤_٣٦، وفتح البارى: ٢٣٩/٦_٢٤١، وعمدة القارى: ٥٥/١٥_٦٠)_

قوله: فكانت سهمانهم اثنى عشر بعيراً أو أحد عشر بعيراً: نو په سريه کښې شريک کسانو کښې هر کس ته دولس دولس يا يوولس يوولس اوښان ملاؤ شو.

"سهمان" د سين ضمې او د باء سکون سره، د سهم جمع ده. يعنى حصې[1] مطلب دادې چې په پورته مذکوره تعداد کښې اوښان د غنيمت په طور ملاؤ شو.
امام نووى رحمه الله فرمائى چې بعضې خلقو ددې معنى دا بيان کړې ده چې د ټولو شريکانو حصه دولس اوښان وو، ليکن دا واضح طور سره غلطه خبره ده، ځکه چې د ابوداؤد رحمه الله وغيره[2] په روايت کښې وضاحت شوې دې چې د هر شريک حصه دولس اوښان وو[3].

د شريکانو په حصه کښې څومره څومره اوښان راغلل؟ د باب په حديث کښې شک سره "اثنى عشر بعيراً او احد عشر بعيراً" راغلې دې، دا شک د امام مالک رحمه الله له طرفه راغلې دې او د حضرت نافع نور ټول شاګردان دا د شک نه بغير "اثنى عشر بعيراً" نقل کوى، ابن عبدالبر رحمه الله هم دا فرمائيلې دى[4].

د اثنى عشربعيراً مراد: وړاندې دا خبره تيره شوې ده چې په دې سريه کښې، د کومې چې د باب په حديث کښې تذکره ده، دې کښې چې کوم غنيمت حاصل شو نو هغه دوه سوه اوښان، دوه زره چيلئ او څۀ قيديان وو او دا خبره هم بيان شوه چې د اهل سير مشهور قول دادې چې په دې کښې پنځلس کسان شريک وو، اوس که دوه سوه اوښان پنځلس لره د دولس په حساب سره تقسيم ورکړې شى نو جواب ١٨٠ راځى او د دوو سوو خمس څلويښت دې، ١٨٠ او څلويښت نو ٢٢٠ شوې، نو دلته حساب صحيح نۀ راځى ځکه چې يا خو د دوو سوو عدد غلط دې يا د دوو سو شلو تعداد غلط دې؟
ددې تضاد جواب د حديث شارحينو دا کړې دې چې اوښان او چيلئ يوځائې ورکړې شوې وې او لس چيلئ د يو اوښ برابر وې، نو دوه زره چيلئ په دې حساب سره د دوو سوو اوښانو برابر شوې، دوه سوه اوښان د مخکښې نه وو، دغه شان دا مجموعه څلور سوه شوه. دې عدل له د نظر لاندې ساتلو د وجې نه اثنى عشر بعيراً وئيلې شوې دې او په نفلو کښې هم ددې لحاظ دې، هم دا توجيه د ټولو نه غوره ده[5].

يو اعتراض او د هغې جوابات: البته په دې ټول تفصيل باندې يو اعتراض دا پيدا کيږى چې

---

[1]) أوجز ٩:١١٩، وشرح الزرقانى: ١٥/٣)_
[2]) سنن أبى داوٗد، كتاب الجهاد، باب فى النفل فى السرية......رقم(٢٧٤١)_
[3]) اوجز: ١٩٩/٩، والنووى على مسلم: ٨٦/٢، وفتح البارى: ٢٣٩/٦)_
[4]) الاستذكار: ٤١/٤، والتمهيد: ١٤، حديث رابع عشر لنافع عن ابن عمر، وفتح البارى: ٢٣٩/٦، والاوجز: ١١٩/٩)
[5]) طبقات ابن سعد: ١٣٢/٢_١٣٣، سرية ابى قتادة ربعى.....والاوجز: ١١٩/٩)_

اوښان د عدل نه پس څلور سوه شو.ددې خمس(پنځمه حصه)اتيا ده.د كومې نه چې نفل وركړې شو،پنځلس كسانو ته د ١٢،١٢په حساب سره يوسل اتيا اوښان وركړې شو. حاصل جمع ٢٦٠شو،اوس سوال دا دې چې باقى يوسل څلويښت اوښان څۀ شو؟

ددې اعتراض نه د خلاصى دپاره حافظ رحمه الله خو دا اووئيل چې په سريه كښې شريک كسان پنځلس نۀ وو بلكه پنځويشت وو(١)،پنځويشت لره دولس كښې ضرب وركړو نو حاصل جمع ٣٠٠جوړيږى،اتيا خمس دې،چې دا دواړه جمع كړې شى نو حاصل ٣٨٠راځى چې څلورسوو ته نزدې نزدې دې۔

ليكن د حافظ رحمه الله دا جواب د بعضې وجوهاتو د وجې نه داسې نۀ دې چې اعتماد پرې اوكړې شى۔

يو وجه خو داده چې اكثر اهل سير په سريه كښې د شريک كسانو تعداد پنځلس ښودلې دې،مثلاً ابن سعد،قسطلانى او صاحب السيرالحلبية وغيره وغيره(٢)۔دويمه وجه داده چې بعضې حضراتو د شريكانو تعداد لس(٣)او بعضو شپاړس(٤)او بعضو څلور زره هم ښودلې دې(٥)،په دې صورت كښې به حافظ صاحب څۀ كوى؟

ددې اعتراض دويم جواب دادې چې كه ددې حديث شريف ټول روايتونه د نظر لاندې كړې شى نو دا خبره پوهې ته راځى چې نبى كريم ﷺ يو لښكر روان كړې وو.رخ د هغوى د نجد طرفته وو،هلته د رسيدلو نه پس د لښكر يوه حصه جدا شوه او د بنو غطفان د شكست دپاره روانه شوه،هلته دوى فتح بياموندہ او غنيمت ئې هم بياموندۀ.د سريې امير خپل هر يو ملګرى ته يو يو اوښ د نفل په طور وركړو،باقى غنيمت سره لښكر كښې واپس راغلل. هركله چې دوى په لښكر كښې واپس شو نو باقى غنيمت هم تقسيم شو او د لښكر هر هر كس ته دولس دولس اوښان ملاؤ شو ځكه چې د لښكر خپل غنيمت هم وو،دا ټول چې جمع كړې شو نو د هر يو په حصه كښې دولس دولس اوښان راغلل او په سريه كښې د.شريک كسانو په لاس ديارلس ديارلس اوښان راغلل ځكه چې يو يو اوښ نفلى وو۔

ددې دليل دوه جدا جدا روايتونه دى،اول د ابن اسحاق نه روايت دې او دويم د شعيب بن ابى حمزه نه،ددې دواړو روايتونو خلاصه هغه ده كومه چې پورته ذكر شوه،مونږ دلته صرف د شعيب بن ابى حمزه د روايت الفاظ نقل كوو،حضرت ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى:

"بعثنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فى جيش،قبل نجد،وانبعث سرية من الجيش،فكان سهمان الجيش

---

(١) فتح البارى:٥٦/٨،والاوجز:١١٩/٩)_

(٢) اوګورئ، طبقات ابن سعد:١٣٢/٢،والسيرة الحلبية:٢٠٤/٣،والاوجز:١١٩/٩)_

(٣) دا د ابن التين رحمه الله رائې ده،اوګورئ عمدة القارى:٣١٢/١٧)_

(٤) حكاه ابن الاثير فى الكامل:١٥٧/٢)_

(٥) دا د ابن عبدالبر قول دې.دا قول حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل كښې د حقيقت نه خلاف او بې اصل ښودلې دې،اوګورئ بذل:٣٥٣/١٢)_

اثني عشر بعيراً، اثني عشر بعيراً، ونفل أهل السرية بعيراً بعيراً، فكانت سهمانهم ثلاثة عشر"(۱).
په دې روايت باندې ابن عبد البر رحمه الله اګر چه سخت رد کړې دې ځکه چې دا روايت د نافع د نورو شاګردانو د بيان کړده روايتونو نه خلاف دې، کوم چې د شعيب په مقابله کښې ثقات هم دي او اثبات هم دي(۲).
البته د ابن عبدالبر رحمه الله ددې رد د وجې نه څهٔ فرق نهٔ پريوځی، هغه داسې چې ابن عبد البر په خپله هم دا منی چې د شعيب بيان کړده معنی هم صحيح ده، ځکه چې د امت د علماؤ او فقهاؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چې که د لښکر څهٔ حصه سريه دپاره روانه شی نو کوم غنيمت چې ملاؤ شی، په هغې کښې به لښکر هم شريک وی، په سريه کښې د شريک کسانو امتياز به داسې وی چې هغوی ته به نفل ورکولې شی(۳) نو په دې واقعه کښې هم دغه شان شوې دی لکه څنګه چې د شعيب بن ابی حمزه او د ابن اسحاق وضاحت موجود دې۔ ددې وجې نه د ابن عبد البر رحمه الله دا اعتراض په خپل محل باندې نهٔ دې۔ والله أعلم

فائده: د باب په حديث شريف کښې چې د کوم نفل تذکره ده، په هغې کښې د فقهاؤ اختلاف دې چې دا نفل د کوم څيز نه ورکړې شوې وو، مشهور قولونه درې دی:

① امام اوزاعی، احمد، ابو ثور او احناف رحمهم الله وغيره ددې خبرې قائل دی چې دا نفل د اصل غنيمت نه وو۔ دليل د ابو اسحاق روايت دې چې د هغې ذکر اوس د ابوداؤد په حوالې سره تير شو۔

② د امام مالک، قاسم بن سلام، سعيد بن المسيب او امام بخاری رحمهم الله وغيره رائې داده چې دا غنيمت د خمس نه وو، د دوی دليل د ابن عبد البر رحمه الله د قول مطابق د باب حديث شريف دې ځکه چې د حضرت نافع د اکثرو شاګردانو روايتونه په دې باندې دلالت کوی. سوا د ابن اسحاق د روايت نه۔

③ د امام شافعی وغيره رحمه الله رائې داده چې په دې کښې نفل د خمس په خمس کښې وو، ابن عبد البر رحمه الله باوجود ددې چې مالکی دې ليکن دې رائې ته ترجيح ورکوی(۴) والله أعلم

قوله: ونفلوا بعيراً بعيراً: او په سريه کښې شريک ټولو کسانو ته يو يو اوښ د نفل په طور سره ورکړې شو۔

په دې روايت کښې د منفل تعيين نشته چې نفل چا ورکړې وو، دلته منفل مجهول دې او د

---

(۱) سنن ابی داؤد، کتاب الجهاد، باب فی النفل فی السرية......رقم (۲۷۴۱)، و رواية ابن اسحاق انظرها فی نفس هذا الباب، برقم (۲۷۴۳)_

(۲) الاستذکار: ۴/۴۲_

(۳) پورته حواله. والفتح: ۶/۸۶، ولنووی علی مسلم: ۲/۸۶، والمغنی: ۹/۱۸۳_۱۸۴، والاوجز: ۹/۱۳۰_

(۴) وللاستزادة انظر: الاستذکار: ۴/۴۳_۴۶، والفتح: ۶/۲۴، والاوجز: ۹/۱۲۸، واعلاء السنن: ۱۲/۲۶۰_۲۷۴.

مسلم د روايت(١)نه معلوميږي چې نفل ورکوونکي نبی کريم ﷺ وو او د ابوداؤد روايت(٢) بالکل ددې خلاف دې، په کوم کښې چې ابواسحاق دا فرمائی چې نفل ورکوونکې د سريې امير حضرت ابوقتاده انصاری رضی الله عنه وو؟
بيا د غنيمت په تقسيم کښې هم اختلاف دې چې غنيمت چا تقسيم کړې وو؟
ددې جواب دادې چې نفل ورکول د سريې د امير له طرفه وو او تقسيم د نبی کريم ﷺ په لاسونو مبارکو شوې وو ځکه چې نبی کريم ﷺ ته د نفل ورکولو پته اولګيده نو هغوی مبارک دا کار برقرار اوساتلو،ددې وجې نه دا د"تقرير"د قسم نه شو چې د سنت يو قسم دې. په دې باندې د ليث عن نافع وغيره روايت دلالت کوی،په کوم کښې چې راغلې دی چې"ولم يغيره رسول الله صلى الله عليه وسلم"(٣) يا دواړه کارونه د سريې امير کړې وو،دا کار هم په تقرير باندې محمول دې ځکه چې نبی کريم ﷺ هيڅ اعتراض اونه کړو او د لښکر د امير فيصله ئې برقراره اوساتله(٤).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ددې حديث مطابقت د ترجمة الباب د جزء"الانفال من الخمس"سره دې،په حديث کښې چې"ونفلوا بعيراً بعيراً"راغلې دی نو دا د خمس نه وو. هم دا د امام بخاری رحمه الله رائې ده.(٥) ،كما مرآنفاً مفصلاً.

يوه فائده: علامه نووی رحمه الله فرمائی چې په اکثرو روايتونو کښې اثنا عشر راغلې دې او په بعضو کښې اثنى عشر كما فى حديث الباب.دا لفظ خو واضح دې چې په حالت د نصب کښې دې او د مشهور قاعدې مطابق دې. اولنې اعراب هم ددې حضراتو په نزد صحيح دې،کوم حضرات چې دا وائی چې د مثنى اعراب به په درې واړو حالتونو(رفع،نصب،جر)کښې د الف سره وی،دا د عربو د څلورو قبيلو لغت دې او ددې مثالونه هم په کلام د عربو کښې په کثرت سره بياموندې شی......(٦).
د باب څلورم حديث هم د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دې.

٢٩٦٦(٧): حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمٍ

---

(١) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب الانفال،رقم (٤٥٢٣)_
(٢) ابوداؤد شريف،كتاب الجهاد،باب فى النفل فى السرية.......رقم(٢٧٤٣))_
(٣) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب الانفال،رقم (٤٥٢٢))_
(٤) شرح النووى على مسلم:٨٦/٢،وفتح البارى:٢٤٠/٦،والاوجز:١٢١/٩)_
(٥) الكوثر الجارى:١١٧/٦)_
(٦) شرح النووى على صحيح مسلم:٨٦/٢،وتعليقات جامع الاصول:٦٨١/٢)_
(٧) قوله:عن ابن عمر رضى الله عنهما:الحديث،اخرجه مسلم،كتاب الجهاد......باب الانفال،رقم (٤٥٢٦_٤٥٢٨)،وابو داؤد،كتاب الجهاد،باب فى النفل فى السرية......رقم (٢٧٤٦).

.....[بقيه برصفحه آئنده...

عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رضى الله عنهما- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوَى قِسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ.

رجال الحديث

① **يحيى بن بكير**: دا يحيى بن عبد الله بن بكير مخزومى رحمه الله دي.

② **الليث**: دا ليث بن سعد فهمى رحمه الله دي.

③ **عقيل**: دا عقيل بن خالد رحمه الله دي.

④ **ابن شهاب**: دا محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله رحمه الله دي چې مشهور په ابن شهاب زهری دي ددې ځلورو واړو حضراتو تذکره د "بدء الوحى" په "الحديث الاول" کښې تيره شوې ده (١).

⑤ **سالم**: دا مشهور تابعى سالم بن عبدالله بن عمر رحمه الله دې. د دوى حالات په کتاب الايمان، "باب الحياء من الايمان" کښې تير شوې دى (٢).

⑥ **ابن عمر**: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما تذکره په کتاب الايمان، "باب الايمان...." کښې تيره شوې ده (٣).

عن ابن عمر رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ينفل بعض من يبعث من السرايا لانفسهم خاصة، سوى قسم عامة الجيش.

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم به کوم خلق سريو ته ليږل. په هغوى کښې به ئې بعضو ته نفل ورکول، چې دا نفل به دهغوى سره د لښکر د عامو کسانو نه علاوه خاص وو.

د باب د حديث نه د حافظ صاحب استدلال: حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حديث نه دا استدلال کړې دې چې په نفل کښې د يو سريې بعضې کسان محروم ساتل او بعضو ته ورکول جائز دى (٤). او د جمهورو په نزد دا جائز نه دى، په سريه کښې شريک ټولو کسانو ته نفل ورکول ضرورى دى (٥). زمونږ په نزد ددې حديث معنى دا ده چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم به مختلف سريې روانولې چې په هغې کښې به ئې بعضې سريو ته نفل ورکوو او بعضو ته به ئې نه ورکوو.

...بقيه ازحاشيه گذشته] دا تخريج د تخريج د عام صاحبانو د تحقيق مطابق دې خکه چې هغوى دا مستقل حديث شمار کړې دې ورنه د علامه ابن الاثير جزرى رحمه الله تحقيق دادې چې د باب تير شوې روايت او دا روايت دواړه يو حديث دې لهذا دواړه جدا جدا شمارل صحيح نه دى. اوګورئ جامع الاصول: ٢/٦٨١_٦٨٢)_

(١) کشف البارى: ١/٣٢٣_٣٢٦)_

(٢) کشف البارى: ٢/١٢٨)_

(٣) کشف البارى: ١/٦٣٧)_

(٤) فتح البارى: ٦/٢٤١)_

(٥) دا بحث سابقه باب کښې تير شوې دې)_

پورته مونږ ترجمه د شافعيه مسلک مطابق کړې ده.(١).
د حافظ د مذکوره استدلال وجه: شوافع چونکه ددې خبرې قائل دى چې نفل به د خمس د خمس نه ورکړې کيږى، ددې وجې نه هغوى هم په يو سريه کښې "تخصيص البعض دون البعض فى النفل" ته جائز وائى، که هغوى دا جائز اونه ګڼړى نو دهغوى د خمس الخمس والا قول صحيح نهٔ پاتې کيږى. علامه نووى رحمه الله هم دا تشريح د مخکښنى حديث د جملې "ونفلوا بعيرا بعيرا" کړې وه او دا ئې فرمائيلې وو چې ددې مطلب دادې چې په سريه کښې کوم د نفل مستحق وو، نو په هغوى کښې هر يو ته يو يو اوښ د نفل په طور سره ملاؤ شو، دا مطلب نهٔ دې چې په سريه کښې شريک ټولو کسانو ته نفل ملاؤ شو.(٢).
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چې امام نووى (او حافظ) ته ددې تاويل کولو ضرورت ددې وجې نه پيښ شو چې د خپل راجح مذهب دپاره څهٔ تائيد کوونکې څيز تلاش کړى، څکه چې دا حضرات د نفل د خمس الخمس قائل دى، ددې وجې نه په دې حديث شريف کښې چې د خمس الخمس کوم مقدار جوړيږى نو هغه په ټوله سريه باندې تقسيميدې نهٔ شى، ددې وجې نه دې حضراتو دا مذکوره تاويل اوکړو.
البته دا تاويل چليدلې نهٔ شى څکه چې هم ددې حديث په يو طريق کښې صراحت سره دا الفاظ راغلې دى، "نفلنا اميرنا بعيرا بعيرا لکل إنسان"(٣) ددې نه ښهٔ وضاحت سره دا معلوميږى چې په سريه کښې شريک ټول کسان د نفل مستحق ګرځيدلې وو.(٤) والله أعلم.
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حديث مناسبت بالکل واضح دې څکه چې په ترجمه کښې يو جزء الانفال من الخمس وو، په حديث شريف کښې هم د نفل ذکر دې، کوم چې د خمس نه ويستلې کيږى. کما هو مذهب البخارى. ددې وجې نه مطابقت اوموندلې شو. والله أعلم بالصواب
د باب پنځم حديث شريف د حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دې.
٢٩٦٧: (٥) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ

---

(١) التلخيص الحبير: ٢/٢٧٣، واعلاء السنن: ١٢/٢٧۶، نقلاً عن الترمذى ببلاغ مالک بن انس)_
(٢) شرح النووى على مسلم: ٢/٨۶)_
(٣) سنن ابى داود، کتاب الجهاد، باب فى النفل فى السرية.....رقم (٢٧٤٣))_
(٤) الاوجز: ٩/١٢٠)_
(٥) قوله: عن ابى موسى رضي الله عنه: الحديث، اخرجه البخارى ايضا، کتاب مناقب الانصار، باب هجرة الحبشة، رقم (٣٨٧۶)، وکتاب المغازى، باب غزوة خيبر، رقم (٤٢٣٠ و٤٢٣٣)، ومسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل جعفر...واهل سفينتهم، رقم (۶٤١٠)، وابوداود، فى کتاب الجهاد، باب فيمن جاء بعد الغنيمة...... رقم (٢٧٢٥).

أَبِي مُوسَى - رضى الله عنه - قَالَ بَلَغَنَا مَخْرَجُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَنَحْنُ بِالْيَمَنِ فَخَرَجْنَا مُهَاجِرِينَ إِلَيْهِ، أَنَا وَأَخَوَانِ لِي، أَنَا أَصْغَرُهُمْ، أَحَدُهُمَا أَبُو بُرْدَةَ وَالآخَرُ أَبُو رُهْمٍ، إِمَّا قَالَ فِي بِضْعٍ، وَإِمَّا قَالَ فِي ثَلاَثَةٍ وَخَمْسِينَ أَوِ اثْنَيْنِ وَخَمْسِينَ رَجُلاً مِنْ قَوْمِي فَرَكِبْنَا سَفِينَةً، فَأَلْقَتْنَا سَفِينَتُنَا إِلَى النَّجَاشِيِّ بِالْحَبَشَةِ، وَوَافَقْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأَصْحَابَهُ عِنْدَهُ فَقَالَ جَعْفَرٌ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَنَا هَا هُنَا، وَأَمَرَنَا بِالإِقَامَةِ فَأَقِيمُوا مَعَنَا. فَأَقَمْنَا مَعَهُ، حَتَّى قَدِمْنَا جَمِيعًا، فَوَافَقْنَا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ، فَأَسْهَمَ لَنَا. أَوْ قَالَ فَأَعْطَانَا مِنْهَا. وَمَا قَسَمَ لأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا، إِلاَّ لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ، إِلاَّ أَصْحَابَ سَفِينَتِنَا مَعَ جَعْفَرٍ وَأَصْحَابِهِ، قَسَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ.[٣٦٣، ٣٩٩٠- ٣٩٩٢]

رجال الحديث

①**محمد بن العلاء**:دا ابو العلاء محمد بن العلاء همدانی کوفی رحمه الله دي.

②**ابو اسامه**:دا ابو اسامه حماد بن اسامه رحمه الله دي. ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم" کښې تیره شوې ده.[1]

③**برید بن عبدالله**:دا ابوبرده برید بن عبدالله بن عامر کوفی رحمه الله دي.

④**ابوبرده**:دا ابوبرده عامر بن موسی اشعری رحمه الله دي.

⑤**ابوموسی**:دا حضرت ابوموسی عبدالله بن قیس اشعری رضی الله عنه دي. ددې درې واړو حضراتو تذکره په کتاب الایمان، کښې د "باب أی الاسلام أفضل" په ضمن کښې بیان شوې ده.[2]

عن أبي موسى رضي الله عنه قال: بلغنا مخرج النبي صلى الله عليه وسلم ونحن باليمن

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی چې مونږ ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وتلو خبر ملاؤ شو په داسې حال کښې چې مونږ په یمن کښې وو.

"مخرج" مصدر میمی دې، ددې معنی ده وتل او د فاعل کیدو د وجې نه مرفوع دې.[3]

د مخرج نه څۀ مراد دی؟

د مخرج نه دوه څیزونه مراد کیدې شی:

①**بعثت**:په دې صورت کښې به مطلب داوی چې په ظاهره باندې دې حضراتو ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت او د خروج علم د هجرت د اورېدې مودې تیریدو نه پس اوشو، نو هر کله چې دوی ته علم اوشو نو دوی د زیارت په غرض سره د یمن نه راووتل.

②**هجرت**:په دې صورت کښې به مطلب داوی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په باره کښې خو دوی ته

---

[1]) کشف الباری:۳/۴۱۳_۴۱۷)_

[2]) کشف الباری:۱/۶۹۰)_

[3]) عمدة القاری:۱۵/۶۰)_

علم د مخکښې نه حاصل وو .دې حضراتو اسلام هم قبول کړې وو ليکن په خپل وطن کښې مقيم وو .تردې چې د نبی کريم ﷺ د هجرت پته ورته اولګيده نو دوی د هجرت اراده اوکړه.

اوس سوال دا پيدا کيږی چې بيا دا حضرات دومره اوږده زمانه چرته اوسيدل او هجرت ئې ولې اونهٔ کړو ؟

نو ددې جواب دادې چې غالباً دوی ته د صحيح حالاتو پته نهٔ لګيده،چې هر کله د حالاتو مکمل اطلاع ملاؤ شوه نو دوی هم هجرت اوکړو او خپل وطن ئې پريخودهٔ.(۱).

قوله: فخرجنا مهاجرين إليه،أنا وأخوان لي ،أنا أصغرهم،أحدهما: أبو بردة،والآخر أبورهم: نو مونږ د هغوی په طرف د هجرت په نيت اووتلو .زهٔ او زما دوه ورونړه،زهٔ په هغوی ټولو کښې کشر ووم،يو ابوبرده وو او دويم ابورهم.

لفظ "مهاجرين" د حال جوړيدو د وجې نه منصوب دې.(۲).

ابو برده: دا د حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ورور ابوبرده بن قيس بن سليم بن حضار بن حرب ﷺ دې.(۳).

د دوی نوم عامر دې ليکن د خپل ورور په شان دوی هم په دې خپل کنيت سره مشهور دی.(۴) په آخره کښې ئې کوفه خپل د اوسيدو ځائې اوګرځوو او آخری وخت پورې کوفه کښې اوسيدلو.(۵) دوی د نبی کريم ﷺ نه يو حديث روايت کوی،فرمائی:

"قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:اللهم اجعل فناء أمتي قتلا في سبيلك بالطعن والطاعون"(۶) رضی الله عنه وأرضاه.

خبرداری: ابوبرده د دوی د وراره هم کنيت دې کوم چې د باب د حديث راوی هم دې،د هغوی نوم هم عامر دې،البته دوی صحابی دی او د دوی نه صرف هم دا يو پورته روايت مروی دې او د دوی وراره ابوبرده مشهور تابعی او فقيه دې او د خپل والد صاحب ابو موسی اشعری او نورو صحابه کرامو ﷺ نه کثرت سره روايت کوی.

ابورهم: دا هم د حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ورور دې،د دوی نوم څهٔ وو ؟په دې کښې

---

(۱) فتح الباری:۷/۴۸۵)_

(۲) عمدة القاری:۱۵/۶۰)_

(۳) الاصابة مع الاستيعاب:۴/۱۸.وفتح الباری:۷/۴۸۵.وعمدة القاری:۱۵/۶۰)_

(۴) پورته حواله جات)_

(۵) الاصابة:۴/۱۸)_

(۶) الحديث روه احمد فی مسنده:۳/۴۳۷،مسند ابی بردة......رقم (۱۵۶۹۳)،و:۴/۲۳۸،حديث ابی بردة...... رقم (۱۸۲۴۸).والحاکم فی مستدرکه:۲/۹۳،کتاب الجهاد،رقم (۲۴۶۲)،وقال:هذا حديث صحيح الاسناد،وقال الذهبی فی تلخيصه:صحيح)_

مختلف اقوال دى.ابن عبد البر رحمه الله خو دا فرمائى چې د دوى نوم مجدى وو او ابن حبان د دوى نوم يقين سره محمد ښائى ليكن حافظ په دې باندې رد كړې دې.د ابن قانع رحمه الله رائې داده چې د دوى نوم مجيد وو (١).ابن قتيبه وئيلى دى چې د دوى طبيعت لږ تيز وو،ددې وجې نه به د دوى ورور حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دوى ته خبرې اترې كولې (٢). رضى الله عنه وارضاه

قوله: إما قال في بضع،وإما قال في ثلاثة وخمسين أو اثنين وخمسين رجلاً من قومي: يا ئې دا اوفرمائيل يا بل څه،يا ئې اوفرمائيل چې درې پنځوس يا دوه پنځوس سړو سره،كوم چې زما د قوم وو.

دا حضرات ټول څومره وو؟ دلته د باب په روايت كښې،د كتاب المغازى په روايت كښې عبارت دغه شان شک سره دې،د بضع اطلاق د دريو نه تر نهو(٣تا٩)پورې كيږى،ددې وجې نه دا د درې پنځوس نه تر يوكم شپيتو پورې هم احتمال لرى او درې پنځوس هم په روايت كښې راغلې دى او دوه پنځوس هم.

البته ابن منده رحمه الله په يو بل طريق سره نقل كړې دى چې د دوى(اشعريينو)تعداد پنځوس وو(٣)،د پنځوستو نه زيات چې كوم خلق دى شايد هغه حضرت ابوموسى او د هغوى ورونړه وو،نو په كوم روايت كښې چې دوه پنځوس دى هغې كښې ورسره د دوى دواړه ورونړه ابوبرده او ابورهم ملاويږى د كوم ذكر چې د باب په حديث كښې دې.او څوک چې درې پنځوس يا زيات تعداد ښائى نو د هغوى مراد د هغه اختلاف طرفته اشاره ده كوم اختلاف چې د دوى د ورونړو د تعداد په باره كښې دې،ابن عبد البر رحمه الله ددې ټولو ورونړو تعداد څلور ښودلې دې او د ابن منده په روايت كښې د پنځو ذكر دې.په دې روايت كښې دا هم راغلې دى چې شپږ سړى د قبيله عک هم وو ليكن هغوى دلته مراد نه دى ځكه چې حضرت ابوموسى رضي الله عنه د من قومي وضاحت خو كړې دې،د دوى په تعداد كښې نور قولونه هم شته(٤).

قوله: فركبنا سفينة،فالقتنا سفينتنا إلى النجاشي بالحبشة،ووافقنا جعفر بن أبي طالب وأصحابه عنده،فقال جعفر: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعثنا ههنا،وأمرنا بالإقامة،فأقيموا معنا: نو مونږ په يو كشتئ كښې سوارۀ شو،دغه كشتئ مونږ د حبشې بادشاه حضرت نجاشى رضي الله عنه ته اورسولو،هلته زمونږ ملاقات د حضرت جعفر

---

(١) الاصابة: ٧١/٤،والاستيعاب بهامش الاصابة: ٦٩/٤،وفتح البارى: ٤٨٥/٧،وعمدة القارى: ٦٠/١٥،وابن قانع فى معجم الصحابة: ٣٩/٣،باب الميم،رقم (١١٦٠))_

(٢) الاصابة: ٧١/٤)_

(٣) فتح البارى: ٤٨٥/٧،وابن منده)_

(٤) فتح البارى: ٤٨٥/٧_٤٨٦،والاستيعاب بهامش الاصابة: ٦٩/٤)_

بن ابى طالب رضي الله عنه او د هغوى ملګرو رضي الله عنهم سره اوشو.نو حضرت جعفر اوفرمائيل چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم مونږ دلته رالیږلي یو او دلته ئې مونږ ته د اوسيدلو حكم فرمائيلې دې نو تاسو هم دلته اقامت اختيار كړئ.

قوله: فاقمنا معه،حتى قدمنا جميعاً: نو مونږ هم هغوى سره هلته مقيم شو.تردې چې ټول په يو ځائې(په خدمت اقدس كښې)حاضر شو.

ابن اسحاق په مغازى كښې ليكلې دى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت عمرو بن اميه رضي الله عنه نجاشى طرفته ددې پيغام سره ليږلې وو چې حضرت جعفر او د هغوى ملګرى تيار كړه او روان ئې كړه نو هغوى حضرت جعفر او د هغوى ملګرى د اكرام سره روان كړل نو حضرت عمرو رضي الله عنه دا حضرات خيبر ته اورسول.(١)-ابن اسحاق ددې حضراتو تعداد شپاړس ښودلې دې(٢)دوى د اشعريينو نه علاوه دى.

فوافقنا النبى صلى الله عليه وسلم حين افتتح خيبر، فاسهم لنا او قال: فاعطانا منها، وما قسم لاحد غاب عن فتح خيبر منها شيئاً، الالمن شهد معه، الا أصحاب سفينتنا مع جعفر وأصحابه، قسم لهم معهم.

مونږ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته هغه وخت اورسيدو كوم وخت چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم خيبر فتح كړې وو،نو نبى عليه السلام مونږ ته هم غنيمت راكړو،زمونږ نه علاوه چې كوم خلق د فتح خيبر نه غائب وو هغوى ته نبى عليه السلام په دغه غنيمت كښې هيڅ هم ورنۀ كړل،دا غنيمت صرف هغه چاته ملاؤ شو كوم چې د نبى عليه السلام سره په جنګ كښې شريك وو او مونږ د كشتئ والاملګرى. جعفر رضي الله عنه او د هغوى ملګرى،دا ټول ئې هم په جنګ كښې د شريك كسانو سره د غنيمت په تقسيم كښې شريك كړل.

دا شركت د كوم مد نه وو؟ په دې حديث شريف كښې حضرت ابوموسى رضي الله عنه دا فرمائيلې دى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د خيبر په غنيمتونو كښې مونږ د مجاهدينو سره شريك كړو ليكن سوال دادې چې دا شركت په كوم بنياد باندې وو،ځكه چې غنيمت خو هغه چا ته ملاويږى چې په جنګ او قتال كښې شريك وى،حال دادې چې دوى په خپله وضاحت اوكړو چې مونږ په جنګ كښې شريك نۀ وو بلكه د فتحې نه پس حاضر شوې وو؟

ددې باشكال جوابات مونږ وړاندې ذكر كړې دى او په مغازى كښې په دې باندې بحث راغلې دې البته اختصار سره مونږ دغه جوابات دلته دوباره ذكر كوو:

①موسى بن عقبه فرمائى چې اصل كښې د مجاهدينو په اجازت سره نبى عليه السلام دا حضرات په غنيمت كښې شريك كړې وو،چونكه مستحقين راضى وو نو ددې وجې نه هيڅ خبره نۀ ده.

②دوى ته ئې د مال فئ نه وركړې وو،كوم چې د جنګ نه بغير حاصل شوې وو.

③دوى ته ئې د خمس نه وركړې وو،په خمس كښې امام ته اختيار وى،چرته چې غواړى

---

(١) سيرة ابن هشام:٢/٤/٣٦٢،ذكر قدوم جعفر.....(عدة من حملهم مع عمرو بن امية))_

(٢) پورته حواله،وفتح البارى:٧/٤٨٦)_

خرڅ کولې شی، هم دې طرفته د علامه کرمانی رحمه الله د قول مطابق د امام بخاری رحمه الله میلان دې.[1]

④تحقیقی جواب دادې چې په غنیمت کښې اصل داده چې د تقسیم نه لږ مخکښې نور کسان چې په جنګ کښې شریک نۀ وی، راورسی نو هغوی هم په تقسیم کښې شریکیږی، که د تقسیم نه پس راورسی نو د غنیمت مستحق نۀ دی. دلته هم دغه شان شوې دی چې دا حضرات د فتحې نه پس لیکن د غنیمت د تقسیم نه مخکښې رارسیدلې وو نو ددې وجې نه دوی په تقسیم کښې شریک شو.[2] حافظ رحمه الله هم د مختلف احتمالات ذکر کولو نه پس دا آخری احتمال غوره ګرځولې دې[3] په دې مسئله کښې تفصیل وړاندې په باب الغنیمة لمن شهد الوقعة وغیره کښې تیر شوې دې.

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ددې حدیث مناسبت د ترجمة الباب سره ددې دعوې په بنیاد دې چې اشعریینو وغیره ته څۀ ورکړې شوې وو نو هغه د خمس نه وو، په دې باندې ابوعبید هم په کتاب الاموال کښې یقین ذکر کړې دې نو د ترجمې لفظ "من الخمس" سره به ددې مناسبت شی.[4]

د باب شپږم حدیث د حضرت جابر رضی الله عنه دې.

٢٩٢٨:[5] حَدَّثَنَا عَلِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ جَابِرًا - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لَوْ قَدْ جَاءَنِي مَالُ الْبَحْرَيْنِ لَقَدْ أَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا». فَلَمْ يَجِئْ حَتَّى قُبِضَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -، فَلَمَّا جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ أَمَرَ أَبُو بَكْرٍ مُنَادِيًا فَنَادَى مَنْ كَانَ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - دَيْنٌ أَوْ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنَا. فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لِي كَذَا وَكَذَا. فَحَثَا لِي ثَلاَثًا - وَجَعَلَ سُفْيَانُ يَحْثُو بِكَفَّيْهِ جَمِيعًا، ثُمَّ قَالَ لَنَا هَكَذَا قَالَ لَنَا ابْنُ الْمُنْكَدِرِ -

وَقَالَ مَرَّةً فَأَتَيْتُ أَبَا بَكْرٍ فَسَأَلْتُ فَلَمْ يُعْطِنِي، ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَلَمْ يُعْطِنِي، ثُمَّ أَتَيْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقُلْتُ سَأَلْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي، ثُمَّ سَأَلْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي، ثُمَّ سَأَلْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي، فَإِمَّا أَنْ تُعْطِيَنِي، وَإِمَّا أَنْ تَبْخَلَ عَنِّي. قَالَ قُلْتَ تَبْخَلُ عَلَيَّ مَا مَنَعْتُكَ مِنْ مَرَّةٍ إِلاَّ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُعْطِيَكَ.

---

[1]) عمدة القاری:۱۵/۶۰، وشرح الکرمانی:۱۳/۱۰۸)_

[2]) اعلاء السنن:۱۲/۱۲۲)_

[3]) فتح الباری:۶/۲٤۱_۲٤۲)_

[4]) فتح الباری:۶/۲٤۱)_

[5]) قوله:سمع جابرا رضی الله عنه:الحدیث،مر تخریجه فی الکفالة،باب من تکفل عن میت دینا....)_

رجال الحديث

①علي: دا مشهور محدث حضرت علي بن المديني رحمه الله دي. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب الفهم في العلم" کښې تیره شوې ده [1].

②سفيان دا ابن عيينه رحمه الله دي. د دوی حالات اجمالاً د بدء الوحی په "الحديث الاول" کښې او تفصيل سره په کتاب العلم، "باب قول المحدث....." کښې تیر شوي دي [2].

③محمد بن المنكدر: دا محمد بن المنکدر بن عبدالله رحمه الله دي [3].

④جابر: دا حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضی الله عنهما دي [4].

قوله: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لو قد جاءنا مال البحرين لقد أعطيتك هكذا وهكذا وهكذا: حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته فرمائیلي وو چې مونږ ته د بحرین مال راغئ نو مونږ به تا ته درې لپې (متېهی) ډکې کړو.

په حدیث شریف کښې چې د کوم مال ذکر دې نو دا جزیه وه، وړاندې په کتاب الجزية کښې د حضرت عمرو بن عوف رضی الله عنه په حدیث کښې ددې وضاحت راځی. [5] او دا مال حضرت علاء بن الحضرمی رضی الله عنه رالیږلې وو [6]. ابن بطال رحمه الله دلته دا فرمائیلي دی چې غالباً دا مال د خمس یا د مال فئ وو. [7] لیکن د مذکوره وضاحت په موجودګئ کښې ددې تاویل هیڅ ضرورت نشته. [8]

قوله: فلم يجئ حتى قبض النبي صلى الله عليه وسلم: لیکن دغه مال رانغئ. تردې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دنیا نه تشریف یوړو. یعنی د کوم مال وعده چې شوې وه د هغې د راتللو نه مخکښې د نبی علیه السلام انتقال اوشو.

قوله: فلما جاء مال البحرين أمر أبوبكر منادياً فنادى: من كان له عند رسول الله صلى الله عليه وسلم دين أو عدة فليأتنا: هرکله چې د بحرین مال راغئ

---

[1]) کشف الباری: ۲۵۶/۳)_
[2]) کشف الباری: ۲۳۸/۱ و: ۱۰۲/۳)_
[3]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الوضوء، باب صب النبی صلی الله علیه وسلم وضوءه......)_
[4]) د دوی دحالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الوضوء، باب من لم یر الوضوء الا من المخرجین.....)_
[5]) انظر صحیح البخاری، کتاب الجزیة والموادعة، باب الجزیة والموادعة......رقم (۳۱۵۸))_
[6]) عمدة القاری: ۶۱/۱۵)_
[7]) شرح ابن بطال: ۳۰۱/۵)_
[8]) فتح الباری: ۲۴۲/۶)_

نو خلیفه اول حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه یو آواز کوونکی ته حکم اوکړو چې هغه اعلان وکړی نو هغوی اعلان اوکړو چې په نبی کریم ﷺ باندې د چا قرض وی یا څهٔ وعده وی نو هغه دې مونږ ته راشی (چې مونږ ورته هغه ورکړو یا ورسره هغه وعده پوره کړو).

د دې آواز کوونکی نوم د حافظ د قول مطابق ما ته معلوم نهٔ شو. البته غالباً دا حضرت بلال رضي الله عنه وو.(۱)

قوله: فأتيته، فقلت: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لي كذا وكذا، فحثا لي ثلاثا: نو زهٔ ورته راغلم او ورته مې اووئیل چې نبی کریم ﷺ ما سره د دریو لپو د راکولو وعده فرمائیلې وه نو هغوی ماته درې حثیه مال راکړو. د ثلاثاً نه مراد ثلاث حثیات دې چې د حثیة جمع ده. دا د ضرب او نصر دواړو نه استعمالیږی. د یو متبهی مقدار ته وئیلې شی او یو لفظ الحفنة دې، ددې معنی ده د دوو متبهو مقدار. البته ابو عبید دواړه په یو معنی کښې کرځولې دی.(۲) د باب په حدیث شریف کښې د دوو متبهو مقدار. یعنی د دوو لاسونو برابر مال مراد دې. لکه څنګه چې حضرت سفیان وړاندې وضاحت کړې دې (۳) مطلب دادې چې حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه ما ته درې ځله دواړه لاسونه ډک کړل. هم دا وعده نبی کریم ﷺ فرمائیلې وه. أعطيتك هكذا وهكذا وهكذا.

قوله: وجعل سفيان يحثو بكفيه جميعا، ثم قال لنا: هكذا قال لنا ابن المنكدر: او حضرت سفیان رحمه الله مونږ ته دواړه لاسونه ډکولو سره اوښودل. بیا ئې اوفرمائیل چې ابن المنكدر رحمه الله مونږ ته هم دغه شان وئیلې وو. دا جمله د حضرت ابن المدینی رحمه الله ده. ددې نه د حضراتو محدثینو د ضبط د کمال اندازه معلومیږی چې هغوی به څنګه یو یو جزیه او یو یو ادا محفوظه ساتله.

قوله: وقال مرة: فأتيت أبابكر، فسئلت، فلم يعطني، ثم أتيته، فلم يعطني، ثم أتيته الثالثة، فقلت: سئلتك، فلم تعطني، ثم سئلتك فلم تعطني، ثم سئلتك فلم تعطني، فإما أن تعطيني، وإما أن تبخل عني: او یوځل ئې اوفرمائیل، زهٔ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته راغلم او مال مې ترینه طلب کړو نو هغوی رانهٔ کړو. بیا راغلم. بیا ئې رانه کړو. دریم ځل باندې راغلم او ورته مې اووئیل چې ما ستاسو نه مال طلب کړو لیکن تاسو رانهٔ کړو. بیا مې طلب کړو لیکن تاسو رانهٔ کړو. بیا مې په دریم ځل درخواست اوکړو نو بیا هم تاسو رانهٔ کړو. اوس خو یا تاسو ماته مال راکړئ یا زما په معامله کښې د بخل نه کار واخله.

---

(۱) فتح الباری: ۶/۲۴۲. وایضا عمدة القاری: ۱۵/۶۱)_

(۲) پورته حواله جات)_

(۳) فتح الباری: ۶/۲۴۲)_

دلته قائل حضرت سفيان ابن عيينه رحمه الله دي.(١)

قوله: قال: قلتَ تبخل علي، ما منعتك من مرة إلا وأنا أريد أن أعطيك:
حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د تعجب په طور سره اوفرمائيل ته دا وائي چې ما تاسو سره د بخل معامله کړې ده،نو داسې څهٔ خبره نشته،؟ما خو چې کله هم تاسو ته د ورکولو نه انکار کړې دې نو مقصد مې هم دا وو چې زهٔ به تاسو ته ضرور درکوم. دلته د قال قائل حضرت ابوبكر رضي الله عنه دې او مخاطب حضرت جابر او قلتَ جمله استفهاميه استعجابيه ده، دلته همزهٔ استفهام حذف شوې دې،په مغازى كښې هم دا لفظ همزه سره أقلتَ راغلى دې،(٢).

د منع كولو وجه څهٔ وه؟:دلته سوال دا دې چې هركله حضرت ابوبكر رضي الله عنه د حضرت جابر ضرورت خامخا پوره كوو نو بار بار ئې خالى لاس ولې واپس كوو؟
ددې مختلف جوابونه كيدې شي:
①فى الحال ئې منع كوو،هميشه دپاره ئې نهٔ منع كوو،يعنى اوس نهٔ شم دركولې،بيا راشه.
②ددې معاملې نه اهم معاملات پيښ وو.
③دوى ته چې وركړې شي نو ددې په ليدلو سره نور خلق رانشى،ددې وجې نه ئې منع اوفرمائيله.

بهرحال دا منع كول كلى نهٔ.(٣). كما ذكر أبوبكر بنفسه.

قَالَ سُفْيَانُ وَحَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ جَابِرٍ فَحَثَا لِي حَثْيَةً وَقَالَ عُدَّهَا. فَوَجَدْتُهَا خَمْسَمِائَةٍ قَالَ فَخُذْ مِثْلَهَا مَرَّتَيْنِ. وَقَالَ يَعْنِي ابْنَ الْمُنْكَدِرِ وَأَيُّ دَاءٍ أَدْوَأُ مِنَ الْبُخْلِ. [ر: ٢١٧٤]

دا مذكوره سند سره متصل دې او د عمرو نه مراد ابن دينار(٤)او د محمد بن على(٥) نه مراد د حضرت حسين نوسې او د حضرت على كړوسى دې،(٦).

حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى چې حضرت ابوبكر رضي الله عنه يو څل دواړه لاسونه ډک راکړل او وې فرمائيل چې څهٔ مې درته دركړې دى نو دا اوشماره،اومې كتل نو هغه پنځه سوه درهم وو، وې فرمائيل چې دومره دوه ځلې نورې هم واخله. ددې روايت د ذكر كولو مقصد د هغې زياتوالى طرفته اشاره ده كوم چې د عمرو عن محمد بن على په طريق كښې خو مونده كيږى ليكن د محمد بن المنكدر په طريق كښې نشته. د ابن المنكدر روايت د تعداد په

---

(١) پورته حواله)_
(٢) صحيح بخارى،كتاب المغازى،باب قصة عمان والبحرين،رقم (٤٣٨٣))_
(٣) عمدة القارى:٦١/١٥،وفتح البارى:٢٤٢/٦)_
(٤) ددوى حالات په كشف البارى، كتاب العلم كښې راغلې دى،اوګورئ، ٣٠٩/٤)_
(٥) د دوى حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء،باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين....)_
(٦) فتح البارى:٢٤٢/٦،وعمدة القارى:٦١/١٥)_

اعتبار سره مبهم وو، البته پورته طريق سره هغه ابهام ختم شو او دا معلومه شوه چې حضرت جابر رضي الله عنه ته حاصل شوې دراهم پنځلس سوه وو او د ثلاثاً معنى هم متعين او معلومه شوه.[۱]

قوله: وقال - يعني ابن المنكدر: وأي داء أدوى من البخل؟: او وې فرمائيل يعنى ابن المنكدر چې بل كوم مرض د بخل نه زيات خطرناک كيدې شي!

د لفظ "وقال" ويونكې حضرت سفيان دې او د يعنى ويونكې ابن المدينى دې،[۲] مطلب دا دې چې حضرت سفيان وقال اوفرمائيل، ددې وضاحت ابن المدينى رحمه الله اوفرمائيلو چې د سفيان مراد د وقال نه ابن المنكدر دې چې ابن المنكدر به فرمائيل چې د بخل نه زيات بل كوم مرض زيات خطرناک كيدې شى؟

دا جمله د چا ده؟: د باب د حديث د ظاهر نه دا معلوميږى چې د "**وأى داء أدوى من البخل**" والا جمله د ابن المنكدر رحمه الله ده لکه علامه ابويوسف يعقوب رحمه الله په الخير الجارى كښې هم دا خبره اختيار كړې ده[۳] البته دا صحيح نۀ ده، بلكه دا د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه مقوله ده، په مغازى كښې ددې وضاحت راغلې دې، هلته دا هم دى چې حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه دا جمله درې ځله ارشاد اوفرمائيله[۴] دغه شان په مسند حميدى كښې هم ددې وضاحت راغلې دې، هغوى د سفيان نه روايت كولو سره په دې حديث كښې فرمائيلې دى، "وقال ابن المنكدر فى حديثه"[۵] ددې نه ددې جملې نسبت د حضرت ابوبكر رضي الله عنه طرفته واضح طور سره معلوميږى.[۶]

د أدوى د لفظ تحقيق: قاضى عياض رحمه الله فرمائى چې محدثين دا لفظ غيرمهموز نقل كوى يعنى د دوى يدوى دوى نه، ددې معنى ده د خيټې په مرض كښې اخته كيدل، ليكن صحيح أدوأ همزه سره دې ځكه چې دا د داء نه دې نۀ چې د دوى نه.[۷] البته حافظ عليه الرحمة د محدثينو په نقل كړه لفظ كښې تاويل كولو سره فرمائى چې كيدې شى هغوى په همزه كښې د

---

[۱] فتح البارى: ۲۴۲/۶، البته د ابن عساكر په يو روايت كښې د اعطانى ألفاوألفاوألفا" راغلې دى، يعنى د درهمونو مقدار درې زره وو. تاريخ مدينة دمشق: ۳۲۳/۳۰، حرف العين)_

[۲] فتح البارى: ۲۴۲/۶)_

[۳] الخير الجارى.....لم اطلع على هذا الكتاب!)_

[۴] صحيح بخارى، كتاب المغازى، باب قصة عمان والبحرين، رقم (۴۳۸۳))_

[۵] مسند الحميدى: ۵۱۸/۲، احاديث جابر بن عبدالله.....رقم (۱۲۳۳)، وفتح البارى: ۲۴۲/۶)_

[۶] فتح البارى: ۲۴۲/۶، وايضاً انظر لا مع الدرارى وتعليقاته: ۳۱/۷)_

[۷] پورته حواله جات، وعمدة القارى: ۶۱/۱۵)_

تسهیل قاعده جاری کړي وي(١).
ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف په مناسبت کښې علامه عینی رحمه الله خو دا فرمائیلي دي چې د ترجمې د جزء "وماكان النبي صلى الله عليه وسلم يعطى الناس أن يعطيهم من الفيء، والانفال من الخمس" او د حدیث د جملې "من كان له عند رسول الله صلى الله عليه وسلم دين أو عدة" خپل مینځ کښې مناسبت دې(٢). علامه احمد الکورانی الحنفی د ترجمة الباب د جزء "من الفيء" سره ددې حدیث مطابقت بیان کړې دې او فرمائیلي دي چې دا مال کوم چې د بحرین نه راغلې وو نو دا مال فئ وو. لهذا مناسبت اوموندلې شو(٣). او ابن بطال رحمه الله دا مال د خمس گرځولې وو. کما مرقبل. په دې اعتبار سره به مناسبت د لفظ الخمس سره وي(٤).

او د حافظ علیه الرحمة رائې دا ده چې ظاهراً ترجمې سره د حدیث مناسبت واضح نه دې البته دومره خبره کیدې شي چې د امام بخاری رحمه الله په نزد چونکه د خمس او د جزیه مصارف یو دي، په دې مناسبت سره هغوی جزیه سره متعلق حدیث د خمس د ترجمې لاندې نقل کړو(٥).
د باب اووم حدیث هم د حضرت جابر رضي الله عنه دې.

۲۹۲۹ (٦): حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا قُرَّةُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقْسِمُ غَنِيمَةً بِالْجِعْرَانَةِ إِذْ قَالَ لَهُ رَجُلٌ اعْدِلْ. فَقَالَ لَهُ «شَقِيتَ إِنْ لَمْ أَعْدِلْ».

رجال الحدیث

① **مسلم بن ابراهیم:** دا مسلم بن ابراهیم فراهیدی، ازدی رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب أحب الدين إلى الله أدومه" کښې تیره شوې ده(٧).
② **قرة بن خالد:** دا ابومحمد قرة بن خالد سدوسی بصری رحمه الله دې(٨).

---

(١) فتح الباری: ۲۴۲/۶)_
(٢) عمدة القاری: ۶۱/۱۵)_
(٣) الکوثر الجاری: ۶۱/۶)_
(٤) شرح ابن بطال: ۳۰۱/۵)_
(٥) فتح الباری: ۲۴۲/۶)_
(٦) قوله: عن جابر.....: الحدیث اخرجه مسلم، کتاب الزکاة، باب ذکر الخوا رج وصفاتهم، رقم (۲۴۴۹_۲۴۵۰)، وابن ماجه، کتاب السنة، باب فی ذکر الخوارج، رقم (۱۷۲))_
(٧) کشف الباری: ۴۵۵/۲)_
(٨) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب مواقیت الصلاة، باب السمر فی الفقه....)_

⊙عمرو بن دینار دا مشهور تابعی حضرت عمرو بن دینار رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب کتابة العلم" کښې تیره شوې ده[1]

⊙جابر بن عبدالله رضی الله عنهما دا حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضی الله عنهما دې[2]

قال: بینما رسول الله صلی الله علیه وسلم یقسم غنیمة بالجعرانة

حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائی چې دې دوران کښې نبی کریم ﷺ د جعرانه په مقام کښې غنیمت تقسیمولو.

دا واقعه د کوم وخت ده؟ نبی کریم علیه السلام چې کله د حنین د غزوې نه فارغ شو نو د جعرانه مقام ته ئې تشریف راؤړو. دلته په راتلو سره ئې د حنین غنیمتونه تقسیم کړل. دا واقعه د ۵ ذوالقعده ۸هجرئ ده[3] د مسلم شریف په روایت کښې راځی چې نبی کریم ﷺ د حضرت بلال رضی الله عنه د څادر نه چاندی راویستلو راویستلو سره په خلقو کښې تقسیموله او ډک ډک متېې به ئې ورکوله[4]

قوله: أذقال له رجل: اعدل: نو یو سړی نبی کریم علیه السلام ته اوونیل چې عدل اوکړئ.

دا سړې څوک وو؟ دلته رجل(سړې)مبهم دې. دغه شان د مسلم شریف په روایت کښې هم "رجل" مبهم دې[5] البته شارحینو په نورو روایتونو کښې نظر کولو سره ددې رجل د متعین کولو کوشش کړې دې لکه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دلته دوه واقعات دی. یو خو د باب د حدیث شریف واقعه چې په کومه کښې د چاندئ د تقسیم ذکر دې او دویمه واقعه د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت ده. دا واقعه حضرت علی رضی الله عنه لره د یمن په طرف د روانولو نه پس دده کومه چې په نهمه هجرئ کښې پیښه شوې وه. په دې کښې سره زر تقسیم شوې وو هغه هم صرف د څلورو کسانو مینځ کښې. اوس دا دوه قصې شوې. په دواړو کښې یو سړی د نبی کریم ﷺ په تقسیم باندې اعتراض اوکړو. البته د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه په روایت کښې د معترض د نوم وضاحت کړې شوې دې چې هغه ذوالخویصره تمیمی وو[6] او د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې د معترض د نوم وضاحت نه

---

[1]) کشف الباری: ۳۰۹/۴)_

[2]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب من لم یر الوضوء الا من المخرجین.....)_

[3]) فتح الباری:۲۸/۸، و۲۹/۱۲، وکشف الباری: کتاب المغازی:۵۵۳)_

[4]) صحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب ذکر الخوارج وصفاتهم، رقم (۲۴۴۹))_

[5]) پورته حواله. وسنن سعید بن منصور:۳۲۲/۲، کتاب الجهاد، باب جامع الشهادة، رقم (۲۹۰۲))_

[6]) صحیح البخاری، کتاب المناقب، باب علامات النبوة فی الاسلام، رقم (۳۶۱۰)، وکتاب الادب، باب ما جاء فی قول الرجل: ویلک، رقم (۶۱۶۳)، وکتاب استتابة المرتدین، باب من ترک قتال الخوارج للتالف.....رقم (۲۹۳۳). د حضرت ابوسعید دا روایت په بخاری شریف کښې په څو ځایونو کښې راغلې دې لیکن مونږ صرف د هغې ځایونو تخریج کړې دې په کومو کښې چې د ذوالخویصره.....[بقیه بر صفحه آئنده...

دي شوي. ددې ابهام د ختمولو دپاره بعضې حضراتو خو دا اووئيل چې د باب په حديث شريف كښې هم د مبهم رجل نه مراد ذوالخويصره تميمى دې ليكن بنياد ئې دا قائم كړو چې په دواړو رواياتونو كښې هم يوه قصه ده، جدا جدا واقعات نۀ دى، ليكن حافظ عليه الرحمة دا يو وهم ګرځولې دې.

بيا حافظ رحمه الله فرمائى چې ما ته د حضرت جابر رضي الله عنه د حديث يو ګواه هم ملاؤ شو، په هغې كښې هم سړې مبهم دې لكه د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دې چې د غزوه حنين په موقع باندې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته يو سړې راغئ، كوم وخت چې نبى عليه السلام خۀ تقسيمول نو هغې سړى اووئيل، "يامحمد! اعدل" ليكن د حضرت عبد الله بن عمرو ددې حديث دې ابهام لره ابن اسحاق په ښائسته سند سره ختم كړې دې او د حضرت عبد الله بن عمرو نه روايت كولو سره وائى چې دا ذوالخويصره وو.(١)

ددې روايت تخريج امام احمد او طبرى هم كړې دې، د هغې الفاظ دادى: "أتى ذوالخويصرة التميمى رسول الله صلى الله عليه وسلم، وهو يقسم الغنائم بحنين، فقال: يامحمد....."(٢)

ددې وجې نه ددې رواياتونو په ذريعې سره د حضرت جابر رضي الله عنه د روايت د مبهم سړى تعيين اوشو چې هغه ذوالخويصره وو، په دواړو واقعاتو كښې د تطبيق دپاره دا خبره كيدې شى چې معترض په دواړو ځايونو كښې هم دا سړې وو، كله چې د حنين غنيمتونه تقسيمېدل نو هغه وخت هم ذوالخويصره اعتراض كړې وو او د حضرت على رضي الله عنه د راليږلې شوى سرو زرو د تقسيم په وخت ئې هم اعتراض كړې وو.(٣) والله أعلم بالصواب

علامه عينى رحمه الله هم د باب په حديث كښې مبهم رجل ته ذوالخويصره وئيلې دى او هم دې ته ئې ترجيح وركړې ده.(٤)

علامه ذهبى رحمه الله وغيره د ذوالخويصره نوم حرقوص بن زهير نقل كړې دې.(٥)

قوله: قال: لقد شقيتُ إن لم أعدل: نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل زۀ به شقى شم كه عدل اونۀ كړم.

...بقيه ازحاشيه گذشته] د نوم وضاحت راغلې دې، د حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه د حديث د تشريح دپاره اوګورئ، كشف البارى، كتاب المغازى، باب بعث النبى.....: ٥٧١_٥٧٤، وكتاب الادب، باب ما جاء فى قول الرجل: ويلك: ٥٨١_٥٨٢)_

(١) سيرة ابن هشام: ٤/٤٩٦، امر اموال هوازن......اعتراض ذى الخويصرة التميمى)_

(٢) مسنداحمد: ٢/٢١٩، مسند عبدالله بن عمرو...رقم (٧٠٣٨)، وتاريخ الامم والملوك للطبرى: ٢/١٧٦، سنة ٨هـ)

(٣) فتح البارى: ١٢/٢٩١، وفتح الملهم، كتاب الزكاة، باب ذكر الخوارج.....: ٥/١٤٨، رقم (٢٤٢٤))_

(٤) عمدة القارى: ١٥/٦٢، ورجحه ابن الجوزى ايضا فى كشف المشكل: ١/٧١١، وقال: هذا الرجل يقال له: ذوالخويصرة. كذلك ذكره ابو سعيد الخدرى فى مسنده.)_

(٥) عمدة القارى: ١٥/٦٢، ومثله عند الحافظ فى الفتح: ١٢/٢٩٢، كتاب استتابة المرتدين، رقم (٦٩٣٣).)_

د شقيت معنى د شقيت په لفظ كښې دوه احتمالات دى.د متكلم صيغه ده يا د مخاطب البته اكثرو حضراتو تاء مضمومه سره د متكلم صيغه نقل كړې ده.ددې معنى واضحه ده چې كه د عدل نه كار وانخلم نو زۀ به شقى شم. دلته دا ياد ساتئ چې شرط سره دا لازمى خبره نۀ ده چې واقع دې هم شى،ځكه چې نبى كريم ﷺ ددې نه بالكل نۀ دې چې عدل اونۀ كړى چې هغوى ته شقاوت لازم وى بلكې هغوى مبارك خو عادل دى،ددې وجې نه هغوى شقى كيدې نۀ شى(١).دويم طرفته قاضى عياض تاء ته مفتوح يعنى د خطاب صيغه وائى،هم دې خبرې ته علامه نووى او ابن الجوزى هم ترجيح وركوى.دغه شان اسماعيلى په خپل يو روايت،كوم چې د خپل شيخ المنيعى نه نقل كوى،كښې د عثمان بن عمرعن قرة رحمه الله طريق نه هم مفتوح نقل كړې دې(٢).

په دې دويم صورت كښې به ددې جملې مطلب دا شى چې تۀ خو گمراه شوې چې د داسې سړى اقتدا(د خپل گمان مطابق)كوې كوم چې عادل نۀ دې،ښكاره خبره ده چې د ظالم سړى مقتدى او تابعدارى كوونكې به هم ظالم وى.

دويم مطلب دادې چې تۀ خو گمراه او بدبخت شوې چې هركله د خپل نبى په باره كښې داسې قسم اعتقاد لرې،چې يو مسلمان ئې هيڅكله نۀ شى لرلې،تۀ خو د اسلام نه خارج شوې،ښكاره خبره ده چې څوک دا اسلام نه خارج شو نوهغه شقى اوبدبخت شو(٣).والله أعلم

ترجمة الباب سره د حديث مبارک مطابقت:ظاهراً ددې حديث د ترجمة الباب سره څۀ مطابقت نشته البته دا خبره كيدې شى چې په فئ،انفال،غنائم او اخماس كښې نبى كريم ﷺ ته د تصرف حق حاصل وو او په حديث شريف كښې د غنيمتونو د تقسيم تذكره ده،او په ترجمة الباب كښې په دې باندې دلالت موجود دې،دغه شان خو به څۀ نه څۀ مطابقت پيدا شى ليكن دا د تكلف او تعسف نه خالى نۀ ده.هذا ماقاله العينى(٤).

علامه كورانى حنفى رحمه الله فرمائى چې ترجمې سره د حديث شريف مطابقت د هغه سړى په قول"أعدل"كښې دې ځكه چې هركله ذوالخويصره اوليدل چې نبى ﷺ مؤلفة القلوب ته زيات مال وركوى نو هغۀ ته اعتراض پيدا شو او مؤلفة القلوب ته وركړې كيدونكې مال د خمس نه وو (٥).په ترجمه كښې خو د خمس ذكر وضاحت سره موجود دې نو مطابقت اوموندلې شو.والله أعلم بالصواب

---

(١) فتح البارى:٦/٢٤٣،وعمدة القارى:١٥/٦٢،وارشاد السارى:٥/٢١٨،وكشف المشكل من حديث الصحيحين:١/٧١١)_

(٢) پورته حواله جات، وانظر اخبار مكة للفاكهى:٥/٦٣،رقم (٢٨٤٣)،ذكر مسجد الجعرانة وما جاء فيه)

(٣) پورته حواله جات، غير اخبار مكة......والكوثر الجارى:٦/١١٩)_

(٤) عمدة القارى:١٥/٦١)_

(٥) الكوثر الجارى:٦/١١٩،ومثله قال السهارنفورى رحمه الله فى الابواب والتراجم:....[بقيه برصفحه آئنده...

(١٦) باب: مَا مَنَّ النَّبِيِ صلى الله عليه وسلم عَلَى الأُسَارَى مِنْ غَيْرِأَنْ يُخَمَّسَ

د ترجمة الباب مقصد دلته هم امام بخاري رحمه الله هم هغه خپله خبره دوباره ذكر كوي چې د وخت امام ته په غنيمت كښې پوره اختيار حاصل دې، هغه په غنيمت كښې هرقسمه تصرف كولې شي، كه د خمس جدا كولو نه مخكښې چاته وركوي نو هم ټهيک ده او كه ددې نه پس وركوي نو هم صحيح ده.[1]. كيفما رات مصلحته.

د استدلال وجه داده چې نبي عليه السلام به په قيديانو باندې د اصل غنيمت په ذريعې سره احسان كوو او كله د خمس په ذريعې سره، ددې نه دا خبره ثابته شوه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته په اصل غنيمت كښې هم پوره اختيار حاصل وو، په ترجمة الباب كښې د "من غير أن يخمس" نه مراد اصل غنيمت دې او بغير د احسان نه د تخميس معنى ده د فديې اخستلو نه بغير پريخودل[2] څكه چې دغه وخته پورې د خمس حكم نازل شوې نۀ وو، د خمس حكم د بدر نه پس راغلې دې، حسب القول المشهور.

او ابن بطال رحمه الله فرمائي چې دلته د استدلال وجه داده چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم دپاره دا خبره بالكل صحيح نۀ ده چې د داسې كار يا داسې څيز په باره كښې څۀ اووائي چې كه حقيقة واقع شي نو جائز نۀ وي يعنې د جائز فعل په باره كښې به نبي عليه السلام وينا كوي. داسې نۀ شي كيدې چې د نبي عليه السلام بيان كړې شوې يو څيز د واقع كيدو نه مخكښې خو جائز وي او د واقع كيدو نه پس ناجائز، ددې نه ثابته شوه چې د امام دپاره دا جائز دى چې هغه قيديان د فديه اخستلو نه بغير پريږدي،[3] كه دا كار جائز نۀ وو نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم به هيڅكله هم د معطم بن عدي د ژوند تمنا نۀ وه كړې، چونكه دا كار جائز وو نو ددې وجې نه ئې تمنا اوكړه چې كه هغۀ سفارش كړې وې نو ما به هغه د فديې اخستلو نه بغير پريخودلې وو.

مجاهدين كله د غنيمت مالكان جوړيږي؟ ددې حديث شريف نه دا مسئله هم راووتله چې مجاهدين د غنيمت مالكان هغه وخت جوړيږي چې كله مال د تقسيم نه پس د هغوى لاسونو ته راشي هم دا د مالكيه او د حنفيه مذهب دې او د امام شافعي رحمه الله رائې داده چې صرف د غنيمت په حاصلولو سره دوى مالكان جوړيږي.[4]

...بقيه ازحاشيه گذشته] فيقول: والاوجه عند هذا العبد الضعيف ان النبي صلى الله عليه وسلم لما اعطى بعضهم ازيد بعض، حمله المعترض على خلاف العدل، كما عند مسلم (رقم ٢٤٤٩)؛ فانه اخرج الحديث اتم مما فى البخاري، وكان تصرفه صلى الله عليه وسلم ذلك من الخمس. فطابق الحديث الترجمة. الابواب والتراجم: ٢٠٧/١)_

[1]) عمدة القاري: ٦٢/١٥، وفتح الباري: ٢٤٣/٦)_

[2]) پورته حواله جات)_

[3]) شرح ابن بطال: ٣٠٤/٥، وفتح الباري: ٢٤٣/٦)_

[4]) فتح الباري: ٢٤٣/٦، وعمدة القاري: ٦٢/١٥_٦٣)_

۲۹۷۰ (۱) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ - رضي الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ «لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا، ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلاَءِ النَّتْنَى، لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ». [۳۷۹۹]

رجال الحدیث

① **اسحاق بن منصور**: دا ابو یعقوب اسحاق بن منصور کوسج رحمه الله دي.

② **عبد الرزاق**: دا د مصنَف صاحب، امام عبدالرزاق بن همام صنعاني رحمه الله دي. ددې دواړو حالات په کتاب الایمان، "باب حسن إسلام المرء....." کښې تیر شوي دي(۲).

③ **معمر**: دا معمر بن راشد رحمه الله دي. ددوی تذکره د بدء الوحی په "الحدیث الخامس" کښې تیره شوې ده.(۳).

④ **الزهری**: دا ابن شهاب زهری رحمه الله دي. د دوی حالات اجمالاً په "بدء الوحی" کښې بیان شوي دي.(۴).

⑤ **محمد بن جبیر**: دا محمد بن جبیر بن معطعم بن عدی رحمه الله دي.(۵).

⑥ **أبیه**: دا مشهور صحابی حضرت جبیر بن معطم قرشي رضی الله عنه دي.(۶).

قوله: أن النبي صلی الله علیه وسلم قال في أساري بدر: لو کان المطعم بن عدي حیا، ثم کلمني في هؤلاء النتنی لترکتهم له: د حضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه نه روایت دې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د بدر د قیدیانو متعلق اوفرمائیل چې که مطعم بن عدی ژوندي وو، بیا ئې زما په وړاندې ددې بدبوداره خلقو سفارش کړې وو نو ما به د هغهٔ په خاطر دوی پریخودلي وو.

د مطعم بن عدی د خاص کولو وجه: دوی د مکې مکرمې په سردارانو کښې وو او د شرک په حالت کښې وفات شوي وو، لیکن ددهٔ په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې دوه احسانات وو، یو خو دا چې کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم طائف ته د دعوت دپاره تشریف یوړلو او واپس راغلل نو هغه وخت ورته مطعم پناه ورکړې وه. دویم احسان دا وو چې د مکې مکرمې مشرکانو کله د بنوهاشم

---

(۱) قوله: عن ابیه رضی الله عنه: الحدیث، اخرجه البخاری ایضا، کتاب المغازی، باب (بلا ترجمة) بعد باب شهود.....، رقم (۴۰۲۴)، و ابو داود، کتاب الجهاد، باب فی المن علی الاسیر بغیر فداء، رقم (۲۶۸۹).

(۲) کشف الباری: ۲/ ۴۲۰_ ۴۲۱.

(۳) کشف الباری: ۱/ ۴۶۵.

(۴) کشف الباری: ۱/ ۳۲۶، الحدیث الثالث.

(۵) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الاذان، باب الجهر فی المغرب.

(۶) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الغسل، باب من افاض علی راسه ثلاثا.

او بنومطلب سره مقاطعه او بائیکاټ کړې وو نو په دغه مقاطعه ختمولو کښې د مطعم لوئې کردار وو (۱)هم ددې احساناتو دوجې نه نبی کریم ﷺ داپورتنئ جمله ارشاد اوفرمائیله النتنی دا جمع ده،ددې مفرد نَتِنٌ وَنَتِينٌ دې لکه څنګه چې د زَمِن جمع زَمْنیٰ او د جَرِيح جمع جَرْحیٰ راځی،ددې معنی ده بدبودار او د بدر قیدیان ترینه مراد دی (۲)

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف مطابقت په دې معنی کښې دې چې نبی کریم ﷺ ددې خواهش اظهار کوی چې که داسې وې نو ما به داسې کړې وو ،ښکاره خبره ده چې دغه مذکوره خواهش که چرته جائز نۀ وو نو ددې اظهار به ئې ولې کوو؟معلومه شوه چې امام په غنیمت کښې پوره تصرف او اختیار لری.د خمس ویستلو نه بغیر هم په غنیمت کښې تصرف کولې شی (۳) والله أعلم بالصواب

⑰باب: باب وَمِنَ الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الْخُمُسَ لِلإِمَامِ وَأَنَّهُ يُعْطِي بَعْضَ قَرَابَتِهِ دُونَ بَعْضٍ

مَا قَسَمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- لِبَنِي الْمُطَّلِبِ وَبَنِي هَاشِمٍ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ.

د ترجمة الباب مقصد: دا یو بل باب دې،وړاندې دغه شان څو بابونه تیر شوې دی.دلته هم امام بخاری رحمه الله دا فرمائی چې امام او حاکم د خمس په معامله کښې د تصرف پوره اختیار لری،څنګه چې غواړی نو په کښې تصرف کولې شی،خپلو بعضو رشته دارانو ته ورکوی او بعضو ته نۀ ورکوی نو داسې کولې شی (۴)

وړاندې په باب"ومن الدليل على أن الخمس لنوائب رسول الله صلى الله عليه وسلم..... "کښې د مذهبونو تفصیل تیر شوې دې،په هغې کښې دا بیان شوې وو چې د احنافو په نزد اوس د ذوی القربی حق ساقط شوې دې او امام مالک ئې د خمس مصرف خو منی لیکن د خمس مستحق ئې نۀ منی.هلته دا هم ذکر کړې شوې وو چې امام بخاری رحمه الله په دې مسئله د امام مالک ملګرې دې،دا موجود باب هم ددې سلسلې یوه کړئ ده لکه د مصنف د رائې مطابق ذوی القربی مستحق نۀ دی،د خمس د نورو مصرفونو په شان صرف مصرف دی،امام ته اختیار دې چرته چې غواړی نو خرچ کولې شی،ذوی القربی ته ورکوی یا نۀ ورکوی،ګویا دا

---

(۱) عمدة القاری:۶۲/۱۵،وکشف الباری،کتاب المغازی:۱۷۲)_

(۲) العمدة ۶۲/۱۵،والفتح الباری:۲۴۴/۶،واعلام الحدیث للخطابی:۱۴۵۵/۲،والکوثر الجاری:۱۲۰/۶)_

(۳) عمدة القاری:۶۲/۱۵،وشرح ابن بطال:۳۰۴/۵)_قال الکورانی رحمه الله(الکوثر الجاری:۱۲۰/۶):فان قلت:لیس فی الباب دلالة علی انه من علی احد من غیر ان یخمس؟ قلت:قوله:لو کان مطعم حیا،وکلمنی فیهم لترکتهم له کاف فی الدلالة)_

(۴) عمدة القاری:۶۳/۱۵،والکوثر الجاری:۱۲۱/۶،والابواب والتراجم:۲۰۷/۱)

باب ذوالقربی سره متعلق دي. د مزید تفصیل دپاره دې هغه باب دوباره دې اوکتلې شي د کوم باب چې حواله ورکړې شوه.

دا خو د امام بخاری رحمه الله دعوی ده او په دلیل کښې هغوی یو خو د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله قول نقل کړې دې او دویم ئې د حضرت جبیر رضي الله عنه حدیث نقل کړې دې.

د ترجمة الباب په الفاظو کښې تقدیم او تاخیر دې، لکه د "ومن الدلیل....دون بعض" پورې خبرمقدم دې او "ماقسم النبی إلی آخره" مبتداء مؤخر ده[1].

د بنی المطلب نه مراد المطلب بن عبد مناف دې کوم چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د نیکهٔ عبدالمطلب ترهٔ دې، دا څلورورونړه وو، مطلب، هاشم، نوفل او عبدشمس، ددې ټولو پلار عبد مناف دې[2]

قَالَ عُمَرُبْنُ عَبْدِالْعَزِيزِ لَمْ يَعُمَّهُمْ بِذَلِكَ، وَلَمْ يَخُصَّ قَرِيبًا دُونَ مَنْ أَحْوَجُ إِلَيْهِ، وَإِنْ كَانَ الَّذِي أَعْطَى لِمَا يَشْكُو إِلَيْهِ مِنَ الْحَاجَةِ، وَلِمَا مَسَّتْهُمْ فِي جَنْبِهِ، مِنْ قَوْمِهِمْ وَحُلَفَائِهِمْ.

د مذکوره تعلیق لغوی او نحوی نچوړ: په دې تعلیق باندې د پوهیدلو نه مخکښې ددې لغوی او نحوی تحلیل اوګورئ.

په لم یعم کښې ضمیرفاعل نبی کریم علیه السلام او ضمیرمفعول "هم" د قریش طرفته راجع کیږی کوم چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رشته دار دی.

د بذلك نه مراد بما قسمه یعنی د غنیمت تقسیم دې، یا أعطاء الخمس دې، دویم راجح دې ځکه چې بحث د خمس جاری دې.

په دون من أحوج إلیه کښې د موصول عائد یعنی "هو" محذوف دې، اصل عبارت دغه شان پکار وو: "دون من هوأحوج إلیه" ابن مالك وائی چې دا سې ډیرکم کیږی چې د موصول عائد محذوف وی لکه د قرآن کریم په آیت (تماما علی الذی أحسن)[3] کښې یو قراءت د یحیی بن یعمر دې، هغه احسن د نون په ضمې سره روایت کوی، دا ددې وجې نه ضعیف بنودلې شوې دې چې په دې کښې د عائد حذف موندلې کیږی یعنی اصل عبارت دادې: "تماماًعلی الذی هوأحسن".

مزید فرمائی چې که کلام اوږد شی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته، ددې دلیل د قرآن کریم آیت: وهوالذی فی السماء إله وفی الارض إله)[4] دې، په دې کښې د عائد حذف هم موندلې کیږی ځکه چې اصل عبارت دغه شان پکار وو: "وفی الارض هوإله" البته دا ضروری نهٔ ده ځکه چې کلام اوږد دې. علامه عینی رحمه الله فرمائی چې په بعضې نسخو کښې "دون من هو أحوج إلیه"

---

[1]) عمدة القاری:۱۵/۶۳)_

[2]) پورته حواله، وسیرة ابن هشام:۱/۱۰۶،اولاد عبد مناف وامهاتهم، اردو)_

[3]) الانعام: ۱۵٤)_

[4]) الزخرف: ۸٤)_

ذكر دي، په دې صورت كښې د دې تولو تكلفاتو ضرورت نشته. او "أحوج" د أحوجه إليه غيره نه دي، د احتاج يعنى محتاج كيدو په معنى كښې دې.

أعطى اكثرو حضراتو معروف ښودلې دې، په دې صورت كښې به ضمير د نبى كريم ﷺ طرفته راجع كيږى. او علامه عينى ئې مجهول ګرځوى او د دې معنى دا بيانوى: "وإن كان الذى أعطى أبعد قرابة ممن لم يعط" دلته د كان خبر محذوف دې، يعنى ممن لم يعط.

"لما يشكو...." جمله تعليليه ده، ځكه چې لرې رشته دار ته د وركولو علت په كښې بيانيږى.

"ولما مستهم" دا په اولنى لما باندې عطف دې او دواړو ځايونو كښې لما لام مكسوره سره ده، دا لما ميم مشدده سره نۀ ده.

"جنبه" د دې معنى ده طرف او جهت.

"حُلفاءهم" حاء مهمله سره دا د حليف جمع ده او په دې كښې هغه تكليفونو او مصيبتونو طرفته اشاره ده كوم چې د مكې مكرمې د قريشو او د هغوى د ملګرو له طرفه نبى كريم ﷺ او صحابه كرامو ﷺ ته وركړې شوې وو.[1]

د مذكوره تعليق مطلب: د حضرت عمر بن عبدالعزيز د دې تعليق مطلب دادې چې نبى كريم ﷺ په ذوى القربى (قريشو) كښې ټولو ته ورنه كړه، نۀ ئې داسې اوكړل چې څوك زيات ضرورت مند دې نو د هغۀ د ضرورت لحاظ نۀ ساتلو سره ئې نزدې كس ته وركړو. بلكه د دې خلاف ئې اوكړل چې يو نزدې كس دې، زيات ضرورتمند نۀ دې، دويم لرې كس دې ليكن زيات محتاج او ضرورتمند دې نو كوم چې زيات ضرورتمند دې او نزدې نۀ دې نو نبى كريم ﷺ هغۀ ته وركړه او كوم كس چې نزدې دې ليكن ضرورتمند نۀ دې نو هغۀ ته ئې ورنه كړه.

اوپه دې وركړه كښې ئې د دوو څيزونو خيال اوساتلو چې د هغې بيان په "لما يشكو إلى آخره.." كښې دې، يو احتياج او ضرورت، دويم څيز نصرت او مدد ځكه چې د اسلام په شروع زمانه كښې په مسلمانانو باندې د غمونو بارانونه وو، هغه وخت دا خلق د ظلم وستم په مقابله كښې ثابت قدم پاتې شو او د الله تعالى او د هغۀ د رسول ﷺ مدد او تعاون ئې كوو.[2]

د مذكوره تعليق مقصد: د دې تعليق مقصد خو پورتنى تقرير سره واضح شو چې امام ته اختيار دې چې د خمس مال چرته غواړى نو خرچ كولې شى، په دې كښې د هيڅ تخصيص نشته، هم دا د امام مالك رحمه الله مذهب دې كوم چې امام بخارى رحمه الله اختيار كړې دې.

ترجمې سره د تعليق مناسبت: اوس ترجمة الباب سره د دې تعليق مناسبت بالكل واضح شوې دې، امام بخارى رحمه الله چې د پوره تصرف كومه دعوى كړې وه، په هغې باندې د حضرت عمر

---

[1]) عمدة القارى: ۱۵/۶۳، وفتح البارى: ۶/۲۴۴، وارشاد السارى: ۵/۲۱۹، وشرح ابن بطال: ۵/۳۰۶)_

[2]) عمدة القارى: ۱۵/۶۳، وفتح البارى: ۶/۲۴۴، وشرح القسطلانى: ۵/۲۱۰)_

بن عبد العزيز رحمه الله ارشاد واضح طور سره دلالت کوی. په دې تعليق سره ضمن کښې د احنافو مذهب هم ثابتيږي، احناف دا فرمائي چې ذوی القربی به د حصې مستحق وی ليکن د ضرورت او احتياج په بناء باندې، هم دا دوه خيزونه حضرت عمر بن عبدالعزيز په "لما يشكو.....إلى آخره" کښې بيان کړې دی، تفصيل وړاندې تير شو.(۱).

د ذکر کړې شوی تعليق تخريج: دا تعليق ابو زيد عمر بن شبه په خپل کتاب اخبارالمدينه کښې موصولاً او مطولاً نقل کړې دې، هغې کښې دا د يو خط په شکل کښې دې، کوم چې حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يو قريشی ته ليکلې وو، د هغې ابتدائی جملې داوې:

"امابعد! فان الله تبارك وتعالى أنزل القرآن على محمد، هدى وبصائر لقوم يؤمنون......"(۲).

۲۹۷۱:(۳) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ وَتَرَكْتَنَا، وَنَحْنُ وَهُمْ مِنْكَ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّمَا بَنُو الْمُطَّلِبِ وَبَنُو هَاشِمٍ شَىْءٌ وَاحِدٌ».

رجال الحديث

①**عبدالله بن يوسف:** دا عبد الله بن يوسف تنيسی رحمه الله دې. د دوی حالات اجمالاً د بدء الوحی په "الحديث الثانی" کښې تير شوې دی.(۴).

②**الليث،** ③**عقيل،** ④ **ابن شهاب:** ددې درې واړو حضراتو حالات د بدء الوحی په "الحديث الثالث" کښې تير شوې دی.(۵).

⑤**ابن المسيب:** دا مشهور تابعی محدث حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله دې. د دوی تذکره د کتاب الايمان، "باب من قال: إن الايمان هو العمل" په ضمن کښې تيره شوې ده.(۶).

---

(۱) اردو باب ومن الدليل على ان الخمس لنواءب رسول الله صلى الله عليه وسلم .....باب رقم (۶)._

(۲) تغليق التعليق:۴۷۸/۳،وکتاب اخبار المدينة:۱۳۲/۱،خصومة على والعباس الى عمر_ رضي الله عنه _،رقم، (۵۷۷).او د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله د حالاتو دپاره اوګورئ، کشف البارى:۶۲۳/۱)_

(۳) قوله:عن جبير.....الحديث،اخرجه البخاری ايضا،کتاب المناقب،باب مناقب قريش،رقم (۳۵۰۲)، وکتاب المغازی،باب غزوة خيبر،رقم (۴۲۲۹)،و ابو داود،کتاب الخراج والامارة......باب بيان مواضع قسم الخمس......رقم (۲۹۷۸_۲۹۸۰)،والنساءی،کتاب الفیء،رقم (۴۱۴_۴۱۴۲)،وابن ماجه،کتاب الجهاد،باب قسمة الخمس،رقم (۲۸۸۱))_

(۴) کشف البارى:۲۸۹/۱)_

(۵) کشف البارى:۳۲۴/۱_۳۲۶)_

(۶) کشف البارى:۱۵۹/۲)_

⑥ **جبير بن مطعم**: دا حضرت جبير بن مطعم بن عدى ﷺ دي.[1]
د حديث مبارک ترجمه: حضرت جبير بن مطعم ﷺ فرمائى چې زهٔ او عثمان بن عفان ﷺ د نبى اكرم ﷺ خدمت اقدس كښې حاضر شو او مونږ اووئيل چې يا رسول الله! تاسو خو بنو المطلب ته وركړه اوكړه ليكن مونږ مو محروم اوساتلو، حالانكه مونږ د يو جدا شان حاملين يو؟ جواب كښې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې بنو المطلب او بنوهاشم خو يو څيز دي.
ترجمة الباب سره د حديث مطابقت: وړاندې چې كوم تفصيل تير شو نو د هغې په رڼړا كښې ددې حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت او مطابقت بالكل واضح او ښكاره دې.

خبرداري: ددې حديث شريف تشريح وړاندې هم په كتاب الخمس كښې "باب ومن الدليل على أن الخمس لنوائب رسول الله ....." او په كتاب المغازى[2] كښې تيره شوې ده، البته مونږ به دلته بعضې فائدې ذكر كوو.
په شئ واحد كښې د نسخو او د روايتونو اختلاف: علامه خطابى رحمه الله ليكلي دى چې دا حديث زمونږ نه حسن بن صالح روايت كړې دې او مونږ د ابن المنذر نه، په دې كښې "شئ واحد" راغلې دې، يعنى د سين مهمله كسره او د ياء د تشديد سره، ددې معنى ده هم مثل يعنى يو شان[3].

حافظ عليه الرحمة فرمائى چې ما سره چې د بخارى شريف كومه اصل نسخه ده، په هغې كښې د كشميهنى په روايت كښې د باب حديث، په مغازى كښې د مستملى روايت او د قريشو په مناقبو كښې د مستملى او د حموى په روايت كښې سى. بكسر السين المهملة وتشديد التحتانية. دې، ابن معين رحمه الله به هم دغه شان سين مهمله سره روايت كوو او خطابى رحمه الله هم دې روايت ته صحيح وئيلي دى[4]. البته اكثرو حضراتو دا لفظ د شين معجمه سره نقل كړې دې، قاضى عياض رحمه الله فرمائى چې په بخارى شريف كښې خو مونږ ته هم دغه روايت د څهٔ اختلاف نه بغير رارسيدلې دې ليكن د بخارى نه علاوه كتابونو كښې د سى والا روايت دې او د اكثرو نقل كړده روايت صحيح دې، ددې واضح دليل د حديث مبارک دا الفاظ دى، "وشبك بين أصابعه".[5] چې نبى كريم ﷺ تشبيک بين الاصابع كړې دې، يعنى څنګه چې دا دوه ګوتې خپل مينځ كښې ملاؤ دى، دغه شان بنو هاشم او بنو المطلب هم خپلو

---

[1]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل، باب من افاض على راسه ثلاثا)_
[2]) كشف البارى، كتاب المغازى: ٤٤٤)_
[3]) تلخيص الجير، كتاب قسم الفيء والغنيمة: ١٠١/٣، رقم (١٣٨٧)، وكشف المشكل: ٤/من مسند جبير بن مطعم، رقم (٢٨٥٦))_
[4]) فتح البارى: ٢٤٥/٦، وعمدة القارى: ٦٤/١٥)_
[5]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الخراج.....باب بيان مواضع قسم الخمس، رقم (٢٨٩٠)_

كښې يو دی چونکه دلته مساوات بيانول مقصود دی، مماثلت او يوشان والي بيانول ﷺ مقصد نۀ دې او نبی ﷺ دا وئيل غواړی چې مونږ او بنو المطلب يو او مساوی يو(١).
واحد يا احد: بيا په دې ځان پوهه کړئ چې په اکثرو روايتونو کښې واحد دې، ليکن د ابو زيد مروزې په روايت کښې شئ أحد راغلې دې نو بعضو اووئيل چې د دواړو لفظونو يو معنی ده(٢).

قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ وَزَادَ قَالَ جُبَيْرٌ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَلاَ لِبَنِي نَوْفَلٍ . وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ عَبْدُ شَمْسٍ وَهَاشِمٌ وَالْمُطَّلِبُ إِخْوَةٌ لأُمٍّ، وَأُمُّهُمْ عَاتِكَةُ بِنْتُ مُرَّةَ، وَكَانَ نَوْفَلٌ أَخَاهُمْ لأَبِيهِمْ. [۳۳۱۱، ۳۹۸۹].

ليث بن سعد وائی چې هم دا حديث ماته يونس بن يزيد ايلی هم روايت کړې دې، هغوی په خپل روايت کښې ددې الفاظو زياتوالې کړې دې چې نبی کريم ﷺ بنو عبد شمس او بنو نوفل ته په خمس کښې نۀ وه ورکړې.....
د مذکوره تعليق تخريج: دا تعليق امام بخاری رحمه الله موصولاً او مسنداً په کتاب المغازی (٣)کښې د يحيی بن بکير په طريق سره ذکر کړې دې(٤)، ليکن حافظ فرمائی چې د عبد الله بن يوسف عن الليث د طريق نه هم دا روايت ما سره دې، دغه شان به دا روايت موصول وی، معلق نۀ(٥)ليکن معلق کيدل زيات راجح دی، ځکه چې حافظ په خپله هم دا روايت په خپل کتاب تغليق التعليق په تعليقاتو کښې شمار کړې دې(٦).
د مذکوره تعليق مقصد: ددې مقصد واضح دې، کوم چې په لفظ د "وزاد" کښې موجود دې چې ليث د يونس بن يزيد(٧) نه هم دا روايت اخستلې دې، په هغې کښې دا اضافه هم ده چې د حضرت جبير بن مطعم (د دوی تعلق بنو نوفل سره وو) او د حضرت عثمان بن عفان (د دوی تعلق د بنو عبد شمس سره وو) رضی الله عنهما د دواړو د گزارش باوجود دوی ته هيڅ هم ورنۀ کړل لکه ځنګه چې د مغازی په روايت کښې د "شيئاً" الفاظ هم دی.
ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت: دلته مناسبت واضح دې چې ددې دواړو حضراتو د

(١) فتح الباری:٦/٢٤٥، وعمدة القاری:١٥/ ٦٤)_
(٢) پورته حواله جات)_
(٣) کتاب المغازی، باب عروة خيبر، رقم (٤٢٢٩))_
(٤) فتح الباری:٦/٢٤٥، وعمدة القاری:١٥/ ٦٤، وارشاد الساری:٥/٣١٩)_
(٥) فتح الباری:٦/٢٤٥)_
(٦) تغليق التعليق:٣/٤٧٩)_
(٧) د يونس بن يزيد ايلی رحمه الله حالات اجمالاً بدء الوحی:(١/ ٤٦٣) او تفصيل سره کتاب العلم، باب من يرد الله به خيرا......(٣/ ٢٨٢) کښی تير شوي دی-

ګزارش باوجود نبی ﷺ دوی ته په خمس کښې هیڅ هم ورنه کړل، دا ددې خبرې د ثابتولو دپاره کافی ده چې په دې کارونو کښې اصل تصرف د امام دې، هغه چې څنګه او چرته غواړی نو صرف کولې شی، په هغهٔ باندې هیڅ پابندی نشته. والله اعلم

قوله: وقال ابن اسحاق: عبد شمس وهاشم والمطلب إخوة لأم، وأمهم عاتكة بنت مرة، وكان نوفل أخاهم لأبيهم: او ابن اسحاق وائی چې عبد شمس، هاشم او مطلب د یو مور نه وو، د دوی مور عاتکه بنت مره ده. او نوفل ددې تولو پلار شریک ورور وو، یعنی د هغهٔ مور دویمه وه. د عبدمناف د دوو ښځو نه څلور نارینه اولاد وو، چې په هغوی کښې د دریو مور خو عاتکه بنت مرة بن هلال وه، ددې تعلق د بنو سلیم سره وو او د نوفل مور واقده بنت عمرو ده.(۱) ددې تعلق د بنو مازن سره وو.(۲).

امام ابن جریر لیکلې دی چې هاشم او عبد شمس دواړه په یو وخت پیدا شوې وو، د پیدائش په وخت هاشم اول پیدا شو لیکن د هغهٔ یو خپه د عبد شمس د سر سره پیوسته وه، د جدا کولو په کوشش کښې دواړو اندامونو(سر او خپه)نه وینه روانه شوه، هغه وخت خلقو دا غلط خیال کوو چې ددې دواړو په اولاد کښې به جنګونه وی او وړاندې هم دغه شان اوشوه لکه په یو سل درې دیرشمه ۱۳۳ هجرئ کښې د بنو العباس او د بنو امیه بن عبد شمس مینځ کښې خو جنګونه اوشو.(۳).

ددې نه علاوه زبیر بن بکار په "نسب" کښې لیکلې دی چې خلقو به هاشم او مطلب ته د ښائست او د زینت د وجې نه بدران او عبد شمس او نوفل ته ابهران وئیل په دې کښې ددې خبرې دلالت دې چې په دې دواړو کښې یو خاص قسم تعلق او محبت وو او چې وروستو بیا د دوی په اولاد کښې هم جاری وو، ددې وجې نه چې هر کله قریشو اتفاق سره د بنوهاشم مقاطعه اوکړه او په شعب ابی طالب کښې دوی پناه واخسته نو هغه وخت بنو المطلب هم د بنوهاشم سره په شعب ابی طالب کښې داخل شو او بنو عبد شمس او بنو نوفل د قریشو سره د دوی په مقاطعه کوونکو کښې شامل وو او په شعب ابی طالب کښې داخل نهٔ شو.(۴). په دې وادئ کښې چې د دواړو قبیلو کوم خلق داخل شو، په هغې کښې دواړه قسم خلق وو، مسلمانان او مشرکان، مسلمانان خو ددې وجې نه داخل شو چې د هغوی مرګ او ژوند د نبی کریم ﷺ سره وو نو د الله او د رسول ﷺ په اطاعت کښې دا خلق دغه ځائې کښې قید وو او کفار د قبائلی غیرت په بنیاد او د ابوطالب په اطاعت کښې دغه ځائې کښې قید شو. هم په دې باندې ابوطالب یو مشهوره قصیده وئیلې ده چې "لامیه" سره مشهوره ده، په دې

---

(۱) سیرة ابن هشام: ۱/۱۰۶، اولاد مناف وامهاتهم)_

(۲) پورته حواله، وفتح الباری: ۶/۲۴۵، وعمدة القاری: ۱۵/۶۴)_

(۳) عمدة القاری: ۱۵/۶۴، وتاریخ ابن جریر: ۱/۵۰۴، ذکر نسب رسول الله ﷺ، ابن هاشم)_

(۴) فتح الباری: ۶/۲۴۵، والکامل فی التاریخ: ۱/۵۵۴، نسب رسول الله ﷺ وذکر اخبار آباءه.....)_

کښې هغوی د بنو نوفل او د بنو عبد شمس مذمت بیان کړې دې.دا قصیده په یوسل لس بیتونو باندې مشتمله ده.چې د هغې نه مونږ صرف څلور بیتونه لاندې ذکر کوو:

جزى الله عنا عبد شمس ونوفلا عقوبة شرها عاجل غير آجل

بميزان قسط لا يخيس شعيرة له شاهد من نفسه حق عادل

لقد سفهت أحلام قوم تبدلوا بني خلف قيضاً بنا والغياطل

ونحن الصميم من ذؤابة هاشم وآل قصي في الخطوب الأوائل(١)

د بیتونو ترجمه: ① الله تعالى دې زمونږ له طرفه عبدشمس او نوفل ته خرابه بدله ورکړی، چې زر وی او غیرمؤخر وی.

② د اسې د عدل میزان سره،چې د یو اوربشې برابر مقدار هم پرینږدی.په دې باندې هم د هغوی نه یو حق گو گواه وی.

③ دهغې قوم اخلاق خراب شو.چاچې مونږ پریخودو او بنو خلف بن جمح او غیاطل (بنوسهم) ئې خپل کړل.

④ مونږ د هاشم او د آل قصیٔ د نسل خالص النسب خلق یو په اولنی تیر شوو حادثاتو کښې

د تعليق مقصد: لکه څنګه چې تاسو اوکتل دوی ټول په نسب کښې برابر دی.لیکن نبی کریم ﷺ بعضو ته څۀ ورکړل او بعضو ته ئې ورنۀ کړل.نو دا ددې خبرې دلیل دې چې د نزدې کسانو ته ورکول علت نۀ دې.هم په دې خبره باندې د خبرداری دپاره امام بخاری رحمه الله دا تعلیق ذکر کړې دې.(٢).

د مذکوره تعليق تخريج: د امام محمد بن اسحاق،د صاحب المغازی دا تعلیق امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کبیر و صغیر دواړو کښې د اسماعیل بن ابی اویس د طریق نه موصولاً نقل کړې دې(٣).ددې نه علاوه ابن جریر او زبیر بن بکار هم دا تعلیق ذکر کړې دې(٤).

⑱ باب: بَابٌ مَنْ لَمْ يُخَمِّسِ الأَسْلاَبَ. وَمَنْ قَتَلَ قَتِيلاً فَلَهُ سَلَبُهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُخَمَّسَ، وَحُكْمِ الإِمَامِ فِيهِ.

لغوی او اصطلاحی اسلاب: اسلاب د سلب جمع ده.سلب د سین او د لام فتحې سره مصدر په معنی د مسلوب کښې دې،په دې کښې یو لغت د لام سکون سره هم دې.ددې معنی ده په

---

(١) عمدة القاری:۱۵/۶۵.وذکر اوله فی زاد المعاد:۳/۳۰.فصل (اسلام حمزة....).وكامله فی سيرة ابن هشام:۱ابن هشام:۱/۲۷۲_۲۸۰.شعر ابی طالب فی استعطاف قريش.والروض الانف:۱/۱۷٤_۱۷۹.فصل فی ذکر قصيدة لامية ابی طالب....)_

(٢) لامع الدراری: ۷/۳۱۱)_

(٣) فتح الباری:۶/۲٤۵.وتغليق التعليق:۳/٤۷۹.والتاريخ الكبير:۱/٤.والتاريخ الصغير:۱/۶)_

(٤) عمدة القاری:۱۵/ ۶٤.وتاريخ ابن جرير:۱/٥٠٤)_

زور سره اختلې شوې څکه چې سلبه معنی ده اختل(۱).
اصطلاحاً مايوجد مع المحارب من ملبوس وغيره،عند الجمهور(۲)يعنى جنګجو سره چې کوم لباس او اسلحه وغيره وى نو په هغې باندې ددې اطلاق کيږى. د سلب په احکاماتو کښې ډير تفصيلات دى چې هغه به مونږ ترتيب سره ذکر کوو.
تکليفى حکم،د سلب مشروعيت: د امت د جمهورو فقهاء کرامو ﷺ مؤقف او رائې داده چې بو مسلمان مجاهد چې د جنګ دوران کښې وړاندې شى او يو مشرک قتل کړى نو کوم مال و اسباب چې دغه مشرک سره وى،د هغې مستحق دا مسلمان مجاهد دې،په دې کښې هيڅ اختلاف نشته. البته په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې چې آيا ددې دپاره د امام اجازت هم ضرورى دې يا نه؟

① نو د احنافو نه علاوه د نورو ټولو حضراتو،سوا د امام مالک نه،دا وائى چې ددې دپاره د امام د اجازت هيڅ ضرورت نشته،امام د سلب وضاحت اوکړى يا اونه کړى،مجاهد به په هرحال کښې ددې مستحق او حقدار وى.

② حضرات حنفيه کثرالله سوادهم ددې دپاره د امام اجازت شرط ګرځوى،مثلاً امام دا اووائى چې د غنيمت جمع کيدو نه مخکښې څوک يوکس قتل کړى فله سلبه،يعنى د هغه سازوسامان به ددهٔ دپاره وى،ورنه په نورو صورتونو کښې به دا سلب هم د غنيمت حصه وى چې د مجاهدينو مينځ کښې به تقسيميږى(۳).

امام طحاوى رحمه الله فرمائى:"أمرالسلب موكول للامام فيرى فيه رأيه....."(۴).

③ د موالکو مذهب هم احنافو ته نزدې نزدې دې ليکن هغوى دا وائى چې د امام دپاره دا مناسب نهٔ دى چې ابتداء کښې هغه دغه شان د څهٔ خبرې شرط اولګوى،البته د جنګ ختميدو نه پس څهٔ داسې خبره کيدې شى،ددې وجې نه چې د مجاهد په نيت کښې فساد رانهٔ شى. اصل کښې مالکيه سلب هم د نفل حصه ګرځوى نو د نفل په سلسله کښې چې د هغوى کوم مذهب تير شو هم هغه مذهب د هغوى په سلب کښې هم دې(۵).

د امامانو دليلونه

د جمهورو دلائل په دې سلسله کښې د جمهورو دليل خو يو مشهور حديث مبارک دې چې "من قتل قتيلاً،له عليه بينة،فله سلبه"(۶)او دويم دليل د حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه قول

---

(۱) فتح البارى:۶/۲۴۷،وعمدة القارى:۱۵/۶۵،والاوجز:۹/ ۱۸۵، والموسوعة:۲۵/۱۷۶)_
(۲) پورته حواله جات، ولسان العرب:۶/۳۱۷،باب السين،مادة:سلب)_
(۳) عمدة القارى:۱۵/۶۵،وحاشيه ابن عابدين:۳/ ۲۶۰،مطلب فى التنفيل،وفتح البارى:۶/۲۴۸)_
(۴) شرح معانى الآثار:۲/۱۴۶_۱۵۰،باب الرجل يقتل قتيلا فى دار الحرب....)_
(۵) المنتقى:۳/۱۹۱،والاوجز:۹/۱۹۴،والشرح الكبير للدر دير:۲/۱۹۰)_
(۶) رواه البخارى فى الباب،واخرجه الجماعة_غير النسائى_من حديث.....

[بقيه برصفحه آئنده...

دي. "اللهم ارزقني رجلاً شديداً.....حتى أقتله وآخذ سلبه"(۱) د استدلال وجه داده چې دا احاديث مطلق او عام دى، په دې کښې هيڅ قسم قيد نشته(۲).

د احنافو دليلونه د احنافو يو دليل د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه حديث دې، فرمائي:

"ان مدديا(۳) اتبعهم فقتل علجاً، فاخذ خالد بعض سلبه، واعطاه بعضه، فذكر ذلك لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: لاترده عليه يا خالد"(۴).

"يو معاون هم دوى سره سره لاړو او هغه يو بهادر کافر قتل کړو نو حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د سلب بعضې حصه په خپله کيخوده او باقى حصه ئې دغه سړى ته ورکړه، ددې ذکر نبى کريم صلى الله عليه وسلم ته اوکړې شو نو نبى عليه السلام اوفرمائيل، اې خالده! څه چې تا اخستلې دى نو هغه سړى ته ئې مه واپس کوه"

دويم دليل د باب حديث دې، په کوم کښې چې د ابوجهل لعين د قتل قصه ذکر ده. په دې کښې نبى کريم صلى الله عليه وسلم سلب معاذ بن جموح رضي الله عنه ته ورکړې وو(۵).

دريم دليل د شبر بن علقمه واقعه ده، فرمائي:

"بارزت رجلاً يوم القادسية فقتلته، واخذت سلبه، فاتيت به سعداً، فخطب سعد اصحابه، ثم قال: ان هذا

...بقيه ازحاشيه گذشته] ابى قتادة رضي الله عنه. انظر جامع الاصول وتعليقاته: ۲/۶۸۷_۶۸۸. وابن ماجه. كتاب الجهاد. باب المبارزة والسلب. رقم (۲۸۳۷))_

(۱) هو بعض حديث سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه. اخرجه الحاكم. وكامله:

.....ان عبد الله بن جحش قال يوم احد: الا تاتى ندعوالله؟ فخلوا فى ناحية. فدعا سعد. فقال: يا رب. اذا لقينا القوم فلقينى رجلا شديداً باسه. شديدا حرده. فاقاتله فيك. ويقاتلنى. ثم ارزقنى عليه الظفر. حتى اقتله وآخذ سلبه. فقام عبدالله بن جحش. ثم قال: اللهم ارزقنى غدارجلا شديدا حرده. شديدا باسه. اقاتله فيك ويقاتلنى. ثم ياخذنى: فيجدع انفى واذنى. فاذا لقيتک غداقلت: يا عبدالله. فيم جدع انفک واذنک؟ فاقول: فيک. وفى رسولک. فيقول: صدقت. قال سعد بن ابى وقاص: يا بنى. كانت دعوة عبد الله بن جحش خيرا من دعوتى. لقد رايته آخر النهار وان اذنه وانفه لمعلقان فى خيط. انظر: المستدرک: ۲/۸۶. كتاب الجهاد. رقم (۲٤۰۹). واخرجه البيهقى ايضا فى الكبرى: ۶/۵۰۲. كتاب قسم الفىء والغنيمة. باب السب للقاتل. رقم (۱۲۷۶۹))_

(۲) المغنى: ۹/۱۸۹)_

(۳) په جنگ موته کښې چې کوم لښکر د مدد او تعاون دپاره راغلې وو، د هغې يو سړې مراد دې، مددى په معنى د مددگار. د مسلم شريف وغيره د روايت نه معلوميږى چې ددې سړى تعلق د بنو حمير سره وو. اوگورئ، مسلم. كتاب الجهاد والسير. باب استحقاق القاتل سلب القتيل. رقم (٤۵۷۰). وسنن سعيد بن منصور: ۲/ ۲۶۰. رقم (۲۶۹۷))_

(٤) هذا ملخص من حديث طويل. رواه ابو داود فى كتاب الجهاد. باب فى الامام يمنع القاتل السلب. رقم (۲۷۹۱). وسعيد بن منصور فى سننه: ۲/ ۲۶۰. كتاب الجهاد. باب النفل والسلب.....رقم (۲۶۹۷))_

(۵) اوگورئ. حديث باب. رقم (۳۱٤۱). ددې دليل سره متعلق خبردارې به وړاندې د حديث په تشريح کښې راشي)_

سلب شبر، لهو خير من اثني عشر الفا، وإنا قد نفلناه اياه"([1]).

د استدلال وجه دلته د استدلال وجه واضح ده، لکه په اولنی حدیث شریف کښې نبی کریم ﷺ ددې دواړو حضراتو مينځ کښې فيصله اوفرمائيله او سلب ئې په دواړو کښې تقسيم کړو. که د امام اجازت شرط وو يا بس صرف قاتل مستحق وو نو ددې فيصلې ضرورت ولې پيښيدو؟

په دويم دليل کښې راغلې دی چې نبی کريم ﷺ سلب معاذ بن جموح ﷺ ته ورکړو او ئې هم اوفرمائيل چې "كلاكما قتله" دغه شان خو سلب ټولو ته ملاويدل پکار وو. لیک... ئې برخلاف سلب صرف معاذ بن الجموح ﷺ ته ورکړې شو. ښکاره خبره ده چې نبی کريم ﷺ خپل اختيار استعمال کړې دې.

په دريم دليل کښې حضرت سعد ﷺ دا بيان فرمائی چې "وإنا قد نفلناه اياه" حالانکه دغه سلب د شبر حق دې نو ددې قول ضرورت ولې پيښ شو چې مونږ دا سلب ده ته د نفل په طور ورکړې دې؟([2]).

د سلب مستحق څوک وی؟

①**جمهور فقهاء:** په دې جزء کښې د فقهاؤ اختلاف دې، نو د جمهورو (امام اعظم ابوحنيفه، شافعی او احمد رحمهم الله) په نزد د سلب مستحق هرهغه سړې کيدې شی چې د حصې مستحق وی يا د رضخ مستحق وی، لکه غلام، ښځه، ماشوم، تاجر او ذمی څکه چې په حديث شريف کښې عموم دې "من قتل قتيلاً، له عليه بينة فله سلبه"([3]).

البته د شوافعو په نزد ذمی ددې حکم نه مستثنی دې، د هغوی په نزد ذمی اګرچه د امام په اجازت سره په جنګ کښې شريک شوې وی ليکن هغه د سلب مستحق نۀ شی کيدې. د اجازت نه بغير خو د ټولو اتفاق دې چې د هغه د سلب مستحق کيدې نۀ شی([4]).

②**موالک** او د مالکيه مذهب په دې سلسله کښې دادې چې ددې سلب مستحق هغه کس وی چې صرف د سهم مستحق وی نو د هغوی په نزد ماشوم، ښځه او ذمی د سلب په مستحق کيدو کښې شامل نۀ دی البته که امام دوی ته اجازت ورکړی يا په دوی باندې جهاد فرض عين شی نو دوی به هم مستحق وی. ددې تفصيل نه معلومه شوه چې کوم کس د سهم مستحق نۀ وی او د رضخ مستحق هم نۀ وی نو بالاتفاق په دې حکم کښې داخل نۀ دې([5]).

---

[1]) رواه سعيد فى سننه:۲/۲۵۸، فى كتاب الجهاد، باب النفل والسلب فى الغزو.....رقم (۲۶۹۲))_

[2]) المغنى:۹/۱۹۲، وايضا انظر البناية شرح الهداية:۷/۱۸۱_۱۸۴، واعلاء السنن:۱۲/۲۸۲)_

[3]) اوګورئ، حديث باب، رقم (۳۱۴۲)، ومسلم، كتاب الجهاد، باب استحقاق القاتل.....رقم (۴۵۶۸))_

[4]) حاشيه ابن عابدين:۳/۲۶۱، والمغنى:۹/۱۸۹، وفتح القدير:۵/۲۵۰، فصل فى التنفيل، وسبل السلام شرح بلوغ المرام:۴/۵۲_۵۳)_

[5]) المغنى:۹/۱۹۱، والاوجز:۹/۱۸۵، والموسوعة:۲۵/۱۷۸، وعمدة القارى:۱۵/۶۹)_

خپل ځان په خطره كښې واچوى د سلب د مستحق كيدو دپاره چې كوم شرطونه دى نو په هغې كښې دا هم دې چې قاتل خپل ځان په خطره كښې واچوى او په دې حالت كښې مقتول قتل كړى او د مرګ سره لوبې كوى ورنه بيا د سلب مستحق نۀ شى كيدې.مثلاً د صف نه غشى ګزار كړى او هغې باندې يو كافر اولګى يا كافر په قلعه كښې بند وى او د يو مجاهد غشې دننه لاړ شى هغه كافر قتل كړى.(١).

د مقتول د قتل كولو شرعى اجازت وى يو شرط دا هم دې چې كوم كافر قتلولې شى.نو د هغۀ قتل شرعاً جائز وى.ددې وجې نه ښځه.ماشوم.شيخ فانى.پاګل او د راهب وغيره قتلولو سره به خوک د سلب مستحق نه جوړيږى.ځكه چې ددې خلقو د قتل شرعاً ممانعت دې البته كه په دې خلقو كښې يو كس په جنګ كښې شريک شو نو د داسې كس په قتلولو باندې به بيا د سلب مستحق وى ځكه چې د دوى قتل اوس جائز شو(٢).

قتل ئې كړى يا...... يو شرط دا هم دې چې مقتول قتل كړى يا ئې د مقتول په حكم كښې كړى يعنى د هغۀ دومره قدرې وينه اوبهوى چې مسلمانان د هغۀ د شر نه محفوظ شى او هغه بالكل بې لاسو خپو كړى.مثلاً د هغۀ سترګې اوباسى.يا د هغۀ نظر ختم كړى يا د هغۀ خپې لاسونه كټ كړى(٣).

د جنګ دوران كښې ئې قتل كړى ددې نه علاوه يو شرط دا هم دې چې هغه وخت ئې قتل كړى چې كوم وخت جنګ جارى وى او مقتول په جنګ كښې مصروف وى كه جنګ ختم شى او مشركينو ته شكست اوشى.بيا يو مسلمان كافرانو پسې شى او په هغوى كښې يو كس قتل كړى نو دې به د سلب مستحق نۀ وى ځكه چې مشركينو ته په شكست ملاويدو سره د هغوى شر هم ختم شوې دې. په دې كښې قيدى كافر.اودۀ وغيره هم داخل دى ځكه چې په دې صورت كښې قاتل خپل ځان په خطره كښې وانۀ چوو(٤).دا د جمهورو مسلک دې البته په شافعيه كښې د ابوثور او ابن المنذر وغيره رائې دا ده چې كافر لره قتل كړې شى نو دا قاتل به په هرصورت كښې د هغۀ د سلب مستحق وى ځكه چې د **"من قتل قتيلاً فله سلبه"** والا حديث شريف عام دې.(٥).

ايا د سلب د مستحق كيدو دپاره ګواهان ضرورى دى؟ ① په دې باره كښې مشهورو اختلافى مسئلو كښې يو مسئله داده.جمهور فقهاء كرام ددې خبرې قائل دى چې د سلب د مستحق

---

(١) المغنى:٩/ ٢٩٠.والاوجز:٩/١٨٧.وللاستزادة انظر الموسوعة:٢٥/١٧٨_١٧٩. وكتاب السير الكبير للشيبانى:٢ /١٢١.ابواب الانفال.مع شرحه للسر خسى)_

(٢) الموسوعة:٢٥/ ١٧٩.والمغنى:٩/ ١٩٠. والاوجز:٩/١٨٦.ولدر المختار:٣/٢٦١)_

(٣) الموسوعة:٢٥/ ١٧٩.والمغنى:٩/ ١٩٠.والاوجز:٩/١٨٧)_

(٤) الموسوعة:٢٥/١٨١.والمغنى:٩/١٩١. والاوجز:٩/٢٠٣)_

(٥) پورته حواله جات. وفتح البارى:٦/٢٤٩)_

كيدو دپاره ګواهان پيش كول ضروري دي، تر څو چې قاتل ګواهان پيش نه كړي چې قتل هم دهٔ كړې دې نو ددهٔ د سلب د مستحق كيدو دعوى به مقبول نهٔ وي ځكه چې په بعضو صحيح روايتونو كښې د "له عليه بينة" د الفاظو وضاحت موجود دې(١)

(٢) دويم طرفته د امام مالك او امام اوزاعى رحمهما الله مسلك دادې چې ددې دپاره د ګواهانو پيش كولو هيڅ ضرورت نشته، د قاتل دومره وينا هم كافي ده چې أنا قتلته.

د دوى دليل د حضرت ابوقتاده او د حضرت معاذ بن الجموح رضي الله عنهما حديثونه دي (ذكرهما الامام في هذا الباب) چې په دې كښې نبى كريم ﷺ د دوى نه څهٔ ګواهان او قسم وغيره طلب نهٔ كړو. ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه نه د ګواهئ نهٔ طلب كولو دعوى كول ددې وجې نه صحيح نهٔ ده چې د واقدي په مغازى(٢) كښې راغلي دي چې اوس بن خولى رضي الله عنه په دې موقع باندې ګواهي وركړې وه. او كه بالفرض دا صحيح هم نهٔ وي نو ممكنه ده چې نبى كريم ﷺ ته په بل څهٔ ذريعه باندې دا خبره معلومه شوې وي چې قاتل هم ابوقتاده رضي الله عنه دې(٣).

د ګواهانو نه څهٔ مراد دي؟: بيا هغه حضرات چې ګواهان پيش كول ضروري ګنړي د هغوى په دې خبره كښې اختلاف دې چې د بينې (ګواهان پيش كولو) نه څهٔ مراد دې؟ نو بعضې حضرات خو د دوو كسانو ګواهي وركول شرط ګرځوي، دا د امام احمد رحمه الله مذهب هم دې او بعضې نور حضرات وائي چې شهادة رجل وامرأتين أو رجل ويمين هم كافي دې ځكه چې دعوى په مال كښې ده. او بعضې نور حضرات په دې معامله كښې شهادة رجل واحد هم كافي ګنړي ځكه چې نبى كريم ﷺ د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه په معامله كښې د يو ګواه ګواهي قبوله كړې وه او د هغهٔ نه قسم هم اخستلې شوې نهٔ وو. ابن العطيه وائي چې په دې باره كښې د اكثرو فقهاؤ هم دا قول دې(٤).

---

(١) فتح البارى:٦/٢٤٩، والموسوعة:٢٥/١٨٢، وشرح الابى على مسلم:٥/٦٣، باب استحقاق القاتل سلب القتيل، والمغنى:٥/١٩٤_١٩٥، كتاب الجهاد، فصل: لا تقبل دعوى القتل الا ببينة، رقم (٧٤٧٦))_

(٢) د علامه واقدي په مغازى كښې د حضرت ابوقتاده په حق كښې په ګواهي وركوونكو كښې د دوو حضراتو نومونه راغلي دي، عبدالله بن أنيس او الاسود بن الخزاعى رضي الله عنهما په دې كښې د حضرت اوس رضي الله عنه نوم مونږ ته ملاؤ نهٔ شو. اوګورئ، كتاب المغازى للواقدي:٣/٩٠٨، غزوة حنين. غالباً دلته د حافظ نه تسامح شوې ده، ځكه چې په اصابة كښې هغوى په خپله د واقدي په حوالې سره د حضرت الاسود بن الخزاعى په باره كښې ليكلي دي شهد لابى قتادة بسلب قتيله يوم حنين والله اعلم. الاصابة:١/٤٣، القسم الاول، رقم (١٥٣))_

(٣) فتح البارى:٦/٢٤٩، دغه شان اوګورئ، الموسوعة:٢٥/١٨٢)_

(٤) پورته حواله جات، والمغنى:٩/١٩٥، واكمال الابى:٥/٦٣، ومكمل اكمال المعلم المطبوع مع اكمال الابى:٥/٦٣، وسبل السلام:٤/٥٣، كتاب الجهاد، رقم (٢٢)، والاوجز:٩/٢٠٥)_

په سلب کښې به تخمیس جاري کیږي یا نه؟ دا یو بله مشهوره اختلافي مسئله ده.

① د شافعیه (فی المشهور عندهم)، حنابله، ابن المنذر او ابن جریر رحمهم الله وغیره مسلک دا دې چې په سلب کښې به تخمیس نه جاري کیږي. مطلب دا دې چې سلب به قاتل ته حواله کولې شي او د دې نه به خمس نه اخستلې کیږي. د دوی یو دلیل د حضرت عوف بن مالک او د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنهما حدیث دې چې. "أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قضی بالسلب للقاتل، ولم یخمس السلب"[1] چې "نبی علیه السلام قاتل ته د سلب ورکولو حکم جاري کړو او په هغې کښې ئې خمس وانه خستلو". او دویم دلیل د حضرت عمر رضی الله عنه قول دې. "إنا کنا لا نخمس السلب"[2] چې "مونږ به په سلب کښې خمس نه ویستلو".

② په دې مسئله کښې دویم مذهب د امام اوزاعی او مکحول رحمهما الله دې چې په سلب کښې به هم خمس جاري کیږي ددې حضراتو دلیل د قرآن پاک آیت (واعلموا أنما غنمتم من شيء فأن لله خمسه وللرسول)[3] دې ځکه چې دا آیت کریمه عام دې، نو ددې وجې نه په غنیمتونو کښې به مطلقاً تخمیس جاري کیږي هم دا مذهب د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما هم دې[4].

③ په دې مسئله کښې دریم مذهب د اسحاق بن راهویه دې، هغوی فرمائي: "إن استکثر الامام السلب خمسه، و ذلك إلیه" چې "که امام دا اووینی چې د سلب مقدار ډیر زیات دې نو تخمیس دې پکښې جاري کړي او ددې اختیار به امام ته وي"[5].

د دوی دلیل د ابن سیرین رحمه الله نه روایت شده حدیث دې چې حضرت براء بن عازب رضی الله عنه یو مرزبان (د اهل فارس مذهبی مشر او فقیه) سره په بحرین کښې مبارزت اوکړو. حضرت براء رضی الله عنه هغه په نیزه اووهلو، چې هغې سره د مرزبان ملا ماته شوه، حضرت براء رضی الله عنه د هغهٔ دواړه بنګړي واخستل او نور سامان هم، د ماسپخین د مونځ نه پس دوی حضرت ابوطلحه رضی الله عنه ته راغلل او ټوله واقعه ئې واوروله، نو حضرت ابوطلحه رضی الله عنه اوفرمائیل چې مخکښې به مونږ په سلب کښې خمس نهٔ اخستلو لیکن د براء چې کوم سلب دې نو دا معتدبه مال دې، ددې وجې نه به زهٔ په دې کښې خمس اخلم، نو دا اولنې سلب وو چې په دې کښې تخمیس جاري

---

[1]) صحیح مسلم، کتاب الجهاد، باب استحقاق القاتل سلب القاتل، رقم (۴۵۷۱)، وسنن ابی داود، کتاب الجهاد، باب فی السلب لا یخمس، رقم (۲۷۲۱)_

[2]) التمهید: ۲۴۷/۲۳، حدیث ثامن وعشرون لیحیی بن سعید، والمصنف لابن ابی شیبة: ۵۵۸/۱۷، کتاب السیر، من جعل السلب للقاتل، رقم (۳۳۷۶۱)_

[3]) الانفال: ۴۱)_

[4]) الموسوعة: ۱۸۳/۲۵، وعمدة القاری: ۶۵/۱۵، وفتح الباری: ۲۴۷/۶)_

[5]) پورته حواله جات، والمغنی: ۱۹۲/۹، والاوجز: ۱۸۸/۹)_

شو .ددې سلب مقدار ديرش زره وو.(١)-

③په دې مسئله کښې څلورم مذهب د حنفيه او د مالکيه دې،ددې حضراتو په نزد سلب د نورو غنيمتونو په شان دې،دا د قاتل سره مختص نۀ دې بلکه قاتل او غيرقاتل ټول په دې کښې برابر دی.امام به سلب د نفل په طور باندې ورکوی.اوس د احنافو په نزد د تنفيل محل غنيمتونو لره دارالاسلام ته منتقل کولو نه مخکښې خو اربعة الاخماس دې او دارالاسلام ته د منتقل کولو نه پس خمس دې.او د مالکيه په نزد په هرحال کښې خمس دې او د امام په رائې باندې موقوف دې،که امام مناسب اوګنړی نو قاتل ته به ورکړی.ورنه نۀ دې ورکوی.(٢) ،کمامر تفصيله فيما قبل.

په سلب کښې به کوم کوم څيزونه ملاويږی؟ په دې خبره کښې د فقهاؤ اتفاق دې چې قاتل ته د مقتول کوم سلب ملاويږی نو په دې کښې به دا قاتل ددې څيزونو حقدار وی.

کپړې،ټوپئ،پګړئ،موزې او څادر وغيره،يعنی د استعمال څيزونه.

دغه شان اسلحه او د جنګ آلات،مثلاً ډهال،خود،نيزه،چاړۀ،توره،ليندګئ او غشې.

دغه شان د مقتول د سورلئ زين او واګې وغيره.(٣).ددې څيزونو نه علاوه د مقتول په نورو څيزونو کښې د امامانو اختلاف دې لکه د ائمه ثلثه په نزد د مقتول سورلی په سلب کښې داخلهش ده،د امام اوزاعی او امام مکحول هم دا مذهب دې،د دوی دليل هغه حديث مددی دې کوم چې وړاندې تير شو،په هغې کښې راغلې دی، **"انه قتل علجا،فحاز فرسه وسلاحه"**.

او امام احمد رحمه الله سورلی د سلب نه خارج ګنړی،هم دا قول د ابوبکر هم دې(٤) دا بحث د هغې سورلئ په باره کښې دې کومه سورلی چې د مقتول په استعمال کښې وه لکه هغه سورلی چې د هغۀ په خيمه کښې وی يا تختيدلې وی نو هغه بالاتفاق په سلب کښې داخله نۀ ده.(٥).ددې نه علاوه د مقتول تاج،بنګړی،ګوتمه،طوق،پټکا،اګرچه د سرو زرو وی يا د

---

(١) رواه سعيد فی السنن:۲۶۳/۲_۲۶٤،کتاب الجهاد،باب ما يخمس فی النفل،رقم (۲۷۰۸)،وابن عبدالبر فی التمهيد:۲٤۷/۲۳،حديث ثامن وعشرون ليحيى بن سعيد،وعبدالرزاق فی مصنفه:۱۵۸/۵،کتاب الجهاد، باب السلب والمبارزة،رقم(۹۵۳۱))_

(٢) عمدة القاری:۶۵/۱۵،والموسوعة:۱۸۳/۲۵،ليکن د احنافو تحقيقی مذهب هغه دې کوم چې په فتاوی هنديه کښې د المحيط په حوالې سره نقل کړې شوی دې،هغه دا دې چې که امام داسې اووائی من قتل قتيلاً فله السلب بعد الخمس نو په دې صورت کښې به په سلب کښې تخميس جاری کيږی او که مطلقاً من قتل قتيلاً اووائی نو تخميس بۀ نۀ جاری کيږی.الفتاوی الهندية:۲۱۸/۲،الفصل الثالث فی التنفيل،من کتاب السير)_

(٣) البناية مع الهداية:۱۸٤/۷،وفتح القدير:۲۵۳/۵،وحاشية ابن عابدين:۲۶٤/۳، والمغنی: ۱۹۳/۹، والاوجز:۱۹۰/۹)_

(٤) المغنی:۱۹۳/۹، والاوجز:۱۹۰/۹،والدر المختار:۲۶٤/۳،والموسوعة:۱۸٤/۲۵)_

(٥) پورته حواله جات)_

بل څه څيز وي. دغه شان ميانۍ، د پيسو هغه تهيلۍ کومه چې ملا سره تړلې شي، او په دې کښې موجود پيسې. دا ټول څيزونه د ائمه ثلثه په نزد په سلب کښې داخل دي ځکه چې دا ټول څيزونه د حديث شريف په عموم کښې داخل دي. يعني "من قتل قتيلاً فله سلبه" دغه شان د براء بن مالک رضي الله عنه حديث کوم چې اوس تېر شو. هغې کښې هم د بنګړو او پټکې ذکر راغلې دې. او د مالکيه مذهب ددې څيزونو په باره که دادې چې دا څيزونه په سلب کښې داخل نه دي. ځکه چې ددې څيزونو په ذريعې سره په جنګ څه مدد نه حاصليږي(۱) بيا د امام احمد په نزد مقتول لره بالکل بې لباسه کول هم جائز دي. هم دا قول د امام اوزاعي هم دې او ابن منذر او سفيان ثوري رحمهم الله دا ناخوښه ګڼړي. ځکه چې په دې کښې بدن ښکاره کيږي. او د امام احمد وغيره دليل د حضرت سلمه بن الاکوع رضي الله عنه په حديث شريف کښې د نبی کريم ﷺ دا جمله مبارکه ده. "له سلبه أجمع"(۲) دغه شان حديث "من قتل قتيلاً فله سلبه" هم د جمهورو د مذهب دپاره دليل دې. ځکه چې په دې کښې هر څه داخليږي. "وهذا يتناول جميعه"(۳)

خبرداري د سلب متعلق مزيد معلوماتو دپاره اوګورئ. اوجز المسالک: ۹/۱۸۳_۲۰۶، کتاب الجهاد، باب ما جاء في السلب في النفل، والموسوعة الفقهية: ۲۵/۱۷۶_۱۸۴، واعلاء السنن: ۱۲/۲۷۵_۳۰۰، واحکام القرآن للرازي: ۳/۶۹_۷۲، مطلب في سلب القتيل، وفتح الباري: ۶/۲۴۷_۲۴۹_ والله أعلم بالصواب.

د سلب متعلق ددې ټولو تفصيلاتو نه پس اوس د باب سره متعلق بحثونه اوګورئ.

د ترجمة الباب مقصد امام بخاري رحمه الله ددې ترجمة الباب په قائمولو سره د هغه مشهور اختلاف طرفته اشاره کړې ده کوم چې د سلب په تخميس کښې دې چې ددې خمس به ويستلې شي يا نه؟ امام بخاري رحمه الله په دې مسئله کښې د جمهورو سره ملګرې دې. د هغوی د مذهب ثابتولو دپاره ئې دا باب قائم کړې دې(۴).

قوله: ومن قتل قتيلاً فله سلبه: او څوک چې چاله قتل کړي نو ددغه مقتول سلب به د قاتل وي.

دا د حضرت انس رضي الله عنه حديث شريف يوه حصه ده، پوره حديث شريف داسې دې

"أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يوم حنين: من قتل قتيلاً فله سلبه. فقتل أبو طلحة يومئذ عشرين

(۱) المغني: ۹/۱۹۳، والمنتقى: ۳/۱۹۱، والاوجز: ۹/۱۹۵، والموسوعة: ۲۵/۱۸۴)_

(۲) حديث سلمة اخرجه البخاري في كتاب الجهاد، رقم (۳۰۵۱)، وانظر لتخريجه الكامل کشف الباري، کتاب الجهاد: ۲/۴۵۸)_

(۳) المغني: ۹/۱۹۵، وعمدة القاري: ۱۵/۶۹، والاوجز: ۹/۲۰۶)_

(۴) عمدة القاري: ۱۵/۶۵، وفتح الباري: ۶/۲۴۷)_

رجلاً، فاخذ اسلابهم"(١).
چې "د غزوه حنين په موقع باندې نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې څوک چالره قتل کړی نو د هغهٔ سلب به قاتل ته ملاویږی نو په دغه ورځ حضرت ابوطلحه انصاری رضی الله عنه شل کسان قتل کړل او د هغې ټولو سلب ئې واخستلو"

قوله: من غير أن يخمس: د سلب د تخمیس (خمس جاری کیدو) نه بغیر دا جمله د امام بخاری رحمه الله د تفقه (فقاهت) نه ده(٢) غالباً هغوی د حضرت انس رضی الله عنه مذکوره حدیث ذکر کولو سره ددې د عموم نه استدلال کړې دې چې په دې کښې د سلب د تخمیس وغیره څهٔ خبره نشته، دا حدیث شریف چونکه مطلق دې، ددې وجې نه به په سلب کښې د تخمیس عمل نهٔ وی. والله أعلم

قوله: وحكم الإمام فيه: او په دې کښې د امام حکم.

دا د آخری جزء ترجمه ده، حکم مرفوع او مجرور دواړو طریقو سره لوستلې شوې دې. د مرفوع کیدو په صورت کښې به مطلب دا وی چې په سلب کښې به د امام رائې چلیږی، هغه چې څنګه غواړی نو هغه شان حکم به لګولې شی، د امام په حکم باندې څوک هم اعتراض نهٔ شی کولې. په دې صورت کښې به دا مذهب د احنافو او د مالکیه تائید شی چې د امام د حکم او د هغهٔ د اجازت نه بغیر به څوک د سلب مستحق نهٔ جوړیږی، ګویا امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې ددې حضراتو سره ملګرې دې.

او د مجرور کیدو په صورت کښې به ددې مطلب دا شی چې د امام د فیصلې نه بغیر به هم قاتل د سلب مستحق وی، په دې صورت کښې به مؤلف علیه الرحمة د امام شافعی او امام احمد رحمهما الله ملګرې شی.

مسئلې سره متعلق تفصیل د باب په شروع کښې راغلې دې. بیا امام بخاری رحمه الله په باب کښې دوه احادیث نقل کړې دی:

---

(١) رواه ابو داود، کتاب الجهاد، باب فی السلب يعطى القاتل، رقم (٢٧١٨)، والحاکم فی المستدرک: ٣/ ٢٩٧، کتاب معرفة الصحابة، مناقب ابی طلحة......رقم (٥٥٠٥)، وابن ابی شيبة فی مصنفه: ٥٣٢/٢٠، کتاب المغازی، غزوة حنين وما جاء فيها، رقم (٣٨١٥٤)، و: ٥٢٣/٢٠، رقم (٣٨١٤٣))_

(٢) فتح الباری: ٢٤٧/٦، وقال العينی (٦٥/١٥): من غير ان يخمس" ليس من لفظ الحديث، واراد به ان السلب لا يخمس")_

٢٩٧٢ ـ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ الْمَاجِشُونِ عَنْ صَالِحِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَشِمَالِي فَإِذَا أَنَا بِغُلاَمَيْنِ مِنَ الأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا ، تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا ، فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ يَا عَمِّ، هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ قُلْتُ نَعَمْ، مَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لاَ يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الأَعْجَلُ مِنَّا . فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ، فَغَمَزَنِي الآخَرُ فَقَالَ لِي مِثْلَهَا ، فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي النَّاسِ، قُلْتُ أَلاَ إِنَّ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي . فَابْتَدَرَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلاَهُ، ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَخْبَرَاهُ فَقَالَ « أَيُّكُمَا قَتَلَهُ » . قَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَا قَتَلْتُهُ . فَقَالَ « هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا » . قَالاَ لاَ . فَنَظَرَ فِي السَّيْفَيْنِ فَقَالَ « كِلاَكُمَا قَتَلَهُ » . سَلَبُهُ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ . وَكَانَا مُعَاذَ ابْنَ عَفْرَاءَ وَمُعَاذَ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ .[1]

رجال الحديث

① **مسدد**: دا مسدد بن مسرهد رحمه الله دي. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب من الایمان أن یحب لاخیه......" کښې تیره شوې ده[2].

② **یوسف بن الماجشون**: دا یوسف بن یعقوب الماجشون بن عبد الله بن ابی سلمه رحمه الله دي.

③ **صالح بن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف**: دا د مشهور صحابی حضرت عبدالرحمن بن عوف نوسې صالح بن ابراهیم رحمه الله دي[3].

④ **عن أبیه**: ددې نه مراد ابراهیم بن عبد الرحمن بن عوف رحمه الله دي.

⑤ **جده**: د جده نه مراد مشهور صحابی حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دي[4].

قوله: **قَالَ بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ......**: په دې حدیث شریف کښې د ابوجهل لعین د قتل واقعه ذکر کړې شوې ده، کومه چې په بدر کښې پیښه شوې وه. ددې تفصیل چونکه په مغازی کښې راغلې دې، ددې وجې نه دلته ددې دوباره د ذکر کولو ضرورت

---

[1]) قوله: عن جده": الحدیث، اخرجه البخاری ایضا، کتاب المغازی، باب قتل ابی جهل، رقم (٣٩٦٤)، وباب (بلا ترجمة)، بعد بابفضل من شهد بدراً، رقم (٣٩٨٨)، ومسلم، کتاب الجهاد والسیر، باب استحقاق القاتل سلب القتیل، رقم (٤٥٦٩))_

[2]) کشف الباری: ٢/٢)_

[3]) ددې دواړو د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوکالة، باب اذا وکل المسلم حربیا فی دار الحرب....)_

[4]) ددې دواړو د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الجنائز، باب الکفن من جمیع المال)_

نشته(١) البته دلته به مونږ د حديث شريف د څۀ الفاظو او د جملو وضاحت خامخا کوو.

فاذا انا بغلامين من الانصار حديثة أسنانهما

نو ما او کتل چې زۀ د دوو انصاري هلکانو مينځ کښې يم، چې دواړه کم عمره وو.

"حديثة اسنانهما" دا شبه جمله صفت دې د "غلامين"، ددې وجې نه مجرور هم دې او أسنانهما مرفوع دې ځکه چې هغه د حديثة فاعل دې(٢) او ددې معنى ده کم عمرى.

قوله: تمنيت أن أكون بين أضلع منهما: ما تمنا او کړه چې کاش! زۀ ددې دواړو نه علاوه د يو طاقتور سړی په خوا کښې وې، چې د هغۀ نه ماته څۀ فائده وې.

د أضلع لغوى او صرفى تحقيق: أضلع- بفتح الهمزة، وسكون الضاد، وفتح اللام، صيغه د اسم تفضيل ده. ددې معنى ده ډير زيات قوى او طاقتور، ددې مصدر الضلاعة دې، ددې معنى ده قوت او طاقت، دا د علامه عينى رحمه الله تحقيق دې(٣). او حافظ رحمه الله دا بضم اللام د ضلع جمع ښودلې ده، ددې معنى ده پښتئ، ددې نه علاوه حافظ دا هم فرمائيلې دى چې دا د اکثرو روايت دې او د علامه عينى ذکر کړې شوى تحقيق ته ئې په وروئ وئيلو سره د ضعيف ګرځولو کوشش کړې دې(٤). ليکن راجح دلته د علامه عينى تحقيق دې، هم دا امام نووى هم ذکر کړې دې(٥) او علامه ابن الاثير جزرى رحمه الله هم دا اختيار کړې دې(٦)، ددې نه علاوه فهم ته ډير زيات نزدې هم دا تحقيق دې.

په أضلع کښې د نسخو اختلاف: بيا په دې ځان پوهه کړئ چې د بخارى شريف اکثرو راويانو دا لفظ د ضاد معجمه سره أضلع نقل کړې دې، ليکن د حموى په نسخه کښې أصلح- بالصاد المهملة والحاء المهملة راغلې دې(٧)، علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چې دا اختلاف د مسدد له طرفه دې کوم چې د بخارى شيخ دې، ورنه هم دا روايت د يوسف بن الماجشون نه ابراهيم بن حمزه په طحاوى کښې(٨)، موسى بن اسماعيل په ابن سنجر کښې او عفان په ابن ابى شيبه(١)

---

(١) كشف البارى، كتاب المغازى:٣/١٠٣-١٠٨)_

(٢) عمدة القارى:١٥/ ٦٦، وفتح البارى:٦/٢٤٨)_

(٣) عمدة القارى:١٥/ ٦٦)_

(٤) فتح البارى:٦/ ٢٤٨، البته په مقدمه کښى دوى هم د عينى تحقيق اختيار کړې دې، هدى السارى: ٢٢٧، فصل ض.ل، حرف الضاد المعجمة، الفصل الخامس)_

(٥) شرح النووى على مسلم:٢/ ٨٧، كتاب الجهاد، باب استحقاق القاتل سلب القتيل)_

(٦) جامع الاصول:٨/ ١٩٥، والنهاية فى غريب الحديث والاثر:٣/ ٩٧، باب الضاد مع اللام)_

(٧) عمدة القارى:١٥/ ٦٦، وفتح البارى:٦/ ٢٤٨)_

(٨) شرح معانى الآثار:٢/ ١٤٧، كتاب السير، باب الرجل يقتل قتيلاً....)_

کښې هم روایت کړی دی. په دې ټولو کښې اصح دی[1] او راجح روایت هم د اصح والا دی. ځکه چې د دریو حافظانو راویانو په مقابله کښې د یو حافظ راوی روایت شاذ دی چې مرجوح به وی[2]. علامه قرطبي او قاضي عياض رحمهما الله هم د اصح والا روایت راجح ګرځولی دی[3].

قوله لايفارق سوادي سواده: زه به هغه پرېنږدم.

دا کلام په دغه کم عمرو هلکانو کښې د یو هلک دې. سواد. بفتح السين سیوری ته وائی. چونکه د لرې نه د سړی په شان څيز په نظر تور ښکاری. د دې وجې نه سړی ته سواد هم وائی[4].

قوله: حتى يموت الأعجل منا: ترڅو چې په مونږ کښې د چا مرګ زيات نزدې وی. هغه مړ شی.

بعضې حضراتو وئيلي دی چې الاعجل تحريف دې. اصل کښې دا الاعجز وو لیکن حافظ فرمائی چې په روایت کښې مذکوره لفظ صحیح دی[5]. د دې نه علاوه دا جمله د ملازمت لزوم نه کنایه ده او په دې معنی کښې کثیر الاستعمال هم ده. مطلب دا دې چې ترڅو ما هغه قتل کړې نه وی. نو هغه به زه نه پرېږدم.

اوس د دې کم عمره صحابي د عقل کمال اوګورئ چې د جنګ په حالت کښې. چرته چې د لويو لويو خلقو طاقت کار نه ورکوی. هلته هم د عقل لمن نه پرېږدی او دا محتاطه جمله ئې ارشاد اوفرمائيله. حالانکه د سختې غصې تقاضه خو دا وه چې داسې ئې فرمائيلي وې. "حتى أقتله" ليکن انجام چونکه مجهول وو. د دې وجې نه ئې حتى يموت الأعجل منا اوفرمائيل[6].

قوله: فلم أنشب أن نظرت إلى أبي جهل يجول في الناس: لږ وخت تېر شوې وو چې ما ابوجهل اوليدۀ. چې د خلقو مينځ کښې ئې چکر لګوو.

نشب نشوبا ونشبا د باب سمع نه دې د دې معنی نه انختل او د لم أنشب معنی ده لم ألبث ولم أتعلق بشيء غيره[7]. د باب په روایت کښې "يجول" راغلي دي او د مسلم شريف په روایت

---

[1] المصنف. لم اجده فيه رغم تتبعي. وانما اشار اليه الحافظان ابن حجر وابن بطال)_

[2] ابن بطال: ۵/ ۳۱۵. والمعمدة: ۱۵/ ۶۶. والفتح: ۶/ ۲۴۸. والنووی علی مسلم: ۲/ ۸۷_ ۸۸)_

[3] پورته حواله جات)_

[4] عمدة القاری: ۱۵/ ۶۶. المفهم لقرطبی: ۱۱/ ۷۵. باب اسحقاق القاتل سلب.....ومشارق الانوار: ۲/ ۵۹(ض ل ع)

[5] عمدة القاری: ۱۵/ ۶۶. وفتح الباری: ۶/ ۲۴۹)_

[6] فتح الباری: ۶/ ۲۴۹)_

[7] عمدة القاری: ۱۵/ ۶۶)_

[8] پورته حواله. وشرح النووی علی مسلم: ۲/ ۸۸)_

کښې "يزول" راغلي دي(١) .د دواړو يو معنی ده.مطلب دادې چې ابوجهل ډير زيات پريشان وو او اخوا ديخوا ګرځيدۀ او په يو ځائې باندې نۀ حصاريدۀ(٢).

قوله: فابتدراه بسيفهما: نو دغه دواړو خپلې خپلې تورې اخستلو سره د ابوجهل طرفته تيزی اوکړه.

ابتدر و بادر د دواړو يو معنی ده.مطلب سبقت او جلدی کول دی(٣). د مغازی په روايت کښې "فشدا عليه مثل الصقرين" الفاظ راغلي دی(٤) .چې "دا دواړه هلکان په ابوجهل باندې د شکری په شان حمله آور شو".

قوله: فنظر في السيفين،فقال:كلا كما قتله: نبی کريم ﷺ دواړو تورو ته په غور سره اوکتل.بيا ئې اوفرمائيل چې تاسو دواړو هغه قتل کړې دې.

دلته دا خبره ده چې نبی کريم ﷺ دواړه تورې په غور اوکتلې او ددې نه مخکښې ئې هم دا تپوس اوکړو چې تاسو تورې صفا کړې خو نۀ دی.بيا ئې اوفرمائيل چې تاسو دواړو قتل کړې دې.ددې ټولې کارګذارئ مقصد څۀ وو؟

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چې ددې مقصد دا ښودل وو چې د سلب د مستحق کيدو دپاره اثخان شرط دې او په دې باره کښې اثخان ته يو قسم امتياز حاصل دې،هغه داسې چې نبی عليه السلام ددې دواړو د تورو معائنه اوفرمائيله چې د تورو دواړو طرفونو ته وينه څومره قدرې لګيدلې ده او د ابوجهل په بدن کښې کومه توره څومره قدرې ننوتلې ده.ددې وجې نه ئې دا سوال هم اوکړو چې تورې مو صفا کړې خو نۀ دی؟ځکه چې د صفا کولو په صورت کښې به د داخليدو مقدار بدل شوې وو(٥). بيا نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې "كلاكما قتله" ځکه چې نبی عليه السلام اوليدل چې اثخان د يو کس فعل دې او دويم صحابی صرف په قتل کښې شرکت کړې دې ليکن نبی عليه السلام د هغوی د زړۀ ساتلو دپاره او د تسلئ دپاره دا جمله ارشاد اوفرمائيله چې "كلاكما قتله"(٦).

قوله: سلبه لمعاذ بن عمرو بن الجموح: ليکن ددۀ سلب د معاذ بن عمروبن الجموح دې.

مطلب دادې چې دواړه هلکان اګرچه په قتل کښې شريک دی،ليکن اثخان چونکه د معاذ بن عمرو له طرفه دې.ددې وجې نه سلب هم د هغۀ حق دې،دې ځائې پورې خو خبره واضحه

---

(١) صحيح مسلم،كتاب الجهاد والسير،باب استحقاق القاتل سلب.....رقم (٤٥٦٩)‏)_

(٢) عمدة القاري:١٥/ ٦٦)_

(٣) پورته حواله)_

(٤) صحيح بخاري،كتاب المغازي،باب (بلا ترجمة)،رقم (٣٩٨٨))_

(٥) پورته حواله، شرح ابن بطال:٥/٣١٢،وفتح الباري:٦/٢٤٨،وعمدة القاري:١٥/٦٦)_

(٦) شرح ابن بطال:٥/٣١٢،وعمدة القاري:١٥/٦٦_٦٧)_

ده.ددې نه پس ددې جملو نه احنافو او مالکيه دا استدلال کړې دې چې د مقتول په قتل کولو سره قاتل د سلب مستحق نه جوړيږی.بلکه د امام په ورکړې سره هغه ددې مستحق جوړيږی ورنه نبی ﷺ به سلب په دوی دواړو باندې تقسيم کړې وو.يو لره محروم ساتلو سره به نې دويم ته نه ورکوو.ددې نه معلومه شوه چې په دې معاملاتو کښې امام ته اختيار دې.قاله الطحاوی رحمه الله(۱).ليکن دا استدلال کمزورې دې ځکه چې دا خبره خو تول منی چې د سلب مستحق مُثخن وی او نبی ﷺ چې د تورو کومه معائنه فرمائيلې وه نو د هغې مقصد هم دا وو چې دا اوکتلې شی چې د اثخان د کوم کس په تورې سره شوې دې.په دې بنياد باندې سلب معاذ بن عمرو ته ورکړې شو.

دې جزء سره متعلق د احنافو دليلونه د باب په ابتداء کښې راغلې دی.

للبته ددې حديث په يو بل طريق.کوم چې امام ابوداؤد (۲)او امام احمد (۳)وغيره نقل کړې دې.د هغې نه په مذکوره جزء باندې استدلال کيدې شی.په دغه طريق کښې راغلې دی چې نبی کريم ﷺ د ابوجهل توره حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ورکړې وه حالانکه هغه مثخن هم نه وو.اصل حق د معاذ بن عمرو وو ځکه چې هغه مثخن وو نود ابوجهل توره حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ورکول ددې خبرې دليل دې چې سلب څه شرعی حق(۴) نه دې بلکه قاتل که ددې مستحق جوړيږی نو دنفل په طورسره ددې حقدار گرځی والله أعلم بالصواب

قوله: وكانا معاذ بن عفراء، ومعاذ بن عمرو بن الجموح: او هغه دواړه کم عمره هلکان معاذ بن عفراء او معاذ بن عمروبن الجموح رضی الله عنهما وو.

دواړو ځايونو کښې کلمه د معاذ منصوب ده،ځکه چې دا د کان خبر دې.

معاذ بن عفراء: دا حضرت معاذ بن الحارث بن رفاعه بن سواد الانصاری رضی الله عنه دې(۵).دوی د خپلې موربی بی عفراء بفتح العين وسكون الفاء بنت عبيد بن ثعلبه په حوالې سره مشهور دی(۶).بدر،احد او نورو ټولو غزواتو کښې د نبی کريم ﷺ سره ملگرې وو(۷).

د حضرت معاذ رضی الله عنه يو فضيلت دا هم دې چې دوی د انصارو نه دی،چاچې د عقبه اولی د بيعت دوران کښې په مکه مکرمه کښې اسلام قبول کړو.د راجح قول مطابق دا شپږ

---

(۱) شرح ابن بطال:۳۱۲/۵،وشرح معانی الآثار:۱۴۷/۲_۱۴۸،کتاب السير،باب الرجل يقتل....)_

(۲) سنن ابی داود،کتاب الجهاد،باب من اجاز علی جريح مثخن.....رقم (۲۷۲۲))_

(۳) فی مسنده:۴۴۴/۱،مسند عبدالله بن مسعود،رقم (۴۲۴۶)،وابن ابی شيبة فی مصنفه:۵۶۰/۱۷،کتاب السير،باب من جعل السلب للقاتل،رقم (۳۳۷۶۵)،و:۳۲۴/۲۰،رقم (۳۷۸۵۲)،کتاب المغازی،غزوة بدر الکبری..)

(۴) سلب د شريعت حق دې يا د امام؟په دې باندې به د باب په آخره کښې انشاء الله بحث راځی.

(۵) د دوی په نسب کښې نور قولونه هم دی،اوگورئ تهذيب الکمال:۱۱۵/۲۸)_

(۶) پورته حواله،وعمدة القاری:۶۷/۱۵،والاصابة:۴۲۸/۳)_

(۷) پورته حواله جات)_

انصارى صحابه كرام رضي الله عنهم وو.(١). نبى كريم صلى الله عليه وسلم د حضرت معاذ بن عفراء او حضرت معمر بن الحارث رضي الله عنهما مينځ كښې ورورولى قائمه كړې وه(٢). امام نسائى رحمه الله د دوى يو روايت"لا صلاة بعد العصر حتى تغرب الشمس...." ذكر كړې دې(٣). باقى پنځو امامانو سره د دوى څه روايت نشته. د دوى په وفات كښې اختلاف دې چې كله اوشو او چرته اوشو؟ د راجح قول مطابق د دوى انتقال د حضرت على رضي الله عنه په زمانه خلافت كښې شوې دې(٤). رضى الله عنه وارضاه.

معاذ بن عمرو بن الجموح: دا معاذ بن عمروبن الجموح بن زيد بن حرام انصارى خزرجى سلمى رضي الله عنه دې(٥) دوى هم په بيعت عقبه كښې شريک شوې دى. بدرى صحابى دې(٦) . كما في حديث الباب.

دوى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوى او د دوى نه روايت كوونكې صرف حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې(٧).

د علامه ذهبى رحمه الله مطابق د دوى انتقال د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه كښې شوې دې او د ابن اسحاق مطابق په خلافت عثمانى كښې شوې دې(٨). والله أعلم. رضى الله عنه وأرضاه.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د حديث مطابقت په دې معنى كښې دې چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د ابوجهل په سلب كښې خمس نه وو جارى كړې(٩).

قوله: قال محمد: سمع يوسف صالحاً، وإبراهيم أباه: [٣٧٦٢، ٣٧٦٦]

محمد وائى: يوسف د صالح نه اوريدلې دى او دهغوى پلار د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه

---

(١) تهذيب الكمال:٢٨/١١٦، والاصابة:٣/٤٢٨)_

(٢) تهذيب الكمال:٢٨/١١٦، والاستيعاب بهامش الاصابة:٣/٣٦٤)_

(٣) سنن النسائ الكبرى:١/١٥٥، كتاب الصلاة الاولى، باب النهى عن الصلاة بعد العصر، رقم (٣٨١)، والحديث اخرجه ايضا ابن ابى عاصم فى الآحاد والمثانى:٣٩١، رقم (٥٥٥)، وابن ابى شيبة، رقم (٧٣٩٩)، وابو داود الطيالسى، رقم (١٢٢٦)، وغيرهم من الاءمة. انظر للاستزادة تعليقات الشيخ محمد عوامة على المصنف لابن ابى شيبة:٥/١٠٨، رقم (٧٣٩٩))_

(٤) تهذيب الكمال:٢٨/١١٥_١١٦، والعمدة:١٥/٦٧، والاصابة:٣/٤٢٨، وتهذيب التهذيب:١٠/١٨٨)_

(٥) عمدة القارى:١٥/٦٧، والاصابة:٣/٤٢٩، والاستيعاب بهامش الاصابة:٣/٣٦١)_

(٦) پورته حواله جات، وسير اعلام النبلاء:١/٢٤٩)_

(٧) سير اعلام النبلاء:١/٢٥٠)_

(٨) سير اعلام النبلاء:١/٢٥٠_٢٥١، ولاستيعاب بهامش الاصابة:٣/٣٦٣)_

(٩) عمدة القارى:١٥/٦٦)_

نه اوريدلي دي.
د مذكوره جملې مطلب د محمد نه مراد په خپله امام بخاري رحمه الله دي او د يوسف نه مراد ابن ماجشون، د صالح نه مراد ابن ابراهيم او د ابراهيم نه مراد ابن عبد الرحمن بن عوف رحمه الله او د اب نه مراد حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه دي او ددې ټولو اوريدل ترتيب سره ثابت دي. ددې نه علاوه دا جمله صرف د ابوذر او د ابو الوقت په نسخه كښې موندلې كيږي.[١]
د مذكوره جملې مقصد بعضې حضراتو د باب حديث ته منقطع ونيلې دي. هغوى دا وائي چې د يوسف بن ماجشون او د صالح بن ابراهيم مينځ كښې يو راوى عبدالواحد بن ابى عون ساقط دې حالانكه د هغۀ ذكر ضرورى دې، ددې وجې نه دا روايت منقطع دې. متصل نه دې اصل كښې هم دا روايت امام بزار هم په خپل مسند كښې ذكر كړې دې او سند هم دا د بخاري والا دې ليكن په هغې كښې عبد الواحد بن ابى عون هم دې. پوره سند اوګورئ نو خبره به آسانه شي. امام بزار په خپل روايت كښې فرمائى
"حدثنا محمد بن عبد الملك القرشي وعلي بن مسلم قالا: حدثنا يوسف بن أبي سلمة......حدثنا عبد الواحد بن أبي عون، حدثني صالح بن إبراهيم.....، قال: بينا...."
ددې روايت د نقل كولو نه پس امام بزار دا هم فرمائيلي دي: "وهذا الحديث لا نعلمه يروى عن عبد الرحمن بن عوف، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم إلا من هذا الوجه بهذا الاسناد...."[٢]
ښكاره خبره ده چې اوس خبره سخته شوه چې بزار يو څۀ وائى او امام بخاري بل څۀ وائى ددې اشكال او ګرانوالى ختمولو دپاره امام بخاري دا پورتنۍ جمله ارشاد اوفرمائيله چې عبد الواحد بن ابى عون اګرچه زما په سند كښې نشته ليكن په دې سره د حديث په اتصال باندې څۀ فرق نۀ پريوځى، ددې وجه هم داده چې د يوسف سماع د صالح نه ثابته ده او د ابراهيم سماع هم د خپل پلار عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه نه ثابته ده، ددې وجې نه په دې كښې څۀ باك نشته او حديث متصل دې نۀ چې منقطع.[٣] والله أعلم
دويم حديث د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه دې.

٢٩٧٣: (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ أَفْلَحَ عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رضى الله عنه - قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَامَ حُنَيْنٍ ، فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ ، فَرَأَيْتُ رَجُلاً مِنَ الْمُشْرِكِينَ عَلاَ رَجُلاً مِنَ الْمُسْلِمِينَ ، فَاسْتَدَرْتُ حَتَّى أَتَيْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ حَتَّى ضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ

[١] عمدة القارى:١٥/٦٧)_
[٢] مسند الامام البزار:٣:٢٢٥،باب ماروى سعد بن ابراهيم.....رقم (١٠١٣)،وعمدة القارى:١٥/٦٨،وارشاد السارى:٥/٢٢١،فتح البارى:٦/٢٤٩)_
[٣] قوله: عن ابى قتادة.....":الحديث،مر تخريجه فى كتاب البيوع،باب بيع السلاح فى الفتنة.....)_

عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ ، فَأَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ، ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي ،فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ مَا بَالُ النَّاسِ قَالَ أَمْرُ اللَّهِ،ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ رَجَعُوا ،وَجَلَسَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ». فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ «مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ» فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ، ثُمَّ قَالَ الثَّالِثَةَ مِثْلَهُ فَقَالَ رَجُلٌ صَدَقَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ عَنِّي . فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ -رضى الله عنه لاَهَا اللَّهِ إِذًا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللَّهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ -صلى الله عليه وسلم- يُعْطِيكَ سَلَبَهُ . فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «صَدَقَ» »فَأَعْطَاهُ فَبِعْتُ الدِّرْعَ ، فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ، فَإِنَّهُ لأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الإِسْلاَمِ.[ر ١٩٩٤]

رجال الحديث

① **عبدالله بن مسلمه**: دا عبدالله بن مسلمه رحمه الله دي. د دوی حالات په كتاب الايمان، "باب من الدين الفرار من الفتن" كښې تير شوې دی.(١)

② **مالک**: دا امام دارالهجرة مالک بن انس رحمه الله دې د دوی تذکره د بدء الوحی په "الحديث الثانی" كښې تيره شوې ده.(٢)

③ **يحيى بن سعيد**: دا يحيى بن سعيد انصاری رحمه الله دې د دوی حالات د بدء الوحی په "الحديث الاول" كښې تير شوې دی [كشف الباری: ١/٢٣٨، و: ٢/٣٢١، باب صوم رمضان احتسابا،....]_

④ **ابن افلح**: دا عمر بن كثير بن افلح منسوب الی جده رحمه الله (٣).

⑤ **ابی محمد**: دا ابومحمد نافع دې چې د حضرت ابوقتاده رحمه الله مولی دې (٤).

⑥ **ابوقتاده**: دا مشهور صحابی حضرت ابوقتاده الحارث بن ربعی الانصاری رضی الله عنه دې (٥).

د حديث مبارک ترجمه حضرت ابوقتاده رضی الله عنه فرمائی چې مونږ د حنين په كال (٨ هجری كښې) نبی كريم صلی الله عليه وسلم سره د حنين طرفته اووتلو، چې كله زمونږ مخامخ كيدل د دشمن سره اوشو نو مسلمانانو ته (په شروع كښې) ناكامی اوشوه ما اوكتل چې يو مشرک په يو مسلمان باندې غالب راغلې دې نو زۀ راواپس شوم او د هغۀ د څټ رګ مې په توره اووهلو

(١) كشف الباری: ٢/٨٠)_
(٢) كشف الباری: ١/٢٩٠، و: ٢/٨٠)_
(٣) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ. كتاب البيوع، باب بيع السلاح فی الفتنة وغيرها)_
(٤) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ. كتاب جزاء الصيد، باب لا يعين المحرم الحلال....)_
(٥) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ. كتاب الوضوء، باب النهی عن الاستنجاء باليمين)_

نو هغه زما طرفته متوجه شو او دومره زور ئې راته راکړو چې ما ته د مرګ بوئی محسوس شو. بیا هغه مړ شو او زۀ ئې هم پریخودم؛

ددې نه پس زۀ حضرت عمر رضي الله عنه سره ملاؤ شوم،او د هغوی نه مې تپوس اوکړو چې:د خلقو څۀ اوشو؟هغوی اوفرمائیل چې دا د الله تعالی فیصله وه،کومه چې پوره شوه، ددې نه پس مسلمانان دوباره راواپس شو،او فتح ئې حاصله کړه.،بیا نبی ﷺ تشریف فرما شو او اعلان ئې اوکړو چې، **"من قتل قتيلاً،له عليه بينة،فله سلبه"**.

،ددې اعلان په اوریدو سره،زۀ اودریدم او ما اووئیل چې زما دپاره به څوک ګواهی ورکړی؟بیا کیناستم نبی ﷺ بیان اعلان اوکړو نو زۀ بیا اودریدم دریم ځل نبی ﷺ اعلان اوکړو نو یو سړی اووئیل.یا رسول الله!دې ریښتیا وائی او ددۀ سلب ما سره دې.لیکن تاسو دوی زما په حق کښې راضی کړئ،(چې دې ئې هم ماسره پریږدی)،

،ددې سړی دې خبرې اوریدو سره،حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه اوفرمائیل.نه.د الله قسم د الله تعالی په زمرو کښې چې یو زمرې د الله تعالی او د هغۀ د رسول له طرفه قتال کوی.نبی ﷺ به هیڅکله دا خوښه نۀ کړی چې د هغۀ سلب تاسو ته درکړی نبی ﷺ د حضرت صدیق اکبر تصدیق اوفرمائیلو او سلب ئې ابوقتاده ته ورکړو ابوقتاده وائی چې ما په هغې سلب باندې(چې زره وه)،په قبیله بنی سلمه کښې یو باغ واخستو د اسلام قبلولو نه پس دا د ټولو نه اول مال وو چې ما ذخیره کړو ددې حدیث تشریح په کتاب المغازی کښې د غزوه حنین لاندې راغلې ده.(۱).

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت په دې معنی کښې دې چې حضرت ابوقتاده رضي الله عنه ته کوم سلب ورکړې شو په هغې کښې خمس نۀ وو جاري کړې شوې.(۲).

سلب شرعی حق دې یا د امامت حق؟: د باب په شروع کښې دا مسئله تیره شوې ده چې قاتل د مقتول د سلب حقدار وی او دا چې ددې دپاره د امام اجازت شرط دې یا نۀ؟

ددې مسئلې د نور وضاحت دپاره مونږ د ابن قیم رحمه الله د کلام خلاصه نقل کوو.فرمائی چې په غزوه حنین کښې نبی کریم ﷺ دا جمله هم ارشاد فرمائیلې وه، **"من قتل قتيلاً،له عليه بينة، فله سلبه"** اوس د فقهاؤ اختلاف شو چې د سلب د مستحق کیدو بنیاد شریعت دې یا شرط،یعنی چې امام شرط اولګوی او اجازت ورکړی،؟

(۱) امام شافعی او احمد خو د شریعت د حق کیدو قائل دی.

(۲) امام مالک او امام ابوحنیفه د شرط قائل دی.

اوس د اختلاف ماخذ څۀ دې او د فقهاؤ اختلاف په کوم بنیاد باندې دې؟

---

(۱) كشف البارى،كتاب المغازى: ۵۴۰_۵۴۱)_

(۲) عمدة القارى:۱۵/۶۸)_

ماخذ او بنیاد دا دي چې د نبي علیه السلام مختلف حیثیتونه دي.نبي علیه السلام مبارک امام هم دې او حاکم هم دې.مفتي هم دې او رسول هم دې اوس نبي علیه السلام بعضې خبرې د رسالت د منصب لائق ارشاد فرمائي نو هغه عام شریعت جوړ شي او د هغې اطلاق په ټولو باندې وي.بعضې خبرې د افتاء د منصب مناسب ارشاد اوفرمائي.ددې واضح مثال د حضرت هند بنت عتبه چې د ابوسفیان رضي الله عنه بي بي ده،مسئله ده.دا بي بي نبي علیه السلام ته راغله او د خپل خاوند د بخل او په نان نفقه کښې ئې د تنګئ کولو شکایت اوکړو نو نبي علیه السلام اوفرمائیل."خذ ما یکفیك،و ولدك بالمعروف" دا فتوی ده.حکم او فیصله نۀ ده.ورنه نبي علیه السلام به مدعی علیه هم طلب کړې وو.د دعوې د جواب ذکر کولو حکم به ئې فرمائیلې وو او حضرت هند رضي الله عنها نه به ئې ګواهان هم طلب کړې وو

کله به څۀ خبره نبي علیه السلام د امامت د منصب شایان شان فرمائیله،چې په هغې کښې به د امت د هغه وخت،د هغه ځائې او د هغه کیفیت او د حالت کتلو سره فیصله فرمائیله.بیا به وروستو امامانو هم ددې رعایت ساتلو،د هغه مصلحت پیش نظر،کوم باندې چې به نبي علیه السلام د زمانې،مکان یا د حالت په اعتبار سره تلو.ددې ځائې نه د فقهاؤ اختلاف پیدا کیږي.ددې ډیر مثالونه دي،چې په هغې کښې یو مثال د "من قتل قتیلاً...." دې.

اوس دا ارشاد کوم قسم کښې داخل دې.په دې کښې د امت د فقهاؤ اختلاف دې.نو هغه حضرات کوم چې ددې خبرې قائل دي چې دا ارشاد د امامت د منصب مطابق وو نو د هغوی په نزد دا حکم د امام سره متعلق دې او د امام په اجازت سره مشروط دې،او کوم حضرات چې ددې خبرې قائل دي چې دا ارشاد د رسالت او د نبوت د منصب شایان شان وو نو د هغوی په نزد دا د شریعت حکم دې چې څوک قاتل هم وي نو هغه به د مقتول د سلب مستحق وي.خواه د امام اجازت وي یا نۀ.

ابن قیم رحمه الله فرمائي:

"وفي هذه الغزوة أنه قال: "من قتل قتیلاً،له علیه بینة،فله سلبه" [1].وقاله في غزوة أخرى قبلها،فاختلف الفقهاء،هل هذا السلب مستحق بالشرع أو بالشرط؟على قولین،هما روایتان عن أحمد.

أحدهما:أنه له بالشرع،شرطه الامام أو لم یشرطه،وهو قول الشافعي.

والثاني:أنه لایستحق إلا بشرط الامام،وهو قول أبي حنیفة.

وقال مالك رحمه الله:لایستحق إلا بشرط الامام بعد القتال.فلو نص قبله،لم یجز،قال مالك:ولم یبلغني أن النبي صلی الله علیه وسلم قال ذلك إلا یوم حنین،وإنما نفل النبي صلی الله علیه وسلم بعد أن برد القتال.

ومأخذ النزاع أن النبي صلی الله علیه وسلم کان هو الامام،والحاکم،والمفتي،وهو الرسول،فقد یقول الحکم بمنصب الرسالة،فیکون شرعاً عاماً إلی یوم القیامة،کقوله: "من أحدث في أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد" [2]

---

[1]) متفق علیه.مر تخریجه سابقًا)_

[2]) اخرجه البخاري،کتاب الصلح،باب اذا اصطلحوا علی صلح جور.....رقم (٢٦٩٧).....

[بقیه بر صفحه آئنده...

وقوله: "من زرع في أرض قوم بغير إذنهم فليس له من الزرع شئ وله نفقته"(١). وكحكمه "بالشاهد، واليمين"(٢)" وبالشفعة فيما لم يقسم"(٣).

وقد يقول بمنصب الفتوى، كقوله لهند بنت عتبة امرأة أبي سفيان. وقد شكت اليه شح زوجها، وانه لا يعطيها مايكفيها: "خذى مايكفيك و ولدك بالمعروف"(٤)، فهذه فتيا لا حكم، اذلم يدع بأبي سفيان، ولم يسئله من جواب الدعوى، ولا سئلها البينة.

وقد يقوله بمنصب الامامة، فيكون مصلحة للامة في ذلك الوقت، و ذلك المكان، وعلى تلك الحال، فيلزم من بعده من الائمة مراعاة ذلك على حسب المصلحة التي راعاها النبي صلى الله عليه وسلم زماناً ومكاناً وحالاً، ومن هاهنا تختلف الائمة في كثير من المواضع التي فيها أثر عنه صلى الله عليه وسلم، كقوله صلى الله عليه وسلم: "من قتل قتيلاً فله سلبه" هل قاله بمنصب الامامة، فيكون حكمه متعلقاً بالائمة، أو بمنصب الرسالة والنبوة، فيكون شرعاً عاماً؟ وكذلك قوله: "من احيا أرضاً ميتة فهي له"(٥) هل هو شرع عام لكل أحد، أذن فيه الامام، أو لم يأذن أو هو راجع الى الائمة، فلا يملك بالاحياء الا باذن الامام؟ على القولين، فالاول: للشافعي وأحمد في ظاهر مذهبهما.

والثاني: لأبي حنيفة، وفرق مالك بين الفلوات الواسعة، وما لا يتشاح فيه الناس، وبين ما يقع فيه التشاح، فاعتبر إذن الامام في الثاني، دون الاول"(٦).

••

...بقيه ازحاشيه گذشته] ومسلم. كتاب الاقضية. باب نقض الاحكام الباطلة......رقم (٤٤٩٢). (١٨). من حديث عاءشة رضى الله عنها)_

(١) اخرجه احمد: ١٤١/٣. رقم (١٥٩١٥). وابو داود (٣٤٠٣). وابن ماجه (٢٤٦٦). من حديث رافع خديج)_

(٢) اخرجه مسلم (٤٤٧٢). في الاقضية: باب القضاء باليمين والشاهد. من حديث ابن عباس)_

(٣) اخرجه البخارى. كتاب البيوع. باب بى الشريک.....رقم (٢٢١٣). وكتاب الشفعة. باب الشفعة فيما لم يقسم.....رقم (٢٢٥٧). وفى مواضع اخرى. ومسلم. كتاب المساقاة. باب الشفعة. رقم (٤١٢٨). وابو داود (٣٥١٤). من حديث جابر بن عبدالله)_

(٤) اخرجه البخارى. كتاب البيوع. باب من اجرى امر امصار.....رقم (٢٢١١). والنفقات: باب اذالم ينفق الرجل. فللمراة ان تاخذ بغير علمه. رقم (٥٣٦٤). ومسلم (٤٤٧٧). فى الاقضية: باب قضية هند)_

(٥) رواه البخارى. فى المزارعة: باب من احيا ارضا مواتًا. تعليقا. ومالک فى المؤطا موصولا: ٧٤٤/٢. فى الاقضية. باب القضاء فى عمارة الموات. رقم (١٤٢٥). عن ابن عمر رضي الله عنهما. ورواه غير واحد من الصحابة. انظر جامع الاصول: ٣٤٧/١_٣٥١. الكتاب السادس.....)_

(٦) زاد المعاد: ٤٨٩/٣_٤٩١. فصل فى ان من قتل قتيلا فله سلبه)_

⑲ باب: مَا كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يُعْطِي الْمُؤَلَّفَةَ قُلُوبُهُمْ وَغَيْرَهُمْ مِنَ الْخُمُسِ وَنَحْوِهِ

د ترجمة الباب مقصد دلته امام بخارى رحمه الله د مؤلفة القلوب مسئله بيانوى، دغه شان دا چې نبى عليه السلام به د خمس نه مؤلفة القلوب وغيره ته ورکول نو خبره هم هغه راغله چې نبى كريم ﷺ ته د غنيمتونو به معامله کښې مکمل اختيار حاصل وو. چرته چې به ئې مناسب ګڼړله نو خرچ به ئې ترې نه کوو چې په دې کښې مؤلفة القلوب هم داخل دى.

قاضى اسماعيل فرمائى **"فى إعطاء النبى صلى الله عليه وسلم للمؤلفة من الخمس دلالة على أن الخمس إلى الامام، يفعل فيه مايرى من المصلحة"**[1].

مؤلفة القلوب چاته وئيلې کيږى؟ د مؤلفة القلوب مختلف قسمونه دى:

① هغه خلق چې مسلمانان شوې خو وو ليکن اسلام د هغوى زړونو کښې مضبوط شوې نه وو، راسخ شوې نۀ وو. نبى عليه السلام به دغه خلقو ته مال ورکوو، دې دپاره چې اسلام ددې خلقو په زړونو کښې راسخ شى، ځکه چې قاعده ده چې **"الانسان عبد الاحسان"**.[2].

② دغه خلق خو کافر وو ليکن ددوى په باره کښې دا توقع وه چې کۀ دوى ځان ته نزدې کړې شى نو دوى به اسلام قبول کړى. دې خلقو ته به نبى كريم ﷺ د زړۀ د راښکلو دپاره مال ورکوو

③ هغه کفار وو د چا په باره کښې چې دا خطره وه چې دوى به خپلو ګاونډيانو مسلمانانو ته تکليف ورکړى. نو د مصلحت د وجې نه به دوى ته هم مال ورکړې کيدو.

په ترجمة الباب کښې د **"المؤلفة قلوبهم"** نه مخکښې دوه قسمونه او د **"وغيرهم"** نه آخرى قسم مراد دې[3].

دا رائې چې د وغيرهم نه د مؤلفة القلوب دريم قسم مراد دې، نو دا د بخارى د عام شارحينو رائې ده البته مؤلف رحمه الله چې په ترجمة الباب کښې کوم احاديث ذکر کړې دى، په هغې کښې د حضرت عمر او د حضرت زبير بن العوام رضى الله عنهما ذکر هم راغلې دې، دوى په دريم قسم کښې شاملول بالکل ممکن نۀ دى. د دوى ايمانى کيفيت خو ښکاره او معلوم دې، پاتې لا دا خبره چې دوى په کافرانو کښې داخل اوګڼړلې شى. ددې وجې نه به دا وئيلې شى چې لفظ د

---

[1] فتح البارى: ۶/۲۵۲)_

[2] اوګورئ. الاعجاز والايجاز للثعالبى: ۹۲/۱. والتمثيل والمحاضرة له: ما يتمثل به من ذکر الانسان...... وفوات الوفيات: ۱۵۳/۳. ترجمة السراج الوراق. رقم (۳۷۹))_

[3] عمدة القارى: ۱۵/۶۹. وفتح البارى: ۲۵۲/۶. واحکام القرآن للرازى: ۱۵۹/۳. البته ابن قدامه د مؤلفة القلوب شپږ قسمونه بيان کړې دى، دوه د کافرانو او څلور د مسلمانانو اوګورئ. المغنى: ۶ ۳۲۸_۳۲۹. باب قسمة الفيء..... المؤلفة قلوبهم.....فصل. رقم (۵۱۰۷))_

وغیرهم عام دي.په دې کښې د مؤلفة القلوب نه علاوه ټول داخل دي.د دريم قسم کافران او ټول مسلمانان او دا به ونيلې شي چې دلته د حضوراکرم ﷺ هغه اختيار کلي بيانولې شي والله أعلم

"ونحوه" کښې ضمير مجرور د الخمس طرفته راجع دې."أي ونحو الخمس" ددې نه د خراج مال، جزيه او مال فئ مراد دي.(۱).

د مؤلفة القلوب حصه اوس باقي ده يا نه؟ اوس سوال دادې چې د مؤلفة القلوب حصه باقي ده يا نه؟

د ائمه ثلثه په نزد د معتمد قول مطابق د مؤلفة القلوب حصه اوس هم په څۀ نه څۀ صورت کښې باقي ده،ساقطه نۀ ده.

ددې حضراتو يو قول د احتياج او د ضرورت د قيد سره هم مقيد دې،يعنی د هغوی حصه ساقط شوې ده ځکه چې اسلام ته اوس قوت وطاقت اوشان وشوکت حاصل شوې دې ليکن که څۀ وخت د دوی د زړۀ د راښکلو ضرورت پيښ شو نو دوی ته به حصه ورکولې شی.(۲).

د حنفيه قول دادې چې مؤلفة القلوب ته به حصه نۀ ملاويږی ځکه چې د دوی د حصې په ساقط کيدلو باندې د صحابه کرامو ﷺ اجماع شوې ده.(۳).د احنافو دليل د حضرت اقرع بن حابس او د عيينه بن حصن ﷺ واقعه ده.

لکه امام بيهقي وغيره روايت نقل کړې دې چې دا دواړه حضرات صديق اکبر ﷺ ته راغلل او د هغوی نه ئې تقاضه اوکړه،زمکه ئې اوغوښتله او يو خط ئې اوليکۀ.بيا دا دواړه حضرات حضرت عمر ﷺ ته ورغلل چې هغوی هم په دې خط باندې خپله ګواهي درج کړی حضرت عمر ﷺ هغه خط واخستۀ،په هغې ئې لاړې تهوک کړې او هغه ئې وران کړو.د ورانولو نه پس ئې اوشلوو.دا حضرات د غصې په حالت کښې حضرت صديق اکبر ﷺ ته راغلل او وې وئيل: "ما ندری،الخليفة أنت أم عمر؟!" صديق اکبر ﷺ اوفرمائيل "هو انشاء الله"، څومره عجيبه جواب ئې ورکړو!!

حضرت عمر ﷺ هغوی ته فرمائيلي وو چې اسلام هغه زمانه کښې ذليل وو،حضور ﷺ به ستاسو زړونه ساتل،اوس الله تعالى اسلام ته عزت ورکړې دې،لاړ شئ:څۀ مو چې خوښه وی هغه کوئ.اسلام اوس ستاسو نه بې پرواه دې،ددې وجې نه په اسلام باندې اوسيږئ.ګنی نو ستاسو او زمونږ مينځ کښې به فيصله توره اوکړی.(۴)

---

(۱) عمدة القاري:۶۹/۱۵.وفتح الباري:۲۵۲/۶)_

(۲) المؤطامع الاوجز:۹۰/۶.کتاب الزکاة،باب اخذ الصدقة ومن يجوز له اخذها،رقم (۲۹/۶۶))_

(۳) فتح القدير:۲۰۱/۲،واحکام القرآن للرازی:۱۶۱/۳،وفتح الملهم:۱۳۳/۵)_

(۴) سنن البيهقي الکبری:۳۲/۷،کتاب قسم التصرفات،باب سقوط سهم المؤلفة قلوبهم......رقم (۱۳۱۸۹)، واحکام القرآن للرزای:۱۶۰/۳_۱۶۱)_

دا د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه شان وو'''
حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم په دې مسئله کښې د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه موافقت اوکړو او په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې چا هم په دې باندې رد اونه کړو. ګویا دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم یو قسم اجماع منعقد شوه[1].
ددې واقعې نه معلومه شوه چې دا انتهاء الحکم بانتهاء علته د قبیل نه دې. لکه څنګه چې د رمضان مبارک ختمیدو سره د هغې حکم یعنی روژه هم ختمیږي. دغه شان ذل الاسلام هم دې. یعنی د مال ورکولو چې کوم علت وو د هغې ختمیدلو سره مؤلفة القلوب ته مال ورکول هم ختم شو. ورنه دوباره به د اسلام ذلیل کیدل لازم راشي. وذالایجوز.
دویم جواب دادې چې دلته د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع شوې ده. د شیخینو موافقت شوې دې او دا اجماع ناسخه ده او مذکوره حکم منسوخ شو[2].
خبرداري ابن رشد په بدایة المجتهد کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل کړې دی چې مؤلفة القلوب ته حصه ورکړې کیدې شي که چرته د امام په دې باندې رائې وی[3].
لیکن عثمانی رحمه الله دا نقل غریب ګرځولې دې او فرمائي:
"لم أجد هذا النقل عن أبي حنيفة، رحمه الله، في كتبنا إلى الآن، وليته ثبت!"[4].
بهرحال په دې مسئله کښې چې د احنافو کوم مسلک دې نو هغه څۀ د دلیل نه بغیر نۀ دې[5].
مؤلفة القلوب ته به د کوم ځائې نه ورکړې کیده؟ ددې نه پس په دې کښې هم د امامانو اختلاف دې چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به مؤلفة القلوب ته د کوم ځائې نه ورکوله؟
① د امام مالک او د یو جماعت خیال دادې چې هغوی ته به ئې د خمس نه ورکوله
② امام شافعی او د یو جماعت رائې داده چې دې خلقو ته به ئې د خمس الخمس نه ورکوله[6]. د امام بخاری رحمه الله رائې هم د امام مالک رحمه الله د رائې موافق ده کما مر.
قوله: رواه عبدُ الله بنُ زيد، عن النبي صلى الله عليه وسلم: [ر:۴۰۷۵]
دا خبره عبدالله بن زید د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کړې ده. عبدالله بن زید بن عاصم انصاری.

---

[1]) احکام القرآن:۳/۱۶۲. وفتح الملهم:۵/۱۳۴. وشرح النقایة:۱/۳۸۵. الزکاة. مصارف الزکاة)_
[2]) شرح النقایة:۱/۳۸۵. وفتح الملهم:۵/۱۳۴)_
[3]) بدایة المجتهد:۱/۲۷۵. کتاب الزکاة. الفصل الاول فی عدد الاصناف.....المسالة الثانیة)_
[4]) فتح الملهم:۵/۱۳۴)_
[5]) ددې مسئلې د نور وضاحت دپاره اوګورئ، احکام القرآن:۳/۱۶۰_۱۶۱. مطلب: فی المؤلفة القلوب. وفتح الملهم:۵/۱۳۳_۱۳۵. والموسوعة الفقهیة:۲۳/۳۱۹. و:۳۶/۱۳)_
[6]) فتح الباری:۶/۲۵۲. دغه شان اوګورئ، کشف الباری. کتاب المغازی:۵۵۳_۵۵۴)_

مزنی مدنی ﷺ مشهور صحابی دی.[۱]

د مذکوره تعلیق مقصد مؤلف رحمه الله چې په ترجمة الباب کښې خپله کومه دعوی ذکر کړې ده نو ددې تعلیق مقصد د هغې تقویت دې چې هم دا خبره د عبدالله بن زید نه روایت دې چې نبی کریم ﷺ به مؤلفة القلوب وغیره ته د خمس وغیره نه ورکوله

د مذکوره تعلیق تخریج په دې تعلیق کښې امام بخاری رحمه الله د حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه هغه اوږد حدیث شریف طرفته اشاره کړې ده کوم چې مؤلف په مغازی[۲] کښې د حنین د قصې لاندې موصولاً ذکر کړې دې،[۳] د امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام مسلم رحمه الله هم په کتاب الزکوة کښې دا حدیث موصولاً ذکر کړې دې.[۴]

ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت د حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه د حدیث ابتدائی جملې دادی "لما افاء الله علی رسوله صلی الله علیه وسلم یوم حنین، قسم فی الناس فی المؤلفة قلوبهم".

هم په دې الفاظو کښې ترجمة الباب سره د تعلیق مطابقت دې ځکه چې په دې کښې مؤلفة القلوب ته د ورکړې کیدو تذکره ده.[۵] ددې تعلیق نه علاوه امام بخاری رحمه الله په باب کښې لس احادیث ذکر کړې دی، په هغې کښې اولنې حدیث د حضرت حکیم بن حزام رضي الله عنه دې

۲۹۷۴[۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ رضي الله عنه قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ لِي «يَا حَكِيمُ، إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ، فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ، وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى». قَالَ حَكِيمٌ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لاَ أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَدْعُو حَكِيمًا لِيُعْطِيَهُ الْعَطَاءَ، فَيَأْبَى أَنْ يَقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا، ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ دَعَاهُ لِيُعْطِيَهُ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ، إِنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ الَّذِي قَسَمَ اللَّهُ لَهُ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ، فَيَأْبَى أَنْ يَأْخُذَهُ. فَلَمْ يَرْزَأْ حَكِيمٌ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ بَعْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى تُوُفِّيَ. [ر: ۱۳۶۱]

---

[۱] د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب لا یتوضا من الشک.....)_

[۲] صحیح البخاری، کتاب المغازی، باب غزوة الطائف، رقم (۴۳۳۰))_

[۳] فتح الباری: ۶/۲۵۲، وعمدة القاری: ۱۵/۷۰)_

[۴] صحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب اعطاء المؤلفة قلوبهم علی الاسلام، رقم (۲۴۴۶))_

[۵] فتح الباری: ۶/۲۵۲)_

[۶] قولهما: ان حکیم بن ...... الحدیث مر تخریجه فی کتاب الزکاة، باب الاستعفاف عن المسالة)_

رجال الحديث

①**محمد بن يوسف** دا محمد بن يوسف فريابى رحمه الله دې.د دوى تذكره په **كتاب العلم**، "باب ماكان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم....." كښې تيره شوې ده.[1]

②**الاوزاعى** دا مشهور محدث عبد الرحمن بن عمرو الاوزاعى رحمه الله دې د دوى تفصيلى حالات په كتاب العلم، "باب الخروج فى طلب العلم" كښې تير شوې دى.[2]

③**الزهرى** محمد بن مسلم ابن شهاب الزهرى رحمه الله اجمالى تذكره په "بدء الوحى" كښې تيره شوې ده.[3]

④**سعيد بن المسيب** دا مشهور محدث حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله دې.د دوى حالات د كتاب الايمان، "باب من قال: إن الايمان....." په ضمن كښې بيان شوې دى.[4]

⑤**عروه بن الزبير** د مشهور تابعى حضرت عروه بن الزبير رحمه الله تذكره اجمالى طور په "بدء الوحى" كښې تيره شوې ده.[5]

⑥**حكيم بن حزام** دا د نبى عليه السلام صحابى، حضرت حكيم بن حزام رضى الله عنه دې[6].

د حديث شريف ترجمه:حضرت حكيم بن حزام رضى الله عنه فرمائى چې ما د نبى عليه السلام نه طلب اوكړو، نبى عليه السلام ما ته راكړو، بيا ما سوال اوكړو، نبى عليه السلام بيا راكړو، بيا ئې اوفرمائيل.اې حكيم!دا مال ښائسته او خوشگوار دې، نو كوم سړې چې دا په نيک نيتئ سره اخلى نو د هغۀ په مال كښې بركت وى او څوک چې ئې لالچ او حرص سره اخلى نو د هغۀ په مال كښې بركت نۀ وى، بلكه هغه داسې شى چې خوراک كوى ليكن.....د هغۀ خيټه نۀ ډكيږى او پورته لاس د ښكته لاس نه غوره دې.حضرت حكيم فرمائى، ما اووئيل اې د الله رسوله!قسم په هغه ذات كوم ذات چې تاسو په حقه راليږلې ئې!زۀ به ستاسو نه پس د هيچا نه وانخلم، تردې چې دنيا پريږدم.نو حضرت ابوبكر به حضرت حكيم راغوښتو چې ورته څۀ وركړى ليكن هغوى به ترې هيڅ نۀ اخستل بلكه انكار به ئې كوو.بيا حضرت عمرفاروق رضى الله عنه طلب كړو چې څۀ ورته وركړى ليكن د هغوى نه ئې هم د اخستلو نه انكار اوكړو.(ددې صورت حال په ليدلو سره)عمرفاروق رضى الله عنه اوفرمائيل، اې د مسلمانانو ډلې!زۀ په حكيم باندې د هغۀ حق پيش كوم.كوم چې الله تعالى هغۀ دپاره په مال فئ كښې كيخودې دې ليكن هغه ئې د

---

[1]) كشف البارى:۳/۲۱۶)_

[2]) كشف البارى:۳/۳۵۳)_

[3]) كشف البارى:۱/۳۲۶،الحديث الثالث)_

[4]) كشف البارى:۲/۱۵۹)_

[5]) كشف البارى:۱/۲۹۱،تفصيلى حالاتو دپاره اوگورئ:كشف البارى:۲/۴۳۶)_

[6]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ، كتاب الزكاة،باب لا صدقة الا عن ظهر غنى)_

ملونو نه انکار کوی دغه شان حضرت حکیم بن حزام د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس تر مرګه پورې د خلقو نه هیڅ هم وانخستل الله اکبر!

خبرداری ددې حدیث مبارک تعلق چونکه کتاب الزکوة سره دې.ددې وجې نه ددې تشریح په هغه ذکر کړې(۱).

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت دا حدیث امام بخاری رحمه الله ددې وجې نه دلته ذکر کړی دی چې حضرت حکیم بن حزام رضی الله عنه په مؤلفة القلوب کښې وو(۲) نبی علیه السلام به په دې بندې باندې مختلفو موقعو باندې دوی ته مال وغیره ورکوو.چې د هغې ذکر په "سئلت فاعطان" کښې دی.نو مطابقت او موندلې شو(۳).

د باب دویم حدیث د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دی

۲۹۷۵ (۴). حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ- رضی الله عنه- قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيَّ اعْتِكَافُ يَوْمٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَفِيَ بِهِ. قَالَ وَأَصَابَ عُمَرُ جَارِيَتَيْنِ مِنْ سَبْيِ حُنَيْنٍ، فَوَضَعَهُمَا فِي بَعْضِ بُيُوتِ مَكَّةَ- قَالَ- فَمَنَّ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى سَبْيِ حُنَيْنٍ، فَجَعَلُوا يَسْعَوْنَ فِي السِّكَكِ فَقَالَ عُمَرُ يَا عَبْدَ اللَّهِ، انْظُرْ مَا هَذَا فَقَالَ مَنَّ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- عَلَى السَّبْيِ. قَالَ اذْهَبْ فَأَرْسِلِ الْجَارِيَتَيْنِ. قَالَ نَافِعٌ وَلَمْ يَعْتَمِرْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- مِنَ الْجِعْرَانَةِ وَلَوِ اعْتَمَرَ لَمْ يَخْفَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ.

رجال الحدیث

① **ابو النعمان** دا ابو النعمان محمد بن الفضل سدوسی رحمه الله دې د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب قول النبی صلی الله علیه وسلم، الدین النصیحة....." کښې تیره شوې ده(۵).

② **حماد بن زید**:دا حماد بن زید بن درهم رحمه الله دې د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب المعاصی من أمر الجاهلیة...." کښې تیر شوې دی(۶).

③ **ایوب** دا ایوب سختیانی رحمه الله دې د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب حلاوة الایمان" کښې

(۱) ددې حدیث بعضې تشریحات.کشف الباری.کتاب الرقاق:۳۹۷_۲۹۸کښې راغلې دی،

(۲) د مؤلفة القلوب د نومونو دپاره اوګورئ.کشف الباری.کتاب المغازی: ۵۵٤.مع حواله جات)_

(۳) عمدة القاری:۱۵ ۷۰.والکوثر الجاری:۶/۱۲۵)_

(۴) قوله: ان عمر.... "الحدیث.مر تخریجه فی الاعتکاف.باب الاعتکاف لیلا)_

(۵) کشف الباری:۲ ۷۶۸)_

(۶) کشف الباری:۲ ۲۱۹)_

راغلي ده(۱).

⊙نافع دا نافع د ابن عمر رحمه الله مولى دي د دوى تذكره په كتاب العلم "باب ذكر العلم والفتيا فى المسجد" كښې تيره شوې ده(۲).

⊙عمربن الخطاب د خليفه ثانى حضرت عمرفاروق رضي الله عنه اجمالى تذكره په "بدء الوحى" كښې بيان شوې ده(۳).

قوله: عن عمربن الخطاب رضى الله عنه قال: يارسول الله:

يو حديث او دري احكامات دا حديث اصل كښې په درې مختلف حكمونو باندې مشتمل دې.يا داسې اووايئ چې امام بخارى رحمه الله درې حديثونه په يو حديث كښې جمع كړې دي.څكه چې راوى د ټولو نافع عن ابن عمر رضي الله عنه دې.

اولنې حكم اعتكاف سره متعلق دې(٤).چې د هغې تشريح به ددې لاندې راشى.دويم حكم د غزوه حنين د قيديانو متعلق دې،چې د هغې تشريح دلته مقصوده ده.دا دويم حكم د و اصاب عمر جاريتين نه **قال:اذهب فارسل الجاريتين** پورې دې.دريم حكم عمرې سره متعلق دې.چې د "قال نافع:ولم يعتمر....." نه د حديث شريف د آخره پورې دې.ددې تشريح به په كتاب العمرة كښې راشى(٥).

قوله: وأصاب عمر جاريتين من سبى حنين،فوضعهما فى بعض بيوت مكة.......:او حضرت عمر رضي الله عنه ته د حنين په قيديانو كښې دوه وينځې حاصلې شوې،چې هغه دوى د مكې مكرمې په يو كور كښې حصارې كړې.فرمائى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم په هغه قيديانو باندې احسان اوكړو،نو دا قيديان د مكې مكرمې په لارو كوڅو كښې په منډو تړرو وو نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل،اې عبدالله!اوګوره؛څۀ خبره ده؟هغوى جواب كښې اوفرمائيل چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم قيديان آزاد كړې دى،عمر اوفرمائيل،لاړ شه؛دواړه وينځې آزادې كړه په دې حديث شريف كښې د بنو هوازن د دوو قيديانو ذكر دې،د قصې تفصيل تير شوې بابونو او په كتاب المغازى كښې تير شوې دې(٦).

---

(۱) كشف البارى:۲/۲٦)_

(۲) كشف البارى:۳/٦٥۱)_

(۳) كشف البارى:۱/۱۳۹.د باب د حديث په ارسال او اتصال كښې د راويانو اختلاف دې،د بحث دپاره اوګورئ. كشف البارى.كتاب المغازى:۵۳۸_۵۳۹)_

(٤) صحيح بخارى.كتاب الاعتكاف(الصوم).باب الاعتكاف ليلا.رقم (۲۰۳۲))_

(٥) كتاب الحج(العمرة).باب كم اعتمر النبى صلى الله عليه وسلم ؟)_

(٦) كشف البارى.كتاب المغازى:۵۳۲.باب قول الله تعالى:(ويوم حنين.....))_

دلته دا بيان كړې شوې دی چې د هوازن قيديان په غنيمتونو كښې تقسيم شو نو دوه وينزې د حضرت عمر رضي الله عنه په حصه كښې راغللې. چې كله د هوازن قيديانو اسلام قبول كړو نو نبى كريم صلی الله علیه وسلم د هغوی د آزادولو حكم اوكړو نو حضرت عمر رضي الله عنه هم د خپلې حصې دواړه وينزې آزادې كړې

وينزې دوه وې يا يو وه؟ بيا په دې خان پوهه كړئ چې په حديث شريف كښې د جاريتين ذكر دې چې وينزې دوه وې. او د مسلم شريف[۱] په روايت كښې صرف د يوې وينزې ذكر دې په دې دواړو روايتونو كښې تطبيق داسې دې چې وينزې اصل كښې دوه وې ليكن په هغې كښې يوه وينزه هغوی خپل ځوی عبدالله ته هبه كړې وه. ددغه هبه كړې شوې وينزې نوم قلابه وو او دويمه وينزه حضرت عمر رضي الله عنه خپل خان سره ساتلې وه لكه ابن اسحاق د نافع عن ابن عمر د طريق نه يو روايت نقل كړې دې. چې د هغې الفاظ دادی

"قال: بعثتُ جاريتي إلى أخوالي في بني جمح، ليصلحوا لي منها، حتى أطوف بالبيت، ثم أتيتهم، فخرجت من المسجد، فاذا الناس يشتدون، قلت: ما شانكم؟ قالوا: رد علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم نساءنا وابناءنا. فقلت: دونكم صاحبتكم، فهي في بني جمح، فانطلقوا، فاخذوها"[۲] (اللفظ للحافظ)[۳].

"ابن عمر رضي الله عنه فرمائی چې ما خپله وينزه قبيله جمح ته خپل ماما كره اوليږله. دې دپاره چې دغه خلق ئې زما دپاره تياره كړی، تردې چې زهٔ د بيت الله شريف د طواف نه فارغ شم. بيا هغوی ته راغلم او د مسجد نه راووتلم نو اومې كتل چې خلق منډې وهی ما تپوس اوكړو چې څهٔ خبره ده؟ دا شور او غوغا ولې ده؟ نو هغوی اووئيل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ ښځې او بچی مونږ ته واپس كړې دی. ما اووئيل چې خپلې ښځې ته لاړ شئ. هغه په بنی جمح كښې ده نو دا خلق هلته لاړل او هغه ئې هم خپل خان سره بوتله".

ددې روايت نه معلومه شوه چې يوه وينزه ابن عمر رضي الله عنه ته وركړې شوې وه.[۴] والله اعلم بالصواب

قوله: وَزَادَ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مِنَ الْخُمُسِ:

او جرير په خپل طريق كښې د "من الخمس" اضافه نقل كړې ده

د مذكوره تعليق مقصد: ددې تعليق دوه مقصدونه دی:

يو خو د حماد بن زيد پورته ذكر كړې شوې روايت مرسل وو ځكه چې د نافع د عمر رضي الله عنه نه سماع ثابته نهٔ ده بلكه ليدل ئې هم ثابت نهٔ دی او د جرير بن حازم[۴] روايت مسند دې ځكه چې په دې كښې هغوی د ابن عمر نه نقل كوی

---

[۱] صحيح مسلم، كتاب الايمان، باب نذر الكافر، وما يفعل فيه اذا اسلم، رقم (۴۲۹۴)ـ
[۲] سيرة ابن هشام: ۴/۱۳۳، امر اموال هوازن.....وفتح الباری: ۸/۳۶ـ
[۳] فتح الباری: ۸/۳۶)ـ
[۴] د جرير د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الصلاة، باب الخوخة ولممر فی المسجد)ـ

لـه امام دارقطني رحمه الله فرمائي چې د جرير روايت اگرچه موصول او مسند دې او د حماد بن زيد هغه مرسل دې.ليکن راجح روايت د حماد بن زيد دې.ځکه چې هغه د ايوب سختيانى په روايتونو کښې د جرير نه زيات ثابت او قوى دې.(١) دويم مقصد دا ښودل دى چې د حضرت عمر په حصه کښې کومې دوه وينزې راغلې وې نو هغه د خمس وې(٢).

د مذکوره تعليق تخريج ددې تعليق تخريج امام مسلم رحمه الله په کتاب الايمان(٣)کښې موصولاً او مسنداً کړې دې.(٤).

قوله: وَرَوَاهُ مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ فِي النَّذْرِ وَلَمْ يَقُلْ يَوْمَ: [ر:۱۹۲۷]

او د اعتکاف والا حديث معمر د ايوب عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنه د طريق نه د نذر په حديث کښې نقل کړې دې او په هغې کښې د يوم اضافه نشته.

د مذکوره تعليق مقصد ددې تعليق مقصد دادې چې د اعتکاف والا حديث د معمر د طريق نه هم روايت دې ليکن په هغې کښې د يو ذکر نشته بلکه د مطلق نذر ذکر دې.

د تعليق تخريج دا تعليق امام بخارى رحمه الله موصولاً په کتاب المغازى(٥)کښې ذکر کړې دې.(٦).

ترجمة الباب سره د حديث مناسبت:ترجمة الباب سره ددې حديث مناسبت د حديث په ابتدائى حصه "واصاب عمر جاريتين من سبى حنين" کښې دې ځکه چې دا وينزې د خمس وې چې غير المؤلفة يعنى حضرت عمر رضي الله عنه ته ورکړې شوې.هم دا خبره د جرير په تعليق کښې هم راغلې ده.(٧) والله أعلم بالصواب

دريم حديث د حضرت عمرو بن تغلب رضي الله عنه دې

٢٩٧٦ (٨) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ -رضى الله عنه- قَالَ أَعْطَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَوْمًا وَمَنَعَ آخَرِينَ ،فَكَأَنَّهُمْ عَتَبُوا عَلَيْهِ فَقَالَ «إِنِّى أُعْطِى قَوْمًا أَخَافُ ظَلَعَهُمْ وَجَزَعَهُمْ،وَأَكِلُ أَقْوَامًا

---

(١) عمدة القارى:۱۵/۷۱.وفتح البارى:۲۵۳/۶.وشرح القسطلانى:۲۲٤/۵.وشرح علل الترمذى لابن رجب، ترجمة حماد بن زيد بن درهم:۴۶۳/۱)_

(٢) عمدة القارى:۱۵/۷۱.وشرح القسطلانى:۲۲٤/۵.والكوثر الجارى:۱۲۵/۶_۱۲۶)_

(٣) صحيح مسلم.كتاب الايمان.باب نذر الكافر.....رقم (٤٢٩٤))_

(٤) تغليق التعليق:۴۸۰/۳)_

(٥) صحيح بخارى.كتاب المغازى.باب قول الله تعالى:(ويوم حنين.....).رقم (٤٣٢٠))_

(٦) تغليق التعليق:۴۸۰/۳.وفتح البارى:۲۵۳/۶)_

(٧) عمدة القارى:۱۵/۷۰.وفتح البارى:۲۵۲/۶.والكوثر الجارى:۱۲۵/۶_۱۲۶.واللامع:۳۱۲/۷)_

(٨) قوله: حدثنى عمرو.....":الحديث.مر تخريجه فى كتاب الجمعة.باب من قال فى الخطبة.....)_

إِلَى مَا جَعَلَ اللَّهُ فِي قُلُوبِهِمْ مِنَ الْخَيْرِ وَالْغِنَى ، مِنْهُمْ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ». فَقَالَ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ مَا أُحِبُّ أَنَّ لِي بِكَلِمَةِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حُمْرَ النَّعَمِ.

رجال الحديث

①**موسى بن اسماعيل** دا موسى بن اسماعيل تبوذكى بصرى رحمه الله دي. د دوى تذكره اجمالا د بدء الوحى په "الحديث الرابع" كښې تيره شوې ده.[1]

②**جرير بن حازم** دا جرير بن حازم "بالحاء المهملة والزاى" رحمه الله دي.[2]

③**حسن** دا مشهور تابعى بزرگ حضرت امام حسن بصرى رحمه الله دي د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب المعاصى من أمرالجاهلية...." كښې راغلي دى.[3]

④**عمرو بن تغلب** دا د نبى عليه السلام صحابى حضرت عمرو بن تغلب نمرى رضي الله عنه دي.[4]

قال: أعطى رسول الله صلى الله عليه وسلم قوماً، ومنع آخرين، فكأنهم عتبوا عليه

حضرت عمرو بن تغلب رضي الله عنه فرمائى چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بعضې خلقو ته څۀ وركړل او بعضو ته نۀ. گويا كه محروم پاتې كيدونكې د نبى عليه السلام نه خفه شو خليل فرمائى چې عتاب هغې شكايت او د خفگان اظهار ته وئيلې شى چې د ناز په طور سره وى.[5]

قوله: فَقَالَ: إِنِّي أُعْطِي قَوْماً أَخَافُ ظَلَعَهُمْ وَجَزَعَهُمْ: نو نبى عليه السلام اوفرمائيل چې زۀ هغې خلقو ته وركوم، چې د كومو خلقو متعلق ما ته د زړۀ د مرض او كمزورتيا او د يقين د كمزورئ او د ژړا، فرياد كولو ويره وى. ظلعهم ظاء او لام سره كوړوالى ته وئيلې شى. دلته ددې نه مراد د ايمان كمزورتيا او د زړۀ مرض دې.[6] په دې جمله كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بعضې خلقو ته د مال وركولو علت او وجه بيان كړې ده چې د هغوى د ايمان د كمزورتيا د وجې نه هغوى ته مال وركوم، چې چرته دا خلق واپس نۀ شى.

قوله: وَأَكِلُ أَقْوَاماً إِلَى مَا جَعَلَ اللَّهُ فِي قُلُوبِهِمْ مِنَ الْخَيْرِ وَالْغِنَى: او بعضې قومونه الله تعالى ته حواله كړم د كومو خلقو په زړونو كښې چې الله تعالى خير او استغنا كيخودلې وى.

مطلب دادې چې د اول قسم خلقو په مقابله كښې دا دويم قسم خلق دى. كوم چې د مال

---

[1]) كشف البارى:۱/۴۳۳)_
[2]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ، كتاب الصلاة، باب الخوخة والممر فى المسجد)_
[3]) كشف البارى:۲/۲۲۰)_
[4]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ، كتاب الجمعة، باب من قال فى الخطبة بعد الثناء: اما بعد)_
[5]) عمد القارى:۱۵/۷۱، والقسطلانى:۵/۲۲٤، وكتاب العين:۲/۷۵، باب العين والتاء والياء.....)_
[6]) عمدة القارى:۱۵/۷۱، وارشاد السارى:۵/۲۲۵، وفتح البارى:۶/۲۵۳)_

وغيره نه مستغني او بې پرواه دی.ددوی زړونه د خيربښيګړې نه ډک دی.دا خلق د مال وغيره نه بغير هم په خپل ايمان و يقين باندې مضبوط دی او مضبوط به وی.نو د داسې خلقو معامله څه ګرانه نۀ ده.نۀ د دوی نه څۀ ويره او خطره شته.

ددې نه علاوه د اول قسم خلق ډير کم وی بلکه د اولې زمانې نه تر نن زمانې پورې د داسې خلقو ډيروالی او کثرت دې.چې نه په پيسو خرڅيږی او نۀ دين بدلوی.غالبا د نبی ﷺ په ارشاد مبارک کښې هم دې دې نکتې طرفته اشاره ده چې د اول قسم خلقو دپاره ئې "قوم" او د دويم قسم خلقو دپاره ئې د "اقوام" لفظ ارشاد اوفرمائيلو چې د جمع صيغه ده او په کثرت او ډيروالی باندې دلالت کوی.

"غنی" باندې کسره ده او الف مقصوره دې،دا د فقر(غريبئ) ضد دې.(١)

قوله: منهم عمرو بن تغلب: چې په دوی کښې عمرو بن تغلب هم دې.

يعنی الله تعالی دوی هم په دويم قسم خلقو کښې ساتلې دی،دوی د مال وغيره نه بې پرواه دی او زړونه ئې د خير ښيګړې نه ډک دی،که دوی مال ورهم نه کړې شی نو هيڅ خطره نشته

قوله: فقال عمرو بن تغلب: ما أحب أن لي بكلمة رسول الله صلى الله عليه وسلم حمر النعم: نو عمرو بن تغلب رضی الله عنه فرمائی چې ما ته د نبی کريم ﷺ د مذکوره ارشاد په عوض کښې سرۀ اوښان هم خوښ نۀ دی.په **بكلمة** کښې باء د بدليت او د عوض دپاره ده او نعم د نون د فتحې سره دې،او دا د جوهری د قول مطابق د الانعام واحد دې.ددې عام طور سره اطلاق په اوښ باندې کيږی.او حمر د حاء د ضمې سره او د ميم د سکون سره دې(٢).بيا دا ياد ساتئ چې حمر منصوب دې،ځکه چې دا د أن اسم مؤخر دې

ددې جملې دوه مطلبونه دی: د حضرت عمرو بن تغلب رضی الله عنه ددې جملې دوه مطلبونه دی.

① **بكلمة رسول الله.......** ددې نه مراد هغه کلام دې کوم چې نبی کريم ﷺ د حضرت عمرو بن تغلب په باره کښې ارشاد فرمائيلې وو چې دې هم د هغه خلقو نه دې او په هغوی کښې داخل دې.کومو خلقو ته چې الله تعالی د زړۀ ښيګړه او د مال نه بې پرواهی نصيب کړې ده نو ددې جملې د وجې نه چې هغوی ته څومره قدرې خوشحالی ملاؤ شوه چې د هغوی د قول مطابق که ددې په بدله کښې ورته سرۀ اوښان هم ملاؤ شوې وو نو دومره قدرې به خوشحاله نۀ وو.

② د کلمې نه مراد هغه جمله ده کومه چې نبی کريم ﷺ د اولنی قسمه خلقو(ضعفاء الايمان ومرضی القلوب) په باره کښې ارشاد اوفرمائيله په دې صورت کښې مطلب دادې چې په دوی کښې زما د نۀ شاملولو د وجې نه چې ما ته په دې باندې کومه خوشحالی ملاؤ شوه نو

(١) پورته حواله جات)_

(٢) الصحاح للجوهری:١٠٥٤،مادة نعم"،وعمدة القاری:٧١/١٥،وارشاد الساری:٢٢٥/٥)_

هغومره خوشحالی به ماته د سرو اوښانو په ملاویدو باندې هم ملاؤ شوې نه وه(۱). د حمر النعم د تخصیص وجه واضحه ده چې سور اوښ به د عربو په نزد د ټولو نه قیمتی مال وو والله اعلم بالصواب.

وَزَادَ أَبُو عَاصِمٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ الْحَسَنَ يَقُولُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أُتِيَ بِمَالٍ أَوْ بِسَبْيٍ فَقَسَمَهُ. بِهَذَا: [ر: ۸۸۱]

د ابوعاصم نه مراد ضحاک دې، چې په النبیل سره مشهور وو(۲)

د مذکوره تعلیق مقصد: ددې تعلیق مقصد واضح دې. هغه دادې چې د باب په حدیث کښې اختصار دې. دغه شان په دې کښې چې د کوم څیز د ورکولو او د نه ورکولو تذکره ده د هغې نه مراد مال یا قیدی دې کوم چې نبی کریم ﷺ تقسیمول. ددې وجې نه د ابوعاصم روایت د باب دحدیث په نسبت زیات واضح دې. دکشمهینی په روایت کښې دسبی په ځائې شیئ یعنی شین سره دې اوهم دا روایت زیات غوره دې ځکه چې دا ټولو څیزونو ته شامل اوعام دې(۳).

د مذکوره تعلیق تخریج: دا تعلیق امام بخاری رحمه الله په کتاب الجمعه (۴)کښې موصولاً نقل کړې دې(۵).

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حدیث شریف مطابقت د حدیث په ابتدائی حصه کښې دې، یعنی "أعطى رسول الله صلى الله عليه وسلم قوماً ومنع آخرين" چې "نبی علیه السلام بعضې خلقو ته مال ورکړو او بعضو ته ئې ورنه کړو" ددې نه چې څنګه دا ثابتیږی چې امام ته په دې کارونو کښې مطلق اختیار دې نو دغه شان دا هم ثابتیږی چې نبی علیه السلام به مؤلفة القلوب ته مال ورکوو.

څلورم حدیث شریف د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې.

۲۹۷۷/۲۹۷۸: (۶) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنِّي أُعْطِي قُرَيْشًا أَتَأَلَّفُهُمْ، لأَنَّهُمْ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ».

---

(۱) فتح الباری:۲۵۳/۶، وعمدة القاری:۷۱/۱۵، وارشاد الساری:۲۲۵/۵)_

(۲) د دوی حالاتکشف الباری، باب القراءة والعرض.....:۱۲۹/۳کښې راغلي دي،

(۳) فتح الباری:۲۵۳/۶، وعمدة القاری:۷۱/۱۵، وارشاد الساری:۲۲۵/۵)_

(۴) صحیح البخاری، کتاب الجمعة، باب من قال فی الخطبة بعد الثناء......رقم (۹۲۳))_

(۵) عمدة القاری:۷۱/۱۵، وفتح الباری:۲۵۴/۶، وتغلیق التعلیق:۳۴۸۱، وشرح القسطلانی:۲۲۵/۵)_

(۶) قوله: عن انس.... ": الحدیث اخرجه البخاری ایضا، نفس هذا الباب، رقم (۳۱۴۷)، وکتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ، باب ابن اخت القوم منهم.....رقم (۳۵۲۸)، وکتاب مناقب الانصار، باب مناقب الانصار، رقم (۳۷۷۸)، وباب قول النبی ﷺ للانصار.....رقم (۳۷۹۳)، وکتاب المغازی، ....[بقیه برصفحه آئنده...

رجال الحديث

①ابوالوليد دا ابو الوليد هشام بن عبدالملک طيالسی رحمه الله دي د دوی حالات په کتاب الايمان، "باب علامة الايمان حب الانصار" کښې تير شوي دی(١).
②شعبه دا امير المؤمنين فی الحديث شعبه بن الحجاج عتکی بصری رحمه الله دي د دوی تذکره په کتاب الايمان، "باب المسلم عن سلم المسلمون من..... "کښې تيره شوي ده (٢).
③قتاده دا قتاده بن دعامه رحمه الله دي
④انس دا د نبی عليه السلام صحابی، حضرت انس بن مالک رضي الله عنه دي ددي دواړو حضراتو تذکره په کتاب الايمان، "باب من الايمان ان يحب لاخيه..... "کښې تير شوي دی(٣).

د حديث شريف ترجمه د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چې زه قريشو ته ورکوم، نو دا هغوی خپل ځان سره د اموخته(مانوس)کولو دپاره. ځکه چې دا زمانه جاهليت سره نزدې دی.
پنځم حديث شريف هم د حضرت انس رضي الله عنه دي.

٢٩٧٨ (٤) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ قَالُوا لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ -صلى الله عليه وسلم- مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ، فَطَفِقَ يُعْطِي رِجَالاً مِنْ قُرَيْشٍ الْمِائَةَ مِنَ الإِبِلِ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُنَا، وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ قَالَ أَنَسٌ فَحُدِّثَ رَسُولُ اللَّهِ بِمَقَالَتِهِمْ، فَأَرْسَلَ إِلَى الأَنْصَارِ، فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ، وَلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ أَحَدًا غَيْرَهُمْ، فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «مَا كَانَ حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ». قَالَ لَهُ فُقَهَاؤُهُمْ أَمَّا ذَوُو آرَائِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا، وَأَمَّا أُنَاسٌ مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَتْرُكُ الأَنْصَارَ، وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله

بقيه ازحاشيه گذشته] باب غزوة الطائف، رقم (٤٣٣١_٤٣٣٤، و٤٣٣٧)، وكتاب اللباس، باب القبة الحمراء من ادم، رقم (٥٨٦٠)، وكتاب الفرائض، باب مولى القوم من انفسهم.....رقم (٦٧٦٢)، وكتاب التوحيد، باب قول الله تعالى: (وجوه يومئذ ناضرة....)، رقم (٧٤٤١)، ومسلم، كتاب الزكاة، باب اعطاء المؤلفة.....رقم (٢٤٣٦_٢٤٤٢). والترمذی، كتاب المناقب، باب فضل الانصار وقريش، رقم (٣٩٠١)._
(١) كشف البارى: ٢/٣٨_
(٢) كشف البارى: ١/٦٧٨_
(٣) كشف البارى: ٢/٣_٤_
(٤) قوله: اخبرنی انس.... الحديث، مر تخريجه فی الحديث السابق آنفًا_

علیه وسلم - «إني أعطي رجالاً حديث عهدهم بكفر، أما ترضون أن يذهب الناس بالأموال وترجعون إلى رحالكم برسول الله - صلى الله عليه وسلم -، فوالله ما تنقلبون به خير مما ينقلبون به». قالوا بلى يا رسول الله قد رضينا. فقال لهم «إنكم سترون بعدي أثرة شديدة، فاصبروا حتى تلقوا الله ورسوله - صلى الله عليه وسلم - على الحوض». قال أنس فلم نصبر. [۳۵۶۷، ۳۳۲۷، ۳۵۸۲، ۴۰۷۶_۴۰۷۹، ۴۰۸۲، ۵۵۲۲، ۶۳۸۱، ۷۰۰۳]

رجال الحديث

(۱) **ابو الیمان** دا ابو الیمان حضرت حکم بن نافع رحمه الله دي

(۲) **شعیب** دا شعیب بن ابی حمزه رحمه الله دي ددې دواړو حضراتو حالات اجمالاً د بدء الوحی په "الحدیث الثالث" کښې تیر شوې دی.(۱)

(۳) **زهری** دا محمد بن مسلم ابن شهاب زهری رحمه الله دي ددوی حالات هم د بدء الوحی د "الحدیث الثالث" په ضمن کښې بیان شوې دی.(۲)

(۴) **انس** د حضرت انس رضی الله عنه تذکره په کتاب الایمان، "باب من الایمان..... "کښې تیره شوې ده.(۳)

خبرداري امام بخاری رحمه الله د باب لاندې د حضرت انس رضی الله عنه مشهور حدیث اجمالاً او تفصیلاً دواړو طریقو سره نقل کړې دې. ددې تشریح په مغازی کښې راغلې ده.(۴)

د باب څلورم حدیث د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه دي

۲۹۷۹ (۵) حدثنا عبد العزيز بن عبد الله الأويسي حدثنا إبراهيم بن سعد عن صالح عن ابن شهاب قال أخبرني عمر بن محمد بن جبير بن مطعم أن محمد بن جبير قال أخبرني جبير بن مطعم أنه بينا هو مع رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ومعه الناس مقبلا من حنين، علقت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - الأعراب يسألونه حتى اضطروه إلى سمرة، فخطفت رداءه، فوقف رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فقال «أعطوني ردائي، فلو كان عدد هذه العضاه نعما لقسمته بينكم، ثم لا تجدوني بخيلا ولا كذوبا ولا جبانا». [ر ۲۶۶۶]

---

(۱) کشف الباری: ۱/ ۴۷۹_۴۸۰)_

(۲) کشف الباری: ۱/ ۳۲۶)_

(۳) کشف الباری: ۲/ ۴)_

(۴) کشف الباری، کتاب المغازی: ۵۵۲_۵۵۹)_

(۵) قوله: اخبرنی جبیر..... = مر تخریجه في الجهاد، انظر کشف الباری، کتاب الجهاد: ۱/۲۲۲)_

رجال الحديث

①عبدالعزيز بن عبدالله الاويسى دا عبد العزيز بن عبد الله اويسى رحمه الله دې د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب الحرص على الحديث" كښې تيره شوې ده.[1]

②ابراهيم بن سعد دا ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن عبد الرحمن بن عوف رحمه الله دې

③صالح دا صالح بن كيسان رحمه الله دې ددې دواړو حضراتو تذكره په كتاب الايمان، "باب من كره ان يعود فى الكفر..... "كښې تيره شوې ده.[2]

④ابن شهاب دا محمد بن مسلم ابن شهاب زهرى رحمه الله دې د دوى تذكره په "بدء الوحى" كښې تيره شوې ده.[3]

⑤عمر بن محمد بن جبير بن مطعم: دا د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه نومسي عمر بن محمد رحمه الله دې د دوى حالات په كتاب الجهاد، "باب الشجاعة فى الحرب والجبن" كښې تير شوې دى.[4]

⑥محمد بن جبير دا محمد بن جبير بن مطعم نوفلى رحمه الله دې.[5]

⑦جبير بن مطعم دا ابو محمد جبير بن مطعم نوفلى رضي الله عنه دې.[6]

د حديث شريف ترجمه: حضرت جبير رضي الله عنه فرمائى چې د حنين نه د واپسئ دوران كښې كله چې زۀ د رسول الله مبارك ﷺ سره ووم او نور خلق هم ورسره وو. بدوى خلق نبى ﷺ پورې وينختل. هغوى د نبى ﷺ نه مال غوستۀ. تردې چې هغوى نبى ﷺ د كيكر يو اونې سره په پناه اختلو باندې مجبور كړو نو كيكر د نبى ﷺ څادر مبارك رانښكۀ. ددې وجې نه نبى ﷺ اودريدۀ او وې فرمائيل. زما څادر ما ته راكړه كه ماسره ددې ازغى دار اونو برابر هم څناور (څاروى) وو نو ټول به ما په تاسو كښې تقسيم كړې وو. بيا به تاسو ما نۀ بخيل گڼئ. نۀ دروغژن او نۀ بزدل

ددې حديث شريف تفصيلى تشريح چونكه په كتاب الجهاد[7] كښې تيره شوې ده. ددې وجې نه مونږ دلته صرف په ترجمه باندې اكتفا كړې ده

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ددې حديث شريف مطابقت ترجمة الباب سره په

---

[1]) كشف البارى:۳/ ۳٤)_
[2]) كشف البارى:۲/ ۱۲۰_۱۲۱)_
[3]) كشف البارى:۱/ ۳۲۶.الحديث الثالث)_
[4]) كشف البارى.كتاب الجهاد:۱/ ۲۲۳)_
[5]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ.كتاب الاذان.باب الجهر فى المغرب)_
[6]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ.كتاب الغسل.باب من افاض على راسه ثلاثا)_
[7]) كشف البارى.كتاب الجهاد:۱/ ۲۲٤_۲۲۸)_

دي جمله کښې ده. "لقسمته بينكم"(۱) چې "مال به ستاسو مینځ کښې تقسیم کړې وو" خکه چې دا بنو تمیمیان هم په مؤلفة القلوب کښې دی ددې وجې نه دا جمله نبی ﷺ د هغوی د تسلی او د زړه د ساتلو دپاره ارشاد فرمائیلې ده

۷۰ حدیث د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دی

۲۹۸. (۲) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ، فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ جَبْذَةً شَدِيدَةً، حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ أَثَّرَتْ بِهِ حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ، ثُمَّ قَالَ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ. فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ، فَضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ. [۵۴۷۲، ۵۷۳۸]

رجال الحديث

① **يحيى بن بكير**: دا يحيى بن عبدالله بن بكير رحمه الله دی. د دوی حالات بدء الوحی کښې "الحديث الثالث" کښې تیر شوي دی.(۳)

② **مالک**: دا امام دارالهجرة امام مالک بن انس رحمه الله دې. د دوی حالات بدء الوحی کښې "الحديث الثاني" کښې دی.(۴)

③ **اسحاق بن عبد الله**: دا مشهور تابعی ابویحيٰ اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه انصاری رحمه الله دې ددوی تذکره په کتاب العلم، "باب من قعد حيث ينتهي به المجلس" کښې تیره شوې ده.(۵)

④ **انس بن مالک**: د حضرت انس رضی الله عنه تذکره په کتاب الايمان، "باب من الايمان أن يحب......" کښې تیرې شوې دی.(۶)

قوله: قال: كنت أمشي مع النبي صلى الله عليه وسلم، وعليه برد نجراني غليظ

---

(۱) عمدة القاری: ۷۳/۱۵، حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی لقسمة بينكم "فيه الترجمة: حيث لم يكن هؤلاء كملا في ايمانهم، والا لما فعلوا ما فعلوا". لامع الدراری: ۳۱۳/۷)_

(۲) قوله: عن انس.... "الحديث، اخرجه البخاری ایضا، کتاب اللباس، باب البرود والحبرة والشملة، رقم (۵۸۰۹). وكتاب الادب، باب التبسم والضحک، رقم (۶۰۸۸)، ومسلم، کتاب الزكاة، باب اعطاء من سال بفحش وغلظة، رقم (۲۴۲۹_۲۴۳۰)، وابن ماجه، کتاب اللباس، باب لباس رسول الله صلی الله علیه وسلم، رقم (۳۵۵۳))_

(۳) کشف الباری: ۳۲۳/۱)_

(۴) کشف الباری: ۲۹۰/۱، والایمان: ۸۰/۲)_

(۵) کشف الباری: ۱۸۲/۳)_

(۶) کشف الباری: ۴/۲)_

الحاشية: حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چې زۀ نبی کریم ﷺ سره روان ووم. د دوی په بدن مبارک باندې د نجران جوړ کړې شوې يو څادر وو. چې د هغې غاړې پلنې وې. نجران د يمن د يو ښار نوم دې. چې د هغې څادرونه به مشهور وو او برد د هغې څادر نوم دې چې د هغې جمع برود او ابراد دهٔ(۱).

قوله فأدركه أعرابي، فجذبه جذبة شديدة، حتى نظرت إلى صفحة عاتق النبي صلى الله عليه وسلم، قد أثرت به حاشية الرداء، من شدة جذبته: نو يو اعرابی نبی ﷺ اونيولو او ډېرې سختئ سره ئې د نبی ﷺ څادر مبارک راښکهٔ نو ما اوکتل چې د نبی ﷺ په څټ مبارک باندې د هغې څادر د راښکلو د وجې نه نښې جوړې شوې

دلته په دې روايت کښې جذبه راغلې دې. او د مسلم شريف په روايت کښې جبذه راغلې دې(۲). البته د دواړو معنی يوه ده. يعنی راښکل

عاتق خو څټ ته وئيلې شی او د صفحه معنی ده غاړه او کناره. يعنی د څټ غاړه(۳).

قوله: ثم قال: مر لي من مال الله الذي عندك: بيا هغهٔ اووئيل چې تاسو سره د الله تعالی درکړې شوې کوم مال دې، د هغې نه ماته د راکولو حکم اوکړئ

مطلب دادې چې تاسو د خپل بيت المال ذمه دارانو ته اووايئ چې د الله تعالی په مال کښې ماته هم څهٔ راکړی. ستاسو د خپل مال نه نهٔ، نهٔ ستاسو د والد صاحب د ګټلې شوې مال نه. بلکه د هغه مال نه کوم چې ستاسو په خپل محنت سره ګټلې شوې نهٔ دې لکه په يو روايت کښې دا الفاظ هم دی: "لا من مالك، ولا من مال أبيك"(۴). او بعضې حضراتو وئيلې دی چې ددې نه مراد د زکوة مال دې، ځکه چې نبی ﷺ به ددې نه په مؤلفة القلوب باندې خرچ کوو (۵).

قوله: فالتفت إليه، فضحك، ثم أمر له بعطاء: نبی ﷺ د هغهٔ طرفته متوجه شو، بيا ئې اوخندل. بيا ئې هغهٔ ته د څهٔ (مال) ورکولو حکم اوفرمائيلو.

مطلب دادې اول خو ئې د حيرانتيا په طور سره ورته اوکتل. بيا ئې د مزې په طور اوخندل(۱). ددې حديث شريف نه د نبی کريم ﷺ د لوئې صبر او برداشت ښهٔ اظهار کيږی چې نبی ﷺ

(۱) عمدة القاري:۱۵/۷۳. وفتح الباري:۱۰/۵۰۶. وشرح القسطلاني:۵/۲۲۶)_
(۲) مسلم شريف. كتاب الزكاة. باب اعطاء من سال بفحش وغلظة. رقم (۲۴۲۹_۲۴۳۰))_
(۳) عمدة القاري:۱۵/۷۳. وشرح القسطلاني:۵/۲۲۶. وفتح الملهم:۵/۱۳۵)_
(۴) فتح الباري:۱۰/۵۰۶. وفتح الملهم:۵/۱۳۶)_
(۵) بورته حواله جات)_
(۶) فتح الملهم:۵/۱۳۶. والكوثر الجاري:۶/۱۲۸)_

مبارک به د خلقو په تکلیفونو او بیوقوفتوب باندې څومره قدرې د صبر نه کار اخستلو(۱).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په آخرې جمله کښې دې. "**ثم أمر له بعطاء**" چې نبي علیه السلام د دغه بانډيچي په عجيبه انداز سره د سوال کولو باوجود هم هغه ته د مال ورکولو حکم اوفرمائيلو .هم دا د زړه ساتل دی(۲).

يو اهمه فائده د حضرت انس رضي الله عنه دا حديث امام بخاري رحمه الله صرف د امام مالک د طريق نه نقل کړې دې. کوم چې د اسحاق بن عبدالله نه روايت کوی.هم دا حديث امام مسلم رحمه الله هم نقل کړې دې.هغوی دا د امام مالک نه علاوه د امام اوزاعی.همام بن منبه او عکرمة بن عمار د طريق نه هم نقل کړې دې ليکن هلته هم اصل روايت د مالک دې.او د نورو حضراتو طرق د بعضې زياتی فائدو د بيانولو په غرض سره نقل کړې شوې دی(۳)

بيا په دې خان پوهه کړئ چې دا حديث د مؤطا په مشهورو نسخو کښې نشته.

امام دارقطني رحمه الله فرمائي: "**لم أر هذا الحديث عند أحد من رواة المؤطا، إلا عند يحيى بن بكير ومعن بن عيسى، ورواه جماعة من رواة المؤطا عن مالك، لكن خارج المؤطا**"(۴).

چې "د مؤطا کوم راويان دی نو په هغوی کښې د يو کس په نسخه کښې هم ما دا روايت نه دې ليدلې.سوا د يحيى بن بکير او معن بن عيسى د نسخې نه او د مؤطا د راويانو يو جماعت(ډله)دا حديث د امام مالک نه نقل کړې دې.ليکن د مؤطا نه علاوه"

او ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي چې د مؤطا دوو راويانو مصعب بن عبدالله زبيری او سليمان بن صرد هم په خپلو خپلو نسخو کښې دا حديث ذکر کړې دې(۵).البته د برصغير په نسخو کښې دا حديث نه موندلې کيږی.والله اعلم بالصواب

د باب اتم حديث د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې.

۲۹۸۱ (۶) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضی الله عنه قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ آثَرَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أُنَاسًا فِي الْقِسْمَةِ

---

(۱) پورته حواله جات.وفتح الباری:۱۰/۵۰۶.وعمدة القاری:۱۵/۷۳)_

(۲) عمدة القاری:۱۵/۷۳.وفتح الباری:۶/۲۵٤.ولا مع الدراری:۷/۳۱۳)_

(۳) فتح الباری:۱۰/۵۰۶.د او په صحيحينو کښې د حديثِ د خايونو پيژندګلو وړاندې په تخريج کښې کړې شوې ده)_

(٤) فتح الباری:۱۰/۵۰۶)_

(۵) پورته حواله ددې حديث مزيد تشريح دپاره اوګورئ.کشف الباری.کتاب الادب.باب التبسم والضحک:۴۸۷_۴۹۱)_

(۶) قوله: عن عبدالله(رضي الله عنه)":الحديث.اخرجه البخاری ايضا.کتاب احاديث الانبياء.باب(بلا ترجمة)بعد باب حديث الخضر...رقم(۳٤۰۵)وکتاب المغازی.باب غزوة الطائف.رقم(٤۳۳۵_٤۳۳۶)].[بقيه برصفحه آئنده...

فَأَعْطَى الأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ مِائَةً مِنَ الإِبِلِ، وَأَعْطَى عُيَيْنَةَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَأَعْطَى أُنَاسًا مِنْ أَشْرَافِ الْعَرَبِ، فَآثَرَهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْقِسْمَةِ. قَالَ رَجُلٌ وَاللَّهِ إِنَّ هَذِهِ الْقِسْمَةَ مَا عُدِلَ فِيهَا، وَمَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللَّهِ. فَقُلْتُ وَاللَّهِ لأُخْبِرَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - . فَأَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ «فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ يَعْدِلِ اللَّهُ وَرَسُولُهُ رَحِمَ اللَّهُ مُوسَى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ»
[٣٢٢٤، ٤٠٨٠، ٤٠٨١، ٥٧١٢، ٥٧٤٩، ٥٩٣٣، ٥٩٧٧]

رجال الحديث

① **عثمان بن ابى شيبة** دا عثمان بن محمد بن ابى شيبه كوفى رحمه الله دي

② **جرير** دا جرير بن عبد الحميد ضبى رازى رحمه الله دي

③ **منصور** دا منصور بن معتمر سلمى كوفى رحمه الله دي ددي درې واړو حضراتو محدثينو تذكره په كتاب العلم، "باب من جعل لاهل العلم....." كښې تفصيل سره تيره شوې ده(١).

④ **ابووائل** دا ابووائل شقيق بن سلمه اسدى كوفى رحمه الله دي.د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب خوف المؤمن من أن يحبط......" كښې تير شوې دى(٢).

⑤ **عبدالله** د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" كښې راغلي دى(٣).

قوله: قال: لما كان يوم حنين، آثر النبى صلى الله عليه وسلم أناساً فى القسمة، فأعطى الاقرع بن حابس مئة من الابل، وأعطى عيينة مثل ذلك:
حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چې د غزوه حنين په موقع باندې په تقسيم كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم بعضې خلقو ته ترجيح وركړه.لكه اقرع بن حابس ته ئې سل اوښان وركړل.هم دومره ئې عيينه بن حصن ته هم وركړل

په دې عبارت كښې د **فى القسمة** نه مراد **قسمة الخمس** دې،نه چې **قسمة الغنيمة**،ځكه چې په غنيمت كښې خو حصه متعين او معلومه وى.كومه چې د مجاهدينو وى (٤).

بقيه ازحاشيه گذشته] .وكتاب الادب. باب من اخبر صاحبه بما يقال فيه.رقم (٦٠٥٩).وباب الصبر على الاذى.رقم(٦١٠٠).وكتاب الاستئذان.باب اذا كانوا اكثر من ثلاثة.....رقم (٦٢٩١).وكتاب الدعوات.باب قول الله تعالى:(وصل عليهم).....رقم (٦٣٣٦). ومسلم.كتاب الزكاة.باب اعطاء المؤلفة قلوبهم.....رقم (٢٤٤٧_٢٤٤٨))_

(١) كشف البارى:٣/ ٢٦٦_٢٧٢)_

(٢) كشف البارى:٢/ ٥٥٩)_

(٣) كشف البارى:٢/ ٢٥٧)_

(٤) الكوثر الجارى:٦/ ١٢٩)_

اقرع بن حابس دا اقرع بن حابس بن عقال بن محمد بن سفیان تمیمی دارمی رضی اللہ عنہ دې(۱).
دوی په مؤلفة القلوب کښې وو .نبی کریم ﷺ سره په فتح مکه.غزوه حنین او طائف کښې شریک وو(۲).
ذهبی رحمہ اللہ فرمائی چې د دوی اصل نوم فراش وو .او اقرع ئې لقب دې.د دوی دا لقب په نوم باندې غالب شو.دوی د عربو په اشرافو کښې وو.حضرت عبد الله بن عامر رضی اللہ عنہ دوی د یو لښکر امیر جوړ کړې وو او د خراسان په طرف ئې لیږلې وو.هلته دوی زخمی شو او د زخمونو د طاقت نه لرلو د وجې نه هلته وفات شو (۳) رضی الله عنه وارضاه.

عیینة دا عیینه"**بضم العین،مصغرالعین**"بن حصن بن حذیفة بن بدر الفزاری دې دوی هم په مؤلفة القلوب کښې وو(۴).امام ذهبی وائی چې دوی هم په خپل قوم کښې سید او مطاع وو . لیکن په طبیعت کښې ئې تیزی وه(۵).**رضی الله عنه وارضاه.**

ددې حدیث مبارک تفصیلی تشریح په کتاب المغازی اوکتاب الادب وغیره کښې راغلې ده(۶)
ترجمة الباب سره مطابقت:ددې حدیث مطابقت ترجمة الباب سره بالکل واضح دې.په دې کښې د تقسیم ذکر هم دې او د اقرع او عیینه رضی اللہ عنہما ذکر هم دې.کوم چې په مؤلفة القلوب کښې وو.

د باب نهم حدیث شریف د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی اللہ عنہما دې

۲۹۸۲(۷) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ أَسْمَاءَ ابْنَةِ أَبِي بَكْرٍ - رضى الله عنهما - قَالَتْ كُنْتُ أَنْقُلُ النَّوَى مِنْ أَرْضِ الزُّبَيْرِ الَّتِي أَقْطَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى رَأْسِي، وَهْىَ مِنِّي عَلَى ثُلُثَىْ فَرْسَخٍ. وَقَالَ أَبُو ضَمْرَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَقْطَعَ الزُّبَيْرَ أَرْضًا مِنْ أَمْوَالِ بَنِي النَّضِيرِ.[۴۹۲۶]

---

(۱) عمدة القاری:۱۵/ ۷٤،والاستیعاب:۱/ ۷۰،باب اقرع،رقم (۶۹))_
(۲) عمدة القاری:۱۵/ ۷٤)_
(۳) پورته حواله)_
(۴) پورته حواله جات،والکوثر الجاری:۶/۱۲۹،والاستیعاب:۲/۱۳۵،رقم (۲۰۶۶))_
(۵) عمدة القاری:۱۵/ ۷٤،وایضاانظر الاستیعاب:۲/۱۳۵)_
(۶) کشف الباری،کتاب المغازی:۵۵۷،دغه شان اوګوری.کتاب الادب:٤٤۶)_
(۷) قوله: عن اسماء...... ":الحدیث،اخرجه البخاری ایضا،کتاب النکاح،باب الغیرة،رقم (۵۲۲٤)، ومسلم، کتاب السلام،باب جواز ارداف المراة الاجنبیة......رقم (۵۶۹۲_۵۶۹۳))_

رجال الحديث

① **محمود بن غيلان** دا محمود بن غيلان "بفتح المعجمة وسكون المثناة تحت رحمه الله دي (١).

② **ابواسامه** دا ابو اسامه حماد بن اسامه رحمه الله دي د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب فضل من علم وعلم" کښې تيره شوې ده (٢).

③ **هشام** دا هشام بن عروة بن زبير قرشى رحمه الله دي

④ **ابى** ددې نه مراد حضرت عروة بن زبير رحمه الله دې ددې دواړو حضراتو تذکره د بدء الوحى په "الحديث الثانى" کښې راغلې ده (٣).

⑤ **اسماء بنت ابى بكر** د حضرت اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنهما حالات تفصيل سره په کتاب العلم، "باب من أجاب الفتيا باشارة اليد......." کښې تير شوې دی (٤).

د حديث شريف ترجمه حضرت اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنهما فرمائى چې ما د هغې زمکې نه په سربانديِ د لرګو بنډلې منتقل کولې کومه زمکه چې نبى عليه السلام حضرت زبير رضي الله عنه ته د جائيداد په طور ورکړې وه. او ددې زمکې او زما د کور مينځ کښې فاصله دوه ثلث فرسخه وه

النوى د نواة جمع ده. بنډل ته وئيلې شى او **اقطعة:** د **اقطاع الارض** نه ده. ددې معنى ده جائيداد ورکول او على راسى جار مجرور أنقل سره متعلق دې. او بعضې حضراتو دا حال ګرځولې دې حال كونها على راسى....... (٥).

"فرسخ" درې ميله مسافت ته وئيلې شى (٦) نو د **ثلثى فرسخ** معنى شوه دوه ميله

قوله: وقال أبو ضمرة عن هشام عن أبيه أن النبى صلى الله عليه وسلم أقطع الزبير أرضا من أموال بني النضير: او ابوضمره د هشام عن ابيه د طريق نه نقل کوى چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم حضرت زبير رضي الله عنه ته د بنونضير په زمکو کښې زمکه ورکړې وه

ابوضمره د "بفتح الضاد وسكون الميم" نه مراد حضرت انس بن عياض رحمه الله دې (٧).

د مذکوره تعليق مقصد دا تعليق امام بخارى رحمه الله د دوو فائدو بيانولو دپاره نقل کړې دې

---

(١) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب مواقيت الصلاة، باب النوم قبل العشاء لمن غلب)_
(٢) كشف البارى: ٣/ ٤١٤)_
(٣) كشف البارى: ١/ ٢٩١، دغه شان اوګورئ: ٢/ ٤٣٢_ ٤٤٠)_
(٤) كشف البارى: ٣/ ٤٨٧)_
(٥) عمدة القارى: ١٥/ ٧٥، وشرح القسطلانى: ٥/ ٢٢٧)_
(٦) القاموس الوحيد، مادة "فرسخ")_
(٧) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء، باب التبرز فى البيوت)_

(۱) ابو اسامه دا حديث موصولا نقل کړی دی. او ابوضمره په دې معامله کښې دده مخالفت کړی دی او دا ئې مرسلا نقل کړی دی

(۲) په دې تعليق کښې د هغې زمکې تعيين او نبودنه شوې ده کومه چې حضرت زبير رضي الله عنه ته ورکړی شوې وه چې هغه د يهوديانو وه او په مال فئ کښې وه

دې وضاحت سره د علامه خطابي رحمه الله هغه اشکال هم ختم شو. کوم چې وائي چې معلومه نه ده چې نبي عليه السلام د مدينې منورې زمکه د جائيداد په طور څنګه ورکړه. چې د کومې وسيدونکي په رضا او خوښه باندې اسلام کښې داخل شوې نه وو او دا زمکه خو د انصارو وه. په دې کښې نبي عليه السلام څنګه تصرف اوکړو؟

ددې اشکال نقل کولو نه پس علامه خطابي رحمه الله ددې يو احتمالي جواب هم ذکر کړې دې چې کيدې شي دا په هغه زمکو کښې وه. کومې زمکې چې انصارو نبي عليه السلام ته حواله کړې وې چې په مونږ کښې ددې زمکو د اوبه کولو او ددې د ساتلو طاقت نشته. د اوبو وغيره هلته څهٔ انتظام نهٔ وو. لهذا په دې زمکو باندې تاسو د خپلې رائې مطابق تصرف اوکړئ نو ددې وجې نه حضرت زبير رضي الله عنه ته ورکړې شوې زمکه په دغه زمکو کښې وه **هذا رأى الخطابي**(۱)

ليکن ددې اشکال جواب هم هغه دې کوم چې په تعليق کښې ذکر شو چې دا زمکه د انصارو نه وه بلکه د مدينې منورې د يهوديانو وه او په مال فئ کښې وه.(۲)

يو اشکال او د هغې جواب: دلته په روايت کښې د اقطاع ارض ذکر دې. او د ابوداؤد شريف په روايت کښې دی چې حضرت اسماء فرمائی چې: "**أن رسول الله صلى الله عليه وسلم اقطع الزبير نخلا**"(۳) چې په جاګير کښې نبي عليه السلام د کهجورو باغ ورکړې وو

په دې باندې دا اشکال کيږی چې د جاګير ورکولو دستور دادې چې امام په خالي زمکه کښې جاګير ورکوی. دې دپاره چې جاګيردار د هغې زمکې خيال اوساتی او هغه دوباره ژوندئ او آباده شی. باغ خو د مخکښې نه آباد وی نو هغه څنګه او ولې نبي عليه السلام په جاګير کښې ورکړو؟

ددې جواب دادې چې ابوعبيده قاسم بن سلام د ابن سيرين رحمه الله نه نقل کړې دی. حضور اکرم صلى الله عليه وسلم دا زمکه يو سړی ته ورکړې وه. هغهٔ دا آباده کړه او دا زمکه په شنو شنو اونو بوټو کښې بدله شوه. ددې نه پس هغې سړی نبي عليه السلام ته عرض اوکړو چې يا رسول الله! ددې زمکې د مشغولتيا د وجې نه زهٔ ستاسو په خدمت کښې حاضريدې نهٔ شم. ددې وجې نه تاسو دا زمکه زما نه واپس واخلئ.(۴)

---

(۱) اعلاء الحديث: ۲/ ۱۴۵۸_۱۴۵۹. وفتح الباري: ۶/ ۲۵۴. وعمدة القاري: ۱۵/ ۷۵_

(۲) فتح الباري: ۶/ ۲۵۴. وعمدة القاري: ۱۵/ ۷۵. دغه شان اوګورئ. بذل: ۱۰/ ۳۱۳. وشرح السنة: ۴/ ۴۱۳. کتاب البيوع. رقم (۲۱۸۶)_

(۳) ابو داؤد مع البذل: ۱۰/ ۳۱۳. کتاب الخراج..... باب في اقطاع الارضين. رقم (۳۰۶۹)_

(۴) کتاب الاموال. رقم (۶۷۶). بحواله تعليقات مصنف ابن ابي شيبة. محمد عوامة: ۱۷/ ۵۲۷. رقم (۳۳۶۵۹)

ددې وجې نه کېدې شي چې هم دغه زمکه نبي ﷺ حضرت زبير رضي الله عنه ته ورکړې وي. والله اعلم
د مذکوره تعليق تخريج ددې تعليق متعلق حافظ ابن حجر رحمه الله په هدى السارى کښې فرمائيلي دى چې "و رواية أبي ضمرة بارسالها لم أجدها"(۱)
ولكن.... الرواية بارسالها رواها ابن سعد في الطبقات: ۳/۱۰۴، ومن بني اسد بن عبد العزى بن قصي: الزبير بن العوام، والبلاذري في فتوح البلدان: ۱/۳۴، اموال بني النضير، وانظر ايضا تعليقات الشيخ محمد عوامة على المصنف: ۱۷/۵۲۸، رقم (۳۳۶۹۵)_.
ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په ترجمة الباب کښې دوه الفاظ دی. "وغيرهم" او "نحوه" ددې حديث مناسبت د ترجمة الباب لفظ وغيرهم سره هم کېدې شي او نحوهم سره هم کېدې شي وغيرهم سره داسې چې د باب په شروع کښې مونږ دا وئيلې دی چې که وغيرهم عام اومنلې شي نو دا ډيره غوره ده چونکه نبي ﷺ ته په دغه مالونو کښې پوره اختيار حاصل وو. ددې وجې نه به نبي ﷺ مسلمان او غيرمسلم دواړو ته مال ورکوو په دې بنياد باندې حضرت زبير رضي الله عنه ته مذکوره جائيداد ورکړې شوې وو
او نحوه سره ئې هم مطابقت کېدې شي چې په نحوه کښې چونکه خراج. فئ او جزيه وغيره ټول داخل دی. ددې وجې نه چې کوم حضرات مثلاً علامه خطابي(في قوله)(۲) دا وائي چې مذکوره زمکه د خمس نه ورکړې شوې وه نو مطابقت به من الخمس سره وي او کوم حضرات چې دې ته مال فئ وائي نو د هغوی په نزد به مناسبت د نحوه سره وي. ځکه چې فئ هم په دې کښې داخل دې او هم ددې حضراتو دا قول راجح دې. ځکه چې مشهور قول د بنو نضير د مال فئ دې والله أعلم بالصواب
د باب لسم حديث شريف د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دې.

۲۹۸۳ (۳) حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لَمَّا ظَهَرَ عَلَى أَهْلِ خَيْبَرَ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ الْيَهُودَ مِنْهَا، وَكَانَتِ الأَرْضُ لَمَّا ظَهَرَ عَلَيْهَا لِلْيَهُودِ وَلِلرَّسُولِ وَلِلْمُسْلِمِينَ، فَسَأَلَ الْيَهُودُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَتْرُكَهُمْ عَلَى أَنْ يَكْفُوا الْعَمَلَ، وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «نُقِرُّكُمْ عَلَى ذَلِكَ مَا شِئْنَا». فَأُقِرُّوا حَتَّى أَجْلاَهُمْ عُمَرُ فِي إِمَارَتِهِ إِلَى تَيْمَاءَ وَأَرِيحَا. [ر ۲۲۱۳]

---

(۱) هدى السارى: ۵۷، كتاب الجهاد، الفصل الرابع من المقدمة، هذا ما قاله الحافظ!)_
(۲) اعلام الحديث للخطابي: ۲/۱۴۵۴، رقم (۳۱۳۶)، وشرح السنة: ۴/۴۱۳، رقم (۲۱۸۶))_
(۳) قوله: عن ابن عمر.... ": الحديث، مر تخريجه في كتاب الاجارة، باب اذا استاجر ارضا....)

رجال الحدیث

① **احمد بن المقدام** دا احمد بن المقدام بن سلیمان عجلی بصری رحمه الله دي (۱).

② **فضیل بن سلیمان** دا فضیل بن سلیمان نمیری بصری رحمه الله دي (۲).

③ **موسی بن عقبه** دا د مغازی مشهور امام موسی بن عقبه رحمه الله دي (۳).

④ **نافع** دا د ابن عمر رضی الله عنهما مولی نافع رحمه الله دي د دوی حالات په کتاب العلم، "باب ذکر العلم والفتیا فی المسجد" کښې تیر شوي دي (۴).

⑤ **ابن عمر** د ابن عمر رضی الله عنهما حالات په کتاب الایمان، "باب الایمان......" کښې راغلي دي (۵).

د حدیث شریف ترجمه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی چې حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه یهود و نصاری د حجاز نه بهر ویستلي وو (ددې نه مخکښې) کله چې نبی علیه السلام خیبر په یهودیانو باندې فتح موندلې وه نو نبی علیه السلام د خیبر نه د هغوی د بهر ویستلو اراده فرمائیلې وه او کله چې د خیبر دا زمکه نبی علیه السلام فتح کړه نو دا د یهودیانو وه. د رسول الله وه او د مسلمانانو وه. نو (کله چې یهودیانو ته دا خبر ملاؤ شو چې ددې ځائې نه زمونږ د ویستلو اراده کړې شوې ده) هغوی نبی علیه السلام ته درخواست اوکړو چې مونږ ددې ځائې نه بهر نۀ کړې شو. په دې شرط باندې چې په زمکه کښې به کار یهودیان کوی او په پیداوار کښې به ستاسو نیمه حصه وی نبی علیه السلام اوفرمائیل (ټهیک ده) مونږ تاسو په دې خبره باندې پریږدو لیکن کوم وخت پورې چې زمونږ خوښه وی، دغه شان هغوی (د هغوی په زمکو باندې) برقرار پریخودلې شو. تردې چې حضرت عمر رضی الله عنه د خپل خلافت په دور کښې دوی د تیماء و اریحا طرفته جلاوطن کړل.

د حدیث د بعضو حصو تشریح د باب په روایت کښې راغلي دی، "**وکانت الارض لما ظهر علیها للیهود وللرسول وللمسلمین**" په اکثرو نسخو کښې عبارت دغه شان دې. البته د ابن السکن په نسخه کښې **لله وللرسول......** دې ښکاره خبره ده چې دا تعارض دې چې په اکثرو نسخو کښې لفظ د یهود دې او د ابن السکن په نسخه کښې لفظ د الجلالة یعنی لله دې.

دا تعارض په دوو طریقو سره دفع کړې شوې دې.

① طریقه د ترجیح چې د ابن السکن روایت راجح او صحیح دې

---

(۱) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب البیوع، باب من لم یر الوساوس.....)_

(۲) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الصلاة، باب المساجد التی علی طرق المدینة.....)_

(۳) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الوضوء، باب اسباغ الوضوء)_

(۴) کشف الباری: ۶۵۱/۴)_

(۵) کشف الباری: ۶۳۷/۱)_

② البته ابن ابى صفرة وائي چې د اكثرو نسخه هم صحيح ده. يعنى د لليهود الفاظ په دې صورت كښې به اشكال داوى چې بيا به د لما ظهرعليها معنى څهٔ وى؟ځكه چې د مسلمانانو د غلبې نه پس ددې څهٔ مطلب شو چې د يهوديانو زمكه؟

د اشكال جوابات: ددې اشكال مختلف جوابونه دى:

① د لما ظهرعليها نه مراد دا دې چې كله د خيبر اكثر علاقه فتح شوه او هغه وخت پورې يهوديانو د مصلحت درخواست نهٔ وو كړې. واضحه خبره داده چې دغه پورې زمكه د يهودو وه او د مسلمانانو هم ليكن كله چې د يهوديانو له طرفه د مصلحت درخواست راغئ او په شرطونو باندې صلح اوشوه نو زمكه د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ شوه.

②دا هم احتمال دې چې دلته مضاف محذوف وى، يعنى ثمرة الارض چې د زمكې پيداوار د يهوديانو او د نبى اكرم ﷺ وو.

③ لفظ د "ارض" مفتوحه او غيرمفتوحه(فتح شوې او غيرفتح شوې)دواړو ته شامل دې او د ظهور نه مراد غلبه ده چې مسلمانان په يهوديانو باندې غالب وو، په دې صورت كښې به زمكه د يهوديانو، د رسول الله مبارك او د مسلمانانو وى، يعنى فتح شوې زمكه د مسلمانانو او غيرفتح شوې زمكه د يهوديانو[1].

قوله: تيماء وأريحا: تيماء "بالفتح والمد"د شام طرفته يو وړوكې ښار دې، دا د شام او د وادى القرى مينځ كښې چې د حاجيانو كومه لاره ده هلته واقع ده.[2].

أريحا سره متعلق وضاحت د كتاب الخمس په شروع كښې تير شوې دې.[3].

ترجمة الباب سره د حديث مطابقت: ظاهر كښې خو ترجمة الباب سره د حديث مطابقت نهٔ ښكارى ځكه چې په دې كښې نهٔ د مؤلفة القلوب ذكر شته او نهٔ د مال وركولو؟

نو بعضې حضراتو وئيلې دى چې مطابقت موجوددې، په حديث مبارك كښې راغلې دى. "وكانت الارض لما ظهرعليها لليهود وللرسول وللمسلمين" ددې الفاظو نه مصنف ترجمه ثابته كړې ده. هغه ځكه چې هركله دغه زمكه د الله تعالى او د رسول وه نو په هغې كښې دوى ته د تصرف كولو حق هم حاصل وو، چې چاته نبى عليه السلام وركول اوغواړى نو وركولې شى، په دې كښې مؤلفة القلوب هم داخل دى او غيرمؤلفة القلوب هم داخل دى. كما ذكرنا قبل.

البته د ټولو نه غوره توجيه د حضرت گنگوهى رحمه الله ده، كومه چې هغوى په لامع كښې ذكر كړې ده. د هغې خلاصه داده چې د خيبر زمكه يهوديانو ته په مزارعت باندې وركړې شوې وه. اوس چې به كله نبى عليه السلام خارص د خرص دپاره ليږلو نو ورته به ئې حكم كوو چې د خرص

[1]) فتح البارى:۲۵۵/۶.وعمدة القارى:۷۵/۱۵)_
[2]) معجم البلدان:۶۷/۲.باب التاء والياء وما يليهما)_
[3]) اوګورئ. باب قول النبى ﷺ:احلت لكم الغنائم.....)_

نه پس ربع يا ثلث ددې يهوديانو دپاره پريږدئ هم دا ورکول دی او ددې ورکولو مقصد ښکاره خبره ده چې د زړونو ساتل وو

بيا چې د ورکولو دا کوم عمل دې.نو دا به د خمس او د خمس په شان مالونو نه وو.ځکه چې کوم پيداوار به هم حاصليدۀ نو اول به د هغې خمس ويستلې شو.بيا به مجاهدينو کښې تقسيميدۀ.اوس په دې ځان پوهه کړئ چې مزارعت په نيمه باندې وو.بيا خارص ته حکم وو چې د ثلث يا ربع وغيره نصف نه علاوه هم د دوی دپاره پريخودلې شی.ګويا اکثره حصه يهوديانو ته لاړه او د مسلمانانو په حصه کښې.دغه شان په خمس کښې کمې راغئ. نو په خمس کښې هم يهوديانو ته ملاؤ شوه او د مسلمانانو(مجاهدينو)په حصه کښې هم هغوی ته ملاؤ شوه ځکه چې د مجاهدينو او د خمس دواړو حصې په واضحه توګه سره د ثلث يا ربع ورکولو د وجې نه کمې شوې وې.د حضرت الفاظ دادی:

"ولعل ايراد هذه الرواية ههنا لاجل ان النبي ﷺ كان يامر اصحابه ان يتركوا لهم بعد الخرص ربعا او ثلثا، كما تشهد به الروايات، وليس ذلك الا اعطاء؛ فكان هذا الحديث مما يناسب الباب باعتبار اعطاء الغير المؤلفة ان اريد به المؤمنون، وان كان اعم ممن آمن، ولم يكمل ايمانه بعد، وممن لم يكن مؤمنا بعد، فهو من قبيل اعطاء المؤلفة، وكان ذلك اعطاء من الخمس ونحوه معا؛ لان ما كان يجئ الى المسلمين كان يخمس منه اولا، ثم يقسم بين الغانمين على حسب حصصهم، فما انتقص من نصيبهم وجباياتهم بترك الربع والخمس والثلث ونحوه انتقص بحسبه من الخمس ايضا، فكان هذا الحظ لهم من المسلمين اعطاء ايضا".

مولانا يحيى رحمه الله ددې عبارت د نقل کولو نه پس فرمائی:

"فافهم، فانه غريب، وكم للاستاذ مثل ذلك من عجيب!(۱).

⑳ باب: مَا يُصِيبُ مِنَ الطَّعَامِ فِي أَرْضِ الْحَرْبِ

د ترجمة الباب مقصد: که يو مجاهد ته په دارالحرب کښې د خوراک دپاره څۀ ملاؤ شی.يا د خپلې سورلئ دپاره ګياۀ ملاؤ شی نو د هغې خوړل او استعمالول به ددې مجاهد دپاره جائز وی يا نۀ؟دا اختلافی مسئله ده.

① د جمهور فقهاؤ په نزد ددې خوراک او استعمال جائز دې.په خوراک کښې هر هغه څيز داخل دې د کوم څيز خوړل چې عام طور سره د خلقو عادت وی،خواه د غنيمت د تقسيم نه وړاندې وی يا وروستو،د امام اجازت وی يا نۀ وی،ددې وجه دا ده چې په دارالحرب کښې د خوراک څکاک د څيزونو ملاويدل عام طور سره ګران وی،ددې وجې نه د ضرورت له کبلې دې ته جائز وئيلې شوې دی،بيا د جمهورو په نزد که ضرورت نۀ وی نو بيا هم جائز دی.

② البته بعضې حضراتو مثلاً امام زهری او اوزاعی وغيره دا د امام اجازت سره مقيد کړې دی.او سليمان بن موسی دا فرمائی چې ابتداءً خو صحيح دی ليکن که امام منع اوکړی نو

(۱) لامع الدراری:۷/۳۱۳_۳۱٤،وانظر ايضا تعليقاته:۷/۳۱۳)_

بیا جائز نهٔ دی.هم دا قول د امام محمد رحمه الله نه هم روایت دې.امام بخاری رحمه الله دې ترجمة الباب سره د جمهور علماؤ تائید کړې دې او دا فرمائی چې په دې ځیزونو کښې به خمس وغیره نهٔ جاری کیږی،بلکه د مجاهدینو دپاره به ددې خوراک او څناورو باندې خوړل وغیره جائز او مباح وی(۱).

③: احنافو په نزد په دې کښې نور وسعت هم شته،هغوی په دې حکم کښې دا ځیزونه هم داخل کړی لرګی،اسلحه،اس،او هغه تیل چې تقسیم شوې نهٔ وی(۲).

بیا د جمهورو په نزد پورته ذکر شوې حکم دارالحرب سره خاص دې،دا ځیزونه ځان سره دارالاسلام ته راوړل جائز نهٔ دی،که داسې اوکړې شو نو دا ځیزونه به په غنیمت کښې داخلول ضروری وی(۳).

اوس د باب احادیث اوګورئ،امام بخاری رحمه الله د جمهورو د مؤقف ثابتولو دپاره دلته درې حدیثونه ذکر کړې دی،چې په هغې کښې اولنې د باب حدیث د حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه دې.

۲۹۸٤: (٤)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ -رضی الله عنه- قَالَ كُنَّا مُحَاصِرِينَ قَصْرَ خَيْبَرَ، فَرَمَى إِنْسَانٌ بِجِرَابٍ فِيهِ شَحْمٌ، فَنَزَوْتُ لآخُذَهُ، فَالْتَفَتُّ فَإِذَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ.[۳۹۷۷، ۵۱۸۹]

رجال الحدیث

①ابوالولید: دا ابوالولید هشام بن عبدالملک طیالسی رحمه الله دې.د دوی تذکره په دې کتاب الایمان،"باب علامة الایمان حب الانصار"کښې تیر شوې دی(۵).

---

(۱) فتح الباری:۲۵۵/۶،وشرح النووی علی مسلم:۹۷/۲،واعلاء السنن:۱۲۹/۱۲،وعمدة القاری: ۷۶/۱۵، والاوجز :۱۵۷/۹،والدر المختار:۲٥٤/۳،والمغنی:٤٤٥/۸،وشرح السیر الکبیر:۱۲۰/۲،باب ما یستعمل فی دار الحرب،ویؤکل ویشرب)_

(۲) الدر المختار:۲٥٤/۳)_

(۳) ددې مسئلې د نور وضاحت او شرطونو دپاره اوګورئ،السیر الکبیر مع شرحه: ۱۲۰/۲_۱۲۳، والمغنی: ۲۲۳/۹_۲۲٤،=رقم (۷۵۵٤)،والاوجز:/۱۵۱_۱۶۳،واعلاء السنن:۱۳۷/۱۲،والموسوعة الفقهیة: ۳۰۷/۱_۳۰۹، (غنیمة:الاخذ من المغنیمة.....)،رقم (۱۸))_

(٤) قوله: عن عبدالله...... ":الحدیث،اخرجه البخاری ایضا،کتاب المغازی،باب غزوة خیبر،رقم (٤۲۱٤)، وکتاب الذبائح والصید،باب ذبائح اهل الکتاب وشحومها......رقم (۵۵۰۸)،ومسلم،کتاب الجهاد، باب جواز الاکل من طعام الغنیمة.....،رقم (٤۶۰۵_٤۶۰۶)،وابو داود،کتاب الجهاد،باب اباحة الطعام فی ارض العدو، رقم (۲۷۰۲)،والنساءی،کتاب الضحایا،باب ذبائح الیهود،رقم (٤٤٤۰))_

(۵) کشف الباری:۳۸/۲)_

④شعبه: دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج عتكى رحمه الله دي د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب المسلم من سلم......" كښې تير شوي دى[1].

⑤حميد بن هلال: دا حميد بن هلال عدوى بصرى رحمه الله دي[2].

⑥عبدالله بن مغفل: دا د نبى عليه السلام صحابى حضرت عبدالله بن مغفل بزنة محمد، رضي الله عنه دي[3].

قوله: قال: كنا محاصرين قصر خيبر، فرمى إنسان بجراب فيه شحم: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه فرمائى چې مونږ د خيبر د محل محاصره كړې وه چې د پورته خائې نه يو سړى د څرمنې يو تهيلئ راويشتله، چې په هغې كښې وازګه وه

جراب مزود ته وائى، يعنى د لارې د توښې تهيلئ، كومه چې د څرمن نه جوړه شوې وى. دا د جيم كسرې او فتحې دواړو سره لوستلې شى، صحيح كسره ده، د دې جمع أجربه وجُرُب ده[4].

قوله: فنزوت لآخذه: ما د هغې د نيولو دپاره تيزئ سره ټوپ اووهلو.

نزوت نون او زاى سره "د دې معنى ده ټوپ وهل، دا د باب نصر نه دې[5].

د ابوداؤد[6] سليمان بن المغيره په روايت كښې دا هم اضافه ده: "فالتزمته، فقلت: لا أعطى اليوم أحداً من هذا شيئاً" چې "ما هغه تهيلئ اونيوله او ما اووئيل چې نن ورځ به زۀ هيچاته هم د دې نه څۀ نۀ وركوم".

او د ابن وهب يو روايت چې د معضل سند[7] سره روايت دې، هغې كښې هم دا راغلې دى چې حضرت كعب بن عمرو بن زيد انصارى رضي الله عنه هغه تهيلئ د هغوى نه واخسته. چې په دې باندې نبى عليه السلام حضرت كعب ته اوفرمائيل چې هغۀ ته خپله تهيلئ وركړه[8].

قوله: فالتفت، فاذا النبى صلى الله عليه وسلم، فاستحيت منه: زۀ واپس شوم نو اومې ليدل چې اچانک نبى عليه السلام هلته موجود وو نو ماته د نبى عليه السلام نه حيا راغله يعنى اوشرميدم.

---

[1]) كشف البارى: ۱/۶۷۸)_

[2]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ: كتاب الصلاة، باب يرد المصلى من مربين يديه)_

[3]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ: كتاب مواقيت الصلاة، باب من كره ان يقال للمغرب.....)_

[4]) عمدة القارى: ۱۵/۷۶، وفتح البارى: ۶/۲۵۶)_

[5]) پورته حواله جات، والقاموس الوحيد، مادة نزو")_

[6]) سنن ابى داود، كتاب الجهاد، باب اباحة الطعام فى ارض العدو، رقم (۲۷۰۲))_

[7]) والمعضل_ بفتح الضاد_: ما سقط من سنده اثنان فصاعدا مع التوالى كقول مالک (ابن انس): قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (فقد ترک فيه: نافعا، ثم ابن عمر)، وقول الشافعى: قال ابن عمر كذا (فقد ترک فيه: مالكا، ثم نافعا)=". قواعد فى علوم الحديث للعثمانى: ۴۱، من الديباج المذهب: ۲۷، وتعليقات عبد الفتاح ابى غدة على قواعد.....)

[8]) فتح البارى: ۶/۲۵۶)_

"اذا" مفاجاتيه ده. او مطلب دادي چي كله زۀ واپس شوم نو اچانک مې نبی علیه السلام اوليدلو نو ماته حيا راغله. ځکه چې نبی علیه السلام زما کار ليدلې وو او کوم الفاظ چې ما وئيلې وو هغه ئې اوريدلې وو.(۱). ددې نه هغه عزت او توقير هم واضح شو کوم چې د نبی علیه السلام دپاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زړونو کښې وو. دغه شان دا هم معلومه شوه چې دې حضراتو به د غيرت او حيا نه خلاف کارونو نه ځنګه ځان بچ ساتلو او د داسې کارونو نه به لرې لرې اوسيدل.(۲).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حديث مطابقت د نبی علیه السلام په انکار نۀ کولو کښې دې چې نبی علیه السلام هغوی اوليدل چې د دشمن د زمکې نه خوراک کوی. ددې باوجود ئې ورته هم هيڅ اونۀ وئيل. بلکه د مسلم شريف په روايت کښې خو دا هم راغلې دی: "فاذا رسول الله صلى الله عليه وسلم متبسماً"(۳) چې نبی علیه السلام خندل. او دا خبره د نبی علیه السلام په رضامندئ باندې دلالت کوی. ددې نه علاوه د ابوداؤد طيالسی(۴) په روايت کښې دا اضافه هم ده، "فقال: هولك" چې نبی علیه السلام اوفرمائيل چې دا تهيلئ ستاسو ده.(۵)

ددې حديث د نور وضاحت دپاره اوګوئ. کشف الباری، کتاب المغازی: ۳۲۲_۳۲۳، وکتاب الذبائح والصيد، باب ذبائح اهل الكتاب: ۴۷۳_۴۷۶_

ددې ټول تفصيل نه ددې کار جواز معلوميږی.

دويم حديث د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دې.

۲۹۸۵ :(۶) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ كُنَّا نُصِيبُ فِي مَغَازِينَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ فَنَأْكُلُهُ وَلاَ نَرْفَعُهُ.

رجال الحديث

① **مسدد:** دا مسدد بن مسرهد رحمه الله دې. د دوی حالات په کتاب الايمان، "باب من الايمان أن يحب لاخيه......" کښې تير شوې دی.(۷).

---

۱) پورته حواله، عمدة القاری: ۷۶/۱۵، والکوثر الجاری: ۱۳۰/۶_

۲) پورته حواله جات)_

۳) مسلم شريف، کتاب الجهاد، باب جواز الاکل من......رقم (۴۶۰۵))_

۴) مسند ابی دواد الطيالسی: ۴۹۱/۱، وما اسند عن عبدالله بن مغفل رضی الله عنه، رقم (۹۵۹))_

۵) فتح الباری: ۲۵۶/۶، وعمدة القاری: ۷۶/۱۵_

۶) قوله: عن ابن عمر رضی الله عنهما: "الحديث، تفرد به البخاری، ولم يخرجه الا فی هذا الموضوع) تحفه الاشراف: ۶/۶۷، رقم (۷۵۵۸)_

۷) کشف الباری: ۲/۲)_

③حماد بن زيد: دا حماد بن زيد بن درهم رحمه الله دې د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب المعاصى من امر الجاهلية......." کښې راغلې ده.[1]

④ايوب دا ايوب سختيانى رحمه الله دې د دوی تفصيلى تذکره په کتاب الايمان، "باب حلاوة الايمان" کښې راغلې ده.[2]

⑤نافع: دا حضرت ابن عمر رضي الله عنهما مولى حضرت نافع رحمه الله دې د دوی تفصيلى حالات په کتاب العلم، "باب ذكر العلم والفتيا فى المسجد" کښې تير شوې دی.[3]

⑥ابن عمر رضى الله عنه: د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حالات په کتاب الايمان، "باب الايمان......." کښې راغلې دی.[4]

قوله: عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: كنا نصيب فى مغازينا.....: د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې، فرمائی چې مونږ به په خپلو جنګونو کښې شهد او انګور حاصلول او هغه به مو خوړل.

دا روايت اسماعيلى او ابونعيم هم نقل کړې دې، د دوی په روايت کښې د "الفواكه" اضافه هم ده. دغه شان اسماعيلى يو بل روايت د ابن المبارک رحمه الله د طريق نه نقل کړې دې، په هغې کښې د غوزو تذکره هم شته.[5]

ددې نه علاوه يو بل روايت د جرير بن حازم رحمه الله د طريق نه هم روايت دې. په هغې کښې دی "اصبنا طعاماً واغناماً يوم اليرموك، فلم يقسم.[6]" چې د غزوه يرموک په موقع باندې مونږ ته خوراک او چيلۍ حاصلې شوې، چې تقسيم نهٔ شوې، يعنى هغه په غنيمت کښې شاملولو سره تقسيم نهٔ شوې، بلکه دا څيزونه مونږ سره پاتې شو.

د يرموک والا دا روايت موقوف دې، ځکه چې په دې کښې وضاحت دې چې دا د نبى عليه السلام د زمانې واقعه ده. ليکن په دې موقوف روايت کښې هم څهٔ حرج نشته ځکه چې د مرفوع روايت موافق دې.[7]

---

[1]) كشف البارى:٢١٩/٢_

[2]) كشف البارى:٢٦/٢_

[3]) كشف البارى: ٦٥١/٤_

[4]) كشف البارى:٣٦٧/١_

[5]) فتح البارى:٢٥٦/٦، وعمدة القارى:٧٦/١٥، وكذا فى رواية سعيد بن منصور فى سننه:٢٧١/٢، لفظ الثمار". وهو متناول للفواكه، رقم (٢٧٣٥)، وشرح الزرقانى:٢٣/٣، وسنن البيهقى الكبرى:١٠١/٩، كتاب السير. باب السرية تاخذ العلف.....رقم (١٧٩٩٤)_

[6]) تاريخ مدينه دمشق لابن عساكر:٨٣/٣١، حرف العين)_

[7]) عمدة القارى:٧٦/١٥، وفتح البارى:٢٥٦/٦_

قوله: ولا نرفعه: او دا به مونږ نۀ جمع کول.
ددې جملې يو مطلب خو دادې چې مونږ به دا نۀ ذخيره کوله.دويم مطلب دادې چې مونږ به دا د غنيمت ذمه دار يا نبی عليہ السلام ته نۀ حواله کوو،نۀ به مو د هغې د خوراک اجازت طلب کوو ځکه چې د مخکښې نه به د داسې قسم څيزونو د استعمال اجازت وو.(۱)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره ددې حديث مناسبت بالکل ښکاره دې،(۲)،حضرت ابن عمر رضی اللہ عنهما د نبی عليہ السلام د زمانې د جنګونو په باره کښې فرمائی چې مونږ به د خوراک څکاک عام څيزونه استعمالول،او دا د جواز دليل دې. والله أعلم
د باب دريم حديث شريف د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی اللہ عنه دې.

۲۹۸۶: (۳)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِي قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى - رضی الله عنهما - يَقُولُ أَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ لَيَالِي خَيْبَرَ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ وَقَعْنَا فِي الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ، فَانْتَحَرْنَاهَا فَلَمَّا غَلَتِ الْقُدُورُ، نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - اكْفَئُوا الْقُدُورَ، فَلاَ تَطْعَمُوا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ شَيْئًا . قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَقُلْنَا إِنَّمَا نَهَى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - لأَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ . قَالَ وَقَالَ آخَرُونَ حَرَّمَهَا الْبَتَّةَ . وَسَأَلْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ فَقَالَ حَرَّمَهَا الْبَتَّةَ .[۳۹۸۳- ۳۹۸۶، ۵۲۰۵]

رجال الحديث

① **موسى بن اسماعيل:** دا موسى بن اسماعيل تبوذکی رحمہ اللہ دې.د دوی حالات د بدء الوحی په "الحديث الرابع" کښې تير شوې دی.(۴)

② **عبدالواحد:** دا عبد الواحد بن زياد عبدی بصری رحمہ اللہ دې.د دوی تذکره په کتاب الايمان، "باب الجهاد من الايمان" کښې تيره شوې ده.(۵)

③ **الشيبانی:** دا سليمان بن ابی سليمان کوفی شيبانی رحمہ اللہ دې(۶).

---

(۱) پورته حواله جات،وشرح القسطلانی:۵/۲۲۸)_
(۲) عمدة القاری:۱۵/۷۶،والکوثر الجاری:۶/۱۳۱)_
(۳) قوله: سمعت ابن ابی اوفی..... ":الحديث،اخرجه البخاری ايضا،کتاب المغازی،باب غزوة خيبر،رقم (۴۲۲۰،و۴۲۲۲،و۴۲۲۴)،وکتاب الذبائح والصيد،باب لحوم الحمر الانسية،رقم (۵۵۲۶)،ومسلم،کتاب الصيد والذبائح،باب تحريم اکل لحم الحمر الانسية(۵۰۱۰_۵۰۱۱)،والنسائی،کتاب الصيد،باب تحريم اکل لحوم الحمر الاهلية،رقم (۴۳۴۴)،وابن ماجه،کتاب الذبائح،باب لحوم الحمر الاهلية،رقم (۳۱۹۲))_
(۴) کشف الباری:۱/۴۳۳)_
(۵) کشف الباری:۲/۳۰۱)_
(۶) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الحيض،باب مباشرة الحائض)_

④ابن ابی اوفی دا مشهورصحابی حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه دي[1].

خبرداري د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه ددې حدیث تشریح په کتاب الذبائح والصید کښې راغلې ده[2].

قوله: قال عبدالله: فقلنا إنما نهى النبي صلى الله عليه وسلم لأنها لم تخمس. قال: وقال آخرون: حرمها البتة: عبدالله وائی نو مونږ اووئیل چې نبی علیه السلام ددې خرونو د غوښې د خوړلو نه ددې وجې نه منع اوفرمائیله چې ددې خمس نۀ وو ویستلې شوې، فرمائی: او بعضې نورو صحابه کرامو اووئیل چې نبی علیه السلام مطلقاً ددې خرونو تحریم فرمائیلې دې یعنی دا خرونه مطلقاً حرام دی.

مطلب دادې چې کله نبی علیه السلام د دغه خرونو دغوښې نه ډک، او جوشیدلې کټوو د راغورزولو حکم اوکړو او د هغې د خوراک نه ئې منع اوفرمائیله نو ددې د حرمت د علت په باره کښې د صحابه کرامو دوه رائې پیدا شوې.

د بعضې صحابه کرامو رضی الله عنهم رائې داوه چې چونکه دا په غنیمت کښې شاملول پکار وو او په دې کښې تقسیم جاری شوې نۀ وو، ددې وجې نه نبی علیه السلام منع اوفرمائیله ځکه چې دا د غنیمت حصه ده او په دې کښې تصرف جائز نۀ دې.

او د بعضې نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم رائې دا وه چې نبی علیه السلام ددې د خوراک نه مطلقاً منع فرمائیلې ده او مطلب دادې چې دا د خوراک څیز نۀ دې[3].

په دې عبارت کښې د عبدالله نه مراد ابن ابی اوفی رضی الله عنه دې، لکه د مغازی په روایت کښې په بل طریق سره ددې وضاحت راغلې دې[4].

قوله: وسئلت سعيد بن جبير فقال: حرمها البتة: او ما د سعید بن جبیر رحمه الله نه تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چې نبی علیه السلام دا قسم خرونه مطلقاً حرام ګرځولې دی ددې جملې ویونکې (قائل) شیبانی دې[5] او دا فرمائی چې هرکله ما په دې مذکوره مسئله کښې د صحابه کرامو دوه رائې اولیدې نو د تحقیق کولو دپاره ما د حضرت سعید بن جبیر نه تپوس اوکړو چې ددې ممانعت څۀ وجه وه؟ نو هغوی اوفرمائیل، حرمها البتة.

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: ددې حدیث مطابقت هم ترجمة الباب سره واضح دې. ځکه چې په دې سلسله کښې د ماکولاتو (د خواکه څکاک څیزونه وغیره) طرفته د

---

[1]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب من لم یر الوضوء الا من المخرجین.....)_
[2]) کشف الباری، کتاب الذبائح والصید: ۲۹۳_۲۹۵)_
[3]) فتح الباری: ۲۵۷/۶، وعمدة القاری: ۷۷/۱۵)_
[4]) پورته حواله جات، وکتاب المغازی، باب غزوة خیبر، رقم (۴۲۲۰))_
[5]) عمدة القاری: ۷۷/۱۵، وفتح الباری: ۲۵۷/۶، وشرح القسطلانی: ۲۲۸/۵)_

صحابه کرامو عادت د جلدئ وو ،که داسې نۀ وه نو دې حضراتو به د نبی ﷺ په موجودګئ کښې د داسې قسم قدم پورته کولو نه ځان ساتلو .دلته داسې اونۀ شوه نو ددې نه ثابته شوه او معلومه شوه چې د جنګ دوران کښې د خوراک څکاک د عام څيزونو خوراک جائز دې(۱).والله أعلم بالصواب

وبه تم کتاب الخمس،ويليه کتاب(أبواب)الجزية والموادعة إن شاء الله.

....

بسم الله الرحمن الرحيم

٦٢۔أبواب الْجِزْيَةِ وَالْمُوَادَعَةِ

د نسخو اختلاف: د بخاری شريف د نسخو په اکثرو روايتو کښې عنوان"باب الجزية..."راغلې دې او لفظ د"کتاب"سره عنوان صرف د ابو نعيم او ابن بطال په نسخو کښې مذکور دې.او هم دا زيات مناسب دې لکه څنګه چې د حافظ رحمه الله رائې ده(۲).او بسمله (بسم الله الرحمن الرحيم)هم د ابوذر نه سوا په ټولو نسخو کښې موجوده ده(۳).

①باب: الْجِزْيَةِ وَالْمُوَادَعَةِ مَعَ أَهْلِ الْحَرْبِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد د جزيه احکامات او کافرانو سره د صلح کولو احکامات بيانول دی، کما قاله العينی(۴).
لکه اهل حرب سره د وخت او د حالاتو په مناسبت سره صلح کيدې شی او کوم خلق چې ذميان دی،د هغوی نه به جزيه اخستلې شی.تفصيل راروان دې.
د جزية لغوی معنی: د لغت عالمانو او د حديث شارحينو ددې لفظ درې معنې بيان کړې دی:
①لفظ"جزية"د **جزأ يجزئ تجزية** نه مشتق دې،ددې معنی ده تقسيمول او يو څيز حصه حصه کول،جزيه هم په ذميانو باندې تقسيميږی.
②دا کلمه د جزاء نه مشتق ده،ددې معنی ده بدله،ځکه چې د جزيې د ادا کولو په بدله کښې ذميانو ته په دارالاسلام کښې د اوسيدلو او د پاتې کيدلو اجازت ورکولې شی.

---

(۱) پورته حواله جات،والکوثر الجاری:۱۳۱/٦)_
(۲) عمدة القاری:۷۷/۱۵،وفتح الباری:۲۵۸،۲۵۹/٦،وشرح ابن بطال:۳۲۷/۵)_
(۳) عمدة القاری:۱۵/وفتح الباری:۲۵۸/٦،وارشاد الساری:۲۲۹/۵)_
(۴) عمدة القاری:۷۷/۱۵)_

④دا د اجزاء،افعال،نه ده.ددې معنی ده کفایت کول.وجه تسمیه ددې داده چې جزیه ادا کول هم د دغه سړی د عزت،ناموس،مال وجان د حفاظت دپاره کافی کیږی.په کوم سړی باندې چې جزیه مقرر کړې شی.(۱).

اصطلاحی معنی جزیه هغه مقرر مال دې کوم چې د کافر نه په دارالاسلام کښې د اوسیدلو د وجې نه او ددې په عوض کښې اخستلې شی.(۲).

یا داسې اووایئ چې جزیه هغه مال دې کوم چې د ذمې د وجې نه په اهل کتابو باندې مقررولې شی.(۳).

د موادعة معنی او مراد موادعه د باب مفاعله مصدر دې ددې معنی ده پریخودل.او دلته ددې نه مراد دا دې چې د څهٔ مصلحت په بناء باندې اهل حرب سره قتل وقتال د یو معلومې مودې پورې پریخودل.(۴)

بیا د امام بخاری رحمه الله په دې الفاظو کښې "الجزیة والموادعة مع أهل الذمة والحرب" کښې لف نشر مرتب دې،ځکه چې د جزیه تعلق د ذمیانو سره اود موادعت تعلق د اهل حرب سره دې.(۵)

د جزیه مشروعیت:ددې نه پس په دې ځان پوهه کړئ چې د جزیه ثبوت او ددې مشروعیت د قرآن کریم،احادیث نبویه او د اجماع نه دې او د قیاس تقاضه هم داده.لکه د قرآن کریم دا آیت کریمه ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾ کوم چې امام بخاری رحمه الله هم دلته ذکر کړې دې،د جزیه د مشروعیت دپاره اصل اصیل دې.(۶).

او په سنت کښې هم ددې په مشروعیت باندې ډیر احادیث مبارکه دی،مثلاً د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دې چې هغوی د "جنګ نهاوند" په موقع باندې د کسری فوج ته د خطاب په وخت فرمائیلې وو:

"أمرنا نبینا رسول ربنا أن نقاتلکم حتی تعبدوا الله وحده أو تؤدوا الجزیة......"(۷)

---

(۱) پورته حواله،وفتح الباری:۲۵۹/۶،ومعجم مقاییس اللغة:۱۴۵۵،والجامع لاحکام القرآن للقرطبی: ۱۱۴/۸،البنایة:۲۳۸/۷،باب الجزیة)_

(۲) اعلاء السنن:۴۲۹/۱۲)_

(۳) عمدة القاری:۷۷/۱۵،والنهایة فی غریب الحدیث والاثر:۷۱/۱)_

(۴) عمدة القاری:۷۷/۱۵،وفتح الباری:۲۵۹/۶،وتحفه الباری:۵۶۵/۳)_

(۵) پورته حواله جات)_

(۶) فتح الباری:۲۵۹/۶،وعمدة القاری:۷۸/۱۵،واعلاء السنن:۴۲۹/۱۲)_

(۷) اعلاء السنن:۴۳۰/۱۲)_

دغه شان د امت مسلمه هم په دې باندې اجماع ده چې د ذميانو نه به جزيه وصوليږي(۱).
هر چې قياس دې نو د قياس تقاضه هم داده چې د دوی نه جزيه وصول کړې شي.ځکه چې هرکله دا خلق زمونږ د مسلک او د دين تابع نهٔ دی نو زمونږ د ملک(دارالاسلام)نه د فائدې اخستلو کنبې به دوی ته خامخا څهٔ نه څهٔ ورکول وی.دا خو د جزيه د وصولئ ظاهری وجه شوه.(۲).
ددې نه علاوه د جزيه په وصولولو کنبې يو باطنی حکمت هم دې او هغه دا چې کله دوی جزيه ادا کړی او د وطن دويم نمبر خلق شمار شی نو د دوی نفس ته به خفګان اورسی او دوی په طبيعتونو کنبې به د اسلام طرفته ميلان پيدا شی،دې دپاره چې دوی هم ايک نمبر خلق شمار شی،دغه شان دوی چې کله د مسلمانانو سره لين دين او ميل ملاپ ساتی او خپل مينځ کنبې په معاملاتو کنبې شرکت کوی نو دوی ته به د اسلام په صفتونو باندې د خبريدو موقع ملاؤ شی،نو ممکنه ده چې دا څيز د دوی د اسلام قبلولو سبب جوړ شی(۳).
دجزيه مشروعيت په اتمه(۸)هجرئ کنبې اوشويا په نهمه(۹)کنبې،دواړه اقوال موجود دی(۴)

يو شبهه او د هغې جواب:ممکنه ده چې په ملحدينو کنبې يو روشن خيال سړې دا شبهه پيش کړی چې د ذميانو نه جزيه وصولول د دوی په کفر باندې رضامندی ده او دغه شان دوی لره په شرکيه مذهب باندې قائم اوسيدل مباح ګرځولې شوې دی،د جزيه د ادا کولو په وجه باندې د اسلام په بدله کنبې په کفر باندې د دوی برقرار اوسيدل څنګه صحيح کيدې شی؟
ددې شبهې جواب ډير واضح دې،هغه دا چې جزيه نهٔ د اسلام بدل دې او نهٔ د اسلام قيمت.
بلکه دا يو قسم ټيکس دې،چې په دارالاسلام کنبې د اوسيدلو د وجې نه د دوی نه وصولولې شی،دوی ته د جان ومال،د عزت او ناموس د حفاظت ضمانت ددې جزئې په ادا کولو باندې ورکولې شی،او په معاملاتو کنبې د دوی نه د اسلام د لحاظ ساتلو ضمانت اخستلې شی چې دا ذميان به ددې احترام کوی.
دغه شان د دوی نه د جزيه د وصولولو مطلب بالکل دا نهٔ دې چې د دوی په کفر باندې رضامندی اختيارولې شی بلکه دا خو د هغوی په کفر اختيارولو باندې يو دنيوی سزا ده ځکه چې په دې کنبې د دوی ذلت دې،

لکه د الله تعالی ارشاد مبارک دې: (...**حتى يعطوا الجزية وهم صاغرون**)(۵).
او د دوی نه جزيه اخستلو سره دوی ژوندی پريخودل خو داسې دی چې بغير د جزيه اخستلو مونږ دوی پريږدو او دوی باندې څهٔ غرض نهٔ لرو،ځکه چې عقلاً هم دا خبره صحيح نهٔ ده چې

---

(۱) المغنی لابن قدامة:۹۲۶۳/۳،وپورته حواله)_
(۲) احکام القرآن:۱۳۳/۳،سورة التوبة،فصل،واعلاء السنن:۴۳/۱۲،الجواب عن شبهة الملحدين فی الجزية)
(۳) فتح الباری:۲۵۹/۶)_
(۴) پورته حواله)_
(۵) التوبة:۲۹)_

دوی تول قتل کړې شی،که دا کار صحیح وو نو الله تعالی به یو کافر د یو لمحې دپاره هم ژوندې نهٔ وو پریخودلې،اوس که الله تعالی دوی ژوندی ساتلې دی نو ددې مطلب هم دادې چې دوی ته دا سزا ورکړې شی،دې دپاره چې دوی ته د کفر نه د توبې کولو توفیق ملاؤ شی او د ایمان طرفته رغبت ملاؤ شی،نو هرکله چې د الله تعالی دا مقصد دې نو په دې کښې هیڅ باك نشته چې د الله تعالی له طرفه دوی ته مهلت ورکړې شی،دا خو د الله تعالی په علم کښې ده چې بعضې به په دوی کښې ایمان راوړی او بعضې به د دوی په نسلونو کښې ایمان راوړی،نو ددې جزیه په وصولولو کښې او کفارو لره ژوندی پریخودلو کښې د الله تعالی ډیر لوئې مصلحت دې.

بیا په دې کښې د مسلمانانو هم ډیرې فائدې دی،ځکه چې که چرته مسلمانان کافرو لره بالکل ژوندی نهٔ پریږدی نو په دې کښې هم د مسلمانانو حرج دې،مثلاً په زمکو کښې زمینداری او د مجاهدینو خدمت به څوک کوی؟دغه شان د اسلامی لښکر د خوراک څکاک انتظام به څوک کوی؟د پلونو جوړول او د قلعه ګانو د جوړولو فریضه به څوک ادا کوی؟ددې وجې نه دا ټولې خبرې هم په ذهن کښې ساتل پکار دی[۱].

وقول الله تعالى: ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾ التوبة: ۲۹ أَذِلَّاءُ. و: المسكنة/البقرة: ۶۱/و/آل عمران: ۱۱۲/: مصدر المسكين،يقال: فلان أسكن من فلان: أحوج منه،ولم يذهب إلى السكون.

او د الله تعالی قول چې په اهل کتابو کښې څوک ایمان نهٔ راوړی او نهٔ په قیامت باندې ایمان لری او نهٔ هغه څیزونه حرام ګڼړی کوم څیزونه چې الله تعالی او د هغهٔ رسول حرام ښودلې دی او نهٔ رښتونې دین قبلوی،دوی سره جنګ اوکړئ،تردې چې دوی ماتحت شی او رعیت جوړیدلو سره جزیه ورکول منظور کړی.

د ایت کریمه شان نزول او مختصر تشریح:هرکله چې په مشرکانو باندې اهل اسلام ته غلبه حاصله شوه،خلق ډلې ډلې اسلام کښې داخل شو،په جزیرهٔ عرب کښې د مسلمانانو جرړې او بنیاد مضبوط شو او د الله تعالی آخری دین،دین محمدی ﷺ ښهٔ خور شو او ښهٔ ترقی ئې اوکړه نو دا آیت نازل شو،کوم کښې چې الله تعالیٰ اهل کتاب یهودیانو او عیسایانو سره د قتال کولو حکم فرمائیلې دې،هم دا وجه وه چې نبی علیه السلام اسلامی لښکر رومیانو سره د قتال دپاره تیار کړو او خلقو ته ئې په دې کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو،چې ددې په نتیجه کښې د غزوهٔ تبوک واقعه پیښه شوه،ددې واقعه مشهوره ده[۲].

---

[۱]) هذا ملخص ما قاله الرازی فی احکام القرآن: ۱۳۳/۳،فصل،سورة التوبة،والعثمانی فی اعلاء السنن: ۴۳۰/۱۲، وكذا انظر البناية شرح الهداية: ۲۳۸/۷و ۲۴۱)_

[۲]) عمدة القاری: ۷۸/۱۵)_

"يد" ائمه لغت ددې د شلو نه زياتې معنې بيان كړې دى.ليكن دلته د "يد" نه مراد قهر او غلبه ده (۱).يا د نفس خوشحالى ده او هر هغه سړې چې د يو ظالم جابر اطاعت اختيار كړى او هغۀ ته د زړۀ په رضامندئ سره د لاس په ذريعه څۀ وركړى نو وئيلې شى "أعطاه عن يد" اوس به د (حتى يعطوا الجزية عن يد) معنى داوى: "تردې چې د زړۀ په خوشئ سره جزيه ادا كړى". او د قهر او غلبې د معنې په اعتبار سره به مطلب دا وى چې جزيه ادا كوونكى به د مغلوب او مقهور كيدو د وجې نه جزيه ادا كوى.ددې يو بل مطلب هم بيان كړې شوې دې چې جزيه دوى په خپل لاس باندې ادا كړى.د چا په ذريعې سره ئې نۀ وركوى.(۲).والله اعلم

أذلاء: دا د امام بخارى رحمه الله په نزد د (وهم صاغرون) تفسير دې.يعنى "صاغرون" معنى ذليل او حقير كيدل دى.لكه ابوعبيدپه خپل كتاب "المجاز" كښې ليكلې دى "الصاغر: الذليل، الحقير" (۳) والمسكنة مصدر المسكين، يقال: أسكن من فلان أحوج منه.

او مسكنة د مسكين مصدر دې،لكه څنګه چې وئيلې شى أسكن من فلان يعنى هغه د فلانى نه زيات محتاج دې.د امام بخارى رحمه الله مشهور عادت دې چې هغه د څۀ لږ مناسبت د وجې نه د قرآن كريم نور آيتونه هم د باب لاندې ذكر كوى او د هغې تفسير او تشريح كوى.دلته هم د مصنف رحمه الله ذهن بل طرفته منتقل شو او هغوى هم د اهل كتابو په باره كښې نازل شوې د يو بل آيت (وضربت عليهم الذلة والمسكنة) (۴) تفسير شروع كړو چې لفظ "مسكنة" د مسكين مصدر دې لكه څنګه چې د أسكن من فلان معنى په أحوج من فلان سره بيانولې شى (۵).

قوله: ولم يذهب إلى السكون: او امام بخارى د سكون طرفته تګ اونۀ كړو.

مطلب دادې چې امام بخارى رحمه الله د مسكين اشتقاق د سكون نه اونۀ كړو.بلكه هغوى دا د مسكنة نه ماخوذ ښودلې دې.ددې جملې ويونكې (قائل) څوک دې؟

ددې په باره كښې د حافظ صاحب رحمه الله خيال دادې چې ددې جملې صحيح قائل د بخارى راوى فربرى رحمه الله دې.(۶).

ترجمة الباب سره د ايت كريمه مناسبت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چې ترجمة الباب سره د آيت كريمه مناسبت د آيت كريمه په دې حصه كښې دې: (حتى يعطوا الجزية عن يد وهم صاغرون) (۷)

---

(۱) پورته حواله.وتحفة البارى:۵۶۵/۳.والقاموس الوحيد.مادة "يدى")_
(۲) فتح البارى:۲۵۹/۶.واحكام القرآن:۱۲۹/۳)_
(۳) فتح البارى:۲۵۹/۶.وتحفة البارى:۵۶۵/۳.والقسطلانى:۲۲۹/۵.وعمدة القارى:۷۸/۱۵)_
(۴) البقرة:۶۱)_
(۵) عمدة القارى:۷۸/۱۵.وتحفة البارى:۵۶۵/۳.والقسطلانى:۲۲۹/۵.وفتح البارى:۲۵۹/۶)_
(۶) فتح البارى:۲۵۹/۶)_
(۷) عمدة القارى:۷۸/۱۵)_

قوله: وَمَا جَاءَ فِي أَخْذِ الْجِزْيَةِ مِنَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَىٰ وَالْمَجُوسِ وَالْعَجَمِ: او د يهوديانو، نصارى، مجوسيانو او عجميانو نه د جزئې د وصولولو په بيان كښې دا كتاب دې دا د ترجمة الباب باقى حصه ده.

جزيه به د چانه اخستلې شى؟ ددې ځائې نه اختلافى مسئله شروع كيږى چې جزيه به د كومو خلقو نه اخستلې شى، آيا صرف د اهل كتابو نه يا د نورو مذهبونو د تابعدارو خلقو نه هم؟ تفصيل لاندې ذكر كولې شى:

①: د امام شافعى او احمد رحمة الله عليهما مذهب دادې چې جزيه به صرف د اهل كتابو او مجوسيانو نه اخستلې شى.(۱) پاتې شو بت پرست، اهل هوى او باقى ټول كفار، نو د دوى نه به جزيه نۀ قبليږى، ددې ټولو خلقو له طرفه به صرف اسلام قابل قبول وى.(۲).

هرچه مجوسيان دى نو چونكه د نبى كريم ﷺ نه ثابت دى چې هغوى د مجوسيانو نه جزيه اخستلې وه نو د سنت په ذريعې سره به په كتاب الله كښې تخصيص اوشى او د جزيه په حكم كښې به مجوسيان هم داخل شى.(۳).

② د امام مالک رحمه الله مذهب دادې چې د جزئې حكم هر كافر ته شامل دې. ددې وجې نه به د هركافر نه جزيه وصولولې شى، خواه كتابى وى يا مجوسى وى، هندو وى يا سيک. عرب وى يا عجم.(۴).

ليكن د هغوى په نزد مرتد په دې عام كښې داخل نۀ دې، يعنى د هغۀ په حق كښې جزيه قابل قبول نۀ ده، ده د پاره خو دوه صورتونه جائز دى، توبه يا قتل.

هم دا مذهب د امام اوزاعى او د شام د فقهاء كرامو هم دې.(۵).

دې حضراتو په دې سلسله كښې استدلال د حضرت بريده رضي الله عنه د روايت نه كړې دې، كوم چې امام مسلم رحمه الله وغيره نقل كړې دې، حضرت بريده رضي الله عنه فرمائى:

"كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أمر أميراً على جيش أو سرية أوصاه فى خاصته بتقوى الله ومن معه من المسلمين خيراً، ثم قال: ...... وإذا لقيت عدوكم من المشركين فادعهم إلى ثلاث خصال ـ أو خلال ...... فان هم أبوا فسلهم الجزية، فان هم أجابوك فاقبل منهم، وكف عنهم ......"(۶).

---

(۱) پورته حواله، وفتح البارى: ۲۵۹/۶، والاوجز: ۱۹۱/۶، والمغنى: ۹۲۶۳/، وكتاب الام: ۱۷۴/۴/۲)_

(۲) المغنى: ۹۲۶۶/، رقم: (۷۶۴۲))_

(۳) الفتح: ۲۵۹/۶_۲۶۰، وكتاب الام: ۱۷۲/۴/۲_۱۷۳، وعمدة القارى: ۷۸/۱۵، واحكام القرآن: ۱۲۰/۳)_

(۴) المدونة الكبرى: ۴۶/۲، وفتح البارى: ۲۵۹/۶، وعمدة القارى: ۷۸/۱۵)_

(۵) فتح البارى: ۲۵۹/۶، وعمدة القارى: ۷۸/۱۵)_

(۶) الحديث اخرجه مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تامير الامام على البعوث ووصية..... رقم (۴۵۲۱_۴۵۲۴)، و ابو داود، اول كتاب الجهاد، باب فى دعاء المشركين، رقم (۲۶۱۲_۲۶۱۳)، والترمذى، ابواب السير، باب ما جاء فى وصية ﷺ فى القتال، رقم (۱۶۱۷)، وابن ماجه، ابواب الجهاد، وصية الامام، رقم (۲۸۵۸)

يعنی ”دنبی ﷺ عادت مبارکه خو دا وو، چې کله به ئې څوک دلښکر يا دسريې امير مقررولو، نوعادت مبارکه دا وو چې مذکوره امير ته به ئې د خپل ذات او د عامو مسلمانانو په باره کښې د الله تعالی نه د ويريدو وصيت فرمائيلو، بيا به ئې ارشاد فرمائيلو.......او کله چې دشمن سره مخامخ شئ نو تاسو هغوی ته د دريو څيزونو دعوت ورکړئ........که هغوی انکار اوکړی نو د هغوی نه جزيه طلب کړئ، که په دې باندې راضی شی نو د هغوی نه جزيه قبول کړئ او هغوی سره څۀ غرض مۀ ساتئ........“

ددې حديث د عموم نه دا حضرات استدلال کوی چې دا حديث ټولو مشرکينو او کافرانو ته عام دې، لکه څنګه چې دلته نبی ﷺ د مشرکين لفظ استعمال فرمائيلې دې، لهذا د کوم څائې شرک چې هم وی، هر قسم شرک چې وی نو هغه ددې حديث په عموم کښې داخل دې.[1] اهل کتاب هم ښکاره خبره ده چې د هغوی اکثره حصه خلق مشرکان دی، څوک عزير ﷺ ته ابن الله وائی او څوک عيسی ﷺ ابن الله منی.

دغه شان دا حضرات ددې خبرې نه هم دليل نيسی چې نبی ﷺ د هجر د مجوسيانو نه جزيه وصول کړې ده، او دا ددې خبرې تقاضه کوی چې دلته د آيت کريمه د مفهوم مخالف اعتبار نۀ دې کړې شوې، بلکه مفهوم مخالف لره اعتبار ورکول دلته پريخودلې شوې دی، نو هرکله چې ددې حديث په ذريعې سره د اهل کتابو تخصيص اوکړې شو نو معلومه شوه چې په آيت کريمه کښې مذکوره کلمات (من أهل الكتاب) څۀ مفهوم مخالف نشته.[2]

③ د احنافو حضراتو کثّرالله سوادهم. مذهب د جزيه په اخستلو کښې دادې چې د اهل کتاب، مجوسيانو او د عجم د بت پرستو نه به جزيه اخستلې شی، هرچه د عربو بت پرست دی نو د هغوی نه به جزيه نۀ اخستلې کيږی، د هغوی دپاره اسلام دې يا توره، دريم هيڅ صورت نشته، دغه شان د مرتدينو نه به هم جزيه نۀ قبليږی.[3]

غالباً امام بخاری ﷫ هم ددې مسلک قائل دې ځکه چې دلته هغوی د ترجمة الباب لاندې کوم الفاظ ذکر کړې دی، د هغې نه هم دا معلوميږی.[4]

د احنافو مذهب د مالکيه په شان دې، فرق صرف دادې چې هغوی د مشرکين عرب نه هم د

---

[1]) شرح ابن بطال:۳۳۰/۵، واحكام القرآن للرازی:۱۱۸/۳_۱۲۱)_

[2]) شرح ابن بطال:۳۳۰/۵، وفتح الباری:۲۶۰/۶)_

[3]) الهداية مع فتح القدير:۲۹۱/۵، وعمدة القاری:۷۸/۱۵، واحكام القرآن:۱۲۱/۳)_ قال الامام محمد بن الحسن الشيبانی ﷫:_ ثم كل من يجوز استرقاقه من الرجال يجوز اخذ الجزية منه بعقد الذمة: كاهل الكتاب وعبدة الاوثان من العجم، ومن لا يجوز استرقاقه لا يجوز اخذ الجزية منه: كالمرتدين وعبدة الاوثان من العرب. والاصل فيه حديثان.... "السير الكبير مع شرحه للسرخسی:۱۳۲/۳/۲، باب قتل الاساری والمن عليهم، رقم الباب(۱۰۷))_

[4]) عمدة القاری:۷۸/۱۵، واوجز المسالک:۱۹۲/۶، وفيض الباری:۴۷۲/۳)_

جزيه اخستلو قائل دی او احناف ددې قائل نهٔ دی.ددې حضراتو مستدل يو خو هم دغه آيت كريمه دې كوم چې امام بخاری رحمه الله هم په باب كښې ذكر كړې دې.
دويم مستدل د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه حديث دې كوم چې ددې تذكره ده چې هغوی د هجر د مجوسيانو نه جزيه اخستلې وه.دا حديث باب كښې راروان دې(١).بيا قياس هم د احنافو تائيد كوی،هغه دا چې اهل كتاب،مجوسيان او عجمی بت پرستو لره غلامان جوړول جائز دی نو د دوی نه جزيه قبلول به هم جائز وی.ددې عكس مرتد دې چې هغهٔ لره غلام جوړول جائز نهٔ دی لهذا د هغهٔ نه جزيه اخستل هم جائز او صحيح نهٔ دی(٢).
د مشركينو د عرب د تخصيص وجوهات: هرچه د مشركين عرب او د مرتدينو نه جزيه نهٔ اخستل دی نو ددې وجه داده چې د هغوی د كفر نوعيت او كيفيت لږ مختلف دې ځكه چې د هغوی كفر لږ زيات سخت دې،اوګورئ نبی عليه السلام د مشركينو د عرب مينځ كښې لوئې شوې وو،قرآن كريم هم د هغوی په ژبه كښې نازل شوې وو،ددې وجې نه معجزات د هغوی په حق كښې زيات ښكاره وو،ددې ټولو باوجود د اسلام نهٔ قبلولو مطلب چې ضد.بغض او طاقت ښودل نهٔ دی نو نور څهٔ دی؟(٣).
دغه شان د مرتد معامله ده،هغهٔ د هدايت نه پس تيارهٔ،د اسلام او اطاعت نه پس د خپل حقيقی رب انكار كړې دې،حالانكه دهٔ ته د اسلام د صفتونو هم معلومات وو.ددې وجې نه به د دهٔ نه جزيهٔ نهٔ اخستلې كيږی،په سزا كښې به د زياتی او اضافې په طور سره ددهٔ په حق كښې صرف توره يا صرف اسلام قابل قبول وی.
علامه رازی رحمه الله په احكام القرآن كښې نور وجوهات هم ددې تخصيص دپاره ذكر كړې دی:
① امام معمر رحمه الله د علامه زهری رحمه الله نه نقل كړې دی چې نبی عليه السلام بت پرستو سره په جزيه باندې صلح كړې وه،البته ددې نه هغه بت پرست جدا وو كوم چې عرب وو.
② د الله تعالى ارشاد دې(فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم)(٤) دا آيت كريمه د عرب د بت پرستو په باره كښې نازل شوې وو،ددې وجې نه دوی به يا خو قتلولې شی يا به دوی اسلام قبلوی(٥).دغه شان ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چې د مشركينو د عرب په باره كښې زمونږ دا

---

[١]) الفقه الحنفی وادلته:٣٩٩/٢،والهداية مع فتح القدير:٢٩٢/٥)_
[٢]) شرح ابن بطال:٣٣٠/٥،والهداية مع فتح القدير:٢٩٢/٥)_
[٣]) مرقاة المفاتيح:٥٥٥/٧،الفصل الثالث من باب الجزية،والهداية مع فتح القدير:٢٩٢/٥،واوجز المسالك: ١٩٧/٦،والمبسوط للسرخسی:١٢٦/١٠،باب المرتدين)_
[٤]) التوبة:٥)_
[٥]) احكام القرآن:١٢١/٣،مطلب فی الصابئين،والاوجز:١٩٣/٦،و١٩٥،والمصنف لعبد الرزاق: ٣٢٦/١٠، رقم (١٩٢٥٩)،وانظر كذلک كتاب السيرالكبيرمع شرح السرخسی:١٣٢/٣/٢،باب(١٠٧)قتل الاسارى والمن عليهم)

دلیل دي.(تقاتلونهم أو یسلمونهم)(۱) او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چې نبی علیه السلام اوفرمائیل: "لایقبل من مشرکی العرب إلا الاسلام أو السیف"(۲).

د کومو خلقو نه به جزیه نهٔ اخستلې کیږی؟ وړاندې چې کوم بحث اوشو نو د هغې تعلق دې سره وو چې جزیه په کومو خلقو باندې واجبه ده.اوس بحث دادې چې جزیه په کومو خلقو باندې واجبه نهٔ ده،نو په دې سلسله کښې د حضراتو احنافو رحمهم الله دلیل دادې چې د عربو په بت پرستو،مرتدینو،ښځو،ماشومانو،معذور خلقو،نابینا،شیخ فانی او په کار باندې قدرت او طاقت نهٔ لرونکی فقیرانو باندې جزیه واجبه نهٔ ده(۳).

د عرب بت پرستو او مرتدینو نه د جزیه نهٔ اخستلو چې کومه وجه وه نو هغه مونږ وړاندې بحث کښې ذکر کړه،هرچه د ښځو،ماشومانو،معذورو خلقو او د شیخ فانی وغیره نه جزیه نهٔ اخستل دی او په دوی باندې د نهٔ واجب کیدلو چې کومه معامله ده نو د هغې وجه داده چې دوی په جنګونو کښې نهٔ شی قتلولې،او قانون دادې چې کوم سړې د سزا په طور نهٔ قتلیږی نو د هغهٔ نه د جزیې مطالبه هم نهٔ کیږی،چونکه جزیه خو ددې وجې نه لازمه شوې وه چې قتل ترینه ساقط کړې شی،ددې وجې نه چې د کوم سړی قتل واجب نهٔ دې نو په هغهٔ باندې جزیه هم لازمه نهٔ ده او دا هغه کسان دی چې د دوی قتل جائز نهٔ دې،ددې وجې نه په دوی باندې جزیه ادا کول هم لازم نهٔ دی.

د حضرت عمر رضی الله عنه مولی حضرت اسلم فرمائی: "کتب عمر رضی الله عنه الی امراء الجزیة: ان لایضعوا الجزیة الا علی من جرت علیه المواسی،ولایضعوا الجزیة علی النساء والصبیان......"(۴).

چې "حضرت عمر رضی الله عنه د جزیې وصولولو ذمه دارانو ته اولیکل چې هغوی جزیه لازمی نهٔ کړی سوا د هغه سړی چې د چا په سر باندې چاړهٔ چلیدلې وی،یعنی بالغ وی او په ښځو او ماشومانو باندې جزیه لازمه نهٔ کړئ".

فقیرغیرمعتمل،یعنی هغه فقیر چې د څهٔ پیشې او صنعت وغیره باندې پوهیدلو باوجود په کار باندې قدرت نهٔ لری،د داسې فقیر نه د جزیه نهٔ اخستلو وجه داده چې حضرت عمر رضی الله عنه دا شرط لګولې وو چې د هغه فقیر نه به جزیه اخستلې کیږی څوک چې په کار باندې قدرت لری. لکه صله بن زفر فرمائی چې حضرت عمر رضی الله عنه د ذمیانو یو بوډا اولیدلو چې سوال کوی(خیر غواړی)حضرت تپوس اوکړو چې تا ته څهٔ تکلیف دې؟سوال ولې کوې؟نو بوډا

---

(۱) الفتح:۱۶)_

(۲) کتاب الخراج لابی یوسف القاضی،ومرقاة المفاتیح:۵۵۵/۷،و عن الحسن قال:امر رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یقال العرب علی الاسلام،ولا یقبل منهم غیره....".اعلاء السنن:۴۵۰/۱۲،والفقه الحنفی وادلته:۴۰۰/۲)_

(۳) الفقه الحنفی وادلته:۴۰۰/۲،والهدایة مع فتح القدیر:۲۹۳/۵_۲۹۴)_

(۴) سنن البیهقی:۹۳۳۳/،کتاب الجزیة،باب من یرفع عنه الجزیة،رقم (۱۸۷۰۰)،والهدایة مع فتح القدیر:۲۹۴/۵،والفقه الحنفی وادلته:۴۰۱/۲)_

اوونيل چې ماسره مال نشته او زما نه جزيه اخستلې کيږی.ددغه پيسو پوره کولو دپاره سوال کوم.حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې مونږ تاسو سره انصاف اونهٔ کړو ځکه چې مونږ ستاسو ځوانی اوخوړه او اوس ستاسو نه جزيه هم اخلو.بيا خليفه خپلو ټولو کسانو ته اوليکل چې د شيخ فانی نه جزيه مهٔ اخلئ(۱).

دغه شان د مملوک،مکاتب،مدبر،ام ولد او راهب کوم چې خلقو سره ميل ملاپ نهٔ ساتی، دوی نه به هم جزيه نهٔ اخستلې کيږی(۲).

وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ قُلْتُ لِمُجَاهِدٍ مَا شَأْنُ أَهْلِ الشَّأْمِ، عَلَيْهِمْ أَرْبَعَةُ دَنَانِيرَ وَأَهْلُ الْيَمَنِ عَلَيْهِمْ دِينَارٌ قَالَ جُعِلَ ذَلِكَ مِنْ قِبَلِ الْيَسَارِ.

او ابن عيينه د ابن ابی نجيح نه روايت کوی چې ما د مجاهد نه تپوس اوکړو چې ددې څهٔ وجه ده چې په اهل شام باندې خو څلور ديناره لازم دی او په اهل يمن باندې صرف يو دينار لازم دې؟نو هغوی اوفرمائيل چې دا د مالدارئ او د غريبئ په حساب سره مقرر کړې شوې ده.يعنی شامی خلق چونکه مالدار دی ددې وجې نه د هغوی نه څلور ديناره اخستلې شی او يمنی خلق غريب دی نو د هغوی نه يو دينار اخستلې شی.

د مذکوره تعليق تخريج: دا تعليق امام عبدالرزاق رحمه الله په خپل مصنف کښې موصولاً "أخبرنا ابن عيينة عن ابن أبي نجيح" د سند سره نقل کړې دې(۳).دغه شان ابوعبيد رحمه الله هم په کتاب الاموال کښې دا بلاغاً روايت کړې دې(۴).

د مذکوره تعليق مقصد: امام بخاری رحمه الله دا اثر دلته ذکر کولو سره د جزيه په وصولئ کښې د فرق طرفته اشاره کړې ده.د ذميانو نه چې کومه جزيه وصولولې شی نو ددې به څومره مقدار وی،په دې کښې هم د ائمه اربعه اختلاف دې.

① د امام ابوحنيفه او په يو روايت کښې د امام احمد(۵) مذهب دادې چې خلق درې قسمه وی: مالدار، متوسط او فقيران،د مالداروخلقونه به کال کښې اتهٔ څلويښت دينارونه

---

(۱) نصب الراية:۳/۴۵۳،باب الجزية،الحديث الرابع،وكتاب الاموال لابن زنجويه:۱۱۶۲،باب من تجب عليه الجزية ومن تسقط عنه،رقم (۱۶۵)وكنز العمال:۴/۲۱۳،كتاب الجهاد،رقم (۱۱۴۷۳)اعلاء السنن: ۱۲/۴۶۲، والهداية مع فتح القدير:۵/۲۹۴،والفقه الحنفى و ادلته:۲/۴۰۱)_

(۲) الهداية مع فتح القدير:۵/۲۹۴،و۲۹۵،باب الجزية،وقال ابن رشد فى بداية المجتهد:۱/۴۰۴،الفصل السابع فى الجزية: فانهم اتفقوا على انها انما تجب بثلاثة اوصاف:الذكورية،والبلوغ،والحرية،وانها لا تجب على النساء والصبيان،اذا كانت انما هى عوض من القتل انما هو متوجه بالامر نحو الرجال البالغين،اذ قد نهى عن قتل النساء والصبيان،وكذلک اجمعوا انها لا تجب على العبيد")_

(۳) المصنف لعبد الرزاق:۱۰/۳۳۰،كتاب اهل الكتابين،باب كم يؤخذ منهم فى الجزية،رقم: (۱۹۲۷۱)، وتغليق التعليق:۳/۴۸۲،وعمدة القارى:۱۵/۷۹)_

(۴) كتاب الاموال،باب فرض الجزية،ومبلغها.....:۱/۵۱،وتغليق التعليق:۳/۴۸۲)_

(۵) المغنى لابن قدامة:۹۲۶۷/،واعلاء السنن:۱۲/۴۳۱)_

اخستلې شي ،يا څلور ديناره،د هرې مياشتې په حساب سره.دا درې درهمه جوړيږي.د متوسط قسم خلقو نه به څلور ويشت درهمه(يا دوه ديناره)يعنى هره مياشت كښې دوه ديناره او د فقيرانو نه به دولس ديناره(يا يو دينار) مياشت كښې يو دينار[1].

②د امام ثوري،ابو عبيد ،په يو روايت كښې د امام احمد رحمهم الله مذهب دادې چې د جزيې څۀ خاص مقدار متعين نۀ دې،د امام په رائې باندې منحصره ده چې كم وصولوى يا زياته[2].

③د امام شافعي رحمه الله مسلک دادې چې د مالدار او فقير دواړو نه به يو دينار وصولولې شي[3].البته امام ته دا اختيار دې چې مماكست اوكړى يعنى د جزيې رقم د زياتولو كوشش اوكړى،تردې چې څلور ديناره د دوى نه واخستلې شي[4].

④د امام مالک رحمه الله غوره قول دادې چې د سرو زرو والو نه به څلور ديناره او د چاندئ والو نه به څلويښت درهمه اخستلې شى[5].او كۀ ددې طاقت نۀ وى نو د ضرورت په قدر به كمولې شى[6].

⑤ په حنابله كښې د امام ابوبكر غوره مسلک دادې چې د جزيې كم از كم مقدار يو دينار دې،او د زيات مقدار حد ئې مقرر نۀ دې،د امام احمد نه هم يو دا روايت مروى دې[7].

د مذهبونو دلائل: د احنافو دليل د حضرت عمر رضي الله عنه هغه فيصله ده كومه چې هغوى مختلفو ګورنرانو او عاملينو ته ليږلې وه،لكه ابو عون محمد بن عبيد الله الثقفى رحمه الله ليكى:

"وضع عمر بن الخطاب رضي الله عنه فى الجزية على رؤوس الرجال، على الغنى ثمانية وأربعين درهماً، وعلى المتوسط أربعة وعشرين درهماً، وعلى الفقير اثنى عشر درهماً".

امام ابوبكر بن ابى شيبه دا روايت په خپل"مصنف" كښې مرسلاً روايت كړې دې[8].او ابن زنجويه په"كتاب الاموال" كښې دا مسنداً روايت كړې دې او په دې مسند روايت كښې په يو راوى مندل باندې كلام دې ليكن مرسل روايت كه مسنداً روايت كړې شى،خواه

---

[1]) فتح البارى:۲۶۰/۶.واعلاء السنن:۴۳۱/۱۲.والهداية مع فتح القدير:۲۸۹/۵)_
[2]) المغنى لابن قدامة:۲۶۷/،رقم (۷۶۴۰).واعلاء السنن:۴۳۱/۱۲)_
[3]) احكام القرآن للجصاص:۱۲۵/۳.واعلاء السنن:۴۳/۱۲.و كتاب الام:۲۷۹/۴)_
[4]) فتح البارى:۲۶۰/۶.وشرح النووى على مسلم:۸۲/۲)_
[5]) شرح الزرقانى على المؤطا:۱۴۰/۲،جزية اهل الكتاب والمجوس.وبداية المجتهد:۴۰۴/۱.الفصل السابع فى الجزية.واوجز المسالک:۲۰۴/۶)_
[6]) پورته حواله جات.وفتح البارى:۲۶۰/۶)_
[7]) المغنى لابن قدامة:۹۲۶۷/.واعلاء السنن:۴۳۱/۱۲)_
[8]) المصنف لابن ابى شيبة:۴۰۶/۱۷.كتاب السير،ما قالوا فى وضع الجزية،رقم(۳۳۳۱۱).او پورته حواله جات)

په ضعيف طريق سره وى نو د ټولو په نزد حجت او دليل وى.(۱).
دغه شان حارثه بن مضرب، د حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت كوى:
"انه بعث عثمان بن حنيف، فوضع عليهم ثمانية وأربعين درهماً، وأربعة وعشرين، واثنى عشر......"(۲).
چې "حضرت عمر رضي الله عنه عثمان بن حنيف روان كړو، نو هغوى په ذميانو باندې اته څلويښت درهمه، څلور ويشت درهمه او دولس درهمه مقرر كړل"
دا حديث مرسلاً او موصولاً متعدد طرقو سره روايت شوې دې او دا صحيح او مشهور حديث دې، علامه ابن قدامه رحمه الله په المغنى كښې فرمائي چې ددې حديث په صحت او شهرت كښې هيڅ شک و شبهه نشته خواه صحابه كرام رضي الله عنهم وى يا غير صحابه. د ټولو په نزد ددې صحت منلې شوې دې، هيڅ يو منكر ددې انكار نۀ دې كړې او په دې كښې د چا اختلاف هم نشته، په دې حديث باندې د حضرت عمر رضي الله عنه نه پس خليفه ګانو هم عمل كړې دې، چې ددې خبرې دليل دې چې په دې باندې اجماع شوې ده او ددې خلاف عمل كول جائز نۀ دى ترديې چې په خپله د امام شافعى رحمه الله نه روايت دې چې په دې حديث باندې عمل كول مستحب دى.(۳).
د امام ثورى او ابوعبيد وغيره وينا داده چې د جزيې د مقدار په سلسله كښې د نبى عليه السلام او د حضرت عمر رضي الله عنه نه مختلف قسم احكامات روايت شوې دى، لكه نبى عليه السلام حضرت معاذ رضي الله عنه ته دا حكم وركړې وو چې د هر بالغ نه يو دينار وصول كړى(۴). دغه شان نبى عليه السلام د نجران نصارو سره په دوه زره جوړو باندې صلح كړې وه، د نيمو جوړو ادا كول په صفر كښې وو او باقى نيمې په رجب كښې ادا كول ضرورى وو.(۵). او حضرت عمر رضي الله عنه د جزيې درې طبقې مقرر كړې وې چې په مالدار سړى باندې اته څلويښت درهمه، په متوسط باندې څلورويشت او په فقير باندې دولس درهمه(۶).
دغه شان كله چې حضرت عمر رضي الله عنه د بنوتغلب نصارو سره صلح اوكړه نو په هغې كښې دا فيصله هم شوې وه چې مسلمانان په زكوة كښې څۀ ادا كوى نو دوى به د هغې دوچند په

---

۱) كتاب الاموال لابن زنجويه: ۱/۲۱۰، باب ارض العنوة تقر بايدى.....رقم (۲۵۸)، اعلاء السنن: ۱۲/۴۳۱)
۲) پورته حواله، ص: ۴۳۳، ۴۳۴، وفتح البارى: ۶/۲۶۰)_
۳) المغنى لابن قدامة: ۹۲۶۸/، واعلاء السنن: ۱۲/۴۳۲_۴۳۳)_
۴) حديث معاذ اخرجه الترمذى، ابواب الزكاة، باب ما جاء فى زكاة البقر، رقم (۶۲۳)، وابو داود، ابواب الزكاة، باب زكاة السائمة، رقم (۱۵۷۶)، والنسائى، كتاب الزكاة، باب زكاة البقر، رقم (۲۴۵۲_۲۴۵۵)، وابن ماجه. كتاب السنة، باب اجتناب الرای والقياس، رقم (۵۵)، وابواب الزكاة، باب صدقة البقر، رقم (۱۸۰۳))_
۵) الحديث اخرجه ابو داود فى سننه. كتاب الخراج.....باب فى اخذ الجزية، رقم (۳۰۴۱))_
۶) المصنف لابن ابى شيبة: ۱۷/۴۰۶، رقم (۳۳۳۱۱)، والمغنى: ۹۲۶۷/، واعلاء السنن: ۱۲/۴۳۱)_

جزيه كښې ادا كوى(١).ددې ټولو واقعاتو نه دا ثابته شوه چې د جزيې معامله امام ته حواله ده چې هغه څنګه غواړي نو هغه شان فيصله به كوي.كه د جزيې څۀ مقرره حد مقرر او متعين وو نو دا اختلاف به نۀ پيدا كيدۀ او دا هم ممكنه نۀ ده چې كه په متعين مقدار كښې اختلاف وى چې يو كس يوڅۀ وصول كړى او او بل كس بل څۀ وصول كړى(٢).

د جمهورو له طرفه جواب:په دې مسئله كښې اګرچه د جمهورو اختلاف دې چې جزيه به څومره مقدار كښې وى؟ليكن په دې كښې هيڅ اختلاف نشته چې د د جزيې حد مقرر دې،په دې سلسله كښې صرف امام ثورى،ابوعبيد وغيره رحمهم الله ددې قائل دى چې دا د امام په رائې باندې منحصر ده چې د ذميانو نه څومره جزيه وصول كړې شي.نو د جمهورو له طرفه دې حضراتو ته دا جواب وركړې شوې دې چې اصل كښې جزيه په دوه قسمه ده:

①الجزية بالتراضي:دا هغه قسم دې چې د دوو ډلو مينځ كښې د صلحې په صورت كښې د دواړو په رضامندئ سره فيصله كړې شى،په دې كښې به ددې خلقو نه هغه څيز اخستلې شى په كوم څيز باندې چې صلح شوې ده،په دې كښې تعدى(زياتوالي)جائز نۀ دې،ددې دليل د نبى عليه السلام اهل نجران سره صلح ده،كوم چې نصارى وو،دويم دليل د حضرت عمر رضي الله عنه هغه عمل دې كوم چې اوس تير شو چې هغوى د مسلمانانو د زكوة دوچند مال د بنوتغلب نه وصول كړې وو.

②الجزية بالغلبة على الكفار:دا هغه قسم دې چې په دې كښې د وخت امام په كافرانو باندې په جنګ كښې د غلبې او تسلط حاصلولو نه پس،په دې كافرانو باندې د مالدار او فقير وغيره په اعتبار سره جزيه مقرروى(٣).

ملاعلى قارى رحمه الله د علامه ابن الهمام په حوالې سره ليكى:

"الجزية على ضربين:جزية توضع بالتراضى والصلح عليها،فتقدر بحسب ماعليه الانفاق ،فلا يزاد عليه تحرزا عن الغدر،واصله صلح رسول الله صلى الله عليه وسلم اهل نجران وهم قوم من النصارى بقرب اليمن على مافى ابى داود عن ابن عباس رضي الله عنه قال:صالح رسول الله صلى الله عليه وسلم اهل نجران على الفى حلة،الحديث(٤).وصالح عمر رضي الله عنه نصارى بنى تغلب على ضعف ما يؤخذ من المسلم من المال(٥)،والضرب الثانى :جزية يبتدئ الامام بتوظيفها اذا غلب على الكفار......"(١).

---

١) المغنى:٩٢٦٧/،واعلاء السنن:٤٣١/١٢،والمرقاة:٦٦/٨،واوجز المسالک:٢٠٧/٦)_

٢) المغنى:٩٢٦٧/،واعلاء السنن:٤٣١/١٢)_

٣) الفقه الحنفى وادلته:٣٩٨/٢،والمرقاة:٦٦/٨، والاوجز:٢٠٧/٦، والبناية:٢٣٨/٧،باب الجزية)_

٤) رواه ابو داود،كتاب الخراج......باب فى اخذ الجزية،رقم (٣٠٤١))_

٥) انظر المصنف لابن ابى شيبة:٥٦٢/٦،كتاب الزكاة،فى نصارى بنى تغلب:ما......رقم (١٠٦٨٤)والسنن الكبرى للبيهقى:٩٣٦٣/_٣٦٤،كتاب الجزية،باب نصارى العرب تضعف...... .....[بقيه برصفحه آئنده..

چونكه د دواړو قسمونو نوعيت جدا جدا دې،ددې وجې نه ئې احكامات هم جدا جدا شو .د صلحې په صورت كښې ذميانو ته هم څۀ اختيار حاصل دې ليكن د شكست په صورت كښې هغوى ته هيڅ اختيار نشته،په دې سلسله كښې به د وخت امام فيصله كوى.دغه فيصله به د احنافو په نزد د حضرت عمر رضي الله عنه د فيصلې په رڼا كښې وى.د شوافعو په نزد به د حضرت معاذ رضي الله عنه د حديث مطابق او د امام مالك رحمه الله په نزد د هغوى د دليل په بنياد باندې فيصله كيږى.

د شوافعو دليل:د حضرات شافعيه رحمهم الله مشهور دليل په دې سلسله كښې د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه هغه حديث دې كوم چې اوس تير شو چې:

"أن النبى صلى الله عليه وسلم إلى اليمن أمره أن يأخذ.....ومن كل حالم يعنى محتلماً دينارًا أو عِدله من المعافر،ثياب تكون باليمن"(اللفظ لابی داؤد)(۱)

يعنى"كله چې نبى عليه السلام حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه د يمن طرفته روان كړو نو ورته ئې حكم اوكړو چې.......او د هربالغ سړى نه يو دينار يا ددې برابر معافرى كپړې واخله(دا د يمنى كپړو يو قسم دې)

د شوافعو د دليل جواب:دا د شوافعو دليل دې،ليكن دا زمونږ خلاف ځكه حجت نۀ دې چې مونږ هم په دې باندې د عمل كولو قائل يو او دا په فقير باندې محمول كوو(۲).دغه شان حضرت معاذ رضي الله عنه چې د اهل يمن نه يو دينار اخستلې وو نو ددې وجې د هغوى غريبى وه ځكه چې يمنى خلق غريبان وو،په دې باندې دليل د حضرت امام بخارى رحمه الله هغه تعليق دې كوم چې د باب په ابتداء كښې تير شو.......

"قال ابن عيينة عن ابن أبى نجيح : قلت لمجاهد: ماشان أهل الشام عليهم أربعة دنانير وأهل اليمن عليهم دينار؟قال: جعل ذلك من قبل اليسار"(۳).

او امام ابوبكرجصاص رحمه الله فرمائى چې د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث په صلح باندې محمول دې،ددې دليل دادې چې ددې حديث په بعضې طُرق كښې د"حالمة"(۵) اضافه هم موجود ده

بقيه ازحاشيه گذشته] رقم (۱۸۷۹٤_۱۸۷۹٦)، وكتاب الخراج ليحيى بن آدم،رقم (۲۰٦_۲۰۸)،والخراج لابى يوسف القاضى ۱۲۹_۱۳۱،فصل فى شان نصارى بنى تغلب......ونصب الراية فى تخريج احاديث الهداية: ٤٥٥/۳، باب الجزية،من كتاب السير)_

۱) مرقاة المفاتيح:٦٦/۸،واوجز المسالک:۲۰۷/٦،وفتح القدير:۲۸۸/۵_۲۸۹)_

۲) الحديث صححه الترمذى والحاكم فى كتاب الزكاة،زكاة البقر:۳۹۸/۱،ومر تخريجه آنفا.وفتح البارى:۲٦۰/٦)_

۳) اعلاء السنن:٤۳۳/۱۲،والمسوى:۱٦۷/۲،واوجز المسالک:۲۰۹/٦)_

٤) اعلاء السنن:۱۲ی/٤۳۲،والمغنى:/۹۲٦۸،واوجز المسالک:۲۰۸/٦)_

۵) المصنف لعبد الرزاق:۳۳۰/۱۰،رقم (۱۹۲۲۸)، وكان معمر يقول:هذا غلط.قوله: حالمة "ليس على النساء شيء."كذا فى نصب الراية:٤٤۳/۳،رقم (٦۰٤۲))_

او په دې باره کښې خو څۀ اختلاف نشته چې د ښځې نه به جزیه صرف د صلحې په صورت کښې اخستلې کیږی(۱).هم دا خبره صاحب هدایه علامه مرغینانی رحمه الله هم فرمائیلې ده، لکه هغوی لیکی: "وما رواه محمول علی أنه کان ذلک صلحاً، ولهذا أمره بالأخذ من الحالمة، وإن کانت لا یؤخذ منها الجزیة......"(۲).

او دا خو معلومه ده چې یمن د صلحې په ذریعې سره فتح شوې وو دا نۀ چې عنوةً(۳).

د مالکیه دلیل: امام مالک رحمه الله د خپل مذهب دپاره د استدلال په طور دا روایت پیش کړې دې، کوم چې د "نافع عن أسلم مولی عمر بن الخطاب" د طریق نه مروی دې

"أن عمر بن الخطاب رضی الله عنه ضرب الجزیة علی أهل الذهب أربعة دنانیر، وعلی أهل الوَرِق أربعین درهماً، مع ذلک أرزاق المسلمین، وضیافة ثلاثة أیام"(۴).

چې "حضرت عمر رضی الله عنه په سرو زرو والو باندې څلور دیناره.په چاندئ والو باندې څلویښت درهمه، دې سره اسلامی لښکر ته خوراک ورکول او درې ورځې میلمستیا د جزیې په طور مقرر کړې وه".

که دا اثر اوکتلې شی نو هم دا خبره وړاندې راځی چې د سرو زرو والو نه به څلور دیناره اخستلې شی، د چاندئ والو نه څلویښت درهمه او په دې کښې د مالدار یا د فقیر څۀ تقسیم نشته.ددې نه علاوه اثر کښې نور دوه څیزونه هم دی، یو دا چې اسلامی لښکر ته د خوراک څکاک څیزونه ورکول چې په ذمیانو باندې به دا څیز هم واجب وی چې کله اسلامی لښکر د هغوی په علاقو باندې تیریږی نو د هغوی د خوراک څکاک انتظام به هم کوی(۵).

دویم څیز درې ورځې میلمستیا ده، ددې مطلب دادې چې کوم مسلمانان ددې خلقو په علاقو باندې تیریږی نو ورته به دا خلق روټئ او سالن وغیره ورکوی او د هغوی دپاره به د داسې رهائش بندوبست او انتظام کوی چې د ګرمئ او یخنئ نه محفوظ وی(۶).لیکن په دې څیزونو باندې عمل اوس د مالکیه په نزد نشته لکه علامه دردیر مالکی رحمه الله فرمائی:

"وسقطت إضافة المجتاز علیهم من المسلمین ثلاثاً من الایام، وإنما سقطت عنهم للظلم الحادث علیهم من ولاة الامور......"(۷).

---

(۱) احکام القرآن:۳/۱۲۶.واعلاء السنن:۱۲/۴۳۲.واوجز المسالک:۶/۲۰۸)_

(۲) الهدایة مع فتح القدیر:۵/۲۹۱)_

(۳) اعلاء السنن:۱۲/۴۳۲.کتاب الاموال لابن زنجویه:۱/۱۲۹.رقم (۱۱۰).والاوجز:۶/۲۱۰)_

(۴) المؤطا:۱/۲۷۹.کتاب الزکاة.باب جزیة اهل الکتاب......رقم (۴۳).والاوجز:۶/۲۰۴_۴۱۱)_

(۵) المنتقی:۲/۱۷۴.والاوجز:۶/۲۱۰)_

(۶) التمهید لابن عبدالبر:۲/۱۳۱)_

(۷) اوجز المسالک:۶/۴۱۱.والشرح الکبیر للدردیر مع الدسوقی:۲/۵۲۱.فصل فی عقد الجزیة

يعنى "په ذميانو باندې د تيريدونكو مسلمانانو درې ورځې د ميلمستيا اضافه اوس ختمه شوه او ددې وجه داده چې حكمرانان به په دوى باندې نوې نوې طريقوسره ظلم وستم كوى"

د مالكيه د دليل جواب دا خو د مالكيه دليل وو .ليكن ددې جواب ډير واضح دې.هغه دا چې كه په دې اثر باندې مكمل عمل اوكړې شى نو ددې مطلب هم هغه دې د كوم چې احناف قائل دى.ځكه چې مسلمانانو ته د خوراك فراهمى او درې ورځې ميلمستيا كه څلويښتو سره ملاؤ كړې شى نو دا د اتۀ څلويښت درهمو برابر جوړيږى[۱].

ترجيح راجح د احنافو دمذهب د دليل په طورباندې مونږ وړاندې د حضرت عمر رضی الله عنه فيصله نقل كړې وه كومه چې د حارثه بن مضرب او محمد بن عبيدالله الثقفى رحمهما الله وغيره نه مروى ده.په دې روايت شوې آثارو كښې د انسانانو د دريو طبقاتو (مالدار. متوسط او فقير) تفصيل بيان شوې دې.ددې وجې نه د عمل په اعتبار سره هم دغه آثار به راجح وى. ځكه چې په دې كښې زيادت روايت شوې دې او دغه شان د هرې طبقې حكم په كښې هم موجود دې.

بيا دا خبره هم ده چې كوم حضرات د طبقاتو په حساب سره د جزيه مقرر كيدو قائل دى نو هغوى په دې روايت باندې هم عمل كوى كوم كښې چې صرف د اتۀ څلويښتو درهمو تذكره ده.يعنى د حضرت عمرو بن ميمون اودى رحمه الله اثر.ددې برخلاف حضرات شافعيۀ چونكه په اتۀ څلويښت درهمو باندې انحصار كړې دې ددې وجې نه هغوى ددې اثرونو او رواياتو پريخودونكى شو.په كومو كښې چې د طبقاتو تميز او په هغې كښې په هرې طبقې باندې د مقرره مقدار د تخصيص تذكره ده.هم ددې په بيان كښې امام جصاص رازى رحمه الله فرمائى:

"فكان الخبر الذى فيه تفصيل الطبقات الثلاث أولى بالاستعمال،لما فيه من الزيادة ،وبيان حكم كل طبقة، ولان من وضعها على الطبقات فهو قائل بخبر الثمانية والاربعين،ومن اقتصر على الثمانية والاربعين، فهو تارك للخبر الذى فيه ذكر تميز الطبقات،وتخصيص كل واحد بمقدار منها......"[۲].والله أعلم بالصواب

۲۹۸۷: [۳] ۳۱۵٦- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ عَمْرًا قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ وَعَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، فَحَدَّثَهُمَا بَجَالَةُ سَنَةَ سَبْعِينَ - عَامَ حَجَّ مُصْعَبُ بْنُ الزُّبَيْرِ بِأَهْلِ الْبَصْرَةِ - عِنْدَ دَرَجِ زَمْزَمَ قَالَ كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الأَحْنَفِ، فَأَتَانَا كِتَابُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ . وَلَمْ

---

[۱]) احكام القرآن للرازى:۳/۱۲٦.والاوجز:٦/۲۰۸.و ۲۱۰.واعلاء السنن:۱۲/٤۳۲)_

[۲]) احكام القرآن:۳/۱۲٦.والاوجز:٦/۲۰۸.واعلاء السنن:۱۲/٤۳۳)_

[۳]) قوله: سمعت عمرا"الحديث.اخرجه الترمذى.كتاب السير.باب ما جاء فى اخذ الجزية من المجوس. رقم (۱۵۸٦).وابو داؤد.كتاب الخراج والفئ والامارة.باب فى اخذ الجزية من المجوس.رقم (۳۰٤۳). والنسائى فى الكبرى.كتاب السير.رقم (۸۷٦۸))_

يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ . حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرٍ.

رجال الحديث

①**علی بن عبدالله**:دا مشهور د حديثو امام علی بن عبدالله بن المدينی رحمه الله دې،د دوی تذكره په كتاب العلم، "باب الفهم فی العلم" كښې تيره شوې ده.[1]

②**سفيان**:دا مشهور محدث سفيان بن عيينه بن ابی عمران كوفی رحمه الله دې.ددې مختصر حالات د "بدء الوحی" په اولنی حديث كښې او تفصيل سره په كتاب العلم، "باب قول المحدث: حدثنا....." كښې تير شوې دی.[2]

③**عمرو**:دمشهورتابعی حضرت عمروبن دينار رحمه الله تذكره په كتاب العلم كښې راغلې ده.[3]

قوله: قال:كنت جالساً مع جابر بن زيد وعمرو بن أوس: حضرت عمرو بن دينار رحمه الله فرمائی چې زۀ د جابر بن زيد او عمرو بن اوس رحمهما الله سره ناست ووم.

د جابر بن زيد نه مراد ابو الشعثاء جابر بن زيد بصری رحمه الله دې.[4] او د عمرو بن اوس نه مشهور تابعی عمرو بن اوس بن ابی اوس رحمه الله مراد دې[5].

قوله: فحدثهما بجالة سنة سبعين عام حج مصعب بن الزبير بأهل البصرة عند درج زمزم: په ۷۰هجرئ كښې،چې په دې كښې مصعب بن زبيراهل بصره سره حج كړې وو، په دې كال باندې د زمزم كوهی پوړو سره بجالة جابربن زيد اوعمروبن اوس ته بيان اوكړو.

بجالة:دا مشهور تابعی بجالة بفتح الباء الموحدة،بعدها جيم:بن عبدة بن سالم[6] تميمی عنبری بصری رحمه الله دې[7].

دوی د جزء بن معاويه كاتب وو او د احنف بن قيس ترۀ وو.[8]دې د حضرت عمر،حضرت عبد الرحمن بن عوف،حضرت عمران بن حصين او حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم نه هم

---

[1]) كشف الباری:۲۹۷/۳)_

[2]) كشف الباری:۲٦۰/۱،و۱۰۲/۳)_

[3]) كشف الباری:۳۰۹/٤،باب كتابة العلم)_

[4]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل،باب من افاض علی راسه.....)_

[5]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب التهجد،باب من نام عند السحر)_

[6]) تعليقات تهذيب الكمال: ۸/٤،وتعليقات تهذيب التهذيب:٤۱۷/۱،وتوضيح المشتبه: ۷۳/٤)_

[7]) تهذيب الكمال: ۸/٤،وتهذيب التهذيب:٤۱۷/۱،وفتح الباری:۲٦۰/٦)_

[8]) پورته حواله جات،وطبقات ابن سعد:۱۳۰/۷)_

حديث روايت كوی. د دوی نه په روايت كوونكو كښې عمروبن دينار، عوف الاعرابی، قتاده بن دعامه او قشير بن عمرو رحمهم الله تعالیٰ وغيره شامل دی.(١).

امام ابوذرعه رحمه الله فرمائی: "مكی ثقة"(٢)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: "هوشيخ"(٣)

علامه جاحظ د دوی تذكره د بصرې په عبادت گزارو كښې كړې ده.(٤).

دغه شان مجاهد بن موسی او ابن حبان رحمهما الله هم د دوی توثيق فرمائيلې دی.(٥).
البته امام ربيع بن سليمان د امام شافعی رحمه الله په حوالې سره نقل كړې دی چې امام صاحب د دوی په باره كښې فرمائيلې وو: "بجالة رجل مجهول"(٦).
علامه بيهقی رحمه الله ليكلې دی چې امام شافعی رحمه الله په "كتاب الحدود" كښې ليكلی دی چې دې مجهول دې او مشهور نۀ دې، دغه شان دا هم مشهوره نۀ ده چې جزء بن معاويه نومې څوک سړې د حضرت عمر رضي الله عنه عامل وو. بيا امام شافعی رحمه الله دا په "كتاب الجزيه" كښې ذكر كړه او وې فرمائيل: "حديث بجالة متصل ثابت، لانه أدرك عمر، وكان رجلاً فی زمانه، كاتباً لعماله".
ددې نه معلومه شوه چې امام شافعی رحمه الله هم د خپلو سابقه خبرو نه رجوع كړې وه چې بجاله مجهول دې، د كتاب الجزيه د عبارت نه معلومه شوه چې دې مجهول نۀ دې،
علامه بيهقی دې بيانولو سره ليكی: "وكان الشافعی رحمه الله لم يقف علی حال بجالة حين صنف كتاب الحدود، ثم وقف عليه حين صنف كتاب الجزية، إن كان صنفه بعده"(٧).

امام بخاری، ابوداؤد، ترمذی او نسائی رحمهم الله د دوی روايات اخستلې دی.(٨). صحيح بخاری شريف كښې ددوی ذكر صرف دې ځائې كښې راغلې دې.(٩). رحمه الله رحمة واسعة.

---

(١) تهذيب الكمال: ٤/٨_٩، والجرح والتعديل: ٢/٣٦٢، رقم (١٧٣٧))_
(٢) تهذيب الكمال: ٤/٩، والجرح والتعديل: ٢/٣٦٢، رقم (١٧٣٧))_
(٣) پورته حواله جات)_
(٤) تهذيب الكمال: ٤/٩، وتهذيب التهذيب: ١/٤١٧)_
(٥) تعليقات تهذيب الكمال: ٤/٩، وتهذيب التهذيب: ١/٤١٧_٤١٨)_
(٦) پورته حواله جات، وكتاب الام: ٧/١٢/٥٢٢، كتاب الحدود، باب حد الذميين اذا زنوا، رقم (٢٣٢٨٦))_
(٧) السنن الكبری للبيهقی: ٨/٢٤٨، كتاب الحدود، باب حد المذميين، رقم (١٧١٢٣) وكتاب الجزية، باب المجوس اهل كتاب ......: ٩/١٨٩، رقم (١٨٦٥٣)، وكتاب الام: ٢/٤/١٧٤، كتاب الجزية، من يلحق باهل الكتاب، رقم (١٣١٩٣)، وتعليقات تهذيب الكمال: ٤٩/)_
(٨) تهذيب الكمال: ٤٩/)_
(٩) فتح الباری: ٦/٢٦٠، وعمدة القاري: ١٥/٨٠)_

مصعب بن الزبير: دا د مشهور صحابى حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه خوئي حضرت مصعب بن الزبير بن العوام قرشي اسدى رحمه الله دي(١).

ابو عيسى او ابو عبدالله د دوى كنيت دې(٢).د دوى مور بى بى رباب بنت انيف كلبيه ده(٣).

ډير زيات بهادر وو او ډير زيات حسين وجميل،د خپل سخاوت د وجې نه به ورته "آنية النحل" (د شهدو ګبين يا لوښې)وئيلې كيدو،ليكن دې سره سره وينه تويونكې هم وو،مختار بن عبيد الثقفي سره ئې جنګ اوكړو او هغه ئې قتل هم كړو(٤).

دې د خپل پلار شريک وررور حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه له طرفه د عراقينو(عراق وشام)امير مقرر شوې وو،دا مقرر كيدل يو اعتبار سره د مصعب د يو تمنا نتيجه وه،چې د الله تعالى په نزد قبوله شوه.لكه ابن ابى الزناد د خپل پلار نه روايت كوى چې هغوى اوفرمائيل:د حجر په مقام باندې څلور حضرات جمع شو:عبدالله،مصعب،عروه(د حضرت زبير بن العوام ځامن)او ابن عمر رضي الله عنهم.حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې تمنا اوكړئ،د خپل خپل خواهش اظهار اوكړئ چې پته اولګى چې څوک څه غواړى؟عبدالله بن زبير رضي الله عنه اوفرمائيل چې زما خواهش د خلافت حصول دې او حضرت عروه بن زبير رحمه الله اوفرمائيل چې زما تمنا او خواهش خو دا دې چې زما په ذريعې سره علم خور شى او زما نه خلق فائده حاصله كړى.او مصعب بن زبير رحمه الله اوفرمائيل چې زما خواهش د اهل عراق د امارت حصول دې او عائشه بنت طلحه وسُكينه بنت الحسين په خپله نكاح كنبې راوستل.حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې زما تمنا خو صرف دا ده چې زما مغفرت او بخښنه اوكړې شى.راوى وائى چې هر كس چې كومه تمنا كړې وه نو هغه ورته حاصله شوه،پاتې شو حضرت ابن عمر رضي الله عنه نو د هغوى به هم مغفرت كړې شوې وى(٥).

اسماعيل بن ابى خالد رحمه الله فرمائى: "**ما رايت أميرا قط أحسن من المصعب**"(٦).

امام شعبى رحمه الله فرمائى: "**ما رايت أميرا قط على منبر احسن من مصعب**"(٧).

اوس تير شو چې دې ډير زيات حسين وجميل وو،مدائنى رحمه الله فرمائى:

"**كان يحسد على الجمال**"(٨).چې د حسن د وجې نه به ورسره حسد كولې شو.

---

(١) سير اعلام النبلاء:٤/١٤٠_

(٢) پورته حواله،وطبقات ابن سعد:١٨٢/٥_

(٣) سير اعلام النبلاء:٤/١٤١،وطبقات ابن سعد:١٨٢/٥_

(٤) سير اعلام النبلاء:٤/١٤١،وطبقات ابن سعد:١٨٣/٥_

(٥) سير اعلام النبلاء:٤/١٤١،وحلية الاولياء:١٧٦/٢،رقم (الترجمة (١٧١))_

(٦) سير اعلام النبلاء:٤/١٤١_

(٧) پورته حواله و فوات الوفيات:١٤٣/٤،رقم (٥٢٥)_

(٨) پورته حواله جات_

د اموی خلیفه عبدالملک بن مروان او د مصعب بن زبیر د فوجونو مینځ کښې یو سخت او فیصله کن جنګ اوشو،مصعب خو دې دپاره وتلې وو چې شام به دوباره اخلو او د عبدالملک مقصود دفاع وه،ددې دواړو ټکراؤ د عراق یو وړوکې ښار "اوانا"(۱) سره نزدې د دیرالجاثق(۲)په مقام باندې اوشو،چې آخرکار په دې کښې فتح عبدالملک ته اوشوه او مصعب قتل شو دا د ۷۲هجرئ جمادی الاولی واقعه ده او دا د جمعرات ورځ وه،دې وخت کښې د مصعب عمر څلویښت کاله وو.(۳).

د قتل نه پس د هغهٔ سر کټ کړې شو او د عبد الملک وړاندې پیش کړې شو؛

عبد الملک بن مروان وائی: "رأيت بقصر الكوفة رأس الحسين الشهيد،ثم رأس ابن زياد،ثم رأس المختار،ثم رأس مصعب بين يدى عبد الملك"(۴).

حديث شريف سره متعلق يو اصولي بحث: دلته حديث سره متعلق يو خبره باندې ځان پوهه کړئ چې د حضرت عمرو بن دينار رحمه الله الفاظ دا وو:

"فحدثها بجالة....." "چې بجاله دغه دواړو ملګرو ته بيان کړه......"ددې نه معلومه شوه چې بجاله دا روايت عمرو ته نهٔ وو بيان کړې او هغه مقصود بالتحديث هم نهٔ وو،ددې باوجود عمرو د بجاله نه روايت کوی،دغه شان اوريدلې شوې حديث روايت کول جائز دی او دا بالاتفاق د تحمل د وجوهو نه ده.(۵).

البته په دې کښې اختلاف دې چې په داسې صورت کښې "حدثنا"وئيل جائز دی يا نهٔ؟نو جمهور ددې د جواز قائل دی او امام نسائی او بعضې حضرات ددې نه منع کوی،او علامه برقانی رحمه الله فرمائی چې د "حدثنا" په ځائې "سمعت فلانا" وئيل پکار دی.(۶).

د "درج" معنی: "درج"د دال او د راء فتحې سره،د درجة جمع ده،پوړو ته وئيلې شی(۷)،په المغرب کښې دی:"درج السلم:رتبة،الواحدة:درجة"(۸).

---

[۱]) قال ابن خلكان: او انا بليدة كثيرة البساتين والشجر،نزهة من نواحى دجيل بغداد،بينها وبين بغداد عشرة فراسخ من جهة تكريت..... ".معجم البلدان:۱/۲۷٤،باب الهمزة والواو.....)_

[۲]) دير الجاثليق:دير قديم البناء،رحب الفناء،من طسوج مسكن قرب بغداد فى غربى دجلة،وهو راس الحدبين السواد وارض تكريت.معجم البلدان:۲/۵۰۲،باب الدال والياء.....)_

[۳]) سير اعلام النبلاء:٤/۱٤۳،وطبقات ابن سعد:۵/۱۸۳)_

[٤]) سير اعلام النبلاء:٤/۱٤۳)_

[۵]) عمدة القارى:۱۵/۷۹_۸۰،وفتح البارى:۶/۲۶۰)_

[۶]) عمدة القارى:۱۵/۸۰،وفتح البارى:۶/۲۶۰)_

[۷]) عمدة القارى:۱۵/۸۰،والصحاح للجوهرى:۳۳۷،مادة درج")_

[۸]) المغرب:۲۸٤،الدال مع الراء)_

قوله: قال: كنت كاتباً لجزء بن معاوية عم الاحنف: بجاله فرمائى چې زۀ د احنف د تره جزء بن معاويه كاتب ووم.

جزء بن معاويه: دا جزء "بفتح الميم وسكون الزائ، وفى آخره همزة"[1].

دا ابن معاويه بن حصين بن عبادة بن النزال بن مرة تميمى رضي الله عنه دې[2].دې د حضرت عمر رضي الله عنه له طرفه د هواز عالم وو او د ترمذى شريف په روايت كښې راغلې دى چې جزء د "تنادر" عامل وو.[3].ليكن حافظ صاحب رحمه الله فرمائى چې تنادر هم د هواز يو كلې دې[4].

د دوى په صحابى كيدو كښې اختلاف دې،حافظ ابن حجر رحمه الله د دوى شمار په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې كړې دې،د ابن الاثير جزرى رحمه الله رائې هم داده،البته ابن عبدالبر رحمه الله د دوى د صحبت انكار كړې دې[5].ليكن حافظ د دوى قول رد كولو سره فرمائى چې دغه زمانه كښې به خليفه گانو هغه كسان عاملان مقررول ځوک چې به صحابه كرام رضي الله عنهم وو [6].غير صحابه به عام طور باندې عاملان نۀ وو،ددې وجې نه غوره هم دا معلوميږى چې دا صحابى وو.د بلاذُرى د وضاحت مطابق حضرت جزء رضي الله عنه د حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه د خلافت زمانې پورې ژوندې وو او دوى د زياد له طرفه څۀ ذمه دارئ هم ادا كړلې[7].

الاحنف: دا مشهور مخضرم تابعى حضرت احنف بن قيس رحمه الله دې،د دوى حالات په كتاب الايمان،"باب المعاصى من أمر الجاهلية......" كښې تير شوې دى[8].

قوله: فاتانا كتاب عمر بن الخطاب قبل موته بسنة: نو مونږ ته د حضرت عمر رضي الله عنه خط د دوى د وفات نه يو كال مخكښې راغئ.

عمربن الخطاب: د دويم خليفه حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه اجمالى تذكره د "بدء الوحى" د اولنى حديث لاندې راغلې ده[9].

---

[1]) ددې لفظ په ضبط كښې د محدثينو او د اهل نسب اختلاف دې،د محدثينو چې كوم مشهور قول دې نو مونږ هغه ذكر كړې دې،د نورو اقوالو دپاره اوگورئ عمدة القارى:۷۹/۱۵.وفتح البارى: ۲٦۰/٦، والاكمال لابن ما كولا:۷۹/۲_۸۱،باب جرى وجزى.....)_

[2]) الاصابة:۲۳٤/۱،والاستيعاب بهامش الاصابة:۲٥۹/۱)_

[3]) انظر الجامع للترمذى،كتاب السير،باب فى اخذ الجزية من المجوس،رقم (۱٥۸٦)،ولكن المثبت فى رواية الترمذى مناذر"بدل تنادر"ولعل المثبت هو الصحيح،انظر معجم البلدان:۱۹۹/٥،باب الميم والنون....)

[4]) فتح البارى:۲٦۰/٦)_

[5]) الاصابة:۲۳٤/۱،والاستيعاب بهامش الاصابة:۲٥۹/۱،واسد الغابة:۱۷۸/۱،باب الجيم والزارى)_

[6]) الاصابة:۲۳٤/۱)_

[7]) پورته حواله)_

[8]) كشف البارى:۲۲۳/۲)_

[9]) كشف البارى:۲۳۹/۱)_

پورته ذکر کړې شوې واقعه د ۲۲ هجرۍ ده ځکه چې د حضرت عمر رضي الله عنه وفات په ۲۳ هجرۍ کښې شوې دې.(۱).

قوله: فرقوا بين كل ذي محرم من المجوس: په مجوسيانو کښې چې چا خپل ذی محرم سره وادۀ کړې وی نو هغه ترينه جدا کړئ.

مجوس،د مجوسي جمع ده چې د مجوسيت طرفته ئې نسبت شوې دې او مجوسيان په زړو تيرو شوو باطلو فرقو کښې يوه فرقه ده او دا کلمه د منج ګوش معرب دې چې د يو سړی نوم دې.د هغۀ واړۀ واړۀ غوږونه وو.،ددې فرقې نسبت د هغۀ طرفته کيږی او "مجوس"ورته ونيلې شی،دا هغه سړې وو چې دۀ مجوسيت ايجاد کړو او خلق ئې ددې طرفته راؤبلل.د مجوسيانو نسبت (د خپل وهم مطابق پيغمبر)زرتشت طرفته هم کيږی او ددې وجې نه دوی ته زرتشی هم وئيلې کيږی.د مشهور قول مطابق دوی د اور عبادت کوی او قتاده رحمه الله فرمائی چې دوی د نمر،سپوږمئ او د اور عبادت کوی.

د خپلې ترقئ په زمانه کښې دوی د دنيا په مختلفو ځايونو کښې آتش کدې(د دوی د عبادت ځايونه)جوړې کړې،چې هلته به دوی د اور عبادت کوو،نن هم په هغې کښې څۀ موجودې دی.او ددې مذهب منونکی ددې خبرې هم قائل وو چې يو خالق د خير دې او بل خالق د شر دې،د خير د خالق نوم يزدان او د شر د خالق نوم اهرمن دې.(۲).

ايا مجوس په اهل کتابو کښې داخل دی؟: د امت ذ فقهاء کرامو په دې خبره کښې اختلاف دې چې مجوس اهل کتابو کښې داخل دی يا نۀ؟

ددې اختلاف دارومدار په دې مسئله باندې دې،وړاندې تير شو چې د مجوسيانو نه به جزيه اخستلې کيږی يا نۀ؟او په کوم بنياد باندې به ترينه اخستلې کيږی؟

د مجوسيانو متعلق حضرات شوافع دا وائی چې دوی هم اهل کتاب دی،ددې په دليل کښې هغوی د حضرت علی رضي الله عنه دا اثر پيش کوی:

"كان المجوس أهل كتاب يعرفونه، وعلم يدرسونه، فشرب أميرهم الخمر،فوقع على أخته، فرآه نفر من المسلمين،فلما أصبح قالت أخته: انك قد صنعت بها كذا وكذا،وقد رآك نفر لا يسترون عليك،فدعا أهل الطمع، فاعطاهم،ثم قال لهم: قد علمتم أن آدم أنكح بنية بناته، فجاء اولئك الذين رأوه،فقالوا: ويلاً للابعد،إن في ظهرك حداً، فقتلهم،وهم الذين كانوا عنده،ثم جاءت امرأة،فقالت له:بلى،قد رأيتك،فقال لها:ويحا لبغى بني فلان،قالت:أجل،والله لقد كنت بغية،ثم تبت،فقتلها،ثم أسرى على مافي قلوبهم وعلى كتبهم،فلم يصبح عندهم شيئ"(۳).(اللفظ لعبد الرزاق).

---

(۱) فتح الباری:۶/(۲۶۱)_

(۲) د مذکوره تفصيلاتو دپاره اوګورئ، اوجز المسالک:۶/۱۹۱.ولسان العرب:۶/۲۲۳،مادة: مجس".و روح المعانی:۱۷/۱۲۹.سورة الحج:۱۷.تفسير قوله تعالی:(والنصاری والمجوس)و دائره معارف اسلاميه (اردو):۱۸/۵۸۸)_

(۳) انظر المصنف لعبد الرزاق.کتاب اهل الکتابين.باب هل يقاتل اهل الشرک ....[بقيه برصفحه آئنده...

يعنى "مجوس د يو كتاب حاملين وو، چې په هغې باندې پوهيدل، هغه ئې لوستلو، يوه ورځ د هغوى امير شراب اوڅكل، نو په خپله خور باندې ورغئ، نو د مسلمانانو يوې ډلې هغه اوليدۀ، چې كله سحر شو نو د هغۀ خور اووئيل چې تا ماسره داسې داسې كړې دى او حق خبره دا ده چې يو داسې ډلې تۀ ليدلې ئې چې په تا باندې به پردۀ وانۀ چوى. نو هغۀ اهل طمع(علماء سوء)راؤبلل، بيا ئې هغوى ته اووئيل چې تاسو ته ښۀ پته ده چې آدم عليه السلام به د خپلو ځامنو نكاح د خپلو لونړو سره كولې(لهذا ماهم داسې كړى دى نو په دې كښې څۀ حرج دې؟) نو هغه خلق راغلل، چاچې دا سړې خپلې خور سره مبتلا ليدلې وو، وې وئيل چې د منحوس دپاره دې هلاكت وى، په تا باندې حد واجب شوې دې. نو هغوى دې قتل كړۀ، دا هغه خلق وو چې دۀ سره وو، بيا يو ښځه راغله، هغې اووئيل: اواما تاسو ليدلې ئې، نو امير هغې ښځې ته اووئيل: د بنى فلان د زناكارې دپاره دې هلاكت وى، هغې ښځې اووئيل: صحيح ده(بالكل)په خدائې قسم زۀ زناكاره ووم، بيا ما توبه اوكړه، هغۀ هغه ښځه هم قتل كړه، بيا ددغه خلقو په زړونو كښې چې څۀ وو او د هغوى په كتابونو كښې چې څۀ وو هغه اوچت كړې شو، دغه شان دوى سره هيڅ څيز روغ پاتې نۀ شو".

دا خو د شوافعو دليل شو، ليكن ددې اثر په صحت كښې كلام دې، بعضې حضراتو دا متصل ښودلې دې او بعضو منقطع ښودلې دې[۱]. او بعضې علماء حضرات خو ددې اثر د صحت بالكل قائل نۀ دى، لكه علامه ابن قيم او حافظ ابن بطال رحمة الله عليهما دې اثر ته غيرصحيح او غيرثابت وئيلې دى[۲]. بيا كه چرته ددې صحت تسليم هم كړې شى نو ددې مطلب هم دادې چې د دوى اسلاف هم اهل كتاب وو، ځكه چې د مذكوره اثر مضمون هم دادې چې دا خلق اول اهل كتاب وو، ليكن وروستو بيا كتاب د دوى د سينو نه اوويستلې شو، نو اوس څنګه دوى اهل كتاب شو؟

د دوى په اهل كتاب نۀ كيدو باندې هغه روايت هم دلالت كوى كوم چې د حسن بن محمد رحمه الله نه روايت دې، چې "لا تؤكل لهم ذبيحة، ولا تنكح لهم امراة"[۳]. چې "نۀ به د دوى ذبيحه خوړلې شى او نۀ د دوى د ښځو سره نكاح جائزه ده".

نو كه دوى اهل كتاب وو نو ددوى ذبيحه خوړل او د دوى ښځو سره نكاح كول به خامخا

بقيه ازحاشيه گذشته] حتى يؤمنوا.....؟رقم (۱۹۲۶۲)، وكتاب اهل الكتاب، اخذ الجزية من المجوس، رقم (۱۰۰۲۹)، وفتح البارى:۲۶۱/۶، وعمدة القارى: ۸۰/۱۵، وكتاب الام:۱۷۳/۴/۲، وسنن البيهقى الكبرى، كتاب الجزية، باب المجوس اهل الكتاب..... ۹۱۸۹/، رقم (۱۸۶۵۰))_

[۱]) اعلاء السنن:۴۳۹/۱۲)_

[۲]) زاد المعاد فى هدى خير العباد:۱۵۴/۳، وشرح ابن بطال:۳۳۱/۵، دلته اوګورى، نصب الراية: ۲۵۶/۲، والجوهر النقى:۹۱۹۰/)_

[۳]) احكام القرآن:۱۲۱/۳، وطبقات ابن سعد:۲۶۳/۱، والمصنف لابن ابى شيبة:۴۰۷/۱۷، كتاب السير، ما قالوا فى المجوس.....رقم (۳۳۳۱۳))_

جائز وو لکه څنګه چې الله تعالی د نورو اهل کتابو سره دا کارونه مباح ګرځولي دي[1].
په دې باره کښې چې مجوس په اهل کتابو کښې داخل نهٔ دی د احناف حضراتو ﷫ دلیل د قرآن کریم نه خو دا دې(أن تقولوا إنما أنزل الكتاب على طائفتين من قبلنا)[2]. دې آیت کریمه کښې اهل کتاب ته په دوو ډلو کښې منحصر وئیلې شوي دی، که مجوس هم په اهل کتاب کښې وو نو بیا خو دا درې ډلې شوې، حالانکه دا خبره د آیت کریمه خلاف ده، ددې وجې نه د آیت کریمه په رڼا کښې مجوس په اهل کتابو کښې داخل نهٔ دی[3].
د احنافو دویم دلیل هغه روایت دې کوم چې په مؤطا وغیره کښې د جعفر بن محمد بن علی عن ابیه د طریق نه روایت دې:
"أن عمر بن الخطاب ﵁ ذكر المجوس، فقال: ما أدری كيف أصنع في أمرهم؟ فقال عبد الرحمن بن عوف: أشهد لسمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: سنوا بهم سنة أهل الكتاب"[4].
یعنی: "حضرت عمر ﵁ د مجوسیانو تذکره اوکړه، بیا ئې اوفرمائیل چې ماته ددې مجوسیانو په سلسله کښې علم نشته چې زهٔ څهٔ اوکړم؟ نو حضرت عبد الرحمن بن عوف ﵁ اوفرمائیل چې ما د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې دی چې دوی سره د اهل کتابو په شان سلوک اوکړئ".
دا روایت اګرچه منقطع دې ځکه چې د محمد ملاقات نهٔ د عمرفاروق ﵁ سره ثابت دې او نهٔ د عبدالرحمن بن عوف ﵁ سره لیکن ددې معنی د حسان نورو مختلفو طرقو د وجې نه متصل ده[5]. دغه شان ابوعلی الحنفی هم دا روایت د امام مالک د طریق نه نقل کړې دې، چې د هغې تخریج بزار او دارقطنی رحمة الله علیهما وغیره کړې دې او دا روایت مرسل دې چې زمونږ په نزد حجت دې[6]. او په دې روایت کښې خو صراحتاً د "فی الجزیة" لفظ هم موجود دې[7]. بیا په طبرانی کښې د مسلم بن العلاء الحضرمی د طریق نه ددې ګواه هم موجود دې چې "سنوا بالمجوس سنة أهل الكتاب"[8].

---

[1]) احکام القرآن للجصاص:۳/۱۲۱،واوجز المسالک:۶/۱۹٤)_
[2]) الانعام:۱۵۶)_
[3]) احکام القرآن للجصاص:۳/۱۲۱،واوجز المسالک:٤/۱۹٤)_
[4]) المؤطا،کتاب الزکاة،باب جزیة اهل الکتاب......رقم (٤۲)،ومصنف ابن ابی شیبة:۷/۷۱_۲۷،فی الزکاة، فی المجوس یؤخذ منهم......رقم (۱۰۸۷۰)،و۱۷/٤۰۹،کتاب السیر (۳۳۳۱۹)،وسنن البیهقی الکبری: ۹/۱۸۹،کتاب السیر،رقم (۱۸۶۵٤))_
[5]) اوجز:۶/۲۰۰،والتعلیق الممجد علی مؤطا محمد:۱۷۶،کتاب الزکاة،باب الجزیة)_
[6]) اوجز۶/۲۰۰،والتمهیدلابن عبدالبر:۲/۱۱۵،ومسند البزار:۳/۲۶٤،مسند عبدالرحمن بن عوف،رقم (۱۰۵۶)
[7]) فتح الباری:۶/۲۶۱،والاوجز:۶/۲۰۱)_
[8]) مجمع الزوائد:۶/۱۳،کتاب الجهاد،ماجاء فی الجزیة،والطبرانی فی الکبیر:۱۹/٤۳۷[بقیه برصفحه آئنده..

دغه شان ددې نه علاوه هم ددې خبرې خيال ساتئ چې شوافع ددې خبرې خو قائل دی چې مجوسيانو سره نکاح کول او د هغوی ذبيحه خوړل جائز نهٔ دی ليکن بياهم دا وائی چې دا خلق اهل کتاب دی،که دوی اهل کتاب وو نو دا کارونه به هم جائز وو؟(١).دغه شان د باب حديث هم په خپله په دې باندې دلالت کوی چې مجوس اهل کتابو کښې داخل نهٔ دی او دوی د"اهل الکتاب"په عموم کښې شامل نهٔ دی ورنه حضرت عمر رضی الله عنه چې د دوی نه د جزيې په وصولئ کښې کوم توقف کوی نو ددې څهٔ مطلب دې؟(٢).ددې وجې نه صحيح هم دا معلوميږی چې مجوس په اهل کتاب کښې داخل نهٔ دی،صرف د جزيې په وصولئ کښې دوی د اهل کتابو سره شريک دی،دا هم ددې وجې نه چې نبی علیه السلام د دوی نه جزيه اخستلې ده،ددې وجې نه نهٔ چې دوی په اهل کتابو کښې داخل دی(٣).والله أعلم بالصواب.

يو اشکال او د هغې جواب: د حديث شارحينو دلته يو اشکال ذکر کړې دې چې د هغې تقرير دا دې چې د ذميانو دينی عقائدو او شعائرو سره تعرض نهٔ شی کيدې،مثلاً د مجوسيانو په نزد چونکه محرماتو سره نکاح کول جائز دی ددې وجې نه خليفه او د خليفه نائبان ددوی په دې کار کښې مداخلت نهٔ شی کولې(٤).او دلته د باب په حديث کښې راغلې دی چې حضرت عمر رضی الله عنه د مجوسيانو د هغې جوړو د جدا کولو حکم کړې.وو کوم چې خپل مينځ کښې محرم وو نو دا خو د هغوی په مذهبی عقيدو کښې مداخلت شو چې شرعی لحاظ سره صحيح نهٔ کار نهٔ دې.

ددې اشکال جواب دادې چې دلته دوه جدا جدا څيزونه دی،يو خو دا چې ذميان خپل مذهبی معاملات پوره کوی.دويم دا چې ذميان ددې معاملاتو اظهار هم د مسلمانانو په وړاندې اوکړی نو اولنی څيز خو جائز دې ليکن ددې دويم کار(يعنی د مسلمانانو په وړاندې د ښکاره کولو)اجازت بالکل نشته،د حضرت عمر رضی الله عنه د حکم مطلب هم دا وو چې دوی خپل مينځ کښې محرماتو سره نکاح خو کولې شی ليکن د عامو مسلمانانو په وړاندې ددې اظهار نهٔ شی کولې،نهٔ ددې دپاره اجتماعات منعقد کولې شی،دغه شان څنګه چې د مسلمانانو د ودونو ښادو اعلان کيږی نو دغه شان اعلان هم نهٔ شی کولې.

ددې مثال هغه شرطونه دی،کوم چې د امين الامه حضرت ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنه له طرفه د دمشق د فتح کولو نه پس په نصاری باندې لګولې شوې وو،په هغې کښې بعضې شرطونه دا وو چې هغوی صليب ښکاره نهٔ شی آويزاندولې،د خپلو مخصوص خوشحالو(اخترونو)

بقيه ازحاشيه گذشته] رقم (١٠٥٩)، مسلم بن العلاء الحضرمی)_

(١) المنتقی:٢٧٦/٣،کتاب الزکاة،جزية اهل الکتاب،رقم (٦٨١)،والاوجز:٢٠٢/٦،وشرح ابن بطال:٣٣/٥)

(٢) عمدة القاری:٨٠/١٥،واعلام الحديث للخطابی:١٤٦٢/٢)_

(٣) احکام القرآن:١١٩/٣_١٢١)_

(٤) وفی الشامية:٢٩٧/٣: نترکهم وما يدينون"فصل فی الجزية،مطلب ليس المراد منه......)_

اعلان نۀ شی کولې. د ګرجو دروازې مسلمانانو دپاره نۀ شی بندولې، وغیره وغیره(۱).
دې دپاره چې عام مسلمانان په فتنه کښې مبتلا نۀ شی او د هغوی د شان و شوکت نه متاثره نۀ شی(۲). والله أعلم

قوله: ولم يكن عمر أخذ الجزية من المجوس حتى شهد عبد الرحمن بن عوف:

او حضرت عمر رضي الله عنه د مجوسیانو نه جزیه نۀ وه اخستلې تردې چې حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه(۳) ګواهی ورکړه.......

مذکوره جمله باندې سندی بحث: پورته ذکر شوې جمله یا خو د حضرت عمر رضي الله عنه د هغه خط حصه ده د کوم خط تذکره چې پورته په حدیث کښې تیره شوه، په دې صورت کښې به د روایت حیثیت "رواية عمر عن عبد الرحمن بن عوف" وی یعنی حضرت عمر، د حضرت عبد الرحمن نه روایت کوی لکه د ترمذی شریف(۴) په روایت کښې ددې وضاحت هم شته چې "فجاءنا كتاب عمر: انظر مجوس من قبلك، فخذ منهم الجزية، فان عبد الرحمن بن عوف أخبرني........".

لیکن اصحابو د "اطراف الحديث" دا حدیث په بجاله عن عبد الرحمن کښې ذکر کړې دې(۵).
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې حضراتو دا کار صحیح نۀ دې، ځکه چې د حدیث په ټولو طرقو کښې هیڅ یو طریق کښې هم دا خبره ذکر نۀ ده چې بجاله دا روایت د حضرت عبد الرحمن بن عوف نه اخستلې دې بلکه د ترمذی شریف پورته ذکر شوې روایت خو په دې باب کښې واضح دې، ددې وجې نه دا روایت په "عمر بن الخطاب عن عبد الرحمن" کښې ذکر کول مناسب وو نۀ چې په "بجالة عن عبد الرحمن" کښې(۶).

هَجَر: دا کلمه د هاء او د جیم فتحې سره ده، د نبی علیه السلام په زمانه کښې په دې نوم سره څو علاقې وې، چې په هغې کښې هجربحرین، هجرنجران، هجرجازان او هجرمازن وغیره شامل دی. لیکن دلته هجربحرین مراد دې، دې وخت کښې دلته مجوسیان په لوئې تعداد کښې آباد وو، په ۸ یا ۱۰ هجرئ کښې د نبی علیه السلام په ژوند مبارک کښې دا علاقه د حضرت علاء بن

---

(۱) انظر نص تلک الشروط فی تهذیب تاریخ دمشق الکبیر:۱/۱۵۰، باب کیف کان امر دمشق.....؟)_
(۲) اعلام الحدیث:۲/۱٤٦٣، وفتح الباری:۶/۲۶۱، وعمدة القاری:۱۵/۸۰، واعلاء السنن:۱۲/٤٤١_٤٤٢، وتحفة الباری:۳/۵۶۵، وارشاد الساری:۵/۲۳۰)_
(۳) دحضرت عبد الرحمن بن عوف حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الجنائز، باب الکفن من جمیع المال)_
(٤) الحدیث اخرجه الترمذی فی ابواب السیر، باب فی اخذ الجزیه من المجوس، رقم (۱۵۸۷)، وابو داؤد، کتاب الخراج.....، باب فی اخذ الجزیة من المجوس، رقم (۳۰٤۳)، والنسائی فی الکبری، رقم (۸۷۶۸))_
(۵) انظر مثلا: تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف:۷/۲۰۷)_
(۶) فتح الباری:۶/۲۶۱، والنکت الظراف علی الاطراف:۷/۲۰۸)_

الحضرمی رضی الله عنه په لاسونو مبارکو فتح شوې وه(۱).د مجوسیانو نه په جزیه اخستلو کښې چې کله د حضرت عمر رضی الله عنه تردد پیدا شو نو حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته ددې علاقې حواله ورکړه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې علاقې د مجوسیانو نه جزیه اخستې وه.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په دې جمله کښې دې: "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أخذها من المجوس"(۲)په دې کښې د مجوسیانو نه د جزیه اخستلو تذکره ده، چې د مصنف رحمه الله مقصود دې.

۲۹۸۸ (۳):حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَوْفٍ الْأَنْصَارِيَّ وَهُوَ حَلِيفٌ لِبَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ إِلَى الْبَحْرَيْنِ يَأْتِي بِجِزْيَتِهَا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - هُوَ صَالَحَ أَهْلَ الْبَحْرَيْنِ، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمُ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ، فَقَدِمَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ، فَسَمِعَتِ الْأَنْصَارُ بِقُدُومِ أَبِي عُبَيْدَةَ فَوَافَتْ صَلَاةَ الصُّبْحِ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -، فَلَمَّا صَلَّى بِهِمِ الْفَجْرَ انْصَرَفَ، فَتَعَرَّضُوا لَهُ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ رَآهُمْ وَقَالَ «أَظُنُّكُمْ قَدْ سَمِعْتُمْ أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ قَدْ جَاءَ بِشَيْءٍ». قَالُوا أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ، فَوَاللَّهِ لَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ». [۳۷۹۱، ۶۰۶۱]

رجال الحديث

①**ابواليمان،**②**شعيب:** د حضرت ابو اليمان حكم بن نافع او د شعيب ابن ابى الحمزه الحمصى رحمهما الله حالات د بدء الوحی په شپږم حدیث کښې تیر شوې دی(٤).

---

۱) معجم البلدان:۳۹۳/۵،باب الهاء والجيم.......وعمدة القارى:۸۰/۱۵_ وذكر ابن سعد فى طبقاته (۲٦۳/۱): ان النبى صلى الله عليه وسلم بعد قسمة الغنائم بالجعرانة ارسل العلاء الى المنذر بن ساوى عامل البحرين. يدعوهم الى الاسلام،فاسلم،وصالح مجوس تلك البلادعلى الجزية".فتح البارى:۲٦۲/٦،وهذه العبارة تدل على انها كانت فى سنة تسع؛لان النبى صلى الله عليه وسلم نزل بالجعرانة سنة تسع من الهجرة)_

۲) عمدة القارى:۷۹/۱۵)_

۳) قوله: عمرو بن عوف الانصارى رضی الله عنه ":الحديث،اخرجه البخارى ايضا فى صحيحة،فى كتاب المغازى، باب بلا ترجمة،بعد باب شهود الملائكة بدرا،رقم (٤۰۱۵)،وفى كتاب الرقاق،باب مايحذر من زهرة الدنيا والتنافس فيها،رقم (٦٤۲۵)،ومسلم فى صحيحة،كتاب الزهد،باب الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر،رقم (۷٤۲۵_۷٤۲٦)،والترمذى،فى ابواب صفة القيامة (باب حدث:والله ما الفقر اخشى عليكم)،رقم (۲٤٦۲)، وابن ماجه فى سننه،كتاب الفتن،باب فتنة المال،رقم (۳۹۹۷))_

٤) كشف البارى:۴۷۹/۱_۴۸۰)_

③**زهري**: دا امام ابن شهاب زهرى رحمه الله دې،د دوى تذكره په "بدء الوحى"كښې راغلې ده.[1].
④**عروة بن الزبير**:دا مشهور تابعى حضرت عروه بن زبير بن العوام رحمه الله دې.د دوى حالات د"بدء الوحى"په دويم حديث كښې ذكر شوې دى[2].
⑤**مسور بن مخرمة**:دا مشهور صحابى حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه دې[3].
⑥**عمرو بن عوف الانصاري**:دا حضرت عمرو بن عوف الانصارى رضي الله عنه دې.دوى د اسلام كښې اولنو صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې او د بنو عامر بن لوئى ملگرې او د بدر په شريكانو كښې دى[4].دوى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوى.د دوى نه روايت كوونكې صرف حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنه دې[5].او د دوى نه صرف يو حديث روايت دې كوم چې په باب كښې ذكر شوې دې[6].په ائمه سته كښې د امام ابوداؤد رحمه الله نه علاوه باقى ټولو حضراتو د دوى نه روايت اخستلې دې[7].د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د خلافت په دور كښې دوى وفات شو[8].رضى الله عنه وارضاه

دې ولې انصارى دې؟:دلته يو سوال دا پيدا كيږى چې حضرت عمرو بن عوف رضي الله عنه څنگه انصارى دې،حالانكه د اهل مغازى په نزد دا مشهوره ده چې دوى مهاجر وو،ددې خبرې تائيد ددې جملې نه هم كيږى: "وهوحليف لبنى عامربن لؤى"ددې جملې نه خو دا معلوميږى چې دوى مكى وو؟
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې سوال دوه جوابونه ذكر كړې دى:
①كيدې شى چې دوى د معنې په اعتبار سره په انصارى باندې مشهور وى،ددې خبرې نه خو هيڅ څيز مانع نۀ دې چې د دوى تعلق اوس يا خزرج سره وى،بيا ئې په مكه مكرمه كښې اوسيدل اختيار كړې وى او هلته ئې بعضې قبيلو سره اتحاد كړې وى نو په دې اعتبار سره مهاجر او انصارى دواړه شو.
②لفظ د"الانصارى"وهم دې او دا د شعيب ابن ابى حمزه تفرد دې،څكه چې په صحيحينو كښې دا حديث د امام زهرى رحمه الله نه د هغوى پنځه شاگردان نقل كوى،شعيب بن ابى

[1]) كشف البارى:۳۲۶/۱،الحديث الثالث)_
[2]) كشف البارى:۲۹۱/۱،و:۴۳۶/۲)_
[3]) د دوى د حالاتو دپاره اوگورئ،كتاب الوضوء،باب استعمال فضل وضوء الناس)_
[4])تهذيب الكمال:۱۷۴/۲۲،والطبقات: ۳۶۳/٤،وتهذيب التهذيب:۸۵/۸،والاستيعاب:۱۰٤/۲،رقم (۱۹۵۲)
[5]) الطبقات: ۳۶۳/٤،وتهذيب الكمال:۱۷۵/۲۲،والجرح والتعديل:۳۱۳/۶،باب العين،رقم (۱۳٤۰))_
[6]) تهذيب الكمال:۱۷۵/۲۲)_
[7]) پورته حواله)_
[8]) فتح البارى:۲۶۲/۶)_

حمزه، معمر بن راشد، یونس بن یزید، موسى بن عقبه او صالح بن کیسان رحمهم الله (۱) په دوی کښې د شعیب نه علاوه څوک هم د "الانصاری" لفظ نهٔ روایت کوی، ددې وجې نه د حافظ صاحب یقین په دې باندې دې چې مذکوره لفظ وهم دې (۲). او علامه عینی رحمه الله اولنې احتمال راجح ګرځولې دې چې دې انصاری هم دې او مهاجر هم. د علامه قسطلانی رحمه الله رائې هم داده (۳).

یو اهم خبرداری: د امام موسى بن عقبه رحمه الله نه د حضرت عمرو بن عوف د نوم په سلسله کښې دوه اقوال روایت دی، لکه هغوی په خپل کتاب "المغازی" کښې د دوی نوم تصغیر سره عمیر بن عوف نقل کړې دې او د بخاری شریف د کتاب الرقاق روایت چې د موسى نه روایت دې په هغې کښې د تصغیر نه بغیر عمرو موجود دې (۴). ددې وجې نه ممکنه ده چې دا دواړه نومونه د دوی وی، کله ورته عمیر وئیلې شوې وی او کله ورته عمرو (۵). ابن عبد البر رحمه الله لیکلې دی چې دوی ته عمیر هم وئیلې کیږی (۶). البته عسکری رحمه الله د عمیر او د عمرو مینځ کښې تفریق کړې دې، دا دواړه ئې جدا جدا شخصیات ګرځولې دې لیکن صحیح داده چې دا د یو صحابی دوه نومونه دی (۷).

قوله: أن رسول الله بعث أبا عبيدة بن الجراح (۸) إلى البحرين يأتي بجزيتها: چې رسول الله ﷺ بحرین ته د جزیې دوصولئ دپاره حضرت ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه روان کړو. "بحرین" نن صبا یو مستقل ریاست دې لیکن په دغه زمانه کښې دا علاقه په عراق کښې شامله وه، دا د بصرې او د هجر مینځ کښې واقع دې، ددې اوسیدونکې دغه وخت کښې ډیر مجوسیان وو (۹). کما مر قبل ایضاً.

قوله: وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم هو صالح أهل البحرين، وأمر عليهم العلاء (۱۰) بن الحضرمي: او نبی کریم ﷺ د بحرین اوسیدونکو سره صلح کړې

---

(۱) تحفة الاشراف: ۸/۱۶۸، مسند عمرو بن عوف الانصاری.....)_

(۲) فتح الباری: ۶/۲۶۲)_

(۳) عمدة القاری: ۱۵/۸۱، وارشاد الساری: ۵/۲۳۰)_

(۴) انظر صحیح البخاری، کتاب الرقاق، باب ما یحذر من زهرة الدنیا.....رقم (۶۴۲۵))_

(۵) عمدة القاری: ۱۵/۸۱، وفتح الباری: ۶/۲۶۲)_

(۶) الاستیعاب: ۲/۱۰۴، رقم (۱۹۵۲))_

(۷) عمدة القاری: ۱۵/۸۱، وفتح الباری: ۶/۲۶۲، وتهذیب التهذیب: ۸/۸۶)_

(۸) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الشرکة، باب الشرکة فی الطعام.....)_

(۹) فتح الباری: ۶/۲۶۲)_

(۱۰) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الشهادات، باب من امر بانجاز الوعد)_

وه او په هغوی باندې ئې حضرت علاء بن الحضرمی امیر مقرر کړې وو.په حدیث شریف کښې د مذکوره صلحې واقعه"سنة الوفود"یعنی د ۹هجرئ ده[۱].

د مذکوره واقعې تفصیل:د جعرانه نه په واپسئ باندې نبی کریم ﷺ حضرت علاء بن الحضرمی رضی الله عنه د منذر بن ساوی العبدی په طرف روان کړو.مقصد هغهٔ ته د اسلام دعوت ورکول وو او د هغهٔ په نوم ئې يو خط هم اوليکهٔ،منذر نبی علیه السلام ته جوابی خط اوليکهٔ،چې په هغې کښې د هغهٔ د اسلام د قبلولو اطلاع وه.دا ئې هم ليکلې وو چې:

"وإنی قد قرأت کتابك علی أهل هجر،فمنهم من أحب الاسلام،وأعجبه،ودخل فيه،ومنهم من کرهه،وبأرضی مجوس ويهود،فأحدث إلی فی ذلك أمرا".

یعنی:"ما ستاسو خط اهل هجر ته اولوستلو،بعضو خو اسلام خوښ کړو.هغوی ته خوښ شو او ښهٔ پرې اولګيدهٔ او په اسلام کښې داخل شو او بعضو ناخوښه کړو او زما په حکومت کښې مجوسيان او يهوديان هم دی.د هغوی په باره کښې تاسو ما ته څهٔ اوليکئ چې د هغوی متعلق ستاسو څهٔ حکم دې؟".

نو نبی کریم ﷺ ورته په جواب کښې خط اوليکلو چې ترڅو تاسو حکومت ښهٔ طريقې سره جاري ساتئ او د حکومتی کارونو خيال ساتئ نو مونږ به تاسو نهٔ معزوله کوو او کوم سړي چې هم په مجوسيت او يهوديت باندې برقرار اوسيږی نو هغهٔ دپاره به جزيه ادا کول ضروري وی......[۲].

قوله:فقدم أبوعبيدة بمال من البحرين:نو حضرت ابوعبيده رضی الله عنه څهٔ مال سره د بحرين نه واپس شو.

حضرت ابوعبيده رضی الله عنه چې د بحرين نه واپس کيدو نو ځان سره ئې د هغې ځائې نه څهٔ مال هم راؤړلو.د هغې مال مقدار څهٔ وو؟نو په دې سلسله کښې حضرت ابن ابی شيبه رحمه الله د حميد بن هلال د طريق نه مرسلاً روايت کړې دې چې ددغه مال مقدار اتهٔ لاکه وو.دا حضرت علاء رضی الله عنه راستولې وو او دا د ټولو نه اولنې خراج وو،کوم چې د نبی علیه السلام خدمت مبارک کښې پيش کړې شو[۳].

خبرداری:د ابن ابی شيبه په نسخو کښې د مذکوره مال مقدار اتهٔ لاکه راغلې دې،او حافظ د ابن ابی شيبه نه يو لاک نقل کړې دې اود ابن سعد، يعقوب بن سفيان او د حاکم په روايتونو کښې د مذکوره مال مقدار اتيا زره ذکر شوې دې.والله أعلم بالحقيقة.

اوګورئ: تعليقات الشيخ محمد عوامة علی المصنف:۱۹/۵۳۲_.

---

[۱]) فتح الباری:۶/۲۶۲،وشرح القسطلانی:۵/۲۳۰،وعمدة القاری:۱۵/۸۱)_
[۲]) الطبقات الکبری لابن سعد:۴/۳۶۳)_
[۳]) المصنف لابن ابی شيبة:۱۹/۵۳۳،کتاب الاوائل،باب اول ما فعل......رقم (۳۶۹۵۵)،وفتح الباری: ۱/۵۱۷، رقم (۴۲۱)،کتاب الصلاة......وهدی الساری:۳۹۶،کتاب الصلاة)_

فسمعت الأنصار بقدوم أبي عبيدة،فوافقت صلاة الصبح مع النبي ﷺ،فلما صلى بهم الفجر انصرف، فتعرضوا له،فتبسم رسول الله صلى الله عليه وسلم حين رآهم، وقال: أظنكم قد سمعتم أن أباعبيدة قد جاء بشئ

چې انصارو د حضرت ابوعبیده د واپسئ واوریدل نو هغوی د سحر مونځ نبی کریم ﷺ سره اوکړو .کله چې نبی ﷺ هغوی ته د سحر مونځ اوکړو نو د واپسئ دپاره راتاؤ شول نو انصار ورته مخامخ راغلل،چې نبی ﷺ هغوی اولیدل نو وې خاندل او ارشاد ئې اوفرمائیلو ،زما خیال دادې چې تاسو خلقو د ابوعبیده،د بحرین نه،د واپسئ اوریدلې دی چې هغوی څان سره څهٔ راوړلې دی.

د حدیث نه مستنبط یوه فائده: د مذکوره پورتنی عبارت نه دا یو خبره مستنبط شوه چې صحابه کرام(مهاجرین وانصار)ﷺ به په ټولو مونځونو کښې د نبی ﷺ سره په جماعت کښې نهٔ شریکیدل.البته:دا چې څهٔ واقعه به پیښه شوه او دا چې صحابه کرامو ﷺ به په خپلو خپلو مساجدو کښې مونځ کوو ،ځکه چې د هرې قبیلې خپل خپل مسجد وو چې هلته به هغوی جمع کیدل.ددې وجې نه چې هرکله نبی کریم ﷺ هغوی اولیدل چې د سحر په مانځهٔ کښې ټول جمع دی نو دوی ته معلومه شوه چې دا ټول د څهٔ کار په غرض سره راغلي دی او قرینه هم ددې کار په تعیین باندې دلالت کوی چې هغوی ته د مال و دولت ضرورت وو نو چې په دې مال کښې د هغوی دپاره هم څهٔ گنجائش اوشی،البته د هغوی دا خواهش وو چې مهاجرینو ته هم په دې کښې څهٔ حصه ملاویدل پکار دی،ددې وجې نه کله چې هغوی ته نبی ﷺ په بحرین کښې د جاګیردارو پیش کش اوکړونو انصارو هم دا اوفرمائیل:

"حتى تقطع لاخواننا من المهاجرين مثل الذى تقطع لنا"(۱).هرکله چې مال راغئ نو انصارو سوچ اوکړو چې په دې مال کښې د مهاجرینو هم حق دې.

او دا هم احتمال دې چې نبی ﷺ په خپله دوی سره وعده کړې وی چې کله مال راشی نو زهٔ به ترینه تاسو خلقو ته درکوم،لکه حضرت جابر بن عبدالله انصاری ﷺ سره نبی ﷺ وعده کړې وه چې د بحرین نه مال راشی نو زهٔ به تاسو ته درکوم،بیا دا وعده د نبی ﷺ د وفات نه پس حضرت ابوبکر صدیق ﷺ پوره کړې وه(۲).خلاصه دا شوه چې انصارو خو یا په خپله د مال باره کښې واوریدل نو راغلل چې په دې مال کښې زمونږ هم حق دې یا چونکه نبی کریم ﷺ ورسره وعده کړې وه ددې وجې نه حاضر شو(۳).

قوله: قالوا: أجل يارسول الله: انصارو په جواب کښې اووئیل،آوجی! یا رسول الله! امام اخفش رحمه الله فرمائی چې اجل په معنی کښې د نعم په شان دې،البته په دې دواړو کښې

---

(۱) اوګورئ،صحیح البخاری،کتاب المساقاة،باب القطائع،رقم (۲۳۷۶))_

(۲) انظر صحیح البخاری،کتاب الکفالة،باب من تکفل عن میت......رقم (۲۲۹۶))_

(۳) فتح الباری:۶/۲۶۲_۲۶۳)_

فرق دادې چې د نعم استعمال د جواب استفهام دپاره وی ځکه چې ددې استعمال په دې ځائې کښې غوره دې او چې کله تصديق مقصود وی نو هلته د اجل استعمال د نعم په ځائې زيات غوره دې(۱).

قوله: قال: فابشروا،وأملوا مايسركم: نبی علیه السلام اوفرمائيل.خوشحاله شه او د هغه څيز اميد ساته چې تا خوشحاله کړی.

"ابشروا" صورتاً خو امر دې ليکن معناً خبر دې،مطلب دادې چې د کوم مقصود دپاره تاسو ماته راغلې ئې،هغه حاصل شو او مال به تاسو ته ملاؤ شی(۲).

قوله: فوالله،لا الفقر أخشى عليكم،ولكن أخشى عليكم أن تبسط عليكم الدنيا، كما بسطت على من كان قبلكم،فتنافسوها كما تنافسوها،وتهلككم كما أهلكتهم: په خدائې قسم اماته ستاسو د نهرې لوږې خطره نشته بلکه دا ويره ده چې دنيا به په تاسو باندې فراخه کړې شی،لکه څنګه چې ستاسو نه مخکښې امتونو باندې کړې شوې وه،تاسو به هم په دې کښې دغه شان رغبت اوکړئ څنګه چې هغوی رغبت کړې وو.بيا به تاسو دنيا د هغوی په شان هلاک کړی.

د "تنافس" معنی ده په يو څيز کښې رغبت ساتل او هغه څيز خپل ځان سره خاص کول.او په حديث مبارک کښې دا خبره وئيلې شوې ده چې په دنيا کښې رغبت ساتل بعضې وخت کښې انسان د هلاکت په طرف روان کړی او ددې وجې نه آخرت برباد شی(۳).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: د باب مطابقت د حديث دې لاندې جملو سره موندلې شی:

① "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث أبا عبيدة......يأتي بجزيتها" ځکه چې په دې کښې د جزيه ذکر دې او د ترجمې اولنې جزء جزيه ده.

② "فقدم أبوعبيدة بمال من البحرين" ځکه چې د بحرين نه کوم مال راغلې وو نو هغه د جزئې وو.دغه شان د بحرين اوسيدونکی دغه وخت کښې مجوسيان وغيره وو.ددې وجې نه د ترجمة الباب جزء "الجزية" او "المجوس" دواړو سره مناسبت موجود دې(۴).والله أعلم بالصواب

••

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۶۳)_
(۲) پورته حواله)_
(۳) پورته حواله.عمدة القاری:۱۵/۸۱.وارشاد الساری:۵/۲۳۱.دلته اوګوره،کشف الباری،کتاب المغازی:۱۶۶)
(۴) عمدة القاری:۱۵/۸۱)_

۲۹۸۹: (۱) حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ يَعْقُوبَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّقِّي حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِي حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِي وَزِيَادُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنْ جُبَيْرِ بْنِ حَيَّةَ قَالَ بَعَثَ عُمَرُ النَّاسَ فِي أَفْنَاءِ الْأَمْصَارِ يُقَاتِلُونَ الْمُشْرِكِينَ، فَأَسْلَمَ الْهُرْمُزَانُ فَقَالَ إِنِّي مُسْتَشِيرُكَ فِي مَغَازِيَّ هَذِهِ. قَالَ نَعَمْ، مَثَلُهَا وَمَثَلُ مَنْ فِيهَا مِنَ النَّاسِ مِنْ عَدُوِّ الْمُسْلِمِينَ مَثَلُ طَائِرٍ لَهُ رَأْسٌ وَلَهُ جَنَاحَانِ وَلَهُ رِجْلَانِ، فَإِنْ كُسِرَ أَحَدُ الْجَنَاحَيْنِ نَهَضَتِ الرِّجْلَانِ بِجَنَاحٍ وَالرَّأْسُ، فَإِنْ كُسِرَ الْجَنَاحُ الْآخَرُ نَهَضَتِ الرِّجْلَانِ وَالرَّأْسُ، وَإِنْ شُدِخَ الرَّأْسُ ذَهَبَتِ الرِّجْلَانِ وَالْجَنَاحَانِ وَالرَّأْسُ، فَالرَّأْسُ كِسْرَى، وَالْجَنَاحُ قَيْصَرُ، وَالْجَنَاحُ الْآخَرُ فَارِسُ، فَمُرِ الْمُسْلِمِينَ فَلْيَنْفِرُوا إِلَى كِسْرَى.

رجال الحديث

①**الفضل بن يعقوب**: دا د امام بخارى رحمه الله خاص شيخ، الفضل بن يعقوب رخامى بغدادى رحمه الله دى (۲).

②**عبدالله بن جعفر الرقى**: دا امام عبدالله بن جعفر بن غيلان القرشى رحمه الله دى. ابوجعفر او ابو عبدالرحمن د دوى كنيت دى. د آل عقبه بن ابى معيط آزاد كرده غلام وو (۳).

د دوى نسبت د رقه طرفته شوى دى او ددې وجې نه ورته الرقى "بفتح الراء المشددة، وكسر القاف المشددة" وئيلې كيږى، دا په عراق كښې د فرات مشرقى غاړې سره يو مشهور ښار وو، اوس ختم شوى دى (۴). دوى د عبيد الله بن عمرو، ابو المليح حسن بن عمر الرقى، عبد العزيز الدراوردى، معتمر بن سليمان او د موسى بن اعين رحمهم الله نه روايت كوى. د دوى نه په روايت كوونكو كښې احمد ابن ابراهيم الدروقى، ابو الازهر نيسابورى، اسماعيل بن عبد الله الرقى، على بن الحسين الرقى، ايوب بن محمد الوزان، سلمة بن شبيب، دارمى، عمرو الناقد، فضل بن يعقوب رخامى، محمد بن حاتم بن ميمون، محمد بن جبلة، ابو زرعة الدمشقى او ابوحاتم رحمهم الله وغيره شامل دى (۵).

---

(۱) قوله: بعث عمر "الحديث، اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه، فى كتاب التوحيد، باب قول الله تعالى: (يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک.....) رقم (۷۵۳۰)، وتحفة الاشراف بمعرفة الاطراف: ۱۹/۸)_

(۲) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب البيوع، باب التجارة فى البر)_

(۳) تهذيب الكمال: ۳۷۶/۱۴، وتهذيب التهذيب: ۵۱۷۳، وتاريخ البخارى الكبير: ۶۲/۵، رقم (۱۵۰)، و اكمال مغلطاى: ۲۸۵/۷، رقم (۲۸۵۳)، والطبقات: ۴۸۶/۷)_

(۴) عمدة القارى: ۸۲/۱۵)_

(۵) شيخانو او شاګردانو دپاره اوګورئ، تهذيب الكمال: ۳۷۷_۳۷۸)_

امام حاتم رحمه الله فرمائی: "ثقة، وهو أحب إلی من علی بن معبد الذی کان بمصر"[1].
امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی: "ثقة"[2]
امام عجلی رحمه الله هم دوی ته "ثقه" وئیلې دی[3]
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: "ثقة، حافظ"[4]
ابن شاهین رحمه الله هم په خپل کتاب کښې "الثقات" کښې ذکر کړې دې[5].
امام نسائی رحمه الله فرمائی: "لیس به بأس قبل أن یتغیر"[6].
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: "ثقة، لکنه تغیر بأخرة، فلم یفحش اختلاطه"[7]، ابن حبان رحمه الله هم دوی په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دی او وائی چې په آخر عمر کښې دوی ته اختلاط واقع شوې وو[8].
لیکن دا اختلاط او ذهنی کمزوری نقصان ده نۀ دې، دا ځکه چې دې حضراتو یعنی حافظ صاحب او ابن حبان رحمهما الله په خپله ددې خبرې اعتراف کړې دې چې اختلاط نقصان ده نۀ دې، بلکه کم وو او کله کله به وو، چې د روایاتو دپاره نقصان ده نۀ دې. په ائمه سته کښې ټولو حضراتو د دوی روایات اخستلې دی[9]. چې دا په خپله د ثقاهت یو دلیل دې.
په ۲۱ یا ۲۳ شعبان ۲۲۰ هجرئ کښې په رقه کښې ددوی انتقال اوشو[10] رحمه الله تعالی رحمة واسعة
④ **المعتمر بن سلیمان**: دا معتمر" د عین سکون سره، د تاء فتحې سره او د میم کسرې سره، ابن سلیمان رحمه الله دې. په ټولو نسخو کښې هم دا نوم راغلې دې، په مستخرج اسماعیلی وغیره کښې ددې حدیث په سند کښې هم د بخاری په شان دې، یعنی معتمر، او د دمیاطی رحمه الله خیال دادې چې صحیح نوم معمر "بفتح المهمله، و تشدید المفتوحة بغیر مثناة" دې، هغوی ددې

[1]) الجرح والتعدیل: ۲۹/۵، رقم (۱۰۴)، وتهذیب الکمال: ۳۷۸/۱۴)_
[2]) الجرح والتعدیل: ۲۸/۵، رقم (۱۰۴)، وتهذیب الکمال: ۳۷۸/۱۴)_
[3]) اکمال مغلطای: ۲۸۶/۷، وتهذیب التهذیب: ۱۷۴/۵)_
[4]) الکاشف للامام الذهبی: ۳۷۸/۱، رقم (۲۶۶۷))_
[5]) تعلیقات تهذیب الکمال: ۳۷۸/۱۴، واکمال مغلطای: ۲۸۵/۷)_
[6]) تهذیب الکمال: ۳۷۸/۱۴، وتهذیب التهذیب: ۱۷۳/۵، ومیزان الاعتدال: ۴۰۳/۲، رقم: (۴۲۴۹))_
[7]) تقریب التهذیب: ۴۸۳/۱، رقم (۳۲۶۴)، وهدی الساری: ۵۸۰، الفصل التاسع، حرف العین)_
[8]) کتاب الثقات: ۳۵۱/۸)_
[9]) تقریب: ۴۸۳/۱، وتهذیب الکمال: ۳۷۶/۱۴)_
[10]) الثقات لابن حبان: ۳۵۲/۸، والطبقات الکبری: ۴۸۶/۷، الکاشف: ۱/وتهذیب الکمال: ۳۷۸/۱۴، و میزان الاعتدال: ۴۰۳/۲، رقم (۴۲۴۹))_

دليل دا پيش کړي دي چې عبد الله بن جعفر رقی د معتمر بن سليمان نه روايت نۀ کوی.د هغوی ملاقات ثابت نۀ دې.
حافظ و عيني فرمائی چې صرف دا وجه چې عبدالله رقی دې او معتمر بصری دې،د دوی ملاقات ممکن نۀ دې.نو دومره قدرې خبره د صحيح روايتونو د رد کولو دپاره کافی نۀ دۀ.که مونږ دا اومنو چې دا دواړه د يو بل په ښارونو کښې نۀ دی داخل شوې نو آيا په يو حج يا يو غزوه کښې به هم د دوی ملاقات نۀ وی شوې؟......بيا د دمياطی اعتراض په خپله د هغۀ د قول معارض دې،ځکه چې که معمر کيدل صحيح اوګرځولې شی،چې رقی نۀ دې او روايت کوی د سعيد بن عبيدالله نه چې بصری دې نو بعينه هم هغه اعتراض دلته هم کيږی چې که د رقی ملاقات د بصری سره ممکن نۀ دې نو د بصری ملاقات هم د رقی سره ډير مشکل دې،حالانکه داسې څۀ خبره نشته.دواړه صورتونه ممکن دی.
ددې نه علاوه کومو حضراتو چې د بخاری په رجالو باندې کار کړې دې،په هغوی کښې چا هم د بخاری په رجالو کښې د معتمر بن سليمان ذکر نۀ دې کړې،بلکه ټولو د بخاری په رجالو کښې متفقه طور باندې د معتمر بن سليمان تيمی بصری ذکر کړې دې.
اصيلی،ابن قرقول وغيره هم معتمر کيدل راجح ښودلې دي(١).دلته د علامه کرمانی رحمه الله نه تسامح شوې ده ځکه چې هغوی د بعضې حضراتو نه نقل کولو کښې معتمر ته اول معمر اووئيل، بيا ابن راشد يعنی معمر بن راشد(د عبدالرزاق صنعانی شيخ)دا عجيبه خبره ده، ځکه چې د عبدالله بن جعفر رقی روايت خو د معمر بن راشد نه هډو ثابت نۀ دې(٢).
④سعيد بن عبيدالله الثقفي:دا سعيد بن عبيدالله بن جبير بن حية الثقفی الجبيری البصری رحمه الله دې(٣).دې د خپل ترۀ زياد،بکر بن عبدالله المزنی،حسن بصری،حکم بن اعرج او عبدالله بن بريده رحمهم الله وغيره نه روايت کوی.او د دوی نه د دوی ځوئې اسماعيل،معتمر بن سليمان،ابوعبيده الحداد،بشر بن السری،خالد بن الحارث،روح بن عباده او مکی بن ابراهيم رحمهم الله تعالیٰ وغيره روايت کوی(٤).
امام احمد،يحيی بن معين او ابو زرعة رحمهم الله تعالیٰ فرمائی:"ثقة"(٥).
امام نسائی رحمه الله فرمائی:"ليس به باس"(٦).
امام ابن حبان رحمه الله د دوی ذکر په کتاب الثقات کښې کړې دې(٧).

---

(١) فتح الباری:٢٦٣/٦،وعمدة القاری:٨٢/١٥)_
(٢) پورته حواله جات،وشرح الکرمانی:١٢٦/١٣)_
(٣) تهذيب الکمال:٥٤٥/١٠،وتهذيب التهذيب:٦١/٤،والتاريخ الکبير:٤٩٥/٣،رقم (١٦٥٤))_
(٤) د شيخانو او شاګردانو دپاره اوګورئ،تهذيب الکمال:٥٤٥/١٠_٥٤٦)_
(٥) الجرح والتعديل:٣٨/٤،رقم (١٦٧)،وخلاصة الخزرجی:١٤١)_
(٦) تهذيب الکمال:٥٤٦/١٠،وتهذيب التهذيب:٦١/٤)_
(٧) تهذيب الکمال:٥٤٦/١٠،والثقات لابن حبان:٢٥٩/٨)_

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: "ثقة"[1].

ابن شاهين رحمه الله هم د دوى ذكر په كتاب الثقات كښې كړې دې[2].
البته امام دارقطنى رحمه الله په دوى باندې جرح كړې ده او وئيلې ئې دى چې دا مضبوط راوى نۀ دې،هغه روايات به دوى مسند أنۀ روايت كول كوم چې نورحضرات موقوفاً روايت كوى[3]
دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله هم د دوى په باره كښې ليكى: "صدوق، ربما وهم"[4].
په دې سلسله كښې په امام بخارى رحمه الله باندې اعتراض ددې وجې نه نۀ شى كيدې چې هغوى د سعيد بن عبيدالله دوه روايات په خپل صحيح بخارى كښې اخستلې دى.يو په اشربه[5] كښې،چې د هغې شواهد موجود دى،د باب دويم حديث،چې په كتاب التوحيد[6] كښې هم مختصراً راغلې دې،البته ددې شاهد هم موجود دې،ددې وجې نه د باب د حديث هم دا مضمون د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه نه هم روايت دې.د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه روايت ابن ابى شيبه[7] د قوى سند سره روايت كړې دې[8].د بخارى نه علاوه ترمذى،نسائى او ابن ماجه رحمهم الله تعالىٰ هم د دوى نه روايات اخستلې دى[9].

⑤ **بكر بن عبدالله المزنى**:دا بكر بن عبدالله المزنى البصرى رحمه الله دې[10].

⑥ **زياد بن جبير**:دا زياد بن جبير بن حية الثقفى الجبيرى البصرى رحمه الله دې[11].

⑦ **جبيربن حيه**:دا جبير بن حيه بن مسعود بن معتب بن مالک بن عمرو بن سعد بن عوف ثقفى بصرى رحمه الله دې.دا د حضرت عروه بن مسعود ثقفى رضي الله عنه ورارۀ دې[12].د دوى كنيت ابوفرس يا ابوفرش او ابو زياد دې[13].دوى د حضرت عمر بن الخطاب،حضرت عبدالله بن

---

[1]) الكاشف:١/٤٤١)_
[2]) الكمال مغلطاى:٥/٣٢۶،رقم (٢٠١١))_
[3]) پورته حواله،وتهذيب التهذيب:٤/۶١،والمغنى فى الضعفاء:١/٤٠٩،وميزان الاعتدال:٢/١٥٠)_
[4]) تقريب التهذيب:١/٣٥٩،رقم (٢٣۶۶،وتعليقات تهذيب الكمال:١٠/٥٤۶)_
[5]) صحيح بخارى،كتاب الاشربة،رقم (٥٥٨٤))_
[6]) صحيح بخارى،كتاب التوحيد،رقم (٧٥٣٠))_
[7]) المصنف:١٨/٢٨٧_٢٩١،كتاب البعوث والسرايا،توجيه النعمان بن مقرن الى نهاوند،رقم (٣٤٤٨٥)،ددې قصې د مزيد تخريج دپاره اوګورئ،تعليقات محمد عوامة على المصنف:١٨/٢٨٨)_
[8]) هدى السارى:٥٧٠،الفصل التاسع فى سياق اسماء من طعن......باب السين)_
[9]) تهذيب الكال:١٠/٥٤۶)_
[10]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الغسل،باب عرق الجنب.....)_
[11]) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الحج،باب نحر الابل المقيدة......)_
[12]) تهذيب الكمال:٤/٥٠٢،وتهذيب التهذيب:٢/٢۶)_
[13]) طبقات ابن سعد:٧/١٨٨،واكمال مغلطاى٣/١۶٧)_

عمر، حضرت مغيره بن شعبه او د حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنهم نه روايت كوى. د دوى نه بكربن عبدالله المزنى او د دوى خوئي زياد روايت كوى(١).

ابو الشيخ فرمائى: "جبير د طائف اوسيدونكي وو او هلته د يو مكتب معلم، بيا د هغه ځائي نه عراق ته منتقل شو، په عراق كښې په ديوان خانه كښې كاتب جوړ شو، چې كله زياد بن ابى سفيان د عراق والى جوړ شو نو هغوى د جبير اكرام او اعزاز اوكړو، خپل نزديكت ئې وركړو، دغه شان د دوى شان اوچت شو او زياد دوى د اصفهان والى جوړ كړو."(٢).

سبط ابن العجمى رحمه الله فرمائى: "ثقة جليل"(٣).

ابن حبان رحمه الله د دوى شمار په كتاب الثقات كښې جليل القدر تابعينو كښې كړې دې(٤).

دغه شان ابن خلفون په الثقات كښې د دوى ذكر اوكړو او وې فرمائيل: "كان ثقة"(٥).

اكثرو امامانو د رجال دوى تابعى ښودلې دې، ليكن د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې داده چې جبير بن حيه صحابى دې، ددې وجې نه حافظ صاحب د دوى تذكره د "الاصابة" په اولنى قسم كښې كړې ده.

د هغوى وينا داده چې د صحيح بخارى د روايت نه دا ثابتيږى چې د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه كښې چې كوم فتوحات وو نو په هغې كښې جبير شريك شوې وو. او امام بخارى رحمه الله مذكوره روايت د "زائدة بن ابى زياد بن جبير عنه" د طريق نه نقل كړې دې(٦). او ما څوك نۀ دى ليدلې چې هغوى د دوى ذكر په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې كړې وى حالانكه دې د هغوى په شرطونو باندې پوره دې. دا ځكه چې د بنو ثقيف يو سړې هم د نبى عليه السلام په حيات مبارك كښې ژوندې نۀ وو، مګر دا چې هغوى اسلام قبول كړې وو او په حجة الوداع كښې ئې شركت كړې وو (دې هم ثقفى دې). البته ابو موسى المدنى د دوى شمار په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې كړې دې، د دوى يو حديث ئې هم ذكر كړې دې بيا ليكى چې حديث مرسل دې او دا خبره ئې صحيح ښودلې ده چې دا تابعى دې صحابى نۀ دې(٧). ليكن زما په نزد د دوى صحابيت ناممكن نۀ دې، لكه كوم سړى چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه خلافت كښې په فتوحاتو كښې شركت كړې وى نو هغه به دغه وخت خامخا ځوان وى او په كومه واقعه كښې چې دې حاضر وو نو هغه د نبى عليه السلام د وفات نه پس لس كال تيريدلو نه مخكښې پيښه

---

(١) الجرح والتعديل:٤٤٥/٢، وتهذيب الكمال:٥٠٢/٤، واكمال مغلطاى:١٦٧/٣)_

(٢) تهذيب الكمال:٥٠٢/٤، وتهذيب التهذيب:٢٦/٢)_

(٣) حاشيه سبط ابن العجمى على الكاشف:٢٨٩/١)_

(٤) تهذيب التهذيب:٦٣/٢)_

(٥) اكمال مغلطاى:١٦٧/٣)_

(٦) لعل الحافظ رحمه الله اراد حديث الباب، ولكن طريقه يخالف لما قاله الحافظ، والله اعلم)_

(٧) اكمال مغلطاى:١٦٧/٣، والاصابة:٢٢٥/١)_

شوې ده.ددې وجې نه کم از کم د دوی لیدل به خامخا ثابت وی او دا خبره د صحابیت د شرف د حصول دپاره کافی ده[1].د حضرت جبیر انتقال د اموی خلیفه عبد الملک بن مروان په زمانه کښې اوشو.[2].ابن عساکر رحمه الله لیکلي دی چې د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د شهادت په دویمه جمعه باندې حجاج بن یوسف خطبه ورکړه.او وې وئیل چې زما وهم او ګمان دادې چې تاسو خلق د حق او باطل مینځ کښې د تمیز کولو قابل پاتې نهٔ شوئ.زهٔ ستاسو نه د دریو څیزونو باره کښې تپوس کوم که د دغه سوالونو جوابونه تاسو صحیح راکړل نو ښهٔ خبره ده.ورنه زهٔ به په تاسو باندې جزیه لازم کړم او تاسو به ددې اهل هم یئ.
سوالات دادی چې هغه کوم څیزدې چې دهغې نه هیڅ یوڅیز مستغنی(بې پرواه)کیدې نهٔ شی؟ هغه کوم څیز دې چې په کنیت سره پیژندلې شی اوهغه کوم بچې دې چې دهغهٔ پلار نشته؟ نو حضرت جبیر بن حیه اودریدو او وې فرمائیل چې ائې امیره!که ستا دا مذکوره اراده او عزم نهٔ وې نو ما به تا ته جواب نهٔ وو درکړې.پاتې شو هغه څیز چې د هغې نه هیڅ یو څیز مستغنی نهٔ دې نو هغه نوم(اسم)دې.هغه څیز چې کنیت سره پیژندلې شی نو هغه ام الجنین ده او هغه ماشوم چې پلار ئې نه وو نو هغه حضرت عیسی علیه السلام دې.
حجاج اووئیل ائې متکلمه!تاسو څوک یئ؟وې فرمائیل:جبیر بن حیه ثقفی.حجاج اووئیل چې ستاسو صحیح جوابونه هم غلط شو.ددې نزدې رشته داریٔ باوجود تاسو څنګه زما نه لرې یئ(څکه چې حجاج په خپله هم ثقفی وو)؟وې فرمائیل:ائې امیر!تهٔ به د خپل قوم دپاره همیشه باقی نهٔ ئې او نهٔ ستا دا عزت همیشه دپاره دې.څکه چې زمانه د مختلفو حالاتو ښکار کیږی او نن مونږ ستاسو نه د فائدې حاصلولو سره دا نهٔ غواړو چې صبا مونږ ته د هغې سزا ملاویږی.راوی وائی چې حجاج دوی ته ډیر انعام ورکړو.[3].

قوله: قال: بعث عمر الناس في أفناء الامصار يقاتلون المشركين: حضرت جبير بن حيه فرمائی چې حضرت عمر رضی الله عنه خلق لوئې لوئې ښارونو ته روان کړل چې دوی به مشرکانو سره قتال کوی.

"أفناء" د "فنو" بكسر الفاء وسكون النون "جمع ده،ددې معنی ده ډله،د کمې او معمولی درجې خلق.دغه شان هغه سړې چې د هغهٔ هیڅ قبیله نهٔ وی نو هغهٔ ته هم "فنو" وئیلې شی[4].علامه کرمانی رحمه الله د "الامصار" په ځائې "الانصار" نقل کړې دې او دا ئې وئیلې دی چې په بعضې نسخو کښې "الامصار" راغلې دې.په دې خان پوهول پکار دی چې هم "الامصار" صحیح دې، د دوی د ذکرکرده کلمې دلته هیڅ معنی نهٔ جوړیږی،څکه چې انصار خو د مخکښې نه

[1]) الاصابة:۲۲۵/۱.وتعليقات تهذيب الكمال:۵۰۳/٤.وفتح البارى:۲۶۳/۶)_
[2]) تهذيب الكمال:۵۰۳/٤.وتهذيب ۶۳/۲.والتقريب:۱۵۶/۱.رقم (۹۰۱))_
[3]) اكمال مغلطاى:۱۶۸/۳)_
[4]) فتح البارى:۲۶٤/۶.وعمدة القارى:۸۳/۱۵.والنهاية:٤۸۸/۳.باب الفاء مع النون)_

مسلمانان وو نو هغوی سره د جنگ کولو څۀ مطلب؟او ددې نه پس په حدیث شریف کښې متصل "یقاتلون المشرکین" هم راغلې دې[۱].

قوله: فاسلم الهرمزان: نو هرمزان اسلام قبول کړو.

دلته د حدیث شریف په سیاق کښې ډیر زیات اختصار دې،ځکه چې د هرمزان د اسلام د قبولیت واقعه فوراً نۀ وه پیښه شوې بلکه ددې نه مخکښې څو جنګونه شوې وو،د واقعاتو تفصیل چونکه ډیر زیات دې ددې وجې نه مونږ به دهغې د خلاصې پیش کولو کوشش کوو.

د هُرمُزان د اسلام د قبلولو واقعه: هُرمُزان "بضم الهاء وسکون الراء وضم المیم وتخفیف الزای وفی آخره نون"[۲] د عجم په لوئې لوئې بادشاهانو کښې وو،د دوی په حکومت کښې ډیرې زیاتې علاقې شاملې وې،مثلاً اهواز،جندی سابور،سوس،سرق،نهربین،نهرتیری او مناذر وغیره.

د قادسیه په مقام باندې د مسلمانانو او د ایرانیانو چې کوم مشهور جنگ"جنگ قادسیه"شوې وو،په دې جنگ کښې د ایرانیانو په لښکر کښې دې هم شامل وو،دا لښکر یزدجر روان کړې وو.د مسلمانانو د لښکر مشر حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه او د ایرانیانو د لښکر مشر رستم وو،ایرانی لښکر په دوه لاکه جنګجو باندې مشتمل وو،دوی سره درې دیرش(۳۳)هاتیان هم وو او هرمزان د میمنه مشر وو.

د ابن اسحاق رحمه الله وینا ده چې د مسلمانانو لښکر صرف په اووۀ یا اتۀ زره کسانو باندې مشتمل وو،د دواړو ډلو مینځ کښې خطرناک او ډیر زیات سخت جنگ اوشو،داسې جنگ اوشو چې تاریخ ددې مثال ددې نه مخکښې نۀ وو لیدلې،د مسلمانانو د لښکر یوې ډلې په دغه ورځ باندې ډیره زیاته بهادری اوښودله او د بې مثاله بهادرئ نمونې ئې پیش کړې،په دوی کښې حضرت طلیحه الاسدی،حضرت عمرو بن معدیکرب،حضرت قعقاع بن عمرو،حضرت جریر بن عبدالله البجلی،حضرت ضرار بن خطاب،حضرت خالد بن عرفطة رضی الله عنهم او نور ډیر حضرات شامل وو.

د دواړو ډلو مینځ کښې دا جنگ د ګُل په ورځ یکم محرم۱۴هجرئ باندې اوشو.اسلامی لښکر سره د الله مدد داسې شامل حال شو چې الله تعالی یو طوفان راولیږو،چې هغې د ایرانیانو او فارسیانو خیمې اوویستلې او د رستم تخت ئې د هغۀ د فوجیانو په وړاندې الټه کړو،نو هغه په یو خچر باندې سور شو او اوتختیدۀ،لیکن مسلمانانو هغه رالاندې کړو او جهنم ته ئې اورسوو،دغه شان ایرانی لښکر ته شکست اوشو،مسلمانانو د دوی یو لویه ډله قتل کړه.د ایرانی لښکر یوه حصه په زنځیرونو کښې تړلې شوې وه،چې د هغې تعداد شل زره وو،دا ټول تباه وبرباد شو،دا د تختیدو نه پس قصه ده،او صرف د جنگ دوران

---

[۱]) شح الکرمانی:۱۲۷/۱۳،وارشاد الساری:۲۳۱/۵،وفتح الباری:۲۶۴/۶،وعمدة القاری:۸۳/۱۵،ومثله قال ابن بطال ایضا،انظر شرحه:۳۳۴/۵)_

[۲]) عمدة القاری:۸۳/۱۵)_

كنبي لس زره ايرانيان مړهٔ كړې شول.مسلمانان مسلسل دوى پسې لګيدلې وو تردې چې آخركار د بادشاه تخت"مدائن"ته ورغلل،چرته چې د كسرى محل وو.
هرمزان هم په تختيدونكو كښې شامل وو،د مسلمانانو او د هرمزان مينځ كښې هم يو معركه اوشوه،بيا د دواړو فريقو مينځ كښې صلح اوشوه.او دا صلح او معاهده څو ورځې پس هرمزان ماته كړه او د كردو يو ډلې نه ئې امدد ترلاسه كړو.نو مسلمانان بيا د دوى په مقابله كښې راغلل او مسلمانانو ته واضحه فتح ملاؤ شوه.د هرمزان په حكومت كښې چې كوم ځايونه شامل وو نو په هغې كښې په اهواز.مناذر او نهرتيرى باندې اسلامى بيرغ اولګولې شو او دا د ۱۶يا ۱۷هجرئ واقعه ده.
د مذكوره علاقو نه چې هرمزان اوتختيدهٔ نو د تُستر په لاره روان شو او هلته په قلعه كښې پټ شو،د مشورې دپاره مسلمانانو حضرت عمر رضي الله عنه ته خط اوليګهٔ چې څهٔ طريقه اختيار كړې شى؟نو د امير المؤمنين رضي الله عنه په حكم باندې د هرمزان مقابله كولو دپاره حضرت جزء بن معاويه رضي الله عنه روان شو او مسلسل هرمزان پسې لګيدلې وو تردې چې زمكه ئې په هرمزان باندې تنګه كړه،هرمزان چې كله عاجز شو نو بيا ئې د صُلحې درخواست اوكړهٔ.ددې درخواست د منظورئ دپاره حضرت عمر رضي الله عنه ته پيغام روان كړې شو.د كوم ځائې نه چې د رامهرمز،تُستر،جندى سابور او د نورو ښارونو باره كښې منظورى راغله چې صلح دې اوكړې شى.
دلته د ايران بادشاه يزدجر به هر وخت ايرانيان راپورته كول چې دا عرب ستاسو په ښارونو باندې غالب راغلې دى،د دوى د مقابلې دپاره پاسئ،نو هغهٔ اهل فارس او اهل اهواز ته اوليكل چې د مسلمانانو سره د جنګ دپاره تيار او متحرک شئ.دا خبر حضرت عمر رضي الله عنه ته هم اورسيدهٔ،دغه وخت حضرت سعد رضي الله عنه په كوفه كښې وو،حضرت عمر رضي الله عنه دوى ته خط اوليګهٔ چې د حضرت نعمان بن مقرن سره يو لښكر د اهواز په طرف اوليږه.حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه ته ئې هم اوليكل،دغه وخت دوى په بصره كښې وو،چې د اهواز په طرف يو لښكر روان كړئ او ددې امير حضرت سهيل بن عدى رضي الله عنه مقرر كړه،او وې فرمائيل چې ددې دواړو ډلو اصل امير به حضرت ابوسبرة بن ابى رهم وى.
نو حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه كوفى لښكر خان سره روان كړو او د بصرې په لښكر باندې وړاندې شو،تردې چې رامهر ته اورسيدل او هلته هرمزان هم وو،دې د خپل فوج سره د اسلامى لښكر په طرف راووتهٔ،سابقه معاهده ئې ماته كړه،دواړه فوجونه مخامخ شو او سخت جنګ اوشو،چې په دې كښې هرمزان ته شكست اوشو او هغه د تُستر په طرف اوتختيدهٔ،چې كله بصرى لښكر ته ددې واقعې اطلاع اوشوه چې د حضرت نعمان رضي الله عنه په قيادت كښې هرمزان ته شكست شوې دې او هغه د تستر په طرف تختيدلې دې نو دوى د تُستر په طرف روان شو،چې هلته كوفى لښكر هم دوى سره ملاؤ شو.د حضرت ابوسبرة بن ابى رهم رضي الله عنه په قيادت كښې بصرى او كوفى لښكرونو د تُستر محاصره اوكړه.دا محاصره څو مياشتو پورې جارى وه.دې دروان كښې د دواړو ډلو يو لوئې تعداد قتل شو،آخر يو ورځ يو ايرانې حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه ته راغئ او وې وئيل چې كه تاسو ددې ښار

اوسیدونکو ته امان ورکړئ نو زۀ به ښار باندې تاسو ته قبضه درکړم،حضرت دا خبره منظوره کړه،نو هغۀ مسلمانانو ته هغه ځائې اوښودۀ د کوم ځائې نه چې ښار کښې دننه د دجله د یو شاخ اوبۀ داخلیدې،دغه لاره باندې د مسلمانانو یوه ډله د بطخو په شان تیزئ سره دننه داخله شوه،هغوی څوکیداران قتل کړل،د ښار لوئې دروازې ئې پرانستې، مسلمانانو د تکبیر نعره اوچته کړه او ټول په ټوله د سحر په وخت کښې داخل شو،چې هرکله هرمزان دا صورت حال اولیدۀ نو په قلعه کښې ئې پناه واخسته،څۀ صحابه کرام رضی الله عنهم دۀ پسې اولګیدل،دې دوران کښې د هرمزان په لاس حضرت براء بن مالک او مجزاه بن نور رضی الله عنهما شهیدان شو،چې کله هرمزان په قلعه کښې یو مکان کښې محصور شو او د یو څو کسانو نه علاوه څوک هم پاتې نۀ شو نو هغۀ اووئیل چې زما په ترکش کښې اوس هم ۱۰۰ غشی دی،تاسو کښې چې څوک هم وړاندې راځی نو زۀ به ئې قتل کړم،چونکه د خپلو سلو کسانو د قتلولو نه پس زما په قتلولو کښې تاسو ته څۀ فائده نشته،ددې وجې نه ماته امان راکړئ او حضرت عمر رضی الله عنه ماته راورسوئ،زما په باره کښې د هغوی مرضی ده چې څۀ فیصله کوی.

د هرمزان دا مطالبه حضرت ابوسبرة بن ابی درهم رضی الله عنه منظور کړه او حضرت انس او احنف بن قیس رضی الله عنهما ئې په دې باندې مامور کړل چې دې مدینې منورې ته اورسوی،دې حضراتو دې روان کړو،مدینې منورې ته چې کله نزدې شو نو دۀ خپل ځان شاهانه لباس باندې مزین کړو،د عجم د بادشاهانو موافق ئې تاج او زیورات وغیره واغوستل،ددې نه پس په مدینه منوره کښې داخل شو،دا ټول د حضرت عمر رضی الله عنه کور ته اورسیدل،هغه ځائې کښې دوی ته اووئیلې شو چې هغوی په مسجد کښې تشریف فرما دی او د کوفې د یو وفد انتظار کوی،د هغه ځائې نه مسجدنبوی صلی الله علیه وسلم ته راغلل نو وې لیدل چې هغه سړې چې د هغۀ د رعب او دبدبې د وجې نه ټوله دنیا رپیږی،د خاورو په فرش باندې خوب کوی،ټوپۍ ئې ځان ته تکیه کړې ده او په مسجد کښې علاوه د هغوی نه څوک هم نشته،دره یې په لاس کښې نیولې ده،هرمزان تپوس اوکړو چې عمر چرته دې؟جواب ملاؤ شو:هم دا عمر دې!خلقو رو رو خبرې کولې چې آرام کښې خلل واقع نۀ شی،هرمزان اووئیل چې د دوی محافظ او درباری چرته دې؟جواب ملاؤ شو:"لیس له حجاب،ولا حرس،ولا کاتب،ولا دیوان"ډیر حیران شو او وې وئیل دا خو نبی کیدل پکار دی!د عوامو د کثرت او د هغوی د ټک راټک د وجې نه د حضرت عمر رضی الله عنه سترګې مبارکې اوغړیدې،نو کیناستلو،بیا ئې د هرمزان په طرف اوکتل او وې فرمائیل:"الهرمزان؟"خلقو جواب ورکړو:آوجی!هرمزان دې.لاندې باندې ئې ورته اوکتل او وې فرمائیل:"اعوذ بالله من النار،واستعین بالله"بیا ئې اوفرمائیل:"الحمد لله الذی أذل بالاسلام هذا واشیاعه".

وفد عرض اوکړو چې دا د اهواز بادشاه دې،دوی سره خبرې اترې اوکړئ.وې فرمائیل،اول ترینه دا زیورات وغیره کوز کړئ،نو خلقو د هرمزان لباس بدل کړو،ددې نه پس ورته

اميرالمؤمنين مخاطب شو او وې فرمائيل چې تا د غدارئ او بدعهدئ څۀ نتيجه بياموندله؟هرمزان اووئيل ائې عمر!د جاهليت په زمانه کښې الله تعالى مونږ دواړه تنها پريخودلې وو،ددې وجې نه هغه وخت مونږ په تاسو باندې غالب راغلي وو.ځکه چې الله تعالى هغه وخت نۀ تاسو سره وو او نۀ مونږ سره وو.اوس چونکه تاسو ته د الله تعالى مدد حاصل دې،ددې وجې نه تاسو په مونږ باندې غالب راغلئ.په جواب کښې امير المؤمنين اوفرمائيل چې د جاهليت په زمانه کښې تاسو په مونږ باندې ځکه غالب وئ چې تاسو متحد وئ،مونږ جدا جدا.بيا ئې اوفرمائيل چې تا دا څو ځله بدعهدى او وعده خلافى اوکړه،ددې په سلسله کښې ستا څۀ عذر دې؟جواب کښې ئې اووئيل چې ماته ددې خبرې ويره ده چې د پوره خبرې ختمولو نه وړاندې تاسو ما قتل نۀ کړئ.وې فرمائيل چې د قتل ويره مۀ کوه،نو ددې نه پس هرمزان اوبۀ طلب کړې،اوبۀ راوړلې شوې.چې کله هرمزان اوبۀ څکل غوښتل نو د هغۀ لاسونه رپيدل او وې وئيل چې ماته ويره ده چې د اوبو څکلو دوران کښې تاسو ما قتل نۀ کړئ،اميرالمؤمنين اوفرمائيل،مۀ ويريږه.اوبو څکلو پورې به تاسو ته هيڅ هم نۀ وئيلې کيږى.په دې باندې هرمزان ټولې اوبۀ واړولې،حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې دۀ ته دوباره اوبۀ ورکړئ،قتل او تنده دواړه په دۀ باندې مۀ جمع کوئ.نو هرمزان اووئيل چې اوس ماته د اوبو ضرورت نشته،ما خو لږه تسلي حاصلول غوښتل، اميرالمؤمنين اوفرمائيل چې زۀ به تا قتلوم.هرمزان اووئيل چې تاسو ماته امان راکړې دې، ځنګه به ما قتل کړئ؟وې فرمائيل،دروغ وئ،ما تا ته کله امان درکړې دې؟دلته حضرت انس رضي الله عنه اووئيل چې اميرالمؤمنين!دې رښتيا وائى،اميرالمؤمنين اووئيل ائې انسه!خوار شې آيا زۀ هغه کس ته امان ورکړم چې هغۀ براء او مجزاه قتل کړې دى؟د خلاصى څۀ صورت پيش کړه ورنه د سزا دپاره تيارشه،حضرت انس اووئيل،امير المؤمنين!تاسو دوى ته دوه ځله امان ورکړې دې ځکه چې تاسو اول اوفرمائيل،"لا باس عليك حتى تخبرني"بيا مو دا اوفرمائيل: "لا باس عليك حتى تشربه"دا خو امان دې،نورو حاضرينو هم د حضرت انس رضي الله عنه تائيد اوکړو،په دې باندې امير المؤمنين د هرمزان طرفته متوجه شو او وې فرمائيل چې تا ما سره دهوکه کړې ده ليکن په خدائې قسم!چې زۀ به ستا په دهوکه کښې رانشم مګر دا چې تۀ اسلام قبول کړې،نو هرمزان اسلام قبول کړو،اميرالمؤمنين د هغۀ دپاره د کال دوه زره رقم مقرر کړو او په مدينه منوره کښې ئې د اوسيدو اجازت ورکړو.

هرمزان ته چونکه عربى نۀ ورتله،ددې وجې نه ددې دواړو مينځ کښې د ترجمانئ کولو ذمه دارى حضرت مغيره بن شعبه او حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنهما پوره کړه.حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائى چې وروستو د دوى په اسلام کښې حسن و جمال راغلې وو.دوى به هر وخت د حضرت عمر رضي الله عنه سره وو،کله به هم د هغوى نه نۀ جدا کيدو.د اميرالمؤمنين د شهادت نه پس څۀ کسانو دا الزام اولګوو چې د ابولؤلؤ فيروز په لمسولو او دهوکه کولو کښې ددۀ پټ لاس وو.په دې بنياد باندې حضرت عبيدالله بن عمر رضي الله عنهما دا دواړه قتل کړل.

حافظ ابن کثير رحمه الله مزيد فرمائى چې کله حضرت عبيدالله بن عمر رضي الله عنهما ددوى د قتل کولو

دپاره توره اوچت کړو نو دوی "لا اله الا الله" اووئیل حضرت عمر رضي الله عنه ته دې ډیر ګران وو او په جنګی کارونو کښې به ئې ددوی نه مشوره اخستله. کمافي حديث الباب أيضاً(۱).

قوله: فقال: إني مستشيرك في مغازي هذه: نو حضرت عمر رضي الله عنه هرمزان ته اووئیل چې زۀ په خپلو جنګی کارونو کښې ستاسو نه مشوره اخستل غواړم. د "مغازی" یاء مشدد ده. دویمه یاء د متکلم د ضمیر ده.(۲).

د "مغازی" نه د حضرت عمر رضي الله عنه څۀ مراد وو؟ددې وضاحت د طبرانی او د مصنف ابن ابی شیبه(۳) د معقل بن یسار رضي الله عنه د روایت نه کیږی چې حضرت عمر رضي الله عنه د فارس، اصفهان او د آذربیجان په باره کښې د هرمزان نه تپوس اوکړو، مشوره ئې ورسره اوکړه چې د کومې علاقې نه د جنګ ابتداء اوکړې شی، وجه ښکاره ده، چونکه هرمزان هم ددې علاقو سره تعلق ساتلو، ددې وجې نه په دې سلسله کښې معلومات ورته هم زیات وو.(۴).

قوله: قال: نعم، مثلها ومثل من فيها من الناس من عدو المسلمين مثل طائر له رأس، وله جناحان، وله رجلان: هرمزان اووئیل چې آوجی: ددې جنګونو او د هغه کسانو، څوک چې په دې جنګونو کښې د مسلمانانو د دشمن په صورت کښې شریك وی، ددوی مثال دهغې مرغۍ په شان دې چې دهغې یو سر، دوه وزرې او دوه خپې وی.

نعم حرف ایجاب دې، علامه کرمانی او عینی رحمهما الله فرمائی چې په کوم روایت کښې "نعم" د فعل مدح په صورت کښې راغلې دې، که دغه روایت صحیح وی نو مطلب به داوی چې ددې د ټولو نه ښه مثال د مرغۍ په شان دې......

د فعل مدح کیدو په صورت کښې به تقدیری عبارت داسې وی: "نعم المثل مثلها" او په مثلها کښې چې کوم ضمیر مجرور دې، هغه د ارض طرفته راجع دې کوم چې د کلام د سیاق نه ذهن ته راځی او مثلهاد مبتدا کیدو د وجې نه مرفوع دې او وړاندې جمله "مثل طائر...." خبر دې.(۵).

---

(۱) تفصیلی واقعاتو دپاره اوګورئ، العمدة:۸۳/۱۵، والفتح:۲۶۴/۶، والبداية والنهاية:۸۲/۷_۸۸، والكامل لابن الاثير:۳۸۹/۲_۳۹۲، سنة سبع عشرة، ذكر فتح را مهر مز......والفاروق لشبلى:۱٤۳_۱٤۵)_

(۲) فتح البارى:۲٦٤/٦، وعمدة القارى:۸۳/۱۵)_

(۳) المصنف لابن ابى شيبة:۲۸۸/۱۸، كتاب البعوث والسرايا، باب فى النعمان بن مقرن الى نهاوند، رقم (۳٤٤۸۵)، ومجمع الزوائد:۲۱۵/٦)_

(٤) فتح البارى:۲٦٤/٦، وعمدة القارى:۸۳/۱۵، وارشاد السارى:۲۳۱/۵)_

(۵) شرح الكرمانى:۱۲۷/۱۳، وعمدة القارى:۸٤/۱۵)_

قوله: فإن كسر أحد الجناحين نهضت الرجلان بجناح والراس، فإن كسر الجناح الآخر نهضت الرجلان والراس، وإن شدخ الراس، ذهبت الرجلان والجناحان والراس: كه ددې مرغۍ يو وزر مات كړې شي نو دواړه خپې، لاس او وزرې به اوچتوى او دا مرغۍ به حركت كوى، كه دويم وزر ئې هم مات كړې شي نو خپې او سر به اوچتوى، بيا به هم حركت كوى. او كه سر ورله مات كړې شي نو دواړو خپې، دواړې وزرې او سر هرڅۀ به ختم شى.

مطلب دادې چې كه ددې مرغۍ په دواړو وزرو كښې يو وزر مات كړې شي نو بيا هم څۀ فرق نۀ راځى، په دويم وزر، سر او دواړو خپو سره به د حركت كولو قابله وى، دغه شان كه دويم وزر ئې مات كړې شي نو بيا به هم سر او خپې اوچتولې شي ليكن كه سر ورله مات كړې شي نو قصه ختمه شوه، په دې صورت كښې به د خپو او د وزرو حيثيت بالكل ختم شى. ځكه چې اصل څيز خو سر دې.

د "شدخ" معنى ده ماتول، علامه ابن الاثير رحمه الله فرمائى، چې دننه نه خالى څيز ماتولو ته شدخ وئيلې دى، "تقول: شدخت رأسه فانشدخ"[1].

قوله: فالراس كسرى، والجناح قيصر، والجناح الآخر فارس: نو سر ئې كسرى دې، او يو وزر قيصر او دويم وزر ئې د فارس قوم دې.

يو اشكال او د هغې جوابات: تاريخى طور باندې دا خبره منلې شوې ده چې د قيصر سلطنت جدا وو او د كسرى جدا وو، قيصر د روم بادشاه وو او كسرى د ايران بادشاه وو، ددې وجې نه دا وينا څنګه صحيح كيدې شى چې سر خو كسرى دې او قيصر ئې وزر يعنى تابع دې حالانكه په حقيقت كښې خو قيصر د هغۀ تابع نۀ وو.

ددې اشكال جواب دا شوې دې چې د كسرى مثال د سر وو، ځكه چې په دغه زمانه كښې ددۀ نه لوئې بادشاه نۀ وو، د دنيا لوئې لوئې بادشاهانو به ددۀ نه ويره كوله او ددۀ نه به ويريدل، دغه شان دې د دوى د پاره سر شو. دا جواب علامه كرمانى، عينى او قسطلانى رحمهم الله كړې دې[2]. ليكن د حافظ ابن حجر رحمه الله وينا داده چې د بخارى شريف دا روايت صحيح نۀ دې، صحيح روايت هغه دې كوم چې امام طبرى رحمه الله د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت كړې دې، په هغې كښې دى: "فإن فارس اليوم رأس وجناحان" او دا روايت د ابن ابى شيبه د روايت هم موافق دې كوم چې وړاندې تيرشو چې حضرت عمر رضي الله عنه هرمزان سره كومه مشوره كړې وه نو هغه د فارس، اصفهان او د اذربيجان په باره كښې وه او هم دا خبره راجحه هم ده[3].

---

[1]) پورته حواله جات، والنهاية فى غريب الحديث والاثر: ۴۵۱/۲، باب الشين مع الدال)_

[2]) شرح الكرمانى: ۱۲۷/۱۳، وعمدة القارى: ۸۴/۱۵، وشرح القسطلانى: ۲۳۱/۵)_

[3]) تاريخ ابن جرير الطبرانى: ۵۲۰/۲، سنة احدى وعشرين، ومجمع الزوائد: ۲۱۴/۶، ومصنف ابن ابى شيبة: ۲۸۸/۱۸، كتاب البعوث والسرايا......رقم (۳۴۴۸۵))_

ددې وجه داده چې قيصر به په شام کښې وو يا شمالي علاقو کښې عراق، فارس او مشرق وغيره سره د هغهٔ څهٔ تعلق نهٔ وو، ددې وجې نه دلته د قيصر د ذکر کولو هيڅ معنی نشته. بيا حافظ صاحب د علامه کرماني رحمه الله وغيره په رد کښې فرمائي چې که کسری د ټولو بادشاهانو سردار اوګرځولې شي په داسې حال کښې چې هغه د مشرق بادشاه وو، او د روم شاه قيصر د هغهٔ نه کم اوګرځولې شي او په دې بنياد باندې قيصر ته د کسری وزر اووئيلې شي نو بيا هم دا مناسب وه چې دويم وزر هغه بادشاهان اوګرځولې شي کوم چې د قيصر په مقابله کښې بنی طرفته وو، مثلاً د هندوستان او د چين بادشاهان ليکن د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه حديث په دې خبره باندې دلالت کوی چې د هرمزان مراد هم هغه علاقې وې چې د کومو په باره کښې هغهٔ ته معلومات حاصل وو، ګويا که د ايران فوج په دغه وخت کښې په دريو ښارونو کښې وو، ددې فوج زياته او لويه حصه په هغه ښار کښې اوسيده کوم ځائې چې کسری موجود وو، ددې وجې نه کسری سر شو او باقي ښارونو ته به وزر اووئيلې شي، ځکه چې دې د دغه ټولو سردار وو(١). هم دا تحقيقي خبره معلوميږي ځکه چې د حافظ صاحب په رائې کښې وزن زيات دې.

قوله: فمر المسلمين فلينفروا إلى كسرى: نو تاسو مسلمانانو ته حکم ورکړئ چې هغوی د کسری په طرف لاړ شي.

د تاريخ طبری د مبارک بن فضالة په روايت کښې دی چې هرمزان اووئيل چې تاسو ترينه وزر پرې کړئ، سر به نرم شي، دا رائې حضرت عمر رضي الله عنه ناخوښه کړه او وې فرمائيل چې اول به ترينه سر کټ کوم. ددې روايت په بنياد باندې دا خبره کيدې شي چې هرمزان ورته اول د دواړو وزرو د کټ کولو مشوره ورکړې وه ليکن هرکله چې حضرت عمر رضي الله عنه دا مشوره ناخوښه او رد کړه نو هرمزان دوباره صحيح مشوره ورکړه چې اول مقابله کسری سره کول پکار دی لکه څنګه چې د باب په حديث شريف کښې دی(٢).

وَقَالَ بَكْرٌ وَزِيَادٌ جَمِيعًا عَنْ جُبَيْرِ بْنِ حَيَّةَ قَالَ فَنَدَبَنَا عُمَرُ وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْنَا النُّعْمَانَ بْنَ مُقَرِّنٍ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِأَرْضِ الْعَدُوِّ، وَخَرَجَ عَلَيْنَا عَامِلُ كِسْرَى فِي أَرْبَعِينَ أَلْفًا، فَقَامَ تُرْجُمَانٌ فَقَالَ لِيُكَلِّمْنِي رَجُلٌ مِنْكُمْ. فَقَالَ الْمُغِيرَةُ سَلْ عَمَّا شِئْتَ. قَالَ مَا أَنْتُمْ قَالَ نَحْنُ أُنَاسٌ مِنَ الْعَرَبِ كُنَّا فِي شَقَاءٍ شَدِيدٍ وَبَلاَءٍ شَدِيدٍ، نَمَصُّ الْجِلْدَ وَالنَّوَى مِنَ الْجُوعِ، وَنَلْبَسُ الْوَبَرَ وَالشَّعَرَ، وَنَعْبُدُ الشَّجَرَ وَالْحَجَرَ، فَبَيْنَا نَحْنُ كَذَلِكَ، إِذْ بَعَثَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرَضِينَ تَعَالَى ذِكْرُهُ وَجَلَّتْ عَظَمَتُهُ إِلَيْنَا نَبِيًّا مِنْ أَنْفُسِنَا، نَعْرِفُ أَبَاهُ وَأُمَّهُ، فَأَمَرَنَا نَبِيُّنَا رَسُولُ رَبِّنَا -صلى الله عليه وسلم- أَنْ نُقَاتِلَكُمْ حَتَّى تَعْبُدُوا اللَّهَ وَحْدَهُ أَوْ تُؤَدُّوا الْجِزْيَةَ، وَأَخْبَرَنَا نَبِيُّنَا -صلى الله عليه وسلم- عَنْ رِسَالَةِ رَبِّنَا أَنَّهُ مَنْ قُتِلَ مِنَّا صَارَ إِلَى الْجَنَّةِ فِي نَعِيمٍ لَمْ يَرَ مِثْلَهَا

---

(١) فتح الباری:۶/۲۶۴۔

(٢) پورته حواله، وتاريخ طبری:۲/۵۲۰۔

قَطُّ، وَمَنْ بَقِيَ مِنَّا مَلَكَ رِقَابَكُمْ. فَقَالَ النُّعْمَانُ: رُبَّمَا أَشْهَدَكَ اللَّهُ مِثْلَهَا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَلَمْ يُنَدِّمْكَ وَلَمْ يُخْزِكَ، وَلَكِنِّي شَهِدْتُ الْقِتَالَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ انْتَظَرَ حَتَّى تَهُبَّ الْأَرْوَاحُ وَتَحْضُرَ الصَّلَوَاتُ. [۷۰۹۲]

قوله: وقال بكر وزياد جميعا: عن جبير بن حية، قال: فندبنا عمر: او بكر او زياد دواړه د حضرت جبير بن حيه نه نقل كوى چې هغوى اوفرمائيل چې حضرت عمر مونږ طلب كړو. مطلب دادې چې هركله د هرمزان او د حضرت عمر رضي الله عنه مشوره اوشوه او حضرت عمر رضي الله عنه د جنګى حكمت عملئ فيصله اوكړه نو بيا ئې ديته عملى جامه اغوستلو دپاره مجاهدين راوبلل او ورته ئې د جهاد دپاره د جمع كيدو اووئيل.[۱]

قوله: واستعمل علينا النعمان بن مقرن: او حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه ئې زمونږ امير مقرر كړو.

حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه: دا مشهور صحابى حضرت نعمان بن مقرن بن عائذ بن ميجا بن هجير بن نصر المزنى رضي الله عنه دې.[۲] البته د ابن سعد رحمه الله رائې داده چې مقرن د دوى نيكۀ دې، د دوى د والد نوم هغوى عمرو ذكر كړې دې يعنى نعمان بن عمرو بن مقرن.[۳]

د دوى كنيت ابوعمرو يا ابوحكيم دې.[۴]

دوى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوى. د دوى نه په روايت كوونكو كښې د دوى خوئې معاويه بن النعمان، جبير بن حيه الثقفى، مسلم بن هيثم عبدى، معقل بن يسار مزنى او ابوخالد والبى رحمهم الله وغيره شامل دى.[۵]

د دوى د ټولو نه اول غزوه "غزوۀ خندق" ده، په فتح مكه كښې هم د نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره شريك وو، په دې موقع باندې د قبيله مزينه بيرغ د دوى په لاس كښې وو.[۶]

حضرت سويد بن مقرن رضي الله عنه د دوى ورور دې، مصعب بن عبدالله زبيرى رحمه الله فرمائي چې حضرت نعمان رضي الله عنه خپلو اووۀ[۷] وروڼو سره هجرت كړې وو.[۸] دا اووۀ واړه وروڼه په "البكاؤون" سره مشهور وو، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چې د ايمان څۀ كورونه

---

[۱]) عمدة القارى: ۱۵/ ۸٤، وارشاد السارى: ۵/ ۲۳۲_
[۲]) تهذيب الكمال: ۲۹/ ٤۵۸، وسير اعلام النبلاء: ۲/ ۳۵۶، وطبقات ابن سعد: ۶/ ۱۸_
[۳]) طبقات ابن سعد: ۶/ ۱۸، واكمال مغلطاى: ۱۲/ ۶۳_
[٤]) تهذيب الكمال: ۲۹/ ٤۵۹، وسير اعلام النبلاء: ۲/ ۳۵۶_
[۵]) تهذيب الكمال: ۲۹/ ٤۵۹_
[۶]) پورته حواله، وطبقات ابن سعد: ۶/ ۱۸، واكمال مغلطاى: ۱۲/ ۶۳_
[۷]) تهذيب الكمال: ۲۹/ ٤۵۹، وعمدة القارى: ۱۵/ ۸٤_

دى او د نفاق هم څۀ كورونه دى، د آل مقرن كورنئ د ايمان په كورونو كښې ده(١). د حضرت نعمان رضي الله عنه نه په خپله روايت دې، فرمائى چې د قبيله مزينه څلور سوه كسانو سره مونږ د نبى عليه السلام په خدمت كښې حاضر شو.(٢).

علامه ابن عبدالبر رحمه الله وغيره ليكلې دى چې حضرت نعمان رضي الله عنه بيا په بصره كښې رهائش اختيار كړو او د هلته نه كوفې ته منتقل شو، ددې ځائې نه حضرت سعد رضي الله عنه دوى د "كسكر" په طرف روان كړل، چرته چې دوى د "زندورد" اوسيدونكو سره صلح اوكړه او مدينې منورې ته ئې د قادسيه د فتحې خوشخبرى راوړه، ددې نه پس چې كله دې اطلاع حضرت عمر رضي الله عنه پريشان كړو چې د اصفهان، همذان، رې، اذربيجان او د نهاوند ايرانيان جمع شوې دى نو هغوى د نبى عليه السلام ملګرو سره مشوره اوكړه، حضرت على رضي الله عنه دا رائې وركړه چې اهلِ كوفه ته پيغام وركړئ چې د هغوى ٣\٢ حصه خو اسلامى لښكر سره لاړه شى او ١/٣ حصه ښځو وغيره سره پاتې شى او اهل بصره ته هم پيغام وركړئ. حضرت عمر رضي الله عنه د دوى نه تپوس اوكړو چې ددې خلقو امير څوک شى؟ حضرت على اوفرمائيل چې تاسو په رائې كښې زمونږ نه زيات افضل او زيات پوهه ئې. نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چې زۀ به په دوى باندې داسې سړې امير مقرر كړم چې ددې اهل هم وى. اميرالمؤمنين ددې نه پس مسجد طرفته روان شو نو حضرت نعمان رضي الله عنه ئې هلته په مانځه كښې مشغول بيامونډلو.

ددې نه پس د ابن ابى شيبه په روايت كښې دى چې اميرالمؤمنين كيناستلو او انتظار ئې كوو چې كله دې د مانځه نه فارغ شو نو اميرالمؤمنين ورته اووئيل چې زۀ تا لره امير جوړول غواړم؟ هغوى اووئيل چې كۀ دا ولايت او امارت د ټيكس د وصولئ دپاره دې نو نه، ليكن د غازى په طور قبول دې. حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل: "فانك غاز" او دوى سره حضرت زبير، حذيفه، ابن عمر، الاشعث او عمرو بن معديكرب رضي الله عنهم هم اووتل.

د كوفې او د بصرې لښكر اخستلو سره دوى د ايرانيانو طرفته ورغلل، هلته د دوى په لاس اصفهان فتح شو، ددې نه پس د نهاوند غزوه چې په ٢١ هجرى كښې اوشوه، په هغې كښې دوى شهيد شو، ددې نه پس د لښكر قيادت حضرت حذيفه رضي الله عنه سمبال كړو، آخر دا چې كاميابى او كامرانى حاصله شوه.(٣). د دوى شهادت د جمعة المبارک په ورځ باندې اوشو، چې د هغې خبر حضرت عمر رضي الله عنه مسلمانانو ته د منبر نه وركړو او بيا ئې د حضرت نعمان رضي الله عنه په ياد كښې ډير زيات اوژړل.(٤). رضى الله عنه وارضاه

---

(١) تهذيب الكمال: ٤٥٩/٢٩، وطبقات ابن سعد: ٢٠/٦، واكمال مغلطاى: ٦٣/١٢)_

(٢) تهذيب الكمال: ٤٥٩/٢٩، والاستيعاب: ٢٩٩/٢_٣٠٠، باب النعمان)_

(٣) تهذيب الكمال: ٤٥٩/٢٩، والاستيعاب: ٣٠٠/٢، والمصنف لابن ابى شيبة: ٢٨٩/١٨، كتاب البعوث والسرايا......رقم (٣٤٤٨٥)، وفتح البارى: ٢٦٤/٦)_

(٤) سير اعلام النبلاء: ٣٥٧/٢، وذكر الذهبى فى ذلک حكاية ايضا.....[بقيه برصفحه آئنده...

قوله: حتى إذا كنا بأرض العدو: تردې چې مونږ د دشمن په زمکه کښې وو د"ارض العدو"نه مراد نهاونددې،لکه څنګه چې د طبری وغیره په روایت کښې ددې وضاحت دې(۱).

د نهاوند تعارف: نُهاوند "بضم النون وتخفيف الهاء وفتح الواو وسكون النون وفي آخره دال مهملة(۲)،د همدان په جنوب کښې یو ښار دې،ددې تعمیر چونکه نوح علیه السلام کړې وو،ددې وجې نه دې ته"نوح اوند"وئیلې کیدۀ،یعنی"عمرها نوح عليه الصلوة والسلام"بیا حاء په هاء سره بدله کړې شوه،دا ښار خپلو نهرونو او د باغاتو د وجې نه مشهور وو.(۳).

قوله: وخرج علينا عامل كسرى في أربعين ألفاً: او د کسری ګورنر څلویښت زره کسانو سره زمونږ مخامخ شو.

د طبری په روایت کښې ددې عامل نوم بندار،او د ابن ابی شیبه په روایت کښې ذوالحاجبین مذکور دې،شاید په دې دواړو نومونو کښې یو د دوی لقب وی.(۴).

بیا په دې ځای پوهه کړئ چې د باب په حدیث کښې دی:"وخرج علينا عامل كسرى في أربعين ألفاً" دا د هغې لښکر تعداد دې کوم چې په اهل فارس او کرمان باندې مشتمل وو.د اصل لښکر تعداد یونیم لاک وو چې په هغې کښې د اهل نهاوند حصه ۲۰زره.د اهل اصفهان ۲۰زره، اهل قم وقاشان ۲۰زره،د اهل ذربیجان ۳۰ زره او د نورو علاقو ۲۰ زره حصه وه. ددې ټولو مجموعه یو لاک پنځوس زره جوړیږی(۵).

بقیه ازحاشیه گذشته] وتهذیب التهذیب:۱۰/۴۵۶)_وفی الطبرانی:(۲/۵۲۱): وكتب الى عمر بالفتح مع رجل من المسلمين،فلماء اتاه قال له:ابشر يا امير المؤمنين بفتح،اعزالله به الاسلام واهله،و اذل به الكفر واهله. فحمد الله عزوجل،ثم قال:النعمان بعثک؟ قال: احتسب النعمان يا امير المؤمنين.قال:فبكى عمر،و استرجع، قال: و من ويحک؟قال:فلان و فلان حتى عدله ناسا كثيرا،ثم قال:و آخرين يا اميرالمؤمنين لا تعرفهم.فقال عمر_وهو يبكى_:لا يضرهم ان لا يعرفهم عمر،ولكن الله يعرفهم"

(۱) عمدة القاری:۱۵/۸٤،وفتح الباری:۶/۲۶٤،وتاریخ الطبرانی:۲/۵۲۰)_

(۲) علامه عینی رحمه الله دا کلمه دغه شان ضبط کړې ده(۱۵/۸٤) او علامه یاقوت حموی نون لره مفتوح یا مکسور وئیلې دې(معجم البلدان:۵/۳۱۵) او علامه عینی رحمه الله ددې انکار کړې دې چې نون مفتوح وی یا مکسور)۔

(۳) پورته حواله جات)_

(۴) تاریخ طبری:۲/۵۲۰،ومصنف ابن ابی شیبة:۱۸/۲۸۹،کتاب البعوث والسرایا......رقم (۳٤٤۸۵)، والفتح: ۶/۲۶٤.البته علامه عینی اویاقوت الحموی رحمهما الله یو دریم نوم هم ذکرکړې دې،"الفیروزان" چې مصحف کیدو سره په عمدة القاری کښې"الغیرزان"جوړ شوې دې،کیدې شی چې د طباعت غلطی وی.اوګوری.عمدة:۱۵/۸٤،ومعجم البلدان:۵/۳۱۶،دغه شان اوګورئ، البدایة والنهایة:۷/۱۱۰)

(۵) عمدة القاری:۱۵/۸۳)_

قوله:فقام ترجمان،فقال:لیکلمني رجل منکم،فقال المغیرة:سل عما شئت: نو ترجمان اودریدۀ،وې وئیل په تاسو کښې دې یو کس ماسره خبرې اوکړی، حضرت مغیره رضي الله عنه اوفرمائیل تپوس اوکړه چې څۀ تپوس کول غواړې.

دلته په روایت کښې اختصار دې،مینځ کښې واقعات ذکر نۀ دی،ددې تفصیل دادې چې هرکله دواړه ډلې جمع شوې نو بندار خپل قاصد د مسلمانانو په طرف روان کړو چې خپل یو کس راواستوئ،چې هغۀ سره مونږ خبره اوکړو نو مسلمانانو حضرت مغیره رضي الله عنه روان کړو، د دواړو ډلو مینځ کښې فاصله یو نهر وو،حضرت مغیره رضي الله عنه روان شو او نهر نه واوړیدلو، هلته بندار خپلو ملګرو سره مشوره اوکړه چې د مسلمانانو قاصد ته څنګه کینم؟هغوی ورته اووئیل چې د بادشاهت شکل وصورت اختیار کړه،نو هغه په خپل تخت باندې کیناستۀ، په سر باندې ئې تاج کیخودۀ،شهزادګان د هغۀ مخامخ په دوو قطارونو کښې اودریدل،او د سرو زرو بنګړی او د ریښمو لباس ئې په بدن باندې وو،بیا هغۀ حضرت مغیره رضي الله عنه ته دننه د داخلیدو اجازت ورکړۀ، نو دوو کسانو دوی څان سره اونیول او دننه لاړل،دوی سره خپله توره او نیزه هم وه، حضرت مغیره رضي الله عنه توره په قالین باندې راښکۀ،دې دپاره چې دا خلق زما ددې کار نه اثر واخلي چې دې خلقو لره به زما توره زخمي کوی(۱).

قوله:قال:ما أنتم؟: بندار اووئیل:تۀ څۀ ئې؟

بندار حضرت مغیره رضي الله عنه ته داسې خطاب اوکړۀ چې کلمه د"ما"ئې استعمال کړه کومه چې د غیرذوی العقول دپاره وضع شوې ده،دا د حقارت په طور سره چې ستا څۀ حیثیت دې چې مونږ سره د جنګ کولو دپاره راغلي ئې؟(۲).

د ابن ابی شیبه په روایت کښې دا اضافه هم ده چې بندار اووئیل،ائې عربو!لوږې او مشقت تاسو خلق تنګ کړئ نو دلته راغلئ،که تاسو غواړئ نو مونږ تاسو ته د لارې خرچه وغیره درکولې شو،تاسو خپل ښار ته واپس لاړ شئ.حضرت مغیره رضي الله عنه فرمائی چې ددۀ په خبرې اوریدو سره ما د الله تعالی تعریف او ثناء بیان کړه،بیا مې اووئیل چې تا زمونږ متعلق څۀ اووئیل نو په دې کښې غلطی نشته،مونږ هم دغه شان وو.(۳).

قوله:قال:نحن أناس من العرب،کنا في شقاء شدید،نمص الجلد والنوی من الجوع ونلبس الوبر والشعر،ونعبد الشجر والحجر: حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه اوفرمائیل مونږ د عرب قوم څۀ کسان یو،مونږ ډیر سخت د بدبختئ ښکار وو،مونږ به د

---

(۱) فتح الباری:۲۶۵/۶،وتاریخ الطبرانی:۵۲۰/۲،والمصنف لابن ابی شیبة:۲۸۹/۱۸،کتاب البعوث......رقم (۳۴۴۸۵)،ومجمع الزوائد:۲۱۴/۶)_

(۲) العمدة:۸۵/۱۵،والفتح:۲۶۵/۶،وتحفة الباری:۵۶۵/۳،وارشاد الساری:۲۳۲/۵)_

(۳) عمدة القاری:۸۵/۱۵،وفتح الباری:۲۶۵/۶)_

لوړې د وجې نه د اونو پهټې او هډوکی چوپل، د وړئ او د ويختو لباس به مونږ اغوستلو او کانړو، اونو عبادت به مو کوو.

"الوبر" ددې مفرد وبرة دې، داوښ، سوې وغيره نرم ويختو اووړئ وغيره دپاره استعماليږي(۱)

قوله: فبينا نحن كذلك، إذ بعث رب السموات ورب الارضين ـ تعالى ذكره، وجلت عظمته ـ إلينا نبيا من أنفسنا، نعرف أباه وأمه: مونږ په دې حال کښې وو چې د اسمانونو او د زمکو رب......د هغهٔ ذکر دې اوچت او عظمت دې لوئي وی......زمونږ طرفته هم زمونږ په نسل کښې يو نبی راواستوو، چې مونږ د هغهٔ مور پلار پيژنو

يعنی مونږ ددې بدبختئ او د غريبئ ښکار وو، حقيقی رب مونږ هيرکړې وو چې رب ذوالجلال په مونږ باندې رحم اوکړو او هغهٔ هم زمونږ په نسل کښې يو سړې منتخب کړو او زمونږ د هدايت دپاره ئې راواستوو، چې هغه مونږ ډير ښهٔ پيژنو، د هغوی د حسب نسب د شرافت هم مونږ ته ښهٔ پته ده چې په مونږ ټولو کښې اشرف او د نسب په اعتبار سره د ټولو نه غوره او په خبرو اترو کښې د ټولو نه زيات رښتونې انسان دې.(۲).

قوله: فأمرنا نبينا ورسول ربنا صلى الله عليه وسلم أن نقاتلكم حتى تعبدوا الله وحده، أو تؤدوا الجزية: نو زمونږ نبی او زمونږ د رب پيغمبر ﷺ مونږ ته حکم راکړو چې مونږ تاسو سره قتال اوکړو تردې چې تاسو ديو خدائې عبادت اوکړئ يا تاسو مونږ ته جزيه راکړئ.

ددې حديث نه هم معلومه شوه چې د مجوسيانو نه جزيه اخستل صحيح دی، د کوم چې حضرت مغيره رضي الله عنه وضاحت کوی ځکه چې د هغوی مخاطب خلق مجوسيان وو.(۳).

قوله: وأخبرنا نبينا عن رسالة ربنا أنه من قتل منا صار إلى الجنة في نعيم لم ير مثلها قط، ومن بقي منا ملك رقابكم: دغه شان زمونږ نبی مونږ ته زمونږ د رب له طرفه دا پيغام هم راکړو چې په مونږ کښې څوک مقتول او شهيد شی نو هغه به نيغ جنت ته ځی، په داسې نعمتونو کښې (به وی) چې د هغې مثال بالکل ليدلې شوې نهٔ دې او څوک چې ژوندې پاتې شی نو هغه به ستاسو د سرونو مالک وی.

يعنی مونږ په هر صورت کښې کامياب يو، که شهادت راته ملاؤ شو نو جنت دې، چې د هغې هيڅ مثال نشته که ژوندی پاتې شو نو ستاسو د سرونو مالکان به يو، د نبی عليه السلام په وينا مبارکه باندې چونکه زمونږ سل فيصده يقين دې، ددې وجې نه مونږ ددې ځائې نه تلونکی او واپس کيدونکی نهٔ يو، نهٔ ستاسو نه ويريدونکی يو. په طبری کښې د حضرت مغيره رضي الله عنه نه هم دا مفهوم او معنی روايت شوې ده.

---

(۱) القاموس الوحيد، مادة: "وبر"

(۲) المصنف لابن ابی شيبة: ۲۸۹/۱۸، والعمدة: ۸۵/۱۵، وفتح الباری: ۲۶۵/۶، وابن بطال: ۳۳۵/۵

(۳) فتح الباری: ۲۶۵/۶، وارشاد الساری: ۲۳۲/۵، وشرح الكرمانی: ۱۲۸/۱۳

"وانا والله، لانرجع إلى ذلك الشقاء، حتى نغلبكم على ما في أيديكم"(١)

"وفيه فصاحة المغيرة، من حيث ان كلامه مبين لاحوالهم فيما يتعلق بدنياهم: من المطعوم والملبوس، وبدينهم من العبادة، وبنعاملتهم من الاعداء: من طلب التوحيد او الجزية، ولمعادهم في الآخرة الى كونهم في الجنة، وفي الدنيا الى كونهم ملوكا للرقاب..... "انظر الكواكب الدراري: ۱۳/۱۲۸)_.

فقال النعمان(٢): ربما أشهدك الله مثلها مع النبي ﷺ فلم يندمك ولم يخزك، ولكني شهدت القتال مع رسول الله ﷺ، كان إذا لم يقاتل في أول النهار، انتظر حتى تهب الارواح، وتحضر الصلوات

په دې باندې حضرت نعمان بن مقرن رضی الله عنه اوفرمائيل(ائې مغيره!)تاسو ډير وخت نبی كريم ﷺ سره په جنګونو كښې پاتې شوې ئې، هلته تاسو الله تعالى د پښيمانتيا او د رسوائی نه محفوظ ساتلې ئې او زهٔ هم په څو جنګونو كښې د نبی كريم ﷺ سره شريک پاتې شوې يم، ستاسو عادت دا وو چې كه د ورځې په شروع كښې به مو قتال نهٔ شروع كوو نو د مونځ نه پس به تاسو د مناسب هوا ګانو د چليدو انتظار كولو.

د حضرت نعمان بن مقرن رضی الله عنه په دې پورتنی ارشاد كښې د شارحينو اختلاف: د حضرت نعمان رضی الله عنه پورته ذكر شوې ارشاد مبارک په دوو حصو يعنی "ربما اشهدك الله ....ولم يخزك" او "ولكني شهدت......الخ" باندې مشتمل دې، اوس ددې دواړو حصو په خپل مينځ كښې چې كوم ربط او تړون دې نو په هغې كښې د شارحينو اختلاف دې چې ددې جملو مطلب او مقصد څهٔ دې؟

د علامه ابن بطال رحمه الله ميلان دې طرفته دې چې د اولنۍ جملې مفهوم هم مستقل دې او د دويمې جملې مفهوم هم مستقل دې، ددې دواړو مينځ كښې هيڅ تړون نشته. لكه دوی د اولنۍ جملې "ربما أشهدك الله مثلها..... "تشريح داسې كوی چې حضرت نعمان حضرت مغيره بن شعبه رضی الله عنهما ته اوفرمائيل چې مغيره! تاسو تير شوې وخت كښې په دغه شان مشكل حالاتو كښې نبی كريم ﷺ سره پاتې شوې يئ، هغوی سره تاسو جنګونو كښې هم وئ، ليكن هغه مصيبتونو او پريشانو چرته تاسو پښيمانه نهٔ كړئ كوم چې نبی عليه السلام ته پيښ شوې وو، نهٔ دې خبرې تاسو پريشانه كړئ چې تاسو ولې د غزواتو نه ژوندی راغلئ، ځكه چې ددغه مصيبتونو او پريشانو په مقابله كښې كوم نعمتونه او شهادت ملاويدل وو نو د هغې تاسو ته نبهٔ علم وو.

او د حضرت نعمان رضی الله عنه دا ارشاد "ولكني شهدت القتال مع رسول الله ﷺ "دا د يو نوې كلام ابتداء او د نوې قصې شروع كول دی، چې په دې كښې حضرت نعمان رضی الله عنه خپل فوج ته د

---

(١) فتح الباري: ۲۶۵/۶، وعمدة القاري: ۸۵/۱۵. وقال العلامة الكرماني شارحا لكلام المغيرة:)_

(٢) قوله: النعمان "الحديث. اخرجه الترمذي ايضا. كتاب السير. ما جاء في الساعة التي يستحب فيها القتال، رقم (۱۶۱۳))_

نبی کریم ﷺ په باره کښې دا وئیلې دی چې که نبی ﷺ به د جنګ ابتداء د ورځې په شروع کښې نۀ کوله نو د جنګ نه به منع شو، تردې چې (د الله تعالى د مدد) هواګانې اوچلیږی او د مونځ وخت شی ددې معنې د تائید دپاره علامه ابن بطال رحمه الله دوه حدیثونه پیش کړې دی.

کوم چې د حماد بن سلمه عن النعمان بن مقرن د طریق نه روایت دې چې "کان النبی صلی الله علیه وسلم إذا لم یقاتل أول النهار أخر القتال، حتی تزول الشمس وتهب ریاح النصر"(۱).

علامه ابن بطال رحمه الله مزید دا فرمائی چې غوره وختونه د مانځه وختونه دی. چې په دې کښې اذان هم دې او په حدیث شریف(۲) کښې راغلې دی: "الدعاء بین الاذان والاقامة لا یرد". چې د "اذان او اقامت مینځ کښې کومه دعا اوغوستلې شی نو هغه نۀ رد کیږی". مطلب دا شو چې د اذان او اقامت او دغه شان د مونځ نه پس د دعا موقع ملاؤ شی نو دا به د الله تعالى د امداد موجب وی.(۳).

لیکن د حافظ ابن حجر، علامه عینی او حافظ کرمانی رحمهم الله قول دادې چې دا دواړه جدا جدا جملې خو دی لیکن ددې په خپل مینځ کښې تړون هم شته او دویمې جملې نه نوې قصه نۀ شروع کیږی، لکه څنګه چې د علامه ابن بطال رحمه الله خیال دې.(۴) لکه په طبری کښې چې د مبارک بن فضاله کوم روایت دې، په هغې کښې مبارک د زیاد بن جبیر په واسطې سره د حضرت نعمان رضي الله عنه د دواړو جملو مینځ کښې ربط او تعلق بیان کړې دې او ددې د سیاق نه دا خبره واضحه کیږی چې دویمه جمله د قصې په طور جمله مستانفه نۀ ده. ددې خلاصه داده چې حضرت مغیره په حضرت نعمان رضي الله عنه د لښکر په امیر باندې د قتال په شروع کولو کښې تاخیر کولو باندې اعتراض اوکړو، چې د هغې جواب حضرت نعمان رضي الله عنه مذکوره جملو کښې ورکړو.(۵).

د مبارک بن فضاله د روایت خلاصه داده چې ایرانیانو مسلمانانو ته دا پیغام واستوو چې نهر نه تاسو راواوړئ یا به مونږ درشو؟ کوم نهر چې د دواړو مینځ کښې فاصله وه، نو

---

(۱) پورته حواله، واخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه: ۲۹۰/۱۸، کتاب البعوث......رقم (۳٤٤۸۵)، من طریق عفان عن حماد عن ابی عمران الجونی عن علقمه عن معقل بن یسار.....)_

(۲) الحدیث، اخرجه ابو داود فی الصلاة، باب فی الدعاء بین الاذان والاقامة، رقم (۵۲۱)، والترمذی فی الصلاة، باب ما جاء ان الدعاء لا یرد بین الاذان والاقامة، رقم (۲۱۲)، وفی الدعوات، باب فی العفو والعافیة، رقم (۳۵۹٤_۳۵۹۳)، عن انس رضي الله عنه)_

(۳) شرح ابن بطال: ۳۳۵/۵، وفتح الباری: ۲۶۵/۶، وعمدة القاری: ۸۵/۱۵)_

(٤) قال العلامة الکرمانی رحمه الله: فان قلت: ما معنی الاستدراک، واین توسطه بین کلامین متغایرین؟ قلت: کان المغیرة قصد الاشتغال بالقتل اول النهار بعد الفراغ من المکالمة مع الترجمان، فقال النعمان: ان وان شهدت القتال مع رسول الله ﷺ، لکنک ما ضبطت انتظاره للهبوب". شرح الکرمانی: ۱۲۹/۱۳)_

(۵) فتح الباری: ۲۶۵/۶)_

حضرت نعمان رضي الله عنه مسلمانانو ته حکم اوکړو چې تاسو ورشئ او حمله پرې اوکړئ.دغه شان دواړه لښکرې مخامخ شوې او یو بل ته نژدې راغلې،ایرانیانو د خپل فوج په وروستنئ حصه کښې د اوسپنې میخونه وغیره ښخ کړل دې دپاره چې فوج واپس نۀ شی،حضرت مغیره رضي الله عنه چې هرکله د دشمن کثرت اولیدۀ نو وې فرمائیل.د نن په شان ناکامی ما هیڅ کله نۀ ده لیدلې څکه چې زمونږ دشمن د تیارئ کولو او ساه اخستلو دپاره آزاد پریخودلې شوې دې،په خدائې قسم!که معامله زما په لاسونو کښې وې نو ما به په دوی باندې په حمله کولو کښې جلدی کړې وه(١).او د ابن ابی شیبه په روایت کښې دی،راوی وائی چې مونږ د هغوی په وړاندې صف بندی اوکړه نو هغوی په مونږ باندې ډیر زیات غشی اوورول.تردې چې مونږ ته ئې په رارسیدلو کښې جلدی اوکړه نو حضرت مغیره رضي الله عنه حضرت نعمان رضي الله عنه ته اوفرمائیل چې ددې ایرانیانو له طرفه په حمله کولو کښې جلدی شوې ده،ددې وجې نه که تاسو هم حمله اوکړئ نو مناسب به وی.په دې باندې حضرت نعمان رضي الله عنه اوفرمائیل چې تاسو خو د فضیلتونو او د مناقبو مالک یئ او حقیقت دادې چې په دغه شان جنګونو کښې تاسو د نبی علیه السلام سره شریک پاتې شوې یئ(٢).

ددې نه پس د طبری په روایت کښې دی چې په خدائې قسم!ما په دوی باندې په حمله کولو کښې جلدی د هغه څیز د وجې نه اونۀ کړه کوم څیز چې ما په رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې اولیدۀ(٣).

خلاصه دا شوه چې حضرت نعمان رضي الله عنه په قتال کښې کوم تاخیر اوکړو نو د هغې وجه د نبی علیه السلام فعل وو چې نبی علیه السلام به چونکه دغه شان کول نو ددې وجې نه حضرت نعمان هم دغه شان اوکړل او د نمر د زوال لنتظار ئې اوکړو.بیا چې علامه ابن بطال رحمه الله د بعضې جملو کومه تشریح کړې ده،هغه هم د اشکال نه خالی نۀ ده،لکه د "فلم یندمك"تشریح هغوی دا کړې وه چې کوم تکلیفونه او سختئ نبی علیه السلام ته پیښې شوې وې نو هغې سره تاسو د پریشانئ او د پښیمانتیا ښکار نۀ شوئ(٤).

حافظ رحمه الله فرمائی چې ما ته چې کومه خبره صحیح ښکاری نو هغه داده چې د "فلم یندمك" نه مراد د نمر د زوال پورې تاخیر او صبر کول دی،کوم چې حضرت مغیره اوکړو،په دې باندې الله تعالی دوی شرمنده نۀ کړل.ددې نه علاوه ابن بطال رحمه الله د "ولم یخزك"په تشریح کښې یو بله نسخه اختیار کړه او "ولم یحزنك"روایت کولو سره ئې ددې وضاحت شروع کړو، لیکن صحیح روایت دلته د خاء معجمه سره او د نون نه بغیر"ولم یخزك"دې،هم دا د

---

١) پورته حواله،وعمدة القاری:٨٥/١٥،وتاریخ الطبری:٦٢٠/٢)_
٢) المصنف لابن شیبة:٢٩٠/١٨،کتاب البعوث......رقم (٣٤٤٨٥)،ومجمع الزوائد:٢١٥/٦)_
٣) تاریخ الامم والملوک للطبری:٥٢١/٢،سنة احدی وعشرین)_
٤) شرح ابن بطال:٣٣٥/٥)_

مستملي روايت دي او ماقبل سره زيات مناسب هم دې.دغه شان د عبدالقيس د وفد په روايت كښې "غيرخزايا ولاندامى" چې كومه جمله ده نو دا د هغې په شان هم ده.[1]

ددې نه علاوه د ابن بطال رحمه الله د كلام نه دا هم معلوميږي چې د "مثلها" كوم ضمير دې نو دوى دا د "شدة" يعنى د عصائب طرفته راجع كوى،كوم چې محذوف دې حالانكه نورو حضراتو د "مثلها" ضمير مجرور "وقعة" يا "غزوة" طرفته راجع كړې دې[2].يعنى په دغه شان غزواتو كښې الله تعالى تاسو ته د شركت موقع دركړه البته علامه عينى رحمه الله د ابن بطال رحمه الله په تقليد كښې ضمير د شدة طرفته راجع كړې دې.بيا چې كومه تشريح كړې ده نو هغه ئې د نورو شارحينو موافق كړې ده او هم دې ته ئې راجع وئيلې دى چې د ابن بطال رحمه الله تشريح د كلام د سياق سره موافق نۀ ده[3].والله أعلم

د "حتى تهب الارواح" معنى او مطلب: د "تهب" مصدر "هبوباً" دې او دا د واحد مؤنث غائب صيغه ده،ددې فاعل الارواح دې او د هبوب معنى ده،هوا وغيره چليدل.

"الارواح" د "ريح" جمع ده چې اصل كښې روح وو،د واؤ ساكن ماقبل چونكه مكسور دې ددې وجې نه واؤ په ياء سره بدل شو او ريح جوړ شو،ځكه چې د يو څيز جمع هغه څيز لره خپل اصل طرفته ګرځوى،البته ابن جنى رحمه الله وئيلې دى چې د ريح جمع أرياح هم راځى[4].

او دلته د ارواح نه مراد ارواح النصر دې،يعنى تردې چې د الله تعالى د نصرت او د مدد هواګانې اوچليږى. كمامرقبل عن ابن بطال رحمه الله تعالى[5].

د "وتحضر الصلوات" مراد: دلته په روايت كښې "وتحضر الصلوات" وارد شوې دې او د ابن ابى شيبه په روايت كښې "وتزول الشمس" راغلې دې[6]،كوم چې روايت بالمعنى دې ځكه چې د نمر د زوال نه پس د ماسپخين د مونځ وخت شروع كيږى[7].

د غزوۀ نهاوند اختتام: وړاندې تير شو چې حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه او نورو بعضې ملګرو په حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه باندې اعتراض كړې وو چې دې قتال نۀ شروع كوى؟بيا ئې په دې باندې اصرار هم اوكړو ليكن حضرت نعمان رضي الله عنه په خپله خبره باندې مضبوط ولاړ وو او چې كله د نمر زوال اوشو نو مسلمانانو له ئې جمع وركړه،بيا په خپل آس باندې سور

---

[1]) پورته حواله،والفتح:۶/۲۶۵،والعمدة: ۱۵/۸۵،والكواكب الدرارى:۱۳/۱۲۹،وارشاد السارى:۵/۲۳۲)
[2]) شرح الكرمانى:۱۳/۱۲۸،وارشاد السارى:۵/۲۳۲)_
[3]) عمدة القارى:۱۵/۸۵)_
[4]) پورته حواله،وفتح البارى:۶/۲۶۵،وشرح القسطلانى:۵/۲۳۲)_
[5]) شرح ابن بطال:۵/۳۳۵)_
[6]) المصنف:۱۸/۲۹۰،كتاب البعوث والسرايا......رقم (۳۴۴۸۵)،وكذا فى مجمع الزوائد:۶/۲۱۶)_
[7]) فتح البارى:۶/۲۶۵،وعمدة القارى:۱۵/۸۵)_

شو او د هر بیرغ قبیلې ته ورغلو .هغوی ته ئې د صبر او د ثابت قدمۍ تلقین ورکړو .بیا ئې لښکر ته اوفرمائیل چې اول به زهٔ د نعره تکبیر آواز اوچت کړم نو تاسو خلق به د حملې کولو دپاره تیار شئ.چې دویم تکبیر اوچت کړم نو تیاری به مکمل او پوره کړئ څکه چې ددې نه پس به هیچا ته د تیارئ کولو موقع نهٔ ورکړې کیږی.بیا په دریم تکبیر سره به فوراً په دشمن باندې حمله کوئ.ددې نه پس حضرت نعمان ﷺ واپس خپل ځائې ته تشریف راوړلو.

دویم طرفته دشمن هم زبردسته تیاری کړې وه.ددې وجې نه هغوی یو ډیر لوئې لښکر او ډیرې زیاتې اسلحې سره صف بندی اوکړه.د ایرانی لښکر په روستنۍ حصه کښې د اوسپنې میخونه اچولې شوې وو.دې دپاره چې خپل فوجیان اونهٔ تختی او نهٔ وروستو واپس شی.ددې نه پس حضرت نعمان ﷺ اولنې تکبیر اوچت کړو.خلق د حملې دپاره تیاریدل شروع شو.هغوی دویم تکبیر اووئیل او خپله بیرغ ئې اوخوزولو.خلق تیار شوې وو.بیا ئې دریم تکبیر اووئیل نو ټولو په یوځائې په دشمن باندې حمله اوکړه.د حضرت نعمان ﷺ د امر لاندې چې کوم کسان وو هغوی په دشمن باندې داسې حمله اوکړه لکه څنګه چې اورې باز په ښکار باندې حمله کوی.داسې سخت جنګ شروع شو چې بیا ددې نه پس وروستنی جنګونو کښې ددې مثال ډیر کم ملاویږی.د نمر د زوال نه تر د تیارې خوریدو پورې د دشمن دومره کسان مړهٔ شو چې د هغوی وینې زمکه لونده کړه.داسې چې څناور او سورلئ هم په هغې کښې خویدلې.

د بعضې خلقو د خیال مطابق د حضرت نعمان ﷺ اس په دې وینه کښې اوخویدهٔ.چې د هغې نه وجې نه هغوی راپریوتل،یو غشې راغې چې د هغې د وجې نه حضرت نعمان ﷺ شهید شو.د دوی ورور حضرت سوید بن مقرن ﷺ[۱].نه علاوه چاته هم د دوی د شهادت پته نهٔ وه.بیا حضرت سوید دوی په څادر باندې پټ کړل او د شهادت خبر ئې پټ اوساتلو.ددې نه پس حضرت سوید ﷺ بیرغ قائم مقام امیر حضرت حذیفه بن یمان ﷺ ته حواله کړه. حضرت حذیفه حضرت سوید د نعمان بن مقرن ﷺ په ځائې مقرر کړو او ورته ئې اووئیل چې د صورتحال د واضح کیدو پورې د حضرت نعمان د شهادت خبر پټ اوساتئ، ددې دپاره چې په اسلامی لښکر کښې بزدلی پیدا نهٔ شی.

چې کله د شپې تیارهٔ په خوریدو شوه نو مشرکانو تختیدل شروع کړل،مسلمانانو د هغوی تعاقب اوکړو.دا مشرکان په خپلو کنستې شوې کندو کښې پریوتل.د جنګ په دوران کښې د قتل کیدونکو نه علاوه چې کوم مشرکان په دې کندو وغیره کښې پریوتلو سره هلاک شو نو د هغوی تعداد د یو لاک نه زیات ښودلې شی.د ایرانی لښکر مشر بندار د جنګ دوران کښې خویدلې وو.په موقع باندې د هغه ځائې نه اوتختیدهٔ نو حضرت نعیم یا حضرت سوید هغهٔ پسې شو او حضرت قعقاع ﷺ ته مخامخ ورغئ نو په یو غر باندې اوختهٔ او هلته پټ شو.آخر دا چې د حضرت قعقاع ﷺ په لاس قتل شو.او مسلمانانو ته

---

[۱]) د حضرت نعمان د ددې ورور په باره کښې اختلاف دې چې دا څوک وو؟بعضو سوید،بعضو نعیم او بعضو معقل نوم ښودلې دې.اوګورئ، البدایة والنهایة:۷/۱۱۰.وفتح الباری:۶/۲۶۶)_

لويه فتح حاصله شوه،په غنيمت كښې ډير زيات مال په لاس راغئ.د لښكر امير حضرت حذيفه رضي الله عنه قيديان او د مال غنيمت پنځمه حصه د حضرت سائب بن الاقرع سره د اميرالمؤمنين په طرف روان كړل،ددې نه مخكښې حضرت طريف بن سهم رضي الله عنه د فتحې خوشخبرى مدينې منورې ته اوړلو دپاره روان شوې وو[1].دا ښار د اسلامى لښكر په لاسونو باندې فتح شو،مسلمانانو به دا فتح د"فتح الفتوح"په نوم سره يادوله[2].

د حديث شريف نه مستنبط فائدې: ①د حديث شريف نه د مشورې فضيلت معلوميږى چې لوئې مرتبې والا سړې كمې مرتبې والا سړى سره مشوره اوكړى نو نۀ په دې كښې څۀ باك شته او نۀ په كښې د مشر كس څۀ توهين شته.دغه شان دا هم ده چې مفضول هم كله كله د افضل سړى امير وى لكه اوګورئ حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه په دې لښكر كښې وو د كوم لښكر امير چې حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه وو او دا متفق عليه خبره ده چې حضرت زبير د حضرت نعمان رضي الله عنهما نه غوره دې[3].

②د حديث شريف نه دا خبره هم معلومه شوه چې په جنګ كښې د ټولو نه مخكښې د لوئې دشمن قصد كول پكار دى،لكه څنګه چې ورته هرمزان مشوره وركړې وه چې د كسرى نه دې شروع اوكړې شى،ځكه چې هركله د طاقتور سړى جرړې كټ كړې شى نو كمزورې به په خپله باندې شكست تسليموى[4].

③د حديث شريف نه د حضرت نعمان منقبت او د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنهما د جنګ په امورو كښې پيژندګلنه،قوت نفس،بهادرى،فصاحت او بلاغت معلوميږى چې حضرت مغيره د بندار په وړاندې د هغۀ په دربار كښې كومه خطبه ارشاد فرمائيلې وه.هغه مختصر خو وه ليكن ډيره زياته بليغه او اثرانداز هم وه.ددې وجې نه دا خطبه چې څنګه د هغوى په دنيوى حالاتو مثلاً د خوراك څكاك وغيره په بيان باندې مشتمله ده نو دغه شان په دې كښې د هغوى چې كوم دينى كيفيت د اسلام نه وړاندې وو او كوم چې بيا د اسلام د قبلولو نه پس شو،ددې بيان په كښې هم دې،دغه شان په دې خطبه كښې د هغوى د معتقداتو مثلاً د توحيد،رسالت او د قيامت په ورځ د ايمان بيان هم دې،دغه شان هغه بيان كوم چې رسول

---

[1]) كوم صاحب چې د حضرت عمر رضي الله عنه طرفته خوشخبرى اوړلې وه نو د هغوى په باره كښې هم اختلاف دې چې دا څوک وو؟حافظ ابن كثير او سيف د دوى نوم طريف بن سهم ښودلې دې او د ابن ابى شيبه په روايت كښې د ابوعثمان نهدى نوم راغلې دې،حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې ممكنه ده چې دې دواړو حضراتو مدينې منورې ته تشريف اوړلې وى انظر فتح البارى:۲۶۶/۶.والبداية والنهاية:۱۱۰/۷)_

[2]) د غزوۀ نهاوند د تفصيل دپاره اوګورئ،البداية والنهاية:۱۰۵/۷_۱۱۲،تاريخ الاسلام(اردو)نجيب اكبر آبادى:۳۰۸/۱......)_

[3]) فتح البارى:۲۶۶/۶،وشرح ابن بطال:۳۳٤/۵،وعمدة القارى:۸۵/۱۵)_

[4]) پورته حواله جات)_

الله ﷺ د معجزاتو.پیشن گویانو بیا ددغه پیشن گویانو باره کښې چې فرمائیلې وو نو د هغې په واقع کیدو باندې هم دا خطبه مشتمله ده[1].

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: د كتاب په شروع كښې چې مؤلف رحمه الله كوم عنوان قائم كړې وو نو هغه "الجزية والموادعة" وو.لكه څنګه چې د باب دا آخرى حديث د موادعة يعنى مصالحت سره متعلق دې،نو حضرت نعمان بن مقرن رضي الله عنه چې په جنګ شروع كولو كښې كوم تاخير اوكړو،د الله تعالى د مدد د هواګانو او د نمر د زوال چې ئې كوم انتظار كړې وو نو دا موادعة وو يعنى د مصالحت امكان د هغوى په ذهن كښې وو ددې وجې نه هغوى د نمر د زوال پورې جنګ شروع نۀ كړو،د موادعة معنى هم دا دہ چې په دشمن باندې د فتح ياب كيدو نه مخكښې قتال نۀ شروع كول او قتال دغه وخت پورې پريخودل.دا امكان په ذهن كښې ساتلو سره چې جنګ كيدې هم شي او كيدې نۀ هم شي[2].

دغه شان ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت د حديث په دې جمله كښې هم كيدې شي:"حتى تعبدوا الله أو تؤدوا الجزية"ځكه چې په دې كښې د جزيې ذكر دې چې د ترجمې اولنۍ حصه ده،ليكن په دې صورت كښې به اشكال دا وى چې بيا خو د"الموادعة"ذكر بيكاره او فضول شو،ځكه چې د باب كوم احاديث تير شو،په هغه ټولو كښې د ترجمې او د حديث تعلق د"جزية"لفظ سره وو،دلته هم كه چرته تعلق لفظ"جزية"سره وى نو الموادعة سره د كوم حديث تعلق دې؟كه د هيڅ يو حديث تعلق او ربط نشته نو ددې د ذكر كولو څۀ فائده؟

غالباً دې خيزلره په ذهن كښې ساتلو سره شارحينو اولنۍ توجيه ذكر كړې ده.والله اعلم بالصواب

② باب: إِذَا وَادَعَ الإِمَامُ مَلِكَ الْقَرْيَةِ هَلْ يَكُونُ ذَلِكَ لِبَقِيَّتِهِمْ؟

د ترجمة الباب مقصد: په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله يوه بله مسئله ذكر كول غواړى،هغه دا چې د وخت خليفه كه چرته د يو ښار يا د يو كلي والي يا بادشاه سره صلح اوكړى نو آيا دا صلح به ددغه كلي او ښار اوسيدونكو ته هم شامله وى يا نۀ؟او ددغه ځائې اوسيدونكى خلق وغيره به په دې صلح كښې داخل وى يا نۀ؟

جواب استفهام دلته محذوف دې،يعنى"يكون"چې دا صلح به ددغه ځائې اوسيدونكو ته هم شامل وى[3].امام بخارى رحمه الله په مذكوره مسئله باندې د حضرت ابوحميد الساعدى رضي الله عنه حديث د دليل په طور باندې پيش كړې دې،په دې كښې صراحةً دا خبره مذكوره خو نۀ ده البته ددې حديث په بعضې طرقو كښې ددې وضاحت موجود دې او غالباً هم دې طرفته

---

[1]) الفتح:٢٦٦/٦،والكرمانى:١٢٨/١٣،وعمدة القارى:٨٥/١٥،وارشاد السارى:٢٣٢/٥)_

[2]) المتوارى على تراجم ابواب البخارى:١٩٧،وعمدة القارى:٨٢/١٥)_

[3]) عمدة القارى:٨٥/١٥،وتحفة البارى:٥٦٦/٣)_

امام بخاری رحمه الله د خپل مشهور عادت موافق اشاره کړې ده.لکه ابن اسحاق رحمه الله په "السیرة"کښې فرمائي:

"لما انتهى رسول الله ﷺ إلى تبوك،أتاه يُحنة (١)بن رؤبة،صاحب أيلة،فصالح رسول الله ﷺ ،وأعطاه الجزية......فكتب رسول الله ﷺ لهم كتاباً.فهو عندهم،فكتب ليحنة بن رؤبة:

بسم الله الرحمن الرحيم،هذه أمنة من الله و محمد النبي ﷺ رسول الله ليحنة بن رؤبة وأهل أيلة، سفنهم وسيارتهم في البر والبحر:لهم ذمة الله، وذمة محمد النبي،ومن كان معهم من أهل الشام،وأهل اليمن،وأهل البحر،فمن أحدث منهم حدثاً فإنه لا يحول ماله دون نفسه،وإنه طيب لمن أخذه من الناس،وإنه لايحل أن يمنعوا ماءً يردونه، ولا طريقاً يريدونه،من بر أو بحر"(٢).

یعنی"چې کله نبی ﷺ تبوک ته اورسیدو نو یحنه(یوحنا)بن روبه،د ایله والی نبی ﷺ ته راغئ،نبی ﷺ سره ئې مصالحت اوکړو او جزیه ئې په خدمت اقدس کښې پیش کړه......نبی کریم ﷺ ورته یو خط ورکړو،کوم چې هغۀ سره موجود دې.نبی ﷺ چې یحنه بن روبة ته کوم خط لیکلې ورکړې وو نو د هغې مضمون دا دې:

"بسم الله الرحمن الرحيم،د ایله د والی او ددې د اوسیدونکو دپاره د الله تعالی او د محمد النبی.رسول الله ﷺ له طرفه دا امان نامه ده.د دوی د کشتو او د ګاډو دپاره.په زمکه او سمندر دواړو کښې.د دوی دپاره د الله تعالی او د محمد النبی ﷺ ذمه داری ده او د هغه چا دپاره هم چې کوم خلق د شام،یمن او د سمندر نه دې خلقو سره دی.په دوی کښې چې څوک هم نوې کار کوی(یعنی د معاهدې خلاف ورزی کوی)نو د هغۀ مال به د هغۀ د ذات دپاره حائل او مانع نۀ جوړیږی تردې چې کوم کس د دۀ هغه مال واخلی نو دا به د هغۀ دپاره حلال وی.او دا هم جائز نۀ دی چې د اوبو یو ګودر یا چینې ته د راتګ نه دوی منع کړې شی.نۀ دا جائز دی چې دوی یوه لاره اختیار کړی او دوی منع کړې شی.خواه د اوچې لار وی یا د سمندر".

ددې نه استدلال کولو سره جمهور علماء وائی چې یو بادشاه یا والی سره صلح کول به د هغۀ ټول قوم او ټولو علاقو ته شامل وی.ځکه چې هرکله هغۀ د صلحې درخواست پیش کړو نو ګویا هغۀ د خپل نفس،د خپل قوم او د خپلو ټولو علاقو دپاره د صلحې درخواست پیش کړو چې دې ټولو ته حفاظت او امان ملاؤ شی.

علامه ابن بطال رحمه الله لیکی:"والعلماء مجمعون على أن الامام إذا صالح ملك القرية أنه يدخل في ذلك الصلح بقيتهم،لأنه إنما صالح على نفسه،ورعيته،ومن يلي أمره،وتشتمل عليه بلده وعمله،ألا ترى أن في

---

(١) بياء مثناة تحتانية مضمومة،بعدها حاء مهملة مفتوحة،ثم نون مشددة مفتوحة،وآخره هاء)_

(٢) السيرة النبوية لابن هشام:٢/٤/٥٢٥_٥٢٦،غزوة تبوك،في سنة تسع،و شرح ابن بطال:٥/٣٣٦،وفتح الباري:٦/٢٦٧،وعمدة القاري:١٥/٨٦،وارشاد الساري:٥/٢٣٣)_

كتاب النبي تامين ملك ايلة واهل بلده"(١).
البته په دې کښې اختلاف دې چې که چرته بادشاه د يو مخصوص او متعين جماعت دپاره د صلحې درخواست پيش کړی چې دې خاص قسم جماعت ته دې امان ورکړې شی نو په دې کښې به بادشاه هم داخل وی يا نه؟
نو د جمهورو مسلک خو هم دادې چې په دې صورت کښې به دغه بادشاه په دې صلح و امان کښې داخل نه وی ترڅو چې ئې خپل تعيين نه وی کړې، دا حضرات ددې خبرې دليل دا پيش کوی چې د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په زمانه کښې اشعث بن قيس د څه خلقو سره مرتد شو او په يو محل کښې پټ شو، بيا هغهٔ د اويا کسانو دپاره امان طلب کړو او خليفه ورته امان هم ورکړو، نو دې د محل نه راووتهٔ او اويا سړی ئې اوشمارل او خپل ځان ئې په دوی کښې شامل نهٔ کړو، حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه اوفرمائيل چې ستا دپاره امان نشته، مونږ خو به تا قتلوو، په دې باندې اشعث اسلام قبول کړو او د حضرت ابوبكرصديق رضی الله عنه لور سره ئې نکاح اوکړه(٢).
دغه شان کله چې حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د تُستر يا د سوس محاصره اوکړه نو د هغوی امير اووئيل چې تاسو زما سلو کسانو ته پناه ورکړئ نو زهٔ به ستاسو دپاره د قلعه دروازه پرانځم کړم؟ حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د هغهٔ خبره منظور کړه، نو هغهٔ خپل سل کسان او ملګری شمارل او جدا کول شروع کړل، حضرت ابوموسی رضی الله عنه (په زړهٔ زړهٔ کښې) وئيل، د الله تعالی نه اميد دې چې هغه به ماته په دهٔ باندې قابو راکړی او د سلو کسانو د شمارلو نه پس به ددهٔ نه خپل ځان هير شی، نو هم دغه شان اوشوه چې هغهٔ سل کسان شمار کړل، هغوی ئې جدا کړل او خپل ځان ترينه هير شو، حضرت ابوموسی رضی الله عنه هغه ګرفتار کړو نو هغهٔ اووئيل چې تاسو خو ماته امان راکړې وو؟ حضرت ابوموسی رضی الله عنه اوفرمائيل چې ما خو تا ته هيڅ قسم امان نهٔ دې درکړې، واوره! الله تعالی د څهٔ دهوکې نه بغير ماته په تا باندې قابو راکړې دې، بيا ئې د هغهٔ سر والوزولو(٣).
اکثر امامان ددې واقعاتو نه استدلال کولو سره هم دا وائی چې د بادشاه يا د امير خپل ځان لره منتخب کول ضروری دی، ورنه په دې مخصوص جماعت کښې به دې داخل نهٔ وی. ليکن په مالکيه کښې د امام اصبغ او د امام سحنون قول دادې چې خپل ځان منتخب کول نهٔ ضروری دی او نهٔ ددې حاجت شته، بلکه په دې باندې قرينه هم کافی ده، ځکه چې بادشاه کله د نورو خلقو دپاره امان طلب کوی نو خامخا هغه خپل ځان هم په دې کښې شاملوی او ددې مقصود هم دادې چې دهٔ ته هم امان حاصل شی(٤). والله اعلم بالصواب

---

١) شرح ابن بطال:٣٣٦/٥، وفتح البارى:٢٦٧/٦)_
٢) شرح ابن بطال:٣٣٧/٥، والمتوارى:١٩٨)_
٣) شرح ابن بطال:٣٣٦/٥)_
٤) شرح ابن بطال:٣٣٧/٥)_

۲۹۹۰: حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ بَكَّارٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى عَنْ عَبَّاسٍ السَّاعِدِيِّ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - تَبُوكَ، وَأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم - بَغْلَةً بَيْضَاءَ، وَكَسَاهُ بُرْدًا، وَكَتَبَ لَهُ بِبَحْرِهِمْ.[ر: ۱۴۱۱]

رجال الحدیث

①**سهل بن بکار**: دا ابوبشر سهل بن بکار دارمی بصری رحمه الله دي.(۱)

②**وهیب**: دا وهیب بن خالد بن عجلان بصری رحمه الله دي.

③**عمرو بن یحیی**: دا عمرو بن یحیی بن عمارة مازنی رحمه الله دي، ددې دواړو حضراتو مختصر حالات په کتاب الایمان، "باب من کره ان یعود فی الکفر......" کښې تیر شوي دی.(۲)

④**عباس الساعدی**: دا عباس بن سهل ساعدی رحمه الله دي.(۳)

⑤**ابوحمید الساعدی**: دا ابو حمید عبدالرحمن الساعدی رضی الله عنه دي.(۵)

د حدیث شریف ترجمه: حضرت ابوحمید الساعدی رضی الله عنه فرمائی چې مونږ په غزوهٔ تبوک کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره شرکت اوکړو او د ایله ښار(۶) بادشاه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یو سپین خچر په هدیه کښې پیش کړو، نبی علیه السلام هغهٔ ته یو ښکلې څادر ورکړو او هغهٔ ته ئې د هغهٔ د سمندری علاقو په باره کښې امان اولیکلو او ورته ئې ورکړو.

دا د یو اوږد حدیث حصه ده، کوم چې په کتاب الزکوة کښې تیر شوې(۷). امام بخاری رحمه الله د باب د مناسبت د وجې نه ددې یو حصه دلته ذکر کړې ده.

قوله: <u>و کساه بردا</u>: په ټولو نسخو کښې واو سره "وکساه" دې او د ابوذر په نسخه کښې فاء سره "فکساه" دې او هم دا غوره دې، ځکه چې د فعل "کساه" فاعل نبی کریم صلی الله علیه وسلم دې.

د دواړو مینځ کښې فرق دادې چې که واو سره "وکساه" اووئیلې شی نو مطلب به داوی چې د ایله بادشاه ورته خچر هم ورکړو او څادر ئې هم ورکړو، حالانکه دا خبره غلطه ده، دا ځکه غلطه ده چې هغهٔ نبی علیه السلام ته صرف خچر ورکړې وو، په جواب کښې ورته نبی علیه السلام څادر

---

(۱) قوله: عن ابی حمید الساعدی رضی الله عنه: الحدیث، مر تخریجه فی الزکاة، باب خرص التمر)_

(۲) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الزکاة، باب خرص التمر)_

(۳) اوګورئ، کشف الباری: ۲/۱۱۵_۱۱۸)_

(۴) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الزکاة، باب خرص التمر)_

(۵) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الصلاة، باب فضل استقبال القبلة)_

(۶) قال ابن قر قول: هی مدینة بالشام علی النصف ما بین طریق مصر ومکة، علی شاطئ البحر، من بلاد الشام". انظر عمدة القاری: ۱۵/۸۶)_

(۷) صحیح البخاری، کتاب الزکاة، باب خرص التمر، رقم (۱۴۸۱))_

ورکړو او د هغهٔ د علاقو او د رعایا دپاره ئې ورته امان ورکړو.
او که فاء سره "فکساه" اووئیلې شی نو مطلب ئې بالکل واضح دې چې د بادشاه کار خچر په هدیه کښې ورکول وو او د نبی علیه السلام کار په هدیه کښې څادر ورکول. امان لیکل او ورکول وو او هم دا صحیح خبره ده.[1]

د بحر نه څهٔ مراد دې؟: دلته په "بحرهم" کښې د بحر نه مراد کلې یا ښار دې، چونکه دوی د سمندر په غاړه باندې اوسیدل ددې وجې نه ئې د دوی د کلی یا د ښار نه تعبیر په بحر سره کړې دې او مقصود ددې اوسیدونکی یا ددې علاقې دی.[2] علامه انورشاه کشمیری رحمه الله ددې "بحرهم" ترجمه په دې الفاظو سره کړې ده: "هغه کلې چې د دریاب په غاړه وی"[3].
مدینه منوره هم چونکه سمندر سره نزدې ده، ددې وجې نه حضرت سعد بن عبادة رضی الله عنه په دې باندې د بحیرة اطلاق اوکړو او وې فرمائیل چې:

"لقد اصطلح أهل هذه البحيرة على أن يتوجوه، فيعصبونه بالعصابة، فلما أبى الله ذلك بالحق الذى أعطاك الله شرق بذلك......"[4].

چې اهلِ مدینه دا فیصله کړې وه چې د عبدالله بن ابی بن سلول تاج پوشی او دستاربندی به کولې شی، دې به د خپلې علاقې چودهری مقررولې شی، د نبی علیه السلام د راتګ نه پس دا ټوله قصه ختمه شوه، د عبدالله بن ابی د مشرئ ارمان پوره نهٔ شو، ددهٔ رسئ ددهٔ په غاړه کښې انختې ده ددې وجې نه دا سې قسم شرارتونه کوی.

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: علامه ابن المنیر رحمه الله لیکی چې د بخاری شریف په روایت کښې صیغه د امان ده، نهٔ چې صیغه د طلب چې بادشاه امان طلب کړې وی لیکن ددې باوجود امام بخاری رحمه الله د خپل عادت د وجې نه د باب د حدیث نه مذکوره استدلال اوکړو چې بادشاه چې د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت اقدس کښې کومه هدیه پیشه کړه نو د هغهٔ مقصد ددې په ذریعې سره د خپل حکومت د بقاء درخواست پیش کول وو او د هغهٔ د حکومت بقاء هم هله ممکنه وه چې هرکله د هغهٔ قوم او رعایا هم باقی وی، نتیجه هم دا شوه چې د هغهٔ دا مصالحت د خپل رعایا دپاره وو.[5] هم دا مقصد د ترجمة الباب هم دې. علامه

---

[1]) فتح البارى:۶/۲۶۶، وعمدة القارى:۸۶/۱۵، وشرح القسطلانى:۲۳۳/۵)_
[2]) فتح البارى:۶/۲۶۷، وعمدة القارى:۸۶/۱۵، وشرح القسطلانى:۵/ ۲۳۳)_
[3]) فيض البارى:۴۷۴/۳)_
[4]) صحيح البخارى، كتاب التفسير، باب(والتسمعن من الذين اوتوا الكتب)......رقم (۴۵۶۶)، والقصة رواها ابن هشام ايضا، ولكن لا يوجد فيها هذه الفظة_اعنى البحيرة_انظر سيرته:۵۸۸/۳/۲، خروج قوم ابن ابى عليه......وغضب الرسول.....)_
[5]) فتح البارى:۶/۲۶۷)_

عینی رحمه الله د علامه ابن المنیر رحمه الله دا وضاحت اختیار کړې دې[1].او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې ترجمة الباب سره د حدیث شریف د مطابقت دپاره دومره خبره کافي نۀ ده ځکه چې امام بخاري رحمه الله د خپل مشهور عادت موافق د حدیث د ذکر کولو نه بغیر هم دا خپله مدعا حاصلولې شوه حقیقت کښې امام بخاري رحمه الله د خپل یو بل عادت مطابق دلته دا طریقه اختیار کړې ده چې کله دوی یو حدیث ذکر کولو سره د هغې نورو طرقو طرفته اشاره کوی،دلته هم دوی د سیرة ابن اسحاق د یو روایت طرفته اشاره کړې ده کوم چې اوس وړاندې تیر شو،په کوم کښې چې ددې خبرې وضاحت دې چې د ایله بنار بادشاه نبی علیه السلام سره مصلحت اوکړو او جزیه ئې ادا کړه،بیا هغۀ ته نبی علیه السلام یو خط ورکړو چې په هغې کښې هغۀ دپاره د امان ورکولو وضاحت وو.[2].والله اعلم بالصواب

③ باب: الْوَصَايَا بِأَهْلِ ذِمَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم

وَالذِّمَّةُ الْعَهْدُ،وَالإِلُّ الْقَرَابَةُ.

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاري رحمه الله دا بیانول غواړی چې نبی علیه السلام کومو غیرمسلمو سره عهد کړې وو،خواه هرقسم عهد چې وی،نو دوی سره د ښیګړې معامله ساتل پکار دی،بغیر د څۀ وجې دوی لره تنګول پکار نۀ دی او د نبی علیه السلام د عهد پوره والې پکار دې

د الوصاة معنی: الوصاة "بفتح الواو،والمهملة مخففا"ددې معنی ده وصیت.او د وصیت مختلف معنې دی چې په هغې کښې یو معنی ده چاسره ښیګړه کول[3].

د الذمة او د الال معنی: بیا ددې نه پس امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې د دوو کلماتو معنې بیان کړې دی لکه څنګه چې د هغوی عادت دې چې په حدیث مبارک کښې کوم لفظ راشي نو که هغه په قرآن کریم کښې هم راغلې وی نو د هغې وضاحت او تفسیر کوی.اولنۍ کلمه"الذمة"ده او دویمه کلمه"الإل"ده.د اولنۍ کلمې معنی ئې کړې ده چې عهد او دویمې کلمې معنی ئې په قرابت (رشته داری)سره کړې ده کوم چې د امام ضحاک رحمه الله اختیار کړې شوې تفسیر دې،لکه هغوی د قرآن کریم د آیت مبارکه(لا یرقبون فی مؤمن الا ولا ذمة)[4]تفسیر هم په دې کلماتو سره کړې دې.[5].

امام بخاري رحمه الله چې د"الذمة"کومه معنی بیان کړې ده نو ددې نه علاوه ددې لفظ نورې معنې هم شته،مثلاً:امان،ضمان،حرمت او حق وغیره.اهل ذمه ته هم ذمه ددې وجې نه

---

[1]) عمدة القاری:۱۵/۸۶_

[2]) فتح الباری:۶/۲۶۷،وایضا ارشاد الساری:۵/۲۳۳_

[3]) فتح الباری:۶/۲۶۷_

[4]) التوبة:/۱۰_

[5]) فتح الباری:۶/۲۶۷،و روح المعانی:۱۰/۳۴۹،سورة التوبة،الآیة:۹)_

وئيلي شى چې هغوى د مسلمانانو په عهد و امان كښې داخل شى.(١).او بعضې حضراتو وئيلي دى چې د "الإلّ" اطلاق بعضې وخت كښې په عهد باندې هم كيږى.(٢).

٢٩٩١:(٣) حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو جَمْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ جُوَيْرِيَةَ بْنَ قُدَامَةَ التَّمِيمِيَّ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه - قُلْنَا أَوْصِنَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَ أُوصِيكُمْ بِذِمَّةِ اللَّهِ، فَإِنَّهُ ذِمَّةُ نَبِيِّكُمْ، وَرِزْقُ عِيَالِكُمْ.[ر: ١٣٢٨]

رجال الحديث

①**ادم بن ابى اياس**:دا ابو الحسن آدم بن ابى اياس عبد الرحمن عسقلانى رحمه الله دې.

②**شعبه**:دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن حجاج عتكى رحمه الله دې.ددې دواړو حضراتو حالات په كتاب الايمان،"باب المسلم من سلم المسلمون....."كښې تير شوې دى.(٤).

③**ابوجمرة**:دا ابو جمرة نصر بن عمران بصرى رحمه الله دې.د دوى تذكره په كتاب الايمان،"باب أداء الخمس من الايمان"كښې راغلې ده.(٥).

④**جويريه بن قدامة التميمى**:دا جويريه بن قدامه بن مالک بن زهير تميمى سعدى رحمه الله دې(٦) اكثرو امامانو د رجالو دوى تابعى ښودلې دى او په لويو تابعينو كښې ئې د دوى شمار كړې دې.(٧).د دوى نه علاوه يو بل شخصيت دې چې د هغۀ نوم جاريه بن قدامه دې.دا د حضرت على رضي الله عنه په ملګرو كښې وو او دا صحابى دې.(٨).اكثر ائمه رجال په دې دواړو شخصياتو كښې جدائى كوى او وائى چې جاريه جدا شخصيت دې او جويريه جدا شخصيت دې،د راجح قول مطابق اولنې صحابى دې او دويم تابعى دې.ليكن د حافظ ابن حجر او حافظ مغلطائى رحمهما الله وغيره ميلان دې طرفته دې چې دا دواړه نومونه د يو شخصيت دى،يا جاريه نوم دې جويريه لقب دې،يا جويريه نوم دې او جاريه لقب دې خو بهرحال دا جدا جدا شخصيات نۀ دى بلكه د يو سړى دوه نومونه دى او دا صحابى دې.(٩).

---

(١) عمدة القارى:١٥/٨٦،و روح المعانى:١٠/٣٥٠_

(٢) فتح البارى:٦/٢٦٧_

(٣) قوله_سمعت عمر...... رضي الله عنه "الحديث،تفرد به البخارى،انظر تحفة الاشراف:٨/١٩)_

(٤) كشف البارى:١/٦٧٨)_

(٥) كشف البارى:٢/٧٠١)_

(٦) اكمال مغلطاى:٣/٢٦١،رقم (١٠٣٦))_

(٧) الجرح والتعديل:٢/٥٤٣،والثقات:٤/١٦٦،و تهذيب الكمال:٥/١٧٤،وفتح البارى:٦/٢٦٧)_

(٨) تهذيب الكمال:٤/٨٠،رقم (٨٨٦))_

(٩) الاصابة:١/٢١٨،وفتح البارى:٦/٢٦٧،وتهذيب التهذيب:٢/١٢٥)_

حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل مؤقف باندې دا استدلالات پیش کوی:

①جویریه تمیمی دې او جاریه هم تمیمی دې، ددې وجې نه دا خبره څۀ لرې نۀ ده چې دا دواړه شخصیات یو وی.

②د مصنف ابن ابی شیبه(۱) په روایت کښې د جویریه په ځائې د جاریه وضاحت موجود دې او حدیث د دواړو یو دې او دواړه دا حدیث د ابوجمرة نه روایت کوی، ددې نه هم ذهن ته دا خبره راځی چې دا دواړه د یو شخصیت نومونه دی.(۲).والله اعلم

جویریه بن قدامه د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت کوی. او د دوی نه روایت کوونکې هم صرف ابوجمرة نصر بن عمران رحمه الله دې.(۳).

په بخاری شریف کښې د دوی ذکر صرف د باب په دې حدیث کښې راغلې دې. باقی پنځو امامانو د دوی نه روایت نۀ دې اخستلې.(۴).رضی الله عنه وأرضاه.

⑤**عمربن الخطاب:** د دویم خلیفه، حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه دې. د دوی حالات د "بدء الوحی" په اولنی حدیث کښې تیر شوې دی.(۵).

د باب د حدیث شریف ترجمه: مونږ اووئیل، امیرالمؤمنین! مونږ ته بنۀ خبره اوکړئ (او وصیت اوکړئ) وې فرمائیل، زۀ تاسو خلقو ته د الله تعالی د عهد سره د خیر ښیګړې وصیت کوم ځکه چې دا ستاسو د نبی صلی الله علیه وسلم د عهد او د ستاسو د اهل وعیال د رزق سبب دې.

د حدیث شریف مزید تفصیل: دلته چې امام بخاری رحمه الله کوم روایت ذکر کړو نو هغه ډیر زیات مختصر دې او باب سره د مناسبت د وجې نه ددې په ذکر کولو باندې امام بخاری رحمه الله بس والې کړې دې، پوره حدیث امام جمال الدین مزی رحمه الله په "تهذیب الکمال" کښې نقل کړې دې، جویریه بن قدامه فرمائی:

"حججتُ، فمررتُ بالمدینة، فمررت بالمدینة، فخطب عمر، فقال: انی رایت اللیلة دیکا نقرنی نقرة او نقرتین، فما کان الا جمعة او نحوها حتی اصیب، قال: الشام، ثم اذن لاهل العراق، قال: وکنا آخر من دخل، قال: فکلما دخل قوم بکوا اوثنوا. قال: وکنت فیمن دخل فاذا عمامة اوبرد اسود قد عصب علی طعنته، واذا الدماء تسیل، قال: فقلنا: اوصنا، ولم یساله الوصیة احد غیرنا، قال: اوصیکم بکتاب الله؛ فانکم لن تضلوا ما اتبعتموه، قال: قلنا: اوصنا، قال: اوصیکم بالمهاجرین، فان الناس سیکثرون ویقلون، اوصیکم بالانصار؛

---

(۱) المصنف لابن ابی شیبة: ۵۹۳/۲۰، کتاب المغازی، رقم (۳۸۲۱۸)، وتعلیقات تهذیب الکمال: ۱۷۶/۵)_

(۲) تهذیب التهذیب: ۱۲۵/۲، رقم (۲۰۳))_

(۳) تهذیب الکمال: ۱۷۵/۵)_

(۴) تهذیب الکمال: ۱۷۶/۵، واکمال مغلطای ک ۲۶۱/۳، رقم (۱۰۳۶))_

(۵) کشف الباری: ۲۳۹/۱)_

فانهم شعب الاسلام الذی لجا اليه، واوصيكم بالاعراب؛فانهم اصلكم ومادتكم،ثم سالته بعد ذلك، قال: انهم اخوانكم وعدو عدوكم، و اوصيكم بذمتكم؛فانها ذمة نبيكم، و رزق عيالكم،قوموا عنی،فما زاد علی هؤلاء الكلمات"(١).

يعنی:"زهٔ چې د حج د مناسكو نه فارغ شوم او مدينې منورې ته لاړم نو حضرت عمر رضی الله عنه خطبه ارشاد اوفرمائيله او وې وئيل چې ما د شپې په خوب كښې يو چرګ اوليدو چې هغهٔ په ما يو يو يا دوه ټونګې اولګولې،ددې نه پس تقريباً يو هفته تيره شوې وه چې دوی زخمی شو،راوی وائی چې اميرالمؤمنين اول صحابه كرامو رضی الله عنهم،بيا اهل مدينه ته د ملاقات اجازت وركړو،بيا اهل شام ته،بيا اهل عراق ته او د ټولو نه په آخر كښې ورسره مونږ ملاقات اوكړو،كله چې به يو قوم د ملاقات په غرض داخل شو نو هغوی به ژړل او تعريفونه به ئې كول.راوی وائی چې په ملاقات كوونكو كښې زهٔ هم شامل ووم،چې داخل شوم نو اومې ليدل چې د هغوی په زخم باندې پټكی يا تور څادر سره پټئ تړلې شوې وه او د زخم نه وينه بهيدله،مونږ ورته درخواست اوكړو چې وصيت راته اوكړئ،دا درخواست زمونږ نه علاوه بل چا نهٔ وو كړې،اميرالمؤمنين اوفرمائيل،زهٔ تاسو ته د بنيګړې وصيت په كتاب الله سره كوم څكه چې ترڅو تاسو ددې تابعداری كوئ نو ګمراه به نهٔ شئ،مونږ اووئيل نور هم څهٔ اوفرمائې،وې فرمائيل،زهٔ تاسو ته دا وصيت كوم چې مهاجرينو سره ښهٔ سلوك ساتئ،څكه چې خلق خو به زياتيږی ليكن دا مهاجرين به كميږی او انصارو سره درته د ښيګړې كولو حكم كوم څكه چې دوی د اسلام هغه كندې دی د چا طرفته چې اسلام پناه اخستې وه او بانډيچيانو سره درته د ښهٔ سلوک وايم څكه چې هم دغه خلق ستاسو اصل او بنياد دې، ستاسو ورونړه دی او ستاسو د دشمنانو دشمنان دی،دغه شان زهٔ تاسو ته دا حكم كوم چې ذميانو سره ښهٔ سلوک كوئ څكه چې دا هغه خلق دی چې ستاسو نبی(عليه السلام) ورسره عهد كړې دې او هم دوی ستاسو اهل وعيال ته د رزق ملاويدلو دپاره سبب جوړيږی، په آخره كښې اميرالمؤمنين اوفرمائيل چې اوس ددې څائې نه پاسئ،ددې نه پس ئې څهٔ خبره اونهٔ كړه".

فائده:د حضرت عمر رضی الله عنه د شهادت دا واقعه د حضرت عمرو بن ميمون رحمه الله نه هم روايت شوې ده(٢)په كوم كښې چې د باب د حديث ددې الفاظو "اوصيكم بذمة الله فانه ذمة نبيكم و رزق عيالكم"په څائې دا الفاظ منقول دی:

"واوصيه بذمة الله تعالی،وذمة رسوله صلی الله عليه وسلم أن يوفی لهم بعهدهم،وأن يقاتل من ورائهم،ولا يكلفوا الا طاقتهم".

---

(١) تهذيب الكمال:١٧٥/٥_١٧٦.و اخرج اوله الامام البخاری فی تاريخه:٢٤١/٢.رقم (٢٣٢٥)،ومثله عندابن ابی شيبة فی مصنفه:٥٩٣/٢٠.كتاب المغازی،ما جاء فی خلافه عمربن الخطاب رضی الله عنه .رقم (٣٨٢١٨)
(٢) صحيح البخاری،كتاب فضائل اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم .قصة البيعة.....رقم (٣٧٠٠))_

"او زما نه پس چې كوم خليفه راځى، هغې، خليفه ته هم وصيت كوم چې هغه د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ د عهد خيال اوساتى داسې چې د دوى د عهد پوره والې اوكړى، دړ دوى دپاره جنګ اوكړى او د طاقت او قوت نه زيات بوج په دوى باندې وانه چولې شى"

ددې وجې نه ددې حديث د پورته ذكر شوې حصې نه دا خبره معلوميږى چې د اهل جزيې نه دې دومره قدرې جزيه وصول كړې شى څومره چې هغوى قوت او طاقت لرى او په دې معامله كښې ورسره ظلم او زياتې اونه كړې شى(١).

د "و رزق عيالكم" مطلب: د باب د حديث ددې الفاظو "و رزق عيالكم" مطلب دادې چې ددې اهل ذمه او اهلِ خراج نه چې كوم رقم وصوليږى نو هغه ستاسو د اهل وعيال دپاره رزق جوړيږى او د هغې په ذريعې سره تاسو ددې خپل اهل وعيال د ضرورتونو بندوبست كوئ(٢).

ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث مناسبت واضح دې چې ترجمة الباب ذميانو سره د خيرښيګړې اختيارولو وو او په حديث شريف كښې هم دغه خبره ده چې حضرت عمر رضي الله عنه ذميانو سره د خيرښيګړې كولو وصيت كړې وو.

۴ باب: مَا أَقْطَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مِنَ الْبَحْرَيْنِ. وَمَا وَعَدَ مِنْ مَالِ الْبَحْرَيْنِ وَالْجِزْيَةِ، وَلِمَنْ يُقْسَمُ الْفَيْءُ وَالْجِزْيَةُ

د ترجمة الباب وضاحت او مقصد: دا ترجمة الباب په دريو جزونو باندې مشتمل دې. په دې درې واړو جزونو كښې مصنف رحمه الله درې مختلف قسم احكامات بيان كړې دى او هم ددغه احكاماتو په ترتيب سره ئې درې حديثونه هم ذكر كړې دى(٣). لكه د اولنى حديث تعلق اولنى حكم سره، د دويم حديث تعلق دويم حكم سره او د دريم حديث تعلق د دريم حكم سره دې. د ترجمة الباب اولنې جزء "ما اقطع النبى صلى الله عليه وسلم من البحرين" دې.

د "اقطاع" لغوى او اصطلاحى معنى: "اقطع" د باب افعال نه د ماضى مذكر صيغه ده. وئيلې شى "اقطع فلاناً أرضاً" يعنى چاته زمكه وركول. د هغهٔ په نوم كول(٤).

د شريعت په اصطلاح كښې د وخت د خليفه له طرفه د الله تعالى په وركړې شوې مال كښې چاته څهٔ وركولو ته "اقطاع" وئيلې شى، ليكن ددې زيات استعمال په دې كيږى چې چاته زمكه د جائيداد په طور باندې وركړې شى اوس د خليفه خوښه ده چې چا ته جائيداد وركوى. نو هغهٔ لره د دغه جائيداد مالك جوړوى چې هغه دې زمكې لره آباده كړى يا ئې

---

١) فتح البارى: ٦/٢٦٧_
٢) پورته حواله، والكرمانى: ١٣/١٣٠_
٣) فتح البارى: ٦/٢٦٨، وعمدة القارى: ١٥/٨٦_
٤) القاموس الوحيد، مادة: "قطع"_

ورته څۀ خاص وخت پورې حواله کړی، ددې وجې نه چاته جائيداد ورکول کله خو د تمليک په طور وی او کله بغير د تمليک نه وی.

هم ددې وجې نه فوج ته هم "مقطعين" وئيلې شی، يعنی د جائيداد خاوند (١). او دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد ددې کار جواز ښودل دی چې خليفه يو اهل او قابل سړی ته هر وخت کښې زمکه د جائيداد په طور سره ورکولې شی لکه د نبی کريم ﷺ د بحرين زمکو لره جائيداد جوړول د باب د اولنی حديث شريف نه ثابت دی، چې نبی عليه السلام ددې اراده کړې وه او په دې معامله کښې ئې انصارو سره څو ځله خبره هم کړې وه چې تاسو خلق دا زمکې واخلئ ليکن هرکله چې هغوی انکار اوکړو نو نبی عليه السلام خپله اراده پريخودله.

د امام بخاری رحمه الله د استدلال طريقه: امام بخاری رحمه الله دلته د نبی عليه السلام ددې ارادې نه استدلال کړې دې چې خبره مستقبل کښې کيدله نو هغه ئې په ماضی کښې واخستله ګويا که نبی عليه السلام دغه خلقو ته جائيداد ورکړو، د نبی عليه السلام په حق کښې دا معامله بالکل واضحه ده ځکه چې نبی عليه السلام د يو داسې کار حکم نۀ شی ورکولې چې هغه کار ناجائز وی.

لهذا هم دا معلومه شوه چې دا کار يعنی چا ته جائيداد ورکول د وخت د خليفه له طرفه صحيح دی. حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی:

"فاما إقطاعه ﷺ من البحرين فالحديث الاول دال على أنه صلى الله عليه وسلم همّ بذلك، وأشار به على الانصار مراراً، فلما لم يقبلوا تركه، فنزل المصنف ما بالقوة منزلة ما بالفعل، وهو فى حقه صلى الله عليه وسلم واضح لانه لا يامر الا بما يجوز فعله" (٢).

د باب په حديث شريف کښې د بحرين نه مراد د عراق مشهور ښار دې (کوم چې اوس مستقل رياست دې)، وړاندې دا خبره تيره شوې ده چې اهل بحرين سره نبی عليه السلام مصالحت کړې وو او په هغوی ئې جزيه لازم کړې وه. بيا په دې حديث شريف کښې چې د بحرين د زمکو انصارو ته د جائيداد په طور باندې د ورکولو کوم ذکر راغلې دې نو ددې نه مراد دا دې چې ددې زمکو نه کوم خراج او جزيه وصوليږی نو هغه به د انصارو دپاره خاص وی. ددې زمکو آمدن به انصارو ته ځی، دا مطلب او مقصد نۀ دې چې هغوی به ددې زمکو مالکان هم شی ځکه چې دصلحې زمکه نۀ تقسيميږی او نۀ چاته د جائيداد په توګه ورکړې کيدې شی (٣). والله اعلم

٢٩٩٢ (٤). حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا - رضى الله عنه - قَالَ دَعَا النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - الأَنْصَارَ لِيَكْتُبَ لَهُمْ بِالْبَحْرَيْنِ فَقَالُوا

---

(١) عمدة القارى: ١٥/٨٦، والنهاية لابن الاثير الجزرى: ٤/٨٢، باب القاف مع التاء)_

(٢) فتح البارى: ٦/٢٦٨، ومثله فى شرح القسطلانى: ٥/٢٣٤، وعمدة القارى: ١٥/٨٧)_

(٣) فتح البارى: ٦/٢٦٨، وارشاد السارى: ٥/٢٣٣، وعمدة القارى: ١٥/٨٧)_

(٤) قوله: انسا رضى الله عنه "الحديث، مر تخريجه فى كتاب المساقاة، باب القطائع)_

لاَ وَاللّٰهِ حَتّٰی تَکْتُبَ لِإِخْوَانِنَا مِنْ قُرَیْشٍ بِمِثْلِهَا . فَقَالَ ذَاكَ لَهُمْ مَا شَاءَ اللّٰهُ عَلٰی ذٰلِكَ یَقُولُونَ لَهُ قَالَ «فَإِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِی أُثْرَةً، فَاصْبِرُوا حَتّٰی تَلْقَوْنِی ».[ر ٢٢٤٧]

رجال الحدیث

①**احمد بن یونس**:دا احمد بن عبدالله بن یونس تمیمی یربوعی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان،"باب من قال:إن الایمان هوالعمل"کښې تیره شوې ده.(١)

②**زهیر**:دا زهیر بن معاویه بن حُدیج رحمه الله دې.د دوی تفصیلی حالات په کتاب الایمان،"باب الصلوة من الایمان"کښې راغلي دی.(٢)

③**یحیی بن سعید**:دا مشهور تابعی،د مدینې منورې فقیه،حضرت یحیی بن سعید الانصاری رحمه الله دې.د دوی مختصر تذکره په"بدء الوحی"کښې او تفصیلی تذکره په کتاب الایمان،"باب صوم رمضان....."کښې تیره شوې ده.(٣)

④**انس** رضی الله عنه :د مشهور صحابی حضرت انس بن مالک رضی الله عنه حالات په کتاب الایمان،"باب من الایمان أن یحب لاخیه......"کښې راغلي دی.(٤)

د أثرة ضبط او معنی:د باب په حدیث کښې چې د"أثرة"کوم لفظ راغلي دې نو دا مختلفو طریقو سره ضبط کړې شوې دې.

①ابن الاثیر رحمه الله دا لفظ همزه او ثاء د دواړو فتحې سره ضبط کړې دې.(٥)

② صاحبِ مطالع او علامه جیانی رحمهما الله دا لفظ د همزه ضمه او د ثاء سکون سره "اُثْرة"ضبط کړې دې.

③ بعضې حضراتو دا د همزه کسره او د ثاء سکون"اِثْرة"سره ضبط کړې دې.(٦)

علامه ازهری رحمه الله فرمائی چې د"أثرة"معنی ده استیثار.او د استیثارمعنی ده خودغرضی او ذاتی فائده لټول.دا دې ضد ایثاردې(یعنی خپل ځان باندې نوروخلقوته ترجیح ورکول).(٧)

---

(١) کشف الباری:۱۵۹/۲)_

(٢) کشف الباری:۳۶۷/۲)_

(٣) کشف الباری:۲۳۸/۱،و:۳۲۱/۲)_

(٤) کشف الباری:٤/۲)_

(٥) النهایة فی غریب الحدیث والاثر:۲۲/۱،باب الهمزة مع التاء)_

(٦) عمدة القاری:۸۷/۱۵)_

(٧) پورته حواله،والقاموس الوحید،مادة:"اثر")_

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: د ترجمة الباب اولنی جزء سره ددې حديث مناسبت ښکاره دې چې نبی عليه السلام انصارو ته د جائيداد ورکولو اراده ښکاره کړه. ددې نه ددې کار جواز معلوميږي. كمامرقبل(١).

د ترجمة الباب دويم جزء "وما وعد من مال البحرين" دې ددې جزء مقصد دادې چې بادشاه وقت که په جزيه وغيره کښې چا ته خصوصی طور باندې څۀ مال وغيره ورکول اوغواړی نو په شريعت کښې ددې ګنجائش شته او ددې اجازت دې لکه د باب په دويم حديث شريف کښې دا مضمون راغلې دې چې حضرت جابر رضی الله عنه ته نبی عليه السلام فرمائيلي وو چې که د بحرين مال راغئ نو مونږ به ترينه تاسو ته دومره دومره درکړو. دا دوی سره د نبی عليه السلام وعده وه چې بيا د نبی عليه السلام د وفات نه پس د هغوی جانشين مبارک حضرت صديق اکبر رضی الله عنه پوره کړه او د کوم مال وعده چې شوې وه نو هغه ئې حضرت جابر رضی الله عنه ته حواله کړو.

٢٩٩٣: (٢) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَخْبَرَنِي رَوْحُ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لِي «لَوْ قَدْ جَاءَنَا مَالُ الْبَحْرَيْنِ قَدْ أَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» . فَلَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَجَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عِدَةٌ فَلْيَأْتِنِي . فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ كَانَ قَالَ لِي «لَوْ قَدْ جَاءَنَا مَالُ الْبَحْرَيْنِ لأَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» . فَقَالَ لِي احْثُهْ . فَحَثَوْتُ حَثْيَةً فَقَالَ لِي عُدَّهَا . فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُمِائَةٍ، فَأَعْطَانِي أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ. [ر: ٢١٧٤]

رجال الحديث

① **على بن عبدالله:** دا مشهور امام حديث حضرت على بن عبدالله ابن المدينی رحمه الله دې. د دوی تفصيلی حالات په كتاب العلم، "باب الفهم في العلم" کښې تير شوې دی(٣).

② **اسماعيل بن ابراهيم:** دا اسماعيل بن ابراهيم بن مقسم رحمه الله دې چې مشهور په "بابن عليه" سره دې. د دوی مختصر تذکره په کتاب الايمان، "باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان" کښې راغلې ده(٤).

خبرداري: د علامه عينی او علامه قسطلانی رحمهما الله نه ددې حديث په سند کښې دا

---

(١) عمدة القاری:١٥/و ارشاد الساری:٥/٢٣٤)_
(٢) قوله: عن جابر رضی الله عنه: "الحديث،مر تخريجه فی الکفالة،باب من تکفل عن ميت دينا.....)_
(٣) کشف الباری:٣ ٢٥۶)_
(٤) کشف الباری:٢/١٢)_

تسامح اوشوه چې دې دواړو حضراتو اسماعيل بن ابراهيم د "ابن عليه" په ځائې ابومعمر بن اسماعيل بن ابراهيم ګنړلې دې (١)،حالانکه صحيح خبره داده چې دلته د اسماعيل نه مراد "ابن عليه" دې،ددې وجه داده چې د باب په حديث کښې د امام بخاری رحمه الله شيخ ابن المدينی رحمه الله دې او د اسماعيل بن ابراهيم شيخ روح بن القاسم او دا منلې شوې خبره ده چې د ابن المدينی په شيخانو کښې چې د اسماعيل بن ابراهيم په نوم سره کوم شيخ دې نو هغه ابن عليه دې.ابن المدينی د ابومعمر نه روايت نهٔ کوی،دغه شان د روح بن القاسم په شاګردانو کښې ابومعمر داخل نهٔ دې.بلکه د هغوی شاګرد خو ابن عليه دې (٢).

③**روح بن القاسم**:دا ابوغياث روح بن القاسم تميمی عنبری بصری رحمه الله دې (٣).

④**محمد بن المنکدر**:دا مشهور تابعی محمد بن المنکدر رحمه الله دې (٤).

⑤**جابربن عبدالله رضی الله عنهما**:دا مشهور صحابی حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما دې (٥).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:د حضرت جابر رضی الله عنه ددې حديث شريف مناسبت د ترجمة الباب د دويم جزء سره بالکل واضح دې،د تشريح ضرورت نهٔ لری (٦)

تنبيه: مرشرح هذا الحديث فى الخمس،باب ومن الدليل على ان الخمس لنوائب المسلمين.....)_ د ترجمة الباب دريم جزء "ولمن يقسم الفئ والجزية" دې.په دې جزء کښې امام بخاری رحمه الله د حضرت عباس بن عبد المطلب رضی الله عنه حديث ذکر کړې دې او ددې خبرې طرفته ئې اشاره کړې ده چې د مالِ فئ او د مالِ جزيه مصرفونه څهٔ دی؟دا کوم کوم ځائې کښې خرچ کيدې شی او کوم قسم خلق به ددې مستحق وی (٧).ددې مسئلې تفصيل په کتاب الخمس کښې مختلفو ځايونو کښې تير شوې دې چې د جزيې وغيره مستحق کوم خلق دی.دغه شان د جزيې تعريف هم د کتاب الجزية په شروع کښې تير شوې دې.

د مالِ فئ تعريف: فئ هغه مال ته وئيلې کيږی چې بغير د جنګ او د قتال نه د کافرانو نه حاصل کړې شی (٨).بيا چې دلته په فئ باندې د جزيې کوم عطف کړې شوې دې نو دا د عطف الخاص على العام قبيل نه دې،ځکه چې جزيه هم د مالِ فئ يو قسم دې (٩).

---

(١) عمدة القاری:١٥/٨٧،وشرح القسطلانی:٥/٢٣٤)_

(٢) انظر تهذيب الکمال:٣/١٩،و:/٩٢٥٢،و:٢١/٦،وتحفة الاشراف:٢/٣٥٩،رقم (٢٠١٥))_

(٣) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب ما جاء فی غسل البول)_

(٤) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب صب النبی صلی الله عليه وسلم وضوءه......)_

(٥) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين.....)_

(٦) عمدة القاری:١٥/٨٧)_

(٧) فتح الباری:٦/٢٦٩)_

(٨) عمدة القاری:١٥/٨٦،وبدائع الصنائع:٧/١١٦،کتاب السير،فصل فی احکام الغنائم.....)_

(٩) عمدة القاری:١٥/٨٦،وفتح الباری:٦/٢٦٩)_

مال فئ به څنګه تقسيمولې شی؟ دلته دا مسئله هم ده کومه کښې چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف هم دې چې د مال فئ په تقسيمولو کښې به امام او حاکم کومه طريقه اختياروی؟ په دې کښې درې مذهبونه دی.

①امام به په تقسيم کښې مساوات او برابری اختياروی، ټولو ته به برابر حصه ورکوی.دا د حضرت ابوبکر و حضرت علی رضی الله عنهما او د حضرت امام شافعی رحمه الله مذهب دې او د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم دا يو روايت دې.

②امام به په تقسيم کښې غوره والې اختياروی.يعنی امام ته پکار دی چې د مخلفينو او د درجاتو خيال او لحاظ اوساتی، چاته زيات ورکړی او چاته کم ورکړی.دا د حضرت عثمان و حضرت عمر رضی الله عنهما مذهب دې،هم دا قول د حضرت امام مالک رحمه الله هم دې.(١).حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه به د اسلام وړاندې والې او د نسب د برترئ وغيره لحاظ ضروری نۀ ګڼړلو او ددې خبرې قائل وو چې ددې کارونو تعلق آخرت سره دې،يو سړې اول اول او وړاندې مسلمان شوې دې نو د هغۀ دا عمل د الله تعالی دپاره دې،ددې اجر او ثواب هم په الله تعالی باندې موقوف دې،ددې وجې نه د مال په مستحق جوړيدلو کښې دا خبرې بنياد جوړول پکار نۀ دی.

او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به د مرتبو او درجاتو خيال او لحاظ ساتلو.په دې بنياد باندې به د مال د تقسيمولو په وخت به ئې حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها ته زيات مال ورکوو او حضرت حفصه رضی الله عنها ته کم،حالانکه دواړه د نبی عليه السلام بيبيانې وې او حضرت حفصه رضی الله عنها ته به ئې فرمائيل چې لورې!ستاسو په نسبت حضرت عائشه رضی الله عنها ته زيات مال ددې وجې نه ورکوم چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته هغه ستاسو په نسبت زياته محبوبه وه،دغه شان د نبی عليه السلام تعلق ستاسو د پلار په ځائې د هغې د والد صاحب حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه سره زيات وو!

دغه شان حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به د خپل ځوی حضرت عبدالله بن عمر په نسبت حضرت اسامه بن زيد بن حارثه رضی الله عنه ته زياته حصه ورکوله او ابن عمر ته به ئې فرمائيل چې اُسامه ته په تاسو باندې دا فضيلت حاصل دې چې ستاسو په نسبت ورسره د نبی عليه السلام تعلق زيات وو او ستاسو د والد صاحب نه د نبی عليه السلام په نظر کښې د حضرت اُسامه والد صاحب زيات خوښ وو(٢).

---

(١) فتح الباری:٢٦٩/٦،زکرقاة المفاتيح:١٠٤/٨،وبداية المجتهد:٤٠٣/١)_

(٢) مرقاة المفاتيح:١٠٤/٨،وانظر للاستزادة:المصنف لابن ابی شيبة:٤٧٢/١٧_٤٧٦،کتاب السير،ما قالوا فی الفروض وتدوين الدواوين،رقم (٣٣٥٣٩)،والسنن الکبری للبيهقی:٣٤٩/٦_٣٥١،کتاب قسم الفئ والغنيمة، باب التفضيل علی السابقه والنسب،رقم (١٢٩٩٢_١٢٩٩٨)،وکشف الاستار:٢٩٢/٢_٢٩٥،کتاب الجهاد، باب قسمة الاموال و تدوين العطاء،رقم (١٧٣٦)،وقصة اسامة بن زيد اخرجه الترمذی ايضا،کتاب المناقب، باب مناقب زيد بن حارثه، رضی الله عنه ،رقم (٣٨١٣))_

③په دې سلسله کښې د احنافو مذهب دادې چې دا معامله امام ته سپارلې شوې ده.چاته ورکوی یا نۀ ورکوی،برابرې کوی یا چاته زیات او چاته کم ورکوی،په دې کښې امام ته اختیار دی.(۱).

هم دا یو روایت د امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دی.(۲).

په مال فئ کښې به خمس ویستلې شی یا نه؟:د قرآن کریم د آیت(واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه......)په رڼا کښې په مال غنیمت کښې خو خمس ویستلې کیږی لیکن په مال فئ کښې هم خمس شته یا نه،دا اختلافی مسئله ده.امام شافعی رحمه الله د جمهور فقهاؤ د رائې نه جدا شوې دې او دا قول ئې اختیار کړې دې چې په مال فئ کښې هم خمس شته.دا مذهب نه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د چا شته او نۀ د هغوی نه پس د یو تابعی وغیره شته،ددې وجې نه دې قول ته تفرد وئیلې کیږی،امام ابن المنذر رحمه الله فرمائی:

"انفرد الشافعی بقوله: إن فی الفئ الخمس کخمس الغنیمة،ولا یحفظ ذلك عن أحد من الصحابة ولا من بعدهم...."(۳).

۲۹۹۴ :(۴)وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ أُتِيَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَقَالَ « انْثُرُوهُ فِي الْمَسْجِدِ » فَكَانَ أَكْثَرَ مَالٍ أُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِذْ جَاءَهُ الْعَبَّاسُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعْطِنِي إِنِّي فَادَيْتُ نَفْسِي وَفَادَيْتُ عَقِيلاً . قَالَ « خُذْ » . فَحَثَا فِي ثَوْبِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ. فَقَالَ أْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ إِلَيَّ. قَالَ «لاَ». قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ «لاَ». فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ فَلَمْ يَرْفَعْهُ. فَقَالَ أْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ عَلَيَّ. قَالَ «لاَ». قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ « لاَ ». فَنَثَرَ ثُمَّ احْتَمَلَهُ عَلَى كَاهِلِهِ ثُمَّ انْطَلَقَ، فَمَا زَالَ يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ حَتَّى خَفِيَ عَلَيْنَا عَجَبًا مِنْ حِرْصِهِ، فَمَا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَثَمَّ مِنْهَا دِرْهَمٌ. [ر: ۴۱۱]

رجال الحديث

①**ابراهيم بن طهمان**:دا امام ابراهیم بن طهمان خراسانی رحمه الله دی(۵).

---

(۱) شرح ابن بطال:۳۴۰/۵،وفتح الباری:۲۶۹/۶،ومرقاة المفاتیح:۹۸/۸)_

(۲) المغنی لابن قدامة:۳۲۰/۶_۳۲۱،کتاب الودیعة،باب قسمة الفئ......فصل،رقم (۵۰۹۲))_

(۳) فتح الباری:۲۶۹/۶،ومرقاة المفاتیح:۹۸/۸،وبدایة المجتهد:۴۰۳/۱،والجوهر النقی:۲۹۴/۶،باب الخمس فی الفئ....والمغنی:۳۱۳/۶،وشرح ابن بطال:۲۵۱/۵،واعلاء السنن:۸۷/۱۲)_

(۴) مر هذا التعلیق بهذا الاسناد فی الصلاة،باب القسمة وتعلیق......وذکر هناك من وصله)_

(۵) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب من اغتسل عریاناوحده)_

②**عبد العزيز بن صهيب**:دا عبد العزيز بن صهيب بناني بصري رحمه الله دې،د دوی حالات په كتاب الايمان،"باب حب الرسول......"كښې تير شوي دی[1].

③**انس**: دا مشهور صحابي حضرت انس بن مالک رضي الله عنه دې،د دوی تذكره په كتاب الايمان، "باب الايمان أن يحب لاخيه مايحب لنفسه"كښې تيره شوې ده[2].

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت:د حضرت انس رضي الله عنه د حديث د ترجمة الباب دريم جزء سره مناسبت واضح دې،كوم حديث كښې چې د حضرت عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه يوه واقعه ذكر كړې شوې ده،ځكه چې په ترجمه كښې دا سوال وو چې د مالِ فئ او د مالِ جزيه مستحق څوک دی؟نو بيا ددې خبرې جواب حضرت امام بخاری رحمه الله د حديث په ذريعې سره اوكړو چې په دې كښې د ټولو مسلمانانو حق دې،په دې معامله كښې د فقير او د مالدار هيڅ خصوصيت نشته،كه څۀ خصوصيت وو نو حضرت عباس رضي الله عنه ته به د مالِ فئ نه هيڅ هم نۀ ملاويدل ځكه چې هغه خو مالدار وو[3].

⑤باب: إِثْمِ مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا بِغَيْرِ جُرْمٍ

د ترجمة الباب مقصد:دلته امام بخاری رحمه الله دا فرمائيلي دی چې يو سړې ذمی يا معاهد لره قتل كړی او بغير د څۀ جرم او بغير د څۀ حق نه ذمی لره قتل كړی نو دې ډير سخت ګناهګار دې او ددۀ دا كار چې ذمی قتل كړی،په هيڅ صورت كښې به دا كار قابلِ قبول نۀ وی.

يوه اهمه فائده:د ترجمة الباب په سلسله كښې د امام بخاری رحمه الله يو عادت دا هم دې چې ترجمه مقيد راوړی او روايت مطلق راوړی،مقصد ئې داوی چې په روايت كښې د ترجمة الباب د قيد لحاظ كړې شوې دې،د روايت اطلاق مراد نۀ دې[4].ددې عادت مطابق مصنف رحمه الله دا ترجمه هم مقيد ذكر كړه او روايت مطلق دې ځكه چې په دې كښې د "بغير جرم"قيد موجود نۀ دې ليكن چونكه د شريعت د قاعدو نه دا خبره ثابته ده چې د جرم او د څۀ حق په بنياد باندې خو مسلمان قتلول هم جائز دی نو ددې وجې نه د ذمی قتلول به هم جائز وی،ددې وجې نه د باب د حديث شريف په دې الفاظو "من قتل معاهدا لم يرح......"كښې به د بغير جرم يا د بغير حق قيد خامخا ملحوظ وی ځكه چې ګناهګار به صرف په هغه صورت كښې وی چې كله قتل په ناحقه او د څۀ جرم نه بغير اوكړې شی[5].

---

[1]) كشف الباری:۲/۱۲)_
[2]) كشف الباری:۲/۴)_
[3]) فتح الباری:۶/۲۶۹)_
[4]) كشف الباری:۱/۱۷۵)_
[5]) فتح الباری:۶/۲۷۰)_

ددې نه علاوه هم دا روايت د ابو معاويه عن الحسن بن عمرو عن مجاهد د طريق نه هم روايت دې، په هغې كښې د "بغيرحق" وضاحت شته[1]، دغه شان د باب ددې حديث مزيد وضاحت د هغه روايت نه هم كيږى كوم چې د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه نه روايت دې، په هغې كښې دى: "من قتل معاهداً في غير كنهه، حرم الله عليه الجنة...." [2] "چې "چا يو ذمى بغير د څۀ حق نه قتل كړو نو الله تعالى به په هغۀ باندې جنت حرام كړى...."

۲۹۹۵:(۳) حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا مُجَاهِدٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما - عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا». [۶۵۱۶]

رجال الحديث

① **قيس بن حفص**: دا قيس بن حفص ابومحمد دارمى بصرى رحمه الله دې. د دوى حالات په كتاب العلم، "باب (وما أوتيتم من العلم.....) كښې تير شوې دى[4].

② **عبدالواحد**: دا ابوبشر عبدالواحد بن زياد بصرى رحمه الله دې، د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب الجهاد من الايمان" كښې تيره شوې ده[5].

③ **الحسن بن عمرو**: دا مشهور محدث حضرت حسن بن عمرو فُقيمى تميمى كوفى رحمه الله دې[6] دوى د حضرت مجاهد، سعيد بن جبير، حكم بن عُتيبه، ابو الزبير، منذر الثورى، محارب بن دثار، ابراهيم نخعى او د خپل ورور فضيل بن عمرو رحمه الله نه روايت نقل كوى. او د دوى نه په روايت كوونكو كښې امام سفيان ثورى، عبدالله بن المبارك، حسن بن صالح، حفص بن غياث، عبدالواحد بن زياد، ابومعاويه، ابوبكربن عياش، محمد بن فضيل او د دوى ورارهٔ عمرو بن الغفاربن عمرو رحمه الله وغيره د علم لوئې لوئې شخصيات شامل دى[7].

---

[1]) السنن الكبرى للامام البيهقى: ۱۳۳/۸، كتاب القسامة، باب اثم من قتل ذميا بغير جرم......رقم (۱۶٤۸۲)، والمصنف لابن ابى شيبة: ۳۱٤/۱٤، كتاب الديات، فى قتل المعاهد، رقم (۲۸۵۲۶))_

[2]) الحديث اخرجه ابو داود، كتاب الجهاد، باب فى الوفاء للمعاهد وحرمة ذمته، رقم (۲۷۶۰)، والنسائى، كتاب القسامة، باب تعظيم قتل المعاهد، رقم (٤۷۵۱، ٤۷۵۲))_

[3]) قوله: عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما: "الحديث، اخرجه البخارى ايضا، كتاب الديات، باب اثم من قتل ذميا بغير جرم، رقم (۶۹۱٤)، والنسائى، كتاب القسامة، باب تعظيم قتل المعاهد، رقم (٤۷۵٤)، وابن ماجه، كتاب الديات، باب من قتل معاهدا، رقم (۲۶۸۶))_

[4]) كشف البارى: ۵۲۶/٤)_

[5]) كشف البارى: ۳۰۱/۲)_

[6]) تهذيب الكمال: ۲۸۳/۶، وتهذيب التهذيب: ۳۱۰/۲، والتاريخ الكبير: ۲۹۸/۲، رقم (۲۵۳۵))_

[7]) د استاذانو او د شاگردانو دپاره اوگورئ: تهذيب الكمال: ۲۸۳/۶_۲۸٤)_

امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی چې ما د یحیی بن سعید الانصاری نه تپوس اوکړو چې په حسن بن عبید الله او حسن بن عمرو کښې تاسو ته زیات محبوب څوک دی؟وې فرمائیل چې په دواړو کښې زیات حسن بن عمرو دې"الحسن بن عمرو اثبتهما"[1].امام ابوبکر بن اثرم دامام احمد رحمه الله نه روایت کوی چې هغوی د حسن بن عمرو په باره کښې اوفرمائیل"ثقة"[2]
امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی:"ثقة،حجة"[3].
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی:"لاباس به،صالح"[4]
دغه شان علامه ذهبی،حافظ ابن حجر،امام ابن حبان،امام نسائی او علامه عجلی رحمهم الله هم د دوی توثیق کړې دې[5].امام سفیان ثوری رحمه الله هم ددې حسن بن عمرو نه نقل کړې دی چې زما پلار عمرو زهٔ د حضرت سعید بن جبیر رحمه الله په خدمت کښې حاضر کړم،هغه وخت زهٔ ډیر وړوکېووم او قرآن کریم مې وئیلې وو،کله چې حضرت سعید بن جبیر رحمه الله زما قرآن دانی اولیده نو زما والدصاحب ته ئې اوفرمائیل:"تعلم من مثل هذا القرآن"[6]. چې" دداسې کس نه تاسو هم قرآن کریم زده کړئ"!!!
حسن بن عمرو مزید فرمائی چې ابراهیم نخعی رحمه الله د وفات په وخت دا وصیت کړې وو چې ددهٔ کپړې ماته راکړئ[7].دوی د عباسی خلیفه ابوجعفرالمنصور د خلافت په اول وختونو کښې۱۴۲هجری کښې په کوفه کښې وفات شو[8].د امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام ابوداؤد، نسائی او ابن ماجه رحمهم الله هم د دوی نه روایات اخستلې دی[9].دغه شان په صحیح بخاری کښې ددوی ذکر صرف په دوو ځایونو کښې راغلې دې،یو خو ددې باب په حدیث کښې،کوم چې په دې طریق سره په کتاب الدیات[10]کښې هم راغلې دې.

---

[1]) پورته حواله:۶/ ۲۸٤،والجرح التعدیل:۳/ ۲۹،رقم (۱۰۷))_
[2]) پورته حواله جات)_
[3]) تهذیب الکمال:۶/ ۲۸۵،والجرح والتعدیل:۳/ ۲۹،رقم (۱۰۷))_
[4]) پورته حواله جات)_
[5]) الکاشف للذهبی:۱/ ۳۲۸،والتقریب لابن حجر:۱/ ۲۰۷،رقم (۱۲۷۱)،وتهذیب التهذیب:۲/ ۳۱۰، وتعلیقات تهذیب الکمال:۶/ ۲۸۵)_
[6]) الطبقات لابن سعد:۶/ ۳٤۱،وتهذیب الکمال:۶/ ۲۸۵)_
[7]) الطبقات الکبری:۶/ ۳٤۱)_
[8]) پورته حواله،وتهذیب الکمال:۶/ ۲۸۵)_
[9]) تهذیب الکمال:۶/ ۲۸۵)_
[10]) صحیح بخاری،کتاب الدیات،باب اثم من قتل ذمیا.....رقم (٦٩١٤))_

دویم په کتاب الادب[1] کښې[2]. رحمه الله تعالیٰ رحمة واسعة

③**مجاهد** دا شیخ القراء حضرت مجاهد بن جبرمکی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب العلم، "باب الفهم فی العلم" کښې راغلې ده.[3].

⑤**عبدالله بن عمرو**: دا مشهور صحابی حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما دې.د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب المسلم من سلم المسلمون....." کښې تیر شوې دی.[4].

د حدیث شریف سند سره متعلق یو اهم بحث: ددې حدیث د سند په باره کښې په امام بخاری رحمه الله باندې دا اعتراض کړې شوې دې چې دا حدیث منقطع دې.ځکه چې د حضرت مجاهد سماع د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه ثابته نهٔ ده،

لکه علامه بردیجی رحمه الله په خپل کتاب "المتصل والمرسل" کښې لیکی:

"**مجاهد عن ابن عمرو، ولم یسمع منه**"[5].

ددې نه علاوه امام دارقطنی رحمه الله د امام بخاری رحمه الله طریق رد کولو سره وائی چې د: "**مروان بن معاویة عن الحسن بن عمرو عن مجاهد عن جنادة بن أبی أمیة عن عبدالله بن عمرو**"[6].طریق زیات صحیح دې ځکه چې په دې کښې د حضرت مجاهد او د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما مینځ کښې د یو واسطې یعنی د جناده اضافه ده نو په دې سره به انقطاع(د حدیث منقطع کیدل)ختم شی او حدیث به متصل شی.[7].

لیکن ددې حضراتو دا خبره د څو وجوهاتو د وجې نه صحیح نهٔ ده:

①د امام مجاهد رحمه الله سماع د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه ثابته ده.او دې مدلّس هم نهٔ دې چې د تدلیس الزام پرې اولګولې شی.

②په دواړو طُرُقو کښې تطبیق هم ممکن دې چې امام مجاهد دا روایت اول د جناده نه اوریدلې وی،بیا چې کله د هغوی ملاقات حضرت عبدالله بن عمرو سره اوشو نو د هغوی نه

---

[1]) انظر صحیح بخاری،کتاب الادب،باب لیس الواصل بالمکافیء،رقم (٥٩٩١))_

[2]) فتح الباری:٢٧٠/٦،وعمدة القاری:٨٨/١٥)_

[3]) کشف الباری:٣٠٧/٣)_

[4]) کشف الباری:٦٧٩/١)_

[5]) عمدة القاری:٨٨/١٥)_

[6]) اخرجه النسائی فی الصغری،کتاب القسامة،باب تعظیم قتل المعاهد،رقم (٤٧٥٤)، والکبری: ٢٢١/٤،کتاب القسامة،تعظیم قتل المعاهد،رقم (٦٩٥٢)،وکتاب السیر:٢٢٥/٥.....رقم (٨٧٤٢)،واحمد فی مسنده:٦٤٦/٢،مسند عبدالله بن عمرو......رقم (٦٧٤٥)،والبیهقی فی الکبری:١٣٣/٨،رقم (١٢٤٨٣)، و:٢٠٥/٩،رقم (١٨٧٣٣))_

[7]) هدی الساری:٥٢٦،وعمدة القاری:٨٨/١٥،وایضا انظر تحفة الاشراف:٢٨٥/٦،و٣٧٧)_

ئې هم اوریدلې وی یا دواړو په یو وخت د حضرت عبدالله نه اوریدلې وی، ددې نه پس چې کله حضرت مجاهد دا روایت بیانوی نو کله د حضرت عبدالله بن عمرو نه نقل کوی او کله د جناده نه[1].

③حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې د عبدالواحد په مقابله کښې مروان اګرچه اثبت دې او هغوی په سند کښې د یو راوی اضافه هم نقل کړې ده لیکن د عبدالواحد تابعدار موجود دی لکه ابومعاویه ئې تابعداری کړې ده، ابن ماجه دا په خپل طریق سره روایت کړې دې[2]. دغه شان عمرو بن عبدالغفار فقیمی هم د دوی تابعداری کوی، کوم چې امام اسماعیلی نقل کړې دې نو په ظاهره د عبدالواحد روایت راجح دې[3].

د اُصیلی یو تسامح: د صحیح بخاری د ټولو نُسخو په دې خبره باندې اتفاق دې چې د باب حدیث په "مسند عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما" کښې دی لیکن اصیلی رحمه الله د "الجرجانی عن الفربری" د طریق نه "عبدالله بن عُمر" (بضم العین، بغیر واو) نقل کړې دې، او دا تصحیف دې، ددې نشاندهی جیانی رحمه الله کړې ده[4].

قوله: عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: "من قتل معاهداً لم یرح رائحة الجنة": حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چې نبی علیه السلام اوفرمائیل چې کوم کس یو ذمی قتل کړو نو هغه به د جنت خوشبو اونهٔ مومی.

د "یرح" معنی او ضبط: دلته فعل د "یرح" د لم جازمه د وجې نه مجزوم دې، ددې په ضبط کښې درې اقوال دی:

①ابوعبید رحمه الله فرمائی چې دا د راحه یَراحه روحاً نه دې.

②ابن التین رحمه الله فرمائی چې دا د أراحه یُریحه إراحة نه دې، مزید فرمائی چې اولنې ضبط غوره دې او هم دا قول د اکثرو دې.

③ ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چې دا د راحَه یَریحه نه دې.

او په درې واړو صورتونو کښې معنی یو ده، علامه جوهری رحمه الله فرمائی چې ددې معنی ده بُوئی موندل، "راح الشئ یراحه ویریحه: إذا وجد ریحه"[5].

---

[1]) پورته حوالهوفتح الباری:۶/ ۲۷۰، وتعلیقات الشیخ محمد عوّامة علی المصنف:۱۴/ ۳۱۴)_

[2]) رواه ابن ماجه فی کتاب الدیات، باب من قتل معاهدا، رقم (۲۶۸۶))_

[3]) هدی الساری:۵۲۶، وفتح الباری:۶/ ۲۷۰)_

[4]) فتح الباری:۶/ ۲۷۰، وعمدة القاری:۱۵/ ۸۸)_

[5]) پورته حواله جات، وارشاد الساری:۲۳۵/۵، وشرح ابن بطال:۸/ ۵۶۴، وشرح الکرمانی:۱۳/ ۱۳۲، والصحاح للجوهری:۴۳۶، مادة: روح")_

قوله: وإن ریحها توجد من مسیرة أربعین عاماً: او د جنت خوشبو خو د څلويښت کالو په مسافت کښې محسوسيږي.
د باب د حديث شريف مطلب دادې چې د جنت خوشبو چې دومره تيزه ده چې که يو سړې څلويښت کاله فاصله او مسافت کښې لرې وی نو هغه ئې هم محسوسولې شي ليکن د ذمی د قتل دا سزا ده چې قاتل به د داسې خوشبوئې نه هم محروم وی کومه خوشبو چې د څلويښتو کالو په مسافت هم محسوسيږي، جنت ته داخليدل خو لرې خبره ده. ددې مقصد وعيد دې چې جنت ته اول کوم خلق داخليږي نو هغوی سره به دې نهٔ داخليږي، د خپلې سزا خوړلو نه پس به داخليږي. يا دا چې الله تعالى ئې په خپل خاص رحمت سره معاف کړي. بهرحال د ذمی د قتل نه پرهيز ضروری دې او دا قتل د څهٔ حق او د څهٔ جرم نه بغير بالکل جائز نهٔ دې.(١).
يا د باب په حديث کښې چې کومه سزا بيان کړې شوې ده نو دا د مستحل سزا ده، يعنی کوم کس چې د څهٔ حق نه بغير د ذمی قتل لره جائز او حلال اوګڼړی نو د هغهٔ به دا سزا وی.
په حديث کښې په مذکوره عدد کښې د راويانو اختلاف او ددې د اعداد توجيه: د جنت خوشبو به څومره مسافت او فاصلې سره محسوسيږي، په دې کښې مختلف روايات دی، د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روايت کښې اکثرو راويانو "أربعين عاماً" نقل کړې دې، او د عمرو بن عبدالغفار په روايت کښې د "سبعين" لفظ راغلې دې د کوم روايت تخريج چې اسماعيلی کړې دې، د حضرت ابوهريره رضی الله عنه (٢) او د حضرت ابوبکره (٣) په حديثونو کښې هم د "سبعين" لفظ راغلې دې او د مؤطا اود مسلم شريف (٤) په روايت کښې، چې راوی ئې حضرت ابوهريره رضی الله عنه دې، کښې د خمسمائة سنة الفاظ راغلې دی يعنی پنځهٔ سوه کاله.
د عدد ددې اختلاف مشهوره توجيه هم هغه ده کومه چې محدثين او شارحين حضرات په

(١) شرح ابن بطال: ٣٤١/٥، وعمدة القاری: ٨٩/١٥، وارشاد الساری: ٢٣٥/٥)_
(٢) انظر الجامع للترمذی، کتاب الديات، باب فيمن يقاتل نفسا.....رقم (١٤٠٣)، ومسند ابی يعلی: ٤٦٧/٥، مسند ابی هريرة، رقم (٦٤٢١)، والسمتدرک: ١٣٨/٢، کتاب الجهاد، رقم (٢٥٨١)، وشرح السنه: ٢٧٦/٥، کتاب القصاص، باب اثم من قتل معاهدا، وجامع الاصول: ٦٥١/٢، کتاب الجهاد، رقم (١١٣٨)، وجمع الجوامع: ٣١٠/٣، حرف الهمزة، رقم (٩٠٤١))_
(٣) شرح السنة: ٣٧٦/٥، کتاب القصاص، رقم (٢٥١٦)، ومسند الامام البزار: ٩١٠٢/٢، حديث ابی بکرة، رقم (٣٦٤٠)، ومسند احمد، رقم (٢٠٧٤٣)، و(٢٠٧٨٩)، مسند ابی بکرة نفيع، و موارد الظمآن ٣٦٨، رقم (١٥٣٠_١٥٣١)، والسمتدرک: ١٣٧/٢، رقم (٢٥٧٩)، وسنن البيهقی الکبری: ٢٢٩/٨_٣٣٠، رقم (١٦٤٨٤))_
(٤) الحديث اخرجه مسلم فی کتاب اللباس والزينة، باب النساء الکاسيات العاريات، رقم (٥٥٨٢)، و(٧١٩٤). الا ان العدد المعين غير مذکور فيه، ومالک فی المؤطا: ٩١٣/٢، کتاب اللباس، باب مايکره للنساء لبسه من الثياب، رقم (٧))_

داسې مقاماتو کښې ذکر کوی چې د حدیث مراد د مسافت او د فاصلې لرې والې دې چې د جنت خوشبو د ډیر لرې وخت نه محسوسیږی،نو د مسافت دا لرې والې په مختلفو عددونو سره تعبیر کړې شو،کله څلویښت کالو سره،کله اویا او کله د پنځو سوو کالو ذکر او کړې شو[1]
ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت بالکل واضح دې، ترجمة الباب ذمی لره د څۀ حق او جرم نه بغیر د قتل کولو په بدئ کښې وه،په حدیث کښې هم ددې جرم سزا بیان کړې شوې ده چې د داسې مجرم به سخته سزا وی[2].ددې نه ددې خبرې اندازه لګولې شی چې په اسلام کښې د ذمی هم څومره قدرې حقوق دی چې یو مسلمان ددې خبرې نه ویرولې کیږی چې ذمی ته څۀ قسم تکلیف اونۀ رسولې شی.

⑥باب: إِخْرَاجِ الْيَهُودِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد خو دلته واضح دې،دا وئیل غواړی چې یهودیانو ته په جزیرة العرب کښې د اوسیدلو اجازت نشته،یهودیان به ددې ځائې نه ویستلې کیږی[3].
د جزیرة العرب تعریف او په دې کښې د کفارو د اقامت حکم: هیڅ یو کافر ته هم په جزیرة العرب کښې د اقامت اختیارولو او جزیرة العرب لره د وطن جوړولو اجازت نشته،په دې باندې د څلورو واړو امامانو رحمهم الله اتفاق دې،البته د دوی په دې خبره کښې اختلاف دې چې ددې حکم اطلاق په کومو کومو علاقو یا په کومو کومو ښارونو باندې کیږی؟
①لکه د امام شافعی رحمه الله په نزد دا حکم(چې کفار په جزیرة العرب کښې اقامت اختیارولې نۀ شی) صرف د حجاز[4] سره خاص دې،چې په دې کښې مکه مکرمه،مدینه منوره، خیبر، ینبع،فدک.یمامه او دې سره خوا کښې چې څومره علاقې دی دا ټولې په کښې داخل دی[5]
②د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نزد دا حکم ټول جزیرة العرب ته شامل دې یعنی د عدن ابین د آخری حد نه د عراق د کلو پورې په اوږدوالی سره او جده او ددې د مضافاتو نه تر د شام د کنارو په پلنوالی سره،قاله الاصمعی رحمه الله[6].
یو اهم خبرداری: دلته ددې خبرې وضاحت هم پکار دې چې د کفارو د اقامت کوم ممانعت دې نو دا د دریو ورځو نه زیات وخت دپاره دې،که د دریو ورځو نه کم اقامت اختیار کړی، مثلاً د تجارت وغیره په غرض سره پاتې شی نو بیا ورته اجازت دې،لیکن د وخت د حاکم

---

1) الاوجز:(١٧١/١٦)_
2) عمدة القاری:(٨٨/١٥)_
3) عمدة القاری:(٨٩/١٥)_
4) وانما سمی حجازا:لانه حجز بین تهامه ونجد".انظر المغنی:/٩٢٨٦،واعلاء السنن:(٥٢٣/١٢)_
5) المغنی:/٩٢٨٥٦،والاوجز:٦٤٩/١٥،وشرح النووی علی مسلم:١٥/٢،اول کتاب المساقاة.....)_
6) فتح القدیر:٣٠١/٥،والاوجز:٦٥٥/١٥،والمغنی:/٩٢٨٥،رقم (٧٦٦٩))_

اجازت به ضروري وي. البته د امام شافعي رحمه الله په نزد دديٰ رعايت نه مکه مکرمه او ددې حرم مستثنیٰ دې، په مکه مکرمه کښې هيڅ يو کافر ته نهٔ د داخليدو اجازت شته او نهٔ ورته د چا د داخلولو اجازت شته، که يو سړې خفيه طور سره(پټ) داخل شي نو دې به ترينه ويستلې شي، که دې دوران کښې مړ شو او دفن هم شو ليکن وروستو معلومه شوه نو په دې شرط که چرته لاش ئې خراب شوې نهٔ وي، نو دده قبر به پرانستلې شي او د حرم نه بهر به اوغورځولې شي، ددې وجې نه دا د حرم شريف خصوصيت دې چې دلته هيڅ يو کافر نهٔ شي داخليدلې(١).

د فريقينو دليلونه: په پورتنۍ مسئله کښې فريقين ددې ټولو روايتونو نه دليل نيسي. په کومو روايتونو کښې چې د مشرکينو او د يهوديانو، نصارو د جزيرة العرب نه د ويستلو حکم شوې دې، مثلاً: "اخرجوا المشرکين من جزيرة العرب"(٢) يا "لا يجتمع دينان فی جزيرة العرب"(٣) **وغيرهما من الروايات.**

البته د جزيرة العرب په اطلاق کښې چونکه ددې حضراتو اختلاف دې، امام شافعي او امام احمد رحمهما الله ئې حجاز سره خاص کوي، ددې وجې نه دا حضرات د پورتنی احاديثو په کلماتو "جزيرة العرب" باندې د "العام اريد به الخاص" اطلاق کوي او ددې نه "حجاز" مراد اخلي(٤) دغه شان په يو روايت کښې د "جزيرة العرب" په ځائې "الحجاز" راغلې دې. لکه د حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي عليه السلام د وفات نه مخکښې چې کوم آخرى کلام فرمائيلې وو، نو هغه دا وو چې "اخرجوا اليهود من الحجاز"(٥).

او امام ابوحنيفه او امام مالک رحمهما الله دا ټول روايتونه په خپل عموم باندې حمل کوي او

---

(١) فتح الباري:٦/١٧١، رقم (٣٠٥٣)، والدر المختار:٣/٣٠١، کتاب الجهاد، فصل فی الجزية. والاوجز: ١٥/ ٦٥٠، والمغنی:/٩٢٨٦، وحاشية الدسوقی مع الشرح الکبير للدر دير:٢/٥١٩_٥٢٠، فصل عقد الجزية)_

(٢) الحديث اخرجه البخاري فی نفس هذا الباب، وفی مواضع من صحيحة، ومسلم فی صحيحة، کتاب الوصية، باب ترک الوصية لمن ليس له شئ.....رقم(٤٢٠١)، ولم يخرجه غير الشيخين، من رواية ابن عباس رضي الله عنهما)

(٣) انظر المؤطا للامام مالک بن انس:٢/٨٩٢_٨٩٣، کتاب الجامع، باب فی اجلاء اليهود من المدينة. (١٧_١٩)، وابن ابی شيبة:١٧/٥١٥، رقم (٣٣٦٦٣)، وايضا برقم (٢٩٦١٧))_

(٤) شرح الکرمانی:١٣/١٣٢، وعمدة القاري:١٥/٨٩)_

(٥) الحديث اخرجه ابن ابی شيبة:١٧/٥١٥، کتاب السير، لا يجتمع اليهود والنصاری......رقم (٣٣٦٦٢). وابن ابی عاصم، الآحاد والمثانی:٤٠، رقم الترجمة(١٠)، واحمد فی مسنده:١/٥٢٠، و٥٢٣، مسند ابی عبيدة بن الجراح......رقم (١٦٩١)، وايضا(١٦٩٩)، والطيالسی فی مسنده:١/١٢٣، رقم (٢٢٦)، والحميدی فی مسنده: ١/٤٦. رقم (٨٥)، والبخاري فی التاريخ الکبير:٤/٥٧، رقم (١٩٥٠)، باب السين، والدارمی فی سننه: ٢/٣٠٥_٣٠٦. کتاب الجهاد، باب اخراج المشرکين.....رقم (٢٤٩٨)، وابو يعلی فی مسنده:١/٣٥٩، رقم (٨٦٩). والبيهقی فی الکبری:/٩٣٥٠، کتاب الجزية، باب لا يسکن الحجاز......رقم (١٨٧٤٩))_

دا فرمائی چې دا حکم ټول جزیرة العرب ته شامل دې، چې په دې کښې عراق، شام، جده او عدن وغیره ټول شامل دی[1]. د احنافو او د مالکیه د امامانو استدلال هم د حضرت ابوعبیده رضي الله عنه د پورتنی روایت نه دې، فرمائی چې نبی کریم ﷺ دا هم فرمائیلې وو: "واخرجوا أهل نجران من جزيرة العرب"[2] لکه هم په دې فرمان نبوی ﷺ باندې عمل کولو سره وروستو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په خپل دور کښې اهل نجران د دې ځائې نه بهر ویستلې وو.

ابن قدامه رحمه الله د احنافو پورتنې دلیل رد کوی او فرمائی چې حضرت عمر رضي الله عنه د نجران نصاری د دې وجې نه بهر نۀ وو ویستلې چې هغوی په جزیرة العرب کښې اوسیدل، بلکه د دې وجه دا وه چې هغوی سره نبی علیه السلام صلح په دې شرط باندې کړې وه چې هغوی به سودی لین دین نۀ کوی، لیکن هرکله چې هغوی دا وعده پوره نۀ کړه نو حضرت عمر رضي الله عنه د دې وعدې د نۀ پوره کولو د وجې نه هغوی د نجران نه بهر اوویستل[3].

علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی چې په ظاهره باندې د ابن قدامه دا دعوی صحیح نۀ ده، بلکه د حضرت عمر رضي الله عنه دا مذکوره کار د نبی علیه السلام د وصیت د پوره کولو دپاره وو، لکه د امام مالک رحمه الله په مؤطا کښې کلام، د علامه سرخسی وضاحت او د علامه ابوعبید قول په دې باندې دلالت کوی[4] او هم دا د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله نه هم نقل دی، علامه بلاذُری د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمهما الله نه نقل کوی چې:

"أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال في مرضه: "لا يبقين دينان في أرض العرب" فلما استخلف عمربن الخطاب رضي الله عنه أجلى أهل نجران إلى النجرانية، واشترى عقاراتهم وأموالهم"[5] په خپله هم د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله عمل هم دا نقل کړې شوې دې چې کله هغوی خلیفه جوړ شو نو هغوی ذمیان د مدینې منورې نه بهر اوویستل او د هغوی غلامان وغیره ئې په مسلمانانو باندې خرخ کړل. اوګورئ، المصنف:۱۷/۵۱۶، رقم(۳۳۶۶۵)......

د دې وجې نه راجحه خبره داده چې حضرت عمر رضي الله عنه د نجران کوم نصاری جلاوطن کړې

---

[1]) وفي الدر المختار: ويمنعون من استيطان مكة والمدينه؛لانهما من ارض العرب.وقال عليه السلام: لا يجتمع في ارض العرب دينان" قال ابن عابدين رحمه الله: قوله: لانهما من ارض العرب" افاد ان الحكم غير مقصور على مكة والمدينه؛بل جزيرة العرب كلها كذلك" الفتاوى الشامية:۳/۳۰۱،مع الدر،فصل في الجزية،من كتاب الجهاد،وايضا انظر فتح القدير:۵/۳۰۱،والهداية:۴/۲۹۶_۲۹۷)_

[2]) ابن ابي شيبه في مصنفه:۱۷/۵۱۵،كتاب السير،رقم (۳۳۶۶۲)،والدارمي في سننه:۲/۳۰۶،رقم (۲۴۹۸)،وابن ابي عاصم في الآحاد والمثاني:۴۰،واحمد في المسند:۱/۵۲۰،رقم (۱۶۹۱)،والبيهقي في الكبرى:/۹۳۵۰،رقم (۱۸۷۴۹)،وابو يعلى في مسنده:۱/۳۵۹،رقم (۸۶۹))_

[3]) المغني:/۹۲۸۶)_

[4]) انظر المؤطا:۲/۸۹۳،كتاب الجامع،باب في اجلاء اليهود من المدينة،رقم (۱۹))_

[5]) فتوح البلدان۷۷_۷۸،صلح نجران)_

وو، د هغې وجه هم دا وصيت وو، دې سره سره د هغوى د سودخورئ معامله هم وه، دغه شان هغوى د جنګ سامان يعنى اسونه او اسلحه وغيره هم تياره کړې وه، چې ددې وجې نه د هغوى له طرفه حضرت عمر رضي الله عنه ته مختلف خطرات پيښ وو چې دوى چرته مسلمانانو ته نقصان اونهٔ رسوى، ددې خطراتو د وجې نه هغوى اهلِ نجران د يمن نه اوويستل او د عراق طرفته ئې منتقل کړل.(١). والله أعلم بالصواب

د علامه طبرى رحمه الله خاص رائې: ددې مسئلې په باره کښې د علامه ابن جرير الطبرى رحمه الله رائې دا ده چې مذکوره حکم جزيرة العرب سره خاص نهٔ دې، بلکه کومه علاقه چې هم د مسلمانانو وى او د مسلمانانو غلبه وى نو داسې علاقه کښې به يومشرک ته هم د اوسيدلو، د اقامت اختيارولو او د وطن جوړولو اجازت بالکل نهٔ وى، خواه دغه د مسلمانانو مفتوحه علاقه وى يا ددغه علاقې اوسيدونکى مسلمانان شوې وى، په دې شرط چې مسلمانانو ته ددې مشرکانو ضرورت نهٔ وى يا امام المسلمين دې مشرکانو سره د صلحې کولو په وخت دا وعده نهٔ وى کړې چې تاسو به ددې علاقې نه مونږ نهٔ اوباسو، نو که د دواړو ډلو مينځ کښې څهٔ داسې شرط مقرر شوې نهٔ وى نو د وخت په امام باندې به د داسې علاقې نه د مشرکانو ويستل واجب وى......

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى: "قال الطبرى: فيه من الفقه ان النبى صلى الله عليه وسلم بين لائمة المؤمنين اخراج كل من دان بغير دين الاسلام من كل بلدة للمسلمين؛ سواء كانت تلك البلدة من البلاد التى اسلم عليها اهلها، او من بلاد العنوة، اذالم يكن بالمسلمين ضرورة اليهم، ولم يكن الاسلام يومئذ ظهر فى غير جزيرة العرب ظهور قهر، فبان بذلك ان سبيل كل بلدة قهر فيها المسلمون اهل الكفر، ولم يكن تقدم قبل ذلك من امام المسلمين لهم عقد صلح على اقرارهم فيها ان على الامام اخراجهم منها، ومنعهم القرار بها....."(٢).

البته ابن جرير طبرى رحمه الله په دې خپل قول کښې متفرد معلوميږى، ليکن په دې کښې هيڅ شک نشته چې که په دې باندې عمل کړې شوې وو نو نن به ډيرې داسې علاقې وې چې هلته به د کفر خاتمه بالکليه شوې وه او دا په موجوده او سابقه مسلمان رياستونو کښې چې کوم د غيرمسلمو تسلط دې نو دا به نهٔ وو.

په حرم مکى او په نورو مساجدو کښې د کفارو داخله: پورته عبارت کښې چې دا کومه مسئله بيان کړې شوه نو دا د کفارو او د مشرکانو په جزيرة العرب کښې د اقامت اختيارولو سره متعلق وه، اوس دلته يوه بله مسئله داده چې کفار په حرمِ مکى، مسجدِ حرام او په نورو

---

(١) اعلاء السنن: ١٢/ ٥٢٤. قال صاحب البدائع: انظر البدائع: ٧/ ١١٤، كتاب السير، قبيل فصل فى احكام الغنائم.....) واما ارض العرب فلا يترك فيها كنسة ولا بيعة، ولا يباع فيها الخمر والخنزير، مصرا كان او قرية او ماء من مياه العرب، ويمنع المشركون ان يتخذوا ارض العرب مسكنا و وطنا، كذا ذكره محمد؛ تفضيلا لارض العرب على غيرها، وتطهيرا لها عن الدين الباطل، قال عليه اسلام: لا يجتمع دينان فى جزيرة العرب")

(٢) شرح ابن بطال: ٥/ ٣٤٢، وفتح البارى: ٦/ ٢٧٢، وعمدة القارى: ١٥/ ٩٠)_

مساجدو كښې داخليدې شى يا نهٔ؟

په دې مسئله كښې هم اختلاف دې، جمهور علماء ددې خبرې قائل دى چې كفار په حرم مكى، مسجد حرام وغيره كښې داخليدې نهٔ شى. البته دا حضرات په حرم، مسجد حرام او په نورو مساجدو كښې دا فرق هم بيانوى چې په اول الذكر (حرم، مسجد حرام وغير) كښې خو څوک داخليدې نهٔ شى، د وخت په امام باندې د دوى منع كول واجب دى. او په نورو مساجدو كښې دوى د مسلمانانو په اجازت او مرضئ باندې داخليدې شى، ددې نه بغير داخليدې نهٔ شى[1]. او د امام ابوحنيفه رحمه الله مشهور قول د جواز دې چې كفار په دې ټولو مقاماتو كښې داخليدې شى[2].

د جمهورو دليلونه: ① د الله تعالى ارشاد دې: ﴿يا أيها الذين آمنوا إنما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هذا﴾[3].

په آيت كريمه كښې د "المسجد الحرام" نه پوره حرم مراد دې[4]. او ددې نه هم دا معلوميږى چې كفارو ته په حرم مكى او په مسجد حرام كښې د داخليدو اجازت نشته، د نبى عليه السلام د دور نه تر نن وخته پورې هم په دې باندې عمل راروان دې.

② حضرت ابوموسى اشعرى رضى الله عنه يو ځل حضرت عمرفاروق رضى الله عنه ته تشريف راوړلو او په لاس كښې ئې يو خط وو، حضرت عمر اوفرمائيل چې خپل كاتب راوبله چې هغه دا خط اولولى. حضرت ابوموسى اشعرى اوفرمائيل چې هغه خو په مسجد كښې داخليدې نهٔ شى. وې فرمائيل ولې؟ حضرت ابوموسى اوفرمائيل چې هغه خو نصرانى دې. ددې واقعې نه هم دا معلومه شوه چې غيرمسلم په مسجد كښې نهٔ شى داخليدې، دغه شان دا هم چې دا خبره د هغوى په نزد مشهوره وه[5].

③ مشركينو ته نجس وئيلې شوې دې، لهذا د هغوى داخله هم دغه شان په مسجد كښې ممنوع كيدل پكار دى لكه څنګه چې جنب سړې، حائضه او نفساء ښځو دپاره ممنوع ده. بلكه د مشرک نجاست خو ددې نجاستونو نه زيات دې[6].

④ ټولو مسجدونو سره متعلق چې كوم دليل دې نو هغه د حضرت على رضى الله عنه واقعه ده، هغوى يو مجوسى اوليدهٔ چې د مسجد په منبر باندې ناست وو، هغه د هغه ځائې نه راكوز كړې شو

---

[1]) انظر المغنى: ۹۲۸۷/، والام: ۵۴/۱، باب ممر الجنب والمشرک......من كتاب الطهارة، و: ۱۷۷/۴، كتاب السير، مسالة اعطاء الجزية على سكنى بلد.......والاوجز: ۱۵۶۵۰_۶۵۲)_

[2]) المغنى: ۹۲۸۷/، واعلاء السنن: ۵۲۹/۱۲، واحكام القرآن: ۱۱۴/۳)_

[3]) التوبة: ۲۸/)_

[4]) المغنى: ۹۲۸۶/، واحكام القرآن: ۸۹/۳، والاوجز: ۶۵۰/۱۵، واعلاء السنن: ۵۲۹/۱۲)_

[5]) المغنى: ۹۲۸۷/، والاوجز: ۶۵۲/۱۵)_

[6]) پورته حواله جات)_

او حضرت اووهلو او د ابواب كنده په طرف ئې بهر اوويستلو [١].ددې واقعې نه د مسجد دخول مشروط كيدل معلوم شو چې اجازت په هرحال كښې ضروري دي

د امام اعظم رحمه الله دليلونه: ① نبى كريم ﷺ د ثقيف وفد په خپل مسجد كښې حصار كړې وو، حالانكه هغوى كافران وو او مساجد ټول برابر او يوشان دى،ددې وجې په مسجدحرام كښې كافر داخليدې شى [٢].

② دغه شان نبى عليه السلام حضرت ثمامه ابن اثال رضي الله عنه د شرك په حالت كښې په مسجد نبوى كښې حصار كړې وو [٣].

③ حضرت ابوسفيان بن حرب رضي الله عنه به هم د اسلام د قبلولو نه مخكښې مسجد نبوى ته صلحې دپاره تلو راتلو [٤].

د احنافو د مذهب تحقيق: دلته د علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله د قول مطابق احنافو ته د امام اعظم رحمه الله په قول باندې په پوهيدلو كښې مغالطه شوې ده.په دې بنياد باندې اكثر د مذهب نقل كوونكو دا نقل كړې دى چې امام اعظم رحمه الله ددې خبرې قائل دى چې كافر ته په مسجدحرام،حرم مكى او نورو مساجدو كښې د داخليدو مطلقاً اجازت دې [٥].

ليكن د امام اعظم او په نورو علماء احنافو كښې د چا هم دا مذهب نهٔ دې بلكه دوى ټول دا خبره د وخت د امام او د ښار د حكم په اجازت باندې موقوف ښائى چې كه د دوى اجازت وى نو داخليدې شى ورنه نهٔ شى داخليدې.دغه شان د مذهب د نورو امامانو سره چې د احنافو كوم اختلاف دې،د هغې بنياد هم دادې چې جمهور د منع كولو د وجوب قائل دى چې په امام باندې دا لازم دى چې كفارو لره په حرم كښې د داخليدو نه منع كړى.او امام ابوحنيفه رحمه الله د عدم وجوب قائل دې چې منع كول او كفارو لره په حرم كښې د داخليدو نه منع كول واجب نهٔ دى.د وخت امام چې څنګه مصلحت او مناسب ګڼرى هغه شان دې اختيار كړى،علامه آلوسى رحمه الله د مذهبونو د اختلاف د نقل كولو نه پس د امام اعظم رحمه الله د دليل

---

[١]) المغنى:٩٢٨٧/،والاوجز :٦٥١/١٥)_

[٢]) عن عثمان بن ابى العاص رضي الله عنه : ان وفد ثقيف لما قدموا على رسول الله ﷺ ضرب لهم قبة فى المسجد،فقالوا:يا رسول الله،قوم انجاس!فقال رسول الله ﷺ:انه ليس على الارض من انجاس الناس شئ،انما انجاس الناس على انفسهم".الفظ للجاص:١١٥/٣،التوبة:٢٨،وكذا انظر سنن ابى داود،كتاب الخراج......باب ما جاء فى خبر الطائف،رقم (٣٠٢٦)،ومسند احمد:١٤٨/٥،حديث عثمان بن ابى العاص،رقم (١٨٠٧٤)، ومسند ابى داود الطيالسى:٥٠١/١،رقم (٩٨١)،وما اسند عن عثمان.....)_

[٣]) عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: بعث النبى ﷺ خيلا قبل نجد،فجاءت برجل من بنى حنيفة،يقال له:ثمامة بن اثال،فربطوه بسارية من سوارى المسجد..... ".انظر الصحيح للبخارى،كتاب المغازى،باب وفد بنى حنيفة، وحديث ثمامة.....رقم (٤٣٧٢))_

[٤]) السير الكبير مع شرحه للسرخسى:٩٦/١/١،واعلاء السنن:٥٣٠/١٢،والاوجز:٦٥٢/١٥)_

[٥]) قال الموفق فى المغنى (٩٢٨٦/): ......وقال ابو حنيفة:لهم دخوله كالحجاز كله")_

په طور باندې دا آيت كريمه هم نقل كړې دې(اولئك ماكان لهم أن يدخلوها إلا خائفين)(١) ددې آيت نه هم دا معلوميږي چې كه كفار په حرم او زمونږ په مساجدو وغيره كښې داخليږي نو ويرې سره به داخليږي.(٢) او دا د ويرې كيفيت به هم هله حاصليږي چې كله دوى د مسلمانانو په اجازت سره داخليږي.ددې تحقيق د نقل كولو نه پس علامه عثماني رحمه الله ليكي:

"وهذا هو مذهب الحنيفة في هذا الباب، ولكنهم لا يرون المنع واجبا، فلو منعهم الامام والمسلمون عن ذلك كان حسنا، وان اذنوا لهم فيه لحاجة فلا باس به، هذا هو الحق الذي ظهر لي من كلام القوم"(٣).

علامه عثماني رحمه الله دلته ددې خبرې وضاحت كړې دې چې "هذا هو الحق".دوى ته ددې ضرورت ددې وجې نه پيښ شو چې د امام محمد رحمه الله په اقوالو كښې ظاهرى تعارض دې، په دې مسئله كښې د دوى دوه اقوال دى.لكه د دوى تصنيف "الجامع الصغير" د عبارت نه اجازت معلوميږي،فرمائى: "ولا باس بان يدخل أهل الذمة المسجد الحرام"(٤).په دې عبارت كښې د كراهت سره سره جواز طرفته اشاره ده.او د سير كبير(٥) د عبارت نه ممانعت معلوميږي،ددې تعارض دختمولو دپاره علامه عثماني رحمه الله دا پورتنى ارشادات اوفرمائيل. ځكه چې ممكن حده پورې د تعارض دفع كولو دپاره د جمع والى او د تطبيق صورت اختيارول پكار دى(٦).د علامه عثماني رحمه الله د مؤقف تائيد د امام ابوبكرجصاص رحمه الله ددې آيت كريمه(أولئك ماكان لهم أن يدخلوها إلا خائفين)(٧)د تفسير نه هم كيږي،فرمائى چې د الله تعالى ددې ارشاد مبارك خلاصه داده چې كه كفار مساجدو ته د اجازت نه بغير داخل شى نو په مسلمانانو باندې دا لازم دى چې دوى لره بهر اوباسى،كه دغه شان معامله دوى سره اونه كړې شوه نو مساجدو ته د داخليدو په وخت به كفار بې ويرې او بې خطرې شى او د شريعت مطلوب دې كفارو لره ويرول او خوفزده كول دى(٨).

---

(١) البقرة:١١٤)_

(٢) روح المعاني:٤٩٦/١،سورة البقرة/١١٤)_

(٣) اعلاء السنن:٥٣١/١٢)_

(٤) اعلاء السنن:٥٣٠/١٢،والدر المختار:٣٠١/٣،كتاب السير،فصل في الجزية،وكتاب الحظر والاباحة:٢٧٤/٥،فصل في البيع)_

(٥) عن الزهري: ان ابا سفيان بن حرب كان يدخل المسجد في الهدنة،وهو كافر،غير ان ذلك لا يحل في المسجد الحرام،قال الله تعالى:(انما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام).انظر السير الكبير:٩٦/١/١، باب دخول المشركين المسجد،رقم الباب(٢٧))_

(٦) اعلاء السنن:٥٣١/١٢)_

(٧) البقرة:١١٤)_

(٨) احكام القرآن للجصاص الرازي:٦١/١،سورة البقرة،ذكر وجوه النسخ)_

د جمهورو د دليلونو جواب: دامام اعظم رحمه الله له طرفه د جمهورو ددليل د آيت كريمه ﴿يا ايها الذين آمنوا انما المشركون نجس.....﴾ مختلف جوابونه وركړې شوې دى،لاندې هغه ذكر كولې شى:

① د بنوثقيف وفد چې د نبى عليه السلام خدمت كښې حاضر شوې وو نو دا غزوهٔ تبوک نه پس وو ،دغه وخت سورهٔ توبه هم نازل شوې وو ،ددې باوجود نبى عليه السلام دا خلق په مسجد نبوى كښې حصار كړل.نوهركله چې ددغه خلقو باطنى نجاست په مسجد نبوى كښې د حصارولو نه مانع نهٔ شو نو په حرم او په حجاز كښې حصارول به په طريقه اولى سره ممنوع نهٔ وى ځكه چې د طهارت كوم شرط دې نو هغه خو د مسجد د داخليدو دپاره دې نهٔ چې د نورو ځايونو دپاره،نو هركله چې دغه خلق د طهارت نه بغير په مسجدنبوى كښې داخل شو نو په نورو ځايونو كښې د دوى باطنى نجاست بنياد جوړول او دوى منع كول به څنګه صحيح شى.[1]

② د آيت كريمه معنى دا هم كيدې شى چې په دې كښې كومه منع او نهى راغلې ده ﴿فلا يقربوا المسجد الحرام﴾ نو ددې تعلق د مشركانو يو خاص ډلې سره دې،د كومې ډلې چې په مكه مكرمه كښې او په نورو مساجدو كښې د داخليدو نه ممانعت وو،نهٔ هغوى ذميان كيدې شو يعنى د عربو مشركان،ددې وجې نه صرف دوه صورتونه كيدې شو چې يا خو اسلام قبول كړى يا توره چې په دې سره د دوى څټونه اووهلې شى.[2]

③ په آيت كريمه كښې چې د مكې مكرمې د داخليدو نه كوم ممانعت دې نو ددې تعلق يو خاص عمل سره دې يعنى حج.او مطلب دادې چې اوس دا خلق د حج دپاره نهٔ شى راتلې، ددې وجې نه نبى عليه السلام حضرت ابوبكر صديق رضى الله عنه ته حكم كړې وو ،چې كله حج ته لاړ شئ نو يوم النحر باندې په منى كښې دا اعلان اوكړئ، "أن لا يحج بعد العام مشرك"[3] چې "ددې كال نه پس دې هيڅ يو مشرك هم حج له نهٔ راځى".

④ د آيت كريمه معنى دا هم كيدې شى چې مشركين اوس د غلبې په صورت كښې په مكه مكرمه كښې نهٔ شى داخليدې،دغه شان په مسلمانانو باندې د لويئ كولو په صورت كښې هم نهٔ شى داخليدې[4].ددې مرسته ددې آيت كريمه نه هم كيږى ﴿اولئك ما كان لهم أن يدخلوها﴾[5]

---

[1]) اعلاء السنن:١٢/٥٢٨)_

[2]) پورته حواله،واحكام القرآن:٣/١١٤،سورة التوبة،هل يجوز دخول المشرک المسجد؟)_

[3]) اعلاء السنن:١٢/٥٢٨،واحكام القرآن:١/٨٨،سورة البقرة،الحث على نظافة البدن والثياب،وقال السرخسى فى تاويل هذه الآية: الدخول على الوجه الذى كانوا اعتادوا فى الجاهلية على ما روى انهم كانوا يطوفون بالبيت عراة،والمراد القرب من حيث التدبير والقيام بعمارة المسجد الحرام......".شرح كتاب السير الكبير:١/١/٩٨،رقم (٢٧))_

[4]) الهداية:٧/٢٣٩،كتاب الكراهية،مسائل متفرقة،وعمدة القارى:١٤/٣٠٠،رقم (٣٥٠٣)،باب هل يستشفع الى اهل الذمة.....)_

[5]) البقرة:١١٤)_

نو دا معلومه شوه كه كافران ذميان وى نو دوى هلته داخليدې شى ځكه چې په دې صورت كښې به دوى مقهور او مغلوب وى او حربى كافر نۀ شى داخليدې،مگر دا چې د امام نه د امان اجازت واخلى او داخل شى نو بيا داخليدې شى(١).هر چې د جهورو دويم او څلورم دليل دې نو احناف هم ددې قائل دى چې په عامو مساجدو كښې د كافرانو داخليدل د امام يا د عامو مسلمانانو په اجازت سره مشروط دى،ددې وجې نه دا دواړه د احنافو خلاف دليل نۀ شى جوړيدې،لكه څنگه چې وړاندې تير شو.پاتې شوه دا خبره چې د شرك نجاست او پليتى د مسجد د داخليدو نه مانع ده،نو دا مونږ نۀ منو ځكه چې ددې تعلق د هغوى د باطن اود اعتقاد سره دې او دا څيز نۀ د مسجد د تقدس او پاكوالى دپاره نقصان وركونكې دې او نۀ د مسجد د ناپاكئ سبب دې(٢).والله اعلم بالصواب

د غيرمسلمو عبادت خانو ته د تلو حكم: فقهاء كرامو ليكلې دى چې د مسلمانانو دپاره د يهوديانو معبدونو،د عيسايانو كليساگانو او د هندوانو مندورونو ته تلل مكروه دى.د كراهت وجه داده چې دا ځايونه د شيطان ځايونه دى،ددې وجې نه دې ځايونو ته د تللو نه ځان ساتل پكار دى،دا مطلب بالكل نۀ دې چې دې ځايونو ته د تللو دپاره د مسلمانانو حق نشته.والله اعلم(٣).

قوله: وَقَالَ عُمَرُ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم «أُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ اللَّهُ بِهِ: [٣٣١٣]

او حضرت عمر ﷺ د نبى كريم ﷺ نه روايت كوى فرمائى چې نبى ﷺ يهوديانو ته وئيلې ووچې زۀ هغه وخته پورې تاسو دلته برقرارساتم ترڅوچې الله تعالى تاسو دلته برقرار ساتى.

د مذكوره تعليق تفصيل او مقصد: پورتنى كلمات رسول الله مبارك ﷺ د خيبر د يهوديانو دپاره ارشاد فرمائيلې وو،د خيبر د فتح كولو نه پس نبى ﷺ خپله اراده دا ښكاره كړې وه چې يهوديان ددې ځائې نه اوويستلې شى،ځكه چې اوس علاقه د مسلمانانو په ملكيت كښې راغلې وه،هر كله چې يهوديانو ته د نبى ﷺ ددې ارادې پته اولگيده نو هغوى د نبى ﷺ په خدمت كښې عرض اوكړو چې مونږ ددې ځائې نه اونۀ ويستلې شو،ددې په بدله كښې به زمونږ له طرفه عمل وى او مسلمانانو ته به نيم پيداوار وركولې شى،نبى ﷺ د دغه يهوديانو دا درخواست قبول كړو او دا وضاحت ئې هم اوفرمائيلو چې مونږ تركوم وخته پورې تاسو دلته باقى ساتل غواړو نو هغې پورې به اوسيږئ،چې كله مونږ ستاسو ويستل غواړو نو بيا به مونږ هغه وخت تاسو اوباسو،دا خبره يهوديانو اومنله،په دې خبره باندې دا معامله جارى وه،تردې چې دا خلق حضرت عمر ﷺ د خلافت په دور كښې ددې

---

(١) اعلاء السنن:١٢/٥٣٠)_

(٢) الهداية:٢٣٩/٧،كتاب الكراهية،مسائل متفرقة،والاوجز:١٥/٦٥٣)_

(٣) حاشية ابن عابدين:٥/٢٧٤،كتاب الحظر والاباحة،فصل فى البيع،والفتاوى الهندية:٥/٣٤٦،كتاب الكراهية،الباب الرابع عشر فى اهل الذمة......)_

خائي نه اوويستل او د تيماء او د اريحاء طرفته ئې اوليږل[1].

امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې د مذكوره مقصد ثابتولو او مدلل كولو دپاره دا تعليق پيش كړو چې يهوديان او نور كافران به د جزيرة العرب نه ويستلې شى.دوى ته به دلته د اوسيدو اجازت نۀ وركړې كيږى.

د مذكوره تعليق تخريج: دا تعليق امام بخاري رحمه الله په خپل "صحيح" كښې كتاب الحرث كښې موصولاً ذكر كړې دې[2].

ترجمة الباب سره د تعليق موافقت: ترجمة الباب سره د مذكوره تعليق مناسبت بالكل واضح دې ځكه چې ترجمة الباب د يهوديانو د ويستلو وه او د تعليق تعلق هم ددې سره دې. پورتنې ذكر شوې تفصيل ښۀ طريقې سره ددې خبرې وضاحت كوى.

٢٩٩٦ (٢٩٩٦)- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ خَرَجَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ». فَخَرَجْنَا حَتَّى جِئْنَا بَيْتَ الْمِدْرَاسِ فَقَالَ «أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّ الأَرْضَ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ، وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هَذِهِ الأَرْضِ، فَمَنْ يَجِدْ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ، وَإِلاَّ فَاعْلَمُوا أَنَّ الأَرْضَ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ»[3].

رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف:** دا عبدالله بن يوسف تنيسى رحمه الله دې.د دوى مختصره تذكره د "بدء الوحى" په دويم حديث كښې تيره شوې ده[4].

② **الليث:** دا امام ابوالحارث ليث بن سعد فهمى رحمه الله دې.د دوى تذكره د "بدء الوحى" په دريم حديث كښې تيره شوې ده[5].

③ **سعيد المقبرى:** دا ابو سعد سعيد بن كيسان مقبرى مدنى رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب الدين يسر......" كښې بيان شوې دى[6].

---

[1]) انظر الصحيح للبخارى،كتاب الحرث،باب اذا قال رب الارض:اقرك ما اقرك الله......رقم (٢٣٣٨))_

[2]) پورته حواله،وكذا وصله مسلم فى صحيحه،كتاب المساقاة،باب المساقاة......رقم (٣٩٦٧))_

[3]) قوله: عن ابى هريرة رضي الله عنه "الحديث،اخرجه البخارى ايضا،كتاب الاعتصام.......باب قوله تعالى:(وكان الانسان اكثر شئ جدلا) رقم (٧٣٤٨)،وكتاب الاكراه،باب فى بيع المكره ونحوه......رقم (٦٩٤٤)، ومسلم، كتاب الجهاد،باب اجلاء اليهود من الحجاز،رقم (٤٥٩١)،وابو داود،كتاب الخراج......باب كيف كان اخراج اليهود.......؟رقم (٣٠٠٣))_

[4]) كشف البارى:١/٢٨٩)_

[5]) كشف البارى:١/٣٢٤)_

[6]) كشف البارى:٢/٣٣٦)_

④أبيه:دلته د "اب" نه مراد د سعيد المقبري والدصاحب ابوسعيد كيسان بن سعيد المقبري ﷬ دې[1].

⑤ابوهريره ﷛:د حضرت ابوهريره ﷛ حالات په كتاب الايمان، "باب أمور البيان" كښې تير شوي دي[2].

قوله:قال: بينما نحن في المسجد خرج النبي صلى الله عليه وسلم، فقال: انطلقوا إلى يهود: حضرت ابوهريره ﷛ فرمائي چې مونږ(صحابه كرام)په مسجد كښې ناست وو چې نبي كريم ﷺ د خپلې حجرې نه راووتلو او وې فرمائيل،د يهوديانو طرفته لاړ شئ.

په حديث شريف كښې د يهوديانو نه څوك مراد دي؟پورتني حديث كښې دا راغلي دي چې "انطلقوا الى يهود"اوس سوال دادې چې ددې نه د يهوديانو كومه قبيله مراد ده؟ددې سوال د جواب نه وړاندې په دې باندې ځان پوهه كړئ چې كله نبي ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړلو نو دغه وخت دغه ځائې كښې د كفارو درې قسمونه وو:

①كفار محاربين،چې باقاعده به ئې د دشمنئ اعلان كوو،د جنګ دپاره راضي وو او د نبي ﷺ او د مهاجرينو د وجود برداشت كولو دپاره بالكل تيار نۀ وو.

②كفار مترددين،كوم چې ددې خبرې په انتظار كښې وو چې ګورو چې ددې مسلمانانو به څۀ انجام وي؟كه غالب شو نو مونږ به هم دوی سره شو،ورنه د خپل پلار نيكۀ په دين باندې به قائم پاتې شو.بيا د دوی هم درې قسمونه وو:يو خو هغه وو چې باطناً ئې د نبي ﷺ غلبه غوښتله،لكه بنو خزاعه،دويم هغه قسم خلق دي چې باطناً ئې د نبي ﷺ د شكست تمنا كوله لكه بنوبكر،دريم قسم هغه خلق وو چې ظاهراً خو نبي ﷺ سره وو او باطناً د نبي ﷺ د دشمنانو ملګري وو لكه منافقين.

③د مدينې منورې يهوديان،يعني بنونضير،بنوقريظه او بنوقينقاع وغيره،دوی سره د نبي ﷺ دا معاهده شوې وه چې يو بل سره به نۀ جنګ كوو او نۀ به د يو بل خلاف د يو قبيلې مدد كوو[3].ليكن چونكه د يهوديانو په فطرت كښې مكر او دهوكه بازي داخل ده،دلته هم ددې كار نه منع نۀ شو او ددې معاهدې پوره والې ئې اونۀ كړو،نو د ټولو نه مخكښې بنوقينقاع دا معاهده ماته كړه او په يهوديانو كښې د ټولو نه مخكښې هم دوی د مدينې منورې نه جلاوطن كړې شو،د دوی د جلاوطن كيدو دا واقعه د پنځلسم شوال دويمې(٢) هجرئ ده[4].د بنوقينقاع نه پس په يهوديانو كښې بنونضير وعده خلافي اوكړه،نبي ﷺ

---

[1]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،كتاب الاذان،باب وجوب القراءة للامام والماموم......)_

[2]) كشف الباري:١/٦٥٩)_

[3]) انظر فتح الباري:٧/٣٣٠،وكشف الباري،كتاب المغازي:١٧٨_١٧٩)_

[4]) كشف الباري،كتاب المغازي:١٨٢)_

دوی هم د مدینې منورې نه جلاوطن کړل او دا د څلورمې هجرئ د ابتداء واقعه ده.
بنوقریظه چونکه په غزوهٔ خندق کښې د قریشو ملګرتیا اوکړه او نبی علیه السلام سره ئې خپله معاهده ماته کړه، ددې وجې نه دوی هم په ۵ هجرئ کښې قتل کړې شو، د دوی ښځې او بچې غلامان کړې شو.(١) د یهودیانو ددې قبیلو د جلاوطن کیدو دا ټول مذکوره واقعات چې دی نو دا د غزوهٔ خیبر نه وړاندې دی او حضرت ابوهریره رضی الله عنه د خیبر د فتح کولو نه پس راغئ او اسلام ئې قبول کړو، ددې وجې نه د حدیث دا الفاظ "بینما نحن فی المسجد......إلی یهود" مشکل ثابتیږی چې دلته د یهودیانو نه څوک مراد دی؟
د علامه قرطبی رحمه الله د کلام دسیاق نه ذهن ته دا راځی چې دلته د یهودیانو نه مراد بنونضیر دی. لیکن دا جواب په هغه صورت کښې قابلِ قبول کیدې شی چې: د "بینما نحن" نه مراد "بینما المسلمون" وی، اوس به مطلب داوی چې دوی د یو زوړ امر حکایت بیانوی، چې په هغې کښې دوی په خپله شریک نهٔ وو، لیکن په اول وخت کښې چې کوم حضرات مسلمانان شوې وو نو د هغوی نه ئې ددې په باره کښې څهٔ اوریدلې وو او د هغې نه تعبیر دوی د "نحن" په صیغې د متکلم سره اوکړو.(٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې د باب په دې حدیث کښې د کومو یهودیانو تذکره اوشوه نو د دوی د نسب وضاحت ما ته چرته ملاؤ نهٔ شو چې دا څوک وو؟ ظاهره خو داده چې د بنوقینقاع، بنونضیر او بنوقریظه نه پس څهٔ یهودیان په مدینه منوره کښې پاتې شوې وو، هغوی ترینه مراد دی.(٣) لکه د باب په حدیث شریف کښې چې کومه مکالمه ذکر ده نو دا دوی سره شوې وه، دغه دوران کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه هم موجود وو، ددې مکالمې دوران کښې نبی علیه السلام د دوی د ویستلو اراده هم ښکاره کړه، دې دپاره چې جزیرة العرب د یهودیانو او د نورو کافرانو نه بالکل پاک او صفا شی.(٤) والله اعلم بالصواب

قوله: فخرجنا حتی جئنا بیت المدراس: نو مونږ اووتلو، تردې چې بیت المدراس ته راغلو.
د بیت المدراس معنی: ددې لفظ دوه معنې بیان کړې شوې دی:
① بیت المدراس هغه ځائې ته وئیلې شی چرته چې به د یهودیانو عالم (ربی) هغوی ته د مذهبی کتابونو تعلیم ورکوو.
② د مدراس نه د یهودیانو هغه عالم مراد دې، کوم چې به د هغوی کتاب لوستهٔ او هغوی ته به ئې ښودهٔ.(٥) په اولنی صورت کښې د ظرفیت او په دویم صورت کښې د فاعلیت معنی ده.

---
١) تفصیل دپاره اوګورئ، کشف الباری، کتاب المغازی: ٢٩٦)_
٢) فتح الباری: ٦/٢٧١)_
٣) بورته حواله. و ذکر الحافظ رحمه الله فیه وجوها اخری ایضا. انظرها ان شئت)_
٤) ارشاد الساری: ٥/٢٣٥)_
٥) بورته حواله. قال الحافظ فی فتح الباری (٦/٢٧١): والاول ارجح؛ لان .....

[بقیه برصفحه آئنده...

پورته ترجمه كښې اولنۍ صورت اختيار كړې شوې دې.

قال: أسلموا تسلموا، واعلموا أن الارض لله و رسوله، وإني أريد أن أجليكم من هذه الارض

نبى ﷺ اوفرمائيل، اسلام قبول كړئ، نو محفوظ او مامون به شئ، او په دې خان پوهه كړئ چې زمكه د الله تعالى او د هغهٔ د رسول ده، دغه شان دا چې زهٔ تاسو ددې زمكې (حجاز مقدس) نه جلا وطن كول غواړم.

د نبى كريم ﷺ دا ارشاد مبارك "أسلموا تسلموا" د جوامع الكلم نه دې، چې د خپل اختصار باوجود په كښې د دنيا او آخرت ټولې كاميابۍ راټولې شوې دى، دغه شان دا ارشاد مبارك د لفظى او معنوى بلاغت جامع مثال دې (١). ددې حديث په نورو طُرُقو كښې د "أسلموا تسلموا" جمله مكرر راغلې ده، چې نبى ﷺ دا خبره څو ځله ارشاد اوفرمائيله. ليكن امام بخارى رحمه الله غالباً دلته د اختصار د وجې نه صرف يو جمله ذكر كړې ده (٢).

د "واعلموا....." جمله ابتدائيه مستانفه ده او مطلب دادې چې كله نبى ﷺ دا اوفرمائيل چې "أسلموا تسلموا" نو ګويا هغوى تپوس اوكړو چې "لم قلت هذا و كررته؟" چې تاسو مونږ ته دا الفاظ ولې اووئيل او دا مو ولې تكرار كړل يعنى ولې مو بار بار اووئيل؟ ددې په جواب كښې نبى ﷺ اوفرمائيل چې په دې خبره ځان ښهٔ پوهه كړئ چې زهٔ ستاسو ويستل غواړم، كه تاسو خلقو اسلام قبول كړو نو د جلاوطن كيدو نه به بچ شئ او د نورو مشكلاتو نه به هم بچ شئ كوم مشكلات چې د جلاوطنۍ نه هم زيات سخت كيدې شى (٣).

قوله: فمن يجد منكم بماله شيئاً فليبعه : ددې وجې نه د كوم سړى په ملكيت چې څهٔ داسې څيز وى چې غيرمنقول وى نو هغه دې دلته خرڅ كړى.

د يجد مشتق منه او معنى: په حديث شريف كښې چې د "يجد" لفظ راغلې دې نو دا د وجدان نه مشتق دې يا د وجد نه مشتق دې، د وجدان معنى ده موندل او د وجد معنى ده محبت. كه د وجدان نه مشتق اومنلې شى نو په دې صورت كښې به د پورتنۍ جملې مطلب دا شى چې هغه څيزونه چې د هغې منتقل كول سخت او مشكل وى لكه اونې وغيره، يا د هغې منتقل كول ناممكن وى لكه جائيداد وغيره نو كه ددې څوك اخستونكې دلته ملاؤ شى، خرڅ ئې ممكن وى نو دا خرڅ كړئ، ګويا نبى ﷺ ددې ارشاد مبارك په ذريعې سره دغه يهوديانو ته

بقيه ازحاشيه گذشته] فى الرواية الاخرى: حتى انى المدراس...... "ولكن رده العينى رحمه الله (٨٩/١٥) حيث قال: ماثم ترجيح، لان معنى أتى المدراس اى جاء مكان دراستهم للتوراة ونحوها")_

(١) ارشاد السارى: ٢٣٥/٥)_

(٢) انظر الصحيح للبخارى، كتاب الاكراه، باب فى بيع المكره، رقم (٦٩٤٤)، وسنن ابى داود، كتاب الخراج......باب كيف كان اخراج اليهود؟ رقم (٣٠٠٣))_

(٣) عمدة القارى: ٩٠/١٥، وفتح البارى: ٢٧١/٦، وارشاد السارى: ٢٣٥/٥)_

ددې خبرې اجازت ورکړو چې که تاسو ددې څیزونو خرڅول غواړئ نو بالکل خرڅولې شئ. که د وجد نه مشتق اومنلې شی نو په دې صورت کښې به مطلب دا شی چې هغه څیزونه چې تاسو ته محبوب او خوښ دی نو هغه تاسو خرڅولې شئ[1].

قوله: وإلا فاعلموا أن الارض لله ورسوله: او که داسې نهٔ وی،خرڅ مو نهٔ کړل،نو پوهه شئ چې زمکه د الله تعالی او د هغهٔ د رسول ده.

مطلب دادې چې تاسو خپل مملوکه څیزونه خرڅولې شئ،تاسو ته اجازت دې خرڅ ئې کړئ.ورنه ددې ځائې نه وتل خو ستاسو دپاره مقدر دی،ددې وجې نه په هرحال کښې چې وی تاسو به ددې ځائې نه ویستلې شئ،د الله تعالی مشیت هم دادې چې هغه ستاسو ددې زمکو وارثان مسلمانان اوګرځوی ددې وجې نه ددې ځائې نه اوځئ[2].

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مطابقت: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه ددې حدیث شریف مطابقت ترجمة الباب سره په دې معنی کښې دې چې په دې کښې د نبی علیه السلام دا ارشاد مبارک نقل کړې شو چې نبی علیه السلام د یهودیانو د ویستلو اراده فرمائیلې وه.وجه دا وه چې نبی علیه السلام د عرب په زمکه باندې د کفارو موجودګی نهٔ خوښوله،لیکن قدرت ته دا منظوره نهٔ وه چې دا خپله اراده ئې پوره کړې وې لیکن وصیت ئې اوکړو چې غیرمسلم د جزیرة العرب نه اوباسئ،نو په دې وصیت باندې بیا وروستو حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې عمل اوکړو او باقی پاتې ټول یهودیان او کفار ئې د هغهٔ ځائې نه بهر کړل،دا د ترجمة الباب مقصود وو[3].

۲۹۹۷:([4]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ الأَحْوَلِ سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - يَقُولُ يَوْمُ الْخَمِيسِ، وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ ثُمَّ بَكَى حَتَّى بَلَّ دَمْعُهُ الْحَصَى. قُلْتُ يَا أَبَا عَبَّاسٍ، مَا يَوْمُ الْخَمِيسِ قَالَ اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَجَعُهُ فَقَالَ «ائْتُونِي بِكَتِفٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا». فَتَنَازَعُوا وَلاَ يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوا مَا لَهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ. فَقَالَ «ذَرُونِي، فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ - فَأَمَرَهُمْ بِثَلاَثٍ قَالَ - أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ». وَالثَّالِثَةُ خَيْرٌ، إِمَّا أَنْ سَكَتَ عَنْهَا، وَإِمَّا أَنْ قَالَهَا فَنَسِيتُهَا. قَالَ سُفْيَانُ هَذَا مِنْ قَوْلِ سُلَيْمَانَ. [ر: ۱۱۴]

---

[1]) پورته حواله جات)_

[2]) عمدة القاری:۹۰/۱۵،وارشاد الساری:۲۳۵/۵،وشرح الکرمانی:۱۳۳/۱۳)_

[3]) هذا خلاصة ما ذکره العینی فی العمدة:۸۹/۱۵،وایضا انظر ارشاد الساری:۲۳۵/۵،وشرح ابن بطال:۳۴۱/۵_۳۴۲)

[4]) قوله: ابن عباس رضی الله عنه: الحدث،مر تخریجه فی کتاب العلم،باب کتابة العلم)_

رجال الحديث

①**محمد:** دلته د امام بخاری رحمه الله د شیخ محمد باره کښې هیڅ یو راوی دا وضاحت نهٔ دې کړې چې د محمد نه څوک مراد دی؟د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې داده چې د محمد نه مراد ابن سلام دې،ځکه چې د کتاب الوضوء په یو روایت کښې "حدثنا محمد حدثنا ابن عیینة" راغلې دې.[1] په دې باندې حافظ رحمه الله یقین کړې دې چې څنګه دغلته ابن سلام مراد دې نو دلته هم ابن سلام مراد دې[2]او د محمد بن سلام بیکندی رحمه الله حالات په کتاب الایمان،"باب قول النبی ﷺ:أنا اعلمکم بالله......"کښې تیر شوې دی.[3].

②**ابن عیینه:** دا مشهور امام حضرت سفیان ابن عیینه رحمه الله دې.د دوی تذکره د "بدء الوحی"د اولنی حدیث په ضمن کښې اجمالاً او په کتاب العلم،"باب قول المحدث:حدثنا......"کښې تفصیلاً تیره شوې ده.[4].

③**سلیمان:** دا سلیمان بن ابی مسلم الاحول رحمه الله دې.[5].

④**سعید بن جبیر:** دا مشهور تابعی حضرت سعید بن جبیر اسدی رحمه الله دې.

⑤**عبدالله بن عباس** رضی الله عنهما: دا مشهور صحابی حضرت عبد الله بن عباس هاشمی رضی الله عنهما دې.ددې دوو حضراتو تذکره د بدء الوحی په "الحدیث الرابع"کښې ذکر کړې شوې ده.[6].

---

[1]) انظر صحیح البخاری،کتاب الوضوء،باب غسل المراة اباها الدم......رقم (٢٤٣))_

[2]) فتح الباری:٢٧١/٦، ورد علیه العینی_کعادته مواضع شتی_حیث قال: لا یلزم من قوله فی الوضوء: حدثنا ابن سلام عن ابن عیینه،ان یکون هنا ایضا ابن سلام عن ابن عیینه؛لانه قال فی عدة مواضع:عن محمد بن یوسف البیکندی عن ابن عیینة،و روی الاسماعیلی هذا الحدیث عن الحسن بن سفیان عن محمد بن خلاد الباهلی عن ابن عیینة...... ".(انظر العمدة:٩٠/١٥)هذا الکلام منه_کما تری_ولکنه ایضا لا یخلو عن النظر: لانه کما لا یلزم من ان یکون ابن سلام،کذلک لا یلزم ان یکون ابن یوسف البیکندی،ولا سیما اذا صرح الامام البخاری رحمه الله فی جمیع المواضع من کتاب الوضوء،بنسب محمد بن یوسف،الا محمدا الذی نحن بصدده، فانه قال هناک فقط: محمد عن ابن عیینة"غیر منسوب،کما ذکر هنا ایضا غیر منسوب،ومن ثمه لم یقل هناک فی الوضوء: ابن سلام"کما اشرنا الیه الآن،ثم ان اراد العینی رحمه الله بقوله: و روی الاسماعیلی...... "انه یمکن ان یکون ابن خلاد فهو مما لا یمکن؛لان ابن خلاد الباهلی لا یروی عنه الامام البخاری،ولا هو من شیوخه،نعم ابن خلاد من تلامذة ابن عیینة الامام،(انظر تهذیب الکمال:١٦٩/٢_١٧٠).فلعل هذا الامر اوقعه فی الحیرة،والله اعلم بالصواب.والعلامة القسطلانی ایضا جزم بقول الحافظ،انظر شرحه:٢٣٥/٥)_

[3]) کشف الباری:٩٣/٢)_

[4]) کشف الباری:٢٣٨/١،و:١٠٢/٣)_

[5]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب التهجد،باب التهجد باللیل)_

[6]) کشف الباری:٤٣٥/١)_

خبرداري: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ددې روايت تشريح په كتاب العلم او كتاب المغازى كښې راغلې ده[1].

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت په دې جمله كښې دې، "أخرجوا المشركين من جزيرة العرب" ليكن دا اشكال پرې كيږى چې ترجمة الباب خو د يهوديانو د ويستلو ده،او په حديث شريف كښې د مشركانو د ويستلو تذكره ده، نو دا څنګه مطابقت شو؟

ددې جواب دادې چې لفظ د مشرک عام دې چې يهوديانو ته هم شامل دې،دلته د توجه قابله خبره دا ده چې اكثر يهوديان د الله تعالى د وحدانيت قائل وى،د مسلمانانو نه پس د دنيا هم دا يو قوم دې چې د توحيد قائل دى،ددې باوجود د ذوى د ويستلو حكم دې نو د مشركانو او د نورو كافرانو د ويستلو حكم خو به په طريقه اولى سره وى[2].والله اعلم

دلته ددې خبرې لحاظ هم ساتل پكار دى چې د باب په روايت كښې د نسخو اختلاف دې،په يو نسخه كښې "أخرجوا المشركين..... "او په دويمه نسخه كښې،كومه چې د جيانى نسخه ده، "أخرجوا اليهود...... "راغلې دې،روايتى حيثيت سره دا اولنۍ نسخه زياته غوره او راجح ده[3].

⑰باب: إِذَا غَدَرَ الْمُشْرِكُونَ بِالْمُسْلِمِينَ هَلْ يُعْفَى عَنْهُمْ

د ترجمة الباب مقصد: دلته د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چې كه مشركان مسلمانانو سره دهوكه اوكړى يا مسلمانانو سره وعده خلافى اوكړى نو آيا دوى ته معافى كيدې شى؟

مصنف رحمه الله په دې سلسله كښې څۀ فيصله كن خبره نۀ ده كړې،وجه داده چې په روايت الباب كښې كومه واقعه نقل شوې ده،په هغې كښې د امامانو او د فقهاؤ اختلاف دې،چې كومې ښځې نبى عليه السلام ته زهر وركړې وو نو آيا هغې ته سزا وركړې شوې وه يا نبى عليه السلام هغه معاف كړې وه[4].

د مذكوره مسئلې تفصيل: قاضى عياض رحمه الله فرمائى چې په دې باب كښې روايتونه مختلف دى، چې نبى عليه السلام دا يهودنړه قتل كړې وه يا نۀ؟ لكه د صحيح مسلم د حضرت انس رضي الله عنه د روايت،په ابوداؤد شريف كښې د حضرت جابر رضي الله عنه د روايت[5]،دغه شان د ابن هشام[6] د

---

[1]) كشف البارى،كتاب العلم: ٤/ ٣٣٠_٣٨٥،وكتاب المغازى: ٦٧٢_٦٧٧)_
[2]) عمدة القارى:١٥/ ٩٠،وفتح البارى:٦/ ٢٧١)_
[3]) فتح البارى:٦/ ٢٧١)_
[4]) فتح البارى:٦/ ٢٧٢،وعمدة القارى:١٥/ ٩١)_
[5]) سنن ابى داود،كتاب الديات،باب فيمن سقى رجلا سما......رقم (٤٥١٠))_
[6]) سيرة ابن هشام:٣/ ٣٣٨،بقية امر خيبر،امر خيبر،امر الشاة المسمومة)_

ذكر كړي تفصيل نه دا معلوميږي چې نبي ﷺ دغه ښځه نه وه قتل کړې، بلکه د حضرت انس رضي الله عنه د مسلم شريف روايت خو صراحتاً د قتل نفي کوي. فرمائي:

"أن امرأة يهودية أتت رسول الله صلى الله عليه وسلم بشاة مسمومة، فأكل منها، فجئ بها إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فسألها عن ذلك، فقالت: أردت لأقتلك، قال: ماكان الله يسلطك على ذاك. قال: أو قال: علىّ قال: قالوا: ألا نقتلها؟ قال: لا" (١).

يعني "يو يهودي ښځې نبي ﷺ ته د زهرو نه ډکه چيلۍ راوړله. نبي ﷺ د هغې نه لږ شان خوراک اوکړو، بيا دغه ښځه د نبي ﷺ خدمت کښې حاضره کړې شوه نو نبي ﷺ ددې ښځې نه په چيلۍ کښې د زهرو اچولو تپوس اوکړو نو هغې ښځې اووئيل چې زما ستاسو د قتل کولو اراده وه. نبي ﷺ اوفرمائيل چې الله تعالى به تاسو ته ددې موقع نۀ درکوي. يا ئې دا اوفرمائيل چې الله تعالى به تاته په ما باندې تسلط نۀ درکوي. صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو، چې آيا مونږ دا قتل نۀ کړو؟ نبي ﷺ اوفرمائيل، نه".

او د حضرت ابوسلمه په روايت کښې راغلي دي کوم چې د ابوداؤد شريف (٢) روايت دې. چې نبي ﷺ دغه ښځه قتل کړه، هم دا مضمون امام عبدالرزاق په "مصنف" کښې د معمر بن راشد (٣) او علامه ابن سعد رحمه الله په "طبقات" کښې د "ابن لهيعة عن عمر مولى عفرة" د طريق نه نقل کړې دی (٤). ددې تعارض د ختمولو دپاره امام بيهقي رحمه الله خو دا فرمائيلي دي چې کيدې شي چې نبي ﷺ اول معافي فرمائيلې وی ليکن ددې واقعې نه چې کوم دويم يعنې حضرت بشر بن البراء بن معرور رضي الله عنه متاثره شوې وو او ددې واقعې نه يو کال پس وفات شوې وو نو نبي ﷺ د دوی په قصاص کښې دا ښځه هم قتل کړه (٥). هم دا جواب علامه سهيلي رحمه الله هم کړې دې او نبي ﷺ چې دې ښځې ته کومه معافي کړې وه نو ددې وجه ئې دا ښودلې ده چې د نبي ﷺ دا عادت نۀ وو چې د خپل ذات دپاره د چا نه انتقام واخلی، ددې وجې نه ئې دې ښځې ته معافي کړې وه، بيا د حضرت بشر رضي الله عنه په بدله کښې قصاصاً قتل کړه (٦). البته

---

(١) انظر صحيح مسلم، كتاب السلام، باب السم، رقم (٥٧٠٥))_

(٢) سنن ابى داود، كتاب الديات، باب فيمن سقى رجلا سما......رقم (٤٥١١))_

(٣) المصنف لعبد الرزاق: ٥٣/٦، كتاب اهل الكتاب، هل يقتل ساحر هم؟ (١٠٠٣)، و: ١٨٨/١٠، كتاب الجامع، باب الحجامة......رقم (١٩٩٨٣))_

(٤) الطبقات الكبرى لابن سعد: ١٧٢/١، ذكر علامات النبوة بعد نزول الوحى)_

(٥) دلائل النبوة للبيهقى: ٢٦٢/٤، واختاره النووى فى شرحه على مسلم: ٢٢٢/٢، وقال: قال القاضى: وجه الجمع بين هذه الروايات والاقاويل انه لم يقتلها اولا حين اطلع على سمها، وقيل له: اقتلها، فقال: لا فلما مات بشر بن البراء من ذلک سلمها لاوليانه، فقتلوها قصاصا، فيصح قولهم: لم ديقتلها اى: فى الحال، ويصح قولهم: قتلها، اى: بعد ذلک". وكذا السيوطى، انظر الديباج: ٨٤٨/٢)_

(٦) الروض الانف للسهيلى: ٢٤٣/٢، فصل: وذكر الشاة المسمومة.....)_

حافظ ابن حجر رحمه الله د نبی علیه السلام ددې معافئ یو بله وجه هم لیکلې ده چې ممکنه ده چې د نبی علیه السلام ددې معافئ د وجې نه دا ښځه اسلام قبول کړی او ددې قتل د حضرت بشر رضی الله عنه د وفات پورې ددې وجې نه مؤخر کړې شو چې د حضرت بشر په وفات سره به د قصاص وجوب متحقق او ثابت شی،نوهرکله چې د قصاص وجوب متحقق شو نو دغه ښځه بیا قصاصاً قتل کړې شوه(۱).علامه سحنون مالکی رحمه الله خو په دې خبره باندې د محدثینو اجماع نقل کړې ده چې نبی علیه السلام دغه ښځه قتل کړې وه(۲).لیکن څنګه چې پورتنی تفصیل نه معلومه شوه چې دا مسئله متفق علیه نۀ ده بلکه مختلف فیه ده،ددې وجې نه د اجماع دعوی کول صحیح نۀ دې. والله اعلم بالصواب

ددې نه پس چې امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې کوم سوال ذکر کړې دې،هغه اوګورئ چې په پورتنۍ مسئله کښې د فقهاؤ څۀ مؤقف دې؟ددې جواب دادې چې دا کار په امام او حاکم باندې موقوف دې چې غدار او خیانتګر ته څۀ سزا ورکوی؟که هغه خیال اوکړی چې د قتل ضرورت نشته نو د تنبیه او خبردرای په طور باندې نوره سزا ورکولې شی او معافی ورته هم کولې شی،مثلاً د جرم نوعیت معمولی وی او که حاکم او امام ددې مجرم قتل مناسب او ضروری اوګنړی نو قتل دې کړی،مثلاً دا چې جرم ئې غیرمعمولی وی لکه یو مسلمان قتل کړی وغیره وغیره،لکه نبی علیه السلام عرنیین قتل کړې وو ځکه چې هغوی نبی علیه السلام سره وعده خلافی کړې وه او د نبی علیه السلام شپونکې حضرت یسار رضی الله عنه ئې قتل کړې وو.
علامه مهلب رحمه الله فرمائی:

"ویعفی عن المشرکین إذا غدروا بشئ یستدرك إصلاحه وجبره،ویعصم الله تعالی منه،إذا رأی الامام ذلك،وإن رأی عقوبتهم عاقبهم بما یؤدی إلیه اجتهاده،وإما إذا غدروا بالقتل أو بما لایستدرك جبره،ومالا یعتصم من شره،فلا سبیل إلی العفو کما فعل النبی صلی الله علیه وسلم فی العرنیین(۳)عاقبتهم بالقتل"(۴).

په چا باندې زهر خوړلو سره د قتلولو حکم: دلته یوه بله مسئله هم ده،هغه دا چې که یو کس باندې زهراوخوړلې شی اوهغه قتل شی نو زهر ورکوونکې به قصاصاً قتل کولې شی یا نۀ؟ په دې مسئله کښې هم د علماؤ اختلاف دې،د جمهور علماؤ مؤقف هم دادې چې په دې کښې قصاص واجب دې او پورتنی مذکوره صورت کښې به زهر ورکوونکې قتل کولې شی او د متقدمین احنافو حضراتو په نزد زهر ورکولو سره قصاص نۀ واجبیږی،اګرچه زهر خوړلو والا مړ شی(۵).لیکن د متاخرین احنافو فتوی د جمهورو په قول باندې ده،ځکه چې

---

(۱) فتح الباری:۴۹۷/۷،وارشاد الساری:۲۳۷/۵)_
(۲) عمدة القاری:۹۱/۱۵،وشرح النووی علی مسلم:۲۲۲)_
(۳) انظر لحدیث العرنیین،صحیح البخاری،کتاب المغازی،باب قصة عکل وعرینة،رقم (۴۱۹۲))_
(۴) شرح ابن بطال:۳۴۷/۵)_
(۵) البحرا الرائق شرح کنز الدقائق:۹۱۸/،کتاب الجنایات،باب ما یوجب....[بقیه برصفحه آننده...

په دې زمانه کښې فساد نور هم زيات شوې دې نو د مفسدينو د شر نه عامة الناس له محفوظ کول به هم دغه شان ممکن وی، امام رافعی رحمه الله فرمائی:

"والعمل على هذه الرواية فى زماننا، لانه ساع فى الارض بالفساد، فيقتل دفعاً لشره" (١)

الشيخ محمد تقى العثمانى حفظه الله: "ولا شك ان زماننا اكثر فساداً، فالعمل بقول الجمهور اولى، ان شاء الله تعالى". تكملة فتح الملهم: ٣٢٨/٢_

٢٩٩٨: (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - شَاةٌ فِيهَا سُمٌّ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «اجْمَعُوا إِلَيَّ مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ يَهُودَ». فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ «إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْهُ». فَقَالُوا نَعَمْ. قَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ أَبُوكُمْ». قَالُوا فُلاَنٌ. فَقَالَ «كَذَبْتُمْ، بَلْ أَبُوكُمْ فُلاَنٌ». قَالُوا صَدَقْتَ. قَالَ «فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُ عَنْهُ» فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، وَإِنْ كَذَبْنَا عَرَفْتَ كَذِبَنَا كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا. فَقَالَ لَهُمْ «مَنْ أَهْلُ النَّارِ». قَالُوا نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَا فِيهَا. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «اخْسَئُوا فِيهَا، وَاللَّهِ لاَ نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا - ثُمَّ قَالَ - هَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ». فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ. قَالَ «هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هَذِهِ الشَّاةِ سُمًّا». قَالُوا نَعَمْ. قَالَ «مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ». قَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا نَسْتَرِيحُ، وَإِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ. [٤٢٤٩، ٥٧٧٧]

خبرداري: دا سند معمولى اختلاف سره اوس يو باب وړاندې په "باب إخراج اليهود" کښې تير شوې دې.

په حديث شريف کښې د مذکوره واقعې تفصيلات: د باب په حديث باندې د پوهيدلو دپاره دا ضروری ده چې مونږ ددې پس منظر او نورو جزئياتو او تفصيلاتو باندې هم نظر واچوو.

هرکله چې خيبر فتح شو او د جنګ حالات برابر شو نو يهودی ښځې د نبی عليه السلام د دعوت پروګرام جوړ کړو، دغه وخت نبی عليه السلام ام المؤمنين حضرت صفيه رضی الله عنها سره وو، نو دغه ښځې يو وريته کړې شوې چيلۍ د نبی عليه السلام خدمت کښې حاضره کړه، دې ښځې ددې خبرې تحقيق د مخکښې نه کړې وو چې نبی عليه السلام ته د نورو اندامونو په مقابله کښې د چيلۍ خپه زياته خوښه ده نو ټوله چيلۍ کښې دغه ښځې زهر ګډ کړل او د هغې په دغه غوښه کښې ئې زهر

بقيه ازحاشيه گذشته] القصاص......ورد المحتار: ٣٨٥/٥، والام للشافعى: ٤٢/٦، كتاب جراح العمد، الرجل يسقى الرجل السم......والمغنى: ٢١٢/٨)_

(١) انظر تقريرات الرافعى على رد المحتار: ٣٢٣/٢)_

(٢) قوله: عن ابى هريرة رضى الله عنه: "الحديث، اخرجه البخارى ايضا، كتاب المغازى، باب الشاة التى سمت للنبى صلى الله عليه وسلم بخيبر، رقم (٤٢٤٩)، وكتاب الطب، باب ما يذكر فى سم النبى صلى الله عليه وسلم، رقم (٥٧٧٧))_

زيات مقدار كښې شامل كړل، چې كله دغه چيلۍ د نبى ﷺ او د صحابه كرامو وړاندې د خوراک دپاره پيش كړې شوه نو نبى ﷺ ترينه دغه مذكوره غوښه اوچته كړه، د هغې نه ئې بوټۍ باندې چک اولګوو ليكن د تيرولو وخت رانغې. نبى ﷺ سره نزدې حضرت بشر بن البراء بن معرور هم ناست وو هغوى هم ددې نه څۀ واخستۀ ليكن هغوى نمړۍ تيره كړه او نبى ﷺ نمړۍ واپس كړه، بيا ئې اوفرمائيل چې دا هډوكې ما ته وائى چې په دې كښې زهر دى، بيا نبى ﷺ هغه ښځه راوغوښتله، تپوس ئې ترينه اوكړو نو هغې ددې خبرې اقرار اوكړو چې ما په دې كښې زهر ګډ كړې دى[1]، ددې نه پس د باب حديث شريف ته اوګورئ.

قوله: قال: لما فتحت خيبر أهديت للنبي صلى الله عليه وسلم شاة. فيها سم:

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چې هركله خيبر فتح شو نو نبى كريم ﷺ ته په هديه كښې يو چيلۍ پيش كړې شوه چې زهر په كښې اچولې شوې وو. د صحيح مسلم په حوالې سره اوس تير شو چې دا چيلۍ پيش كوونكې يو يهودى ښځه وه، اهل سيرو ددې ښځې نوم زينب بنت الحارث نقل كړې دې، دا د سلام بن مشكم ښځه وه او د مرحب خور يا وريره وه[2].

د كلمه سُم تحقيق: په كلمه سم كښې درې لغتونه دى، دا د سين فتحه، ضمه او كسره درې واړو حركاتو سره لوستلې شوې دې او فتحه په كښې افصح حركت دې، ددې جمع سمام او سموم ده ددې معنى زهر ده[3].

فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «اجْمَعُوا إِلَيَّ مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ يَهُودَ». فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ «إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْهُ». فَقَالُوا نَعَمْ. قَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم «مَنْ أَبُوكُمْ». قَالُوا فُلاَنٌ. فَقَالَ «كَذَبْتُمْ، بَلْ أَبُوكُمْ فُلاَنٌ». قَالُوا صَدَقْتَ.

نو نبى ﷺ اوفرمائيل، دلته چې څومره يهوديان دى، دا ټول جمع كړئ چې زۀ دوى سره ملاؤ شم، نو دوى ټول په يو ځائې باندې جمع كړې شو نو نبى ﷺ هغوى ته اوفرمائيل، زۀ ستاسو نه د يو خبرې تپوس كول غواړم، آيا تاسو به ماته په دې معامله كښې رښتيا وايئ؟ ټولو اووئيل چې آو جى! نبى ﷺ اوفرمائيل، ستاسو پلار څوک دې؟ هغوى اووئيل چې فلانې دې، نبى ﷺ اوفرمائيل چې تاسو دروغژن يئ، بلكه ستاسو پلار خو فلانې دې. هغوى اووئيل چې تاسو رښتيا اووئيل.

ابن حجر رحمه الله ليكلې دى چې دلته د "فلان" نه څوک مراد اخستلې شوې دې، ماته معلومه نۀ شوه[4].

---

[1]) انظر سيرة ابن هشام: ۳۵۲/۳/۲، امر الشاة المسمومة، ودلائل النبوة للبيهقى: ۲۶۳/٤)_

[2]) عمدة القارى: ۹۱/۱۵، وفتح البارى: ٤۹۷/۷، وسنن ابى داود، كتاب الديات، باب فيمن سقى رجلا سما...... رقم (٤۵۰۹)، ودلائل النبوة: ۲۶۳/٤، والروض الانف: ۲٤۳/۲)_

[3]) عمدة القارى: ۹۱/۱۵، وارشاد السارى: ۲۳۶/۵)_

[4]) ارشاد السارى: ۲۳۶/۵، وهدى السارى: ٤٤۱، الجزية والموادعة)_

قَالَ «فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُ عَنْهُ» فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، وَإِنْ كَذَبْنَا عَرَفْتَ كَذِبَنَا كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا. فَقَالَ لَهُمْ «مَنْ أَهْلُ النَّارِ». قَالُوا نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَا فِيهَا.

نبی ﷺ اوفرمائیل، که زهٔ ستاسو نه د څهٔ څیز په باره کښې تپوس اوکړم نو آیا تاسو به رښتیا اووایئ؟ هغوی اووئیل چې ائې ابو القاسم! آوجی! مونږ به رښتیا وایو، ځکه چې که مونږ تاسو ته دروغ اووایو نو هم به تاسو ته معلومه شی. لکه څنګه چې زمونږ د پلار نیکهٔ په باره کښې تاسو ته معلومه شوه (چې مونږ دروغ وایو) نو نبی ﷺ ترینه پوښتنه اوکړه، جهنمیان به څوک وی؟ هغوی جواب ورکړو چې څهٔ ورځې خو به مونږ په جهنم کښې یو، بیا به تاسو خلق زمونږ ځایونه ډک کړئ.

سبحان الله! د بدبختئ او د ضداو عناد انتهاء ته اوګورئ، یهودیانو په خپل مذکوره جواب کښې د خپلې یوې عقیدې اظهار کړې دې چې دا د دوی خپل یو خیال او ګمان دې، د دوی خیال دا وو چې الله تعالی به یهودیانو ته دومره ورځې عذاب ورکوی څومره ورځې چې دوی د غوا د بچی عبادت کړې وو او هغه څلویښت ورځې دی، ددې نه زیات عذاب به مونږ ته نهٔ راکړې کیږی(١). د یهودیانو دا خیالی عقیده قرآن کریم هم ذکر کړې ده، د الله تعالی ارشاد دې: وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝ دلته دوی ددې عقیدې اظهار کړې دې چې څو ورځې خو به مونږ ته سزا ملاؤ شی لیکن ددې نه پس ستاسو نمبر دې.

د تخلفونا لغوی او صرفی تحقیق: "تخلفونا" په اصل کښې تخلفوننا وو، لکه د ابوذر په نسخه کښې تخلفوننا راغلې دې، دلته ددې یو نون ساقط شوې دې، د حرف جازم او ناصب نه بغیر هم د نون حذف کول یو لغت دې او دا د خلف یخلف نه دې، ددې معنی ده د چا نائب او قائم مقام کیدل، ددې نه خلف هم دې، خلف هر هغه سړی ته وئیلې شی چې د چا نه پس راشی او د هغهٔ نائب او خلیفه وی، لیکن په دې کښې یو فرق هم دې، که دا لفظ د لام سکون سره وی نو ددې معنی ده نائب فی الشر (د شر په کارونو کښې نائب) او که د لام حرکت سره وی نو ددې معنی ده نائب فی الخیر (د خیر په کارونو کښې نائب او قائم مقام)(٢).

قوله: فَقَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم «اخْسَئُوا فِيهَا»: نو نبی ﷺ اوفرمائیل چې هم تاسو په دې کښې خوار او ذلیل اوسیږئ.

سپی ته د شړلو او ړټلو دپاره اخسا وئیلې کیږی، یعنی لرې شه، دلته په دې جمله کښې دوه احتمالات کیدې شی. اول احتمال خو دادې چې نبی ﷺ دوی ته بد دعا کړې ده، یعنی الله

(١) الجامع لاحکام القرآن للقرطبی:٢/١٠)_
(٢) عمدة القاری:١٥/٩١، وارشاد الساری:٥/٢٣٦)_

تعالى دې اوکړي چې هم تاسو په دې کښې ذلت او خوارئ سره داخل شئ.دويم احتمال دادې چې دا زجر،توبيخ او رټنه ده يعنی تاسو په دې کښې ورک شئ(١).

قوله: وَاللّٰهِ لاَ نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا -: په خدائې قسم!مونږ به کله هم په جهنم کښې ستاسو ځائې ډک نه کړو.

يعنې ستاسو دا وهم اوګمان بالکل باطل دې چې تاسو به د جهنم د سزا يو څو ورځې مستحق يئ.بيا به مونږ د هغې خشاک جوړ شو.دا خو کيدې نۀ شی چې مونږ د جهنم مستحق شو،زمونږ خو پيدائش د جنت دپاره شوې دې.دلته که د چا په ذهن کښې دا اشکال پيدا شی چې ګناهګار مسلمانان به هم جهنم ته داخليږی.نو د نبی ﷺ دا پورتنئ خبره څنګه صحيح شوه چې مونږ خو به جهنم ته نۀ داخليږو؟

ددې جواب دادې چې ګناهګار مسلمانان به په جهنم کښې د سزا خوړلو نه پس بالآخر راوځی، ددې وجې نه د مسلمانانو جهنم ته داخليدل به عارضی وی.په خلاف د يهوديانو. يهوديان خو به په جهنم کښې هميشه دپاره اوسيږی،د جهنم نه ددې يهوديانو وتل ممکن نۀ دی، ددې وجې نه دلته د خلافت او د نيابت د معنې تصور هم نۀ شی کيدې(٢).

ثُمَّ قَالَ -هَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ». فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ. قَالَ «هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هٰذِهِ الشَّاةِ سُمًّا». قَالُوا نَعَمْ. قَالَ «مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذٰلِكَ». قَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا نَسْتَرِيحُ،وَإِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ.

نبی ﷺ بيا اوفرمائيل،که زۀ ستاسو نه د يو څيز په باره کښې تپوس اوکړم نو آيا تاسو به رښتيا اووايئ؟هغې ټولو اووئيل چې ائې ابوالقاسم!آوجی:نبی ﷺ تپوس اوکړو چې آيا تاسو په دې چيلئ کښې زهر ګډ کړې دی؟هغوی اووئيل چې آوجی:نبی ﷺ ترينه تپوس اوکړو چې تاسو دا حرکت ولې اوکړو؟هغوی اووئيل چې زمونږ دا اراده وه چې که تاسو د خپل نبوت په دې دعوی کښې دروغژن يئ نو مونږ به ستاسو نه راحت حاصل کړو(څکه چې مونږ به درنه خلاص شو)او که تاسو واقعی نبی يئ نو دا زهر به تاسو ته نقصان اونۀ رسوی.

د باب په حديث شريف کښې درې سوالات او د هغې جوابات ذکر دی،سوالات د نبی ﷺ له طرفه او جوابات د يهوديانو له طرفه وو،ددې يهوديانو دا بدبختی او بدنصيبی اوګورئ چې په درې واړو جواباتو کښې ئې دروغ وئيلې دی،په اولنی دوو جواباتو کښې خو ئې دروغ او خباثت ښکاره دې،او د دريم سوال په جواب کښې د يهوديانو دا وينا چې"أردنا إن كنت كاذبا نستريح،وإن كنت نبيا لم يضرك"دا هم د دروغو نه خالی نۀ ده.څکه چې د نبی ﷺ نبی کيدل،مبعوث من الله کيدل دوی ته د نمر په شان ښکاره وو،په قرآن کريم کښې د الله تعالی

---

(١) پورته حواله جات.وشرح الكرمانی:١٣/١٣٤)_

(٢) فتح الباری:١٠/٢٤٦.وشرح الكرمانی:١٣/١٣٤.وارشاد الساری:٥/٢٣٦)_

ارشاد دي:«الذين آتيناهم الكتاب يعرفونه كما يعرفون أبناءهم»[١] ليکن بنی اسرائيل چونکه خپل ځان د دنيا اعلی ترين مخلوق ګڼری او خپل نسب د ټولو نه غوره ګڼری، ددې وجې نه دوی دا برداشت نۀ کړې شو چې اشرف الانبياء والرسل، خاتم النبيين والمرسلين ﷺ د عربو او د بنو اسماعيل نه ولې راواستولې شو؟هم دا وجه وه چې دوی هميشه د نبی ﷺ او د هغوی ملګرو ته په تکليف رسولو کښې لګيا وو او قيامت پورې به دوی په دې کښې مشغول وی،دا هغه ډله ده چې د هميشه نه د اسلام او د مسلمانانو دشمنان دی،د دوی نه د خير توقع ساتل بالکل عبث کار دې،د الله تعالی ارشاد دې:«لتجدن أشد الناس عداوة للذين آمنوا اليهود.....»[٢] د قرآن کريم ددې واضح اعلان نه پس هم که دوی لره څوک خپل دوست ګڼری نو دا بيوقوف نۀ دې نو څۀ دی؟

يو سوال او د هغې جواب: د باب حديث شريف او د مسلم شريف روايت،چې اوس مخکښې تير شو،دواړو کښې ظاهراً تعارض دې چې هلته کومه مکالمه نقل کړې شوه نو هغه د نبی ﷺ او د يو يهودی ښځې زينب بنت الحارث مينځ کښې وه او دلته چې کومه مکالمه ده نو هغه د نبی ﷺ او د يهوديانو مينځ کښې ده.

ددې جواب واضح دې چې په دې کښې هيڅ تعارض نشته،ممکنه ده چې نبی ﷺ دواړو سره خبرې اترې کړې وی او د زهرو په حقله ئې تپوس کړې وی،لکه د باب په حديث کښې د زهر د ګډ کولو وجه ئې دا ښودلې ده چې:"إن كنت كاذبا أنستريح،وإن كنت نبيا لم يضرك" چې ددې مفهوم نعوذبالله د نبی ﷺ قتلول دی،هغه ښځې هم دا خپل مقصد بيان کړې وو چې:"أردت لأقتلك"[٣] چې هرکله د دواړو مقصود يو شو نو په ظاهره دا معلومه شوه چې ددغه ښځې دا کار د ټولو مشرکانو د مشورې نتيجه وه،ددې وجې نه نبی ﷺ د ټولو نه تپوس اوکړو او ورته ئې دا خبره په ګوته کړه چې مونږ ته ستاسو د مکر و فريب ښۀ پته ده.[٤]

د عربو مشهور اديب ډاکټر منيرعجلانی د يو دستاويز انکشاف کړې دې کوم چې په آرمينی ژبۀ کښې وو،د هغې نه هم دا ثابتيږی چې نبی ﷺ ته د زهرو ورکولو دا عمل د يو کس کار نۀ وو،بلکه په دې کښې د يهوديانو ټول قوم شامل وو،ددې دستاويز متن دلته

---

[١]) البقرة/١٤٦)_

[٢]) المائدة/٨٢)_

[٣]) الصحيح لمسلم،كتاب الطب،باب السم،رقم (٥٧٠٥))_

[٤]) پورته متن کښې چې کوم مؤقف دې نو ددې تائيد د تاريخ نه هم کيږی،نبی ﷺ ته چې کومې ښځې زهر ورکړې وو نو د هغې پلار حارث،تره يسار،خاوند سلام بن مشكم او ورور مرحب يا زبير د مسلمانانو په لاس باندې قتل شوې وو،ددې وجې نه دا ښځه د انتقام په اور کښې سوزيده او د نبی ﷺ د قتل ئې ډيره زياته تمنا لرله،نو نورو يهوديانو هم ددې د استعمالولو منصوبه جوړه کړه،دغه شان د نبی ﷺ په خوراک کښې زهر ګډ کړې شو. فتح الباری:٤٩٧/٧،والروض الانف:٢٤٣/٢،وعمدة القاری: ٩١/١٥،وسنن ابی داود،كتاب الديات،باب فيمن سقى رجلا سما.....رقم (٥٩٠٩))_

ذکر کولې شی: "يقال ان الامة اليهودية تحسد امة النصارى، ولما جاء محمد (ﷺ)، وعظم امره، اجتمع رؤساء اليهود، وقالوا الى انفسهم:

"لنضمه الينا؛ بان نزوده باحكام ديننا، فينشرها بين الناس، وبذلك نتغلب على النصارى وانا جيلهم".

ولكن المسلمين الذين انتصروا على اعدائهم، وفتحوا الفتوحات العظيمة لم يكترثوا لليهود، ولم يقيموا لهم وزنا؛ بل اضطروا احيانا الى قتالهم،

فعاد رؤساء اليهود الى الاجتماع والتفكير في اسلوب يتخلصون به من محمد.....، فاختاروا من نسائهم فتاة جميلة، وقالوا لها: "يجب عليك ان تدعى محمدا الى وليمة، وتقتليه".

فقعلت المراة ما امرها الرؤساء به". انظر تعليقات على دلائل النبوة للبيهقي: ۲۵۸/۴.

کیدې شی چې د حضرت عمر ﷺ په شهادت کښې هم ددې خلقو سازش شامل وی او دا د یو کس یعنی د "فیروز" عمل نهٔ وی۔

ایا دې ښځې اسلام قبول کړې وو؟: د بعضو روایاتو نه دا معلومیږی چې دې ښځې اسلام قبول کړې وو، لکه د امام زهری رحمه الله نه هم دا روایت نقل دې چې دې ښځې اسلام قبول کړې وو، هم په دې باندې امام سلیمان الیتمی رحمه الله هم یقین کړې دې، د دوی په روایت کښې دا الفاظ هم دی، کوم چې د دغه ښځې د اسلام په قبولیت باندې دلالت کوی:

"وقد استبان لى الآن أنك صادق، وأنا أشهدك ومن حضر أنى على دينك، وأن لا إله إلا الله، وأن محمداً عبده ورسوله". "اوس ماته دا خبره واضحه شوه چې تاسو رښتونی يئ او زهٔ تاسو او نورو حاضرینو له ګواه جوړوم او دا وایم چې زهٔ ستاسو په دین باندې یم او دا چې د الله تعالی نه سوا هیڅوک معبود نشته او محمد (ﷺ) د هغهٔ بنده او رسول دې".

دا جملې دغه ښځې هغه وخت اووئیلې چې کله هغې اولیدل چې په نبی ﷺ باندې ددې زهرو اثر اونهٔ شو، نو ددې نه پس نبی ﷺ هغې ته معافی اوکړه، لکه څنګه چې د حافظ ابن حجر رحمه الله قول اوس د باب د اولنی حدیث په تشریح کښې تیر شو.(۱). د حافظ ابن حجر رحمه الله د صنیع نه هم دا معلومیږی چې هغوی واقعی طور سره دا ښځه په صحابیاتو کښې شماری، ددې وجې نه هغوی ددې ښځې ذکر په "الاصابة" کښې په القسم الاول کښې کړې دې.(۲). والله اعلم بالصواب

نبی بشر وی: د باب په حدیث کښې یهودیانو نبی ﷺ ته د زهرو ورکولو وجه دا بیان کړه چې "وإن كنت نبيا لم يضرك" چې که تاسو واقعی نبی يئ نو دا زهر به په تاسو باندې اثر نهٔ

---

(۱) فتح الباری: ۴۹۷/۷، والمصنف لعبد الرزاق: ۵۳/۶، کتاب اهل الکتاب، هل یقتل ساحرهم؟ رقم (۱۰۰۵۳) والسیرة الحلبیة: ۷۷۰/۲، غزوة خیبر والمرقاة: ۷۴/۱۱، کتاب الفضائل.....الفصل الثانی، رقم (۵۹۳۱)

(۲) الاصابة فی تمییز الصحابة: ۳۱۴/۴)۔

كوى ليكن د دوى دا خبره غلطه ده،د نبى دپاره دا ضرورى نهٔ ده چې د زهرو اثر پرى اونهٔ شى، نبى چونكه بشر وى ددې وجې نه پرې د زهرو اثر هم كيدې شى،د جادو اثر پرې هم كيدې شى(كمايأتى بعد ابواب)لكه څنګه چې نور انسانى عوارض نبى ته پيښيږى نو دغه شان دا څيزونه پرې هم اثر كولې شى.

د نبى عليه‌السلام معجزه: په نبى عليه‌السلام باندې چې ددې زهرو ظاهرى اثر اونهٔ شو نو دا د نبى عليه‌السلام معجزه وه،په عامو حالاتو باندې دا نهٔ شى قياس كيدې،ليكن ددې زهرو اثر د نبى عليه‌السلام د وفات په وخت كښې ښكاره شو،په صحيح مسلم شريف كښې د حضرت انس رضی‌الله‌عنه د روايت په آخره كښې راغلې دى چې د نبى عليه‌السلام په تالو مبارك كښې ما ته د دغه زهرو اثرات ښكاره طور سره معلوميدل،د نبى عليه‌السلام په وفات كښې يو ښكاره سبب دا زهر هم وو.[١]،ددې وجې نه به حضرت عبدالله بن مسعود قسم خوړلو سره فرمائيل چې نبى عليه‌السلام ته الله تعالى د شهادت مرګ وركړې دې.[٢].

حقيقى مؤثر د الله تعالى ذات دې: د باب د حديث نه يو دا فائده معلومه شوه چې حقيقى مؤثر صرف د الله تعالى ذات دې،د هغهٔ د اجازت او د حكم نه بغير هيڅ يو څيز نهٔ نقصان رسولې شى او نهٔ چاته څهٔ فائده وركولې شى،اوګورئ!ددغه زهريله خوراک نه حضرت بشر رضی‌الله‌عنه فوراً متاثر شو او نبى عليه‌السلام د هغې د فورى اثراتو نه بچ پاتې شو او دغه وخت پرې زهرو اثر اونهٔ كړو.[٣].

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت په دې معنى كښې دې چې يهوديانو نبى عليه‌السلام باندې د زهريله خوراک خوړلو كوشش اوكړو،نو دغه شان يهوديانو دهوكه بازى او خيانت اوكړو ليكن ددې باوجود نبى عليه‌السلام ددې سازش ټول كردارونه معاف كړل،هم ددې نه ترجمه ثابتيږى چې په دې صورت كښې معاف كيدې هم شى او د ضرورت مطابق ورته نورې سزاګانې هم وركړې كيدې شى.[٤].والله اعلم بالصواب

---

[١]) انظر الصحيح لمسلم،كتاب الطب،باب السم،رقم (۵۷۰۵)،وعمدة القارى:۹۲/۱۵،وكشف البارى،كتاب المغازى:۶۷۰،وتكملة فتح الملهم:۳۱۲/۴)_

[٢]) اخرجه الحاكم فى المستدرك:۶۰/۳،كتاب المغازى......رقم (۴۳۹۴)،قال عبدالله بن مسعود رضی‌الله‌عنه: لان احلف تسعا ان رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم قتل احب الى من احلف واحدة انه لم يقتل،وذلک ان الله عزوجل اتخذه نبيا،واتخذه شهيدا".وايضا الطبقات الكبرى لابن سعد:۳۱۴/۸،من كلام ام بشر بن البراء رضی‌الله‌عنها_

[٣]) عمدة القارى:۹۲/۱۵،وفتح البارى:۲۴۷/۱۰)_

[٤]) عمدة القارى:۹۱/۱۵)_

⑧ باب: دُعَاءِ الإِمَامِ عَلَى مَنْ نَكَثَ عَهْدًا

د ترجمة الباب مقصد:دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد او مطلب دادې چې که يو سړی وعده خلافی اوکړی نو ددهٔ په حق کښې امام ته بد دعا کول جائز دی.[1]

۲۹۹۹:[2] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا -رضى الله عنه- عَنِ الْقُنُوتِ. قَالَ قَبْلَ الرُّكُوعِ. فَقُلْتُ إِنَّ فُلاَنًا يَزْعُمُ أَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ، فَقَالَ كَذَبَ. ثُمَّ حَدَّثَنَا عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَنَتَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ -قَالَ- بَعَثَ أَرْبَعِينَ أَوْسَبْعِينَ -يَشُكُّ فِيهِ- مِنَ الْقُرَّاءِ إِلَى أُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَعَرَضَ لَهُمْ هَؤُلاَءِ فَقَتَلُوهُمْ، وَكَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- عَهْدٌ، فَمَا رَأَيْتُهُ وَجَدَ عَلَى أَحَدٍ مَا وَجَدَ عَلَيْهِمْ.[ر: ۹۵۷]

رجال الحديث

①**ابوالنعمان**:دا ابوالنعمان محمد بن فضل السدوسی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الايمان،"باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: الدين النصيحة لله......"کښې تيره شوې ده.[3]

②**ثابت بن يزيد**:دا ثابت بن يزيد بصری رحمه الله دې.[4]

③**عاصم**:دا عاصم بن سليمان بن ابی مسلم الاحول رحمه الله دې.[5]

④**انس**: د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه حالات په کتاب الايمان،"باب من الايمان أن يحب لاخيه مايحب لنفسه"کښې راغلې دی.[6]

او دا ټول سند په بصريانو باندې مشتمل دې.[7]

خبرداری:ددې حديث شريف پوره تشريح په کتاب الوتر کښې اوګورئ.

يوه اهمه فائده:د يو کافر په حق کښې خيرې کول د نبی عليه السلام عادت مبارک نهٔ وو،ترڅو چې به د نبی عليه السلام دا اميد وو چې دا کافر خپل باطل دين پريخودلې شی او اسلام قبلولې شی نو هغهٔ ته به ئې خيرې نهٔ فرمائيلې،اوګورئ نبی عليه السلام ته دا وئيلې شوې وو چې قبيلهٔ دوس ته

---

[1]) عمدة القاری:۹۱/۱۵)_
[2]) قوله: سالت انسا رضی الله عنه ":الحديث،مر تخريجه فی الوتر،باب القنوت قبل......)_
[3]) کشف الباری:۷۶۸/۲)_
[4]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الاذان،باب بدء الاذان)_
[5]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب الماء الذی يغسل به شعر الانسان)_
[6]) کشف الباری:۴/۲)_
[7]) فتح الباری:۲۷۳/۶،وعمدة القاری:۹۲/۱۵)_

خيرې اوکړې، ليکن نبی عليه السلام د هغوی په حق کښې د هدايت دعا اوفرمائيله.ليکن ددې برخلاف چې هرکله بنوسليم وعده خلافی اوکړه،غداری او خيانت ئې اوکړو نو نبی عليه السلام د هغوی دپاره خيرې اوفرمائيلې،ځکه چې د هغوی د هدايت نه نبی عليه السلام مايوسه شوې وو.نو الله تعالی د نبی عليه السلام خيرې قبولې کړې او د نبی عليه السلام رښتون والې ئې خلقو ته ښکاره کړو چې مونږ د خپل نبی هيڅ يو خبره نۀ رد کوو.(۱).والله اعلم بالصواب

دويمه فائده: د مونځونو نه پس،دغه شان په خطبو کښې چې د مسلمانانو د دشمنانو او مخالفينو دپاره خيرې کيږی،د هغې اصل هم دا قصه ده،په کومه کښې چې نبی عليه السلام د بنوسليم دپاره د خيرو په طور يو مياشت پورې قنوت نازله لوستلې وه.نو ددې خبرې نه ددې کار جواز او مشروعيت ښۀ طريقې سره معلوميږی(۲).

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت واضح دې،ترجمه وعده خلافی کوونکو دپاره د خيرې کولو د جواز وه،هم دا جواز د باب د حديث نه ثابتيږی.

⑨باب: أَمَانِ النِّسَاءِ وَجِوَارِهِنَّ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله دا مسئله بيانوی چې يوه ښځه چاته امان ورکړی او دا بيانوی چې که ښځه امان ورکړی نو ددې دا امان ورکول به معتبر وی.(۳).

د مسئلې تفصيل وړاندې راځی.

د جوار معنی: جُوار.بكسر الجيم وضمها.د باب مفاعله مصدر دې،ددې معنی ده اجاره او د اجاره معنی ده چاته پناه ورکول،مدد کول او حفاظت کول(۴).اوس مطلب هم دا شو چې ښځه چاته امان هم ورکولې شی او پناه وغيره هم ورکولې شی.

۳۰۰۰:(۵)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ ابْنَةِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ هَانِئٍ ابْنَةَ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ،وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ،فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ «مَنْ هَذِهِ». فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ. فَقَالَ «مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ». فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ،فَصَلَّى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ،فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ،زَعَمَ ابْنُ

---

[1]) عمدة القاری:(۹۲/۱۵)_

[2]) پورته حواله)_

[3]) عمدة القاری:۹۲/۱۵،وارشاد الساری:(۲۳۷/۵)_

[4]) عمدة القاری:۹۲/۱۵،وفتح الباری:۲۷۳/۶،وشرح الکرمانی:(۱۳۵/۱۳)_

[5]) قوله: ام هانی ابنة ابی طالب":الحديث،مر تخريجه فی کتاب الغسل،باب التستر فی الغسل.....)_

أُمِّي عَلِي أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلاً قَدْ أَجَرْتُهُ فُلَانُ بْنُ هُبَيْرَةَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ». قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ وَذَلِكَ ضُحًى. [ر: ٢٧٦]

رجال الحديث

①**عبدالله بن يوسف**: دا عبدالله بن يوسف تينسي رحمه الله دي.

②**مالك**: دا امام دارالهجرة مالك بن انس رحمه الله دي.ددې دواړو حضراتو تذکره د"بدء الوحی" په دويم حديث کښې تيره شوې ده.(1).

③**ابو النضر**: دا ابو النضر سالم بن ابی اميه رحمه الله دې چې د عمر بن عبيدالله مولی دې.(2).

④**ابومره**: دا ابومره يزيد بن مره رحمه الله دې چې د ام هانی رضي الله عنها مولی دې.د دوی حالات په کتاب العلم، "باب من قعد حيث ينتهى به المجلس......" کښې راغلي دی(3).

⑤**ام هانی**: دا د نبی عليه السلام د ترهٔ لور حضرت ام هانی رضي الله عنها ده(4).

د حديث شريف ترجمه: حضرت ام هانی رضي الله عنها فرمائی چې د فتح مکه په کال زهٔ د نبی عليه السلام خدمت اقدس کښې حاضره شوم،اومې ليدل چې نبی عليه السلام غسل کوی او حضرت فاطمه رضي الله عنها د سترپوشئ دپاره ولاړه وه،نو ما ورته سلام اوکړو،نبی عليه السلام اوفرمائيل چې څوک دی؟ما جواب کښې اووئيل چې ام هانی يم.نو نبی عليه السلام ماته پخير راغلې اووئيل،هرکله چې د غسل نه فارغ شو نو نيت ئې اوتړلو او اودريدل او بدن باندې يو کپړې اچولو سره ئې اتهٔ رکعته اوکړل.ما اووئيل يا رسول الله!زما د ورور حضرت علی خيال دې چې هغه به هغه سړې قتلوی چاته چې ما پناه ورکړې ده،يعنی فلان ابن هبيره،نبی عليه السلام اوفرمائيل ائې ام هانی!تا چې چاته پناه ورکړې ده نو هغهٔ ته مونږ هم پناه ورکړې ده او دا د څابنت وخت خبره ده.

ښځه امان ورکولې شی: د باب حديث په دې مسئله کښې واضح دی چې ښځه امان ورکولې شی،دغه شان دا چې ښځې کوم سړې ته امان ورکړې وی نو هغهٔ لره قتلول حرام دی، د نبی عليه السلام لورې مبارکې حضرت زينب رضي الله عنها هم خپل خاوند حضرت ابو العاص بن الربيع رضي الله عنه ته امان ورکړې وو.(5).ددې نه هم جواز واضح دې،هم دا د حجاز او د عراق د جمهورو يعنی د

---

1) کشف الباری:۲۸۹/۱_۲۹۰،امام مالک دپاره نور اوګورئ،کشف الباری:۸۰/۲)_

2) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الوضوء،باب المسح علی الخفين)_

3) کشف الباری:۲۱٤/۳)_

4) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ،کتاب الغسل،باب التستر فی الغسل عند الناس)_

5) روی الطبرانی عن انس رضي الله عنه: ان زينب بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم اجارت ابا العاص،فاجاز النبی صلى الله عليه وسلم جوارها.....=".المعجم الکبير:۲۲/۲۲_۴۲۵_٤۲۶،ذکر سن زينب و وفاتها،ومن اخبارها،رقم (۱۰٤۸_۱۰٤۹) وقد اخرجه الطبرانی عن ام سلمة رضي الله عنها ايضا.انظر معجمة الکبير:۲۷۵/۲۲، وما اسندت ام سلمة رضي الله عنها،ابو بکر بن عبدالرحمن.....عن ام سلمة.......رقم (۵۹۰).وکذا انظر:۲۲۵/۲۲. ....[بقيه برصفحه آئنده...

امام اعظم ابوحنيفه، امام مالک، امام شافعي، احمد، ابوثور، اسحاق بن راهويه، ثوري او امام اوزاعی رحمهم الله وغيره مذهب دې(١). البته په مالکيه کښې دوو حضراتو عبدالملک بن الماجشون او سحنون رحمهما الله د جمهورو نه جدا دا وئيلي دی چې د ښځې اجازت ورکول د امام په اجازت باندې موقوف دی، که امام دا پناه ورکول نافذ کړی خو صحيح ده ورنه د ښځې پناه ورکول مردود او ناقابلِ قبول ده، ليکن دا قول شاذ دې(٢). والقول ماقاله الجمهور. والله اعلم بالصواب

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د باب د حديث شريف مناسبت په دې جمله کښې دې، "قد اجرنا من اجرتِ"(٣). نو ددې نه ددې خبرې جواز معلوميږی چې د ښځې چاته امان ورکول صحيح او جائز دی.

⑩ باب: ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَجِوَارُهُمْ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ

يعنی د مسلمانانو ذمه او امان يو دې، معمولی سړې هم ددې کوشش کولې شی.

د ترجمة الباب مقصد: دلته د ترجمة الباب مقصد دادې چې که د مسلمانانو يو جماعت يا يو طبقه يو حربی کافر ته امان ورکولې شی نو ددې حکم يو دې، د چا اختلاف سره به دا حکم نۀ بدليږی، دا امان به د ټولو له طرفه معتبر وی. مطلب دا شو چې که يو حربی کافر ته د مسلمانانو له طرفه امان ورکولې شی نو دا امان به د ټولو له طرفه وی، خواه امان ورکوونکې يو معمولی درجې والا سړې وی يا د شريفې طبقې سړې وی، غلام وی يا آزاد، سړې وی يا ښځه، ددې نه پس چاته دا حق نشته چې دا امان ختم کړی او چاته چې امان ورکړې شوې دې نو هغه ته څۀ قسم نقصان اورسوی(٤).

په ترجمة الباب کښې مذکور لفظ د "ادناهم" نه مراد "اقلهم عدداً" دې، يعنی يو سړې هم امان ورکولې شی، خواه سړې وی يا ښځه.....(٥).

بقيه ازحاشيه گذشته] رقم (١٠٤٧))_ايضا انظر نصب الراية فی تخريج احاديث الهداية:٣/٣٩٦، رقم (٥٨١٢_٥٨١٣))_

(١) شرح ابن بطال:٥/٣٤٩، وعمدة القاری:١٥/٩٣، څلورو وارو مذهبونو دپاره اوګورئ، المغنی: ٩/١٩٥، والام :٢/٤/٢٨٤، والمدونة الکبری:٢/٤١، والهداية:٢/٥٦٤، وفتح القدير:٥/٢١٠، فصل الامان)_

(٢) قا الحافظ فی الفتح(٦/٢٧٣): قال ابن المنذر: اجمع اهل العلم علی جواز امان المراة. الا شيئا ذکره عبد الملک_يعنی ابن الماجشون صاحب مالک_لا احفظ ذلک عن غيره. قال: ان امر الامان الی الامام، وتاول مما ورد مما يخالف ذلک علی قضايا خاصة. قال ابن المنذر: وفی قول النبی ﷺ _يسعی بذمتهم ادناهم "دلالة علی اغفال هذا القائل")_

(٣) عمدة القاری:١٥/٩٣)_

(٤) عمدة القاری:١٥/٩٣، وارشاد الساری:٥/٢٣٨، وفتح الباری:٦/٢٧٤)_

(٥) پورته حواله جات)_

ايا د غلام امان ورکول معتبر دی؟ پورته چې کوم مذهب نقل کړې شو نو دا د جمهورو دې،د امام مالک،شافعی،احمد ،سفيان ثوری،اوزاعی،ليث او ابو ثور رحمهم الله (۱) مسلک هم دادې چې که يو غلام چاته امان ورکړی نو دا به معتبر وی،په احنافو کښې د امام محمد رحمه الله (۲) مسلک هم دا دې.او امام اعظم او امام ابويوسف رحمهما الله دا وائی چې د غلام امان ورکول په هغه وخت معتبر وی چې کوم وخت ددهٔ مالک دهٔ ته د قتال اجازت هم ورکړی،مطلب دادې چې د عبد ماذون(چاته چې اجازت ورکړې شوې وی)امان ورکول معتبر دی،د غيرماذون يعنی دعبد محجور امان غيرمعتبر دې.اوس په عبد محجور کښې ګويا ددې حضراتو اختلاف دې،د قتال دپاره چې کوم غلام ته اجازت ورکړې شوې وی نو هغهٔ کښې هيڅ اختلاف نشته.(۳).

د ماشوم امان ورکول:ابن المنذر رحمه الله فرمائيلي دی چې د ماشوم د امان ورکولو په غيرمعتبر کيدو باندې د اهلِ علم اجماع ده.ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله ددې کلام سره اختلاف کوی او فرمائی چې دا حکم مطلق نهٔ دې،بلکه مقيددې،لکه د صبی مراهق او د مميز او فهيم(چې په ښهٔ بده باندې پوهيږی)امان ورکول معتبر دی.(۴).ليکن په خپله امام شافعی رحمه الله د مميز ماشوم امان ورکول غيرمعتبر ګڼړی،کالصبی الغير المميز(۵).

د احنافو په نزد ددې مسئلې تفصيل دادې چې که د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مميز ماشوم که د قتال نه منع کړې شوې وی نو د هغهٔ امان غيرمعتبر دې ليکن امام محمد رحمه الله ددې ماشوم د امان د صحت قائل دې چې ددهٔ امان ورکول صحيح او معتبر دی.

او که ماشوم مميز وی او د قتال اجازت ورته ورکړې شوې وی نو د ټولو په نزد ددهٔ امان مقبول او معتبر دې.(۶).د امام مالک رحمه الله شاګرد سحنون وائی چې د مميز ماشوم امان مطلقاً معتبر دې،او د دوی نور شاګردان د ماشوم امان د امام په اجازت باندې موقوف ګڼړی(۷).او د امام احمد رحمه الله نه په دې سلسله کښې دوه روايتونه نقل شوې دی،په يو روايت کښې د صحت قائل دې او په دويم کښې د غيرمعتبر کيدو قائل دې.(۸).

---

(۱) المدونة الكبرى:٤٢/٢،والمغنى: ٩١٩٥/،وكتاب الام: ٢٨٤/٤،باب فى الامان،واعلام الحديث:١٤٧٠/٢

(۲) الهداية:٥٦٥/٢)_

(۳) پورته حواله،والفتاوى الهندية:١٩٨/٢)_

(۴) فتح البارى:٢٧٤/٦)_

(۵) كتاب الام:٢٨٤/٤/٢،باب فى الامان_ واذا امن من دون البالغين والمعتوه قاتلوا اولم يقاتلوا لم نجز امانهم)

(۶) الهداية مع البناية للعينى:١٢٩/٧،كتاب السير،فصل،وكتاب السير الكبير مع شرحه للسرخسى:١٧٨/١/١)

(۷) المدونة الكبرى:٤١/٢،كتاب الجهاد،فى امان المراة والعبد والصبى،والمنتقى: ٣٤٦/٤)_

(۸) المغنى لابن قدامة: ٩:١٩٦)_

د مجنون امان ورکول: د امت د جمهورو علماؤ په نزد د مجنون او د ليونی امان ورکول غیرمعتبر دي، د کافر په شان په دې کښې هم د چا څۀ اختلاف نشته.([1]).

٣٠٠١ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَطَبَنَا عَلِيٌّ فَقَالَ مَا عِنْدَنَا كِتَابٌ نَقْرَؤُهُ إِلاَّ كِتَابُ اللَّهِ، وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ فَقَالَ فِيهَا الْجِرَاحَاتُ وَأَسْنَانُ الإِبِلِ، وَالْمَدِينَةُ حَرَمٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى فِيهَا مُحْدِثًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ مِثْلُ ذَلِكَ، وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ مِثْلُ ذَلِكَ.[ر: ١٧٧١]

قوله: "خطبنا علي ": الحديث، مر تخريجه في كتاب العلم، باب كتابة العلم.

رجال الحديث

① **محمد**: د محمد نه مراد محمد بن سلام بيكندي دي. ددې وضاحت ابن السكن رحمهما الله کړې دهٔ. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: انا اعلمکم بالله......" کښې تیر شوې دی.([2]).

② **وکیع**: دا د حدیثو مشهور امام حضرت وکیع بن الجراح رحمه الله دې. د دوی حالات په کتاب العلم، "باب کتابة العلم" کښې تیر شوې دی.([3]).

③ **الاعمش**: دا امام سلیمان بن مهران دې چې مشهور په اعمش رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې راغلې دهٔ.([4]).

④ **ابراهیم التیمی**: دا مشهور محدث، د وخت امام ابراهیم بن یزید بن شریک رحمه الله دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب خوف المؤمن من أن......" کښې تیره شوې دهٔ.([5]).

⑤ **أبیه**: د ابیه نه مراد د حضرت ابراهیم والد یزید بن شریک رحمه الله دې([6]).

⑥ **علی**: دا د نبی علیه السلام څوم، څلورم خلیفه، حضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه دې. د دوی تفصیلی تذکره په کتاب العلم "باب إثم من کذب النبی صلی الله علیه وسلم" کښې بیان شوې دهٔ.([7]).

---

[1]) پورته حواله، وفتح الباری ۶/۲۷٤، والسیر الکبیر مع السرخسی: ۱/۱/۲۰۰، کتاب الامان، رقم (٤۶))_
[2]) فتح الباری: ۶/۲٤۷، و کشف الباری: ۲/۹۳)_
[3]) کشف الباری: ٤/۲۱۹)_
[4]) کشف الباری: ۲/۲۵۱)_
[5]) کشف الباری: ۲/۵٤٤)_
[6]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب فضائل المدینة، باب حرم المدینة)_
[7]) کشف الباری: ٤/۱٤۹)_

خبرداري: د حضرت علی رضي الله عنه د باب د حديث تشريح مونږ په كتاب العلم، "باب كتابة العلم" (١) او "فضائل المدينة، باب حرم المدينة" کښې بيان کړې ده.

ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت په دې جمله کښې دې: "وذمة المسلمين واحدة" چې د مسلمانانو ذمه او عهد يو وی، لهذا كه يو عاقل بالغ مسلمان چاته پناه ورکړی نو دا به معتبر وی. (٢).

حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې ذکر کړې شوې کلماتو "يسعى بذمتهم أدناهم" په ذريعې سره هغه روايت طرفته اشاره فرمائيلې ده، كوم چې وړاندې د سفيان عن الاعمش طريق سره "باب إثم من عاهد ثم غدر" کښې راځی، د هغې الفاظ دادی: "د ذمة المسلمين واحدة، يسعى بها أدناهم" هم دا معنی د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه هم مرفوعاً روايت ده، د هغوی د روايت تخريج امام احمد. (٣) او ابن ماجه رحمهما الله وغيره (٤). کړې دې، فرمائی: "المسلمون تتكافؤ دماؤهم، وهم يد على من سواهم، يسعى بذمتهم أدناهم" (٥).

⑪ باب: إِذَا قَالُوا صَبَأْنَا وَلَمْ يُحْسِنُوا أَسْلَمْنَا

يعنی دا باب ددې خبرې په بيان کښې دې چې كله مشركان "صبانا" اووائی او "أسلمنا" ښه طريقې سره اونه وائی.

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمه الله دا وئيل غواړی چې كه د جنګ دوران کښې مشركان دا اووائی چې صبانا يعنی مونږ د خپل زوړ دين نه واوړيدو او دې جملې سره د دوی مقصد داوی چې مونږ اسلام قبلوو، ستاسو په دين کښې داخليږو، ليکن "أسلمنا" اونه وائی نو آيا د دوی دا وينا چې "صبانا" ددې دپاره كافی ده چې دوی سره جنګ بندی اوکړې شی او د دوی مزيد قتل بند کړې شی. (٦)، نو د امام بخاری رحمه الله جواب په اثبات کښې دې چې آو اوس به دوی سره جنګ نه کيږی.

او علامه ابن المنير رحمه الله فرمائی چې د ترجمة الباب مقصد دادې چې د مقصدونو اعتبار په

---

(١) كشف الباري، كتاب العلم: ٤/ ٢٢٣-٢٦١)_

(٢) فتح الباري: ٦/ ٢٧٤، وعمدة القاری: ١٥/ ٩٤، وإرشاد الساری: ٥/ ٢٣٨)_

(٣) مسند الامام احمد: ٢/ ٦٥٧-٦٥٨، مسند عبدالله بن عمرو...... "رقم (٦٧٩٧) وأيضاً برقم (٦٦٩٢ و٧٠٩٢)_

(٤) سنن ابن ماجه، كتاب الديات، باب المسلمون تتكافؤ دمائهم، رقم (٢٦٨٥) وعن ابن عباس أيضاً، رقم (٢٦٨٣)

(٥) فتح الباري: ٦/ ٢٧٤، وعمدة القاری: ١٥/ ٩٤، وإرشاد الساری: ٥/ ٢٣٨، دغه شان اوګورئ، المصنف لابن أبی شيبة: ١٨/ ١٠١-١٠٧، وكتاب السير، با فی أمان المرأة والمملوک)_

(٦) فتح الباري: ٦/ ٢٧٤، وعمدة القاری: ١٥/ ٩٤، شرح ابن بطال: ٥/ ٣٥٢)_

دليل او قرينو سره وي، دا دليل خواه لفظي وي يا غير لفظي. خواه په هر قسم ژبه كښې چې وي[١]. دلته مناسب رائې هم د ابن المنير رحمه الله معلوميږي چې ترجمة الباب عام او ساتلې شي او دا اوويلې شي چې لفظ د "صبانا" سره ترجمه خاص نهٔ ده. بلكه هرقسم جمله چې دا مفهوم ادا كړي نو هغه به معتبر وي، دغه شان دا چې امان په هرقسم ژبه كښې وركړې شي نو هغه به معتبر وي، مطلوب صرف دادې چې دغه كلمه يا دغه جمله امان وركوي او مضمون امان او ذمې ته شامل وي.

د كلمه "صبانا" صرفي او لغوي تحقيق: صبانا" د باب نصر نه د جمع متكلم ماضي صيغه ده، ددې مصدر "صبوًا" دې، ددې معنى ده مذهب بدلول. وئيلې شي: "صبا فلان: إذا خرج من دينه إلى دين غيره" هم په دې بنياد باندې د مكې مكرمې مشركانو نبي عليه السلام ته "صابي" وئيلې. ځكه چې د مشركانو د خيال او ګمان مطابق نبي عليه السلام د خپل پلار نيكهٔ د مذهب بت پرستى پريخودلې وه او دويم دين يعنى اسلام ئې اختيار كړې وو.[٢]

وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ».. [ر: ٤٠٨٤]

او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي چې حضرت خالد بن وليد (هغوى) قتلول، نو نبي عليه السلام اوفرمائيل، ائې الله! خالد چې څهٔ اوكړل، نو زهٔ د هغې نه د براءت اعلان كوم.

د مذكوره تعليق تخريج: امام بخاري رحمه الله پورتنې تعليق مسنداً په كتاب المغازي كښې[٣]، دغه شان كتاب الاحكام كښې[٤] نقل كړې دې.

ددې نه علاوه امام نسائي رحمه الله هم دا حديث موصولاً روايت كړې دې[٥].

په تعليق كښې د مذكوره واقعې تفصيل: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په پورتني ذكرشده تعليق كښې ډير زيات اجمال او اختصار دې، په دې كښې چې كومه واقعه ذكر ده نو د هغې خلاصه دا ده چې حضرت خاليد بن وليد رضي الله عنه نبي عليه السلام يو لښكر امير جوړ كړو او د تبليغ په غرض سره ئې د بنوجذيمه په طرف روان كړو، دا واقعه د غزوهٔ حنين نه وړاندې ده، هركله چې هغوى ته حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د اسلام دعوت وركړو نو هغې خلقو صحيح طريقې سره د اسلام اقرار اونهٔ كړو، د "اسلمنا" په ځائې ئې "صبانا" اوويل، مقصد ئې دا وو چې مونږ ستاسو دين قبلوو، ليكن حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د هغوى دا اقرار قبول نهٔ كړو او د ظاهر لفظ په بنياد باندې ئې د هغوى قتلول شروع كړل، كله چې نبي عليه السلام ته ددې اطلاع

---

[١]) فتح الباري: ٦/٢٧٤، وعمدة القاري: ١٥/٩٤، والمتوارى على تراجم أبواب البخاري: ١٩٩)_
[٢]) عمدة القاري: ١٥/٩٤، وفتح الباري: ٨/٥٧-٥٨، والقاموس الوحيد، مادة "صبا")_
[٣]) صحيح البخاري، كتاب المغازي، باب بعث النبي صلى الله عليه وسلم خالد بن وليد......رقم (٤٣٣٩))_
[٤]) صحيح البخاري، كتاب الاحكام، باب إذا قضى الحاكم بجور أو......رقم (٧١٨٩))_
[٥]) سنن النسائي، كتاب آداب القضاة، باب الرد على الحاكم إذا قضى بغير الحق، رقم (٥٤٠٧))_

اوشوه نو ډير زيات خفه شو او وې فرمائيل، "اللهم! إني أبرأ إليك مما صنع خالد".
په دې كار باندې د خفګان كولو او د نبى عليه السلام د ناراضه كيدو نه هم په واضحه توګه دا معلوميږى چې په هرقوم كښې ددې مفهوم دپاره يعنى د اسلام د قبلولو دپاره كوم الفاظ استعماليږى نو د هغې اعتبار به كولې شى،هم دغه الفاظ به د هغوى له طرفه كافى شافى ګڼلې شى.
په مذكور واقعه كښې حضرت خالد بن وليد رضى الله عنه چونكه اجتهاد كړې وو،چې په هغې كښې ترينه خطا واقع شوه،ددې وجې نه نبى عليه السلام هغه معذور اوګڼلو او هم ددې وجې نه ئې قصاص نۀ كړو،بلكه نبى عليه السلام حضرت على رضى الله عنه ته مال وركړو او د بنو جذيمه طرفته ئې روان كړو او د هغوى د مقتولينو ديت د بيت المال نه ادا كړې شو.[1]
د حديث شريف نه مستنبطه يو مسئله: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چې كه قاضى او حاكم يو ظالمانه فيصله اوكړى يا د اهل علمو د اقوالو او د دوى د رائې نه خلاف څۀ فيصله اوكړى نو دا فيصله به بالاتفاق مردود وى.البته،كه دا فيصله د اجتهاد په رڼړا كښې وى يا حاكم د خپل كار څۀ مناسب تاويل پيش كړى،لكه څنګه چې حضرت خالد بن وليد رضى الله عنه اوكړل نو په دې صورت كښې به حاكم ګناهګار خونۀ وى ليكن ضمان به پرې لازم شى عند عامة أهل العلم.
بيا د امت د فقهاؤ په دې خبره كښې اختلاف دې چې دا ضمان به څوک ادا كوى؟آيا د بيت المال نه به ادا كولې شى،يا به ئې د حاكم خاندان(عاقله)ادا كوى؟
①نو د حضرت امام اعظم ابوحنيفه،امام ثورى،احمد او اسحاق رحمهم الله قول دادې چې كه دا فيصله د څۀ قتل يا د زخمى كولو وى نو ديت به د بيت المال نه ادا كولې شى.
②د امام شافعى،اوزاعى او د صاحبينو رحمهم الله مسلک دادې چې مذكوره ديت به د حاكم په عاقله او خاندان باندې لازم وى،د حاكم خاندان به دا ضمان ادا كوى.
③ابن الماجشون رحمه الله خو دا وائى چې په دې كښې بالكل ضمان نشته.[2]
ترجمة الباب سره د مذكوره تعليق مناسبت: ترجمة الباب سره د حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنهما ددې مذكوره تعليق مناسبت په ظاهره واضح نۀ دې ځكه چې ترجمه خو د "إذا قالوا: صبانا..... "وه،ليكن ددې لاندې چې كوم حديث ذكر شو نو هغې كښې ددې خبرې تذكره نشته.
نو ددې اشكال جواب دادې چې د امام بخارى رحمه الله يو مشهور عادت دا هم دې چې هغوى بعضې وخت كښې د حديث يو جمله يا يو جزء ترجمه اوګرځوى،بيا دغه جمله يا جزء ترجمة كښې نۀ ذكر كوى نو دلته هم دغه معامله ده چې ترجمه خو ئې د "صبانا" قائمه كړه ليكن دا

---

[1] انظر صحيح البخارى،كتاب المغازى،باب بعث النبى صلى الله عليه وسلم خالد بن وليد إلى......رقم (٤٣٣٩).وفتح البارى:٦/٢٧٤،وعمدة القارى:١٥/٩٤)_

[2] شرح ابن بطال:٨/٢٦٠-٢٦١.كتاب الاحكام،باب إذا قضى الحاكم بجور......وعمدة القارى:١٥/٩٤. وفتح البارى:٦/٢٧٤.والمغنى:٨/٢٨٨.آخر فصل من كتاب الجراح،رقم(٦٧٧٣))_

ئې په حديث كښې ذكر نۀ كړه، بلكه ددې حديث يوه حصه ئې نقل كړه او ددې طرفته ئې اشاره اوكړه او هم په دې ئې اكتفاء او بس والې اوكړو.([1])

وَقَالَ عُمَرُ إِذَا قَالَ مَتْرَسْ. فَقَدْ آمَنَهُ، إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ الأَلْسِنَةَ كُلَّهَا..[ر:٢٩٨٩]

او حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه اوفرمائيل چې كله يو مسلمان چاته داسې اووائى چې مۀ ويريږه نو حقيقت كښې ورته دۀ امان او پناه وركړه، ځكه چې الله تعالى خو په ټولو ژبو باندې پوهيږى.

د مذكوره تعليق تخريج: دا تعليق امام عبدالرزاق صنعانى رحمه الله په خپل "مصنف" كښې د ابووائل طريق سره موصولاً نقل كړې دې.([2])

د حضرت عمر رضي الله عنه مكمل فرمان: پورته ذكر شوې كلمات يعنى "إذا قال: مترس، فقد آمنه، إن الله يعلم الالسنة كلها" د حضرت عمر رضي الله عنه د فرمان يو جزء دې، كوم چې دوى ملک فارس كښې يو لښكر ته د هدايت نامې په طور ليږلې وو، هغه لښكر كوم چې په جهاد كښې مصروف وو، مكمل متن لاندې ذكر كولې شى:

"عن أبي وائل قال: جاءنا كتاب عمر ونحن نحاصر قصر فارس، فقال: إذا حاصرتم قصراً فلا تقولوا: انزلوا على حكم الله، فانهم لا يدرون ما حكم الله؟ ولكن انزلوهم على حكمكم، ثم اقضوا فيهم، وإذا لقى الرجل الرجل، فقال: لا تخف، فقد آمنه، وإذا قال: مترس، فقد امنه، إن الله يعلم الالسنة كلها"([3]).

يعنى: "د حضرت ابووائل رضي الله عنه نه روايت دې چې مونږ ته د حضرت عمر رضي الله عنه يو خط راغئ په داسې حالت كښې چې مونږ د فارس د محل محاصره كړې وه، په هغې كښې ئې فرمائيلي وو چې كله تاسو د يو محل (يا د قلعه) محاصره اوكړئ نو داسې مۀ وايئ چې د الله تعالى فيصله قبلولو سره لاندې راشئ، ځكه چې هغوى ته معلومه نۀ ده چې د الله تعالى فيصله څۀ ده؟ بلكه هغوى په خپله فيصله باندې لاندې راولئ، چې كله هغوى راكوز شى نو فيصله اوكړئ. چې كله يو بنده د بل بنده سره ملاقات اوشى او هغه ورته اووائى چې مۀ ويريږه نو حقيقت كښې ورته دې ويونكى امان وركړو او كه "مترس" اووائى نو بيا ئې هم امان وركړو. ځكه چې الله تعالى خو په ټولو ژبو باندې پوهيږى".

د "مترس" لغوى تحقيق او ضبط: "مترس" د فارسئ ژبې جمله ده، ددې معنى ده "مۀ ويريږه" او دا جمله د دوو ځيزونو نه مركبه ده، د ميم او ترس نه، ميم خو د اهل فارس په نزد د نفى معنى وركوى، او ترس د امر صيغه ده د ترسيدن نه، ددې معنى ده ويريدل، اوس ددې جملې معنى دا شوه چې "لاتخف" يعنى مۀ ويريږه.([4])

---

[1]) فتح البارى: ٦/ ٢٧٤، وعمدة القارى: ١٥/ ٩٤)_

[2]) المصنف لعبد الرزاق: ٥/ ١٥٠-١٥١، كتاب الجهاد، باب دعاء العدو، رقم (٩٤٩٢) و(٩٤٩٤))_

[3]) پورته حواله، وعمدة القارى: ١٥/ ٩٤، وتغليق التعليق: ٣/ ٤٨٣، وفتح البارى: ٦/ ٢٧٤-٢٧٥))_

[4]) عمدة القارى: ١٥/ ٩٤، وفتح البارى: ٦/ ٢٧٥)_

ددې نه علاوه د حديث د عالمانو ددې جملې په ضبط کښې هم اختلاف دې.امام اصيلی ﷫ خو دا د ميم او د تاء فتحې او د راء سکون سره ضبط کړې ده او ابو ذر ميم مکسور او تاء ساکن ښودلې ده.(١).حافظ ابن حجر ﷫ دا کلمه ميم مفتوحه،تاء مشدده او راء ساکنه سره ضبط کړې ده،بيا فرمائی:"وقد تخفف التاء،وبه جزم بعض من لقيناه من العجم"(٢)

او بعضې حضراتو دا کلمه د تاء سکون او د راء فتحې سره لوستلې ده.ليکن د علامه عينی ﷫ د قول مطابق راجح ضبط د امام اصيلی ﷫ دې چې ددې طرفته حافظ ﷫ هم په دې خپل قول کښې اشاره کړې ده"وبه جزم بعض من لقيناه من العجم"(٣).

قوله: وقال:تكلم لا بأس.: او حضرت عمر ؓ هرمزان ته اوفرمائيل.هيڅ خبره نۀ ده،خبره کوه.

ددې جملې تعلق يو بلې واقعې سره دې،چې د هغې تفصيل د کتاب الجزيه په شروع کښې راغلې دې.(٤).

د حضرت انس ؓ روايت دې،د هغې خلاصه داده چې د فارس ښار د تُستَر د محاصرې دوران کښې هرمزان ګرفتار شو،بيا دې د حضرت انس ؓ په ملګرتيا کښې د حضرت عمر ؓ په خدمت کښې روان کړې شو،چې کله دۀ سره خليفه ثانی خبرې اترې کول غوښتل نو دې خاموشه شو،په دې باندې حضرت عمر ؓ اوفرمائيل،"تكلم،لا بأس عليك"دۀ دې نه پس د دواړو مينځ کښې خبرې اترې شروع شوې،چې د هغې تفصيل اوړد دې.

حضرت انس ؓ فرمائی چې بيا حضرت عمر ؓ د هرمزان د قتل احکامات جاری کول اوغوښتل نو حضرت انس ؓ اووئيل چې دا خو تاسو نۀ شئ کولې،ځکه چې تاسو خو دۀ ته"تكلم لا بأس عليك"وئيلې دی،حضرت عمر ؓ اوفرمائيل آيا تاسو سره نور هم څوک شته چې ددې خبرې ګواهی ورکړی چې ما دا جمله وئيلې ده؟نو حضرت زبير ؓ هم د حضرت انس ؓ موافقت اوکړو، په دې باندې حضرت عمر ؓ هرمزان قتل نۀ کړو،بيا وروستو هرمزان اسلام قبول کړو.(٥).

د مذکوره اثر تخريج: د حضرت عمر ؓ مذکوره اثر مختصراً امام ابن ابی شيبه په خپل مصنف کښې(٦)او يعقوب بن سفيان په خپل تاريخ کښې نقل کړې دې،دغه شان سعيد بن

---

(١) عمدة القاری:١٥/ ٩٤ـ٩٥)_

(٢) فتح الباری:٦/٢٧٥)_

(٣) پورته حواله،وعمدة القاری:١٥/ ٩٥)_

(٤) انظر باب الجزية والموادعة مع أهل الذمة،د هرمزان د اسلام د قبلولو واقعه)_

(٥) عمدة القاری:١٥/ ٩٥،وفتح الباری:٦/ ٢٧٥،والمصنف لابن أبی شيبة:١٨/ ١٠٩ـ١١٠،كتاب السير،باب فی الأمان،ما هو؟وكيف هو؟رقم(٣٤٠٨٤)،وكتاب البعوث والسرايا:١٨/ ٣٠٤،ما ذكر فی تستر،رقم(٣٤٥٠٦)

(٦) المصنف لابن ابی شيبة:١٨/ ١٠٩ـ١١٠،رقم(٣٤٠٨٤)،وكتاب البعوث والسرايا:١٨/ ٣٠٤،رقم (٣٤٥٠٦)

منصور په خپل سنن کښې([1])دي تخريج کړې دي([2]).

د مذکوره اثر نه يو معلومه شوې فائده: علامه ابن المنير رحمه الله فرمائي چې د مذکوره اثر نه دا فائده معلومه شوه چې که يو عام حاکم خپله يود فيصله هيره کړي او دوه سړي ګواهي اوکړي چې حاکم دا فيصله کړې وه نو په حاکم باندې به دا لازم وي چې په هغه فيصله باندې عمل اوکړي او هغه نافذه کړي.دغه شان که چرته حاکم د يو کس په شهادت قبلولو کښې پريشان شي،په دې کښې توقف اوکړي،بيا دويم کس د اولنی کس په موافقت کښې ګواهي ورکړي نو اوس شک او شبهه ختمه شوه او دې سره به د اولنی کس ګواهي هم نۀ متاثره کيږي.([3]).والله اعلم بالصواب

ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت: ترجمة الباب سره د مذکوره تعليق مناسبت په دې معنی کښې دې چې په تعليق کښې دا راغلي دي چې امان ورکوونکي لاتخف اووائي يامترس،يا تکلم لاباس، نو دې سره به امان متحقق شي.ځکه چې دا ټولې جملې په امان ورکولو باندې دلالت کوي،خواه هره ژبه چې استعمال کړي يا هرقسم تعبير چې وي،نو اولنۍ دواړه جملې خو ظاهراً هم په دې خبره باندې دلالت کوي چې د کوم سړي په مخکښې دا جملې اووئيلې شي نو مراد د دينه امان دې او د دريمې جملې دلالت په دې معنی کښې دې چې مخاطب ته دا وئيلې کيږي چې تۀ بې ويرې او بې خطرې خبرې اترې کوه،تاته به هيڅ هم نۀ وئيلې کيږي او هم دا امان دې،لکه څنګه چې مذکوره واقعه هم په دې باندې دلالت کوي.

⑫ باب: الْمُوَادَعَةِ وَالْمُصَالَحَةِ مَعَ الْمُشْرِكِينَ بِالْمَالِ وَغَيْرِهِ، وَإِثْمِ مَنْ لَمْ يَفِ بِالْعَهْدِ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاري رحمه الله ددې کار د مشروعيت او جواز ښودل غواړي چې که مشرکانو سره د مصالحت کولو په وخت د مال وغيره ادا کولو ضرورت پيښ شي نو دا جائز دي.تفصيل وړاندې راځي.([4]).

په ترجمة الباب کښې چې کوم لفظ د "وغيره"راغلي دې نو ددې عطف په "بالمال"دې چې مشرکانو ته مال هم ادا کيدې شي،ددې نه علاوه قيديان وغيره هم،يعنی که د مشرکانو کسان مسلمانانو سره قيد وي نو د هغوی د آزاديدو په بدله کښې هم مصالحت کيدې شي،اوبالعکس.([5]).

---

[1]) سنن سعيد بن منصور:٢/٢٥٢،كتاب الجهاد،باب قتل الاسارى.....رقم(٢٦٧٠)،وأخرجه البيهقي من طريق الثقفي عن حميد الطويل:٩ /١٦٤،كتاب السير،باب كيف الامان؟رقم(١٨١٨٣))_

[2]) عمدة القاري:١٥/٩٥،وفتح الباري:٦/٢٧٥،وتغليق التعليق:٣/٤٨٣)_

[3]) فتح الباري:٦/٢٧٥)_

[4]) عمدة القاري:١٥/٩٥)_

[5]) پورته حواله،وفتح الباري:٦/٢٧٥،وشرح القسطلاني:٥/٢٣٩)_

قوله: وقوله: ''وإن جنحوا للسلم فاجنح لها وتوكل على الله: الآية/الانفال:٦١/
او د الله تعالی قول: او که مشرکانو د صلحې مطالبه اوکړی نو تاسو هم صلح اوکړئ.
د ایت کریمه تفسیر: د پورتنی آیت کریمه ترجمه د امام بخاری رحمه الله د تفسیرمطابق کړې شوې ده، هغوی د ''جنحوا'' تفسیر په ''طلبوا'' سره کړې دې. او نورو حضراتو مفسرینو ددې تفسیر په ''مالوا'' سره کړې دې، په دې صورت کښې به ترجمه دا شی ''او که مشرکان د صلحې طرفته مائل شی نو تاسو هم دې طرفته مائل شئ (او صلح اوکړئ)'' ځکه چې د جناح لغوی معنی ده مائله کیدل. (١).

او کلمه د ''السلم'' د سین فتحه او کسره سره، ددې معنی ده صلح، دا د ابوعبیده رحمه الله قول دې او ابوعمر رحمه الله فرمائی چې سلم که د سین فتحې سره وی نو ددې معنی ده صلح او که کسره وی نو ددې معنی ده اسلام. (٢).
د ایت مبارکه نه د امام بخاری رحمه الله استدلال او ترجمة الباب سره مطابقت: امام بخاری رحمه الله د پورتنی آیت کریمه نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې چې مشرکانو سره صلح کول جائز او صحیح کار دې. (٣).
ددې نه ترجمة الباب سره مطابقت هم معلومیږی چې اوکله مشرکانو سره صلح جائز ده نو دا صلح په مال سره هم کیدې شی او بغیر د مال نه هم کیدې شی، بغیر د مال نه د صلحې حکم خو امام بخاری رحمه الله د کتاب په شروع کښې ذکر کړې وو او دلته ئې د هغې صلحې تذکره اوکړه کومه صلح چې مال سره وی، دې سره چې ځنګه د مصنف رحمه الله مدعی ثابته شوه نو دغه شان د صلحې دوه تقسیمونه هم مخې ته راغلل چې د صلحې یو قسم خو صلح بالمال دې او دویم صلح بغیر المال دې.
فائده: آیت کریمه چې په شرط سره مقید کړې شو چې ''که دوی صلح کول اوغواړی نو تاسو هم صلحه اوکړئ'' ددې نه دا معلومیږی چې د صلحې معامله مقیده ده، مطلق نهٔ ده چې که دې سره د مسلمانانو نقصان کیږی نو بیا دې هم صلح اوکړې شی بلکه دې خبرې ته به خیال کولې شی چې مسلمانان په کوم حال کښې دی، کهٔ د دوی حال سره صلح مناسب ده، په صلح کولو کښې ئې فائده ده نو صلح کول صحیح دی، ددې برخلاف که مسلمانان غالب وی او په صلح کولو کښې څهٔ مصلحت او فائده هم نهٔ وی نو بیا صلح کول صحیح نهٔ دی. (٤).
ترجمة الباب کښې د ذکر شوې مسئلې تفصیل: مشرکانو سره د مال نه بغیر خو صلح کول جائز دی، په دې کښې د هیڅ اختلاف نشته. د مال نه بغیر صلح نبی علیه السلام په حدیبیه

---

(١) پورته حواله جات، والقاموس الوحید، مادة جنح" وتفسیر القرطبی: ٣٩/٨)_
(٢) فتح الباری: ٢٧٥/٦_٢٧٦، وعمدة القاری: ٩٥/١٥)_
(٣) فتح الباری: ٢٧٦/٦، وکتاب السیر الکبیر مع شرحه للسرخسی: ٣/٥_١٦، باب الموادعة)_
(٤) فتح الباری: ٢٧٦/٦، والجامع لا حکام القرآن: ٤٠/٨)_

کښې[1] د قریشو مشرکانو سره کړې وه، لیکن که مشرکانو ته د مال ورکولو ضرورت پیښ شی، د مال په بدله کښې ورسره صلح کول وی او خدانخواسته داسې حالات پیدا شی چې هغوی د مال اخستلو نه بغیر په صلح کولو باندې نهٔ راضی کیږی نو اوس به څهٔ کیږی؟

① نو امام اوزاعی رحمه الله خو په دې صورت کښې دا فرمائی چې مشرکانو ته د صلحې په بدله کښې مال ادا کول جائز نهٔ دی، البته د ضرورت په وخت جائز دی، مثلاً دا چې مسلمانان د جنګی نقصاناتو نه محفوظ کول وی نو بیا ورته مال ورکړې کیدې شی[2].

② امام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمهما الله فرمائی چې صلح خو د عوض نه بغیر کیدل پکار ده، لیکن که د مجبورئ حالت وی او د دشمن تعداد زیات وی، د مال ورکولو نه بغیر د اهلِ اسلام حفاظت ناممکن شی او دا خطره پیښه شی چې مسلمانانو ته به ډیر سخت نقصان اورسوی نو په داسې صورت کښې د مال په عوض کښې صلح کیدې شی: لان ذلك من معانی الضرورات.

ددې په خلاف که صرف دا صورت وی چې مسلمانان کمزورې خو دی لیکن د مقابلې کولو طاقت لری نو د مال په ادا کولو باندې صلح کول جائز نهٔ دی، که مسلمان قتل هم شی نو شهید به شی، چې لوئې لوئې فضیلتونه ئې دی، ددې نه علاوه د مسلمانانو شان ددې نه زیات اوچت او لوئې دې چې مشرکانو ته د رحم درخواست اوکړی او د جنګ بندئ دپاره ورته اووائی[3].

③ په دې مسئله کښې د احنافو او د مالکیه په باره کښې علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چې په دې سلسله کښې د امام مالک او امام ابوحنیفه څهٔ روایت او قول مونږ ته معلوم نهٔ دی[4] لیکن علامه عینی رحمه الله د احنافو مسلک د امام شافعی او د مالک د مسلک په شان نقل کړې دې، لکه فرمائی:

"مذهب أصحابنا أن للامام ان يصالحهم بمال يأخذه منهم، أو يدفعه إليهم، إذا كان الصلح خيراً فی حق المسلمين لقوله تعالى: (وإن جنحوا للسلم فاجنح لها)، والمال الذى يؤخذ منهم يصرف مصارف الجزية"[5]

او د مالکیه مذهب هم په دې سلسله کښې د ائمه ثلاثه په شان دې، په دې شرط چې څهٔ فاسد شرط اونهٔ لګوی، علامه دردیر رحمه الله ددې وضاحت کړې دې، فرمائی:

"ويجوز للامام...... المهادنة أى صلح الحربى مدة ليس لهو فيها، تحت حكم الاسلام، لمصلحة كالعجز عن

---

[1]) د صلح حدیبیه تفصیل دپاره اوګورئ: کشف الباری، کتاب المغازی: ۳۵۹_۳۷۲)_

[2]) شرح ابن بطال: ۳۵۵/۵، وفتح الباری: ۲۷۶/۶، وعمدة القاری: ۹۷/۱۵)_

[3]) شرح ابن بطال: ۳۵۶/۵، وفتح الباری: ۲۷۶/۶، وعمدة القاری: ۹۷/۱۵)_

[4]) شرح ابن بطال: ۳۵۶/۵، وعمدة القاری: ۹۷/۱۵)_

[5]) عمدة القاری: ۹۷/۱۵، دغه شان اوګورئ: کتاب السیر الکبیر مع السرخسی: ۳/۵_۱۶، باب الموادعة)

قتالهم مطلقاً،أو في الوقت الحاضر......إن خلا عقد المهادنة.....عن شرط فاسد،فان لم تخل عنه لم تجز،كشرط بقاء مسلم أسير تحت أيديهم.....وإن بمال......إلا لخوف مما هو أشد ضرراً من دفع المال منهم أولهم.....(١).

د صلحې په بدله کښې مشرکانو ته د مال د ادا کولو مثالونه: په تاریخ کښې داسې ډیر مثالونه موجود دی چې د مشرکانو د شر نه د محفوظ کیدو دپاره د ضرورت په وخت کښې مسلمانانو مال هم ادا کړې دې.علامه قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کښې نقل کړې دي چې نبی علیه السلام عیینه بن حصن فزاری او حارث بن عوف مری ته د غزوهٔ احزاب په موقع باندې د صلحې پیشکش کړې وو چې نبی علیه السلام به دوی ته د مدینې منورې د کهجورو د پیداوار دریمه حصه ورکوی لیکن ددې دپاره به تاسو دا کار کوئ چې بنو غطفان واپس کړئ او د قریشو ملګرتیا پریږدئ.....(٢).

سعیدبن عبدالعزیز رحمه الله فرمائی چې د جنګ صفین په موقع باندې حضرت معاویه رضی الله عنه مشرکانو سره د مال په بدله کښې صلح کړې وه.هم دا د عبدالملک بن مروان په باره کښې هم روایت دې چې کله هغه عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما سره په جنګ کښې مصروف وو نو دوی رومی بادشاه سره په دې خبره صلح کړې وه چې روزانه به درته زر دیناره ادا کوو.(٣).

٣٠٠٢:(٤) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرٌ- هُوَ ابْنُ الْمُفَضَّلِ - حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ انْطَلَقَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُودِ بْنِ زَيْدٍ إِلَى خَيْبَرَ، وَهْيَ يَوْمَئِذٍ صُلْحٌ، فَتَفَرَّقَا، فَأَتَى مُحَيِّصَةُ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَهْلٍ وَهْوَ يَتَشَحَّطُ فِي دَمٍ قَتِيلاً، فَدَفَنَهُ ثُمَّ قَدِمَ الْمَدِينَةَ، فَانْطَلَقَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ وَحُوَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُودٍ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -، فَذَهَبَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ «كَبِّرْ كَبِّرْ». وَهْوَ أَحْدَثُ الْقَوْمِ، فَسَكَتَ فَتَكَلَّمَا فَقَالَ «أَتَحْلِفُونَ وَتَسْتَحِقُّونَ قَاتِلَكُمْ أَوْ صَاحِبَكُمْ». قَالُوا وَكَيْفَ نَحْلِفُ وَلَمْ نَشْهَدْ وَلَمْ نَرَ قَالَ «فَتُبْرِيكُمْ يَهُودُ بِخَمْسِينَ». فَقَالُوا كَيْفَ نَأْخُذُ أَيْمَانَ قَوْمٍ كُفَّارٍ فَعَقَلَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ عِنْدِهِ.[ر: ٢٥٥٥]

رجال الحديث

①**مسدد:** دا مسدد بن مسرهد رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه" کښې تیره شوې ده.(٥).

---

١) الشرح الكبير مع حاشية الدسوقي:٥٢٧/٢،باب في الجهاد،فصل عقد الجزية)_
٢) الجامع لاحكام القرآن:٤١/٨)_
٣) عمدة القاري:٩٧/١٥،وشرح ابن بطال:٣٥٥/٥،نيز حاشية الدسوقي على الشرح الكبير:٥٢٧/٢)_
٤) قوله: عن سهل بن ابى حثمة":الحديث،مر تخريجه فى كتاب الصلح،باب الصلح المشركين)_
٥) كشف البارى:٢/٢)_

④بشر: دا ابو اسماعيل بشر بن المفضل بن لاحق بصرى رحمه الله دې. د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: رب مبلغ أوعى......" كښې تيره شوې ده.[١]

③يحيى: دا مشهور محدث يحيى بن سعيد الانصارى رحمه الله دې. د دوى تذكره په "بدء الوحى" كښې اجمالاً او په كتاب الايمان، "باب صوم رمضان احتساباً." كښې تفصيل سره تيره شوې ده.[٢]

④بشيربن يسار: دا بشير بن يسار مدنى رحمه الله دې.[٣]

⑤سهل بن ابى حثمه: دا ابو محمد سهل بن ابى حثمه انصارى رحمه الله دې.[٤]

قوله: قال: انطلق عبد الله بن سهل و محيصة بن مسعود بن زيد إلى خيبر وهي يومئذ صلح: حضرت سهل بن ابى حثمه رضي الله عنه فرمائى چې حضرت سهل بن عبد الله او محيصه بن مسعود[٥] د خيبر طرفته روان شو او دادغه ورځو كښې د صلحې والا زمكه وه

قوله: فتفرقا فأتى محيصة إلى عبدالله بن سهل، وهو يتشحط في دم قتيلاً، فدفنه ثم قدم المدينة: هلته دا دواړه حضرات جدا شو، بيا حضرت محيصه د عبدالله بن سهل طرفته راغئ، په داسې حالت كښې چې په وينو كښې لت پت مقتول پروت وو، نو هغوى حضرت عبدالله هلته دفن كړو، بيا مدينه منوره كښې حاضر شو.

دلته واقعه داده چې حضرت عبدالله بن سهل او حضرت محيصه بن مسعود رضي الله عنهما نورو څه ملګرو سره د خيبر طرفته تشريف يوړلو، مقصد دا وو چې خپل اهل وعيال ته كهجورې وركړى چې د خپل اهل وعيال دپاره د خيبر كهجورې راوړى، خيبر ته د رسيدلو نه پس دا دواړه حضرات جدا شو او په خپلو خپلو مصروفياتو كښې مشغول شو، په مقرره ورځ باندې چې كله حضرت محيصه د حضرت عبدالله بن سهل طرفته راغئ نو وې ليدل چې په يو چينه يا كوهى كښې په وينو كښې لت پت پروت دې، سټ مبارك ئې مات شوې دې او د بدن نه ئې روح مبارك تلې دې، هلته د دوى نه علاوه څوک هم نه وو چې د قاتل معلومات اوشى، ددې وجې نه حضرت محيصه رضي الله عنه هغوى هلته دفن كړل او په خپله مدينې منورې ته واپس راغئ.[٦]

---

[١] كشف البارى: ٣/٢٢٢)_

[٢] كشف البارى: ١/٢٣٨، و: ٢/٣٢١)_

[٣] د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء، باب الوضوء من غير حدث)_

[٤] د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب البيوع، باب بيع الثمر على رؤوس النخل)_

[٥] د دوى دواړو د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الصلح، باب الصلح مع المشركين)_

[٦] عمدة القارى: ١٥/٩٦، والقسطلانى: ٥/٢٣٩، وسيرة ابن هشام: ٢/٣/٣٥٥، تسمية النفر الداريين الذين اوصى لهم رسول الله......)_

د يتشحط معنى:دا د باب تفعل نه د مضارع صيغه ده.ددې ماده "شحط" ده.د حديث عالمانو ددې لفظ څو معنې بيان کړې دى.ليکن مطلب د ټولو يو دې.يعنى په وينو کښې لت پت کيدل، كما ذكرنا فوق ايضاً(١).

او "قتيلاً" د حال کيدو د وجې نه منصوب دې(٢).

قوله: فانطلق عبدالرحمن بن سهل ومحيصة وحويصة ابنا مسعود الى النبى صلى الله عليه وسلم: نو حضرت عبدالرحمن بن سهل.محيصه او حويصه د نبى عليه السلام طرفته روان شو.

يعنى کله چې مدينې منورې ته اورسيدل نو ددې نه پس حضرت محيصه رضي الله عنه د نورو دوو صحابه کرامو رضي الله عنهما سره د نبى عليه السلام په خدمت اقدس کښې حاضر شو،دې دپاره چې حضرت عبدالله بن سهل رضي الله عنه سره کومه واقعه اوشوه نو چې نبى عليه السلام د هغې نه خبر کړى.

حضرت عبدالرحمن بن سهل رضي الله عنه:دا د حضرت عبد الله بن سهل رضي الله عنه ورور.د حضرت حويصه او محيصه رضي الله عنهما وراره(٣)حضرت عبدالرحمن بن سهل بن زيدبن کعب بن عامر بن عدى بن مجدعه بن حارثه حارثى انصارى رضي الله عنه دې(٤)د دوى مور بى بى ليلى بنت رافع بن عامر بن عدى ده(٥).

د ابن سعد ،ابن عبدالبر او د دوى په اتباع کښې د ابونعيم اصفهانى خيال دادې چې حضرت عبد الرحمن بن سهل رضي الله عنه په غزوهٔ احد ،غزوهٔ خندق او نورو ټولو غزواتو کښې شريک وو(٦) بلکه ابن عبدالبر يو قول دا هم نقل کړې دې چې دا بدرى صحابى دې(٧)ابن سعد مزيد فرمائى چې دا هغه صحابى دې،چې د غزوهٔ بدر نه پس د عمرې په نيت باندې وتلې وو ليکن په مکه مکرمه کښې قريشو قيدى کړو،بيا د حضرت ابوسفيان رضي الله عنه د ځوئى عمرو په بدله کښې آزاد شو کوم چې په بدر کښې گرفتار شوې وو(٨).

---

(١) قال الخطابى فى اعلام الحديث:١٤٦٧/٢: يتشحط.اى:يضطرب فى الدم".وقال ابن الاثير (النهاية:٤٤٩/٢،باب الشين مع الحاء.و جامع الاصول:٢٨٦/١٠): معناه:يتخبط فى دمه.ويضطرب. ويتمرغ". وقال الداودى،كما حكاه العينى فى العمدة (٩٦/١٥): المتشحط:المختضب..... ")_

(٢) عمدة القارى:٩٦/١٥.وشرح القسطلانى:٢٣٩/٥)_

(٣) دا د ابن اخى....ترجمه ده،په الاصابه کښې ابن عم دې چې غلط دې،تفصيل به وړاندې راشى)_

(٤) انظر الاصابة:٤٠٢/٢،ومعرفة الصحابة:٢٧٣/٣،وعمدة القارى:٩٥/١٥)_

(٥) الاصابة:٤٠٢/٢،ومعرفة الصحابة للاصبهانى:٢٧٣/٣)_

(٦) پورته حواله جات،والاستيعاب بهامش الاصابة:٤٠٢/٢)_

(٧) الاستيعاب بهامش الاصابة:٤٠٢/٢،وهو قول العسكرى ايضا:انظر الاصابة:٤٠٢/٢)_

(٨) الاصابة:٤٠٢/٢)_

دي د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي.او د دوی نه محمد بن کعب قرظي رحمه الله وغيره روايت کوي(۱).

يو ځل مار حضرت عبدالرحمن بن سهل رضي الله عنه اوخوړلو،نبي عليه السلام خبر شو نو وې فرمائيل چې دي عمارة بن حزم ته بوځئ چې هغه ئې دم کړي.صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو يا رسول الله:هغه وخت پورې به دې وفات شي،نبي عليه السلام ته چونکه علم وو چې دۀ ته به شفاء حاصليږي،ددې وجې نه ئې اوفرمائيل چې اګرچه دې وفات شي بيا ئې هم بوځئ.نو صحابه کرامو رضي الله عنهم دې د حضرت عماره بن حزم طرفته بوتلو او الله تعالى دوی ته شفاء ورکړه(۲).حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه دوی لره د حضرت عتبه بن غزوان رضي الله عنه د وفات نه پس د بصرې ګورنر مقرر کړې وو.(۳).

محمدبن کعب قرظي رحمه الله فرمائي چې حضرت عبد الرحمن بن سهل رضي الله عنه په يو غزوه کښې وو،د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه وه او حضرت امير معاويه رضي الله عنه د شام امير وو.دې دوران کښې د دوی مخې ته د شرابو څۀ منګې تير شو نو دوی خپله نيزه واخسته او د هغوی طرفته متوجه شو او په هر منګې کښې ئې سورې اوکړو،د منګو اوړونکې چې کوم غلامان وو نو هغوی حضرت عبد الرحمن بن سهل رضي الله عنه سره په جګړه شو او خبره زياته شوه.هرکله چې حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه ته دا خبره اورسيدو نو هغوی اوفرمائيل چې دې پرېږدئ.دې بوډا شوې دې او عقل ئې رخصت شوې دې.حضرت عبد الرحمن رضي الله عنه اوفرمائيل چې هيڅکله نۀ!زما عقل ختم شوې نۀ دې،ليکن خبره داده چې نبي عليه السلام مونږ ددې خبرې نه منع کړې يو چې مونږ په خپلو لوښو يا خپلو خيټو کښې شراب واچوو......(۴).

د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: په ائمه سير او ائمه مغازي کښې د اکثرو امامانو رائې داده چې حضرت عبد الرحمن بن سهل بن زيد الحارثي الانصاري او حضرت عبد الرحمن بن سهل انصاري دوه کسان نۀ دي،بلکه دا يو سړې دې،ددې وجې نه چې کله تراجم کښې د دوی تذکره راغله نو دې حضراتو دا يو کس شمار کړو او هيڅ تفريق ئې په کښې اونۀ کړو چې دا فلانې دې او دا فلانې دې.ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله په دې دواړو کښې فرق اوکړو چې دا جدا جدا دوه شخصيات دي،ددې وجې نه حافظ رحمه الله د دواړو ترجمه جدا جدا ليکلې ده او دې خبرې ته ئې ترجيح ورکړې ده چې دا دوه کسان دي،فرمائي:"والظاهر أنهما اثنان"(۵).

ابن سعد رحمه الله وغيره د حضرت عبد الرحمن بن سهل انصاري متعلق درې واقعات نقل کړې دي،کوم چې اوس مونږ ذکر کړل،يعنې د مار د خوړلو واقعه،د عمرې د ادا کولو دپاره

---

[1]) الاصابة:۲/۴۰۱_

[2]) الاصابة:۲/۴۰۲،ومعرفة الصحابة للاصبهاني:۳/۲۷۳_

[3]) معرفة الصحابة:۳/۲۷۴_

[4]) پورته حواله،والاصابة:۲/۴۰۲،والاستيعاب: ۲/۴۰۲،ومعجم الصحابة:۲/۱۵۰،باب العين،رقم (۶۲۵)_

[5]) الاصابة:۲/۴۰۲_

مکې مکرمې ته د تلو او هلته د گرفتاريدو او د آزاديدو واقعه او د حضرت معاويه رضي الله عنه په دور کښې چې کومه واقعه پيښه شوې وه.

ددې درې وارو واقعاتو په باره کښې د حافظ رحمه الله تحفظات دى،هغوى فرمائى چې د مار د خوړلو کومه واقعه ده نو کيدې شى چې دا حضرت عبد الرحمن بن سهل الحارثى الانصارى سره هم پيښه شوې وى،دغه شان دا دواړه شخصيات شمار کيدې شى ليکن د قيد او د آزاديدو چې کومه واقعه ده نو هغه مشکله ده،ځکه چې د چا په باره کښې دا اختلاف وى چې دا بدرى دې يا نه؟او کوم چې دغه کال باندې د عمرې د ادا کولو نه پس گرفتار شوې وى هغه د خيبر په موقع باندې کم عمره نه شى کيدې،او د باب په حديث کښې ورته "أحدث القوم" (١) فرمائيلې شوې دې.دغه شان دا کوم چې د خيبر په موقع باندې کم عمر وى.د هغه په باره کښې شل،پنځويشت کاله پس حضرت معاويه رضي الله عنه دا نه شى وئيلې چې "انه شيخ ذهب عقله" ځکه چې دې وخت کښې به د دوى عمر زيات نه زيات څلويښت کاله وى او دا عمر داسې نه وى چې په دې باندې د بوډا توب اطلاق اوکړې شى او په دې عمر کښې چاته ذاهب العقل اووئيلې شى.ددې وجې نه ښکاره داده چې دا دواړه جدا جدا کسان دى(٢).والله اعلم بالصواب

حويصه بن مسعود: دا حضرت حويصه بن مسعود بن کعب بن عامر بن عدى بن مجدعه انصارى رضي الله عنه دې(٣).ددوى کنيت ابوسعد دې(٤).د غزوۀ بدر نه علاوه په نورو ټولو غزواتو کښې دې د نبى عليه السلام سره شريک وو(٥).

د دوى د اسلام قبلولو واقعه: حضرت حويصه د خپل ورور محيصه(٦)نه مشر وو،ليکن د اسلام قبلولو شرافت مخکښې کشر ورور ته حاصل شو،بيا مشر ته حاصل شو.

ابن اسحاق ذکر کړې دى چې د مشهور يهودى کعب بن اشرف د قتل نه پس نبى عليه السلام صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دا اوفرمائيل چې تاسو ته په کوم يهودى باندې هم قدرت حاصليږى نو هغه قتلوئ.ابن سبينه يا ابن شبينه نومې يو سړې يهودى تاجر وو،چې د کپړې تجارت به ئې کوو.ددې اعلان نه پس يو ورځ حضرت محيصه رضي الله عنه موقع بياموندله او هغه ئې قتل کړو،په

---

(١) پورته حواله.دغه شان اوگورئ، حديث باب)_

(٢) الاصابة:٤٠٢/٢)_

(٣) الاصابة:٣٦٣/١.والاستيعاب بهامش الاصابة:٣٩٣/١)_

(٤) الاستيعاب بهامش الاصابة:٣٩٣/١.ومعجم الصحابة:١١٦/٣.رقم (١٠٨٣).باب الميم)_

(٥) الاستيعاب بهامش الاصابة:٣٩٤/١. والاصابة:٣٦٣)_

(٦) قوله: محيصة"بضم الميم وفتح الحاء المهملة.وهو اخو حويصة.....ويقال فيهما جميعا بتشديد الياء وتخغيفا.انظر عمدة القارى:٩٥/١٥.وقال النووى: والاشهر هو التشديد".تهذيب الاسماء واللغات:١٧٦/١)_

دې باندې حضرت حویصه رضي الله عنه ډیر خفه شو چې په دغه وخت کښې ئې لا اسلام قبول کړې نهٔ وو، دهٔ به خپل کشر ورور محیصه وهلو او دا به ئې ورته وئیل چې د الله دشمنه!تا هغه قتل کړو حالانکه ستا په خیټه کښې چې کومه وازګه ده نو دا هم د هغهٔ په اخستلې شوې مال سره جوړه شوې ده؟حضرت محیصه رضي الله عنه ورته په جواب کښې اووئیل، په خدائې قسم!ماته ددهٔ د قتل کولو حکم هغه ذات کړې دې چې که ستا د قتل کولو حکم ما ته راکړې نو تا به هم قتل کړم.....ددې په اوریدو سره حویصه ډیر حیران شو او د خپل ورور ته ئې په سوالیه انداز کښې اووئیل چې په خدائې قسم!که محمد (صلی الله علیه وسلم)زما د سر وهلو حکم تا ته اوکړې نو آیا ما به هم قتل کړې؟حضرت محیصه رضي الله عنه په جواب کښې اووئیل چې بالکل!که هغوی ماته دا حکم اوکړې نو زهٔ به په دې باندې ضرور عمل کوم.ددې په اوریدو سره حویصه اووئیل چې په خدائې قسم!دا دین ډیر عجیبه دې کوم چې تهٔ دې حال ته رارسولې ئې.ددې نه پس حضرت حویصه رضي الله عنه اسلام قبول کړو.(۱).

حضرت حویصه رضي الله عنه د نبی علیه السلام نه روایت کوی.د دوی نه په روایت کوونکو کښې محمد بن سهل بن ابی حثمه اود دوی نوسې حرام بن سعد بن محیصه شامل دې.(۲).رضی الله عنه وأرضاه

خبرداری:د باب په حدیث کښې د حضرت محیصه رضي الله عنه نسب داسې بیان کړې شوې دې، "**محیصة بن مسعود بن زید**"او دا نسب صحیح نهٔ دې،صحیح نسب دا دې چې"**محیصة بن مسعود بن کعب**" اووئیلې شی.مولانا احمدعلی سهارنپوری رحمه الله د علامه کرمانی وغیره حوالې سره لیکلې دی چې امام بخاری رحمه الله چې محیصه بن مسعود بن زید نقل کړې دې نو دا د دوی وهم دې.(۳)

وهم چاته لاحق شوې دې؟علامه کرمانی رحمه الله وغیره دلته چې د امام بخاری رحمه الله طرفته کوم د وهم نسبت اوکړو.دا صحیح نهٔ دې.ځکه چې دا د مصنف وهم نهٔ دې بلکه د یو راوی وهم دې.د امام بخاری رحمه الله نه علاوه آئمه خمسو هم دا حدیث روایت کړې دې.چې په هغې کښې امام ترمذی(۴) او په بعضې طُرُقو کښې امام نسائی او امام مسلم(۵)په دې الفاظو او نسب کښې د امام بخاری رحمه الله موافقت کړې دې،ددې نه هم دا معلومیږی چې دا د یو راوی وهم

---

(۱) هذه القصة لاسلامة اخرجها ابو داود فی کتاب الخراج والامارة والفیء،باب کیف کان اخراج الیهود من المدینة؟رقم (۳۰۰۲)،وابن اسحاق فی سیرة ابن هشام:۴۴۱/۲،والطبرانی فی الکبیر:۳۱۱/۲۰،رقم (۷۴۱)، والاصبهانی فی معرفة الصحابة:۱۶۴/۲،رقم (۲۳۳۳)،والحافظ فی الاصابة:۳۶۳/۱)_

(۲) الاستیعاب بهامش الاصابة:۳۹۴/۱)_

(۳) حاشیة صحیح البخاری للسهار نفوری:۴۵۰/۱،والکرمانی:۱۳۸/۱۳،وفتح الباری:۲۷۶/۶)_

(۴) سنن الترمذی،ابواب الدیات،باب ماجاء فی القسامة،رقم (۴۳۴۲،و۴۳۴۶_۴۳۴۷))_

(۵) سنن النسائی،کتاب القسامة......ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین لخبر سهل.....رقم (۴۷۱۸ و ۴۷۱۹)، وصحیح مسلم،کتاب القسامة......باب القسامة،رقم(۴۳۴۲،و۴۳۴۶_۴۳۴۷)_

دې او په سلسله کښې امام بخاری رحمه الله لره ملامته کول صحیح نهٔ دی.اوس په دې مسئله کښې حتمی خبره کول مشکل دی چې دا پورتنی راویانو کښې د کوم راوی وهم دې(١).

د باب په حدیث شریف کښې د مذکوره صحابه کرامو رضی الله عنهم د رشته داریٔ نوعیت: ددې نه پس دلته یو بحث دا هم دې چې د باب په حدیث شریف کښې د څلورو صحابه کرامو حضرت عبدالله بن سهل،حضرت عبدالرحمن بن سهل،حضرت محیصه بن مسعوداوحضرت حویصه بن مسعود رضی الله عنهم د رشته داریٔ څهٔ کیفیت دې او دا حضرات خپل مینځ کښې د یو بل څهٔ دی؟ په دې سلسله کښې تحقیقی خبره داده چې حضرت محیصه و حویصه دواړه ترونه دی او حضرت عبدالله او عبدالرحمن دواړه وریرونه دی.(٢).

ډیرو علماؤ او محدثینو ته ددې نه مغالطه شوې ده چې د نسب په بیانولو کښې هغوی محیصه بن مسعود بن زید وئیلې شوې دې،کمافی حدیث الباب أیضاً په دې شان سره دا دواړه حضرات خپل مینځ کښې د ترهٔ بچی جوړیږی.او دا خبره بالکل غلطه ده،تردې چې په بعضې روایتونو کښې راویانو د"ابن عم لهما(٣)"الفاظ نقل کړې دی.د حافظ ابن حجر رحمه الله په شان محقق نه دلته تسامح اوشوه چې هغوی د حضرت عبد الرحمن بن سهل رضی الله عنه په ترجمه ذکر کولو کښې دوی ته"ابن عم حویصه ومحیصه(٤)"اووئیل.البته د حویصه او د محیصه نسب ئې بالکل صحیح بیان کړې دې او د علامه عینی الفاظ صحیح صورت حال واضحوی، هغوی فرمائی:"ابن أخی حویصة ومحیصة"(٥).

---

(١) دا حدیث په مسند سهل بن ابی حثمه کښې شمار کړې شوې دې،اګرچه یو ځائې کښې د حضرت محیصه نوم هم راغلې دې انظر تحفة الاشراف:٣٢٢/٨،رقم (١١٢٤١)او ددې حدیث په طرقو کښې تلاش کولو سره دا خبره مخې ته راغله چې د سهل بن ابی حثمه نه دا حدیث دوه حضرات روایت کوی.بشیر بن یسار او ابولیلی بن عبدالله بن عبدالرحمن بن سهل.دویم چې کوم راوی دې د دوی په طریق کښې چې روایات مروی دی نو په هغې کښې یا خو صرف محیصه بن مسعود دې او یا محیصه.د ذکر په کښې بالکل هډو ذکر نشته.او اولنی چې کوم راوی دې یعنی بشیر بن یسار نو د دوی د روایت چې کوم طرق دی په هغې کښې محصیه بن مسعود بن زید دې یا محیصه بن مسعود یا نور الفاظ.بیا چې د بشیر بن یسار کوم شاګردان دی په هغوی کښې یحیی بن سعید الانصاری او سعید بن عبید شامل دی او د سعید بن عبید روایتونو کښې هم ذکر نهٔ دې،ددې وجې نه په ظاهره دا معلومیږی چې مذکوره وهم یحیی بن سعید یا د هغوی یو شاګرد ته پیښ شوې دې.والله اعلم بالصواب. ددې حدیث د طرقو دپاره اوګورئ تحفة الاشراف:٨٩/٤،رقم (٤٦٤٤).ددې حدیث د پوره تخریج دپاره اوګورئ جامع الاصول وتعلیقاته:٢٨٠/١٠_٢٨٥،وابن ماجه.ابواب الدیات.باب القسامة.رقم (٢٦٧٧_٢٦٧٨)

(٢) د امام نسائی د یو روایت نه ددې تائید کیږی،په هغې کښې دی: فجاء اخوه وعماه حویصة ومحیصة. وهما عما عبد الله بن سهل"سنن نسائی.کتاب القسامة.رقم (٤٧٢١).دغه شان اوګورئ، السنن الکبری للبیهقی:٢٠٧/٨_٢٠٨،کتاب القسامة.باب اصل القسامة.رقم (١٦٤٣٦))_

(٣) سنن النسائی.کتاب القسامة.....ذکر اختلاف الفاظ الناقلین لخبر سهل.....رقم (٤٧١٧)،وفی روایة ابی داود.ایضا: ابنا عمه:حویصة ومحیصة"سننه.کتاب الدیات.باب القسامة.رقم (٤٥٢٠))_

(٤) الاصابة:٤٠٢/٢،و:٣٦٣/١)_

(٥) عمدة القاری:٩٥/١٥)_

په دې ځان داسې پوهه کړئ چې د حضرت محيصه نيکهٔ د کعب دوه ځامن مسعود او زيد دی، نور هم کيدې شی،د مسعود په اولاد کښې محيصه او حويصه دی او د زيد په اولاد کښې سهل وغيره،بيا د سهل په اولاد کښې عبدالله بن سهل او عبد الرحمن بن سهل رضی الله عنهم دی،دغه شان دا حضرات خپل مينځ کښې ترونه او وريرونه شو.[1]

دا تفصيل بنهٔ ياد کړئ،اکثر دلته مغالطه کيږی.[2] والله اعلم بالصواب

قوله: فقال: أتحلفون وتستحقون قاتلكم أو صاحبكم؟قالوا: وكيف نحلف ولم نشهد، ولم نر؟: نو نبی ﷺ اوفرمائيل،چې تاسو د قسم کولو دپاره تيار يئ.دغه شان به تاسو ته قاتل ملاؤ شی؟دې حضراتو عرض اوکړو چې مونږ په کوم بنياد باندې قسم اوکړو،حالانکه مونږ په موقع باندې موجود نهٔ وو او نهٔ مونږ څوک ليدلې دی؟

يعنی هرکله چې دې حضراتو نبی ﷺ ته پوره واقعه بيان کړه نو نبی ﷺ اوفرمائيل چې تاسو خلق قسم اوکړئ چې فلانې قاتل دې،دغه شان به ستاسو مقصد حاصل شی او تاسو ته به قاتل ملاؤ شی.په دې باندې دې حضراتو د قسم کولو نه انکار اوکړو او وې وئيل چې قسم خو به هغه سړې کوی چا ته چې قاتل معلوم وی او هغه په موقع باندې موجود هم وی،حالانکه زمونږ معامله دغه شان نهٔ ده.

قوله: قال: فتبريكم يهود بخمسين.فقالوا: كيف نأخذ أيمان قوم كفار؟فعقله النبي ﷺ من عنده: نبی ﷺ اوفرمائيل چې يهوديان به پنځوس قسمونه اوکړی او ستاسو په وړاندې به د براءت اظهار اوکړی.دې حضراتو اووئيل،چې مونږ د يو کافر قوم په قسمونو باندې څنګه اعتماد اوکړو؟نو نبی ﷺ په خپله باندې ديت ادا کړو.

په "من عنده" کښې دوه احتمالات دی،يو خو دا چې نبی ﷺ د خپل خاص مال نه ديت ادا کړو.دويم دا چې دا ديت د بيت المال نه ادا کړې شو.[3]

دې حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم استحقاق ثابت شوې نهٔ وو،دې باوجود نبی ﷺ ديت ددې وجې نه ادا کړو چې جګړه ختمه شی او دې حضراتو تسلی هم اوشی،ځکه چې د هغوی په نزد عرف هم دا وو چې د ديت ملاويدو په صورت کښې به دا خبره ګڼړلې کيده چې د مقتول اولياؤ سره انصاف شوې دې.[4] والله اعلم

ددې نه علاوه دلته د قسامت مسئله بيان کړې شوې ده.د هغې تفصيل به ان شاء الله دويم جلد کښې راشی.[5]

---

[1]) ددې مسئلې صحيح شکل او نقشه داسې ده:_
[2]) اوګورئ، اوجز المسالک:۱۵/۱۶٤_۱۶۵)_
[3]) عمدة القاری:۱۵/۹۶)_
[4]) عمدة القاری:۱۵/۹۶،وشرح ابن بطال:۵/۳۵۵)_
[5]) انظر،کتاب الديات،باب القسامة)_

قوله: فذهب عبدالرحمن يتكلم: فقال: كبر،كبر ـ وهو أحدث القوم ـ فسكت، فتكلما: نو حضرت عبدالرحمن خبرې شروع کړې نو نبی ﷺ اوفرمائيل چې مشرانو ته موقع ورکوه او دې په دغه راتلونکو کسانو کښې د ټولو نه کشر وو،نو دې خاموشه شو او حضرت محيصه وحويصه رضی الله عنهما خپله مدعا پيش کړه.

د حديث نه مستفاد يو حکم: د نبی ﷺ د ارشاد مبارک "کبر کبر" نه دا حکم معلوم شو چې د مشرانو په موجودګئ کښې کشرانو ته خبرې کول پکار نهٔ دی،دا د ادب نه خلاف دی، حضرت محيصه و حويصه رضی الله عنهما چونکه دواړه مشران وو او حضرت عبدالرحمن کشر وو نو نبی ﷺ د مشرانو خيال ساتلو سره د هغوی ورارهٔ عبدالرحمن رضی الله عنه منع کړو چې د دوی په وړاندې تاسو خبره مهٔ کوئ.([1])

يو اعتراض او د هغې جوابونه: دلته دا يو اعتراض کيږی چې حضرت عبد الرحمن بن سهل چې د مقتول ولی وو ،هغه خاموش کړې شو او حضرت حويصه او محيصه رضی الله عنهما ته د خبرې کولو دپاره اووئيلې شو،حالانکه د خبرې حق خو د مقتول د ولی وو؟

①ددې جواب دادې چې د نبی ﷺ مقصود دا وو چې د واقعې په صورت او کيفيت باندې ځان پوهه کړې شی،هرچه د دعوې حقيقت دې نو دلته د هغې متعلق بحث نهٔ دې،ځکه چې که دا خبره مقصود وه نو بيا به حضرت عبدالرحمن خبره کوله چې د هغهٔ حق هم وو.

②ددې خبرې احتمال هم دې چې حضرت عبدالرحمن په خپله دا دواړه حضرات د خپل طرفنه د خبرې کولو دپاره وکيلان جوړ کړل چې خبره تاسو اوکړئ.([2]) والله اعلم

په ترجمة الباب باندې يو اشکال: امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دا الفاظ ذکر کړې وو، "وإثم من لم يف بالعهد" په دې الفاظو باندې حافظ صاحب رحمه الله دا اعتراض کړې دې چې د باب په حديث کښې خو يو څيز هم داسې نشته چې په دې جزء باندې دلالت کوی يا ددې موافقت کوی([3]).

د مذکوره اشکال جوابونه: شيخ الحديث حضرت مولانا محمد زکريا کاندهلوی رحمه الله ددې اعتراض درې جوابونه کړې دی:

①مصنف رحمه الله په دې باب کښې خو څهٔ مناسب حديث ذکر کول غوښتل ليکن د هغې موقع ملاو نهٔ شوه. کما هو المعروف عند الشراح فی مثل هذه المواضع([4]).

---

[1]) عمدة القاری:١٥/٩٦،وقد بوب الامام البخاری رحمه الله بابا ايضا فی کتاب الادب،ای:باب اکرام الکبير...... وذکر تحته حديث الباب،رقم (٦١٤٣))_

[2]) عمدة القاری:١٥/٩٦،وشرح الزرقانی: ٢٠٨/٤،رقم (١٦٩٦)،والاوجز:١٦٨/١٥)_

[3]) فتح الباری:٢٧٦/٦،والابواب والتراجم:٢٠٨/١،وتعليقات لامع الدراری:٣٢٩/٧)_

[4]) الابواب والتراجم:٢٠٨/١،وتعليقات اللامع:٣٢٥/٧)_

②په داسې ځايونو کښې زما په نزد غوره توجيه داده چې امام بخاری رحمه الله دلته قصداً د ذهنونو د متوجه کولو دپاره او په دې باندې د تنبيه کولو دپاره چې ددې مناسب څۀ حديث مې بل ځائې ذکر کړې دې، دلته ئې ذکر نۀ کړو ..... لکه وعده خلاف کس ته به د هغۀ په دې کار باندې چې کومه ګناه وی، ددې ذکر په څو رايتونو کښې راغلې دې، که امام بخاری رحمه الله په يو روايت وغيره باندې انحصار کوو نو چا ته دا وهم کيدې شو چې مذکوره ګناه دې قسم سره خاص ده حالانکه د مصنف مقصود خو دادې چې د وعده خلافئ په ګناه باندې مختلفو طريقو سره خبرداری اوکړې شی، ددې وجې نه هغوی دلته څۀ خاص حديث ذکر نه کړو.
په دې سلسله کښې چې امام بخاری رحمه الله کوم مختلف حديثونه ذکر کړې دی نو هغۀ دې ددې ترجمې مشاراليه اوګنړلې شی چې امام ددې ترجمې په ذريعې د هغه حديثونو طرفته اشاره کړې ده، په کومو کښې چې د وعده خلافئ مذمت او د ګناه تذکره راغلې ده.[1]
③دا هم کيدې شی چې مذکوره کوم روايت د وعده خلافئ په مذمت کښې بيان شوې دې نو امام بخاری رحمه الله ددې په ذريعې سره په دې خبره باندې خبرداری کړې دې چې د وعدې پوره کول خپلول پکار دی.[2] والله اعلم بالصواب

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې داده چې ترجمة الباب سره د حديث مناسبت په دې جمله کښې دې، "**انطلق عبدالله بن سهل ومحيصة.....إلى خيبر، وهي يومئذ صلح**"[3] او په دې معنی کښې چې نبی عليه السلام د خيبر يهوديانو سره صلح کړې وه. د هغې شرط دا وو چې هغوی به نبی عليه السلام ته د خيبر د باغونو نيم پيداوار ورکوی[4]. ددې نه هم دا ثابته شوه چې مشرکانو سره په دواړو صورتونو کښې صلح کيدې شی، چې د مشرکانو نه مال واخستې شی نو داسې هم جائز دی او داسې هم چې د ضرورت په وخت کښې مشرکانو ته مال ورکړې شی، دا د ترجمة الباب مقصود وو.
او د علامه مهلب رحمه الله مطابق د حديث د آخری جزء نه ترجمه ثابتيږی، "**فعقله النبي صلى الله عليه وسلم من عنده**" چې نبی عليه السلام د خپل طرفنه ديت ادا کړو، دا ئې ددې وجې نه ورکړې وو چې د مقتول وينه ضائع نۀ شی، دغه شان د يهوديانو تاليف هم مقصود وو چې کيدې شی دغه شان ددې يهوديانو دپاره د اسلام لاره جوړه شی، او دغه شان د يهوديانو د شرارت او رذالت نه د خپل ځان او د مسلمانانو حفاظت هم مقصود وو، دغه شان ترجمة الباب سره مطابقت ثابتيږی[5].

---

[1]) الابواب والتراجم: ۲۰۸/۱_۲۰۹، وتعليقات اللامع: ۳۲۵/۷)_
[2]) پورته حواله جات)_
[3]) فتح البارى: ۲۷۶/۶)_
[4]) کشف االبارى، کتاب المغازى: ٤١٤، باب غزوة خيبر)_
[5]) شرح ابن بطال: ۳۵۵/۵، وفتح البارى: ۲۷۶/۶)_

او علامه عینی رحمه الله فرمائی چې حدیث سره د ترجمة الباب مناسبت د ''وهی یومئذ صلح'' نه هم حاصلیږی او د ''فعلقه النبی صلی الله علیه وسلم من عنده'' نه هم حاصلیږی ځکه چې مشرکانو سره مصالحت بالمال وو.(١)

ګویا علامه عینی رحمه الله پورتنی دواړه اقوال جمع کړې دی. والله اعلم

⑬باب: فَضْلِ الْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ

د ترجمة الباب مقصد او ماقبل سره مناسبت: تیر شوي باب کښې چونکه د مصالحت او د موادعت ذکر وو، ددې وجې نه امام بخاری رحمه الله دلته دا اووئیل چې کله مصالحت کیږی نو بیا د هغې پوره کول ضروری وی او ددې وعدې د پوره کولو ډیر فضیلتونه دی او په خپله یو ښه صفت هم دې.(٢)

٣٠٠٣:(٣) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي رَكْبٍ مِنْ قُرَيْشٍ كَانُوا تِجَارًا بِالشَّأْمِ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي مَادَّ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَبَا سُفْيَانَ فِي كُفَّارِ قُرَيْشٍ. [ر: ٧]

رجال الحدیث

①**یحي بن بکیر:** دا امام یحیی بن بکیر رحمه الله دې.

②**اللیث:** دا امام ابو الحارث لیث بن سعد فهمی رحمه الله دې. ددې دواړو حضراتو تذکره د ''بدء الوحی'' په ''الحدیث الثالث'' کښې تیره شوې ده.(٤)

③**یونس:** دا یونس بن یزید ایلی رحمه الله دې، د دوی مختصر تذکره په ''بدء الوحی'' او تفصیلی تذکره په کتاب العلم، ''باب من یرد الله به خیرا.....'' کښې راغلې ده.(٥)

④**ابن شهاب:** دا امام محمد بن مسلم بن شهاب زهری رحمه الله دې. د دوی مختصر ترجمه په ''بدء الوحی'' کښې تیره شوې ده(٦).

---

(١) عمدة القاری:(٩٥/١٥)_

(٢) عمدة القاری:(٩٧/١٥)_

(٣) قوله: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما اخبره'':الحدیث،مر تخریجه فی بدء الوحی)_

(٤) کشف الباری:(٣٢٣/١_٣٢٥)_

(٥) کشف الباری:(٤٦٣/١،و:٢٨٢/٣)_

(٦) کشف الباری:(٣٢٦/١،الحدیث الثالث)

⑤**عبيدالله بن عبدالله بن عتبه**:دا د مديني منورې فقيه عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود رحمه الله دې د دوى اجمالى تذكره په "بدء الوحى" كښې او تفصيلى تذكره په كتاب العلم، "باب متى يصح سماع الصغير؟" كښې راغلې ده.(١).

⑥**عبدالله بن عباس**:د مشهور صحابى حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات اجمالى طور په "بدء الوحى" كښې او تفصيل سره په كتاب الايمان، "باب كفران العشير، وكفر دون كفر" كښې تير شوې دى(٢).

⑦**ابوسفيان**:دا مشهور صحابى حضرت ابوسفيان صخر بن حرب رضي الله عنه دې.د دوى تذكره د "بدء الوحى" په "الحديث السادس" كښې تيره شوې ده.(٣).

د باب د حديث ترجمه:حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائى چې حضرت ابوسفيان ابن حرب رضی الله عنه ما ته اووئيل چې د روم بادشاه زهٔ د قريشو او د سورلو سره خپل طرفته اوغوښتم، كله چې زهٔ د شام طرفته د تجارت په غرض سره تلې ووم،دا د هغه زمانې خبره ده چې كوم وخت نبى عليه السلام د قريشو د كفارو په معامله كښې حضرت ابوسفيان سره صلح كړې وه.

د باب حديث د بدء الوحى د شپږم حديث حصه ده،ددې مكمل تشريح هلته تيره شوې ده.(٤).

ترجمة الباب سره د حديث مطابقت:علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چې د وعده خلافئ مذمت او د وعدې د پوره كولو فضيلت په قرآن وحديث كښې ځائې په ځائې موجود دې.حقيقت كښې امام بخارى د هغه حديث هغې سوال طرفته اشاره كړې ده،كوم سوال چې هرقل د ابوسفيان نه كړې وو چې "هل يغدر؟" آيا هغه وعده خلافى هم كوى؟د سوال وجه دا وه چې وعده خلافى يو داسې عمل دې چې په ټوله معاشره كښې بد او سپک ګنړلې شى او د پيغمبرانو په صفاتو كښې(چې د انسانيت مقدس ترين هستيانې دى)دا عمل نهٔ دې چې پيغمبران او انبياء هم په دې صفت باندې متصف شى،ځكه چې هيڅ يو نبى كله هم غدار او وعده خلاف كيدې نهٔ شى(٥).

ددې نه د وعدې د پوره كولو فضيلت او اهميت معلوميږى چې كوم صفت د انبياء كرامو او د پيغمبرانو وى نو هغه به معمولى صفت نهٔ وى،بلكه د هغې اهميت به ډير زيات وى،هم دا د امام بخارى رحمه الله مقصود هم دې.والله اعلم بالصواب.

---

(١) كشف البارى:١/٤٦٦،و:٣/٣٧٩)_

(٢) كشف البارى:١/٤٣٥،و:٢/٢٠٥)_

(٣) كشف البارى:١/٤٨٠)_

(٤) كشف البارى،الحديث السادس،من بدء الوحى:١/٤٨٥_٤٨٧)_

(٥) ابن بطال:٥/٣٥٦،وفتح البارى:٦/٢٧٦،وعمدة القارى:١٥/٩٧،والقسطلانى:٥/٢٤٠)_

⑭باب: هَلْ يُعْفَى عَنِ الذِّمِّي إِذَا سَحَرَ

د ترجمة الباب مقصد: كه يو ذمى په يو مسلمان باندې جادو اوكړو نو آيا دا ذمى معاف كيدې شى يا به دې قتلولې شى يا به بله څۀ سزا وركولې شى؟
په دې مسئله كښې چونكه اختلاف دې،د امت د فقهاؤ په دې كښې اختلاف دې ددې وجې نه امام بخارى رحمة الله عليه د خپل عادت مطابق دا "هل" استفهاميه سره ذكر كړې ده،يقين سره ئې څۀ حكم نۀ دې بيان كړې ليكن كوم حديث چې ئې ترجمه كښې ذكر كړې دې،هغې سره د دوى مذهب معلوميږى چې دا ذمى به معاف كولې شى.(١).

دامت د فقهاؤ د اختلاف تفصيل: ①علامه باجى د امام مالک رحمهما الله مسلک دا نقل كړې دې چې ذمى جادوګر به نۀ شى قتلولې ليكن دوه صورتونه داسې دى چې په دې دوو صورتونو كښې به قتلولې شى:
(ا):د خپل سحر او جادو په ذريعې سره يو مسلمان ته نقصان اورسوى.په دې صورت كښې چونكه دۀ وعده خلافى كړې ده،ددې وجې نه ددۀ سزا به قتل وى البته كه اسلام قبول كړى نو بيا نۀ شى قتلولې.
(ب):د مسلمانانو نه علاوه د خپل مذهب په يو سړى باندې ئې جادو اوكړو،ددې په نتيجه كښې هغه سړې مړ شى نو قصاصاً به دې قتلولې شى او كه هغه كس مړ نۀ شى نو صرف سزا به بيا دې جادوګر ته وركولې شى.(٢).
②د امام احمد رحمه الله په نزد باندې هم كه ساحر په خپل سحر سره يو سړې قتل كړى نو دې به قصاصاً قتلولې شى، صرف په جادو باندې به د قتل سزا نۀ وى.(٣).
③د امام شافعى رحمه الله مذهب هم دادې چې كه د جادوګر په جادو سره څوک مړۀ شى نو دې به قتلولې شى او كه څوک مړۀ نۀ شى نو بيا نۀ قتليږى،په دې شرط چې دې په خپله ددې خبرې اقرار اوكړى چې دا مقتول زما د جادو په نتيجه كښې مړ شوې دې.(٤).
امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چې كه جادوګر د خپل جادو اقرار اوكړى يا څۀ دليل سره ددۀ سحر او جادو ثابت شى نو سزا به ئې قتل وى او ددۀ توبه به هم نۀ قبليږى،په دې معامله

---

(١) عمدة القارى:١٥/٩٧،وفتح البارى:٦/٢٧٧)_
(٢) المنتقى:٢/٩١٠٢،كتاب العقول،الباب الثانى فى قتل الغيلة،والاوجز:١٥/٩٠)_
(٣) المغنى لابن قدامة:٩٣٧/،كتاب المرتد،احكام السحر......)_
(٤) قال الشافعى رحمه الله : واذا سحر رجلا فمات،سئل عن سحره،فان قال:انا اعمل هذا لا قتل،فاخطئ القتل واصيب،وقد مات من عملى ففيه الدية،وان قال:مرض منه،ولم يمت،اقسم اولياؤه:لمات من ذلک العمل، وكانت الدية،وان قال:عملى يقتل المعمول به،وقد عمدت قتله به،قتل به قودا".انظر الام:٨/٢٥٥،كتاب القسامة،باب الحكم فى الساحر......)_

كښې مسلمان، ذمى، آزاد او غلام ټول برابر دى. البته يو قول دا هم دې چې مسلمان ساحر خو به قتلولې شى او كتابى به نۀ شى قتلولې (۱).

د امام اعظم رحمه الله دليلونه: (۱): د امام اعظم رحمه الله يو دليل د ام المؤمنين حضرت حفصه واقعه ده، لكه د نافع عن ابن عمر د طريق نه روايت دې چې د حضرت حفصه يوې وينزې په حضرت حفصه باندې جادو اوكړو، په معلوماتو كولو باندې د هغې جرم ثابت شو او هغې اقرار هم اوكړو، حضرت حفصه حضرت زيد ته اووئيل چې دادې قتل كړې شى. حضرت زيد دا وينزه قتل كړه، البته دا خبره چې كله حضرت عثمان ته معلومه شوه نو هغه خفه شو، په دې باندې حضرت عبدالله بن عمر هغوى ته حاضر شو او د حقيقت نه ئې خبردار كړو.

د حضرت عثمان د خفه كيدو وجه هم دا وه چې دا كار د هغوى د اجازت نه بغير شوې وو (۲).

ددې نه دا مطلب اخستل غلط دى چې حضرت عثمان د جادوګر د قتلولو قائل نۀ وو. (۳).

(۲): د حضرت امام اعظم دويم دليل د حضرت عمر فرمان دې. حضرت بجاله فرمائى چې زۀ د جزء بن معاويه كاتب ووم، چې هغوى ته د حضرت عمر خط راغئ چې "اقتلوا كل ساحر وساحرة، فقتلنا ثلاث سواحر" (۴).

(۳) دغه شان د حضرت عمر په باره كښې راځى چې هغوى يو جادوګر ګرفتار كړو او سينې پورې ئې په زمكه كښې ښخ كړو، په دې حال كښې ئې پريخودۀ، تردې چې هغه سرې مړشو (۵)

(۴) د حضرت حسن بصرى نه روايت دې، فرمائى، "يقتل الساحر ولا يستتاب" (۶).

(۵): د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه هم د جادوګر سزا قتل روايت شوې ده، په جامع ترمذى كښې د حضرت جندب بن عبدالله نه منقول دى چې نبى فرمائى "حد الساحر ضربة بالسيف" (۷). دا ټول روايتونه

---

(۱) احكام القرآن للجصاص: ۵۰/۱، وروح المعانى: ۳۳۹/۱، والاوجز: ۹۰/۱۵)_

(۲) احكام القرآن: ۵۰/۱، وروح المعانى: ۳۳۹/۱، والمؤطا للامام مالك: ۸۷۱/۲، كتاب الديات، باب ماجاء فى الغيلة والسحر، رقم (۱۴/۱۵۱۸))_

(۳) انظر كلام الباجى فيه فى المنتقى: ۹۱۰۱/، والاوجز: ۹۷/۱۵، وانظر ايضا السنن الكبرى للبيهقى: ۱۳۶/۸، رقم (۱۶۴۹۹)، والمصنف لابن ابى شيبة: ۵۹۲/۱٤، كتاب الحدود، باب ما قالوا فى الساحر......رقم (۲۹۵۸۳))_

(۴) اخرجه ابو داود، فى كتاب الخراج......باب فى اخذ الجزية من المجوس، رقم (۳۰۴۳)، واحمد فى مسنده، حديث عبدالرحمن بن عوف الزهرى: ۱۹۰/۱، و۱۹۱، رقم (۱۶۵۷)، واحكام القرآن: ۵۱/۱، ومسند ابى يعلى الموصلى، مسند عبدالرحمن بن عوف، رقم (۸۵۸))_

(۵) احكام القرآن: ۵۱/۱، والمصنف لعبد الرزاق: ۹۴۸۰/، كتاب العقول، باب قتل الساحر، رقم (۱۹۰۲۶))_

(۶) المصنف لابن ابى شيبة، كتاب الحدود، باب ما قالوا فى الساحر......رقم (۲۹۵۷۹))_

(۷) رواه الترمذى فى كتاب الحدود، باب ما جاء فى حد الساحر، رقم (۱۴۶۰)، والحاكم فى المستدرك: ۴۰۱/۴، كتاب الحدود، رقم (۸۰۷۳)، والبيهقى فى الكبرى: ۲۳۴/۸، كتاب القسامة..... [بقيه برصفحه آئنده...

په دې خبره باندې دلالت کوی چې ساحر به قتلولې شی.بيا چونکه په دې روايتونو او آثارو کښې ددې خبرې تفريق نشته چې ساحر مسلمان وی يا غيرمسلم.ددې وجې نه امام اعظم ابوحنيفه فرمائی چې مطلقاً به ساحر قتلولې شی خواه مسلمان وی يا غيرمسلم وی.(١).

د ائمه ثلثه دليلونه: ائمه ثلثه چونکه مطلقاً د ساحر د قتلولو قائل نهٔ دی.په دې خبره کښې هغوی په مسلمان او غيرمسلم کښې فرق کوی چې ساحراهل کتاب به نهٔ شی قتلولې نو په دې سلسله کښې د هغوی دليل د نبی هغه مشهوره واقعه ده.په کومه واقعه کښې چې په نبی باندې جادو شوې وو چې لبيدبن الاعصم يهودی په نبی باندې جادو کړې وو.ليکن نبی هغه قتل نهٔ کړو كمافى رواية الباب.

د ابن قدامه وينا داده چې د قياس تقاضه هم داده چې اهل کتاب جادوګر قتل نهٔ کړې شی،ځکه چې ددهٔ شرک ددې کار نه زياته لويه ګناه ده.په دې شرک باندې دې نهٔ قتليږی چې دې مشرک دې نو د جادوګر کيدو په وجه به ددهٔ قتلول څنګه جائز شی؟(٢).

د ائمه ثلثه د دليلونو نه جوابونه: علامه ابن قدامه چې د خپل مسلک کوم دليل پيش کړو. هغه دا وو چې نبی ﷺ ته بنهٔ پته هم اولګيده چې لبيد بن الاعصم يهودی په ما باندې جادو کړې دې ليکن ددې باوجود نبی ﷺ هغه قتل نهٔ کړو،ددې نه معلومه شوه چې اهل کتاب جادوګربه نهٔ شی قتلولې.ليکن ددې حديث نه استدلال کول په څو وجوهاتو سره صحيح نهٔ دی:

① معامله چونکه د نبی ﷺ د خپل ذات اقدس وه او وړاندې دا خبره تيره شوې ده چې نبی ﷺ به د خپل ذات اقدس دپاره د هيچا نه څهٔ قسم انتقام نهٔ اخستلو.ددې وجې نه هغوی مبارک لبيد بن اعصم قتل نهٔ کړو،ورنه دا خبره به لازم راغلې وه چې نبی ﷺ د خپل ذات دپاره انتقام واخستلو.

② علامه مهلب فرمائی،ددې جادو د وجې نه نبی ﷺ ته څهٔ نقصان نهٔ وو رسيدلې،نو ددې وجې نه نهٔ د وحې سلسله بنده شوه،نهٔ په شرعی احکاماتو کښې څهٔ مشکل او خلل واقع شو بلکه د خپل ذات حده پورې څهٔ وهم واقع شوې وو لکه څنګه چې د حضرت عائشې رضی الله عنها د باب په حديث کښې دی،"حتى كان يخيل إليه انه صنع شيئاً ولم يصنعه"بيا ددې نه علاوه دا خبره هم وه چې الله تعالى نبی ﷺ په دې حالت کښې يواځې پرينخودلو،بلکه د هغوی مبارک ئې پوره پوره مدد اوفرمائيلو او علاج ئې ورته هم اوښودلو،ددې وجې نه نبی ﷺ دغه يهودی جادوګر معاف کړې وو.

لکه علامه ابن بطال رحمه الله دا وجوهات بيانوی او ليکی چې:

بقيه ازحاشيه گذشته] باب تكفير الساحر......رقم (١٦٥٠٠)،والجامع الصغير مع فيض القدير للمناوى: ٤٩٨/٣، حرف الحاء،رقم (٣٦٨٨)،وسنن الدار قطنى،كتاب الحدود،رقم (١١٢))_

[١]) المغنى لابن قدامة:/٩٣٧،وفيه ايضا: والقياس ايضا يقتضى ذلك؛لانه جناية اوجبت قتل المسلم،فاوجبت قتل الذمى كالقتل")_

[٢]) المغنى:/٩٣٧، والاوجز:١٥/٩٠)_

"وعلى هذا القول لاحجة لابن شهاب فى أن النبى عليه السلام لم يقتل اليهودى الذى سحره لوجوه منها: أنه قد ثبت عن الرسول أنه كان لاينتقم لنفسه، ولوعاقبه لكان حاكماً لنفسه.

قال المهلب: وأيضاً فان ذلك سحر لم يضره عليه السلام، لانه لم يفقده شيئاً من الوحى، ولا دخلت عليه داخلة فى الشريعة وإنما اعتراه شيئ من التسخيل والتوهم، ثم لم يتركه الله على ذلك، بل تداركه، ثم عصمه وأعلمه بموضع السحر......"(١).

هرچه دا خبره ده چې شرک لويه ګناه ده، ددې باوجود د شرک سزا قتل نۀ دې نو د جادو سزا څنګه قتل کيدې شى؟ نو ددې جواب دادې چې د يو انسان شرک اختيارول د هغۀ د ذات پورې محدود وى، ددې ضرر وړاندې چا ته نۀ رسيږى او د جادو معامله داسې نۀ ده. د هغې نقصان او ضرر متعدى وى ځکه چې ددې په ذريعې سره جادوګر خلقو ته نقصان رسوى نو د احنافو په نزد جادوګر مطلقاً د قطاع الطريق په حکم کښې دې چې څنګه د قطاع الطريق (ډاکو) سزا قتل دې نو دغه شان د جادوګر سزا هم قتل دې ځکه چې دا دواړه په دې خبره کښې مشترک دى چې دوى په زمکه کښې فساد خوروى(٢).

د مسلمان جادوګر حکم: پورته د کتابى يا د ذمى جادوګر حکم بيان کړې شوې دې ليکن که دا جادوګر مسلمان وى نو ددۀ به څۀ سزا وى؟

(١) امام اعظم رحمه الله چونکه د مسلمان او د غيرمسلم مينځ کښې د فرق کولو قائل نۀ دې نو ددې وجې نه د دوى په نزد د مسلمان جادوګر سزا هم قتل دې.

(٢) هم دا قول د امام مالک او احمد رحمهما الله هم دې، په صحابه کرامو او تابعينو کښې حضرت عمروبن عمر، عثمان، على بن ابى طالب، قيس بن سعد، جندب او د حضرت عمر بن عبد العزيز رضى الله عنهم وغيره هم ددې قائل دى، ځکه چې د نبى کريم ﷺ ارشاد دې، "حد الساحر ضربة بالسيف"(٣).

(٣) او د امام شافعى رائې داده چې صرف د جادو د وجې نه به جادوګر نۀ شى قتليدې، ترڅو چې دې جادوګر ددې خپل جادو په ذريعې سره څوک قتل کړې نۀ وى، هم دا قول د ابن المنذر او په يو روايت کښې د امام احمد رحمهم الله هم دې(٤). د دوى استدلال ددې نه دې

---

(١) شرح ابن بطال:٥/٣٥٨_٣٥٩، وايضا فتح البارى:٦/٢٧٧، وعمدة القارى:١٥/٩٨)_

(٢) الدر المختار:٣/٣٢٤. قال ابن شجاع: فحكم فى الساحر والساحرة حكم المرتد والمرتدة، وقال -نقلا عن ابى حنيفة-: ان الساحر قد جمع مع كفره السعى فى الارض بالفساد، والساعى بالفساد اذا قتل قتل". انظر البيان للصابونى:١/٨٥، والاحكام للرازى:١/٥١)_

(٣) الحديث مر تخريجه آنفًا)_

(٤) المغنى لابن قدامة:/٩٣٥، كتاب قتال اهل البغى، فصل السحر، والام:٢/٢٣٦، رقم (٢٨٢٣)، وهو قول ابن حزم كذلك. انظر المحلى:١٢/٤١٠)_

چې د حضرت عائشې رضي الله عنها يو مدبرې وينزې په دوی باندې جادو اوکړو نو هغوی دا وينزه خرڅه کړه [۱].ددې نه معلومه شوه چې د ساحر سزا قتل نۀ دې.ورنه ددې وينزې خرڅول به جائز نۀ وو ، بلکه دا به په هرحالت کښې قتلولې شوه او هم دا قتل به واجب وو.[۲].

دغه شان د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دې."لايحل دم امرئ مسلم الاباحدی ثلاث......"[۳].

په دې حديث مبارک کښې د درې قسمه خلقو وينه حلاله ګرځولې شوې ده.يعنی قصداً قتل کوونکې.محصن زانی او مرتد.او دا کوم چې جادوګر دې نو ددۀ نه د دريو لويو ګناهونو صدور نۀ دې شوې.ددې وجې نه ددۀ وينه حلاليدل پکار نۀ دی چې دې واجب القتل اوګرځولې شی.[۴].

د ائمه ثلاثه دليلونه: د ائمه ثلاثه اولنې دليل خو هغه دې کوم چې اوس پورته تير شو.

د دوی دويم دليل د حضرت عمر هغه خط دې کوم چې هغوی حضرت جزء بن معاويه ته ليکلې وو، "اقتلواکل ساحر....."[۵]چې ددې په نتيجه کښې هغوی درې څلور جادوګران قتل کړې وو،دا خبره مشهوره هم شوه،ددې باوجود هيڅ يو صحابی په دې کار باندې نکير اونکړو،ګويا په دې باندې د ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع وه چې ساحر به قتلولې شی.

د دوی دريم دليل د حضرت حفصه رضي الله عنها واقعه ده.کومه چې وړاندې تيره شوه چې هغوی خپله يوه جادوګره وينزه قتل کړې وه.[۶].

د اختلاف مدار: حنفيه چې د جادوګر د قتل قائل دی نو ددې وجه داده چې دا کس فسادی دې او په زمکه کښې فساد خوروی او کافر هم دې او د مالکيه په نزد دې زنديق دې او ددۀ سزا بس قتل ده.او امام شافعی رحمه الله د جادوګر د کفر قائل نۀ دې،بلکه صرف يو ګناه ئې ګڼړی،د ګناه سزا تعزير او تاديب خو کيدې شی ليکن قتل نۀ شی کيدې،البته:دا چې ددې جادو په ذريعې سره دې څوک قتل کړی نو په دې صورت کښې به دې قصاصاً قتلولې شی،نۀ چې د ارتداد ،کفر او د زنديقيت د وجې نه به قتلولې شی.[۷].

---

[۱]) المغنی:/٩٣٥،والسنن الکبری للبيهقی:٢٣٧/٨،کتاب القسامة،باب من لايکون سحره کفرا......رقم (١٦٥٠٦)، والمصنف لعبد الرزاق،کتاب العقول،باب قتل الساحر،رقم (١٩٠٢٠_١٩٢٠))_

[۲]) المغنی:/٩٣٥،والام:٢٣٧/٢،کتاب الستسقاء،الحکم فی الساحر والساحرة،رقم (٢٨٢٦))_

[۳]) وتمامه: ان يزنی بعد ما احصن،او يقتل انسانا فيقتل،او يکفر بعد اسلامه فيقتل ".رواه الترمذی فی الفتن،باب ما جاء لا يحل دم امرئ الا باحدی ثلاث،رقم (٢١٥٩)،وابو داود فی الديات،باب الامام يامر بالعفو فی الدم،رقم (٤٥٠٢)،والنسائی فی تحريم الدم،باب ذکرما يحل به دم المسلم،رقم (٤٠١٩)،عن عثمان رضي الله عنه)

[۴]) المغنی:/٩٣٥،والام للشافعی:٢٣٧/٢،الحکم فی الساحر والساحرة،رقم (٢٨٢٦))_

[۵]) مر تخريجه آنفًا)_

[۶]) المغنی لابن قدامة:/٩٣٦)_

[۷]) احکام القرآن للعثمانی:٤١/١،والمنتقی للباجی:/٩١٠١،کتاب العقول)_

يو اهم خبرداري: د پورتني تفصيلاتو نه په ظاهره دا معلوميږي چې د حنفيه په نزد هر قسم جادو كفر دې ليكن دا خيال صحيح نهٔ دې، لكه امام ابو منصور ماتريدى رحمة الله عليه فرمائى:
"إن القول بان السحر كفر على الاطلاق خطاء بل يجب البحث عن حقيقته، فان كان فى ذلك رد ما لزم من شرط الايمان فهو كفر، وإلا فلا"(١).

يو دويم خبرداري: بيا د احنافو په نزد دا حكم چې ساحر به قتلولې شى، په دې كښې ذمى، مسلم، آزاد، غلام، ښځه او سړې ټول برابر دى، نو دا حكم هغه وخت دې چې كله جادوګر د خپل جادو په ذريعې سره فساد خوروى، ددې برخلاف كه دا جادوګر فسادى نهٔ وى نو سړې خو به قتلولې شى ليكن ښځه به نهٔ شى قتلولې، كما فى المرتد يقتل، والمرتدة لا تقتل، بل تحبس(٢).. والله اعلم بالصواب

د ساحر توبه به قبلولې شى يا نهٔ؟ جادوګر كه دا اووائى چې زهٔ توبه كوم نو ددهٔ توبه به قبلولې شى يا نهٔ، په دې كښې اختلاف دې:

① دموالكو رحمهم الله په نزد به ددهٔ توبه مطلقاً نهٔ شى قبلولې، په هرحال كښې به دې قتلولې شى(٣)

② او د شوافعو رحمهم الله په نزد به مطلقاً قبلولې شى(٤).

③ د احنافو او د حنابلو رحمهم الله په دې مسئله كښې دوه روايتونه دى، لكه ابن عابدين فرمائى چې په فتح القدير(٥) كښې دى چې د ساحر توبه به نهٔ شى قبلولې، ظاهر مذهب هم دا دې(٦).
هم دا خبره علامه ابن قدامه هم نقل كړې ده، هغوى ليكى:

"فيه روايتان، إحداهما: أنه لا يستتاب، وهو ظاهر مانقل عن الصحابة، فانه لم ينقل عن أحد منهم انه استتاب ساحراً، وعن عائشة رضى الله عنها(٧)، أن الساحرة سئلت أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم وهم متوافرون هل لها من توبة؟ فما أفتاها أحد"(٨).

---

(١) احكام القرآن للعثمانى: ٤١/١، اقوال الفقهاء فى السحر والساحر، وروح المعانى: ٣٣٩/١، وتفسير المدارك: ٦١/١)_

(٢) احكام القرآن للرازى: ٦١/١، ورد المحتار: ٣٢٣/٣)_

(٣) ذكره الباجى فى المنتقى: ٩١٠٢/، والاوجز: ٩٨/١٥)_

(٤) السنن الكبرى للبيهقى: ٢٣٦/٨، كتاب القسامة، باب قبول توبة الساحر......وفتح البارى: ٢٠٢/١٠، والنووى مع مسلم: ٢٢١/٢، كتاب السلام، باب السحر)_

(٥) فتح القدير: ٣٣٣/٥، كتاب السير، باب احكام المرتدين)_

(٦) حاشية ابن عابدين: ٣٢٣/٣، مطلب فى الساحر......باب المرتد)_

(٧) انظر للقصة بتمامها السنن الكبرى للبيهقى: ٢٣٥/٨_٢٣٦، كتاب القسامة، باب قبول توبة الساحر...... رقم (د ١٦٥٠٣)، وتفسير ابن جرير الطبرى: ٣٦٦/١_٣٦٧، سورة البقرة، الآية (١٠٢))_

(٨) المغنى: ٩٣٦/، والاوجز: ٨٨/١٥)_

ليکن تحقيقي قول ددې حضراتو په نزد هم دادې چې د جادوګر توبه مقبوله ده.لکه صاحب د مدارک علامه نسفي د پورتني قول رد کوی او فرمائي چې د فرعون د جادوګرانو توبه قبوله کړې شوه،ددې وجې نه دا وينا غلطه ده چې د ساحر توبه مقبوله نۀ ده(١).

او ابن قدامه فرمائي: "والرواية الثانية: يستتاب،فان تاب قبلت توبته،لانه ليس بأعظم من الشرك،والمشرك يستتاب، ومعرفته السحر لا تمنع قبول توبته،فان الله تعالى قبل توبة سحرة فرعون، وجعلهم من أوليائه..... "(٢).والله اعلم بالصواب

وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ سُئِلَ أَعَلَى مَنْ سَحَرَ مِنْ أَهْلِ الْعَهْدِ قَتْلٌ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-قَدْ صُنِعَ لَهُ ذَلِكَ،فَلَمْ يَقْتُلْ مَنْ صَنَعَهُ ،وَكَانَ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ.

رجال الحديث

①**ابن وهب**:دا مشهور محدث او فقيه ابو محمد عبد الله بن وهب قرشي مصری رحمة الله عليه دې. د دوی تفصيلي تذکره په کتاب العلم،"باب من يرد الله به خيرا يفقهه... "کښې تيره شوې ده(٣).

②**يونس**: دا يونس بن يزيد ايلي قرشي دې.د دوی مختصر تذکره په بدء الوحی کښې او تفصيلي تذکره په کتاب العلم کښې پورته ذکر شوې باب کښې راغلې ده(٤).

③**ابن شهاب**:د ابن شهاب زهری حالات د"بدءالوحی"په دريم حديث کښې تير شوې دی(٥).

د مذکوره تعليق مقصد:په ترجمة الباب کښې مونږ دا وئيلي دی چې د اهل کتاب جادوګر په باره کښې د امام بخاری ميلان دې طرفته دې چې دې به معاف کولې شی،ددې مدعا د ثابتولو دپاره امام بخاری د ابن شهاب دا تعليق نقل کړې دې،ددې نه دا ثابتيږی چې ذمی ساحر به معاف کولې شی لکه څنګه چې نبی پاک معاف کړې وو.ليکن ددې استدلال جواب مونږ د احنافو وغيره له طرفه وړاندې ذکر کړې دې.

د مذکوره تعليق تخريج:دا تعليق ابن وهب په خپل"جامع"کښې موصولاً نقل کړې دې(٦).

---

(١) تفسير المدارک:٦١/١، البقرة،الآية:١٠٢،وروح المعانی:٣٣٩/١)_

(٢) المغنی:/٩٣٦،والاوجز:٨٨/١٥، سحر سره متعلق نور بحث دپاره اوګوری،کشف الباری،کتاب الطب، ص :٩٦_١٢٦)_

(٣) کشف الباری:٢٧٧/٣)_

(٤) کشف الباری:٤٦٣/١،و:٢٨٢/٣)_

(٥) کشف الباری:٣٢٦/١)_

(٦) تغليق التعليق:٤٨٥/٣،والفتح:٢٧٧/٦،والعمدة:٩٧/١٥،اردو تغليق:٤٥٨/٥)_

قوله: سئل: أعلى من سحر من أهل العهد قتل: د ابن شهاب نه تپوس اوکړې شو چې په اهل عهد کښې که څوک جادو اوکړي نو ايا د هغهٔ سزا قتل ده؟

"سئل" فعل ماضى مجهول دې او په أعلى کښې همزه د استفهام دپاره ده او على حرف جار دې چې د وجوب معنى ته متضمن او شامل دې.(١) .يعنى که په اهل عهد او اهل کتاب کښې څوک جادو اوکړي نو آيا د هغهٔ قتلول واجب دى؟

قوله: قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ صُنِعَ لَهُ ذَلِكَ ، فَلَمْ يَقْتُلْ مَنْ صَنَعَهُ ، وَكَانَ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ .:ابن شهاب ورته په جواب کښې اووئيل چې مونږ ته دا خبره رارسيدلې ده چې په نبى باندې هم جادو کړې شوې وو ليکن هغوى جادوګر قتل نۀ کړو او هغه د اهل کتابو نه وو.

دلته امام بخاری ترجمه خود ذمى قائمه کړې ده او په سوال کښې "أهل العهد" او د ابن شهاب په جواب کښې "أهل الکتاب" ذکر دې، په دې کښې د اشکال څۀ خبره نشته ځکه چې د اهل کتابو نه مراد هم اهل عهد دى، ورنه دا خو حربيان دى او قتل ئې واجب دى.(٢)

دغه شان د عهد او د ذمه يو معنى ده او ددې نه د ابن شهاب د جواب وضاحت هم کيږى چې د اهل کتاب نه مراد هم اهل ذمه او اهل عهد دى.(٣).

ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت: ترجمة الباب سره د مذکوره تعليق مناسبت او مطابقت هم واضح دې کوم چې د پورتنى تقرير نه ظاهر دې.

٣٠٠٤ (٤) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم - سُحِرَ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ.[٣٠٩٥، ٥٤٣٠، ٥٤٣٢، ٥٤٣٣، ٥٧١٦، ٦٠٢٨]

رجال الحديث

①**محمد بن المثنى**: دا ابو موسى محمد بن المثنى بن عبيد بصرى دې.د دوى تذکره په کتاب الايمان، "باب حلاوة الايمان" کښې راغلې ده.(٥).

---

(١) عمدة القارى:١٥/٩٧)_

(٢) شرح الکرمانى:١٣/١٣٩)_

(٣) عمدة القارى:١٥/٩٧، وفتح البارى:٦/٢٧٧)_

(٤) قوله عن عائشة رضي الله عنها:الحديث،اخرجه البخارى ايضا،کتاب بدء الخلق،باب صفة ابليس و جنوده،رقم (٣٢٦٨)،وکتاب الطب،باب السحر،رقم (٥٧٦٣)و(٥٧٦٥_٥٧٦٦)،وکتاب الادب،باب قول الله تعالى:(ان الله يامر بالعدل.....)،رقم (٦٠٦٣)،وکتاب الدعوات،باب تکرير الدعاء،رقم (٦٣٩١)،ومسلم،کتاب السلام،باب السحر،رقم (٥٧٠٣_٥٧٠٤))_

(٥) کشف البارى:٢/٢٥)_

④**یحیی**: دا امام یحیی بن سعید القطان دي د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب من الایمان ان یحب لاخیه....." کښې تیره شوې ده.[1]

③**هشام**: دا هشام بن عروة بن الزبیر قرشی دې.

④**ابی** د اب نه مراد حضرت عروة بن الزبیر دي.ددې دواړو حضراتو حالات اجمالاً په "بدء الوحی" کښې او تفصیل سره په "کتاب الایمان" کښې تیر شوې دی.[2]

⑤**عائشة**: د ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه حالات په "بدء الوحی" کښې تیر شوې دی.[3]

قوله: أن النبی صلی الله علیه وسلم سحر، حتی کان یخیل إلیه أنه صنع شیئاً ولم یصنعه.: د حضرت عائشې ﷞ نه روایت دې چې په نبی باندې جادو اوکړې شو.چې د هغې په نتیجه کښې نبی ته دا وهم او ګمان لاحق شو چې ما فلانې کار کړې دې او حقیقت کښې به ئې هغه کار نۀ وو کړې.

په دې حدیث مبارک کښې حضرت عائشې هغه مشهور واقعې طرفته اشاره کړې ده په کومه واقعه کښې چې په نبی باندې د جادو کیدو او د هغې په نتیجه کښې د اثراتو د ظاهر کیدلو تذکره ده.دلته امام بخاری د هغې واقعې څۀ حصه نقل کړې ده او مکمل واقعه ئې په کتاب الطب[4].کښې نقل کړې ده او ددې پوره تشریح هم هلته ذکر شوې ده.[5]

ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت:ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت دغه شان دې چې نبی ﷺ هغه یهودی لبید بن الاعصم معاف کړې وو.باوجود ددې چې د هغۀ دا جرم ډیر لوئې او قبیح وو لکه څنګه چې اوس مونږ پورته ذکر کړل،دا خبره اګرچه د باب په حدیث شریف کښې نشته لیکن په تفصیلی واقعه او حدیث کښې موجود ده.[6]

وقال الحافظ ﷫ **:"واشار بالترجمة الی ماوقع فی بقیة القصة ان النبی ﷺ لما عوفی امر بالبئر فردمت، وقال: کرهت ان اثیر علی الناس شرا"**..لکه د کتاب الطب په روایت کښې راغلې دی:

"یا رسول الله،أفلا؟أی تنشرت "فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم:أما والله،فقد شفانی وأکره أن أثیر علی أحد من الناس شراً"[7].

---

[1]) کشف الباری:٢/٢)_
[2]) کشف الباری:٢٩١/١، و:٢/٤٣٢_٤٤٠)_
[3]) کشف الباری:٢٩١/١)_
[4]) صحیح البخاری.کتاب الطب.باب السحر.رقم (٥٧٦٣))_
[5]) کشف الباری.کتاب الطب.ص :١٠٤_١١٩)_
[6]) فتح الباری:٢٧٧/٦.وعمدة القاری:٩٨/١٥.وارشاد الساری:٢٤٠/٥)_
[7]) صحیح البخاری.کتاب الطب.باب هل یستخرج السحر؟رقم (٥٧٦٥))_

⑮ باب: مَا يُحْذَرُ مِنَ الْغَدْرِ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری دلته دا فرمائی چې که کافرانو سره مصالحت اوشی نو ددې مطلب دا نۀ دې چې مسلمانان بې فکره او د دشمن له طرفه غافل شی، بلکه بیدار اوسیدل پکار دی، کافران خلق دی، معلومه نۀ ده چې څۀ وخت وعده خلافی کوی او صلح ماته کړی او د عالمی حربی قوانینو خلاف ورزی اوکړی او حمله آور شی. ددې وجې نه غافله کیدل صحیح نۀ دی بلکه هوښیار او بیدار اوسیدل پکار دی.

قوله: وقوله تعالى: ﴿وإن يريدوا أن يخدعوك فإن حسبك الله﴾: الآية/الأنفال:٦٢/

او د الله تعالی قول دې چې که دا کافران او مشرکان تاسو ته دهوکه درکول اوغواړی نو الله تعالی ستاسو دپاره کافی دې.

وقوله تعالى...... ددې عطف په وړاندې لفظ غدر باندې دې، کلمه د حسب د سین مهمله سکون سره ده، چې ددې معنی ده کافی کیدل.(١).

مطلب دادې چې که کافران او مشرکان تاسو سره صلح اوکړی او دې صلح کولو سره د دوی نیت دهوکه کول وی، تیاری کول وی، مزید قوت او طاقت حاصلول وی او بیا تاسو ته مقابلې ته راتلل وی نو په دې کښې د ویریدلو هیڅ خبره نشته، ځکه چې د الله تعالی قهار او جبار ذات یواځې ستاسو دپاره کافی دې(٢).

زمونږ په وړاندې چې کومه نسخه موجود ده نو په هغې کښې د آیت کریمه صرف هم دا حصه نقل کړې شوې ده کومه چې د ابوذر نسخه ده، او په ابن عساکر کښې د ﴿عزيز حكيم﴾ پورې ایتونه نقل کړې شوې دی(٣). ددې نسخې په اعتبار سره پوره آیتونه د ترجمې سره لاندې ذکر کولې شی:

﴿وإن يريدوا أن يخدعوك فإن حسبك الله هو الذي أيدك بنصره وبالمؤمنين، وألف بين قلوبهم لو أنفقت ما في الارض جميعا ما ألفت بين قلوبهم ولكن الله ألف بينهم إنه عزيز حكيم﴾(٤).

"اوکه دا کافران او مشرکان تاسو ته دهوکه درکول اوغواړی نو الله تعالی ستاسو دپاره کافی دې، دا هغه ذات دې چې د خپل نصرت او د مؤمنانو په ذریعې سره ئې تاسو ته قوت درکړو او د مؤمنانو زړونه ئې پیوست کړل، که د زمکې په مخ باندې څومره څۀ دی دا ټول هم

---

١) فتح الباری:٦/٢٧٧،وقال العینی انه معطوف علی ما یحذر....."انظر عمدة القاری:١٥:٩٩] علامه آلوسی رحمه الله د کلمه حسب" متعلق لیکی "فحسب صفة مشبهة بمعنی اسم الفاعل،والکاف فی محل الجر. کما نص علیه غیر واحد....وقال الزجاج:انه اسم فعل بمعنی کفاک،والکاف فی محل نصب".روح المعانی:٦/٢٨)

٢) ارشاد الساری:٥/٢٤١)_

٣) پورته حواله،وعمدة القاری:١٥/٩٩ ،وروح المعانی:٦/٢٨،والقرطبی:٨/٤٢)_

٤) الانفال:٦٢_٦٣)_

تاسو خرچ کړې وې نو د دوی زړونه به تاسو نه وو جوړ کړې.لیکن الله تعالی هغه ذات دې چاچې د دوی مینځ کښې جوړ او موافقت پیدا کړو ،بیشکه هغه غالب او حکمت والا دې".

پورتنی آیت کریمه کښې دې خبرې طرفته اشاره ده چې که مسلمانانو ته دا معلومه شی چې دشمن چې کومه د صلحې خبره کوی نو دا سراسر دهوکه بازی ده او مکر و فریب دې،د تیارئ کولو مهلت غواړی نو بیا هم ددې کافرانو خبره قبلول پکار دی،په دې کښې څهٔ ویره وغیره محسوسول پکار نهٔ دی نو ددې وجې نه صلح دې اوکړې شی او وړاندې معامله دې الله تعالی ته اوسپارلې شی،د هغهٔ په ذات باندې دې یقین اوکړې شی(لیکن ددې کافرانو له طرفه غافله کیدل او بې پرواه کیدل هم پکار نهٔ دی)

حافظ ابن حجر لیکی: "وفی هذه الآیة إشارة إلی أن احتمال طلب العدو للصلح خدیعة لایمنع من الاجابة إذا ظهر للمسلمین بل یعزم ویتوکل علی الله"(۱).

علامه مهلب فرمائی چې ددې نه علاوه په دې آیت کریمه کښې ددې خبرې دلالت هم دې چې نبی ﷺ ټول ژوند مبارک کښې د مکر و فریب نه محفوظ وو ،ددې خبرې ضمانت په دې آیت کریمه کښې ورکړې شوې دې،دا خصوصیت د نبی ﷺ نه علاوه هیچاته حاصل نهٔ دې ځکه چې د الله تعالی ارشاددې چې الله تعالی به تاسو خلق محفوظ ساتی(۲)،ددې وجې نه د امت اجماع ده چې نبی معصوم فی الرساله دې او د خلقو د مکر و فریب او دهوکه بازئ نه هم محفوظ پاتې شو(۳)

د ترجمة الباب او ایت کریمه مینځ کښې مناسبت:امام بخاری په ترجمة الباب کښې دا وئیلې وو چې کفارو سره د مصلحت کولو باوجود بیدار اوسیدل پکار دی او د آیت کریمه مفهوم دا وو چې که د کافرانو اراده د وعده خلافئ کولو وی نو په دې کښې د پریشانئ هیڅ خبره نشته.نو اوس د آیت کریمه او د ترجمة الباب مینځ کښې مناسبت دا شو چې الله تعالی باندې توکل کولو او یقین کولو سره دې مصلحت اوکړې شی ځکه چې هغه ذات هرڅهٔ کولې شی او د کفارو د مکر و فریب نه غافله کیدل هم پکار نهٔ دی بلکه بیدار اوسیدل پکار دی.

دې سره سره د اسبابو انتظام هم کول پکار دی.دا د ټولو نه غوره طریقه ده.والله اعلم بالصواب

۳۰۰۵ (۴) حَدَّثَنَا الْحُمَیْدِیُّ حَدَّثَنَا الْوَلِیدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ زَبْرٍ قَالَ سَمِعْتُ بُسْرَ بْنَ عُبَیْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا إِدْرِیسَ قَالَ سَمِعْتُ عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ أَتَیْتُ النَّبِیَّ -

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۷۷)_

(۲) قال الله عزوجل:(والله یعصمک من الناس) (المائدة/۶۷))_

(۳) شرح ابن بطال:۵/۳۵۷)_

(۴) قوله: عوف بن مالک رضی الله عنه :"الحدیث.اخرجه ابو داود.کتاب الادب.باب ما جاء فی المزاح،رقم (۵۰۰۰).وابن ماجه.کتاب الفتن.باب اشراط الساعة.رقم (۴۰۴۲).وباب الملاحم،رقم (۴۰۹۵))_

صلى الله عليه وسلم - فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ: «اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، مَوْتِي، ثُمَّ فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، ثُمَّ مُوتَانٌ يَأْخُذُ فِيكُمْ كَقُعَاصِ الْغَنَمِ، ثُمَّ اسْتِفَاضَةُ الْمَالِ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مِائَةَ دِينَارٍ فَيَظَلُّ سَاخِطًا، ثُمَّ فِتْنَةٌ لاَ يَبْقَى بَيْتٌ مِنَ الْعَرَبِ إِلاَّ دَخَلَتْهُ، ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَنِي الأَصْفَرِ فَيَغْدِرُونَ، فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً، تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا».

رجال الحديث

① **الحميدى**: دا ابو بكر عبدالله بن زبير حميدى مكى دي. د دوى تذكره د "بدء الوحى" د اولنى حديث په ضمن كښې راغلې ده(١).

② **الوليد بن مسلم**: دا ابو العباس الوليد بن مسلم قرشى دي.(٢).

③ **عبدالله بن العلاء بن زبر**: دا ابو عبدالرحمٰن يا ابو زبر (٣). عبدالله بن العلاء بن زبر بن عطارد بن عمرو ربعى، شامى دمشقى دي. دا د مشهور محدث ابراهيم بن عبدالله بن العلاء والد صاحب او د بشر بن العلاء ورور دي.(٤).

د دوى د څوئى ابراهيم د وينا مطابق دوى په ٧٥ هجرئ كښې پيدا شو.(٥).

دي د بُسر بن عبيد الله، يزيد بن ثور، ربيعه بن مرثد، سالم بن عبدالله بن عمر، ضحاك بن عبدالرحمن، عطيه بن قيس، عمر بن عبدالعزيز، قاسم بن محمد بن ابى بكر، قاسم بن عبدالرحمن، مكحول او د نافع (د ابن عمر د مولى) نه علاوه د نورو ګڼړو حضراتو نه د حديث روايت كوى.

او ددوى نه ددوى څوئې ابراهيم، زيد بن حباب، عمر بن ابى سلمه، الوليد بن مسلم، محمد بن شعيب، مروان بن محمد، شبابه بن سوار، ابو مسهر او ابو المغيرو غيره د حديث روايت كوى(٦)

امام احمد بن حنبل فرمائى، "مقارب الحديث"(٧).

---

(١) كشف البارى: ١/٢٣٧_

(٢) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب مواقيت الصلاة، باب وقت المغرب)_

(٣) قوله: زبر "بفتح الزاى المعجمة وسكون الموحدة. انظر التقريب: ١/٥٢١، رقم (٣٥٣٢)، واكمال ابن ماكولا: ٤/١٦٢، وشرح القسطلانى: ٥/٢٤١)_

(٤) تهذيب الكمال: ١٥/٤٠٥_٤٠٦، والاكمال لمغلطاى: ٨/١٠٩، رقم (٣١١٠))_

(٥) تهذيب الكمال: ١٥/٤١٠، وسير العلام النبلاء: ٧/٣٥١، والاكمال لمغلطاى: ٨/١٠٩، وكتاب الثقات لابن حبان: ٧/٢٧)_

(٦) د دوى استاذانو او شاګردانو دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال: ١٥/٤٠٦_٤٠٧)_

(٧) تهذيب الكمال: ١٥/٤٠٧، وتهذيب التهذيب: ٥/٣٥٠، وسير اعلام النبلاء: ٧/٣٥٠)_

عباس دورى، ابوبكر بن ابى خيثمه، عثمان بن سعيد دارمى او معاويه بن صالح د امام يحيى بن معين نه نقل كړې دى چې هغوى فرمائى، "ثقة"(١).

دغه شان امام ابو داؤد فرمائى، "ثقة"(٢).

امام نسائى فرمائى. "ليس به باس"(٣)

ابن سعد د دوى شمار په شاميانو كښې "الطبقة الخامسة" كښې كړې دې. دغه شان فرمائى، "كان ثقة إن شاء الله"(٤).

عبدالرحمن بن ابراهيم دُحيم فرمائى، "كان ثقة، وكان من أشراف البلد"(٥).

هشام بن عمار فرمائى: "بخ، ثقة، سمع من القاسم أبى عبدالرحمن وعمر بن عبدالعزيز، هو قديم"(٦).

امام ابوحاتم فرمائى. "يكتب حديثه"(٧).

مزيد فرمائى، "هو أحب إلى من أبى معيد حفص بن غيلان"(٨).

امام دارقطنى فرمائى، "ثقة يجمع حديثه"(٩).

ابن حبان د دوى ذكر په كتاب الثقات كښې كړې دې(١٠).

امام عجلى او حافظ ابن عبدالرحيم هم دوى ته ثقه وئيلې دې.(١١).

او ابن شاهين هم دې په "الثقات" كښې ذكر كړې دې.(١٢)

د حضرت عبدالله بن العلاء انتقال په ١٦٤ يا ١٦٥ هجرئ كښې اوشو، سيعد بن عبدالعزيز د

---

(١) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٧_٤٠٨، وتهذيب التهذيب:٥/٣٥٠، وتاريخ بغداد:١٠/، وتاريخ عثمان بن سعيد الدارمى:١٥٣، رقم (٥٣٤))_

(٢) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٨، وتاريخ بغداد:١٠/١٧، وسير اعلام النبلاء:٧/٣٥١)_

(٣) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٨، والاكمال للمغلطاى:٨/١٠٩)_

(٤) الطبقات الكبرى لابن سعد:٧/٤٦٨)_

(٥) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٨، وتهذيب التهذيب:٥/٣٥٠، وسير اعلام النبلاء:٧/٣٥٠، والمعرفة والتاريخ للفسوى:١/١٠، وفى سنة خمس وستين ومائة)_

(٦) المعرفة والتاريخ للفسوى:٢/٢٢٨، رقم (٢٣١)، وتهذيب الكمال:١٥/٤٠٩)_

(٧) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٩، وتهذيب التهذيب:٥/٣٥٠)_

(٨) الجرح والتعديل:٥/١٥٨، رقم (٥٩٢)، پورته حواله جات)_

(٩) تهذيب الكمال:١٥/٤٠٩، وسير اعلام النبلاء:٧/٣٥١، وتهذيب التهذيب:٥/٣٥١)_

(١٠) كتاب الثقات:٧/٢٧)_

(١١) الاكمال للمغلطاى:٨/١٠٩، وتهذيب التهذيب:٥/٣٥١)_

(١٢) پورته حواله جات)_

دوی دجنازې مونځ اوکړو، دوفات په وخت ددوی عمر ۸۵ کاله وو.(١) رحمه الله تعالی رحمة واسعة

خبرداري: حضرت عبدالله بن العلاء بن زبر متفق علیه ثقه دې، لیکن معلومه نهٔ ده څهٔ وجه اوشوه چې ابن حزم ظاهری د خپل عادت موافق دهٔ ته ضعیف وئیلې دې او ددې نسبت ئې د امام یحیی بن معین طرفته کړې دې چې هغوی دهٔ ته ضعیف وئیلې دې.(٢) لیکن ددې جرح هیڅ اعتبار نشته، ددې وجوهات لاندې ذکر کولې شی:

اول دا چې دا جرح مبهمه ده، ابن حزم ددې وجې نهٔ ده بیان کړې چې دې ولې ضعیف دې او مبهم جرح معتبر نهٔ وی.(٣)

دویم دا چې د یحیی ابن معین طرفته کوم نسبت کړې شوې دې نو دا په ظاهره صحیح نهٔ معلومیږی ځکه چې وړاندې مونږ ذکر کړې دی چې امام ابن معین دوی ته ثقه وئیلې دی.(٤)

دریم دا چې د امام مسلم نه علاوه نورو پنځو امامانو د دوی روایات قبول کړې دی، دا هم ددې خبرې دلیل دې چې دې ضعیف نهٔ دې.(٥)

④ **بسر بن عبدالله**: دا جلیل القدر فقیه بسر بن عبدالله حضرمی شامی دې.(٦)

دې د واثله بن الاسقع، عمرو بن عبسه، رویفع بن ثابت، سنان بن عرفه، عبدالله بن محیریز او د ابو ادریس خولانی رضی الله عنهم نه روایت کوی. او د دوی نه چې څوک روایت کوی نو په هغوی کښې عبدالله بن العلاء بن زبر، عبد الرحمن بن یزید بن جابر، زید بن واقد، داؤد بن عمرو الاودی رحمهم الله وغیره شامل دی.(٧)

امام عجلی او امام نسائی فرمائی، "ثقة".(٨)

---

(١) پورته حواله جات، وتهذیب الکمال: ١٥/ ٤١٠، وکتاب الثقات: ٧/ ٢٧)_

(٢) المحلی لابن حزم: ٦/ ١٠٥، کتاب الاطعمة، حکم استعمال اوانی اهل الکتاب، رقم (١٠٢٤)، ومیزان الاعتدال للذهبی: ٢/ ٤٦٤، رقم (٤٤٦٦)، وتهذیب التهذیب: ٥/ ٣٥١)_

(٣) قواعد فی علوم الحدیث للعثمانی: ١٧٤_١٧٥، و: ٢٦٨، وشرح نخبة الفکر: ١٣٦، والجرح مقدم علی التعدیل...... قال الحافظ: له فی البخاری حدیثان، احدهما: فی تفسیر الاعراف بمتابعة زید بن واقد، کلاهما عن بسربن عبیدالله، والآخر: فی الجزیة، و روی له اصحاب السنن". هدی الساری: ٥٨٣، حرف العین، الفصل التاسع سیاق اسماء من طعن.....)_

(٤) قال ابن حجر رحمه الله فی التهذیب(٥/ ٣٥١): قال شیخنا فی شرح الترمذی: لم اجد ذلک عن ابن معین بعد البحث، و وقع فی المحلی لابن حزم فی الکلام علی حدیث ابی ثعلبة فی آنیة اهل الکتاب: عبد الله بن العلاء لیس بالمشهور" (انظر المحلی: ٦/ ١٠٥)، وهو متعقب بما تقدم")_

(٥) میزان الاعتدال: ٢/ ٤٦٤، وسیر اعلام النبلاء: ٤/ ٥٩٢، والاکمال لمغلطای: ٢/ ٣٨٤)_

(٦) تهذیب الکمال: ٤/ ٧٥، وسیر أعلام النبلاء: ٤/ ٥٩٢، والاکمال للمغلطای: ٢/ ٣٨٤)_

(٧) د استاذانو او شاګردانو دپاره ئې اوګورئ، تهذیب الکمال: ٤/ ٧٦)_

(٨) پورته حواله، وتهذیب التهذیب: ١/ ٤٣٨)_

ابو مسهر فرمائی، "احفظ أصحاب أبي ادريس عنه: بسر بن عبدالله"[1].

مروان بن محمد فرمائی "هو من كبار أهل المسجد، ثقة من أهل العلم"[2].

حافظ ذهبی فرمائی: "ثقة..... "وكان من علماء دمشق"[3]

د حدیث اصولو سره د دوی ځومره شوق وو او ددې دپاره به ئې ځومره محنت کوو نو ددې اندازه د دوی ددې قول نه کیږی، فرمائی:

"إنه كان ليبلغني الحديث في المصر، فارحل فيه مسيرة ايام"[4]

چې "کله به ماته معلومه شوه چې په فلانی ښار کښې حدیث موجود دې نو ما به د هغې د حصول دپاره څو ورځې سفر کوو"

د اصول سته اصحابو د دوی روایات اخستلې دی[5].

تقریباً په ۱۱۰هجرئ کښې د اموی خلیفه هشام بن عبدالملک په خلافت کښې ئې د دوی وفات شو[6]، رحمه الله رحمة واسعة

خبرداری: ابن حبان د دوی ترجمه په کتاب الثقات کښې درج کړې ده لیکن دې ئې تبع تابعی ښودلې دې[7]. دا خبره په ظاهره صحیح نۀ ده ځکه چې دې د واثله بن اسقع او د عمرو بن عبسه په شان جلیل القدر صحابه کرامو رضی الله عنهما نه روایت کوی. ددې وجې نه به ئې دوی لیدلې هم وی، ملاقات به ئې هم ورسره کړې وی، لهذا دې تبع تابعی نۀ دې بلکه تابعی دې.

⑤**ابو ادریس**: دا مشهور بزرګ تابعی ابو ادریس عائذ الله بن عبدالله خولانی دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب بلاترجمة" کښې راغلې دی[8].

⑥**عوف بن مالک**: دا مشهور صحابی حضرت عوف بن مالک الاشجعی دې[9].

د حدیث شریف سند سره متعلق یوه فائده: زمونږ د نظر وړاندې چې کوم حدیث دې هغې کښې عبدالله بن العلاء ددې خبرې وضاحت کړې دې چې هغوی دا حدیث براه راست د بسر بن عبدالله نه اوریدلې دې، "قال: سمعت بسر بن عبدالله....." او هم دا روایت امام طبرانی هم

---

[1]) پورته حواله جات، وسیر اعلام النبلاء: ۵۹۲/۴، والثقات لابن حبان: ۱۰۹/۶)_

[2]) تهذیب الکمال: ۷۶/۴، وتهذیب التهذیب: ۴۳۸/۱)_

[3]) سیر اعلام النبلاء: ۷۷/۴)_

[4]) تهذیب الکمال: ۴/)_

[5]) تهذیب الکمال: ۷۷/۴، وتهذیب التهذیب: ۴۳۸/۱. وسیر اعلام النبلاء: ۵۹۲/۴)_

[6]) سیر اعلام النبلاء: ۵۹۲/۴)_

[7]) کتاب الثقات للتمیمی: ۱۰۹/۶)_

[8]) کشف الباری: ۴۸/۲)_

[9]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الصلح، باب الصلح مع المشرکین)_

روایت کړي دي.په هغې کښې ددې دواړو مینځ کښې د یو دریم راوی زید بن واقد تذکره هم ده (۱).د حافظ صاحب د تصریح مطابق د طبرانی دا روایت د اصولِ حدیث په اصطلاح کښې د "المزید فی متصل الاسانید(۲)"

"والمزید فی متصل الاسناد: ما زید فی اثناء اسناده راو، ومن لم یزده اتقن ممن زاده، وشرطه ان یقع التصریح بالسماع فی موضع الزیادة فی روایة من لم یزدها، والا ترجحت الزیادة، وکان الخبر المزید فیه مدلسا او منقطعا او مرسلا خفیا". وانظر ایضا شرح النخبة: ۹۲، ثم المخالفة...... ")_د قبیل نه دې او دې سره د صحیح بخاری د روایت په صحت کښې څۀ فرق نۀ پریوځی، ځکه چې اول په دې روایت کښې د سماع وضاحت دې۔

او دویم دا چې امام ابوداؤد(۳)، ابن ماجه(۴) او اسماعیلی(۵) رحمهم الله هم دا حدیث مختلفو ترکیبونو سره نقل کړې دې او په هیڅ یو طریق کښې هم زید بن واقد نشته(۶).

قوله: قال: أتیت النبی صلی الله علیه وسلم فی غزوة تبوك: حضرت عوف بن مالک فرمائی چې زۀ د نبی په خدمت کښې حاضر شوم، کوم وخت چې دوی مبارک په غزوۀ تبوک کښې وو.

د تبوک غزوه چونکه په نهمه هجرئ کښې شوې وه نو صحابی چې کومه خپله واقعه نقل کړې ده هغه د نهمې هجرئ ده (۷) د مستدرک حاکم په روایت کښې ددې بیان هم دې چې دا واقعه د سحر د وخت ده.(۸).

قوله: وهو فی قبة من أدم: او نبی ﷺ په یو قبه کښې آرام فرما وو چې د څرمن نه جوړه شوې وه.

قبه د قاف پیش سره او باء مشدده مفتوحه سره، ددې اطلاق په هر هغه څیز باندې کیږی کوم چې ګول جوړ شوې وی، لکه ګنبد، خیمه وغیره لیکن دلته هغه خیمه مراد ده کومه چې د

---

(۱) رواه الطبرانی فی المعجم الکبیر: ۱۸/۴۰_۴۱. ابو ادریس الخولانی عن عوف. رقم (۷۰))_

(۲) قال العلامة العثمانی رحمه الله فی قواعد علوم الحدیث(۴۵))_

(۳) انظر سنن ابی داود. کتاب الادب. باب ما جاء فی المزاح. رقم (۵۰۰۰))_

(۴) انظر سنن ابن ماجه. کتاب الفتن. باب اشراط الساعة. رقم (۴۰۴۲))_

(۵) السنن الکبری للبیهقی: /۹۳۷۴. رقم (۱۸۸۱۷)، کتاب الجزیة. باب مهادنة الائمة بعد رسول.....)_

(۶) عمدة القاری: ۱۵. وفتح الباری: ۶/۲۷۷)_

(۷) عمدة القاری: ۱۵/۹۹ وفتح الباری. کتاب المغازی. باب غزوة تبوک: ۶۳۲)_

(۸) قال: دخلت علی رسول الله ﷺ فی غزوة تبوک فی آخر السحر...... "انظر المستدرک للحاکم: ۳/۶۳۰ کتاب معرفة الصحابة. ذکر مناقب عوف بن مالک......رقم (۶۳۲۴). وایضا انظر معرفة الصحابة. للاصبهانی: ۴ باب من اسمه: عوف)_

پورته نه ګول وی ددې جمع قباب او قبیة ده(١).
د سنن ابی داؤد په روایت کښې ددې نه پس دا اضافه هم ده

قوله:"فسلمت، فرد، وقال: ادخل.فقلت:أکلي يا رسول الله!قال: کلك، فدخلت"(٢): "نو ما سلام اوکړو.هغوی جواب راکړو او وې فرمائیل چې دننه راشه؛ما اووئیل چې دننه پوره پورته درشم؟نبی ﷺ اوفرمائیل،بالکل؛نو زهٔ دننه داخل شوم".
مطلب دادې چې خیمه چونکې وړه وه،ګنجائش کم وو،ددې وجې نه حضرت عوف بن مالک د ګپ شپ په طریقې سره تپوس اوکړو چې مکمل داخل شم؟نبی ﷺ د هغوی په ګپ باندې پوهه شو ددې وجې نه ئې جواب هم د هغوی په انداز کښې ورکړو چې آو؛پوره پوره داخل شه،د خیمې د وړوکوالی پرواه مهٔ کوه.

لکه عثمان بن ابو العاتکه(د حدیث راوی)فرمائی: "إنما قال:ادخل کلي،من صغر القبة"(٣).
ددې طریق نه دا هم معلومه شوه چې صحابه کرامو رضی الله عنهم په نبی ﷺ سره مزاح کوو یعنی ګپ شپ به ئې لګوو(٤).

قوله: فقال:اعدد ستا بين يدي الساعة موتي ثم فتح بيت المقدس: نو نبی تپوس اوکړو،د قیامت دپاره شپږ څیزونه شمار کړه(یو)زما وفات،(دویم)د بیت المقدس فتح.مطلب دادې چې ددې شپږو کارونو د واقع کیدو نه مخکښې به قیامت نهٔ قائمیږی، لکه په حدیث کښې د"ستا"نه مراد"ست علامات لقيام القيامة"دی.(٥).
په دې کښې اولنئ نشانی په ١١هجری ربیع الاول کښې ثابته وه،کله چې نبی ﷺ ددې دنیا نه تشریف فرما شو.او دویمه نشانی د حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه په زمانه کښې پنځلسمه هجرئ کښې ثابته شوه چې هغه کال باندې بیت المقدس فتح شو(٦).

قوله: ثم موتان يأخذ فيكم كقعاص الغنم: بیا به په کثرت او ډیروالی سره مرګونه په تاسو کښې داسې خوریږی لکه څنګه چې په ګډو چیلو کښې یو خاص بیماری خوریږی او ټول خاروی اچانک هلاک کړی.

د موتان ضبط:موتان د میم پیښ او د واو سکون سره دې،او بعضې حضراتو دا وئیلې دی چې پیش سره د بنو تمیم لغت دې.د دوی نه علاوه د عربو نور قبائل ئې فتحې سره لولی،

---

(١) عمدة القاری:١٥/ ٩٩)_
(٢) سنن ابی داود،کتاب الادب،باب ما جاء فی المزاح،رقم (٥٠٠٠))_
(٣) حواله بالا،رقم (٥٠٠١)،وفتح الباری:٦/٢٧٧_٢٧٨)_
(٤) بذل المجهود:١٣/٤٠١،رقم (٥٠٠٠))_
(٥) عمدة القاری:١٥/٩٩،وفتح الباری:٦/٢٧٨)_
(٦) البداية والنهاية:٧/٥٥،فتح بیت المقدس علی یدی عمر بن الخطاب،والکامل لابن الاثیر:٢/٣٤٧)_

لکه بلید (احمق او بیوقوف) ته "موتان القلب" هم وئیلې شی لیکن د میم مضموم کیدل غوره او مشهور دی.(١).

بیا ابن جوزی فرمائی چې بعضې محدثین حضرات ددې لفظ په ادا کولو کښې غلطی کوی، ځکه چې دا هغوی د میم او د واو ضمې سره لولی او دا بالکل غلط دې. مُوتان خو هغه زمکې ته وئیلې شی په کومه زمکه باندې چې زمینداری نه کیږی او د هغې څهٔ انتظام وغیره نهٔ کیږی(٢) او د ابن السکن په روایت کښې دا لفظ تثنیه سره "موتتان" دې. چې ددې لفظ دلته هیڅ موقع او محل نشته.(٣).

د موتان معنی: قزاز او خطابی ددې کلمې معنی "مرګ" بیان کړې ده، او ابن الاثیر جزری وغیره ددې معنی "الموت الکثیر الوقوع" ښودلې ده.(٤). یعنی کثرت سره د مرګونو واقع کیدل چې ددې تعبیر وباء سره کیدې شی ځکه چې وبائی مرضونو مثلاً طاعون وغیره سره هم مرګونه کثرت سره واقع کیږی.

د قُعاص ضبط: قعاص د قاف پیش او د عین مهمله فتحې سره دې، هم دا رائې د لغت او د حدیث د جمهورو امامانو مثلاً د ابن قرقول، ابن الاثیر وغیره هم ده(٥)، لیکن حافظ ابن حجر دا عقاص لیکلې دې یعنی عین ئې په قاف باندې مقدم ښودلې دې(٦)، چې صحیح نهٔ دې او دا د حافظ صاحب وهم دې.(٧).

د قعاص معنی: قعاص یو قسم بیماری ده چې څناورو ته لګی، چې ددې په نتیجه کښې د دوی د پوزې نه یو توره ماده راوځی او فوری مرګ واقع کیږی. دا د القعص نه مشتق دې چې ددې معنی ده فوری مرګ، "**یقال: قعصته واقعصته: إذا قتلته سریعاً**".(٨) او د ابن فارس وینا داده

---

(١) عمدة القاری: ٩٩/١٥، وارشاد الساری: ٢٤١/٥، وفتح الباری: ٢٧٨/٦)_

(٢) عمدة القاری: ٩٩/١٥، وفتح الباری: ٢٧٨/٦، وکشف المشکل: ١١٠٨/١، مسند عوف بن مالک، رقم (٢٣٤٢)، ومشارق الانوار: ٣٩٠/١، المیم مع الواو)_

(٣) عمدة القاری: ١٠٠/١٥، و ارشاد الساری: ٢٤١/٥)_

(٤) النهایة فی غریب الحدیث والاثر: ٣٧٠/٤، باب المیم مع الواو، وعمدة القاری: ٩٩/١٥، وفتح الباری: ٢٧٨/٦، وارشاد الساری: ٢٤١/٥، واعلام الحدیث للخطابی: ١٤٦٨/٢)_

(٥) النهایة لابن الاثیر: ٨٨/٤، وعمدة القاری: ١٠٠/١٥، والقاموس الوحید، مادة "قعص")_

(٦) فتح الباری: ٢٧٨/٦)_

(٧) فی هامش طبعة بولاق: کذا فی نسخ الشارح التی بایدینا، والذی فی نسخ البخاری بتقدیم القاف علی العین. وبه ضبط القسطلانی، وهو فی کتب اللغة، والمتعین من قول ابی عبید، ومنه اخذ: الاقعاص". (انظر تعلیقات محب الخطیب علی فتح الباری: ٢٧٨/٦)_

(٨) النهایة: ٨٨/٤، وفتح الباری: ٢٧٨/٦، وعمدة القاری: ١٠٠/١٥، وارشاد الساری: ٢٤١/٥)_

چي دا دسيني بيماری ده.ددې دوجې نه دومره قدرې تکليف وی چې ګويا څټ ماتيږی.(۱)
د:ثم موتان... مطلب: په دې جمله کښې د قيامت په نزدې علامتونو کښې دريم نمبر علامت ښودلې شوې دې.چې دومره کثرت سره به مرګونه وی لکه څنګه چې وبا خوره شی او څنګه چې په څناورو کښې وبا خوريږی او فوراً په سوونو څناور هلاک کړی.دغه شان پورته ذکر کړې شوې وبا به هم په زرګونو لکونو خلق فنا کړی.د شارحينو وينا ده چې دا نشانی هم د طاعون عمواس په شکل کښې واقع شوې ده.چې په دې کښې په دريو ورځو کښې تقريباً اويا زره کسان وفات شوې وو چې په کښې صحابه کرام رضی الله عنهم هم شامل وو.دا طاعون د بيت المقدس د فتح کولو نه پس د حضرت عمرفاروق په زمانه کښې په ۱۷هجرئ کښې، خور شوې وو(۲).

لکه په خپله د حديث راوی حضرت عوف بن مالک نه امام حاکم (۳) نقل کړې دی چې د پورتنی ذکر شوی طاعون مصداق طاعون عمواس دې،دغه شان د حافظ ابن کثير(۴)او د علامه توريشتی رائې هم داده.(۵).

قوله: ثم استفاضة المال (۶) حتى يعطى الرجل مائة دينار فيظل ساخطا:

بيابه دمال کثرت وی.تردې چې که چاته سل ديناره هم ورکړې شی نو بيا به هم هغه خفه وی.
په دې جمله کښې د قيامت د نزديکت څلورمه نشانی بيان شوې ده چې يو زمانه به داسې راشی چې مال به ډير زيات وی،تقريباً هر سړې به مالدار وی،ددې وجې نه که چاته سل ديناره هم ورکړې شی(چې يو لوئې رقم شمارلې شی)او ورته اوويلې شی چې دا دينارونه واخله نوهغه به خفه شی چې دادومره معمولی رقم ولې راکوې؟اودې لره به سپک ګنړی.(۷)
دا څلورمه نښه د خليفه ثالث حضرت عثمان بن عفان په دور خلافت کښې اوموندلې شوه چې کله د فتوحاتو ډيروالې شو او مسلمانانو د کفر لوئې لوئې مرکزونه فتح کړل نو مال و دولت ډير زيات شو او تقريباً هر سړې مالدار او دولت مند شو.(۸)

---

(۱) عمدة القاری:۱۵/۱۰۰،وفتح الباری:۶/۲۷۸)_
(۲) پورته حواله جات،وارشاد االساری:۵/۲۴۱،والبداية والنهاية:۷/۷۸،شئ من اخبار طاعون عمواس)_
(۳) المستدرک للحاکم:۴/۴۶۹،کتاب الفتن والملاحم،رقم (۸۳۰۳))_
(۴) البداية والنهاية:۶/۲۲۶،فصل فی ترتيب الاخبار بالغيوب.....)_
(۵) کتاب الميسر:۴/۱۱۵۱،رقم (۴۰۵۲)،باب الملاحم من کتاب الفتن،وشرح الطيبی:۱۰/۷۷،وفيضان القدير للمناوی،رقم (۴۶۵۷))_
(۶) قال العلامة الخطابی رحمه الله : استفاضة المال:کثرته،واصله التفرق والانتشار،يقال:فاض الماء،وفاض الحديث:اذا انتشر".اعلام الحديث:۲/۱۴۶۹)_
(۷) عمدة القاری:۱۵/۱۰۰،وشرح القسطلانی:۵/۲۴۱)_
(۸) پورته حواله جات،۶/۲۷۸)_

قوله: ثم فتنة لا يبقى بيت من العرب إلا دخلته: بيا به فتنه خوره شي.د عربو هيڅ يو کور به پاتې نهٔ شي چې په هغې کښې دا فتنه داخله نهٔ شي

په دې جمله کښې د پنځمې نښې بيان دې چې بيا به يو داسې زمانه راشي چې هر طرفته به فتنه وي،لوټ مار به وي،د خلقو د مال و جان ضمانت به نهٔ وي.د عربو هيڅ يو کور او هيڅ يو ځائې به ددې فتنې نه محفوظ پاتې نهٔ شي او هر سړې به ددې نه متاثره وي.ددې علامت ابتداء د حضرت عثمان د شهادت نه اوشوه چې د هغوی د شهادت نه پس فتنې خورې شو او ترننه پورې جارې دی.(١) الله تعالى ته علم دې چې دا صورت حال به کوم وخت پورې جارې وي.

قوله: ثم هدنة تكون بينكم وبين بني الاصفر فيغدرون فيأتونكم تحت ثمانين غاية تحت كل غاية اثنا عشر الفا: بيا صلح ده.چې ستاسو او د روميانو مينځ کښې به وي،نو هغوی به وعده خلافي اوکړي.تاسو سره د جنګ کولو دپاره به د اتيا(٨٠)بيرغو لاندې راشي،د هر بيرغ لاندې به دولس زره کسان وي(ټول لښکر به تقريباً په لس لاکه کسانو باندې مشتمل وي).

د هدنة معنى او ضبط: هدنة د هاء پيش او د دال سکون سره دې.ددې معنى ده سکون.راحت. البته دلته ددې معنى ده صلح.ددې دواړو مينځ کښې فرق دادې چې صلح عام ده او هدنة خاص ده.که د جنګ شروع کيدو نه پس صلح اوشي نو دې ته هدنة وائي او ددې د نوم وجه داده چې ددې صلحې د وجې نه د دواړو فريقو مينځ کښې سکون واقع شي او د پريشانئ حالت ختم شي(٢).او د بنوالاصفرنه مراد روميان دی(٣).

د غاية معنى او د روايتونو اختلاف:دلته د غاية معنى ده بيرغ،چونکه په لښکر کښې د راتلونکو کسانو دپاره دا د حد او د انتهاء حيثيت لري چې بيرغ اوړونکي سړې چرته اودريږي نو هلته نور لښکريان هم اودريږي او که هغه روان شي نو نور لښکريان هم روان شي،ددې وجې نه بيرغ ته غاية وئيلې شي.

"قال الجواليقي:"غاية وراية واحد،لانها غاية المتبع،إذا وقفت وقف،وإذا مشت تبعها"(٤).

لکه د سنن ابی داؤد(٥) يو روايت چې د ذومخبر نه روايت دې،په هغې کښې د"رايه"لفظ

---

(١) پورته حواله جات_

(٢) فتح الباري:٢٧٨/٦،وعمدة القاري:١٠٠/١٥)_

(٣) پورته حواله جات،وكشف الباري:٥٣٨/١،واعلام الحديث للخطابي:١٤٦٩/٢)_

(٤) فتح الباري:٢٧٨/٦،وعمدة القاري:١٠٠/١٥،وشرح ابن بطال:٣٥٨/٥،ولسان العرب:١٦٣/١٠،باب العين،مادة"غيا")_

(٥) سنن ابى داود،كتاب الجهاد،باب الصلح مع العدو،رقم (٢٧٦٧)،وكتاب الملاحم،باب ما يذكر فى قرن المائة،رقم (٤٢٩٢))_

دي [1] او علامه ابن الجوزی فرمائی چې دا لفظ بعضې حضراتو "غابة" باء موحده سره روایت کړې دې ددې معنی ده ځنګل، ګویا که چې د غیرمسلمو لښکر سره د نیزو کوم کثرت وی نو د هغې د وجې نه دې ته ځنګل(غابه) وئیلې شوې ده [2]. او علامه خطابی فرمائی چې ګڼړو اونو ته "غابه" وئیلې شی او دلته لفظ د استعارې په طور استعمال شوې دې لکه د غابه نه مراد هغه بیرغونه دی کومې چې د لښکر د امیرانو دپاره اوچتولې شی او دې سره سره نیزو ته هم حرکت ورکولې شی، ګویا که چې د بیرغ د اوچتولو او نیزو ته د حرکت ورکولو چې کوم عمل دې نو د هغې نه تعبیر په غابه سره کړې شوې دې [3].

شپږمه نښه: پورتنۍ جمله کښې د قیامت په علامتونو کښې شپږم علامت بیان کړې شوې دې چې د مسلمانانو او د کافرانو مینځ کښې به یو خطرناک جنګ واقع شی. بیا به صلح اوشی، لیکن کافران به وعده خلافی اوکړی او د لوې حملې دپاره به جمع شی. د کفارو د لښکر تعداد به تقریباً لس لاکه وی [4]. دا نښه تردې وخت پورې واقع شوې نۀ ده. د امام مهدی د تشریف راوړلو نه پس به دا نښه هم واقع شی.

د قیامت د علامتونو ترتیب: دلته مناسب معلومیږی چې د قیامت نه مخکښې مخکښې کوم لوئې لوئې واقعات او حادثات به ښکاره کیږی، نو د احادیثو په رڼرا کښې د هغې څۀ تفصیل هم بیان کړې شی.

د قیامت د علامتونو دوه قسمونه دی، وړوکی علامتونه او لوئې علامتونه.

د وړوکې علامتونو تعداد ډیر زیات دې [5] او هم دا علامتونه به د لویو علامتونو دپاره د مقدمې په شان وی.

---

[1]) هذا ما قاله ابن حجر فی الفتح (۲۷۸/۶)، ولکنی لم اجد فیها ما قاله الحافظ. ولعله من اختلاف النسخ، نعم، قدورد الحديث بلفظ "راية" بدل "غاية" فی المستدرک للحاکم، ففیه: ......فیقبلون فی ثمانین رایة، کل رایة اثنا عشر الفا". انظر المستدرک: ۶۳۰/۳، رقم (۶۳۲٤)، اخرجه من طریق ابی بکر احمد بن سلمان بن الحسن الفقیه)_

[2]) عمدة القاری: ۱۰۰/۱۵، وفتح الباری: ۲۷۸/۶، و کشف المشکل: ۱۳۳/٤، مسند عوف......رقم (۲۳٤۲)_

[3]) پورته حواله جات، واعلام الحدیث للخطابی: ۱٤۶۹/۲، ولسان العرب: ۱۶۳/۱۰، مادة "غیا")_

[4]) شرح الکرمانی: ۱٤۱/۱۳، د حساب په اعتبار سره دا تعداد ۹ لاکه ۲۰ زره جوړیږی. حافظ صاحب فرمائی(۲۷۸/۶): وجملة العدد المشار الیه تسعمائة الف وستون الفا")_

[5]) حضرت شاه رفیع الدین د احادیثو په رڼرا کښې د قیامت تقریباً ۲۷ واړۀ علامتونه ذکر کړې دی، په هغې کښې یو څو دلته ذکر کولې شی: چې کله بادشاهان د زمکې او د ملک پیداوار خپل ذاتی دولت جوړ کړی(یعنی دا په شرعی مصرف کښې نۀ خرج کوی)زکوة به د تاوان په طور ادا کوی. خلق به امانت د غنیمت په شان پاک او حلال ګڼړی. خاوند به د خپلې ښځې اطاعت کوی. د دین علم به د دنیوی غرض دپاره حاصلولې شی. شراب خوری او زناکاری به زیاته شی. د باطل مذهبونو، د دروغژن حدیثونو او د بدعتونو به ترقی وی. اوګوری، کتاب د قیامت نه مخکښې .... [بقیه برصفحه آئنده....

علماؤ ليکلي دي چې کله وارهٔ علامات ټول ښکاره شي نو داسې به اوشي چې عيسايان به په ډيرو ملکونو باندې غلبه اوکړي او قبضه به ئې کړي.په عربو او د شام په ملک کښې به د ابوسفيان په اولاد کښې يو سړې پيدا شي چې سادات به قتل کړي،د هغهٔ حکومت به په مصر او شام وغيره کښې وي.(١)

دې دوران کښې به د روم د بادشاه د عيسايانو يو فرقې سره جنګ او دويمې فرقې سره به صلح اوشي،جنګ کوونکې فرقه به د روم پايه تخت قسطنطنيه باندې قبضه اوکړي.بادشاه به دارالخلافه پريږدي او شام ته به راشي او د عيسايانو د صلح پسند ډلې په مدد سره به اسلامي فوج د يو خطرناک جنګ نه پس په قابض فوج باندې فتح ياب شي،د دشمن د شکست نه پس به په موافق فرقه کښې يو سړې اووائي چې "غلب الصليب....." ددې په اوريدو سره به په اسلامي لښکر کښې يو سړې دهٔ سره په جګړه شي او اوبه وائي چې "بل الله غلب" چې نه؛د الله تعالى دين اسلام غالب شو او ددې په برکت سره فتح نصيب شوه.دا دواړه به خپل خپل قوم د مدد دپاره راطلب کړي چې ددې د وجې نه به خانه جنګي شروع شي.د اسلام بادشاه به شهيد شي،عيسايان به په شام باندې قبضه اوکړي او ددې دواړو عيسائي ډلو به خپل مينځ کښې صلح اوشي(٢). باقي مسلمانان به مدينې منورې ته واپس شي،د عيسايانو حکومت به خيبر پورې خور شي.

د امام مهدي تلاش: دې وخت کښې به مسلمانان په دې پريشانئ کښې وي چې حضرت امام مهدي تلاش کول پکار دي،دې دپاره چې دې زمونږ ددې مصيبتونو د دفع کولو ذريعه جوړه شي او د دشمن د پنجې نه مو نجات نصيب شي.حضرت امام مهدي به دې وخت مدينه منوره کښې وي ليکن ددې ويرې د وجې نه به مکې مکرمې ته لاړ شي چې خلق چرته زما په شان کمزورې سړې ددې لوئې او عظيم الشان کار دپاره منتخب نهٔ کړي،ددغه زمانې اولياء کرام او ابدال عظام به دې تلاش کوي.(٣)

امام مهدي به اوپيژندلې شي: دې دوران کښې به امام مهدي د رکن او د مقام ابراهيم مينځ کښې طواف کوي،د سړو يو جماعت به دې اوپيژني او ددهٔ په لاس باندې به بيعت اوکړي،د

بقيه ازحاشيه گذشته] به څهٔ کيږي؟ ص:٢٣-٢٤. بتغيروتصرف)دغه شان اوګورئ جامع الترمذي،كتاب الفتن،باب فى علامة حلول المسخ والخسف،رقم (٢٢١٠)،عن على و(٢٢١١)،عن ابى هريرة رضي الله عنه)_

(١) كنز العمال،كتاب الفتن والاهواء......قسم الاقوال،رقم (٣١٠٣٣_٣١٠٣٥)،وفيض القدير للمناوى: ١٦٨/٤،حرف السين،رقم (٤٧٦٨)،والمستدرك: ٥٤٧/٤،كتاب الفتن والملاحم،رقم (٨٥٣٠))_

(٢) د باب د حديث په الفاظو ثم هدنة تكون بينكم وبين بنى الاصفر،فيغذرون"كښې دې واقعې طرفته اشاره ده،دغه شان اوګورئ سنن ابى داود،كتاب الملاحم،ما يذكر من ملاحم الروم،رقم (٤٢٩٢)، والمستدرك للحاكم: ٤٦٧/٤،كتاب الفتن والملاحم،رقم (٨٢٩٨)،وصحيح ابن حبان،رقم (٦٧٠٨))_

(٣) سنن ابى داود،كتاب المهدى،رقم (٤٢٨٦))_

بیعت په وخت به د آسمان نه دا آواز راشی، "هذا خليفة الله المهدى، فاستمعوا له وأطيعوا" دا آواز به ټول عام او خاص خلق واوری. دې وخت کښې به د امام مهدی عمر مبارک څلويښت کاله وی.[1]

د امام مهدی فوج: د خلافت په مشهوريدو سره به د مدينې منورې فوجونه امام مهدی له مکې مکرمې ته راشی، د شام، عراق او د یمن اولیاء کرام او ابدال عظام به ددهٔ په ملګرتیا کښې او د عربو د ملکونو ډیر زیات سړی ددهٔ په فوجونو کښې داخل شی. دې به په کعبه مبارکه کښې مدفون خزانې راوباسی او په مسلمانانو کښې به ئې تقسیم کړی، کومو ته چې رتاج الكعبه وئیلې شی.[2]

د اهل خراسان لښکر: کله چې دا خبر اسلامی دنیا کښې خور شی نو د خراسان نه به د حارث نومې سړی په مقدمة الجيش کښې کمان د منصور نومې سړی سره وی، دې به یو لوئې فوج واخلی او د امام مهدی د مدد دپاره به حاضر شی.[3]

د عیسائی فوجونو اجتماع: د عربو د فوجونو د جمع کیدو چې عیسایان واوری نو دوی به هم د څلورو واړو طرفونو نه د فوجونو د جمع کولو کوشش کوی، د خپلو ملکونو او د روم د ملکونو نه به ګڼ فوجونه د امام مهدی د مقابلې کولو دپاره په شام کښې جمع شی، د دوی د فوجونو به دې وخت کښې اویا بیرغه وی[4] او د هر بیرغ لاندې به دولس زره فوجیان وی.[5]

عیسایانو سره د امام مهدی جنګ: حضرت امام مهدی به د مکې مکرمې نه مدینې منورې ته واپس شی او د نبی کریم ﷺ زیارت باندې به مشرف شی او ددې نه پس به د شام په طرف روان شی، دمشق سره نزدې به د عیسائی فوجونو سره مخامخ شی، دې وخت کښې به د امام مهدی فوج په دریو ډلو کښې تقسیم شی، یو ډله به د عیسائی فوج د ویرې له وجې نه اوتختی، الله تعالی به د دوی توبه هیڅکله قبوله نهٔ کړی، باقی مانده فوج کښې به څهٔ شهیدان شی اود بدر او احد د شهیدانو مرتبې ته به اورسی او څهٔ به کامیاب شی او همیشه دپاره به د ګمراهئ او د خراب انجام نه بچ شی.

په دویمه ورځ به بیا حضرت مهدی د عیسایانو د مقابلې دپاره راوځی، په دې ورځ به د

---

[1]) پورته حواله، ومشكاة المصابيح، كتاب الفتن، باب اشراط الساعة، من الحسان، رقم (۵۴۵۶)_

[2]) الحديث اخرجه ابو داود، كتاب المهدى، رقم (۴۲۸۶)، وموارد الظمآن: ۴۶۴، رقم (۱۸۸۱)، والمصنف لعبد الرزاق، رقم (۲۰۹۳۴)، باب المهدى، والمعجم الكبير: ۳۹۰/۲۳، مجاهد عن ام سلمة، رقم (۹۳۱)، ومسند احمد: ۶۳۵/۸، رقم (۲۷۲۲۴)، مسند ام سلمة رضي الله عنها_

[3]) وفى آخر هذا الحديث: "وجب على كل مؤمن نصره" سنن ابى داود، كتاب المهدى، رقم (۴۲۹۰)_

[4]) د اویا لفظ په ظاهره د قلم سبقت دې، صحیح ۸۰ دی، لکه څنګه چې د باب په حدیث کښې راغلې دی، ددې تشریح هم وراندې تیره شوې ده_

[5]) د باب د حديث الفاظو کښې "فياتونكم تحت ثمانين غاية، تحت كل غاية اثنا عشر الفا" دې واقعې طرفته اشاره ده_

مسلمانانو يوه ډله دا عهد اوکړی چې د فتح موندلو يا شهادت نه بغير به ميدان نۀ پريږدو. دوی به ټول په ټوله شهيدان شی،باقی لږکسان به امام مهدی خان سره واپس لښکرګاه ته بوځی په دريمه ورځ به بيا دغه شان اوشی چې يو ډله به دا عهد اوکړی چې د فتح موندلو يا شهادت نه بغير به ميدان نۀ پريږدو او دوی ټول به هم شهيدان شی،په صبا به بيا دغه شان اوشی او کوم لږ خلق چې پاتې شی هغوی به د امام مهدی په ملګرتيا کښې لښکرګاه ته واپس لاړ شی(١).

د امام مهدی فتح: په څلورمه ورځ به امام مهدی هغه تعداد بوځی کوم چې د رسدګاه محافظين وی او په تعداد کښې به ډير زيات کم وی،دوی به دشمن ته شکست ورکړی او په دې ورځ به الله تعالی اسلامی لښکر ته فتح نصيب کړی.عيسايان به دومره قدرې اووژلې شی چې د باقی کسانو د دماغو نه به د حکومت هغه بوئی ختم شی او انتهائی ذلت او رسوا کيدلو سره به اوتختی.

ددې نه پس به امام مهدی انتهائی انعامات او اکرامونه په مجاهدينو کښې تقسيم کړی ليکن په دې مال باندې به چاته هم څۀ خوشحالی ملاؤ نۀ شی،وجه به دا وی چې د جنګ د وجې نه به ډير خاندانونه او قبيلې داسې وی چې په سلو کسانو کښې به يو يو کس بچ وی.ددې نه پس به امام مهدی د اسلامی خلافت په نظم ونسق کښې مصروف شی او څلورو واړو طرفونو ته به خپل فوجونه خوارۀ کړی.(٢).

د قسطنطنيه ازادی او د دجال ښکاره کيدل: امام مهدی چې ددې کارونو نه فارغ شی نو د قسطنطنيه د فتح کولو دپاره به روان شی،چې د بحيره روم ساحل ته اورسی نو د قبيله بنواسحاق اويا زره بهادر کسان به په کشتو کښې سوارۀ کړی او د استنبول د فتح کولو دپاره به ئې مقرر کړی،چې کله دا کسان د ښار فصيل ته نزدې اورسی نو د تکبير نعره به اوچته کړی چې د هغې په برکت سره به فصيل اوغورځيږی،مسلمانان به حمله کولو سره په ښار کښې داخل شی.

امام مهدی به لا د ملک په انتظام وغيره مصروف وی چې دا افواه به خوره شی چې دجال د مسلمانانو تباهی اوکړه.ددې خبر په اوريدو سره به امام مهدی د شام په طرف روان شی او د خبر د تحقيق کولو دپاره به پنځه يا نهه سوارۀ کسان اوليږی،چې تحقيقات اوشی نو پته به اولګی چې دا هسې افواه وه ليکن څۀ موده پس به دجال ښکاره شی.(٣).

د دجال بدصورتی،بداخلاقی او غلط حرکتونه: دجال به د يهودو د قوم نه وی،ددۀ لقب به

---

(١) الصحيح لمسلم،كتاب الفتن،باب فى فتح قسطنطينية......رقم (٧٢٣٥)،وباب اقبال الروم فى كثرة القتل......رقم (٧٢٣٨))_

(٢) مسلم،كتاب الفتن،باب اقبال الروم فى كثرة القتل......رقم (٧٢٣٨)،واحمد فى مسنده:٣١/٢،مسند ابن مسعود،رقم (٣٦٤٣)،و:١٤٥/٢(٤١٤٦)،وابو داود الطيالسى:٢٠١/١،رقم (٣٨٤)وآخرون)_

(٣) مسلم،كتاب الفتن......باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل......رقم (٧٢٩٣)،عن ابى هريرة)_

مسيح(١) وي او ښئ سترګه به ئې پرسيدلې وي(٢)،ويختهٔ به ئې ګلګوتې(٣)وي،په يو لوئې خر باندې به سور وي،اول به ددهٔ ظهور د عراق او د شام مينځ کښې اوشی هلته به دې د نبوت دعوی اوکړی.ددې ځائې نه به اصفهان ته لاړ شی(٤) .دلته به ورسره اويا زره يهوديان وی،دلته راتلو سره به دجال د خدائې دعوی اوکړی او ښهٔ فساد به خور کړی.

د خلقو د ازميښت دپاره به الله تعالی ددهٔ نه خلاف عادت ډير کارونه ښکاره کړی(٥) .لکه دهٔ سره به يو اور وی چې د هغې نه به دې په دوزخ سره تعبير کوی او يو باغ به ورسره وی چې هغې ته به جنت وائی،مخالفين به په اور کښې او ملګری به جنت کښې اچوی.ليکن دغه اور به حقيقت کښې د باغ په شان او باغ به حقيقت کښې د اور خاصيت لری(٦).ددهٔ په حکم سره به په زمکه کښې ښخې کړې شوې خزانې دهٔ سره شی(٧).بعضې کسانو ته به وائی چې زهٔ ستاسو مړهٔ مور پلار ژوندی کوم دې دپاره چې تاسو زما د ژوندی کولو دا قدرت اووينئ او زما د خدايئ يقين اوکړئ نو دې به شيطانانو ته حکم اوکړی چې د دوی د والدينو هم شکل شئ او د زمکې نه راوځئ نو شيطانان به هم دغه شان اوکړی.

دجال به حرمينو ته نهٔ شی داخليدې: دغه شان به دې ډيرو ملکونو باندې تير شی.د مکې مکرمې طرفته به راشی ليکن په مکه مکرمه باندې به د فرشتو څوکئ وی.ددې وجې نه به هلته داخل نهٔ شی(٨) ، ددې ځائې نه به د مدينې منورې اراده اوکړی،دغه وخت به د مدينې

---

(١) بخاری،کتاب الفتن،باب ذکر الدجال،رقم (٧١٢٥_٧١٢٦)،عن ابی بکرة،ومسلم،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٢٢)،عن ابن عمر رضي الله عنه)_

(٢) صحيح البخاری،کتاب الفتن،باب ذکر الدجال،رقم (٧١٢٣)،ومسلم،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٢٢)،والترمذی،کتاب الفتن،باب فی صفة الدجال،رقم (٢٢٤١))_

(٣) فی رواية مسلم: انه شاب قطط"،کتاب الفتن،باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٣٣)،من رواية النواس بن سمعان الکلابی، رضي الله عنه)_

(٤) مسلم،کتاب الفتن.......باب فی بقية من احاديث الدجال،رقم (٧٣٥٣)،عن ام شريک)_

(٥) مسلم شريف،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٣٣)،عن النواس بن سمعان الکلابی)_

(٦) مسلم شريف،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٣١)،والبخاری،کتاب احاديث الانبياء، باب ما ذکر عن بنی اسرائيل،رقم (٣٤٥٠)،عن حذيفة رضي الله عنه)_

(٧) مسلم شريف،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (٧٣٣٣)،عن النواس بن سمعان الکلابی)_

(٨) البخاری،کتاب الفتن،باب لا يدخل الدجال المدينة،رقم (٧٣٣٣)، ومسلم، کتاب الفتن......باب فی صفة الدجال،وتحريم المدينة عليه......رقم (٧٣٣٥)،عن ابی سعيد الخدری رضي الله عنه)_ وفی قصة تميم الداری رضي الله عنه: وانی مخبر کم عنی،انی انا المسيح،وانی اوشک لی فی الخروج،فاخرج فاسير فی الارض، فلا ادع قرية الا هبطتها فی اربعين ليلة،غير مکة وطيبة،فهما محرمتان علی،کلتاهما،کلما اردت ان ادخل واحدة،او واحدا منهما،استقبلنی ملک بيده السلف صلتا،يصدنی عنها،وان علی کل نقب منها....[بقيه برصفحه آئنده....

منورې اووهٔ دروازې وی، د هرې دروازې په حفاظت باندې به دوه دوه فرښتې مقررې وی چې د هغوی د ویرې له وجې نه به دجال د خپل فوج سره هم هلته داخل نهٔ شی(۱). دغه شان مدینه منوره کښې به درې ځله زلزله راشی چې د هغې د وجې نه به منافقان وغیره اویریږی او بهر ته به اوځی او د دجال په جال کښې به ګرفتار شی(۲).

د عیسی علیه السلام نازلیدل او امام مهدی سره ملاقات: امام مهدی به د دجال نه مخکښې دمشق ته رسیدلې وی او د جنګ تیارئ به یئ کړې وی، دې دوران کښې به مؤذن د مازیګر اذان کوی، خلق به د مانځه په تیارئ کښې مشغول وی چې حضرت عیسی به د دوو فرښتو په اوږو باندې تکیه لګولو سره د آسمان نه د دمشق د جامع مسجد په مشرقی میناره باندې تشریف فرما شی او اواز به اوکړی چې پوړئ راوړئ نو پوړئ به حاضرې کړې شی.

لاندې راکوزیدو نه پس به ددې دواړو حضراتو ملاقات اوشی، امام مهدی به ورسره ډیر زیات خوش اخلاقئ او عاجزئ سره مخامخ شی او ورته به وائی یا نبی الله! امامت اوکړئ. حضرت عیسی ﷺ به ورته اوفرمائی چې امامت هم تاسو اوکړئ. نو امام مهدی به مونځ ورکړی او حضرت عیسی ﷺ به ورپسې اقتداء اوکړی(۳).

د اسلامی لښکر او د دجالی فوج مقابله: د مونځ نه چې فارغ شی نو امام مهدی به قیادت حضرت عیسی ته سپارل غواړی نو هغوی به ورته اوفرمائی چې نه! قیادت هم تاسو اوکړئ زهٔ خو صرف د دجال د قتلولو دپاره راغلې یم.

شپه به خیر و عافیت سره تیره کړی ددې نه پس به امام مهدی یو لوئې لښکر واخلی او میدان ته به راشی، حضرت عیسی ﷺ به اس او نیزه اوغواړی چې د دجال د شر نه د مخ زمکه پاکه کړی، نو عیسی ﷺ به په دجال باندې او اسلامی لښکر به د دجال په لښکر باندې حمله اوکړی، ډیر زیات خطرناک جنګ به شروع شی. دې وخت کښې به د حضرت عیسی ﷺ ساه دا خاصیت وی چې ترڅو ئې نظر رسی نو هغې پورې به ئې ساه هم اثر کوی او کوم کافر ته چې د حضرت عیسی ﷺ ساه رسیږی نو هلته به هغه ختمیږی(۴).

د دجال تختیدل: د عیسی ﷺ د مقابلې کولو نه به دجال ویریږی او د لد مقام ته به اوتختی،

بقیه ازحاشیه گذشته] ملائکة یحرسونها.......قال رسول الله ﷺ : هذه طیبة،هذه طیبة،هذه طیبة". یعنی المدینة...... ".صحیح مسلم،الفتن،باب قصة الجساسة،رقم (۲۹۴۲_۷۳۸۶))_

۱) صحیح بخاری،کتاب الفتن،باب ذکر الدجال،رقم (۷۲۱۵_۷۱۲۶))_

۲) پورته حواله،رقم (۷۱۲٤)،ومسلم،کتاب الفتن......باب قصة الجساسة،رقم (۷۳۸۶)،والترمذی،کتاب الفتن،باب.....الدجال لا یدخل المدینة،رقم (۲۲٤۲)،عن انس بن مالک رضی الله عنه)_

۳) مسلم،کتاب الفتن......باب ذکر الدجال.......رقم (۷۳۳۳)،عن النواس بن سمعان،والمصنف لابن ابی شیبة:۲۹۳/۲۱،کتاب الفتن،رقم (۳۸۸۰٤)،عن ابن سیرین،والمعجم الکبیر للطبرانی:/۹۶۰،رقم (۸۳۹۲)،عن عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ،ومجمع الزوائد:۳٤۲/۷)_

٤) مسلم شریف،کتاب الفتن،......باب ذکر الدجال......رقم (۷۳۳۳)،عن النواس بن سمعان)_

حضرت عیسی ﷵ به وریسې شي او بیا به ئې مومي او په نیزې سره به ئې هلاک کړي.
خلقو ته به د دهٔ هلاکت ښکاره کړي چې دجال مردار شو
د دجال د قتلولو نه پس به د دهٔ د لښکر همت ختم شي او ټول به تباه وبرباد شي، یهودیان چې
ددې لښکر زیاته حصه به وي، ته به هیڅ ځیز پناه نهٔ ورکوي، هر کانړې او بوټې به ئې په نښه
کوي چې ائې د الله بنده! دا یهودي اوګوره او دې قتل کړه. لیکن غرقد نومې اونه به ورته
پناه ورکوي او ددهٔ حال به نهٔ ښکاره کوي.(۱)

د متاثره ښارونو نوې تعمیر او د انصاف قائمول: د دجال د فتنې د ختمیدو نه پس به حضرت مهدي او عیسی ﷵ د هغې ښارونو دوره اوکړي کوم چې دجال تباه کړې وي. متاثره خلقو ته به تسلي ورکړي، د لوئې اجر خوشخبري به ورته ورکړي او د هغوی د دنیوی نقصانونو ازاله به اوکړي.(۲)

دویم طرفته به حضرت عیسی ﷵ د خنزیر د قتل، د صلیب د ماتولو او د کفارو نه د جزیه قبلولو احکامات جاري کړي او ټول کافران به د اسلام طرفته راوبلي.(۳) د الله تعالی په فضل وکرم سره به هیڅ یو کافر په اسلامي ښارونو کښې پاتې نهٔ شي، ظلم او بې انصافي به ختمه شي او هرطرفته به انصاف او عدل پورته وي، ټول خلق به د الله تعالی په عبادت کښې سرګرم وي. د امام مهدي د خلافت وخت به اووهٔ(۴)، اتهٔ(۵) یا نهه(۶) کاله وي نو ابتدائي اووهٔ کاله به د عیسایانو د فتنې د ختمولو او د ملک په انتظام کښې، اتم کال دجال سره په جنګ کښې او نهم کال به د حضرت عیسی ﷵ په ملګرتیا کښې تیر شي. دې حساب سره به د دوی عمر ۴۹ کاله وي. ددې نه پس به حضرت مهدي وفات شي.

په حضرت عیسی ﷵ باندې وحي: د امام مهدي د تجهیز او تکفین نه پس به ټول کارونه د حضرت عیسی ﷵ لاس ته راشي، ټول مخلوقات به ډیر زیات امن وامان سره ژوند تیروي، په حضرت عیسی ﷵ باندې به وحي نازله شي چې زهٔ په خپلو بندګانو کښې داسې طاقت ور بندګان ښکاره کوم چې په هیڅ یو کس کښې به د هغوی د مقابلې کولو طاقت نهٔ وي، ددې وجې نه به حضرت عیسی ﷵ مخلصین واخلي او کوه طور ته به منتقل شي.(۷)

---

(۱) پورته حواله، وباب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل......رقم (۷۲۹۹)، عن ابي هریرة......وسنن ابي داود، کتاب الملاحم، باب خروج الدجال، رقم (۴۳۲۱)، والبخاري، کتاب الجهاد، باب قتال الیهود، رقم (۲۹۲۶)

(۲) التصریح بما تواتر في نزول المسیح: ۱۱۸، الحدیث الخامس، عن النواس)_

(۳) ابو داود، کتاب الملاحم، باب خروج الدجال، رقم (۴۳۲۴)، والمصنف لابن ابي شیبة: ۲۱/۲۳۵، کتاب الفتن، رقم (۳۸۶۸۱))_

(۴) عن ابي سعید الخدري...... یملک سبع سنین ۳ ابو داود، کتاب المهدي (۴۲۸۵)، وایضا، رقم (۴۲۸۶))_

(۵) المصنف لابن ابي شیبة: ۲۱/۲۸۷، کتاب الفتن، ما ذکر في فتنة الدجال، رقم (۳۸۷۹۳))_

(۶) ابو داود، رقم (۴۲۸۶_۴۲۸۷))_

(۷) مسلم شریف، کتاب الفتن......باب ذکر الدجال......رقم (۷۳۳۳)، عن النواس بن سمعان رضي الله عنه، والترمذي، کتاب الفتن، باب ما جاء في فتنة الدجال (۲۲۴۰))_

د ياجوج وماجوج راوتل: د مذكوره وحى په تعميل كولو كښې به حضرت عيسى د كوه طور په قلعه كښې نزول اوفرمائى(كومه چې نن صبا موجوده ده)او د جنګ سازوسامان په مهيا كولو كښې به سرګرم وى چې دې دوران كښې به د ياجوج و ماجوج قوم د سكندر ديوال مات كړى او په مخ د زمكې باندې به څلور واړو طرفونو ته خوارهٔ شى،په مضبوطه قلعه كښې د پناه اخستلو نه بغير به د دوى نه د بچ كيدو هيڅ صورت نهٔ وى[1] ،دوى به د خلقو په قتل وغارت كښې هيڅ پرواه نهٔ كوى.

د ياجوج وماجوج تباه كارئ: د دوى تعداد به دومره زيات وى چې كله د دوى اولنئ ډله بحيره طبريه[2] ته راورسئ نو د هغې ټولې اوبه به اوڅكى او هغه سمندر به اوچ شى،چې كله وروستنئ ډله دلته راورسى نو هغوى به وائى چې كيدې شى دلته هډو اوبه تيرې شوې نهٔ دى،دوى ټول به په ظلم وستم،قتل وغارت،پرده اخستلو،تكليف رسولو او قيد كولو كښې مشغول شى،په دې حالت كښې چې كله دوى شام ته اورسيږى نو اوبه وائى چې مونږ خو د زمكې والا خلق نيست نابود كړل،راځئ چې اوس د آسمان والا هم ختم كړو نو په آسمان باندې به غشى وروى چې د الله تعالى قدرت سره به په وينو ليت پيت واپس راشى،ددې په ليدلو سره به دوى ډير خوشحاله شى چې اوس خو زمونږ نه سوا هيڅوک نشته[3]

د حضرت عيسى ﷺ دعا او د ياجوج وماجوج هلاكت: د ياجوج وماجوج ددې فتنې دوران كښې به په مسلمانانو باندې د خوراک سختى راشى،آخر به حضرت عيسى ﷺ د دعا كولو دپاره پاسى،ددوى ملګرى به وروستولاړوى اوآمين به وائى نوالله تعالى به يوقسم بيمارى "نغف"[4]نازله كړى،دې مرض سره به د ياجوج وماجوج قوم په يو شپه كښې ختم شى[5]

چونكه د دومره مړګونو د وجې نه به ډيره سخته بدبوئى خوره شى،ددې وجې نه به حضرت عيسى ﷺ بيا خپلو ملګرو سره دعا اوكړى نو الله تعالى به اوږدو اوږدو څټونو او جسمونو والا "عنقا"نومې څناور راواستوى نو دغه څاروى به بعضې اوخورى او نور به مختلفو جزيرو او سمندرونو كښې اوغورزوى او د هغوى د وينو وغيره نه به د زمكې مخ صفا كولو دپاره څلويښت ورځې باران اووريږى،دا باران به دومره قدرې زيات وى چې هيڅ يو پوخ او كچه مكان به د سسيدلو نه بغير پاتې نهٔ شى.

د امن و بركت اووهٔ كاله او د حضرت عيسى ﷺ وفات: دې باران سره به پيداوار ډير زيات

---

[1]) تفسير البيضاوى مع الشهاب:٢٣٦/٦،سورة الكهف/٩٩)_

[2]) الطبرية_بفتح الطاء والباء_بحيرة من اعمال الاردن فى طرف الغور وفى جبل،وجبل الطور مطل عليها....".معجم البلدان للحموى بتصرف:١٧/٤،باب الطاء والباء......)_

[3]) مسلم،رقم (٧٣٣٣_٧٣٣٤)،حديث النواس بن سمعان،وترمذى،كتاب الفتن،رقم (٢٢٤٠))_

[4]) نغف د نون او غين فتحې سره هغه چينجى ته وائى كوم چې د اوښ او د چيلئ په پوزه كښې وى، دغه شان اوګورئ كتاب السير للتوربشتى: ١١٦٧/٤،رقم (٤١٠٤))_

[5]) مسلم،رقم (٧٣٣٣)،ترمذى،رقم (٢٢٤٠))_

برکتناک او زیات شی.داسې چې یو سیر غله او د یو غوا یا د یو چیلۍ شودۀ(پی)به د یو خاندان دپاره کافی کیږی[1]،ټول خلق به ډیر زیات عیش وعشرت کښې وی،په مخ د زمکه به د مؤمنانو نه سوا نور هیڅوک نۀ وی،کینه او حسد وغیره به د خلقو نه پورته شی،ماران او مضرخناور(درندګان)به خلقو ته څۀ نقصان نۀ رسوی.

د یاجوج او ماجوج د قوم چې د تورو کوم نیامونه او کمانونه وغیره وی هغه به د خشاک په طور په کار راځی[2] ،دا حالات به اووۀ کالو پورې جاری وی.ددې نه پس به رو رو خواهشات نفسانیه شروع شی.دا ټول واقعات د عیسی سره متعلق دی.په زمکه باندې به د حضرت عیسی قیام څلویښت کاله وی،حج به اوکړی،نکاح به اوکړی.اولاد به ئې پیدا شی،بیا به دوی مبارک وفات شی او د نبی ﷺ په روضه مبارکه کښې به دفن شی[3].

: حضرت عیسی د وفات نه پس به قبیله قحطان[4]کښې جهجاه نومې سړې د دوی خلیفه شی،چې عدل او انصاف سره به د خلافت امور پوره کوی،د دوی نه پس به یو څو نور بادشاهان وی،چې د هغوی په زمانه کښې به بیا کفریه او جاهلانه رسومات عام شی او علم به ډیر زیات کم شی[5].

: شپې اوږدیدل او د توبې دروازه بندیدل: څۀ موده پس به د ذی الحجه په میاشت کښې د نوې اختر د ورځې نه پس شپه دومره اوږده شی چې مسافرو به تنګه شی،ماشومان به د خوب نه بیدار شی او څاروی به د څرن کولو دپاره بې قراره شی،اخر دا چې خلق به د ویرې او د پریشانۍ د وجې نه په ژړا ژړا سره توبه کوی،د دریو څلورو شپو په مقدار باندې چې کله داسې حالت تیر شی نو ددې نه پس به د پریشانۍ په حالت کښې نمر د سپوږمۍ په شان معمولی رڼړا سره د مغرب نه راوخیژی،دې وخت کښې به ټول خلق د الله تعالی د وحدانیت

---

[1]) جامع ترمذی،رقم (۲۲۴۰)،ومسلم،رقم (۷۳۳۳))_

[2]) ویستوقد المسلمون من قسیهم ونشابهم وجعابهم".انظر الجامع للترمذی،کتاب الفتن،باب ماجاء فی فتنة الدجال،رقم (۲۲۴۰)،من روایة النواس رضی الله عنه)_

[3]) پورته حواله جات،وابو داود،کتاب الفتن،رقم (۴۳۲۳)،وابن ابی شیبة:۲۱/۲۰۰،کتاب الفتن،رقم (۳۸۶۲۹)، ومسند احمد:۲/۲۹۰،رقم (۷۸۹۰)،مسند ابی هریرة،و:۲/۴۳۷،رقم (۹۶۳۰)،والتصریح بما تواتر فی نزول المسیح:۲۴۰،احادیث اخری مما اخرجه المحدثون......رقم (۵۸)،و:۳۹۳،رقم (۱۰۱)،واحیاء علوم الدین:۴۷۳،کتاب آداب النکاح،ربع العادات،الباب الاول......والفردوس بماثور الخطاب:۴/۳۶۵، فصل، والعلل المتناهیة:۲/۴۳۳،رقم (۱۵۲۹)،ذکر عیسی،وعمدة القاری:۱۶/۴۰،ومشکاة المصابیح،باب نزول عیسی......کتاب الفتن،رقم (۵۵۰۸))_

[4]) جامع ترمذی،کتاب الفتن،باب بلا ترجمة،رقم (۲۲۲۸)،ومسلم،کتاب الفتن،باب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل بقبر......رقم (۷۲۶۸_۷۲۶۹)،وبخاری،کتاب المناقب،باب ذکر قحطان،رقم (۳۵۱۷)،وکتاب الفتن،باب تغییر الزمان حتی......رقم (۷۱۱۷))_

[5]) صحیح بخاری،کتاب الفتن،باب ظهور الفتن،رقم (۷۰۶۱_۷۰۶۶)،عن غیر واحد من الصحابة)_

اقرار اوكړي ليكن بې فائدې......ځكه چې دې وخت كښې به د توبې دروازه بنده شي،ددې نه پس به نمر د خپل معمول د رنړا سره د مشرق نه راخيژي(١).

د دابة الارض ښكاره كيدل: خلق به په دې حالت كښې وي چې د صفا غر به د زلزلې د وجې نه اوشليږي چې د هغې نه به يو عجيبه قسم ځناور ښكاره شي(٢) .لكه د شكل په اعتبار سره به دا ځناور د اووه قسمه ځنارورو سره مشابهت لري،په مخ كښې د سړي سره،خپو كښې اوښ سره،ځټ كښې اس سره،لكئ كښې غوئي سره،كوناتي كښې هوسئ سره،په ښكرونو كښې باره سينګئ سره او په لاسونو كښې د بيزو سره(٣)،دې سره سره به ډير زيات فصيح اللسان وي(٤).

ددې ځناور په يو لاس كښې به د حضرت موسى همسا،په دويم لاس كښې به ورسره د حضرت سليمان ګوتمه وي،ددې رفتار به ډير زيات تيز وي چې دا چا پسې شي نو څوك به هم ترينه بچ كيدې نۀ شي،دا ځناور به په هر انسان باندې يو نښه لګوي،كه د ايمان والا وي نو د موسى په همسا سره به د هغۀ په مخ باندې يو لكيره راښكي چې د هغې د وجې نه به ددې مؤمن مخ روښانه شي،كه كافر يا منافق وي نو د حضرت سليمان په ګوتمې سره به د هغۀ په پوزه يا ځټ باندې تور مهر لګوي چې د هغې د وجې نه به ددې انسان مخ بې رونقه شي،كه په يو دسترخوان باندې څو كسان ناست وي نو د هر يو سړي د ايمان او كفر به پته اولګي،دا ځناور چې ددې كار نه فارغ شي نو غائب به شي.

د مغرب نه چې نمر راوخيژي او دابة الارض ښكاره شي نو ددې نه پس به د شپيلئ پوك وهلو پورې شپږ شلې(١٢٠)كاله زمانه وي(٥).

د ايماندارو د مرګ هوا: دابة الارض چې غائب شي نو ددې نه پس به د جنوب د طرف نه يو مزيداره هوا اوچليږي چې د هغې د وجې نه به د هر مؤمن په ترخ(بغل)كښې يو درد پيدا شي چې د هغې د وجې نه به ترتيب سره افضل،فاضل او بيا ناقص وفات كيدل شروع شي،شرط

---

(١) بخاري،كتاب الفتن،باب (بلا ترجمة)،رقم (٧١٢١)،ومسلم،كتاب الايمان،باب بيان الزمن الذى لا يقبل......رقم (٣٩٦)،وفيه بحث نفيس فى روح المعاني:٨/٤٢٤_٤٢٧،سورة الانعام،الآية:١٥٨)_

(٢) قال الله جل ذكره:(واذا وقع القول عليهم اخرجنا لهم دابة من الارض تكلمهم.....) (النمل:٨٢)،وتفسير الكشف والبيان:٤/٥١٠_٥١٢)_

(٣) قد اختلف الروايات فى صفات هذه الدابة،انظر المصدر السابق،ومفاتيح الغيب للرازي: ٢٤ /٥٧٣،سورة النمل،وتفسير السمعاني:٤/١١٤و١١٥)_

(٤) روح المعاني:٢٠/٣١٢،سورة النمل،تفسير الآية/٨٢،واخبار مكة للفاكهي:٤/٣٩،ذكر الدابة وخروجها......رقم (٢٣٤٦_٢٣٤٧))_

(٥) تفسير الكشاف والبيان:٤/٥١٠_٥١٢،و روح المعاني:٢٠/٣١١_٣١٥،تفسير السمرقندي:٢/٥٠٥، وفتح القدير:٤/١٨٩،وفتح الباري،كتاب الرقاق:١١/٣٥٤،باب بلا ترجمة،رقم (٦٥٠٦)،واخبار مكة للفاكهي:٤ /٣٩،باب الدابة وخروجها،ومن اين تخرج من مكة)_

به دا وی چې بس فاسق نهٔ وی.[1]

دغه شان قیامت ته نزدې به دا نښه هم ښکاره شي چې ځاروی، کانړی او چابک وغیره به کثرت سره ګویا کیږی، چې کورونو کښې دننه کوم امور دی د هغې او د نورو خبرو اترو خبر به ورکوی.[2]

د حبشیانو غلبه او په شام کښې د خلقو اجتماع: چې کله ټول مؤمنان ددې دنیا نه رخصت شی نو حبشیان بهٔ غالب شی، ټوله دنیا کښې به د هغوی حکومت خور شی، دوی به خانه کعبه ورانه کړی[3] نو حج به بند شی[4]، قرآن کریم به د زړونو، ژبو او کاغذونو نه پورته شی، د الله تعالی او د آخرت ویره به د زړونو نه ختمه شی، شرم و حیا به ختمه شی خلق به برسرعام د خرو او سپو په شان بدفعلی کوی[5]، د حاکمانو ظلم او جهالت به زیات شی، جهالت به دومره قدرې زیات شی چې هیڅوک به لفظ "الله" وئیلو والا پاتې نهٔ شی[6].

چې د ټولې دنیا دا حالت وی نو دې دوران کښې به نسبتاً د شام په ملک کښې امن او ارزانی زیاته وی نو ټول خلق به د خپلو بچو سره د شام په طرف روان شی.[7]

اور به خلقو له په شام کښې جمع کړی: کله چې د قیامت واقع بالکل نزدې شی نو یو ډیر لوئې اور به د جنوب له طرفه ښکاره شی د خلقو طرفته به راځی، د هغې نه د بچ کیدلو دپاره به خلق وارخطا منډې وهی او اور به مسلسل دوی پسې لګیدلې وی، آخر به دا اور دې خلقو له شام (محشر) ته اورسوی، ددې نه پس به هغه اور غائب شی، دې وخت کښې به د مجموعی طور آبادې اکثریت په شام کښې وی.[8] ددې نه پس به د قیامت د قائمیدو اولنې

---

[1]) مسلم، کتاب الفتن، باب ذکر الدجال......رقم (۷۳۳۳)، ورقم (۷۳٤۱)، والترمذی، رقم (۲۲٤۰))_

[2]) عن ابی سعید الخدری رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: والذی نفسی بیده لا تقوم الساعة حتی تکلم السباع الانس، وحتی تکلم الرجل عذبه صوته، وشراک نعله، وتخبره فخذه بما احدث اهله من بعده". رواه الترمذی، وقال: هذا حدیث حسن غریب"......کتاب الفتن، باب ما جاء فی کلام السباع، رقم (۲۱۸۱))_

[3]) صحیح البخاری، کتاب الحج، رقم (۱۵۹۱) و(۱۵۹۶)، ومسلم، کتاب الفتن، رقم (۸۳۹۵)، ومسند الطیالسی: ۶۹۶/۲، رقم (۲٤۹٤)، مسند ابی هریرة، وابن حبان، کتاب التاریخ، باب بدء الخلق، ذکر الموضع الذی یبایع فیه المهدی، رقم (۶۸۲۷))_

[4]) صحیح البخاری، رقم ۱۵۱۶، مسنداحمد: ۳۱۲/۲، رقم (۸۰۹۹) ومستدرک الحاکم: ٤۹۹/٤، رقم (۸۳۹۵) ومسندالطیالسی: ۶۹۶/۲، رقم (۲٤۹٤) مسندابی هریرة، وابن حبان، کتاب التاریخ، باب بدء الخلق، ذکرالموضع الذی یبایع فیه المهدی، رقم (۶۸۲۷))_

[5]) مسلم، کتاب الفتن، رقم (۷۳۳۳)، والترمذی، کتاب الفتن، رقم (۲۲٤۰)، عن النواس بن سمعان)_

[6]) مسلم، کتاب الایمان، باب ذهاب الایمان آخر الزمان، رقم (۱٤۸/۲۳٤)، والترمذی، کتاب الفتن، باب منه، رقم (۲۲۰۷))_

[7]) المستدرک للحاکم: ٥٤۹/٤، کتاب الفتن والملاحم، رقم (۸۵۳۸)، عن عبدالله بن مسعود)_

[8]) ابو داود، کتاب الملاحم، باب امارات الساعة، رقم (٤۳۱۱)، ومسلم..... [بقیه برصفحه آئنده...

علامت داوی چې خلق به درې څلور کاله په غفلت کښې پراته وی او دنیوی نعمتونه، مالونه او شهوتونه به زيات شی.

د شپیلۍ اواز، مرګونه او د کائنات د نظام فنا کیدل: د جمعة المبارک په ورځ، چې د عاشورې ورځ به هم وی(١) ،سحر به خلق په خپلو خپلو کارونو کښې مشغول وی چې اچانک به يو باريک آواز واوريدلې شی، دا به د شپیلۍ آواز وی، ټولو طرفونو کښې به دا آواز يو شان اوريدې شی او خلق به حيران وی چې دا آواز څنګه او د کوم ځائې نه راځی؟ رو رو به دا آواز د آسمانی بجلۍ د ګړز په شان سختيږی او تيزيږی، خلقو کښې به ددې د وجې نه ډيره بې قراری او بې چينی خوره شی، چې کله دا آواز پوره سخت شی نو خلق به د ويرې او د هيبت د وجې نه مړۀ کيدل شروع شی، په زمکه باندې به زلزله راشی(٢)، ددې ويرې نه به خلق کورونه پريږدی او د ميدانونو په طرف به روان شی، وحشی ځناور به ويريږی او هغوی به هم انسانانو سره ملاؤ شی(٣)، ځائې په ځائې به زمکه اوشليږی(٤)، سمندرونه به اوخوټيږی(٥)، لوئې لوئې غرونه به د مالوچو په شان والوزی(٦)، د خاورو د وجې نه به په ټوله دنيا باندې تيارۀ خوره شی، دغه آواز به وخت په وخت سختيږی، تردې چې ددې د زيات هيبت ناک کيدو د وجې نه به اسمانونه اوشليږی او ستوری به ريزه ريزه شی(٧). ددې نه څۀ موده پس به دوباره د پيدائش او د تخليق عمل شروع شی، بيا به دويم ځل باندې شپيلۍ پوک وهلې شی او ټول خلق به د قبرونو نه راوځی او ميدان حشر کښې به جمع کيږی او د حساب کتاب عمل به شروع شی.(٨)

الله تعالی دې مونږ ټول ددې ورځې د سختو نه محفوظ اوساتی او الله تعالی دې مونږ ټول د

بقيه ازحاشيه گذشته] كتاب الفتن،رقم (٧٢٤٢_٧٢٤٣)، والترمذی، كتاب الفتن،رقم (٢١٨٣)،وصحيح البخاری مع فتح الباری:٣٧٨/١١،رقم (٦٥٢٢)،كتاب الرقاق، باب الحشر)_

(١) مسلم،كتاب الفتن،رقم (٧٣٤١)،حديث عروة بن مسعود)_

(٢) قال الله تعالى:(اذا زلزلت الارض زلزالها) (الزلزال/١))_

(٣) قال الله تعالى:(واذا الوحوش حشرت) (التكوير/٥))_

(٤) قال الله تعالى:(يوم تشقق الارض عنهم سراعا) (ق/٤٤)_

(٥) قال الله تعالى:(واذا البحار فجرت) (الانفطار/٣))_

(٦) قال الله تعالى:(واذا الجبال نسفت) (المرسلات/١٠)،وقال ايضا:(وتكون الجبال كالعهن المنفوش) (القارعة/٥))_

(٧) قال جل ذكره:(اذا السماء انفطرت،واذا الكواكب انتثرت) (الانفطار/١_٢))_

(٨) مسلم شريف،كتاب الفتن......باب فی خروج الدجال......رقم (٧٣٤١)،عن عروة بن مسعود الثقفی،وباب ما بين النفختين،رقم (٧٣٧٤)،والبخاری فی التفسير،سورة الزمر،رقم (٤٩٣٥))_ دا ټول تفصيلات د حضرت شاه رفيع الدين دهلوی رحمه الله د رسالې "علامات قيامت" نه لږ بدلون او حذف سره اخستلې شوې دی، اوګورئ مذكوره رساله مطبوعه مع "د قيامت نه مخكښې به څۀ كيږی؟" (ص: ٢٣-٤٤)_

نبی ﷺ د شفاعت مستحق اوګرځوی.آمین
ترجمة الباب سره د حديث مناسبت: ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت په دې جمله کښې دې، "فيغدرون" چې دغه روميان به دهوکه او وعده خلافی اوکړی، ددې وجې نه بې پرواه او غافله کيدل پکار نهٔ دی، بلکه هوښيار تيا سره تياری هم کول پکار دی.(١) والله اعلم بالصواب

⑯ باب: كَيْفَ يُنْبَذُ إِلَى أَهْلِ الْعَهْدِ

يعنی د مصالحت او د معاهدې د ختميدو اطلاع دشمن ته څنګه ورکړې شی؟
د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری دلته دا فرمائی چې که اهل عهد سره صلح شوې وی او بيا دې مصالحت او صلح ددې خبرې تقاضه اوکړه چې دا وعده او عهد برقرار اونهٔ ساتلی شی نو څهٔ کول پکار دی؟
ددې سوال جواب په هغې آيت کريمه او حديث مبارک کښې موجود دې کوم چې په باب کښې ذکر دی چې دا کافران د څهٔ اعلان په ذريعه يا په بلې څهٔ ذريعې سره خبر کړې شی چې اوس مونږ دا عهد او وعده برقرار ساتل نهٔ غواړو، لهذا د فلانی تاريخ نه يا د نن نه دې معاهده ختمه اوګڼړلې شی.(٢)

قوله: وقوله: (وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ: الاية/الانفال:۵۸/
او د الله تعالى دا وينا چې که تاسو (صلى الله عليه وسلم) ته د يو قوم له طرفه دا ويره پيښه وی چې دوی به وعده خلافی او بدعهدی اوکړی نو دوی ته د دوی عهد او وعده واپس کړئ دې دپاره چې تاسو او دا خلق برابر شئ.
د نبذ معنیٰ: پورته په ترجمة الباب کښې، دغه شان په آيت کريمه او راتلونکی حديث کښې د "نبذ" د مختلفو مشتقاتو ذکر دې، دا د باب ضرب نه دې، ددې اصل معنی ده ويشتل ليکن دلته ددې نه مراد دې وعده ماتول(٣).
د سواء معنی او د ايت تفسير: حضرت ابن عباس خو د سواء معنی بيان کړې ده مثل سره، او امام کسائی ددې تفسير په عدل سره کوی.(٤)
علامه ازهری فرمائی چې مطلب دا دې چې که تاسو يو قوم سره صلح اوکړئ، معلومه شی چې هغوی وعده خلافی کول غواړی نو بيا هم تاسو په وعده ماتولو کښې جلدی مهٔ کوئ، بلکه خبر ورته اوليږئ چې تاسو وعده ماتوئ، دغه شان به تاسو او دشمنان په دې علم کښې برابر

(١) عمدة القارى:۹۹/۱۵)_
(٢) فتح البارى:۲۷۹/۶، وعمدة القارى:۱۰۰/۱۵، وقال ابن بطال رحمه الله: اجمع العلماء ان للامام ان يبدا من يخاف خيانته وغدره بالحرب بعد ان يعلمه بذلک".انظر شرحه:۳۶۰/۵)_
(٣) عمدة القارى:۱۰۰/۱۵)_
(٤) فتح البارى:۲۷۹/۶، وعمدة القارى:۱۰۱/۱۵)_

شئ چې معاهده ختمه شوې ده، بيا پرې حمله اوكړئ.[1]

۳۰۰۲: (۲) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ -رضي الله عنه- فِيمَنْ يُؤَذِّنُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى لاَ يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. وَيَوْمُ الْحَجِّ الأَكْبَرِ يَوْمُ النَّحْرِ، وَإِنَّمَا قِيلَ الأَكْبَرُ مِنْ أَجْلِ قَوْلِ النَّاسِ الْحَجُّ الأَصْغَرُ. فَنَبَذَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى النَّاسِ فِي ذَلِكَ الْعَامِ، فَلَمْ يَحُجَّ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ الَّذِي حَجَّ فِيهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم- مُشْرِكٌ. [ر: ۳۶۲]

رجال الحديث

① **ابواليمان**: دا مشهور محدث ابو اليمان حكم بن نافع دې.

② **شعيب**: دا شعيب بن ابى حمزه دې. ددې دواړو حضراتو تذكره د "بدء الوحى" په "الحديث السادس" كښې تيره شوې ده.[3]

③ **زهرى**: د مشهور محدث ابن شهاب زهرى حالات "بدء الوحى" كښې راغلې دى.[4]

④ **حميد بن عبدالرحمن**: دا مشهور تابعى محدث، حضرت حميد بن عبدالرحمن بن عوف دې. د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب تطوع قيام رمضان من الايمان" كښې تيره شوې ده.[5]

⑤ **ابوهريره رضى الله عنه**: د مشهور صحابى حضرت ابوهريره رضى الله عنه تذكره د كتاب الايمان په شروع كښې تيره شوې ده.[6]

د حديث شريف ترجمه: حضرت ابوهريره فرمائى چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په منى كښې د اعلان كولو دپاره نورو خلقو سره زۀ هم اوليږلم، اعلان دا وو چې ددې كال نه پس به هيڅ يو مشرك حج ته نۀ راځى، نۀ به څوک بربنډ د كعبة الله طواف كوى. او د حج اكبر ورځ يوم النحر ده او دې ته د "حج اكبر" وئيلو وجه داده چې خلقو به دې ته "حج اصغر" وئيلې. نو حضرت ابوبكر رضي الله عنه دې كال باندې خلقو (دشمن) ته د معاهدې د ختمولو او ماتولو اطلاع وركړه. په دې وجه باندې د حجة الوداع په كال هيڅ يو مشرك حج ته رانغې په كوم كال چې نبى كريم ﷺ حج اوكړو.

د مشركانو د منع كولو وجه: پورتنى حديث كښې دا راغلې دى چې مشركان د بيت الله د حج نه منع كړې شوې وو، ددې وجه علامه مهلب دا بيان كړې ده چې نبى ﷺ ته دا ويره وه چې

---

[1]) پورته حواله جات)_

[2]) قوله: ان ابا هريرة رضي الله عنه: الحديث، مر تخريجه فى الحج، باب لا يطوف بالبيت عريان......)_

[3]) كشف البارى: ۱/ ۴۷۹_ ۴۸۰)_

[4]) كشف البارى: ۱/ ۳۲۶، الحديث الثالث)_

[5]) كشف البارى: ۲/ ۳۱۶)_

[6]) كشف البارى: ۱/ ۶۵۹)_

مشركان خدانخواسته څۀ شرارت اونۀ كړى.څۀ مكر و فريب اونۀ كړى،ددې وجې نه هغوى منع كړې شو چې ددې كال نه پس به هيڅ يو مشرك حج ته نۀ راځى،دغه شان دې سره دا فائده هم اوشوه چې د الله تعالى په حكم سره د مشركانو د نجاست نه بيت الله شريف پاک كړې شو،

د الله تعالى ارشاد دې:﴿إنما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هذا﴾[1] ددې نه علاوه د الله تعالى په ارادې سره طواف كول هم د بې لباسئ په حالت كښې منع كړې شو ځكه چې دا كار د الله تعالى د كور د ادب او د تعظيم نه خلاف دې.[2].والله اعلم

ترجمة الباب سره د ايت او د حديث مناسبت:ترجمة الباب سره د آيت كريمه او د حديث مناسبت په دې معنى كښې دې چې په ترجمه كښې د يو كار متعلق سوال وو چې ددې څۀ طريقه كيدل پكار دى؟نو د هغې جواب په آيت كريمه كښې موجود دې،دغه شان په حديث شريف كښې هم ددې سوال جواب موجود دې.

د فقه حنفى په مشهور كتاب"هدايه"كښې دى:

"وإن صالحهم مدة،ثم رأى نقض الصلح أنفع نبذ إليهم الامام،وقاتلهم لانه عليه السلام نبذ الموادعة التى كانت بينه وبين أهل مكة،ولان المصلحة لما تبدلت كان النبذ جهاداً،وايفاء العهد ترك الجهاد صورة ومعنىً،فلابد من النبذ تحرزاً عن الغدر،وقد قال عليه السلام:"وفاء لاغدر"[3]

ولابد من اعتبار مدة يبلغ خبر النبذ إلى جميعهم،ويكتفى فى ذلك بمضى مدة يتمكن ملكهم بعد علمه بالنبذ من إنفاذ الخبر إلى أطراف مملكته لان بذلك ينتفى الغدر.

قال:وإن بدؤا بخيانة قاتلهم،ولم ينبذ إليهم إذا كان ذلك باتفاقهم،لانهم صاروا ناقضين للعهد،فلاحاجة إلى نقضه،بخلاف ما إذا دخل جماعة منهم،فقطعوا الطريق،ولا منعة لهم،حيث لايكون هذا نقضاً للعهد،ولوكانت لهم منعة،وقاتلوا المسلمين علانية يكون نقضا للعهد فى حقهم،دون غيرهم لانه بغير إذن ملكهم،ففعلهم لايلزم غيرهم،حتى لوكان بإذن ملكهم صاروا ناقضين للعهد لانه باتفاقهم معنى"[4]

---

[1] التوبة/۲۸)_

[2] شرح ابن بطال:۵/ ۳۶۰_۳۶۱،وفتح البارى:۶/۲۷۹)_

[3] قال العلامة الزيلعى رحمه الله عن هذا الحديث(ما ملخصه): لم اجده مرفوعا.ولا حمد واصحاب السنن وابن حبان من حديث عمرو بن عبسة انه غزا مع معاوية.فكان يقول:الله اكبر.وفاء لا غدر".انظر الدراية فى تخريج احاديث الهداية للزيلعى:۳/ ۳۹۰_۳۹۱.رقم (۵۷۹۵)،وكذا انظر سنن ابى داود.رقم (۲۷۵۹)، والترمذى، رقم (۱۵۸۰)، ومسند احمد.حديث عمرو بن عبسة۵/۸۰۳.رقم (۱۷۱٤۰)،ومسند الطيالسى۲/ ۹_۱۰، رقم (۱۲۵۱)، وسنن النسائى الكبرى:۵/۲۲۳،كتاب السير.رقم (۸۷۳۲)،وآخرون)_

[4] الهداية:۲/ ۵۶۳،كتاب السير.باب الموادعة ومن يجوز امانه)_

⑰ باب: إِثْمِ مَنْ عَاهَدَ ثُمَّ غَدَرَ

د ترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې امام بخاري د تګئ او وعده خلافئ ګناه بيان کړې ده چې معاهده اوشي او بيا د خپل طرفنه وعده خلافي کول او تګي کول نو دا ډير لوئې سخت جرم، لويه ګناه او حرام کار دې برابره خبره ده که يو مسلمان سره وي يا غيرمسلم سره وي.[1]

قوله: وقوله: والذين عاهدت منهم ثم ينقضون عهدهم في كل مرة وهم لا يتقون. /الانفال:۵٦

او د الله تعالى دا وينا چې تاسو چاسره معاهدې کړې دی، بيا هر ځل هغوی خپله وعده ماتوی او دوی د وعده خلافئ د انجام نه نه ويريږی.

د ايت کريمه شان نزول او تفسير: قاضي بيضاوی فرمائي چې دلته د وعده خلافو نه مراد د بنوقريظه يهوديان دی، هغوی نبی ﷺ سره معاهده کړې وه چې مونږ به ستاسو خلاف د هيچا څۀ مدد نۀ کوو ليکن هغوی بدعهدی اوکړه او د اسلحو په ذريعې سره ئې د مشرکانو مدد اوکړو، چې کله پوښتنه اوشوه او حقيقت حال معلوم شو نو وې وئيل چې زمونږ نه هير شو. بيا ورسره نبی ﷺ صلح اوکړه ليکن هغوی وعده خلافي اوکړې او د غزوۂ خندق په موقع ئې د نبی ﷺ خلاف د مشرکانو مدد اوکړو او مشهور يهودی کعب بن اشرف د مدينې منورې نه د مکې مکرمې سفرصرف ددې وجې نه اوکړو چې د مکې مکرمې مشرکان خپل ملګری جوړ کړي.[2]

د آيت کريمه نه دا خبره معلوميږی چې وعده خلافي او دهوکه بازی ډير لوئې جرم دې[3]، ورنه داسې به ددې مذمت نۀ وو شوې، ځکه چې په دې آيت کريمه کښې د يهوديانو ددې کار خرابی او قباحت بيان کړې شوې دې.

د ايت کريمه او ترجمة الباب مينځ کښې مناسبت: ترجمة الباب سره د آيت کريمه مناسبت واضح دې ځکه چې په ترجمة الباب کښې وعده خلافئ ته ګناه وئيلې شوې ده، د هغې دليل په آيت کښې موجود دې چې دا کار ډير خراب او ناکاره کار دې، د هيڅ يو مسلمان دپاره دا مناسب نۀ ده چې هغه دا کار لوکړی، ددې وجې نه ددې نه ځان ساتل پکار دی.

ددې نه پس امام بخاري په ترجمه کښې درې حديثونه ذکر کړې دی، اولنې حديث د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه دې.

۳۰۰۷ (۱): حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رضى الله عنهما- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه

---

[1]) فتح الباری:۲۸۰/٦،وعمدة القاری:۱۰۱/۱۵)_

[2]) القسطلانی:۲٤۲/۵،وتفسير البيضاوی مع حاشيته للشهاب الخفاجی:٤۹٤/٤،سورة الانفال/۵٦)_

[3]) عمدة القاری:۱۰۱/۱۵)_

[4]) قوله: عن عبدالله......":الحديث،مر تخريجه فی الايمان،باب علامة المنافق،انظر كشف الباری:۲۸۳/۲)_

وسلم- «أَرْبَعُ خِلَالٍ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا مَنْ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا». [ر ۳۴]

رجال الحدیث

①**قتیبه بن سعید**: دا مشهور محدث قتیبه بن سعید ثقفی بغلانی دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب إفشاء السلام......" کښې تیره شوې ده.[۱]

②**جریر**: دا جریر بن عبدالحمید بن قرط الضبی دې. د دوی حالات په کتاب العلم، "باب من جعل لاهل العلم أیاماً معلومة" کښې تیر شوې دی.[۲]

③**الاعمش**: دا سلیمان بن مهران دې چې په اعمش کوفی سره مشهور دې. د دوی ترجمه په کتاب الایمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې راغلې ده.[۳]

④**عبدالله بن مره**: دا مشهور تابعی حضرت عبدالله بن مره کوفی دې.

⑤**مسروق**: دا مشهور تابعی حضرت مسروق ابن اجدع ابوعائشه دې. ددې دواړو حضراتو تذکره په کتاب الایمان، "باب علامة المنافق......" کښې تیره شوې ده.[۴]

⑥**عبدالله بن عمرو**: دا مشهور صحابی حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما دې. د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب المسلم من سلم المسلمون......" کښې راغلې دی.[۵]

د حدیث مبارک ترجمه: حضرت عبدالله بن عمرو فرمائی چې نبی فرمائیلې دی چې څلور عادتونه او خصلتونه داسې دی چې دا په کوم کس کښې وی نو دا به خالص منافق وی، یعنی چې خبرې کوی او دروغ وائی، وعده اوکړی نو د هغې خلاف ورزی اوکړی، چاسره عهد اوکړی نو بدعهدی اوکړی او جنګ کوی نو دې دوران کښې کنځل کوی، د حد نه تجاوز کوی او په کوم کس کښې چې ددې څلورو عادتونو نه یو عادت وی نو په هغهٔ کښې به د منافقت یو خصلت وی، تردې چې دا یو هم پریږدی.

دا حدیث چونکه په کتاب الایمان [۶] کښې مکمل وضاحت سره تیر شوې دې، ددې وجې نه دلته صرف په ترجمه باندې بس والې کړې شوې دې.

---

[۱] کشف الباری: ۲/۱۸۹_

[۲] کشف الباری: ۳/۲۶۸_

[۳] کشف الباری: ۲/۲۱_

[۴] کشف الباری: ۲/۲۸۰_۲۸۱_

[۵] کشف الباری: ۱/۶۷۹_

[۶] کشف الباری: ۲/۲۷۳_۲۷۵، و: ۲۸۳_۲۹۰_

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ددې حديث مطابقت ترجمة الباب سره واضح دې ځكه چې په دې كښې يوه جمله د "وإذا عاهد غدر (۱)" ده چې د منافق خصلت دې، ددې وجې نه په يو حقيقى مؤمن كښې دا څيز نۀ شى كيدې، لكه څنګه چې نور بيكاره خصلتونه نۀ دې كيدل پكار.

دويم حديث مبارك د حضرت على رضي الله عنه دې.

۳۰۰۸ (۲): حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - قَالَ مَا كَتَبْنَا عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - إِلاَّ الْقُرْآنَ، وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا، أَوْ آوَى مُحْدِثًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلاَ صَرْفٌ، وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ. فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ». [ر: ۱۷۷۱]

رجال الحديث

① **محمد بن كثير:** دا محمد بن كثير بصرى دې. د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب الغضب فى الموعظة....." كښې تيره شوې ده (۳)

② **سفيان:** دا مشهور محدث سفيان بن سعيد الثورى دې. د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب علامة المنافق" كښې تير شوې دى (۴)

علامه عينى رحمه الله دلته سفيان ته ابن عيينه وئيلې دى (عمدة القارى: ۱۵/۱۰۲) دا صحيح نۀ ده ځكه چې د محمد بن كثير په استاذانو كښې د ابن عيينه نوم نۀ ملاويږى. اوګورئ تهذيب الكمال: ۲۶/۳۳۵، دوى ته غالباً ددې خبرې نه مغالطه شوې ده چې د محمد بن كثير په نوم سره يو راوى هم دې چې واقعى د ابن عيينه شاګرد دې او دې ئې شيخ دې نو دا د نظر په سبقت باندې محمول كيدې شى، اوګورئ تهذيب الكمال: ۲۶/۳۲۹، و: ۱۱/۱۸۷ـ

③ **الاعمش:** دا سليمان بن مهران كوفى اسدى دې، د دوى حالات هم په كتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" كښې راغلې دى (۵)

---

[1]) عمدة القارى: ۱۵/۱۰۱، وشرح القسطلانى: ۵/۲٤۲)ـ

[2]) قوله: عن على رضي الله عنه: الحديث، مر تخريجه فى كتاب العلم، باب كتابة العلم)ـ

[3]) كشف البارى: ۳/۵۳۶)ـ

[4]) كشف البارى: ۲/۲۸۷)ـ

[5]) كشف البارى: ۲/۲۵۱)ـ

⑪ابراهيم التيمى: دا ابراهيم بن يزيد شريک دې.د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب خوف المؤمن من أن يحبط..... "كښې تيره شوې ده.(۱)

⑤ابيه: د ابيه نه مراد يزيد بن شريک تيمى كوفى دې.(۲)

⑥على: د حضرت على بن ابى طالب حالات په كتاب العلم، "باب إثم من كذب على..... "كښې راغلي دى.(۳)

دا حديث شريف چونكه وړاندې مختلفو ځايونو كښې تير شوې دې،هلته ددې تفصيل سره وضاحت هم شوې دې،ددې وجې نه مونږ هغه دلته دوباره نۀ ذكر كوو.(۴)

ترجمة الباب سره د حديث مطابقت: د علامه عينى د وينا مطابق ترجمة الباب سره د حديث مطابقت ددې جملې نه ثابتيږى، "فمن أحدث حدثا أو آوى محدثا...... "ځكه چې په دين كښې څۀ نوې خبره پيدا كول،پيدا كوونكى ته پناه وركول،حفاظت كول وغيره داسې كارونه دى چې په دې كښې د بدعهدئ او د غدر معنى موندلې شى،ددې وجې نه په حديث شريف كښې مذكوره ټول كسان دلعنت مستحق هم او ګرځيدل.(۵) چې "فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين"

او د حافظ صاحب رائې داده چې دا ترجمه ددې جملې "من أخفر مسلما.... "نه ثابتيږى،ځكه چې د إخفار.بالخاء المعجمة معنى ده وعده خلافى كول.(۶).نو په دې جمله كښې دا كار نبودلې شوې دې چې مسلمان سره دهوكه او وعده خلافى كول د لعنت او د ملامتيا مستحق ځيز دې.والله اعلم بالصواب

دريم حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې.

۳۰۰۹: قَالَ أَبُومُوسَى حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا لَمْ تَجْتَبُوا دِينَارًا وَلاَ دِرْهَمًا فَقِيلَ لَهُ وَكَيْفَ تَرَى ذَلِكَ كَائِنًا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ إِي وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ عَنْ قَوْلِ الصَّادِقِ الْمَصْدُوقِ. قَالُوا عَمَّ ذَاكَ قَالَ تُنْتَهَكُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم -، فَيَشُدُّ اللَّهُ عَزَّوَجَلَّ قُلُوبَ أَهْلِ الذِّمَّةِ، فَيَمْنَعُونَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ.

---

(۱) كشف البارى:۲/۵۴۴)_

(۲) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ،كتاب فضائل المدينة،باب حرم المدينة)_

(۳) كشف البارى:۴/۱۴۹)_

(۴) اوګورئ،كشف البارى،كتاب العلم:۴/۲۳۳،وكتاب فضائل المدينة،باب حرم المدينة،وكتاب الجزية،باب ذمة المسلمين وجوارهم واحدة)_

(۵) عمدة القارى:۱۵/۱۰۲)_

(۶) فتح البارى:۶/۲۸۰،وارشاد السارى:۵/۲۴۳)_

رجال الحدیث

①**ابو موسی**: دا ابوموسی محمد بن المثنی بن عبید عنزی بصری دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب حلاوة الایمان" کښې تیره شوې ده.[1]

②**هاشم بن القاسم**: دا ابوالنضر هاشم بن قاسم تمیمی، کنانی، لیثی دې.[2]

③**اسحاق بن سعید**: دا اسحاق بن سعید بن عمرو بن سعید بن العاص دې.[3]

④**ابیه**: د ابیه نه مراد سعید بن عمرو بن سعید دې.[4]

⑤**ابوهریره**: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حالات په کتاب الایمان کښې شروع کښې تیر شوې دی.[5]

دا حدیث موصول دې یا معلق؟ د صحیح بخاری شریف په اکثرو نسخو کښې تعلیقاً "قال ابو موسی....." راغلې دې، هم دا خبره اصحاب اطراف،[6] علامه اسماعیلی، امام حمیدی[7] او ابونعیم هم کړې ده لیکن په بعضې نسخو کښې "حدثنا ابوموسی" راغلې دې چې ددې خبرې طرفته اشاره ده چې دا حدیث موصول دې، لیکن دا صحیح نه ده. اولنې قول صحیح دې چې دا حدیث معلق دې.[8]

پورتنۍ صیغه به په سماع باندې محمول وی یا نه؟ بیا د اصول حدیث په عالمانو کښې په دې خبره کښې اختلاف دې چې آیا دا صیغه یعنی قال وغیره د عنعنه قائم مقام کیدو سره په سماع باندې محمول کیږی یا نه؟ نو بعضې خو دې لره په سماع باندې محمول کوی او بعضې ئې نه محمول کوی لیکن په دې مسئله کښې تحقیقی قول هم دادې چې که د راوی یا د محدث عادت دا وی چې هغه ددې نه سماع مراد اخلی او په دې کښې ئې استعمالوی نو په سماع باندې به محمول وی اوکه داسې نه وی نو بیا به په سماع باندې محمول نه وی. علامه ابن الصلاح، خطیب، علامه عراقی، حافظ ابن حجر او علامه عینی وغیره دې ته راجح وئیلې دی.[9]

---

[1]) کشف الباری:۲/۲۵)_

[2]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب وضع الماء عند الخلاء)_

[3]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب العیدین، باب ما یکره من حمل السلاح.....)_

[4]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الوضوء، باب الاستنجاء بالحجارة)_

[5]) کشف الباری:۱/۶۵۹)_

[6]) تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف:۹۵۰٤/، رقم (۱۳۰۸۷))_

[7]) الجمع بین الصحیحین:۳/۲۶۱ افراد البخاری، رقم(۲۵۷۹))_

[8]) عمدة القاری:۱۵/۱۰۲، وفتح الباری:۶/۲۸۰، وارشاد الساری:۵/۲۴۳)_

[9]) انظر تدریب الراوی:۱/۲۱۹، النوع الحادی عشر، الفرع الثالث: التعلیق الذی یذکره الحمیدی.....، وفتح الباری:۶۲۸۰، وعمدة القاری:۱۵/۱۰۲، وایضا انظر قواعد فی علوم الحدیث:۱۶۳_۱۶۴)_

د مذکوره تعلیق تخریج: دا تعلیق ابونعیم اصفهانی رحمه الله په خپل "مستخرج" کښې، امام احمد رحمه الله په مسند کښې او ابویعلی رحمه الله په خپل مسند کښې موصولاً نقل کړې دی[1]

قوله: قال: کیف أنتم إذا لم تجتبوا دیناراً ولا درهماً؟ فقیل له: وکیف تری ذلك کائناً یا أبا هریرة؟: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې هغه وخت به ستاسو څۀ حال وی چې کوم وخت تاسو ته په خراج کښې څۀ درهم، دینار نۀ ملاویږی؟ نو ورته اووئیلې شو ائې ابوهریره! ستاسو په خیال کښې به دا څنګه او ولې وی؟

د تجتبوا صرفی او لغوی تحقیق: د "تجتبوا" کلمه د باب افتعال نه د جمع مذکر حاضر صیغه ده، په حالت د جزم کښې ده، په مجرد کښې دا د الجبایة، بالجیم والباء المؤحدة، وبعد الالف یاء. نه مشتق ده، ددې معنی ده مطلقاً ټیکس لیکن دلته ددې نه مراد خراج او جزیه ده. ځکه چې دا هم یو قسم ټیکس دې چې په کفارو باندې لازمولې شی[2]

په دې جمله کښې حضرت ابوهریره هغه پیشن ګوئی ذکر کړې ده کومه چې هغوی د نبی ﷺ نه د مستقبل په باره کښې اوریدلې وه چې آئنده به یو داسې زمانه راشی چې په خراج او جزیه کښې به تاسو ته هیڅ هم نۀ ملاویږی، اهل ذمه وغیره به تاسو ته ټیکس نۀ ادا کوی. په دې باندې اوریدونکو د حیرانتیا اظهار اوکړو چې ائې ابوهریره! آیا داسې هم کیدې شی چې ذمیان مونږ ته جزیه وغیره نۀ ادا کوی؟

قوله: قال: إی والذی نفس أبی هریرة بیده عن قول الصادق المصدوق: حضرت ابوهریره رضی الله عنه اوفرمائیل چې او اقسم دې د هغه ذات چې د چا په قبضۀ قدرت کښې د ابوهریره روح دې، دا خبره د صادق او مصدوق نه د اوریدلو نه پس تاسو ته کوم.

کلمه د "إی" د همزه کسرې او د یاء سکون سره ده، دا حرف ایجاب دې[3]

بیا د صادق معنی خو ښکاره ده لیکن د مصدوق څۀ معنیٰ ده، په دې کښې دوه اقوال دی:

① مصدوق یعنی نبی ﷺ ته چې کومه خبره اوښودلې شوه نو رښتیا ورته اوښودلې شوه مثلاً جبرائیل چې ورته کومه خبره هم کړې ده نو رښتیا ئې کړې ده.

② مصدوق په معنی د المصدق (اسم مفعول) یعنی د چا چې تصدیق کړې شوې وی، ددې معنې په صحیح والی کښې هم څۀ شک نشته[4]

قوله: قالوا: عم ذاك؟: خلقو تپوس اوکړو چې داسې به ولې وی، یعنی ذمیان چې مونږ ته د

---

[1]) فتح الباری:۶/۲۸۰، وتغلیق التعلیق:۳/۴۸۵، وعمدة القاری:۱۵/۱۰۲، ومسند الامام احمد:۲/۳۳۲، رقم (۸۳۶۸)، مسند ابی هریرة......ومسند ابی یعلی:۵/۵۰۶، رقم (۶۶۰۰))_

[2]) عمدة القاری:۱۵/۱۰۲، وفتح الباری:۶/۲۸۰، وارشاد الساری:۵/۲۴۳)_

[3]) ارشاد الساری:۵/۲۴۳)_

[4]) پورته حواله، وعمدة القاری:۱۵/۱۰۲، وشرح الکرمانی:۱۳/۱۴۳)_

جزیه را کولو نه انکار کوی نو دا ولې؟

قوله: قال: تنتهك ذمة الله وذمة رسوله صلى الله عليه وسلم فيشد الله عزوجل قلوب أهل الذمة فيمنعون ما في أيديهم: حضرت ابوهریره رضي الله عنه اوفرمائیل: د الله تعالی او د هغهٔ د رسول ﷺ سره وعدې او عهد به ماتولې شی نو نتیجه به داشی چې الله تعالی به د ذمیانو زړونه سخت کړی، د هغې نتیجه به بیا دا وی چې دا خلق به تاسو ته جزیه وغیره نهٔ درکوی.

د پورتنی حدیث مبارک په عبارت کښې ددې خبرې وجه ښودلې شوې ده چې ذمیان به د جزیه او خراج ادا کولو نه ولې منکر شی؟ ددې وجه به دا وی چې کوم حقوق اسلام ورکړې دی، هغه به پامال کړې شی، دوی سره به سختی او ظلم کولې شی، چونکه د وعدې پوره والې ضروری دې، الله تعالی او د هغهٔ رسول ﷺ ددې حکم ورکړې دې نو کله چې ددې حکم خلاف ورزی کیږی، دوی د ظلم و ستم نشانه ګرځولې کیږی نو د الله تعالی له طرفه به مؤاخذه هم کیږی، د هغې اثرات به هم وی، ددې نه په حدیث شریف کښې په دې کلماتو سره تعبیر کړې شوې دې،

"فیمنعون مافی أیدیهم" چې هغوی به تاسو ته جزیه او خراج نهٔ ادا کوی.

"تنتهك" فعل مجهول دې، د باب افتعال نه فعل مضارع مؤنث صیغه ده، ددې معنی ده پرده اخستل، ظلم وستم او بې حرمتی وغیره، او د "مافی أیدیهم" نه مراد جزیه وغیره ده.[1]

ددې معنې نور احادیث: امام حمیدی فرمائی چې امام مسلم هم د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د باب د حدیث په شان یو مرفوع روایت په بل طریق سره نقل کړې دې.[2]، چې د هغې الفاظ دا دی:

"منعت العراق درهمها وقفیزها، ومنعت الشام مدیها ودینارها، ومنعت مصر إردبها ودینارها، وعدتم من حیث بدأتم، وعدتم من حیث بدأتم، وعدتم من حیث بدأتم......"[3]

چې "عراق به خپل قفیز او درهم منع کړی، شام به خپل مد او دینار منع کړی، مصر به خپل اردب[4] او دینار منع کړی او تاسو به هلته واپس شئ د کوم ځائې نه چې تاسو شروع کړې وه..."

په دې حدیث شریف کښې افعال خو د ماضی بیان کړې شوې دی لیکن مراد ددې نه مستقبل دې، ځکه چې په دې کښې ددې خبرې طرفته اشاره ده چې دا بیان کړې شوې څیز به خامخا

---

[1]) فتح الباری: ۶/۲۸۰، وعمدة القاری: ۱۵/۱۰۲، وشرح القسطلانی: ۵/۲۴۴)_

[2]) فتح الباری: ۶/۲۸۰، وعمدة القاری: ۱۵/۱۰۲، والجمع بین الصحیحین: ۳/۲۶۱، افراد البخاری، رقم (۲۵۷۹)، و: ۳/۲۹۵، افراد مسلم، رقم (۲۶۷۶))_

[3]) اخرجه مسلم فی الفتن، باب لاتقوم الساعة یحسر الفرات عن جبل من ذهب، رقم (۷۲۷۷)، وایضا اخرجه ابو داود، کتاب الخراج......، باب فی ایقاف ارض السواد و ارض العنوة، رقم (۳۰۳۵))_

[4]) اردب تقریباً د پنځه ویشتو پاؤنډو وزن پیمانه ده (یو پاؤنډ تقریباً نیم سیر وی (القاموس الوحید، مادة: اردب"))_

واقع كيږى نو د مبالغه كولو دپاره د ماضى افعال راوړلې شوې دى چې د مستقبل په معنى كښې اخستلې شوې دى.(۱)

د حضرت جابر رضي الله عنه نه هم د داسې مفهوم يو حديث روايت دې، فرمائى: "**يوشك أهل العراق أن لا يجبى إليهم قفيز ولا درهم، قال أبونضرة: قلنا من أين ذاك؟ قال: من قبل العجم يمنعون ذاك، ثم قال: يوشك أهل الشم أن لا يجبى إليهم دينار ولا مدى، قلنا: من أين ذاك؟ قال: من قبل الروم......**"(۲)

يعنى "نزدې ده چې اهل عراق ته به د درهم او د قفيز ادائيگى نۀ كيږى، د حديث راوى ابونضره وائى چې مونږ اووئيل چې دا به د چا له طرفه وى؟ هغوى رضي الله عنه اوفرمائيل، د عجميانو له طرفه چې هغوى به ددې ادا كول بند كړى. حضرت جابر رضي الله عنه بيا اوفرمائيل چې نزدې ده چې اهل شام ته به د دينار او د مد ادائيگى نۀ كيږى. مونږ (ابونضره) تپوس اوكړو، دا به د چا له طرفه وى؟ وې فرمائيل، دا به د روميانو له طرفه وى".

فائده: ددې حديثونو يو معنى او مطلب خو هم هغه دې د كوم چې پورته ذكر اوشو چې د ذميانو له طرفه به خراج او جزيه بنده كړې شى، ددې وجه به داوى چې دوى سره به ناروا سلوک كيږى ليكن ابن الاثير جزرى فرمائى چې ددې مطلب دا هم كيدې شى چې نبى ﷺ په دې حديثونو كښې ددې خبرې پيشن گوئى كړې ده چې دا خلق به ډير زر اسلام قبول كړى او دا كوم ټيكس او جزيه وغيره چې پرې لازم كړې شوې دى نو دا به د اسلام د قبلولو د وجې نه ختم شى، دغه شان به دا خلق د خپل اسلام په ذريعې سره ددې خراج او ټيكسونو منع كوونكى جوړ شى كوم ټيكسونه وغيره چې په دوى باندې لازم وو.(۳)

ددې نه پس ابن الاثير جزرى هغه مطلب بيان كړو كوم چې امام بخارى په خپل ترجمة الباب كښې ذكر كړې دې.(۴) دې سره د امام بخارى رائې ته طاقت او قوت ملاويږى.

ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت: ترجمة الباب سره د تعليق مناسبت داسې دې چې په ترجمة الباب كښې د وعدې د پوره كولو او د نۀ پوره كولو په صورت كښې د گناه گار كيدو بيان اوكړې شو، ددې حديث نه هم د عهد د پوره كولو فضيلت او د نۀ پوره كولو په صورت كښې د سزا انجام معلوميږى.

لكه ذميانو سره كه د هغوى د وعدې لحاظ او خيال اوساتلې شى، الله تعالى او د هغۀ رسول ﷺ چې ورته كوم حقوق وركړې دى د هغې خيال اوساتلې شى نو ددې ثمره او ميوه به د جزيه او خراج په صورت كښې ملاويږى، ورنه كه داسې نۀ وى نو د ملاويدونكى مال نه به هم مسلمانان محروم شى چې دنيوى نقصان دې او د آخرت نقصان ددې نه علاوه دې.

---

(۱) فتح البارى: ۲۸۰/۶، وعمدة القارى: ۱۰۲/۱۵۔

(۲) الحديث اخرجه مسلم، كتاب الفتن، باب لاتقوم الساعة حتى يمر الرجل......رقم (۷۳۱۵)۔

(۳) جامع الاصول فى احاديث الرسول: ۵۳/۱۰۔

(۴) جامع الاصول فى احاديث الرسول: ۵۳/۱۰۔

باب بلا ترجمة

د ترجمې مقصد: دلته دا باب د ترجمې نه بغير دې.[1] او د تير شوې باب په شان فصل دې، دې کښې چې امام بخاری کوم روايتونه نقل کړې دی، د هغې تعلق ددې باب سابقه مضمون د عهد پورد کولو وغيره سره دې.[2]

۳۰۱۰، ۳۰۱۱:[3] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبُو حَمْزَةَ قَالَ سَمِعْتُ الأَعْمَشَ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا وَائِلٍ شَهِدْتَ صِفِّينَ قَالَ نَعَمْ، فَسَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَقُولُ اتَّهِمُوا رَأْيَكُمْ، رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ أَمْرَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- لَرَدَدْتُهُ، وَمَا وَضَعْنَا أَسْيَافَنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا لأَمْرٍ يُفْظِعُنَا إِلاَّ أَسْهَلْنَ بِنَا إِلَى أَمْرٍ نَعْرِفُهُ غَيْرِ أَمْرِنَا هَذَا.

رجال الحديث

① **عبدان:** دا عبدالله بن عثمان بن جبله عبدان دې. د دوی تذکره د بدء الوحی په "الحديث الخامس" کښې تيره شوې ده.[4]

② **ابوحمزه:** دا ابوحمزه محمد بن ميمون السکری دې.[5]

③ **الاعمش:** دا مشهور محدث سليمان بن مهران دې. د دوی حالات په کتاب الايمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې تير شوې دی.[6]

④ **ابو وائل:** دا مشهور تابعی بزرگ حضرت ابو وائل شقيق بن سلمه دې. د دوی تذکره په کتاب الايمان، "باب خوف المؤمن من أن يحبط......" کښې تيره شوې ده.[7]

⑤ **سهل بن حنيف:** دا مشهور انصاری صحابی حضرت سهل بن حنيف بن واهب رضي الله عنه دې.[8]

---

[1]) قال الحافظ فی الفتح(۲۸۱/۶): كذا هو بلا ترجمة عند الجميع")_

[2]) پورته حواله، وعمدة القاری:۱۰۲/۱۵)_

[3]) قوله: سهل......": الحديث، اخرجه البخاری فی نفس هذا الباب، رقم (۳۱۸۲)، وكتاب المغازی، باب غزوة الحديبية، رقم (۴۱۸۹)، وكتاب التفسير، باب قوله:(اذ يبايعونک تحت الشجرة فعلم ما فی قلوبهم.....)، رقم (۴۸۴۴)، وكتاب الاعتصام......، باب ما يذكر من ذم الرای......، رقم (۷۳۰۸)، ومسلم، كتاب الجهاد، باب صلح الحديبية....... رقم (۴۶۳۴)، والنسائی فی الكبری، كتاب التفسير، قوله تعالى:(وهوالذی انزل السكينة.....)، رقم (۱۱۵۰۴/۲))_

[4]) كشف الباری:۴۶۱/۱)_

[5]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الغسل، باب نفض البدين من......)_

[6]) كشف الباری:۲۵۱/۲)_

[7]) كشف الباری:۵۵۹/۲)_

[8]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الجنائز، باب من قام لجنازة يهودی)_

قوله: قال:سئلت أبا وائل شهدت صفين؟قال:نعم: امام اعمش فرمائی چې ما د ابو وائل نه تپوس اوکړو چې ايا تاسو د صفين په جنګ کښې شريک وئ؟هغوی اوفرمائيل،آو.

صفين: صفين.بكسرتين وتشديدالفاء.د عراق مشهور درياب،د فرات په غاړه باندې د رقه او بالس مينځ کښې د يو ځائې نوم دې،دې مقام ته د حضرت علی رضی الله عنه او د حضرت اميرمعاويه رضی الله عنه د فوجونو مينځ کښې د جنګ د وجې نه شهرت ملاو شو.
دا جنګ په يکم صفرالمظفر ۳۷هجرئ کښې شوې وو،د فريقينو په تعداد کښې اختلاف دې،د صحيح قول مطابق د حضرت علی رضی الله عنه په لښکر کښې يولاک شل زره او د حضرت معاويه رضی الله عنه فوجيان لس زره کم يولاک وو،په دې جنګ کښې دواړو طرفونو ته اويا زره کسان شهيدان شو،چې په دې کښې پنځويشت زره ملګری د حضرت علی رضی الله عنه او پنځه څلويښت زره کسان د حضرت معاويه شامل وو،د حضرت علی رضی الله عنه له طرفه پنځويشت بدری صحابه کرام رضی الله عنهم هم شهيدان شو.
دا جنګ يوسل لس(۱۱۰)ورځو پورې جاری وو او د فريقينو مينځ کښې لس کم سل څله جنګونه او مخامخ کيدل اوشو.(۱)

قوله: فسمعت سهل بن حُنيف يقول: اتهموا رأيكم......: نو ما د سهل بن حنيف نه واوريدل چې ائې خلقو!تاسو خپله رائې متهم اوګڼړئ.
دا حديث په مغازی کښې راغلې دې،هلته ددې پوره تشريح هم شوې ده،چې د هغې خلاصه د حديث د ترجمې سره مونږ دلته ذکر کوو:
"په جنګ صفين کښې چې کله د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت معاويه رضی الله عنه مينځ کښې جنګ شروع شو نو رو رو د حضرت علی رضی الله عنه ملګری غالب راتلل،نزدې وه چې حضرت معاويه رضی الله عنه ته مکمل شکست اوشی چې په دې وخت کښې د حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه په رائې سره په دې خبره باندې اتفاق اوشو چې قرآن کريم به حکَم(فيصله کوونکې)اوګرځوو،په دې باندې د حضرت علی رضی الله عنه بعضې ملګرو اعتراض اوکړو چې مونږ په دې وخت کښې غالب يو.په دې باندې حضرت سهل بن حنيف رضی الله عنه اوفرمائيل،"اتهموا رأيكم"ائې خلقو!تاسو خپل ځان او خپله رائې هم متهم اوګڼړئ،ضروری نه ده چې ستاسو دا رائې صحيح وی،کيدې شی چې د مخالف فريق رائې صحيح وی،ځکه چې په صلح حديبيه کښې زۀ موجود ووم،هغه وخت زما رائې دا وه چې جنګ کيدل پکار دی او صلح نۀ،ددې باوجود مونږ خپله رائې پريخودده او د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په رائې باندې مو عمل اوکړو نو د هغې نتيجه او انجام ښۀ شو حالانکه هلته معامله د اسلام او د کفر وه او دلته معامله د مسلمانو خپل مينځ کښې ده،ددې وجې نه په دې معامله کښې خپله رائې حتمی ګڼړل او د مسلمانانو په قتل باندې اصرار کول

(۱) معجم البلدان للحموی:۳/۴۱٤،باب الصادوالفاء.....)_

پکار نهٔ دی او مونږ دا توري د څهٔ داسې کار دپاره اوچتې کړې نهٔ دی چې هغه څیز مونږ په ویره او خوف کښې اچوی لیکن دا تورې هغه کار زمونږ دپاره آسانولې شو لیکن د جنګ صفین معامله ډیره عجیبه شوې ده، ددې نه د خلاصی صورت اوس ذهن ته نهٔ راځی.(۱)

۳۰۱۱ (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِيهِ حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو وَائِلٍ قَالَ كُنَّا بِصِفِّينَ فَقَامَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ اتَّهِمُوا أَنْفُسَكُمْ فَإِنَّا كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ، وَلَوْ نَرَى قِتَالاً لَقَاتَلْنَا، فَجَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ وَهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ فَقَالَ «بَلَى». فَقَالَ أَلَيْسَ قَتْلاَنَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلاَهُمْ فِي النَّارِ قَالَ «بَلَى». قَالَ فَعَلَى مَا نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا أَنَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللَّهُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَقَالَ «ابْنَ الْخَطَّابِ، إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ، وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللَّهُ أَبَدًا». فَانْطَلَقَ عُمَرُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ إِنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَلَنْ يُضَيِّعَهُ اللَّهُ أَبَدًا. فَنَزَلَتْ سُورَةُ الْفَتْحِ، فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى عُمَرَ إِلَى آخِرِهَا. فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَوَفَتْحٌ هُوَ قَالَ «نَعَمْ». [۳۹۵۳، ۴۵۶۳، ۴۸۷۸]

رجال الحدیث

① **عبدالله بن محمد**: دا امام عبدالله بن محمد بن عبدالله مسندی دې. د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب أمور الایمان" کښې تیره شوې ده.(۳)

② **یحیی بن ادم**: دا یحیی بن آدم کوفی دې.(۴)

③ **یزید بن عبد العزیز**: دا ابوعبدالله یزید بن عبد العزیز بن سیاه اسدی(۵)، حِمانی، کوفی دې او د قطبه بن عبد العزیز ورور دې.(۶)

دې د خپل پلار عبد العزیز، اعمش، رقبه من مصلقه، عبیدالله بن عمر، اسماعیل بن ابی خالد، هشام بن عروة، مسعر، حجاج بن ارطاة او د محمد بن عمرو بن علقمه وغیره نه روایت کوی.

---

(۱) اوګورئ، کشف الباری، کتاب المغازی، باب غزوة الحدیبیة......: ۴۰۰_۴۰۳، نور اوګوره، عمدة القاری: ۱۰۳/۱۵_

(۲) قوله: سهل بن حنیف": الحدیث، مر تخریجه آنفا)_

(۳) کشف الباری: ۶۵۷/۱)_

(۴) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الغسل، باب الغسل بالصاع ونحوه)_

(۵) قوله: سیاه": بکسر السین المهملة، وتخفیف الیاء آخر الحروف، وبالها، وصلا و وقفا، منصرف وغیر منصرف، والاصح الانصراف". عمدة القاری: ۱۰۴/۱۵.

(۶) تهذیب الکمال: ۱۹۳/۳۲، وتهذیب التهذیب: ۳۴۶/۱۱)_

او د دوی نه چې کوم خلق روایت کوی نو په هغوی کښې اسحاق بن منصور سلولی، ابو احمد زبیری، ابومعاویه الضریر، عمروبن عبد الغفار تمیمی، علی بن میسره رازی، هاشم بن عبد الواحد الجشاس او ابونعیم رحمهم الله وغیره شامل دی.[1]
امام احمد رحمه الله فرمائی، "ثقة"[2]
امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی، "ثقة"[3]
امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی، "ثقة"[4]
امام ذهبی رحمه الله فرمائی، "ثقة"[5]
ابن حبان رحمه الله دې په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[6]
ددې نه علاوه حافظ ابن حجر، حافظ یعقوب بن سفیان، امام دارقطنی، امام ابوحاتم او امام ترمذی رحمهم الله او نورو کسانو ورته هم ثقه وئیلې دې.[7]
د امام بخاری رحمه الله نه علاوه امام مسلم، ابوداؤد او نسائی وغیره رحمهم الله هم د دوی نه روایت اخستلې دې[8]. رحمه الله تعالی رحمة واسعة

③**عبد العزیز**: دا عبد العزیز بن سیاه اسدی، حمانی[9]، کوفی رحمه الله دې[10]
دې د خپل والد سیاه او د حبیب ابن ابی ثابت، ابن ابی عمره، اعمش، شعبی، مسلم الملائی الاعور او د حکم بن عتیبه وغیره رحمهم الله نه روایت کوی.
او کوم کسان چې د دوی نه روایت کوی نو په هغوی کښې ددوی خوئې یزید او عبدالله بن نمیر، ابومعاویه، یعلی بن عبید، یونس بن بکیر، عبیدالله بن موسی، وکیع او ابونعیم وغیره رحمهم الله شامل دی[11]

---

[1]) د استاذانو او شاګردانو دپاره اوګورئ، تهذیب الکمال:۳۲/۱۹۴)_
[2]) پورته حواله، وتهذیب التهذیب:۱۱/۳۴۷، والجرح والتعدیل:۹/۳۴۳، رقم (۱۱۶۹))_
[3]) تاریخ عثمان بن سعید الدارمی، رقم (۵۷)، پورته حواله))_
[4]) تهذیب الکمال:۳۲/۱۹۵، وتهذیب التهذیب:۱۱/۳۴۷)_
[5]) الکاشف:۲/۳۸۷، رقم (۶۳۳۷))_
[6]) الثقات:۷/۶۲۳، وتهذیب الکمال:۳۲/۱۹۵)_
[7]) تقریب التهذیب، رقم (۷۷۷۷)، وتعلیقات تهذیب الکمال:۳۲/۱۹۵، وتهذیب التهذیب:۱۱/۳۴۷، والجرح والتعدیل، رقم (۱۱۶۹)، وسنن الترمذی، مناقب عمار بن یاسر، رقم (۳۷۹۹)، وحاشیة سبط ابن العجمی علی الکاشف:۲/۳۸۷، والمعرفة والتاریخ للفسوی:۳/۱۷۷، الکنی......ومن یعرف بالکنی)_
[8]) تهذیب الکمال:۳۲/۱۹۵، والکاشف:۲/۳۸۷)_
[9]) قوله: الحمانی"بکسر المهملة......وشدة میم وبنون، انظر تعلیقات تهذیب التهذیب:۶/۳۴۰، وتوضیح المشتبه، باب الجیم:۲/۴۱۷)_
[10]) تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۴، وتهذیب ابن حجر:۶/۳۴۰، والجرح والتعدیل:۵/۴۵۰، رقم (۱۷۸۹))_
[11]) د استاذانو او د شاګردانو د تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۵)_

امام یحیی بن معین رحمہ اللہ او امام ابو داؤد رحمہ اللہ فرمائی، "ثقة"[۱]
ابو حاتم رحمہ اللہ فرمائی، "محله الصدق"[۲]
ابن حبان رحمہ اللہ دې په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[۳]
ابن سعد رحمہ اللہ فرمائی، "کان من خیار الناس، وله أحادیث"[۴]
امام ذهبی رحمہ اللہ فرمائی، "شیعی صدوق"[۵]
امام ابو ذرعه رحمہ اللہ فرمائی، "لاباس به، هومن کبار الشیعة"[۶]
د دوی نه علاوه حافظ ابن حجر، امام عجلی، امام ابن نمیر او حافظ یعقوب بن سفیان وغیره رحمهم الله هم د دوی توثیق کړې دې چې دا ثقه دې.[۷]
د امام ابو داؤد رحمہ اللہ نه علاوه باقی پنځو امامانو د دوی روایت اخستلې دې.[۸]
د ابو جعفر منصور د خلافت دوران کښې وفات شو.[۹] رحمه الله رحمة واسعة

⑤**حبیب ابن ابی ثابت**: دا حبیب بن ابی ثابت دینار کوفی رحمہ اللہ دې.[۱۰]

⑥**ابو وائل**: د حضرت ابو وائل رضی اللہ عنہ خالات په کتاب الایمان "باب خوف المؤمن..." کښې راغلې دی.[۱۱]

دا حدیث د تیر شوې حدیث دویم طریق دې، په دې طریق کښې د زوړ طریق په نسبت تفصیل لږ زیات دې ځکه چې په دې کښې د حضرت ابو جندل په معامله کښې د نبی ﷺ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ مینځ کښې چې کومه مکالمه شوې وه د هغې تذکره په کښې هم شته، چې د هغې تفصیل په مغازی کښې راغلې دې.[۱۲]

---

۱) تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۵_۱۴۶، وتهذیب التهذیب:۶/۳۴۱)_
۲) تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۶، والجرح والتعدیل، رقم (۱۷۸۹)، وتهذیب ابن حجر:۶/۳۴۱)_
۳) الثقات لابن حبان:۷/۱۱۴)_
۴) الطبقات الکبری:۶/۳۶۳، وتعلیقات تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۶)_
۵) الکاشف:۱/۶۵۵، رقم (۳۳۹۱))_
۶) تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۶، وتهذیب التهذیب:۶/۳۴۱، والجرح والتعدیل ۵/۴۵۱)_
۷) تقریب التهذیب، رقم (۴۱۱۴)، وتهذیب التهذیب:۶/۳۴۱، وتعلیقات تهذیب الکمال:۱۸/۱۴۶)_
۸) الکاشف:۱/۶۵۵، وتهذیب الکمال:۱۸/۱۴۶)_
۹) الطبقات الکبری:۶/۳۶۳)_
۱۰) د دوی حالاتو دپاره اوګورئ، کتاب الصوم، باب صوم داود علیه السلام)_
۱۱) کشف الباری:۲/۵۵۹)_
۱۲) کشف الباری، کتاب المغازی، باب غزوة الحدیبیة.......:۳۶۷_۳۶۹)_

ترجمة الباب سره مناسبت: تیر شوي باب کښې امام بخاری رحمه الله دا وئیلي وو چې د غدر او د وعده خلافۍ انجام بهرحال خراب دې،هم دا نتیجه د حضرت ابو وائل رضی الله عنه ددې حدیث نه هم ثابتیږی څکه چې قریشو د صلح حدیبیه نه پښس کومه وعده خلافی اوکړه د هغې نتیجه د هغوی دپاره دا شوه چې د فتح مکې په ذریعې سره مسلمانان په هغوی باندې غالب شو او قریش مقهور او مغلوب شو،ددې نه معلومه شوه چې د وعده خلافۍ انجام خراب وی او د وعدې د خیال او لحاظ ساتلو انجام غوره وی. لکه علامه عینی رحمه الله وغیره فرمائی:

"تعلق هذا الحديث بالباب المترجم من حيث ما آل امر قريش،ئى نقضهم العهد من الغلبة عليهم والقهر بفتح مكة فانه يوضح أن مآل الغدر مذموم،ومقابل ذلك ممدوح"(۱)

۳۰۱۲ (۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَسْمَاءَ ابْنَةِ أَبِي بَكْرٍ - رضي الله عنهما - قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَىَّ أُمِّي وَهْىَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ، إِذْ عَاهَدُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَمُدَّتِهِمْ، مَعَ أَبِيهَا، فَاسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَىَّ، وَهْىَ رَاغِبَةٌ، أَفَأَصِلُهَا قَالَ «نَعَمْ، صِلِيهَا». [ر: ۲۴۷۷]

رجال الحديث

① **قتيبه بن سعید:** دا شیخ الاسلام قتیبه بن سعید ثقفی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان، باب إفشاء السلام من الایمان" کښې تیره شوې ده(۳)

② **حاتم بن اسماعیل:** دا ابو اسماعیل حاتم بن اسماعیل کوفی رحمه الله دې(۴)

③ **هشام بن عروة عن أبیه:** د حضرت هشام بن عروة بن زبیر بن عوام رحمه الله او د هغوی د والد صاحب یعنی د عروه تذکره په "بدء الوحی" او "کتاب الایمان، "باب أحب الدین إلى الله أدومه" کښې راغلې ده(۵)

⑤ **اسماء بنت أبی بکر:** د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها تفصیلی حالات په کتاب العلم، "باب من اجاب الفتیا باشارة الید" کښې تیر شوې دی(۶)

---

[1]) عمدة القاری:۱۵/۱۰۳،وفتح الباری:۶/۲۸۱)_

[2]) قوله: عن اسماء بنت......":الحدیث،مر تخریجه فی الهبة،باب الهدیة للمشرکین)_

[3]) کشف الباری:۲/۱۸۹)_

[4]) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ: کتاب الوضوء،باب،بعد استعمال فضل وضوء الناس)_

[5]) کشف الباری:۱/۲۹۱،و:۲/۴۳۲_۴۴۰)_

[6]) کشف الباری:۳/۴۸۷)_

قوله: قـالت: قدمت علي أمي: حضرت اسماء فرمائی چې زما مور ماته راغله.

د حضرت اسماء د مور بی بی مختصر تعارف: دلته د ټولو نه مخکښې خبره خو دا ده چې د حضرت اسماء د مور نوم څه وو؟ په دې کښې مختلف اقوال دی:

د ابن سعد، ابوداؤد طیالسی او د حاکم د روایت نه دا معلومیږی چې ددې نوم قتیله (مصغرا) وو. د حضرت عبدالله بن زبیر روایت دې:

"قدمت قتيلة بنت عبد العزى بن سعد من بني مالك بن حسل على ابنتها: أسماء بنت أبي بكر في الهدنة، وكان أبوبكر طلقها في الجاهلية بهدايا: زبيب وسمن وقرظ (۱)، فأبت أسماء أن تقبل هديتها أو تدخلها في بيتها، وأرسلت إلى عائشة: سلي رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: لتدخلها" (۲) (اللفظ لابن سعد)

یعنی "قتیله بنت عبدالعزی بن سعد ...... خپلې لور حضرت اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنهما کره د صلح په ورځو کښې راغله، حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورته د جاهلیت په زمانه کښې طلاق ورکړې وو، څه سامان ئې هم خان سره راوړلو مثلاً اوسکې، غوړی او زیورات وغیره. حضرت اسماء رضی الله عنها د هدیو د قبولولو نه انکار اوکړو او ورته ئې کور ته د راتلو اجازت هم ورنهٔ کړو او د حضرت عائشې رضی الله عنها طرفته ئې پیغام اولیږه چې په دې باره کښې د نبی ﷺ نه تپوس اوکړئ. نبی ﷺ اوفرمائیل چې هغه دې کور ته داخلیدې شی".

د پورتنی روایت نه چې څنګه دا خبره معلومه شوه چې ددې نوم قتیله وو، نو دا هم معلومه شوه چې دا د حضرت اسماء رضی الله عنها حقیقی مور وه، ددې وجې نه دا د حضرت اسماء رضی الله عنها رضاعی مور تصور کول وهم دې. (۳) او زبیر بن بکار رحمه الله ددې نوم قیله او ابن ماکوله قتله نقل کړې دې، کیدې شی چې دا چې د تصغیر په طور قتیله جوړ کړې وی. (۴)

او علامه داودی رحمه الله ددې نوم ام بکر نقل کړې دې چې د هغې په باره کښې ابن التین رحمه الله فرمائی چې کیدې شی دا کنیت وی. (۵)

---

(۱) د ابوداؤد طیالسی په روایت کښې دا لفظ طاء مهمله سره قط راغلې دې، ددې معنی ده د غوړ والی. غالباً هم دا لفظ صحیح دې، قرظ (ظاء معجمه سره) ددې معنی ده ګوند، ددې دلته هیڅ مطلب نهٔ جوړیږی، ددې وجې نه موږ دلته ددې ترجمه په زیوراتو (کالو) سره کړې ده. ترجیحا لروایة الطیالسی، انظره: ۲۸۹/۲، رقم (۱۷۴۴). او د حاکم (۵۲۷/۲) په روایت کښې "أقطا" راغلې دې، ددې معنی ده پنیر (کُچ) ددې معنی احتمال هم کیدې شی۔

(۲) الطبقات الکبری: ۲۵۲/۸، ترجمة اسماء بنت ابی بکر، و مسند ابی داود الطیالسی: ۲۸۸/۲_۲۸۹، رقم (۱۷۴۴)، والحاکم: ۵۲۷/۲، رقم (۳۸۰۴)، کتاب التفسیر، سورة الممتحنة، ومطالب العالیة: ۳۸۷/۳، رقم (۳۷۷۸)، سورة الممتحنة من کتاب التفسیر، وجمهرة انساب العرب: ۱۳۷/۱_

(۳) فتح الباری: ۲۳۳/۵_

(۴) پورته حواله، والاکمال لابن ماکولا: ۱۳۰/۷، باب قیلة وقتلة)_

(۵) فتح الباری: ۲۳۳/۵)_

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خوئې عبدالله رضی اللہ عنہ هم ددې نه وو.(۱)

قوله: وهي مشركة: دې حال کښې دا مشرکه وه.

راجح هم داده چې د حضرت اسماء رضی اللہ عنہا د مور انتقال د شرک په حالت کښې شوې دې، بعضې حضراتو چې ددې د اسلام د قبولیت وینا کړې ده نو دا غلطه ده.(۲)

قوله: في عهد قريش إذ عاهدوا رسول الله صلى الله عليه وسلم ومدتهم: دې ورځو کښې چې کله قریشو د نبی ﷺ سره صلح کړې وه.

دلته د عهد نه مراد "صلح حدیبیه" ده.

او مطلب دادې چې حضرت اسماء رضی اللہ عنہا کره مور راغله نو دا د صلح حدیبیه او د فتح مکه مینځ کښې چې کوم وخت وو دغه وخت کښې راغلې وه.(۳)

مع أبيها: خپل پلار سره.

په دې کښې ضمیر مجرور د حضرت اسماء رضی اللہ عنہا طرفته راجع کیږی، یعنی د هغې مور سره د هغې نیکهٔ هم وو. او دا غلط او تصحیف دې. صحیح لفظ "ابنها" دې، یعنی خپل خوئی سره راغلې وه، چې د هغهٔ نوم حارث بن مدرک بن عبید بن عمرو بن مخزوم دې، کما قاله الزبیر بن بکار. حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی:

"ولم أر له ذكراً في الصحابة، فكأنه مات مشركاً"(۴)

بیا د حضرت اسماء رضی اللہ عنہا د نیکهٔ په نوم کښې هم اختلاف دې، بعضو وئیلې دی چې عبدالعزی نوم دې او هم دا مشهور دې.(۵)

او د علامه قسطلانی رحمہ اللہ کلام په دې کښې ګډوډ دې لکه کله هغه د عبدالعزی نوم لیکی(۶) او کله د حارث بن مدرک.(۷) لیکن دا غلط دې، اصل کښې خو حارث بن مدرک ئې د خوئی نوم دې، دغه شان مدرک بن عبید خاوند شو.

قوله: فاستفتت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت: يا رسول الله ﷺ، إن أمي قدمت علي وهي راغبة أفأصلها؟ قال: نعم، صليها.: نو حضرت اسماء

---

(۱) پورته حواله)_

(۲) فتح الباری:۵/۲۳٤، وعمدة القاری:۱۳/۱۷٤، کتاب الهبة، باب الهدية للمشركين، رقم (۲۶۲۰))_

(۳) فتح الباری:۵/۲۳٤، وعمدة القاری:۱۵/۱۰٤، وشرح القسطلانی:۲٤۵/۵)_

(٤) فتح الباری:۵/۲۳٤، وایضا عمدة القاری:۱۳/۱۷۳، و ارشاد الساری:٤/۳۶۲)_

(۵) فتح الباری:۵/۲۳٤، وعمدة القاری:۱۳/۱۷٤، والاصابة:٤/۲۲۹، رقم (٤۶))_

(۶) لم اجده فی شرح القسطلانی)_

(۷) شرح القسطلانی:۲٤۵/۵)_

د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو چې یا رسول الله ﷺ! زما مور ماته راغلې ده او ددې خبرې طرفته میلان لری چې زۀ ورسره صله رحمی اوکړم؟ نبی ﷺ اوفرمائیل، چې بالکل ورسره صله رحمی اوکړه.

د فاستفتت او د قالت ضمیر غائب د حضرت اسماء رضی الله عنها طرفته راجع دې او د ابوذر او د حموی په نسخه کښې فاستفتت وقلت ضمیر متکلم سره دې.(۱) او د "وهی راغبة" دوه معنې دی:

① وهی راغبة فی أن تاخذ منی بعض المال چې هغه مانه د څۀ مال اخستلو باره کښې رغبت لری مطلب دا شو چې هغه ماته راغلې ده او ماته د هغې د راتګ مقصد دادې چې زۀ ورته څۀ مال ورکړم، یعنې څۀ پرې خرچ کړم. او دا جائز ده چې یو ښځه خپلې مور یا پلار ته څۀ مال وغیره ورکړی، اګرچه مال د خاوند وی او مور پلار مشرکان وی، په دې باندې امام بخاری رحمه الله په کتاب الادب کښې دوه ترجمې هم قائم کړې دی.(۲)

② وهی راغبة فی الاسلام چې هغه د اسلام په قبلولو کښې رغبت لری، مطلب دادې چې هغه د اسلام د قبلولو په نیت راغلې ده.(۳)

هم ددې مطلب د بیانولو د وجې نه بعضې حضراتو ددې د مسلمانیدو قول نقل کړې دې. چې هغه ابوموسی رحمه الله داسې رد کړې دې چې په هیڅ یو روایت کښې دا منقول نۀ دی چې دې ښځې اسلام قبول کړې وو، صحیح مطلب هم هغه دې کوم چې پورته تیر شو چې دا د مال اخستلو دپاره راغلې وه، ددې وجې نه حضرت اسماء رضی الله عنها تپوس هم کړې وو چې کۀ د اسلام د قبولیت په نیت راغلې وه نو د اجازت ضرورت بالکل نۀ وو.(۴)

ددې نه علاوه ددې جملې نورې معنې هم بیان کړې شوې دی.(۵)، په هغه ټولو کښې راجح قول دغه اولنې قول دې. کمایدل علیه صنیع البخاری أیضاً

ترجمة الباب سره د حدیث شریف مناسبت: ما قبل ترجمة الباب سره ددې حدیث تعلق او مناسبت په دې معنی کښې دې چې د غدر نۀ کولو تقاضه داده چې رشته دارانو سره صله رحمی او ښۀ سلوک جائز وی، اګرچه هغوی غیرمذهب وی او بیشکه دا حدیث ددې تقاضې مطابق دې.(۶)

---

(۱) پورته حواله)_

(۲) صحیح بخاری، کتاب الادب، باب صلة الوالد المشرک، وباب صلة المراة امها ولها زوج. نور اوګوره، کشف الباری، کتاب الادب: ۳۴۲_۳۴۴)_

(۳) فتح الباری: ۵/ ۲۳۴، وعمدة القاری: ۱۳/ ۱۷۴، وارشاد الساری: ۵/۲۴۵)_

(۴) فتح الباری: ۵/ ۲۳۴، وعمدة القاری: ۱۳/ ۱۷۴)_

(۵) فتح الباری: ۵/ ۲۳۴)_

(۶) عمدة القاری: ۱۵/ ۱۰۴، وفتح الباری: ۶/ ۲۸۲)_

د حضرت شيخ الحديث صاحب رائې: لکه څنګه چې تاسو دا خبره اوکتله چې امام بخاری رحمه الله دلته په ترجمة الباب کښې صرف "باب" وئيلې دې او وړاندې مونږ د بخاری د شارحينو په حوالې سره دا نقل کړې دی چې دا **كالفصل من السابق**، دې يعنی کوم مقصد چې د ماقبل باب وو هم هغه مقصد ددې باب هم دې او دا ددې تتمه ده.

ليکن حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چې ددې باب دپاره دا ترجمه قائميدې شی "باب مضار الغدر ومنافع عدمه.....أی الوفاء"[1]

يعنی ددې باب د قائمولو مقصد دادې چې د بدعهدئ، وعده خلافئ نقصانات او د وعدې د پوره کولو فائدې او مصلحتونه بيان کړې شی.

بيشکه د باب احاديث بالکل ددې ترجمة الباب مطابق او موافق دی. اولنې حديث چې د هغې تعلق حديبيه سره وو نو دغه شان به دې ترجمې سره هم موافق شی څکه چې نبی ﷺ او صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم د صلح حديبيه د شرطونو پوره والې اوکړو اګرچه د بعضې کسانو زړونه مطمئن نهٔ وو ليکن د هغې ميوه د "فتح مکه" په شکل کښې ښکاره شوه، ددې وجې نه الله تعالی صلح حديبيې ته فتح مبين اوفرمائيله. او دويم حديث يعنی د حضرت اسماء رضي الله عنها حديث د هغې تعلق هم د صلح حديبيه سره دې څکه چې د حضرت اسماء رضي الله عنها مذکوره مور دې ته راغلې وه نو دغه د صلح حديبيې ورځې وې، ددې وجې نه مسلمانانو او په خپله حضرت اسماء رضي الله عنها د صلح حديبيه د شرطونو د لحاظ ساتلو د وجې نه دې ښځې ته هيڅ هم اونهٔ وئيل، هيڅ ضرر او نقصان ئې ورنهٔ کړو بلکه فائده ئې ورته اورسوله حالانکه دا مشرکه ښځه وه او هرقسم کار ورسره ممکن وو، نو ددې نه د وعدې د پوره کولو اهميت او فائده ښهٔ طريقې سره واضح کيږی. والله اعلم بالصواب

⑱ باب: الْمُصَالَحَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، أَوْ وَقْتٍ مَعْلُومٍ

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله دلته دا فرمائی چې کفارو سره کوم مصلحت اوکړې شی نو هغه د دريو ورځو دپاره هم کيدې شی او ددې دپاره څهٔ وخت هم مقرر کيدې شی.[2]

د صلحې زيات مدت څومره دې؟ په مقرره وخت کښې په مصالحت کولو کښې اتفاق دې، په دې کښې څهٔ اختلاف نشته ليکن اختلاف په دې کښې دې چې د مصالحت زيات نه زيات مدت او وخت څومره دې؟

په ائمه اربعه کښې د امام شافعی رحمه الله او په يو روايت کښې د امام احمد رحمه الله رائې داده چې ددې مصالحت زيات نه زياته موده لس کاله مقرريدې شی، که ددې نه زياته موده مقرر کړې شو نو هغه به باطله وی، د هغې د زياتوالی به هيڅ اعتبار نهٔ وی.[3]

---

[1] الابواب والتراجم للكاندهلوی: ۲۰۹/۱)_

[2] عمدة القاری: ۱۰٤/۱۵، وفتح الباری: ۲۸۲/۶)_

[3] المغنی: ۹۲۳۸/، رقم (۷۵۹۱)، والام: ۱۸۹/٤/۲، المهادنة علی النظر للمسلمين، رقم (۱۳۳۵۶))_

دا حضرات استدلال د صلح حديبيه نه كوى چې نبى ﷺ په صلح حديبيه كښې لس كال موده مقرر كړې وه،لكه څنګه چې په ابوداؤد او سيرت د ابن اسحاق (۱)كښې د لس كالو وضاحت موجود دې
او امام اعظم ابوحنيفه،امام مالک اوپه يو روايت كښې امام احمد رحمهم الله تعالى فرمائى چې كه دا موده د لسو كالو نه زياته وى نو بيا هم جائزه ده ،ددې دارومدار د وخت په امام باندې دې،هغه چې څومره وخت او موده مقررول مناسب ګڼړى نو هغه مقررولې شى(۲)
او د صلح حديبيه د مودې نه استدلال كول بې محله دې،ځكه چې كه حضور اقدس ﷺ لس كاله موده مقرر كړې وه نو ددې نه دا څنګه ثابته شوه چې ددې نه زياتوالې ممكن نۀ دې او نبى ﷺ دا لس كاله موده انتهائى او آخرى موده ګرځولې دې؟دغه وخت د مصلحت تقاضه دا وه ددې وجې نه نبى ﷺ لس كاله موده مقرر كړې وه.
دغه شان امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چې دا يو عقد دې چې د لسو كالو دپاره جائز دې نو ددې نه زياتې مودې دپاره به هم جائز وى لكه څنګه چې په اجاره كښې وى.(۳)

۳۰۱۳:(۴)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ حَكِيمٍ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ-رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَعْتَمِرَ أَرْسَلَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ يَسْتَأْذِنُهُمْ لِيَدْخُلَ مَكَّةَ،فَاشْتَرَطُوا عَلَيْهِ أَنْ لاَ يُقِيمَ بِهَا إِلاَّ ثَلاَثَ لَيَالٍ،وَلاَ يَدْخُلَهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ،وَلاَ يَدْعُوَ مِنْهُمْ أَحَدًا، قَالَ فَأَخَذَ يَكْتُبُ الشَّرْطَ بَيْنَهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ. فَقَالُوا لَوْ عَلِمْنَا أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ لَمْ نَمْنَعْكَ وَلَبَايَعْنَاكَ،وَلَكِنِ اكْتُبْ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ. فَقَالَ «أَنَا وَاللَّهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَأَنَا وَاللَّهِ رَسُولُ اللَّهِ». قَالَ وَكَانَ لاَ يَكْتُبُ قَالَ فَقَالَ لِعَلِيٍّ «امْحُ رَسُولَ اللَّهِ». فَقَالَ عَلِيٌّ وَاللَّهِ لاَ أَمْحَاهُ أَبَدًا. قَالَ «فَأَرِنِيهِ». قَالَ فَأَرَاهُ إِيَّاهُ، فَمَحَاهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِيَدِهِ،

[1]) قال ابن المنذر:اختلف العلماء فى المدة التى كانت بين رسول الله ﷺ وبين اهل مكة عام الحديبية؟ قال عروة:كانت اربع سنين،وقال ابن جريج:كانت ثلاث سنين،وقال ابن اسحاق:كانت عشر سنين".انظر تفسير القرطبى:۸/۴۰)_

[2]) امام قرطبى رحمه الله فرمائى: وقال ابن حبيب عن مالک رضي الله عنه :تجوز مهادنة المشركين السنة والسنتين والثلاث،والى غير مدة".الجامع لاحكام القرآن:۸/۴۱.وانظر ايضا بداية المجتهد:۳/۴۳۹.الفصل السادس فى جواز المهادنة......والهداية: ۴/ ۲۰۴.باب الموادعة.من كتاب السير)_

[3]) المغنى/۹۲۳۸)_

[4]) قوله: البراء":الحديث،مر تخريجه فى كتاب العمرة،باب كم اعتمر النبى ﷺ ؟)_

فَلَمَّا دَخَلَ وَمَضَى الأَيَّامُ أَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوا مُرْ صَاحِبَكَ فَلْيَرْتَحِلْ. فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ-صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «نَعَمْ» ثُمَّ ارْتَحَلَ. [ر: ۱۶۸۹]

رجال الحديث

①**احمد بن عثمان بن حكيم**:دا ابوعبدالله احمد بن عثمان بن حكيم بن دينار ازدی كوفی رحمه الله دی.

② **شريح بن مسلمه**:دا شريح بن مسلمه كوفی رحمه الله دی.

③ **ابراهيم بن يوسف**:دا ابراهيم بن يوسف بن ابی اسحاق كوفی رحمه الله دی.

④**ابی**: د اب نه مراد يوسف بن ابی اسحاق رحمه الله دی[1]

⑤**ابواسحاق**:دا مشهور محدث ابواسحاق عمرو بن عبدالله كوفی سبيعی رحمه الله دی.د دوی حالات په كتاب الايمان، "باب الصلوة من الايمان" كښې تير شوې دی[2]

⑥**البراء**: د براء بن عازب رضی الله عنه حالات هم په كتاب الايمان كښې پورتنی مذكوره باب كښې تير شوې دی[3]

د باب د حديث شريف ترجمه: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چې كله نبی ﷺ د عمرې د ادا كولو اراده اوكړه نو په مكه مكرمه كښې د داخليدو دپاره ئې د اهل مكه نه اجازت طلب كولو دپاره پيغام واستوو.نو اهل مكه دا شرط اولګوو چې تاسو به دلته صرف درې ورځې قيام كوئ،اسلحه به درسره بند وی او د اهل مكه هيڅ يو كس به هم تاسو ځان ته راتلو ته نه پريږدئ. حضرت براء رضی الله عنه فرمائی چې د فريقينو مينځ كښې كوم شرائط مقرر كړې شو نو دا حضرت علی رضی الله عنه ليكل نو هغوی اوليكل، "هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله" په دې باندې د مكې مكرمې قريشو اووئيل چې كه زمونږ دا يقين وو چې تاسو د الله تعالى رسول يئ نو مونږ به تاسو منع كړې نه وئ او ستاسو نه به مو بيعت كړې وو ليكن دا اوليكئ، "هذا ما قاضى عليه محمد بن عبدالله" نبی ﷺ اوفرمائيل،په خدا قسم زه محمد بن عبدالله يم،په خدائې قسم!زه د الله تعالى رسول يم.حضرت براء رضی الله عنه فرمائی چې حضرت علی رضی الله عنه ددې په ليكلو باندې رضا نه وو نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل چې د"رسول الله"الفاظ وران كړه.هغوی اوفرمائيل،په خدائې قسم! زه به دا كلمات وران نه كړم.نبی ﷺ اوفرمائيل چې ما ته اوښايه،هغوی ورته اوښودل نو نبی ﷺ په خپلو لاسونو مباركو باندې هغه وران كړل.كله چې نبی ﷺ په مكه مكرمه كښې داخل شو او مذكوره ورځې هم تيرې شوې نو كفارو

---

[1]) ددې خلوروواړو حضراتو د حالاتو دپاره اوګورئ: كتاب الوضوء،باب اذا القى على ظهر المصلى قذر..)

[2]) كشف البارى:۲/ ۳۷۰_

[3]) كشف البارى:۲/ ۳۷۵_

حضرت علی رضی اللہ عنہ ته اوونیل چې خپل آقا ته اوو وایه چې ددې ځائې نه تشریف یوسی.دا خبره هغوی نبی کریم ﷺ ته اوکړه نو نبی ﷺ اوفرمائیل چې صحیح ده.او بیا روان شو.

د جلبان معنی او ددې ضبط: ولا یدخلها إلا بجلبان السلاح په دې کښې جلبان د جیم او د لام ضمه او باء مشدده سره دې،دغه شان د جیم ضمه،د لام سکون او باء مخففه سره هم ضبط کړې شوې دې جلبان د څرمنې هغه تهیلئ ته وئیلې شی چې په هغې کښې تیکې د تورې سره کیخودې شی.علامه ابن الاثیر رحمہ اللہ فرمائی "شبه الجراب من الادم، ویوضع فیه السیف مغموداً"(۱)

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره د باب د حدیث شریف مناسبت په دې جمله کښې دې چې "أن لا یقیم بها إلا ثلاث لیال"(۲) ددې نه دا ثابتیږی چې د مقرره وخت دپاره صلح کیدې شی.

⑲ باب: الْمُوَادَعَةِ مِنْ غَيْرِ وَقْتٍ

د ترجمة الباب مقصد: دلته امام بخاری رحمہ اللہ ددې خبرې جواز بیانوی چې د وخت او د مدت د مقررولو نه بغیر که صلح اوکړې شی نو ددې هم گنجائش شته،که امام په دې کښې مصلحت گڼړی او د هغهٔ رائې وی نو صحیح ده(۳)

په مذکوره مسئله کښې اختلاف: پورته چې کومه مسئله ذکر شوه نو په دې کښې هم د امامانو اختلاف دې.

① د احنافو،شوافعو او د مالکیه رائې داده چې د وخت د مقررولو نه بغیر هم صلح کول صحیح ده(۴)

ددې حضراتو دلیل هم هغه حدیث دې کوم چې امام بخاری رحمہ اللہ تعلیقاً ذکر کړې دې،په هغې کښې دی چې نبی ﷺ اهل خیبر سره د غیرمعینه وخت دپاره صلح کړې وه،ددې وجې نه که امام او د اهل رائې دا خیال وی او ددې ضرورت هم وی چې صلح اوکړې شی نو جائز ده، علامه ابن بطال رحمہ اللہ فرمائی:

"لیس فی أمر المهادنة حد عند أهل العلم لا یجوز غیره، وإنما ذلك علی حسب الحاجة والاجتهاد فی ذلك إلی الامام وأهل الرأی"(۵)

---

(۱) القاموس الوحید.باب الجیم.مادة جلب".وعمدة القاری:۱۰۵/۱۵.والنهایة فی غریب الحدیث: ۲۸۲/۱.باب الجیم مع اللام.وکشف المشکل:۲۵۰/۲.من مسند البراء.رقم (۸۵۸))_

(۲) عمدة القاری:۱۰۵/۱۵. د حدیث شریف د مزید وضاحت دپاره اوگوری:کشف الباری.کتاب المغازی، باب صلح الحدیبیة:۳۶۵_۳۶۷)_

(۳) عمدة القاری:۱۰۵/۱۵.وفتح الباری:۲۸۲/۶)_

(۴) پورته حواله جات.وابن بطال:۳۶۷/۵.وارشاد الساری:۲۴۶/۵.والام:۱۸۹/۴/۲.رقم (۱۳۳۵۷))_

(۵) شرح ابن بطال:۳۶۷/۵)_

② ددې خلاف حنابله ددې خبرې قائل دی چې دغه شان صلح کول صحیح نهٔ دی.[1]

وَقَوْلِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «أُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ اللَّهُ بِهِ». [ر: ۲۲۱۳]

او د نبی ﷺ قول مبارک ترڅو چې الله تعالی تاسو دلته برقرار ساتی نو زهٔ به هم تاسو برقرار ساتم.

د مذکوره تعلیق مقصد: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دا حدیث امام بخاری رحمه الله دلته ددې وجې نه ذکر کړو چې امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې کوم مؤقف اختیار کړو نو چې دا په هغې باندې دلیل شی چې د وخت مقررولو نه بغیر هم صلح کول صحیح دی لکه څنګه چې دا حدیث پرې دلالت کوی.

د مذکوره تعلیق تخریج: مذکوره تعلیق امام بخاری رحمه الله په کتاب المزارعة[2] کښې موصولاً نقل کړې دې. ددې موصول روایت یو حصه مصنف دلته لیکلې ده.[3]

ددې نه علاوه دا حدیث امام مسلم رحمه الله هم موصولاً نقل کړې دې.[4]

ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت: ترجمة الباب سره د تعلیق مناسبت واضح دې ځکه چې ترجمة الباب د غیرمعینه وخت د صلحې کولو د جواز وه او ددې دعوې دلیل په حدیث شریف کښې موجود دې. والله اعلم بالصواب.

⑳ باب: بَابُ طَرْحِ جِيَفِ الْمُشْرِكِينَ فِي الْبِئْرِ وَلاَ يُؤْخَذُ لَهُمْ ثَمَنٌ

د ترجمة الباب مقصد: ددې ترجمة الباب دوه جزونه دی:

① طرح جیف المشرکین فی البئر ② ولا یؤخذ لهم ثمن

د اولنی جزء مقصد دادې چې مشرکان د قتل کولو نه پس کوهی ته غورځول هم جائز دی، بلکه غوره کار دې، ددې دپاره چې په لاره باندې تیریدونکو خلقو ته تکلیف نهٔ وی په دې شرط چې په دغه کوهی کښې اوبهٔ نهٔ وی او شاړ کوهی وی، ګنی که اوبه په کښې وی نو بیا په کښې غورځول جائز نهٔ وی.[5]

دویمه خبره داده چې په دې کښې د مشرکانو بې عزتی ده او تدفین او تکفین خو اعزاز او اکرام دې او مشرکان ددې اعزاز او اکرام مستحق نهٔ دی.

د جیف ضبط او معنی: جیف. بکسر الجیم وفتح الیاء. د جیفة جمع ده او ددې معنی ده لاش، چې کله

---

[1]) المغنی لابن قدامة: ۹/۲۳۸، رقم (۷۵۹۰)_

[2]) الصحیح للبخاری، کتاب المزارعة، باب اذا قال رب الارض: اقرک......رقم (۲۳۳۸)_

[3]) عمدة القاری: ۱۵/۱۰۵، وفتح الباری: ۶/۲۸۲_

[4]) الصحیح لمسلم، کتاب المساقاة، باب المساقاة والمعاملة بجزء من التمر......رقم (۳۹۶۷)_

[5]) عمدة القاری: ۱۵/۱۰۵، وشرح ابن بطال: ۵/۳۶۸، وارشاد الساری: ۵/۲۴۶_

بوئی شروع کړی.(۱)

د دویم جزء مقصد دادې چې د مشرکانو د بدنونو او د لاشونو بیع کول جائز نهٔ ده، ددې وجې نه که چرته دوی وارثان د دوی د لاشونو په بدله کښې مال ورکول غواړی نو ددې اخستل به جائز نهٔ وی(۲) دا د جمهورو مذهب دې، په دې کښې د چا اختلاف منقول نهٔ دې، کما صرح به النووی رحمه الله(۳)

د جمهورو دلیلونه: ①د دوی یو دلیل د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دې. کوم چې امام ترمذی رحمه الله روایت کړې دې چې مشرکانو اوغوښتل چې د یو مشرک سړی بدن واخلی نو نبی صلی الله علیه وسلم انکار اوفرمائیلو(٤)

②دویم دلیل هغه واقعه ده کومه چې ابن اسحاق رحمه الله ذکر کړې ده چې مشرکانو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دا درخواست راوړلو چې مونږ ته د نوفل بن عبدالله بدن راکړه، دې په خندق کښې پریوتلې وو او مړ شوې وو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، "لاحاجة لنافی جسده، ولا ثمنه" چې مونږ ته نهٔ ددهٔ د قیمت ضرورت شته او نهٔ د بدن. ابن هشام وائی چې مشرکانو د نوفل بن عبدالله د بدن قیمت لس زره درهمه لګولې وو.(۵)

③ددې نه علاوه دا وجه هم ده چې دا مرداره ده او د مردارې نهٔ مالک کیدل جائز دی او نهٔ عوض اخستل، لکه څنګه چې د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما په یو حدیث مبارک کښې د مردارې او د بتانو دواړو قیمتونو اخستلو ته ناجائز وئیلې شوې دی(۶). فرمائی چې د فتح مکې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک اوفرمائیل:

"إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والاصنام....."(۷)

---

۱) عمدة القاری:۱۰۵/۱۵، والنهاية للجزری:۳۲۵/۱، باب الجيم مع الياء)_

۲) عمدة القاری:۱۰۵/۱۵، وشرح ابن بطال:۳۶۸/۵، وارشاد الساری:۲٤۶/۵)_

۳) قال رحمه الله: واما الميتة والخمر والخنزير، فاجمع المسلمون على تحريم بيع كل واحد منها". انظر شرح النووی على مسلم:۲۳/۲)_

٤) الجامع للترمذی، ابواب الجهاد، لا تفادی جيفة المشركين، رقم (۱۷۱۵))_

۵) قال ابن اسحاق ......: نوفل بن عبدالله بن المغيرة، سالوا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يبيعهم جسده، وكان اقتحم الخندق، فتورط فيه، فقتل، فغلب المسلمون على جسده، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا حاجة لنا فی جسده ولا بثمنه، فخلی بينه وبينهم")_قال ابن هشام: اعطوا رسول الله صلى الله عليه وسلم بجسده عشرة آلاف درهم، فيما بلغنی عن الزهری". انظر السيرة النبوية:۲۶۵/۳، قتلى المشركين (فی غزوة الخندق))_

۶) ابن بطال:۳۶۸/۵، وفتح الباری:۲۸۳/۶، وعمدة القاری:۱۰۵/۱۵، والقسطلانی:۲٤۶/۵)_

۷) الحديث اخرجه البخاری فی البيوع، باب بيع الميتة والاصنام، رقم (۲۲۳۶)، ومسلم فی صحيحه فی المساقاة، باب تحريم بيع الخمر والميتة، رقم (٤۰٤۸_٤۰٤۹)، والترمذی فی البيوع، باب فی بيع جلود الميتة، رقم (۱۲۹۷)، وابو داود فی الاجارة، باب فی ثمن الخمر والميتة، رقم (۳٤۸۶)..... [بقيه برصفحه آينده...

چې "الله تعالی او د هغهٔ رسول د شرابو، مردار، خنزیر او د بتانو بیعه حرامه گرځولې ده"
حضرت گنگوهی فرمائی

"ولا یؤخذ لهم ثمن" "فان البیع وإن کان فیه توهین للمبیع، ولکنه لایخلو عن اعزاز له أیضاً لما فیه من جعله ذا خطر، إذ البیع لایجری فیما لا رغبة فیه ولا هو ذو خطر، فنهینا عن بیع أجساد المشرکین لئلا یلزم فیه إعزازها"(۱)

ددې مطلب دادې چې "د مشرکانو د بدنونو عوض به نهٔ اخستلې کیږی، ددې وجه داده چې د بیع د وجې نه اګرچه د مبیع توهین کیږی لیکن دې سره سره د مبیع اکرام او اعزاز هم کیږی، هغه داسې چې ددې مبیع څهٔ حیثیت وو ددې وجې نه خرڅه شوه، ځکه چې په کومو څیزونو کښې د خلقو رغبت نهٔ وی او څهٔ حیثیت ئې نهٔ وی نو د هغې څیزونو بیع خو بالکل هډو کیږی نهٔ، ددې وجې نه مونږ د مشرکانو د بدنونو د اخستلو نه منع کړې شوې یو، دې د پاره چې دې بیع سره د هغوی اعزاز او اکرام لازم رانهٔ شی، نو ددې وجې نه مطلقاً ممانعت اوکړې شو، نو دغه شان به په خلقو کښې دې طرف ته نهٔ څهٔ رغبت وی او نهٔ به د خلقو په نزد ددې څهٔ حیثیت وی"

۳۰۱۴: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ بْنُ عُثْمَانَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنه - قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - سَاجِدٌ وَحَوْلَهُ نَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِذْ جَاءَ عُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ بِسَلَى جَزُورٍ، فَقَذَفَهُ عَلَى ظَهْرِ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - فَلَمْ يَرْفَعْ رَأْسَهُ حَتَّى جَاءَتْ فَاطِمَةُ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - فَأَخَذَتْ مِنْ ظَهْرِهِ، وَدَعَتْ عَلَى مَنْ صَنَعَ ذَلِكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلی الله علیه وسلم - «اللَّهُمَّ عَلَيْكَ الْمَلأَ مِنْ قُرَيْشٍ، اللَّهُمَّ عَلَيْكَ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، وَعُتْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ، وَشَيْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ، وَعُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ، وَأُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ - أَوْ أُبَيَّ بْنَ خَلَفٍ». فَلَقَدْ رَأَيْتُهُمْ قُتِلُوا يَوْمَ بَدْرٍ، فَأُلْقُوا فِي بِئْرٍ، غَيْرَ أُمَيَّةَ أَوْ أُبَيٍّ، فَإِنَّهُ كَانَ رَجُلاً ضَخْمًا، فَلَمَّا جَرُّوهُ تَقَطَّعَتْ أَوْصَالُهُ قَبْلَ أَنْ يُلْقَى فِي الْبِئْرِ. [ر: ۲۳۷]

دا حدیث بعینه هم دې سند سره په کتاب الوضوء(۳) کښې تیر شوې دې.
د حدیث مبارک ترجمه: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چې نبی کریم ﷺ په سجده کښې وو او ګیرچاپیره د قریشو څهٔ مشرکان ناست وو، اچانک عقبه بن ابی معیط نبی ﷺ ته د اوښ بچه دانی راوړه او د نبی کریم ﷺ په ملامبارکه ئې واچوله نو نبی ﷺ خپل سر

بقیه ازحاشیه گذشته] والنسائی فی البیوع، باب بیع الخنزیر، رقم (۴۶۶۹)، وابن ماجه فی التجارات، باب مالا یحل بیعه، رقم (۲۱۶۷))_

(۱) لامع الدراری: ۳۲۸/۷)_

(۲) قوله: عن عبدالله رضی الله عنه: "الحدیث، مر تخریجه فی الوضوء، باب اذا القی علی ظهر.....)_

(۳) کتاب الوضوء، باب اذا القی علی ظهر المصلی قذر.....)_

مبارک د سجدې نه اوچت نهٔ کړو تردې چې حضرت فاطمه رضي الله عنها تشريف راوړلو او هغه څيز ئې د نبی کريم ﷺ د ملا مبارکې نه اوچت کړو، کوم خلقو چې داغلط حرکت کړې وو نو د هغوی دپاره ئې خيرې اوفرمائيله، نبی کريم ﷺ ددې خلقو دپاره خيرې کولو کښې اوفرمائيل چې اې الله! دقريشو دا ډله گرفتاره کړه، اې الله ابوجهل بن هشام، عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، عقبه بن ابی معيط او أميه بن خلف يا ابی بن خلف (راوی ته شک دې) گرفتار کړه (راوی حضرت عبدالله وائی چې) په خدائې قسم! ما دا ټول اوليدل چې په غزوهٔ بدر کښې مردار کړې شو. نو دا ټول کوهی ته اوغورځولې شو، علاوه د اميه يا ابی بن خلف نه. د هغې وجه دا شوه چې دې ډير د ډيل ډول سړې وو، کله چې دې صحابه کرامو رضي الله عنهم رابنکهٔ نو ددهٔ اندامونه يا جوړونه کهلاؤ شو مخکښې ددې نه چې دې کوهی ته واچولې شی.

د حديث شريف د اخری جزء "فانه کان رجلا.... " تشريح: ددې حديث په آخری جزء کښې يو لفظ د اوصال راغلې دې، چې د وصل جمع ده، ددې معنی اندام هم دې او جوړ هم (١)، او د مذکوره جملې مطلب دادې چې کله صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم اميه بن خلف کوهی ته د غورځولو دپاره رابنکهٔ نو ممکنه نهٔ شوه، ځکه چې ددهٔ اندامونه مات شوې وو.

ددې بنيادی وجه دا شوې وه چې دا د رمضان المبارک ورځې وې او ډيره گرمی وه (٢)، نو د مرگ نه پس ډير وخت پورې په دې حالت کښې پراتهٔ وو چې ددې وجې نه ئې بدنونه پړسيدلې وو او تور شوې وو، نو کله چې دوی کوهی ته غورځولې شو نو د اميه بن خلف بدن دروند وو، ددې وجې نه ممکن نهٔ شوه چې دې کوهی ته واچولې شی، ددې وجې نه دې هم په دې حالت باندې پريخودلې شو (٣)

ددې حديث نور تشريحات په کتاب الجهاد او کتاب المغازی کښې راغلې دی (٤)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت: د ترجمة الباب اولنی جزء سره خو حديث مطابقت په دې جمله کښې دې، "......**فالقوا فی بئر**" ددې نه ددې کار وضاحت سره جواز معلوميږی چې په غيرآباد کوهيانو کښې د مشرکانو لاشونه غورځول جائز دی.

د ترجمة الباب دويم جزء سره د حديث مناسبت په دې معنی کښې دې چې عرفاً دا خبره معلومه ده چې که ددې مقتولينو د وارثانو په ذهن کښې دا خبره راتله چې مونږ به مال خرچ کړو نو ددې لاشونو حاصلول به مونږ ته ممکن شی ددې باوجود هغوی ددې کوشش اونهٔ کړو، ځکه چې هغوی ته ددې بنهٔ پته وه چې دا کوشش به ضائع وی، په دې خبره باندې د ترمذی شريف پورتنې مذکوره حديث هم دلالت کوی (٥)، کوم چې مونږ وړاندې بيان کړو،

---

(١) مجمع بحار الانوار: ٥/٦٣، مادة وصل، باب: و،ص)_

(٢) كما فی المغازی: وكان يوما حارا"، باب دعاء النبی ﷺ على......رقم (٣٩٦٠))_

(٣) لامع الدراری وتعليقاته: ٧/٣٢٨)_

(٤) كشف البارى، كتاب الجهاد: ١/ ٧٣٠_٧٣٣، وكتاب المغازی: ١٠٠)_

(٥) په دې حديث باندې اگرچه کلام شوې دې ليکن دا گواه جوړيدې شی..... [بقيه برصفحه آئنده...

دغه شان د ابن اسحاق رحمه الله روایت هم په دې معامله کښې واضح دې.د حافظ ابن حجر رحمه الله د قول مطابق په مذکوره مسئله باندې د باب د حدیث نه د امام بخاری رحمه الله استدلال هم ددې نکتې او د عرف په بنیاد باندې دې (۱)

د باب د حدیث نه مستنبطه یوه فائده امام طبری رحمه الله فرمائی

"د هر سړي خواه هغه مسلمان وی یا کافر.مړي پټول او ددې دفن کول فرض دی.د خلقو د نظرونو نه د پټ ساتلو دپاره چې هر قسم طریقه اختیارولې شی نو د هغې اختیارول ضروری دی، ددې وجه او دلیل د نبی کریم ﷺ هغه حکم دې په کوم حکم کښې چې د بدر کوهی کښې د مشرکانو د غورځولو دپاره وئیلې شوې وو او فراخه خائې کښې هغوی وانهٔ چولې شو.ددې وجې نه په دې معامله کښې د نبی کریم ﷺ اقتداء او تابعداری کول زیات غوره او مستحب ده لیکن په هرحال کښې به موقع محل ته کتلې شی.داسې نهٔ چې.....مسلمانان په کفن دفن کښې مصروف وی او دشمن پرې دوباره حمله اوکړی.

هرکله چې حربی مشرکانو سره د نبی کریم ﷺ دا طریقه وه نو هغه مشرکان چې ذمیان او اهل عهد دی،که د هغوی یو کس مړ شی.د هغهٔ څوک ولی نهٔ وی،نهٔ ئې څوک د مذهب ملګری او مسلمان موجود وی نو د سنتو په رڼا کښې ددهٔ لاش پټول او دفن کول غوره دی.لکه د حضرت علی رضی الله عنه د والد صاحب ابو طالب په وفات باندې نبی کریم ﷺ فرمائیلې وو "اذهب فواره....." (۲) چې "لاړ شهٔ او هغه پټ کړهٔ".

البته:که د څهٔ مصروفیت یا د بل څهٔ مانع د وجې نه مسلمانان دا اونهٔ کړی نو زما په خیال کښې په دې کښې څهٔ حرج نشته څکه چې د نبی کریم ﷺ په اکثرو جنګونو کښې چې په هغې کښې قتلونه هم شوې وو نو کوم ذکر چې د بدر متعلق اوشو داسې ذکر د یو جنګ متعلق هم نشته چې په هغې کښې د مشرکانو مړی پټ کړې شوې وی" (۳) والله اعلم بالصواب

بقیه ازحاشیه گذشته] اوګورئ:جامع ترمذی، ابواب الجهاد،باب لا تفادی جیفة......رقم (۱۷۱۵)،وفتح الباری:۲۸۳/۶،وشرح ابن بطال:۳۶۸/۵)_

(۱) شرح ابن بطال:۳۶۸/۵،والمتواری:۹۹۱،وفتح الباری:۲۸۳/۶،وتعلیقات اللامع:۳۲۸/۷)_

(۲) الحدیث اخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفة:۳۷۹/۷،و۳۸۱،کتاب الجنائز،باب فی الرجل یموت له القرابة المشرک:یحضره ام لا؟رقم (۱۱۹۶۲)،وابو داود فی الجنائز،رقم (۳۲۱۴)،والنسائی فی الطهارة،رقم (۱۹۰)،وانظر کذلک تعلیقات محمد عوامه علی المصنف،کتاب الجنائز،باب فی المسلم یغسل المشرک...... رقم (۱۱۲۶۷)،په دې معنی کښې نور احادیث هم موجود دی،په سنن بیهقی کښې د عمر بن یعلی بن مرة عن ابیه د طریق نه مروی دی،حضرت یعلی فرمائی سافرت مع النبی ﷺ غیر مرة،فما رایته مر بجیفة انسان الا امر بدفنه،لایسال امسلم هو ام کافر". سنن کبری:۳/۳۸۶،کتاب الجنائز،باب وجوب العمل فی الجنائز من الغسل....،رقم (۶۶۱۷) ددې نه علاوه اوګورئ:د مصنف ابن ابی شیبه رحمه الله پورتنې ذکر شوې باب:۳۷۸/۷،۳۸۱)_

(۳) شرح ابن بطال:۳۶۹/۵_۳۷۰)_

۲۱_ باب: إِثْمِ الْغَادِرِ لِلْبَرِّ وَالْفَاجِرِ

د ترجمة الباب مقصد په دې باب کښې امام بخارى رحمه الله دا بيانوى چې بدعهدى کول ګناه ده، برابره خبره ده که دا بدعهدى يو نيک سړى سره اوکړې شى يا يو بد سړى سره اوکړې شى، او دغه شان بدعهدى کوونکې په خپله نيک سړې وى يا بد سړې وى. لکه حافظ صاحب او علامه عينى رحمهما الله وغيره ليکى:

قوله: "أي: سواء كان من بر لفاجر أو بر، ومن فاجر لبر أو فاجر".[1] ددې وجې نه نجات په هيڅ صورت کښې نشته، په هرحال کښې به ګناهګار وى او دا د منافقت علامت دې.

حافظ مزيد فرمائى چې کوم ترجمة الباب د "باب إثم من عاهد ثم غدر" دې بابونه وړاندې تير شو نو دهغې او ددې باب مينځ کښې د عمُوم خصوص نسبت دې.[2] مطلب دادې چې وړاندې کوم باب تير شو نو هغه عام وو او دا باب خاص دې.

او حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله په دواړو بابونو کښې دا فرق بيانوى چې په دې کښې د ګناه د نوعيت د اختلاف طرفته اشاره ده چې د غدر مختلف نوعيتونه دى. دې حساب سره ددې ګناه هم ده. ددې وجې نه امام بخارى رحمه الله ددې مطلب بيانولو دپاره مختلفې ترجمې قائمې کړې دى.[3]

او حضرت ګنګوهى رحمه الله د نيک او فاجر د دواړو د ذکر توجيه کوى او فرمائى: لما كان من الامور المنكرة ما لا كراهة فيه إذا ارتكبها مؤمن كامل في إيمانه، ولا يمكن من ارتكابه الفاسق الغير الآمن على إيمانه توهم أن الغدر لعله من هذا القبيل، فرفعه بإطلاق الرواية، ولفظ "كل" الدال على العموم".[4]

ددې مطلب دادې چې په ناکاره کارونو کښې بعضې داسې دى چې که يو مؤمن هغه اوکړى نو په کښې هيڅ کراهت نشته، بد نۀ ګڼړلې کيږى. ليکن که هم دغه عمل يو فاسق او ناقص مسلمان اوکړى نو هغۀ ته ددې اجازت نۀ شى ورکولې او هغه ددې نه منع کولې شى. لکه څنګه چې د يوم الشک روژه ده. چونکه د غدر او وعده خلافئ متعلق هم چاته دا ګمان کيدې شو چې دا کار هم ددې قبيل نه دې چې کامل مؤمن ئې اوکړى نو څۀ باک به په کښې نۀ وى او غيرکامل، فاسق او ناقص مسلمان ئې اوکړى نو هغه به ګناهګار وى نو امام بخارى رحمه الله دا وهم د روايت د اطلاق په ذريعې سره او لفظ "كل" چې په عموم باندې دلالت کوى، ددې په ذريعې سره ختم کړې دې چې بدعهدى خواه نيک سړې اوکړى يا بد، دواړه به ګناهګار وى. والله اعلم بالصواب

---

[1]) فتح البارى: ٦/٢٨٤، وعمدة القارى: ١٥/١٠٦)_
[2]) فتح البارى: ٦/٢٨٤)_
[3]) الابواب والتراجم للکاندهلوى: ١/٢٠٩)_
[4]) پورته حواله، ولامع الدرارى: ٧/٣٢٩)_

۳۰۱۵ (۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ.
۳۰۱۶- وَعَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلی الله علیه وسلم- قَالَ «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ -قَالَ أَحَدُهُمَا يُنْصَبُ وَقَالَ الْآخَرُ- يُرَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ».

رجال الحدیث

①**ابوالولید**: دا ابو الولید هشام بن عبد الملک طیالسی رحمه الله دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب علامة الایمان حب الانصار" کښې تیره شوې ده.(۲)

②**شعبه**: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن الحجاج عتکی رحمه الله دې.د دوی حالات په کتاب الایمان، "باب المسلم من سلم المسلمون من......" کښې راغلي دی.(۳)

③**سلیمان الاعمش**: دا سلیمان بن مهران دې چې په اعمش سره مشهور دې.د دوی ترجمه په کتاب الایمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې تیره شوې ده.(۴)

④**ابووائل**: دا ابووائل شقیق بن سلمه دې.د دوی تذکره په کتاب الایمان، "باب خوف المؤمن من أن یحبط عمله......" کښې تیره شوې ده.(۵)

⑤**عبدالله**: د مشهور صحابی حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه حالات په کتاب الایمان، "باب ظلم دون ظلم" کښې تیر شوي دی.(۶)

⑥**ثابت**: دا ابو محمد ثابت بن اسلم بُنانی دې.د دوی تذکره په کتاب العلم "باب القراءة والعرض علی المحدث" کښې تیره شوې ده.(۷)

⑦**انس**: د حضرت انس رضی الله عنه حالات په کتاب الایمان، "باب من الایمان....." کښې راغلي دی.(۸)

---

[1]) قولهما: عن عبدالله رضی الله عنه ،وعن انس رضی الله عنه ":اما حدیث عبدالله فاخرجه البخاری فی هذا الموضع فقط. واخرجه مسلم فی الجهاد،باب فی تحریم الغدر،رقم (۴۵۳۳_۴۵۳۵)،وابن ماجه،کتاب الجهاد،باب الوفاء بالبیعة،رقم (۲۸۷۲).اما حدیث انس فاخرجه البخاری فی هذا الموضع،واخرجه مسلم،کتاب الجهاد، باب تحریم الغدر،رقم (۴۵۳۶))_

[2]) کشف الباری:۳۸/۲)_

[3]) کشف الباری:۶۷۸/۱)_

[4]) کشف الباری:۲۵۱/۲)_

[5]) کشف الباری:۵۵۹/۲)_

[6]) کشف الباری:۲۵۷/۲)_

[7]) کشف الباری:۱۸۳/۳)_

[8]) کشف الباری:۴/۲)_

د حديث شريف سند سره متعلق يو اهم وضاحت: تاسو گورئ چې دا حديث دوه صحابه كرام ﷺ روايت كوى، په پورتني سند كښې چې د "وعن ثابت....." كوم الفاظ دى، د هغې قائل حضرت شعبه بن الحجاج رحمه الله دې، د مسلم شريف په روايت كښې ددې وضاحت موجود دې، چې د هغې طريق دادې، "عبدالرحمن بن مهدى عن شعبة عن ثابت عن انس" (۱) او امام اسماعيلى هم دا روايت د "ابوخليفة عن ابى الوليد شيخ البخارى" طريق سره دوو سندونو سره نقل كړې دې او دواړو ځايونو كښې دا فرمائى چې دې سره په هغه سړى (۲) باندې رد كيږى چا چې دا كار جائز ښودلې دې چې دا په ابوالوليد باندې عطف دې، دغه شان به دا روايت د "الاعمش عن ثابت....." د طريق نه شى، حالانكه حقيقت كښې داسې نۀ ده بلكه دا د "شعبه عن ثابت......" د طريق نه دې. ددې نه علاوه امام مزى رحمه الله هم په تهذيب (۳) كښې د اعمش عن ثابت روايت په بخارى كښې شامل كړې نۀ دې او په دې باندې ئې د بخارى علامت نۀ دې لگولې. (۴)

قوله: عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لكل غدر لواء يوم القيامة: د نبى كريم ﷺ نه روايت دې چې هغوى اوفرمائيل چې د هر وعده خلاف دپاره به د قيامت په ورځ يو بيرغ وى.

قوله: قال أحدهما ينصب وقال الآخر: يرى يوم القيامة يعرف به: په دواړو كښې يو اوفرمائيل چې نصب كولې به شى او دويم اوفرمائيل چې ښكاره ښودلې شى نو د هغې نه به پيژندلې شى.

په مسلم شريف كښې چې ددې حديث كوم روايت دې نو په هغې كښې نۀ خو كلمه د ينصب شته او نۀ د "يرى (۵)" شته. دلته د راويانو شک شوې دې چې يو خو "ينصب" نقل كړې او دويم "يرى" نقل كړې دې ليكن دې سره د روايت په صحت باندې څۀ اثر نۀ كيږى ځكه چې دواړه روايتونه د بخارى د شرط موافق دى، دلته د شک د ذكر كولو وجه صرف داده چې التباس اونۀ شى. (۶)

---

۱) انظر صحيح مسلم، كتاب الجهاد، باب تحريم الغدر، رقم (۴۵۳۶))_

۲) قال به الكرمانى ايضا، انظر شرحه الكواكب الدرارى: ۱۳/۱۴۷، وعمدة القارى: ۱۵/۱۰۶)_

۳) تهذيب الكمال: ۱۲/۷۷، (ترجمة سليمان بن مهران الاعمش رحمه الله)_

۴) فتح البارى: ۶/۲۸۴)_

۵) پورته حواله، وصحيح مسلم، كتاب الجهاد، باب تحريم الغدر، رقم _۴۵۳۶))_

۶) دا د علامه عينى رحمه الله (۱۵/۱۰۶) رائې ده چې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت كوونكو راويانو ته شک شوې دې ليكن دا څوک دى، دا معلومه نۀ شوه. البته زمونږ..... [بقيه برصفحه آئنده....

٣٠١٦ :(١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يُنْصَبُ لِغَدْرَتِهِ».[٥٨٢٣، ٥٨٢٤، ٦٥٦٥، ٦٦٩٤]

رجال الحديث

①سليمان بن حرب: دا سليمان بن حرب الوشحى دې.د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب من كره أن يعود فى الكفر كما يكره أن..... "كښې تيره شوې ده (٢)

②حماد: دا حماد بن زيد دې.د دوى حالات په كتاب الايمان، "باب المعاصى من أمر الجاهلية..... "كښې تير شوې دى (٣)

③ايوب: دا ايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى دې.د دوى تذكره په كتاب الايمان، "باب حلاوة الايمان "كښې تيره شوې ده (٤)

④نافع: دا نافع دې چې د ابن عمر مولى دې.د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب ذكر العلم والفتيا فى المسجد "كښې تيره شوې ده (٥)

⑤ابن عمر: د حضرت عبد الله بن عمر حالات په كتاب الايمان، "باب الايمان..... "كښې راغلې دى (٦)

قوله: قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: لكل غادر لواء ينصب لغدرته: حضرت ابن عمر رضى الله عنهما فرمائي چې ما دنبى كريم صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چې دهر وعده خلاف

بقيه ازحاشيه گذشته] رائي داده چې د احدهما نه مراد حضرت ابن مسعود او د الآخر نه مراد حضرت انس رضى الله عنهما دى، په دې باندې قرينه غالباً دا ده چې امام بخارى رحمه الله دا روايت د دواړو صحابو نه يوځائې نقل كړې دې، ددې وجې نه ددې كلماتو نزدې محمل هم دا دواړه صحابه كيدې شى، خصوصاً چې هر كله د حضرت ابن مسعود رضى الله عنه د روايت صرف يو طريق بيان كړې شوې وى والله اعلم بالصواب)

[1]) قوله: عن ابن عمر رضى الله عنه ":الحديث،اخرجه البخارى،كتاب الادب،باب ما يدعى الناس بآبائهم،رقم (٦١٧٧_٦١٧٨)،وكتاب الحيل،باب اذا غصب جاريته فزعم.....،رقم (٦٩٦٦)،وكتاب الفتن،باب اذا قال عند قوم شيئا.....رقم (٧١١١)،ومسلم،كتاب الجهاد،باب تحريم الغدر،رقم (٤٥٢٩_٤٥٣٢)،وابو داود،ابواب الجهاد،باب فى الوفاء بالعهد،رقم (٢٧٥٦)،والترمذى،ابواب السير،باب ما جاء ان لكل غادر لواء.....رقم (١٥٨١)

[2]) كشف البارى:١٠٥/٢)_

[3]) كشف البارى:٢١٩/٢)_

[4]) كشف البارى:٢٦/٢)_

[5]) كشف البارى:٦٥١/٤)_

[6]) كشف البارى:٦٣٧/١)_

دپاره به د قيامت په ورځ يو بيرغ وي چې د هغهٔ د وعده خلافئ د وجې نه به ښخولې شي.
د "بغدرته" په باء كښې احتمالات: د بغدرته باء خو يا سببيه ده يا صرف جاره ده، په دواړو صورتونو كښې غدرته مجرور دې او ددې مضاف محذوف دې كومه چې كلمه د سبب ده يا كلمه د قدر ده، اى بسبب غدرته فى الدنيا او بقدر غدرته"[1] مطلب دادې چې د وعده خلاف دپاره كوم بيرغ ښخولې شي نو د هغې وجه او سبب به ددې انسان په دنيا كښې وعده خلافي وي.
په دويم صورت كښې به مطلب دا شي چې په دنيا كښې د وعده خلافئ كوم مقدار وي نو د هغې په اندازه به بيرغ هم وي "بقدر غدره"[2] ددې دويمې معنې تائيد د مسلم شريف د روايت نه هم كيږي، چې په هغې كښې د "بقدر غدره"[3] وضاحت دې[4]
بيرغ به چرته لګولې شي؟: په اكثرو روايتونو كښې ددې خبرې وضاحت موجود نهٔ دې چې هر وعده خلاف ته د بيرغ ښخولو كومه سزا وركولې شي نو ددې محل به څهٔ وي؟ البته! په مسلم شريف كښې چې د حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه كوم روايت دې نو په هغې كښې په دې الفاظو سره ددې وضاحت راغلې دې، "لكل غادر لواء عند إسته يوم القيامة"[5] چې ددې محل او مقام به شاته ملا (دبر) باندې پورته ځائې وي.
د "لكل غادر لواء" مختلفې معنې او مطلبونه: د قيامت په ورځ چې وعده خلاف ته كوم بيرغ لګولې شي نو ددې وجه به څهٔ وه؟
د حديث شارحينو ددې مختلف جوابونه ذكر كړې دې:
① علامه تورپشتى رحمه الله فرمائى چې الله تعالى به وعده خلاف سړې په ټول محشر كښې د قيامت په ورځ رسوا كړى، په دنيا كښې چې دهٔ كومه وعده خلافي كړې وه د هغې د بيان دپاره به دا بيرغ اولګولې شي چې دا بدعهده دې او په دې سره به دا انسان پيژندلې كيږى، لكه څنګه چې د يو لښكر قائد په خپل بيرغ سره پيژندلې شي"[6]
② علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى چې ګويا دې وعده خلاف انسان سره به دهٔ د قصد او د ارادې خلاف عمل اوكړې شي، ځكه چې بيرغ عموماً په سر باندې وي ليكن دهٔ بيرغ به لاندې وي چې دې ښهٔ ذليل او رسوا شي، ځكه چې سترګې غالباً د بيرغونو طرفته ځى، نو

[1]) عمدة القارى:۱۵/۱۰۶)_
[2]) كما فى حديث ابى سعيد الخدرى رضي الله عنه: لكل غادر لواء يوم القيامة، يرفع له بقدر غدره......".انظر الصحيح لمسلم، كتاب الجهاد، باب تحريم الغدر، رقم (۴۵۳۸))_
[3]) پورته حواله)_
[4]) فتح البارى:۶/۲۸۴)_
[5]) انظر، صحيح مسلم، كتاب الجهاد، باب تحريم الغدر، رقم (۴۵۳۷))_
[6]) كتاب السير:۳/۸۵۹، رقم (۲۷۰۷)، وعمدة القارى:۱۵/۱۰۶)_

ددې وعده خلاف انسان دا کار به هم د قيامت په ورځ ددې سبب وی چې د خلقو سترګې به په دې بيرغونو باندې لګيدلې وی کوم بيرغونه چې ددې بدعهدو دپاره لګولې شوې وی دغه شان به دا خلق ښۀ ذليل او رسوا شی.(١)

③امام قرطبی فرمائی چې د "لکل غادر لواء" په دې جمله کښې نبی کريم ﷺ اهل عرب هغه کار سره مخاطب کړې دی کوم کار چې به دې اهل عرب په خپله کوو.لکه د اهل عرب عادت وو چې هغوی به د وفا دپاره سپين بيرغ او د بدعهدئ دپاره تور بيرغ اوچتولو،يعنی دې دواړو رنګونو به په دې کارونو باندې دلالت کوو،دې دپاره چې خلق بدعهدو لره ملامته کړی،مذمت ئې اوکړی،ددې وجې نه د حديث تقاضه هم داده چې بدعهده انسان سره د قيامت په ورځ هم داسې اوشی چې ددۀ دا کار مشهور شی او اهل محشر ئې مذمت بيان کړی. هرچه وفاداری ده نو ددې په باره کښې څۀ حديث خو نۀ دې راغلې ليکن دا څۀ لرې نۀ ده چې ددې د تعريف او مدح دپاره هم دغه شان بيرغ پورته کړې شی او خلق ددې خلقو تعريف اوکړی،خصوصاً هرکله چې د نبی کريم ﷺ دپاره "لواء الحمد" ثابت وی،ددې وجې نه د لواء الوفاء کيدل هم څۀ لرې نۀ ده.(٢)

ترجمة الباب سره د درې واړو احاديثو مناسبت: پورته د دريو حديثونو ذکر راغلې دې،يو د حضرت ابن مسعود،دويم د حضرت انس او دريم حديث د حضرت ابن عمر ﷺ،ترجمة الباب سره ددې درې واړوحديثونو مناسبت په دې کلماتوکښې موجود دې، "لکل غادر لواء" ځکه چې لفظ د "کل" په عموم باندې دلالت کوی،ددې نه دا معلوميږی چې بدعهدی خواه دنيک سړی نه اوشی يا د بدسړی نه ليکن په هرصورت اوهرحال کښې مذموم او د ګناه کار دې.(٣)

د حديث نه راوتلې شوې بعضې فائدې:

غدر او وعده خلافی کول حرام دی: د پورتنی احاديثو نه يو خو دا خبره معلومه شوه چې وعده خلافی حرامه ده.خصوصا چې هرکله دا کار يوحاکم يا والی اوکړی،ځکه چې ددې کار نقصان او ضرر متعدی وی او د الله تعالی مخلوق ددې نه متاثره کيږی،دويمه وجه داده چې حاکم چونکه د وعدې په پوره کولو باندې قدرت لری،د هغۀ دپاره څۀ مانع نۀ وی،ددې وجې نه چې حاکم هم بدعهدی کوی نو دا ډيره عجيبه او د عقل نه لرې خبره ده

---

(١) فتح الباری:٦/٢٨٤_

(٢) پورته حواله،والمفهم لما اشکل من تلخيص کتاب مسلم،باب النهی عن الغدر،من کتاب الجهاد:١١/٥٤)

(٣) قال المهلب: اخبر عليه السلام ان عقوبة الغادر يوم القيامة ان يرفع له لواء،ليعرف الناس بغدرته،فينظرون منه بعين المعصية،وهذه عقوبة من نوع ما قال الله فی عاقبة الکاذبين علی الله:(ويقول الاشهاد هؤلاء الذين کذبوا علی ربهم) (هود:١٨)،وانما قال البخاری:باب اثم الغادر للبر والفاجر"لعموم قوله عليه السلام لکل غادر لواء....." فدخل فيه من غدر من بر او فاجر،دل ان الغدر حرام لجميع الناس،برهم وفاجرهم،لان الغدر ظلم، وظلم الفاجر حرام کظلم البر التقی".انظر شرح ابن بطال:٥/٣٧٠_٣٧١)_

حضرت قاضى عياض رحمه الله فرمائى، مشهوره خو داده چې دا حديث مبارك د حاكم او والى په مذمت كښې راغلې دې، چې دوى خپل قوم، رعيت او خپل فوج سره كومې وعدې كړې دى او هغه پوره نۀ كړى، يا د خپل ولايت او حكومت هغه ضروريات پوره نۀ كړى، د كومو ضرورياتو ذمه دارى چې ئې په خپله اخستلې ده. نوهركله چې دۀ خيانت اوكړو او رعيت سره ئې د نرمئ او د مهربانئ سلوک اونۀ كړو نو دۀ خپلې وعدې او عهد سره غدارى اوكړه.

قاضى عياض رحمه الله مزيد فرمائى چې بعضې حضراتو دا وئيلې دى چې د حديث مراد رعيت لره د امام د نافرمانئ نه منع كول او بندول دى. لكه د رعيت دپاره دا جائز نۀ دى چې هغوى د امام خلاف خروج او بغاوت اوكړى او د هغۀ نافرمانى اوكړى، ځكه چې په دې سره ډيرې فتنې پيدا كيدې شى. بيا قاضى صاحب رحمه الله اولنى قول ته ترجيح وركوى او فرمائى، "والصحيح الاول"(١)

ليكن حديث لره يو معنې سره خاص كول مناسب نۀ دى هركله چې د دويمې معنې احتمال هم لرى، ددې وجې نه حافظ صاحب رحمه الله فرمائى چې معلومه نۀ ده چې ددې حديث په عموم باندې حمل كولو كښې څۀ څيز مانع دې؟ بيا د حديث راوى حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په خپله هم ددې نه هغه معنى مراد اخلى كومه چې قاضى عياض مرجوحه ښودلې ده، لكه د كتاب الفتن په روايت كښې ددې عبارت زياتوالې هم راغلې دې. "وإنا قد بايعنا هذا الرجل على بيع الله و رسوله، وإنى لا أعلم غدراً أعظم من أن يبايع رجل على بيع الله ورسوله، ثم ينصب له القتال، وإنى لا أعلم أحداً منكم خلعه، ولا بايع فى هذا الامر الا كانت الفيصل بينى وبينه"(٢)

مطلب دادې چې مونږ د هغه سړى (يزيد بن معاويه) په لاس د الله تعالى او د رسول ﷺ په شرط باندې بيعت كړې دې او زما په نزد ددې نه زياته لويه وعده خلافى نشته چې د يو سړى په لاس باندې د الله تعالى او د رسول ﷺ په شرط سره بيعت اوكړې شى بيا هم ورسره جنګ اوكړې شى. كه ماته په تاسو كښې د چا په باره كښې معلومه شوه چې هغۀ د يزيد بن معاويه بيعت مات كړې دې يا ئې په دې معامله كښې د هغۀ بيعت اختيار كړې نۀ دې نو زما او د هغۀ مينځ كښې به فيصله وى (يعنى زما او د هغۀ تعلق به ختم وى).

ددې وجې نه حديث په عموم باندې محمول كول زيات مناسب دى. والله اعلم(٣)

د قيامت په ورځ به كوم نسبت سره اواز كولې شى؟ د باب د حديث په بعضې طرقو كښې دا الفاظ هم راغلې دى. "هذه غدرة فلان بن فلان"(٤).

---

(١) فتح البارى: ٦/٢٨٤، واكمال المعلم شرح مسلم للقاضى عياض: ٦/١٩_٢٠، باب تحريم الغدر)_

(٢) الصحيح للبخارى، كتاب الفتن، باب اذا قال عند قوم شيئا، ثم......رقم (٧١١١))_

(٣) فتح البارى: ٦/٢٨٤، وبه قال العينى فى العمدة: ١٥/١٠٦)_

(٤) مثلاً اوګورئ صحيح بخارى، كتاب الادب، باب ما يدعى الناس بآبائهم، رقم (٦١٧٧_٦١٧٨)، وكتاب الفتن، باب من قال عند قوم شيئا......رقم (٧١١١))_

یعنی د بیرغ لګیدو نه پس به د مزید رسوائی او ذلت دپاره دا اعلان هم کیږی چې دا د فلانی چې د فلانی خوي دې دهغهٔ د وعده
خلافئ نتیجه ده،ددې نه دا معلومیږی چې د قیامت په ورځ به اولاد ته د پلار په نوم سره آواز کولې شی.
او د طبرانی د یو روایت نه کوم چې د ابوامامه باهلی رحمه الله نه روایت دې،نه دا معلومیږی چې اولاد ته به د مور په نوم سره آواز کولې شی(۱).
ددې تعارض دوه جوابونه دی:
①: د طبرانی د پورتنی مذکوره روایت سند ډیر زیات ضعیف دې،ددې وجې نه ددې نه استدلال صحیح نهٔ دې او په مقابله کښې د صحیحینو وغیره روایت دې.بیا په ابوداؤد وغیره کښې د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه یو مرفوع حدیث دې،چې په هغې کښې د پلارانو په نومونو سره دبلنې وضاحت دې ”إنکم تدعون یوم القیامة بأسمائکم وأسماء آبائکم،فأحسنوا أسمائکم“(۲)
②که دا روایت هم تسلیم کړې شی کوم روایت کښې چې د مور په نوم سره د آواز کیدو تذکره ده نو د باب په حدیث کښې چې کومه خبره ده هغه به ددې عام نه خاص وی،
لکه ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی: ”وإن ثبت أنهم یدعون بأمهاتهم فقد یخص هذا من العموم“(۳)
امام بخاری رحمه الله په دې مسئله باندې په کتاب الادب کښې مستقله ترجمه هم قائم کړې ده (۴)والله اعلم بالصواب

۳۰۱۷:(۵) حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا جَرِیرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - یَوْمَ فَتْحِ

---

(۱) المعجم الکبیر:۲۵۰/۸،رقم (۷۹۷۹)،سعید بن عبدالله الاودی عن ابی امامة،ومجمع الزوائد:۴۵/۳، الجنائز،باب تلقین المیت بعد دفنه،وقال الهیثمی: وفی اسناده جماعة لم اعرفهم"،والجامع الکبیر للسیوطی:۱/۳۴۹،حرف الهمزة،رقم (۲۵۷۱)،وتهذیب سنن ابی داود لابن قیم:۴۵٤/۲،باب ما یدعی الناس...... واخرج ابن عدی من حدیث انس مثله،وقال: منکر"انظر الکمال له:۳۴۳/۱،ولسان المیزان:۵۲۳/۱، ترجمة اسحاق بن ابراهیم الطبری،رقم (۱۰۸۳))_

(۲) سنن ابی داود،کتاب الادب،باب فی تغییر الاسماء،رقم (٤۹٤۸)،والسنن الکبری للبیهقی:۹/۵۱۵، کتاب الضحایا،باب فی حسن الاسماء،رقم (۲۶۹٤)،وشرح السنة للبغوی:۳۸۲/۶،کتاب الاستئذان......باب تحسین الاسماء،رقم (۳۲۵۲)،وموارد الظمآن کتاب الادب،باب ما جاء فی الاسماء،رقم (۱۹٤٤)،ومسند احمد: ۱۹٤/۵،رقم (۲۲۰۳۵)،وشعب الایمان:۳۹۳/۶،باب فی حقوق الاولاد...الستون من شعب....رقم (۸۶۳۳)

(۳) فتح الباری:۲۸٤/۶،دغه شان اوګورئ،فتح الباری:۵۶۳/۱۰،وشرح ابن بطال:۹/۳۳۵)_

(۴) صحیح بخاری،کتاب الادب،باب ما یدعی الناس بآبائهم،د حدیث مزید وضاحت دپاره اوګورئ: کشف الباری،کتاب الادب:۵۹۶_۵۹۷،والابواب والتراجم للکاندهلوی:۱۱۸/۲)_

(۵) قوله: عن ابن عباس رضی الله عنه":الحدیث،مر تخریجه فی الحج،باب لا یحل القتال بمکة)_

مَكَّةَ «لاَ هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا». وَقَالَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ «إِنَّ هَذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللَّهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللَّهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لأَحَدٍ قَبْلِي، وَلَمْ يَحِلَّ لِي إِلاَّ سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللَّهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، لاَ يُعْضَدُ شَوْكُهُ، وَلاَ يُنَفَّرُ صَيْدُهُ، وَلاَ يَلْتَقِطُ لُقَطَتَهُ إِلاَّ مَنْ عَرَّفَهَا، وَلاَ يُخْتَلَى خَلاَهُ». فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِلاَّ الإِذْخِرَ، فَإِنَّهُ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوتِهِمْ. قَالَ «إِلاَّ الإِذْخِرَ». [ر: ١٥١٠]

رجال الحديث

①**على بن عبدالله**:دا مشهور محدث على بن عبدالله ابن المدينى رحمه الله دې.د دوى تذكره په كتاب العلم، "باب الفهم فى العلم" كښې راغلې ده.(١)

②**جرير**:دا جرير بن عبد الحميد رحمه الله دې.

③**منصور**:دا منصور بن معتمر سلمى كوفى رحمه الله دې.ددې دواړو حضراتو تذكره په كتاب العلم، "باب من جعل لاهل العلم....." كښې تيره شوې ده.(٢)

④**مجاهد**:دا لوئې مفسر حضرت مجاهد بن جبرمكى رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب العلم، "باب الفهم فى العلم" كښې بيان شوې دى.(٣)

⑤**طاوس**:دا طاوس بن كيسان يمانى رحمه الله دې.(٤)

⑥**ابن عباس رضى الله عنهما**:د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حالات د "بدء الوحى" په اولنى حديث كښې راغلې دى.(٥)

د باب څلورم حديث د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې،ددې حديث تشريح وړاندې په مختلفو مقاماتو كښې تيره شوې ده.(٦)

ترجمة الباب سره د حديث شريف مطابقت:ترجمة الباب سره ددې حديث په مناسبت كښې څۀ غموض دې.چې د هغې د لرې كولو دپاره مختلفو حضراتو دا لاندينى اقوال ارشاد فرمائيلې دى:

①علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چې ترجمة الباب سره د حديث مناسبت ددې قول نه كيدې

---

(١) كشف البارى:٣/٢٩٧)_

(٢) كشف البارى:٣/٢٦٨_٢٧٢)_

(٣) كشف البارى:٣/٣٠٧)_

(٤) د دوى د حالاتو دپاره اوګورئ، كتاب الوضوء،باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين......)_

(٥) كشف البارى:١/٤٣٥،دغه شان اوګورئ، كشف البارى:٢/٢٠٥)_

(٦) كشف البارى،كتاب الجهاد:١/٥٥_٥٦،و:٢٤٧،و:٢/٦٤٨_١٠٧)_

شی، "وإذا استنفرتم فانفروا" ځکه چې ددې مطلب هم دادې چې حاکمانو او واليانو سره بدعهدی مهٔ کوئ او د دوی مخالفت مهٔ کوئ.ځکه چې امام کله د نفير(د وتلو)حکم اوکړی نو وتل واجب دی،نو هم دا کار ددې خبرې تقاضه کوی چې وعده خلافی دې حرام وی، "لان إيجاب الوفاء بالخروج مستلزم لتحريم الغدر"(١)

② علامه کرمانی رحمه الله مزيد فرمائی چې يا امام بخاری رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما دا حديث دلته نقل کولو سره دې خبرې طرفته اشاره فرمائيلې ده چې نبی کريم ﷺ په مکه مکرمه کښې قتل وقتال او جنګ کولو سره څهٔ وعده خلافی نهٔ ده کړې،ځکه چې دا خو د الله تعالی په حکم سره وو،الله تعالی د نبی کريم ﷺ دپاره د ورځې په څهٔ حصه کښې جنګ کول جائز ګرځولې وو،ددې وجې نه څوک دې دا خيال نهٔ کوی چې نبی کريم ﷺ په مکه مکرمه کښې جنګ کولو سره بدعهدی کړې ده،ددې وجه ښکاره ده ځکه چې که د الله تعالی اجازت نهٔ وو نو نبی ﷺ دپاره به په مکه مکرمه کښې هيڅکله جنګ کول جائز نهٔ وو ،

لکه علامه کرمانی رحمه الله ليکی: "أو أشار إلى أن النبى صلى الله عليه وسلم لم يغدر باستحلال القتال بمكة بل كان بإحلال الله له ساعة،ولولا ذلك لما جاز له"(٢)

او هم دا رائې د علامه سندهی رحمه الله هم ده.(٣)

③ ابن بطال رحمه الله د ترجمة الباب او د حديث مناسبت بيانولو کښې فرمائی:

د بندګانو دپاره د الله تعالی د حرام کړې شوې څيزونو حيثيت د وعدو او د ميثاق په شان دې،ګويا الله تعالی دوی نه ددې خبرې وعده اخستلې ده چې دوی به ددې حرام کړې شوې څيزونو او منهياتو نه ځان ساتی او دې کښې به نهٔ مبتلا کيږی،نو کوم کس چې ددې خلاف ورزی کوی ګويا هغهٔ دا وعدې پوره نهٔ کړې او الله تعالی سره ئې چې کومه وعده کړې وه نو د هغې خلاف ورزی ئې اوکړه او د وعدو نهٔ پوره کوونکې،د وعدو خلاف ورزی کوونکې په غادرينو او عهد ماتونکو کښې دې.(٤)

④ دغه شان کله چې نبی کريم ﷺ مکه مکرمه فتح کړه نو د مکې په اوسيدونکو ئې فضل او احسان اوکړو،برابره خبره ده چې مسلمانان وی يا منافقين او دا خبره واضحه ده چې په

---

(١) شرح الكرمانى:١٤٨/١٣،وفتح البارى:٦/ ٢٨٤،وعمدة القارى:١٠٧/١٥)_

(٢) شرح الكرمانى:١٤٩/١٣،وفتح البارى:٦/ ٢٨٤،وعمدة القارى:١٠٧/١٥)_

(٣) صحيح البخارى بحاشية السندى:٢٠٦/٢،دار المعرفة،بيروت)_

(٤) شرح ابن بطال:٣٧١/٥،ومثله عن العلامة الكنكوهى رحمه الله فى اللامع (٣٢٩/٧)،حيث قال ومطابقته بالترجمة من حيث انه قال فى خطبته يومئذ: فان دمائكم واموالكم عليكم حرام كحرمة يومكم هذا،فى بلدكم هذا،فى شهركم هذا"فكان التعرض بشئ منها غدرا وهتكا لحرمة الله تعالى")_

هغوی کښې منافقان هم وو ،بیا نبی ﷺ دا خبره اوفرمائیله چې مکه مکرمه د قیامت پورې د الله تعالی حرمت سره حرامه ده او دا چې دلته د هیچا دپاره قتل وقتال حلال او جائز نهٔ دې،چې هرکله معامله دا ده نو په دې کښې چاسره وعده خلافی کول جائز نهٔ دی،خواه هغه نیک وی یا بد وی ځکه چې د نبی کریم ﷺ اعلان امان او معافئ ډې ټولو ته شاملې دی.(١)

⑤ابن المنیر رحمه الله فرمائی:ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت داسې دې چې نبی کریم ددې خبرې وضاحت کړې دې چې په مکه مکرمه کښې قتل و قتال حرام دې،علاوه د هغه وخت نه د کوم وخت چې الله تعالی په خپله نبی کریم ﷺ ته اجازت ورکړو ،ددې هیڅکله دا مطلب نهٔ دې چې دلته مؤمن او صالح وژل حرام دی ځکه چې په دې سره هرځائې او هره ټکړه موصوف ده چې یوځائې کښې هم د یو مؤمن بنده قتل جائز نه دې،بلکه د مکې مکرمې د حرمت تخصیص د هغه فاجر دپاره دې چې د قتل مستحق هم وی چې د داسې کس قتل هم په مکه مکرمه کښې جائز نهٔ دې،ددې وجه هغه عهد دې کوم چې الله تعالی مکې مکرمې سره خاص کړې دې چې دلته د فاجر سړی قتل هم صحیح نهٔ دې.

اوس که یو سړې یو فاجر سره د مکې مکرمې نه علاوه په یو بل ځائې کښې څهٔ وعده اوکړی نو دغه وعده پوره کول لازم دی،ددې خلاف کول حرام دی.

دغه شان په اولنی حدیث کښې چې د نیک سړی او بد سړی سره د وعده خلافئ کولو کوم عموم دې نو هغې کښې به قوت راشی او دواړو سره به وعده خلافی کول حرام اوګرځی.(٢)

⑥حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

ددې خبرې هم احتمال دې چې امام بخاری ددې حدیث دلته په ذکر کولو سره د هغه سبب طرفته اشاره کړې وی کوم چې د مکې مکرمې د فتح کولو سبب وو.

لکه د فتح مکه سبب دا وو چې قریشو د نبی کریم ﷺ ملګرې قبیله بنوخزاعه سره وعده خلافی کړې وه،کله چې د بنوخزاعه او بنوبکر(کوم چې د قریشو ملګری وو)مینځ کښې جنګ شروع شو او قریشو د بنوبکر مدد اوکړو او په بنوخزاعه باندې دواړو(قریش او بنوبکر) حمله اوکړه او ډیر کسان ئې د دوی قتل کړل،دغه شان د قریشو او د نبی کریم ﷺ مینځ کښې چې کومه د لسو کالو د صلحې معاهده شوې وه،هغه قریشو ماته کړه.

ددې وعده خلافئ انجام د قریشو دپاره داسې ښکاره شو چې مسلمانانو پرې حمله اوکړه او مکه مکرمه ئې فتح کړه او قریش ډیر زیات ذلیل او خوار شو او امن وامان ئې طلب کړو ،د قوت، عزت،شان و شوکت نه پس خوار او ذلیل شو ،تردې چې د اسلام په قبلولو باندې

[1]) شرح ابن بطال:(٣٧١/٥)_
[2]) المتواری علی تراجم ابواب البخاری:(٢٠٠)_

مجبور شو، حالانکه په زړه سره ئې مسلمانیدل نۀ غوښتل.[1]

گویا امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د "البر" په ذریعې سره د مسلمانانو طرفته او د "الفاجر" په ذریعې سره د بنوخزاعه طرفته اشاره فرمائیلې ده ځکه چې په هغوی کښې ډیر کسان دغه وخت پورې مسلمانان شوې نۀ وو.[2] والله اعلم بالصواب

براعت اختتام: د امام بخاری رحمه الله عادت دادې چې هغه د هر کتاب په آخره کښې یو لفظ راوړی چې په اختتام باندې دلالت کوی، دې سره د کتاب د اختتام سره سره د انسان د خاتمې طرفته هم اشاره کیږی چې څنګه دا کتاب ختم شو نو دغه شان به ستاسو د ژوند کتاب هم یوه ورځ ختم شی او بند به شی، ددې وجې نه غافل مۀ اوسیږئ.[3]

دلته براعت اختتام یا د کتاب په خاتمه باندې چې کوم لفظ دلالت کوی نو هغه د حافظ صاحب رحمه الله د قول مطابق په دې جمله کښې دې "فهو حرام بحرمة الله إلى يوم القيامة" لکه په یوم القیامة کښې د انسان د خاتمې طرفته هم اشاره ده.[4]

او حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله د نورو کلماتو او جملو نه براعت ثابت کړې دې، لکه هغوی فرمائی: ① "فاذا استنفرتم فانفروا" په دې کښې د براعت اختتام طرفته اشاره ده.

② "يوم القيامة" کښې ددې طرفته دلالت دې.

③ لفظ د "الاذخر" په براعت باندې دلالت کوی کوم چې د یو خاص قسم گیاه دپاره استعمالیږی، ددې نه استدلال په دې طور سره دې چې په بعضې طُرُقو کښې ددې نه پس ددې الفاظو زیاتوالې هم روایت شوې دې، "فانه لقبورهم"[5] چې "دا د دوی د قبرونو دپاره دې". په دې کښې د انسان خاتمه یعنی د قبر تذکره موجوده ده.

④ یا دا چې جهاد سراسر د مرګ یادونکې دې ځکه چې دا انسان ته مرګ یادوی.[6] والله اعلم بالصواب

---

[1]) تفصیلی واقعې دپاره اوګورئ، کشف الباری، کتاب المغازی، باب غزوة الفتح، ٤٩٠_٤٩٢، وسیرة ابن هشام، بدء فتح مكة: ٢/٢٦٣)_

[2]) فتح الباری: ٦/٢٨٥، والابواب والتراجم للكاندهلوی: ١/٢٠٩)_

[3]) اوګورئ، کشف الباری، بدء الوحی: ١/٥٥٣)_

[4]) فتح الباری: ١٣/٥٤٣، كتاب التوحيد، باب قول الله تعالى: (ونضع الموازين......)، رقم (٧٥٦٣))_

[5]) رواه ابن عبد البر من رواية عبد الوارث.....انظر الاستذكار: ٧/٢٣٦، كتاب الجامع، ما جاء فى تحريم المدينة، رقم (٤٥/٦٧٣)، دغه شان اوګورئ، الصحيح للبخاری، كتاب الجنائز، باب الاذخر والحشيش فى القبر، رقم _١٣٤٩))_

[6]) الابواب والتراجم للكاندهلوی: ١/٢٠٩)_

د فرض الخمس والجزیة والموادعة خلاصه: کتاب فرض الخمس والجزیه کښې ټول احادیث ۱۱۲ دی، چې په هغې کښې ۱۷ معلق او ۹۹ موصول دی، په دې کښې ۲۷ حدیثونه وړاندې تیر شوې دی او ۴۹ حدیثونه داسې دی چې هغه امام بخاری رحمه الله په اول ځل باندې دلته ذکر کړې دی په اول ځل چې کوم احادیث ذکر کړې شوې دی نو په هغې کښې ۱۲ احادیث داسې دی چې د هغې تخریج امام مسلم رحمه الله نه دې کړې ګویا متفق علیه حدیثونه ۳۳ دی او په دې کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د تابعینو وغیره رحمهم الله ۲۰ آثار هم دی[۱]. والله اعلم

وهذا آخر ما اردنا إيراده هنا من شرح احاديث كتاب الخمس والجزية من صحيح البخارى، رحمه الله تعالى، للشيخ الامام المحدث الجليل سليم الله خان، حفظه الله ورعاه، ومتعنا الله بطول حياته بصحة وعافية.

وقد وقع الفراغ من تسويده، وإعادة النظر فيه، ثم تصحيح ملازم الطبع يوم الثلثاء ۲۷ رمضان المبارك ۱۴۳۱ھ الموافق ۷ ستمبر ۲۰۱۰م.

والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله على النبى الامى وآله وصحبه وتابعيهم، وسلم عليه ما دامت الارض والسموات.

رتبه و راجع نصوصه وعلق عليه حبيب الله محمد زكريا عضو قسم التحقيق والتصنيف الاستاذ بالجامعة الفاروقية، ووفقه الله تعالى لاتمام باقى الكتب كما يحبه ويرضاه وهو على كل شئ قدير، ولا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم، ويليه إن شاء الله "كتاب بدء الخلق".

•••

[۱] فتح الباری: ۶/۲۸۵)_

مصادر و مراجع

۱۔ القرآن الکریم
۲۔ الآحاد و المثانی ، الامام الحافظ ابو بکر احمد بن عمرو بن ابی عاصم الشیبانی ،رحمه الله ،المتوفی ۲۸۷ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت۔
۳۔ الابواب والتراجم لصحیح البخاری ، شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا الکاندهلوی رحمه الله تعالیٰ ، متوفی ۱۴۰۲ھ / ۱۹۸۲ء ، ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔
۴۔ الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ، امام ابو حاتم محمد بن حبان بستی رحمه الله تعالیٰ ،متوفی ۳۵۴ ، مؤسسة الرسالة بیروت۔
۵۔ احکام القرآن ،امام ابو بکر احمد بن علی رازی جصاص ، رحمه الله ، متوفی ۳۷۰ ، دار الکتاب العربی و دار الکتب العلمیة بیروت،الطبعة الثانیة ۱۴۲۴ھ۔
۶۔ احکام القرآن ،الامام ابو بکر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربی رحمه الله ،المتوفی ۵۴۳ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت،الطبعة الثانیة ۱۴۲۴ھ۔
۷۔ احکام القرآن ، تالیف جماعة من العلماء الربانیین ، علی ضوء ما افاده حکیم الامة اشرف علی التهانوی ، رحمه الله ، ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة ، کراتشی ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۱۳ھ۔
۸۔ احیاء علوم الدین ، امام محمد بن محمد الغزالی رحمه الله تعالیٰ ،متوفی ۵۰۵ھ ، دار احیاء التراث العربی بیروت
۹۔ اخبار المدینة ، الامام ابو زید عمر بن شبة النمیری البصری ، رحمه الله ،المتوفی ۲۶۲ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت۔
۱۰۔ اخبار مکة فی قدیم الدهر و حدیثه ، الامام ابو عبد الله محمد بن اسحاق المکی الفاکهی ، رحمه الله ، المتوفی ۲۷۲ھ ، دار خضر ، بیروت ۱۴۱۴ ، الطبعة الثانیة۔
۱۱۔ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری ، ابو العباس شهاب الدین احمد القسطلانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفی ۹۲۳ھ ، المطبعة الکبریٰ الامیریة مصر ، طبع سادس ۱۳۰۴ھ۔
۱۲۔ الاسامی و الکنی ، الامام ابو عبد الله احمد بن حنبل الشیبانی ، رحمه الله ، المتوفی ۲۴۱ھ ، مکتبة دار الاقصیٰ ، الکویت ،الطبعة الاولیٰ ۱۴۰۶ھ۔
۱۳۔ الاستذکار الجامع لمذاهب فقهاء الامصار و علماء الاقطار ---- ، ابو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفی ۴۶۳ھ ، دار احیاء التراث العربی بیروت ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۱ھ۔
۱۴۔ الاستیعاب فی اسماء الاصحاب (بهامش الاصابة)، ابو عمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبد البر ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفی ۴۶۳ھ ، دار الفکر بیروت ، و مطبوع فی مجلدین ، الطبعة الاولیٰ ، ۱۴۲۱ھ۔
۱۵۔ اسد الغابة فی معرفة الصحابة ، عز الدین ابو الحسین علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر ، رحمه الله تعالیٰ ، المتوفی ۶۳۰ھ ، دار الکتب العلمیة بیروت۔
۱۶۔ الاسماء المبهمة ، الخطیب البغدادی ، رحمه الله ، المتوفی ۴۶۳ھ۔

١٧۔ الاشباه والنظائر مع شرحه للحموی ، العلامة زین الدین بن ابراهیم المعروف بابن نجیم الحنفی ، رحمه الله ، المتوفی ۹۷۰ھ ، ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة ، کراتشی۔
١٨۔ اعلام الحدیث ، امام ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۳۸۸ھ ، مرکز احیاء التراث الاسلامی جامعة ام القریٰ مکة مکرمة۔
١٩۔ اعلاء السنن ، علامه ظفر احمد عثمانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۹۴ھ ، ادارة القرآن کراچی۔
٢٠۔ الاقناع فی حل الفاظ ابی شجاع ، للامام محمد بن احمد الشربینی الخطیب ، رحمه الله ، المتوفی ۹۷۷ھ ، دار الفکر ، بیروت ۱۴۱۵ھ۔
٢١۔ اکمال تهذیب الکمال ، العلامة الهمام علاء الدین مغلطای بن قلیج الحنفی ، رحمه الله ، المتوفی ۷۶۲ھ ، الفاروق الحدیثة للطباعة والنشر ، الطبعة الاولی ۱۴۲۲ھ۔
٢٢۔ الاکمال فی رفع الارتیاب عن المؤتلف و المختلف فی الاسماء والکنی و الانساب ، الامیر الحافظ ابن ماکولا ، رحمه الله ، المتوفی ۴۷۵ھ ، دائرة المعارف العثمانیة ، الهند۔
٢٣۔ اکمال المعلم شرح صحیح المسلم ، العلامة القاضی ابو الفضل عیاض الیحصبی رحمه الله ، المتوفی ۵۴۴ھ الام (انظر کتاب الام)۔
٢٤۔ اکمال اکمال المعلم شرح صحیح المسلم ، ابو عبد الله محمد بن خلفة الوشتانی الابی المالکی ، رحمه الله تعالیٰ ، المتوفی ۸۲۸ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت۔
٢٥۔ الانساب ، ابو سعد عبد الکریم بن محمد بن منصور السمعانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۵۶۲ھ ، دار الجنان ، بیروت ، طبع اول ۱۴۰۸ھ / ۱۹۸۸م۔
٢٦۔ اوجز المسالک الی مؤطا مالک ، شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا الکاندهلوی ، رحمه الله ، متوفی ۱۴۰۲ھ ، مطابق ۱۹۸۲م ، دار القلم ، دمشق ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۴ھ۔
٢٧۔ البحر الرائق شرح کنز الدقائق ، العلامه بن نجیم المصری الحنفی ، رحمه الله ، المتوفیٰ ۹۷۰ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت۔
٢٨۔ بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ، ملک العلماء علاء الدین ابو بکر بن مسعود الکاسانی ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۵۸۷ھ ، دار الکتب العلمیة ، بیروت۔
٢٩۔ بدایة المجتهد ، علامه قاضی ابو الولید محمد بن احمد بن رشد القرطبی ، متوفیٰ ۵۹۵ھ ، مصر طبع خاص ، ودار الکتب العلمیة ، بیروت ، الطبعة الثانیة ۱۴۲۴ھ۔
٣٠۔ البدایة والنهایة ، حافظ عماد الدین ابو الفداء اسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۷۷۴ھ ، مکتبة المعارف بیروت ، طبع ثانی ۱۹۷۷م۔
٣١۔ البدر الساری حاشیة فیض الباری ، حضرت مولانا بدر عالم میرٹھی صاحب ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۸۵ھ ، ربانی بکڈپو دهلی ، مطبوعه : ۱۹۸۰م۔
٣٢۔ بذل المجهود فی حل ابو داؤد ، علامه خلیل احمد سهارنپوری ، رحمه الله تعالیٰ ، متوفیٰ ۱۳۴۶ھ ، مطبعة ندوة العلماء لکهنؤ ۱۳۹۳ھ / ۱۹۷۳م و مرکز الشیخ ابی الحسن الندوی ، یوپی ، الهند ، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۷ھ۔

۲۳ـ البناية شرح الهداية ، العلامة بدر الدين عينى محمود بن احمد ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۸۵۵ هـ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ۱۴۲۰ هـ ـ

۲۴ـ تاج العروس من جواهر القاموس ، ابو الفيض سيد محمد بن محمد المعروف بالمرتضىٰ الزبيدى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۱۲۰۵ هـ ، دار مكتبة الحياة ، بيروت و دار الهداية ـ

۲۵ـ تاريخ الاسلام اردو ، مولانا اكبر شاه نجيب آبادى ، نفيس اكيڈمى ، اردو بازار كراچى ـ

۲۶ـ تاريخ الامم و الملوك (تاريخ الطبرى) ، الامام ابو جعفر محمد بن جرير الطبرى ، رحمه الله ، المتوفى ۳۱۰ هـ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الثالثة ، ۱۴۲۶ هـ ـ

۲۷ـ تاريخ بغداد او مدينة السلام ، حافظ احمد بن على المعروف بالخطيب البغدادى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۴۶۳هـ ، دار الكتاب العربى بيروت ـ

تاريخ الطبرى ، انظر (تاريخ الامم و الملوك) ـ

۲۸ـ تاريخ عثمان بن سعيد الدارمى ، المتوفى ۲۸۰ هـ ، عن ابى زكريا يحيى بن معين ، المتوفى ۲۳۳ هـ ، دار المامون للتراث ، ۱۴۰۰ هـ ـ

۲۹ـ التاريخ الصغير ، امير المؤمنين فى الحديث محمد بن اسماعيل البخارى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۲۵۶ هـ ، دار المعرفة بيروت ـ

۳۰ـ التاريخ الكبير ، امير المؤمنين فى الحديث محمد بن اسماعيل البخارى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۲۵۶ هـ ، دار الكتب العلمية بيروت ـ

تاريخ مدينة دمشق و ذكر فضلها و تسمية من حلها من الاماثل ، ابو القاسم على بن الحسن ابن هبة الله الشافعى ، رحمه الله ، المتوفى ۵۷۱ هـ ، دار الفكر ، بيروت ۱۹۹۵ م ـ

۳۲ـ تحفه اثنا عشريه (فارسى) ، شاه عبدالعزيز محدث دہلوى ، رحمه الله ، متوفى ۱۲۳۹ هـ ، سهيل اكيڈمى ، لاهور ، پاكستان ـ

۳۳ـ تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف ، ابو الحجاج جمال الدين يوسف بن عبد الرحمن المزى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۷۴۲ هـ ، المكتب الاسلامى بيروت ، طبع دوم ۱۴۰۳ هـ ـ

۳۴ـ تحفة البارى بشرح صحيح البخارى ، شيخ الحديث زكريا بن محمد الانصارى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ۹۲۶ هـ ، دار الكتب العلمية بيروت ، الطبعة الاولىٰ ۱۴۲۵ هـ ـ

۳۵ـ تدريب الراوى بشرح تقريب النواوى ، حافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطى رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۹۱۱ هـ ، المكتبة العلمية مدينه منوره ـ

۳۶ـ تذكرة الحفاظ ، حافظ ابو عبد الله شمس الدين محمد بن عثمان الذهبى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۷۴۸ هـ ، دائرة المعارف العثمانية ، الهند ـ

۳۷ـ التصريح بما تواتر فى نزول المسيح ، امام العصر ، المحدث الكبير محمد انور شاه الكشميرى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۱۳۵۲ هـ ، مكتبه دار العلوم كراتشى ـ

٤٨- التعليق الممجد المطبوع مع المؤطا لمحمد ، ابو الحسنات محمد عبد الحى اللكنوى، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى١٣٠٤ھ ، قديمى كتب خانه كراتشى-
٤٩- تعليقات الخطيب على الفتح المطبوع مع فتح البارى ، محب الدين الخطيب ، رحمه الله تعالىٰ
٥٠- تعليقات على بذل المجهود ، شيخ الحديث محمد زكريا كاندهلوى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى١٤٠٢ھ ، المكتبة التجارية ،ندوة العلماء لكهنؤ الطبعة الثالثة ١٣٩٣ھ / ١٩٧٣م ، ومركز الشيخ ابى الحسن الندوى الهند
٥١- تعليقات على تحرير تقريب التهذيب الدكتور بشار عواد معروف و الشيخ شعيب ارنؤوط ، حفظهما الله ، مؤسسة الرسالة ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ١٤١٧ھ-
٥٢- تعليقات على تهذيب التهذيب ، المطبوع بذيل تهذيب التهذيب-
٥٣- تعليقات على تهذيب الكمال ، دكتور بشار عواد معروف ، حفظه الله تعالىٰ ، مؤسسة الرسالة ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ١٤١٣ھ-
٥٤- تعليقات على الكاشف للذهبى ، شيخ محمد عوامة / شيخ احمد محمد نمر الخطيب حفظهما الله ، مؤسسة دار القبلة / مؤسسة علوم القرآن ، الطبعة الاولىٰ ١٤١٣ھ-
٥٥- تعليقات على كوكب الدرى ، مولانا شيخ الحديث مولانا محمد زكريا الكاندهلوى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ١٤٠٢ھ-
٥٦- تعليقات على لامع الدرارى ، شيخ الحديث مولانا محمد زكريا الكاندهلوى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ١٤٠٢ھ / ١٩٨٢م ، مكتبه امداديه ، مكه مكرمه-
٥٧- تعليقات على المصنف ، الشيخ محمد عوامه ، حفظه الله ورعاه ، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية ، كراتشى ، الطبعة الثانية ، ١٤٢٨ھ-
٥٩- تغليق التعليق ، حافظ احمد بن على المعروف بابن حجر رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ٨٥٢ھ ، المكتب الاسلامى ، ودار عمار ، والمكتبة الاثرية ، لاهور ، پاكستان-
٦٠- تفسير آيات الاحكام من القرآن ، الشيخ محمد على الصابونى ، حفظه الله و رعاه ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ، ١٤٢٥ھ-
٦١ - تفسير البغوى المسمى بمعالم التنزيل ، الامام ابو محمد الحسين بن مسعود البغوى ، رحمه الله ، المتوفى ٥١٦ھ ، دار المعرفة ، بيروت-
٦٢ - تفسير البيضاوى مع حاشية الشهاب ، الامام ابو سعيد عبد الله بن عمر البيضاوى ، رحمه الله ، المتوفى ٦٨١ھ دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ، ١٤١٧ھ-
تفسير الثعلبى (انظر الكشف والبيان)-
٦٣- تفسير السمرقندى المسمى بحر العلوم ، الامام الفقيه نصر بن محمد ابو الليث السمرقندى ، رحمه الله ، المتوفى ٣٧٥ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت-
٦٤- تفسير السمعانى ابو المظفر منصور بن محمد السمعانى رحمه الله المتوفى ٤٨٩ھ دار الوطن الرياض ، ١٤١٨ھ

۶۴- تفسير الطبرى (جامع البيان)، امام محمد بن جرير الطبرى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۳۱۰ھ، دار المعرفة، بيروت۔

۶۵- تفسير القرآن العظيم، حافظ ابو الفداء عماد الدين اسماعيل بن عمر ابن كثير دمشقى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۷۷۴ھ، دار احياء الكتب العربية۔

۶۶- تفسير القرطبى (الجامع لاحكام القرآن)، امام ابو عبد الله محمد بن احمد الانصارى القرطبى، رحمه الله تعالىٰ متوفى ۶۷۱ھ، دار الفكر، بيروت۔

۶۷- التفسير الكبير، (تفسير الرازى او مفاتيح الغيب)، الامام ابو عبدالله فخر الدين محمد بن عمر الرازى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۶۰۶ھ، مكتب الاعلام الاسلامى، ايران۔

۶۸- تفسير المنار، السيد الامام محمد رشيد رضا المصرى، رحمه الله، المتوفى ۱۹۳۵م، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الثانية، ۱۴۲۶ھ۔

۶۹- تفسير النسفى (مدارك التنزيل و حقائق التاويل)، ابو البركات عبد الله بن احمد النسفى، رحمه الله، المتوفى ۷۱۰ھ، المكتبة العلمية، لاهور، پاكستان۔

۷۰- تقريب التهذيب، حافظ ابن حجر عسقلانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۸۵۲ھ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولىٰ ۱۴۱۳ھ۔

۷۱- تقرايرات الرافعى المسماة: التحرير المختار لرد المحتار، الامام العلامة عبد القادر بن مصطفى البيسارى الرافعى الحنفى، رحمه الله، المتوفى ۱۳۲۳ھ، مكتبه رشيديه، كوئٹه۔

۷۲- التقرير و التحرير فى علم الاصول، الجامع بين اصطلاحى الحنفية و الشافعية، ابن امير الحاج، رحمه الله، المتوفى ۸۷۹ھ، دار الفكر، بيروت، الطبعة الاولىٰ ۱۴۱۷ھ۔

۷۳- تكملة فتح الملهم، مولانا محمد تقى عثمانى صاحب مدظلهم، مكتبه دار العلوم كراچى و دار احياء التراث العربى، بيروت، الطبعة الاولىٰ ۱۴۲۶ھ۔

۷۴- التلخيص الحبير فى تخريج احاديث الرافعى الكبير، حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله، متوفى ۸۵۲ھ، دار نشر الكتب الاسلامية لاهور، و دار الكتب العلمية، بيروت ۱۴۱۹ھ۔

۷۵- تلخيص المستدرك (مع المستدرك)، حافظ شمس الدين محمد بن احمد عثمان ذهبى رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۷۴۸ھ، دار الفكر بيروت۔

۷۶- التمهيد لما فى الموطا من المعانى و الاسانيد، حافظ ابو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد عبد البر مالكى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ۴۶۳ھ، المكتبة التجارية، مكة المكرمة۔

۷۷- تنزيه الشريعة المرفوعة عن الاحاديث الشنيعة الموضوعة، الامام ابو الحسن على بن محمد ابن عراق الكنانى، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ۹۶۳ھ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الثانية ۱۴۰۱ھ۔

۷۸- تنوير المقباس من تفسير ابن عباس، المنسوب الى عبد الله بن عباس رضى الله عنهما، المتوفى ۶۸ھ، جمعه محمد بن يعقوب الفيروز آبادى، رحمه الله، المتوفى ۸۱۷ھ، دار الكتب العلمية، بيروت۔

۷۹- توضيح المشتبه، حافظ شمس الدين ذهبى، رحمه الله، متوفى ۷۴۸ھ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولىٰ، ۱۴۲۲ھ۔

٨٠ـ تهذيب الاسماء و اللغات ، امام محى الدين ابو زكريا يحيى بن شرف النووى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ٦٧٦ﻫ ، ادارة الطباعة المنيرية ـ

٨١ـ تهذيب تاريخ دمشق الكبير ، الامام الحافظ ابو القاسم على المعروف بابن عساكر الشافعى ، رحمه الله ، المتوفى ٥٧١ﻫ ، دار المسيرة ، بيروت ، الطبعة الثانية ١٣٩٩ﻫ ـ

٨٢ـ تهذيب التهذيب ، حافظ ابن حجر عسقلانى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ٨٥٢ﻫ ، دائرة المعارف النظامية ، حيدر آباد دكن ١٣٢٥ﻫ ـ

٨٣ـ تهذيب سنن ابى داود ، الامام ابن قيم الجوزية ، رحمه الله ، المتوفى ٧٥١ﻫ ، مطبعة انصار السنة المحمدية ، ١٣٦٧ﻫ ـ

٨٤ـ تهذيب الكمال ، حافظ جمال الدين ابو الحجاج يوسف بن عبد الرحمن مزى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ٧٤٢ﻫ ، مؤسسة الرسالة ، طبع اول ، ١٤١٣ﻫ ـ

٨٥ـ الثقات (كتاب الثقات) ، حافظ ابو حاتم محمد بن حبان بستى ، رحمه الله ، متوفى ٣٥٤ﻫ ، دائرة المعارف العثمانية ، حيدر آباد ، ١٣٩٣ﻫ ـ

٨٦ ـ جامع الاصول من حديث الرسول ، علامه مجد الدين ابو السعادات المبارك بن محمد بن الاثير الجزرى ، رحمه الله ، متوفى ٦٠٦ﻫ ، دار الفكر ، بيروت ـ

جامع البيان (ديكهئے ، تفسير الطبرى)

٨٧ـ جامع الترمذى ، (سنن ترمذى) ، امام ابو عيسىٰ محمد بن عيسىٰ بن سورة الترمذى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ٢٧٩ﻫ ، سعيد كراچى / دار احياء التراث العربى ـ

٨٨ـ الجامع الصغير من احاديث البشير النذير ، الامام جلال الدين السيوطى ، رحمه الله ، المتوفى ٩١١ﻫ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ـ

الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبى) ـ

٨٩ـ جامع المسانيد و السنن ، الامام الحافظ عبد الرحمن بن ابى حاتم الرازى ، رحمه الله ، المتوفى ٧٧٤ﻫ دار الفكر ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ١٤٢٢ﻫ ـ

٩٠ـ الجرح والتعديل ، الامام الحافظ عبد الرحمن بن ابى حاتم الرازى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ٣٢٧ﻫ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ١٤٢٢ﻫ ـ

٩١ـ جمع الجوامع (الجامع الكبير و الجامع الصغير و زوائده) الامام جلال الدين السيوطى ، رحمه الله ، المتوفى ٩١١ﻫ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ١٤٢١ﻫ ـ

٩٢ ـ جمهرة انساب العرب ، ابو محمد على بن احمد بن سعد بن حزم الاندلسى ، ، رحمه الله ، المتوفى ٤٥٦ﻫ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، ١٤٢٤ﻫ ، الطبعة الثالثة ـ

٩٣ ـ الجوهرة النقى فى الرد على البيهقى ، المطبوعٌ فى ذيل السنن الكبرى ، العلامة علاء الدين الشهير بابن التركمانى ، رحمه الله ، المتوفى ٧٤٥ﻫ ، نشر السنة ، ملتان ، پاكستان

حاشية ابن عابدين (انظر رد المحتار)

٩٥ ـ حاشية الجمل على الجلالين (الفتوحات الالهية) الامام العلامه سليمان الجمل رحمه الله المتوفى ١٢٠٤ﻫ ، قديمى

۹۶ـ حاشية الدسوقى على الشرح الكبير ، الامام العلامة محمد بن احمد الدسوقى المالكى ، رحمه الله ، المتوفى ۱۲۳۰ھ ، دار الكتب العلمية ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۴ـ
۹۷ـ حاشية سبط ابن العجمى على الكاشف ، امام برهان الدين ابراهيم بن محمد سبط ابن العجمى الحلبى ، رحمه الله ، متوفى ۸۴۱ھ ، شركة دار القبلة /مؤسسة علوم القرآن ـ
۹۸ـ حاشية السندى على البخارى ، امام ابو الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادى السندى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۱۱۳۸ھ ، دار المعرفة ، بيروت ـ
۹۹ـ حاشية السندى على مسلم ، المطبوع مع صحيح مسلم ، الامام ابو الحسن السندى ، رحمه الله ، متوفى ۱۱۳۸ھ ، قديمى كتب خانه كراتشى ـ
۱۰۰ـ حاشية السهارنفورى ، المطبوع مع صحيح البخارى ، مولانا احمد على السهارنفورى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۱۲۹۷ھ ، طبع قديمى ـ
۱۰۱ـ حاشية الشهاب المسماة : عناية القاضى وكفاية الراضى ، على البيضاوى ، القاضى شهاب الدين احمد بن محمد بن عمر الخفاجى ، رحمه الله ، المتوفى ۱۰۶۹ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ـ
۱۰۲ـ الحاوى فى سيرة الامام الطحاوى ، المطبوع مع شرح معانى الآثار ، امام اهل السنة العلامة محمد زاهد الكوثرى ، رحمه الله ـ
۱۰۳ـ الخصائص الكبرى ، الامام جلال الدين السيوطى ، رحمه الله تعالىٰ ، ۹۱۱ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ـ
۱۰۴ـ خصائل نبوى شرح شمائل ترمذى (اردو) شيخ الحديث محمد زكريا كاندهلوى رحمه الله متوفى ۱۴۰۲ھ
۱۰۵ـ خلاصة الخزرجى ، (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) ، علامه صفى الدين خزرجى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۹۲۳ھ كے بعد ، مكتب المطبوعات الاسلامية بحلب ـ
۱۰۶ـ دائره معارف اسلاميه (اردو) ، اساتذه جامعه پنجاب ، دانش گاه پنجاب ، لاهور ، نقش ثانى ۱۹۸۰ء ـ
۱۰۷ـ الدر المختار ، علامه علاء الدين محمد بن على بن محمد الحصكفى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۱۰۸۸ھ ، مكتبه عارفين ، پاكستان چوک كراچى ـ
۱۰۹ـ الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج ، ابو الفضل عبد الرحمن بن ابى بكر جلال الدين السيوطى ، رحمه الله ، المتوفى ۹۱۱ھ ، ادارة القرآن كراتشى ، الطبعة الاولىٰ ، ۱۴۱۲ھ ـ
۱۱۰ ـ ديوان الحماسة (المحشى) ، ابو تمام حبيب بن اوس الطائى ، رحمه الله ، المتوفى ۲۰۲ھ ، دار الحديث ملتان ، پاكستان ـ
۱۱۱ ـ ذخائر المواريث فى الدلالة على مواضع الحديث ، العلامة عبد الغنى بن اسماعيل بن عبد الغنى النابلسى ، رحمه الله ، متوفى ۱۱۴۳ھ ، دار المعرفة ، بيروت ـ
۱۱۲ـ رد المحتار ، علامه محمد امين بن عمر بن عبد العزيز عابدين شامى ، رحمه الله ، متوفى ۱۲۵۲ھ ، مكتبه رشيديه ، كوئٹه ـ
۱۱۳ـ رسالة شرح تراجم ابواب البخارى ، (مطبوعه مع صحيح البخارى) ، حضرت مولانا شاه ولى الله ، رحمه الله ، متوفى ۱۱۷۶ھ ، قديمى ـ

۱۱۴ـ رفع الحاجب عن مختصر ابن الحاجب، تاج الدين ابو النصر عبد الوهاب بن على السبكى، رحمه الله، المتوفى ۷۷۱هـ، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الاولى ۱۴۱۹هـ۔
روائع البيان (انظر تفسير آيات الاحكام)۔
۱۱۵ـ روح المعانى فى تفسير القرآن العظيم و السبع المثانى، ابو الفضل شهاب الدين سيد محمود آلوسى بغدادى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۱۲۷۰هـ، مكتبه امداديه، ملتان۔
۱۱۶ـ الروض الانف فى تفسير احاديث السيرة النبوية لابن هشام، الامام المحدث ابو القاسم عبد الرحمن السهيلى، رحمه الله، المتوفى ۵۰۸هـ، عبد التواب اكيڈمى، ملتان۔
۱۱۷ـ زاد المعاد من هدى خير العباد، حافظ شمس الدين ابو عبد الله بن ابى بكر المعروف بابن القيم، رحمه الله، متوفى ۷۵۱هـ، مؤسسة الرسالة۔
۱۱۸ـ سبل السلام شرح بلوغ المرام، السيد الامام محمد بن اسماعيل الصنعانى المعروف بالامير، رحمه الله، المتوفى ۱۱۸۲هـ، دار احياء التراث العربى، بيروت، الطبعة الخامسة۔
۱۱۹ـ سنن ابن ماجه، امام ابو عبد الله محمد بن ماجه، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۲۷۳هـ، قديمى / دار الكتاب المصرى قاهره۔
۱۲۰ـ سنن ابى داؤد، امام ابو داؤد سليمان بن الاشعث السجستانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۲۷۵هـ، ايچ ايم سعيد كمپنى / دار احياء السنة النبوية۔
۱۲۱ـ سنن الدار قطنى، حافظ ابو الحسن على بن عمر الدارقطنى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۲۸۵هـ، دار نشر الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية، ۱۴۲۴هـ / ۲۰۰۳م۔
۱۲۲ـ سنن الدارمى، امام ابو محمد عبد الله بن عبد الرحمن الدارمى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۲۵۵هـ، قديمى
۱۲۳ـ سنن سعيد بن منصور، الامام الحافظ سعيد بن منصور بن شعبة الخراسانى المكى، رحمه الله، المتوفى ۲۲۷هـ، دار الكتب العلمية، بيروت۔
۱۲۴ـ السنن الصغرىٰ للنسائى، امام ابو عبد الرحمن احمد بن شعيب النسائى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۳۰۳هـ، قديمى / دار السلام رياض۔
۱۲۵ـ السنن الكبرى للبيهقى، امام حافظ ابو بكر احمد بن الحسين بن على البيهقى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۴۵۸هـ، دار الكتب العلمية بيروت۔
۱۲۶ـ سير اعلام النبلاء، حافظ ابو عبد الله شس الدين محمد بن احمد بن عثمان ذهبى، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ۷۴۸هـ، مؤسسة الرسالة۔
۱۲۷ـ سير اعلام النبلاء، حافظ ابو عبد الله سمش الدين محمد بن احمد بن عثمان ذهبى، رحمه الله، متوفى ۷۴۸هـ، مؤسسة الرسالة۔
السير الكبير (انظر كتاب السير الكبير)۔
۱۲۸ـ السيرة الحلبية (انسان العيون)، علامه على بن برهان الدين الحلبى، رحمه الله، المتوفى ۱۰۴۴هـ، المكتبة الاسلامية، بيروت۔

۱۲۹ ـ السيرة النبوية ، الامام ابو محمد عبد الملك بن هشام المعافرى ، رحمه الله ، متوفى۲۱۳ ھ ، مطبعة مصطفى البابى الحلبى بمصر ، ۱۳۵۵ھ ، والمكتبه العلمية ، بيروت۔
۱۳۰ ـ شرح علل الترمذى ، الامام الحافظ ابن رجب الحنبلى ، رحمه الله ، المتوفى ۷۹۵ھ۔
۱۳۱ ـ الشرح الكبير ، للامام الدردير المالكى ، رحمه الله ، المتوفى ۱۲۰۱ھ ، المطبوع من حيث المتن مع حاشية الدسوقى ، رحمه الله ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔
۱۳۲ ـ شرح التوضيح (التلويح) ، العلامة سعد الدين التفتازانى الشافعى ، رحمه الله ، المتوفى ۷۹۳ھ ، مير محمد كتب خانه ، كراچى۔
۱۳۳ ـ شرح ابن بطال ، امام ابو الحسن على بن خلف بن عبد الملك المعروف بابن بطال ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۴۴۹ھ ، مكتبه الرشد ، الرياض ، الطبعة الاولىٰ ، ۱۴۲۰ھ۔
۱۳۴ ـ شرح الزرقانى على المؤطا ، شيخ محمد بن عبد الباقى بن يوسف الزرقانى المصرى ، رحمه الله ، متوفى ۱۱۲۲ ھ ، دار الفكر ، بيروت۔
۱۳۵ ـ شرح السنة ، الامام المحدث ابو محمد الحسين بن مسعود البغوى ، رحمه الله ، ۵۱۶ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۴ھ۔
شرح الطيبى (ديكهيے ، الكاشف عن حقائق السنن)
۱۳۶ ـ شرح سنن ابن ماجه المسمى ب انجاح الحاجة ، الشيخ عبد الغنى المجددى الدهلوى ، رحمه الله ، المتوفى ۱۲۹۵ھ ، وتعليقات لفخر الحسن المحدث الگنگوهى ، رحمه الله ، قديمى كتب خانه ، كراتشى۔
۱۳۷ ـ شرح السير الكبير الامام محمد بن احمد السرخسى رحمه الله المتوفى ۴۹۰ھ دار الكتب العلمية بيروت
شرح الشفاء (انظر : نسيم الرياض)
شرح القسطلانى (ديكهيے ارشاد السارى)
۱۳۸ ـ شرح الكرمانى (الكوكب الدرارى) علامه شمس الدين محمد بن يوسف بن على الكرمانى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۷۸۶ھ ، دار احياء التراث العربى بيروت۔
۱۳۹ ـ شرح مشكل الآثار ، الامام المحدث ابو جعفر احمد بن محمد سلامة الطحاوى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۳۲۱ھ ، مؤسسة الرسالة بيروت ، الطبعة الثانية ۱۴۲۷ھ۔
۱۴۰ ـ شرح معانى الآثار الامام المحدث ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامة الطحاوى رحمه الله ، المتوفى ۳۲۱ ھ ، مير محمد كتب خانه آرام باغ ، كراچى۔
۱۴۱ ـ شرح النقايه ، الامام على بن محمد سلطان القارى الحنفى ، رحمه الله ، المتوفى ۱۰۱۴ ھ ، ايچ ايم سعيد كمپنى ، كراچى۔
۱۴۲ ـ شرح النووى على صحيح مسلم امام ابو زكريا يحيىٰ بن شرف النووى رحمه الله تعالىٰ المتوفى ۶۷۶ھ قديمى
۱۴۳ ـ الشفاء بتعريف حقوق المصطفى ، للامام القاضى عياض المالكى اليحصبى ، رحمه الله ، المتوفى ۵۴۴ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۳ھ۔

۱۴۴۔ الشمائل المحمدية ، الامام ابو عيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذی رحمه الله ، المتوفى ۲۷۹ھ ، دار الكتب العلمية بيروت ۱۴۲۷ھ۔
۱۴۵۔ الصحاح (قاموس عربي ۔ عربي) ، الامام اسماعيل بن حماد الجوهری ، رحمه الله ، المتوفى ۳۹۳ھ ، دار المعرفة ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۸ھ۔
۱۴۶۔ الصحيح للبخاری ، امام ابو عبدالله محمد بن اسمعيل البخاری ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ۲۵۲ھ ، قديمی کتب خانه ، کراچی / دار السلام ، رياض ، الطبعة الاولىٰ ۱۴۱۷ھ۔
۱۴۷۔ الصحيح لمسلم ، امام مسلم بن الحجاج القشيری النيسابوری ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۲۶۱ھ ، قديمی کتب خانه ، کراچی / دار السلام ، رياض۔
الضعفاء الكبير (انظر كتاب الضعفاء الكبير)۔
۱۴۸۔ الطبقات الكبرىٰ ، الامام ابو محمد بن سعد ، رحمه الله ، المتوفىٰ ۲۳۰ھ ، دار صادر بيروت۔
۱۴۹۔ طرح التثريب فی شرح التقريب ، امام زين الدين ، ابو الفضل عبد الرحيم بن الحسين العراقی ، المتوفی ۸۰۶ھ ، وولده الحافظ ابو زرعة العراقی ، المتوفی ۸۲۶ھ ، مكتبه نزار مصطفى الباز ، مكة مكرمة۔
۱۵۰ ۔ العلل الواردة فی الاحاديث النبوية ، الشيخ الامام ابو الحسن علی بن عمر الدارقطنی ، رحمه الله ، المتوفی ۳۸۵ھ ، دار طيبة ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۳ھ۔
۱۵۱۔ العلل المتناهية فی الاحاديث الواهية ، الامام عبد الرحمن ابن الجوزی ، ، رحمه الله ، المتوفی ۵۹۷ھ۔
۱۵۲ ۔ عمدة القاری ، الامام بدر الدين ابو محمد بن محمود احمد العينی ، رحمه الله ، متوفی ۸۵۵ھ ، ادارة الطباعة المنيرية۔
۱۵۳ ۔ غريب الحديث ، الامام احمد بن محمد الخطابی البستی ، رحمه الله ، المتوفی ۳۸۸ھ ، جامعة ام القرى ، مكة المكرمة ، ۱۴۰۲ھ۔
۱۵۴ ۔ الفاروق ، مولانا شبلی نعمانی ، دار الاشاعت ، کراچی۔
۱۵۵ ۔ فتاوی قاضی خان بهامش الفتاوی الهندية (العالمگيرية) ، الامام فخر الدين حسن بن منصور الفرغانی ، رحمه الله ، المتوفی ۵۹۲ھ ، نورانی کتب خانه پشاور۔
۱۵۶ ۔ الفتاوی الهندية (العالمگيرية) ، العلامة الامام الشيخ نظام و جماعة من علماء الهند ، نورانی کتب خانه ، پشاور۔
۱۵۷۔ فتح الباری شرح صحيح البخاری ، الامام زين الدين عبد الرحمن بن احمد ابن رجب الحنبلی ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ۷۹۵ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ۱۴۲۷ھ۔
۱۵۸۔ فتح الباری ، حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ۸۵۲ھ ، دار الفكر بيروت۔
۱۵۹ ۔ فتح الملهم شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله متوفی ۱۳۶۹ھ دار احياء التراث العربی بيروت
۱۶۰۔ فتح القدير ، (تفسير) الجامع بين فنی الرواية و الدراية من علم التفسير ، الامام محمد بن علی الشوكانی ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفىٰ ۱۲۵۰ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔

٢٦١۔ فتح القدير ، امام كمال الدين محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفیٰ ٨٦١ھ، مكتبه رشيديه ، كوئٹه۔
٢٦٢۔ فتوح البلدان ، الامام الجغرافى احمد بن يحيى بن جابر بن داود البلاذرى ، رحمه الله ، المتوفى ٢٧٩ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، ١٤٠٣ھ۔
٢٦٣۔ الفردوس بمأثور الخطاب ، ابو شجاع شيرويه بن شهر دار بن شيرويه الديلمى الهمدانى ، الملقب ب الكيا، رحمه الله ، المتوفى ٥٠٩ھ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔
٢٦٤۔ الفقه الحنفى و ادلته ، الشيخ اسعد محمد سعيد الصاغرجى ، حفظه الله ، دارالكلم الطيب ، بيروت ، الطبعة الثالثة ، ١٤٢٢ھ۔
٢٦٥۔ فيض البارى ، امام العصر علامه انور شاه كشميرى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفىٰ ١٣٥٢ھ، مطبعة دار المأمون ، الطبعة الاولىٰ۔
٢٦٦۔ فيض القدير شرح الجامع الصغير ، العلامة محمد عبد الرؤوف المناوى ، رحمه الله ، المتوفى ١٠٣١ھ، دارالكتب العلمية ، الطبعة الثالثة ، ١٤٢٦ھ۔
٢٦٧۔ القاموس الوحيد ، مولانا وحيد الزمان بن مسيح الزمان قاسمى كيرانوى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفیٰ ١٤١٥ھ/١٩٩٥م ، ادارة اسلاميات لاهور۔ كراچى۔
٢٦٨۔ قواعد فى علوم الحديث العلامة المحقق ظفر احمد العثمانى رحمه الله المتوفى ١٣٩٤ھ ادارة القرآن كراچى
٢٦٩۔ الكاشف ، شمس الدين ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان ذهبى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفیٰ ٧٤٨ھ ، شركة دار القبلة / مؤسسة علوم القرآن ، طبع اول ١٤١٣ھ۔
٢٧٠۔ الكاشف عن حقائق السنن ، (شرح الطيبى) امام شرف الدين حسين بن محمد بن عبد الله الطيبى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفیٰ ٧٤٣ھ ، ادارة القرآن كراچى۔
٢٧١۔ الكامل فى التاريخ ، علامه ابو الحسن عز الدين على بن محمد ابن الاثير الجوزى ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ٦٣٠ھ ، دار الكتب العربى بيروت۔
٢٧٢۔ الكامل فى ضعفاء الرجال ، امام حافظ ابو احمد عبد الله بن عدى جرجانى رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ٣٦٥ھ ، دار الفكر ، بيروت۔
كتاب اخبار المدينة (انظر : اخبار المدينة)
كتاب اخبار مكة (انظر : اخبار مكة)
كتاب الاسماء المبهمة (انظر : الاسماء المبهمة)۔
٢٧٣۔ كتاب الام (الام) ، امام محمد بن ادريس الشافعى ، رحمه الله ، متوفیٰ ٢٠٤ھ ، دار المعرفة ، بيروت ، طبع ١٣٩٣ھ / ١٩٧٣م۔
٢٧٤۔ كتاب الاموال الامام حميد بن مخلد بن قتيبة ابن زنجويه رحمه الله المتوفى ٢٥١ھ مركز فيصل للبحوث
٢٧٥۔ كتاب الاموال ، الامام ابو عبيد القاسم بن سلام الهروى الازدى ، رحمه الله ، المتوفى ٢٢٤ھ، دار الفكر ، بيروت ، ١٤٠٨ھ۔

١٧٦ـ كتاب الخراج، الامام ابو يوسف، يعقوب القاضي، رحمه الله، المتوفى ١٨٢هـ۔
١٧٧ـ كتاب الخراج، الامام يحيى بن آدم القرشي، رحمه الله، المتوفى ٢٠٣هـ، المكتبة العلمية، لاهور، باكستان، الطبعة الاولى، ١٩٧٤م۔
١٧٨ـ كتاب السير الكبير الامام محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله المتوفى ١٨٩هـ، دار الكتب العلمية بيروت
١٧٩ـ كتاب السنة، الامام الحافظ ابو بكر احمد بن عمرو بن ابي عاصم الضحاك بن مخلد الشيباني، رحمه الله، المتوفى ٢٨٧هـ، دار الكتب العلمية، بيروت۔
١٨٠ـ كتاب الضعفاء الكبير، ابو جعفر محمد بن عمر بن موسى بن حماد العقيلي المكي، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ٣٢٢هـ، دار الكتب العلمية، بيروت۔
١٨١ـ كتاب العين، الامام ابو عبد الرحمن خليل بن احمد الفراهيدي، رحمه الله، المتوفى ١٧٠هـ، دار و مكتبة الهلال۔
١٨٢ـ كتاب المبسوط، الامام شمس الائمة ابو بكر محمد بن ابي سهل السرخسي، رحمه الله، المتوفى ٤٨٣هـ، دار المعرفة، بيروت، الطبعة الثالثة، ١٣٩٨هـ۔
١٨٣ـ كتاب المجروحين من المحدثين، الامام محمد بن حبان البستي، رحمه الله، المتوفى ٣٥٤هـ، دار الصميعي، الرياض، الطبعة الاولى، ١٤٢٠هـ۔
١٨٤ـ كتاب المغازي، الامام محمد بن عمر الواقدي، رحمه الله، المتوفى ٢٠٧هـ، مؤسسة الاعلمي، بيروت۔
١٨٥ـ كتاب الميسر في شرح مصابيح السنة، الامام ابو عبد الله الحسن التوربشتي، رحمه الله، المتوفى ٦٦١هـ، مكتبة مصطفى نزار الباز، مكة المكرمة، الطبعة الاولىٰ ١٤٢٢هـ
١٨٦ـ الكتب الستة (موسوعة الحديث الشريف) باشراف و مراجعة فضيلة الشيخ صالح بن عبد العزيز آل الشيخ، دار السلام، الرياض۔
١٨٧ـ الكاشف عن حقائق غوامض التنزيل ـــــ، الامام جار الله محمود بن عمر الزمخشري، المتوفى ٥٢٨هـ، دار الكتاب العربي، بيروت، لبنان۔
١٨٨ـ كشف الاستار عن زوائد البزار على الكتب الستة، الحافظ نور الدين على بن ابي بكر الهيثمي ٨٠٧هـ، بتحقيق الشيخ حبيب الرحمن الاعظمي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الثانية، ١٤٠٤هـ۔
١٨٩ـ كشف البارى، شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب مدظلهم، مكتبة فاروقيه، كراچی
١٩٠ـ كشف الخفاء و مزيل الالباس، شيخ اسماعيل بن محمد عجلوني، رحمه الله، متوفى ١١٦٢هـ، دار احياء التراث العربي، بيروت۔
١٩٢ـ الكشف و البيان، المعروف ب (تفسير الثعلبي)، الامام العلامة ابو اسحاق احمد بن محمد بن ابراهيم، رحمه الله، المتوفى ٤٢٨هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولى، ١٤٢٥هـ۔
١٩٣ـ كنز العمال، علامه علاء الدين على المتقي بن حسام الدين الهندي، رحمه الله تعالىٰ، متوفىٰ ٩٧٥هـ، مكتبة التراث الاسلامي، حلب۔
١٩٤ـ الكوثر الجاري الى رياض احاديث البخاري، الامام احمد بن اسماعيل الكوراني الحنفي، رحمه الله، المتوفى ٨٩٣هـ، دار احياء التراث العربي بيروت، الطبعة الاولىٰ، ١٤٢٩هـ۔

١٩٥- الكوكب الدرى حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله تعالىٰ، متوفى ١٣٢٣ھ. ادارة القرآن كراچى
الكواكب الدرارى (ديكهئے، شرح الكرمانى)
١٩٦- لامع الدرارى حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله تعالىٰ متوفى ١٣٢٣ھ مكتبه امداديه مكة مكرمة
١٩٧- لسان العرب، ابو الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور افريقى مصرى، رحمه الله تعالىٰ،
متوفى ٧١١ھ، نشر ادب الجوزة، قم، ايران، ١٣٠٥ھ و دار صادر، بيروت-
١٩٨- لسان الميزان، الحافظ احمد بن على المعروف بابن حجر العسقلانى، رحمه الله، متوفى ٨٥٢ھ، بتحقيق
الشيخ عبد الفتاح، رحمه الله، دار البشائر الاسلامية، الطبع الاول، ١٤٢٣ھ-
١٩٩- المؤطا، الامام مالك بن انس، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ١٧٩ھ، دار احياء التراث العربى بيروت-
٢٠٠- المؤطا، الامام محمد الحسن الشيبانى رحمه الله، المتوفى ١٨٩ھ، قديمى كتب خانه كراچى-
٢٠١- المتوارى على تراجم ابواب البخارى، علامه ناصر الدين احمد بن محمد المعروف بابن المنير
الاسكندرانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٦٨٣ھ، مظهرى كتب خانه كراچى-
٢٠٢- مجمع بحار الانوار، علامه محمد بن طاهر پٹنى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٩٨٢، دائرة المعارف العثمانيه
حيدر آباد، ١٣٩٥ھ-
٢٠٣- مجمع الزوائد امام نور الدين على بن ابى بكرى الهيثمى رحمه الله تعالىٰ متوفى ٨٠٧ھ، دار الفكر، بيروت
٢٠٤- المجموع (شرح المهذب)، امام محى الدين ابو زكريا يحيىٰ بنى شرف النووى رحمه الله تعالىٰ، متوفى
٦٧٦ھ، شركة من علماء الازهر-
٢٠٥ - مجموعه رسائل ابن عابدين، العلامة المحقق السيد محمد امين آفندى الشهير بابن عابدين،
رحمه الله، المتوفى ١٢٥٢ھ، مكتبه عثمانيه، كوئٹه-
٢٠٦- المحلى، علامه ابو محمد على احمد بن سعيد بن حزم رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٤٥٦ھ، المكتب التجارى
بيروت / دار الكتب العلمية بيروت-
٢٠٧- المدونة الكبرى، الامام مالك بن انس رحمه الله، المتوفى ١٧٩ھ، دار صادر، بيروت-
٢٠٨- مرقاة المفاتيح (شرح مشكوة المصابيح)، علامه نور الدين على بن سلطان القارى رحمه الله تعالىٰ،
متوفى ١٠١٤ھ، امداديه ملتان و دار الكتب العلمية بيروت-
٢٠٩- المستدرك على الصحيحين، حافظ ابو عبد الله محمد بن عبد الله الحاكم النيسابورى، رحمه الله
تعالىٰ، متوفى ٤٠٥ھ، دار الفكر، بيروت-
٢١٠- مسند ابى داؤد الطيالسى، الامام المحدث سليمان بن داؤد بن الجارود رحمه الله، متوفى ٢٠٤ھ، دار
الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولىٰ ١٤٢٥ھ-
مسند ابى يعلى الموصلى، الامام شيخ الاسلام ابو يعلى احمد بن على الموصلى، رحمه الله، المتوفى ٣٠٧ھ، دار
الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولى، ١٤١٨ھ-
٢١٢- مسند احمد، امام احمد بن حنبل، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٢٤١ھ، المكتب الاسلامى، دار صادر، بيروت

٢١٣ - مسند اسحاق بن راهويه . الامام اسحاق بن ابراهيم بن مخلد بن راهويه الحنظلى . رحمه الله . المتوفى ٢٣٨ھ . مكتبة الايمان . المدينة المنورة . الطبعة الاولى، ١٤١٢ھ۔

٢١٤ - مسند البزار (البحر الزخار) . الامام ابو بكر احمد بن عمرو بن عبد الخالق البزار . رحمه الله . المتوفى ٢٩٢ھ . مؤسسة علوم القرآن مكتبة العلوم والحكيم بيروت و المدينة المنورة . ١٤٠٩ھ . الطبعة الاولى

٢١٥ - مسند الحميدى . امام ابو بكر عبد الله بن الزبير الحميدى . رحمه الله . متوفى ٢١٩ھ . المكتبة السلفية . مدينة منوره۔

٢١٦- المسوى مع المصفى . الامام ولى الله الدهلوى . رحمه الله . المتوفى ١١٧٦ھ . كتب خانه رحيميه . دهلى۔

٢١٧- مشارق الانوار على صحاح الآثار . القاضى ابو الفضل عياض بن موسى بن عياض اليحصبى البستى المالكى . رحمه الله . المتوفى ٥٤٤ھ . دار التراث۔

٢١٨- مشكاة المصابيح . شيخ ابو عبد الله ولى الدين خطيب محمد بن عبد الله . رحمه الله . متوفى ٧٤٠ھ کے بعد . قديمى۔

٢١٩ - المصنف لابن ابى شيبة . حافظ عبد الله بن محمد بن ابى شيبة المعروف بابى بكر بن ابى شيبة . رحمه الله تعالىٰ متوفى ٢٣٥ھ . بتحقيق الشيخ محمد عوامة . حفظه الله . دار قرطبة . بيروت . الطبعة الاولى . ١٤٢٧ھ

٢٢٠ - المصنف لعبد الرزاق . الامام عبد الرزاق بن همام صنعانى . رحمه الله تعالىٰ . متوفى ٢١١ھ . مجلس علمى . كراچى . ودار الكتب العلمية . بيروت۔

٢٢١ - المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية . الحافظ ابن حجر العسقلانى . رحمه الله تعالى . المتوفى ٨٥٢ھ . دار الباز . مكة المكرمة۔

٢٢٢- معالم السنن . الامام ابو سليمان حمد بن محمد الخطابى . رحمه الله تعالى . المتوفى ٣٨٨ھ . مطبعة انصار السنة المحمدية . ١٩٣٨م / ١٣٦٧ھ۔

٢٢٣ - المعجم الاوسط . الامام ابو القاسم سليمن بن احمد الطبرانى . رحمه الله تعالى . المتوفى ٣٦٠ھ . دار الحرمين . القاهرة . ١٤١٥ھ۔

٢٢٤- معجم البلدان . علامه ابو عبد الله ياقوت حموى رومى . رحمه الله تعالى . متوفى ٦٢٦ھ . دار احياء التراث العربى . بيروت۔

٢٢٥ - معجم الصحابة . الامام الحافظ ابو الحسين عبد الباقى بن قانع البغدادى . رحمه الله تعالىٰ . المتوفى ٣٥١ھ . مكتبه نزار مصطفىٰ الباز . مكة المكرمة . الرياض . الطبعة الاولىٰ . ١٤١٨ھ۔

٢٢٦ - المعجم الكبير امام سليمان بن احمد بن ايوب الطبرانى رحمه الله تعالىٰ متوفى ٣٦٠ھ دار الفكر . بيروت

٢٢٧ - المعجم المفهرس لالفاظ الحديث النبوى . أ- وى - ملسنک . و ى - پ - منسج . مطبعة بريل فى مدينة ليدن ١٩٦٥م۔

٢٢٨ - معجم مقاييس اللغة . امام احمد بن فارس بن زكريا قزوينى رازى . رحمه الله تعالىٰ . متوفى ٣٩٥ھ . دار الفكر . بيروت۔

٢٢٩ - المعجم الوسيط . دكتور ابراهيم انس . دكتور عبد الحليم منتصر . عطية الصوالحى . محمد خلف الله احمد . مجمع اللغة العربية . دمشق۔

۲۲۰ - المعرفة و التاريخ ، ابو يوسف يعقوب بن سفيان الفسوى الفارسى ، رحمه الله ، المتوفى ۲۷۷ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، ۱۴۱۹ھ۔

۲۲۱ - معرفة السنن و الآثار ، الامام ابو احمد بن الحسين البيهقى ، رحمه الله ، المتوفى ۴۵۸ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔

۲۲۲ - معرفة الصحابة ، الامام الحافظ ابو نعيم احمد بن عبد الله الاصبهانى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۴۳۰ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ، ۱۴۲۲ھ۔

مغازى الواقدى (انظر كتاب المغازى)۔

۲۲۳ - المغرب ، ابو الفتح ناصر الدين مطرزى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۶۱۰ھ ، ادارة دعوة الاسلام ، كراتشى

۲۲۴ - المغنى ، امام موفق الدين ابو محمد عبد الله بن احمد بن قدامة ، رحمه الله تعالىٰ ، متوفى ۶۲۰ھ ، دار الفكر ، بيروت۔

مفاتيح الغيب (انظر التفسير الكبير)۔

۲۲۵ - المفردات فى غريب القرآن ، العلامة حسين بن محمد المعروف بالراغب الاصفهانى ، رحمه الله ، المتوفى ۵۰۲ھ ، قديمى كتب خانه ، كراتشى۔

۲۲۶ - المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم ، الامام ابو العباس احمد بن عمر بن ابراهيم القرطبى ، رحمه الله ، المتوفى ۶۵۶ھ۔ مقدمة فتح البارى (ديكهئے ، هدى السارى)۔

۲۲۷ - مكمل اكمال الاكمال ، الامام ابو عبد الله محمد بن محمد بن يوسف السنوسى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۸۹۵ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔

۲۲۸ - المنتظم فى تاريخ الملوك و الامم ، الامام ابو الفرج عبد الرحمن بن على بن محمد ابن الجوزى ، رحمه الله ، المتوفى ۵۹۷ھ ، دار صادر ، بيروت ، ۱۳۵۸ھ ، الطبعة الاولىٰ۔

۲۲۹ - المنتقى شرح المؤطا ، القاضى ابو الوليد سليمان بن خلف الباجى ، رحمه الله ، المتوفى ۴۹۴ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الاولىٰ ، ۱۴۲۰ھ۔

۲۳۰ - منهاج السنة النبوية ، الامام الهمام ابو العباس احمد ابن تيمية الحرانى ، رحمه الله ، المتوفى ۷۲۸ھ ، مؤسسة قرطبة ، ۱۴۰۶ ، الطبعة الاولىٰ۔

۲۳۱ - موارد الظمآن الى زوائد ابن حبان ، الامام ابو الحسن على بن ابى بكر الهيثمى ، رحمه الله ، المتوفى ۸۰۷ھ ، دار الكتب العلمية ، بيروت۔

۲۳۲ - المواهب اللدنية المطبوع مع الشمائل المحمدية ، الامام الشيخ ابراهيم بن محمد بن احمد الشافعى البيجورى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۱۲۷۷ھ ، فاروقى كتب خانه ، ملتان۔

۲۳۳ - الموضوعات ، الامام ابو الفرج عبد الرحمن ابن الجوزى ، رحمه الله تعالىٰ ، المتوفى ۵۹۷ھ ، قرآن محل ، اردو بازار كراچى ، و دار الكتب العلمية ، بيروت ، الطبعة الثانية ، ۱۴۲۴ھ۔

٢٢٤ ـ موسوعة الامام الشافعى (كتاب الام)، الامام المحدث الفقيه محمد بن ادريس الشافعى، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ٢٠٤ھ، دار قتيبة، الطبعة الثانية، ١٤٢٤ھ۔
٢٢٥ ـ ميزان الاعتدال فى نقد الرجال، حافظ شمس الدين محمد احمد بن عثمان ذهبى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٧٤٨ھ، دار احياء التراث العربية، مصر، ١٣٨٢ھ۔
٢٢٦ ـ نسيم الرياض فى شرح شفاء القاضى عياض، الامام شهاب الدين احمد بن محمد بن عمر الخفاجى، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ١٠٦٩ھ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الاولىٰ، ١٤٢١ھ۔
٢٢٧ ـ نصب الراية فى تخريج احاديث الهداية، الحافظ جمال الدين عبد الله بن يوسف الزيلعى، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ٧٦٢ھ، مؤسسة الريان، بيروت / دار القبلة للثقافة الاسلامية، جدة، الطبعة الاولىٰ، ١٤١٨ھ۔
٢٢٨ ـ النكت الظراف على الاطراف، الامام الحافظ احمد بن على بن حجر العسقلانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٨٥٢ھ، المكتب الاسلامى، بيروت۔
٢٢٩ ـ النهاية فى غريب الحديث و الاثر، علامه مجد الدين ابو السعادات المبارك بن محمد ابن الاثير، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٦٠٦ھ، دار احياء التراث العربى بيروت۔
٢٥٠ ـ الوابل الصيب فى الكلم الطيب، ابو عبد الله محمد بن ابى بكر الزرعى الدمشقى، المعروف بابن القيم، رحمه الله تعالىٰ، المتوفى ٧٥١ھ، دار الكتاب العربى، بيروت الطبعة الاولى، ١٤٠٥ھ۔
٢٥١ ـ وفيات الاعيان، قاضى شمس الدين احمد بن محمد المعروف بابن خلكان، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٦٨١ھ، دار صادر، بيروت۔
٢٥٢ ـ الهداية، برهان الدين ابو الحسن على بن ابى بكر المرغينانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٥٩٣ھ، مكتبه شركت علميه، ملتان، و مكتبة البشرى، كراتشى، الطبعة الاولى، ١٤٢٨ھ۔
٢٥٣ ـ هدى السارى (مقدمة فتح البارى)، حافظ ابن حجر عسقلانى، رحمه الله تعالىٰ، متوفى ٨٥٢ھ، دار السلام، الرياض، الطبعة الاولى، ١٤٢١ھ۔